بسم الله الرحمن الرحيم

معارف القرآن
پښتو

مع

آسان ترجمه قرآن
از مفتي محمد تقي عثماني مدظله

تاليف
مفتي محمد شفيع رحمه الله

د مترجم شا او فضل و طرفه اضافات

1. لفظي او بامحاوره ترجمه
2. د خلاصه تفسير په صيغه كښي قرآني آيا تونه
3. په معارف او مسائلو كښي د ذكر شوي تفسير شوي آيا تونو تفسير
4. په تفسير كښي د ضرورت الفاظو اضافه
5. د عربي اشعارو ترجمه

فيصل كتب خانه
محله جنگي، پشاور
0321-9091636

Scanned with Ca

محقق جدید ایډیشن

معارف القرآن

جلد ۵ — پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمہ اللہ

مع

آسان ترجمه قرآن

حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب مدظله

مترجم

حضرت مولانا شاه فیصل صاحب

فاضل وفاق المدارس امداد العلوم وجامعه اسلامیه چارسده

خصوصیات مع تسهیلات واضافات

① هر عبارت ته په حاشیه کښې حواله ورکول ② آسان ترجمه قرآن از مفتی محمد تقی عثمانی مدظله ③ تکی په تکی او روانه ترجمه ④ د خلاصه تفسیر په مینځ کښې قرآنی آیاتونه لیکل ⑤ په حاشیه کښې د غیر تفسیر شده آیاتونو تفسیر ⑥ د عربئ او فارسئ د اشعارو په پښتو کښې ترجمه ⑦ د اختلاف په صورت کښې یوسفزئ پښتو سره قندهاری الفاظ لیکل

فیصل کتب خانه (مدینه مارکیټ)

محله جنګی قصه خوانی بازار پېښور {۰۳۲۱-۹۰۹۱۸۳۵}

دچهاپ حقوق صرف ناشرسره محفوظ دي

دکتاب نوم : معارف القرآن پښتو محقق ایډیشن

مؤلف : حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمة الله عليه
مفتي اعظم پاکستان

خورونکی : فيصل کتب خانه محله جنگی

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د ملاویدو پتې:- د فیصل کتب خانې نه سوا

- مکتبه روغانیول جلال آباد
- مکتبه رحیمی خوست
- نعمت کتب خانه کابل
- صداقت کتب خانه قندهار وکابل
- علمی کتب خانه گردیز
- مکتبه علمیه اکوړه خټک
- دینی کتب خانه تیمرگره
- شیخ الهند کتب خانه خوست
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- مکتبه فریدیه خوست
- دیوبند کتب خانه خوست
- جدید رشیدیه کتب خانه کابل
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- مکتبه نعمانیه غزنی
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوی کتب خانه جلال آباد

فهرست مضامین

شمیره	مضمون	صفحه

پاره نمبر [۱۰]

دخمس تقسیم درسول الله ﷺ دوفات نه پس: ۱۲
دذوی القربی دپاره خمس [پنځمه برخه] ۱۲
دبدردغزاورځي ته یوم الفرقان اوویلې شو:؟ ۱۳
په جنګ اوجهادکښې کامیابیدودپاره قرآنی هدایات:؟ ۲۲
شیطانی دجل اوفریب اودې نه دبچ کیدوطریقه:؟ ۲۹
کامیابیدودپاره یواځې دنیت اخلاص کافی نه دې دې نه وړاندې په نیغه لارکیدل ضروری دی؟ ۲۹
دویم قدم دیهودومعاهده: ۳۹
دصلح دلوظنامې ختمولوصورت:؟ ۴۰
دوعدې پوره کولویوه عجیبه واقعه:؟ ۴۱
جهاددپاره وسله اوسامانِ جنګ تیارول فرض دی:؟ ۴۴
دمسلمانانوترمنځه حقیقیَ اوپائیداراتفاق دالله تعالی په فرمانبردارئ کولوباندې اړه لری؟ ۴۹
دفتحِ مکه په موقعه راګیرکړودښمنانوسره بې مثله ښه سلوک کول: ۷۸
دفتحِ مکه په موقعه دکفارواومشرکانوڅلورقسمونه اودهغې احکام:؟ ۷۸
کفاروسره دامهربانی اوکړې شوه چه سره دنیتې ختمیدوهم ورته ډیل ورکړې شو:؟ ۸۰
کفاروسره چه معاهده ختمه کړې شی نودعام اعلان کولواوتولولره دخبردارکولواو هوښیارولو
نه بغیردهغوئ خلاف څه عمل کول درست نه دی: ۸۰
ددې پنځوآیتونوپه باره کښې څومسئلې اوفائدې:؟ ۸۱
دکفارومعاف کول اوپه بدوئې خپه رانښکل دامعنی نه لری چه ګِنی ددوئ دضررنه دځان
ساتلوانتظام دهم نشی کولې:؟ ۸۱
داسلام په حقوالی باندې په دلیلونوسره پوهول دعلمائ دین فرض دی:؟ ۸۷
کوم غیرمسلم چه ددارِاسلام استوګن نه وی نوهغه ته په دارِاسلام کښې دضرورت نه زیات
وخت دپاره د پاتې کیدواجازت نشته: ۸۸
دکفاروپه مقابله کښې هم په رشتیاؤتینګ پاتې کیدل اودهغوئ په باره کښې دمبالغې کولونه
دځان ساتلوتعلیم:؟ ۸۸
په اسلامی برادرئ کښې دداخلیدودرې شرطونه:؟ ۸۹
په داراسلام کښې غیرمسلم ذمیانوته دااجازت شته دې چه په اسلام باندې علمی تنقیداوکړی
خواسلام ته دبدو ردوویلواجازت ورته نشته:؟ ۹۳
دمخلصومسلمانانودوه نخښې:؟ ۹۷
یوغیرمسلم لره رازداروست جوړول درست نه دی:؟ ۹۷
دې آیت سره څنې تړلې مسئلې:؟ ۱۰۰
دالله تعالی ذکردجهادنه زیات غوره دې:؟ ۱۰۵

Scanned with Ca

شمیره	مضمون	صفحه
	دذي ايتونوپه باره كښې څوفائدې اومسئلې:؟	۱۰۲
	اصلي ترون داسلام اوايمان ترون دې نسبي اووطني ترون دپه دې قربان وي:؟	۱۰۷
	دهجرت په باره كښې مسئلې:؟	۱۱۰
	دالله اورسول ﷺ مينه چه دټولې دنيااودخپل ځان دمينې نه زياته نه وي نودې ته سوچه ايمان نشي وئيلې:؟	۱۱۰
	دحنين فتح،دهوازن اوثقيف دسردارانومسلمانيدودپاره حاضريدل اودقيديانوواپس كول؟	۱۱۸
	دحقونوپه باره كښې دعامې رائې معلومولودپاره دعوامي جلسوآوازونه كافي نه دی د هر يو ځان ځانله رائې معلومول پكاردي:؟	۱۱۹
	احكام اومسئلې:؟	۱۲۰
	دپاتې راغلواوماتې خوړونكوكفاروپه مالونوكښې عدل،انصاف اواحتياط كول:؟	۱۲۰
	په مسجدحرام كښې دمشركانوداخله بنديدل څه مطلب لري؟اودابنديدل يواځې په مسجد حرام كښې دی اوكه په نوروعاموجوماتونوكښې هم:؟	۱۲۳
	احكام اومسئلې:؟	۱۴۱
	دنياسره مينه محبت لرل اوآخرت نه غافله كيدل دټولوجرمونوبنياد دې:؟	۱۴۷
	دمنلواونه منلودعذرترمنځه بيلتون:؟	۱۵۴
	دتقديرعقيده سره دتدبير اختيارولوپكارده بې تدبيرئ ته توكل وئيل غلطه خبره ده:؟	۱۵۲
	آيادخيرات مال كافرته وركولې شي:؟	۱۲۰
	دصدقو [خيراتونو] داستعمال اولگولوځايونه:؟	۱۲۲
	يو بل سوال ، په عبادت باندې اجرت اخستل	۱۲۸
	يوه لويه فائده:؟	۱۷۰
	دتمليک مسئله:	۱۷۲
	دزكوة په باره كښې ځنې ديرې ضروري مسئلې:؟	۱۷۷
	په دې واقعاتوباندې څواشكالونه اودهغې جوابونه:؟	۲۰۳

پاره نمبر [۱۱]

شمیره	مضمون	صفحه
	صحابه كرام ﷡ ټول دځيلمې جنتيان دی اودالله تعالى په رضاسره مشرف دی ::	۲۱۹
	خبرداري:	۲۱۹
	نيک او بد ګډوډ عملونه كوم يو دی::	۲۲۵
	د كومو مسلمانانو چه ښه او بد عملونه په خپل مينځ كښې سره ګډون لری تر قيامته پورې هغوی په دې حكم كښې داخل دی::	۲۲۵
	د مسلمانانو خيرات زكوة وصولول او په خپل خپل ځاې كښې ئې لګول د اسلامى حكومت په ذمه دی::	۲۲۲
	زكوة د حكومت ټيكس نه دې بلكه عبادت دې::	۲۲۷
	يو سوال او د هغې جواب::	۲۲۷
	دآيتونو ترون؛	۲۳۷

Scanned with Ca

شمیره	مضمون	صفحه
	شان نزول؛	۲۳۷
	د تولو ته رومبې د جهاد آیت هم دادې؛	۲۳۸
	د دې درې وارو انصاري بزرگانو د واقعې تفصیل د احادیثو نه؛	۲۴۸
	د کعب بن مالک ﷛ په باره کښې بیان شوې حدیث سره ترلې فائدې:	۲۵۴
	د علم دین طلب کول فرض کیدل او د دې آداب او فرائض؛	۲۵۹
	د علم دین فضیلتونه؛	۲۶۰
	د فرض عین او فرض کفایه علم دین تفصیل؛	۲۶۱
	فرض عین؛	۲۶۱
	د تصوف علم هم په فرض عین کښې داخل دې؛	۲۶۱
	فرض کفایه؛	۲۶۲
	د علم دین نصاب؛	۲۶۲
	د علم دین حاصلولو نه پس د عالم فرائض څه دی:	۲۶۳
	احکام او مسائل؛	۲۸۵
	دیره ضروری فائده؛	۲۹۲
	کافران او مسلمانان دوه بیل بیل قومونه دی، د نسل او قوم په لحاظ بیل بیل قوم گرځول عبث او بې کاره دی؛	۲۹۴
	د حضرت یونس ﷵ تفصیلی واقعه؛	۳۲۰

پاره نمبر [۱۲]

شمیره	مضمون	صفحه
	د روزې په خدائې ذمه دارې باندې یو سوال او د هغې جواب؛	۳۷۸
	تول مخلوق ته د رزق رسولو د قدرت عجیب او غریب انتظام؛	۳۷۹
	حضرت نوح ﷵ ته د کشتئ جوړولو تعلیم؛	۴۱۱
	د تولو ضروری کاریگریانو شروع د وحی په ذریعه شوې ده؛	۴۱۱
	په کشتې کښې او په نورو سورلو باندې د سوریدو طریقې؛	۴۱۵
	د هرې سورلې روانیدل او ودریدل صرف د الله تعالی په قدرت سره دی؛	۴۱۵
	کافرانو او ظالمانو د پاره دعا کول ناروا دی؛	۴۲۱
	د مومن او کافر تر منځه د رورولې ترون نه شی کیدې د وطن یا نسب په بنیاد باندې قومیت ولاړول د اسلام د اصولو نه بغاوت کول دی؛	۴۲۲
	په وعظ، نصیحت او د دین په بلنه باندې اجرت اخستل؛	۴۳۳
	احکام او مسئلې؛	۴۴۰
	دسلام سنت؛	۴۴۰
	د میلمستیا او میلمه پاللو څو اصول؛	۴۴۱
	د میچ تول د کمی مسئله؛	۴۵۹
	د استقامت مفهوم او دیرې ضروری فائدې:	۴۶۹
	د قرآن کریم په طرز کښې د رسول الله	۴۷۲
	ناخوښه او ستائیلې اختلاف؛	۴۸۱
	د خوب حقیقت او درجه او د دې قسمونه؛	۴۸۲

شميره	مضمون	صفحه
	خوب د پيغمبرئ برخه څنګه ګرځيدي شي::	۴۸۸
	د قادياني دجال په باره کښې د يوې مغالطې رد ؛	۴۸۸
	کله د فاسق کافر خوب هم رښتيني کيدې شي؟	۴۸۹
	هر چا ته خوب بيانول درست نه دي؛	۴۸۹
	ګناه نه د بچ کيدو ذريعه داده چې پخپله د الله نه پناه اوغوښتلې شي::	۵۱۳
	احکام او مسئلې::	۵۲۳
	يو عجيبه فائده::	۵۳۵
	د پيغمبرئ د شفقت يو عجيبه مثال ::	۵۳۷
	احکام او مسئلې::	۵۳۸

د اضافه شوو مضامينو فهرست

مضمون	صفحه
حضرت حذيفه ته د بعضې منافقانو نومونه خودل	۱۹۸
په منافق باندې د جنازې کولو کښې احتياط	۱۹۸
د دوه ځله عذاب وضاحت	۱۹۸
دالله تعالى دطرف نه اتمام حجت ضرور وي	۲۱۸
د اهل مکې حيله او دهوکه	۲۶۵
خالق اومالك دَ الله تعالى ذات دې	۲۷۵
کفارو ته دقرآن پاك چيلنج	۲۷۷
د دنياوي ژوند حقيقت	۲۸۱
حضرت محمد ﷺ سره دشوؤ وعدوپوره کول	۲۸۱
هر امت ته رسول ليږلې شوې دې	۲۸۲
دَ قيامت عذاب دَ الله تعالى په قبضه قدرت کښې دې	۲۸۲
په شپه او ورځ کښې دالله تعالى نښې	۲۹۸
د عيسايانو د شرك رد	۲۹۸
دحضرت نوح عليه السلام دواقعې څخه عبرت	۳۰۰
دحضرت نوح عليه السلام پيغمبرانه يقين	۳۰۱
په حضرت موسىٰ عليه السلام باندې ايمان راوړونکى	۳۰۵
د ملاء څخه مراد	۳۰۵
د فرعون څخه مه ويرېږئ	۳۰۶
دِ بنى اسرائيلو اقرار	۳۰۶
دَ اسمان په غاړو کښې دَ قدرت نښې	۳۲۴
په الله تعالى باندې دَ بهتان تړونکو انجام رسوائى ده	۳۵۰
دِ ايماندارو بدله جنت دې	۳۵۲
دَ فرعون اطاعت نه پريخودل	۴۰۹
دَ وراندينوخلقو دَ حالاتو بيان	۴۱۰
دَقيامت متعلق دَ الله تعالى وعده	۴۱۱
تول آوازونه به دَ الله رحمن ذات په وراندې تيټ وي	۴۱۲
يو شك او دهغې جواب	۴۱۲

Scanned with Ca

وَاعْلَمُوْٓا　اَنَّمَا　غَنِمْتُمْ　مِّنْ شَيْءٍ　فَاَنَّ　لِلّٰهِ

او پوهه شئ ا چې بیشکه کوم ا مال دغنیمت چې اغستي دي تاسو ا دیو څیزنه ا نو بیشکه چې ا الله لره ده

[په دې خبره] پوهه شئ که کوم څیز تاسو بطور غنیمت حاصل کړې دی ا نو د الله تعالی او دهغه

خُمُسَهٗ　وَلِلرَّسُوْلِ　وَلِذِي الْقُرْبٰى　وَالْيَتٰمٰى　وَالْمَسٰكِيْنِ

پنځمه حصه دهغې ا او د رسول ده ا او رشته دارانو لره ده ا او یتیمانو ا او مسکینانو

د رسول او د رشته دارانو او یتیمانو او مسکینانو او د مسافرو دپاره د هغې [مال غنیمت]

وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ　اِنْ　كُنْتُمْ　اٰمَنْتُمْ　بِاللّٰهِ　وَمَآ

او مسافرو لره ده ا که چرې ا ایئ تاسو ا چې ایمان مو راوړې وی ا په الله باندې ا او په هغه څیز

پنځمه حصه ده ا که تاسو ایمان راوړنی وی په الله تعالی او په هغه [کتاب] چې

اَنْزَلْنَا　عَلٰى عَبْدِنَا　يَوْمَ الْفُرْقَانِ　يَوْمَ　الْتَقَى

چې نازل کړې وو مونږ ا په بنده خپل باندې ا په ورځ دفیصلې ا هغه ورځ ا چې مخامخ شوې

مونږ دفیصلې په ورځ باندې په خپل بنده نازل کړې دې [یعنی ورځ د جنګ بدر] په کومه ورځ چه یوبل سره

الْجَمْعٰنِ ۭ　وَاللّٰهُ　عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ　قَدِيْرٌ ۝

ا دواړه ډلې ا او الله ا په هر څیز باندې ا قادر دې ا

دوه ډلې [په میدان جنګ کښې] مخامخ شوې او الله تعالی په هر څیز قادر دې ا

آسان ترجمه قرآن

او (اې مسلمانانو!) دا خبره خپل علم کښې راولئ چه تاسو کوم مال غنیمت حاصل کړئ نو دهغې پنځمه حصه دالله او د رسول، او د هغه د خپلوانو او مسکینانو او مسافرو ده (چه د هغې ادا کول په تاسو باندې واجب دي) که چرې تاسو په الله او په هغه څه باندې ایمان لرئ چه هغه په خپل بنده باندې د فیصلې په ورځ نازل کړي دي په کومه ورځ چه دوه ډلې مخامخ شوې وې. او الله په هر یو څیز قادر دې.

خلاصه تفسیر

﴿وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ﴾ او په دې خبره خان پوهه کړئ چې کوم څیز [د کافرانو] د غنیمت په ډول تاسو ته حاصل شی نو دهغې حکم دادې چې [ټول پنځه حصې کړې شی، څلور حصې په کښې دجهاد کوونکو حق دې او یوه یعنی] ﴿فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ﴾ چې پنځمه حصه به ئې [بیا په پنځو حصو کښې تقسیمیږی چې یو په کښې] د الله او دهغه د رسول ﷺ ده [یعنی نبی کریم ﷺ ته ورکول به ئې داسې وی لکه چې الله ﷻ ته ئې ورکړی] ﴿وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى﴾ او [یوه حصه] دنبی کریم ﷺ د نزدې خپلوانو ده او [یوحصه] د یتیمانو ده او [یوه حصه] ﴿وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ﴾ دغریبانانو ده او [او یوه حصه] د مسافرو ده ﴿اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ﴾ که تاسو په نبی کریم ﷺ باندې یقین ساتئ ﴿وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا﴾ او په هغه څیز [یقین لرئ] چې کوم مونږ خپل بنده [محمد ﷺ] باندې نازل کړې وو ﴿يَوْمَ الْفُرْقَانِ﴾ دفیصلې په ورځ [یعنی]

Scanned with Ca

﴿يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۭ﴾ په کومه ورځ [د بدر کښې] چې دواړه ډلې [د مؤمنانو او کافرانو] سره يوبل ته مخامخ شوې وې [دې نه هغه غيبي مدد مراد دې چې د ملائکو په واسطه شوې وو يعني که په مونږ او زمونږ په غيبي مهربانيو يقين لرئ نو په دې حکم ځان پوهه کړئي او عمل پرې اوکړئي دا مو ځکه زيات کړو چې پنځمه حصه اوبنکل درته ګران نه وي او دا اوګنړئ چې دا ټول غنيمت خالص د الله ﷻ په مدد سره په لاس راغلو ، بيا که دا يوه پنځمه حصه رانکړې شوه نو څه اوشو ، په پنځو کښې هغه څلور حصې هم زمونږ د قدرت نه بهر وې بلکه خالص د الله ﷻ په قدرت سره راته په ګوته راغلې] ﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ او الله ﷻ [يوازې] په هر څيز باندې پوره قدرت لرونکې دې [ستاسو خو دومره هم حق نه کيدو دا خو درته ډير څه په ګوتو درغلل].

معارف او مسائل

په دې آيت کښې د غنيمت د مال حکمونه او ددې دويش قانون بيان شوې دې دې نه وړاندې درته د څو لفظونو تشريح کولې شي، د ،، غنيمت ،، لفظ په لغت کښې هغه مال دپاره استعماليږي چه دشمن نه ترلاسه کړې شي،دشريعت په اصطلاح کښې هغه مال ته ،،غنيمت،، وئيلې شي چه دغير مسلمونه دجنګ،غزا او دبرراتلو په وجه مسلمانانو ته په لاس ورغلې وی او چې کوم مال ددوئ نه په صلح او رضا ، لاس ته راغلې وی،لکه جزيه او خراج وغيره شو ،فئي،، بللې شي.

په قرآن کريم کښې هم پدې دواړو لفظونو سره ددې دواړو قسمونو احکام ښودلی شوی دی،په سورت انفال کښې دمال غنيمت حکمونه بيان شويدی کوم چه دجنګ او غزا په وخت مسلمانانو ته دغير مسلمونه په لاس ورغلی وی،

دلته دټولونه اول دا خبره په نظر کښ لرل پکار دی،هغه دا چه دقرآنی او اسلامی نظرئې په جوړدټولو کائناتو اصلی مالک يواځې الله تعالی دې چه هم هغه پيدا کړی دی،دانسان دمالک جوړيدو يواځنې طريقه داده چه الله تعالی هغه لره دخپل قانون په ذريعه مالک ګرځولې وی لکه په سورت يسين کښې دخاروو په بيان کښې فرمائی:

﴿اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ﴾ آيا دا خلق نه ګوری چه خاروی مو په خپل لاس جوړ کړل نو بيا خلق ئې مالکان جوړ شو] مطلب دا دې چې ددوئ ذاتی ملکيت نه دې بلکه مونږ پخپل فضل سره دوئ مالکان ګرځولی دی .

کله چه يو قوم الله تعالی نه باغيان شی يعنی په کفر او شرک کښې اخته شی نو ددوئ د سمولو دپاره الله تعالی اول خپل پيغمبران او کتابونه ليږی، کوم بدبختان چه دې انعام الهی نه فائده وانخلی نو الله تعالی خپلو پيغمبرانو ته د دوئ په مقابله کښې دجنګ او جهاد حکم ورکوی،چه مطلب ئې دباغيانو ځان او مال مباح کول دی،ولې چه دا الله تعالی دورکړی مال نه دفائدې پورته کولو دوئ حقدار پاتې نشو ،بلکه ددوئ مالونه دسرکار په حق کښې ضبط شو چه په شريعت کښې ورته دمال غنيمت مال وئيلې شی،دغه مال د دوئ دګټو او وتو خالص الله تعالی ددې مالک پاتې شو ،

Scanned with Ca

پخوا زمانه کښې به دغنيمت دمال نه دالله تعالى په حکم هيڅاته دفائدې اغستوحکم نه وو، دابه په ډاګه يواځې کيښودلې شو، آسماني يوبريښنابه راغله هغه به ئې اوسيزلو دا د جهاد د قبليدو نخښه هم وه،

خاتم النبيين ﷺ ته په خدائي ورکړوخصوصيتونوکښې يوخصوصيت دا هم دې چه د غنيمت مال ئې امت دپاره حلال اوګرځولې شو، [مسلم] (١) بلکه دې ته اطيب الاموال، [تولونه پاک مال] اووئيلې شو، وجه ئې داده چه کوم مال پخپله انسان ګټي هغه کښې ډيرې واسطې راځي چه پکښې مکروه اوحرام طريقې هم راتلې شي، ليکن دغنيمت مال دکفارو دملکيت نه دراوتونه پس نيغ په نيغه دالله تعالى په ملکيت کښې پاتې شي اوبيانيغ په نيغه حقدارو مسلمانانوته په لاس ورځي، په دې شان پکښې دحرامولي اومکروهوالي هيڅ احتمال نشي کيدې، ددې مثال داسې واخلئ لکه دکوهي نه راوتلې اوبه ياپخپله زرغونه شوې ګياچه نيغ په نيغه دالله تعالى انعام انسان ته په ګتوورځي، هيڅ انساني واسطه ئې په منځ کښې نه وي،

خلاصه دکلام داشوه چه دغنيمت مال پخوانوامتونودپاره حلال نه وو، دې نيازبين امت ته دانعام په توګه حلال اوکرځولې شو، په دې آيت کښې ددې دويش ضابطه داسې بيان شويده،

﴿وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ﴾ دعربي لغت دقاعدې په جوړ اول خو لفظ مآ په عموم باندې دلالت کوي بيا ددې عموم دتاکيد مزيد دپاره لفظ د، مِنْ شَيْءٍ زيات کړې شو، په ې لحاظ معنى ئې داشوه چه دغنيمت هريوڅيز که لوئ وي که ورکوتې، هغه ټول دې قانون لاندې راځي، که يوورکوټې څيزهم دويش دقانون نه بغيرڅوک واخلي نوپه دې سره به سخت مجرم ګرځي، همدغه وجه ده چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دي چه دغنيمت دمال نه يوستن اوتارهم بې دشرعي حصې نه اغستل جائزنه دي، (٢) او دمال غنيمت نه يوڅيز هم بغير د حصې نه اخستلو په حديث شريف کښې، غلول، وئيلې شويدى سخت وعيد [درکه] په دې راغلې ده اودعامې غلادمال نه زيات اوسخت حرام ګرځولې شوې دې،

دويش دې ضابطې ته چه داعنوان ورکړې شوددې مطلب ټول مسلمانان په دې خبرول دي چه الله تعالى دامال د دوئ دپاره ديوخاص ضابطې لاندې حلال ګرځولې دې، که دې نه په بله طريقه چادغنيمت مال ترلاسه کړونوهغه به وردپاره دجهنم څروټکه [څکروټه] وي،

دادقرآن کريم يوخانګړې خصوصيت دې چه بل هيڅ قانون ته حاصل نه دې اوهم داد قرآني قانون کامل تاثيراودکاميابئ اصلي رازدې چه اول دالله تعالى ويره اوآخرت مخې ته په راوستوانسان اوويرولې شي اوپه دويمه درجه کښې تعزيري سزاګاني هم جاري کړې شي،

چنانچه په ژورې کتنې سره معلوميږي چه هرکله په ميدان جنګ کښې هله ګله وي دغير مسلمودقبضې نه دحاصل شوي مال هيڅ تفصيل دوراندې نه دمسلمانانو دامير په علم کښې نه وي اونه بل چاته معلومه وي، ميدان جنګ هم عموماً په ځنګل اوصحراګانوکښې وي چه دپټولو ډيرې موقعې پکښې کيدې شي، يواځې دځه قانون په زوردغې مالونوحفاظت کول دچاپه وس کښې نشي کيدې، صرف دالله تعالى اودآخرت ويره، يومسلمان لره په دې مالونوکښې دمعمولي تصرف کولو اودخل ورکولونه منع کولې شي،

---

(١) صحيح مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة: ج١، ص٢٩١

(٢) شعب الإيمان للبيهقي رقم الحديث: ٥٢٦١

اوس دويش ضابطې داسې بيانيږي ﴿فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ﴾ يعنې دغنيمت دمال په پنځمه برخه دالله تعالى دهغه دسول ﷺ درسول ﷺ دخپلوانو، ديتيمانو مسکينانو او مسافرده،

دلته دژورې کتنې جوګه خبره داده چه دغنيمت دټول مال دويش بيان روان دې مګر قرآن کريم يواځې دهغې دپنځمې برخې دويش ضابطه دلته بيان کړه، دنورو څلورو برخو دويش بيان پکښې نشته، نو په دې کښې څه راز دې اود هغه څلورو حصو د تقسيم څه ضابطه ده ؟ ليکن که په قرآن کريم کښې ژورنظراوکړې شي نوجواب ئې هم په دغې الفاظو کښې داشان راوځي چه هر کله قرآن کريم جهادکوونکو مسلمانانوته خطاب په دې الفاظو، ﴿مَا غَنِمْتُمْ﴾ سره اوکړو [تاسوچه دغنيمت کوم مال ترلاسه کړو] دې سره اشاره دې ته اوکړې شوه چه دامال هم ددغه ترلاسه کوونکو مجاهدينوحق دې، بيا وروستو دااوفرمائيلې شوچه داپنځمه برخه دالله اورسول ﷺ وغيره ده، نو ددې نتيجه هم په ډاګه شوه چه دغه څلورواړه برخې دغنيمت کوونکو او جهادکوونکو مسلمانانودي، ددې بل مثال په قرآن کريم کښې داسې راغلې دې ﴿وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ﴾ [يعنې چه دمړي وارثان يواځې مورپلارئې وي نودمورئې دريمه برخه ده] نتيجه ئې دااووته چه پاتې دوه برخې به خامخادپلاروي. درسول الله ﷺ بيان اوعمل نه دپاتې څلوروبرخودويش پوره تفصيلات څرګندشوچه پاتې څلوربرخې ئې ديوخاص قانون لاندې په مجاهدينواوويشلې

دپنځمې برخې دويش تفصيل په شپږوالفاظو کښې داسې راغلې دې: ﴿لِلَّهِ، لِلرَّسُولِ، وَلِذِي الْقُرْبَىٰ، الْيَتَامَىٰ الْمَسَاكِينِ، وَابْنِ السَّبِيلِ﴾

په دې کښې لفظ د ﴿لِلَّهِ﴾ خو يو ښکاره عنوان دې دهغه مصارفو چې په هغه کښې دا پنځمه حصه تقسيميږي يعنې دا ټول مصارف دالله ﷻ دپاره دي. او ددې لفظ په دې ځائې کښې د راوړلو يو خاص حکمت دې چې تفسير مظهري کښې هغې طرفته اشاره شوې ده. هغه دا چې درسول الله ﷺ اوډ دوئ ﷺ دخاندان دپاره دصدقومال حرام ګرځولې شوي دې. ځکه چې هغه ددوئ شان سره نه ښائي. او په دې وجه چې دا دمال هغه حصه ده چې خلقو د خپل مال د پاکولو دپاره ويستلې ده. او دې ته په حديث شريف کښې: اوساخ الناس، (۱) [دخلقو خيرې] وئيلې شويدي او دا دنبوت شان سره نه ښائي. (۲)

د مال غنيمت په پنځمه حصه کښې چونکه رسول کريم ﷺ ته اود نبي کريم ﷺ خاندان ته د قرآن پاک دې آيت مبارك حصه ورکړې شوې ده. په دې وجه يې دې ځائې کښې تنبيه اوفرمائيله چې دا حصه د خلقو د ملکيت څخه نه ده راغلې بلکه بغير د څه واسطې نه د الله ﷻ د طرفه ده. لکه څنګه چې اوس اوس ذکر اوشو چې د غنيمت مال کافرانو د ملکيت څخه راوزي او نيغ په نيغه د الله ﷻ په ملکيت کښې راشي. او بيا دالله ﷻ د طرفه د انعام په طور تقسيميږي. په دې وجه دې خبرې ته اشاره کول چې رسول کريم ﷺ او ذوي القربى ته چې کومه حصه ملاويږي د مال غنيمت دخمس څخه، هغه د خلقو د صدقو مال نه دې بلکه نيغ په نيغه دالله ﷻ د طرفه

۱) صحيح مسلم، کتاب الزکاة، باب تحريم الزکاة على رسول الله صلى الله عليه وسلم وعلى آله الخ: ج۱، ص ۳۴۴
۲) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج۴، ص ۶۸

Scanned with Ca

انعام او فضل دي او د آيت مبارك په شروع كښې اوفرمائيلې شو چې ،لله، يعني ټول مال د الله ﷻ خاص ملكيت دې . او د هغه د حكم مطابق به دا په مذكوره مصارفو كښې تقسيمېږي په دې بِناد پنځمې برخې دويش اصلي ځايونه پنځه پاتې شو،① رسول،② ذوى القربى ③ يتيمان، ④ مسكينان، ⑤ مسافر، بياد دوئ دحقدارئ درجې مختلفې دي،دقران كريم بلاغت ته اوګورئ چه د دوئ دحقدارئ ددرجوفرق ئې په څومره باريک اونازک اندازكښې ښكاره كړې دې، په اولودوو ﴿وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى﴾ باندِلام داخل كړواونوردرې پرِبغيردلام راړونه بغيرعطف كړې شويدې،

په عربئ كښې لام دځه خصوصيت ښكاره كولودپاره استعمالولې شي، په ﴿لِلّٰهِ﴾ كښې لام دې بيانولودپاره راوړې شويدې، چه دټولوخيزونواصل مالک الله تعالى دې او ﴿لِلرَّسُوْلِ﴾ كښې په لام راوړلوسره درسول الله ﷺ دحقدارئ خصوصيت بيانول په دې شان سره مقصوددى چه الله تعالى رسول الله ﷺ لره دغنيمت دمال صرف كولو اوويشلوحقدارګرځولې دې چه حاصل ئې دامام طحاوى دتحقيق اودتفسير مظهرى([1]) دتقرير مطابق دادې چه اګركه دلته دخمس پنځه مصرفونه ښودلې شويدى ليكن په حقيقت كښې ددې پوره تصرف هغوئ ﷺ ته حاصل دې يعني هغوئ ﷺ دخپل صوابديدپه جوړپه خپله خوښه دغه خمس په دغه پنځوقسمونو كښې صرف كولې شي، لكه چه دسورت انفال په ړومبى آيت كښې دپوره مالِ غنيمت همدغه حكم وو، چه رسول الله ﷺ ئې دخپلَ صوابديدپه جوړچرته چه غواړى هلتَه ئې خرج كړى، آيت ﴿وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ﴾ دغنيمت ټول مال پنځه برخې اوګرځولو ،څلوربرخې ئې دمجاهدينوحق اوګرځولې خوپنځمه برخه هم په دغه حكم كښې پاتې شوه، چه دهغې خرچ كول درسول الله ﷺ په صوابديدپريښوې شو ،صرف دومره خبره زياته شوه چه دغه پنځمه برخه بياپه پنځو برخو كښې اوويشلې شوه،خودجمهورو اوامامانو په نزد دهغوئ ﷺ په ذمه دالازمى نه وه چه دغه پنځه برخې دپنځمې برخې دبرابرې برابرې ويشى بلكه دومره قدرې ضرورى ووچه دغه پنځو قسمونوتولوباندې اوويشى يادخپل صوابديدپه جوړڅه ته پكښې وركړى اوڅه ته پكښې ورنكړى. ددې دټولونه لوئ داګيزدليل پخپله ددې آيت الفاظ اوپه دې كښې دبيان شوؤمصرفونو قسمونه دى چه داټول قسمونه عملاً بيل بيل نه بلكه سره يوځائ هم كيدې شي، مثلاً ذوى القربى واخلئ چه دايتيمانان هم كيدې شي، مسكينان اومسافرهم، دغه شان مسكينان او مسافر يتيمانان هم كېدى شي اوذوى القربى هم، مسكينان دمسافروپه لړكښې هم راتلې شي كه دغې ټولو قسمونوكښې بېل بيل تقسيمول مقصودوې نوداقسمونوپه دې شان پكاروو چه ديوقسم بنده په بل قسم كښې داخل نه وې، ورنه بيابه داضرورى ووچه څوک ذوى القربى، يتيم، مسكين، اومسافرهم دې نوهغه ته به هرحيثيت سره بيلې بيلې برخې وركول پكاروو يعني داسې كس به دڅلوروبرخوحقداروو څنګه چه دميراث دتقسيم طريقه ده حالانكه په امت كښې ددې هيڅوک قائل نه دى چه يوكس ته دڅلوربرخې وركړې شي، په دې سره ددې آيت مقصددامعلوم شوچه رسول الله ﷺ باندې داپابندى اېښودل نشته چه دې ټولو قسمونوته دِخامخا اوېوشان برخې وركړى، بلكه ددې

---

[1]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ٤، ص ٧١

مقصود دادي چه دغنيمت دخمس مال په دې پنځو قسمونو کښې په کوم قسم باندې څومره خرچ کول چه د دوئ ﷺ په رائې چه څومره مناسب وي هومره دورکوي [تفسير مظهري] (١)

همدغه وجه ده چه هرکله فاطمة الزهراء ﵂ درسول الله ﷺ په وړاندې ددغه خمس نه ديو خادم سوال درسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش کړو، دخپلې خوارئ، مشقت اوکمزورئ سبب ئې هم ښکاره کړو، نورسول الله ﷺ دغه سوال اونه منلو اووې فرمائيل چه تاسو ﵄ نه زيات ضرورت داصحاب صفه صحابه کرامو ﷺ ته دې چه ډيرد نيستئ اوغريبئ ژوند تيروي، دازه نشم کولې چه ددې خمس نه تاسو ﵄ ته برخه درکړم اوهغوئ ﷺ پريږدم [صحيح بخاري ومسلم] (٢) دې نه په ډاګه شوه چه دهريو قسم بيل بيل حق نه وو، ورنه په ذوى القربى کښې دفاطمة الزهراء ﵂ نه څوک زيات نزدې خپلوان کيدې شو، لهذا دابيان دمصرفونو دې دحقدارئ بيان نه دې،

دخمس تقسيم درسول الله ﷺ دوفات نه پس: دجمهورو امامانو په نزد دغنيمت په پنځمه برخه کښې چه کومه برخه درسول الله ﷺ ايښودلې شوې وه، هغه دهغوئ ﷺ دپيغمبرئ په بناداسې وه چه په خصوصي ډول ورته داهم حق ورکړې شوې ووچه په ټول مال غنيمت کښې په خپله خوښه څه څيز واخلي څنګه ئې چه په څنو غنيمتونو کښې څه څيزونه خان دپاره اغستي وواوهم ددغې خمس نه به ئې دخپل ځان اودخپل آل وعيال خرڅ پوره کولو، دهغوئ ﷺ دوفات نه پس دابرخه پخپله خکه ختمه شوه چه دهغوئ ﷺ نه پس بل څوک پيغمبرنشته،

دذوى القربى دپاره خمس [پنځمه برخه] په دې کښې دهيچا اختلاف نشته چه دهغه فقيرانو ذوى القربى حق دنورو [يعني يتيمانو، مسکينانو او مسافرونه] وړاندې دې ولې چه دوئ ته زکوة، صدقات، څکه نشي ورکولې چه داد خلقوخيرى دى، نورو يتيمانو، مسکينانو، مسافرو ته زکوة خيرات ورکولې شى، [الکه په هدايه کښې داخبره په، يقدمون، سره په ډاګه کړې شوې ده، (٣)

البته غنيانو ذوى القربى ته دخمس نه په برخه ورکولو کښې اختلاف دې امام ابوحنيفه ﵀ فرمائيلى دى چه رسول الله ﷺ به په خپل حيات مبارک کښې چه ذوى القربى ته خمس کښې برخه ورکوله دهغې دوه بنيادونه کيدې شو ① يو د هغوئ حاجتمندي او فقر ② داچه هغوئ د دين په قائمولو او داسلام ددفاع په معامله کښې درسول الله ﷺ امداد به کولو، هرکله چه دا خبره درسول الله ﷺ وفات سره ختمه شوه نود دوئ برخه هم ختمه شوه اوکوموغريبانانو ذوى القربى ته به ئې چې په خپل حيات مبارک کښې برخه ورکوله هغه د اولنى سبب فقر او حاجتمندئ په وجه اوس هم باقي ده، په دې بنا به هرامام او اميرترقيامته پورې دنورونه وړاندې دوئ ته برخه ورکوى [هدايه، جصاص] (٤) دامام شافعي ﵀ نه هم داقول منقول دې [قرطبي] (٥)

دبعضې فقهاؤ په نزدد ذوى القربى برخه په حيثيت د قرابت رسول ﷺ اوس هم په خمس

---

(١) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۸۱

(٢) دا الفاظ په صحيح بخاري او صحيح مسلم کښې نشته البته مسند أحمد رقم الحديث: ۸۴۷ کښې دا قسم الفاظ موجود دي۔

(٣) الهدايه فصل في کيفية القسمة: ج ۲، ص ۳۸

(٤) أحکام القرآن للجصاص: ج ۴، ص ۲۴۰، باب قسمة الخمس والهداية بحواله بالا۔

(٥) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۶، ص ۱۱

Scanned with Ca

دغنيمت کښې ترقيامته پورې شته که دوئ فقيران وی اوکه غنيان وی البته دخپل خپل وخت اميربه ورته دخپل صوابديد په جوړبرخه ورکوی. [تفسير مظهری] ([1])

په دې باره کښې اصلی خبره دخلفاء راشدينو تعامل دی چې دوئ د رسول کريم ﷺ د وفات نه پس څه معامله کړې وه؟ صاحب دهدائې ددې متعلق ليکی:

[ان الخلفاء الاربعه الراشدين قسموه علی ثلاثة اسهم.] ([2]) څلورو خلفاء راشدين رضی الله عنهم دهغوئ ﷺ دوفات نه پس دا په درې ځايه کښې ويشلی ده ، يتيمانو ، مسکينانو ، اوفقيرانو باندې]

البته حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه نه ثابت دی چه فقيرانو ذوی القربی ته به ئې دغنميت دپنځمې برخې ورکوله. [ابو داؤد] ([3]) ښکاره خبره ده چه دابه يواځې دحضرت عمر رضی الله عنه تخصيص نه وو بلکه دنورو خلفاؤ رضی الله عنهم به هم دغه عمل وو.

اوکومورواياتونونه چه اثابته ده چه حضرت صديق اکبر رضی الله عنه اوفاروق اعظم رضی الله عنه به دخپل خلافت ترآخرې زمانې پورې دذوی القربی حق اوبښکلو اوحضرت علی رضی الله عنه به ئې ددې ويشلو دپاره مقررولو. [دامام ابی يوسف رحمه الله دکتاب الخراج په روايت کښې] ([4]) نو دا خبره دې سره بې سمونه نه ده چه دغه ويش به خاص دذوی القربی په فقيرانو وو. والله سبحانه وتعالی اعلم.

فائده: رسول الله ﷺ په خپل عمل سره ذوی القربی په دې شان ټاکلی ووچه بنی هاشم خوهم د دوئ خپله قبيله وه دوئ سره بنی عبد المطلب ئې هم څکه شامل کړی ووچه داخلق هم په جاهليت اواسلام کښې چرې هم دبنی هاشمونه نه وو بيل شوی تردې پورې چه کله دمکې مکرمې قريشو ، بنی هاشموسره غذائی بائيکاټ اوکړو اوهغوئ ئې په شعب ابی طالب کښې بندکړل نوبنی عبد المطلب په خپلې رضا ، بنی هاشموسره په دغه بائيکاټ کښې شريک شو اګرچه قريشو دوئ سره بائيکاټ نه ووکړې [مظهری] ([5])

دبدر دغزا ورځې ته يوم الفرقان اوونيلې شو: په دې آيت کښې دبدرورځې ته يوم الفرقان څکه اوونيلې شوچه دټولونه اول په مادی اوظاهری ډول په دغه ورځ دمسلمانانو فتح اود کفارو عبرتناک شکست په ډاګه شوې وو اوپه دې بناد کفر اواسلام ظاهری فيصله هم په دغه ورځ شوې وه.

إِذْ　　　أَنْتُمْ
ا يادکړئ کله چې ا وئ تاسو
ا په کوم وخت کښې
بِالْعُدْوَةِ　　　الدُّنْيَا　　　وَهُمْ　　　بِالْعُدْوَةِ　　　الْقُصْوٰى
په غاړه دغر دلمنې ا نزدې په دې طرف ا او وو هغوئ ا په غاړه دغر دلمنې ا لرې په بل طرف ا
چه تاسو [مدينې منورې ته] نزدې طرف ته وې او هغوی [کافران د مدينې منورې] لرې طرف ته وو

[1]) التفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۷۵، ۷۶
[2]) الهدايه فصل فی کيفية القسمة: ج ۲، ص ۳۸
[3]) سنن ابی داود، کتاب الخراج والفیء. باب فی بيان مواضع قسم الخمس واسم ذوی القربٰی: ج ۲، ص ۴۲۹
[4]) کتاب الخراج الأبی يوسف: ج. ص ۳۶ رقم الحديث: ۸۷
[5]) التفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۷۸

Scanned with Ca

وَالرَّكْبُ أَسْفَلَ مِنْكُمْ ۚ وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ

او قافله | ښکته وه | ستاسو نه | او که چرې تاسو يو تر بله وعده کړې وې | نو خامخا به مخالفت کړې وو تاسو

او [د تجارت] قافله ستاسو نه ښکته وه | او که تاسو د يو بل سره [د وړاندې نه د مقابلې] وعده کړې وه نو پ

فِي الْمِيعَادِ ۙ وَلَٰكِنْ لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا

په وعده کښې | اليکن | جمع کړئ | تاسو الله | د پاره ددې چې پوره کړي | الله | هغه کار

په وعده کښې به مو اختلاف کړې وو اخو [الله تعالى تاسو ناڅاپه يو بل سره ملاؤ کړئ] چه الله تعالى هغه

كَانَ مَفْعُولًا ۙ لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ

چې وو هغه | کيدونکې | د پاره ددې چې هلاک شي | هغه څوک | چې هلاک کيږي | په روښانه دليل سره

پوره کړي کوم چه [د الله په علم کښې] پوره کيدونکې وو. هغه دا چه څوک هلاکيږي هغه د ښکاره دليل

وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ

او ژوندى پاتې شي | هغه څوک | چې ژوندى پاتې کيږي | په روښانه دليل سره | او بې شکه چې الله

نه پس هلاک شي او څوک ژوندې پاتې کيږي هغه د ښکاره دليل نه پس ژوندې پاتې شي | او الله تعالى

لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ۙ إِذْ يُرِيكَهُمُ اللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ

خامخا اوريدونکې دې | او پوهه دې | کله چې | او ښودل تاته دا کافران الله | په خوب ستا کښې | الږ

[دهرڅه] اوريدونکې دې او [په هرڅه] عالم دې | هغه وخت ياد کړه چه الله تعالى تا ته په خوب کښې هغوى

وَلَوْ أَرَاكَهُمْ كَثِيرًا لَفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ

او که چرې | هغه ښودلې وې تاته هغوئ | ډير | نو بې زړه شوى به وئ تاسو | او خامخا به په جګړه شوى وئ تاسو

[کافران] لږ ښکاره کړل | او که تا ته ئې دوى [په خوب کښې] ډير خودلې وې نو تاسو به بزدله شوې وئې او

فِي الْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ

په کار د جنګ کښې | ليکن الله | سالم اوساتئ د جګړې نه | بيشکه چې هغه | خبردار دې | په پټو خبرو

او [د جهاد په کولو کښې به] مو اختلاف کړې وو. اليکن الله تعالى تاسو [د دې نه] بچ کړئ | بيشکه الله

الصُّدُورِ ۝ وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ

دسينو | او کله چې | الله او ښودل تاسو ته هغوئ | په هغه وخت کښې | چې مخامخ شوئ تاسو

د زړونو په پټو رازونو [هم] عالم دې | او ياد کړئ چه [د بدر په غزوه کښې] کله تاسو دوى [کافرانو سره] ملاو

فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَيُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ

په سترګو ستاسو کښې | لږ | او لږ ئې ښکاره کړئ تاسو | په سترګو د هغوئ کښې |

شوئ نو هغوى ئې ستاسو په سترګو کښې کم ښکاره کړل او تاسو ئې د هغوى په سترګو کښې کم ښکاره کړئ

لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۗ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ

د پاره ددې چې پوره کړي الله | هغه کار | چې وو | کيدونکې | او خاص الله ته | واپس کيږي |

د دې د پاره چه الله تعالى هغه کار او کړي کوم چه کيدونکې وو | او ټول کارونه الله تعالى طرف ته واپس

Scanned with Ca

الْأُمُوْرُ ۝
ټول کارونه
کيږي ا

آسان ترجمه قرآن

او هغه وخت ياد کړئ چه کله تاسو خلق دوادئ په نزدي غاړه باندې وئ او هغوی په لرې غاړه باندې وو، او قافله تاسو نه ښکته روانه وه (او که تاسو مخکښې نه (د جنګ) وخت خپلو کښې ټاکلې نو تاسو به ضرور اختلاف کولو، ليکن دا واقعه (چه داول نه د ټاکلو نه بغير تاسو مخامخ شوئ) ددې وجې نه وشو چه کوم کار کيدلو الله هغه پوره کړي، دې دپاره چه هغه څوک چه هغه هلاکيدونکې دې چه هغه د واضح دليل کتلو نه وروستو هلاک شي او چه چا لره ژوندي پاتې کيدل وي چه هغه د واضح دليل ليدلو نه وروستو ژوندې پاتې شي او الله هر څه آوري او په هر څه پوهيږي او (اې پيغمبره!) هغه وخت ياد کړه چه کله الله تا ته په خوب کښې د هغوی (دښمنانو) تعداد کم ښکاره کولو او که چرې تا ته ئې دهغوی تعداد زيات ښودلې وې نو (اې مسلمانانو!) تاسو به همت بائيللې وو او ستاسو مينځ کښې به دې معامله کښې اختلاف راغلې وو ليکن الله تعالى (تاسو دې نه) بچ کړئ، يقيناً هغه ښه پوهيږي په هغه خبرو چه سينو کښې دي، او هغه وخت ياد کړئ چه کله تاسو يو بل ته مقابل شوي وئ نو الله ستاسو سترګو کښې د هغوی تعداد کم ښکاره کړو او ستاسو تعداد ئې د هغوی په سترګو کښې کم ښکاره کړو دې دپاره چه کوم کار کول دي الله هغه مکمل کړي او الله ته ټول معاملات واپس کولې شي.

خلاصه تفسير

﴿إِذْ أَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوَىٰ﴾ دا هغه وخت وؤ چې کله تاسو ددغې ميدان په دې غاړه وئ او خلق [يعنی کافران] ددغې ميدان بلې غاړې ته وو [ددې غاړې نه مطلب مدينې منورې ته نزدې او هغه غاړې نه مراد مدينې منورې نه لرې ځائې دې] ﴿وَالرَّكْبُ أَسْفَلَ مِنْكُمْ﴾ او دغه قافله [دقريشو] تاسو نه لاندې طرفته [په ډډه] وه [يعنی د سمندر په غاړه غاړه روانه وه، حاصل دا چې د پوره جوش سامان راجمع کيدو چې دواړه ډلې سره يو تر بله مخامخ وې چې هره يوه د بلې ليدو سره په جوش کښې راشی، بل، خوا، قافله هم لاره کښې وه چې د هغې په وجه کافرانو د لښکر په زړونو کښې مرسته کول راغلل چې جوشی ئې ورسره نو رهم زيات شو، غرض دا چې په داسې سخت وخت کښې الله ﷻ هم په تاسو باندې غيبی مدد نازل کړو لکه چې پورته تير شو چې ﴿وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا﴾ او [هغه خير دا سې شو چې ناګهانی مقابله شروع شوه کنی] ﴿وَلَوْ تَوَاعَدْتُمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيعَادِ﴾ که تاسو اوړاندې نه د معمول او عادت مطابق] څه خبره غټه کړې وې [چې په فلانی وخت به جنګيږو] نو [دموجوده حالت تقاضا دا وه چې] خامخا به ددغه تقرر په باره کښې ستاسو ترمينځه اختلاف راغلې وو [يعنی يا خو به مسلمانانو خپل مينځ کښې د بې وسئ او بې سروسامانئ په وجه چا څه وئيل او چا به څه وئيل، يا به د کافرانو سره اختلاف په دې شان وو چې دهغې وجه دې بې سامانی وه او هغه طرفته به د مسلمانانو رعب وو، بهر حال په دواړو صورتونو کښې به جنګ نه

Scanned with Ca

کیدو او هغه فائدې به ترې نه ښکاریدې دکومو بیان چې په لیهلك کښې راځی] ﴿وَلٰكِنْ لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا﴾ لیکن [الله ﷻ داسې اوکړل چې دغسې څه خبره راپیښه نه شوه او بې قصده جنګ اوشو] دپاره ددې چې کوم کار الله ﷻ ته کول منظور وو دهغې تکمیل اوکړی دپاره ددې چې [د حق نخښنه ښکاره شی او] ﴿لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ﴾ دچا چې بربادیدل [یعنی ګمراه کیدل] دی دهغې نخښې راتلو نه پس برباد شی ﴿وَّيَحْيٰى مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ﴾ او څوك چې ژوندی کیدل [یعنی هدایت کیدل] ئې دی هغه [هم] دنخښې راتلو نه پس ژوندې شی [مطلب دا چې الله ﷻ ته د جنګ کیدل ځکه منظور وو چې په یو خاص طریقه داسلام حق کیدل ښکاره شی. هغه داسې چې سره د کم شمیرئ او کم سامانئ مسلمانان غالب شی کوم چې د عادت نه خلاف دی او په دې سره د اسلام حق کیدل معلوم شو چې ورسره د الله ﷻ حجت تمام شو. دې نه پس د چا ګمراه کیدل به دحق د ښکاره کیدو نه پس وی چې د عذاب پوره حقدار کیدل دی او د عذر څه ګنجائش به دسره پاتې نشی ، دغه شان دچا چې هدایت کیدل وی هغه به حق قبول کړی، خلاصه د حکمت داشوه چې حق ښکاره شی] ﴿وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴾ او بیشکه الله ﷻ ښه اوریدنکې ښه پوهیدونکې دې [چې ددې واضح کیدو نه پس په ژبه او په زړه کفر کوی او څوك ایمان راوړی او] ﴿اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا﴾ هغه وخت هم د یادولو جوګه دې چې کله الله ﷻ تاسو ﷺ ته په خوب کښې هغه خلق کم اوخودل [تاسو ﷺ په هغې باندې صحابه کرامو ﷺ خبر کړل چې ورسره دهغوئ زړونه مضبوط شو] ﴿وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا﴾ اوکه الله ﷻ د رته دغه خلق زیات ښکاره کړې وې [او صحابه کرامو ﷺ ته دې د هغې بیان کړې وې] ﴿لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ﴾ نو [اے صحابه کرامو ﷺ] تاسو به مړانه بائیللې وه او دې کار [دجنګ] کښې به ستاسو ترمینځه جګړه [او اختلاف] راولاړ شوې وه ﴿وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ﴾ لیکن الله ﷻ [ددغې کم همتئ او اختلاف نه تاسو] اوساتلئ ، ﴿اِنَّهٗ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ﴾ بیشکه هغه د زړونو په خبرو ښه پوهیږی [هغه ته معلومه ده چې دغسې کمزوری به راپیدا کیږی ځکه یې دغسې انتظام اوکړو] او [یوازې هم په خوب کښې ئې درته کم ښکاره کول او نه کړل بلکه د حکمت مکمل کولو دپاره ئې په بیدارئ کښې د مقابلې په وخت د مسلمانانو په نظر کښې ئې هم کفار کم ښکاره کړل او تاسو ئې کفارو ته هم کم ښکاره کړئ ځنګه چې حقیقت وو لکه فرمائی چې] ﴿وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْۤ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا﴾ او هغه وخت یاد کړئ چې کله الله ﷻ تاسو ته چې کله تاسو د هغوئ مقابل شوئ هغوئ یې ستاسو په نظرونو کښې کم ښکاره کول او [دغه شان] ﴿وَّيُقَلِّلُكُمْ فِيْۤ اَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا﴾ د هغوئ په نظر کښې ئې تاسو لږ ښکاره کولئ ، دپاره ددې چې دکوم کار کول الله ﷻ ته منظور وو هغه سرته اورسوی [ځنګه چې مخکښې په لیهلك من هلك کښې بیان شو] ﴿وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ﴾ او ټولې مقدمې به هم الله ﷻ ته واپس کولې شی هغه به هلاکیدونکې [ګمراه] او ژوندی [هدایت موندونکی] ته سزا او جزا ورکوی].

معارف او مسائل

دبدر غزا ، دکفر او اسلام هغه رومبئ جګړه وه چه په ښکاره اوپه مادی ډول باندې ئې هم داسلام دبری اوحقوالی ثبوت ورکړو ، په دې وجه قرآن کریم ددې دتفصیلاتو بیانولو خاص انتظام

Scanned with Ca

اوفرمائیلو، اوس په دې آیتونو کښې ډیر حکمتونه اوښیګړې بیان شویدي، یوه خاص ښیګړه په کښې داسې ښکاره کړې شویده چه په دې جنګ کښې د ظاهری او مادی حالت له مخې د مسلمانانو د کامیابیدو هیڅ شان نه وو، اود مشرکانو د ماتې خوړو احتمال هم نشو کیدي مګر الله تعالی په غیبی طاقت سره د ټول ساز و سامان او ظاهری اسبابو نقشه اونتیجه اړټه اوخیژوله، هم ددې واقعې د واضحه کولو د پاره په دغې آیتونو کښې د بدر دغزا د میدان جنګ ټوله نقشه قرآن کریم بیان کړیده، خو ددې آیتونو د تشریح نه وړاندې د څو الفاظو اولغتونو تشریح اوګورئ،

د ﴿عُدْوَةِ﴾ معنی یو اړخ ته وئیل کیږی. دنیا دادنی نه جوړ دې، زیات نزدې ئې، معنی ده د آخرت په مقابله کښې دې جهان ته هم دنیا ځکه وئیلې شی چه دا د آخرت په نسبت انسان ته ډیر نزدې دې ﴿الْقُصْوٰی﴾ د اقصی نه جوړ دې، معنی ئې، زیات لرې، ده،

په دریې دریشم آیت کښې د هلاکت او دهغې په مقابله کښې د حیات [ژوند] بیان راغلې دې، ددې دواړو لفظی معنې نه، بلکه معنوی معنې مراد دی، چنانچه معنوی حیات اسلام او ایمان دې او معنوی موت کفر او شرک دې، قرآن کریم په ډیرو ځایونو کښې دا الفاظ هم داسې معنو د پاره استعمال کړیدی لکه یو ځائې کښې فرمائی:

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ﴾ یعنی اې دایمان خاوندانو: تاسو خبره منئ د الله اورسول ﷺ کله چه تاسو داسې څیز ته رابلی په کوم کښې چه ستاسو ژوند دې] دلته د حیات نه مراد هغه حقیقی حیات دې او دائیمی راحت دې چه د ایمان او اسلام په بدله کښې ملاویږی اوس د آیتونو تفسیر په دې شان شو،

په دوه څلویښتم آیت کښې د بدر د میدانِ جنګ نقشه دا ښودلې شویده چه مسلمانان ﴿عُدْوَةِ الدُّنْيَا﴾ سره وو او کافران ﴿عُدْوَةِ الْقُصْوٰی﴾ سره وو، مسلمانان د دغې میدان یو اړخ ته وو چه مدینې منورې ته نزدې وو او کافران د میدان بل اړخ ته وو چه د مدینې منورې نه لرې وه، دابی سفیان هغه قافله چه دهغې په سر جنګ راولاړ شوې ووهغه هم د مکې مکرمې نه دراغلی کفارو لښکر سره نزدې او د مسلمانانو د لاس رسیدو نه بهر، درې میلو په فاصله د سمندر په غاړه غاړه روانه وه، دجنګ ددې نقشې ښودلو مطلب دا ښودل وو چه په جنګی لحاظ سره مسلمانان بالکل بې موقعې په غلط ځائې تیکاؤ شوی وو چرته چه په دشمن باندې د قابو موندلو او دځپل ځان ساتلو هم څه ظاهری امکان نه وو، ولې چه دغه ځائې داسې شګلن وو چه پکښې ګرځیدل راګرځیدل هم ګران وو، بله دا چه دغلته د اوبو څه ځائې هم نه وو، او د کفارو د تیکاید و ځائې هواره زمکه وه او اوبه هم ورسره نزدې وې،

د میدانِ جنګ د دواړو غاړو ښودلو مطلب دا ښودل وو چه دواړه لښکرونه بالکل مخامخ په مخامخ وو، چه د دواړو غاړو طاقت او کمزوری یو بل ته ښه په ډاګه وه، دلته دا هم ښودل وو چه د مکې د مشرکانو دا هم تسلی وه چه د دوئ تجارتی قافله د مسلمانانو د لاس رسیدو نه بهر وتلې ده، اوس که ضرورت را پیښ شی نو هغوئ هم زمونږ مدد کولې شی، لیکن بل اړخ ته مسلمانان په دې وجه هم پریشان وو چه د تیکاوید و ځائې ورته سم په ګوتو نه وو ورغلې، دڅه کومک راتلو څه طمع ئې هم نه وه، او دا خبره خو هرچا ته معلومه ده چه د مسلمانانو فوځ درې سوه دیارلس په شمیر کښې وو او کفار په یو زر شمیر کښې وو، مسلمانانو سره د سورلو شمیر هم د ضرورت نه ډیر کم وو او وسله ورسره هم د نیشت برابره وه، او د کفارو لښکر په دې ټولو هر څه بهرپور وو،

Scanned with Ca

مسلمانانو د وسله دارفوځ سره دجنګ کولو تیاري نه وه کړې او نه دجنګ په غرض وتلي وو، په ناګهانی ډول دیوې تجارتی قافلې دلارې بندولو په غرض وتی وو چه په هغې سره ددشمن طاقت خرابول ئې غرض وو ،شمیرئې درې سوه دیارلس وو او څه سامان ئې ځان سره نه وو اغستې،ناڅاپي یوزرځلمو سره ئې مقابله راغله کوم چه په وسله بهرپور لښکر وو،

قرآن کریم په دې آیت کښې اوښودل چه دخلقو په نظر کښې دا واقعه اګرچه دیو اتفاقی او ناڅاپي راپیښې په شکل کښې بې ارادې رامخې ته شوه لیکن ددنیا داسې هم ناڅاپي راپیښې هم دالله تعالی په نظر کښې ټولې دځیرمې دیو مضبوط نظام سره یو تربله انښتې کړې وی،په دې کښې هیڅ یو څیز بې ترونه یا بې موقعې نه وی،کله چه دغه پوره نظام رامخې ته شی نو هغه وخت انسان پوه شی چه په دې ناڅاپي واقعه کښې کوم حکمتونه پټ وو،

هم دبدردغزا واقعه واخلئ چه ددې ناڅاپي او بې اختیاره راپیښیدو کښې دا مصلحت وو چې:
﴿وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيعَادِ﴾ یعنی که د دنیا دعامو جنګونو پشان په دې ډول سره داکول وې چه ددې په هر اړخ داول نه غور فکر شوې وې او یو تربله په صلاح مشورو سره کولې شوې نو ددې جنګ شان دکیدو نه وو ،بلکه اختلاف به پکښې راغلې وو ،یا په دې شان چه مسلمانانو به خپل کم شمیر کمزورئ او ددشمن ګڼرشمیر او غټ قوت ته کتلې او جنګ کولو ته به نه تیاریدل،یا په دې شان چه دواړه لښکرونه [د مسلمانانو او کفارو] به په ټاکلې وعده میدان ته نه وو رارسیدلی، مسلمانانو به خپلې کم شمیرئ ته کتلی وو او جنګ ته به نه راوړاندې کیدل،په کفارو به الله تعالی دمسلمانانو رعب اچولو نو هغوئ به سره د ګڼر شمیرئ او لوئ طاقته، دمقابلې کولو نه ویریدل،

په دې وجه دقدرت مضبوط نظام دواړو اړخو ته داسې حالات پیدا کړل چه دزیات غور، فکر او بند و بست کولو موقعه په لاس رانشی،دمکې کفار خو ځکه دې جنګ ته په تلوار سره بې دڅه غور او سوچ نه تیار شو چه دابی سفیان دقافلې هغه فریاد ورته په هیبتناک شکل کښې رامخې ته شو،مسلمانان په دې خیال راؤوتل چه مقابله ئې د وسله دارفوځ سره نه بلکه یوې معمولی تجارتی قافله سره ده،خو علیم او خبیر ته منظور وو چه ددې دواړو تر منځه باقاعده جنګ اوشی،ددې په شالګیدلې داسلام دبریالیتوب نتیجې رامخې ته شی چنانچه فرمائی:
﴿وَلَكِنْ لِّيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا﴾ یعنی ددې حالاتو باوجود جنګ ځکه خامخا اوشو چه الله تعالی خپل هغه کار مکمل کړی دکوم اراده ئې چه کړې ده،هغه داسې چه دیو زر وسله دارو او په سامان پوره شاه ځلمو په مقابله کښې ددرې سوه دیارلسو هغه مسلمانانو بریالی کول وو کوم چه لوږوزپلي وو او په جنګی لحاظ سره دتیکاوید ځائ هم ،غلط په لاس ورغلې وو ،ظاهری صورت ئې دا وو چه څرسره دغرې وهل وو چه پخپله به پوتې پوتې شوی وو مګر ددوئ کامیابیدل په ستر ګو اولیدې شو ځکه چه ددوئ په شاباندې یو داسې غټ طاقت وو د کوم نه چه دکافرانو لښکر محرومه وو، په دې شان دهرېنده مخې ته حق،باطل او کهره کوټه مخې ته راغلو ،لکه په آخر دآیت کښې فرمائی: ﴿لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ﴾ [یعنی دبدر په غزا کښې داسلام حق والې او دکفر او شرک باطلوالې او ناکاروالې ځکه په داګه کړې شو چه آئنده کښې هلاکیدونکې سره دلیدلو کتلو هلاک شی او ژوندې پاتې کیدونکې هم په غړیدلو ستر ګو ژوندې پاتې شی،په تیاره او غلطئ کښې هیڅ کار ترسره نشی،

Scanned with Ca

په دې آيت کښې د هلاکت نه مراد کفر او د ژوند نه مراد اسلام دې، مطلب دا دې چه د حق واضح کيدو نه پس د غلط فهمۍ او عذر احتمال خو ختم شو او س چه څوک کفر اختيار وي هغه په غړيدلو سترګو د هلاکت اړخ ته روان دې او څوک چه اسلام اختيار وي هغه په غړيدلو سترګو د هميشه ژوند اختيار وي، بيا فرمائي، ﴿وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ يعنی الله تعالی به آوريدونکې دې او پوهيدونکې دې] چه د ټولو په زړونو کښې پټ ايمان او کفر هم د هغه په وړاندې دې او د هر يو جزا او سزا هم د هغه په وړاندې ده،

په درې څلوينښتم او څلور څلوينښتم دواړو آيتونو کښې د قدرت ديوې خاصې کرشمې بيان دې که دغه کرشمه د بدر په غزا کښې نه وې راښکاره کړې شوې نو کيدې شوه چه د مسلمانانو يا کفارو دلې به ميدان پريښودو سره د جنګ د کيدو صورت ختم کړې وو، حالانکه د دې جنګ کيدو په نتيجه کښې په مادی حيثيت سره هم الله تعالی د اسلام حقوالې ښکاره کول غوښتل

د قدرت هغه کرشمه داوه چه د کفارو کوم لښکر چه د مسلمانانو نه په شمير کښې درې چنده زيات وو خو الله تعالی په خپل کامل قدرت سره مسلمانانو ته کم شميره څکه ښکاره کړو چه دوئ کښې کمزوری او اختلاف را پيدا نشي، دا واقعه يو ځل په خوب کښې رسول الله ﷺ ته اوښودلې شوه چه هغوئ ﷺ ټولو مسلمانانو ته ښکاره کړه او ورسره د مسلمانانو مرانه زياته شوه، دويم ځل په ميدان جنګ کښې به په ډاګه مسلمانانو ته د دوئ [کفارو] شمير کم ښکاره کړې شو کله چه دواړه ډلې مخامخ په مخامخ ولاړې وې، چنانچه په درې څلوينښتم آيت کښې د خوب واقعه او په څلور څلوينښتم آيت کښې د بيدارئ واقعه بيان شوې ده،

حضرت عبدالله بن مسعود ؓ او فرمائيل چه زمونږ په نظر کښې د دشمن لښکر داسې ښکاريدو چه ما څان سره نزدې يو مجاهد مسلمان ته اووئيل چه د دغې خلقو شمير خو به څلور نيمې شلې وی، دغه کس را ته اووئيل چه نه سل به وی، (١)

په آخری آيت کښې ورسره داهم راغلی دی ﴿وَيُقَلِّلُكُمْ فِىٓ أَعْيُنِهِمْ﴾ يعنی الله تعالی مسلمانانو لره هم، د دښمن په نظر کښې کم شميره ښکاره کړل] د دې معنی دا هم کيدې شی چه الله تعالی کفارو ته د مسلمانانو حقيقی شمير ښکاره کړو چه کم وو، او دا معنی ئې هم کيدې شی چه د واقعې شمير نه ئې هم په کم شمير کښې ورښکاره کړل لکه د څنورو ايتونو مطابق کله چه ابوجهل د مسلمانانو لښکر ته او کتل نو خپلو ملګرو ته ئې اووئيل چه د مسلمانانو شمير خو دې نه زيات نه معلوميږی د کوم خوراک چه يو اوښ وی، د عربو د اندازې لګولو مطابق به يو اوښ سلو کسانو د پاره کافی کيدو چنانچه رسول الله ﷺ هم، د بدر په ميدان کښې د دغه ځائ د څه خلقو نه د قريشی لښکر د شمير معلومولو په غرض دا تپوس کړې وو چه څومره اوښان دوئ د پاره ذبح کولې شی؟ نو ورته اووئيلې شو چه لس اوښان ورد پاره ذبح کولې شی، هغوئ ﷺ ته ترد ااندازه اوشوه چه دا يو زر کسان کيدې شی، (٢) خلاصه دا شوه چه د ابی جهل په نظر کښې د مسلمانانو تول شمير د دې حکمت په بناسل راوستې شو چه د کفارو په زړونو باندې د مسلمانانو رعب د ابتداء نه خورنشی چه د هغې دويرې ميدان پريږدی او اوتښتی،

(١) المعجم الكبير للطبرانی بألفاظ مختلفة رقم الحديث: ١٠١١٨

(٢) دلائل النبوة للبيهقی رقم الحديث: ٩٢١، ورقم الحديث: ٨٩٠

Scanned with Ca

فائده: د دې آیت نه دا هم معلومه شوه چه کله کله د معجزې او په غیر عادتی ډول دا هم کیدې شي چه د ستر گو لیدل غلط شي څنگه چه دلته او شو، په دې وجه ورد پاره ئې او فرمائیل: ﴿لِيَقْضِيَ اللهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا﴾ یعنی د قدرت دا کرشمه او د ستر گو په لیدلو باندې تصرف کول څکه ښکاره کړې شو چه الله تعالی کوم کار کول غواړی هغه پوره شي] یعنی مسلمانانو ته برې ور کړی او د اسلام حقوالي او غیبی تائید ښکاره کړې شی ولې چه مسلمانان په شمیر کښې هم کم وو او سامان ورسره د نیشت برابر وو،

په آخر د آیت کښې فرمائی: ﴿وَإِلَى اللهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ﴾ یعنی آخر دا چه ټول کارونه یو اخې الله تعالی ته راگرځی څه چه غواړی وې کړی او ده چه او غواړی حکم ئې او کړی، کمولره په زیاتو، قوت لره په کمزورئ غلبه ور کړی، کم شمیره گنړ شمیره کړی او گنړ شمیره کم شمیره کړی،

لکه مولانا رومی رحمه الله څه ښه فرمائیلی دی،

گر تو خواهی عینِ غم شادی شود — عینِ بندپائے آزادی شود

اې الله که ته او غواړې نو سوده غم خوشحالی جوړه شي، او خالص پابندی آزادی جوړه شي]

چون تو خواهی آتش آب خوش شود — ور تو خواهی آب هم آتش شود

که ته او غواړې نو اور ښکلې او به شی، او که ته او غواړې نو او به هم اور شی،

خاک و باد و آب و آتش بنده اند — با من و تو مرده باحق زنده اند

[خاوړې، باد، او به او اور بندگان دی، زما او ستا په خیال کښې مړه او د الله تعالی په نزد ژوندی دی]

يَأَيُّهَا الَّذِينَ ‏ ‏ أَمَنُوا ‏ ‏ إِذَا ‏ ‏ لَقِيتُمْ ‏ ‏ فِئَةً
اے هغه کسانو ا چې ایمان مو راوړې دې ا کله چې ا مخامخ شئ تاسو ا دیوې ډلې سره
ا اې مؤمنانو کله چه تاسو [په میدان جنگ کښې کافرانو] ډلې سره ملاؤ شئ [او جنگ شروع شی نو]
فَاثْبُتُوا ‏ ‏ وَاذْكُرُوا اللهَ ‏ ‏ كَثِيرًا ‏ ‏ لَعَلَّكُمْ ‏ ‏ تُفْلِحُونَ ‏ ‏ وَأَطِيعُوا
نو مضبوط او سئ ا او یادوئ الله ا ډیر ا ښائی چې تاسو ا کامیاب شئ ا او حکم منئ
ثابت قدم شئ [تختئ مه] او د الله تعالی ذکر زیات زیات کوئ ا د دې د پاره چه کامیاب شئ
اللهَ ‏ ‏ وَرَسُولَهُ ‏ ‏ وَلَا تَنَازَعُوا ‏ ‏ فَتَفْشَلُوا ‏ ‏ وَتَذْهَبَ
دالله ا او د رسول د هغه ا او مه کوئ جنگ په خپلو کښې ا گنئ نو بې زړه به شئ تاسو ا او لاړ به شي
او د الله او د هغه د پیغمبر تابعداری کوئ او خپل مینځ کښې اختلاف مکوئ گنی بزدله به شئ او
رِيحُكُمْ ‏ ‏ وَاصْبِرُوا ‏ ‏ إِنَّ اللهَ ‏ ‏ مَعَ الصَّابِرِينَ ‏ ‏ وَلَا تَكُونُوا
طاقت ستاسو ا او صبر کوئ ا بې شکه الله ا د صبر کونکو سره دې ا او مه کیږئ تاسو ا
ستاسو طاقت به ختم شي او صبر کوئ بیشکه د الله تعالی مدد د صبر کونکو سره دې ا او د هغه کسانو
كَالَّذِينَ ‏ ‏ خَرَجُوا ‏ ‏ مِنْ دِيَارِهِمْ ‏ ‏ بَطَرًا ‏ ‏ وَرِئَاءَ النَّاسِ
پشان د هغه کسانو ا چې او وتل ا د کورونو خپلونه ا د پاره د فخر ا او د ښودنې د خلقو ا
پشان مه کیږئ چه د خپلو کورنو نه د فخر او د خلقو د خودنې د پاره وتلې وو

وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ ؕ وَاللهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ۝

اومنع کوی خلق | دلارې دالله نه | اوالله | په هغه کارونوچې کوی ئې هغوئ | احاطه کونکې دې

اود الله تعالی د لارې نه خلق منع کوی | اوالله تعالی د دوی [خلقو] د ټولو کارونو احاطه کونکې دې

آسان ترجمه قرآن

اې دایمان خاوندانو ! چه کله ستاسو د یوې ډلې سره مقابله شي نو تاسو کلک شئ ، او دالله په کثرت سره ذکر کوئ دې دپاره چه تاسو کامیاب شئ ،اود الله اودهغه د رسول اطاعت کوئ ،او خپلو کښې جهګړې مه کوئ ، ګنې کمزوری به شئ او ستاسو هوا به ووځی ،او صبر کوئ . یقین وکړئ چه الله د صبر کونکو سره دې ،او دهغه خلقو پشان مه کیږئ چه دخپلو کورونو نه داسې حالت کښې وتلې وو چه مستۍ ئې کوله او خلقو ته ئې ځان ښودلو او نور خلق ئې دالله د لارې نه ېندول او الله د خلقو ټول اعمال (دخپل علم) په احاطه کښې راوستې دې.

خلاصه تفسیر

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمْ فِئَةً﴾ اې د ایمان خاوندانو ؛ کله چې ستاسو [د کافرانو یوې] ډلې سره [په جهاد کښې] مقابله کول راپیښیږی نو [ددې د آدابو لحاظ ساتئ ، یو دا چې] ﴿فَاثْبُتُوْا﴾ [مه تښتئ او [بل دا چې] ﴿وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا﴾ د الله ﷻ ذکر به زیات کوئ [ولې چې د ذکر کولو په وجه زړهٔ مضبوطیږی] ﴿لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ امید دې چې تاسو به کامیاب شئ [ولې چې کله پښې ټینګې وی او زړهٔ مضبوط وی نو غالبا کامیابی موندې شی] او [دریم دا چې په ټولو جنګی کارونو کښې] ﴿وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ د الله ﷻ اودهغه درسول ﷺ تابعداری کوئ [یعنی دهغې به خیال ساتئ چې دشریعت خلاف کار تاسو نه او نشی] او [څلورم دا چې خپل امام سره او خپل مینځ کښې هم] ﴿وَلَا تَنَازَعُوْا﴾ جګړه مه کوئ [په دې بې اتفاقئ سره] ﴿فَتَفْشَلُوْا﴾ کم همته به شئ [ولې چې فوتونه به مو خواره واره شی یوبه په اعتبار نه کوی او یوازې کس څه کولې شی ؟] ﴿وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ﴾ او ستاسو هوا به اووځی [د هوا وتلو څخه مراد دبدبه ده څکه چې نور ورته ددې بې اتفاقئ اطلاع ملاویدلو سره دا امر لازمی دې یعنی ستاسو رعب به پاتې نشی] او [پنځم دا چې که د څه ناخوالئ کار درته راپیښ شی نو په هغې] ﴿وَاصْبِرُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ﴾ صبر کوئ ، بیشکه الله ﷻ صبر کوونکو سره دې [اود الله ﷻ ملګرتیا موجب د امداد ده] او [شپږم دا چې نیت خالص لرئ ، فخر اوځان ښکاره کولو کښې] ﴿وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ﴾ دهغه [کافرانو] خلقو پشان مه کیږئ چې [د بدر په دې واقعه کښې] دخپلو کورونو نه په خوش خروش او خلقوته د [ځان شان او سامان] ښکاره کوونکی راووتل او [دې فخر او ریا سره یې دا هم نیت وو چې] ﴿وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ﴾ د الله ﷻ د لار [دین] نه منع کول [ولې چې مسلمانانو ته د درد ورکولو دپاره راغلې وو چې په عامو طبیعتونو باندې به ئې هم دین نه د لرې کیدو اثر پریوتو] ﴿وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ﴾ او الله ﷻ [به دې خلقو ته پوره سزا ورکوی چنانچه هغه] ددوئ عملونه [دخپل علم] په ګیره کښې راوستی دی.

Scanned with Ca

معارف او مسائل

په جنګ او جهاد کښې کامیابېدو دپاره قرآنی هدایات: په رومبودؤو آیتونو کښې الله تعالی مسلمانانو ته په میدانِ جنګ کښې او د دښمن مقابلې دپاره یوه خاص هدایت نامه ورکړې ده چه دوئ دپاره په دنیا کښې د کامیابېدو، بری موندو او په آخرت کښې د خلاصی او کامیابئ موندیوه زیاته اثرناکه نسخه ده، چنانچه د پخوانئ زمانې په ټولو جنګونو کښې د عادت نه پورته کامیابیانو او بری موندلو راز هم په دې کښې پټ دې چه هغه څو څیزونه دی،

① اول ثبات [یعنی کلک پاتې کېدل] چه د زړه مضبوطیدل او د خپو ټینګیدل دواړه ترمراد دی، ځکه چه ترڅو د چا زړه مضبوط نه وی د هغه خپې او نور اندامونه ټینګ نشی پاتې کېدې او دا څیز داسې چه هر مؤمن او کافر ته معلوم دې او د دنیا هر قوم په خپلو جنګونو کښې د دې بندوبست کوی، چنانچه تجربې نه ثابته ده چه په میدان جنګ کښې د ټولو نه اوله او زیاته کامیابه وسله د زړه مضبوطیا او د خپو ټینګیدل دی، نورې ټولې وسلې د دې نه بغیر بیکاره دی.

② دویم د الله تعالی ذکر دې دا هغه مخصوصه او معنوی وسله ده چه د مؤمن نه سوا عامه دنیا ترې غافله ده، ټوله دنیا جنګ دپاره، غوریزه وسله او نوې نوې سامان تیاروی، د فوځ د خپو مضبوطولو دپاره خوپوره انتظام کوی، مګر د مسلمانانو د دې روحانی او معنوی وسلې نه ناخبره او ناآشنا دی، هم دغه وجه ده چه چرته د دې هدایتونو پابند مسلمانانو سره یو مخالف قوم مقابله او کړه نو د دغې قوم ټول طاقت، وسله او سامان بیکاره شو، په خپل ځائ خو د الله تعالی د ذکر ذاتی او معنوی برکتونه خامخا شته، خو دا هم حقیقت دې چه د دې نه زیاته غوره بله نسخه د قدمونو مضبوطید و شته دې هم نه، د الله ذکر او په دې باندې ملا تړل د بجلئ هغه طاقت دې چه یو کمزورې انسان غر سره ډغرو وهلو ته تیاروی، په داسې کس که هر څومره مصیبت او پریشانی راځی د هغه د ذکر کولو په وړاندې هغه هیڅ شان نه لری، د الله تعالی ذکر د انسان زړه مضبوطه وی او قدمونه ئې ټینګوی،

دلته دې خبرې ته هم فکر کول پکار دی چه د عادت له مخې د جنګ په وخت څوک چاته یاد نه پاتې کیږی هر چا سره خپل غم وی، په دې وجه د جاهلیت د زمانې عرب شاعران په میدانِ جنګ کښې هم د خپل محبوب په یادولو فخر کوی چه د دې سره زړه مضبوطیږی او مینه محبت پرکلکیږی، لکه یو جاهل شاعر وئیلی دی:

ذكرتك والخطي يخطر بيننا

[یعنی هغه وخت مې هم ته یاد کړې کله چه نیزې زمونږ ترمنځه چلیدې]

ځکه خو قرآن کریم د خطرونه ډک په دې مقام کښې مسلمانانو ته د الله تعالی د یادښودنه او کړه او په ﴿كَثِيرًا﴾ سره یې د دې د زیاتوالی تاکید او کړو.. دلته په دې خبره هم ژور نظر اچول دی چه په ټول قرآن کریم کښې د الله تعالی د ذکرنه سوا د بل یو عبادت د ډیر کولو حکم نه دې راغلې، مثلا داسې نه دی وئیلې شوی چه ،صَلٰوةً كَثِيرَةً، صِيامًا كَثِيرًا، [مونځ ډیر ډیر کوئ او روژې ډیرې ډیرې نیسئ] وجه ئې داده چه د الله تعالی ذکر داسې یو آسان عبادت دې چه ډیر وخت پرې نه لګی، نه پکښې څه خوارې وی او نه د دې په وجه د بل یو کار په کولو کښې څه بندیز راځی، زیاتی خبره پکښې داده چه الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د دې دپاره هیڅ شرط پابندی، او دس پاکی د بدن، د لباس او قبلې ته مخ کول ضروری نه دی ګرځولی، هر څوک ئې په هر حالت کښې کولې

Scanned with Ca

شی، مثلاً په اودس کښې بې اودسه په ولاړې، په ناستې اوپه ملاستې ئې کولې شی اوکه دامام جزری رحمه الله دهغه تحقیق اضافه پراوکړې شی کوم چه هغوئ رحمه الله په حصن حصین کښې داسې لیکلې دې چه دالله تعالی ذکریوآځې په زړه اوژبې سره نه دې بلکه هریوجائز کار چه دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ دفرمانبردارئ دلاندې اوکړې شی هغه هم دالله تعالی په ذکر کښې داخل دې، ددې تحقیق په بنا باندې خودالله تعالی دذکرمطلب دومره عام اوآسان جوړیږی چه اوده شوی انسان ته هم ذکرکوونکې وئیلې شی لکه په څنې روایتونو کښې راغلی دی، نَومُ العالِمِ عِبَادَةٌ (١)[دعالم خوب هم په عبادت کښې داخل دې] ځکه چه کوم عالم دخپل علم مطابق عمل کوی نوضروری ده چه دهغه خوب، ویښه هریو کاربه دالله تعالی په فرمانبردارئ کښې داخل وی،

په میدانِ جنګ کښې دالله تعالی دډیرډیرذکرکولوحکم اګرچه په ظاهره دمجاهدینو دپاره یوزیات کارئې په ذمه کول ښکاری چه دعادت له مخې محنت، مشقت غواړی، لیکن دالله تعالی دذکردایوعجیبه خصوصیت دې چه دخوارئ اومحنت کولوضرورت نه لری بلکه دې سره زړه ته سکون، خوشحالی، قوت اوخوند حاصلیږی اودانسان په کارکښې یوقسم مددګار ځکه ثابتیږی چه هسې هم خواری کښې خلق دکارکولوپه وخت ځان سره څه خبره کوی یاڅه سندره وائی، قرآن کریم ددې په ځائ یونعم البدل ورکړوچه زرګونه فائدې اوحکمتونه لری په دې وجه په آخردآیت کښې فرمائی ﴿لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ یعنی که تاسو دثابت قدمئ اودالله تعالی دذکر دوه تدبیرونه یادکړل اوهغه مودجنګ په میدان کښې استعمال کړل نوکامیابی هم ستاسوده،

دمیدانِ جنګ یوذکرخوپه عام ډول د، نعره تکبیر، په اندازکښې کولې شی دې نه علاوه په دې شان هم ذکرکولې شی چه په الله تعالی باندې نظرلری، په هغه تکیه اوتوکل کوی اوپه زړه ئې یادوی، دالله تعالی ذکردې ټولولره شاملیږی،

په شپږځلوېښتم آیت کښې ددریم څیزښودنه هم شوې ده چه هغه ﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ دې [یعنی د الله تعالی اورسول ﷺ فرمانبرداری کول په لازمی شان سره اختیارکړئ] ولې چه دالله تعالی امدادهم دهغه دفرمانبردارئ په ذریعه حاصلیدې شی، ګناه اونافرمانی کول خودالله تعالی د ناراضئ اودهرفضل نه دبې نصیبه کیدوباعث جوړیږی، په دې شان میدانِ جنګ دپاره دقرآنی هدایت نامې درې دفعې شوې: ① ثابت قدمی ② دالله تعالی ذکراو ③ فرمانبرداری وریسې فرمائی:

﴿وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا﴾ په دې کښې دضررناکو اړخونو خبردارئ ورکولوسره دې نه دځان ساتلو هم هدایت دې، اوکوم ضررناک اړخ چه دجنګ په کامیابئ کښې خنډجوړیږی هغه خپل منځ کښې جګړې او اختلاف کول دی ځکه فرمائی ﴿وَلَا تَنَازَعُوا﴾ [یعنی خپل منځ کښې جنګ جګړې اوربړې مه راولاړوئ ګنې په تاسو کښې به بزدلی خوره شی اوستاسودمخ سره او رعب به ختم شی،

په دې کښې دخپل منځ دجګړوکولودوه نتیجې بیان کړې شویدی، یوداچه تاسوبه په ذاتی ډول کمزوری اوبزدله شئ، بله داچه دمخ سره به موختم شی اوددښمن په نظرکښې به سپک راشئ، خپل منځ کښې دجګړوکولوسره خودنوروپه نظرکښې سپکیدل خوبدیهی خبره ده، خوپه خپل قوت اوطاقت باندې ئې داسې اثرپویږئ چه کمزوری اوبزدلی پکښې راپیدا

(١) کشف الخفاء رقم الحدیث: ۲۸۳۶، ج ۲، ص ۳۲۵

Scanned with CamScanner

شي، ولې چه د اتفاق او اتحاد او خپل منځ کښې په یو بل د اعتماد کولو په صورت کښې هر یو انسان ته د ټولې ډلې طاقت لګیدلې وی، په دې شان یو ځان له بنده هم په خپل ځان کښې د جماعت او ډلې طاقت محسوسوی او کله چه خپل منځ کښې اتفاق او اعتماد پاتې نشی نو د هر یو قوت ځان ځان له شي چه د جنګ په میدان کښې هیڅ په کارنشی راتلې،

وړپسې فرمائی ﴿وَاصْبِرُوْا﴾ [یعنی خامخا په مخ صبر کوئ] د کلام د روانئ نه داسې معلومیږی چه د جنګ جګړو نه د ځان ساتلو یو کامیابه نسخه ښوولې شوې ده بیان ئې دادې که یو ډله هر څومره خپل منځ کښې خیالات او مقصدیو شان لری خو د انسانی غړو طبعی خصوصیتونه ضرور مختلف وی، دا شان څه مقصد د پاره په کوشش کولو کښې د هوښیارانو او تجربه کارو خلقو د رائ اختلاف هم خامخا وی، لهذا د نورو سره د چلیدو او ځان سره ئې د لرلو د پاره د دې نه سوا بل هیڅ علاج نشته چه انسان د خپل طبیعت په خلاف خبرو باندې د صبر کولو او په هغې باندې د خپې راښکلو عادت وی، او په خپلې رائ باندې دومره ټینګار نه کوی چه خلقو سره د هغې په نه قبلولو کښې جنګ او کړی، د دې صفت بل نوم صبر دې، نن خو هر څوک په دې پوهیږی او وائی هم چه خپل منځ کښې جنګ جګړې کول ډیر خراب څیز دې خو د دې نه د ځان ساتلو ګر او طریقه چه څوک اختیار نکړی نو یو اځې د اتفاق او اتحاد وعظونه او نصیحتونه کول فائده مند نه ثابتیږی بلکه د دې د پاره ضرورت د دې خبرې دې چه د خپل طبیعت په خلاف خبرو باندې د صبر کولو عادت جوړ کړی، په بل باندې د خپلې خبرې منلو او د حکم چلولو په فکر کښې نه وی، خو داسې خلق د نیشت برابر دی، انسان خو په دې وس نه لری چه په بل باندې خپله خبره او منی مګر د بل خبره ① منل یا د چا هغسې خبره نه ② منل چه د ده د عقل او دینداریٔ خلاف وی په دې صورت کښې جګړې نه د ځان ساتلو په غرض ③ چپ پاتې کیدل درې واړه خو په خپل اختیار کښې دی په دې وجه قرآن کریم د جګړې نه د بچ کیدو هدایت سره سره د صبر ښودنه هم او کړه، چه هر یو کس پرعمل او کړی نو د جنګ جګړې نه په عملی دنیا کښې بچ کیدل به آسان شی،

دلته دا خبره هم د نظر کولو جوګه ده چه قرآن کریم دلته ﴿وَلَا تَنَازَعُوْا﴾ او فرمائیل [چه په خپل منځ کښې اننبتل مه کوئ] د رائ د اختلاف کولو یاد دې د ښکاره کولو نه ئې منع نه ده کړې ولې چه د دینداریٔ او اخلاص په بنیاد د رائ اختلاف کولو سره جنګ جګړې هیچرې نه پیدا کیږی، جګړه د هغه اختلاف رائې نه پیدا کیږی چه د خپلې خبرې په بل باندې د منلو او د بل د خبرې د نه منلو جذبې کار کوی کومه جذبه چه قرآن کریم په ﴿وَاصْبِرُوْا﴾ لفظ سره ختمه کړه، او په آخر کښې د صبر په عظیم الشان فائدې ښودلو سره د صبر تریخوالې لرې کړو، فرمائی: ﴿اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ﴾ [یعنی د صبر کونکو ملګرې الله تعالی وی] چه هر وخت او په هر حالت کښې ورسره ملګرتیا کوی، دا دومره لوئ دولت دې چه د دواړو جهانونو ټول دولتونه د دې په مقابله کښې هیڅ وزن نه لری، ځنې غزاګانو کښې رسول الله ﷺ د دې هدایتونو مخې ته د راوستو په غرض خالص په میدان جنګ کښې دا خطبه ورکړه، اې خلقو د شمنانو سره د مقابلې کولو آرزو مه کوئ بلکه الله تعالی نه عافیت غواړی او کله چه په مجبوریٔ سره در ته مقابله کول را پیښ شی نو بیا صبر او ثابت قدمی ټینګه او نیسئ او دا او ګنړئ چه جنت، د تورو په سیورو [سایو] کښې دې [مسلم][1]

---

[1]) صحیح مسلم، کتاب الجهاد والسیر، باب کراهیة تمنی لقاء العدو الخ: ج ۲، ص ۸۴

Scanned with Ca

په اوه څلويښتم آيت کښې په يوبل ضروري اړخ باندې خبرداري اوهغې ته د پرهيزګولو هدايت ورکړې شويدې چه هغه په خپل طاقت اوزياتوالی دشميرباندې نيازيافخرکول اوپه يوکارکښې د اخلاص په ځای بل څه ذاتي غرض لرل دی، چنانچه دادواړه څيزونه هم لوئې لوئې طاقتور جماعتونه هم مخ پشاکوی اولاندې ئې راولی،

په دې آيت کښې دقريشودمکې حالاتوته اشاره هم ده چه دخپلې تجارتی قافلې دحفاظت دپاره په ډيره لويه پيمانه، په ګنړشميراوسامان سره فخرکوونکی راوتلی وواوکله چه تجارتی قافله د مسلمانانودګت نه بهرشوه بياهم ځکه واپس نه شوچه دخپلې بهادرئ تنداره ورکول ئې غرض وو،

په مستندوروايتونوکښې راغلی دی چه کله ابوسفيان خپله تجارتی قافله دمسلمانانودګت نه بهر راوښکله نوابی جهل ته ئې ريبار او قاصد اوليږلوچه اوس ستاسودوړاندې دتلوضرورت پاتې نشو راواپس شئ اوډيروقريشی سردارانوهم دغه رائې وه، مګرابوجهل دخپل کبر، غرور او مشهورتيادشوق په جذبه کښې قسم اوخوړوچه مونږبه ترهغې وخته پورې نه واپس کيږوتر څوچه دبدرپه مقام نه يو رسيدلی اوهلته مودخپل بريااليتوب ميله نه وی جوړه کړې. ليکن ددې په نتيجه کښې هغه پخپله اودهغه غټ غټ مګر ټول هلته ډيرې شواوپه يوې کنده کښې ورګذارکړې شو،[1] په دې آيت کښې مسلمانانوته د هغوئ دطريقه کارنه دپرهيزګولو هدايت اوکړې شو.

وَاِذْ | زَيَّنَ | لَهُمُ | الشَّيْطٰنُ | اَعْمَالَهُمْ | وَقَالَ

اوکله چی | ښائيسته ښکاره کړل | هغوئ ته | شيطان | عملونه دهغوئ | او وې وئيل

اوهغه وخت ياد کړه کله چه شيطان دوی [کافرو] ته د هغوی عملونه ښائسته کړل | او ورته ئې اووئيل

لَا غَالِبَ | لَكُمُ | الْيَوْمَ | مِنَ النَّاسِ | وَاِنِّيْ | جَارٌ | لَّكُمْ

نشته غالب | په تاسو | نن ورځ | دخلقو نه | اوبيشکه زه | ساتونکې يم | تاسو لره

چه نن ورځ په خلقو کښې څوک هم په تاسو غالب نشته | او زه [د مسلمانانو نه] ستاسو ساتونکې يم

فَلَمَّا | تَرَآءَتِ | الْفِئَتٰنِ | نَكَصَ | عَلٰى عَقِبَيْهِ | وَقَالَ | اِنِّيْ

نوهرکله چی | يوبل اوليدل | دواړوډلو | نوبيرته اوګرځيدل هغه | په پوندوخپلو | اووې وئيل | بيشکه زه

نوکله چه دوو ډلو [کافرانو او مسلمانانو] يوبل اوليدل نوشيطان په خپلو پوندو واپس شو. او دا ئې

بَرِیْٓءٌ | مِّنْكُمْ | اِنِّیْٓ | اَرٰی | مَا | لَا تَرَوْنَ | اِنِّیْٓ | اَخَافُ | اللّٰهَ

بيزاره يم | ستاسونه | بيشکه زه | وينم | هغه | چی تاسوئې نه وينئ | بيشکه زه | يريږم | د الله نه

اووئيل زه ستاسو [دملګرتيا نه] بيزاره يم | ځکه چه زه هغه [فرشتې اوعذاب] وينم چه تاسو ئې نه وينئ | او زه د

وَاللّٰهُ شَدِيْدُ | الْعِقَابِ ۝ | اِذْ | يَقُوْلُ | الْمُنٰفِقُوْنَ | وَالَّذِيْنَ

او الله سخت دې | دعذاب په ورکولوکښی | کله چی | اووئيل | منافقانو | او هغه کسانو |

الله نه ويريږم ځکه چه الله سخت عذابونکې دې | هغه وخت ياد کړه چه اووئيل منافقانو او د کومو خلقو په زړونو

[1] تفسير ابن کثير تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۳۷

Scanned with Ca

فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِیْنُهُمْ ط وَمَنْ
چی په زړونو دهغوئ کښې ا مرض وو ا چې مغرور کړی دی ادې کسانولره ا دین خپل ا اوهغه چاچی ا
کښې چه [د نفاق] مرض وو .دا خلق [مسلمانان] خپل دین په دهوکه کښې اچولې دی اخوچه چا په الله
یَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ ﴿۴۹﴾
بهروسه اوکړه ا په الله باندې انوبیشکه چی الله ا غالب دې ا اودحکمت خاونددې ا
تعالی باندې بهروسه اوکړه نوالله تعالی غالب دې او صاحب د حکمت دې ا

آسان ترجمه قرآن

او هغه وخت (هم د ذکر قابل دې) چه کله شيطان دي (کافرانو) ته دا ښايسته کړي وو چه د دوی اعمال ډير ښه دي ، او دا ئې وئيلي وو چه :نن په انسانانو کښې داسې څوك نشته چه په تاسو باندې غالب شي اوځه ستاسو نګهبان يم بيا چه کله دواړه لښکري يو بل ته مخامخ شوي نوهغه واپس شو په پوندو باندې،او وئې وئيل چه: ځه ستاسوځه ذمه داري نه شم اخستلې ځه هغه څه وينم چه تاسو ئې نه وينئ،ځه دالله نه ويريږم ، او دالله عذاب ډير سخت دې اوهغه وخت ياد کړئ کله چه منافقانو او هغه خلقو چه دهغوي په زړونو کښې مرض وودا وئيل چه: دي (مسلمانانو) لره د دوی دين په دهوکه کښې اچولې دي حال دا چه څوك په الله اعتماد وکړي نو الله په ټولو غالب دې او حکمت والا هم دې.

خلاصه تفسير

﴿وَاِذْ زَیَّنَ لَهُمُ الشَّیْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ﴾ او د هغه وخت ، بيان دوئ ته اوکړئی کله چې شيطان دوئ [کافرانو] ته د وسوسې په ذريعه] ددوئ [کفری] عملونه [يعنی نبی کريم ﷺ سره دښمنئ او مخالفت کول] ښکلی ښکاره کړل [چې دوئ دغه کارونه اوکنړل] او [د وسوسې نه پورته ئې دا اوکړل چې مخامخ ورته] ﴿وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْیَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّیْ جَارٌ لَّكُمْ﴾ وې وئيل چې [ستاسو داسې طاقت او رعب دې چې ستاسو] د [مخالفينو] خلقوڅخه نن هيڅوك په تاسو باندې غالب راتلونکی ندی او زه ستاسو مرستيال يم [بهرنو او اندرونی دښمنانو نه انديښنه مه کوئی] ﴿فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ﴾ بيا چې کله دواړه ډلې [دکافرانو او مسلمانانو] يوبل سره مخامخ شوې [او هغه د ملائيکو نازليدل اوليدل] ﴿نَكَصَ عَلٰی عَقِبَیْهِ﴾ نو په شا اوګرزيدل ﴿وَقَالَ اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّنْكُمْ﴾ او دائې اووئيل چې زما درسره هيڅ واسطه نشته [زه ستاسو مرستيال وغيره هيڅ نشم جوړيدې ځکه چې] ﴿اِنِّیْٓ اَرٰی مَا لَا تَرَوْنَ﴾ زهٔ هغه څيزونه وينم چې تاسو ته په نظر نه راځی [مراد ترې فرښتې دی] ﴿اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ﴾ زه خو د الله ﷻ نه ويريږم چې هسې نه هم په دنيا کښې د فرښتې په ذريعه زما خبر واخلی] ﴿وَاللّٰهُ شَدِیْدُ الْعِقَابِ﴾ او الله ﷻ سخت سزا ورکوونکې دې ﴿اِذْ یَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ﴾او هغه وخت هم دیادولو قابل دې چې کله منافقانو [د مدينې والوڅخه] ﴿وَالَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ﴾ اود چا په زړونو کښې چې [دشك] بيماری وه [يعنی د مکې څينې خلقو چې مسلمانان ئې سره دبې سامانئ د کافرانو په مقابله کښې راتلل اوليدل] ﴿غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِیْنُهُمْ﴾داسې ئې اووئيل چې دې [مسلمانانو] خلقو لره ددوئ دين په هيره

Scanned with Ca

[غولیدلو] کښې اچولې دی [چې دخپل دین او حقوالی په تکیه داسې خطرې ته ئې ځانونه را وړاندې کړل الله ﷻ جواب ورکوی] ﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾ او څوك چې په الله ﷻ باندې توکل کوی نو [هغه اکثر برې بیاموم‌ی ځکه چې] ﴿فَإِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ بیشکه الله ﷻ زبردست دې [ځکه هغه څوك بر راولی څوك چې پرې توکل کوی او که څه وخت داسې کس مغلوب شی نو په هغې کښې څه خیر ځکه وی چې] هغه دحکمت خاوند دې [هم غرض دا چې په ظاهری سامان اوبې سامانئ باندې څه کار اړه نه لری قدرت لرونکې یو بل ذات دې].

معارف او مسائل

دسورت داول سرنه دهغه واقعاتو او حالاتو او هغې نه دحاصلیدونکو نصیحتونو او عبرتونو او ورسره دتړلو احکامو بیان راروان دې کوم چه دبدر غزاسره تعلق لری،

هم په دې کښې یو واقعه دا راپیښه شوه چه شیطان دمکې قریش او غولول دمسلمانانو مقابلې ته ئې راویستل او بیا خاص په میدانِ جنگ کښې یې پریښول او په تیښته شو، ددې بیان داوسنو آیتونو په شروع کښې راغلې دې،

قریشو لره دشیطان دغه غولول دهغوئ په زړونو کښې دوسوسې اچولو په صورت کښې وو، یا په انسانی شکل کښې ورته مخامخ راغلو او په خبرو سره ئې او غولول، دې کښې اګرکه دواړه احتمالونه شته مګر قرآنی الفاظو نه زیات تائید ددې دویم صورت کیږی چه په انسانی شکل کښې ورته راتلو سره ئې په خبرو اترو کولو او غولول،

امام ابن جریر ﷫ دحضرت عبدالله بن عباس ﷠ په روایت نقل کړیدی چه کله دقریشو د مکې لښکر، دمسلمانانو دمقابلې دپاره مکې مکرمې نه راووتو نو دهغوئ په زړونو باندې دا یو خطره هم سوره وه چه مونږ ته نزدې دبنی بکر قبیلې خلق هم زمونږ دشمنان دی، هسې نه چه مونږ دمسلمانانو مقابلې له لاړشو او دغه دشمنان موقعه بیاموم‌ی، زمونږ په کورونو، ښځو او ماشومانو باندې چپاؤ او کړی دقافلې دسردار دابی سفیان دویرې په فریاد اګرچه دمکې مکرمې نه راووتو ته تیار شوی وو په زړونو کښې ئې داتلو سره او اندیښنه ضرور وه.. په دې حالت کښې ناڅاپه شیطان دسراقه بن مالک په شکل کښې داشان مخې ته ورغې چه په لاس کښې ئې جنډه وه او ورسره دیو بهادر فوځ دسته وه دکومې قبیلې نه چه دحملې خطره دقریشو کیده، سراقه بن مالک ددغه قبیلې یو لوئ سردار وو، دې رامخې ته شو قریشی لښکر ته ئې خطاب او کړو او په دوه شانه ئې او غولول اول په دې شان چه ورته ئې داسې اووئیل: ﴿لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ﴾ [نن هیڅوک خلق په تاسو نشی بر کیدې] مطلب ئې دا وو چه دمخالفې ډلې دقوت اندازه هم ماته شته چه ډیر کم دی او ستاسو طاقت او ګنړوالې وینم، ځکه یقین درکوم چه تاسو بې فکره شئ، مخ په وړاندې روان شئ هم تاسو به بر کیږئ، په تاسو باندې هیڅوک غالب کیدونکی نشته،

په بل شان ئې داسې او غولول چه وې وئیل ﴿إِنِّي جَارٌ لَكُمْ﴾ یعنی دبنی بکر نه کومه اندیښنه چه تاسو ته راولاړه شویده چه ستاسو دتلو نه پس به په مکه مکرمه چپاؤ او کړی نو دهغې ذمه داری زه اخلم چه دغسې به نه کیږی زه به په دې کښې ستاسو مرستیال یم. دمکې قریش دسراقه بن مالک داثر رسوخ نه خبر وو، دده په خبرو دبنی بکر دچپاؤنه بې خطرې شو او د مسلمانانو دمقابلې

دپاره تيارشو، ([1])

په دې دوه اړخيزه غولولو سره شيطان دغې خلقولره خپل قتل ګاه ته وروشړل: ﴿فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ﴾ كله چه دغه دواړه ډلې سره مخامخ شوې نوشيطان مخ په شاروان شو

دبدرپه غزا كښې هركله چه دمكې دمشركانوپه شاباندې يوشيطاني لښكرهم راغلې وو، څكه الله تعالى دهغوئ په مقابله كښې دفرشتولښكر، دحضرت جبرائيل عليه السلام اوميكائيل عليه السلام په مشرئ كښې راوليږلو. امام ابن جرير رحمه الله وغيره په روايت دابن عباس رضي الله عنهما نقل كړيدى چه شيطان دغه وخت دسراقه بن مالک سردارپه شكل كښې ديوشيطاني لښكرمشرى كوله، داڅې چه اوليدل چه حضرت جبرائيل عليه السلام دفرښتودلښكرمشرى كوله اوميدان ته راغې نو شيطان اوويريدلواوخپل لاس ئې دقريشي ديوځوان حارث بن هشام دلاس نه راخلاص كړواو په تيښته شو، حارث اورټلو چه داته څه كوې؟ شيطان حارث لره په سينه اووهلواووې غورځولواوخپل شيطان لښكرسره په تيښته شو، حارث پردسراقه خيال كولوورته ئې اووئيل.

اې دعربوسرداره سراقه، تاسوخوداوئيلى ووچه زه ستاسو امدادى اومرستيال يم، بياولې خالص دميدان جنګ په موقع داسې حركت كوې، شيطان ورته هم دسراقه په شكل كښې جواب وركړو ﴿إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّنكُمْ إِنِّيٓ أَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّيٓ أَخَافُ اللّٰهَ﴾ ([2])تاسوسره م چه كوم لوظ، قول كړيدې هغې نه م لاس څكه واغستوچه زه هغه څيزوينم چه تاسونشئ ليدلې] مراد ترې د فرښتو لښكرووه [اوداڅې هم اووئيل چه زه الله تعالى نه ويريږم څكه ستاسوملګرتياپريږدم]

شيطان دفرښتودلښكرپه ليدلوسره پوه شوچه اوس م څه خيرنشته، ولې چه هغه دفرښتود طاقت نه خبروو، دالله تعالى نه دويريدلوويناده [په روايت دقتاده رحمه الله چه دتفسيرامام دې] دروغ څكه وه چه كه دې دخداى نه ويريدلې نونافرماني به ئې ولې كوله؟ خواكثرحضرات وائي چه ويريدل ئې په خپل ځاى صحيح څكه دى چه هغه دالله تعالى كامل قدرت اوسخت عذاب په پوره شان پيژني، صرف خبره داده چه بغيردايمان اوفرمانبردارئ نه يواځې ويريدل هيڅ فائده نه وركوى،

دسراقه دپشاكيدوپه وجه چه ابوجهل دخپل لښكرزړونه ماتيدل اوليدل نوپه دروغه ئې داسې خبره جوړكړه چه سراقه د محمد صلى الله عليه وسلم سره پټ سازش كړې وو، دشيطان دپشاكيدونه پس دكفارودلښكرچه څه حشراوانجام اوشوهغه ټولوخلقوته معلوم دې، دغه كفارچه كوم ترمكې ته واپس راورسيدل په هغوئ كښې دچاملاقات سراقه بن مالک سره اوشو، نوهغه ئې ملامته كړوچه په جنګ بدركښې زمونږ شكست اوزمونږ دټول زيان تاوان ذمه دارى په تاڅكه ده چه خالص په ميدان جنګ كښې زمونږنه پشاشوې اوزمونږدځوانانوزړونه دمات كړل. هغه اووئيل چه زه خونه تاسوسره تلې وم، نه درسره په څه كاركښې شريک شوې يم.زه خوستاسو په ماتې خوړلوهم هله خبرشوم چه تاسومكې ته راورسيدئ؟

امام ابن كثيرداټول روايتونه په خپل تفسيركښې نقل كولونه پس فرمائيلى دى چه شيطان لعين دخپل عام عادت په جوړانسان په يوناكاروالى او ګناه كښې دښكيل كولونه پس عين په موقعه باندې تربيل شي چنانچه قرآن كريم په بيابيادده داعادت بيان كړيد، ې يوڅاى كښې

[1]) تفسير الطبرى تحت هٰذه الآية: رقم الحديث ۱۶۱۸۳، ۱۶۱۸۵
[2]) تفسير الطبرى تحت هٰذه الآية: رقم الحديث ۱۶۱۸۳

Scanned with Ca

فرمائی ﴿كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ [۱] [۲]

شیطانی دخل اوفریب اودې نه دېنې شو وطریقه: دې آیت کښې دبیان شوې واقعې نه څو فائدې ترلاسه شوې، ① اول داچه هرکله شیطان دانسان یوښکاره دښمن دې نو ده ته دنقصان رسولو دپاره قسما قسم حیلې اوچلونه کوی اوپېنترې [شکلې] ورته بدلوی، کله خوخاص په زړونو کښې ورته وسوسې اچوی اوپریشانه کوی ئې اوکله خوورته په مخامخ راتلوسره ئې دوکه کوی، ② دویمه داچه شیطان ته الله تعالی طاقت ورکړیدې چه هغه په مختلفوشکلونو کښې څان ښکاره کولې شی، چنانچه دیو مشهورحنفی فقهي په کتاب ﴿اٰكَامُ الْمَرْجَانِ فِيْ أَحْكَامِ الْجَانِّ﴾ کښې داپه وضاحت سره ثابت کړې شویدی په دې وجه محققین صوفیائې کرام کوم چې د کشف اوشهودخاوندان دی، هغوئ په دې سره خلق خبردارکړی دی چه دیوکس په لیدلو یادهغه دخبرې په آوریدلوسره بې دتحقیق نه ورپسې تلل ډیرخطرناک څکه وی چه په کشف اوالهام کښې شیطانی دخل اوګډون کیدې شی لکه مولانارومی رحمه الله فرمائیلي دی؟

اے بسا ابلیس آدم روئے هست پس بهردستے نشاید داد دست

[ډیرکرته ابلیس دبنیادم په شکل کښې ښکاره کیږی، څکه دهرچاپه لاس کښې لاس ورکول پکارنه دی،

اوحافظ رحمه الله هم فرمائیلي دی:

درراهِ عشق وسوسۂ اهرمن بسے است هشداروګوش رابه پیام سروش دار

[دعشق په لارکښې شیطانی وسوسې ډیرې کیدې شی، څکه بیدارا وسه اوصرف وحی الهی پسې مخه اوړه]

کاماباید ودپاره یواڅې دنیت اخلاص کافی نه دې دې نه وراندې په نیغه لارکیدل ضروری دی:

③ دریمه داچه په کفر، شرک یاپه نوروناجائزوعملونوکښې داخته کیدوزیات سبب هم داوی چه شیطان انسان ته دهغه بدعملونه ښکلی ښائسته اوفائده من ښکاره کولوسره ئې زړه او دماغ، دحق، صدق اوصحیح نتیجونه اړوی، هغه خپل باطل لره حق اوبدلره نیک ګنړی اوداهلِ حق پشان په باطلوباندې څان ورکولوته تیارشی چنانچه قریشی لښکراوددې سرداران کله چه بیت الله شریف نه رخصتیدل نودبیت الله شریف په څواکښې ئې داسې دعا کړې وه،

انصراهدی الطائفتین، [اې الله، په دې دواړوډلوکښې هغې ډلې سره امداداوکړې چه زیاته هدایت موندونکې وی،

دې بې خبره خلقودا ګنړل چه ګنې مونږزیات په هدایت باندې یوداشیطان فریب اولمسه وه چه څان ئې په حقه ګنړلواوښه په اخلاص ئې دخپل باطل په مرسته کښې مال وڅان قربانولو،

دې نه معلومه شوه چه یواڅې اخلاص کافی نه وی ترڅوچه دعمل مخه صحیح نه وی،

[۱] ترجمه: ددوی مثال دشیطان دے، چه انسان ته وائی چه کافر شه نوچه هغه کافر شی نوبیا ورته وائی چه زه ستاله بری یم، زه خو دالله نه ویریږم چه دټول مخلوق رب دے۔

[۲] تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۴۳، ۴۲

وړېسې په دويم آيت کښې د مدينې د منافقانو او د مکې د مشرکانو يوه شريکه وينا، د مسلمانانو په باره کښې دا نقل کړيده چې ګوياکښې په دوئ باندې دزړه سوځيد و د پاره ئي وئيلي وو ﴿غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيۡنُهُمۡ ؕ﴾ يعنى په ميدانِ بدر کښې دا ړشان مسلمانان دومره لوئ مضبوط لښکرد کفاروسره ډغرې وهلو د پاره راغلل، داغريبانان خپل دين دوکه کړيدی او د مرګ خله کښې ئې ورکړيدی، خو الله تعالى ددې په جواب کښې فرمائى: ﴿وَمَنۡ يَّتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ﴾ يعنى څوک چه په الله تعالى تکيه او توکل کوی نو يادلرئ چه هغه هيچرې هم نه ذليله کيږي ولې چه الله تعالى په ټولو باندې غالب دې] دهغه دحکمت په وړاندې د ټولو عقل اوپوهه بېکاره ثابتيږي] مطلب دا چه تاسو خلق صرف په ماده او ماديا تو باندې اعتماد او تکيه لرئ، دهغې پټ طاقت نه خبرنه ئې چه د دغه مادو او ماديا تو پيدا کوونکى په خزانو کښې دى اود اطاقت هغه خلقو سره وی کوم چه په الله تعالى باندې ايمان او تکيه لرى،

اوس هم چه ساده مسلمانان او وينى نو دعقل او پوهې ډېر دعوه لرونکى دا سې وائى،

اگلے وقتوں کے ہیں یہ لوگ انہیں کچھ نہ کہو

[دا د زړې زمانې خلق دی مخه ورپسې مه اوړئ]

وَلَوۡ تَرٰٓى
ا او که اووينې ته ا
ا او کله چه فرشتې

اِذۡ	يَتَوَفَّى	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوا ۙ	الۡمَلٰٓئِكَةُ	يَضۡرِبُوۡنَ
هغه حالت ا	چى روح قبض کوی ا	دهغه کسانو ا	چى کفر ئې کړې دې ا	فرښتې ا	وهى هغوئ ا

[د مرګ په وخت کښې] وينې چه د کافرانو روحونه قبض کوی او هغوی په مخونو او شاګانو باندې

وُجُوۡهَهُمۡ	وَاَدۡبَارَهُمۡ ۚ	وَذُوۡقُوۡا	عَذَابَ	الۡحَرِيۡقِ ۞	ذٰلِكَ
مخونه دهغوئ ا	اوشاګانې دهغوئ ا	چى اوڅکئ ا	عذاب ا	دسوزيدو ا	دا په سبب دهغې

وهى [اوټکوی او دا به ورته هم وائى چه] سوزيدونکې عذاب [د جهنم] اوڅکئ ا دا عذاب [د سوزيدو]

بِمَا قَدَّمَتۡ	اَيۡدِيۡكُمۡ	وَاَنَّ اللّٰهَ	لَيۡسَ	بِظَلَّامٍ	لِّلۡعَبِيۡدِ ۙ ۞
چى مخکښى ليږلې دې	الاسونه ستاسو	اوبيشکه الله ا	نه دې ا	ظلم کونکې ا	په بندګانو خپلو ا

دهغه [بدو اعمالو] په وجه دې کوم چه ستاسو لاسونو کړی وو او الله تعالى په خپلو بندګانو ظلم کونکې نه دې

كَدَاۡبِ	اٰلِ فِرۡعَوۡنَ ۙ	وَالَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ
لکه دحال ا	دتابعانو دفرعون دې	اولکه دهغه کسانو دې	اچى مخکښى ددوئ نه وو ا

[د دوی حالت] پشان د د فرعون او دهغه کسانو دې کوم چه د دوی نه وړاندې وو.

كَفَرُوۡا	بِاٰيٰتِ اللّٰهِ	فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ	بِذُنُوۡبِهِمۡ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ
چى انکار اوکړو هغوئ ا	دآيتونو دالله	نه انواونيول هغوئ الله	اپه ګناهونو دهغوئ ا	بېشکه الله

هغوی د الله تعالى د آيانونو نه انکار اوکړو نو الله هغوی د ګناهونو په وجه اونيول بيشکه الله

Scanned with Ca

قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ
دطاقت خاوند دي ا سخت ورکونکي دي ا عذاب ا دا عذاب ا په سبب دهغې چې بيشکه الله ا نه دی
د طاقت خاوند دي او سخت عذاب ورکونکي دي دا عذاب د دي په وجه دي چه الله تعالى چه په يو
مُغَيِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا
بدلونکي ا هغه نعمت لره ا چې کړې وی هغه ا په يو قوم باندې اتردې پورې ا چې بدل کړی هغوئ
قوم باندې څه نعمت کړې وی نو هغه نه بدلوی ترڅو چه هغوی خپل نعمت نه وی بدل کړې [او دتابعدارئ او
مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ۝
هغه حال ا چې په نفسونو دهغوئ باندې وی ا او بيشکه چې الله ا اوريدونکي دي ا او پوهه دي ا
شکر په ځائې ئې نا شکری نه وی کړې او الله تعالى د هرې خبرې اوريدونکي او په هرڅه عالم دي

آسان ترجمه قرآن

اوکه تا کتلې وې (نو هغه څه عجيبه منظر وو) چه کله فرښتو ددې کافرانو روحونه قبض کول، هغوی ئې په مخونو او شاګانو باندې وهل (او وئيل ئې چه (اوس) د سوځيدو مزه (هم) وڅکئ، دا ټوله دهغه اعمالو بدله ده چه تاسو پخپلو لاسونو مخکښې ليږلی وو، اودا خبره ثابته ده چه الله په خپلو بندګانو باندې ظلم کونکې نه دې. (ددې خلقو حال داسې شو) لکه چه د فرعون د قوم او دهغه خلقو چه دهغه نه مخکښې تير شوي وو. هغوی دالله د نښو منلو نه انکار کړې وو، نتيجه دا شوه چه الله تعالى دهغوی دګناهونو د وجې نه هغوی په خپل ګرفت کښې واخستل. يقيناً الله لوئ طاقت والادې (او) عذاب ئې ډير سخت دا هرڅه ځکه وشو چه دالله دستور دادې چه هغه چه کوم نعمت يو قوم ته ورکړې وي هغې لره تر هغه وخته پورې بدلول نه برداشت کوي ترڅو چه هغه خلقو خپل حالت پخپله نه وی بدل کړې او الله هر څه آوري او په هر څه باندې پوهيږی.

خلاصه تفسير

﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ۚ﴾ او که تاسو ﷺ [د دغه وخت واقعه] اووينئ [نو عجيبه واقعه به درته ښکاره شی] کله چې فرښتي ددوئ [موجودو] کافرانو روحونه قبض کوی [او] ددوئ په مخونو او شاګانو ئې وهی او دا وائی چې [اوس لا څه دی چې په وراندې تللو سره] ﴿وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ۝﴾ د اور سزا تيروئ [او] ﴿ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ﴾ دا عذاب ستاسود [کفری] عملونو په وجه دې چې تاسو د خپله لاسه راټول کړی دی ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ۝ ۙ﴾ او دا خبره ثابته چې الله ﷻ په بندګانو باندې ظلم کوونکي نه دې [نو الله ﷻ دا سزا بې جرمه نه ده درکړې پس] ﴿كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ﴾ ددوئ حالت [په دې باره کښې چې د کفر سزا موندونکی شو] داسې دې لکه چې د فرعونيانو اودهغوئ د وړاندې د [کافرانو] حالت چې وو ﴿كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ چې هغه د الله ﷻ د آيتونو انکار اوکړو ﴿فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ﴾ نو الله ﷻ ددوئ [پدغه] ګناهونو دوئ لره [په عذاب کښې] راؤنيول، ﴿اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ۝﴾ بيشکه الله ﷻ لوئي د قوت خاوند سخت سزا ورکوؤنکي دې

Scanned with Ca

[چې ددۀ په مقابله کښې هيڅ داسې طاقت نشته دې چې ددۀ عذاب برته کړې شي او ﴿ذٰلِكَ﴾ [چې مونږ بې جرمه سزا نه ورکوو] په دې وجه ده [چې زمونږ يوه قاعده کليه تاکلې شوې ده او بې جرمه سزا نه ورکول ددغې قاعدې ځينې يوه حصه ده او هغه قاعده داده چې] ﴿بِأَنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾ الله ﷻ داسې يو نعمت چې يو قوم ته ئې ورکړې وي نه بدلوي ، تر څو چې همدغه خلق خپل ذاتي عملونه بدل نکړي ﴿وَأَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ او دا خبره ښه کلکه ده چې الله ﷻ لوئې آؤريدونکې لوئې پوهيدونکې دې [نو هغه د خبرې بدلول آؤري او د کارونو په بدلولو پوهيږي نو دغه موجودۀ کافرانو خپل ذاتي حالت بدل کړو چې په دوئ کښې سره د کفر ، اول دا ايمان راوړلو استعداد نزدې وو ، په انکار اومخالفت کولو سره هغه لړې حد ته يوړلو نو مونږ د مهلت ورکولو خپل هغه نعمت چې دوئ ته رومبې حاصل وو ، د دوئ په رانيولو سره بدل کړو ، دهغې وجه دا وه چې دوئ په دغه بيان شوې طريقې سره هغه د نزدې استعداد بدل کړو او لړې حد ته ئې اورسولو]

معارف اومسائل

په دې آيتونو کښې ، اولودؤوآيتونو کښې دکافرانو دمرګ دوخت عذاب اودفرشتوزورنې ئې بيان کړيدى په دې کښې رسول الله ﷺ ته داسې خطاب شويدې چه، که تاسو ﷺ ددغه کافرانوپه هغه وخت ننداره کړې وې چه فرشتوبه ئې روحونه قبض کول، دهغوئ په مخونواو په شاګانوباندې به ئې ګذارونه کول اودابه ئې ورته وئيل چه په اورکښې دسوځيدوعذاب اوڅکئ نولويه هيبتناکه ننداره به موکتلې وه،

دتفسيرځنې امامانو فرمائيلى دى چه دې کښې دهغه کافرانودقريشوحالت بيان شويدې چه د بدرپه غزا کښې مسلمانانوسره دجنګيدودپاره راغلى وواوالله تعالى دمسلمانانودامداددپاره دفرشتو لښکر ليږلې وو، په دې صورت کښې دآيت معنى داشوه چه دبدرپه ميدان کښې کوم قريشى سرداران مړه شوى وودهغوئ په وژلوکښې دفرشتولاس وو چه دوړاندې نه به ئې په مخونواودروستونه به ئې په شاګذارونه ورکول اومړه کول به ئې اودې سره سره به ئې ورته په آخرت کښې دجهنم دعذاب خبرورکولو،

اوڅوک چه دقرآنى الفاظومطابق په عام مضمون داحمل کوى نودهغې په بِنابه داآيت معنى داسې شى، چه کله څوک کافروى نودمرګ فرشتې دهغه دروح قبض کولوپه وخت هغه له په مخ اوشاباندې ګذارونه ورکوى، چنانچه دځنې روايتونوپه جوړدفرشتوپه لاسونوکښې داور کروړې اوداوسپنې ګرزونه وى چه دغه مړه کيدونکى کافران پړوهى، خوهرکله چه دغه عذاب برزخ سره تعلق لرى څکه ئې څوک په سترګونشى ليدلې ولې چه ددې تعلق عالم عناصرسره نه وى،

په دې بِنارسول الله ﷺ ته هم اوفرمائيلې شوچه که دغه وخت تاسو ﷺ په خپلوسترګو ليدلې وې نولويه عبرتناکه ننداره به دليدلې وه، دعذاب قبربيان دقرآن کريم په نوروآيتونو کښې هم راغلې دې اواحاديثوروايتونه خوپه دې معامله کښې بې شميره دى،

په دويم آيت کښې کفاروته وئيلې شى چه ددنيااوآخرت عذاب ستاسودخپلولاسونوګټه ده،خاص دلاسونوذکرپه دې وجه اوکړې شوچه عام کاروبارپه لاسونوسره کولې شى،اصلى مطلب دادې چه داعذابونه ستاسودخپلوکړواوعملونونتيجه ده څکه چه الله تعالى خوپه خپلوبندګانوظلم نه کوى چه بې هيسه به ئې ګنى عذابوى،

Scanned with Ca

په دریم آیت کښې دا اوښودلې شوچه په دغه مجرمانوباندې دالله تعالی عذاب راتلل څه نوې خبره ځکه نه ده چه دادالله تعالی جاری عادت دې چه دځپلوبندګانو دهدایت دپاره ورته عقل اوپوه ورکوي، خواوښاکښې وردپاره بیشمیره څیزونه موجودوي چه په هغې کښې غور فکرکولوسره دالله تعالی لوئ قدرت اولوئې پیژندې شي اوداهم پیژندې شي چه دهغه عاجز اوبې وسه مخلوق ددهغه شریک نه جوړوي، بیادپوره خبرولودپاره ورته پیغمبران اوکتابونه [آسمانی] رالیږي، دالله تعالی پیغمبران په دې بناباندې دخلقوپه پوهولوکښې هیڅ څه کسرنه پریږدي، ورته دالله تعالی دغالب قوت ننداري دمعجزوپه شکل کښې ښکاره کوي، هرکله چه څوک یوکس یاڅوک یوډله یایوقوم ددې هرڅه نه سترګې پټې کړي، ځان پرړوند کوڼرکړي نود الله تعالی جاری عادت دې چه په داسې خلقوباندې دنیاکښې هم عذاب راځي اودآخرت په همیشه عذاب کښې هم راګیریږي لکه فرمائی: ﴿كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ﴾ د، دَأْب، معنی عادت ده، مطلب داشوچه ﴿اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ﴾ دفرعونیانواوددوئ نه وړاندې دکافرانوپه باره کښې چه دالله تعالی عادت خلقوته معلوم شوې دې چه ټول فرعونیان د یو مخه سره دخادمانو اوسامانونو په دریاب کښې غرق شواودغه شان الله تعالی عادیان اوثمودیان په قسماقسم عذابونوسره هلاک کړل،

﴿كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ﴾ دغې خلقودالله تعالی نشانیانې اوآیتونه په دروغه اوبلل الله تعالی دوئ په خپل عذاب کښې ښکیل کړل [﴿اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾] وجه ئې داده چه الله تعالی قوي دې، هیڅوک دقوت او بهادرئ خاوندئې دعذاب نه نشي خلاصولې، اودالله تعالی سزاهم ډیره سخته ده،

په څلورم آیت کښې الله تعالی دخپل انعام اوورکړې قایم اوجاری لرلودپاره یوضابطه داسې بیان کړیده، فرمائی:

﴿ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ﴾ [یعنی الله تعالی خپل وربخښلې نعمت ترهغې نه بدلوي ترڅوچه دغه خلق پخپله خپل حالات اوعملونه بدل نکړي]

دلته رومبئ خبره دځورنظرکولوجوګه داسې ده چه الله تعالی دنعمت وربخښلودپاره څه ضابطه نه ده بیان کړې، څه شرط، قیدئې وردپاره هم نه دې لګولې، په څه ښه عمل ئې موقوف اوادانره کړې هم نه دی، چنانچه اول زموږ خپل وجودونه هم لوئ نعمتونه دی، دالله تعالی دقدرت اوکاریګرئ ډیرعجائبات پکښې شته دې حیرانوونکې په زرګونونعمتونه ئې پکښې ایښی دی، سره ددې چه ددې نعمتونو د وربخښلو په وخت موږه دسره موجودنه وونو عملونه موکوم ځائ موجودوو؟

مانبودیم وتقاضائےمانبود　　لطفِ تونا ګ فته مامی شنود

[نه موږه موجودووا ونه موغوښتنه موجوده، ستامهربانئ زموږناوئیلې خواست هم آؤرید]

که دالله تعالی انعامونه او احسانونه زموږه په نیکوعملونوڅه اړه لرلې نوموږبه دسره موجود شوي نه وو، وجه ئې داده چه الله تعالی رب العلمین اورحمن اورحیم دې داټول نعمتونه او احسانونه ئې هم ددې نتیجه دی، البته دنعمت اورحمت قایم اوجاری لرلودپاره یوه ضابطه ئې په دې آیت کښې داسې بیان کړه چه، چاته ورکړې نعمت الله تعالی ترهغه وخته پورې واپس نه اخلي ترڅوچه ددغې خلقوحالتونو اوعملونوبدلولودوئ پخپله دالله تعالی عذاب ته بلنه ورنکړي،

Scanned with Ca

دحالتونو دبدلولو مطلب داهم کیدې شي چه د ① نعمتونو دوربخښلو په وخت دنیکو عملونو او نیکو حالتونو په ځای بدعملونه اوبدحالات اختیارکړي، یاددغې نعمتونو د ور بخښلو په وخت چه کوم بدوعملونو او ګناهونو کښې دغه خلق اخته وو، هغې نه پس ددې نه په زیاتوناکاره عملونو او زیاتو ګناهونو کښې اخته شي،

دې تفصیل نه داهم معلوم شوچه په تیروآیتونو کښې دکوموقومونو یعنی کفارودقریشو او فرعونیانو بیان چه راغلې دې، دالله تعالی دنعمتونو دوربخښلو په وخت دوئ په څه ښه حالاتو کښې نه وو، بلکه ټول دڅیرمې کافران اومشرکان وو، لیکن دانعاماتونه پس داخلق په خپلو بدعملو او شیطانتونو کښې داول نه زیات خراب شوي وو، چنانچه فرعونیانو په بنی اسرائیلو باندې قسماقسم ظلمونه شروع کړل، دحضرت موسی ﷺ مقابلې اومخالفت ته ئې ملا اوتړله چه دوړاندینوناکاروالونه زیات ناکاروالي وو، هرکله چه په دې شان ئې خپل حالات زیات خراب کړل نو الله تعالی پرخپل کړې نعمت په زحمت او عذاب کښې بدل کړو، دغه شان دمکې قریش اګرچه مشرکان اوبدعمله وو لیکن دې سره په دوئ کښې څه ښه عملونه، خپلوی پاللې، میلمه پالل، دحاجیانو خدمت کول، دبیت الله شریف تعظیم کول وغیره هم وو، الله تعالی په دوئ باندې ددین دنیادنعمتونودروازې پرانستې، په دنیاکښې ئې ددوئ تجارتونوته یې ترقي ورکړه اوپه داسې ملک کښې چه دهیچاتجارتی قافله به په امن اوسلامتئ سره نشوه تیریدې، ددې خلقو تجارتی قافلې به دشام اویمن په سفرتلې اوپه خیرخیریت سره به واپس راتلې، څنګه چه بیان یې په سورة قریش کښې قرآن کریم پخپله کړې دې،

﴿لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ۝ إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ۝﴾[1] داخوئې ددنیوی نعمتونو بیان شو، دینی لوئ نعمت ورته

هغه ورکړې شوچه په دنیاکښې هیڅ یوقوم ته نه وو ورکړې شوې، سیدالانبیاءخاتم النبیین ﷺ هم په دوئ کښې پیغمبرشودالله تعالی آخری او جامع کتاب قرآن مجیدهم په دوئ کښې راؤلیږلې شو، لیکن دې خلقودې نعمتونو دشکریه اداکولوپه ځای خپل حالات اوعملونه نورهم زیات ګنده داسې کړل چه مسلمانیدونکوخپلوخپلوانوباندې ئې ظلمونه راښکته کړل او په دې شان ئې خپلوی هم پریښوده، دمیلمه دوستئ په ځای ئې هم په دغه مسلمانیدونکو خلقوباندې دخوراک، څکاک، بندولولوظنامې اولیکلې، دحاجیانو دخدمت کولوپه ځای ئې مسلمانان په حرم شریف کښې دداخلیدونه بند کړل، قریشوپخپله داحالت بدل کړو، په نتیجه کښې الله تعالی پر دنعمت په ځای زحمت اوعذابونه راوستل، په دنیاکښې هم ذلیل او خوار شو اوکوم ذات چه الله تعالی رحمة للعالمین جوړکړې وو دوئ ته راغلی وو هم دهغوئ ﷺ په ذریعه ئې خپل، ذلت، مرګ، هلاکت اوعذاب ته بلنه ورکړه،

په تفسیرمظهری کښې دتاریخ دمعتبروکتابونوپه حواله سره لیکلې شوي دي چه د رسول الله ﷺ ددریمې پیړئ نیکه، کلاب بن مره، اول دسره دحضرت ابراهیم ﷺ اواسماعیل ﷺ ددین پابنداوقایم وواودغه شان پیړئ په پیړئ دینی مشری ددوئ په لاس کښې پاتې شوې وه، د قصی بن کلاب په زمانه کښې دې خلقوکښې بت پرستی شروع شوه قصی نه وړاندې کعب

[1] ترجمه: یعنی دوئی او داوړي دسفر سره عادت شوي دي۔

Scanned with Ca

بن لوئی ددوئ دینی مشرو و ،دجمعې په ورځ به ئې خلق راجمع کړل او خطبه به ئې ورکوله چه د دوئ په ژبه کښې به ورته عروبه وئیلې شوه اودابه ئې هم ښودل چه ددوئ په اولاد کښې به خاتم النبیین ﷺ پیدا کیږی، دهغوئ ﷺ تابعداری کول به په ټولو لازم وی، څوک چه پر ایمان نه راوړی هیڅ عمل دهغه به نه قبلیږی، درسول الله ﷺ په باره کښې دهغوئ عربی شعرونه په جاهلی شاعرانو کښې مشهوردی، همدغې قصی بن کلاب به دټولو حاجیانو دخوراک او اوبو انتظام کولو تردې چه داانتظام درسول الله ﷺ دزمانې مبارکې پورې ددوئ ﷺ د خاندان په لاس کښې پاتې شو ،(۱) ددې تاریخی تشریح له مخې داهم وئیلې شی چه دقریشو د حالاتو بدلیدو دامطلب هم اغستې شی چه ابراهیمی ﷺ دین ئې پرېښو اودهغې په ځائ ئې بت پرستی اختیار کړه.

په هرحال دآیت دمضمون نه دامعلومه شوه چه کله الله تعالی خپل نعمت څنې داسې خلقوته هم ورکوی چه دخپلو عملونو ردمخې دهغې حقدار نه وی،لیکن دنعمت وربخښلو نه پس که د خپلو عملونو د سمولو په ځائ په بدو عملونو کښې نوهم زیاتوالې راولی نو بیادغه نعمت تر اغستې شی اوهغوئ دالله تعالی دعذاب حقدار ګرځی.

په آخر دآیت کښې فرمائی ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ﴾ یعنی الله تعالی ددوئ هرقسم خبرې اترې آوریدونکې اوددوئ دهرقسم عملونو اوکارونو پیژندونکې دې، په دې کښې دڅه غلطئ یاغلط فهمئ امکان نشته،

كَدَاۡبِ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ ۙ وَالَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ كَذَّبُوۡا
لکه دحال دتابعانو دفرعون دې ا اولکه دهغه کسانو دې اچې مخکښی ددوئ نه وو ا اچی دروغ اوګڼړل هغوئ
د دوی حال د فرعونیانو اوهغه خلقو پشان دې چه د هغوی نه وړاندې وو .هغه دا چه هغوی د خپل رب ایاتونه
بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ فَاَهۡلَكۡنٰهُمۡ بِذُنُوۡبِهِمۡ وَاَغۡرَقۡنَاۤ
آیتونه ا درب خپل ا نو هلاك كړل مونږ هغوئ ا په سبب دګناهونو دهغوئ ا اوغرق کړل مونږ ا
دروغ بللې وو .نو الله تعالی هغوی د هغوی د ګناهونو په سبب هلاک کړل او مونږ د فرعون تابعداران
اٰلَ فِرۡعَوۡنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوۡا ظٰلِمِيۡنَ ۝ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ
تابعان دفرعون ا اودا ټول ا وو ا ظالمان ا بیشکه ا ناکاره ا دګرځنده مخلوق نه
د فرعون هلاک کړل [اومونږ چاسره ظلم نه وو کړې بلکه] دا ټول ظالمان وو .بیشکه د الله تعالی
عِنۡدَ اللّٰهِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝ۖ
په نز دالله ا هغه کسان دی اچې انکار ئې اوکړو دحق نه ا نوهغوئ ا ایمان نه راوړی
په نیز په ساه لرونکې ځیزونو کښې د ټولو نه بدترین هغه دې چه کفر ئې کړې دې او ایمان نه راوړی
اَلَّذِيۡنَ عٰهَدۡتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَهُمۡ
خاص طورهغه کسان اچې وعده واغستله تا ا دهغوئ نه ا اوبیا اماتوی هغوئ ا وعده خپله
خاص کرهغه کسان [بدترین دی] چا سره چه تا په دوی کښې وعده کړې ده اوبیا [هم] هغوی هرځل

(۱) التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۴، ص ۱۰۴

Scanned with Ca

فِي كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ۝ فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ

په هره موقع کښې ا او هغوئ ا نهٔ يريږي دالله نه انو که ابيا مومي تهٔ هغوئ لره|په جنګ کښې ا

وعده ماتوی او د الله تعالی نه [په وعده ماتولو کښې] نه ويريږي نو که چرته تا دوی په جنګ کښې مونډل

فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ

نواويروه ا په سزادهغوئ سره اهغه څوك اچې روستودهغوئ نه دی ا دپاره ددې

نودهغوی په وجه هغه خلق اوويروه کوم چه ددوی نه روستو دی .... د دې دپاره

يَذَّكَّرُوْنَ۝ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ

چې هغوئ عبرت واخلی دوعده خلافو دا نجام نه ا اوکه چری ا تهٔ يريدلې ا ديوقوم نه ا

چه دوی نصيحت قبول کړی........................ اوکه چرته د يوې ډلې نه مو د

خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ ط إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

د خيانت کولو انو اوغورزوه اهغوئ ته ا په برابرئ سره ا بيشکه چې الله ا نهٔ خوښوی

خيانت کولو ويره کيږی نو هغوی سره چه کله معاهده پوره شی هغه واپس کړه بيشکه الله تعالی

الْخَائِنِيْنَ۝ ع

خيانت ګرخلق ا

خيانت ګر نه خوښوی

آسان ترجمه قرآن

(دې معامله کښې هم ددوی حال هم داسې شو) لکه چه فرعون او دهغه نه مخکښې چه کوم خلق وو، هغوی دخپل رب ښښو لره دروغژني کړې وې نتيجه دا شوه چه مونږ دهغوی د ګناهونو د وجې نه هغوی لره هلاك کړل اود فرعون قوم مو غرق کړو او دا ټول ظالمان ؤ يقين وکړه چه د الله په نيز بانديې په زمکه بانډې ګرځيدونکو ساه والا ځيزونو کښې د ټولو نه بدترين هغه خلق دي چه هغوی کفر اختيار کړې دې چه دهغې د وجې نه هغوی ايمان نه راوړي دا هغه خلق دي چه دوی تا سره لوظ کړې دې دهغې باوجود دوی خپله وعده هر ځل ماتوي ، او لږ هم نه ويريږي پس که په جنګ کښې دا خلق تا ته په لاس راشي نو دوی لره عبرت جوړ کړه او هغه خلق هم وويروه چه کوم ددوی نه وروستو راځي، دې د پاره چه دوی ياد وساتي اوکه تا ته ديو قوم نه دبې لوظئ خطره وي نو ته هغه معاهده هغوی طرف ته صفا صحيح طريقې سره وغورځوه او ياد ساته چه الله وعدې ماتونکو لره نه خوښوي .

خلاصه تفسير

[پس ددې بدلون راوستو په کار کښې هم] ﴿كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ط﴾ د دوئ حالت د فرعونيانو اود دوئ نه دوړاندې خلقو پشان دې ﴿كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ﴾ چې هغوئ دخپل رب آيتونه په دروغه او بلل ﴿فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ﴾ په دې باندې مونږ هغوئ ، دهغوئ [دهغې] ګناهونو په سبب هلاك کړل او [په هغوئ کښې] ﴿وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ﴾ فرعونيان مو په خاص

Scanned with Ca

دول هلاك كړل چې [هغوئ لره] غرق مو كړل ﴿وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ﴾ او هغوئ [فرعونيان او ړومبی خلق] ټول ظالمان وو ﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ بيشكه زيات ناكاره خلق د الله ﷻ په نزد دا كافر خلق دی [كله چې دا د الله ﷻ په علم كښې داسې دی] ﴿فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ نو په دې ايمان نه راوړی ، ﴿الَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ﴾ دچاچې داشان دی چې تاسو ترې [ځو ځو ځله] وعده اخستې وه [مګر] ﴿ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ﴾ بيا [هم] دوئ هر ځل خپله وعده ماتوی ﴿وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ﴾ او دوئ [د لوظ ماتولو نه] نه ويريږی ﴿فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ﴾ نو كه تاسو په جنګ كښې په دې خلقو قابو بيا مومئ [او دوئ درته په لاس درشی] ﴿فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ﴾ نو په دوئ د حملې كولو په ذريعه نور خلق چې دوئ نه علاوه دی خواره واره كړئ دپاره ددې چې دغه خلق پوهه شی [چې دا د وعدې ماتولو وبال شو ، داسې بۀ نه كوو دا حكم خو دهغه وخت دې چې كله دغې خلقو په ښكاره وعده ماته كړه] ﴿وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً﴾ او كه [تر اوسه ئې په ښكاره خو نه وی مات كړې ليكن] ستاسو د يو قوم نه د خيانت [يعنی د لوظ ماتولو] انديښنه وی نو [اجازت دې چې] ﴿فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ﴾ تاسو ﷺ ورته هغه لوظ په دې شان واپس كړئ [يعنی داشان ددې لوظ د جاری نه پاتې كيدو خبر وركړئ] چې تاسو او دوئ [په دې خبر كښې] برابر شئ [او بې دداسې ښكاره خبر وركولو نه جنګيدل خيانت دې او] ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ﴾ بيشكه الله ﷻ دهوكه والا خلق نه خوښوی.

معارف او مسائل

په دې آيتونو كښې دړومبی آيت مضمون، بلكه الفاظ ئې تقريباً هم هغه دی چه يو آيت ړومبې راغلی دی،

﴿كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَأَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ﴾ خو دبيان مقصد دواړو بيل بيل دی، په ړومبی آيت كښې دابيان مقصود وو چه ددغې خلقو كفر ددوئ دعذاب سبب جوړ شو او دې آيت كښې مقصد دادې چه دالله تعالی دعام قانون مطابق كله چه په يو قوم باندې دالله تعالی نعمتونه اوشی او هغوئ قدر اونكړی، دالله تعالی په ورباندې ښكته نشی نو دهغوئ نعمتونه په زحمتونو او مصيبتونو كښې بدل كړې شی، فرعونيانو او ددې نه مخكښې قومونو هم كله چه دالله تعالی دنعمتونو قدر اونكړونو هغوئ نه نعمتونه واغستې شو او دنعمتونو په ځائ، په عذاب كښې راګير كړې شو، او په ځينو الفاظو كښې فرق كولو سره خاص خاص اشارې كړې شوی دی مثلاً په ړومبی آيت كښې د ﴿بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ الفاظ وو او دلته ﴿بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ﴾ لفظ دې دلته د الله لفظ په ځائ د .رب. لفظ په راوړلو سره دې ته اشاره اوكړې شوه چه دا خلق غټ ظالمان وو او حق پيژندونكی نه وو ولې چه دهغې ذات كوم چه ددوئ .رب. دې ددوئ په موجوديدو دشروع نه چه واخلې تر موجوده حالاتو پورې هم د هغه په نعمتونو كښې ددوئ پالنه شوې ده خو بيا يې هم دهغه نښانيانې په دروغه اوګڼلې،

داشان دړومبی آيت ﴿فَأَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۗ﴾ په ځائ دلته ﴿فَأَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ﴾ او فرمائيل چه پكښې ددغې اجمال تفصيل او تشريح په دې شان اوشوه چه په ړومبی آيت كښې صرف په عذاب كښې راګيرول بيان شوی وو، د هغې مختلف صورتونه كيدې شو، ① ياخوځوندی په مصيبتونو كښې اخته كړې شی، ② ياخو بيخی ختم كړې شی، نو په دې آيت كښې ﴿فَأَهْلَكْنٰهُمْ﴾

Scanned with Ca

سره ددوئ هلاکت او ختمول په کته کړې شو، چه ددغې ټولو قومونو سزا ده مرګ سزا وه، مونږه ټول هلاک کړل، دهر قوم دهلاکید ومختلف صورتونه ښکاره شو، په دې کښې فرعون هر کله چه د خدائ دعویدار وو او دهغه قوم به هغه په رشتیا ګڼړلو، ځکه په خصوصیت سره دهغه ذکر او کړې شو چه ﴿أَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ﴾ یعنی مونږه فرعونیان غرق کړل] دنورو قومونو دهلاکت صورتونه دلته بیان نکړې شو، په نورو روایتونو کښې د هغه هم تفصیل موجود دې چې په چا زلزله راغله څوك په زمکه کښې ورومنډل شوه او دچا شکلونه وران کړل شوه. په چا، د باد سیلئ، راوالوته او په آخر کښې دمکې مشرکانو باندې دبدر په غزا کښې دمسلمانانو لاسه عذاب راغلو،

په وریسې آیت کښې هم ددغې کافرانو په باره کښې فرمائی ﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دلته، د ﴿دواب﴾ د ﴿دابه﴾ جمع ده، ددې لغوی معنی په زمکه باندې تلونکې [ګرځیدونکې] حیوان ده، په دې بناددې اطلاق سره د انسانه په ټولو هغه ځناورو کیدې شی چه کوم په زمکه ګرځی، خودعامو محاورو په جوړ خاص چارپایه څاروو او ځناورو دپاره استعمالیږی، ددغې خلقو حال په بې شعورئ کښې دځناورونه زیات هم غورځیدلې وو ځکه ئې ترپه دې لفظ سره تعبیر او کړو، دآیت معنی واضحه ده چه په ټولو ځناورو او انسانانو کښې دټولونه زیات خراب ځناور دا خلق دی،

په آخر دآیت کښې ئې او فرمائیل: ﴿فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ یعنی دا خلق ایمان نه راوړی، مطلب ئې دادې چه دې خلقو، خپل ورکړې استعداد او قابلیت برباد کړو، دچارپایانو ځناورو په شان ئې خوراك څکاك، اوده کیدل ویښیدل ئې دژوند مقصد جوړ کړو ځکه ددوئ رسائې ایمان ته نشی کیدې،

حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه فرمائیلی دی چه داآیت دهغې شپږو یهودیانو په باره کښې راغلې دې دچا دا ایمان نه راوړلو په باره کښې چه الله تعالی پیشګی خبرور کړې وو،(۱) داشان په دې لفظ کښې هغه خلق دعذاب نه مستثنی کول منظوردی چه اوس دا وخت اګرچه کفار وسره غاړه شوی، داسلام او مسلمانانو په خلاف کوششونو کښې مشغول دی خو په آئنده کښې به په څه وخت اسلام قبول کړی او د خپلو ړومبو غلطو نه به توبه ګار شی، چنانچه همدغسې او شو چه هم ددوئ نه ډیره لویه ډله مسلمانان شو، یواځې پخپله صالحان او متقیان جوړ نه شو، بلکه دنیا دپاره اصلاح کوونکی او تقوی ته رابلونکی خلق جوړ شو،

دریم آیت ﴿الَّذِينَ عَاهَدتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِي كُلِّ مَرَّةٍ وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ﴾ دا آیت دمدینې منورې دیهودو، بنی نضیر و او بنی قریظې په باره کښې نازل شویدې، په تیروشوؤ آیتونو کښې دمکې په مشرکانو، په میدان بدر کښې دمسلمانانو د لاسه دالله تعالی دعذاب نازلیدل بیان شوی وو او د پخوانو امتونو دکفارو سره ددوئ یوشان والې ښودلې شوې وو او س په دې آیت کښې دهغه ظالم ټولی بیان دې چه مدینې منورې ته دهجرت کولو نه پس مسلمانانو دپاره دلستونړی ماران جوړ شوی وو، یوارخ ته مسلمانانو سره دصلح دعویدار وو او بل اړخ ته مشرکانو دمکې سره د سازباز په زور دمسلمانانو خلاف سازشونه ئې کول، دا خلق یهودی مذهبه وو، دمکې د مشرکانو څخه داسلام په خلاف دټولو سرکرده څنګه چه ابوجهل ؤو دغه شان دمدینې په

---

(۱) الدر المنثور تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳۱۱

Scanned with Ca

يهوديانو کښې دټولو سرپينچ کعب بن اشرف وو،

رسول الله ﷺ چه مدينې منورې ته هجرت اوفرمائيلو، دمسلمانانو مخ په زياتيدو طاقت ئې چه اوليدلونو په دې خلقو رعب پريوتوليکن په زړه کښې ئې داسلام دښمنئ اوربه مخه بليدو،

داسلامي سياست تقاضادا وه چه څومره کيدې شي دمدينې يهود، ديولوظ اوقول دمخې دځان سره په دې غرض يوځائ کړې شي چه دوئ دمکې مشرکانو ته مدد ورنکړې شي، يهود په رعب کښې راغلي ووځکه هغوئ هم دغسې غوښتل،

داسلامي سياست ړومبې قدم اسلامي سياست: رسول الله ﷺ هرکله چه مدينې منورې ته راؤرسيدو نو ټولونه ړومبې داسلامي سياست بنيادئې داجوړکړوچه دمهاجرينو اوانصارو وطني اوقومي عصبيتونه ئې ختم کړل، اوداسلام په نوم ئې ديونوى قوميت بنيادکيښودو، د مهاجرينو او انصارومختلفې قبيلې ئې دروروليئ په تار کښې اوپئيل، هم دهغوئ ﷺ په ذريعه الله تعالى د انصارو ترمنځه هغه سخت اختلافات لرې کړل چه دپيړوداسې په دوئ کښې راروان وو، بلکه داچه مهاجرينوسره ئې ورورولي جوړه کړه،

دويم قدم ديهودومعاهده: ددې سياست دويمه درجه داوه چه دمسلمانانو حريفان دوه قسمه خلق وو، يوقسم دمکې مکرمې مشرکان ووچه مسلمانان ئې په سختوتکليفونو سره دهغه ځائ نه په هجرت کولوباندې مجبوره کړل بل قسم خلق يهوديان ووچه اوس دمسلمانانو ګوانډيان [همساياګان] جوړشوي وو، په دې کښې يهودوسره معاهده اوکړې شوه چه تفصيلي لوظنامه ئې اوليکلې شوه، دمدينې منورې په خواؤشاکښې ټول يهوديان ددې پابندوواودغه شان انصار اومهاجرين هم ټول ددې پابندوو، ددغې لوظنامه پوره متن په .البدايه والنهايه، دابن کثير کښې اوپه سيرت ابن هشام کښې په تفصيل سره موجوددې، ددې دټولونه ډيره زياته ضروري خبره داوه چه کله ددې خلقوترمنځه څه اختلاف راپيداشي نودرسول الله ﷺ فيصله به ټولوډپاره واجب اوضروري وى، ددغې لوظنامې دويمه برخه داوه چه دمدينې منورې يهوديان به دمسلمانانوخلاف هيڅ يودښمن ته په ښکاره ياپه پټه هيڅ قسم امدادنه ورکوى،[1] ليکن دې خلقو، دبدردغزاپه موقعه دغه لوظنامه داسې ماته کړه چه دمکې مشرکانو ته ئې وسله اوسامان جنګ وراورسولو، کله چه په دغه غزاکښې مسلمانانوبرې بيامونـدونو يهود اوشرميدل، دمسلمانانورعب پرنورهم زيات شو، درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، وې وئيل چه داځل زمونږه غلطي معاف کړئ بيابه داسې نه کوو،

رسول الله ﷺ ورسره لوظنامه دنوى سره بيااوکړه ځکه چه هغوئ ﷺ په خصوصيت سره بې حده برداشت اومهرباني لرله خوديهودوپه خمبيرکښې شيطانت اغړلي شوې دې چه داحدپه غزاکښې ئې دمسلمانانودماتې خوړلوغږ [رغ] ترغوږه شونوډيرزيات ډاډه شواوددوئ سردار کعب بن اشرف پخپله مکې مکرمې ته سفراوکړواومشرکان ئې دې ته تيارکړل چه په ډاډه زړه په مسلمانانوباندې حمله اوکړئ اودمدينې منورې يهوديان به ورسره وى،

داسلام په خلاف دادويم ځلې لوظ ماتول وو، چنانچه په دې آيت کښې ددوئ بيابيالوظ

[1]) سيرت ابن هشام: ج ۲، ص ۳۱، باب الرسول الله صلى الله عليه وسلم يوادع اليهود الخ، والبداية والنهاية: ج ۳، ص ۲۲۳، ۲۲۴

Scanned with Ca

ماتول بیان شو چه سخت شریران خلق دی، فرمائی: داهغه خلق دی چه هر وار تاسو ﷺ سره لوظنامه په مخه ماتوی،

په آخر دآیت کښې فرمائی: ﴿وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ﴾ یعنی داخلق نه ویریږی] ددې مطلب داهم کیدې شی چه هرکله دابدقسمته خلق ددنیاپه مینه مست داسې بې خوده دی چه دآخرت فکرورسره نشته ځکه دآخرت دعذاب نه نه ویریږی اودامطلب ئې هم کیدې شی دابدکرداره اولوظ ماتونکی خلق په دنیاکښې دخپل خراب انجام نه هم ځکه نه ویریږی چه ناپوه اوناخبره دی، ټولوخلقواولیدل چه دې خلقودخپلې بدکردارئ سزابیاموندې دابی جهل پشان، کعب بن اشرف هم اووژلې شواودمدینې منورې یهودیې وطنه کړې شو،

ددې بدلوظوخلقوپه باره کښې الله تعالی رسول الله ﷺ ته یوهدایت نامه داسې ورکړه، ﴿فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ﴾ دلته د ﴿شَرِّدْ﴾ معنی داده چه [تاسو ﷺ پرقابو بیا مومئ] د، تشرید ،نه جوړ دې چه اصلی معنی ئې زغلول اوخواره واره کول دی، دآیت معنی دا شوه چه که تاسو ﷺ په یوجنګ کښې په دې خلقوقابوبیامومئ نوورته داسې دردناکه سزا ورکړئ چه نورو دپاره عبرت وی، ددوئ په ډاډ کوم خلق چه ددوئ په شاپه اسلام دښمنئ کښې لګیادی چه هغوئ پوه شی چه اوس خیرپه دې کښې دې چه ددې ځائ نه په تښتید وخپل ځانونه اوساتی، مراد تردادی چه دوئ ته داسې سزاورکړئ چه دهغې په لیدوباندې دمکې مشرکان اونورې دښمنې قبیلې هم اثرواخلی اوبیا د مسلمانانو په مقابله کښې دراوړاندې کیدوزړه اونشی کړې. په آخر دآیت کښې ﴿لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ﴾ فرمائیلوسره درب العالمین عام رحمت ته اشاره اوکړې شوه چه ددې دردناکی سزا اصلی مقصدهم څه بدله اغستل یاخپله غصه سړول نه دی بلکه په دې کښې ددې ښیګړې خیال ساتلې شوې دې چه نورخلق ددې په لیدوتر عبرت واخلی په خپلو کړوپښیمانه شی اوخپله اصلاح اوکړی،

دصلح دلوظنامې ختمولوصورت: په پنځم آیت کښې رسول الله ﷺ ته دجنګ اوصلح دقانون یوه اهمه دفعه ښودلې شویده چه پکښې دلوظنامې دپابندئ کولوخاص ضرورت ښولې شویدې اوداهم ښولې شویدی چه که څه وخت دلوظنامې دبل فریق له اړخه دخیانت [لوظ ماتولو] خطره پیداشی نوزمونږ د خوا هم دلوظنامې دپابندئ کولوضرورت نشته خوداهم جائز نه دی چه په ډاګه باندې دلوظنامې ماتولونه اول مونږه ددې په خلاف څه قدم اوچت کړو، بلکه صحیح صورت دادې چه دوئ لره داطمینان اوفرصت په حالت کښې دی نه خبرکړې شی چه ستاسو بدنیتی یاخلاف ورزی مونږته ښکاره شویده، یادا چه ستاسو معاملې شکی غوند ښکاری، ځکه په آئنده کښې مونږه ددې معاهدې پابندنه پاتې کیږو، تاسوته هم پوره اختیار دې زمونږپه خلاف هم قسم کاروائی کولې شئ، دآیت الفاظ دادی،

﴿وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ﴾ یعنی که دیولوظ کوونکی قوم له اړخه دخیانت اولوظ ماتولو اندیښنه پیدا شی نودغه کړې لوظ ورته په دې شان واپس کړئ چه تاسو اوهغوئ برابرشئ، ولې چه الله تعالی خیانت کوونکی نه خوښوی،

مطلب دادې چه کوم قوم سره دصلح لوظنامه شوی وی، دهغوئ په خلاف څه جنګی قدم پورته کول په خیانت کښې داخل دی، اوالله تعالی خیانت کوونکی نه خوښه وی اګرچه داسې خیانت دخپلو دښمنانو [کافرانو] په باره کښې اوشی، یعنی داسې کول ناروادی البته که دهغوئ

له اړخه دلوظ ماتولو څه خطره پیداشي نوداسې داوکړې شي چه په ښکاره اعلان کولوسره دې خبرکړې شي چه مونږ[مسلمانان] به په آئنده کښې ددغې لوظنامې پابندی نه کوؤ، خوداعلان په دې شان کول پکاردی چه دواړه فریقه پکښې برابروی، مطلب داچه مسلمانان دداسې نه کوی چه پخپله هغوئ سره دجنګ تیارې اوکړی اودهغوئ ذهنونه هم جنګ کولوته تیارنه وی بلکه داعلان کولونه پس چه تاسوپه څه شان دجنګ تیاری کوئ هغوئ هم دغسې دجنګ تیاری کولې شی،

داسلام عدل اوانصاف ته اوګورئ چه دخیانت کوونکودښمنانوهم دحقوقوحفاظت کولې شی اودهغوئ په مقابلې کولوکښې مسلمانان ددې پابند کولې شی چه دلوظنامې ماتولوډ داګیزاعلان نه وړاندې دهغوئ سره دجنګ کولوتیارې هم نه کوی [مظهری وغیره][1]

دوعدې پوره کولوبوه عجیبه واقعه: ابوداؤد، ترمذی، نسائی امام احمدبن حنبل ﷫ دسلیم بن عامرپه روایت نقل کړی دی چه حضرت معاویه ﷛ یوقوم سره ترڅه خاص وخته پورې دجنګ بندئ لوظنامه کړې وه، حضرت معاویه ﷛ اراده اوکړه چه ددغې لوظنامې دختمیدو نه وړاندې دغه دښمن قوم ته خپل فوځ اوسامان جنګ ورنزدې کړوچه دلوظنامې دمیعادپه ختمیدوسره سمدستی په هغوئ حمله اوکړو، مګرخاص په دغه وخت کښې چې کله د معاویه ﷛ لښکر هغه طرفته روانیدلو دا اولیدل شوه چې یومشرسړې په اس سورووادانعره ئې وهله، اَللّٰهُ أَكْبَرُ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ، وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ، یعنی دنعره تکبیرسره سره ئې داهم فرمائیل چه مونږله لوظنامه پوره کول پکاردی، دهغې خلاف ورزی نه دی کول پکار، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کوم قوم سره دصلح یادجنګ نه کولولوظنامه اوشی نودهغوئ په خلاف نه څه غوټه پرانستل اونه څه غوټه تړل پکاردی، حضرت معاویه ﷛ چه په دې خبرکړې شونووې لیدل چه دغه ویونکې بزرګ عمروبن عنبسه ﷛ صحابی وو، حضرت معاویه ﷛ سمدستی دخپل فوځ دواپسئ حکم اوکړوچه په دغه لوظنامه کښې څه خیانت رانشی،[2]

وَلَا يَحْسَبَنَّ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	سَبَقُوا ط
او ګمان دې نه کوی	هغه کسان	چې کافران دی	چې ګټي هغوئ مخکښې شو
او کافران دې دا خیال نه کوی چه ګنی دوی زمونږ د نیولو نه خلاص شوی دی			

إِنَّهُمْ	لَا يُعْجِزُونَ ۝	وَأَعِدُّوا	لَهُمْ	مَا	اسْتَطَعْتُمْ
بیشکه هغوئ	نشي عاجزه کولې مونږ	او تیاری کوئ	دپاره دهغوئ	څومره چې	وس رسي ستاسو
بیشکه دوئ [الله تعالی] نشي مغلوبه کولې او ستاسو نه چه څومره کیدې شي نو د دوی [کافرانو] دپاره					

مِّن قُوَّةٍ	وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ	تُرْهِبُونَ	بِهِ	عَدُوَّ اللَّهِ	وَعَدُوَّكُمْ
دطاقت نه	او د تړلو داسونو نه	چې یروئ تاسو	په ذریعه دهغې	دشمن دالله	او دشمن ستاسو
د[هرقسم] قوت نه او د اسونو تیارولو نه چه تاسو په هغې سره د الله تعالی او خپل دشمن					

[1]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۱۰۵

[2]) تفسير ابن كثير تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۷۹، وسنن ابي داود، كتاب الجهاد، باب في الامام يكون بينه وبين العدو عهد الخ: ج ۱، ص ۳۷۹ وجامع الترمذي، أبواب السير، باب ما جاء في الغدر: ج ۱، ص ۲۸۷، ومسند أحمد حديث عمرو بن عبسه رضي الله تعالى عنه رقم الحديث: ۱۶۴۶۸

وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا
اونور کسان بې ددوئ نه ا چې تاسو نه پیژنئ هغوئ ا الله پیژنئ هغوئ ا او هغه چې اخرج کوئ تاسو
او د هغوی نه علاوه نور کسان یروئ ا کوم چه تاسو نه پیژنئ خو الله تعالی هغوی پیژني ا او تاسو چه کوم
مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ۞
یو څیز ا په لار د الله کښې ا پوره بدله به درکړې شي ا تاسو ته ا او تاسو سره به ا زیاتي اونه کړې شي
څیز هم د الله په لار کښې خرچ کوئ انو تاسو ته به پوره بدله درکولې شي او هیڅ زیاتي به درسره نشي کولې
وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۗ
او که چرې ا مائله شي هغوئ ا صلحې ته ا نو مائله شه ا هغې صلحې ته ا او بروسه اوکړه ا په الله ا
او که دوی روغې ته غاړه کیخوده نو تاسو روغه اوکړئ او [په نیتجه دروغه کښې] په الله بهروسه اوکړئ
اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۞ وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا
بیشکه ا چې هم هغه ا هرڅه اوریدونکې دې ا او په هرڅه پوهه دې ا او که چرې ا اراده اوکړې هغوئ
بیشکه الله تعالی د هرڅه اوریدونکې او په هرڅه عالم دې ا او که [په روغه کولو کښې] دوی تاسره د
اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ۗ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ
چې دهوکه درکړې تاته ا نو بیشکه کافي دې تالره الله ا الله ا هغه ذات دې ا چې مضبوط ئې کړې ته
دهوکې اراده لرې نو [د دوی د دهوکې نه مه یریږه] الله تعالی ستا د پاره کافی دې ا الله هغه ذات دې چه
بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ۞
په مدد خپل سره ا او په مومنانو سره ا
په خپل مدد او په مسلمانانو سره ئې ته مضبوط کړې ا

آسان ترجمه قرآن

او کافران دې چرې هم دا خیال په زړه کښې نه راولي چه دوی وتښتیدل دا یقیني خبره ده چه دوی (الله لره) نه شي عاجزه کولې. او (مسلمانانوا) څومره طاقت او د اسونو څومره چهاؤنړئ چه تاسو جوړولې شئ نو د دوی مقابلې ته تیار کړئ چه د هغې په ذریعه تاسو د الله په دښمن او په خپل (موجوده) دښمن رعب راچوئ او د دوی نه علاوه نور چه تاسو هغوی لره نهٔ پیژنئ ، (مګر) الله هغوی لره پیژني او د الله په لار کښې چه تاسو کوم خرچ کوئ هغه به تاسو ته پوره پوره درکړې شي ، او تاسو د پاره به څه کمې ونکړې شي او که هغوی صلح طرف ته مائل شي نو تاسو هم د هغې طرف ته مائیله شئ او الله باندې اعتماد کوئ او یقین وکړئ چه الله هرڅه آوري او هر څه باندې پوهیږي. او که دوی تا ته د دهوکې درکولو اراده وکړی نو تالره الله کافي دې الله هغه ذات دې چه په خپل مدد سره او د مؤمنانو په ذریعه ئې ستا لاسونه مضبوط کړل.

خلاصه تفسیر

﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَبَقُوْا ۗ﴾ او کافران دې په خپل ځان دا خیال نه کوی چې دوئ بچ شو ﴿اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ ۞﴾ یقینا دا خلق [الله ﷻ] نه شی عاجزه کولې [چې د هغه په لاس به نهٔ شی دوئ رانشی

Scanned with Ca

بلکه یاخو به ئې په دنیوی عذاب کښې ګرفتار کړي ګنې په آخرت کښې خو دا خبره یقیني ده] ﴿وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ﴾ او دې کافرانو [سره دمقابلې کولو] دپاره څومره چې مو وس رسی په وسلې سره او په پاللو د آسونو سره سامان برابر ساتئ چې ددغې [سامان] په ذریعه تاسو [خپل] رعب اچولې لرئ ﴿عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾ په هغو چې [دکفر په وجه] د الله ﷻ دښمنان دي او [ستاسو په فکر کښې دپاتې کیدو په وجه] ستاسو دښمنان وی [چې شپه ورځ مو ورسره پیښبه راځی] ﴿وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ﴾ او ددوئ نه علاوه په نورو [کافرانو] باندې هم [رعب اچولې لرئ] ﴿لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ﴾ چې تاسو ئې [په یقین سره] نه پیژنی [بلکه] ﴿اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ﴾ الله ﷻ دوئ لره ښه پیژني [لکه د روم ، فارس وغیره کافران چې شو ، چې تر اوسه مو ورسره څه جنګ اوپیښه نه ده راغلې مګر د صحابه کرامو ﷺ سازوسامان او د شهسوارئ فن د هغوئ په مقابله کښې پخپل وخت پکار راغلو او په هغوئ هم رعب کیناستو ځینې مقابلې ته راؤوتل او شکست سره مخ شو ، ځینو جزیه ورکول قبول کړل چې دا هم درعب اثر دې] ﴿وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ او د الله ﷻ په لار کښې [چې په کښې جهاد هم راغلو] څه چې هم لګوی [یعنی دجنګ په سازوسامان درست کولو باندې ئې لګوی] ﴿يُوَفَّ اِلَيْكُمْ﴾ هغه به [یعنی د هغې ثواب به] تاسو ته [په آخرت کښې] پوره پوره درکولې شی ﴿وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ﴾ او تاسو دپاره به [په دې کښې کمې نه وی ﴿وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ﴾ اوکه دغه [کافران] صلح دپاره مائل شو ﴿فَاجْنَحْ لَهَا﴾ نو تاسو [ته] هم [اجازت دې چې که په دې کښې درته خیر وی نو] صلح ورسره اوکړئ او [که سره د ښیګړې نه په کښې ددوئ د دهوکې احتمال وی نو] ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ﴾ په الله ﷻ توکل کوئ [داسې احتمالونو نه اندیښنه مه کوئ] ﴿اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ﴾ بیشکه الله ﷻ ښه آوریدونکې ښه پوهیدونکې دې [ددوئ خبرې او حالات آوری ، پیژنی ددې به پخپله انتظام اوکړی] ﴿وَاِنْ يُّرِيْدُوْا اَنْ يَّخْدَعُوْكَ﴾ او که [په واقع کښې دغه احتمال صحیح وی او] دغه خلق [صلح کولو سره په رښتیا] تاسو ﷺ ته دهوکه درکول غواړی ﴿فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ﴾ نو الله ﷻ ستاسو [د مدد او حفاظت] دپاره کافي دې [څنګه چې مخکښې هم ستاسو دپاره کافي پاتې شوېدې نو] ﴿هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ﴾ هغه داسې ذات دې چا چې ، تاسو ﷺ پخپل [غیبی] مدد [یعنی په ملائکو] سره او [په ظاهری مدد یعنی په مسلمانانو سره قوت درکړو.

معارف اومسائل

ددې آیتونو ځنې په رومبی آیت کښې دهغه کفارو بیان دې چه دبدر په غزا کښې شریک شوی نه وو ځکه بچ شویادشریکیدو نه پس تښتیدلی وو او ځان ئې بچ کړې وو ، دداسې خلقو په باره کښې په دې آیت کښې فرمائی چه ، داخلق دداسې نه ګنړی چه مونږ به بچ پاتې شو ، ولې چه دبدر غزا کفارو دپاره دالله تعالی یو عذاب وو او د هیچاوس نشو کیدې چه دې نه ځان خلاص کړی ځکه فرمائی: ﴿اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ﴾ داخلق په خپلې چالاکئ سره الله تعالی نشی عاجز کولې هغه ئې چه کله راایسارول اوغواړی دوئ به یو قدم هم تراونه خوځیدې شی ، کیدې شی چه په دنیا کښې راګیر کړې شی ورنه په آخرت کښې خوددوئ رانیول ښکاره دی ،

دې آیت ، دې ته اشاره اوکړه چه یو مجرم ګناهګار که څه دتکلیف یامصیبت نه خلاص شی

Scanned with Ca

اوبیاهم توبه اونه باسی بلکه په خپل جرم باندې ټینګ وی نو دادې خبرې نخښه مه ګنړئ چه ګنی هغه کامیاب شو او همشه دپاره خلاص شو ځکه دې هروخت د الله تعالی په ګرفت کښې دې اَو داډیل ئې عذاب او مصیبت ته نوره ترقی هم ورکوی اګرچه دا ته نه محسوسیږی.

جهاد دپاره وسله او سامانِ جنګ تیارول فرض دی: په دویم آیت کښې د اسلام ددفاع [حفاظت او دکفارو دمقابلې دپاره دتیارئ احکام دی، فرمائی: ﴿وَأَعِدُّوا۟ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم﴾ یعنی چه څومره ستاسو نه کیدې شی کفارو دپاره سامان جنګ تیاروئ دلته په، ﴿مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم﴾ سره قید لګولو کښې دې ته اشاره اوشوه چه ستاسو دکامیابیدو دپاره داضروری نه دی چه دخپل مقابل فریق [کفارو] هومره سامان جنګ تاسو هم تیار کړئ بلکه دومره کافی ده چې دخپل وس په جوړ مو سامان تیار کړونو د الله تعالی امداد به تاسو سره وی.

وروسې ددغې سامان څه تفصیل ئې داسې بیان کړو ﴿مِّن قُوَّةٍ﴾ یعنی دمقابلې قوت جمع کړئ! په دې کښې ټول جنګی سامان، وسله، سورلئ وغیره هم داخل دی دخپل بدن ورزش، د جنګ طریقې اوچلونه ازده کول هم پکښې داخل دی، دلته قرآن کریم دهغه زمانې درواجی وسلو بیان اونکړو بلکه دَ ﴿قُوَّةٍ﴾ په عام لفظ اختیارولو سره ئې دې ته اشاره اوکړه چه دهرې زمانې هرمقام هرملک په اعتبار سره ﴿قُوَّةٍ﴾ مختلف کیدې شی مثلاً دهغه زمانې غشی لیندې، تورې نیزې او ډال کیدې شو، وروسې زمانه کښې دټوپکو او توپونو زمانه راغله، اوس دبمونو، راکټونو، میزائیلو زمانه ده. په دې بنا نن زمانې مسلمانانو لره دخپل وس په جوړ دایټمی قوت، ټینکونو، جنګی جهازونو او تارپیډو ګانو [آبدوزونو] جمع کول او تیارول پکاردی، ددې څیزونو علم اوفن ازده کول کښې که نیت داوی چه د اسلام او مسلمانانو بچاؤ او حفاظت اوکړې شی او دکفارو مقابله پر اوکړې شی، نو دا هم دجهاد په حکم کښې دی.

دعام لفظ د، ﴿قُوَّةٍ﴾ ذکر کولو نه پس دیو خاص ، قوت، بیان ئې په ډاګه داسې اوفرمائیلو ﴿وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ﴾ لفظ د، رباط ، مصدری معنی هم ورکوی اود ، مربوط، په معنی هم راځی، په رومبی صورت کښې ئې معنی ، اسونه تړل، کیږی او په دویم صورت کښې ، تړلی شوی اسونه، ئې معنی کولې شی، حاصل ددواړو دا یو راځیږی یعنی دجهاد په نیت سره اسونه پالل، هغه تړل یا ساتلی اسونه جمع کول یو مطلب لری.

دلته په سامانِ جنګ کښې په خصوصیت سره د اسولو ذکر کول ئې ځکه اوکړل چه په هغه زمانه کښې د یو مُلک او قوم په فتح کولو کښې د ټولو نه زیات مؤثر آسونه وو ، او نن صبا هم ډیر ځایونه داسې شته چې د آسونو نه بغیر نشی فتح کیدې، همدغه وجه ده چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله تعالی د اسونو په تندو کښې برکت ایښې دې،(۱) په صحیح احادیثو کښې سامانِ جنګ یو ځائ کولو، تیارولو او دهغې د استعمال مشق کولو لره، رسول الله ﷺ دلوئې ثواب مُوجب ګرځولې دې، دغه شان په غشی جوړولو اوچلولو باندې ئې دلویو لویو اجرونو او ثوابونو وعده بیان کړیده،(۲)

---

۱) صحيح البخاري، كتاب الجهاد، باب الخيل معقود في نواصيها الخير ---الخ: ج۱، ص ۳۹۹

۲) جامع الترمذي، أبواب فضائل الجهاد، باب ما جاء في فضل الرمي في سبيل الله: ج۱، ص ۲۹۳، وسنن ابن ماجة، أبواب الجهاد، باب الرمي في سبيل الله: ج۱، ص ۲۰۲، ومسند أحمد رقم الحديث: ۱۷۸۰۰

Scanned with Ca

هر کله چه د جهاد اصل مقصد د اسلام او مسلمانانو دفاع او بچاؤ کول دی چه د ادې هرې زمانې او هر قوم مطابق په بیله بیله طریقه کیدې شی، ځکه خو رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: ﴿جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ﴾ ابو داؤد، نسائی، او دارمی، د حضرت انس رضي الله عنه په روایت،[۱]

دې حدیث نه معلوم شو چه څنګه دفاع او جهاد په وسلو سره کیدې شی کله کله داپه ژبه هم کیدې شی چه قلم هم د ژبې په حکم کښې دې، په دې بناء د اسلام او قرآن نه د کفر او الحاد د حملو او بدلونونو لارې چارې بندول، په ژبې یا قلم سره هم د دې د اګیز نص له مخې په جهاد کښې داخل دی،

په دې آیت کښې د سامانِ جنګ د تیارئ حکم ئې چه ورکړونو وروسې ئې د دې د جمع کولو ښیګړه او اصل مقصد هم په دې الفاظو کښې بیان کړو ﴿تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾ یعنی د سامانِ جنګ او د دفاع د سامان د جمع کولو اصلی مقصد قتلول او جګړه کول نه دی بلکه کفر او شرک بې وسه کول، رعب پرقائمول او راګذارول ئې دی، داخو کله یواځې په ژبې او قلم سره هم کیدې شی او کله ورد پاره جنګونه کول ضروری وی، یعنی د صورت حال مناسب دفاع کول فرض دی،

وروسې فرمائی: چه د جنګ او جهاد د تیارئ کولو نه مقصود په هغه خلقو باندې هم رعب کینبودل دی ځوک چه د مسلمانانو مقابلې ته راوتلی دی او مسلمانان ئې پیژنی لکه د مکې کفار او مشرکان او د مدینې منورې یهود شو او ځنې داسې خلق دی چه لا تر اوسه د مسلمانانو مقابلې ته نه دی راوتلی خو په آئنده کښې ترخطره کیدې شی او مسلمانان ئې نه پیژنی لکه د ټولې دنیا کافران او مشرکان شو، د قرآن کریم دې آیت اوښودل چه که مسلمانان د موجوده حریفانو د مقابلې د پاره تیارې او کړی نو د دې رعب به یواځې په دوئ نه پریووځی، بلکه په لرې لرې کفارو، قیصر، وکسری به ئې هم رعب پریووځی، ځنګه چې هم او شو، او د خلفاء راشدینو په زمانه کښې د غه ټول کفار مغلوب شو او رعب کښې راغلل،

هر کله چه جنګی سامان جمع کول او جنګ کول هم د مال په زور کیږی بلکه سامان جنګ هم د مال په زور تیاریږی ځکه د دې آیت په ذریعه د الله تعالی په لار کښې د مال خرچ کولو فضیلت او د دې نوئ اجر داسې بیانیږی، چې په دې لار کښې چه تاسو څه هم لګوئ د هغې پوره پوره بدله به درته درکولې شی، چنانچه کله خو دا بدله د دنیا کښې هم د مال غنیمت په شکل کښې په لاس ورځی، ګنی د آخرت بدله خو چرته تلې نه ده هغه به ضرور ورکولې شی چه د ډیر عزت او قدر جوګه ده،

په دریم آیت کښې د صلح احکام او دې سره تړلې خبرې بیان شویدی فرمائی ﴿وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا﴾، سَلم، او، سلم بکسر السین دواړه د صلح په معنی راځی، په دې بناء د آیت معنی به داشی چه که څه وخت ګفار صلح کولو ته مائل شی نو تاسو ﷺ لره هم صلح ته راماتیدل پکار دی، دلته صیغه د امر تخییر د پاره استعمال کړې ده مطلب داچه کله کفار صلح ته رامات شی نو تاسو ته هم اختیار دې چه صلح او کړئ که د مسلمانانو خیر پکښې درته ښکاریدو، د ﴿وَإِنْ جَنَحُوا﴾ د قید نه معلومیږی چه صلح هله کولې شی چه کفار هم د صلح کولو خواهش ښکاره کړی، ولې که مسلمان اول د سره صلح کول غواړی نو دا به کمزوری ګڼلې شی، البته که داسې څه مجبوری را پیښه شی مثلا مسلمانان د کفارو په پنجه کښې داسې راګیر شی چه د خپلې سلامتئ د پاره بغیر د صلح نه ورته بل څه صورت په نظر نه راځی نو په صلح کښې وړاندې کیدل

---

۱) سنن ابي داود، كتاب الجهاد، باب في كراهية ترك الغزو: ج ۱، ص ۳۳۹، وسنن النسائي، كتاب الجهاد، باب وجوب الجهاد: ج ۲، ص ۵۲، وسنن الدارمي رقم الحديث: ۲۳۸۲

Scanned with Ca

هم ورد پاره جائزدی څنګه چه فقهاؤ وئیلی دی او دنصونو د اشارونه هم ثابت دی،
هرکله چه د دښمن دا رخ نه دصلح په پیشکش کولو کښې دا احتمال کیدې شو چه مسلمانانو ته به دوکه ورکړی، مخه به ئې دجنګ نه واړی او بیا به پرېپه یوځل حمله اوکړی، په دې وجه په آخر د آیت کښې رسول الله ﷺ ته دا هدایت ورکړې شو چه ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ [یعنی تاسو ﷺ په الله تعالی تکیه لرئ چه هغه ښه آوریدونکې پوهیدونکې دې] هغه د دوئ خبرې هم آوری او د دوئ د زړونو په پټو ارادو هم پوهیږی، هغه ستا د امداد د پاره کافی دې تاسو ﷺ په داسې بې دلیله احتمالونو باندې دخپلو کارونو بنیاد مه اړدئ بلکه دا خطرې الله تعالی ته حواله کړئ،

وړپسې په څلورم آیت کښې دا مضمون ئې په زیات وضاحت سره بیان کړو، د ﴿وَإِنْ يُرِيدُوا أَنْ يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ۚ هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ﴾.
یعنی که دا احتمال واقعی پیدا شی چه صلح کولو کښې د دوئ نیت خراب وی او تاسو ته دوکه درکول غواړی، بیا هم څه پرواه مه کوئ چه الله تعالی تاسو لره کافی دې، ړومبې هم دا الله تعالی په امداد او تائید سره ستاسو ﷺ کار روان شویدې، الله تعالی په خپل خاص مدد سره ستاسو تائید کړیدې کوم چه ستاسو د فتح او کامیابئ اصل بنیاد او حقیقت دې او په ښکاره ډول ئې د مسلمانانو ډله ستاسو د امداد د پاره او دروله چه دا هم یو ظاهری سبب دې، نو کوم حقیقی مالک او قادر مطلق چه د فتح او کامیابئ ټول اسباب موجود کړل هغه به نن هم د دښمنانو د دوکې او ټګئ په معامله کښې ستاسو مدد کوی، چنانچه د دې خداوندې وعدې له مخې د دې آیت د نازلیدو نه پس ټول عمر رسول الله ﷺ ته داسې څه صورت نه دې را پیښ شوې چه د دښمنانو د دوکې او ټګئ نه ورته څه تاوان رسیدلې وی، څکه د تفسیر علماؤ فرمائیلی دی چه دا وعده رسول الله ﷺ د پاره داسې ده څنګه چه د:
﴿وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ۗ﴾ وعده ده، چه د دې آیت په نازلیدو سره رسول الله ﷺ خپل محافظ صحابه کرام ﷺ مطمئن او د خپل حفاظت نه سبکدوش [فارغ] کړی وو، دې نه معلومیږی چه دا وعده رسول الله ﷺ پورې خاص وه. [بیان القرآن] (۱) نورخلق د ظاهری تدبیرونو او چاپیرچل د حالاتو په جوړ کار کوی.

وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ۚ لَوْ
او مینه ئې واچوله په منځ د زړونو د هغوئ کښې که چری
او د دوی په زړونو کښې ئې محبت اچولې دې که
أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ
په زمکه چه څومره څه دی دا ټول تا خرچ کړې وې نو اد دې باوجود به هم] تا د دوی د زړونو په مینځ
خرچ کړې وې تا هغه څه اچی په زمکه کښی دی ټول نو مینه به نه وه پیدا کړې راوستې تا په منځ
قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ اللّٰهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّهُ
په زړونو د هغوئ کښی لیکن الله محبت پیدا کړو په منځ د هغوئ کښی بې شکه چی هغه
مینه نه وه اچولې د زړونو د هغوئ بلکه الله تعالی د دوی د زړونو په مینځ کښې محبت واچولو بیشکه الله

(۱) بیان القرآن تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۹۹

Scanned with Ca

عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ

غالب دي | خاوند د حکمت دي | اے نبی | کافی دي تالره الله | او هغه چالره | اچی پیروی کوی ستا

[په اراده] غالب دي او صاحب د حکمت دي | اي پیغمبر! ستا دپاره الله تعالی کافی دي او هغه څوک چه په مؤمنانو

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٤﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ ط اِنْ يَّكُنْ

د مومنانو نه | اے نبی | تیز کره مومنان | په جنګ باندې | که چرې وی

کښې ئې ستا تابعداری کړې ده | اي پیغمبر! مؤمنان د جهاد په تیارئ باندې تیز کړه | او که په

مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ج وَاِنْ

ستاسو نه | شل کسان | صابران | انو غالب به راشی هغوئ | په دوه سوو کسانو باندې | او که چرې

شل صابران کسان وی هغوی به په دوه سوو [کافرو] کسانو باندې غلبه کوی | او که په تاسو کښې

يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

وی | ستاسو نه | سل کسان | انو غالب به راشی | په زرو کسانو باندې | د هغه کسانو نه | چی کافران دی

سل کسان [مومنان] وی نو هغوی به د کافرانو په زرو کسانو باندې غلبه بیامومی

بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ

خکه چی هغوئ | داسې قوم دی | چی نه پوهیږی | اوس | اسپک کړییتي الله | ستاسو نه

دا حکم په دې وجه دې چه دا ناپوهه خلق دی | اوس الله تعالی په تاسو باندې سپکوالې [آسانوالې] او کړو

وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ط فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ

او معلومه ده هغه ته | اچی بیشکه | په تاسو کښې | کمزوری ده | پس | که وی | ستاسو نه |

او په علم ظاهری سره الله تعالی ته معلومه شوه چه په تاسو کښې کمزوری ده او که په تاسو کښې

مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ج وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ

سل کسان | صابران | انو غالب به راشی | په دوه سوو کسانو باندې | او که وی | ستاسو نه | زر کسان

سل صابران کسان وی هغوی به په دوه سوو باندې غلبه کوی | او که په تاسو کښې زر کسان [صابران]

يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ط وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٦٦﴾

نو غالب به راشی | په دوه زرو باندې | په حکم د الله سره | او الله | د صابرانو ملګرې دې |

وی نو هغوی به د الله تعالی په حکم سره په دوه زرو کسانو باندې غلبه کوی | او الله د صبر کونکو سره دې

آسان ترجمه قرآن

او د دوی په زړونو کښې ئې یو بل ته مینه واچوله که تا د زمکې ټول دولت جمع کړې وې نو تا به د دوی په زړونو کښې مینه نه وې اچولې. لیکن الله تعالی د دوی زړونه یو کړل، هغه یقیناً د قدرت والا هم دې او حکمت والا هم. اې پیغمبره! ستا د پاره الله او هغه مؤمنان کافي دي چه هغوی ستا تابعدار دی. اې نبی! مؤمنانو لره په جنګ باندې تیز کړه که تاسو نه شل کسان وي چه هغه ثابت قدم وي نو هغه به په دوه سوو غالب کیږی، او که تاسو نه سل کسان وي نو هغوی به د کافرانو په زرو کسانو غالب کیږی، ځکه چه

Scanned with Ca

هغوی داسې خلق دي چه نه پوهیږي اوس الله ستاسو بوج سپك كړو ، او د هغه په علم كښې دي چه تاسو كښې لږه كمزوري ده، دې وجې نه (اوس حكم دادې چه) كه تاسو نه ثابت قدم سل كسان وي نو هغوی به په دوه سوؤ كسانو غالب كيږي ، او كه تاسو نه زر كسان وي نو هغوی به د الله په حكم سره په دوه زرو باندې غالب كيږي ، او الله هغه خلقو سره دې چه هغوی ثابت قدم وي.

خلاصه تفسير

او [مسلمانانولره د مدد ذریعه جوړولو دپاره ئي] ﴿وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ﴾ ددې په زړونو كښې ئې اتفاق پيدا كړو [چنانچه ښكاره خبره ده چې كه خپل مينځ كښې ئې اتفاق نه وی نو هيڅ كار خصوصاً ددين مدد په يو ځائې كيدو نشو كولې او په دوئ كښې د سردارئ او مشرئ او د غلبې د بغض او دشمنئ په وجه اتفاق داسې ګران وو چې] ﴿لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا﴾ او كه تاسو [سره ددې چې عقل اوتدبير هم كامل لرئ او سامان هم ددې دپاره تاسو سره كافي دې ، تر دې چې] د ټولې دنيا مال دې [ددې كار دپاره] لګولې ﴿مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ﴾ بيا بۀ هم د دوئ په زړونو كښې اتفاق راپيدا كولې نه شو ﴿وَلَٰكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ﴾ليكن [دا] هم د الله ﷻ [كار وو چې هغه] په دوئ كښې د يو بل سره اتفاق پيدا كړو ﴿إِنَّهُ عَزِيزٌ﴾ بيشكه هغه زبردست دې [چې څه غواړی پخپل قدرت سره ئې كوی او] ﴿حَكِيمٌ﴾د حكمت خاوند دې [چې كومه طريقه ئې مناسب ګڼړی دغه كاركوی او كله چې د الله ﷻ خپل غيبي مدد او مؤمنانو سره دهغه مدد كول معلوم شو نو] ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ﴾ ائې نبی ﷺ [دې نه ثابت شو چې] تاسو ﷺ دپاره [په حقيقت كښې] الله ﷻ كافي دې ﴿وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ او كومو مؤمنانو چې ستاسو ﷺ تابعداری كړې ده [په ښكاره] هغه كافي دی ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ﴾ ائې پيغمبره ﷺ ! تاسو مؤمنان جهاد ته راپاروئ [او دهغې باره كښې ورته دا قانون واؤروئ چې] ﴿إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ﴾ كه تاسو شل كسان كلك پاتې كيدونكی وی نو [دخپل ځانه په لس چنده شمير يعنی] ﴿يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ﴾ دوؤ سوؤ باندې به غالب راځی او [داشان] ﴿وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ كه په تاسو كښې سل كسان وی نو په زرو كافرانو باندې به غالب راځی ځكه چې ﴿بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ﴾ هغوئ داسې خلق دی چې [په دين باندې] هيڅ نه پوهيږی . [او ددې وجې نه په كفر باندې ټينګ دی او هم په دې وجه ورته غيبي مدد نه رسی ځكه هغوئ لاندې راځی نو په تاسو باندې واجب دی چې دخپل شمير نه په لس چنده مقابله كښې هم ، مه پښا كيږئی . اول دا حكم نازل شوې وو چې كله په صحابه كرامو رضی الله عنهم دا حكم سخت شو نو عرض ئې اوكړو، څه موده پس دا دويم آيت مبارك نازل شو چې ورسره ړومبې حكم منسوخ شو يعنی] ﴿الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا﴾ الله ﷻ په تاسو آسانی اوكړه او معلوم ئې كړل چې په تاسو كښې دبهادرئی كمې دې نو [داحكم دركولې شی چې] ﴿فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ﴾ كه په تاسو كښې سل كلك پاتې كيدونكې وی نو [دخپل شمير نه به په دوه چنده شمير غالب شی يعنی] ﴿يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ﴾ په دوؤ سوؤ به غالب راځی او [زمونږ د صابر د قيد لګولو نه مطلب دادې چې] ﴿وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ الله ﷻ صبر

Scanned with Ca

کوڼکو سره دي [يعنى هغو سره مددکوى چې په زړه او پښو سره کلك او مضبوط پاتې کيدونکى وى].

معارف او مسائل

دسورت انفال ددې بيان شوؤآيتونوځنې په رومبى آيت کښې دمسلمانانودفتح او کاميابۍ اصلى سبب اوددې دحاصليدوطريقه بيان کړې شويده، دې نه په وړاندې آيت کښې رسول الله ﷺ ته داخطاب کړې شويدې چه يواځې دالله تعالى ذات دې چاچه په خپل خاص مددسره اودمسلمانانوپه ډلې سره ستاسومضبوطوالې اوامداداوکړو، په دې آيت کښې داښودلى شوى دى چه دمسلمانانودډلې په ذريعه دچاامداديواځې په هغه صورت کښې کيدې شى چه داډله په خپل منځ کښې خواتفاق اويوالې لرى چه هم په دې سره قوت او وزن جوړيږى، خپل منځ کښې ديووالى اويوشان والى تار چه مضبوط وى نوپوره ډله مضبوطه وى اوکه دامزې کمزورې وى نوټوله ډله کمزورې وى، په دې آيت کښې الله تعالى دخپل هغه خاص انعام بيان کړيدې کوم چه درسول الله ﷺ دمحکموالى اوامداددپاره په عامومسلمانانواوشو، هغه داچه ددوئ په زړونوکښې ئې پوره يووالې اومينه پيداکړه، سره ددې چه مدينې منورې ته درسول الله ﷺ دهجرت کولونه وړاندې ددوئ د دوؤقبيلو[اوس اوخزرج] ترمنځه سخت جنګونه شوى وواوهمدغسې په مخه جارى پاتې شوى وو، درسول الله ﷺ د بعثت په برکت سره الله تعالى دوئ لره خپل منځ کښې رونړه رونړه اوسره غوړى ترى جوړکړل، چنانچه په مدينه منوره کښې دقائيميدونکى نوى اسلامى رياست دقائيميدو او د جارى پاتې کيدواودغه شان په دښمنانوباندې دمسلمانانودبرراتلوحقيقى اومعنوى سبب خودالله تعالى امداد وو، او ظاهرى سبب ئې داووچه مسلمانانوخپل منځ کښې مينه محبت لرلواوپه اتفاق اواتحادسره پاتې کيدل.دې سره سره په دې آيت کښې ئې داهم اوښودل چه دمختلفوخلقوزړونه سره غوټه کول، په هغې کښې مينه محبت پيداکول دچاانسان په وس کښې نشى کيدې، دايواځې دهغه ذات کار دې کوم چه ټول پيداکړيدى، که څوک انسان دې دپاره دټولې دنيادولت اولګوى نو هم به د کړکجنوزړونوترمينځه مينه محبت پيدانکړې شى،

دمسلمانانوترمنځه حقيقى اوپائيدار اتفاق دالله تعالى په فرمانبردارئ کولوباندې اړه لرى: دې نه داهم معلومه شوه چه دخلقوپه زړونوکښې مينه محبت يوبل سره اچول دالله تعالى انعام دې، اوداهم ښکاره خبره ده چه دالله تعالى نافرمانئ سره داانعام نشى حاصليدې بلکه ددې د حاصليدو دپاره دالله تعالى فرمانبردارى کول اودهغه رضالټول شرط دى،

ډلواوکسانوترمنځه يووالې اواتفاق داسې يوخيزدې چه دهرمذهب، ملت خاوندان اوهر فکرونظرلرونکى خلق ئې ښه اوسودمن بولى، اواصلاح راوستونکى ټول خلق په دې زور ورکوى چه خلق دخپل منځ کښې په اتفاق وى، ليکن عامه دنياددې نه خبره نه ده چه دزړونو پوره اوپائيدار اتفاق په ظاهرى تدبيرونوسره نشى حاصليدې، يواځې دالله تعالى په فرمانبردارئ اودهغه په رضالټولوسره حاصليږى، چنانچه دقرآن کريم په ډيروآيتونوکښې دې حقيقت ته اشارې شويدى يوځائ کښې فرمائى: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَّلَا تَفَرَّقُوا﴾.([1])

---

[1]) ترجمه: اوټول په شريکه دالله تعالى رسۍ په مضبوطى سره ونيسى او ډلې ډلې مه کيږى.

Scanned with Ca

په دې کښې داختلاف اوډله بازۍ نه دځان ساتلو دا چل ښولې شویدې چه ټول په جمع دالله
تعالی رسۍ یعنی قرآن یا اسلامی شریعت ښه محکم اونیسئ نو ټول به خپل منځ کښې پخپله په
اتفاق شئ اوډله بازۍ به موختمې شي، درائ اختلاف بیل څیزدې، کله چه داپه خپل حد کښې
دننه وی نوډله بازۍ اوجګړوسبب کله هم نه جوړیږی، جګړې اوفسادونه په هغې صورت کښې
پیدا کیږی، چه دشریعت دحدونونه پروتیرشی، نن هرڅوک داتفاق ،اتفاق نعرې وهی
خو هرڅوک ددې مطلب داا خلی چه خلق دزماخبره اومنی، نواتفاق به راشی دپاره په دې فکر
کښې وی چې دوئ زمونږ خبره اومنی نو اتفاق به راشی حالانکه چې کله د رایو اختلاف د
عقلمندو او دیانتدارو په مینځ کښې ضروری دې . نو دا ښکاره خبره ده چې که هر سړې بل سره
په دې خبره متفق شی چې هغه به زما خبره اومنی نو داسې اتفاق تر قیامته پورې نشی کیدې
بلکه داتفاق صحیح اوفطری صورت هم هغه دې کوم چه قرآن کریم په دې شان ښودلې دې چه
دوه فریقه ددریمګړی خبره اومنی، دریمګړې هغه پکاردې چه دهغه په فیصله کښې دغلطۍ څه
امکان اوګنجائش نه وی چه یقیناهغه یواځې دالله تعالی ذات کیدې شی، په دې بناپه دې آیت
کښې داهدایت اوکړې شو چه ټول یوځائ شئ اودالله تعالی کتاب ښه محکم اونیسئ هله به
ستاسو ترمنځه کامل اتفاق پیداشی اوجنګ جګړې به مودمنځه اوځی،

په یوبل آیت کښې فرمائی ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا﴾ یعنی څوک چه
ایمان راوړی اونیک عمل کوی الله تعالی دداسې خلقوترمنځه مینه، محبت اودوستی پیدا
کوی، دې آیت هم داخبره په ډاګه کړه چه په زړونوکښې دحقیقی مینې اودوستۍ پیداکیدو
اصلی طریقه ایمان لرل اودنیک عمل کولوپابندی ده، بغیرددې نه که چرته داتفاق اواتحادڅه
شکل ښکاره شی نوهغه به بې بنیاده اوکمزورې وی، په معمولی حرکت سره به ختم شی څنګه
چه ددنیاپه بې شمیره ځایونوکښې لیدلې شی،

خلاصه داشوه چه په دې آیت کښې په رسول الله ﷺ باندې دالله تعالی دهغه انعام وضاحت
کړې شویدې چه دمدینې منورې دټولو قبیلوپه زړونو کښې دمینې محبت په پیدا کولوسره ئې
هغوئ درسول الله ﷺ دلاس امداددپاره لکه داوسپنې ددیوال پشان محکم کړل،

په دویم آیت کښې هم دغه مضمون دخلاصې په ډول استعمال کړې شواورسول الله ﷺ ته دا
تسلی ورکړې شوه چه دحقیقت په اعتبارسره الله تعالی اوذظاهرپه اعتبارسره دمؤمنانو ډله
ستاسو ﷺ دپاره کافی ده، تاسو ﷺ دیوغټ نه غټ دښمن دشمیرپاسامان نه ویریږئ مه
مفسرینوحضراتو فرمائیلی دی چه داآیت هغه وخت نازل شوچه دبدرپه میدان کښې غزانه وه
شروع شوې په دې سره مسلمانانوته ډاډګیرنه ورکول ووچه هغوئ ددخپل دښمن حریف
دګڼرشمیراوډیرسامان نه په رعب کښې نه راځی،

په دریم اوڅلورم آیت کښې، مسلمانانودپاره دیوجنګی قانون بیان داسې شویدې چه تر
کومه حده پورې دحریف په مقابله کښې پښې ټینګې لرل فرض اوترپه شاکیدل ګناه ده، په تیرو
شوؤ آیتونو او واقعاتو کښې ددې بیان په تفصیل سره راغلې دې چه دالله تعالی غیبی امداد
مسلمانانوسره وی، په دې لحاظ ددوئ معامله ددنیادنوروقومونوپشان نه ده، دوئ که لږهم وی
نوپه ډیروباندې برراتلې شی لکه قرآن کریم په یوځائ کښې فرمائی: ﴿كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً
بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ یعنی ډیرکم شمیره ډلې دالله تعالی په حکم سره په ګڼرشمیره ډلوباندې برراځی[

Scanned with Ca

په دې وجه د اسلام په رومبي جهاد د. بدر په غزا کښې لس مسلمانان د سلو خلقو برابر اوګرځولې شو او دا حکم ورکړې شو،

که په تاسو کښې شل کسان ثابت قدمي او کلک پاتې شي نو په دوؤ سوؤ کسانو دښمنانو باندې به برراځي او که سل وي نو په زرو کافرانو به غالب راځئ، دلته اګرچه دې خبرې لره دېو خبر شکل ورکړې شوې دې خو مقصد ترې حکم ورکول دی چه شل مسلمانان د سلو او سل مسلمانان د زرو کافرانو د مقابلې نه پشا کيږي نه، دا ناروا دی، په خبر راوړلو کښې مصلحت د مسلمانانو زړونه په دې زيرې سره مضبوطول وو چه دالله تعالى وعده د دوئ د حفاظت کولو او دوئ ته د غلبې ورکولو ده، که د قانون په شکل کښې دامر او حکم په صيغې سره داوئيلې شوې وې نو په طبيعت به دروند پريوتلې وو،

هر کله چه د بدر غزا په اولني حالت کښې داسې وه چه د مسلمانانو ټول شمير کم وو، او ټول مسلمانان د غې غزا ته وتلی هم نه وو ځکه چه سمدستي کار وو چه څوک تيار شو هغه د دې جنګ فوځې جوړ شو، په دې وجه د غه وخت سلو مسلمانانو ته يو زر کافرانو سره د مقابلې کولو حکم ورکړې شو، اندازئې داوو چه مسلمانانو سره د فتح او امداد ورکولو وعده هم پکښې وه،

په څلورم آيت کښې دا حکم منسوخ شو، د هغې په ځائ دا حکم ورکړې شو چه اوس در باندې الله تعالى آساني اوکړه او معلومه ئې کړه چه په تاسو کښې کمزورې ده، نو که په تاسو کښې سل کسان هم کلک پاتې کيدونکي وي نو په دوؤ سوؤ به برراځي،

دلته هم مقصد دادې چه سل مسلمانان د د دسوؤ سوؤ کافرانو د مقابلې نه پشا کيږي نه پشاکيدل ورد پاره ناروا دی، رومبي آيت کښې يو مسلمان لره د لسو کافرانو د مقابلې نه پشاکيدل ناروا وو، اوس په دې آيت کښې د يو مسلمان د دوؤ کافرانو د مقابلې نه پشاکيدل ناجائز اوګرځولې شو، او دا آخرې حکم تر قيامته پورې باقي پاتې شو،

دلته هم دې حکم ته د حکم د عنوان ورکولو په ځائ د خبر اوزيرې شکل ورکړې شويدې، اشاره پکښې دې ته ده چه د دوؤ کافرانو په مقابله کښې د يو مسلمان د ټينګ پاتې کيدو حکم [معاذالله] څه بې انصافي يا سختي کول نه دي بلکه دا ښودل دي چه الله تعالى په مسلمانانو کښې د هغوئ د ايمان په وجه هغه قوت ايښې دې چه يو ئې د دوؤ برابر اوګرځولو البته دا ړو ځايونو کښې د فتح او امداد زيرې سره دا شرط ايښوې شويدې چه مسلمانان کلک او مضبوط ولاړ هم وي، اوښکاره خبره ده چه د جنګ په ميدان کښې هغه څوک ځان په خطره کښې اچولو سره ټينګ پاتې کيدې شي د چا چه ايمان کامل وي، ولې چه کامل ايمان داسې يو څيزدې چه انسان کښې د شهيد کيدو شوق او جذبه راپاروي چه طاقت ئې ورسره نور هم زياتيږي،

په آخر د آيت کښې د يو عام قانون په شکل دا اوښودلې شو چه ﴿وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ۝﴾ يعني الله تعالى هغه خلقو سره وي څوک چه کلک پاتې کيږي! په دې کښې هغه کسان هم شامل دي چه په جنګ کښې کلک پاتې کيږي، او هغه خلق پکښې هم شامل دي چه د شرعي حکمونو په پابندئ کولو کښې کلک او مضبوط پاتې کيږي، يعني داسې ټولو خلقو سره دالله تعالى د ملګرتيا وعده ده چه په اصل کښې فتح او کاميابي هم په دې باندې اړه لري، ولې چه چاته دالله تعالى ملګرتيا نصيب شي که د ټولې دنيا خلق هم رايو ځائ شي نو هغه لره د خپل ځائ نه نشي خوځولې.

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ

نه دی مناسب | یونبی لره | چی وی | هغه سره | قیدیان | اترهغې پورې | چی ریزمریزکړی |

دهیڅ پیغمبر دپاره دا جائز نه دی چه دده سره قیدیان وی اتردې چه دې ئې په زمکه کښې وینه توی

فِي الْاَرْضِ ؕ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖۗ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ

په زمکه کښې | تاسو غواړئ | اسباب ددنیا | اوالله | غواړی آخرت | اوالله | غالب دي

کړې | تاسو د دنیا د سامان اراده لرئ | او الله تعالی [ستاسو دپاره] د آخرت اراده لری | او الله غالب دي

حَكِيْمٌ ۝٦٧ لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ

حکمت والا دي | که چرې نه وې الیکلې حکم | دطرفه دالله نه | مخکښې | نوخامخا به رسیدلې وۀ تاسو ته

صاحب د حکمت دې | که چرته د الله تعالی د طرفه د وړاندې نه فیصله نه وه شوې [چه تاسو ته به په دنیا کښې عذاب نه درکوم]

فِيْمَآ اَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝٦٨ فَكُلُوْا مِمَّا

په هغه څیزکښې | چی اغستې دې تاسو | عذاب | الوئ | پس خورئ | دهغه مال نه

نوتاسوته به په هغه فدیه اخستلو باندې لوئې عذاب رسیدلې وو | انو تاسو چه په غنمیت کښې څه

غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖؗ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چی په غنیمت کښی اغستې دې تاسو | حلال | پاک | اواویریږئ | دالله نه | بیشکه چی الله |

حاصل کړې دی نو هغه حلال او پاک گنړئ او خورئ | اود الله تعالی نه ویریږئ | بیشکه الله تعالی

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٦٩ ع

بښونکې | مهربان دې |

بښونکې مهربان دې |

آسان ترجمه قرآن

داخبره یونبی سره نه ښائی چه هغه سره دې قیدیان وي تر څو چه هغه په زمکه کښې (د دښمنانو) ښه طریقې سره وینه نه وي توئې کړي (چه هغې سره د هغوی رعب ښه طریقې سره ختم شي) تاسو د دنیا سازوسامان غواړئ او الله (تاسو د پاره) د آخرت (ښه والې) غواړی، اوالله قدرت والا هم دې . اوحکمت والا هم اوکه دالله د طرف نه دمخکښې نه یو لیکلې شوې حکم نه وې راغلې نو کومه لارچه تاسو اختیار کړې ده د هغې د وجې نه به په تاسو لوئ عذاب راغلې وې پس تاسو چه کوم مال غنیمت حاصل کړې دې . هغې لره د پاک حلال مال په طور باندې خورئ اودالله نه ویریږئ یقینًا الله ډیر بخونکې ، ډیر مهربانه دې اې نبی ا ستاسو په لاسونو کښې چه کوم قیدیان دی (اوچه کومو دمسلمان کیدو اراده کړې ده) هغوی ته ووایه: که چرې الله ستاسو په زړونو کښې څه خیر ووینې نو کوم مال چه تاسو نه (فدیه کښې) اخستې شوې دې دهغې نه به بهتر تاسو ته درکړی او تاسوته به بخنه وکړي او الله ډیر بخونکې ډیر مهربان دې،

خلاصه تفسیر

ائې مسلمانانو ! نبی کریم ﷺ ته ستاسو دامشوره ورکول بې ځایه وو چې دبندیانو نه دې څه واخستې شی او خلاص دې کړې شی ځکه چې] ﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ﴾ دنبی دشان سره مناسب نه دی چې هغوئ ﷺ سره بندیان باقی پاتې وی [بلکه وژلې دې شی] ﴿حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ﴾ تر څو چې هغوئ ﷺ په زمکه په ښه شان [دکافرانو] وینې توې نه کړی [ځکه چې د جهاد د رواوالی اصلی غرض دادې چې فساد بند شی څو فساد تر هغې نشی بندیدې تر څو چې د کافرانو نشه او لشه بیبخی نه وی ماته شوی ، نو دې ته د نوبت رسیدو نه مخکښې بندیان ژوندی پریخودل دهغوئ ﷺ د اصلاح شان سره جوړښت نه خوری البته که داسې طاقت ئې شی نو بیا ئې وژل ضروری نه دی بلکه نور صورتونه نه هم روا دی نود اسې نامناسبه رائې مو ولې ورکړه] ﴿تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا﴾ تاسو خو ددنیا مال او اسباب غواړئ [ځکه مو ورته دمالی بدلې اخستو رائې ورکړه] ﴿وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ﴾ او الله ﷻ [د آخرت ښیګړه] غواړی [چې هغه په دې کښې ده چې کفار د ویرې نه مغلوب شی او په آزادئ سره په کښې د اسلام نور او هدایت خور شی او بې دڅه بندیز نه ګڼړ خلق مسلمانان شی چې خلاصې بیا مومی] ﴿وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ او الله ﷻ لوئې زبردست او د لوئې حکمت خاوند دې [هغه به تاسو په کافرانو غالب کړی وئ او دفتوحاتود ډیروالی په وجه بهٔ ئې تاسو مالدار کړی وئ ،اګر چې د څه حکمت په وجه په کښې روستو والې راغلو کوم کار چې تاسواوکړو هغه داسې ناخوښه دې چې] ﴿لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ﴾ که د الله ﷻ یو نوشته مقرره نه وې [هغه دا چې ددې قیدیانو ځینې خلق به مسلمانان شی او هغه فساد به ترې راولاړ نشی د کوم چې احتمال وو ، که دا نه وې] ﴿لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ نوکوم کار چې تاسو اختیار کړې دې دهغې باره کښې به په تاسو څه لویه سزا واقع شوې وه [لیکن هر کله چې څه خرابې راولاړه نشو او اتفاقا ستاسو مشوره حقه راوختله ځکه تاسو سزا نه بچ شوئ ، یعنی مونږ دغه فدیه مباح کړه] ﴿فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا﴾ نو څه چې تاسو [د دوئ په فدیه کښې] اخستې دی هغه حلال پاک ګنړئی او هغه خورئ ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ﴾ او الله ﷻ نه ویریږئی [چې بیا په هر شان احتیاط کوئی] ﴿إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ بیشکه الله ﷻ بخښونکې د لوئې رحمت خاوند دې [چې ستاسو ګناه ئې معاف کړه ،دابخښنه ده او فدیه ئې هم درته حلاله کړه ، دا رحمت دې]

معارف اومسائل

ددې آیتونوتعلق دبدردغزایو خاص واقعې سره دې چه دتفسیرکولونه وړاندې دصحیح اومستند روایتونو دحدیث له مخه ددې واقعې بیانول ضروری دی،

واقعه داده چه د.بدر.غزاپه اسلام کښې دټولونه ړومبې جهاددې چه ناڅاپه راپیښ شوې وو ،تردغې وخته پورې دجهادپه باره کښې تفصیلی حکمونه په قرآن کریم کښې نه وونازل شوی،په جهادکښې لاس ته راتلونکی مال دغنیمت سره به څه کولې شی؟ ددښمن سپایان چه په قبضه کښې راشی نودهغوئ بندیان کول روادی اوکه نه؟دبندیانوجوړولوپه صورت کښې ورسره څه کول پکاردی،

دټولو پخوانو پیغمبرانو ﷺ په شریعتونو کښې مسلمانانولره دغنیمت دمال نه فائده اغستل اودهغې استعمالول حلال نه وو بلکه حکم دا وو چه دغنیمت ټول مال دراجمع کړې شي اوپه یو میدان کښې دې کیښودلې شي که دغه جهادبه دالله تعالی په نزد مقبول وو نو آسمانی اوربه راغلو هغه به ئې اوسوځولو، که ددغې مال غنیمت دسوځولو دپاره به آسمانی اور رانغلو نو دادې نخښه وه چه جهاد کښې به څه کوتاهي شوې وه ځکه به دغه جهاد دالله تعالی په نزد مقبول نه وو،

دصحیح بخاري اومسلم په روایت کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه، ماته پنځه داسې څیزونه راکړې شوی دی چه بل هیڅ پیغمبرته هم نه وو ورکړې شوی، په هغې کښې یوداهم دې چه کفارونه په لاس راتلونکې مال غنیمت هیچا دپاره حلال نه وو، مګر امت مرحومه دپاره داحلال اوګرځولې شو،([1]) داڅیز اګرچه دالله تعالی په علم کښې خووو، لیکن دبدردغزاتروخته پورې ددې څه حکم نه وونازل شوې، هرکله چه دبدرپه غزاکښې الله تعالی مسلمانانوته بې طمع لویه فتح نصیب کړه، دښمن مال هم پریښنوچه د غنیمت په شکل کښې دمسلمانانولاس ته راغلو او ددوئ لوئې لوئې سرداران، مسلمانانو بندیان کړل خوددې داړودرواوالی په باره کښې څه ښکاره حکم دوحی په ذریعه نه وونازل شوې،

همدغه وجه وه چه دصحابه کرامو ﷺ په جلدبازئ باندې زورنه نازله شوه، دازورنه او ناراضګی دوحی په ذریعه داسې ښکاره کړې شوه چه دجنګی بندیانو په باره کښې مسلمانانوته ددوؤ خبرو اختیار ورکړې شوې ووخواشاره پکښې داهم ورکړې شوې وه چه یو څیزدالله تعالی په نزدخوښ اوبل ناخوښ دی، چنانچه جامع ترمذی، سنن نسائي اوپه صحیح ابن حبان کښې په روایت دعلی مرتضی ﷺ منقول دی چه په دغې موقعه حضرت جبرائیل امین، رسول الله ﷺ ته راغلو اوداحکم دالله تعالی ئې واوړولو چه تاسو ﷺ به صحابه کرامو ﷺ ته ددوؤ خبرو اختیارورکړئ، ① یوداچه دابندیان اووژنئ اودد ښمن زور او رعب همیشه دپاره ختم کړئ ② دویم داچه دڅه مالی بدلې په اغستوسره دې پریښنوې شی، لیکن په دې دویم صورت کښې د الله تعالی په حکم داخبره فیصله کړې شوې ده چه ددې په بدله کښې به آئنده کال دمسلمانانو نه هم دغه هومره کسان شهیدان کیږي څومره بندیان به دمال اغستو په بدله کښې چه پریښنوې شی،([2]) په ښکاره خواګرچه ددې صورت اختیارهم مسلمانانوته ورکړې شوې ووخوپه آئنده کال کښې داویاؤ [۷۰] مسلمانانو دشهید کیدو په فیصلې څرګندولو کښې دې اړخ ته یو نرئ غوندې اشاره ضرورموجوده وه چه داصورت دالله تعالی خوښ نه دې، که خوښ ئې وې نو ددې په نتیجه کښې داویاؤ صحابه کرامو ﷺ وینه توئیدل به لازمی کړې شوی نه وو،

ځنې صحابه کرامو ﷺ دفدیئې اغستو اودبندیانو پریښنولو صورت ځکه اختیارکړو چه کیدې شی دغه پریښنولی بندیان څه وخت مسلمانان شی چه اصلی فائده اودجهاد مقصد دې،

---

[1]) صحيح البخاري، كتاب الصلاة، باب قول النبي صلى الله عليه وسلم جعلت لي الأرض مسجدًا وطهورًا: ج ۱، ص ۶۳، وصحيح مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة: ج ۱، ص ۱۹۹

[2]) صحيح ابن حبان رقم الحديث: ۴۷۹۵، وجامع الترمذي، أبواب السير، باب ما جاء في قتل الاسارى والفداء: ج ۱، ص ۲۸۵

Scanned with Ca

په دې کښې ئې دا خیال هم وو چه دنیستمنو مسلمانانو نیستي به ددې اوپابندیانو په فدئې اغستو سره ختمه شي او په راتلونکي وخت کښې به په دغې مال سره دجهاد کولو تیارۍ هم اوکړې شي دا ویا مسلمانانو دشهید کیدو نه ویره هم ځکه پکار نه ده چه دا پخپله یو نعمت، پیرزونه اوخوش قسمتي ده. دا دصدیق اکبر رضی الله عنه او دزیاتو صحابه کرامو رضی الله عنهم رائې وه، صرف حضرت عمر رضی الله عنه سعد بن معاذ رضی الله عنه وغیره څو صحابه کرامو رضی الله عنهم ددغې ټولو قیدیانو د وژلو رائې ځکه ورکړه چه دا اسلام په مقابله کښې قوت اوطاقت راجمع کوونکي ټول قریشي سرداران اوس دخوش قسمتئ نه زمونږ په قابو کښې راغلي دي، ددوئ اسلام قبلول خوهسې وهم غوندې ښکاري البته غالب گمان دا کیدې شي چه په آزادیدو سره به دا خلق دا ول نه زیات دا اسلام او مسلمانانو خلاف ورانې کوي،

رحمته للعالمین صلی الله علیه وسلم هم دنرمئ هغه رائې قبوله کړه چه دقیدیانو دپاره پکښې راحت او آساني وه، هغه دا چه په فدئې اغستو سره پرېښودې شي، هغوئ صلی الله علیه وسلم صدیق اکبر رضی الله عنه او فاروق اعظم رضی الله عنه ته په خطاب کولو سره اوفرمائیل: [لو اتفقتما ما خالفتکما] [که تاسو دواړو رضی الله عنهما په یو رائې اتفاق راغلي وې نو ما به دهغې خلاف نه وو کړې] [مظهری] (۱)

په هر حال په دې رائې چه عمل اوشو نو دربانې اشارو په مطابق آئنده کال دِ احد په غزا کښې اویا [۷۰] مسلمانان شهیدان شو،

﴿تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا﴾ کښې هغه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته خطاب دې چا چه په فدئې اغستو سره دقیدیانو دآزادولو رائې ورکړې وه، په دې آیت کښې اوښودلې شو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا یوه نامناسبه مشوره ورکول وو، ولې چه دیو نبي شان سره دا نه جوړیږي چه په دښمنانو قابو بیامومي اوبیا هم دهغوئ طاقت اورعب مات نکړي او دفسادیانو دښمنانو په پرېښودلو سره همیشه دپاره مسلمانانو ته مصیبت راولاړ کړي،

په دې آیت کښې د ﴿حَتّٰى يُثْخِنَ فِي الْاَرْضِ﴾ الفاظ راغلي دي په لغت کښې د ﴿اثخان﴾ معنی ده ښه په زوراو مړانې سره دچا طاقت اورعب ماتول، اوهم ددې معنې دتاکید دپاره ﴿فِي الْاَرْضِ﴾ لفظ راوړې شو، حاصل ئې دا اؤ توچه، ددښمن طاقت اورعب، زور خاؤرو سره یو ځائ کړي اوبیخي ئې ختم کړي.

په فدئې اغستو سره دقیدیانو آزادولو دراتې دوه برخې وې، یوه برخه ئې خالص دیني دا سې وه، چه کیدې شي دا خلق په آزادیدو سره مسلمانان شي خو دویمه برخه ئې په ذاتي فائدې باندې ولاړه وه چه مال به ئې لاس ته ورشي، چه تردغې وخته پورې دیوه داگیزنص له مخې دا سې مال، روا کیدل هم ثابت نه وو، درسول الله [صل دتربیت لاندې دصحابه کرامو رضی الله عنهم شان دا سې جوړول ووچه دفرشتونه هم وړاندې اوپورته وي، په دا سې ماحول کښې ددوئ رضی الله عنهم خیالات مال دولت ته ورکرځیدل یو قسم گناه اونافرمانې اوگڼرلې شوا وکوم کار کښې چه روا اوناروا سره یو ځائ شي نو دغه ټول کارناروا اگرځي ځکه په دغسې عمل سره صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دا سې زورنه ورکړې شوه:

(۱) التفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج ۳، ص ۱۴

Scanned with Ca

﴿تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ يعني تاسو خلق دنياغواړئ حالانکه الله تعالى تاسو نه داغواړي چه تاسو د آخرت طلبګار جوړ شئ، دلته د زورنې د پاره د دوئ ﷺ صرف هغه فعل بيان کړې شو چه د نارا ضګئ وجه جوړ يده، د قيديانو د مسلمانيد وبيان ئې ځکه دلته او نکړ و چه اشاره دې خبرې ته شي چه الله تعالى ته د صحابه کرامو ﷺ غوندې پاکبازو، مخلصانو بندګانو داسې مشترک نيت هم قبول نه دې چه په هغې کښې ددينى او دنيوى فائدې دواړه اړخونه راجمع وى. دلته دا سوال راپورته کيدې شي چه هرکله رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ﷺ دغه رائې قبوله کړه نو دوئ سره پکښې شريک شو بيايو اځې صحابه کرامو ﷺ ته زورنه ولې ورکړې شوه، جواب ئې داکيدې شي چه دا د رسول الله ﷺ خپله رائې نه وه بلکه يو اځې د صحابه کرامو ﷺ رائې وه هرکله چه د دوئ ﷺ ترمنځه اختلاف رائې پيدا شو نو هغوئ ﷺ تر د آسانئ اورحمت هغه رائې په دې وجه قبوله کړه چه الله تعالى ورته پخپله د..رحمته للعالمين..کيدو عزت اوشرافت وربخښلې دې.

په آخر د آيت کښې ﴿وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ فرمائيلو سره دې ته اشاره اوشوه چه الله تعالى زبردست د حکمت خاوند دې، که تاسو تلوار نه کاره نه وې اغستې نو الله تعالى به په خپل فضل سره تاسو د پاره په آئنده فتوحاتو کښې د مال دولت هم انتظام کړې وو،

په دويم آيت کښې هم د دغې زورنې مضمون پوره کول داسې دى چه الله تعالى فرمائى: که د الله تعالى د تقدير يو ليک دوړاندې نه نه وې شوې نو ستاسو د دې اختيار کړى کار په وجه به لوئ سزا رالاندې کړى وئ،

د دې نوشته تقدير ځخه څه مراد ؟ د دې متعلق په ترمذى کښې د حضرت ابى هريره ﷺ په روايت د رسول الله ﷺ د ارشاد مطابق دلته د تقدير دليک نه مراد دا دې چه هرکله پخوانو امتونو کښې د يو امت د پاره هم د غنيمت مال حلال نه وو او د بدر په موقعه مسلمانانو د غنيمت مال راغونډول شروع کړل حالانکه د دې د حلاليدو حکم نازل شوې نه وو، په دې باندې دا آيت نازل شو چه د غنيمت د مال د حلاليدو نه وړاندې د مسلمانانو دغه کار کول داسې ګناه وه چه عذاب پرراتلل پکار وو، خو د الله تعالى دا حکم لوحِ محفوظ کښې ليکلې شوې وو چه د دې امت د پاره به د غنيمت مال حلال ګرځولې شي ځکه په مسلمانانو باندې د دې غلطئ په وجه عذاب نازل نکړې شو. [مظهرى](۱)

د حديث په بعضې روايتونو کښې راغلى دى چه د دې آيت په نازليد و رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د الله تعالى عذاب مخامخ راغلې وو، الله تعالى په خپل فضل سره ايسار کړو، که دغه عذاب راغلې وې نو د عمر بن الخطاب ﷺ او سعد بن معاذ ﷺ نه سوابه د دې نه هيڅوک هم نه وو بچ شوى،(۲) د دې نه معلوميږى، چه د دې زورنې راتلو سبب په فدئې اغستو سره قيديان پريښول وو او د ترمذى د روايت په حواله د دې د راتلو سبب د غنيمت مال جمع کول وو خو د دې دواړو ترمنځه څه تکراو بې سمونى راتلل ځکه نشته چه قيديانو نه فديه اخستل هم په مالِ غنيمت جمع کولو کښې حسابيږى،

(۱) جامع الترمذى، أبواب التفسير، باب سورة الأنفال: ج ۲، ص ۱۳۹، والتفسير المظهرى تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۱۱۸
(۲) تفسير الطبرى: رقم الحديث ۱۶۳۲۰، والتفسير البغوى تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۲۷۷

Scanned with Ca

مسئله: په دې آيت کښې په فدئې اغستلو سره دقيديانو په آزادولو او په مال غنيمت جمع کولو باندې چه کومه زورنه نازل شوه او دالله تعالی دعذاب نه ويرول اوکړې شوا او بيا معافي ورکړې شوه، په دې سره داخبره ښکاره نه شوه چه په آئنده کښې مسلمانانوله څه کول پکاردی، ځکه په راتلونکې آيت کښې دغنيمت دمال مسئله خوصفاکړې شوه وې فرمائيل:

﴿فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ﴾ يعنی په لاس درتلونکې مال اوس خورئ شئ هغه په آئنده کښې تاسو دپاره حلال اوګرځولې شو، خو په دې کښې داشبه بياهم پاتې کيږی چه ددې حکم د ملاويدونه وړاندې کوم مال غنيمت چه په غلطئ سره جمع کړې شوې وو شايد په هغې کښې څه قسم مکروهوالې وی نو دا شبه په ﴿حَلٰلًا طَيِّبًا﴾ فرمائيلو سره لرې کړې شوه مطلب دا شو چه ددې حکم دنازليدونه وړاندې دمال غنيمت راجمع کول اګرچه درست نه وو خو دحکم په نازليدو سره هغه هم بې دڅه مکروهوالی نه حلال دې.

مسئله: دلته داصول فقهې يوې مسئلې باندې نظر اچول اود ياد لرلو قابله ده چه هرکله يوناجائز کام پورته کړې شی بيا ديو مستقل آيت له مخې دهغې مال دحلالوالی حکم نازل شی نو دورمبنی کام پورته کولو څه اثر په دې کښې نه پاتې کيږی اودغه مال حلال طيب ګرځی لکه څنګه چه دلته اوشو. ليکن ددې بل نظيردادې چه په څه معامله کښې يو نازل شوې حکم عمل کوونکو ته ښکاره نه وی او په دغسې حالت کښې دهغې خلاف ورزی اوکړی روستو ورته معلوم شی چه زمونږ داعمل دقرآن اوسنت دفلانی حکم نه خلاف وونو په داسې صورت کښې دحکم دښکاره کيدو نه پس هغه مال حلال نه پاتې کيږی اګرچه وړاندې کړې غلطی معاف هم کړې شی [نور الانوار ملا جيون] (١)

په دې آيت کښې دغنيمت مال حلال طيب خواوګرځولې شو ليکن دآيت په آخر کښې دې قيد:

﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ لګولو سره اشاره اوکړې شوه چه اګرکه دغنيمت مال حلال اوګرځولې شوخو بياهم ديوخاص قانون لاندې اوس ددغې قانون خلاف کول يادخپل حق نه زيات مال اغستل ناروادی،

دلته دوه معاملې وی ① دمال غنيمت معامله وه ② اوبله په فدئې اغستلو سره قيديان آزادول وورومبئ معامله خودې آيت صفاکړه خو دويمه معامله دلته صفانکړې شوه بلکه دسورت محمد ﷺ په دې آيت سره صفاکړې شوه: ﴿فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتّٰى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا﴾ يعنی چه په جنګ کښې ستاسو مقابله دکافرانو سره راشی نو دهغوئ ګردونو وهئ ترهغې چه دوينې توييولو په ذريعه دهغوئ طاقت اورعب داب مات کړئ، بيائې چه قيد کړئ نو کلک ئې اوتړئ، ياخو پراحسان کولو دپاره ئې هسې پريږدئ يا په فدئې اغستلو سره ئې پريږدئ ترهغې چه جنګ خپلې وسلې کيږدی،

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائيلی دی چه دبدر په غزاکښې قيديانولره دفدئې اغستلو په بدل کښې آزادولو باندې زورنه ځکه نازله شوه چه دا داسلام ورومبې جهاد وو او تر دغه وخته پورې دکافرانو دطاقت اورعب ماتيدو څه سوال نشو پيدا کيدې، يوناګهانی مصيبت پر

---

(١) نور الأنوار مبحث أفعال النبي صلى الله عليه وسلم: ص ٢١٥

Scanned with Ca

راپريوتي وو، کله چه اسلام او مسلمانانو ته مکمله غلبه حاصله شوه نو الله تعالى ددغې حکم منسوخ کولو دپاره دسورت محمد ﷺ دغه تيرشوې آيت نازل کړو چه پکښې رسول الله ﷺ ته دقيديانو په باره کښې څلوراختياره ورکړې شويدى،

﴿ان شاءوا قتلوهم وان شاءوا استبدوهم وان شاءوا فادوهم وان شاءوا اعتقوهم [مظهرى]﴾ (۱) ① که ئې خوښه شوه تول داووژنى، ② که ئې خوښه شوه غلامان دې ئې کړى، ③ او که ئې خوښه شوه په فدئې اغستوسره دې ئې پريږدى، ④ او که ئې خوښه شوه آزاد دې ئې کړى،

په رومبو دوؤصورتونو باندې خود ټول امت اجماع ده، يعنى دمسلمانانو اميرلره دکافرانو قيديانو په وژلو او ددوئ په غلامانو جوړولو ليکن په فدئې سره يابې فدئې په آزادولو کښې دامت فقهاء اختلاف لرى،

دامام مالک رحمه الله شافعى رحمه الله احمد بن حنبل رحمه الله ثورى رحمه الله اسحاق رحمه الله او تابعينو رحمهم الله کښې دحسن بصرى قول دادې چه پاتې دوه صورتونه هم دمسلمانانو داميردپاره روادى،

③ يعنى داچه په فدئې اغستوسره قيديان پريږدى يابې فدئې ئې په دې غرض پريږدى چه ددې په بدل کښې به کافران هم مسلمانان قيديان آزادکړى .ليکن امام ابو حنيفه رحمه الله ابو يوسف رحمه الله اوزاعى رحمه الله قتاده رحمه الله ضحاک رحمه الله سدى رحمه الله او ابن جرير رحمه الله فرمائيلى دى چه بې فدئې پريښودل خوئې بيخى ناروادى، دامام ابى حنيفه رحمه الله دمشهورمذهب مطابق په فدئې اغستو سره ئې پريښودل هم ناروادى البته دسير کبير په روايت کښې راغلى دى چه که مسلمانانو ته دمال ضرورت وونو په فدئې سره ئې پريښودې شى، (۲) البته دمسلمانانو قيديانو رآزادولو په بدله کښې دکفاروقيديانو پريښودل هم دامام ابى حنيفه رحمه الله او صاحبينو په نزدروادى [څنګه چه په دواړوروايتونو کښې ترې دابه ظاهرروايت دې، [مظهرى] (۳)

کوم صاحبان چه په فدئې اغستوسره يابې فدئې اغستو دکفاروقيديانو پريښودل روابولى هغوئ دحضرت ابن عباس رضي الله عنه دقول مطابق دسورت محمد ﷺ آيت دسورت انفال ددې آيت دپاره ناسخ [منسوخ کوونکې] بولى، خوحنفى فقهاء دسورت محمد ﷺ دغه آيت د سورت انفال په آيت، ﴿فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ﴾ او په آيت ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ﴾ سره منسوخ بولى څکه ئې فدئې او په فدئې اغستلوسره ئې آزادول روانه بولى [مظهرى] (۴)

ليکن که دسورت انفال او دسورت محمد ﷺ په الفاظو کښې غوراوکړې شى نو داسې معلوميږى چه په دې دواړو کښې يوهم .ناسخ .يامنسوخ نه دې، بلکه ددوؤبيلوبيلو حالتونو دوه بيل بيل حکمونه دى،

دسورت انفال په آيت کښې هم د.اثخان فى الارض. يعنى دکافرانو دزورماتولو بيان دې او دسورت محمد ﷺ په آيت کښې هم د.من.او.فداء.بيان راغلې دې، مطلب ئې دامعلوميږى چه

---

(۱) التفسير المظهرى تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۱۱۴
(۲) السير الكبير: ج ۴، ص ۱۰۳۱
(۳) التفسير المظهرى: ج ۴، ص ۱۱۴
(۴) التفسير المظهرى: ج ۴، ص ۱۱۴، ۱۱۵

Scanned with Ca

هر کله د کافرانو زور په جنګ سره مات کړې شي نو د مسلمانانو اميرته د فدئې په اغستو سره او بې فدئې اغستو د قيديانو پرېښودلو اختيار دې چنانچه د امام اعظم ابی حنيفه رحمه الله د سير کبير د روايت هم دا منشا کيدې شي چه د مسلمانانو د حالت او ضرورت په جوړ دواړه قسمه حکمونه ورکولې کيدې شي، والله سبحانه وتعالى أعلم،

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِيْ أَيْدِيْكُمْ
ا اے نبی ا او وايه ا هغه چا ته ا چی په لاسونو ستاسو کښې دی ا
ا اې پيغمبر! ستاسو په لاسونو [قيد] کښې چه کوم قيديان دی نو هغوی ته او وايه
مِّنَ الْأَسْرٰى إِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ
د قيديانو نه ا که معلوم شو ا الله ته ا په زړونو ستاسو کښی ا څه خير ا نو در به کړی تاسو ته ا
که الله تعالی ته ستاسو په زړونو کښې خير معلوم شو [چه تاسو په اخلاص سره ايمان راوړئ] نو ستاسو
خَيْرًا مِّمَّآ أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ
بهتره ا د هغې نه ا چی اغستې شوی دی ا ستاسو نه ا او معافی به او کړی ا تاسو ته
نه چه په فديه کښې څه اخستې شوې دی د هغې نه به درته غوره درکړی او تاسو ته به معافی او کړی
وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَإِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ
او الله ا بښونکې دې ا مهربان دې ا او که اراده لری دوئ ا د خيانت کولو تاسره ا نو بيشکه
او الله تعالی بښونکې مهربان دې ا او که دوی تاسره د خيانت کولو اراده لری نو يقينی خبره ده
خَانُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ
خيانت کړې وو دوئ ا د الله سره ا مخکښی د دې نه ا نو قادرئې کړې ته ا په دوئ باندې ا او الله ا ښه پوهه دې
چه د دې نه وړاندې دوی د الله سره خيانت کړې وو نو الله تا ته په دوی باندې قدرت درکړو ا او الله عالم
حَكِيْمٌ ۝
د حکمت خاوند دې ا
صاحب د حکمت دې ا

آسان ترجمه قرآن

او که دې خلقو (اې نبی!) تاسره د خيانت کولو اراده وکړه نو دې نه مخکښې هم دوی الله تعالى سره خيانت کړې وو ، چه د هغې په نتيجه کښې الله تا ته په هغوی قابو درکړه. او د الله حکمت هم کامل دې او علم هم کامل.

خلاصه تفسير

﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِيْ أَيْدِيْكُمْ مِّنَ الْأَسْرٰى إِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا﴾ ائې پيغمبر ﷺ ! ستاسو په قبضه کښې چې کوم قيديان دی [په دوئ کښې چې کوم مسلمانان شوی دی] تاسو ﷺ دوئ ته او وايئ که الله ﷻ ته ستاسو په زړونو کښې ايمان [چې تاسو د زړۀ نه مسلمانان شوی يئ ولې چې د الله ﷻ علم خو د واقع او حقيقت مطابق وی ، الله ﷻ به هم هغه خلق مسلمانان

کنړی چې په واقع کښې مسلمان وی اوڅوك چې كافر وی هغه به هم كافر گنړی نو كه تاسو د زړهٔ نه مسلمانان يئ] ﴿إِن يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّا أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ﴾ نو څه چې تاسو نه [په فديه كښې] اخستې شوی دی ددې نه زيات غوره به تاسو ته [پدنيا كښې] دركړی او تاسو به اوبخښی [او په آخر كښې] ﴿وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ او الله ﷻ لوئې بخښونكې دې [ځكه به تاسو اوبخښی او] لوئې رحمت والا دې [ځكه به ئې درته غوره بدله دركړی] ﴿وَإِن يُرِيدُوا خِيَانَتَكَ﴾ او كه [بالفرض] داخلق [په رښتيا د زړهٔ نه نه وی مسلمانان شوی بلكه په اسلام ظاهرولو سره تاسو سره دهوكه كول غواړی او په زړهٔ كښې ئې] تاسو سره د دهوكې كولو [يعنی د وعدې په ماتولو سره ستاسو د مخالفت او مقابلې كولو] اراده وی نو [هيڅ فكر مه كوئی الله ﷻ به ئې بيا ستاسو په لاس كښې راگير كړی ځنگه چې] ﴿فَقَدْ خَانُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ﴾ ددې نه مخكښې دوئ الله ﷻ سره خيانت كړې وو [او ستاسو مخالفت او مقابله ئې اوكړه] ﴿فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ﴾ بيا الله ﷻ دوئ [ستاسو په لاس كښې] بنديوان كړل ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ او الله ﷻ ښه پيژندونكې دې [چې څوك دهوكه باز دې او] او د لوئې حكمت خاوند دې [داسې صورتونه پيدا كوی چې دهوكه باز ورسره مغلوب كيږی].

معارف اومسائل

د بدر د غزا د قيديانو نه فديه واغستې شوه او آزاد كړې شو، د اسلام او مسلمانانو هغه دښمنان چه د دوئ په تنگولو، تكليف رسولو، وهلو، ټكولو، او وژلو باندې ئې هيڅكله هم صرفه نه وه كړې، كله ئې چه وس برشويدې نو ډيربيدريغه ظلمونه ئې پراوكړل د مسلمانانو په لاس كښې د قيديدونه پس د دوئ ژوندی پريښول څه وړه خبره نه وه بلكه د دوئ د پاره لوئ غنيمت او زياته نرمی او مهربانی وه، په فديه كښې چه كوم رقم دوئ نه واغستې شو هغه هم ډير معمولی وو،

د الله تعالی مهربانی اوگورئ چه دومره معمولی رقم وركولو سره دوئ ته راپيښ شوې تكليف الله تعالی ځنگه لرې كړو،

په دې آيت كښې ارشاد دې: كه الله تعالی ستاسو په زړونو كښې څه خير بيا مومی نو تاسو نه چه څه اغستې شويدی الله تعالی په درته دهغې نه غوره دركړی، علاوه دا چه ستاسو كړی گناهونه به درته اوبخښی، دلته د خير نه مراد ايمان او اخلاص دې، مطلب دا دې چه د آزاديدونه پس په دې قيديانو كښې كه څوك په اخلاص سره اسلام او ايمان اختيار كړی نو په فديه كښې د وركړی مال نه په زياته اندازه كښې به غوره څيزونه وركړې شی، قيديان ئې آزاد او خپل اختياره اوكرځول ورته دا بلنه هم وركړې شوه چه آزادئ سره د په خپله فائده او نقصان باندې غور اوكړی، چنانچه واقعات گواه دی چه په دغې قيديانو كښې مسلمان شوی كسانو ته الله ﷻ بخښنه او د جنت لوړې درجې ور نصيب كړې په دنيا كښې ئې هم ورته دومره مال وركړو چه د دوئ د فدئې نه په څوڅو درجو زيات وو،

اكثرو مفسرينو فرمائيلی دی چه دا آيت د رسول الله ﷺ د تره حضرت عباس رضي الله عنه په باره كښې نازل شويدې، ولې چه هغوئ رضي الله عنه هم د بدر په قيديانو كښې شامل وو، هغه نه هم فديه اخستې شوې وه، په دې معامله كښې د هغوئ خصوصيت دا وو چه دوئ رضي الله عنه په جنگ بدر كښې تقريبا اوه سوه كنی سره زر راوړی وو چه د كافرانو په لښكرئې اولگوی، دغه سره زرئې لا لگولی نه وو چه سره دهغې بنديوان كړې شو، د فدئې وركولو په وخت دوئ رضي الله عنه رسول كريم ﷺ ته عرض او فكر

اوکړو چې خما سره چې کوم سره زر وو هغه دې زما په فدیه کښې منظور کړې شي، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه دغه ټول سره زر دغنیمت دمال په حیث دمسلمانانو مال شو اوس پکښې ستاهیڅ اختیارپاتې نشو، فدیه به بیله دربانديې کیږي، بلکه ددوؤوریرونو ① عقیل بن ابی طالب او ② نوفل بن حارث فدیه به هم ته اداکوې، حضرت عباس ﷺ عرض اوکړو چه دومره مالي پیټې په ماراواچولې شوزه به داسې فقیرشم چه دقریشونه به خیرخیرات غواړم رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه ولې تاسره هغه مال نشته چه دراتلوپه وخت کښې دخپلې بي بي ام الفضل ته ورکړې وو،

حضرت عباس ﷺ عرض اوکړو، تاسوته چاوئیلي دي، په هغه وخت خودشپې په تیاره کښې یواځې مونږدواړه ښځه، خاوندوودریم راسره هیڅوک نه وو. هغوئ ﷺ ورته اوفرمائیل چه دا راته زماپروردګاروئیلي دي اودهغې پوره تفصیل ئې راته ښودلي دې. ددې په آؤریدوسره دحضرت عباس ﷺ په زړه کښې دایقین مضبوط شوچه دوئ ﷺ دالله تعالی رشتیني رسول دي، حضرت عباس ﷺ اول نه هم د رسول الله ﷺ پوخ عقیدتمن ووخوشکونه ئې وو، چه الله تعالی په دغه وخت کښې پورته کړل، دوئ ﷺ په حقیقت کښې همدغې وخت نه مسلمانان شوخوچونکه دمکې دقریشوپه ذمه ددوئ ډیرزیات قرض وو، که دغه وخت ئې دمسلمانیدواعلان کړې وي نودغه قرض به ئې بیخي سوځیدلي وو، څکه ئې اعلان اونکړو اورسول الله ﷺ هم ددې حال چاته اونه وئیلو، دمکې دفتح کیدونه وړاندې هغوئ ﷺ درسول الله ﷺ نه مدینې منورې ته دهجرت کولواجازت اوغوښتو، خوهغوئ ﷺ ورته دغه وخت دهجرت مشوره ورنکړه،

په دې موقعه حضرت عباس ﷺ ته په آیت کښې وعده هم رسول الله ﷺ اوښوله، ورته ئې اوفرمائیل چه که تا ﷺ اسلام قبول کړو، اوپه اخلاص سره مؤمن شوې نوپه فدیه کښې دورکړې مال نه به درته الله تعالی زیات مال درکړي. چنانچه حضرت عباس ﷺ به داسلام راوړلونه پس فرمائیل چه زه خوددغې وعدې ښکاره ګیدل په خپلوسترګوداشان وینم چه مانه په فدیه کښې شل اوقیې سره زرواغستې شو، خواوس په دې وخت کښې م شل غلامان په مختلفو ځایونو کښې دتجارت کاروبارکوي په دې کښې دهریوغلام کاروباردشلوزرو درهمونه کم نه دې، اوپه مازیاتی فضل دا اوکړې شوچه حاجیانوته دابوځکولوخدمت هم ماته حواله شو، چه زماپه نزد دومره دعزت کاردې چه دټول اهلِ مکې مالونه هم ددې په مقابله کښې هیڅ ګنړم،

دبدردغزاپه قیدیانوکښې څنې خلق مسلمانان شوي ووخودخلقوپه زړونوکښې دا اندیښنه راتله چه هسې نه داخلق مکې ته په رسید وداسلام نه بیاواؤنه ړي، اومونږته نقصان راؤنه رسوی، الله تعالی دا اندیښنه په وروستې آیت کښې لرې کړه فرمائي: ﴿وَإِن يُرِيدُوا۟ خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ یعنی که داخلق تاسو ﷺ سره دټګئ کولواراده اولرئ نوپه دې سره به تاسوته هیڅ نقصان اونه رسیږي، داخوهم هغه خلق دي چه ددې نه وړاندې ئې الله تعالی سره خیانت کړیدي، یعنی د روز ازل دوعدې نه هم واوړیدل چه داټګی کول پخپله ددوئ دپاره مضرثابت شوچه په نتیجه کښې خوار، ذلیله اوبندیان شو، اوالله تعالی خودزړونوپه رازونوپوهیدونکې دلوئ حکمت خاوند دې، که داخلق اوس هم ستاسومخالفت کولوته ملاتړلي وي نودالله تعالی دقبضې نه بهر به چرته لاړنشي، هغه به ئې بیاهم راګیر کړي، په تیر

شوی آیت کښې آزادیدونکو قیدیانو ته د اسلام بلنه ورکول د مینې پیداکولو په اندازه کښې ورکړې شوې وو، اوس په دې آیت کښې د ویرولو په اندازه کښې خبرور کړې شو چه د دنیا او د آخرت ښیګړه مو په اسلام او ایمان باندې اړه لري.

تر دې پورې کفار و سره د جنګ جګړو، د هغوئ د قیدولو، آزادولو او هغوئ سره د صلح، مصالحت حکمونه بیانیدل، اوس په ورپسې آیتونو کښې د سورت تر ختمیدو پورې، د دې سلسلې دیو خاص باب ذکر او ددې د حکمونو څه تفصیل بیان شویدې، چه هغه د هجرت حکمونه دی، ځکه چه کفار و سره په مقابله کولو کښې کله داسې حالات هم راپیښیږي چه مسلمانان کفارو سره د جنګ کولو طاقت نه لري، کفار صلح کولو ته هم تیار نه وي، په داسې حالت کښې مسلمانانو د پاره یو اخیني لار د خلاصې هجرت کول دی، چه د غه ښار یا ملک پریږدي بل چرته تیکاؤ شي چرته چه په اسلامي حکمونو باندې په آزادۍ سره عمل کولې شي.

إِنَّ الَّذِينَ | آمَنُوا | وَهَاجَرُوا | وَجَاهَدُوا

ابیشکه هغه کسان اچې ایمان ئې قبول کړو ا او هجرت ئې اوکړو ا او جهاد ئې اوکړو

ابیشکه کومو کسانو چه ایمان راوړې دې او هجرت ئې کړې دې او په خپلو

بِأَمْوَالِهِمْ | وَأَنفُسِهِمْ | فِي سَبِيلِ اللَّهِ | وَالَّذِينَ

په مالونو خپلو سره ا او په نفسونو خپلو سره ا په لار د الله کښې ا او هغه کسان ا

مالونو او جانونو باندې ئې د الله په لار کښې جهاد کړې دې او هغه کسان چه [مهاجرینو مسلمانانو ته ئې]

آوَوا | وَّنَصَرُوا | أُولَٰئِكَ | بَعْضُهُمْ | أَوْلِيَاءُ | بَعْضٍ ۚ

چې ځاې ئې ورکړو ا او مدد ئې اوکړو ا دغه کسان اځینې د هغوئ ا دوستان دی ا د ځینو

ځاې ورکړې دې او [د هغوی] مدد ئې کړې دې انو دغه کسان په خپل مینځ کښې د یو بل دوستان دی

وَالَّذِينَ | آمَنُوا | وَلَمْ يُهَاجِرُوا | مَا | لَكُم | مِّن وَلَايَتِهِم

او هغه کسان اچې ایمان ئې راوړو ا او هجرت ئې اونه کړو انشته استاسو د پاره ا د دوستانې د هغوئ نه

او کومو کسانو چه ایمان راوړې دې [خو تر او سه پورې] هجرت ئې نه دې کړې ستاسو او د هغوی د ملګرتیا

مِّن شَيْءٍ | حَتَّىٰ | يُهَاجِرُوا ۚ | وَإِنِ | اسْتَنصَرُوكُمْ | فِي الدِّينِ

هیڅ ځیز اتر دې پورې اچې هغوئ هجرت اوکړي ا او که ا هغوئ مدد او غواړي ستاسو نه ا په دین کښې

هیڅ څه تعلق نشته تر دې چه دوی هجرت اوکړي ا [البته] که دوی ستاسو نه په دین کښې [د کافر خلاف]

فَعَلَيْكُمُ | النَّصْرُ | إِلَّا | عَلَىٰ قَوْمٍ | بَيْنَكُمْ | وَبَيْنَهُم

نو لازم دی په تاسو مدد کول امګر نه ا خلاف د هغه قوم اچې په منځ ستاسو ا او په منځ د هغوئ کښې

مدد او غواړي نو په تاسو باندې [د هغوی] مدد لازم دې مګر د هغه قوم خلاف [به تاسو هغوی سره مدد نه کوئ]

مِّيثَاقٌ ۗ | وَاللَّهُ | بِمَا | تَعْمَلُونَ | بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾ | وَالَّذِينَ | كَفَرُوا

معاهده وي ا او الله ا د هغه کارونو اچې کوئ ئې تاسو الیدونکې دې ا او هغه کسان ا چې کافران دی

چه ستاسو او د هغوی په مینځ کښې معاهده وي ا او الله ستاسو د عملونو لیدونکې دې ا او هغه کسان

Scanned with Ca

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ اِلَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ

خینې دهغوئ ا دوستان دی ا دخینو اکه اونۀ کړئ تاسو دا کارونه انو شی به افتنه ا

چه کفرئې کړې دي نوهغوی په خپل مینځ کښې د یوبل ملګرې دی که تاسو داسې اونکړئ

فِي الْاَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا

په زمکه کښې ا اوفساد ا لوئ اوهغه کسان اچی ایمان ئې راوړو ا اوهجرت ئې اوکړو ا

نوپه زمکه کښې به لوئې فساد جوړ شی ا اوهغه خلق چه ایمان ئې راوړې دي اوهجرت ئې کړې دي

وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا

اوجهاد ئې اوکړو ا په لاره دالله کښې ا اوهغه کسان اچی پناه ورکړه هغوئ ا اوامداد ئې اوکړو ا

اود الله په لار کښې ئې جهاد کړې دي اوهغه خلق چه [مهاجرینوته] ئې ځائې ورکړې دي او [هغوی سره ئې] امدد ئې کړې دي

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ

دغه کسان چی دی ا هم هغوئ مومنان دی ا په حقه ا د ه هغوئ لره ا ښښانه ا اورزق ا عزتمند

هم دغه خلق په رښتیا مؤمنان دی ا [د الله تعالی د طرفه] د دوی دپاره ښښنه او د عزت رزق دې

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ

اوهغه کسان اچی ایمان ئې راوړوا روستو ا اوهجرت ئې اوکړو ا اوجهاد ئې اوکړوا تاسو سره

اوکومو کسانو چه د دې نه پس ایمان راوړې دي اوهجرت ئې کړې دي اوستاسو [په ملګرتیا کښې ئې جهاد کړې دي]

فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى

نو دغه کسان ا ستاسو نه دی ا اوخاوندان دخپلولئ ا خینی دهغوئ ا زیات حقدار دی

نو دغه خلق هم ستاسو نه دی اخو دوینې خپلوان د الله تعالی په کتاب کښې د یو بل نه زیات

بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ

په خینونورو باندې ا په کتاب ا دالله کښې ا بیشکه الله ا په هرڅیز باندې ا ښه پوهه دې ا

حقدار دی ا بیشکه الله تعالی په هریو څیز باندې ښه پوهیږی

آسان ترجمه قرآن

کومو خلقو چه ایمان راوړې دې ، او هجرت ئې کړې دې ، او پخپلو ځانونو او مالونو ئې دالله په لاره کښې جهاد کړې دې هغه او ځا چه دوی (مدینه کښې) آباد کړې دي او دهغوی مدد ئې کړې دې دا ټول خپلو کښې د یَو بل وارثان دی او کومو خلقوچه ایمان راوړې دې (مکې) هجرت ئې نه دې کړې، ترڅوچه دوی هجرت نه وي کړې نو (اې مسلمانانو ا) ستاسو د هغوی سره د وراثت هیڅ رشته نشته خوکه د دین د وجې نه هغوی ستاسو نه مدد وغواړي نو تاسو باندې د هغوی مدد لازم دې ، سوا د هغه صورت نه چه دا مدد د هغه قوم خلاف وي چه ستاسو د هغوی سره معاهده وي او تاسو چه څه کوئ نو الله هغه وینې او کومو خلقو چه کفر کړې دې هغوی خپلو کښې د یو بل وارثان دي که تاسو داسې نه کوئ نو زمکه کښې به فتنه او لوئ فساد جوړ شي او ځا چه ایمان راوړو ، او هغوی هجرت وکړو ، او د الله په لاره کښې ئې جهاد

Scanned with Ca

وکړو ، او چا چه دوی آباد کړل او د دوی مدد ئې وکړو ، دا ټول په صحيح معنو کښې مؤمنان دي داسې خلق د بخښې او د عزت والا رزق مستحق دي او چا چه وروستو ايمان راوړو او هجرت ئې وکړو ، او تاسو سره ئې جهاد وکړو هغوی هم ستاسو نه دی. او (دوی نه) چه کوم خلق (دپخوانی مهاجرينو) خپلوان دي هغوی دالله په کتاب کښې د يو بل د (د ميراث د لورونه) زيات حقدار دي يقيناً الله په هر څه باندې ښه پوهيږی.

خلاصه تفسير

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ بيشکه کومو خلقو چې ايمان راوړو او هغوئ هجرت اوکړو او خپل مال و جان سره يې د الله ﷻ په لار کښې جهاد هم اوکړو [چې واقع کيدل ئې د هجرت د عادی لوازماتو وو اګر چې حکم دميراث ورلو پرې اړه نه لری ، اودا ټوله د مهاجرينو په لقب سره ياديږی] ﴿وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا﴾ او کومو خلقو چې [دې مهاجرينو ته د استوګنې ځائې ورکړو او [ددوئ] مدد ئې اوکړو [دا ډله د انصارو په لقب ياديږی] دا ﴿أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ [دواړه قسمه]خلق به يو تربله د يوبل وارثان وی ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا﴾ او چا چې ايمان خو قبول کړو او هجرت ئې اونه کړو﴿مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ﴾ ستاسو [يعني دمهاجرينو] دوئ سره د ميراث څه تعلق نشته [نه دوئ د هغوئ او نه هغوئ د دوئ وارثان دی] ﴿حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا﴾ تر څو چې هغوئ هجرت اونه کړی [اوکله چې هجرت اوکړی بيا به هغه هم په دې حکم کښې داخل شی] او [ګو چې ستاسو ترمينځه به يو بل نه ميراث اوړل نه وی ليکن] ﴿وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ﴾ که هغوئ ستاسو نه ددين په کار [يعنی کافرانو سره په جنګ کولو] کښې مدد غواړی ﴿فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾ نوستاسو په ذمه [دهغوئ] مدد کول واجب دی ﴿إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ﴾ مګر د هغه قوم په مقابله کښې نه چې ستاسو او دهغوئ تر مينځه وعده [دصلح] وی ﴿وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ او الله ﷻ ستاسو ټول کارونه ګوری [نو دهغه په ټاکلو حکمونو کښې په خلل اچولو سره دهغه دناخوښئ حقدار مه جوړيږی] او [څنګه چې ستاسو تر مينځه د ميراث وړولو تعلق دې دغه شان] ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ کوم خلق چې کافران دی هغوئ [هم] خپل مينځ کښې ديو بل وارثان دی [نه تاسو دهغوئ وارثان يئ اونه هغوئ ستاسو وارثان دی] ﴿إِلَّا تَفْعَلُوهُ﴾ که په دې باندې عمل نه کوئی [بلکه سره ددې چې دينونه مو بيل بيل وی اوخالص دخپلوئ په بنا باندې دمؤمن اوکافر تر مينځه دميراث اوړلو تعلق جاری لرئ] ﴿تَكُن فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ﴾ نو په دنيا کښې به لويه فتنه او لوئې فساد خوريږی [ولې چې يوبل نه د ميراث اوړلو په وجه به ټول يوه ډله ګڼړلې شی او هرکله چې بيله ډله جوړه نشی نو په دې شان د يوې ډلې په حيث اسلام ته طاقت او رعب نشی حاصليدې ، او الله دې نه کړی چې که اسلام په دې شان کمزورې شی نو هم دا ټول جهان د فتنې ، فساد باعث جوړيږی څنګه چې ښکاره ده] او [د مهاجرينو او انصارو ترمينځه د ميراث اوړلو حکم کښې اګر که ټول مهاجرين برابر دی خواه د هجرت نبوی ﷺ په زمانه کښې هغوئ هجرت کړې وی يا د هغې نه پس خو په فضيلت او مرتبه کښې فرق شته چنانچه] ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا﴾کوم خلق چې [اول] مسلمانان شو او هجرت ئې [دهجرت نبوی ﷺ په

Scanned with Ca

زمانه کښې] اوکړو او [اول سره ئې] ﴿وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ د الله ﷻ په لار کښې جهاد کولو ﴿وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا﴾ او کومو خلقو چې [دا مهاجرين په خپل ځائې دير کړل او د دوئ مدد ئې اوکړو ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا﴾ داخلق دايمان پوره حق اداکوؤنکی دی [ولې چې ددې حق داندې چې په قبلولو کښې ئې مخکښې والې اوکړی] ﴿لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ﴾ دوئ لره [په آخرت کښې] لويه بخښنه د ه او [په جنت کښې] ﴿وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ﴾ ډيره عزت منده روزی [مقرر] ده ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْۢ بَعْدُ﴾ او کومو خلقو چې [دهجرت نبوی نه] پس زمانه کښې ايمان راؤړو ﴿وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ﴾او هجرت ئې اوکړو اوتاسو سره ئې جهاد اوکړو [يعنی ټول کارونه ئې په روستوزمانه کښې اوکړل] ﴿فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ﴾نو داخلق [اګر چې ستاسو پشان فضيلت نه لری ليکن بيا هم] تاسو سره حسابيږی [ټول فضيلت ئې ستاسو په شان څکه نشی کيدې چې دعملونو په نسبت سره د فضيلت په درجو کښې فرق راځي ليکن د ميراث په حکمونو کښې به ټول ستاسو پشان څکه وی چې د عملونو په شرعی حکمونو کښې فرق نه راځي] او [دې روستنو مهاجرينو کښې] ﴿وَاُولُوا الْاَرْحَامِ﴾ چې کوم خلق [خپل مينځ کښې ياد وړاندينو مهاجرينو] خپلوان دی [اګر چې په غوره والی او مرتبه کښې کم وی ليکن د ميراث په اعتبار سره] ﴿بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللهِ﴾ د الله ﷻ په کتاب [يعنی شرعی حکم يا په آيت دميراث] کښې ديوبل [د ميراث په نسبت د پردو خلقو] زيات حقدار دی [اګر چې دغه پردی خلق په غوره والی او مرتبه کښې تر زيات وی] ﴿اِنَّ اللهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾ بيشکه الله ﷻ هر څيز ښه پيژنی [څکه دهر وخت دښيګړې مناسب حکم مقرر وی].

معارف اومسائل

دادسورت انفال آخری څلورآيتونه دی، په دې کښې اصل مقصد دهجرت هغه حکمونه دی چه دمهاجرينو مسلمانانو ميراث سره تعلق لری خو بل اړخ ته دغير مهاجرومسلمانانو اودغير مسلموبيان هم راغلې دې،

ددې حکمونو خلاصه داده چه کوموخلقو باندې شرعی حکمونه جاری کيږی، هغه په اول کښې دوه قسمه دی، ① مسلمانان ② کافران، بيا دغه وخت مسلمانان هم دوه قسمه وو،

① قسم هغه ووچه دمکې مکرمې نه ئې هغه وخت مدينې منورې ته هجرت کړې وو کله چه پرهجرت فرض شو، ② دويم قسم هغه مسلمانان ووچه دغه وخت ئې دڅه جائزعذرپه بنايا په څه وجه هجرت نه ووکړې شوې اوهم په مکه مکرمه کښې پاتې شوی وو. دادواړه مسلمانان او ددغې وخت کافران ټول خپل منځ کښې خپلوان هم وو، ولې چه دغه وخت به ئې پلار مسلمان خوئ کافر، خوئ مسلمان اوپلار به ئې کافروو، دغه حال دتره، وراره ماما، خورئی اونيکه، نمسي هم وو، مسلمانان که مهاجروواو که غير مهاجر ددوئ ترمنځه خپلوی خوښکاره خبره وه،

الله تعالی په خپل رحمت کامله اوحکمت بالغه سره ديومړی دپاتې شوی مال حقداران ئې دهغه نزدې خپلوان عزيزان ګرځولی دی، سره ددې چه دحقيقت له مخې ددنيا ټول مالونه دالله تعالی ملکيت دی، چاته ئې ورکړل چه هغه ئې ټول ژوند کښې استعمال کړی، فائده تر پورته کړی اوپه دې شان ئې دهغې عارضی مالک اوګرځولو، دعقل اوانصاف تقاضاداده چه دهرمړ کيدونکی دغه مال بيرته الله تعالی ته سپارلې شوې چه عملی صورت ئې په بيت المال

Scanned with Ca

کښې داخلول ووچه دټول مخلوق خداتربیت اوپالنه هم ددې په ذریعه کیدې شی، خوپه داسې کولوسره به دهرانسان طبعی جذباتو ته نقصان څکه رسید وچه یقین به ئې ووچه زماپاتې مال به نه زمااولادته ورکولې شی، نه به م مور، پلارپاښځې وغیره تـه ورکـولې شـی، نتیجه بـه ئې خامخاهم داوه چه دهیڅاطبیعـت بـه دانـه غوښتل چـه خپـل مـال زیـات کړی، حفاظـت ئې اوکړی، یاخواری اومحنت پکښې اوکړی، یواځې دخپل ضرورت په اندازه به ئې مال جمع کولو. په نتیجه کښې به ټول انسانان، ښارونه اوآبادئ تباه، برباداووران ویجاړشوی وو،

په دې وجه الله تعالی دمړی دمیراث حقداران دهغه خپلوان اوګرځول، خصوصاهغه خپلوان دکومې دفائدې دپاره چه هغه به مال جمع کولواوقسماقسم خوارئ اومحنتونه به ئې کول،

دې سره سره اسلام هغه اهم مقصدهم دمیراث په ویش کښې مخې ته کیښود کوم دپاره چه انسان پیداکړې شوې دې [یعنی دالله تعالی فرمانبرداری اوعبادت] اوددې په لحاظ سره ئې ټول انسانان دوه بیل بیل قومونه [مؤمنان اوکافران] اوګرځول لکه فرمائی:

﴿فَمِنۡكُمۡ كَافِرٞ وَمِنۡكُم مُّؤۡمِنٞ﴾(۱) دې دوه قومیزنظرئې، نسبی اوخاندانی تـار دمیراث ترحده پورې داسې پریکړل چه نه به مسلمان ته دکافرخپلوانو نه په میراث کښې څه برخه رسی اونه کافرو خپلوانو ته دمسلمان په میراث کښې څه برخه رسی، چنانچه په ړومبی دوؤآیتونو کښې همدغه مضمون بیان شویدې اودانه منسوخ کیدونکې تل دپاره حکم دې چه داسلام داولې زمانې نه شروع شوې اوتر قیامته پورې دوراثت اسلامی اصول دی،

دې سره بـل دمهاجرواوغیرمهاجرومسلمانانوترمنځه دمیـراث حکـم دې، ددې متعلق پـه ړومبی آیت کښې داښولی شویدی چه یومسلمان ترڅوپورې دمکې مکرمې نه هجرت اونکړی ترهغـې پـورې ئـې هجـرت کوونکومـسلمانانوسره دمیـراث اوړلوتعلـق هـم نـشته، نه بـه مهاجرمسلمان دغیرمهاجرمسلمان وارث ګرځی اونه به غیرمهاجرمسلمان دمهاجرمسلمان په میراث کښې څه برخه اغستې شی، ښکاره خبره ده چه داحکم ترهغې وختـه پـورې ووچه مکه مکرمه فتح شوې نه وه چنانچه دمکې مکرمې دفتح کیدونه پس رسول الله ﷺ پخپله اعلان کړې ووچه [لَاهِجۡرَةَ بَعۡدَ الۡفَتۡحِ] (۲) دمکې مکرمې دفتح کیدونه پس دهجرت حکم ختم شو] او کله چه دهجرت حکم ختم شونوهجرت نه کوونکوسره دبې تعلقئ سوال هم ختم شو،

په دې بنااکثرومفسرینو فرمائیلی دی چه داحکم دمکې مکرمې پـه فتح کیدوسره منسوخ شـویدې خودتحقیـق دخاوندانوپـه نزدهمیـشه دپـاره نامنـسوخ دې مګردحالاتوپـه جوړیـدل شویدې، دقرآن کریم دنازلیدوپه وخت په کوموحالاتو کښې چه داحکم راغلې ووکه بیاهم دغسې حالات چرتـه پیداشی نودغـه حکـم بـه هلتـه جاری شی. ددې زیـات وضاحت دادې چه دمکې مکرمې دفتح کیدونه وړاندې په هرمسلمان [نارینه، زنانه] هجرت کول فرضِ عین شوی وو، په دې حکم باندې دعمل کولوپه بنا، سوادڅومسلمانانونه ټولومسلمانانو مدینې منورې ته هجرت کړې وو، دمکې مکرمې نه هجرت نه کول دغه وخت ددې نخښه جوړه شوې وه چه دا مسلمان نه دې څکه به دغیرمهاجراسلام هم شکی وواوپه دې بِنادمهاجراوغیر مهاجر مسلمان ترمنځه دمیراث اوړلوسلسله هم بنده شوه،

---

(۱) ترجمه: اوهم هغه دے چه تاسو ټول ئې پیدا کړی نو بعضے په تاسو کښې کافران دی او بعضے په تاسو کښې مومنان دی۔

(۲) صحیح البخاری، کتاب الجهاد، باب فضل الجهاد والسیر: ج ۱، ص ۳۹۰

اوس که بیاهم په یوملک کښې داسې حالات پیداشي چه هلته اسلامي فرض اداکول بیخي نشي کیدې نودغه ملک نه به هجرت کول بیاهم فرض شي اوکه بې دڅه مضبوط عذر نه هجرت نه کول دکفرنخښه جوړه شي نوبیاهم دغه حکم جاري کیږي چه دمهاجراوغیرمهاجر مسلمان ترمنځه به دمیراث اوړلومزې هم اوشلیږي، دې تقریرنه داخبره په ډاګه شوه چه دمهاجر او غیرمهاجرمسلمان ترمنځه دمیراث اوړلومزې شلیدل هم هغه ړومبې حکم دې چه دمسلمان او کافرترمنځه دمیراث مزې شلولې شوې وو، فرق صرف دومره دې چه دکفرد نخښې د ګرځیدو په وجه په هجرت نه کولو سره دمیراث نه محرومه اوګرځولې شو، خودکفر حکم پرِاونشو، ترڅوچه کفرئې په ښکاره ډول ثابت نه شي،

اوغالباهم ددې مصلحت په بناد غیرمهاجرمسلمانانویوبل حکم دلته داسې بیان کړې شویدې چه که دوئ دمهاجرمسلمانانونه امداداوغواړي نومهاجرمسلمان به ده سره ضرور امداد کوي، دې نه معلوم شوچه غیرمهاجرمسلمانان بیخي په کافرانوکښې حساب نکړې شوبلکه دهغوئ دا اسلامي حق ئې په ځائ پریښوچه دضرورت په وخت ددهغوئ امدادکولې شي،

هرکله چه ددې آیت شانِ نزول دمکې مکرمې نه مدینې منورې ته هجرت کول دی، دغه وخت غیرمهاجرمسلمانان هم هغه ووکوم چه په مکه مکرمه کښې پاتې شوي وو اودغلته دکفارو په ګیره کښې وو، څکه داښکاره خبره ده چه دهغوئ امدادغوښتل به دکفارو په مقابله کښې وو، اوهرکله چه قرآن کریم دغه مسلمانانوسره دامدادکولوحکم ورکړونو په ظاهره ترِدا معلومیده چه په هرحال کښې دهرقوم دمقابلې دپاره دوئ سره امدادکول په مسلمانانو باندې لازم کړې شوي دي خواه ددغې قوم دجنګ بندئ لوظ مسلمانانوسره هم شوې وي حالانکه په اسلامي اصولوکښې، عدل اوانصاف کول اودلوظ قول پابندي کول یوه لویه ذمه داري ده، په دې آیت کښې دبیلتون داحکم هم بیان کړې شوچه مهاجرمسلمانان دپه هغه صورت کښې دغیر مهاجرو مسلمانانو امدادنه کوي چه دداسې قوم دمقابلې دپاره ئې غواړي چه مسلمانانوسره ئې دجنګ بندئ لوظ قول کړې وي،

دادړومبو دوؤ آیتونو دمضمون خلاصه ده اوس ئې الفاظوسره یوځائ کړئ اووې ګورئ: فرمائي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ کوموخلقوچه ایمان راؤړواوچاچه دالله تعالی دپاره خپل وطن، خپل خپلوان اوعزیزان پریښودل اودالله تعالی په لارکښې ئې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاداوکړو [په مال لګولوسره ئې سامانِ جنګ واغستواومیدانِ جنګ دپاره ئې خپل ځانونه پیش کړل، دې نه مراداولین مهاجرین دی] [وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ] اوهغه خلق چاچه داستوګنې ځائ ورکړواومددئې ورسره اوکړو [دې نه مراد د مدینې منورې انصاردی] ددې دواړوفریقوپه باره کښې ئې داارشاداوفرمائیلو چه دوئ په خپل منځ کښې دیوبل ولیان دی، بیائې اوفرمائیل چه [وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا] هغه خلق چه ایمان خوئ راؤړومګرهجرت ئې اونکړو، ستاسوهغوئ سره هیڅ تعلق نشته ترڅوچه هغوئ هجرت اونکړي،

دلته قرآن کریم د، ولی، او، ولایة، لفظ استعمال کړیدې چه اصلي معنی ئې دوستی اوژور تعلق لرل دی، حضرت ابن عباس رضي الله عنه، حسن رحمه الله قتاده رحمه الله مجاهد رحمه الله وغیره دتفسیر امامانو فرمائیلي دي چه دلته دولایة نه مراد دوراثت اودولي نه مراد وارث دې اوځنو حضراتو ترِد

،،ولاية،، لغوي معنى يعني دوستي اولاس امدادكول مراداغستي دي،

درومبی تفسیر په جوړ دآيت مطلب داشو چه مسلمانان مهاجرين رضي الله عنهم او انصار رضي الله عنهم به خپل منځ کښې ديوبل وارثان وي ددوئ دميراث تړون به دغير مسلم خلقو او هغه مسلمانانو سره نه وي چاچه هجرت نه وي کړې، ړومبې حکم يعني غير مسلمو سره د ميراث تړون ختميدل خو هميشه دپاره باقي پاتې شو اودويم حکم هغه وخت ختم شو کله چه مکه مکرمه فتح شوه، څنې فقهاؤ رحمهم الله تردادليل نيولې دې چه د دين په اختلاف سره دميراث تړون ختميږي دغه شان ددارينو په اختلاف سره دغه تړون ختميږي تفصيلي بحث دفقهې په کتابونو کښې ګورو

وړپسې فرمائي: ﴿وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ چاچه هجرت نه دې کړې اګرچه هغوئ سره دميراث تړون خو ختم شو خو بياهم مسلمانان دي که هغوئ دخپل دين دحفاظت دپاره دمهاجرو مسلمانانو نه مدد غواړي نو امداد ورکول په دوئ واجب دی خو عدل، انصاف اودلوظ، قول پابندي پريښول پکار نه دي، که هغوئ ديوداسې قوم په مقابله کښې تاسو نه امداداوغواړي کوم سره چه ستاسو لوظ قول [دجنګ نه کولو] شوېدې نو دغې قوم په مقابله کښې دغير مهاجرو مسلمانانو امدادکول هم جائز نه دی،

دصلح حديبئې په موقعه همدغه شان واقعه راپيښه شوه يعني څه وخت چه رسول الله ﷺ دمکې کفارو سره صلح اوکړه، اودصلح په شرطونو کښې داهم داخل وو چه دمکې مکرمې نه چه څوک مدينې منورې ته لاړ شي، هغه به رسول الله ﷺ واپس کوي، خاص ددغې صلح په وخت ابوجندل رضي الله عنه درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو دخپل مظلوميت داستان ئې بيان کړو او امدادئې تراوغوښتلو ولې چه هغه رضي الله عنه دغه وخت هم دمکې مکرمې دکفارو په قيد کښې وو قسما قسم تکليفونه به ئې ورکول بيائې په څه شان سره دغه ځائ ته ځان را رسولې وو، رحمة للعالمين ته به ددې څومره دردرسيدلې وي، څومره زړه به ئې پرِ سوځيدلې وي؟ بياهم ددې آيت دحکم مطابق ئې دهغه رضي الله عنه دامدادکولو نه عذر اوکړو او واپس ئې کړو،

په دې واپس کولو سره دټولو مسلمانانو زړونه هم خوږيدل خو رسول الله ﷺ دالله تعالى د ارشاد مطابق ګويا کښې مشاهده کوله چه اوس ددې ظلمونو کولو څه ډير وخت نه دې پاتې، ابوجندل رضي الله عنه ته دخوورخو دصبر ثواب نور هم ملاويدل دي، وړپسې به ډير زر مکه مکرمه فتح شي اوداټولې قيصې به ختمې شي،

په هرحال دقرآن کريم دارشاد مطابق رسول الله ﷺ دلوظ، قول پابندي کول دهغه رضي الله عنه دشخصي مصيبت نه غوره اوګڼړل، دادسلامي شريعت هغه امتيازي خصوصيت دې چه مسلمانان ئې په دنيا کښې دفتح، عزت اوپه آخرت کښې دکاميابئ مالکان ګرځولې دي، ورنه د دنيا حکومتونو خو دلوظ، قول اومعاهدو دنه عموما يوه لوبه جوړه کړيده چه څه وخت لرشان ښيګړه ورته ښکاره شي نو په قسما قسم تاويلونو کولو سره معاهده ختمه کړي اوددې الزام دنورو په سر راولي.

په دويم آيت کښې فرمائي: ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ﴾ او کافران خلق په خپل منځ کښې ديوبل وليان دي] ولي لفظ يوه عامه معنى لري ميراث اوړلو ته هم وئيلې شي اوپه معامله کښې دچااختيار او مشرئ کولو ته هم وئيلې شي څکه دې آيت نه معلومه شوه چه کافران به خپل منځ کښې ديو بل وارثان ګڼړلې شي، اودميراث تقسيمول به ددوئ دخپل مذهبي قانون په جوړ کولې شي، ديتيمانو، ماشومانو ولي اودجينکو دنکاح ولي به هم ددوئ خپل [کافر]

وی، خلاصه ئې داشوه چه په عائلي اوخانداني مسئلو کښې به د کافرو خپل مذهبي قانون په اسلامي حکومت کښې هم محفوظ لرلي شي،

په آخر د آيت کښې فرمائي ﴿اِلَّا تَفۡعَلُوۡهُ تَكُنۡ فِتۡنَةٌ فِى الۡاَرۡضِ وَفَسَادٌ كَبِيۡرٌ﴾ که تاسو داسې اونکړل نو په ټوله زمکه کښې به فتنه اولوئ فساد خورشي،

ددې جملې تعلق هغه ټولو حکمونو سره دې کوم چه ددې نه وړاندې بيان کړې شويدی، مثلا داچه مهاجرين او انصار خپل منځ کښې ديو بل وليان کيدل پکاردی چه يو کښې ديو بل امدادکول هم داخل دی، او ميراث اوړل هم ② بله داچه ددغه وخت د مهاجرو او غير مهاجرو مسلمانانو ترمنځه د ميراث اوړلو تعلق پاتې کيدل نه دی پکار، خو سره دځه شرطونو د امداد او تعاون تعلق د دوئ ترمنځه پاتې کيدل پکاردی، ③ دريمه داچه هرکله کفار په خپل منځ کښې ديو بل وليان دی نو دهغوئ دولی توب او ميراث اوړلو په قانون کښې د مسلمانانو دخل ورکول پکار نه دی. که په دې حکمونو باندې عمل اونکړې شو نو په زمکه کښې به فتنه اولوئ فساد خورشي، ددې خبرداری ورکولو غالبا او وجه کيدې شي چه دلته بيان شوی احکام، عدل، انصاف او امن عامه دپاره دبنيادی اصولو شان لری، ولې چه دې آيتونو کښې داواضح کړې شوچه خپل منځ کښې يو بل سره امداد کول او يو بل نه ميراث اوړل ځنګه چې په خپلوئ بنا کيږی، دغسې په مذهبي او ديني تعلق باندې هم اړه لری، بلکه نسبي تعلق نه ديني تعلق زيات غوره دې، همدغه وجه ده چې کافر د مسلمان او مسلمان د کافر وارث نشي کرځيدلې اګرچه د دوئ ترمنځه د پلار و لوئ او ځوئ ولئ خپلوی هم وی يا خپل منځ کښې رونړه خويندې وغيره وی، دې سره سره د مذهبي ضد، ضدائي [تعصب] د بنديزر او ستو دپاره داهدايت هم ورکړې شويدې چه مذهبي تړون اګرچه زيات مضبوط او قوی دې مګر د معاهدې [دلوظ، قول] پابندی کول دهغې نه هم وړاندې او غوره دی، د مذهبي تعصب په جوش کښې د معاهدې [الوظ قول] خلاف ورزی کول جائز نه دی، داشان داهم هدايت ورکړې شو چه کفار په خپل منځ کښې ديو بل وليان او وارثان دی دهغوئ په شخصي [ذاتي] ولی کيدو او وارث کيدو کښې دخل ورکول نه دی پکار، هسې خو دا ځو فرعی او جزئي حکمونه ښکاری مګر په حقيقت کښې ددنيا دامن دپاره دعدل او انصاف بهترين او جامع بنيادی اصول دی، هم په دې غرض دلته ددې حکمونو بيانولو نه پس په داسې الفاظو سره خبردارې ورکړې شو چه په عام ډول د نورو احکامو دپاره نه دې ورکړې شوې لکه وې فرمائيل چه: [که تاسو په دې حکمونو باندې عمل اونکړو نو په زمکه کښې به فتنه اولوئ فساد خورشي. په دې الفاظو کښې دې اړخ ته هم اشاره اوشوه چه دا حکمونه دفتنو او فسادونو په بندولو کښې خاص دخل او اثر لری،

په دريم آيت کښې دمکې مکرمې نه دهجرت کوونکو صحابه کرامو رضي الله عنهم او ددوئ د مدد کوونکو انصار مدينه تعريف او صفت بيان شويدې، داهم بيان شويدی چه دا صحابه کرام رضي الله عنهم سوچه مسلمانان دی او دوئ سره دبخښنې او دعزت دروزئ وعده بيان شويده لکه فرمائي ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ حَقًّا﴾ هم دا خلق سوچه او پاخه مسلمانان دی] په دې کښې اشاره دې خبرې ته هم اوشوه چه هجرت نه کوونکی مسلمانان اګرچه مسلمانان خودی خو دهغوئ اسلام کامل هم نه دې او يقيني هم نه دې ځکه چه هغوئ منافقان هم کيدې شی چه په ښکاره د مسلمانئ دعوی

Scanned with Ca

لري، وريسې فرمائي، ﴿لَهُم مَّغْفِرَةٌ﴾ دوئ دپاره بخښنه مقرره ده] لکه په صحيح احاديثو کښې راغلې دي،
اَلإسلامُ يَهدِمُ مَا كَانَ قَبلَهُ وَالهِجرَةُ تَهدِمُ مَا كَانَ قَبلَهَا، (۱)يعنې اسلام راوړل په ډيرو ډيرو [په کوړو کوړو] ګناهونه ختموي اودغه شان هجرت کول ټول کړي ګناهونه ختموي،
په څلورم آيت کښې دمهاجرينو دمختلفو درجو حکم داسې بيان شويدې چه يو قسم ړومبني [اولين] مهاجرين دي، چاچه دصلح حديبيې نه وړاندې هجرت کړې دې اوددويمې درجې مهاجرين هغه دي چه دصلح حديبيې نه روستوئې هجرت کړې دې په دې حساب به ددوئ دآخرت ددرجو ترمنځه هم فرق وي خودداړودنيوي حکم يوشان داسې دي چه دوئ ټول [دواړه قسمه] خپل منځ کښې ديوبل وارثان جوړيږي چنانچه مهاجرينوته خطاب فرمائي:
﴿فَأُولَٰئِكَ مِنكُمْ﴾ يعنې دغه ددويمې درجې مهاجرين هم ستاسو په ډله کښې شامل دي] په ميراث اوړلو کښې هم ددوئ حکم دعامو مهاجرينو پشان دې،
دادسورت انفال بلکل آخري آيت دې، ددې په آخر کښې دقانون دميراث يوټول اړخيزه ضابطه بيان کړې شويده، ددې په ذريعه هغه عارضي حکم منسوخ کړې شوکوم چه دهجرت په ابتداء کښې دمهاجرينو اوانصاروترمينځه په ذريعه ديوبل وارث جوړيدو په باره کښې جاري شوې وو، فرمائي: ﴿وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ﴾
په عربي ژبه کښې د ،،اولو،، لفظ دخاوند او صاحب په معنې کښې راځي،، اولوا العقل، دعقل خاوندانوته او اولوالامر، دحکم خاوندانوته وئيلې شي، د ،اولوالارحام، معنې شوه خپلوي لرونکي.ارحام د رحم، جمع ده چه معنې ئې بچه داني ده، هرکله چه خپلوي په رحم کښې دشريکيدو په وجه قائميږي.په دې وجه، اولو االارحام، خپلوانوته وئيلې شي،
دآيت معنې داشوه چه اګرکه ولايت عامه [عام ولي توب] ټول مسلمانان سره خپل منځ کښې لري چه ددې له کبله دضرورت په وخت کښې يوبل سره لاس امداد کول هم واجبيږي اود يوبل وارثان کيږي هم،ليکن کوم مسلمانان چه خپل منځ کښې نسبي خپلوي هم لري هغه د نورو مسلمانانو نه وړاندې دي.دلته د[﴿كِتَابِ اللَّهِ﴾ معنې [﴿حُكْمِ اللَّهِ﴾ده[يعنې داقانون الله تعالى په خپل حکم سره جوړ کړيدې،
دې آيت داضابطه اوښوله چه ميراث ويشل دخپلوئ په پيمانه پکاردي لفظ د ،[اولوالارحام مطلقاً] عامو خپلوانو دپاره استعماليږي، په دوئ کښې دخاصو خاصو خپلوانو برخې، قرآن پخپله په سورت نسآء، کښې ټاکلې دي چه دعلم ميراث په اصطلاح کښې ورته، اهل الفرائض، يا ،ذوي الفروض، وئيلې شي په دوئ باندې دويشلونه پس پاتې شوې ميراث به ددې آيت له مخې په نوروخپلوانوويشلې شي، اوداهم ښکاره خبره ده چه په ټولوخپلوانودچامال ويشل دچاپه وس کښې نه دي، ولې چه لرې خپلوي دټولو انسانانو ترمنځه څکه شته دې چه ټول ديوپلار، موراَدم عليه السلام اوحواء بي بي اولاددي، په دې بناد خپلوانوترمنځه دميراث ويشلوعملي صورت داهم کيدې شي چه نزدې خپلوان برخه مند، اولرې خپلوان بې برخې کړې شي څنګه چه درسول

---

۱) صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب كون الاسلام يهدم ما قبله وكذا الهجرة: ج ۱، ص ۷۶

الله ﷺ په احاديثو کښې ئې داسې بيان راغلې دې چه ذوی الفروضو ته دبرخو ورکولو نه پس پاتې شوې ميراث به په عصبؤ [دپلار په اولاد] درجه په درجه ويشلې شی نزدې عصبه به ړومبې کړې شی اولرې عصبه به ددوئ په مقابله کښې بې برخې کړې شی،

که په عصبؤ کښې هيڅوک هم ژوندې نه وو، هله به په نورو خپلوانو باندې ميراث ويشلې شی دعصبؤنه علاوه نورو تپولو خپلوانو ته دعلم ميراث په خاص اصطلاح کښې، ذوی الارحام، وئيلې شی، دا اصطلاح روستو مقرر کړې شويده ځکه چه په قرآن کريم کښې لفظ د، اولوالارحام، د لغوی معنی په اعتبار سره ټولو خپلوانو له شامل دې، خواه ذوی الفروض وی که عصبه وی او که ذوی الارحام وی،

بيا دې څه تفصيل دسورتِ نساء په آيتونو کښې راغلو، دخاصو خاصو خپلوانو برخې، الله تعالی پخپله مقرر کړې، کوموته چه دميراث په اصطلاح کښې ذوی الفروض وئيلې شی او د نورو خپلوانو په باره کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل:

الحقوا الفرائض بأهلها فما بقي فهو لأولى رجل ذكر [بخاری] (۱)

[يعنی دچا برخې چه قرآن کريم مقرر کړې دی هغوئ ته چه پوره ورکړې شی او بيا هم دميراث مال پاتې شی هغه دداسې خلقوته ورکړې شی چه مړی ته زيات نزدې نارينه وی]

دوئ ته دميراث په اصطلاح کښې عصبه وئيلې شی که ديوسړی هيڅوک عصبه موجود نه وی نو درسول الله ﷺ دارشاد مطابق بيانو ورخپلوانو ته هم ورکولې شی کوموته چه په اصطلاح دميراث کښې، ذوی الارحام، وئيلې شی لکه ماما او ترور [دمورخور] وغيره شو،

دسورتِ انفال ددې آخری آيت په آخری جملې سره داسلامی وراثت هغه قانون منسوخ شو کوم چه په وړاندينو آيتونو کښې داشان بيان شويدې چه مهاجرين او انصار هم ديو بل نه ميراث اوړې شی اګر چه ددوئ ترمنځه څه خپلوی نه وی، ولې چه دهجرت په ابتداء کښې دې دپاره هنګامی حکم جاری شوې وو،

سورةِ انفال ختم شو، الله تعالی دمونږ ته پردې پوهيد و او دعمل توفيق راکړی آمين،

تمت سورة الانفال بعون الله تعالى وحمده ليلة الخميس لثماني وعشرين من جمادى الاخرى ۱۳۸۱هـ

واسأل الله تعالى التوفيق والعون في تفسير سورة التوبة ولله الحمد أول وآخره،

محمد شفيع عفى عنه

وتم النظر الثاني عليه يوم الجمعة لتسعة عشر من جمادي الاولى ۱۳۹۰ هـ والحمد الله على ذلك،

دالله تعالی په فضل او احسان سره دسورتِ انفال پښتو ترجمه ختمه شوه

الله تعالی نه سوال کوم چه پاتې ټولې ترجمې کولو کښې راسره امداد اوکړی

الله تعالی له هروخت ډيره ثناو شکريه ده،

---

(۱) صحيح البخاری، کتاب الفرائض، باب ميراث الولد من أبيه وأمه: ج ۲، ص ۹۹۷

Scanned with Ca

رکوع گاني	سورة التوبة مدنية وهي مائة وتسع وعشرون اية وستة عشر ركوعا	اياتونه
⑯		⑫⑨

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ

بيزاري ده | دطرفه دالله نه | اودرسول دهغه نه | هغه کسانوته | چې وعده ورسره کړې ده تاسو |

دالله او د هغه د رسول د طرفه د مشرکانو هغه کسانو ته د بيزارۍ اعلان دې چه تاسو ورسره معاهده

مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝١ فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْٓا

د مشرکانونه | نواوګرځئ تاسو | په زمکه کښې | څلورمياشتې | اوپوهه شئ

کړې ده انو په زمکه [د حره] کښې څلور مياشتې [نور] اوګرځئ او په دې باندې پوهه شئ چه تاسو

اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي الْكٰفِرِيْنَ ۝٢

چې بيشکه تاسو | نهٔ يئ عاجزه کونکی دالله | او بيشکه الله | رسواکونکې دې | دکافرانو |

الله تعالٰی لره عاجزه کولې نشئ [چه د هغه نه به بچ شئ] او [په دې پوهه شئ چه] الله تعالٰی دکافرانو رسوا کونکې دې

وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ

اواعلان دې | دطرفه دالله نه | اودرسول دهغه نه | خلقو ته | په ورځ دحج اکبر

اودالله تعالٰی اودهغه د رسول صلی الله عليه وسلم دطرفه د حج اکبر په ورځ خلقو ته دا اعلان دې چه

الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِيْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ وَرَسُوْلُهٗ ۭ فَاِنْ تُبْتُمْ

په دې خبره | چې بيشکه الله | ويزاره دې | دمشرکانونه | اورسول د هغه هم | نو که توبه اوويسته تاسو

الله تعالٰی او دهغه رسول د مشرکانو نه بيزاره دې انو که تاسو [دخپل شرک او کفر نه] توبه اوويستله

فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ

نو هغه | ابهتره ده | اتاسو دپاره | او که مخ واړوو تاسو | نو پوهه شئ | چې بيشکه تاسو

نو دغه [توبه ويستل] به ستاسو دپاره ډيره ښه وی | اوکه تاسو [د توبې ويستلونه] ډډه اوکړه انو پوهه شئ چه تاسو

غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ۭ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٣

نهٔ يئ عاجزه کونکی دالله | اوزيرې ورکړه | هغه کسانو ته | چې انکار ئې کړې دې | په عذاب | دردناک سره

الله تعالٰی عاجزه کولې نشئ [چه دهغه نه به بچ شئ] اوهغه کسانوته چه کفر ئې کړې دې د درد ناک عذاب زيرې ورکړه

اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ثُمَّ لَمْ

بغير | دهغه کسانونه | چې تاسو وعده کړې وه دهغوئ سره | دمشرکانونه | بيائې نهٔ دې کړې

خو هغه کسان [دجنګ نه بچ دی] چه په مشرکانو کښې ئې تاسو سره معاهده کړې وی او [دمعاهدې

يَنْقُصُوْكُمْ شَيْـًٔا وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا عَلَيْكُمْ اَحَدًا فَاَتِمُّوْٓا

کمې تاسو سره | هيڅ قدرله | اونهٔ ئې مدد کړې دې | ستاسو خلاف | دهيچا سره | انوپوره کړئ |

کولونه پس ئې] تاسو سره هيڅ څه کمې نه وی کړې اونه ئې ستاسو خلاف چاته مدد ورکړې وی نو د داسې

Scanned with Ca

اِلَیۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ اِلٰى مُدَّتِهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُتَّقِيۡنَ ۝

هغوئ سره | وعده د هغوئ | دنيتي دهغوئ پورې | بيشکه الله | خوښوی | پرهيزګاران |

خلقو سره د هغوی معاهده د هغوی د نیتې پورې پوره کړئ بیشکه الله د معاهدو ماتولونه خان ساتونکي کسان خوښوی

فَاِذَا انۡسَلَخَ الۡاَشۡهُرُ الۡحُرُمُ فَاقۡتُلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ حَيۡثُ

نوهرکله چې | تيرې شی | مياشتې | حرامې | انوقتل کړئ | مشرکان | هرځائې کښې چې

کله چه معززې میاشتې تیرې شی نوچه په کوم ځائې کښې مشرکان بیا مومئ نوهغوی قتلوئ

وَجَدۡتُّمُوۡهُمۡ وَخُذُوۡهُمۡ وَاحۡصُرُوۡهُمۡ وَاقۡعُدُوۡا لَهُمۡ

بيامومئ تاسو هغوئ لره | اونيسئ هغوئ | اوقيديان کړئ هغوئ | اوکينئ | هغوئ ته

اودوی نیسئ او قیدیان کوئ ئې او په هره مورچه [د دوی د مقابلې دپاره] کينئ

كُلَّ مَرۡصَدٍ ۚ فَاِنۡ تَابُوۡا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا

دګيريدو په ځائې کښې | انو که چرې | توبه اوويسته هغوئ | اوقائم ئې کړو مونځ | اوورئې کړو

نوکه دوی [د شرک نه] توبه ویستله او مونځ [د شریعت دتعلیماتومطابق] قائموی او زکاة ورکوی

الزَّكٰوةَ فَخَلُّوۡا سَبِيۡلَهُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝

زکاة | انو خالی کړئ | لاره دهغوئ | بيشکه الله | بښونکې | مهربانه دې |

نود دوی لار پريږدئ [څه تعرض ورته مکوئ] بیشکه الله بښونکې اومهربان دې

آسان ترجمه قرآن

(مسلمانانو!) دا د الله او د هغه د رسول دطرف نه د پاکېکاټ اعلان دې د هغه ټولو مشرکانو خلاف چه تاسو هغوی سره معاهده کړې ده نو (اې مشرکانو!) تاسو ته څلورو میاشتو پورې اجازت دې چه تاسو (د عربو) په زمکه کښې آزادئ سره وګرځئ. او په دې خبره پوهه شئ چه الله لره تاسو نهٔ شئ عاجزه کولې. او په دې خبره هم پوهه شئ چه الله اوس کافرانو لره رسوا کونکې دې او دحج اکبر په ورځ بانديې دالله اود هغه د رسول دطرف نه ټولو انسانانو ته دا اعلان کولې شي چه الله د مشرکانو نه بیزاره دې، اود هغه رسول هم. اوس (اې مشرکانو!) که تاسو توبه وباسئ نو دا ستاسو په حق کښې بهتره ده او که تاسو (اوس هم) مخ واړولو نو یاد ساتئ چه تاسو الله لره نه شئ عاجزه کولې. او ټولو کافرانو لره د یو دردناک عذاب خبرې ورکړه البته (مسلمانانو!) چه کومو مشرکانو سره تاسو وعده کړې ده. بیا هغوی تاسو سره وعده کښې څه کوتاهي نه ده کړې او ستاسو خلاف ئې د چا مدد هم نه دې کړې، هغوی سره د دغه شوې معاهدې موده پوره کړئ بې شکه الله احتیاط کونکو سره محبت کوې پس چه کله د عزت والا میاشتې تیرې شي نو دې مشرکانولره (چه هغوی تاسو سره وعده خلافي کړې ده) کوم ځائې هم چه وموم‍ئ نو ووژنئ. او ونیسئ ئې اوګير ئې کړئ. او دوی لره د نیولو د پاره هر یوه مورچه کښې کينئ خو که دوی توبه وباسی او د مونځ پابندي کوي او زکوٰة ورکوي نو د هغوی لاره پريږدئ — یقیناً الله ډیر بخونکې ډیر مهربانه دې.

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ دالله ﷻ دطرفنه او دهغه د رسول ﷺ د طرفنه دهغې مشرکانو [دوعدې] نه لاس اخستل دی چاسره چې تاسو [دمیعاد تاکلو نه بغیر] وعده کړې وه [او دا د دریمې ډلې حکم دې ددې ډلو تفصیل په معاف اومسائل کښې را روان دې] او [دڅلورمې هغې ډلې حکم ترې هم په ښه شان سره معلوم شو چې چا سره ستاسو هیڅ وعده ،قول نه وو، یعنی چې کله دهغې خلقو نه امان پورته شو چا سره چې وعده شوې وه نو چا سره چې د سره وعده نه وه شوې هغوئ کښې خو اول د سره د امن څه احتمال نشته] نو [دغې دواړو ډلو ته خبر ورکړئ چې] ﴿فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ﴾ تاسو خلق په دې زمکه کښې څلور میاشتې اوګرځئ راوګرځئ [په دې غرض درته اجازت دې چې خپله موقعه او پناه اولټوئ] ﴿وَّاعْلَمُوْٓا﴾ او [دې سره] په دې [هم] ځان پوهه کړئ چې [ددې مهلت په برکت یوازې د مسلمانانو دلاسه بچ کیدې شئ لیکن] ﴿اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ﴾ تاسو الله ﷻ نه شئ عاجزه کولې [چې دهغه د ګرفت نه به ګنی اووتې شئ] او په دې [هم پوهه شئ] ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي الْكٰفِرِيْنَ﴾ چې بیشکه الله ﷻ به [آخرت کښې] کافران رسوا کوی [یعنی عذاب به ورکوی. آزاد ګرځیدل ئې دې نه نشی بچ کولې په دنیا کښې د وژلو احتمال ئې بیله خبره ده په دې کښې ئې توبې ته شوق پیدا کول دی] او [د روميئ ډلې حکم دادې چې] ﴿وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ﴾ د الله ﷻ اود هغه درسول ﷺ د طرفنه د حج په تاریخونو کښې دعامو خلقو په مخکښې اعلان کولې شی ﴿اَنَّ اللّٰهَ بَرِيْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَرَسُوْلُهٗ﴾ چې الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ دواړه [دڅه نیټې تاکلو نه بغیر اوس هم] لاس اخلی ، دې مشرکانو [ته د امن ورکولو نه [چا چې پخپله وعده خلافی کړې ده مراد ترې روميئ ډله ده مګر] بیا [هم دوئ ته وئیلې شی چې] ﴿فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ که تاسو [دکفر نه] توبه اوکړئ نو دا تاسو لره [په دواړو جهانونو کښې] غوره دی [په دنیا کښې خوځکه چې ستاسو وعده خلافی کول به معاف کړې شی او د وژلو نه بهٔ بچ شئ او ښکاره خبره ده چې په آخرت کښې به خلاص یئ] ﴿وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ﴾ او که تاسو مخ واړولو ﴿فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ﴾ نو دا یقین لرئ چې تاسو به الله ﷻ عاجز نه کړې شئ [چې بهر وتلو سره به چرته اوتښتئ] او [الله ﷻ د عاجز کولو نه دبې وسئ تفسیر دادې چې] ﴿وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾ دې کافرانو ته د یوې دردناکې سزا خبر ورکړه [چې آخرت کښې به ورکولې شی چې یقیني ده او د دنیا احتمالی سزا به بیله وی ، مطلب دا شو که مخ اړوی نو سزا به بیا مومئ] ﴿اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ مګر هغه مشرکان دې [امان پورته کولو او لاس اخستلو] لاندې نه راځی چا نه چې تاسو لوظ واخستو ، ﴿ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ شَيْـًٔا﴾ بیاهغوئ [په لوظ سرته رسولو کښې] تاسو سره لږ کمې اونه کړو ﴿وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا عَلَيْكُمْ اَحَدًا﴾ اونه ئې ستاسو په مقابله کښې [ستاسو] دچا [دښمن] مدد اوکړو [دې نه مراد دویمه ډله ده] ﴿فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ اِلٰى مُدَّتِهِمْ﴾ نو ددوئ لوظ ددوئ د [مقرر] مودې پورې سرته اورسوئ [او بې لوظی څکه مه کوئ چې] ﴿اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ﴾ واقعی الله ﷻ [دبې لوظئ نه] احتیاط کوونکو لره خوښوی [که تاسو احتیاط کوئ نو د الله ﷻ په نزد به تاسو هم په خوښو خلقو کښې راشئ ، وریسې اولې ډلې دحکم تتمه ده

Scanned with Ca

چې] هر کله دوئ ته هیڅ مهلت ورکول نشته نو اګر چې دوئ سره دجنګ کولو ګنجائش کیدې شو خو د محرم ترختمیدو پورې میاشتو حرامو کښې جنګ کول بند دی] نو[ددې د تیریدلو انتظار اوکړئی او] ﴿فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ﴾ کله چې میاشتې حرامې تیرې شی نو[دغه وخت] ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ﴾ دامشرکان [یعنی اوله ډله ئې] چې چرته بیا مومئ وې ﴿وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ﴾ وې نیسئ ترئ او د ښارنې په ځایونو کښې د دوئ په ګت کښې کینئ [یعنی په جنګ کښې چې څه څه کیدې شی دهغې ټولو اجازت دې] ﴿فَإِن تَابُوا﴾ بیا که دوئ [د کفرنه] توبه کړی او[د اسلام کارونو کولو ته را واوړی لکه] ﴿وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ﴾ مونځونه کول شروع کړی ، زکوة ورکوی ﴿فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ﴾ نو ددوئ لار پریږدئ [یعنی وژل اوبندول ئې څکه مه کوئی چې] ﴿إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ واقعی الله ﷻ لوئې بخښونکې ، لوئې رحم کوونکې دې [څکه ئې ددأسې کس کفر او بخښلو او ددوئ ځان ئې بچ کړو او هم دا حکم به د نورې ټولې ډلې وی کله ئې چې نیتې تیرې شی].

معارف اومسائل

داشروع کیدونکې سورت ① براءت سورت توبه هم نومیږی، څکه چه دې کښې دکفارونه د ① براءت [ویزارئ] اودمسلماتانود ② توبې قبلیدوبیان دې [مظهری][1] ددې سورت خصوصیت دادې چه یواځې ددې سورت په اول سرکښې بسم الله نشې لیکلې اودقرآن کریم د نورو ټولو سورتونو په سرکښې بسم الله لیکلې شی، وجه ئې داده چه قرآن کریم په درویشت کاله کښې په وار وار نازل شوې دې، په دې شان دهرسورت آیتونه به هم په واروارنازلیدل، دالله تعالی دحکم مطابق به وحی رارسولوسره داهم ښودلې شوچه داآیت فلانی آیت پسې لګول دی اوهم دهغې په جوړیه رسول الله ﷺ وحی لیکونکوته دهغې دلیکلو هدایت کولو. په دې ډول به چه یو سورت ختم شونودبل سورت په شروع کښې به بسم الله نازلیده، سورة توبه دټولونه آخری نازلیدونکې سورتونو کښې دې، ددې په اول کښې بسم الله نازله نه شوه اودوحی لیکونکوته رسول الله ﷺ هم ددې دلیکلوهدایت اونکړو اوهم په دې حال کښې هغوئ ﷺ وفات شو، دقرآن جمع کوونکی حضرت عثمان غنی ؓ چه دخپل خلافت په زمانه کښې قرآن کریم راغونډ کړو نوصرف دسورة توبه په شروع کښې بسم الله نه وه، هغوئ ؓ سره دا اندیښنه پیداشوه چه که داځان له مستقل سورت نه وی نوبیادبل کوم سورت برخه کیدې شی، مضامینوته ئې چه اوکتل نودسورت انفال مضمونونوسره ئې سمون اوجوړښت خوړلو څکه ئې هم دې سورت پسې هم ددې دبرخې په حیثیت اولګولو،

حضرت عثمان غنی ؓنه په یوروایت کښې داهم راغلی دی چه درسول الله ﷺ په ژوند مبارک کښې به دې دواړوسورتونو [سورة انفال اوسورة توبه] ته قرینتین [دوه یوځائ] سورتونه وئیلې کیدل [مظهری][2] په دې وجه دا د سورة انفال نه پس راؤړلې شو. دا احتیاط په وجه اوکړې شو چې که د بل سورة حصه وی نو هغې سره نه دې پکار ، مګر احتمال دا هم وو چې جدا مستقل سورة وی ، په دې وجه په لیکلو کښې دا صورت اختیار کړې شو چې د سورة

[1]) التفسیر المظهری فی ابتداء سورة التوبة: ج۴، ص۱۳۱
[2]) حاشیه التفسیر المظهری فی ابتداء سورة التوبة: ج۱، ص۱۳۱، وکنز العمال رقم الحدیث: ۴۷۷۱

Scanned with Ca

انفال په ختمیدو او د سورة توبه د شروع کیدو ځخه مخکښي ځه خالی ځائ پرینبودلي شی لکه ځنګه چي عامو سورتونو کښي بسم الله دپاره ځائ وی.

دسورت توبه په شروع کښي دبسم الله نه لیکلو دا تحقیق پخپله دجامع قرآن حضرت عثمان غنی رضي الله عنه نه په ابي داؤد، نسائی، مسند امام احمد رحمه الله او ترمذی کښي، دمفسر قرآن حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دیو سوال په جواب کښي منقول دی، دغه سوال کښي دا هم راغلی وو چه، هرکله دقرآن کریم دسورتونو ترتیب داسي اینبودلي شوي دي چه اول هغه سورتونه کیښودني شو کوم کښي چه دسلونه بره آیتونه دی او په اصطلاح کښي ورته مئین وئیلي شی ورپسي هغه لوئ سورتونه کیښوي شو چه دسلونه کم آیتونه لری او مثانی نومیږی ورپسي هغه سورتونه کیښودلي شو چه مفصلات ورته وئیلي شی، ددي ترتیب په لحاظ پکار داؤ چه سورت انفال دسورت توبي نه روستو کیښوي شی ځکه چه دسورت توبه آیتونه د [۱۰۰] سلونه زیات او سورت انفال آیتونه د [۱۰۰] سلونه کم دی، دغه شان داول سرپه [۷] اؤوا وږدو [سبع طوال] سورتونو کښي دسورة انفال په ځائ سورة توبه اینبول زیات مناسب دی، بیا ځه وجه ده چه سورة انفال ړومبي اوسورة توبه ورپسي کیښوي شو؟

حضرت عثمان غنی رضي الله عنه اوفرمائیل چه دا ټولي خبري صحیح دی لیکن دقرآن کریم په معامله کښي داحتیاط نه کار واغستلي شوولي که سورت توبه مستقل سورت نه وی بلکه دسورت انفال برخه وی نو دا خو ښکاره خبره ده چه دسورت انفال آیتونه ړومبي نازل شویدی او دسورت توبه آیتونه تر روستو نازل شویدی ځکه ئي دسورت انفال په آیتونو باندي وړاندي کول بغیر دوحی نه روانه دی، اودوحی له مخي مونږ ته دغسي ځه هدایت نه دي کړي شوي، ځکه سورت انفال وړاندي اوسورت توبه روستو کړي شو، ([1])

ددي تحقیق نه معلومه شوه چي د سورة توبه په شروع کښي د بسم الله نه لیکلو وجه دا ده چي ددي خبري احتمال شته دي چه سورت توبه دځان له سورت نه بلکه دسورت انفال جزوی ځکه به ددي په سر کښي بسم الله لیکل داسي نادرسته وی ځنګه چه دسورت په منځ کښي ئي لیکل نادرسته وی،

په دي بنا فقهاؤ صاحبانو رحمهم الله فرمائیلی دی چه ځوک دسورت انفال تلاوت کوی اوختم ئي کړی ورپسي سورت توبه شروع کوی نو بسم الله دنه وائی البته که ځوک دسورة توبه اول سریا دمنځ نه تلاوت شروع کوی نو بسم الله لوستل پکار دی. ځني ناواقفه خلق وائی چه په سورت براءت کښي بسم الله لوستل هډو جائز نه دی، دا یو غلطی ده او بله غلطی پردپاسه دا هم کیدي شی چه ددي سورت په اول سر کښي خلق، أعوذ بالله من النار الخ، وائی، چه هیڅ ثبوت ئي درسول الله ﷺ او دصحابه کرامو رضي الله عنهم نه نشته،

او دحضرت علی رضي الله عنه نه چه دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روایت منقول دی چه دسورت براءت په اول سر کښي بسم الله لوستل ځکه نشته چه په دي کښي کفارو سره دکړی لوظ، قول ختمیدل بیان شویدی او بسم الله الرحمن الرحیم. امان، ([2]) دي نو دا یو داسي لطیفه او باریکه نقطه

---

[1]) سنن ابي داود، كتاب الصلاة، باب من جهرها (البسملة) ج ۱، ص ۱۱۳، وجامع الترمذي، أبواب التفسير، باب سورة التوبة: ج ۲، ص ۱۳۹، ومسند أحمد رقم الحديث: ۵۰۹، مسند عثمان بن عفان رضي الله عنه۔

[2]) المستدرک للحاکم، باب تفسير سورة التوبة رقم الحديث: ۳۳۲۱

Scanned with Ca

ده چه اصلي سبب سره بې سمونه نه ده يعني اصلي سبب خوئې دا ووچه سورت براءت دسورت انفال يوه برخه کيدې شي چه هرکله په دې سورت کښې کفارونه ويزاره کيدل او امان ترپورته کيدل بيان شويدی ځکه ئې په اول سر کښې بسم الله ليکل مناسب نه شو چه دبسم الله دنه ليکلوپه تکويني اسبابو کښې حسابيږي،

دسورت توبه ددغه آيتونو په پوره مطلب باندې دځان پوه کولو دپاره په هغه واقعاتو باندې ځان پوهول ضروري دی دکوموپه وجه چه داآيتونه نازل شويدی، چنانچه اوس ددې واقعاتو لنډ تفصيل ليکلې شي

① په پوره سورة توبه کښې د څو غزواتو او ددې متعلق د واقعاتو او ددې په ضمن کښې د ډيرو احکامو او مسائلو بيان شوې دې. لکه د عربو ټولو قبيلو سره معاهدې ختمول. فتح مکه ، غزوهٔ حنين ، غزوهٔ تبوک ، دې واقعاتو کښې فتح مکه ټولو څخه وړاندې په کال اتمه هجرئ کښې بيا غزوهٔ حنين هم په دې کال کښې ، بيا غزوهٔ تبوک په رجب کال اوومه هجرئ کښې ، بيا د عربو ټولو قبيلو سره د معاهدو د ختمولو اعلان په ذی الحجه کال نهمه هجرئ کښې اوشو.

② نبذ عهد يعنی دلوظونوختمولومتعلق چې کوم مضمونونه په دې آيتونو کښې بيان شويدی د هغې خلاصه ئې داده چه په شپږمه هجرئ کښې رسول الله ﷺ دعمرې په اراده تشريف يوړو نودمکې قريشودننه مکې ته پرې نښودو. او د حديبيه په مقام باندې يې دوئ سره صلح اوشوه.دروح المعانی په مطابق ددې صلح ميعادلس کاله وو.([1])مکه کښې دقريشونه علاوه نورې قبيلې هم وې، دصلح يوه دفعه داهم وه چه د قريشو څخه علاوه نورو قبائلو کښې چې د چا خوښه وی هغوئ دې د قريشو حليف او ملګری جوړ شي او چې د چا خوښه وی هغوئ دې د رسول کريم ﷺ حليف جوړ شی .په دې بنابنوخزاعه قبيلې رسول الله ﷺسره لوظ قول اوکړو او دوئ سره شو. اوبنوبکرقبيله قريشوسره شوه. ددې معاهدې مطابق دا لازمی وو چې لسو کالو پورې به دغه ټولې ډلې به خپل منځ کښې جنګ نه کوی اوڼه به بل چاسره په جنګ کولو کښې مددورکوی، او چې کومه قبيله چا سره ده هغوئ هم پدې شرط کښې داخل دی.
چې په هغوئ حمله کول يا حمله کوؤنکی سره مدد کول به د معاهدې خلاف ورزوی وی.
دالوظ،قول [دحديبيې] په [۶هـ] کښې اوشوپه راتلونکی کال [۷هـ] کښې رسول الله ﷺ دعمرې قضاراؤرلودپاره مکې مکرمې ته تشريف يوړو ،درې ورځې هلته تيکاؤشواوددغه لوظ، قول په جوړېيارا واپس شو ،تردغه وخته پورې دهيڅ يوفريق د اړخه دلوظ،قول هيڅ خلاف ورزی نه وه شوې،دې نه پس چه پنځه مياشتې تيرې شوې نوبنوبکرقبيلې په بنی خزاعه قبيلې باندې دشپې چپاؤ اوکړو، قريشو هم بنی بکرقبيلې ته دځوانانو اووسلې امدادپه دې خيال ورکړوچه رسول الله ﷺ ډيرلرې دې،دشپې ددې واقعې تفصيلات ورته وررسيدل مشکل دی،ددې حالاتو او واقعاتو مطابق چې هغوئ لره بالاخر قريشوپخپله هم اومنله دصلح لوظ، قول مات شو ،په صلح حديبيه کښې دلسوکالوشوې جنګ بندې ختمه شوه.بنوخزاعه قبيلې رسول الله ﷺپه دې ځکه خبر کړوچه حليفان ئې وو ،دقريشوپه دې لوظ ماتولو سره

[1]) روح المعانی، تفسير سورة الفتح: ج ۱۱، ص ۲۲۴

Scanned with Ca

هغوئ ﷺ دقریشو په خلاف، دجنګ تیارئ په پټه شروع کړو،
د بدر احد او احزاب په غزاګانو کښې قریشو دالیدلي ووچه مسلمانانو سره غیبي او خدائي طاقت هم ملګرې دی ځکه ئې نشه اوغرورمات شوې وو، ددې عهد شکنئ په وجه ورسره دمسلمانانو دا ړخه دجنګ خطره پیدا شوې وه، رسول الله ﷺ د اطلاع رسیدلو باوجود په دې باندې مکمل خاموش پاتې کیدلو سره دا خطره نوره هم زیاته شوه، ځکه ئې اباسفیان مدینې منورې ته اولیږلو چه په جاج اغستو سره ئې درسول الله ﷺ اړخه دجنګ خطره که بیاموندله، نو په تیره شوې واقعه دورته عذرپیش کړی او معاهده [لوظ، قول] ددنوی سره تازه کړی،
ابو سفیان مدینې منورې ته په وررسید ود مسلمانانو دجنګئ تیارئ په اندازپوه شو، نو وارخطا شو، هریو مشر صحابي ته ځان ځان له ورغې ورته ئې خواست اوکړوچه رسول الله ﷺ ته ددمعاهدې دنوې کولو سفارش اوکړی، خوتولو ددوئ قریشو دناکړدو او تریخو معاملاتو په وجه دسفارش کولونه انکار اوکړو، په دې شان ابوسفیان نامرادواپس راغې اوپه قریش مکه باندې ویره غالبه شوه. بل خوا رسول الله ﷺ دبدایه، او، ابن کثیر درروایت مطابق په، ۱۰ رمضان [۸هـ] مدینې منورې نه سره دګڼرو صحابه کرامو ﷺ مکې مکرمې ته کوچ اوکړو، په مکه مکرمه ئې چپاؤ اوکړو او آخرئې فتح کړه، (۱)

دفتح مکه په موقعه راګیرکړودښمنانو سره بې مثله ښه سلوک کول: ددغې فتح په موقعه د قریشو ډیر سرداران چه ړومبې نه ئې داسلام دحقوالي یقین لرلو خودخپل قام قبیلې دویرې ئې اسلام نشو قبولولې، هغوئ هم اسلام راؤړلو اوځوک چه بیاهم په خپل کفرباندې ټینګ پاتې شو سوا د یو څو کسانو نه ورته رسول الله ﷺ دسرومال امان ورکولو سره دخپلو پیغمبری اومعجزانه اخلاقو هغه ثبوت ورکړوچه دنور هیچاپه باره کښې ئې خیال هم نشي کیدې، ددوئ ټول کړی ظلمونه دښمنئ اوبې رحمئ ئې بیخي شاته اوغورځولې اووې فرمائیل چه، زه په نن تاسو ته هم هغه خبره کوم کومه چه یوسف ﷺ خپلوورونړوته هغه وخت کړې وه چه سره دوالدینو دحضرت یوسف ﷺ خواته مصر ته رارسیدلی وو، وې فرمائیل:
لَاتَثْرِیْبَ عَلَیْکُمُ الْیَوْمَ [ستاسو دزور، ظلم بدله اغستل یاځه سزا درکول خو لاځه کوئ مونږ ستاسو ملامته کول هم نه خوښوؤ]

دفتح مکه په موقعه دکفارو اومشرکانو څلور قسمونه اودهغې احکام: هرکله چه دمکې مکرمې دفتح کیدو په وجه پرِد مسلمانانو پوره قبضه اوشوه، دمکې اودخواشاؤغیر مسلمو خلقو ته دسرومال امان ورکړې شو دغه وخت دغیر مسلمو څو قسمونه وو،
① یو قسم هغه خلق ووچه دصلح حدیبئ خلاف ورزی ئې کړې وه اوپخپله ئې هغه ماته کړه اوپه نتیجه کښې ئې مکه مکرمه فتح شوه،
② دویم قسم هغه خلق ووچه تریوې خاصې نیټې پورې ورسره لوظ پاتې شوې وو او په هغې ټینګ پاتې شولکه دبني کنانه، دوه قبیلې بني ضمره. اوبني مدلج شوچه تریوې خاصې نیټې پورې ورسره صلح شوې وه اودسورت براءت دنازلیدو په وخت دخازن په قول په دغه نیټه کښې ⑨ نهه میاشتې پاتې وې،

---
۱) البداية والبهاية: ج ۴، ص ۲۲۶، والتفسير ابن كثير تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۱۱۲

Scanned with Ca

③ دریم قسم هغه خلق ووچه صلح ورسره شوې وه خو خاص نیتیه پکښې ورسره نه وه ایښوې شوې، ④ څلورم قسم هغه خلق ووچه هیڅ قسم معاهده اولوظ، قول ورسره نه ووشوې،
دمکې مکرمې دفتح کیدونه وړاندې څومره مشرکانو یااهل کتابو سره چې درسول الله ﷺ معاهده شوې وه دهغې تجربه داسې شوې وه چه هرځل هغوئ په ښکاره اوپه پټه لوظونه مات کړی وو، دښمنانو سره ئې سازباز کړې ووترڅپله وسه ئې رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته دنقصان رسولو کوششونه کړی وو، ددې تجربوپه بنیاد هغوئ ﷺ دخدائی اشاروپه مطابق دافیصله اوکړه چه بیا به هیڅ قسم کافرانو ددې ځائ سره دصلح معاهده نشې کولې اوجزیرة العرب به د اسلامی قلاپه حیث یواځې مسلمانانو دپاره مخصوص کړې شی ددې تقاضا داوه چه په مکه مکرمه اوجزیرة العرب باندې دقبضې راوستوسره سمدستی دا اعلان شوې ووچه غیر مسلم خلق دټول ددې ځائ نه بل خوا لاړشی لیکن داسلامی اصولو، داسلامی عدل اوانصاف د رحیمانه سلوک اودرحمة للعالمین دعام رحمت له مخې بې دځه نیتې ورکولونه دغسې کول مناسب نه وو، په دې بِناد سورتِ براءت په شروع کښې ددې څلورقسمه غیر مسلموخلقوبیل بیل حکمونه نازل شو،

① ړومبی خلق د مکې هغه قریش ووچه پخپله ئې صلح حدیبیه ماته کړه، دوئ داحق نه لرلوچه نوره ډیل ورکړې شی، خو اوس د [اشهرِحرم] زمانه وه په کوموکښې دالله تعالی له طرفه جنګ کول منع شوی وو نو ددوئ په باره کښې دسورة توبه دپنځم آیت داحکم نازل شو، ﴿فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ﴾ حاصل ئې داشوچه داخلق دهیڅ قسم رعایت کولو حقدار ځکه نه دی چه په مخه ئې لوظونه، صلح اوجنګ بندئ ماتې کړیدی، خود [اشهرحرم] لحاظ ساتل ضروری دی په دې وجه د [اشهرحرم] په ختمید وسره د ① سمدستی دجزیرة العرب نه ووځی، ② مسلمانان دشی ③ ګنی جنګ به ورسره کولې شی،

② دویم قسم هغه کافرانَ خلق ووچه یوې خاصې نیتې پورې ورسره صلح شوې وه اوهغوئ ټینګ ووځه وراني ئې نه ووکړې، ددوئ حکم دسورة توبه په څلورم آیت کښې داسې راغلی دی ﴿إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾ [یعنی کوموم مشرکانو چه تاسوسره دصلح لوظ اوکړو بیائې په دې لوظ باندې ټینګ پاتې کید وکښې هیڅ کمی اونکړه اونه ئې ستاسوپه مقابله کښې ستاسودیو دښمن مدد اوکړو نوتاسوورسره دغه لوظ ترڅپلې مودې پورې پوره کړئ، ولې چه الله تعالی احتیاط کوونکی خوښوی] داحکم دبنی ضمره اوبنی مدلج ووچه ددې له مخې ورته [۹] نهه میاشتې ډیل ملاؤشو،

د ③ دریمې او ④ څلورمې ډلې دواړوهم یوحکم راغلوکوم چه دسورة توبه په ړومبی او دویم آیت کښې داشان راغلې دی،
﴿بَرَاءَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ۝ فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ۙ وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ ۝﴾ دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ له اړخه دهغه مشرکانو نه دلاس اغستواعلان دی کوموسره چه تاسومعاهده کړې وه، نوتاسوخلق په دغه سرزمین کښې څلورمیاشتې اوګرځئ راؤګرځئ او په دې ځان پوه کړئ چه تاسوالله تعالی لره نشئ عاجزکولې اوداچه بیشکه الله

Scanned with Ca

تعالی به کافرانو لره رسوا کوي] غرض دا چه دړومبی او دویم آیت له مخې هغه ټولو کافرانو خلقو ته دڅلورو میاشتو ډیل ورکړې شو کوم سره چه دیوې خاصې نیتې پورې لوظ، قول شوې وو، یا ورسره بیخی څه لوظ، قول نه وو شوې،

دڅلورم آیت له مخې هغه کافرانو خلقو ته دنیتې دختمیدو پورې ډیل ورکړې شو چا سره چه تریوې خاصې نیتې پورې لوظ شوې وو، دپنځم آیت له مخې مشرکانو دمکې ته د، اشهرحرم، دختمیدو پورې ډیل ورکړې شو،

کفاروسره دامهرباني اوکړې شوه چه سره دنیتې ختمیدوهم ورته ډیل ورکړې شو؟ ددې حکمونو جاري کیدل او ډیل شروع کیدل دهغه وخت نه تجویز شو چه ددې اعلان په ټولو عربو کښې اوکړې شو ددې عام اعلان کولو انتظام داسې اوشو چه دنهمې هجرئ دحج په ورځو کښې دمنی او عرفات په عامو اجتماعاتو کښې ددې اعلان اوکړې شی چه ذکرئې دسورة توبه په دریم آیت کښې داسې راغلي دي ﴿وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِيْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ وَرَسُوْلُهٗ ؕ فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْۤا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ﴾ [یعنی دعامو خلقو په وړاندې عام اعلان دې دالله تعالی او دهغه درسول ﷺ له اړخه دلوئ حج په تاریخونو کښې ددې خبرې چه الله تعالی او رسول ئې دواړه، لاس اخلی دمشرکانو نه، بیا موکه توبه اوکړه نو تاسو دپاره ډیرغوره دی او که تاسو مخ واړولو نو پوه دې ځان پوه کړئ چه خدائ تعالی به عاجز نکړې شئ او دې کافرانو ته دیودردناک عذاب خبرواوروه]

کفاروسره چه معاهده ختمه کړې شي نو دعام اعلان کولواوټولولره دخبردارکولواوهوښیارولو نه بغیردهغوئ خلاف څه عمل کول درست نه دي: چنانچه دالله تعالی په دې حکم باندې دعمل کولو په خاطر د[۹ ها] په حج کښې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او علی المرتضی رضی الله عنه لره رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته په دې غرض اولیږل چه هلته دعرفات او منی په میدانونو کښې دا اعلان اوکړي چرته به چه دعربو ټول قبائل راجمع کیدل، ولې چه هم ددې لوئ ټولنې په ذریعه ټولو عربو ته ددې حکم رسیدل لازمی وو، سره ددې نه دزیات احتیاط په غرض دحضرت علی رضی الله عنه په ذریعه په یمن کښې هم ددې خصوصی اعلان اوکړې شو،

ددې اعلان له مخې پکار دا وو چه دمکې مشرکان دد [اشهرحرم، [یعنی دمحرم [۱۰ ها] په ختمیدو ددغې حدودونه بهرته په کده لاړشي، دویم قسم کافران دد [۱۰ ها] درمضان شریف په ختمیدو اودریم، څلورم قسم کافران دد [۱۰ ها] ربیع الثانی په ختمیدو سره دغې حدودونه بهر ته کوچ اوکړي، څوک چه په دې عمل اونکړي هغوئ سره به جنګ کولې شی، په داسې شان به دراتلونکی کال دحج ترزمانې پورې هیڅوک کافران په دغې حدودو کښې ټیکاؤ پاتې نشی چه بیان ئې دسورة توبه په اته ویشتم آیت کښې راروان دې فرمائی ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ﴾ یعنی دموجوده کال نه پس به دا خلق دمسجد حرام خواته نشی ورتلې] چنانچه درسول الله ﷺ ددې ارشاد: لَا يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ،[1] مطلب هم دغه دې په دې شان دسورة توبه داولنو پنځو آیتونو تفسیر دواقعاتو په رڼا کښې مخې ته راغلو،

---

[1] صحیح البخاری، کتاب التفسیر سورة التوبة، باب قوله تعالی الا الذین عٰهدتم من المشرکین: ج ۲، ص ۶۷۱

ددې پنځوآيتونو په باره کښې څوښتلي اوفائدې: ① رومبې داچه دمکې مکرمې دفتح نه پس دمکې قريشواونوروږدښمنوقبيلوسره دمعاف کولودهغوئ په بدودخپې رابنکلواودرحم وکرم کوم سلوک چه اوکړې شوپه دې سره مسلمانانوته عملي ډول درس ورکړې شوچه کله ستاسودښمن ستاسوپه قابوکښې راشي، ستاسوپه وړاندې بې وسه اوپاتې راشي، نوهغوئ نه د تيرو شوؤ دښمنو اوضرر رسولوبدله مه اخلئ بلکه دمعاف کولواومهربانئ نه کاراخلئ اود اسلامي اخلاقو ثبوت ورکوئ، اګرچه په داسې کولوسره طبعي جذبات ترېښولاندې کول دی خوپه دې کښې څوغټې فائدې شته، يوفائده خپل ځان دپاره داده چه په بدلې اغستوسره اګرچه غصه سړه شي، فوري طوررزړه ته څه آرام حاصل شي، خودابياهم فناکيدونکې دې، ددې په مقابله کښې هغه څه کول ددې نه په هرشان زيات اودائيمي دی په کوموسره چه د الله تعالى رضا او د جنت لوړې درجې ملاويږي، دعقل تقاضاهم داده چه دائيمي څيزونه دفاني څيزونونه زيات غوره اوګنړلي شي. ② دوئيمه داچه په دښمن باندې دقابوموندلونه پس دخپلې غصې جذبات قابوکول ددې ثبوت دې چه ددوئ جنګ دخپلوځانونودپاره نه بلکه خالص د الله تعالى دپاره وو، اودا هغه اعلى مقصددې چه د اسلامي جهاداودعامو بادشاهانوپه جنګ کښې بيلتون ښکاره کوي، مطلب داچه کوم جنګ د الله تعالى درضا حاصلولو اودهغه داحکاموجاري کولودپاره وي هغه جهاددې ورنه فساد،
③ دريمه فائده ئې داده چه کله دښمن په قابوکښې راشي، ماتې اوخوري اودمسلمانانو غوره اخلاق ويني ګوري نودشرافت تقاضاداده چه اسلام اومسلمانانوسره به ئې مينه پيدا کيږي کومه چه دکاميابئ کنجي ده اوهم دغه دجهاداصلي مقصددې،

دکفارومعاف کول اوبه بدوئي خپه رابنکل دامعنی نه لري چه ګڼې ددوئ دضررنه دځان ساتلو انتظام ډهم نشي کولې: ④ ددې آيتونونه دوئيمه دامسئله معلومه شوه چه دعفواو کرم دامعنی نه ده چه ګڼې ددښمن دشرم نه د خپل حفاظت هم نه کوي اودوئ دداسې آزاد پريږدي چه په مخه مسلمانانوته ضررونه اونقصانونه رسوي بلکه دعفواوکرم کولوسره دعقل تقاضاداده چه د تيرو شوؤتجربونه آئنده ژوند دپاره سبق حاصل کړي اوهغه تولې رکاوټونه بندې کړي دکومونه چه دوئ پخپله ددښمنانوپه ګټ کښې راتلې شي، په دې وجه درسول الله ﷺ حکيمانه ارشاد دې چه، لَايُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ مَرَّتَيْنِ،(¹) يعني عقلمند انسان ديوسوري نه دوه کرته نشي چيچلې کيدې] مطلب داچه يوځل يوانسان لره ديوسوري نه زهرجن څيز [مار، لړم وغيره] اوچيچي هغې ته دوباره لاس نه وراوړي،
په [۹هـ] کښې دقرآن کريم دااعلان کول چه الله اورسول ﷺ ئې دمشرکانونه ويزاره دي حرم شريف دحدودوخالي کولودپاره په ډيل اواطمينان سره دخالي کولوهدايت ورکول ددې حکمت عملي ثبوتونه دی،
⑤ دسورة توبه دشروع دآيتونونه ③ دريمه فائده دامعلومه شوه چه کمزوروقومونوته بې دځه ډيل ورکولونه داحکم ورکول چه فلانی ځائ ته اوځئ، ياپرېه يوځل حمله کول بزدلي او غير شريفانه فعل [کار] دې، کله چه دداسې کولواراده وی نورومبې عام اعلان کول پکار وي، اوښه

---

¹) صحيح البخاري، کتاب الادب، باب لا يلدغ المومن...الخ: ج ۲، ص ۹۰۵

پوره مهلت ورکول پکاردی که هغوئ زمونږ قانون نه منی نو په آزادئ او آسانئ هلته لاړشي چرته چه تلل غواړي، څنګه چه په دې آيتونو کښې د [۹هـ] دعام اعلان او هغې نه پس تولو ډلونه ډيل ورکولو د حکمونونه چه واضح شو.

④ ددې آيتونو څخه څلورمه مسئله دا معلومه شوه چې که د يو قوم سره د معاهدې کولو نه پس د ميعاد څخه وړاندې وړاندې د هغه معاهدې د ختمولو ضرورت راپيښ شي نو اګر چې په څو شرطونو سره دهغې دختمولو اجازت شته دې ، خو بهتره داده چې هغه معاهده دې تر ختمېدو ميعاده [وخته] پورې اورسولې شي . لکه څنګه چې په سورۂ توبه کښې په څلورم آيت مبارك کښې بنو ضمره او بنو مدلج سره د معاهدې دپوره کولو حکم راغلې دې .

⑤ پنځمه مسئله ددې آيتونونه دا معلومه شوه چه دښمنانو سره په هره معامله کښې دا خيال لرل پکاردی چه دمسلمانانو دښمنی دهغوئ دذات سره نه بلکه دهغوئ د کافرانونه عقيدو او خيالاتو سره ده چې هم دهغوئ دپاره ددنيا او دآخرت دتباهئ اسباب دی، چنانچه دمسلمانانو مخالفت ورسره کول په حقيقت کښې هم دهغوئ په همدردئ او خيرخواهئ بانديې بنادی، لهذا دجنګ او صلح په هرصورت کښې هغوئ ته نصيحت کول او خيرخواهئ په غرض ئې پوهول په هيڅ وخت کښې پريښول نه دې پکار، څنګه چه په دې دريؤ آيتونو کښې ځائ په ځائ ددې بيان راغلې دې چه که تاسو دخپلو خيالاتونه توبه کړه نو دا ستاسو دپاره ددنيا او آخرت خلاصې او کاميابی ده،

دې سره ئې داهم اوښودل چه که توبه مو اونکړه نو يوا ځې دانه ده چه په دنيا کښې به تاسو وژلې يا لوټلې شئ څنګه چه ديو قومی کارنامې په حيث ئې خلق اختياروی بلکه په دې هم ځان پوه کړئ چه دمرګ نه پس به هم دعذاب نه خلاصې بيانه مومئ، په دې آيتونو کښې دويزارئ د اعلان سره سره په همدردئ سره دهغوئ دپوهولو سلسله هم جاری ده،

⑥ شپږمه مسئله داده چه په څلورم آيت کښې مسلمانانوته دصلح دنيتې ترپوره کيدو پورې په لوظ بانديې دپوره عمل کولو ښودنه کړې شويده او ددې سره يې آيت په دې جملې [﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾ بيشکه الله تعالى احتياط کوونکی خوښوی] بانديې ختم کړو دې سره اشاره او کړې شوه چه په معاهده پوره کولو کښې ډير احتياط نه کار اخلئ، دعامو قومونو پشان پکښې دتاويلونو او چلونو او پستو په ذريعه دخلاف ورزئ کولو لارې کودرې مه لټوئ،

⑦ دپنځم آيت دتفصيلونونه اوومه مسئله دا معلومه شوه چه هرکله ديو صحيح مقصد دپاره ديو قوم سره جنګ جوړشي نو دهغوئ په مقابله کښې هرقسم قوت په پوره ډول استعمالول پکاردی، دغه وخت رحمدلی يا نرمی کول په حقيقت کښې بزدلی وی،

⑧ هم دپنځم آيت نه [۸] اتمه مسئله دا ثابته شوه چه ديو غيرمسلم په مسلمانيدو بانديې اعتبار کول په درې خبرواره لری، ① يو په توبه، ② دويم په مونځ قائمولو ③ دريم په زکوة ورکولو، يعنی څو پورې چه په دې دريؤ خبرونې عمل نه وی نو صرف دکلمې په وئيلو سره جنګ مه بندوئ، چنانچه درسول الله ﷺ دوفات نه پس کوم خلقو چه دزکوة ورکولونه انکار کړې وو، دهغوئ په مقابله کښې ابوبکر ؓ دجهاد کولو دپاره هم په دې آيت شريف سره دليل اونيولو او دټولو صحابه کرامو ؓ اطمينان ئې راوستو،

Scanned with Ca

⑨ په دې آیتونو کښې نهمه مسئله دا راغلې ده چه ﴿يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ﴾ نه څه مراد دی، چنانچه په دې کښې دمفسرینو مختلف قولونه راغلی دی، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فارق اعظم رضي الله عنه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما او نورو حضراتو فرمائیلی دی چه، ﴿يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ﴾ نه مراد د عرفې ورځ ده ځنګه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، اَلْحَجُّ عَرَفَةُ، [ابوداؤد، ترمذی] ([1])

او ځنې حضراتو تر دلوئ اختر ورځ مراد اغستې ده چه د ذی الحجې د میاشتې لسم تاریخ جوړیږی، حضرت سفیان ثوری رحمه الله او ځنې نورو امامانو رحمهم الله د دې ټولو قولونو راجمع کولو په خاطر فرمائیلی دی چه د دې نه مراد دلوئ اختر پنځه واړه ورځې مراد دی، [یعنی عرفه، دلوئ اختر ورځ او ورپسې درې ورځې ایام تشریق] دلته د دې ټولو ورځو د پاره د، یوم مفرد لفظ راوړل د قرآنی محاورو مطابق دی لکه د بدر د غزا څو ورځو ته چه قرآن کریم، یوم الفرقان، فرمائیلی دی، دغه شان د عربو عام جنګونه هم په، یوم، سره ذکر کولې شی اګرچه په هغې باندې ډیره موده او ورځې تیرې شوی وی لکه چه، یوم بعاث، یوم احد، وغیره وئیلې شی،

حج ته، حج اکبر، د عمرې په مقابله کښې وئیلې شویدی ځکه چه عمره په، حج اصغر، سره یادیږی، په دې بِنا په قرآنی اصطلاح کښې د هر کال حج ته، حج اکبر، وئیلې شی. عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چه په کوم کال عرفه د جمعې په ورځ راشی هغې ته، حج اکبر، وئیلې شی، د هغې اصلیت نشته، د ومره قدرې خبره ده چه د رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقعه عرفه د جمعې مبارکې په ورځ راغلې وه، عرفه د جمعې مبارکې په ورځ راتلل په خپل ځائ باندې غوروالې او ضرورلری مګر د آیت د بیان شوی سره ئې هیڅ تړون نشته،

امام جصاص په، احکام القرآن، کښې فرمائیلی دی چه هر کله د حج ورځو ته، حج اکبر، او وئیلې شونو د امسئله تر را او وته چه د حج په دغې پنځو ورځو کښې عمره ځکه نشی کیدې چه قرآن کریم دا ورځې، حج اکبر، د پاره مخصوص کړیدی، ([2])

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ
او که یو کس ا د
او که د مشرکانو نه
الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ
مشرکانو نه طلب د امان او کړی ستانه ا نو امان ورکره هغه ته ا تردې ا چی واوری ا کلام د الله ا بیا
یو کس ستا نه پناه او غوښتله [چه ما ته امن راکره] نو پناه ورکره هغه ته تردې چه د الله تعالی کلام واوری او بیا ئې
أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ⑥
اورسوه هغه ا ځائې د امن د هغه ته ا دا کار ا په سبب د دې چی دوئ ا یو قوم دی ا چی علم نه لری ا
خپل د امن ځائې ته اورسوه دا [پناه ورته ځکه ورکوه] چه دوی داسې قوم دې چه نه پوهیږی

[1]) جامع الترمذی، أبواب الحج، باب ما جاء فیمن أدرک الامام ــــ الخ: ج۱، ص۱۷۸، وسنن ابی داود، کتاب المناسک باب یوم الحج الاکبر: ج۱، ص۲۶۸

[2]) أحکام القرآن للجصاص سورة البراءة: ج۲، ص۲۲۷

Scanned with Ca

كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ اِلَّا

څه رنګ | به وی | دپاره دمشرکانو | وعده | په نز دالله | او په نز درسول دهغه | مګر

د الله او د هغه د رسول سره په کړې د مشرکانو په معاهده باندې څه اعتبار نشته | البته کوم کسان

الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ فَمَا

هغه کسان | چې وعده کړې وه تاسو دهغوئ سره | په خوا دمسجد حرام کښې | نو تر څو چې

چه د مسجد حرام سره نزدې ورسره تاسو معاهده کړې وی | نو چه تر څو پورې دوی

اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا لَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

نیغ چلیږی هغوئ | ستاسو سره په وعده کښې | تاسو هم نیغ چلیږئ | دهغوئ سره | بیشکه الله

په خپله معاهده ټینګ وی او هغه ئې نه وی ماته کړې نو تاسو هم په خپله معاهده هغوی سره ټینګ اوسیږئ او بیشکه الله

يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝ كَيْفَ وَاِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ

خوښوی | متقیان خلق | څرنګ به وی | حال دا چې که چرې | غلبه بیا مومی هغوئ | په تاسو باندې

بیشکه الله تعالی پرهیزګاران خوښوی | دوی به څنګه تاسو سره په معاهده باندې ټینګ پاتې شی که دوی په تاسو باندې

لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ۭ يُرْضُوْنَكُمْ

لحاظ نه کوی هغوئ | په حق ستاسو کښې | دخپلولئ | او نه دوعدې دذمه وارئ | هغوئ رضا کوی تاسو

غالب شی نو ستاسو د خپلولئ او د معاهدې هیڅ پرواه نه ساتی دوی [په ظاهری خبرو] تاسو راضی

بِاَفْوَاهِهِمْ وَتَاْبٰى قُلُوْبُهُمْ ۚ وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝ اِشْتَرَوْا

په خلو خپلو سره | او انکار کوی از ړونه دهغوئ | او زیات خلق دهغوئ | فاسقان دی | واغستو هغوئ

کوی خو د دوی زړونه [ستاسو د راضی کولو نه] انکار کوی او په دوی کښې زیات خلق نافران دی دوی

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ اِنَّهُمْ

په بدله د آیتونو د الله کښې | قیمت لږ | او منع کوی خلق | د لارې دالله نه | بیشکه هغوئ چې دی

د الله تعالی په آیاتونو باندې [د دنیا] لږ قیمت اخلی او [خلق] د الله د لارې نه منع کوی بیشکه دوی

سَاۗءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا

| ډیر بد دې | هغه | چې وو هغوئ | چې کول به ئې | نه کوی لحاظ هغوئ | په حق د مومن کښې | دخپلولئ

چه کوم عمل کوی هغه ډیر بد دې دوی د یو مؤمن په حقله د خپلوئ او معاهده هیڅ پرواه نه ساتی

وَّلَا ذِمَّةً ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝ فَاِنْ تَابُوْا

او نه دوعدې دذمه وارئ | او دا کسان | هم دوئ | ازیاتې کونکی دی | نو که چرې | توبه او ویسته هغوئ

او هم دا [چه نه د خپلولئ خیال ساتی او نه د معاهدې] دحد نه تیریدونکی دی نو که دوی توبه ویستله

وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ۭ

او قائم ئې کړو مونځ | او ورئې کړو زکاة | نو رونړه ستاسو دی | په دین کښې

او مونځ قائموی او زکاة ورکوی نو دا [خلق] ستاسو دینی [اسلامی] رونړه دی او دوی سره د رونړو سلوک کوئ!

Scanned with Ca

وَنُفَصِّلُ	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ۝
اوواضحه بیانوومونږ	آیتونه	دپاره دهغه قوم	چې پوهیږي
اومونږ د هغه قوم دپاره په تفصیل سره آیاتونه بیانوو څوک چه پوهیږي			

آسان ترجمه قرآن

اوکه د مشرکانو نه یو کس ستا نه پناه غواړي نو ده ته هغه وخته پورې پناه ورکړه تر دې چه دې دالله کلام واوري بیا دې د امن ځای ته ورسوه دا دې وجې نه چه دا داسې خلق دي چه دوی نه پوهیږي دي مشرکانو سره دالله او د هغه د رسول معاهده څنګه باقي پاتې کیدې شي؟ خو کومو خلقو سره چه تاسو مسجد حرام کښې معاهده کړې ده. نو که دوی تاسو سره ټینګ پاتې شي نو تاسو ورسره هم ټینګ پاتې شئ بې شکه الله متقیانو لره خوښوي ﴿لیکن نورو مشرکانوسره﴾ څنګه معاهده باقي پاتې کیدې شي حال دا چه د دوی حال دادې چه که په تاسو باندې غالب شي نو ستاسو په معامله کښې نه دخپلولۍ لحاظ کوي اونه د معاهدې؟ دوی تاسو لره په خوله باندې خوشحالوي حال دا چه د دوی زړونه انکارکوي اودوي کښې اکثر خلق نافرمانه دي، دوي دالله د آیتونوپه بدله کښې ﴿د دنیا﴾ لږ غوندې قیمت اخستل غوره کړی دي او ددې په نتیجه کښې دوی خلق د الله د لارې نه بند کړی دی. واقعه دا ده چه د دوی کارونه ډیر بد دي. دوی دهیڅ یو مؤمن په معامله کښې د خپلولۍ یاد معاهدې لحاظ نه کوي. او هم دوی دی چه د حد نه تیرې کوونکي دي، نو که دوی توبه وباسي او دمانځه پابندي وکړي او زکوٰة اداء کړي نو دوی به ستاسو دیني وروڼه جوړشي او مونږ داحکامو تفصیل د هغه خلقو د پاره بیانوو چه هغوی ځان پوهه کول غواړي،

خلاصه تفسیر

﴿وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ او که څوك بنده د مشرکانو ځیني [دې طرفته په هغه وخت مائل شی چې ددهٔ خون مباح وی، د امن نیته هم ختمه شوې وی او دې توبه اوباسی ، د اسلام فائدې او برکتونه واورئ ، اود حقیقت او د حقوالی د اسلام په لټون کښې ستاسو ﷺ خواته په راتلو سره] ﴿اسْتَجَارَكَ﴾ تاسو ﷺ نه پناه اوغواړی [چې په تسلیٔ سره واورېدې شی اوځان پرې پوهه کړې شی] نو [پداسې حالت کښې] ﴿فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ﴾ ورته پناه ورکړئ ، دپاره ددې چې هغه کلام الهی [یعنی دحق دین مطابق مطلق دلیلونه] واورئ . ﴿ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ﴾ بیا] ددې نه پس] ئې د هغه دامن ځائې ته اور سوئ [یعنی دخپل ځائې رسیدو ته ئې پریږدئ چې په تسلیٔ سره خپله رائې قائمه کړی] ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ۝﴾ دا حکم [د دومره پناه ورکولو] ځکه [ورکولې] شی چې دوئ داسې خلق دی چې پوره خبر نه لری [ځکه ورته څه دقدرې ډیل ورکول ضروری دی ، کومې رومبنۍ ډلې چې لوظ مات کړې وو نو د دوئ د لوظ ماتولو نه وړاندې دپیشنګوئی په ډول فرمائی چې ﴿كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ﴾ ددې مشرکانو قریشو] لوظ به د الله ﷻ په نزد او د هغه درسول په نزد [د لحاظ کولو جوګه] څنګه پاتې شی ؟ [ولې چې لحاظ کول خو دهغې لوظ وی چې بل فریق ئې پخپله مات نکړی اوکه داسې ئې اوکړل نو د لحاظ کولو خو څه سوال نه پاتې کیږی ، مطلب داشو چې دوئ به لوظ ماتوی نو

Scanned with Ca

پدغه موقعه به ئې ددې طرفنه هم لحاظ نشى ساتلې كيدې] ﴿إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ مګر كومو خلقو چې مسجد حرام [يعنى حرم] ته نزدې لوظ اخستې دې [مراد ترې بله ډله ده چې ړومبې يې هم استثناء په دې فرمان د الله ﷻ ﴿إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ﴾ الخ، سره كړې شوې دې مطلب دا چې دې خلقو نه اميد كيدې شى چې خپل كړې لوظ به سرته اورسوى] ﴿فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ﴾ نو تر څو چې دا خلق تاسره سم[روغ] پاتې كيږى [يعنى لوظ نه ماتوى] ﴿فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ﴾ تاسو هم ورسره سم [روغ] پاتې كيږئى [او دا لوظ نيټه ته اورسوئ چنانچه د سورة براءت د نازليدو په موقعه دلوظ په نيټه كښې لا نهه مياشتې پاتې وې، هركله چې دوئ لوظ مات نه كړو نو ورسره دغه نيټه سرته اورسولې شوه] ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾ بيشكه الله ﷻ [د بې لوظئ نه] احتياط كوؤنكى خوښوى [كه تاسو هم احتياط كولو نو د الله ﷻ په خوښو خلقو كښې به شامل شئ، دې استثناء كولو نه پس بياهغه مضمون ته راګرځى چې د ړومبئ ډلې باره كښې وو چې] ﴿كَيْفَ وَإِن يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ﴾ څنګه به [ددوئ لوظ قابل د رعايت وى] شى [يعنى دا خلق به څنګه په خپل لوظ كلك پاتې شى] سره ددې چې كه دوئ په تاسو باندې چرې غلبه بيا مومى ﴿لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً﴾ نو ستاسو باره كښې به نه، د نزدې خپلوئ خيال اوساتئ او نه د لوظ ،قول [څكه چې دوئ دا صلح په دې وجه كړې ده چې مجبوره وو دجهاد نه ويريدل د زړۀ نه ئې، نه ده كړې پس] ﴿يُرْضُونَكُم بِأَفْوَاهِهِمْ﴾تاسو لره [صرف] پخپلو ذاتى خبرو خوشحالوى ﴿وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ﴾او ددوئ زړونه [داخبرې] نه منى [چې د زړۀ قصد ئې د لوظ پور كولو نه وى نو سرته به ئې څنګه اورسوى ؟] ﴿وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ﴾ او پدوئ كښې زيات تر خلق شرارتيان دى [چې لوظ سرته رسول نه غواړى او كه يو نيم يې پوره كول هم غواړى نو د ډير په مخكښې د يو دوۇ چيرته چليږى او څه حيثيت لرى ؟ او دوئ انكار څكه كوى چې] ﴿اشْتَرَوْا بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ دوئ د الله ﷻ دحكمتونو په بدل كښې [ددنيا] ناپائيدار سامان غوره كړې دې [څنګه چې د كفارو حالت وى چې ددين په پريخودو سره دنيا غوره ګڼرى، هركله چې ئې دنيا زياته خوښه ده، نو د دوئ په لوظ ماتولو كښې دنيوى غرض حاصليدونكې ښكارى او په دې كښې بۀ هيڅ باك نه وى. خوبل طرفته به هغۀ څوك د الله ﷻ دحكمونو او د لوظ پوره كولو وغيره پابندى وى چې دين وغيره غوره ګڼرى] نو [په دې وجه چې دوئ دنيا لره ددين نه غوره ګڼرى] ﴿فَصَدُّوا عَن سَبِيلِهِ﴾ داخلق دالله ﷻ د [نيغې] لارې نه [چې لوظ پوره كول په كښې هم داخل دى] آوړيدلى دى [او] ﴿إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ يقينا دا ددوئ عمل زيات خراب دې [مونږ چې مخكښې لايرقبوفيكم الخ، اووئيل دا يوازې ستاسو په باره كښې نه دى ؟ ددوئ خو حالت دادې چې] ﴿لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً﴾ داخلق دهيچا مسلمان باره كښې [هم] نه خو د نزدې خپلوئ لحاظ كوى اونه د لوظ، قول، ﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ﴾ اودا خلق [خصوصاپه دې باره كښې] ډير زياتې كوى نو [كله چې ددوئ په لوظ باندې څه اعتبار نشته بلكه ددوئ د لوظ ماتولو احتمال هم شته څنګه چې ددې د طرفنه مخالف احتمال ئې هم كيدې شى څكه مونږ د دوئ باره كښې تفصيلى حكم آوړوو چې] ﴿فَإِن تَابُوا﴾ كه داخلق [دكفرنه] توبه اوكړى [يعنى مسلمانان شى] او [دا اسلام ښكاره هم كړى لكه] ﴿وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ﴾ مونځ كول شروع كړى او زكوة وركول شروع كړى [بيا د دوئ په لوظ ماتولو به بالكل نظر نشى كولې،

Scanned with Ca

که دوئ هرڅه کړی وی په اسلام راؤړلو سره] ﴿فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ﴾ دوئ به ستاسو دینی رونړه شی [او مخکښنی کړه بهٔ ورته ټول معاف شی] ﴿وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ﴾ او مونږ پوهه خلقو [ته خودلو] دپاره حکمونه ښه په تفصیل سره بیانوؤ [نو په دې مقام باندې هم دغسې اوکړې شو].

معارف اومسائل

دسورة توبه داول سر په پنځوآیتونو کښې دابیان ووچه دمکې مکرمې دفتح کیدونه پس دمکې مکرمې اوددې دخواؤشاټولو مشرکانو اوکافرانوته دسرومال عام امان ورکړې شوځو هرکله چه ددوئ ړومبئ ټکیانې کول اولوظونه ماتول په تجربې سره ثابت شوی ووځکه ورسره په آئنده کښې څه لوظ،قول نه کول فیصله کړې شو،خوسره ددې کوموکفاروسره چه ددې نه وړاندې لوظ،قول شوې وواوهغوئ دغه لوظ،قول نه وومات کړې نوپه دې آیتونو کښې ددغه لوظونوترخپلې تاکلې نیتې پورې سرته درسولوحکمونه نازل شو،چاسره چه بیخې څه لوظ، قول نه ووشوې یااورسره دشوی لوظ څه ټاکلې نیټه نه وه نوهغوئ ته هم دا آسانی ورکړې شوه چه سمدستې وتل به ورته ګران وی نوپه څلورومیاشتوکښې دننه دنننه دد حرم دحدودونه اوځی،چه ځان له په آسانئ اوتسلئ سره دوتلوانتظام اوکړې شی اوکه داسلام حقوالې ورته ښکاره شوې وی نومسلمانان به شی،ددې حکمونونتیجه دااووته چه ترراتلونکی کال پورې مکه مکرمه ښه په آسانئ سره ددې ټولوغدارانو مشرکانو نه خالی شی،هرکله چه داخالی کول هم دڅه انتقامی جذبې لاندې نه بلکه دتیروشوؤتجربوپه بنیاد د خپل حفاظت په خاطرعمل کړې شو،بیاهم ددوئ دخیرخواهئ اوښیګړې دروازه په دې شان پرانیستې پرېښوې شوه چه بیان ئې په شپږم آیت کښې داشان راغلې دی،که یومشرک تاسو ته پناه غواړی نوځکه پناه ورکړئ چه تاسو ﷺته په نزدې راتلوسره دالله تعالی کلام واؤریدې شی اوداسلام حقوالې شی،دپناه ورکولونه علاوه دمسلمانانوذمه واری داهم ده چه کله هغه ددې ځائ نه فارغ شی نوپه خپل حفاظت اونګرانئ کښې دهغه ځائ ته اورسوی چرته چه هغه خپل ځان محفوظ ګڼړی اوپه دې تسلی وی،په آخردآیت کښې فرمائی: [داحکم ځکه ورکړې شوچه داخلق پوره خبرنه دی،تاسو ته په نزدې راتلوبه خبرشی،

دې آیت نه هم څومسئلې اوفائدې حاصلې شوې چه ابوبکرحصاص رحمه الله په تفصیل سره بیان کړیدی،(۱)

داسلام په حقوالی باندې په دلیلونوسره پوهول دعلمائ دین فرض دی: اول داچه دې آیت نه ثابته شوه چه که یوکافردمسلمانانو نه داغوښتنه اوکړی چه ماداسلام په حقوالی باندې په دلیلونوسره پوه کړئ نودده داغوښتنه پوره کول په مسلمانانوباندې لازمی دی،

بله داچه څوک داسلام تحقیق کولواودې دمعلوماتوحاصلولودپاره زمونږ خواته راشی نوپه مونږباندې واجب دی چه ورته اجازت ورکړو،دهغه حفاظت کوو،ورته هیڅ قسم تکلیف یانقصان رسول جائزنه دی،په تفسیرقرطبی کښې راغلی دی چه داحکم په هغه صورت کښې دې چه دهغه دراتلومقصد دالله تعالی کلام آؤریدل اوداسلام تحقیق کول وی اوکه بل څه غرض ئې وی مثلایاکاروبارله راغلې وی نوهغه دمسلمانانوپه ښیګړه اودمسلمان حاکم په صوابدید

---

(۱) أحكام القرآن للجصاص سورة البراءة: ج ۳، ص ۲۵۶

Scanned with Ca

بانـدي اړه لري، کـه اجازت ورکـول ورتـه مناسب ښـکاره شـي نو اجـازت دِ ورکـړي ورنـه نـه دِ ورکوي، (۱)

کوم غیرمسلم چه ددارالاسلام اُستوګن نه وي نو هغه ته په دارالاسلام کښې دضرورت نه زیات وخت دپاره د پاتې کیدو اجازت نشته: ③ دریمه دا چه یو غیرمسلم حربي سره چه زمونږ هیڅ لوظ، قول نه وي هغه په دارالاسلام کښې دضرورت نه زیات وخت دپاره د پاتې کیدو اجازت دې نشي ورکولې، ځکه چه په دې آیت کښې دپناه ورکولو او د پاتې کیدلو داحد تاکلې شویدې چه ﴿حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ﴾ یعنی دلته ئې پاتې کیدو دپاره دومره پریږدئ چه دالله تعالی کلام واوري،

④ څلورمـه داچـه دمسلمان حـاکم یـاامیردافرض جـوړیږي چـه کـله یوحربي، غیرمسلم دخـه ضرورت دپاره مونږنه اجازت [ویزا] حاصل کړي اوزمونږ ملک کښې داخل شي، نودهغه په حالاتو دنظرلري، اوکله چه هغه خپل کارپوره کړي هغه دپه حفاظت سره واپس کړي،

⑤ نه تر ⑩ لسم آیت پورې په څلورو آیتونو کښې دویزارۍ دهغه اعلان حکمت بیان شویدې کوم چه دسورة براءت داول سرپه آیتونو کښې راغلې دې په دې آیت کښې دلوظ ماتوونکو مشرکانو طبعي خسیسوالي اومسلمانانوسره ددوئ دسخت بغض وعناددبیانولو سره دابنولې شویدي چه دوئ نه دوعدې پوره کولو امید لرل غلط دي. لکه فرمائي، سوا دځو کسانونه چاسره چه دمسجدحرام خوا کښې ستاسولوظ، قول شوې وو، ددغه مشرکانو څه لوظ، دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ په نزد څنګه دلحاظ کولوجوګه کیدې شي دچاحال چه دادې چه څه وخت ورته لږه څه موقعه په لاس ورشي نوهغوئ نه خوستاسو دنزدې خپلوئ څه لحاظ ساتي اونه دلوظ قول لحاظ ساتي، وجه ئې داده چه دلوظ کولوپه وخت کښې هم ددې خلقوپه زړونو کښې ددې دپوره کولواراده نه وي، بلکه صرف دخلې په خبرو موخوشحالول غواړي، اوپه دوئ کښې زیات خلق فاسقان [لوظ ماتوونکي غداران] دي،

دکفارو په مقابله کښې هم په رشتیاؤینې پاتې کیدل اودهغوئ په باره کښې دمبالغې کولونه دځان ساتلو تعلیم: دقرآن کریم دې بیان مسلمانانوته داهدایت ورکړوچه دخپلو دښمنانو مخالفینو په باره کښې کله چه څه خبره کول راپیښ شي نو رشتیاؤ او انصاف نه لاس مه اخلئ، دحدنه زیاتي خبرې پکښې مه رامنځ ته کوئ څنګه چه په دې آیتونو کښې دمشرکانو دمکې په باره کښې ددې پوره رعایت کړې شویدې چه اګرکه څو کسانونه سوانوروټولو مشرکانو لوظ مات کړیدې او ټکی ئې اوکړه اوپه داسې حالاتو کښې خلق ټولوته خراب اوبدوائي مګر قرآن کریم د:

﴿إِلَّا الَّذِينَ عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ په فرمائیلوسره دهغه خلقو بیلتون اوکړوچاچه لوظ نه وومات کړې اوداحکم ئې ورکړوچه ترڅوپورې [دغه څو کسان] په خپل لوظ پوره کولو باندې ټینګ پاتې کیږي نوتاسو هم [ورسره] پـه لـوظ ټینـګ اوسـئ، ددوئ دنورو ملګرو دټکي اولـوظ ماتولوله کبله دوئ سره لوظ مه ماتوئ،

دلـوظ ماتوونکودا حال ئې چه بیان کړوچه ددې خلقوپه زړونو کښې داول نه ټکي موجود وه، دلوظ پوره کولو اراده ئې نه وه، داېې هم اوفرمائیل ﴿وَأَكْثَرُهُمْ فٰسِقُونَ﴾ دې کښې اشاره دې ته شوه چه دټولو داحال نه دې بلکه دوئ کښې داسې شریفان هم شته چه په لوظ ئې ټینګ پاتې

(۱) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج۸، ص ۷۵،۷۶

کیدل غوښتل خودنوروپه وړاندې ئې خبره اونه چلیده،

دا هم هغه مضمون دې چه هدایت ئې قرآن کریم په یوبل ځائ کښې په صفاټکوکښې داشان ورکړیدې،

﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ۚ ٱعْدِلُوا۟﴾ یعنی دیوقوم دښمنی دِتاسودې ته تیارنکړی چه انصاف پریږدئ!

وروستو په نهم آیت کښې ددې ټګانومشرکانودټګئ علت اوددوئ دمرض سبب بیانولو سره دوئ ته ئې هم یوه هدایت نامه ورکړه چه که دوئ غوراوکړی نوخپله اصلاح کولې شی اوعام مسلمانان ئې هم خبرداره کړل چه په کومه وجه داخلق په ټګئ اوخیانت کښې اخته شو. دهغې سبب نه ځان ساتل خپل خاص عادت جوړ کړئ،دغه سبب دنیاسره مینه کول دی چه ددنیادمال سامان،مینې محبت دوئ ړانده کړیدی، د لږو پیسو په بدل کښې دالله تعالی آیتونه اوخپل ایمانونه خرڅوی اودوئ داکردارډیرزیات خراب دې،

په لسم آیت کښې ددوئ داسخت کوږوالی بیان شویدې﴿لَا يَرْقُبُونَ فِى مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ﴾ یعنی صرف دانه ده چه دې خلقو لوظ کوونکو مسلمانانو سره ټګی اوکړه اودهغوئ نزدې خپلوی اولوظ،قول ئې هم شاته اوغورځولو،بلکه ددوئ حال دادې چه دچامسلمان په باره کښې نه خونزدې خپلوئ خیال ساتی اونه دڅه لوظ،قول خیال ساتی،

دمشرکانوددغه حالاتوطبعی تقاضاخوداکیدې شوه چه مسلمانان ترهمیشه دپاره ویزاره شي اوپه هیڅ حالت کښې هم ورسره درورولئ تعلقات جوړولودپاره تیارنشی،په دې وجه قرآنی عدل اوانصاف په یولسم آیت کښې داهدایت ورکړو،

﴿فَإِن تَابُوا۟ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِى ٱلدِّينِ ۗ﴾ یعنی که داخلق توبه اوکړی اومونځ قائم کړی اوزکوة اداکوی نواوس دوئ هم ستاسودینی رونړه دی!

په دې کښې داوښودلې شوچه که هرڅنګه دښمن وی اوهرڅومره زیانونه ئې رسولی وی خوکله چه مسلمان شی نوځنګه چه الله تعالی دهغه ټول کړی ګناهونه بخښی،مسلمانانولره هم لازمی دی چه هغه تیرې ناکړدې او معاملات ئې دزړه نه هیرې کړی اودنن نه ئې خپل دینی روزګنړی اودرورولئ دتعلق حقونه ئې اداکوی،

په اسلامی برادرئ کښې دداخلیدودرې شرطونه: دې آیت شریف داخبره په ډاګه کړه چه په اسلامی برادرئ کښې دشاملیدودپاره درې شرطونه دی ① یودکفراوشرک نه توبه کول،② دویم مونځ قائمول،③ دریم زکوة اداکول،ځکه چه ایمان اوتوبه دواړه پټ څیزونه دی چه په حقیقت باندې ئې عام مسلمانان نشی پوهیدلې ځکه ئې ددې دوه ښکاره نخښې بیان کړې چه مونځ قائمول اوزکوة اداکول دی،

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائیلی دی چه دې آیت داهلِ قبله مسلمانانووینه حرامه کړه یعنی څوک چه دمونځ اوزکوة پابندوی اودا سلام پخلاف دهغه نه څه قول یافعل ثابت نشی هغه به په ټولوحکمونوکښې مسلمان ګنړلې شی،اګرچه دهغوئ په زړه کښې صحیح ایمان نه وی،یامنافقت پکښې وی،

حضرت صديق اكبر رضي الله عنه په دې آيت سره دليل اونيولو او دهغه كسانو په خلاف دجهاد كولو په باره كښې ئې صحابه كرام مطمئن كړل كوموچه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د زكوة نه انكار كړې وو. [ابن كثير] (١)

په آخر د آيت كښې د معاهدينو او توبه كوونكو په باره كښې د دغې حكمونو د پابندۍ كولو د تائيد په غرض يې او فرمائيل:

﴿وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ﴾ يعنى مونږه د پوه خلقو د پاره په ښه تفصيل سره حكمونه بيانوو]

وَاِنْ   نَّكَثُوْٓا
او كه چرې	مات كړل هغوئ	
او كه دوى د خپلې وعدې نه
اَيْمَانَهُمْ   مِّنْۢ بَعْدِ   عَهْدِهِمْ   وَطَعَنُوْا   فِيْ دِيْنِكُمْ
قسمونه خپل	روستو	د وعدې خپلې نه	او عيبونه ئې بيان كړل	په دين ستاسو كښې	
خپل قسمونه مات كړل [او په هغې باندې ئې وفا اونكړله] او ستاسو په دين كښې ئې عيبونه لټول
فَقَاتِلُوْٓا   اَئِمَّةَ   الْكُفْرِ   اِنَّهُمْ   لَآ   اَيْمَانَ
پس او جنګيږئ	د مشرانو	د كفر سره	بيشكه دوئ چې دى	انښته	اعتبار د قسمونو	
نو [په دې صورت كښې] تاسو د كفر امامان قتل كړئ ځكه چه د دوى په قسمونو څه اعتماد نشته
لَهُمْ   لَعَلَّهُمْ   يَنْتَهُوْنَ ﴿١٢﴾   اَلَا تُقَاتِلُوْنَ   قَوْمًا نَّكَثُوْٓا
د دوئ	اشائيږي چې دوئ	به منع شى	ايا نه جنګيږئ تاسو	دهغه قوم سره چې مات كړل هغوئ
كيدې شى [چه په دې طريقه] دوى منع شى [د خپل كفر نه] تاسو ولې د داسې قوم سره نه جنګيږئ
اَيْمَانَهُمْ   وَهَمُّوْا   بِاِخْرَاجِ   الرَّسُوْلِ   وَهُمْ   بَدَءُوْكُمْ
قسمونه خپل	او قصد ئې اوكړو	په ويستلو	د رسول	او هغوئ	شروع كړې ده تاسو سره
چه هغوى خپل قسمونه مات كړې دى او د پيغمبر د ويستلو قصد ئې كړې وو او هغوى په اول خل تاسو
اَوَّلَ مَرَّةٍ   اَتَخْشَوْنَهُمْ   فَاللّٰهُ   اَحَقُّ   اَنْ   تَخْشَوْهُ
په اول خل	ايا تاسو يريږئ دهغوئ نه	نو الله	زيات حقدار دې	چې	تاسو اوويريږئ دهغه نه	كه چرې
شروع كړې ده ايا تاسو د دوى نه ويريږئ [د دوى په مقابله كښې] الله تعالى زيات حقدار دې چه تاسو
اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٣﴾   قَاتِلُوْهُمْ   يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ   بِاَيْدِيْكُمْ
يئ تاسو مومنان	او جنګيږئ دهغوئ سره	عذاب به وركړى هغوئ ته الله	په لاسونو ستاسو	
ترې اوويريږئ كه تاسو مؤمنان ئې [نو د دوى نه مه يريږئ بلكه] دوى سره جنګيږئ الله به ستاسو په لاسونو
وَيُخْزِهِمْ   وَيَنْصُرْكُمْ   عَلَيْهِمْ   وَيَشْفِ   صُدُوْرَ   قَوْمٍ
او ذليله به كړى هغوئ	او امداد به اوكړى ستاسو	خلاف دهغوئ	او ويخ به كړى	سينې	د قوم
دوى ته عذاب وركړى او [د دوى په مقابله كښې به] ستاسو مدد اوكړى او د مؤمن قوم زړونو ته به

(١) هكذا في أحكام القرآن للجصاص سورة البراءة: ج ٦، ص ٢٥٠

Scanned with Ca

مُّؤْمِنِيْنَ ۙ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوْبِهِمْ ۗ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ

مومنانو ا اولرې به کړی ا غصه دزړونو دهغوئ ا اودرحمت رجوع به اوکړی الله ا په هغه چاباندې

شفاء ورکړی اوددوی د زړونو غصه به لرې کړی او الله تعالی به د هغه چا توبه قبوله کړی د چا توبه

يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ اَمْ حَسِبْتُمْ

چې خوښه ئې شی ا الله تعالی ا ښه پوهه دې ا اوصاحب د حکمت دې ا آیا ګمان کړې تاسو

قبلول چه اوغواړی او الله تعالی پوهیږی اوصاحب د حکمت دې آیا تاسو خیال کوئ چه تاسو به

اَنْ تُتْرَكُوْا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ

چې تاسو به پرېښودې شئ ا اولا نه دی معلوم کړی ا الله ا هغه کسان ا چې جهادئې کړې ا تاسونه

بغیر دامتحان نه داسې پرېخودې شئ حال دا چه تر اوسه پورې الله په ظاهری علم سره په تاسو کښې هغه خلق نه

وَلَمْ يَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ۗ وَاللّٰهُ

اونه دی نیولې هغوئ ا ماسوا دالله نه ا اود رسول دهغه نه ا اوبې دمومنانو نه ا ادوستان ا اوالله

دی پیژندلې چه جهاد ئې کړې دې اود الله اوهغه د رسول او د مؤمنانو نه سوا ئې بل څوک خالص دوستان نه دی نیولی

خَبِيْرٌ ۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝

خبردار دې ا په هغه ا چې تاسو ئې کوئ ا

اوالله ستاسو په عملونو باندې خبردار دې

آسان ترجمه قرآن

او که دوی د وعدې کولو نه وروستو قسمونه مات کړی وی او ستاسو دین کښې ئې طعن کړې وی ، نو د داسې د کفر د مشرانو سره په دې نیت جنګ کوئ چه دوی منع شي څکه چه دوی داسې یو قوم دې چه د دوی د قسمونو هیڅ حقیقت نشته آیا تاسو به د هغه خلقو سره جنګ نه کوئ چه هغوی خپل قسمونه مات کړي دي ، او رسول لره ئې ﴿دوطن نه﴾ د ویستلو اراده کړې ده او دوی هغه خلق دي چه دوی ستاسو خلاف چهیړ چهاړ کولو کښې ﴿ مخکښې والې اوکړو؟ آیا تاسو د دوئ نه ویریږئ؟ ﴿که داسې وي ﴾ نو الله ډیر حقدار دې چه تاسو د هغه نه وویریږئ که تاسو مؤمنان یئ، دوي سره جنګ وکړئ دې دپاره چه الله ستاسو په لاسونو دوی ته سزا ورکړي، او دوی لره رسوا کړي ، او ددوي خلاف ستاسو مدد وکړي، او د مؤمنانو سینې یخې کړي، او ددوی د زړونو نه هغه غُصې لرې کړی او د چا ئې چه خوښه شي توبه قبوله کړی او الله کامل علم والا دې اوکامل حکمت والا دې، آیا تاسو دا خیال کوئ چه تاسو به دغسې پرېښودې شئ حال دا چه تر اوسه الله دا هم نه دې کتلي چه څوك تاسو نه جهاد کوي ، او د الله تعالی اود هغهٔ رسول او مؤمنانو نه سوا چا لره رازدار نه جوړوي؟ او تاسو چه څه کوئ الله د هغې نه ښه خبر دي.

خلاصه تفسیر

﴿وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ﴾ او که دغه خلق دلوظ کولو نه پس خپل قسمونه [لوظونه] مات کړی [څنګه چې ددوئ د حالت نه غالب ښکاری] او [سره دلوظ ماتولو ایمان هم قبول نه کړی بلکه پخپل کفر کلك ولاړ وی چې یو اثر ئې دا هم دې چې] ﴿وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ﴾ ستاسو په دین

Scanned with Ca

[اسلام کښې] باندې پيغورونه [او اعتراضونه] کوی نو [په دې حالت کښې] ﴿فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ﴾ تاسو خلق په دې قصد سره چې دوئ به [د خپل کفر نه] واوړی ، دې مشرانو د کفر سره [بنه] جنګيړی [ولې چې په دې صورت کښې] ﴿إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ﴾ ددوئ قسمونه [باقي] پاتې نه شو [تر دې پورې چې دلوظ ماتولو نه مخکښې پيشنګوئی اوشوه ، وريسې د لوظ ماتولو نه پس ورسره دجنګ نه کولو شوق پيدا کول دی چې] ﴿أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمًا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ﴾ تاسو داسې خلقو سره ولې جنګ کوئی چاچې خپل قسمونه مات کړل [اوبنی بکر قبيلې سره ئې د بنی خزاعه په مقابله کښې مدد اوکړو] ﴿وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ﴾ او د رسول ﷺ د جلاوطن کولو تجويز ئې اوکړو ﴿وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ او هغوئ تاسوسره پخپله چيړ کول شروع کړل [اچې ستاسو د طرفنه په لوظ پوره کولو کښې څه کمې نه وو راغلې ، دوئ په ناستې ناستې پخپله يوشوشه خوشې کړه نو داسې خلقو سره دې ولې جنګ اونه کړئی شی] ﴿أَتَخۡشَوۡنَهُمۡ﴾ آيا دوئ نه [د جنګ کولو نه ئې] ويريږئی [چې دوئ سره ګڼړه زياته ده] نو [که داخبره وی نو هيڅرې ترې مه ويريږئی څکه چې] ﴿فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ﴾ الله ﷻ ددې زيات حقدار دې چې تاسو ترې او ويريږئی ﴿إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾ که ايمان لرئی [او هغه نه د ويريدو تقاضا دا ده چې د حکم خلاف ئې مه کوئی اوکه هغه درته د جنګ حکم درکوی نو] ﴿قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ﴾ دوئ سره جنګ اوکړئی الله ﷻ به [د خپلې وعدې مطابق] دوئ ته ستاسو د لاسه سزا ورکړی او دوئ به ذليل [او خوار] کړی ﴿وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ﴾ او تاسو به په دوئ باندې غالب راولی او [د دوئ په دې عذابولو او ستاسو دنفرت په وجه] ﴿وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٍ مُّؤۡمِنِينَ﴾ د ډيرو [داسې] مسلمانانو زړونو ته به شفا ورکړی ﴿وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡ﴾ او دهغو دزړونو قهر [غصه] به لرې [سوړ] کړی [چې پخپله د مقابلې کولو توان نه لری اود دوئ د دناکړدو په ليدو ئې زړونه کړيږی] ﴿وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ﴾ او [هم ددې کافرانوڅخه] په چا چې [توجه او فضل کول] منظور وی الله ﷻ به ورته مخه [هم] اوکړی [يعنی د مسلمانيدو توفيق به ورکړی ، نو په فتح مکه کښې څينې اوجنګيدل چې ذليل اووژلې شواو څينې مسلمانان شو] ﴿وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ او الله ﷻ د لوئې علم او لوئې حکمت خاوند دې [په دغه علم سره د هر يو انجام د اسلام يا دکفر پيژنی او ددې په وجه پخپل حکمت سره مناسب حکمونه مقرروی اوتاسو چې دجنګ کولو نه ډډه کوئ اګر چې څينې کسان داسې کوی نو] ﴿أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ﴾ آيا تاسو دا خيال کوئی چې تاسوبه هم دغه شان پريخودئ شئ ﴿وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ﴾ سره ددې چې چې تر اوسه خو الله ﷻ [په ظاهری ډول] داخلق خوتر اوسه ليدلی نه وی چې هغوئ په تاسو کښې [په داسې موقعه] جهاد کړې وی ﴿وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةً﴾ اود الله ﷻ او د رسول ﷺ او د مؤمنانو نه سوا بل چالره ئې په خصوصيت سره دوست نه وی جوړ کړې [چې ددې دښکاره کيدو ذريعه دداسې موقعې جهاد دې چرته چې مقابله کول خپلو خپلوانو اورشته دارو سر کول راځی چې پوره امتحان وی چې څوك الله ﷻ لره غواړی اوڅوك برادرئ لره] ﴿وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ﴾ او الله ﷻ ته هر څنګه خبر ستاسو د ټولو کارونو شته دې [که په جهاد کښې تکړه اوسئ اوکه سستی کوئ دهغې مطابق به الله ﷻ بدله درکوی].

معارف او مسائل

دحديبئي په مقام چه دمکې قریشو سره دجنګ بندئ سمجهوته، شوې وه دسورة توبه داول سرپه آیتونو کښې دپیشنګوئې په ډول دهغې په باره کښې داخبرورکړې شوې ووچه داخلق به په خپل لوظ ټینګ پاتې نشي چه بیان ئې دسورت توبه په اووم آیت کښې ﴿كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ﴾ کښې بیان شویدې، بیاپه اتم، نهم اولسم آیت کښې ددوئ دلوظ ماتولو اسباب بیان شو، په یوولسم آیت کښې دابیان اوشوچه دلوظ ماتولو ددې لوئ جرم نه پس هم که داخلق مسلمانان شي اوخپل اسلام دمونځ، زکوة په ذریعه ښکاره کول شروع کړي نومسلمانانو دپاره ضروري دي چه دهغوئ دکړوجرمونو اثرپه خپلو معاملاتو کښې باقي پرې نږدي، بلکه هغوئ له خپل دیني رونړه اوګنړي اودرونړوپشان ورسره ګذران کوي، اوس په دې دولسم آیت کښې دابیان دې چه که د پیشنګوئي په جوړکله چه دوئ لوظ مات کړي نو مسلمانان دورسره څه کوي په دې باره کښې فرمائي:

﴿وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ﴾ یعنی که داخلق خپل لوظونه اوقسمونه مات کړي اومسلمانان هم نه وي بلکه په مخه ستاسودین ته پیغورونه ورکوي اوبدې ردې ورته وائي نودکفردغه پیشوایانوسره جنګ کوئ،

دلته په دې خبره ژورنظرکول پکاردي چه دمقام تقاضه خو دا وه چې: ﴿فَقَاتِلُوهُمْ﴾ئې دضمیرپه استعمالولوسره وئیلې وې [چه دوئ سره جنګ کوئ] لیکن قرآن پاك په دې ځائې کښې د مختصر ضمیر استعمالولو په ځائې ﴿فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ﴾ ئې اوفرمائیل: [چه معنی داخلق دخپلې وعدې ماتولوپه وجه دکفرپیشوایان اورهنمایان جوړشوي دي اوپه دې وجه ورسره جنګ اوکړئ] څکه چه [﴿أَئِمَّةَ﴾ د ،امام، جمع ده. په دې کښې دجنګ کولودحکم علت اووجه هم بیان شوه. اوځنې مفسرینو فرمائیلي دي چه دلته د ،ائمة الكفر، نه مراددمکې دقریشوهغه سرداران دي چه خلق به ئې دمسلمانانو خلاف راپارول اوپه جنګي تیارئ کولوکښې به لګیاوو، دوئ سره دجنګ کولو بیان ئې په خصوصیت سره څکه اوکړوچه دمکې دخلقودطاقت اوقوت اصلي اډانړه هم دا خلق دې ددینه علاوه، داخبره هم وه چه دمسلمانانونږدې خپلوان هم داخلق وو، دا ویره کیدې شوه چه هسې نه مسلمانان ورسره په دې وجه د رعایت معامله اوکړي [مظهري][1]

په داراسلام کښې غیرمسلم ذمیانوته دااجازت نشته دې چه په اسلام باندې علمي تنقیداوکړي خواسلام ته دبدو ردوویلواجازت ورلره لشته: د ﴿وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ﴾ سره ځنې علماؤ دادلیل نیولې دې چه د مسلمانانودین ته بدې ردې وئیل په لوظ ماتولو کښې حسابیږي، یعنې څوک چه اسلام یا اسلامي شریعت ته بدرد وائي هغه دمسلمانانولوظ کوونکي نشي پاتې کیدې، مګر د فقهاؤ رحمهم الله په اتفاق سره دې نه مرادهغه پیغورکول اوبدردوئیل دي چه داسلام او مسلمانانوسپکاوې په جاره اوکړې شي، دحکمونواو مسئلوپه تحقیق کښې څه علمي تنقید کول په دې کښې نه حسابیږي، چنانچه په لغت کښې هم دې ته بدې ردې نشي وئیلې،

هم دغه وجه ده چه په داراسلام کښې غیرمسلم [ذمیانو] خلقوته خودعلمي تنقیداجازت ورکولې شي خوداسلام دسپکاوي کولواجازت نشي ورکولې،

[1]) التفسیر المظهري تحت هٰذه الآیة: ج ۴، ص ۱۴۳

فرمائی ﴿إِنَّهُمْ لَآ أَيْمَانَ لَهُمْ﴾ ددې خلقو قسمونه اعتباری نه دی] ځکه چه قسمونه اولوظونه ماتول ددې خلقو عادت ګرځيدلې دې، اوجمع [ايمان] دلفظ راوړونه دامطلب هم اغستلې کيدې شي چه هرکله دې خلقو خپل لوظ اوقسم مات کړونودهغې په بدل کښې دمسلمانان هم ورسره لوظ مات کړی، په مسلمانانوباندې ددې دجاری ساتلوذمه داری پاتې نشوه،

په آخرد آيت کښې فرمائی: ﴿لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ﴾ دې دپاره چې شايد دوئ منع شي] په دې آخری جمله کښې دا اوښودلې شوچه دمسلمانانودجنګ اوجهادمقصد ددنيادعامو خلقوپشان، دښمن تنګول، بدل اغستل يادعامو بادشاهانوپشان وطنونه قبضه کول نه دی، بلکه مقصدئې دالرل پکاردی چه دښمنانوته ئې څه خبره ښيګړه اورسی اوهغوئ دخپلوغلطوکارونونه واوړی،

وړپسې په ديارلسم آيت کښې فرمائی: تاسوداسې خلقوسره ولې جنګ نه کوئ چه درسول الله ﷺ دويستلومنصوبه ئې جوړه کړيده، دامنصوبه دمدينې منورې يهوديانوجوړه کړې وه اووئيلی ئې وو،

﴿لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ﴾ خامخابه عزتمن خلق کمزوری اوذليل خلق دمدينې منورې نه اوباسی] دې خلقوپه خپل غلط خيال کښې عزتمن، ځان ته اووئيل اوکمزوری اوذليله ئې مسلمانانوته اووئيل، خوددې په جواب کښې الله تعالی عملاداسې ثابت کړل چه کمزوری او ذليل هم دوئ په خپله دی اوعزتمن خلق مسلمانان ځکه دی چه همدغې يهوديانولره مسلمانانو دمدينې منورې نه خارج اوملک بدرکړل اوبوټ ئې تراوويستل،

دوئ سره ئې دجنګ کولوبله وجه دااوښودله ﴿وَهُمْ بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ اول سرهم دغې خلقوپه جنګ شروع کړيده] په دې بنادمسلمانانوپه ذمه ددې په شاتمبول دی، چه هيڅوک ئې هم بدنه ګڼړی، بلکه دې ته دهرفطرت سليمه تقاضاوئيلې شي،

ددوئ نه دمسلمانانوبوکنيدل الله تعالی په دې شان سره لری کوی،

﴿أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ﴾ آيا، تاسودوئ نه ويريږئ حالانکه ويره کول يواځې دالله تعالی نه پکارده] دچاعذاب چه هيڅ يوطاقت نشی ايسارولې. په آخرکښې: ﴿إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ سره اوښودلې شوچه غيرالله نه په دې شان ويره کول چه دشرعی حکمونوپه اداکولوکښې بنديزجوړيږی دمسلمان شان سره نه ښائی،

په څوارلسم اوپنځلسم آيت کښې په يوبل عنوان سره دمسلمانانودجنګ اوجهادشوق راپاره کوی چه څوځيزونه پکښې ښودلې شويدی:

① اول داچه که تاسوجنګ دپاره تيارشوئ نودالله تعالی امدادبه تاسوسره وی اودا قوم دخپلې بدعملئ په وجې سره دالله تعالی دعذاب مستحق شوی خودی مکرپه دوئ باندې به دالله تعالی عذاب دزمکې ياآسمان د ارخه نه راځي ځکه چه په پخوانوقومونوراغلې وو بلکه هم ستاسودلاسه به عذاب ورکوی لکه فرمائی ﴿يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ﴾

② دويمه داچه ددې جنګ په نتيجه کښې به الله تعالی دمسلمانانوزړونوهغه غم، درد لرې کړی چه دکفارودلاسه مسلمانانوته په مخه رسيدو،

③ دريمه داچه دمسلمانانوپه زړونوکښې دکفارودتګئ په وجه چه کوم تاؤاوقهرراولاړ شوې دې، هم ددوئ دلاسه به کفاروته په عذاب ورکولوسره هغه سوړکړی،

Scanned with Ca

په مخکښې آيت کښې ﴿لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ﴾ فرمائيلوسره مسلمانانوته داهدايت کړې شوې ووچه دخپلې غصې سړولودپاره ديوقوم سره نه جنګيږي، بلکه په دې کښې دی دامقصد مخې ته لرې چه دهغوئ اصلاح اوورته هدايت اوشي، په دې آيت کښې داهم اوښودلې شوچه هرکله مسلمانان خپل نيت دالله تعالى درضاپه خاطرصفا اولري، خالص دالله تعالى دپاره جنګيږي نو الله تعالى به په خپل فضل سره داسې صورتونه هم پيداکړي چه ددوئ دغم اوغصې بدل اغستل به پکښې پخپله راشي، ⑭ څلورم ئې دااوفرمائيل ﴿وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ﴾ يعني په دوئ کښې به الله تعالى دهغه چاتوبه قبوله کړي دکوموتوبه قبلول چه ورته منظوروي،

په دې شان ددې جهاديوفائده داهم ښکاره کړې شوه چه دد ښمنانو دډلې نه به ډيروخلقوته داسلام راوړلوتوفيق ورکړې شي، چنانچه په فتح مکه کښې ډيرسرکشان ذليل اوخوارشواو ډيرخلق په اسلام سره مشرف شو،

په دې آيتونوکښې دکوموحالاتواوواقعاتوپيشنګوئي چه شوې وه، تاريخ ګواه دې چه هر يوهغه پيشنګوئي اوخبررشتياشوچه قرآن کريم ړومبې نه ورکړې وو، په دې بناپه دې آيتونو کښې ډيرمعجزات هم ښودلې شويدي.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ
ا نه دی مناسب ا مشرکانو لره ا چی آباد کړی ا جوماتونه
د مشرکانو دپاره جائز نه دی چه د الله تعالى جماتونه آباد
اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ
دالله ا حال دا چی ګواهی کونکی وی ا په خانونوخپلوباندې ا د کفر ا دغه مشرکان چی دی
کړی حال دا چه په خپلو خانونو پخپله د کفر ګواهی ورکوی [چه مونږ کافران يو] د دې خلقو [نيک]
حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۚۖ وَفِى النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ۝ اِنَّمَا يَعْمُرُ
ضائع شول ا عملونه دهغوئ ا او په اورکښی به ا هغوئ ا هميشه وسئ ا بيشکه ا آبادوی به
عملونه ضائع شول او دوی به په اور کښې هميشه وی بيشکه د الله تعالى جماتونه په هغه خلق آبادوی
مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ
جوماتونه دالله ا هغه څوك ا چی ايمان راوړی ا په الله ا او په ورځ دآخرت باندې ا او قائم کړی
[او دوی د جماتونو آبادولو لائق دی] چا چه په الله او په ورځ د آخرت ايمان راوړی وی او مونځ
الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ
مونځ ا او ورکړی زکاة ا او نه يريږی ا مګر ا دالله نه ا اميد دې چی ا دغه کسان
قائموی او زکاة ورکوی او د الله نه سوا د بل هيڅ چا نه نهٔ ويريږی اميد دې چه دغه کسان
اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ۝
چی شی به هغوئ ا دلارموندونکونه
د هغه خلقو ځنی شی چه په سمه لار روان دی

آسان ترجمه قرآن

مشرکان ددې خبرې اهل نه دي چه دوی دالله جماتونه آباد کړي حال دا چه دوی خپله د خپل کفر گواهان جوړ شوي دي ددې خلقو اعمال برباد شوي دي، او دوزخ کښې به دوی همیشه وي. دالله جماتونه خو هغه خلق آبادوي چه په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان راوړي ، او د مانځه پابندي کوي او زکوٰة ادا کوي ، او دالله نه سوا د بل چا نه نه ویریږي د داسې خلقو نه دا امید کیدې شي چه دوی به هغه چاکښې شامل شي چه هغوی په سمه لاره باندې دي.

خلاصه تفسیر

﴿مَاكَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ﴾ مشرکان دسره ددې قابل نه دی چې هغه دالله ﷻ مساجد [مسجد حرام هم په کښې شامل دې] آبادی کړی په کوم حالت کښې چې هغوئ پخپله د خپل کفر [دخبرو] اقرار کوی [چنانچه هغوئ د خپل رو ، گودر ، خودلو په وخت کښې ئې دداسې عقیدو اقرار کولو چې په واقعی کښې د کفر عقیدې دی، مطلب دا شوچې اگرکه مساجد جوړول یوښه کار دې لیکن هرکله چې دکفرسره هیڅ سمون نه لری نو د سره ددې عمل اهلیت ختم شو او هیڅ اعتبار ئې نشته ، نو بیا پرې د دوئ د فخر کول څه گنجائش دې؟] ﴿اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ﴾ ددې خلقو [کوم چې مشرکان دی] ټول [نیك] عملونه [لکه د مساجدو جوړول وغیره] بیکاره [او برباد] دی [په وجه ددې چې ددې دقبلیدو شرط په کښې نشی بیا موندلې کیدې نو په برباد عمل باندې د فخر کولو مطلب څۀ شو ؟ ﴿وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ﴾ اوپه دوزخ کښې به دغه خلق همیشه اوسیږی [ولې چې ددوئ د خلاصئ عمل خو برباد شوې وو] ﴿اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ﴾ البته د مساجدو آبادول دهغې خلقو کار دې [یعنی په کامله توګه دهغې خلقو نه قبلولې شی] ﴿مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ چې څوك په الله ﷻ باندې او د قیامت په ورځ [دزړه نه] ایمان راوړی [او په اندامونو سره ئې هم ښکاره کوی لکه په داسې شان چې] ﴿وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ﴾ دمونځ پابندی کوی او زکوة ورکوی او[په الله ﷻ باندې داشان تکیه لری چې] ﴿وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ﴾ بغیر د الله ﷻ نه د هیچا نه نه ویریږی ﴿فَعَسٰۤى اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ﴾ نو د داسې خلقو باره کښې امید دې [یعنی وعده ده] چې خپل مقصود [یعنی جنت اوخلاصی] ته به اورسی [ځکه چې د ایمان په وجه به ئې عملونه قبول وی دهغې فائده به ورته په آخرت کښې رسی ، مشرکان په دې شرط باندې پوره نه خیژی ځکه ئې په بې سوده عمل کولو باندې فخر کول عبث دی].

معارف اومسائل

په تیروشوؤآیتونو کښې دمشرکانو کوږعملی، دخپل باطل دین دپاره هرقسم کوشش کول او ددې په مقابله کښې دمسلمانانو دجهادشوق پیدا کول بیان شوی وو، په دغې آیتونو کښې مسلمانانوته دجهادتاکید شوې دې، اوورته داښودلې شویدی چه یواځې جنگ اوجهاد داسې څیزدې چه دمسلمان امتحان پراغستې شی، دمخلص مسلمان اودمنافق یادکمزوری ایمان دخاوندبیلتون پرې راتلې شی اودا امتحان ضروری دې،

Scanned with Ca

په شپاړسم آیت کښې، فرمائي: آیا تاسو دا گنړئ چه يوائې د اسلام په کلمې وئیلو او د اسلام په دعوې کولو سره آزاد پريښودې شئ ترڅو چه الله تعالی په ښکاره ډول هم هغه سوچه او پاخه مسلمانان او نه گوري چه په تاسو کښې جهاد کوونکي دي او د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو نه سوا، بل څوک خپل رازدار دوست نه جوړوي. په دې آیت کښې هغه عامو خلقو ته خطاب دې چه مسلمانان به گنړلې شو، په دوئ کښې داسې مسلمانان هم وو چه ایمان ئې کمزورې وو او په تراره کښې به وو، او ځنې پکښې منافقان وو، داسې قسم خلقو به خپلو غیر مسلمو دوستانو ته د مسلمانانو رازونه څرگندول، په دې وجه دې آیت کښې د مخلصو مسلمانانو دوه علامتونو ښودلې شویدی،

د مخلصو مسلمانانو دوه نخښې: ① اوله نخښه ئې داده چه کفارو سره جهاد، خالص د الله تعالی د رضا د پاره کوی، ② دویمه دا چه دا غیر مسلم لره خپل رازدار دوست جوړنکړی، په آخر د آیت کښې فرمائي: ﴿وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ﴾

تاسو چه څوک وئ الله تعالی د هغې نه ښه خبر دې، د هغه وړاندې د چاچلونه او تاویلونه نشي چلیدې. هم دا مضمون د قرآن کریم په یو بل آیت کښې داسې راغلې دې،

﴿اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ﴾ آیا، خلقو داسې گنړلې ده چه صرف ځان ته په مسلمان وئیلو به آزاد پريښودې شی او د هغه به هیڅ امتحان نشي اغستې]

بې غیر مسلم لره رازدار دوست جوړول درست نه دی: په دغې آیت کښې د ﴿وَلِيْجَةً﴾ لفظ معنی د، پټ او رازدار دوست، ده، په بل آیت کښې ددې لفظ په ځائې بل لفظ ﴿بطانة﴾ راغلې دې، ددې لفظ معنی د جامې هغه استر دې چه بدن پورې لگیدلې وی، مراد ترې داسې یو بنده دې چه د چا د پټو، اندروني او کورونو حالاتو نه خبروی چنانچه تول آیت داسې دې،

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا﴾ اې مؤمنانو، د خپلو مسلمانانو نه سوا، بل چا لره رازدار دوست مه جوړوئ هغه تاسو سره تکې کوی او ستاسو په بربادولو هیڅ صرفه نه کوی] په وړپسې اوولسم او اتلسم آیت کښې دابیان دې چه مسجد حرام او نور جماتونه [مسجدونه] د باطلو عبادتونو نه پاک کړې شی او په صحیح او مقبول طریقې سره د عبادت کولو هدایتونه ورکړې شویدی.

تفصیل ئې دادې چه هر کله مکه مکرمه فتح شوه نو رسول الله ﷺ د بیت الله شریف او مسجد حرام نه تول هغه بتان بهر گذار کړل د کوموبه چه مشرکانو عبادت کولو، په دې شان خو مسجد حرام د بتانو نه پاک کړې شو، لیکن مشرکانو به بیا هم په باطله طریقه د غلته طواف او نور خپل عبادتونه کول، ددې بندیز را وستل هم اگرچه ضروری وو او ظاهری صورت ئې دا جوړیدې شو چه مشرکان د مسجد حرام راتنو ته د سره پرې ښودې شی لیکن دا به ورته د ورکړې امان خلاف وو او د معاهدې پابندی کول په اسلام کښې د هر څه نه زیات ضروری څیز وو، ځکه سمدستی د غسې اونکړې شو بلکه د فتح مکې په راتلونکې کال کښې رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه او حضرت علی رضي الله عنه ته د منی او عرفات په عامه غونډه کښې ددې اعلان کولو حکم ورکړو، چه په حرم شریف کښې د مشرکانه طرز د عبادت او حج او طواف وغیره کولو بندیز شویدې، د جاهلیت هغه رسم هم بند شو چه په بربنډه به ئې طواف کولو ددې په مطابق حضرت علی رضي الله عنه د منی په عامه غونډه کښې اعلان او کړو چه،

لَايَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، (۱) [یعنی دې کال نه پس به هیڅوک مشرک حج نشي کولې او هیڅوک به په بربنډه طواف نشي کولې]

دیو کال دا ډیل ځکه ورکړې شو چه دې کښې ډیر خلق هغه هم وو چاسره چه د مسلمانانو لوظ شوې وو او دنیتې پوره کیدو نه وړاندې د هغې خلاف کول او څه نوې قانون ورته رامخې ته کول اسلامي پت پاللو [رواداری] اسره جوړښت نه خوری ځکه ئې دا اعلان یو کال وړاندې جاری کړو او ورته او وئیلې شو چه حرم شریف د مشرکانه عبادتونو کولو او د شرکی رسمونو نه د پاکولو فیصله شوی ده ولې چه دا قسم عبادتونه کول په حقیقت کښې د جماتونو آبادول نه، بلکه د دې ورانول دی،

د مکې مشرکانو به دغې خپلو مشرکانه رسمونو ته عبادت وئیلو دا به ئې د مسجد حرام آبادول بلل او فخریه ئې پرې کولو، وئیل به ئې چه مونږ خو د بیت الله شریف او مسجد حرام مَنتظمان یو او د دې د آبادولو ذمَه دار یو حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائیلی دی چه هر کله حضرت عباس ﷺ د مسلمانیدو نه وړاندې د بدر په غزا کښې مسلمانانو بندی کړو او ورته ئې په کفر او شرک باندې د تینګ پاتې کیدو پیغور ورکړو نو هغوئ ﷺ جواب ورکړو چه تاسو [مسلمانان] خو یوا څې زمونږ خرابئ یادوئ او مونږ د خوبیانو هیڅ ذکر نه کوئ، وې وئیل چه تاسو ته دا معلومه نه ده چه مونږه د مسجد حرام او بیت الله شریف آبادلرونکی، د دې انتظام کوونکی او حاجیانو ته داوبو ور کولو [څکولو] وغیره هر قسم خدمت کوونکی هم یو په دې باندې د قرآن کریم دا آیتونه نازل شو،

﴿مَاكَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ﴾ مشرکان دا حق نه لری چه د الله تعالی جماعتونه آباد کړی] ولې چه جماعتونه صرف هغه ځایونه کیدې شی چه خالص د الله تعالی وحده د عبادت د پاره جوړ کړې شوی دی، شرک او کفر د دې ضدا او پوته څیزدې چه جوماتونو آبادولو سره نشي جمع کیدې،

په دې آیت کښې د جومات د آبادولو [عمارت] لفظ په څو معنو کښې استعمالیږی ① یو قسم آبادول ئې دادی چه دیوالونه چت وغیره ئې آباد کړې شی ② بل قسم آبادول ئې دادی چه د حفاظت، صفائي او نورو ضروریاتو انتظام ئې او کړې شی، او ③ دریم قسم آبادول ئې دادی چه عبادت پکښې او کړې شی، چنانچه عمرې ته عمره ځکه وئیلی شی چه په دې کښې د بیت الله شریف زیارت کولې شی او عبادت د پاره پکښې حاضریدل دی،

د مکې مشرکانو به په دې درې واړه معنو کښې خپل ځانونه د بیت الله شریف آبادونکی ضباطول او د مسجد حرام د آبادولو به ئې خپل ځانونه ذمه دار ګڼړل چه فخریه ئې پرې کولو، په دې آیتونو کښې الله تعالی واضحه کړل چه د الله تعالی د جوماتونو د آبادولو حق مشرکان د سره ځکه نه لری چه دوئ پخپله د خپل کفر او شرک ګواهان دی، د دوئ عملونو تباه او برباد شو او همیشه به د جهنم په اور کښې پاتې کیږی. پخپله د خپل کفر او شرک د ګواهئ ورکولو مطلب یا خو دا کیدې شی چه د خپل شرکی کارونو او عملونو کولو په وجه ګویا کښې د خپل شرک او کفر ګواهی ورکوی او یا په دې وجه چې عادة کله د یو نصرانی او یهودی نه تپوس اوشی چې ته څوک یې ؟ نو هغه خپل ځان ته نصرانی یا یهودی وائی همدا شان مجوسی او بت پرست خلق هم په خپلو کافرانه نومونو

---

(۱) صحیح البخاری، کتاب التفسیر، سورة التوبة، باب قوله تعالٰی الا الذین عٰهدتم من المشرکین: ج ۲، ص ۱۷۱

سره خپله پیژندګلي کوي په دې لحاظ سره ګویا کښې دا دخپل کفراوشرک ګواهي کول شو [ابن کثیر] ([1])

په دې آیت کښې دجومات دآبادولو منفي اړخ بیان کړې شو چه مشرکان ددې اهل اوجوګه نه دي. اوس په بل آیت کښې ددې مثبت اړخ داسې بیانوي ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَىٰ أُولَٰئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ﴾ یعنې دجوماتونو آبادول یواځې دهغه کسانو کار دې چه په الله تعالی اودقیامت په ورځ ایمان راوړي، دمونځ پابندي کوي اوزکوة ورکوي اودالله تعالی نه بغیردبل هیچانه نه ویریږي، نودداسې خلقوپه باره کښې امید دې چه دوئ به خپل مقصد کښې کامیاب شي]

مطلب دادې چه دجوماتونواصلي تعمیر [آبادول] یواځې هغه خلق کولې شي چه دعقیدې اوعمل دواړوله مخې دالله تعالی دحکمونوپابندوي، په الله تعالی اودآخرت په ورځ ایمان لري. دلته یواځې په الله تعالی اودآخرت په ورځ دایمان راوړلوذکراوکړې شو، په رسول الله ﷺ باندې د ایمان راوړلوذکرپه دې وجه ضروري اونه ګڼړلې شوچه په الله تعالی باندې د ایمان راوړلو صورت، په رسول الله ﷺ باندې د ایمان راوړلونه بغیردسره کیدې نشي، یعني څوك، پورې چه دالله تعالی له اړخه درسول الله ﷺ راوړلی احکام دزړه داخلاصه قبول نکړي نوداپه الله تعالی باندې هم ایمان راوړل څکه نه حسابیږي چه الله تعالی باندې ایمان راوړلو کښې په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړل په فطري ډول داخل دی، همدغه وجه ده چه یو ځل رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﵃ نه تپوس اوکړوچه، تاسوپوهیږئ چه په الله تعالی باندې ایمان راوړل څه څیزدې؟ هغوئ ﵃ عرض اوکړوچه، الله تعالی اورسول لله ﷺ په دې ښه پوهیږي. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه، په الله تعالی باندې ایمان راوړل دادي چه بنده دزړه نه ددې ګواهي ورکړي چه دالله تعالی نه سوابل هیڅوک دعبادت لائق نشته اوداچه محمد ﷺ دالله تعالی رسول ﷺ دې. دې حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړل الله تعالی باندې په ایمان راوړلو کښې داخل اوشامل دی، [مظهري دصحیحینو په حواله] ([2])

اودافرمائیل چه دالله تعالی نه بغیردبل هیچانه نه ویریږي، ددې معنی داده چه، ددین په معامله کښې دچادویرې دکبله، دالله تعالی حکم پرې نږدي، ورنه دویرې دڅیزونونه ویریدل اوبوګنیدل خودعقل اوفطرت تقاضاده، درندګانو اوزهرجنو ځناورونه دغه شان دغل اوډاکو نه په طبعي شان سره ویریدل، ددې خلاف نه دی څنګه چه دحضرت موسی ﵇ په وړاندې هرکله چه جادوګرو، درسیانو اوپړونه جوړکړي ماران ښکاره کړل نوهغوئ ﵇ وویریدل لکه فرمائي، ﴿فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَىٰ﴾ مطلب داچه داسې قسم طبعي ویریدل دقرآني حکم نه خلاف نه دی اونه پیغمبرئ اوولي توب سره بې سمونه دی البته دویرې له کبله دومره مغلوب کیدل دمؤمن شان نه دې چه دالله تعالی په حکمونوکښې خلل راولي یا بیخي دالله تعالی حکمونه پریږدي دلته ترهم دامراددی.

---

[1]) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۱۹

[2]) التفسیر المظهري تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۷۳، وصحیح البخاري، کتاب الإیمان، باب اداء الخمس من الإیمان: ج ۱، ص ۱۳

Scanned with Ca

دې آيت سره څنګې تړلې مسئلې: په دې آيتونو کښې دا بيان شو چه، مشرکان او کافران د جوماتونو آبادول نشي کولې بلکه دا يواځې دنيک او صالح مسلمان کار دې، دې نه مطلب د جوماتونو سنبالول او انتظامي ذمه داري پوره کول دي، په دې باحاصل ئې دا شو چه يو کافر يا مشرک د يو اسلامي وقف متولي يا منتظم جوړول جائز نه دي ألبته د جوماتونو په ظاهري آبادولو مثلاً ددې په ديوالونو، چتونو وغيره جوړولو کښې تر کار اغستل څه بديت نه لري [تفسير مراغي]

دغه شان که يو غير مسلم د ثواب حاصلولو په غرض جومات جوړ کړي يا د جومات په جوړولو کښې مسلمانانو ته چنده ورکوي نو ددې قبلول هم په دې شرط سره جائز دي چه ترِنه څه ديني يا دنيوي نقصان نه راؤلاړيږي، څه الزام يا پيغور ترِنه راپورته کيږي، په آئنده کښې پرِ دقبضې کولو غرض ئې پکښې نه وي، د احسان ضباطولو مطلب ئې پکښې نه وي، [درمحتار، شامي، مراغي]

په دې آيت کښې ئې اوفرمائيل چه، د جوماتونو آبادول يواځې د نيک مسلمان کار دې، دې نه دا هم ثابته شوه چه څوک د جوماتونو حفاظت صفائي کوي، ددې د نورو ضرورياتو انتظام کوي، يا عبادت، د الله تعالى ذکر، يا د علم دين او قرآن لوستلو لولو د پاره جومات ته ځي راځي، دهغوئ دا عملونه کول ددې خبرې ګواهي ده چه کامل مؤمنان دي،

د ترمذي او ابن ماجه په حواله د ابي سعيد خدري ﵁ په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه، هر کله تاسو داسې يو سړې اووينئ چه په جومات کښې د حاضريدو پابند دې نو دهغه د ايمان ګواهي ورکړئ ځکه چه الله تعالى فرمائي: ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَٰجِدَ اللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِاللَّهِ﴾ ([1])

او د صحيحينو په حديث کښې راغلي دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه، څوک سهر ما ښام په جومات کښې حاضريږي الله تعالى ورد پاره په جنت کښې يوه درجه تياروي، ([2])

د حضرت سلمان فارسي ﵁ په روايت رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوک جومات ته راشي هغه د الله تعالى زيارت کوونکې ميلمه وي، په کوربه باندې حق دې چه د ميلمه خاطر مدارا وکړي [مظهري په حواله د طبراني، ابن جرير، بيهقي وغيره] ([3])

مفسر قرآن حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي ﵀ فرمائيلي دي چه د جومات په آبادولو کښې دا هم داخل دي چه جوماتونه د داسې څيزونو نه پاک کړي د کوم د پاره چه جوماتونه نه دي جوړ شوي، مثلاً خريد، خرڅ شو، دنيوي خبرې کول، دورک شوي څيزلټون کول شو، يا د دنيا د څيزونو د خلقو نه سوال کول شو، يا فضول قسم شعرونه وئيل شو، جنګ، جګړې، شور، شغب وغيره کول شو [مظهري] ([4])

سِقَايَةَ الْحَآجِّ	أَجَعَلْتُمْ
اوبه ورکول حاجيانو ته	آيا ګڼړلي دي تاسو
آيا تاسو حاجيانو ته اوبه ورکول	

[1]) جامع الترمذي، أبواب التفسير، باب ومن سورة التوبة: ج ۲، ص ۱۴۰
[2]) صحيح البخاري، كتاب الاذان، باب فضل من خرج الى المسجد ومن راح: ج ۱، ص ۹۱، وصحيح مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل الصلاة المكتوبة ــــ الخ: ج ۱، ص ۲۳۲
[3]) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث: ۶۰۱۶، وشعب الإيمان للبيهقي رقم الحديث: ۲۸۱۳ والمظهري: ج ۴، ص ۱۳۸
[4]) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۱۳۸، ۱۳۹

Scanned with Ca

وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

او آبادول ا دمسجد حرام ا برابر پشان دهغه چا ا چې ايمان ئې راوړو ا په الله باندې ا او په ورځ

او دمسجد حرام آبادول [په ثواب او نيکئ کښې] دهغه چا پشان گرځوئ چه په الله او په ورځ د آخرت

الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

دآخرت باندې ا او جهاد ئې اوکړو ا په لار د الله کښې ا نه دي برابر هغوئ ا په نز د الله ا او الله

ئې ايمان راوړې وي او د الله تعالى په لار کښې ئې جهاد کړې وي دا خلق د الله په نيز برابر نه دي او الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۘ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا

نيغه لار نه ښائى ا قوم ا ظالم ته ا هغه کسان ا چې ايمان ئې راوړو ا او هجرت ئې اوکړو ا

ظالمانو خلقو ته د هدايت توفيق نه ورکوى هغه خلق چه ايمان ئې راوړې دي او هجرت ئې کړې دي

وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ

او جهاد ئې اوکړو ا په لار د الله کښې ا په مالونو خپلو سره ا او په نفسونو خپلو سره ا ډير لوئ دي ا

او د الله په لار کښې ئې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کړې وي [دغه خلق] د الله په نيز د ثواب

دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۞ يُبَشِّرُهُمْ

په لحاظ د درجې سره ا په نز د الله ا او دا کسان ا هم دوئ ا کامياب دي ا زيرې ورکوى هغوئ ته

په اعتبار سره ډير لوئې دي او هم دغه خلق [په دنيا او آخرت کښې] کامياب دي د دوى رب دوى ته

رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ

رب دهغوئ ا په رحمت سره ا د طرف خپل نه ا او په رضامندئ سره ا او په باغونو سره ا چې وي به دهغوئ د پاره

د خپل طرف نه د رحمت او رضامندئ او د باغونو زيرې ورکوى [کله چه دوى دغه باغونو ته ورداخل شى نو] د

فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۙ ۞ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په هغې کښې ا نعمتونه ا هميشه ا چې هميشه به اوسيږى ا په هغې کښې ا هميشه هميشه ا بيشکه الله

دوى د پاره به هغې کښې هميشه پاتې کيدونکې نعمتونه وي او دوى به هغې کښې هميشه هميشه وي بيشکه

عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۞ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْٓا

دهغه سره دي ا اجر ا لوئ ا اے هغه کسانو ا چې ايمان موراوړې دي ا مه نيسئ تاسو

د الله تعالى سره [دوى د پاره] لويه بدله ده اې د ايمان خاوندانو! تاسو په خپلو پلارانو او خپلو ورونړو

اٰبَآءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ

پلاران خپل ا او ورونړه خپل ا دوستان ا که خوښ کړى هغوئ ا کفر ا

کښې هغه چا سره دوستى مکوئ چا چه د ايمان په مقابله کښې کفر خوښ کړى وى ....

عَلَى الْاِيْمَانِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ

په ايمان باندې ا او هغه څوك ا چې دوستى ئې اوکړه دهغوئ سره ا استاسو نه ا نو دغه کسان

..........او چا چه په تاسو کښې [په داسې حالت کښې هم دوستى اوکړه] نو هم دغه خلق

Scanned with Ca

هُمُ	الظّٰلِمُوْنَ ۝٢٣
هم هغوئ	ظالمان دی ا
ظالمان دی	

آسان ترجمه قرآن

آيا تاسو حاجيانو ته اوبه ورکول او مسجد حرام لره آبادول د هغه کس ﴿ د اعمالو ﴾ برابر ګرځولي دي چه هغه په الله او په ورځ د آخرت باندې ايمان راوړې دې او دالله په لاره کښې ئې جهاد کړې دې دالله په نيز دا ټول برابر نه شي کيدې، او الله ظالمانو لره خپل منزل مقصود ته نه رسوي، چا چه ايمان راوړې دې او دالله په لاره کښې ئې هجرت کړې دې او پخپلو مالونو او ځانونوسره ئې جهاد کړې دې، دوی د الله په نيز باندې په درجه کښې زيات دي اودا خلق کاميابيدونکي دي د دوی پروردګار دخپل طرف نه دوی ته د رحمت او رضامندئ، او د داسې باغونو خبرې ورکوي چه هغې کښې دوی دپاره هميشه نعمتونه دی، دوی به دې کښې هميشه وي، يقيناً هم دا الله دې چا سره چه لوئې اجر دې. اې د ايمان خاوندانو! که ستاسو پلاران او ورونړه د کفر په مقابله کښې ايمان ته ترجيح ورکړي نو هغوی خپل سرپرستان مه جوړوئ اوڅوک چه دوی لره سرپرست جوړوی نو هغوی به ظالمان وی.

خلاصه تفسير

﴿اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ آيا تاسو خلقو ، حاجيانو باندې اوبه څکول او مسجد حرام آبادول ، ﴿كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ د داسې کس [دعمل] پشان اوګرځول چې په الله ﷻ اود قيامت په ورځ ايمان راؤړی او هغه د الله ﷻ په لار کښې جهاد کړې وی [دغه عمل ايمان او جهاد دې يعنی دا عملونه يو شان نه دی او هر کله چې عملونه يو شان نه دی نو] دا [عمل کوؤنکی] خلق [هم يو تر بله] ﴿لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ﴾ يوشان نه دی د الله ﷻ په نزد [غرض دا چې عملونه خپل مينځ کښې اوعمل کوؤنکی خپل مينځ کښې سره يوشان نه دی ، د چلن د کلام په قرينې سره مقصود دادې چې ايمان ، او جهاد هر يو زيات غوره دې د اوبو څکولو اوآبادولو نه ،يعنی ايمان هم د دوواړو نه زيات غوره دې ،دا جواب دې مؤمنانو ته چې د راؤړلو نه پس ئې حاجيانو باندې اوبه څکول اود مسجد حرام آبادول دجهاد نه زيات غوره ګنړل] او [دا خبره خو ډيره زياته ښکاره ده ليکن] ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ کوم خلق چې بې انصافه دی [مراد ترې مشرکان دی] الله ﷻ هغوئ ته پوهه نه ورکوی [ځکه هغوئ نه منی ، بل طرفته مؤمنانو خلقو ،دا تحقيق سمدستی اومنلو ، ورپسې هغه مضمون ښه ښکارول کوی چې د بره د لايستون نه مقصود وو يعنی] ﴿اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا﴾ کومو خلقو چې ايمان راؤړو او [الله ﷻ دپاره] هغوئ وطن پريخودو ﴿وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ﴾ اود الله ﷻ په لار کښې پخپل مال او ځان سره جهاد اوکړو ،﴿اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ﴾ هغوئ په درجه کښې د الله ﷻ په نزد [د اوبو څکوؤنکو اوآبادونکو په مقابله کښې] زيات لوئې دی [ځکه چې اوبه څکوؤنکی او آبادوؤنکو کښې ايمان نه وی نو دا لوئ خالص په هغه مؤمنانو مهاجرو او مجاهدينو کښې منحصره ده اوکه په هغوئ کښې ايمان وی نواګر چې هغوئ هم لوئې دی مګر دهغوئ په نسبت

Scanned with Ca

دوئ زيات لوئي دى] ﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾ او هم دا خلق پوره كامياب دى [ځكه كه دبې ايمانو سره ئې مقابله اوكړې شى نو يوازې هم دوئ كامياب دى، اوكه ايماندار وسره ئې مقابله اوكړې شى نو كاميابئ كښې اګر كه دواړه سره شريك دى خوبيا هم د دوئ كاميابى زياته لوړه ده، وړپسې ددغه درجې او كاميابئ بيان دې چې] ﴿يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ﴾ د دوئ رب دوئ ته زيرې وركوى د خپل طرفنه د يو رحمت ﴿وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ﴾ اودوئ رضا مندى [او د جنت] دداسې باغونو چې دوئ دپاره به دغې [باغونو] كښې د هميشه هميشه نعمت وى ﴿خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا﴾ او په هغې كښې به دوئ هميشه هميشه اوسيږى ﴿إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ﴾ بيشكه الله ﷻ سره لوئې اجر دې [او دهغې څخه به دوئ ته وركولې شى] ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ﴾ ائې د ايمان خاوندانو خپل پلرونه او خپل رونړه [خپل] ملګرى دوستان مه جوړوئ كه دغه خلق كفر لره په مقابله د ايمان كښې [داسې] عزيز لرى [چې ددې د ايمان راوړلو اميد پاتې نشى] ﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ اوڅوك چې تاسو څخه د هغوئ سره ملګرتيالرى نو داسې خلق لوئې نافرمانه دى [مطلب دادې چې په هجرت كولو كښې لوئې ركاوټ ددغې خلقو تعلق دې كوم چې روا اوجائز نه دې بيا په هجرت كولو كښې څه سختى ده].

معارف اومسائل

اوسنى څلوررومبى آيتونه [۱۹] نه تردوه [۲۲] دويشتم پورې] يوخاص واقعې سره تړون داسې لرى چه د مكې ډيرومشركانوبه دمسلمانانوپه مقابله كښې په دې فخركولوچه مونږه دمسجدحرام د آبادولو او حاجيانوته داوبوڅكولو كاركوؤچه دې نه بل زيات ښه عمل نشى كيدې، دأسلام راوړلونه وړاندې كله چه حضرت عباس رضي الله عنه دبدرپه غزاكښې دمسلمانانو بنديوان شواودهغوئ رضي الله عنهم مسلمانانو اوعزيزانوپه دې ملامته كړوچه ته دايمان دنعمت نه محرومه ئې نوهغوئ رضي الله عنه هم دغه وئيلى وو، چه تاسوخوايمان او هجرت خپله لويه سرمايه دغوروالى ګڼړئ خوزمونږپه لاس كښې دمسجدحرام آبادول اوحاجيانوته اوبه څكول دى، چه ډيرلوئ خدمت دې اوبل هيڅ عمل ورسره برابريدې نشى، په دې باندې داآيتونه نازل شو، [ابن كثير] په روايت دعلي ابن ابى طلحه دابن عباس رضي الله عنه نه[۱]

دمسندعبدالرزاق رحمه الله په بعضې روايتونو كښې راغلى دى چه هركله حضرت عباس رضي الله عنه مسلمان شو نو طلحه بن شيبه، حضرت عباس رضي الله عنه اوحضرت على رضي الله عنه دريواړوسره خپل منځ كښې خبرې كولې، طلحه اووئيل چه په غوروالى كښې هيڅوك ماسره نشى برابريدې چه دبيت الله شريف چاپى زماپه لاس كښې ده كه اوغواړم نوبيت الله شريف ته دننه تلې شم اوشپه پكښې هم تيرولې شم، حضرت عباس رضي الله عنه اوفرمائيل چه حاجيانوباندې داوبوڅكولو انتظام زما په لاس كښې دې دمسجدحرام ټول اختيارات ماسره دى، حضرت على رضي الله عنه اوفرمائيل، زه نه پوهيږم چه تاسوپه څه باندې فخركوئ زماحال خودادې چه ما، دټولو خلقونه شپږمياشتې مخكښې بيت الله شريف اړخ ته مونځونه كړيدى اورسول الله ﷺ سره په جهادكولو كښې سره

[۱]) تفسير البغوى تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۳، وتفسير الطبرى تحت هٰذه الآية: ج ۱۴، ص ۱۷۰

Scanned with Ca

شريک پاتې شوې يم. په دې باندې دا آيتونه نازل شو، (۱) دې کښې دا خبره ښه څرګنده کړې شوه يو عمل که هر څو مره اعلى او زيات غوره وى، د الله تعالى په نزد د هغې هيڅ قيمت نشته چه ايمان ورسره نه وى، د غه شان د شرک په حالت کښې د غسې عمل کوونکى د الله تعالى په نزد مقبول نه دى،

د صحيح مسلم په حواله د نعمان بن بشير رضي الله عنه په روايت دا واقعه دا سې منقول ده چه هغه يو ځل د جمعې په ورځ څو صحابه کرام رضي الله عنهم سره د رسول الله ﷺ ممبر په خوا کښې وو، په هغوئ رضي الله عنهم کښې يو کس اووئيل چه د اسلام او ايمان نه پس زما په نزد حاجيانو باندې د اوبو څکولو نه زيات بل څه عمل نشته او د دې په مقابله کښې د بل هيڅ عمل څه پروا نشته. يو بل صاحب رضي الله عنه د هغه رضي الله عنه په جواب کښې اووئيل چه، دا سې نه ده بلکه د الله تعالى په لار کښې جهاد کول د تولو نه زيات لوئ عمل دې. په دې باندې د دواړو رضي الله عنهما ترمينځه، بحث شروع شو، حضرت عمر رضي الله عنه دواړه اورټل او وې وئيل چه منبر نبوى ﷺ په خوا کښې شور شغب مه کوئ، مناسبه خبره داده چه د جمعې د مونځ نه پس د دې تپوس د رسول الله ﷺ نه اوکړئ. د جمعې د مونځ نه پس چه د هغوئ ﷺ نه تپوس اوشو نو دا آيتونه نازل شو (۲) په کومو کښې چه په حاجيانو باندې د اوبو څکولو او د مسجد حرام د آبادولو نه زيات غوره عمل جهاد بښولې شويدې.

کيدې شى چه دې دَواړو واقعو کښې دا آيتونه نازل شوى وى اول د مشرکانو د فخر او تکبر په جواب کښې او بيا د هغې واقعې په باره کښې [چه د مسلمانانو ترمنځه اوس بيان شوه] نازل شوى وى،

په هرحال په دې آيتونو کښې د دواړو قسمه واقعاتو جواب دادې چه شرک سره هيڅ يوه نيکى پکار نشى راتلې اګرچه هغه ډيره لويه وى، په دې بناد مسلمانانو په مقابله کښې کافرانو او مشرکانو ته د جومات د آبادولو يا حاجيانو باندې د اوبو څکولو څه بهترى او بزرګى نشى حاصليدې او د ايمان نه پس هم د ايمان او جهاد درجه د مسجد حرام او حاجيانو باندې د اوبو څکولو په نسبت ډيره زياته ده کوم مسلمانان چه په ايمان او جهاد کښې وړاندې شو، دا د هغه مسلمانانو ته زيات غوره دى، چا چه په جهاد کښې شرکت اونکړو او صرف مسجدِ حرام ئې جوړولو او حاجيانو باندې به ئې اوبه څکولې،

د دې تمهيد نه پس د دې آيتونو په الفاظو او ترجمې باندې بيا يو نظر واچوئ، فرمائى: آيا، تاسو حاجيانو باندې اوبه څکول او مسجدِ حرام آبادلرل د هغه چا پشان او د هغوئ برابر او ګرځول چه په الله تعالى او د قيامت په ورځ ئې ايمان راوړې وى او د الله په لار کښې ئې جهاد کړې وى. [دا خلق د الله تعالى په نزد برابر نه دى،

د کلام د روانئ په قرينې سره مقصود دادې چه د ايمان او جهاد څخه هر يو د مسجدِ حرام د آبادولو په حاجيانو باندې د اوبو څکولو نه زيات غوره دې، يعنى ايمان هم د دواړو نه زيات غوره دې او جهاد هم، په دې خبرې سره د مشرکانو جواب اوشو چه ايمان زيات غوره دې او په دې بلې سره د هغه مسلمانانو جواب اوشو کوم به چې د جهاد نه د مسجدِ حرام آبادول او په حاجيانو باندې اوبه څکول زيات غوره ګڼړل،

---

(۱) تفسير الطبرى رقم الحديث: ۲۵۳ و تفسير البغوى تحت هٰذه الآية: ج ۱، ص ۲۲

(۲) صحيح مسلم، كتاب الامارة، باب فضل الشهادة فى السبيل الله: ج ۲، ص ۱۳۲

Scanned with Ca

دالله تعالی ذکر د جهاد نه زیات غوره دي: په تفسیر مظهري کښې قاضي ثناءالله پاني پتي رحمه الله فرمائیلي دي چه، دې آیت کښې د مسجد حرام په آبادولو باندې ته چې نوم جهاد غورولي ورکول شویدي دا د عمارت د ظاهري معنی په اعتبار سره دی، یعنې د مسجد تعمیر او ضروري انتظامات کول چې د جهاد افضلیت ددې په مقابله کښې مسلم او منل شوي دي. خو هر کله چه د مسجد حرام د عمارت آبادول معنی عبادت او دالله تعالی ذکر کول پکښې واغستې شي کوم چه په حقیقت کښې د جوماتو اصلي آبادول دي نو ددې معنی په اعتبار سره د رسول الله ﷺ د ډاګیزو ارشاداتو مطابق د جوماتو آبادول د جهاد نه زیات غوره او اعلی دي،[1] چنانچه د مسند احمد، ترمذي او ابن ماجه په حواله د حضرت ابی الدرداء رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلي دي، آیا زه تاسو ته داسې یو عمل در او ښایم چه ستاسو د ټولو عملونو نه زیات غوره او ستاسو د مالک په نزد به د ټولو نه ډیر زیات ښه وي، ستاسو درجې به زیاتې لوړوي او ددې نه به هم زیات غوره وي چه دالله تعالی په لار کښې سره زر او سپین زر خرچ کړئ او ددې نه به هم زیات ښه وي چه تاسو په جهاد کښې د دښمن سخته مقابله کوئ او ددې په نتیجه کښې یا خو تاسو هغوئ او وژنئ یا هغوئ تاسو لره او وژني. صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض او کړو، یارسول الله ﷺ داسې عمل راته ضرور او ښائی. هغوئ ﷺ او فرمائیل: دغه عمل دالله تعالی ذکر دې،[2] دې نه معلومه شوه چه دالله تعالی ذکر د جهاد نه هم زیات غوره دې، په دې بنا کله چه د جوماتو آبادول دالله تعالی د ذکر په معنی سره واغستې شي نو هغه هم د جهاد نه زیات غوره شو، مګر دلته د مشرکانو فخر او غرور په مسجد حرام کښې دالله تعالی د ذکر په بنا نه وو، بلکه ددې مطلب ظاهري آبادول او ظاهري انتظامات کول وو ځکه تر جهاد، زیات غوره او ګرځولې شو،

دقرآن او سنت په مجموعي ارشاداتو چه غور اوکړو نو معلومیږي چه یو عمل د بل عمل نه زیات غوره کیدل د حالاتو او واقعاتو په اډانړه وي، په څنې حالاتو کښې یو عمل د بل نه زیات غوره وي، خو د حالاتو په بدلید و سره معامله اپوته شي، مطلب دا چه کله د مسلمانانو او اسلام دفاع زیاته ضروري شي نو یقینا چه دغه وخت کښې به جهاد کول د ټولو عبادتونو نه زیات غوره وي، څنګه چه د خندق په غزا کښې د رسول الله ﷺ د څلورو مونځونو د قضا کیدو دواقعې نه ښکاره ده، او کله چه دومره سخت ضرورت نه وي، نو د جهاد په مقابله کښې به دالله تعالی ذکر او عبادت زیات غوره وي،

په دې کښې فرمائی: ﴿وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ مطلب تردا ښودل دی چه دا څه باریکه او نازکه خبره نه ده بلکه بلکل واضحه ده چه ایمان د ټولو عملونو بنیاد او ددې ټولو نه زیات غوره دې، او دغه شان جهاد کول، د مسجد حرام د آبادولو او حاجیانو باندې د اوبو څکلو لو نه زیات غوره دې، لیکن الله تعالی بې انصافو خلقو ته پوه نه ورکوي، ځکه هغوئ په داسې ډاګیزو خبرو کښې هم بې ځایه بحثونه کوي،

---

[1]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ١٥٠

[2]) جامع الترمذي، أبواب الدعوات، باب منه: ج ٢، ص ١٧٥، وسنن ابن ماجة، كتاب الادب، باب فضل الذكر: ج ٢، ص ٢٦٨، ومسند أحمد رقم الحديث: ٢٢٧٥١، حديث معاذ بن جبل رضي الله عنه۔

په شلم آیت مبارك کښې ددې مضمون تفصیل دې ، چې په ړومبی ایت مبارك په [لايستون] الفاظو سره بیان کړې شوی دی . یعنی ایمان والا ، مجاهد او صرف عمارت د مسجد او سقاية حجاج کوؤنکی د الله ﷻ په نزد برابر نه دی. په شلم آیت د ﴿اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ﴾ د مسجد حرام آبادوونکی حاجیانو باندې اوبه څکوونکی دجهاد کوونکو برابر نه دی، تفصیل داسې بیان شویدې یعنی کومو خلقو چه ایمان راؤړو او هجرت ئې اوکړو او په خپل ځان او مال سره ئې دالله تعالی په لار کښې جهاد اوکړو ، دغه خلق دالله تعالی په نزد درجه کښې لوئې دی او پوره کامیاب هم دغه خلق دی] ځکه چه ددوئ په مقابله کښې مشرکانوته دکامیابې هیڅ درجه حاصله نه ده او مسلمانان اګرچه په کامیابئ کښې خوورسره شریک دی لیکن دوئ ترِپه کامیابئ کښې زیات دی، په دې بِناپوره کامیاب هم دوئ دی،

په یوویشتم اودوه ویشتم آیت کښې ددغې کامیابو خلقو لوئ اجر او دآخرت درجه داسې بیان شویدی، ﴿يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۙ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ﴾ یعنی دې خلقوته ددوئ پروردګارزیرې ورکوی دخپل رحمت اورضا ، اوداسې جنتونوچه په هغې کښې به وردپاره همیشه قائم پاتې کیدونکی نعمتونه وی، اوداخلق به هم په دې نعمتونو کښې همیشه پاتې کیږی چه هیچرې به ترنشی اوښکلې بیشکه دالله تعالی خواته لوئ اجردې]

دې آیتونوکښې دهجرت اوجهاد فضیلتونه بیان کړې شویدی چه پکښې وطن، عزیزان خپلوان، دوستان، ملګری مالونه اوجائیدادونه ټول پریښول راځی اوښکاره خبره ده چه د انسان په طبیعت باندې دا کارونه دټولونه سخت اوګران دی، په دې وجه په راتلونکی آیت کښې ددې څیزنو سره دزیات تعلق اومینې محبت لرلوبدی بیان شویده اودمسلمانانو مینه، هجرت اوجهاد سره راپاره کړې شویده، فرمائی ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَاۗءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَاۗءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَي الْاِيْمَانِ ۭ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ یعنی اې دایمان خاوندانو :تاسو خپل پلاران، نیکونه ملګری مه جوړوئ، که هغوئ دایمان په مقابله کښې کفرخوښوی او په تاسو کښې چه څوک دوئ سره، ددوئ دکفرباوجود مګرتیاپالی نوداسې خلق لوئ نافرمانه دی،

مور، پلار، رونړه، خویندواونوروخپلوخپلوانوسره دمضبوط تعلق لرلو اودوئ سره دښه سلوک کولو هدایت په قرآن کریم کښې ځائ په ځائ بیابیاراغلی دی خودې آیت کښې دا اوښودلې شو چه دهرتعلق یوحدوی که مور، پلاریانوروخپلوخپلوانودتعلق ټکرد الله اورسول ﷺ سره راځی نودهغې شاته غورځول پکاردی، کله چه ددې دواړوارېکوترمنځه ټکراؤراځی نوبیابه دالله اورسول سره اړیکولرلوته دوام ورکولې شي اونورې ټولې اړیکې به شاته غورځولې شی،

ددې آیتونوپه باره کښې فوائدې اومسئلې: دې پنځوآیتونونه څوفائدې اومسئلې حاصلې شوې،

① اوله داچه ایمان دعمل روح دې، ددې نه بغیرکه هرڅومره ښه عمل وی هغه به محض یوبې روحه کالبوت وی چه دقبلولوړبه نه وی، دآخرت په خلاصی کښې داهیڅ کارنشی ورکولې، البته الله تعالی بې انصافی بیخی نه کوی، ځکه ددوئ نیک عملونه بیخی بیکاره کوی هم نه، ددې بدله ورته په دنیاکښې دآرام، عیش، دولت اوآرام په صورت کښې ورکولې شی چه بیان

Scanned with Ca

ئې دقرآن کریم په ګڼرو آیتونو کښې راغلي دي،

دې آیتونونه ② دویمه فائده داحاصله شوه چه په ګناه اونافرمانئ کولوسره دانسان عقل هم خرابیږي، ښه ورته بد، اوبد ورته ښه ښکاري چنانچه دنولسم آیت په آخر ﴿وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ﴾ کښې ورته اشاره اوشوه څنګه چه ددې په مقابله کښې په ﴿إِنْ تَتَّقُوا اللهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا﴾ سره اشاره دې ته شویده چه په فرمانبرداري اوتقوی سره دانسان عقل ترقي کوی د فکر سلامتي ورته نصیب کیږي، دښه اوبد په بیلتون کولو کښې غلطي نه کوی،

③ دریمه مسئله تردا معلومه شوه چه نیک عملونه هم په خپل منځ کښې دیوبل نه زیات غوروالي لري چه دهغې په مناسب سره دعمل کوونکوپه درجو کښې هم غوروالي راځی، د ټولوعمل کوونکودرجه یوه نه وی، خوددې اډانړه دعمل په زیاتوالی باندې نه ده بلکه ددې په ښه والی باندې ده، چنانچه په سورةِ ملک کښې فرمائی ﴿لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ یعنی الله تعالی ستاسو ازمیښت داسې کوی چه تاسو کښې ښه عمل کوونکی څوک دی!

④ څلورمه فائده تردا حاصله شوه چه همیشه دآرام اونعمت قائم پاتې کیدو دپاره دوه څیزونه ضروري دی، ① یو داچه دغه دنعمتونه ختم نشی، ② بل داچه دغه خلق څه وخت، ددغه نعمتونونه بیل نکړې شی، په دې بنا دالله تعالی مقبوله بندګانوته ددې دواړو څیزونو ضمانت ورکړې شو ﴿نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ﴾ ئې چه اوفرمائیل نودې سره ښکاره کړې شوچه دانعمتونه بل تل دپاره وی اوپه ﴿خٰلِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا﴾ سره ئې داښکاره کړل چه داخلق به ددغې نعمتونونه هیڅکله نشی بیلولې اوپه دې شان ورته پوره تسلي ورکړې شوه،

اصلي تړون داسلام اوایمان تړون دې نسبي اووطني تړون دېپه دې قربان وی:؟ ⑤ پنځمه مسئله یوه بنیادي مسئله ده چه دخپلوئ اودوستئ په ټولواړیکوباندې دالله تعالی اودهغه درسول الله ﷺ سره اړیکې لرل وړاندې دی، دکومواړیکوچه دې سره ټکراځی هغه شاته غورځول پکار دی، چنانچه صحابه کرام ﷺ څکه په ټول امت کښې زیات غوره خلق ثابت شوچه هغوئ ﷺ په رسول الله ﷺ باندې خپل ځان ومال اوهرقسم اړیکې، قربان کړې اوپه زبانِ حال سره ئې اوویل:

توںخلِ خوش ثمرکیستی که سرروسمن   همه زخویش بریدندو باتو پیوستند

[ته دښکلې میوې کومه اونه ئې چه سرو اورامبیل، ټول ئې دخپل ځان نه لاس په سر کړل اوتاسو سره ئې یو ځائ کړل]

بلال حبشي ﷺ، صهیب رومي ﷺ، سلمان فارسي ﷺ، دمکې قریش ﷺ اودمدینې انصار خو خپل منځ کښې سره رونړه رونړه شو اودبدر او احد په میدانونو کښې دپلار او څوئې، دیو رور بل رورسره خپل منځ کښې دتوروجنګ اوشو اوددې خبرې ګواهي ئې ورکړه چه ددوئ مسلک داوو؟

هزارخویش که بیگانه ازخداباشد   فدائے یک تنِ بیگانه کاشناباشد

[دالله تعالی نه پردې په زرګونو خپلوان د، دهغه پردې قربان وی چه الله تعالی سره ئې تعلق وی،

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا اتِّبَاعَهُمْ وَاجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ الْأَشْيَاءِ إِلَيْنَا وَخَشْيَتَكَ أَخْوَفَ الْأَشْيَاءِ عِنْدَنَا، آمین، [اې الله تعالی ددوئ

تابعداری مونصیب کړي ستامینه راتـه ډیـره غـوره ښـکاره کـړي اوستاویره راتـه دویـرې لـوئ ښیز ښکاره کړي [آمین]

قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ

| ورته اووایه | که چرې وی | اپلاران ستاسو | اوخامن ستاسو |

.......ته [دوی ته] اووایه؛ که ستاسو پلاران او خامن ....

وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ

اوروڼره ستاسو | اوښځې ستاسو | اوخپلوان ستاسو | اوهغه مالونه

او وروڼره ....اوبیبیانې ....اوخپل خپلوان ....اوکوم مالونه چه

اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ

چې گټلی دی تاسوهغه |او هغه تجارت | چې تاسویریږئ | دنه چلیدودهغې نه |اوهغه کورونه

تاسو گټلي دی ....او هغه سوداگری د کوم د نه چلیدونه چه تاسو ویریږئ اوهغه [خپل] کورونه

تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ

چې خوښوئ تاسو هغه | زیات غوره وی | اتاسو ته | دالله نه | اود رسول دهغه نه | اودجهاد نه

چه تاسو ئې خوښوئ [دا ټول څیزونه] تاسو ته د الله او د هغه د رسول اود الله په لار کښې د جهاد کولو

فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي

په لاره دهغه کښې انوانتظارکوئ اترديٌ پورې اچې راوړی الله افیصله خپله |اوالله | لار نه ښائی

نه زیات خوښ وی نو[په داسې صورت کښې]تاسو دالله د[عذاب د] فیصلې انتظارکوئ او الله ظالمانو

الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿٢٤﴾

قوم | فاسقانوته |

خلقو ته د هدایت توفیق نه ورکوی

آسان ترجمه قرآن

﴿اې پیغمبره ! مسلمانانو ته﴾ ووایه: که چرې ستاسو پلاران ستاسو ځامن ، ستاسو وروڼره ، ستاسو بیبیانې ، او ستاسو خاندان ، او هغه مال او دولت کوم چه تاسو گټلې دې او هغه کاروبار چه دهغې د خرابیدو نه تاسو ویریږئ، او هغه د اوسیدو کورونه چه هغه تاسو ته خوښ دی تاسو ته دالله او دهغه د رسول نه او د هغه په لاره کښې د جهاد کولو نه زیات محبوب وي نو انتظار کوئ تر دې چه الله خپله فیصله وکړي –او الله نافرمانو لره خپل منزل مقصودته نه رسوي.

خلاصه تفسیر

مخکښې ددې مضمون زیات تفصیل دادې چې ائې محمد ﷺ] ﴿قُلْ﴾ تاسو ﷺ [دوئ ته] اووایئ ﴿إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ﴾ چې که ستاسو پلاران ، ستاسو ځامن ، ستاسو رونړه ، ستاسو بیبیانې ستاسو خاندان ﴿وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا﴾ او هغه مالونه چې گټلی مو دی ﴿وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا﴾ او هغه تجارت چې د نه چلیدو ویره ئې درسره وی ﴿وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا﴾ او

Scanned with Ca

هغه کورونه چې تاسو ئې [په کښې اوسېدل] خوښوئ [که دا څیزونه] ﴿اَحَبَّ اِلَيۡكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَجِهَادٍ فِىۡ سَبِيۡلِهٖ﴾ تاسو ته د الله ﷻ نه دهغه درسول نه او دهغه په لار کښې د جهاد کولو نه زیا خوښ وی ﴿فَتَرَبَّصُوۡا حَتّٰى يَاۡتِىَ اللّٰهُ بِاَمۡرِهٖ﴾ نو تاسو په انتظار کښې اوسئ تر هغې چې الله ﷻ خپل حکم [دهجرت نه کولو د سزا] راؤلیږی [الکه په یوبل آیت مبارك کښې چې داسې راغلی دی چې ﴿اِنَّ الَّذِيۡنَ تَوَفّٰٮهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ﴾ تر ﴿فَاُولٰٓئِكَ مَاۡوٰٮهُمۡ جَهَنَّمُ﴾ پورې] ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡفٰسِقِيۡنَ﴾ او الله ﷻ بې حکمی کوؤنکی خلق دهغوئ مقصود ته نه رسوی [یعنی د دوئ مقصود دا وو چې دې څیزونو نه دنیوی فائدې واخلی خو ډیر زر په مرګ راتلو سره دا مقصود ښاؤرې ایرې شی].

معارف اومسائل

دسورت توبه داآیت په اصل کښې دهغه مسلمانانوپه باره کښې نازل شوې ووچه دمکې مکرمې دهجرت فرض کیدوپه صورت کښې ئې هجرت نه ووکړې ځکه چه دمور، پلار، رور، خور، اولاد، بی بی، اومال جائیداد مینه پرغالب شوه ځکه ورته درسول الله ﷺ په ذریعه داحکم اوشو، که ستاسو پلاران، ځامن، ستاسو رونړه اوستاسو بیبیانې، ستاسو خاوندانو نه ستاسو هغه مالونه چه ګټلی مودی اوهغه تجارت چه دتاوان کولو کیدو اوانديښنه ئې لرئ اوهغه کورونه چه تاسوئې خوښوئ، تاسو ته دالله تعالی اودهغه درسول نه اودهغه په لاره کښې دجهادکولونه زیات خوښ وی نو تاسو په انتظارکښې اوسئ ترهغې چه الله تعالی خپل حکم راؤلیږی اوالله تعالی نافرمانی کوونکې دهغوئ مقصودته نه رسوی،

دتفسیر دامام مجاهد رحمه الله دفرمان مطابق دلته دحکم دراتلونه مطلب دجهاد اوفتح مکه حکم راتلل دی، (۱) کله به چه دخلقوخراب انجام مخې ته راشی چه په دنیوی تعلقاتو باندې ئې دالله تعالی اورسول ﷺ تعلقات قربان کړی وی مکه به فتح شی اونافرمانه خلق به ذلیل اوخوار شی اودهغوئ دغه تعلقات به ئې په دغه وخت کښې پکار رانشی. دحضرت حسن بصری رحمه الله دفرمائیلوپه جوړدلته دحکم نه مرادحکم دعذاب دې یعنی کوموخلقوچه دآخرت تعلقات په دنیوی تعلقاتوقربان کړیدی اوهجرت ئې نه دې کړې نوپه هغوئ باندې دالله تعالی عذاب زر ترزره راتلونکې دې چه یاخوبه په دنیاکښې هم راشی ورنه دآخرت عذاب خوئې یقینی دې، دلته په آیت کښې دهجرت په نه کولوباندې زورنه ورکول مقصوددی خوددې په ځائې جهاد پریښول ذکرشولې چه دهجرت نه پس رومبې ګام اغستل جهادکول دی، دااشاره شوه دې خبرې ته چه اوس خوصرف دهجرت اودوطن پریښوحکم شوې دې په دې کښې ځنې خلقو مړانه اوبائیلله، وروسې دجهادحکم راتلونکې دې چه پکښې دالله اورسول په مینې باندې تولې مینې اوخپل ځان قربانول راځی، لیکن داهم کیدې شی چه دلته دجهادنه مطلب هم هجرت وی ځکه چه په حقیقت کښې هغه هم دجهادیوه برخه ده،

په آخردآیت کښې ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡفٰسِقِيۡنَ﴾ فرمائیلوسره داهم اوښولې شوچه کوم خلق دهجرت دحکم صادریدوباوجودهم خپل دنیوی تعلقات غوره لری، خپلو، خپلوانو، عزیزانو، مال، مکان اوجائیدادسره ئې ډیره مینه ده، خوداعمل به ئې په دنیاکښې هم سودمن ځکه نشی چه تل دپاره به خپل بال بچ سره په خپلومالونو اومکانوکښې په امن اوآرام سره نشی

(۱) تفسیر البغوی تحت هذه الآیة: ج۲، ص ۲۵، والقرطبی تحت هذه الآیة: ج۸، ص ۹۲

Scanned with Ca

کښيناستي بلکه دجهاد په حکم شروع کيدوسره به دا ټول څيزونه هغوئ دپاره وبال جوړشي، ولې چه الله تعالی نافرمانی کوونکولره مقصود ته رسيدلو دپاره نه پريږدی،

دهجرت په باره کښې مسئلې: هرکله چه په اول کښې مکې مکرمې نه مدينې منورې ته هجرت کول فرض کړې شونو دايو اخې فرض نه، بلکه دمسلمانيدو نخښه هم وه کوموخلقوبه چه سره دتوفيقه دغه هجرت اونکړوهغوئ به مسلمانان نشوګڼړلې خودغه حکم دمکې مکرمې په فتح کيدوسره منسوخ شواوپه اصل کښې داحکم باقی پاتې شوچه چرته څوک دالله تعالی په حکمونوباندې عمل کولونه بې وسه شی نوهغه ځائ نه هجرت کول هميشه دپاره فرض پاتې شوخوهله چه دهجرت کولوتوفيق هم لری.دهجرت دويمه درجه په هغه صورت کښې هميشه دپاره مستحب ده چرته چه فسق اوفجورغالب شی [تفصيل ئې په فتح الباری شرح دبخاری کښې اوګورئ](١)

په دې آيت کښې خونيغ په نيغه هغه خلقوته خطاب دې چه دهجرت دفرض کيدوپه موقع پرد دنيوی تعلقات مينه محبت غالب شی اوهغې له کبله هجرت اونکړې ليکن دآيت د الفاظو عاموالې ټولو مسلمانانوته داحکم ورکوی چه دالله تعالی اودهغه درسول الله ﷺ مينه محبت په دې درجه کښې لازم اوواجب دې چه بل هيڅ پرغالب رانشی اوڅوک چه داسې قسم مينه په ځان کښې پيدانکړی هغه دعذاب حقدارجوړيږی چه دالله تعالی دعذاب انتظار دکوی،

دالله اورسول ﷺ مينه چه دټولې دنيااودخپل ځان دمينې نه زياته نه وی نودې ته سوچه ايمان نشي وئيلې: د صحيحينوپه حواله دحضرت انس رضی الله عنه په روايت درسول الله ﷺ يو صحيح حديث داسې منقول دې فرمائی چه، ترهغې پورې څوک مؤمن نشی کيدې ترڅوچه زه ورته دهغه د پلار، اولاد، او ددنيا دټولو خلقو نه زيات محبوب اوخوښ نشم،(٢)

دابی داؤداوترمذی په حواله دحضرت ابی امامه رضی الله عنه په روايت رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه، چادوستی دالله تعالی دپاره اوکړه دښمنی ئې هم دالله تعالی دپاره اوکړه، مال ئې هم دالله تعالی دپاره اولګولو، او په يوځائ کښې دالله تعالی دپاره مال لګولونه ئې لاس واغستو نو هغه خپل ايمان مکمل کړو،(٣)

دحديث ددې روايتونونه هم ثابت شوچه دايمان کامليدل په دې اړه لری چه درسول الله ﷺ مينه ئې په ټولومينومحبتونوباندې براوغالبه وی، چاسره دوستی اودښمنی کول يوځائ کښې مال لګول يانه لګول ټول کارونه ئې دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ دحکم تابع وی،

دتفسيرامام قاضی بيضاوی رحمه الله وغيره فرمائيلې دی چه، ډيرکم خلق داسې دی چې ددې آيت دوعيد لاندې نه راځی ځکه چه عام طور په لويولويوعبادت کوونکو، زاهدانو، عالمانو او متقيانوباندې هم دخپل بال بچ اومال جائيدادمينه عموماغالبه وی الاماشاءالله، ليکن قاضی بيضاوی فرمائيلې دی چه دلته دمحبت اومينې نه مراداختياری مينه ده، غيراختياری اوطبعی مينه محبت ترمرادځکه نه دی چه الله تعالی هيچالره دهغه دطاقت اواختيارنه زيات

---

١) تفصيل دپاره اوګورئ: فتح الباری، کتاب الجهاد والسير، باب وجوب وما يجب من الجهاد والنية: ج٨، ص٣٣

٢) صحيح البخاری، کتاب الإيمان، باب حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الإيمان: ج١، ص٦، وصحيح مسلم، کتاب الإيمان، باب وجوب محبة الرسول صلى الله عليه وسلم الخ: ج١، ص٤٩

٣) سنن ابی داود، کتاب السنة، باب الدليل على الزيادة والنقصان: ج٢، ص٦٣٢، وجامع الترمذی، أبواب صفة القيامة والرقائق والورع باب منه۔

Scanned with Ca

تکلیف نه ورکوی،(۱)مطلب دا شو چه په چاباندې ددنیوی تعلقاتو طبعي مینه دومره غالبه نه وی چه دالله تعالی اورسول ﷺحکم دهغې په مقابله کښې پریږدی نو هغه هم ددې وعید لاندې نه راځی بلکه دا وئیلې شو چې دالله تعالی اودهغه درسول ﷺمینه ئې غالبه ده،ددې مثال داسې دې لکه یورنځورچه ددارودرملو[دواء]دتریخوالی اودآپریشن وغیره دتکلیف نه خو طبعاً ویره لری خود عقل له مخې ئې دخپل خلاصی،روغوالی اوسلامتئ ذریعه ئې ګڼړی اوددې د زغملو دپاره تیاریږی نو هغه دهیچاپه نزد د ملامتیا جوګه نه دې،بلکه هیڅ یو سلیم عقل ئې په دې نه مجبوره کوی چه هغه ددغه طبعي اوغیر اختیاری ویره،ترهه هم دخپل زړه نه اوباسی،دغه شان هغه څوک هم ملامته نه دی بلکه دشاباسئ حقدار دې څوک چه دالله تعالی حکمونه په هغه صورت کښې هم په ځائې راوړی چه دمال،اولادوغیره دمینې له کبله په دې کښې طبعي او غیر اختیاری تکلیف اودرد محسوسوی، ددې آیت شریف له مخې به داسې خلق هم دالله تعالی اودرسول الله ﷺمینه غالب لرونکی بللې شی.البته دمحبت اعلی مقام به هغه هم وی چه دالله تعالی اورسول الله ﷺمینه په طبعي محبت باندې هم غالب راشی،ددوئ حکم په ځائ راوړل ورته هرقسم غم،دردخوندناک جوړوی،څنګه چه مونږوینو چه ددنیافانی لذت اوآرام په دې شان سره خلق لټوی چه زبردستی خوارئ وردپاره کوی اوپه دغه لارکښې هرقسم غم تکلیف د لوبوتوقوپه ډول زغمی، د یو دفتر د ملازمت او نوکرې حاصلولو دپاره خلق هرڅومره تکلیفونه برداشت کوی په سفارشونو کولو اورشوتونو ورکولو باندې هم صرفه نه کوی په کومه کښې چه دمیاشتې په ختمیدو یو څوروپئ په لاس ورځی حالانکه په دغه نوکرئ کښې ورته په مخه تکلیفونه،مشقتونه،کول راځی،مزل اوسفرونه کول پکښې راځی،خوب اوآرام کښې ئې خللونه راځی؟

رنج راحت شد چومطلب شد بزرگ   گردِ گله توتیائے چشم گرگ

[دلوئ مطلب دخاطره تکلیف هم آرام ګرځی،څنګه چه شرمخ ته دګډو[میږو]چیلو [بزو]دګنډک دخپو دوړه رانجه ښکاری [ځکه چه مطلب ئې تردګډې [میږې] چیلئ [بزې] څیرل اوخوړل وی]

چنانچه خدائی خلق دالله اورسول الله ﷺاودآخرت دنعمتونو په مینه داسې مست وی چه ددې په مقابله کښې ورته څه تکلیف،تکلیف نه ښکاری،دصحیحینو په یوحدیث کښې رسول الله ﷺفرمائیلی دی چه درې خصلتونه داسې دی چه هغه په چاکښې اومندې شی نودایمان خوږوالې ورته حاصل شی،هغه درې خصلتونه دادی؟

① الله اورسول الله ﷺورته دټولونوروڅیزونونه زیات محبوب وی، ② چې د الله تعالی دیو بنده سره خالص دالله تعالی دپاره مینه لری ③ کفر اوشرک اختیارول ورته داسې ښکاری لکه چه په اورکښې ګذارولې شی.(۲)

دلته په حدیث شریف کښې دایمان دخوږوالی نه مطلب دمحبت هغه مقام دې چه انسان

(۱) تفسیر البیضاوی تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۳۲۱

(۲) صحیح البخاری، کتاب الإیمان، باب حلاوة الإیمان: ج ۱، ص ۷، وصحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب بیان خصال الخ: ج ۱، ص ۴۹

Scanned with Ca

دپاره هر مشقت او محنت خوندناک جوړوی:: از محبت تلخها شیرین شود] [دمینې دکبله تریخ ځیزونه خواږه لګی] هم ددې مقام شان ځنې علماؤ داسې بیان کړیدې،

وَاِذَحَلَتِ الحَلَاوَةُ قَلباً نَشَطت فِي العِبَادَةِ الاَعضَاءُ

[کله چه دایمان خوږوالې په زړه کښې پیداشی، نو دهغې له کبله ئې اندامونه په عبادت کښې خوندبیامومی،

دې کیفیت ته په ځنې روایتونو کښې د ،ایمان بشاشت، وئیلې شویدې اوپه یوحدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه، زما دسترګو یخوالې مونځ دې، (۱)

قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمائیلی دی چه دالله تعالی اودرسول الله ﷺ دمحبت دامقام یولوئ نعمت دې چه یواځې دخدائی خلقوپه صحبت اوملګرتیا سره حاصلیدې شی، همدغه وجه ده چه صوفیائې کرام رحمهم الله دې لره په خدمت دمشائخو سره حاصلول ضروری بولی، (۲) روح البیان کښې راغلی دی چه دخلت [دوستئ] دامقام هغه چاته نصیب کیږی چه دخلیل الله علیه السلام پشان خپل مال اوځان دالله تعالی په محبت کښې قربانولو ته تیاریږی، (۳)

خلیل آسا درِ ملکِ یقین زن نوائے، لآاُحِبُّ الاٰفِلِینَ، زن

[دحضرت خلیل الله علیه السلام پشان دیقین دروازه اوټکوه ،د [لآاُحِبُّ الاٰفِلِینَ [ډوبیدونکی ځیزونه نه خوښوم] آواز پورته کړه]

قاضی بیضاوی رحمه الله فرمائیلی دی چه درسول الله ﷺ په سنت اوشریعت کښې درځنې اچوونکو مقابله کول هم دالله تعالی اودهغه درسول الله ﷺ دمحبت یوه ښکاره نخښه ده، (۴) رزقنا الله تعالی وجمیع المسلمین حبه وحب رسوله کما یحب ویرضاه، [الله تعالی د زمونږ او دټولو مسلمانانو دده اودده درسول الله ﷺ هغسې محبت نصیب کړی چه دده دخوښې اورضاوی]،

لَقَدْ	نَصَرَكُمُ اللّٰهُ	فِيْ مَوَاطِنَ	كَثِيْرَةٍ
په تحقیق سر	امداد کړي دي تاسو سره الله	په ځایونو	ډیرو کښی
بیشکه الله تعالی تاسو سره په ډیرو موقعو اوخاص کر د حنین په			

وَّيَوْمَ	حُنَيْنٍ	اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ	كَثْرَتُكُمْ	فَلَمْ
اوپه ورځ	دحنین کښی	کله چی په تعجب کښی واچولې تاسو	زیاتوالی ستاسو	انو نه کړو
په موقع مدد کړې وو. کله چه ستاسو ډیروالی تاسو په تعجب کښې اوغورځولې [چه تن خومونږ ډیریو]				

تُغْنِ	عَنْكُمْ	شَيْئًا	وَّضَاقَتْ	عَلَيْكُمُ	الْاَرْضُ	بِمَا
دفع دې ډیر والی	ستاسو نه	هیڅ ځیز	او تنګه شوه	په تاسو باندې	زمکه	سره
نوستاسو ډیروالی تاسو ته هیڅ فائده ورنکړه [بلکه] زمکه سره د دې چه ډیره فراخه ده په تاسو باندې						

---

(۱) سنن النسائی، عشرة النساء، باب حب النساء: ج ۲، ص ۹۳
(۲) التفسیر المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۱۵۳
(۳) روح البیان تحت هٰذه الآية: ج ۱، ص ۸۸۳
(۴) روح البیان، بحواله قاضی ج ۱، ص ۸۸۳

رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ۞ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ
د ارتوالی ا بیا ا اوگرزیدئ تاسو ا شاکونکی ا بیا ا نازل کړو الله ا ارام ا خپل په رسول خپل باندي
تنګه شوه او بیا [د دې ډیروالی باجود] تاسو شاکونکی شوئ [خو] بیا الله تعالی په خپل رسول او مؤمنانو خپل
وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ
اوپه مومنانوباندې ا اونازلې ئې کړو ا داسې لښکرې اچې تاسو نه لیدلې هغه ا اوعذاب ئې ورکړو
ارام نازل کړل او [د فرشتو داسې] لښکرې ئې راولیږلې چه تاسو نه لیدلې او [ستاسو په لاسونو ئې]
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ وَذٰلِكَ جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ۞ ثُمَّ
هغه کسانوته اچې دحق نه ئې انکار کړې وو ا اوهم دابدله ده ا دحق نه دانکار کونکو ا بیا
کافرانو ته عذاب ورکړو [اودا عذاب ورکول څه ظلم نه دې بلکه] دا د کافرانو [د کفر] بدله ده بیا
يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَلٰى مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ
توفیق دتوبې ورکوی الله ا روستو ددې نه ا هغه چاته ا چې خوښه ئې شی ا اوالله ا ابښونکې
[د دې غزوې نه پس] الله تعالی دهغه چا توبه قبوله کړه چه خوښ ئې شو او الله تعالی بښونکې دې
رَّحِيْمٌ۞
رحم کونکې دې ا
مهربان دې

آسان ترجمه قرآن

حقیقت دا دې چه الله ستاسو په ډیرو ځایونو کښې مدد کړې دې ، او ﴿خاص طور﴾ د حنین په ورځ چه ستاسو ډیر والې تاسو لره تعجب کښې اچولې وئ مګر هغه زیات تعداد ستاسو څه پکار رانغلو او زمکه سره د فراختیا نه په تاسو باندې تنګه شوه ، بیا تاسو واړیدئ د میدان نه شاه کونکې بیا الله په رسول خپل باندې او مؤمنانو باندې اطمینان نازل کړو ، او داسې لښکرې ئې راولیږلې چه تاسو هغه نه لیدلې ، او کومو خلقو چه کفر اختیار کړې وو الله هغوی ته سزا ورکړه ، او دَ داسې کافرانو هم داسې بدله ده بیا الله چه چاته وغواړي نو توبه ورته نصیب کوي او الله ډیر بخونکې ، ډیر مهربانه دې،

خلاصه تفسیر

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ﴾ تاسو ته الله ﷻ [دجنګ] په ډیرو موقعو کښې [په کفارو باندې] غلبه درکړه [الکه بدر وغیره کښې] ﴿وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ﴾ او دحنین په ورځ هم [ئې تاسو ته غلبه درکړه چې عجیبه غریبه قصه ئې ده] ﴿اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ﴾ کله چې [داسې اوشو چې] تاسو دخپلې ډلې په کثرت غره شوی وې ﴿فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـــًٔا﴾ بیا هغه کثرت ستاسو څه پکار رانغلو او [دکافرانو په غشو ورولو داسې پریشانه شوئ چې] ﴿وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ﴾ په تاسو باندې زمکه سره د خپل [دې] د فراخووالی نه راتنګه شوه ، ﴿ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ۞﴾ بیا [آخر] تاسو په مخ ته شا اوتښتیدئ ، ﴿ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ دې نه پس الله ﷻ پخپل رسول ﷺ [د

Scanned with Ca

هغه په زړهٔ] باندې د نورو مؤمنانو [په زړونو] باندې دخپل [طرفنه] تسلی نازله کړه او [مدد دپاره ئې] ﴿وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا﴾ داسې لښکرونه [د آسمان نه] رانازل کړل چې تاسو نه ولیدلې [مراد ترې فرښتې دی چې دهغې نه پس تاسو بیا جنګ ته ملا اوتړله اوغالب شوئ] او [الله ﷻ] ﴿وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ کافرانو ته سزا ورکړه [چې هغوئ ماتې اوخوړله څه اووژلې شو او څه قیدیان شو] ﴿وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ﴾ او دا [په دنیا کښې] دکافرانو سزا ده ﴿ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ﴾ بیابه الله ﷻ توبه نصیب کړی [ددې کافرانو څینې] د هغه چا چې وې غواړی [نو ډیر په کښې مسلمانان شو] ﴿وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ او الله ﷻ لوئې بخښونکې لویې رحمت کوونکې دې [چې څوك په کښې مسلمانان شو د هغوئ ټول کړی ګناهونه ئې معاف کړل او د جنت حقدار ئې جوړ کړل].

معارف او مسائل

په دې آیتونو کښې دحنین په غزا کښې دبریالی توب او دماتې خوړلو واقعات بیان شویدی او ددې په ضمن کښې ډیرې اصولی او فروعی مسئلې او فائدې بیان شویدی، څنګه چه ددې نه په وړاندې سورت کښې دمکې دفتح او دې سره دتړلو څیزونو بیان شوې وو، دآیت په شروع کښې الله تعالی خپل هغه انعام او احسان بیان کړیدې چه په هر موقعه او هر حالت کښې ئې په مسلمانانو کړیدې، فرمائی:

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ﴾ الله تعالی په ډیرو ځایونو کښې ستاسو امداد اوکړو]، او ددې تمهید نه پس ئې په خصوصیت سره دغزوۂ حنین ذکر ئې څکه اوکړو چه په دې کښې ډیر داسې واقعات او حالات څرګند شو دکوم چه طمع نه شوه کیدې، په هغې چه ژور نظر اوکړې شی نود انسان په ایمان کښې قوت او په عمل کښې ئې مړانه پیدا کیږی، څکه ددې آیتونو د تفسیر بیانولو نه وړاندې ددې غزا هغه ضروری واقعات په تفصیل سره بیانول به مناسب وی چه داحادیثو او د تاریخ په مستند وکتابونو کښې بیان شویدی فائده به ئې داوی چه دآیتونو په مطلب باندې پوهیدلو کښې به آسانی وی، او دکوم فائدو دپاره چه دا واقعات بیان شویدی هغه مخې ته راشی، یادلرئ چه ددې واقعاتو زیاته برخه تفسیر مظهری نه څکه اغستې شویده چه په دې تفسیر کښې داحادیثو او تاریخ دکتابونو په حواله سره دغه واقعات بیان شویدی،(1)

،حنین، دهغه ځائ نوم دې چه دمکې مکرمې او د ،طائف، په منځ کښې واقع دې او دمکې مکرمې نه څه دپاسه دلسو میلو په فاصله دې، کله چه په رمضان شریف [۸هـ] کښې مکه مکرمه فتح شوه او دمکې قریشو، درسول الله ﷺ په وړاندې وسله او غورځوله نو دهوازن قبیلې خلق ډیر وارخطا شو څکه چه دا یوه مالداره، مشهوره، بهادره او جنګیالئ قبیله وه دطائف اوسیدونکی بنوثقیف هم ددې یو شاخ وو. دوئ ټول راغونډ شوا او داوئیل ئې شروع کړل چه دمکې مکرمې په فتح کولو مسلمانان زیات مضبوط شو، لازمی خبره ده چه اوس به ئې مونږ ته مخه شی، هوښیار تیاداده چه په حملې کولو کښې پرمونږ وړاندې شو، په دې غرض ئې دمکې نه طائف پورې خپل ټول شاخونه راؤبلل کوم چه په دې علاقه کښې خواره وو، هر کله چه ټول راجمع شو دنیشت برابر یو څو کسان چه دسلونه هم کم وو، دې غونډه کښې شریک نه شو. ددې

---

(1) تفصیل دپاره اوګورئې: التفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج ۴، ص ۱۵۲ نه ۱۵۹ پورے.

حرکت سر مشر دغه وخت مالک بن عوف وو چه روستو بیا مسلمان شو او د اسلام شیدائی ثابت شو، په دغه موقعه د مسلمانانو په خلاف جنګ کولو د پاره دې بنه په جوش کښې وو، د قبیلې خلقو په ګنړ شمیر کښې د ده مرسته او کړه او د جنګ تیاری شروع شوه. د دې قبیلې د دوؤ ورو شاخو خلق ① بنو کعب او ② بنو کلاب د دوئ سره شامل ځکه نشو چه الله تعالی ورته بصیرت ورکړې وو، هغوئ او وئیل چه، که د مشرق نه تر مغربه پورې د دنیا ټول خلق هم د محمد ﷺ په مقابله کښې راجمع شی بیا به هم پر هغوئ ﷺ ځکه برې بیامومی چه خدائی طاقت ئې مرستیال دې مونږه د غې طاقت سره د جنګ کولو توان نه لرو، مالک بن عوف په جنګ باندې د ټینګ پاتې کیدو د پاره د اانتظام هم او کړو چه هر څوک د سره د خپل ټول مال او سره د خپل ټول ټبر د جنګ میدان ته ځکه ورشی چه تیښته به نشی کولې ولې چه د خپل مال او بال بچ پرېښودل به هلته نه غواړی. تاریخدانان د دغې خلقو شمیر مختلف ښائی، حافظ الحدیث علامه ابن حجر عسقلانی ﷫ د اقول غوره کړې دې چه شمیرئې څلیریشت یا اته ویشت زره وو، (۱) او ځنې وائی چه څلور زره وو، د دې تطبیق کول او جوړښت راوستل په دې شان کیدې شی چه ټول خلق سره د ښځو او بال بچ نه څلیریشت یا اته ویشت زره وی او جنګیالئ ځلمی پکښې څلور زره وی،

په هر حال رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کښې د دوئ په اراده خبر کړې شو، ځکه ئې د مقابله د پاره هم هغه وخت تیار شو، د مکې مکرمې امیرئې عتاب بن اسید ﷛ جوړ کړو او معاذ بن جبل ﷛ ئې ورسره د دې د پاره پرېښو چه هغه به خلقو ته اسلامی تعلیمات ورازده کوی، په دې موقعه رسول الله ﷺ د مکې د قریشو نه په سوال وسله او غوښته یو قریشی سردار صفوان بن امیه او وئیل چه د جنګ د اسامان مونږ نه بونګه کښې اخلئ څه؟ رسول الله ﷺ ورته او فرمائیل د اسې نه ده بلکه دا به درته خامخا واپس کوؤ، د دې په آورید و ورته هم هغه سل زغرې ورکړې (۲) او دغه شان نوفل بن حارث ورته هم درې زره نیزې پیش کړې،

د امام زهری د روایت مطابق رسول الله ﷺ د څوارلس زرو صحابه کرام ﷡ لښکر ځان سره کړو او د غې جهاد د پاره اووتل په دې لښکر کښې دولس زره کسان هغه انصار صحابه کرام [عن] وو چه د مکې د فتح کولو د پاره هغوئ سره د مدینې منورې نه راغلی وو او دوه زره هغه کسان وو چه د مکې مکرمې د فتح په موقعه د مکې او د هغې د څوا ؤشا نه مسلمانان شوی وو کوم ته چه طلقاء وئیلې شی د شوال د میاشتې په شپږم تاریخ د خالی [هفتې] په ورځ دې غزا د پاره اووتل او وې وئیل چه صبا له به انشاءالله تعالی زمونږ پړاؤ د خیف بن کنانه په هغه مقام وی چرته چه د مکې قریش په دې غرض راجمع شوی وو چې مسلمانانو سره ئې د بائیکاټ لوظنامه لاس لیک کړې وه

دې څوارلس زرو مجاهدینو سره د مکې مکرمې بیشمیره نارینه او زنانه تماشګیر عموماً په دې غرض اووتل چه که مسلمانانو ماتې او خوړه نو مونږ به تر هم خپل بدلونه واخلو او که دوئ برې بیامونده نو هم به مونږ له څه نقصان نه وی،

په دوئ کښې یو کس شیبه بن عثمان هم وو، کله چه د دې نه روستو مسلمان شو نو پخپله ئې اووئیلې چه د بدر په غزا کښې زما پلار د حضرت حمزه ﷛ د لاسه او تره م د حضرت علی ﷛ د لاسه

---

(۱) تفسیر المظهری بحواله حافظ: ج ۴، ص ۱۵۴، وفتح الباری: ج ۱۲، ص ۱۲۶
(۲) مستدرک للحاکم رقم الحدیث: ۴۳۲۰

وژلي شوي ووچه دهغي تاؤ اوبدل اغستو جذبه م په زړه كښې وه، دا موقعه م غنيمت اوګڼله اوپه دي غرض مسلمانانو سره روان شوم چه كه وس م برشو نو په رسول الله ﷺ به حمله اوكړم، كله چه ميدان جنګ ته وراورسيدو او ودي غزا په رومبنى وخت كښي چه مسلمانان په تيښته شو نو زه هغوئ ته نزدي ورغلم چه نبى طرف ته ئي حضرت عباس رضي الله عنه څوكيدارى كوله او كس طرف ته ئي ابوسفيان بن حارث څوكيدارى كوله، د شا دا ړخه چه په دغي اراده ورغلم چه په توره پرسمدستي حمله اوكړم نو ناګهانه دهغوئ ﷺ نظر مبارك په ما پريوتو، راته ئي آواز اوكړو چه شيبه دلته راشه چه ورنزدي شوم په سينه ئي راته لاس مبارك كيښوا و دعائي اوكړه چه يا الله دده شيطان لري كړي اوس چه نظر پورته كوم رسول الله ﷺ راته په زړه كښې دخپلو سترګو، غوږونو اوځان نه هم زيات خوږدي هغوئ ﷺ راته حكم اوكړو چه دكفارو د مقابله دپاره لاړشه، [۱] په دغه وخت زما دا حال وو چه خپل ځان مي هم په هغوئ ﷺ باندي قربانولو، په ډيري مړانې م د دښمن مقابله اوكړه، كله چه هغوئ ﷺ د دغي جهاد نه واپس راغلل نوزه ئي په خدمت كښې حاضر شوم هغوئ ﷺ زما د زړه د ټولو خيالاتو نخښه پته راكړه راته ئي اوفرمائيل چه ته د مكې مكرمي نه په دي نيت روان شوي وي زما خواؤ شا زما د شهيد كولو په اراده زما چاپيره ګرځيدي خو د الله تعالى اراده تا نه د نيك كار اغستو وه كومه چه پوره شوه،

دغسي نضربن حارث هم په دغسي نيت حنين ته تلي وو، هلته په رسيدو سره الله تعالى دده په زړه كښې د رسول الله ﷺ بيګناهى اومينه واچوله يو مجاهد جوړ شو او د دښمنانو سره ئي ښه په نره مقابله اوكړه،

په دي سفر كښې ابى برده بن نيار رضي الله عنه ته دا واقعه راپيښه شوه چه اوطاس مقام ته په رسيدو ئي اوليدل چه رسول الله ﷺ د يوي اوني [درختي] لاندي تشريف فرما دي او يو بل سړي ورسره ناست دي رسول كريم ﷺ دا بيان اوفرمائيلو چه زه اوده وم دا سړي راغلو زما توره ئي پخپله قبضه كښې راوسته، زما په سر اودريدو او وي وئيل: اي محمد [صلى] راته اوښائي څوك به د زمانه خلاص كړي؟ ما ورته اووئيل چه الله تعالى به م خلاصوى په دي آوريدو سره ئي توره دلاسه اوغورځيده. ابوبرده رضي الله عنه دغه وخت عرض اوكړو، يارسول الله ﷺ اجازت راكړئ چه زه د دي دښمن خدا ګردن اووهم، دا د دښمن قوم جاسوس معلوميږي، هغوئ ﷺ اوفرمائيل؟ اي ابا برده، چپ شه، الله م ساتندوكې دي ترهغي چه زما دين په ټولو دينونو باندي غالب رانشي، هغوئ ﷺ دغه سړي ملامته هم نكړو او هم دغسي ئي خوشي كړو

حنين ته په رسيدو مسلمانانو دغلته پړاؤ اوكړو نو حضرت سهيل بن حنظله رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې دي خبر راؤړلو دپاره حاضر شو چه په اس سوريو سړي د دښمن د طرف نه اوس راغلي دي، هغه دا وائي چه دهوازن قبيلي ټول خلق دخيرمي دلته مقابلې دپاره راغلي دي خپل ټول مالونه او سامانونه ئي هم ځان سره راوړي دي، رسول الله ﷺ د دي په آوريدو په خندا شو او وي فرمائيل چه پروا مه كوه چه دا ټول مالونه او سامانونه به د غنيمت په ډول د مسلمانانو لاس ته راځي،

[۱] دلائل النبوة للبيهقي رقم الحديث: ۱۹۰۳

Scanned with Ca

دغلته چه تیکاؤشونورسول الله ﷺ حضرت عبدالله بن حدادجاسوس جوړکړواوددښمن دحالاتو معلوملو دپاره ئې اولیږلوهلته په ورتلوهغوئ ﷺ دوه ورځې ټول حالات اولیدل واؤریدل، دهغوئ سر مشر مالک بن عوف ئې اولیدوچه خپلوخلقوته ئې داسې وئیل چه د محمد ﷺ مقابله تراوسه پورې یوبهادرتجربه کارقوم سره نه ده راغلې، دمکې قریش ساده خلق وو، چه مقابله ئې ورسره اوکړه نوخپل طاقت ورته زیات ښکاره شواوس به هغوئ ﷺ خبرشي، تاسوټول صباکیدوسره سمدستي په دې شان صفونه اوتړئ چه هر یو کس پسې دې دهغه ښځه اولاداومال وی، دخپلوتوروتیکی اوشلوئ اوټول په یوځل حمله اوکړئ. داخلق په جنګ کولوکښې ډیرتجربه کاروو، دخپل فوځ، څودستې ئې په مختلفومورچوکښې پټ کښینولی وو. یواړخ ته دکفارولښکردجنګ دغسې تیاریانې کولې اوبل اړخ ته دمسلمانانو دا رومبې جهادوچه پکښې څوارلس زره مجاهدین دمقابلې دپاره راوتی وو، دجنګ سامان هم ورسره دنورکله نه زیات وو، دبدراواحدپه میدانونوکښې ئې دالیدلې وو، چه صرف دیارلس دپاسه درې سوه بې سامانه خلقودیوزروکسانومضبوط لښکرته ماتې ورکړې وه، نن ئې چه خپل ګڼروالې اودجنګ ښه تیارې اولیدونودحاکم اوبزاردروایت مطابق په دوئ ﷺ کښې دبعضې دخلوته داسې خبرې اووتې چه نن خوداکیدې نشي چه مونږه به دچانه ماتې اوخورو، دمقابلې په شروع کیدوسره به دښمن سمدستي په تیښته شي،

مالک الملک والملکوت ته دغه څیزخوښ رانغلوچه په خپل طاقت دځوک تکیه اوکړی، په دې بنامسلمانانوته ددې سبق داسې ورکړې شوچه دمنصوبې مطابق کله چه دهوازن قبیلې خلقوپه یوځل حمله اوکړه اوپه مورچوکښې پټوناستوئلموځلوروواړوخونونه ګیره واچوله، ګردوغبارراوالوتواوړنړاورځ ئې تیاره شپه کړه دصحابه کرامو ﷺ خپې اوښوئیدې اوپه تیښته شو، یواځې رسول الله ﷺ په خپلې سورلئ سوردروستوتلوپه ځائ مخ په وړاندې روان وو، ډیرلږ صحابه کرام ﷺ هم ورسره ووچه شمیرئې درې سوه وو، بعضې خلقو داشمیر[۱۰۰] سل یاددې نه هم کم ښودلې دې دوئ هم رسول الله ﷺ سره په خپل ځائ ټینګ پاتې شواودائې غوښتل چه هغوئ ﷺ نورهم وړاندې شی،

چه داحالت ئې اولیدونوهغوئ ﷺ حضرت عباس ﷺ له حکم ورکړوچه په اوچت آواز صحابه کرامو ﷺ باندې غږاوکړی چه هغه خلق چرته دی کوموچه دشجرې [اونې ، درختې] لاندې دجهادبیعت [لاس نیوی] کړې وو، دسورة بقره صاحبان چرته دی، هغه انصارچرته دی چه دسربازئ لوظ ئې کړې وو، ټول داوس راشی ولې چه رسول الله ﷺ دلته دې،

دحضرت عباس ﷺ یوآوازلګه دبجلئ خورشو، سمدستي په تیښته کسان خپیمانه شواو دیرپه زړورتیاسره ئې ددښمن پوره مقابله اوکړه، دغه وخت الله تعالی دفرښتوامدادهم راؤلیږلو، ددښمن سرمشرمالک بن عوف خپل بال بچ اوټول مال پریښواواوتښتیدو، دطائف په قلاکښې پټ شو، ورپسې ټول قوم اوتښتیدودهغوئ اویاکسان اووژلې شو، دځنې مسلمانانو دلاسه څه ماشومان زخمي شونورسول الله ﷺ په سختئ سره منع کړل، ددوئ ټول مال دمسلمانانوپه قبضه کښې راغلو، شپږزره جنګی قیدیان، څلیریشت زره اوښان، څلویښت زره چیلئ[بزې] ، څلورزره اوقئې چاندی[سپین زر] مسلمانانوته په لاس ورغله،

Scanned with Ca

په رومبی اودویم آیت کښې هم دامضمون بیان شویدې، فرمائی چه، کله تاسو دخپلو خلقو په کثرې سره غره شوی وئ بیامو هغه کثرت والې هیڅ پکار رانغلو، اوزمکه سره دفراخوالی نه دربانډې تنګه شوه، بیامخ په شاپه تیښته شوئ، بیاالله تعالی خپله تسلی نازله کړه په خپل رسول الله ﷺ اوپه مسلمانانو بانډې اوداسې لښکرې [دفرښتوئې] نازل کړل چه تاسونه وولیدلې اوکافرانوته ئې ستاسوپه لاس سزاورکړه،

په دویم آیت کښې فرمائی: ﴿ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾ بیا، الله تعالی په خپل رسول ﷺ اوپه ټولو مسلمانانو بانډې تسلی نازله کړه. معنی ئې داده چه په اول سرکښې دکوموصحابه کرامو ﷺ خپې چه خوئیدلې وې الله تعالی دهغوئ په زړونو بانډې تسلی نازله کړه چه ورسره دهغوئ خوئیدلې خپې ټینګې شوې اوتښتیدونکی بیاراؤګرځیدل په رسول الله ﷺ اوهغوئ ﷺ سره په ځائ ټینګ ولاړوصحابه کرامو ﷺ بانډې دتسلئ نازلولو مطلب دادې چه دوئ ته خپله فتح موندل نزدې ښکاره شوه. هرکله چه تسلی نازلول دوه قسمه وو، یو تښتیدونکو دپاره اوبله رسول الله ﷺ سره په یوځائ ټینګ ولاړصحابه کرامو ﷺ دپاره، نودې ته ئې داشارې کولودپاره ﴿عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾ بیل بیل په، عَلی، راؤړلو سره بیان کړل،

وریسې فرمائی: ﴿وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا﴾ یعنی داسې لښکرونه ئې نازل کړل چه تاسونه وولیدلې] دې نه مرادپه عامه توګه دخلقو لیدل دی، دځنوروایتونوله مخې دخاصوخاصوکسانولیدل دې سره بې سمونه نه دی

بیافرمائی: ﴿وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ﴾ یعنی کافرانوته الله تعالی سزاورکړه اودکافرانوهمدغه سزاده] دې سزا نه مرادداده چه کافرانودمسلمانانودلاسه لاندې اوپاتې راغلل چه ښه په ډاګه اولیدې شو، مطلب داشوچه په دنیاکښې ورته داسزانغده ورکړې شوه دآخرت معامله په وریسې آیت کښې داسې بیان شویده ﴿ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ یعنی بیاچه الله تعالی چاته اوغواړی توبه به ئې نصیب کړی اوالله تعالی لوئ مغفرت کوونکې دې، لوئ رحمت کوونکې دې]،

په دې کښې اشاره ده چه په دې جهادکښې کوموخلقوچه دمسلمانانودلاسه دلاندې اوپاتې راتللو سزا موندلې ده اولاتراوسه پورې په کفرټینګ دی په دې کښې به هم څه خلق د مسلمانیدو توفیق بیامومی چنانچه همدغسې راپیښه شوه تفصیل ئې دادې:،

دحنین فتح، دهوازن اوثقیف دسردارانومسلمانیدودپاره حاضریدل اودقیدیانوواپس کول: په حنین کښې د هوازن اوثقیف قبیلې څه سرداران اووژلې شو، څه اوتښتیدل دوئ سره راغلې بال بچ اوددوئ راوړی مالونه اوسامانونه دمسلمانانونه قیدیان اومال غنیمت شو، یعنی شپږزره قیدیان جوړشو، څلیریشت زره اوښان، دڅلویښتوزرونه زیاتې چیلئ اوڅلورزره اوقیه، [تقریبا څلورمنه] چاندی مسلمانانوته دغنیمت په ډول ګټوله ورغلل، رسول الله ﷺ حضرت سفیان بن حرب دغنیمت دمال منتظم مقررکړو،

بیاماتې خوړونکوهوازن اوثقیف خلقوپه مختلفوځایونوکښې دمسلمانانوخلاف غونډې اوکړې خوپه هرمقام ئې ماتې اوخوړه، چه ډیرزیات رعب پرراغلونودطائف په یوې ډیرې مضبوطې قلاکښې ئې ځانونه محفوظ کړل، رسول الله ﷺ پنځلس، شل ورځې دغې قلانه

Scanned with Ca

چاپیره وو، دغې قلابندو دښمنانو به دننه نه غشي ورول، مخامخ ورته هیڅوک نشو راتلې، صحابه کرامو عرض اوکړو چه یارسول الله: دې خلقو ته خیرې اوکړئ خو هغوئ ﷺ دې خلقو د پاره د هدایت دعا اوکړه، آخر رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په مشوره دغه ځائ نه د تلو قصد اوفرمائیلو، جعرانه مقام ته په ورسیدو ئې اول د عمرې کولو اراده اوکړه او بیا مدینې منورې ته د واپسئ اراده ئې اوکړه، دغلته په رسیدو د مکې مکرمې ډیرو هغه خلقو هم د مسلمانید و اعلان اوکړو کوم چه د اوله سره مسلمانانو سره د مکې مکرمې نه په دې غرض راروان شوی وو چه د مسلمانانو د فتح او شکست امتحان واخلی،

دغلته په رسیدو د مال غنیمت د ویشلو انتظام اوشو، ویش جاری شو چه ناڅاپه د هوازن قبیلې څوارلس سرداران د زهیربن صرد په مشرئ کښې د رسول الله ﷺ په وړاندې حاضر شو په دوئ کښې د رسول الله ﷺ یو رضاعی تره ابو یرقان هم وو، هغه اووئیل چه مونږه مسلمانان شوی یو او د اخواست ئې اوکړو چه زمونږ بال بچ او مالونه د مونږ ته واپس کړې شی، په دې خواست کښې د ابنکاره کړې شو چه یارسول الله ﷺ د رضاعت له مخې مونږه ستاسو ﷺ خپلوان، عزیزان یو، مونږ باندې راغلې مصیبت ستاسو ﷺ په وړاندې دې تاسو ﷺ را سره ښیګړه او احسان اوکړئ،

ددې وفد سرداریو شاعر انسان وو، هغه اووئیل چه یارسول الله ﷺ که مونږ د خپل مصیبت په وخت کښې د روم یا عراق بادشاه نه څه خواست کړې وې نو زمونږ په خیال به هغوئ هم زمونږ خواست نه وې رد کړې او تاسو ﷺ باندې خو الله تعالی د ښو او بهترینو خویونو ډیره زیاته پیرزوونه کړیده څکه مونږ تاسو ﷺ نه ډیر امیدونه کیږی،

رسول الله ﷺ ته په دغه موقعه باندې دوه اړخیز مشکلات داسې راپیښ شو چه یو خو اد رحم اوکرم د تقاضا مطابق خواست کوونکو ته ټول قیدیان او مال، سامان واپس کړې شی، بل خوا د مال غیمت واپس کول ورته څکه انصاف نه ښکاریدو چه دې کښې د ټولو مجاهدینو حق وو، څکه د صحیح بخاری د روایت مطابق رسول الله ﷺ د دوئ په جواب کښې اوفرمائیل: زما سره د مسلمانانو ددې لښکر هریو غړې په دې مال غنیمت کښې حقدار دې، زه د ربنتیا او وصفا خبره خوښوم څکه درته دا اختیار درکوم چه یا خوخپل قیدیان واپس واخلئ، یا د غنیمت مالونه او سامانونه واخلئ، په دې دواړو کښې چه کوم یو تاسو غوره کړو هغه به درکړیشي. ټولو د قیدیانو واپسي غوره کړه رسول الله ﷺ ټول صحابه کرام ؓ راجمع کړل یو خطبه ئې ورکړه په هغې کښې ئې د الله تعالی ثنا صفت بیان کړو بیا ئې اوفرمائیل: ستاسو ؓ دا رونړه توبه کوونکي راغلی دی زه ورته د دوئ قیدیان واپس کول غوارم څوک چه په ښه زړه ورته خپله برخه ورکول غواړی هغوئ د ورسره دغه ښیګړه اوکړی او څوک چه دې ته تیار نه وی نو مونږ به ورته په نورو مالونو د فئ کښې ددې بدله ورکړو،

دحقونوپه باره کښې دعامي رائې معلومولو دپاره دعوامي جلسوآوازونه کافي نه دي دهریوځان څانله رائې معلومول پکاردي: د هر طرف نه دا آواز پورته شو چه مونږه د زړه د کومي نه په قیدیانو واپس کولو باندې خوشحاله یو خو بیا هم رسول الله ﷺ دا آوازونه کافي اونه ګڼړل او د عدل او انصاف د تقاضا مطابق او د حقوقو په معامله کښې د احتیاط کولو په خاطر ئې اوفرمائیل چه ماته د زړونو هیڅ پته نه لګی چه چا د ښه زړه نه د غسې اووئیل او که چا د شرم او حیاله کبله داسې اووئیل؟

هر کله چه داخلقو دحقوقو معامله ده نوزه وایم چه دهرې ډلې اودهرې کورنۍ سردارديْ خپلو خپلو خلقو سره ځان ځاله مشوره اوکړي اوصحيح خبره دې ماته اوښائي. دغسې اوشو او هر يو سردارا اووئيل چه هرڅوک دېنه زړه نه دغه خپل حق پريښنولو ته تيار دي هله پس ته رسول الله ﷺ ورته دغه ټول قيديان واپس کړل، (۱)

داهغه خلق ووچه په دريم آيت کښې ورته د ﴿ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ﴾ سره دتوبې دتوفيق ورکولو اشاره. شويده. دغزوة حنين دځنې واقعاتو تفصيل ياخودقرآن کريم نه بيان کړې شو يا خو دحديث د مستندو حديثونو نه راغستې شويدې [مظهري وابن کثير] (۲)

احکام اومسئلې: ددې واقعاتو په ترڅ کښې ډيراحکام هدايتونه اوضمنى فائدې راغلى دي کوم چه ددې واقعاتوبيانولو اصلى مقصد دى،

په دې آيتونو کښې ړومبې هدايت داورکړې شوچه مسلمانان دهيڅ کله په خپل ګنړوالى اوطاقت باندې نه غره کيږي، څنګه چه دکمزورۍ اوبې سامانۍ په حالت کښې ددوی سترګې دالله تعالى مرستې اوامدادته وي، دغه شان دقوت اوطاقت په حالت کښې دهم سترګې اوتکيه دالله تعالى په امدادباندې لرى. ولې چه دحنين دغزاپه موقعه کله چه مسلمانانوخپل ګنړوالې اوډيرسامان اوليدونودبعضې صحابه کرامو ﷺ په خلوباندې داخبره هم راغله چه اوس څه مجال دې چې پهمونږباندې څوک برشى. الله تعالى دخپلې محبوبې دې ډلې داسې دلوئې خبره خوښه نه شوه، په نتيجه کښې داسې اوشوچه دغزاپه شروع کښې کله چه دښمن په يوځل حمله اوکړه نودصحابه کرامو ﷺ پښې اوخوئيدې، هغوئ ﷺ په تيښته شو، بيادالله تعالى په غيبى امدادسره دغه ميدان فتح شو،

دپاتې راغلواوماتې خوړونکوکفاروپه مالونوکښې عدل، انصاف اواحتياط کول: ددې واقعې نه دويم هدايت داحاصل شوچه هرکله رسول الله ﷺ دحنين غزانه روانيدونودغه وخت ئې دمکې مکرمې ماتې خوړونکوکفارونه مال اوسامان په زورزبرستۍ هم اغستې شو ليکن سره ددې هغوئ ﷺ ورته اوفرمائيل چه دا سامان دضرورت دپاره تاسونه غواړوچه بيابه ئې درته خامخاواپس کوؤاوهم دغسې ئې اوکړل. دې سره مسلمانانوته داسبق ورکړې شوچه دښمنانو سره دهم دعدل وانصاف اورحم وکرم سلوک اومعامله کوى،

دريم هدايت دنبوى ارشادنه داسې حاصل شوچه هرکله دحنين په لاره کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه صبابه مونږه په داسې يومقام [خيف بنى کنانه] دمه کوؤچه چرته زمونږه دښمنانو [دمکې قريشو] دمسلمانانوپه خلاف دباثيکاټ يوه لوظنامه کړې وه. دا اشاره وه دې خبرې ته چه مسلمانان ددخدائ ورکړى قوت اوامدادنه پس هم، دغم، تکليف هغه تيرشوي دورځکه نه هيروي چه دالله تعالى شکراداکړې شي. دهوازن قبيلې خلقوچه ماتې اوخوړه طائف کښې قلابندشوپه مسلمانانوبه ئې دهغه ځائ نه غشى ورول اوبيابيابه ئې پرحملې کولې خوسره ددې نه هم، رحمة للعالمين ﷺ ورته دخيروکولوپه ځائ دهدايت دعااوکړه، په دې سره مسلمانانوته داسبق ورکول ووچه دجنګ اوجهادمقصديواځې ددښمن رالاندې کول نه دى،

---

۱) صحيح البخاري، كتاب المغازي، باب قول الله تعالى ويوم حنين الخ: ج ۲، ص ۶۱۷

۲) التفسير المظهري: ج ۴، ص ۱۵۲ نه ۱۷۰ پورے، وتفسير ابن كثير: ج ۲، ص ۱۲۵ نه ۱۳۰ پورے۔

Scanned with Ca

بلکه دوئ لره هدایت ته را اړول دی، ځکه ددې کوشش نه هیڅ وخت بې پروا کیدل پکار نه دی،

دریم آیت کښې دا هدایت شوې دې چه ماتې خوړونکو کفارو نه هم ناامیده کیدل ځکه پکار نه دی چه کیدې شی، الله تعالی ورته د اسلام هدایت اوکړی څنګه چه دهوازن قبیلې د وفد د اسلام راوړلو نه ثابته شوه،

دهوازن قبیلې د دغې وفد په خواست هرکله چه ورته د قیدیانو دواپس کولو سوال راپورته شو نو رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ؓ نه تپوس اوکړو چه څوک د ښه زړه نه داسې کولې شی هغوئ دا ووائی نو ټولو د ښه زړه نه دداسې کولو رضا ښکاره کړه لیکن بیا هم رسول الله ﷺ دې لره کافی اونه ګنړل بلکه خان خانله ئې دهریو د اجازت او خوښې معلومولو انتظام اوکړو. دې نه ثابته شوه چه څو پورې د پوره رضامندئ او خوشدلئ تسلی نه وی شوی نو د چا حق اغستل جائز نه دی، د جمع او ګنړې رعب په چا غالب شی یا د خلقو د شرمه چپ پاتې شی نو رضامندئ د پاره دا نه کافی کیږی، چنانچه فقهاؤ فرمائیلی دی چه د خپل اثر، رسوخ د رعب اچولو په وجه دینی کارد پاره چنده اغستل هم درست نه دی، ولې چه په دې صورت کښې ډیر شریفان خلق محض د شرم، حیاله کبله څه ناڅه ورکړی، پوره خوښه ئې نه وی، او داسې مال کښې برکت هم نه وی،

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ　اٰمَنُوْٓا　اِنَّمَا　الْمُشْرِكُوْنَ　نَجَسٌ
ا اے هغه کسانو ا چې ایمان مو راوړې دې ا بیشکه ا مشرکان ا پلیت دی
اې مؤمنانو بیشکه مشرکان [اګرچه په ظاهره ډیر پاک وی روحانی لحاظ سره] پلیت دی
فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ　الْحَرَامَ　بَعْدَ　عَامِهِمْ　هٰذَا ۚ　وَاِنْ
پس نه دې نزدې کیږی دوئ ا مسجد حرام ته ا روستو ا دکال ددوئ نه ا چې دادې ا او که
نو ددې کال نه پس دې دوی مسجد حرام ته نه نزدې کیږی [باقی د مشرکانو په بندیز که ستاسو تجارت خرابیږی]
خِفْتُمْ　عَيْلَةً　فَسَوْفَ　يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ　مِنْ فَضْلِهٖٓ　اِنْ　شَآءَ ۭ
یره کوئ تاسو ا د غریبئ نه ا نو زر به ا مالدار کړی تاسو الله ا په فضل خپل سره ا که اوغواړی هغه
او که تاسو د غریبئ نه ویریږئ نو که الله تعالی اوغواړی تاسو به په خپل فضل سره [د بل طرفه] مالدار کړی
اِنَّ اللّٰهَ　عَلِيْمٌ　حَكِيْمٌ ﴿۲۸﴾
بیشکه الله ا په هر څه پوهه دې ا د حکمت خاوند دې
بیشکه الله تعالی پوهیږی او صاحب حکمت دې

آسان ترجمه قرآن

اې د ایمان خاوندانو مشرکان خو سراسر پلیتي ده دې وجې نه د هغوی دې کال نه وروستو مسجد حرام ته نزدې هم نه راځی او ﴿مسلمانانو﴾ که تاسو ته د غریبئ فکر وي نو که الله وغواړي نو تاسو به په خپل فضل سره ﴿د مشرکانو نه﴾ بې پرواه کړي بې شکه د الله علم هم کامل دې او حکمت هم.

خلاصه تفسیر

﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ﴾ ائې د ایمان خاوندانو ا مشرکان خلق [د ګنده عقیدو په وجه] خالص ناپاك دی نو [په دې ناپاکئ چې کوم احکام ادائره شوی دی د هغې څخه یو دادې چې] ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ﴾ دا خلق ددې کال نه پس د مسجد حرام [یعنی د حرم] خواته

Scanned with Ca

[هم] رانشی [یعنی حرم ته دې نه داخلېږی] ﴿وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً﴾ اوکه [ددې حکم دجاری کولو په وجه] تاسو د نیستئ اندیښنه لرئ [چې تولې معاملې مو په دوئ روانې دی چې دوئ نه وی نو کارونه به مو څنګه چلیږی ؟] نو [تاسوپه الله ﷻ باندې توکل لرئ] ﴿فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ﴾ تاسو به الله ﷻ پخپل فضل سره [ددوئ] محتاج اونه لری که اوغواړی، ﴿اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ﴾ بیشکه الله ﷻ [دحکمونو په ښیګړو] ښه پوهیدونکې دې [او ددغې ښیګړو د کاملولو په باره کښې] لوئې د حکمت خاوند دې [ځکه ئې داحکم مقرر کړو او ستاسو د نیستئ د ختمولو انتظام به هم اوکړی].

معارف اومسائل

دسورت توبه په شروع کښې کفاروا ومشرکانونه دویزارئ اعلان کړې شوې وو، اوس په دې آیت کښې ددغې ویزارئ اعلان سره تړلې حکمونه بیان شویدی، دویزارئ داعلان حاصل دا ووچه دیو کال په موده کښې دټولو کفارولوظنامې دختمې یاپوره کړې شی اوداعلان نه یو کال پس دهیڅوک مشرک دحرم په حدودوکښې پاتې نشی،

په دې آیت کښې هم دغه بیان په یوخاص اندازکښې کړې شویدې، په دې کښې ئې ددغې حکم حکمت اوښیګړه هم اوښوله، اوپه هغې باندې عمل کولو کښې څنې مسلمانانوته چه کومې خطرې راولاړې شوې وې دهغې جواب ئې هم ورکړو، دلته، نَجَس، لفظ دجیم په زورسره استعمال شویدې چه معنې ئې نجاست ده، نجاست هرهغې پلیتئ ته وئیلې شی چه دانسان طبیعت ترې کرکه کوی، امام راغب اصفهانی رحمه الله فرمائیلی دی، چه په دې کښې هغه پلیتی هم داخله ده چه په سترګو، پوزه یالاسونووغیره محسوسیږی اوهغه هم چې دعلم اوعقل په ذریعه سره معلومیږی، په دې وجه به، نَجَس، هرهغې پلیتئ ته وئیلې شی چه په ظاهری ډول ئې هرڅوک محسوسوی اوهغه معنوی پلیتئ ته هم وئیلې شی چه دهغې په بنابانډې دشریعت له مخې اودس یاغسل واجبیږی لکه دجنابت یاد حیض اونفاس دختمیدونه پس حالت شو اوهغه باطنی پلیتئ ته هم وئیلې شی چه دانسان دزړه سره تړون لری لکه خرابې عقیدې اوخراب اخلاق شو،

په دې کښې د﴿اِنَّمَا﴾ کلمه راوړې شوه کومه چه د حصر دپاره استعمالیږی په دې بناد﴿اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ﴾ معنی داشوه چه مشرکان سوده خالص پلیتئ دی اوصحیح خبره داده چه په عام ډول په مشرکانوکښې درې واړه قسمه پلیتئ وی، ولې چه ډیرظاهری ناپاکو څیزونولره هغوئ ناپاک نه ګنړی ځکه ترځان نه ساتی لکه شراب اوددې نه جوړشوی څیزونه واخلئ دباطنی اومعنوی پلیتئ لکه دجنابت غسل وغیره خوهغوئ دسره اعتقادنه لری، دغه شان خرابې عقیدې او خراب اخلاق خوهم هغوئ هیڅ نه ګنړی،

په دې بناپه دې آیت کښې مشرکان ئې خالص پلیتی اوبلل اوداحکم ئې ورکړو ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا﴾ یعنی داسې کول پکاردی چه ددې کال نه پس دامشرکان د مسجدحرام خواته لانړنشی] مسجدحرام خوعموماهغه احاطې ته وئیلې شی چه بیت الله شریف نه ګیرچاپیره ده، لیکن دقرآن اوحدیث له مخې دالفظ دمکې محترمې ټول حرم دپاره هم کله کله استعمال شویدې چه څلورو واړو اړخوته دڅومیلورقبه جوړیږی، اوحضرت ابراهیم علیه السلام وردپاره دغه حدود مقرر کړې دی، چنانچه دمعراج په واقعه کښې ﴿مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ نه په اتفاق

سره دامعنی څکه مراداغستې شویده چه معراج دام هانئې دمکان نه شروع شویدې، خاص د مسجدحرام نه، نه وو شروع شوې، دغه شان په ﴿إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ کښې د مسجدحرام نه ټول حرم مرادڅکه دې چه دغه صلح دحدیبئې په مقام شوې وه چه دحرم د حدودونه بهر، ورسره متصل واقع دې [جصاص][1]

ددې تحقیق په بنادآیت معنی داشوه چه دې کال نه پس دمشرکانو داخله دحرم په حدودو کښې منع ده، دې کال نه بعضې علماؤ رحمه الله [۱۰ هـ] مراداغستې دې مګر دجمهورو مفسرینو رحمه الله په نزد [۹هـ] غوره دې، ولې چه رسول الله ﷺ دویزارئ دغه اعلان دحضرت صدیق اکبر رضي الله عنه او علي مرتضی رضي الله عنه په دریعه په [۹هـ] دحج په موسم کښې کړیدې، په دې بنادیو کال نه مراد د[۹هـ] نه تر[۱۰هـ] پورې دې چه هغې نه پس دغه قانون نافذشو، [زمایه ناقص خیال کښې غوره خبره رومبئ څکه ده چه داعلان نه پس [۹هـ] کښې څوورځې پاتې کیږی چه هغې نه پس دغه کال ختم شی حالانکه مهلت دیو کال ورکړې شویدې نودغه یو کال دمحرم [۱۰هـ] نه ترذی الحجې [۱۰هـ] پورې کیدې شی اوپه ،هذا، لفظ سره ورته اشاره څکه اوشوه چه [۹هـ] هسې هم په ذی الحجه ختم شواو[۱۰هـ] بیخی نزدې دې والله اعلم [مترجم]

په مسجدحرام کښې دمشرکانوداخله بندېدل څه مطلب لري؟اودابندېدل يواځې په مسجد حرام کښې دی اوکه په نوروعاموجوماتونوکښې هم؟ په آیت کښې راغلی دی حکم کښې درې خبروباندې ژور نظراچول پکاردی په کوم کښې چه د[۱۰هـ] نه پس دمشرکانوداخلیدل بندکړې شویدی، ① اوله خبره داده چه داحکم یواځې دمسجدحرام په باره کښې دې اوکه دنوروعاموجوماتونوپه باره کښې هم دې؟ که ② یواځې دمسجدحرام په باره کښې وی نود مشرکانوداخله مطلقابنده شوه اوکه صرف دحج اوعمرې دپاره بنده ده چه هسې به ورتلې شی؟ ③ دریمه خبره داده چه آیادې حکم لاندې داهل کتابوکفاروهم راځی اوکه نه؟

قرآن کریم ددې ټولو خبروپه باره کښې هیڅ نه دی فرمائیلی په دې وجه مجتهدینو امامانو قرآنی اشارې اوحدیثوروایتونه خپلې مخې ته ایښې دی اودخپل خپل اجتهادپه جوړئې حکمونه بیان کړیدی. په دې باره کښې رومبې بحث دادې چه قرآن کریم مشرکانوته نجس په څه اعتبارسره وئیلي دی. که ظاهری پلیتي یامعنوی [جنابت وغیره] تر مرادوی نوظاهره ده چه په یوجوماتو کښې دداسې پلیتئ داخلول بندی یعنی جائزنه دی، دغسې د جُنب، یاد حیض اونفاس والاښځې هم یوجوماتو ته داخلیدل ناروادی، اوکه ددې نجاست نه مراد، دکفراوشرک باطنی نجاست وی نوکیدې شی چه ددې حکم دظاهری نجاست نه بدل وی،

په تفسیرقرطبی کښې راغلی دی چه دمدینې منورې فقهاؤ [الکه امام مالک رحمه الله وغیره] فرمائیلی دی چه مشرکان په هرلحاظ سره پلیت څکه دی چه عموماد ظاهری پلیتئ نه هم ځان نه ساتی، دجنابت وغیره نه دغسل کولوپابندی هم نه کوی اودکفراوشرک باطنی پلیتی خوپکښې یقیناشته دې، څکه داحکم ټولومشرکانو اوټولوجوماتونودپاره عام دې، ددې په دلیل کښې دحضرت عمربن عبدالعزیزدافرمان پیش کوی کوم ئې چه دعلاقوامیرانو ته په دې غرض لیږلې

---

[1]) أحكام القرآن للجصاص تفسير سورة البراءة: ج۲، ص ۲۷۳، ۲۷۴

Scanned with Ca

ووچه کفاردې جوماتونو کښې ننوتو ته نه پرېږدی، په دغه فرمان کښې ئې هم داآیت شریف لیکلې وو، ([1])

داشان په یوحدیث کښې رسول الله ﷺ ارشادفرمائیلې دې، [لَاأُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَاجُنُبٍ] ([2])
په یو جومات کښې دحائضې ښځې یاجنبی بنده داخلیدل جائزنه ګنړم،

مشرکان او کفارهم دجنابت په حالت کښې دغسل انتظام نه کوی ځکه ئې په جومات کښې داخلیدل منع دی،

دامام شافعی په نزددا حکم مشرکانو او اهل کتابو [تولو] دپاره عام دې خو یواځې مسجد حرام کښې ئې داخلیدل منع دی په نورو جوماتونو کښې منع نه دی [قرطبی] په دلیل کښې ئې داپیش کړیدی چه هرکله ثمامه بن اثال دمسلمانیدونه وړاندې بندیوان کړې شونورسول الله ﷺ دمسجدنبوی یوې ستنې سره تړلې وو، ([3])

دامام اعظم ابی حنیفه رحمه الله په نزد ددې مطلب دادې چه په راتلونکی کال کښې مشرکانو ته په مشرکانه طریقې دحج اوعمرې کولو اجازت نشته، دلیل ئې دادې چه کله دحج په موسم کښې دحضرت علی رضی الله عنه په ذریعه دویزارئ اعلان کولې شونو دهغې الفاظ داسې وو، لَايَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، په دې کښې دابښکاره کړی شوی ووچه ددې کال نه پس به هیڅوک مشرک حج نشی کولې، په دې بناپه دې آیت کښې د﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ﴾ مطلب دادې چه مشرکان دې په مشرکانه طرزحج عمره نه کوی، بل څه ضرورت دپاره دامیرالمؤمنین په اجازت مسجدحرام کښې ننوتې شی، چنانچه دثقیف دوفدواقعه ددې دلیل داسې کیدې شی چه هرکله داوفدد رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشونو هغوئ ﷺ په یو جومات کښې تیکاؤکړل، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو چه دانجس قوم دې، نو هغوئ ﷺ اوفرمائیل چه دجومات په زمکه ددې خلقو دپلیتئ هیڅ اثرنه پریووځی [جصاص] ([4])

دې روایت سره داخبره هم واضحه کیږی چه قرآن کریم کښې مشرکانو ته دنجس وئیلو مطلب دا دې چه کفراوشرک ددوئ پلیتی ده [ځکه چه دامام اعظم ابی حنیفه مسلک دې] دغه شان د حضرت جابربن عبدالله په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه هیڅ یو مشرک ددجومات خواته نه ځی خوهله چه دیو مسلمان غلام یاوینځه وی نو دضرورت په وجه ورننوتې شی، [قرطبی] ([5])

داحدیث شریف ددې خبرې ګواه دې چه دظاهری پلیتئ له کبله مشرکان دمسجدحرام نه بندنکړې شوورنه داوجه خودمشرکانو غلامانو او وینځو هم کیدې شوه هغوئ ته ولې اجازت ورکړې شو؟ ددې بنیادی وجه کفراوشرک دی ددې دغلبې خطره چه چانه کیدې شوه هغوئ بندکړې شودغلام او وینځې نه داخطره نشوه کیدې ځکه ورته اجازت ورکړې شوورنه هسې خود ظاهری اومعنوی پلیتئ [مثلاحیض، نفاس، جنابت] په وجه دمسلمان داخلیدل هم په جومات کښې منع دی، ددغې کبله یواځې دمشرکانو بندولو بیاضرورت څه وؤ؟

---

[1]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۱۰۳، ۱۰۴
[2]) سنن ابی داود، کتاب الطهارة، باب فی الجنب یدخل المسجد: ج ۱، ص ۳۰
[3]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۱۰۵
[4]) أحکام القرآن للجصاص تفسیر سورة براءة: ج ۶، ص ۲۷۱، ۲۷۳
[5]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۱۰۶

Scanned with CamScanner

دغه د جمهورو رحمهم الله د تفسیر مطابق هر کله چه مسجد حرام نه ټول حرم مراد اغستې شي نو د هغې تقاضا هم داده چه دا منع دې د ظاهري پليتئ په بنياد نه وي بلکه د شرک او کفر پليتئ په بنياد وي، ځکه خو يواځې په مسجد حرام کښې نه، بلکه په ټول حرم کښې داخله ئې بنده شوه ځکه چه دا د اسلام شپول او قلاده په دې کښې د غير مسلم ساتل د زغم نه بهر خبره ده،

د امام اعظم ابی حنیفه رحمه الله د دې تحقيق حاصل دا دې چه اګر که د پليتو [نجاستونو] نه د جماعتونو پاک لرل او ساتل هم يوه مستقله مسئله ده چه قرآن کريم او احاديثو نه ثابته ده، خو د دې آيت تعلق د دې مسئلې سره نه دې، بلکه تعلق ئې د اسلام د يو سياسي حکم سره دې چه اعلان ئې د سورت براءت په شروع کښې داسې شويدې چه د مکې مکرمې د ټولو مشرکانو نه حَرم محترم خالیَ کول مقصود وو خود عدل او انصاف د تقاضا مطابق د مکې مکرمې په فتح کيدو سره سمدستې د دوئ په ويستلو حکم اونکړې شو بلکه چا سره چه لوظنامه شوې وه او هغوئ پرتېنګ هم وو نو د هغوئ نيته پوره کول وو، او نورو ته د يو کال نيته ورکول وو چه په دې دوران کښې د حرم محترم نه د دوتلو بندوبست اوکړي، د دې بيان په دې آيت کښې داشان راغلو چه: دې کال نه پَس به د مشرکانو داخليدل د حرم په حدودو کښې منع وي او هغوئ به مشرکانه حجونه او عمرې نشي کولې،

ځنګه چه د سورت توبه په آيتونو کښې په ډاګه بيان شوي وو چه هيڅ يو مشرک به د حرم په حدودو کښې نشي داخليدې، دغه شان د احاديثو د روايتونو له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دائره نوره هم فراخه داسې کړه چه مشرکان د پوره جزيرة العرب نه بهر کړې شي[1] خود هغوئ صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښې په دې باندې د عمل کولو نوبت رانغلو، وروستو د صديق اکبر رضی الله عنه په زمانه کښې هنګامي مسئله راپورته شوه ځکه د غه زمانه کښې هم پرې عمل اونکړې شو البته حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خپله زمانه د خلافت کښې دا حکم نافذ کړو،[2]

پاتې شوه د کفارو د پليتئ او د دې نه د جوماتونو د پاکو ساتلو مسئله، نو دا په خپل ځائ اوس هم موجوده ده، چه د فقه په کتابونو کښې په تفصيل سره بيان شويده چه هيڅ يو مسلمان هم د ظاهري پليتئ يا د جنابت په حالت کښې په هيڅ جوماتونو کښې نشي داخليدې، نو عام کفار، مشرکان او اهل کتاب هم، هر کله چه د دې پليتونه پاک نه وي په دې وجه سخت ضرورت چه نه وي د دوئ ننوتل هم يو جوماتونو ته جائز نه دی،

د دې آيت له مخه هر کله چه د کفارو او مشرکانو داخله په حرم شريف کښې حرام اوګرځولې شوه نو مسلمانانو ته دا يو معاشي مسئله راپيښه شوه چه مکه مکرمه کښې هيڅ پيداوار نه کيږي، بهر نه به خلقو دغه ضرورتونه د غلته راوړل د حج په موسم کښې به اهلِ مکه د پاره ټول ضروريات راجمع شو اوس چه د دغه بهرنو خلقو داخله په حرم کښې بنده شوه نو دغه کار به ځنګه چليږي، د دې جواب په قرآن کريم کښې داورکړې شو چه، ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ إِن شَاءَ﴾ يعني که تاسو د معاشي مشکلاتو راپيښيدونه ويريږئ نو پوه شئ چه د ټول مخلوق د معاش [ژوند تيرولو] انتظام د الله تعالی په لاس کښې دې، که هغه او غواړي نو دغه ټولو کفارو

[1]) صحيح البخاري، كتاب الجهاد، باب هل يستشفع الى أهل الذمة الخ: ج ۱، ص ۴۲۹، وصحيح مسلم، كتاب الوصية، باب ترک الوصية لمن ليس له شیء الخ: ج ۲، ص ۴۲

[2]) سنن ابي داود، كتاب الخراج والامارة والفئ، باب في اخراج اليهود من جزيرة العرب: ج ۲، ص ۴۲۹

Scanned with Ca

نه به تاسو بې پروا کړي] دلته د [ان شاء] قید لګولو مطلب شک او تردد نه دې بلکه دې سره اشاره دې خبرې ته ده چه صرف په مادي اسبابو باندې نظر لرونکو ته اګرچه دا خبره ډیره لرې او مشکله ښکاري چه هرکله د دوئ [د مسلمانانو] د ژوند تیرولو ذریعه هم دغه غیرمسلم وو نو دهغوئ [کفارو] د داخلې په بندیدو سره به د دوئ د ژوند تیرولو ذریعه هم بنده شي، خو دوئ د یاد لري چه الله تعالی د مادي سامان محتاجه نه دې، دهغه اراده د ټولو کارکولو چه اوشي نو ټول اسباب او ذریعې تولې ورته پخپله درستې شي یعني صرف د الله تعالی په ارادې راتلو سره ټول کارونه پخپله سمیږي او دهغې ذریعې او اسباب پخپله برابریږي.

قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ
	جنګیږئ	دهغه کسانو سره	چې ایمان نه راوړي
د هغه خلقو سره جنګیږئ چه په الله تعالی او د آخرت
بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ
په الله باندې	اونه	په ورځ د آخرت باندې	اوحرام نه ګڼري	هغه چې	حرام کړې دی الله	اورسول دهغه
په ورځ یقین نه ساتی	اوهغه څیزونه نه حراموی کم چه الله تعالی او د هغه رسول حرام کړې دی
وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
اونه جوړوی دین	دین حق لره	دهغه کسانو نه	چې ورکړې شوې دې ورته	کتاب
اوحق دین نه قبلوی [چه دین اسلام دې په دې بدو صفتونو موصوف کسان] دهغه خلقو څنی دی چه
حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۲۹﴾ وَقَالَتِ
تردې پورې	چې ورکړی هغوئ	جزیه	په خپل لاس	حال دا چې هغوئ ذلیله وی	او وائی
اهل کتاب دې	تردې ورسره جنګیږئ چه په ذلت او رسوائی سره جذیه ورکړی	اویهودیان وائی
الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ذٰلِكَ
یهودیان	چې عزیر	خوئې د الله دې	او وائی	عیسایان	چې مسیح	خوئې د الله دې	دا
چه عزیر ﷺ د الله خوئې دې	اونصرانیان وائی چه مسیح [عیسی] د الله خوئې دې	دا [خبرې] صرف
قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
خبرې د دوئ دی	په خلو د دوئ باند	مشابه کوی دوئ	خبری دهغه کسانو سره	چې کفر ئې کړې وُ
د دوی د خلو خبرې دی	دوی د هغه کافرو خلقو پشان خبرې کوی کوم چه د دوی نه وړاندې تیرشوی
مِنْ قَبْلُ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۰﴾
دمخکښې نه	هلاك دې کړی دوئ لره الله	چې د کوم ځائې نه دهوکه کیږی دوئ
دی	الله دې دوی هلاک کړی څنګه [سره د پوهې نه] دوی د حق نه اړولې شی

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

هغه اهل کتاب چه نه په الله باندې ایمان راوړي او نه په ورځ د آخرت باندې او دوی دالله او د هغه د رسول حرام کړې شوي څیزونه نه حراموي ، او نه دین حق لره خپل دین ګنړي د هغوی سره جنګ وکړئ تردې چه دوی ذلیله شی او په خپلو لاسونو باندې جزیه ادا کړی یهود خو دا وائی چه عُزَیر علیه السلام د الله ځوی دې او عیسایان دا وائی چه عیسٰی علیه السلام د الله ځوی دې دا ټولې د دوی د خولو خبرې دي دوی د هغه خلقو پشان خبرې کوی چه ددوی نه مخکښ کافر شوي دی دالله لعنت دي وي په دوی باندې ! دوی کوم طرف ته الټه واپس کیږی؟

خلاصه تفسیر

﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ اهل کتابو سره چې نه په الله ﷻ [پوره پوره] ایمان لری اونه د قیامت په ورځ [پور ایمان لری] ﴿وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ﴾ او نه هغه څیزونه حرام ګنړلی چې الله ﷻ اودهغه رسول [محمد ﷺ] حرام خودلی وو ﴿وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ﴾ او نه رښتیتې دین [اسلام] قبلوی ، ﴿حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ﴾ هغوئ سره تر هغې جنګیږئ چې هغوئ ماتحت او رعیت جوړیدو سر جزیه ورکول منظور کړی ﴿وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ﴾ او یهود [کښې څینو] اووئیل [نعوذبالله] عزیز ؈ د الله ﷻ ځوئې دی ﴿وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ﴾ او نصاراؤ وئیل چې مسیح ؈ د الله ﷻ ځوئې دې ﴿ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ﴾ دا د دوئ خبره ده د دوئ دخلو وینا [چې په واقع کښې هیڅ نوم شان نه لری] ﴿يُضَاهِئُوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ﴾ دوئ هم دهغه خلقو پشان خبرې کول شروع کړل چې د دوئ نه مخکښې کافران [تیر] شویدی [مرادترې نه دعربو مشرکان دی چې ملائیکو ته به ئې د الله ﷻ لونړه وئیلې مطلب دا چې هغوئ لره خو دوئ هم کافران ګنړی بیا دهغوئ پشان کفریات وائی،او دړومبی والی مطلب دا دې چې دمشرکانو ګمراهی پخوانئ وه] ﴿قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ﴾ الله ﷻ دې دوئ غرق کړی دوئ کوم خوا الټه روان دی [چې په الله ﷻ باندې داسې تور پورې کوی، داخو ددوئ کفری خبرې وې]

معارف او مسائل

دتیروشوؤآیتونو څخه په ړومبی آیت کښې دمکې دمشرکانو دجهاد او جنګ بیان وو، اوس په دې آیتونو کښې اهلِ کتابو سره دجهاد کولو بیان دې، داګویا کښې دتبوک دغزا تمهید دې چه داهلِ کتابو په مقابله کښې راپیښه شوي وه، په تفسیر درمنثور کښې دمفسر قرآن حضرت مجاهد رحمه الله نه نقل کړې شویدی چه داآیتونو دتبوک دغزا په باره کښې نازل شویدی،[1] لفظ د، اهلِ کتاب، اګرچه دلغوی معنی په اعتبار سره هرې کافرې هغه ډلې لره شاملیږی کومه چه په یوآسمانی کتاب باندې ایمان لری لیکن دقرآن کریم په اصطلاح کښې دالفظ صرف دیهودو اونصاراؤدپاره استعمال شویدې. ولې چه دعربو په خواؤشا کښې همدغه دوه فرقې اهلِ کتابو مشهورې وې، چنانچه قرآن کریم په دې باره کښې دعربو مشرکانو ته داسې خطاب کوی. ﴿اَنْ تَقُوْلُوْا اِنَّمَا اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا ۪ وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ﴾ او داهلِ کتابو په مقابله کښې

---

[1]) الدر المنثور تحت هٰذه الآية: ج۵، ص۴۸

چه د جهاد حکم ورکړې شویدې، هغه په حقیقت کښې اهلِ کتابو سره مخصوص ځکه نه دې چه په دې آیت کښې د جهاد د حکم چه کوم وجوهات بیانیـدونکی دی هغـه ټولو کفارو د پاره په شریکه دی نو حکم ئې شریک پکاردې، خو په خصوصیت سره د اهل کتابو ذکر ځکه اوکړې شو چه مسلمانانو به داسې ګنړل چه هر کله دوئ په څه درجه کښې ایمان لرې ځکه ئې په خلاف جهاد کولو کښې به خپله لیونی کیدل یعنی هر کله چه دوئ په تورات، انجیل او حضرت موسی ﷺ باندې ایمان راوړی نو کیدې شوه چه مسلمانانو به د دوئ خلاف په جهاد کولو باندې زړه نه شو کولې ځکه ئې په خصوصیت سره د دوئ ذکر اوکړو

د اهلِ کتابو په خصوصیت سره د ذکر کولو بله وجه دا هم کیدې شی چه د اخلق په یو حیثیت سره د زیاتې سزا حقدار ځکه دی چه دوئ اهلِ علم وو، د تورات او انجیل علم ئې لرلو چه پکښې د خاتم النبیین ﷺ ذکر مبارک او حلیه مبارکه په تفصیل سره ذکر شویده نو سره د دې علمه د دوئ کفر، انکار د اسلام او مسلمانانو خلاف سازشونه کول په یو حیثیت سره زیات سخت جرم شو، ځکه ورسره د جنګ کولو په خصوصیت سره بیان اوکړې شو،

د جنګ د حکم څلور وجوهات په دې آیت کښې داسې ښودلې شویدی ① ﴿لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ په الله تعالی ایمان نه راوړی] ② [﴿وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ په آخرت ایمان نه راوړی] ③ ﴿وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ﴾ هغه څیزونه حرام نه بولی کوم چه الله تعالی حرام کړیدی] ④ [﴿وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ﴾ ریشتینې دین نه قبلوی]،

دلته دا سوال راپورته کیدې شی چه هر کله اهلِ کتاب [یهود او نصاری] په ظاهره په الله تعالی هم ایمان راوړی، آخرت او قیامت هم منی نو په دې څیزونو د دوئ ایمان ولې او نه منلې شو.

جواب دا دې چه یـو اځې د ایمان الفاظ وئیـل کافی نه دی کوم ایمان چه د الله تعالی په نزد مطلوب دې که هغسې ایمان د چا نه وی نو هغه د نیشت په حکم کښې دې، یهود و، نصارا و اګر چه په ډاګه د توحید نه انکار نه دې کړې مګر څنګه چه په راتلونکی آیت کښې راروان دی چه یهود، حضرت عزیر ﷺ لره او نصارا حضرت عیسی ﷺ لره د خدائې ځوئ بولی او په خدائې کښې ئې ورسره شریک ګرځوی ځکه د دوئ د توحید اقرار عبث شو او د ایمان دعوی ئې غلطه شوه،

دغه شان څنګه چه په آخرت باندې ایمان راوړل مطلوب دی، هغه هم په اکثرو اهلِ کتابو کښې پاتې شوی نه وو، په دوئ کښې ډیرو خلقو دا عقیده وه چه په قیامت کښې به مادی جسمونه دوباره بیانه ژوندی کیږی بلکه یو قسم روحانی ژوند به وی دغه شان دا به ئې هم وئیل چه جنت او دوزخ به څه خاص ځایونه نه وی بلکه د روح د خوشحالیدو نوم به جنت او د دې د خفه کیدو نوم به دوزخ وی. خو هر کله چه د اخدائی احکامونه سراسر خلاف دی ځکه په آخرت باندې د دوئ ایمان راوړل په حقیقت کښې ایمان راوړل نشو،

دریم څیز ئې دا اوفرمائیلو چه دوئ د الله تعالی حرام کړی څیزونه حرام نه ګنړی، مراد ترې دا دی چه د تورات او انجیل په ذریعه کوم ډیر څیزونه چه حرام شوی وو، دوئ هغې لره حرام نه بولی، لکه ربا [سود] او نور د خوراک څکاک څیزونه شو چه د تورات او انجیل په ذریعه حرام ګرځولې شوی وو، دوئ هغه حرام او نه ګنړل او د هغې په کولو کښې اخته شو،

Scanned with Ca

دې نه دا مسئله هم معلومه شوه چه د الله تعالى حرام کړې څیزونه حلال ګڼړل یواځې ګناه کول نه دي بلکه د کفر کار دي، دغه شان یو حلال څیز لره حرام ګڼړل هم کفر دي، البته که حرام په داسې شان او کړي شي چه حرام ئې ګڼړي نو کفر به نه وي صرف فسق او ګناه به وي،

په دې آیت کښې دغې خلقو سره د جهاد جاري لرلو یو حد داسې ښودلې شویدې ﴿حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ﴾ دا حکم د جهاد به تر هغې وخته پورې جاري وي چه ماتحت نه پاتې کیږي، رعیت نهٔ جوړیږي او جزیه ورکول قبول نه کړي،

د جزیه لفظي معنی بدل او جزاده، د شریعت په اصطلاح کښې دې نه مراد هغه رقم دې چه د کفارونه د قتل په بدله کښې اغستې شي، یعنی چونکه کفر او شرک د الله او رسول الله ﷺ نه بغاوت دې چه اصلي سزائې قتل ده خو الله تعالى په خپل رحمت کامله سره د دوئ په سزا کښې دا شان آساني راوسته چه هغوئ که د اسلامي حکومت رعیت جوړ شي، د عام اسلامي قانون لاندې هلته پاتې کیدل غواړي نو د یو معمولي رقم اغستو په بدله کښې هلته استوګنې ته پرېښودلې شي او په دې حیثیت به د هغه د مال او ځان حفاظت هلته کولې شي، د دوئ په مذهبي رسمونو کښې به اسلامي حکومت څه دخل نه ورکوي د غسې رقم جزیه نومیږي،

د جزئې مقررولو یو صورت دا دې چه دواړه طرفه پر خپل منځ کښې سره رضاشي او شریعت د دې څه حد نه دې مقرر کړې یعنی په څه څیز په څه مقدار کښې چه رضا شو نو هم هغه به تر اغستې شي، لکه چه رسول الله ﷺ نجرانیانو سره هم د غسې معامله کړې وه چه د هغوئ د تولې ډلې نه ئې په یو کال کښې د دوو زرو حلو اغستو لو ظنامه کړې وه، حله هغه جوړې ته وائې چه دوه جامې لري، یو لنګ او یو څادر، د هرې حلې د قیمت اندازه ئې د چاندئ دیوې او قیئې قیمت لګولې وو: (۱) اوقیه څلویښت درهمه وزن لري چه زمونږ په وزن [تول] باندې یولس نیمې تولې چاندي جوړیږي،

دغه شان د بني تغلب د نصاراؤ سره حضرت عمر ﷺ د زکوة په اندازه د جزئې اغستلو لو ظنامه کړې وه چه د زکوة په دوه ګوته جزیه به تر اغستې شوه،

که مسلمانانو یو ملک د جنګ په ذریعه فتح کړو بیا د هغې خلقو ځائید ادونه ئې هم هغوئ سره پرېښول، او هغوئ د رعیت په توګه په اوسیدو باندې راضي شونو په هغوئ به د حضرت عمر ﷺ پشان جزیه داسې مقررولې شي چه د شتمن مالدارنه به د څلور درهمه وزن چاندي د میاشتې اغستې شي، درمیانه حال نه به د دې په نیمه یعنی د دوه درهمه وزن چاندي د میاشتې او کوم داسې بې ماله غریب چه روغ جوړوي، کار روزګار او خواري مزدوري کولې شي نو هغه نه د یو درهم وزن چاندي د میاشتې اغستې شي او څوک چه بیخي نیستمن یا شل ګډ معذور وي د هغه نه به هیڅ نشي اغستې، ښځو، ماشومانو، بوډاګانو تارک الدنیار اهبانو او مذهبي پیشوایانو نه به ئې هم څه نشي اغستې،

په دې دومره لږ مقدار کښې د جزئې اغستو د پاره هم د رسول الله ﷺ هدایات دا وو چه په هیچا د دهغه د وس نه زیات پیتې نشي بارولې، او وې فرمائیل کوم مسلمان چه په داسې غیر مسلم باندې ظلم او کړونوزه به د قیامت په ورځ د دغه غیر مسلم مرسته کوم [مظهري] (۲)

(۱) دلائل النبوة للبیهقي رقم الحديث: ۲۱۳۶ وسنن ابي داود، كتاب الخراج والفيء الخ: باب في أخذ الجزية: ج ۲، ص ۲۳۰

(۲) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۱۸۷، وسنن ابي داود، كتاب الخراج، باب في اهل الذمة: ج ۲، ص ۲۳۲

دداسې قسم روایتونو په بنا، دځنې فقهاؤ امامانو مذهب دادې چه په اصل کښې د جزئې يوه خاصه اندازه دشريعت له مخې مقرره نه ده، بلکه دحاکم په صوابديد او رائې باندې منحصره ده چه د هر چا د حال مناسب جزيه به پرباندې مقرروی،

ددې بيان نه داحقيقت هم واضح شو چه دکفارونه جزيه اغستل هغوئ ته دقتل دسزانه ورکولو په بدل کښې دی، داسلام نه راؤړو په بدل کښې نه دی، ځکه چه دلته داشبه کول بې ځايه دی چه دلږ رقم ياسامان په بدل کښې داسلام نه راؤړلو او په کفرباندې دقائم پاتې کېدو اجازت څنګه ورکولې شی؟ او ددې ډاګيز دليل دادې چه هرکله په اسلامی حکومت کښې کافرې ښځې، ماشومان بوډاګان، مذہبی پيشوايان، شل ګډ، او معذوره خلق بې دجزئې ادا کولو پاتې کېږی، نو معلومه شوه چه جزيه په بدل داسلام کښې نه بلکه په بدل دقتل کښې مقررولې شی، که په بدل داسلام کښې وې نو دې ذکرشوؤ خلقونه به هم خامخا اغستې شوه،

په آيت کښې ئې [﴿عَنْ يَدٍ﴾ اوفرمائيل چه پکښې حرف د [عَنْ] په معنی دسبب دې او ،يَدُ، په معنی دغلبې او قوت دې، ددې جملې معنی به په دې حيثيت سره داشان شی چه داجزيه ورکول دِ په خپل اختيارسره څه چنده ياخيرات ورکول نه وی بلکه داسلامی غلبې منلو او ددې ماتحت داوسېدلو په حيث دِوی [داشان په روح کښې راغلی دی]

دامام شافعی په نزدد ﴿وَهُمْ صٰغِرُوْنَ﴾ (١) تفسير دادې چه دغه خلق داسلام دعام [جنرل] قانون تابعداری کول دِ په خپله ذمه لازم اوګرځوی [روح المعانی ومظهری] (٢)

پدې آيت کښې چې داهدايت ورکړې شويدې چه، کله داخلق جزيه ورکول منظور کړی نو جنګ دِ بند کړې شی، دجمهور وفقهاؤ په نزد داهدايت ټولو کفاروته پاره دې، که هغه اهلِ کتاب وی او که غيراهلِ کتاب وی، البته دعربو مشرکان ددې نه مستثنی دی چه هغوئ جزيه قبوله نکړې شوه.

په دويم آيت کښې دهغې مضمون زيات تفصيل دې دکوم اجمالی بيان چه په ړومبی آيت کښې راغلې دې فرمائی چه، دااهلِ کتاب په الله تعالی باندې ايمان لری، ورپسې په دويم آيت کښې ئې اوفرمائيل چه يهود حضرت عزير ﷺ ته دخدائې ځوئې وائی اونصاری حضرت عيسی ﷺ لره دخدائې ځوئې بولی، ځکه ددوئ دعوی دتوحيد او ايمان غلطه شوه،

بيا يې اوفرمائيل: ﴿ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ﴾ داددوئ دخلې خبرې دی] ددې جملې دوه مطلبه داسې جوړېږی چه ① داڅه پته خبره نه ده پخپله ئې ښه په ډاګه په خپله خله اقرار کوی، ② ياداچه داددوئ صرف زبانی جمع خرڅ دې ددې خبرې نه څه وجه ښولی شی او نه ئې ورسره دليل شته،

بيا يې اوفرمائيل: ﴿يُضَاهِئُوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۚ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ﴾ دوئ دهغه خلقو پشان خبرې کول شروع کړل چه ددوئ نه پخوا کافران شوی وو، خدائې ددوئ غرق کړی، کوم خوا اپوته روان دی] مطلب داشو چه څنګه پخوانو کافرانو او مشرکانو فرشتې، اولات، منات دخدائې اولاد جوړ کړی وو دغه شان يهودو او نصاری هم پيغمبران ﷺ دخدائې اولاد بولی،

١ روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ١٠، ص ٧٨

٢) التفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ١٧٩، وروح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ١٠، ص ٧٨

اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ

جوړ کړي دي دوئ عالمان خپل | او عابدان خپل | خدایان | ما سوا دالله نه | او مسیح | اخوئ | د مریم |

[حقیقت دا دي چه] دوی خپل عالمان، عابدان او مسیح بن مریم دالله نه سوا [په تحریم او تحلیل کښي] معبودان جوړ کړي دي

وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ

او حال دا چي نه دي شوي حکم دوئ ته | مګر دا دي | اچي بندګي او کړي دوئ | د معبود یو | نشته

حالانکه دوی ته صرف د دي حکم شوي وو چه صرف د یو معبود [چه الله دي د هغه] عبادت کوی

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝٣١ يُرِيْدُوْنَ

لائق د عبادت | مګر | هم هغه دي | پاکي ده هغه لره | د هغي نه | چي دوئ ئي شریکوی | غواړي دا خلق

چه د هغه [الله] نه سوا بل څوک د عبادت لائق نشته | دوی چه ورسره کوم شرک کوی د هغي نه پاک دي

اَنْ يُّطْفِـُٔـوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ

چي مړه کړي | رڼړا | دالله | په خلو خپلو | او نهٔ مني الله | مګر دا | اچي پوره کړي هغه | رڼړا خپله

دوی غواړي چه د الله د دین رڼړا په خپلو خُلو سره مړه کړي | او الله د خپلي رڼړا پوره کولو نه سوا بله خبره نه مني

وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝٣٢ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ

اګر که | انهٔ خوښوی | کافران | الله | هغه ذات دي | اچي رالیږلي ئي دي | ارسول خپل |

اګرچه دا خبره کافران بده ګڼړي | او الله هغه ذات دي چه خپل پیغمبر ئي په هدایت او حق دین سره

بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَي الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوْ

په هدایت سره | او په حق دین سره | د پاره د دي چي غالب کړي | په دینونو | تولو باندي | اګر که

رالیږلي دي | چه دا دین [د دنیا په ټولو] دینونو غالب کړي | اګرچه [دا غالب کول] کافران خلق بد

كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۝٣٣ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ

نهٔ خوښوی | مشرکان | اے هغه کسانو | اچي ایمان موراوړي دي | بیشکه | ډیر | د

ګنړي | اي مؤمنانو [په دي خبره خان پوهه کړئ چه] د یهودیانو په عالمانو او عابدانو کښي زیات خلق

الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ

عالمانو نه | او عابدانو نه | خامخا خوری هغوئ | مالونه د خلقو | په باطلي طریقي سره | او منع کوی خلق

د خلقو مالونه په ناجائزه طریقه باندي خوری | او [په کردار او ګفتار سره] خلق د الله تعالی د لاري [دین]

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ

دلاري | دالله نه | او هغه کسان | چي خزانه کوی | سره زر | او سپین زر | او نهٔ خرج کوی هغه | په

نه منع کوی | او کوم خلق چه سره او سپین زر جمع کوی | او د الله تعالی په لار کښي ئي نه خرج کوی

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٣٤ يَّوْمَ يُحْمٰى

لار د الله کښي | انو زیري ورکړه هغوئ ته | په عذاب | دردناک سره | په هغه ورځ | چه ګرمولي به شي

نو دوی ته د درد ناک عذاب زیري ورکړه | [دا عذاب به ورته په] هغه ورځ [ورکولي شي] چه په هغي به

Scanned with Ca

عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ
په هغې سره اپه اور ادوزخ کښې انوداغلي کيږي به اپه هغې سره اتندی دهغوئ اوډډې دهغوئ
د جهنم اور گرمولی شی ا اوبيا به په هغې سره د دوی تندو، اړخونو او شاگانو ته داغونه ورکولې شی
وَظُهُوْرُهُمْ ؕ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا
اوشاګانې دهغوئ ا دا اهغه ده اچې خزانه کړې وه تاسو ادپاره دنفسونوخپلو انواوڅکئ تاسو اهغه چې
[اودوی ته به وئیلی شی چه] دا هغه مال دې کوم چه تاسو د خپلو ځانونو دپاره خزانه کړې وو[نو [اوس د] هغه
كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ۝
وئ تاسو اچې خزانه کولو به مو ا
مال [سزا اوڅکئ چه تاسو به خزانه کولو]

آسان ترجمه قرآن

دوي دالله په ځائ خپل احبار ﴿يعنی يهودو عالمان﴾ او راهبان ﴿يعنی عيسايانو راهبانو﴾ لره خدايان نيولي دي او مسيح ابن مريم لره هم. حال دا چه دوی ته دالله نه سوا د بل چا د عبادت حکم نه دې شوې. د هغه نه سوا څوك خدائی نشته هغه ددوی د شرك د خبرو نه بالکل پاك دې. دا خلق دا غواړي چه دالله رڼا د خولو په پوکو بانديې مړه کړي حال دا چه الله تعالیٰ ته د خپل نور د مکمل کولو نه سوا هره خبره نامنظوره ده، خواه که کافرانو ته دا خبره بده لګي اوهم دا الله دې چه هغه خپل رسول په هدايت او رښتينې دين بانديې ليږلې دې، دې دپاره چه دا په هر يو دين بانديې غالب کړی خواه که مشرکانو ته دا خبره خوښه نه وي. اې د ايمان خاوندانو! په ﴿يهودو﴾ احبارو او ﴿عيسايانو﴾ راهبانو کښې ډير داسې دی چه د خلقو مالونه په ناحقه طريقې سره خوري او نورو لره دالله د لارې نه بندوی او کوم خلق چه سره او سپين زر جمع کوي، او هغه دالله په لاره کښې نه خرچ کوي نو هغوی ته د يو دردناك عذاب خبرې ورکړه په کومه ورځ به چه دا دولت د جهنم په اور کښې گرمولې شي بيا دې سره به ددې خلقو تندې او د دوی اړخونه او د دوی شاګانې داغولې شي، او وئيلې به شی چه﴾ : دا هغه خزانه ده چه تاسو خپلو ځانونو د پاره جمع کړي وه! اوس وڅکئ د هغه خزانې مزه چه تاسو به جمع کوله.

خلاصه تفسير

[ورپسې د کفر کارونو بيان دې چې] ﴿اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ هغوئ [يهودو او نصرانيانو د] قرآن عظيم الشان [توحيد يعنی يووالې په عبادت کښې ئې] پريخودو، خپل علماء اوپيران ئې [دعبادت په اعتبار سره] ارباب [خدايان] جوړ کړی دی [چې په حلالو او حرامو کښې د دوئ تابعداری لکهٔ د خدائې پشان کوی، يعنی د نص نه ددوئ قول غوره ګڼړی او داسې قسم تابعداری بالکل عبادت کول دی] ﴿وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ﴾ او مسيح عليه السلام څوئې د مريم ئې هم [په يو اعتبار سره رب جوړ کړې دې چې ده ته د الله ﷻ څوئې وائی او د الله ﷻ څوئې به خامخا الله ﷻ وی] ﴿وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا﴾ سره ددې چې دوئ ته [دالله ﷻ په کتابونو کښې] صرف دا حکم شوې دې چې خالص د يو معبود [برحق] عبادت کوی ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ چې

Scanned with Ca

دهغه نه سوا بل څوك لائق د عبادت نشته ﴿سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾ هغه ددوئ د شريك نه پاك دي [او دا خو بيان وو د باطل د تابعدارئ كولو وروسته دا بيان دي چې دوئ حق دين رد كوى چې داهم كفر دې يعني] ﴿يُرِيدُونَ أَن يُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ﴾ دغه خلق دا غواړى چې د الله ﷻ نور [يعني د اسلام دين] پخپلو خلو سره [په پوكو وهلو وهلو] مړ كړى [يعني پخپلو خلو سره د رد او اعتراض خبرې په دې غرض كوى چې خپل حق دين سر اوچت نه كړى] ﴿وَيَأۡبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ سره ددې چې الله ﷻ سوا ددې نه چې خپله [بيان شوې] نور، كمال ته اورسوى ، منى به نه، اګر چې كافران خلق [چې په كښې دوئ هم راغلل] په هر شان هم نه خوښوى [چنانچه] ﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ﴾ دغه الله ﷻ داسې دې چې [ددې نور مكمل كولو دپاره] هغه خپل رسول ﷺ ته هدايت [دهدايت سامان يعني قرآن كريم] او رښتينې دين [يعني] اسلام وركړو [او دنيا كښې ئې] ليږلې دې ﴿لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ﴾ دپاره ددې چې دا [دين كوم چې وړاندې دنور په نوم بيان شو په نورو] ټولودينونو باندې غالب كړى [چې هم دا ئې مكمل كول دى] ﴿وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ﴾ اګر چې مشركان [چې دوئ هم په كښې شامل دى] هر څومره ناخوښه وى . ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ﴾ ائې د ايمان خاوندانو ! اكثر عالمان اوپيران [ديهودو او نصرانيانو] د [دعامو] خلقو مالونه په ناروا طريقو خوري [يعني په دې شان ئې الوځوى چې حق احكام پټ ساتى دعوامو په مرضئ فتوې وركوى اودهغوئ نه نذرانې او منښتې اخلى] او [ددې په وجه هغوي] ﴿وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ د الله ﷻ د لارې نه ايساروى [ولې چې دهغوئ د دروغو په فتوؤ كښې د ښكيل كيدو په وجه په ګمراهئ كښې انښتى پاتې كيږى او حق قبلول څه چې طلب ئې هم نه كوى] او [د زيات حرص په وجه مال هم جمع كوى چې د هغې په باره كښې دا وعيد راغلې دې چې] ﴿وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ كوم خلق چې سره سپين زر په راغونډولو سره اړدى او د الله ﷻ په لار كښې ئې نه خرچ كوى [يعني زكوة ئې نه ادا كوى] ﴿فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ﴾ نو تاسو دوئ ته د يو لوئې دردناك عذاب خبر وركړئې ﴿يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ﴾ په هغه ورځ به ئې په سر راځى چې دا به [اول] د دوزخ په اور ګرمولې شى، ﴿فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡ﴾ بيا به پرې ددغې خلقو تندى، اړخونه او شاګانې داغ كولې شى [او دابه پرې ضباطولې شى چې] ﴿هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ﴾ دا هغه دى چې تاسو خپلو ځانونو دپاره جمع كړئ ايخودى وو ﴿فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ﴾ نو اوس ئې دجمع كولو مزه اوڅكئ.

معارف اومسائل

په دې څلوروواړو آيتونو كښې ديهودواونصاراؤ، عالمانواوزاهدانودګمراهئ اودهغوئ دقولى اوعملى كفرياتوبيان دې، احبار، دحَبَر، جمع ده، او، رهبان، دراهب جمع ده، حبر، د يهودواونصاراؤعالم ته، اوراهب ئې عابداوزاهد [پادرى] ته وئيلې شى.

په ړومبى آيت كښې وئيلې شويدى چه دې خلقوخپل علماء اوعبادت كوونكى دالله تعالى نه سواخپل پروردګاران اومعبودان جوړ كړيدى، دغه شان عيسى عليه السلام ځوئ دمريم يې خپل رب جوړ كړيدې، حضرت عيسى عليه السلام لره رب اومعبود جوړول خوڅكه ښكاره دى چه هغوئ ﷺ به ئې دالله تعالى ځوئ منلو اوبللو، اوعالمانواوعابدانوته ئې خدائ اومعبودګرځول څكه وئيلى دى

چه اګر که هغوئ به دوئ ته په ډاګه خپل رب نه وئیل خو دا به ئې کول چه خالص هم ددوئ تابعداری به ئې کوله کوم چه دالله تعالی حق دې او دغه حق ئې دوئ ته ورکړې وو چه په هرڅه کښې به ئې خالص هم ددوئ تابعداری کوله اګرچه ددوئ وینا به دالله تعالی اورسول الله ﷺ نه خلاف وه، نو دا ښکاره کفر شو،

دې نه معلومه شوه چه دینی مسئلو نه ناواقفو عوامو دپاره دعلماؤ دفتوې تابعداری کول او په اجتهادی مسئلو کښې دمجتهدینو امامانو تابعداری کول ددې آیت له مخې څکه بد نه دی چه دا په حقیقت کښې دالله تعالی اورسول الله ﷺ دحکمونو تابعداری کول دی، فرق صرف دومره دې چه دعلم او نظر خاوندان عالمان صاحبان نیغ په نیغه دالله اورسول الله ﷺ کلام ګوری او په هغې عمل کوی او ددین نه ناواقفه عوام داهلِ علم نه تپوس کولو سره په دغې احکامو عمل کوی او کوم عالمان چه داجتهاد کولو درجې ته نه وی رسیدلی هغوئ هم په اجتهادی مسئلو کښې دمجتهدینو امامانو تابعداری کوی چه بعینه دقرآنی حکم مطابق دی او هم دالله تعالی فرمانبرداری کول دی لکه قرآن کریم پخپله فرمائ: ﴿فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ که تاسو پخپله دالله تعالی اودرسول الله ﷺ دحکمونو نه واقف نه ئې نو اهلِ علم نه په تپوس کولو سره عمل په کوئ] یهودو او نصاراؤ کتاب الله لره او دالله اورسول الله ﷺ حکمونو لره بیخی شا ته غورځولی وو، دخود غرضو او کسبیانو عالمانو یا دجاهلو عبادت کوونکو وینا او عمل ئې خپل دین جوړ کړې وو چه بدیت ئې په دې آیت کښې بیان شویدې،

وروستو ئې اوفرمائیل چه دې خلقو ګمراهی اختیار کړه حالانکه دوئ ته دالله تعالی دطرفه صرف دیو الله تعالی دعبادت کولو حکم ورکړې شوې وو کوم چه دټولو هغه څیزونو دشرک نه پاک دې کوم لره چه دا خلق دالله تعالی شریک ګرځوی،

په دې آیت کښې ددوئ د باطلو دتابعدارئ او دغیر الله دناجائزې تابعدارئ ذکر وو وروستو آیت کښې ددوئ دیوې بلې ګمراهئ بیان داسې شویدې چه دا خلق یو اځې په دې صبر نه کوی چه پخپله په ګمراهئ کښې پراته دی بلکه دحق دین دور کولو اورد کولو کوششونه کوی، هم دا مضمون ئې دمثال په ډول داشان راغستې دې چه دا خلق دخپلو خلو په پو کو سره دالله تعالی نور مړل کول غواړی، حالانکه دا ددوئ دوس نه بهر خبره ده، الله تعالی ددې فیصله کړیده چه خپل نور [دینِ اسلام] به مکمل او پوره کوی اګرچه کافران خلق پر ناخوښه وی،

وروستو ددریم آیت دمضمون خلاصه هم دغه ده چه الله تعالی خپل رسول الله ﷺ ته د هدایت سامان [یعنی قرآن] اوحق دین [یعنی اسلام] ورکړو اوځکه ئې اولیږلو چه داسلام دین په نوروټولو دینونو ئې غالب کړی، تقریبا هم په داسې الفاظو کښې نو ګنړ آیتونه هم راغلی دی کومو کښې چه داوعده کړیده شویده چه داسلام دین به په نوروټولو دینونو غالب کولې شی،

په تفسیر مظهری کښې راغلی دی چه په نوروټولو دینونو باندې دبر کولو دازیرې داکثرو زمانو او اکثرو حالتونو په اعتبار سره دې څنګه چه دحضرت مقداد رضی الله عنه په حدیث کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په مخ دزمکې باندې به هیڅ کچه یا پوخ مکان پاتې نشی چه داسلام کلمه به پکښې داخله شی، دعزتمنو په عزت سره او دذلیله خلقو په ذلت سره یعنی چاله چه الله تعالی عزت ورکوی هغوئ به مسلمانان شی او څوک چه ذلیل کول غواړی هغوئ به اسلام قبول نکړی مګر داسلامی حکومت تابع به شی، چنانچه دالله تعالی داوعده پوره شوه

Scanned with Ca

ترزروکالوپورې د اسلام شان شوکت په ټولې دنیاخورپاتې شو.(۱)

درسول الله ﷺ او د پخوانو بزرګانو په زمانه مبارکه کښې خود دې نور کامليدل او پوره کیدل ټولې دنیا په خپلو سترګو اوليدل او په آئنده کښې هم د دليلونو او حقيقتونو په اعتبار سره په هره زمانه کښې دین اسلام داسې يو مکمل دين دې چه معقول پسند انسان ته په دې باندې د ګتې اېښو موقعه نه ملاوېږي، همدغه وجه ده چې د کفارو د مخالفتونو باوجود هم د خپلو حجتونو او دليلونو په اعتبار سره داحق دين هميشه د پاره غالب وی او کله چه مسلمانان د دې دين مکمله تابعداری کوی نو د دې ظاهری غلبه سلطنت او حکومت به هم خامخاوی، څنګه چه د اسلامي تاريخ تجربه د دې ګواه ده چه کله هم مسلمانانو په قرآن او سنت پوره عمل اوکړونو هيڅ يو غر او درياب د مسلمانانو د اراده په لار کښې خنډنه دې جوړشوې او دوئ په ټوله دنيا باندې غالب راغلی دی او کله او چرته چه دوئ ماتې خوړلې ده یا پاتې راغلی دی نو د قرآن او سنت د حکمونو د غفلت او خلاف کولو په نتيجه کښې به راغلی وی چه دائې مخې ته راغلل نو حق دين بیاهم په خپل ځائې باندې کامياب او کامران پاتې شو،

په څلورم آيت کښې مسلمانانو ته خطاب شویدې، او په دې کښې د يهودو، نصاراؤ د عالمانو او بزرګانو داسې حالات بيان شويدی چه د هغې له کبله په عوامو کښې ګمراهی خوره شوه، په دې کښې مسلمانانو ته خطاب کولو سره شايد دې ته اشاره شوی وی چه اګر که حالات خود يهودو او نصاراؤ بيانولې شی خو دوئ د هم بيدار اوسی چه داسې حالات ئې نشی،

په دې آيت کښې فرمائی چه د يهودو، نصاراؤ د ډېرو عالمانو او بزرګانو داحال دې چه په باطلو طريقو سره د خلقو مالونه خوری او د الله تعالی د نيغې لارې نه دوئ ايساروی،

د يهودو او نصاراؤ اکثرو علماؤ او بزرګانو همداحال وو په دې داسې حالاتو کښې په عام ډول دغسې ټولو خلقو ته بد وئيلې شی ليکن قرآن کريم چه د لته ﴿كَثِيرًا﴾ اووئيل نو په دې سره ئې مسلمانانو ته دا ښودنه اوکړه چه احتياط د کوی او ټولو ته د دې بد و نسبت نه کوی بلکه که نسبت کوی نو صرف د دې کارکوونکو ته د نسبت کوی، چنانچه د دوئ ګمراهی دا اوښودلې شوه چه د خلقو مالونه په باطله طريقه خوری، د باطلې طريقې نه مراد دادې چه د دې خلقو په بعضې اوقاتو کښې د خلقو نه پيسې واخستلې او د تورات د حکمونو په خلاف به ئې غلطې فتوې ورکولې او کښې وختونو کښې به ئې د الله تعالی احکام پټول او سره ګډوډ کول به ئې، په دې باندې به ئې اضافه داهم کوله چه صرف پخپله به ئې ګمراهی نه کوله بلکه د سمې لارې نه نور لټوونکی خلق به ئې هم د الله تعالی د لارې نه ايسارول، ولې چه هر کله خلق خپل مشران په داسې کار کولو باندې ګوری نو په هغوئ کښې هم د حق پرستئ جذبه مړه شی او علاوه دا چه د غلطو فتوؤ په بنياد دوئ ګمراهئ او غلطئ لره حق او صحيح ګنړی،

د يهودو او نصاراؤ علماؤ او بزرګانو به د پيسو په لالچ کښې چه غلطې فتوې ورکولې د دې وجه د دوئ، مال سره محبت لرل او د دنيا لالچ کول وو، څکه په دې آيت کښې مال سره د ډېر زيات محبت کولو بد ې نتيجې او دردناک عذاب بيان شويدې او د غې بيمارئ نه د ځان خلاصولو طريقه ښودلې شويده فرمائی: ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ

(۱) التفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۱۹۵، ومسند أحمد، حديث المقداد بن الأسود رضی الله عنه رقم الحديث: ۲۲۵۲۳

Scanned with Ca

﴿اَلِيۡمٍ﴾ څوک چه په مخه سره او سپين زر جمع کوي، او دالله تعالى په لار کښې نه خرچ کوي، دوئ ته د دردناک عذاب زيرې واؤروه،

په ﴿وَلَا يُنۡفِقُوۡنَهَا﴾ کښې دې خبرې ته اشاره ده چه هر کله د ضرورت په مطابق دالله تعالى په لار کښې څه مال خرچ کړې شى نو پاتې مال، ورد پاره مضر نه وى، چنانچه رسول الله ﷺ په يو حديث کښې پخپله فرمائيلى دى چه کوم مال نه زکوة ادا کړيشى هغه په کنزتم کښې داخل نه دې، [ابوداؤد احمد وغيره] [1]

دې نه معلومه شوه چه د زکوة اوبنکلو نه بس پاتې مال جمع او خوندى لرل د گناه کار نه دې،

د جمهور و فقهاؤ او امامانو هم دا مسک دې چه د ﴿وَلَا يُنۡفِقُوۡنَهَا﴾ ضمير ﴿فِضَّةَ﴾ ته راجع دې چه معنى ئې چاندى ده، هر کله چه پورته سره او سپين زر دواړه ذکر شويدى او ضمير صرف سپينو زرو ته راجع کړې شونو تفسير مظهرى دا اشاره دې خبرې نه گرځولې ده چه که چا سره او سپين زر لرل موجود وى نو چاندئ له به اعتبار وى، يعنى دواړه به يو ځائ کړې شى او زکوة به ئې د چاندئ د قيمت په مطابق اداکولې شى [2]

په پنځم آيت کښې د دغې، عذاب اليم، تفصيل دا سې راغلې دې ﴿يَوۡمَ يُحۡمٰى عَلَيۡهَا فِىۡ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوٰى بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوۡبُهُمۡ وَظُهُوۡرُهُمۡ‌ؕ هٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِاَنۡفُسِكُمۡ فَذُوۡقُوۡا مَا كُنۡتُمۡ تَكۡنِزُوۡنَ۝﴾ يعنى زکوة نه ادا کوونکو ته به دا عذاب اليم په هغه ورځ وى چه د دوئ خوندى کړى سره او سپين زر به د جهنم په اور کښې گرمولې شى بيا به د دوئ تندى، اړخونه او شاگانې پر داغلې شى او د زبانى سزا و ر کولو په ډول به ورته وئيلې شى چه دا هغه څيز دې چه تا سو خپلو ځانونو د پاره جمع کړې وونو خپله جمع کړې پنگه اوڅکئ] دې نه معلومه شوه چه د عمل بدله به بعينه همدغه عمل وى، په ناجائزه جمع کړې پنگه يا هغه جائزه پنگه چه زکوة ئې ادا نکړې شى نو بعينه همدغه پنگه به د مالک د پاره عذاب جوړ شى،

په آيت کښې د تندى، اړخونو او شاگانو داغلو ذکر راغلې دې چه مطلب تر ټول بدن داغل دى يا ددې درې اندامونو ذکر کولو تخصيص په دې بناشويدې چه هر کله دا سې بخيل ته څوک سوال کړې يا زکوة غوښتونکې وروړاندې شى نو د هغوئ په ليدلو سره د ټولو نه اول د ده ① تندى باندې غتې راشى، بيا ② ترمخ واړوى هغه ته اړخ کړى چه په دې کار هم اونشى نو ③ ورته شا کړى، څکه دا درې اندامونه د يادولو د پاره مخصوص کړې شو،

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوۡرِ عِنۡدَ اللّٰهِ اثۡنَا عَشَرَ شَهۡرًا فِىۡ
بيشکه | شماره د مياشتو | په نزد الله | دولس مياشتې دى | په
بيشکه د الله په نيز د الله په کتاب کښې د مياشتو شمير
كِتٰبِ اللّٰهِ يَوۡمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ مِنۡهَاۤ اَرۡبَعَةٌ
کتاب د الله کښې | دهغې ورځې نه اچې پيدا کړى دى الله | اسمان | او زمکه | دهغې نه | څلور
د کوم وخت نه چه الله زمکې او اسمانونه پيدا کړى دى دولس مياشتې دې | په دې کښې څلور مياشتې

---

[1]) سنن ابي داود، كتاب الزكاة، باب الكنز ما هو؟ ج ۱، ص ۲۱۸

[2]) التفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۱۹۶، ۱۹۷

Scanned with C

حُرُمٌ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا

حرام دی | دا قاعده ده | صحيح | نو ظلم مه کوئ | په دې کښې | په ځانونو خپلو باندې | او جنګېږئ

معززې دی | دا محکم دين دی | نو په دې مياشتو کښې [دګناهونو په وجه] په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ

الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

دمشرکانو سره | ټول | لکه څنګه چې | هغوئ جنګېږي تاسو سره | ټول | او پوهه شئ | چې بيشکه الله

او کافرانو سره ټول جنګ کوئ لکه څنګه چه هغوی تاسو سره ټول جنګېږي | او په دې خبره [هم] پوهه شئ

مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ

د متقيانو سره دی | بيشکه | نسی | ايو زيات کار دی | په کفر کښې | چې ګمراه کېږي | په دې سره

چه د الله مدد د متقيانو سره دی | رستو کول په کفر کښې زيادت دی | په دې سره هغه کسان ګمراه کېږي کوم

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا

هغه کسان | چې کافران شوی دی | حلالوی دوئ دغه حرامې مياشتې | يو کال | او حراموی هغه | بل کال

کافران دی | دوی دغه معززې مياشتې يو کال حلالوی [او جنګ په کښې جائز کوی] او بل کال ئې حراموی

لِّيُوَاطِـُٔوْا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فَيُحِلُّوْا

ددې دپاره چې پوره کړی دوئ | شمار | د هغې مياشتو | چې حرامې کړی دی الله | او چې حلالې کړی دوئ

دادې دپاره کوی چه صرف هغه مياشتو شمار برابر کړی کومې چه الله حرامې کړی دی نو په دې طريقه دوی هغه

مَا حَرَّمَ اللّٰهُ ۭ زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ ۭ وَاللّٰهُ

هغه مياشتې | چې حرام کړی دی الله | ښائسته شوی دی | ادوئ ته | ناکاره عملونه ددوئ | او الله

مياشتې حلالوی کومې چه الله حرامې کړی دی | ادوی ته د دوی بد عملونه ښائسته شوی دی | او الله پاک

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

هدايت نه کوی | قوم | کافر ته

نافرمانو خلقو ته توفيق د هدايت نه ورکوی

آسان ترجمه قرآن

حقيقت دا دې چه دالله په نيز د مياشتو تعداد دولس دی چه د الله په کتاب ﴿لوح محفوظ﴾ کښې دهغه وخت نه راروان دې چه په کومه ورځ الله آسمانونه او زمکې پيدا کړي دي — دي ﴿ دولس مياشتو کښې ﴾ څلور د عزت والا مياشتې دي هم دا ﴿ده﴾ دين صحيح ﴿تقاضا﴾ ده. پس ددې مياشتو په معامله کښې په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ او تاسو ټول د مشرکانو سره داسې جنګېږئ لکه چه هغوئ تاسو سره جنګېږي . او يقين وکړئ چه الله د متقيانو سره دې اودا نسيئه ﴿يعنې مياشتو کښې مخکښې والې او وروستو والې دا﴾ خو په کفر کښې نور زياتې دې چه ددې په ذريعه کافرانو لره ګمراه کولې شي دا خلق دا عمل يو کال حلالوی او يو کال ئې حراموي، دې د پاره چه الله کومې مياشتې مقرر کړي دي د هغې شمير پوره کړي

Scanned with Ca

او ﴿دغه شان﴾ کومه خبره چه الله حرامه کړې ده هغه حلاله وګڼي ددوي بد عملي د دوی په نظر کښې ښائسته کړې شوې ده او الله داسې کافرانو ته هدایت نه کوي.

خلاصه تفسیر

﴿إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ﴾ یقینا شمیر د میاشتو [چې] د الله ﷻ په کتاب [یعنی په شرعی احکامو] کښې د الله ﷻ په نزد [معتبر دی] دولس میاشتې [قمری] دی [اوځه د نن نه نه بلکه] ﴿يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾ په کومه ورځ چې الله ﷻ آسمانونه او زمکه پیدا کړی وو [دهغې ورځې نه او] ﴿مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ﴾ په دې کښې خاص ځلورمې میاشتې د ادب دی [ذی قعده ، ذی الحجه ؤ، محرم او رجب] ﴿ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ﴾ هم دا [بیان شوې خبرې] دین نیغ برابر دې [چې میاشتې دولس دی او خاص کر ځلور میاشتې حرامې دی اوپخلاف د جاهلیت د عادت نه چې کله د میاشتو شمیر زیات کړی اوکله د میاشتو حرامو په تخصیص باندې عمل نه کوی ، کومه چې بد دینی ده] ﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ﴾ نوتاسو ددې میاشتو باره کښې [ددین پخلاف کولو چې موجب د ګناه دی] خپل نقصان مه کوئی [یعنی دجاهلیت ددې عادت په جوړ عمل مه کوی] ﴿وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً﴾ او دې مشرکانو ټولو سره جنګیږئ څنګه چې هغوئ تاسو ټولو سره جنګیږی [یعنی هر وخت ئې تاسو سره جنګ کولو ته بدې وهلې وی] او [که د دوئ د کثرت او سازوسامان نه ویریږئی نو] ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾ نو دا اوګڼرئی چې الله ﷻ د متیقیانو ملګرې دې [پس ایمان اوتقوی خپل طبیعت اوګرځوئ او چا نه مه ویریږئ ،وریسې د دوئ د جاهلیت دعادت بیان دې چې] ﴿إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دا [د میاشتو یا ددې حرمت په مخه] بې ځایه کول په کفر کښې نوره زیاتی ترقی ده چې په دې سره [نور عالم] کافران ګمراه کولې شی [په دې شان] ﴿يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا﴾ چې دوئ دا میاشت یو کال [دخپل ذاتی غرض په وجه] حلالوی او بل کال ئې [کله چې ئې ذاتی غرض نه وی نو] حرامه ئې ګڼری ﴿لِّيُوَاطِئُوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ﴾ دپاره ددې چې الله ﷻ کومې میاشتې چې حرامې کړی دی [صرف] ددې شمیر [ددې د خاص کولو او ټاکلو نه بغیر] پوره کړی بیا [کله چې خاص کول اوټاکل اونه شو نو] ﴿فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ﴾ د الله ﷻ حرامه کړې میاشت حلالوی ﴿زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ﴾ د دوئ بد عملئ ورته ښه ښائسته معلومیږی او [په کفر باندې د دوئ په کلك پاتې کیدو باندې غم کول بې فائدې څکه دی چې] ﴿وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ الله ﷻ داسې کافرانو ته هدایت [ددې توفیق] نه ورکوی [ولې چې دوئ پخپله په لار راتلل نه غواړی].

معارف اومسائل

په تیروشوؤآیتونو کښې دکفارواودشرک،کفر،ګمراهئ اوبدعملیانو بیان وو اوس په دې دوؤآیتونو کښې هم ددې سلسلې یومضمون اودعربودجاهلیت یوجاهلانه خراب رسم بیان شویدې،مسلمانانوته دې نه دځان ساتلوهدایت شویدې،دغه خراب رسم یوې واقعې سره تعلق لری تفصیل ئې دادې چه دپخواز مانوراسې دپخوانوپیغمبرانوپه شریعتونو کښې به د کال دولس میاشتې منلې شوې چه به پکښې ځلورمیاشتې دډیربرکت،ادب اواحترام میاشتې ګڼړلې شوې،درې میاشتې سره یوځائ وې چه ① ذی القعده ② ذی الحجه او ③ محرم وه

اویوه څانله ④ درجب میاشت وه،

دټولو انبیاؤ ﷺ شریعتونه په دې متفق دی چه دې څلورو میاشتو کښې دهرعبادت ثواب زیات وی اوپه دې کښې دګناه کولو وبال اوعذاب هم زیات وی، په وړاندینو شریعتونو کښې په دې میاشتو کښې جنګونه کول هم منع شوی وو،

دمکې مکرمې عرب خلق هرکله چه دحضرت اسماعیل علیه السلام په واسطه دحضرت ابراهیم علیه السلام اولاددی په دې وجه، داټول دحضرت ابراهیم علیه السلام دپیغمبرئ منونکی وواودوئ علیه السلام دشریعت منلودعوی به ئې هم کوله، اودحضرت ابراهیم علیه السلام په ملت کښې هم، په دې څلورو میاشتو د حرمت کښې قتل وقتال اوښکارکول منع وو، په دې حکم باندې عمل کول دجاهلیت دزمانې په خلقوباندې ځکه ډیرزیات سخت ووچه جنګ جګړې کول دهغوئ کسب ګرځیدلی وو، ځکه په دې کښې دآسانئ پیداکولودپاره خپلو غرضونوداسې په مخه اغستی ووچه په دې کښې به ئې هم قسافسم چلونه اوتګئ راویستلې دحرمت په میاشت کښې به چه دجنګ شروع کولوځه ضرورت پیښ شو، یادجاری جنګ په دوران کښې به پردحرمت میاشت راغله نووئیل به ئې چه په دې کال کښې به دامیاشت دحرمت نه وی، وروستې میاشت به دحرمت ګڼرلې شی، مثلاً دمحرم میاشت به ئې صفرته واړوله اوکه داضرورت به ئې اوږدشونودربیع الاول میاشتې ته به ئې وروستې وروا ړوله، یابه ئې داسې اووئیل چه داځل دصفرمیاشت وړاندې شوه محرم به وروستې راځی، په دې شان به ئې دغه میاشتې په خپل منځ کښې وړاندې روستوکړې، غرض داچه په کال کښې خوبه ئې څلورمیاشتې دحرمت ګرځولې خود الله تعالی دترتیب اوټاکلولحاظ به ئې پکښې نه ساتلوځکه به ئې چه خوښه وه دمیاشتو نومونه اوځایونه به ئې هغسې بدلول، کله به داسې هم اوشوچه ضرورت به ئې اوږدشودکال به لس میاشتې ترتیرې شوې نوپاتې دوؤ میاشتوسره به ئې دراتلونکی کال دوه میاشتې یوځائ کړې دغه څلورمیاشتې به ئې دحرمت اوګرځولې داکال به ئې دڅوارلسومیاشتې اوګرځولو اووروستې کال به ئې دلسو میاشتو اوګرځولو غرض داچه دابراهیمی علیه السلام دین لحاظ به ئې دومره ساتلوچه په یوکال کښې به ئې څلورمیاشتې دحرمت په خپله خوښه ټاکلې اوپه دې کښې به ئې جنګونه نه کول، په نتیجه کښې به دادیره ګرانه شوه چه رمضان میاشت کومه نوه شوه اودمحرم، صفرې وغیره کومه میاشت شوه؟ دهجرت په اتم کال کله چه مکه مکرمه فتح شوه اوپه نهم کال کښې رسول الله ﷺ دحج په موسم کښې صدیق اکبر رضی الله عنه اوعلی رضی الله عنه لره دمشرکانواو کافرانونه دویزارئ داعلان کولودپاره اولیږلو نودغه میاشت په حقیقت کښې دذی الحجې وه مګردجاهلیت ددې زوړدستورپه جوړدامیاشت دذی القعدې ګرځولې شوې وه اوپه دغه کال ددغې جاهلانوپه نزددحج میاشت دذی الحجې دذی القعدې ټاکلې شوې وه، دحجة الوداع په کال کله چه رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته تشریف یوړونوپه قدرتی دول داسې انتظام جوړشوچه اصلی میاشت دذی الحجې وه اودهغوئ په نزدهم دذی الحجې میاشت وه په دې وجه رسول الله ﷺ په خپله خطبه کښې اوفرمائیل:

أَلَا إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللهُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ، [۱] زمانه بیا خپل هغه حالت ته

[۱]) سنن ابي داود، كتاب المناسك، باب الأشهر الحرم: ج ۱، ص ۲۶۸، وصحيح البخاري، كتاب التفسير، سورة التوبة، باب قوله ان عدة الشهور الآية: ج ۱، ص ۶۷۳

Scanned with Ca

راوګرځيده په کوم حالت چه الله تعالی دزمکې اوآسمانونو دپيدائيش په وخت ايښې وه]

دجاهلی رسم مطابق دمياشتو داصلی ترتيب، اووخت په ګډوډ کولو سره به په شرعی احکامو کښې هم خلل راتلو کوموبه چه يوې خاصې مياشتې يادډې يوې خاصې نيټې سره تعلق لرلو، دکال شروع اوختميدل معلومول به ډيرزيات ګران شو، مثلاً دابه نشوپيژندلې چه درمضان مياشت کومه ده چه روژې پکښې اونيولې شی؟ دذی الحجې هغه لس ورځې کومې دی چه حج پکښې کولې شی؟ دمحرم هغه لس ورځې کومې دی چه روژې پکښې اونيولې شی؟ کال کله ختم شوچه زکوة اداکړې شی؟

خبره خوهسې لنډه وه چه د مياشتې په نوم بدلولو سره په وروسته مخته کړه داسې چې محرم ئې صفرته واړولو اوصفرئې محرم ته راواړولو چه په نتيجه کښې به ئې ډيرشرعی احکام ګډوډ کيدل، ځکه په دې دوؤآيتونو کښې دجاهليت ددغې رسم بديت بيان کړې شو او مسلمانانو ته تردغان ساتلو هدايت شويدې،

په ړومبی آيت کښې فرمائی: ﴿إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا﴾ دلته ﴿عِدَّةَ﴾ دشمير معنی ورکوی، او[شهور] د، شهر، جمع ده چه دمياشتې معنی ورکوی، ټوله معنی ئې داشوه چه دالله تعالی په نزدد مياشتوشمير [۱۲] دولس ټاکلې شويدې چه پکښې دکمی زياتی کولو هيڅوک اختيارنه لری.

وريسې ﴿فِي كِتَابِ اللَّهِ﴾ زياتولو سره دا اوښودلې شوچه داخبره دازل نه په لوحِ محفوظ کښې ليکلې شوې وه،

په ﴿يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾ سره ئې دلته ته اشاره اوکړه چه اګرکه دالله تعالی فيصله په دې باره کښې دازل نه شوې وه ليکن په عمل کښې هغه وخت راغله چه زمکه آسمانونه پيداشو،

بيافرمائی ﴿مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ﴾ په دې کښې څلورمياشتې دحرمت دی] دحرمت مياشتې ددوؤمعنوپه اعتبارسره ورته وئيلې شی ① يوپه دې اعتبارسره چه جنګونه کول پکښې حرام دی او ② په دې اعتبارسره چه دامياشتې برکتی اوقدرعزت کولوجوګه دی، په دې کښې د عبادتونو ثواب زيات ملاويږی، ړومبې حکم خوپه اسلامی شريعت کښې منسوخ شويدې، مګردويم حکم داحترام، ادب او د عبادت کولواهتمام کول اوس هم په اسلام کښې باقی دی،

دحجة الوداع په خطبه ديوم النحرکښې رسول الله ﷺ ددې مياشتوتشريح داسې او فرمائيله چه درې مياشتې سره يوځائ دی چه ① ذی القعده او ② ذی الحجه او ③ محرم ده اويوه بله مياشت درجب ده[1] . دعربوځنې قبيلوبه درمضان مياشتې ته ① رجب وئيله اوقبيلې ② دمضربه هغه مياشتې ته رجب وئيله چه دجمادی الثانيه اودشعبان ترمنځه ده، په دې بنا رسول الله ﷺ ورته رجب مضرفرمائيلو سره دادويم قول اوټاکلو يعنی رجب هغه مياشت ده چه مضرورته رجب وائی اودجمادی الثانيه اوشعبان په منځ کښې راځی،

﴿ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ﴾ دادې دين مستقيم، يعنی دمياشتوټاکل اوترتيب اوپه دې کښې دهرې مياشتې خصوصاً دحرمت دمياشتوپه باره کښې احکام دالله تعالی دازلی حکمونومطابق ايښول دين مستقيم دې، په دې کښې دخپله اړخه کمې زياتې راوستل اودلون بدلول پکښې

---

[1]) صحيح البخاري، كتاب التفسير، سورة التوبة، باب قوله ان عدة الشهور الآية: ج ۱، ص ۶۷۲

کول کوږ دماغی او کوږ طبیعتی ده،

﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ﴾ په دې مقدسو میاشتو کښې تاسو خپل نقصان مه کوئ چه کښی دمقررو احکامو او احترام خلاف ورزی اوکړئ یا په دې کښې په عبادت کولو کښې کوتاهی اوکړئ. امام جصاص په احکام القرآن کښې لیکلی دی چه په دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه ددې میاشتو خصوصیت دادې چه دې کښې عبادت کولو سره دکال په نورو میاشتو کښې هم دعبادت توفیق او همت نصیب کیږی، دغه شان په دې میاشتو کښې دګناهونو او بدو کارونو نه ځان ساتلو سره دکال په نورو میاشتو کښې هم بنده ته دبدو او ګناهونو نه ځان ساتل آسانیږی، ځکه ددې میاشتو نه فائده نه پورته کول یو لوئ نقصان دې،(۱)

تردې پورې دمکې دمشرکانو دجاهلیت یو خاص رسم بیان شو او دهغې باطلول اوشو، په آخر دآیت کښې هغه حکم بیا را دوباره کړې شو کوم چه دسورت په اول سر کښې داسې بیان کړې شوې وو چه دلوظنامې دنیتې ختمیدو نه پس ټولو مشرکانو دوکفارو سره جهاد کول واجب دی،

په دویم آیت کښې هم دجاهلیت ددې رسم بیان داسې راغلې دې فرمائی ﴿إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ﴾ لفظ دنسي مصدر دې، معنی ئې مخ په شا روستو کول دی او دهسې روستو کولو په معنی هم راځی،

دعربو مشرکانو به دا میاشتې ځکه وړاندې روستو کولې چه خپل ذاتی غرضونو به ئې ورسره پوره کول او دالله تعالی حکم پوره کول به ئې هم ګڼړل، الله تعالی اوفرمائیل چه داسې کول او د خپل ځائ نه دمیاشتو بیځایه کول په کفر کښې زیاتې راوستل دی یعنی په دې سره د کفارو کفر نور هم زیاتیږی چه کله دحرمت میاشتې په خپل اصلی حکم کښې حرامې لری او کله ئې حلالې کړی ﴿لِيُوَاطِئُوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ﴾ دپاره ددې چه دوئ پوره کړی شمیر دهغې میاشتو کومې چه الله تعالی حرامې ګرځولی دی] مطلب دادې چه یواځې شمیر پوره کولو سره حکم باندې عمل کول نشې حسابیدې بلکه حکم پوره کول به هغسې کیږی څنګه چه حکم ورکړې شویدې یعنی هم په هغه میاشت کښې پرعمل اوکړې شی دکومې میاشتې دپاره چه جاری شویدې،

احکام او مسائل: ۱ ددې آیتونو نه داثابته شوه چه دمیاشتو ترتیب او اسلامی مشهور شوی نومونه دانسانانو جوړې شوې اصطلاح نه ده، بلکه رب العالمین ددې ترتیب نومونه او هرې میاشتې سره ترلی خاص خاص حکمونه دهغې ورځې نه مقرر کړیدی دکومې ورځې نه ئې چه زمکه اوآسمانونه پیدا کړل، دې نه دا خبره هم معلومه شوه چه په شرعی حکمونو کښې دالله تعالی په نزد قمری میاشتو لره اعتبار دې، هم په دې قمری حساب باندې ټول شرعی احکام لکه روژه، حج، زکوة وغیره مرتب کیږی، خو څنګه چه تاریخ او کال معلومولو دپاره قرآن کریم قمر [سپوږمۍ] نخښه ګرځولې ده، دغه شان ئې نمر هم ددې نخښه ګرځولې ده لکه فرمائی ﴿لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ﴾ ددې کبله په نمر او سپوږمۍ دواړو سره تاریخ او حساب معلومول رواشو خو هر کله چه الله تعالی دخپلو حکمونو دپاره دسپوږمۍ حساب غوره کړیدې او شرعی حکمونه ئې په دې باندې جاری کړل په دې وجه قمری حساب محفوظ ساتل فرض کفایه دی، که ټول امت قمری حساب پریږدی نو ګنهګار به ټول وی او که دا هم محفوظ لری نو د نورو حسابونو

۱) أحکام القرآن للجصاص: ج۷، ص۲۳، تفسیر سورة البراءة۔

Scanned with Ca

استعمالول هم جائزدی لیکن دسنت الله اوسنت سلف صالحین نه خلاف ضروردی، ځکه ئې ضرورته بل حساب اختیارول ښه نه وی،

دحساب پوره کولوپه غرض په څلوروکالوکښې چه یوځل په یومیاشت باندې یوورځ زیاتولې شی، چې هغه ته لوند وئیلې شی بعضې خلقوددې آیت له مخې هغې ته داهم ناروا وئیلی دی خوداصحیح ځکه نه دی چه په کوم حساب کښې چې د لوند میاشت زیاتول دې سره په شرعی حکمونوباندې هیڅ اثرنه غورځیږی دجاهلیت خلقوبه قمری میاشتوکښې په بدلون اوکمی زیاتی راوستوسره شرعی احکام بدلول ځکه دهغې نه منع راغله اودلیپ [لوند] دحساب په وجه په شرعی حکمونوباندې هیڅ اثرنه پریوځی، ځکه په دې ممانعت کښې هغه داخل نه شو.

یَآاَیُّهَا الَّذِیْنَ　اٰمَنُوْا　مَا

ا اے هغه کسانو ا چی ایمان مو راوړی دی ا څه شوی دی

ا ای مؤمنانو! په تاسو باندې څه شوی دی ....

لَكُمْ　اِذَا　قِیْلَ　لَكُمُ　انْفِرُوْا　فِیْ سَبِیْلِ اللهِ　اثَّاقَلْتُمْ　اِلَی الْاَرْضِ ؕ

په تاسو ا کله چی ا او وئیلې شی ا تاسو ته ا چی اوځئ ا په لار د الله کښی ا نودرانه شئ تاسو ا زمکې ته

کله چه تاسو ته [دجهاد په موقع] اووئیلی شی چه د الله په لار کښې جهاد اوکړئ نو تاسو زمکې ته درانه شئ

اَرَضِیْتُمْ　بِالْحَیٰوةِ الدُّنْیَا　مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ　فَمَا　مَتَاعُ　الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا

آیا راضی شوئ تاسو ا په ژوند ا ددنیا ا په مقابله دآخرت کښی ا پس نه دې ا سامان ا دژوند ددنیا

آیا تاسو د آخرت [د ژوند په مقابله کښې] د دنیا ژوند خوښوئ ا [خویاد ساتئ] د دنیاوی ژوند نعمتونه

فِی الْاٰخِرَةِ　اِلَّا قَلِیْلٌ ۞　اِلَّا تَنْفِرُوْا　یُعَذِّبْكُمْ　عَذَابًا　اَلِیْمًا ۙ

په آخرت کښی ا مګرلږ دی ا　که تاسواونه وتئ　ا عذاب به درکړی تاسوته الله ا عذاب ا　درد ناك

د آخرت [په مقابله کښې] ډیر کم دی ا که تاسو د جهاد دپاره اونه وتلئ نو تاسو ته به دردونکې عذاب درکړی

وَّیَسْتَبْدِلْ　قَوْمًا　غَیْرَكُمْ　وَلَا تَضُرُّوْهُ　شَیْئًا ؕ　وَاللهُ　عَلٰی

اوبدل راولی ا قوم ا　بې له تاسو نه ا او وبه نه رسوئ تاسو ضرر الله ته ا هیڅ قدرله ا اوالله ا　په

اوستاسو په ځاې به نور خلق راولی ا اوتاسو [جهاد ته په نه تلو] الله تعالی ته څه نقصان نشئ رسولې ا او الله

كُلِّ شَیْءٍ　قَدِیْرٌ ۞　اِلَّا تَنْصُرُوْهُ　فَقَدْ　نَصَرَهُ　اللهُ

هر ا څیز باندې ا قادر دې ا که اونه کړو تاسو مدد دهغه ا نو په تحقیق سره ا مدد کړې وو دهغه سره ا الله

دهرڅیز د کولو طاقت لری ا اوکه تاسو د ده [نبی کریم] سره مدد نه کوئ [نو د وی ستاسو د مدد څه حاجت هم نشته] یقینا د

اِذْ　اَخْرَجَهُ　الَّذِیْنَ　كَفَرُوْا　ثَانِیَ　اثْنَیْنِ　اِذْ

کله چی ا ویستلې وو هغه لره ا هغه کسانو ا چی کفر ئې کړې وو ا حال دا چی هغه دویم وو ا　په دوو کښی ا کله چی

د ده سره الله په هغه موقع مدد کړې وو کله چه کافرانو دې [دمکې نه] راویستې وو ا او دوی دوه په دوه وو ا په دغه وخت

Scanned with Ca

هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللّٰهَ

هغوئ دواړه | په غار کښې وو | کله چې | هغه وئيل | ملګرى خپل ته | مه غمژن کيږه | بيشکه الله

دا دواړه [نبى کريم او ابوبکر] په غار [ثور] کښې وو انو دوى خپل ملګرى ته اووئيل ته مه پريشانه کيږه الله

مَعَنَا ۚ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ

زمونږ سره دي | نو نازل کړو الله | آرام خپل | په هغه باندې | او مضبوط ئې کړو هغه | په داسې لښکرو سره

زمونږ سره دي انو الله خپل آرام په ده راوليږلو | او د ده مدد ئې په هغه لښکرو [د فرشتو سره] اوکړو

لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ۗ وَكَلِمَةُ اللّٰهِ

چې نه ليدو هغه تاسو | او وې ګرزوله | خبره | د هغه کسانو | چې کافران وو | ښکته | او خبره دالله

چه تاسو نه ليدلې [دغه فرشتې] او الله تعالى د کافرانو سازش ناکامه اوګرځولو | او [د کافرانو د سازشونو په مقابله کښې]

هِيَ الْعُلْيَا ۗ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝٤٠ اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا

هم هغه | اوچته ده | او الله غالب دي | او حکمت والا دي | اووځئ | که سپک يئ | او که درانه | او جهاد اوکړئ

هم دالله تدبير کاميابى وى | او الله غالب صاحب د حکمت دي | سپک او درانه [ټول دالله په لار کښې] اووځئ او په

بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۗ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ

په مالونو خپلو سره | او په ځانونو خپلو سره | په لار دالله کښې | دا ستاسو | بهتر دى | ستاسو د پاره | که

مالونو او ځانونو سره د الله په لار کښې جهاد کوئ | که تاسو پوهيږئ نو دا [په هر حالت کښې په جهاد کښې

كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٤١ لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ

چرې تاسو | پوهيږئ | که چرې وې | فائده | نږدې | او سفر | درميانه | نو خامخا به پيروى کړې وه دوئ ستا

شرکت ستاسو د پاره ډير غوره دي | که چرته نفع [د حاصلولو په اعتبار سره] نږدې وې او سفر درميانه وې نو دوى [منافقانو] ستا

وَلٰكِنْۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۗ وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَوِ

ليکن | لرې شو | په دوئ باندې | مزل | او زر ده چې قسمونه به خورئ دوئ | په الله | که چرې

تابعدارى کړې وې | خو ګران شو دوئ ته مزل کول | نو خکه پاتې شول | او دوى به [تاسو ته] په الله قسمونه خورى

اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ أَنْفُسَهُمْ ۚ

طاقت وې زمونږ | نو خامخا به وتلى وو مونږ | تاسو سره | هلاك کوى دوئ | ځانونه خپل |

که زمونږ وس کيدلې نو تاسو سره به وتلې وې | په دې دروغو قسمونو | خپل ځانونه هلاکوى [چه ګناهګاريږي]

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝٤٢

او الله پوهيږى | چې دوئ | دروغژن دى |

او الله پوهيږى چه دوى دروغژن دى |

آسان ترجمه قرآن

اې خلقو! چه تاسو ايمان راوړې دې په تاسو څه شوى دى چه کله تاسو ته ووئيلې شو چه دالله په لاره کښې ﴿د جهاد د پاره﴾ سفر وکړئ نو تاسو زمکې ته درانه شوئ؟ آيا تاسو د آخرت په مقابله کښې د دنيا په

Scanned with Ca

ژوند باندې خوشحاله يئ؟ ﴿که داسې وي﴾ نو ﴿ياد ساتئ﴾ چه د دنيا ژوند د آخرت په مقابله کښې هيڅ هم نه دې . مګر ډير لږ. که تاسو نه ووځئ نو الله به تاسو ته درد ناك عذاب درکړی . او ستاسو په ځائې به بل قوم راولي . او تاسو به هغه ته څه نقصان نه شئ ورکولې . او الله په هر يو څيز باندې پوره قدرت لري . که چرې تاسو ددې پيغمبر مدد نه کوئ نو ﴿دهغه څه نقصان نشته ځکه چه﴾ الله دده مدد هغه وخت کښې کړې دې چه ده لره کافرانو په داسې وخت کښې ﴿د مکې نه﴾ ويستلې وو چه کله دې د دوو نه دويم وو . چه کله دوی دواړه غار کښې وو . او کله چه ده خپل ملګرې ته ووئيل چه : غم مه کوه الله ځمونږ سره دې نو الله تعالی دوی باندې دخپل طرف نه اطمينان نازل کړو . او د دوی ئې په داسې لښکرو باندې مدد وکړو چه تاسو نه ليدل او د کافرانو خبره ئې ښکته کړه او وينا خو دالله اوچته ده. او الله قدرت والا هم دې او حکمت والا هم دې ﴿د جهاد د پاره ووځئ﴾ خوا که تاسو سپك يئ او که درانه يئ او په خپلو ځانونو او مالونو سره دالله په لاره کښې جهاد کوئ — که تاسو پوهيږئ نو دا تاسو د پاره بهتره ده که د دنيا سامان چرته نزدې ملاويدو . او سفر درميانه وو . نو دا ﴿منافقان﴾ به ضرور تا پسې درتلل . ليکن دا ګرانه فاصله دوی د پاره ډيره لرې شوه او س به دوی په الله قسمونه خوري چه که ځمونږ طاقت وې نو مونږ به ضرور تاسو سره وتلې وو او الله پوهيږی چه دوی دروغژن دي.

خلاصه تفسير

﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ ائې د ايمان خاندانو په تاسو خلقو څه شوی دی چې کله تاسو ته اووئيلې شی چې د الله ﷻ په لار کښې [يعنی جهاد دپاره] اوځئ ﴿اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ﴾ نو تاسو زمکه کلکه اونيسئ [په ځائې ښخ پاتې شئ] ﴿اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ﴾ آيا تاسو د آخرت په بدل کښې ددنيا ژوند خوښ کړې دې ﴿فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ﴾ نو ددنياوی ژوند فائدې خو هيڅ نه دی ډير لږ دی ﴿اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا﴾ که تاسو او نه اوځئ نو الله ﷻ به سخته سزا درکړی [يعنی تاسو به هلاك کړی] ﴿وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ﴾ اوستاسو په ځائې به بل قوم پيدا کړی [او هغوئ نه به خپل کار اخلی] ﴿وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْئًا﴾ او تاسو به الله ﷻ ته [دهغه دين] هيڅ ضرر اونه شی رسولې ﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ او الله ﷻ په هر څيز باندې قادر دې ﴿اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ که تاسو د نبی کريم ﷺ مدد نه کوئی نو [الله ﷻ به د هغوئ ﷺ مدد کوی څنګه چې] الله ﷻ دهغوئ مدد هغه وخت کړې دې کله چې [د زياتې پريشانئ او مصيبت وخت وو . ولې چې] هغوئ ﷺ لره کافرانو [په تنګولو سره دمکې مکرمې نه] ابې طنه کړې وو . ﴿ثَانِيَ اثْنَيْنِ﴾ کله چې د دوو څخه يو دوئ ﷺ وو [او دويم ئې ابوبکر صديق ﷺ ملګرې وو] ﴿اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾ کله چې دواړه [ملګرې] په غار [ثور] کښې [موجود] وو کله چې هغوئ خپل ملګرې ته اوفرمائيل چې تاسو [هيڅ] غم کوئی بيشکه الله ﷻ [دهغه مدد] مونږ سره دې نو [هغه مدد ئې دا وو چې] ﴿فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ﴾ الله ﷻ دهغوئ ﷺ [په زړهٔ] باندې خپله [دخپل طرفنه] تسلی نازله کړه ﴿وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا﴾ او هغوئ ته ئې [د فرښتو] په داسې لښکرونو سره طاقت ورکړو چې تاسو خلقو نه ليدل ﴿وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى﴾ او الله ﷻ دکافرانو خبره [او تدبير] ښکته کړو [چې هغوئ

ناکامه شو] ﴿وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا﴾ اوهم د الله ﷻ د خبې برې اوشو [چې تدبير او حفاظت ئې بر پاتې شو] ﴿وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ او الله ﷻ زبردست د حکمت خاوند دې [ځکه هم دهغه خبره اوحکمت غالب پاتې شو ، جهاد دپاره] ﴿انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا﴾ اوځئ [خواه] په لږ سامان سره [وی] خواه په ډير سامان سره [وی] ﴿وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ﴾ او هم د الله ﷻ په لار کښې پخپل مال او ځان سره جهاد کوئی ﴿ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ دا ستاسو دپاره بهتر دی که تاسو يقين لرئ [نو ډيل مه کوئی] ﴿لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ﴾ که صرف په لاس ور اوړولو سره څه حاصليدې او سفر هم معمولی وې نو دا [منافقان] خلق به خامخا تاسو ﷺ سره شوی وو ﴿وَلٰكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ﴾ ليکن دوئ ته مزل ډير لرې معلوميدو [ځکه هم دلته پاتې شو] او اوس [کل چې تاسو خلق واپس راشئ نو] ﴿وَسَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ﴾ په الله ﷻ به قسمونه خوری چې که زمونږ دوس خبره وې نو مونږ به ضرور درسره تلی وو ﴿يُهْلِكُونَ أَنْفُسَهُمْ﴾ داخلق خپل ځان تباه [يعنی دعذاب حقدار] کوی ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ او الله ﷻ پوهيږی چې دا خلق يقينا دروغژن دی [بيشکه د دوئ وس وو خو بيا هم لانهړل].

معارف اومسائل

په دې آيتونو کښې د رسول الله ﷺ ديوې اهمې تقريبا دآخری غزابيان دې چه په تبوک سره ياديږی اوددې په ترڅ کښې ډير حکمونه اوهدايتونه راغلی دی،

تبوک دمدينې منورې شمال اړخ ته دشام په سرحدباندې ديومقام نوم دې دغه وخت کښې شام درومی عيسايانو دحکومت يوه صوبه وه. کله چه رسول الله ﷺ په [۸هـ] کښې دمکې مکرمې دفتح کولو اودحنين دغزانه فارغ شو اومدينې طيبې ته اورسيدونودغه وخت دجزيرة العرب ضروری برخې داسلامی حکومت قبضې لاندې راغلې وې دمکې مکرمې مشرکانو سره داته کلن [په مخه] جنګونونه پس مسلمانانوته لږآرام ملاؤشوې وو،

مګردکوم ذات په باره کښې چه الله تعالی دړومبې نه ﴿لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ﴾ نازل کړې وواوپه دې سره ئې ورته دټول جهان دفتح کولو اوپه دې کښې دحق دين دغالب کولوزيرې ورکړې وونو هغوئ چرته اوزګارپاتې کيدې شو، مدينې ته په رسيدوسره سمدستی ورته سوداګروخلقو [کوموبه چه دشام ملک نه دزيتون تيل خرڅون دپاره مدينې منورې ته راوړل] داخبر راؤرسولوچه دروم بادشاه هرقل خپل فوځونه دتبوک په مقام دشام په سرحدراجمع کړيدی په مدينې منورې باندې ئې په يوځل دحملې کولوتيارې داسې کړيده چه خپلوفوځيانوته ئې هم په دې غرض ړومبې نه ديوکال پيشګی تنخواه ورکړيده چه په تسلئ اوخوشحالئ سره دغه حمله اوکړی اودعربوځنوقبيلوسره ئې سازبازاوتړون کړيدې،

رسول الله ﷺ ته په دې خبررسيدوسره پرسمدستی هم دغلته په تبوک مقام باندې دحملې کولواراده اوکړه [تفسير مظهری په حواله دمحمدبن يوسف صالحی]،(۱)

دغه موسم دسختې ګرمئ وودمدينې خلق عموماکروندګروو، دغه وخت ئې باغونه اوفصلونه پخيدوته نزدې وو، چه ټول ګذران ئې هم په دغې وو، ځنګه چه دنوکرپيشه خلقو

(۱) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۰۵

جیبونـه دمیاشتې پـه ختمیدوسـره خـالي وی دغـه شـان دکروندګروخلقولاسـونـه هـم دفـصل پـه ختمیدوتش وی، مطلب داچـه مسلمانان یوخواغریبانان وو، بـل خـوائي دګټې امیدنزدې وو، علاوه داچه سخته ګرمی هم وه، مشرکانودمکې سره ئې په مخه داتوکالودجنګونونه لاپوره ساه هـم نـه وه اغستې چـه داجنګ ورتـه پـیښ شو، دصبرداز مـیـنبـت سـخت امتحـان وو. خودوخت تقاضاداوه چه جنګ دضرورڅکه اوکړې شي چه رومبی جنګونه خودخپل ځان پښان عوامو سره جنګ کول وواودغه وخت دروم دبادشاه هرقل دتربیت یافتـه فـوځ سره جنګ کول دي، په دي وجه رسول الله ﷺ دمـدیني طیبې ټولو مسلمانانوته ددې جهاددپاره دوتلوحکم اوکړو اوخواؤشانوروقبیلوته ئې هم په دې جهادکښې دشریکیدودپاره بلنه ورکړه،

داعام اعلان داسلام دسربازانودپاره یوسخت امتحان وو، اوداسلام دعوی لرونکو منافقانوبیلتون هم په دې سره راتلو، لازمی نتیجه ئې داراؤخته چه دکلمه ویوونکوحالات مختلف شوچه قرآن کریم په دې شان سره بیل بیل ښودلی دی،

یوحالت دداسې کاملواومکملومسلمانانو ووچه بې دڅه زړه وهلونه جهاددپاره تیار شو، بل حالت دداسې خلقوچه په اول سرکښې دڅه زړه وهلونه پس جنګ دپاره تیارشو، ددې دوه قسمه صحابه کرامو ﷺ په باره کښې قرآن کریم داسې فرمائی ﴿الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ﴾ یعنی هغـه خلق دستائینې قـابـل دی چـه دسـختې تنګسیاپه وخت کښې ئې درسول الله ﷺ تابعداری اوکړه پس دهغې نه چه، په دوئ ﷺ کښې دیـوې ډلې زړونـه خوئیدو ته قریب وو]. دریم حالت دهغه خلقووچه دیوصحیح عذرله کبله جهادتـه لاړنشو، چنانچه الله تعالی ددوئ ﷺ دعذردقبلیدواظهارداسې اوکړو ﴿لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ﴾ (۱)

څلورم قسم دهغه خلقووچه عذرئې هیڅ نه و، وصرف دسستئ لـه کبلـه جهادکښې شریک نـه نـه شوی، ددوئ پـه بـاره کـښې ډیرآیتونونـه نـازل شوی وو، مـثلا ﴿وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ﴾ ﴿وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ﴾ ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا﴾ درې واړه آیتونه دداسې صاحبانوپه باره کښې نـازل شوی ووچه دهغوئ پـه سستئ کولوباندې ورتـه زړونـه هم ورکړې شوه اوپـه آخرکښې ددوئ دتوبې قبلیدوزیرې هم ورکړې شو. پنځم حالت دهغه خلقو ووچه دخپل منافقت لـه کبلـه پـه جهادکښې شریک نه شوپه سخت امتحان کښې راغلل اوخپل منافقت ئې هم پټ نه کړې شو، ددې خلقو بیان په ډیروآیتونوکښې راغلې دې.

شپږم حالت دهغه منافقانووچه جاسوسئ اوورانئ دپاره مسلمانانوسره تلی وو، قرآن کریم ددوئ حالت په دې آیتونوکښې راغستې دې ﴿وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ﴾ ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ﴾ ﴿وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا﴾ خوباوجود ددې ټولوتکلیفونود جهادنه دپاتې کیدونکومجموعی شمیربیاهم برائې نام وو، زیات اوګنرمسلمانان هغه ووچه ټولې نفعې اوآرام ئې قربان کړې وواودالله تعالی پـه لار کښې دجهادکولوهرقسم سختئ اوتکلیف زغملوتـه تیاروو چنانچـه دمجاهدینودغـه لښکرد دیرشو زروپـه شمیر کـښې جوړشوې ووچـه ددې نـه وړانـدې پـه هـیـڅ یو جهاد کـښې پـه دومره شمیرکښې مسلمانان نه ووشریک شوی،

(۱) ددے پورا آیت ترجمه دا ده: په ضعیفانو او په ناروغو او په هغه چا چه د جهاد خرچه نه بیاموی هیڅ ګناه نشته که دوی د الله تعالی او دده د رسول سره مخلص وی، په دا سے نیکانو هیڅ الزام نشته او الله تعالی بخونکے مهربان دے۔

ددې جهادنتيجه داراؤختـه چـه هركلـه دروم بادشـاه هرقـل دمسلمانانو دلښكر دګنړشميرنه خبرشو نورعب پرراغې او مقابلې ته رامخامخ هم نشو، رسول الله ﷺ خپل فرشته خويو صحابه كرامو ﷺ سره دغلته په محاذباندې څوورځې تيكاؤوهركلـه چـه مقابلې تـه دمخالف راتلونـه نااميـده شونو واپس ئې مـدينې منورې تـه تشريف راوړو، پورتـه دليكلوشـوؤ آيتونوتعلق پـه ظاهره باندې دې څلورم ډولـى سره دې چه دصحيح عذردنيشتوالى باوجودد سستۍ لـه كبلـه جهـاد كښې شريک شوى نـه ووپـه ړومبى آيت كښې ورتـه پـه دغې سستۍ باندې خبردارې وركړيشو، دې سره ئې ورته ددغې ، سستۍ سبب اوبيادهغې عـلاج اوښودلو ددې پـه ترڅ كښې داهم واضح شوچه:

دنياسره مينه محبت لرل اوآخرت نه غافله كيدل دټولوجرمونوبنياد دې: ! دلتـه دكـوم مرض سبب اوعـلاج چه بيان كړې شوا ګرچه ددې تعلق ديوې خاصې واقعې سره خو دې پـه غوركـولو سره ثـابتيږى چه ددين پـه معاملـه كښې دهرې كوتاهۍ، سستۍ، غفلت، ټولوجرمونواوګناهونو اصلى سبب همدغـه ددنيامحبت اودآخـرت نـه غفلـت دې، پـه دې وجـه رسـول الله ﷺ پـه يـو حـديث كـښې فرمائى: حب الدنيارأس كُلِّ خَطِيئةٍ، (١) ددنيامينه، محبت دهرې ګناه اوخطابنياددې،

څكه پـه آيت كښې فرمائى:

اې دايمان خاوندانو، پـه تاسوڅه شويدى چه كله تاسوتـه دالله تعالى پـه لاركښې دوتلو دپـاره وئيلې شى نوتاسوزمكه اونيسئ [دځـائ نـه نـه خـوځئ] آيا ،تاسـودآخرت پـه ځـاى ددنياپـه ژوند كښې بوښت شوئ،

دمرض پـه ګتـه كولونـه پس، پـه ورپسې جملـه كښې ئې عـلاج داشـان اوښودلې شـوچه، [ددنيوى ژوندنه نفع پورته كول خوهيڅ هم نه دى] ډيرلږاوذليله دى،

حاصل ئې داشوچه لوئ فكردآخرت دهميشه ژوندپكاردې اودآخرت دافكرپـه حقيقت كښې دټولومرضونويواځينې اومكمل علاج دې اودجرمونودبنديزدپاره بې مثاله اثرناكه نسخه ده، داسلامى عقيـدوبنيادى اصول درې دى، ① توحيـد ، ② رسـالت، او ③ آخرت، پـه دې كـښې د آخـرت عقيـده پـه حقيقـت كـښې دعملونوددرست كولـوروح اودجرمونواوګنـاهونومخې تـه د اوسپنې يوديـوال دې، كـه غـوراوكړې شى نوبې دڅه خوارئ كولونـه بـه معلومـه شى چـه ددې عقيدې نه بغيرپه دنياكښې امن اوسكون نشى قائيمدې، نن صباپه دنياكښې مادى ترقۍ ښـه پـه مستۍ كښې دى، دجرمونودبندولودپاره هم پـه يوملک اوقوم كښې دمادى تدبيرونوڅه كمې نشته، قانونى ګرفت اوددې دپاره انتظامى مشينرى ورځ پـه ورځ پـه ترقۍ ده، خودې سره داهم په سترګوليدلې شى چه جرمونه هرچرته اوپه هرقوم كښې په ترقۍ دى، زمونږپه نظر كښې ددې وجه سِواددې نـه بلـه نشته چه دمرض تشخيص اودعلاج رخ صحيح نـه دې دمرض چينـه ماده پرستى اوپـه ماديا توكښې بوښتيدل اودآخرت نـه غافلـه كيـدل اوورتـه شـا كـول دى، ددې يواځينې عـلاج دالله تعالى ذكراودآخرت فكردې كوم وخت اوچرته هم چه دنياكښې داا كسيرى نسخه استعمال كړې شوه، نوټول قوم اوددئ معاشره دصحيح انسانيت تصوير جوړ شو او فرشتو دپاره قابل رشک شوه، ددې غټ دليل درسول الله ﷺ اودصحابه كرامو ﷺ مباركه زمانه ده،

(١) كنز العمال رقم الحديث: ٦١١٤

Scanned with Ca

نن صباخوخلق جرمونه بندول غواړي خودخدائ اوداخرت نه په غافله كيدوئې غواړي، په قدم قدم داسې سامان جمع كوي چه دهغې له كبله خدائ اوآخرت ته دچاخيال هم نه راځي، ددې لازمي نتيجه هم هغه كيدې شي كومه چه دسترګومخې ته راځي، دغوره نه غوره قانون اوقانوني مشيزياني ټول فيل ښكاريږي يواځې دانه چه جرمونه په خپل ځائې موجوددي بلكه په طوفاني رفتارسره لګيادي ترقي كوي، كاش چه يوځل ددنياهوښياران په دې قرآني نسخې استعمالولوباندې ازميښت اوكړي او اوګوري چه څومره په آسانئ سره په جرمونوباندې قابومونذلې شي،

په دويم آيت كښې سستي كوونكي اوځان آساني خلق ددوئ په مرض اوعلاج باندې خبرداره كړې شوا وورپسې آخري فيصله داهم واؤرولې شوه،

كه تاسوجهاددپاره اونوتئ نو الله تعالى به تاسوپه دردناك عذاب كښې ګرفتاركړي اوستاسوپه ځائ به بل يوقوم اودروي اوپه دين باندې دعمل نه كولوپه وجه به تاسو، الله ياد هغه رسول الله ﷺ ته هيڅ نقصان نشئ رسولې، ځكه چه الله تعالى په هرڅيزقادردې،

په دويم آيت كښې درسول الله ﷺ دهجرت دواقعې په رامخې كولوسره دااوښودلې شو چه دالله تعالى رسول ﷺ دچاانسان دمرستې اوامداداحاجت نه لري، الله تعالى ورته نيغ په نيغه دغيبوامدادرسولې شي، څنګه چه دهجرت په واقعه كښې داسې اوشوچه هركله دخپلې برادرئ اودوطن خلقودوطن نه په وتلوباندې رسول الله ﷺ مجبوره كړوپه سفركښې ورسره بې دصديق اكبر ؓ نه بل څوك ملګرې نه وو، پياده اوسواره دښمنان ئې دراايسارولو په تكل كښې ورپسې وراووتل، دپناه ځائ هم څه قلانه، بلكه يوغاروو، دهغې خلې ته ورپسې دښمنان ور رسيدلي هم وو، دغارملګرى ؓ سره دخپل ځان غم نه ووبلكه داغم وور سره چه هسې نه په رسول الله ﷺ باندې دښمنان حمله اوكړي خورسول الله ﷺ پخپله ديو غرپشان په ځائ ټينګ ولاړوو، يواځې پخپله ئې تسلي نه وه بلكه خپل ملګرى صديق اكبر ؓ ته ئې فرمائيل: [﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾ ته ،هيڅ غم مه كوه الله مونږسره دې]

داخوپه ظاهره دخلې دوه تكي ښكاري چه وئيل څه ګران نه دي مګرددې آوريدونكي چه دغه حالات خپلې مخې ته راولي په خپل زړه باندې لاس كيږدي اواوګوري چه يواځې ماديا توباندې نظرلرونكوته دااطمينان بيخي نشي حاصليدې، ددې وجه صرف اوصرف داده چه قرآن په ورپسې جمله كښې داسې فرمائي:

الله تعالى ستاسو ﷺ په زړه مبارك باندې تسلي نازله كړه اوپه داسې لښكرونوسره ئې ستاسو امداد اوكړو چه تاسونه دي ليدلي،

داښكردفرښتولښكرهم كيدې شي اودټولې دنياقوتونه پخپله هم، خدائي لښكرونه دي، داهم كيدې شي، ددې نتيجه دااؤخته چه آخردكفركلمه سرد لاندې ګذارشوه اودالله تعالى كلمه سربالاشوه،

په څلورم آيت كښې دتاكيدپه ډول بيادااحكم دوباره كړې شوچه، هركله رسول الله ﷺ تاسوته جهاددپاره دوتلوحكم اوكړونوپه تاسوباندې وتل په هرحال كښې فرض شواوپه دې حكم باندې په عمل كولوباندې ستاسوهره ښيګړه اډانړه ده،

په پنځم آیت کښې د هغې خلقو عذر رد کړې شو کوم خلق چه د سستئ له کبله په جهاد کښې نه وو شریک شوی، ولې چه دوئ د الله تعالی ورکړې وس د الله تعالی په لار کښې استعمال نکړونو دبې وسئ عذر کول ئې ځکه صحیح نه دی.

عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ

| معافی اوکړه | الله | تاته | ولې اجازت ورکړو تا | دوئ ته

| الله تا ته معافی کړې ده | تا دوی [منافقانو] ته ولې [د ایساریدو] اجازت

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ

تر دې پورې | چې ښکاره شوې وې | تاته | هغه کسان | چې رښتني دی | او معلوم کړې وې تا

ورکړو [اجازت به دې نه ورکولو] تر دې چه تا ته رشتیني کسان معلوم شوې وې او دروغژن دې پیژندلی دي

الْكٰذِبِيْنَ ۝ لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

دروغژن | نۀ غواړي | اجازت ستانه | هغه کسان | چې ایمان راوړی | په الله باندې | او په ورځ د اخرت باند

..... ستانه هغه کسان [د جهاد نه د ایساریدو] اجازت نه غواړی | چه په الله او په ورځ د اخرت ایمان راوړی

اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

ددې نه چې جهاد اوکړی | په مالونو خپلو سره | او په نفسونو خپلو سره | او الله | ښه عالم دې

چه [د الله په لار کښې] په خپلو ځانونو او مالونو سره جهاد اوکړی | او الله پاک متقیان خلق پیژني

بِالْمُتَّقِيْنَ ۝ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

په متقیانو باند | بیشکه اجازت غواړی ستانه | هغه کسان | چې ایمان نه راوړی | په الله باندې

بیشکه ستانه خو هغه خلق [د جهاد نه د ایساریدو] اجازت غواړی چه په الله تعالی او د آخرت په ورځ.

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ۝

او په ورځ د آخرت باند | او شکمن دی | زړونه دهغوئ | انو هغوئ په شك خپل کښې | سرگردانه دی

یقین نه ساتی | او د دوی زړونو [د آخرت په باره کښې] شک کړې دی | انو دوی په خپل شک کښې سرگردان دی

وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً وَّلٰكِنْ

او که اراده وې د دوئ | د وتلو | نو خامخا تیار کړې به وو د دوئ | د پاره ددې غزا | اسباب | لیکن

او که دوی [منافقانو د جهاد د] وتلو اراده لرله نو د هغې د پاره به ئې اسباب تیار کړی وو خو

كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ اقْعُدُوْا

خوښ نۀ کړو الله | پورته کیدل د دوئ | انو سست ئې کړل دوئ | او ورته اوویلې شو | اچې کینئ

الله تعالی د دوی [جهاد د پاره] تلل نه خوښوی نو دوی ئې سست کړل | او دوی ته اوویلې شو چه د ناستو

مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ۝ لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا

د ناستو خلقو سره | که وتلې وې دوئ | شریك په تاسو کښې | نه به وو زیات کړې دوئ تاسو ته | مگر

ناستو کسانو سره کینئ | [او د دوی په نه تلو مه خفه کیږئ ځکه] که دوی تاسو سره وتلې وو، نو تاسو ته

Scanned with Ca

خَبَالًا وَّلَا۟ اَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ

شر | اوخامخابه منډې ترړې وهلې دوئ | په منځ ستاسو کښې | په داحال چې لټوله به دوی تاسو ته | فتنه

به ئې د نقصان نه سوا بل څه ته وو رسولې | اودوی به خامخا د نقصان رسولو دپاره ستاسو په مینځ کوششونه کړی وو.

وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ۝

اوشته په تاسو کښې | غوږ | اینبودونکی | هغوئ دپاره | اوالله | ښه پوهه دې | په ظالمانو |

اوپه تاسو کښې [دوی ته د خبرو اورولو دپاره] غوږ کیخودونکی هم شته | او الله په ظالمانو پوهه دې

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ

په تحقیق سره کوشش کړې دې دوئ | د فتنې | د مخکښې نه | او لټولی دی دوی | ستا د ناکام کولو

اودوی د دې [غزوې نه] وړاندې [هم تاسو ته] د نقصان رسولو کوشش کړې وو | او ستا خلاف ئې تدبیرونه

الْاُمُوْرَ حَتّٰى جَآءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ۝

ټول تدبیرونه | تردې پورې | چې راغلې حق | اوغالب شو دین دالله | اودوئ | نۀ خوښونکی وو

جوړ کړی وو | تر دې چې حق راغلې او د الله دین غالب شو په داسې حال کښې چه دوی [داغلبه] بده ګڼړی

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ ؕ اَلَا

اوځینې د دوئ نه | هغه څوك دی | چې وائی | اجازت راکړه ماله | اومۀ اچوه ما په فتنه کښې | خبردار

اوپه دوی [منافقانو] کښې څه داسې دی [تاته] وائی ماته [دنه تلو] اجازت اوکړه اوما په ازمائش کښې مه اچوه

فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ۝

په فتنه کښې | پریوتلی دی دوئ | اوبیشکه | دوزخ | خامخاچاپیره کیدونکې دې | د کافرانو نه |

خبرداردوی [د نفاق په] فتنه کښې ورپریوتی دی | اوجهنم کافرانو لره راګیرونکې دې [بچ کیدې ترې نشی]

اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۚ وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ يَّقُوْلُوْا

که اورسیږی تاته | څه ښیګړه | نوخفه کوی دوئ لره | اوکه اورسیږی تاته | څه مصیبت | نووائی دوئ

که تا ته څه خوشحالی اورسی نو دوی خفه کوی | اوکه تاته څه تکلیف اورسی نو دوی دا وائی چه

قَدْ اَخَذْنَآ اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا وَّهُمْ فَرِحُوْنَ۝ قُلْ

نیولې وو مونږ | کارخپل | د مخکښې نه | اومخ اړوی دوئ | اوحال دا چې دوئ | خوشحاله وی | ورته اووایه

مونږ د وړاندې نه دخپل حفاظت بندوبست کړې وو | او د خوشحالئ په حالت کښې مخ اړوی | ته [ورته] اووایه

لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى

چې هر ګز نۀ رارسی مونږ ته | مګر هغه څه | چې لیکلی دی الله | دپاره زمونږ | هغه مولی دې زمونږ | اوپه

مونږ ته صرف هغه تکلیف رسی کوم چه زمونږ دپاره الله تعالی لیکلې دې | هغه زمونږ کارساز دې

اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ۝ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ

الله باندې | پس پکاردی چې توکل اوکړی | مومنان | ورته اووایه | آیا انتظار کوئ تاسو | زمونږ په حقله | مګر

اوخاص په الله دې مؤمنان بهروسه اوکړی | ته [ورته] اووایه چه تاسو زمونږ دپاره په دوو کښې د یوې

Scanned with Ca

اِحۡدَى الۡحُسۡنَيَيۡنِؕ وَنَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمۡ اَنۡ يُّصِيۡبَكُمُ اللّٰهُ

دیوي ښیګړې| ادووښیګړونه | اومونږ | انتظار کوو | ستاسو په حقله | چي د ررسوی تاسو ته | الله

خیګړې انتظار کوې|چه یا به راته فتح حاصل شي اویا شهادت| اومونږ ستاسو په باره کښي د دې انتظار کوو

بِعَذَابٍ مِّنۡ عِنۡدِهٖۤ اَوۡ بِاَيۡدِيۡنَا ۖ فَتَرَبَّصُوۡۤا اِنَّا مَعَكُمۡ

عذاب دطرفه خپل نه | یا په لاسونو زمونږ | نو انتظار کوئ تاسو | بیشکه مونږ هم | تاسو سره |

چه د خپل طرفه یا زمونږ په لاسونو به تاسو ته عذاب درکړي | نو تاسو| زمونږ د هلاکت| انتظار کوئ مونږ

مُّتَرَبِّصُوۡنَ ۝

انتظار کونکی یو |

ستاسو د هلاکت انتظار کونکی یو

آسان ترجمه قرآن

﴿اې پیغمبره!﴾ الله تا ته معافي کړې ده ﴿مکر﴾ تا دوی ته ﴿جهاد کښي د نه شریك کیدو﴾ اجازت ددې نه مخکښې ولې ورکړو تر دې چه تا ته ښکاره شوې وې چه څوك دوی کښې رښتیا وینا کوي، او تا به دروغژنو لره هم ښه پیژندلی وو. څوك چه په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان لري نو هغوی په خپلو ځانونو او مالونو سره جهاد کولو کښې تا نه اجازت نه غواړي او الله متقیان ښه پیژني. تا نه اجازت هغه خلق غواړي چه هغوی په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان نه لري او دهغوي په زړونو کښې شك دې او هغوی د خپل شك د وجې نه په تردد کښې دي که د دوی اراده وه د وتلو نو د هغې د پاره به دوی څه تیاري کړې وه لیکن الله تعالیٰ ته ددوي پاڅیدل خوښ نه وو دې وجې نه دوی ئې سست کړل او ووئیلې شو چه څوك ﴿د کوډشل کیدو د وجې نه﴾ ناست دي نو تاسو هم د هغوی سره کینئ که دا خلق تاسو سره ووځي نو سوا د فساد اچولو نه ستاسو مینځ کښې نور څه اضافه نه کوي، او ستاسو په مینځ کښې د فتنې پیدا کولو کوشش کښې ستاسو په مینځ کښې چغلي به ئې کوله. اوخپله ستاسو په مینځ کښې داسې خلق موجود دي چه د هغوی د مطلب خبرې ښه آوري او الله ظالمان ښه پیژني. دې خلقو مخکښې هم د فتنې پیدا کولو کوشش کړې دې، او دوی تاسو ته د نقصان رسولو د پاره معاملات آړوی را اړوی [اکښ وَډ کوی]، تر دې چه حق راغې او دالله حکم غالب شو او دوی پرې کنټرول او دوی کښې داسې خلق هم دي چه وائي: ما ته اجازت وکړه او ما فتنه کښې مه اچوه خبردار فتنه کښې خو دوی په خپله پراته دي او یقین وکړئ چه جهنم ټولو کافرانو لره راګیرونکې دې. که تا ته څه خوشحالي ملاؤ شي نو دوی ته تکلیف وي او که څه مصیبت درته ورسي نو وائي: چه مونږ خو مخکښې نه خپل بچاؤ کړې وو او دا ﴿وائي﴾ ډیر خوشحاله خوشحاله واپس شي. ته ووایه چه: الله تعالیٰ څمونږ په تقدیر کښې چه کوم تکلیف لیکلې دې مونږ ته دهغې نه سوا چرې هم بل څه تکلیف نه شي رسیدې، اوهغه څمونږ ساتونکې دې او مؤمنانو ته پکار دي چه صرف په الله اعتماد وکړي. ته ووایه چه: تاسو مونږ د پاره د څه شي انتظار کوئ هغه دې نه سوا نور څه کیدې شي چه ﴿آخر﴾ د دوؤ فائدو نه یوه مونږ ته ملاؤ شي او مونږ ته ستاسو په باره کښې دا انتظار دې چه تاسو ته الله په خپله یا څمونږ په لاس سزا درکړي بس انتظار کوئ، مونږ هم تاسو سره انتظار کوؤ.

Scanned with Ca

خلاصه تفسير

﴿عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ﴾ الله ﷻ [خو] تاسو معاف كړئ [ليكن] ﴿لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا﴾ تاسو دوئ ته [داسې په تلوار] اجازت ولې وركړې وو چې تر څو ستاسو ﷺ په مخكښې رښتينى خلق ښكاره شوي نه وى او [ترڅوچې] ﴿وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ﴾ دروغژن دې معلوم كړى نه وې [دپاره ددې چې خوشحاله شوى خو نه وې چې مونږ درسره ټګى اوكړه او] ﴿لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ﴾ كوم خلق چې په الله ﷻ اود قيامت په ورځ ايمان لرى هغوئ پخپلو مالونو اوځانونو سره د جهاد كولو په باره كښې [په دې كښې د نه شريكيدو په كله هم] تاسونه اجازت نه غواړئ [بلكه هغوئ به د حكم ملاويدو سره ورمنډه كوى] ﴿وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ﴾ او الله ﷻ دا متقيان خلق ښه پيژنى. [دوئ ته به اجر وثواب وركوى] ﴿اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ البته هغه خلق [جهاد ته د نه تلو] تاسونه اجازت غواړى چې په الله ﷻ اودقيامت په ورځ باندې ايمان نه لرى ﴿وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ﴾ اود هغوئ زړونه[داسلام نه] په شك كښې پراته دى ﴿فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ﴾ نو هغوئ پخپلو شكونو كښې پراته حيران دى [كله ئې د جوړښت خيال وى او كله ئې د مخالفت كولو] ﴿وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً﴾ اوكه دغې خلقو [غزا ته] دتلو اراده لرلې [ځنګه چې د خپل عذر كولو په وخت كښې ئې ښكاره كوى] نو ددې [تلو] څه سامان خو بۀ ئې سم كړې وې [ځنګه چې سفر دپاره عادتا سموى] ﴿وَلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ﴾ ليكن [دوئ سره اراده نه وه كړې اوپه كښې خير وۀ لكه چې وړاندې را روان دى ﴿لوخرجوافيكم﴾ او ددې د خير كيدو وجه داده] الله ﷻ دوئ خوښ نه كړل ځكه ئې ورته توفيق ورنكړو او [په تكوينى حكم سره ورته] ﴿وَقِيْلَ اقْعُدُوْا مَعَ الْقٰعِدِيْنَ﴾ داسې اووئيلې شو چې شلو ګډو خلقو سره تاسو هم دلته پراته اوسئ [او ددوئ په تلو كښې د خير دنيشتوالى وجه داده چې] ﴿لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا خَبَالًا وَّلَاۡاَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ﴾ كه داسې خلق تاسوسره شامل وې نو سوا ددې نه به ئې نور ډير فسادونه كولو نو به څه [هغه فساد كول بۀ ئې دا وو چې] ﴿وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ﴾ ستاسو ترمينځه د فتنې راپورته كولو په فكر كښې به په منډه منډه ګرځيدل [يعنى اخوا ديخوال به ئې كول، او ستاسو تر مينځه بۀ ئې بيلتون راوستو، دروغ، افواګانې بۀ ئې خورولې اوتاسو به ئې پريشانه كولئ، ستاسو په زړونو كښې به ئې ددښمن د رعب اچولو كوشش كولو ځكه چې ددوئ نه تلل ښه شو] او [اوس هم] په تاسو كښې د دوئ څه جاسوسان موجود دى [چې ددې نه د زيات فساد كولو ماهران نه دى] ﴿وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ﴾ او په دې ظالمانو به الله ﷻ ښه پوهه شى [اوددې خلقو فسادونه راپورته كول او فتنې خورول نوې كار نه دې] ﴿لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ﴾ دوئ خو ړومبى [په جنګ احد وغيره كښې] هم د فتنې خورولو فكر كړې وو [چې درسره روان شو او بيا ځكه بيل شو چې د مسلمانانو زړونه مات شى] او [ددې نه علاوه هم] ﴿وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ﴾ ستاسو ﷺ [د ضرر رسولو] دپاره ئې اړولى كارونه كول ﴿حَتّٰى جَآءَ الْحَقُّ﴾ تر دې چې رښتيا وعده راغله او [ددې راتلل دادى چې] ﴿وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ﴾ د الله ﷻ حكم غالب پاتې شو او دوئ نشو برداشت كولې [دغه شان په آئنده كښې هم بالكل تسلى لرئ هيڅ فكر مه كوئى] ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ﴾ او په دې

Scanned with Ca

[روستو ناستو منافقانو] كښې ځينې كسان هغه دي چې [تاسو ﷺ] وائي چې ماته [غزانه د نه تلو اوپه كور كښې د ناست پاتې كيدو] اجازت راكړئي اوما په خرابئ كښې مه اچوئ ﴿اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا﴾ ښه پوهه شئ چې دا خلق په خرابئ كښې پريوتي دی [ولې چې د نبي كريم ﷺ د نافرمانئ كولو اود كفر كولو نه به زياته بله كومه خرابي وی] ﴿وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ بِالْكٰفِرِيْنَ۝﴾ او يقينا دوزخ به [په آخرت كښې] دا كافران راګير وی ﴿اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ﴾ كه په تاسو څه ښه حالت راشي نودا ددوئ دپاره باعث د غم وی ﴿وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ﴾ اوكه درته څه حادثه راپيښه شي نو [خوشحاله شي او] ﴿يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَآ اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ﴾ وائي چې مونږ خو [ددې دپاره] د ړومبي نه دخپل احتياط اړخ غوره كړې وو [چې مسلمانانو سره په جهاد دوغيره كښې نه وو شريك شو] ﴿وَيَتَوَلَّوْا وَّهُمْ فَرِحُوْنَ۝﴾ او [په داسې وئيلو سره] هغوئ په خوشحالئ خوشحالئ روان شي ﴿قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا﴾ تاسو [ورته په جواب كښې دوه خبرې] اوكړئي [يو خو دا چې] مونږ ته څه حادثه نشي راپيښيدې مګر هم هغه چې الله ﷻ زمونږ دپاره ليكلې ده [او زمونږ دپاره ئې مقرر كړې ده] ﴿هُوَ مَوْلٰنَا﴾ هغه زمونږ مالك دې [نو مالك حقيقي چې څه تجويز اوكړي مملوك لره په هغې راضي پاتې كيدل واجب دی] او [زمونږ خصوصيت څه دې ؟] ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ۝﴾ الله ﷻ ته خو ټولو مسلمانانو لره خپل ټول كارونه سپارل پكار دی [بله خبره ورته دا] ﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ﴾ اوفرمايئ چې [مونږ لره څنګه چې ښه حالت غوره دې دغسې حادثات او راپيښئ هم او ګناهونه مو رژيږی پس] تاسو زمونږ په حق كښې د دوؤ غوره والوڅخه د يو غوره والي په انتظار كښې پاتې كيږی [يعنی تاسو چې پخپل خيال كښې مونږ دپاره دښه او بد حالت په انتظار كښې يئ نو دا دواړه [خوشحالي او غم] زمونږ دپاره غوره دی ﴿وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ اَوْ بِاَيْدِيْنَا﴾ اومونږ ستاسو په باره كښې انتظار كوؤنكی پاتې كيږو چې الله ﷻ به په تاسو څه عذاب راولي [خواه] د خپل طرفه ددې [په دنيا كښې يا په آخرت كښې] يا زمونږ دلاسه [كله چې تاسو خپل كفر ښكاره كړئ نو د نورو كافرانو پشان به د مسلمانانو دلاسه اووژلې شئ] ﴿فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ۝﴾ تاسو [پخپل شان] انتظار كوئي [او] مونږ به تاسو سره [پخپل شان] انتظار كوؤ.

معارف اومسائل

ددې ركوع په [۱۷] اولسوواړوتقريبا په ټولو آيتونو كښې دمنافقانو بيان دې چه د دروغ عذرونه ئې پيش كړل اودهغې په بنيادئې درسول الله ﷺ نه دااجازت حاصل كړې ووچه دتبوك غزاته به نه ځي، په دې ضمن كښې ډيرې مسئلې، هدايات اوحكمونه دی.

په ړومبي آيت كښې په باريک اندازسره رسول الله ﷺ نه ددې خبرې ګيله شويده چه دوئ درته ددروغو عذرونړاندې كړواوتاسوورته بې تحقيقه دتبوک غزانه دپاتې كيدواجازت وركړو، اوس داخلق په دې خوشحالي ښكاره كوی چه رسول الله ﷺ سره مو دهوكه اوكړه، اګرچه په راتلوونكې آيتونو كښې الله تعالى داهم ښكاره كړل چه دې خلقودچل ول عذرونه وړاندې كول، كه دوئ ته دغې غزانه دپاتې كيدواجازت نه وې وركړې شوې نوبياهم دوئ غزاته تلونكې نه وو، په يوآيت كښې الله تعالى داهم ښكاره كړل چه كه بالفرض داخلق غزاته تلي هم وې، نومسلمانانوته ئې هيڅ فائده څكه نه وه چه دوئ به هلته سازشونه كول، فتنې او

Scanned with Ca

فسادونه به ئې راپورته کول اونورې داسې خطرې به تررا پیښیدې،

لیکن منشاء خو داده چې که دوئ ته اجازت ورکول کیدې نه بیا هم دوئ تللو والانه وو مګر ددوئ منافقت به داسې رابرسیره شوې ووچه بیابه هم غزاته نه تلل اوداپیغوروبه ئې مسلمانانوته هم نشوورکولې، چه مونږ ورسره چل ول او کړو مقصد ددې نه زورنه ورکول نه دی بلکه داضباطول ووچه آئنده دپاره ددوئ دچلونواو دهوکونه باخبره اوسیږئ که په ﴿لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ﴾ ولې دِ اجازت ورکړو] سره چې دزورنې صورت ښکاریدونو الله تعالى ددې اثرلرې کولودپاره ددې نه ړومبې ورته ﴿عَفَا اللَّهُ عَنكَ﴾ الله تعالى معاف کړې ئې] اوفرمائیل،

کوم حضرات چې د رسول الله ﷺ دمنصب اومقام نه خبردی، او د الله تعالى سره دهغوئ ﷺ په تعلق باندې نظرلرې نوهغوئ وائی چه هرکله درسول الله ﷺ تعلق الله تعالى سره ډیرزیات ژوروو، که یواځې په ﴿أَذِنتَ لَهُمْ﴾ سره ورته خطاب شوې وې نودجواب طلبئ دصورت په رامخې کیدوسره به درسول الله ﷺ په زړه مبارک به دهغوئ ﷺ دزغم، برداشت نه زیات خفګان راغلې وې، ځکه ئې تروړاندې ﴿عَفَا اللَّهُ عَنكَ﴾ اوفرمائیل یوارخ ته خوپه دې سره دااوښولې شوچه دالله تعالى په نزدیونا خوښه کارشویدې خودهغې په کولوئې ورته دمعافئ اطلاع ړومبې نه ورکړه چه وریسې بیان شوې خبره ئې په زړه مبارک باندې ډیره درنه پریوځنه ځی،

دلته داشبه کیدې شوه چه هرکله معافی خود ګناه نه کیدې شی اورسول الله ﷺ د ګناه نه معصوم دې هغوئ نه ګناه نشی صادریدې نوځنګه وردپاره دمعافئ الفاظ راوړې شو،

جواب دادې چه ځنګه دګناه نه معافی کیدې شی دغه شان دیوناخوښه کارکولونه هم معافی کیدې شی یعنی یواځې دګناه نه معاف کیدل نه وی بلکه دناخوښه کارکولونه هم معاف کول وی،

په دویم اودریم آیت کښې دمؤمنانواومنافقانوترمنځه ئې هم دافرق اوښولوچه صحیح ایمان لرونکی، په داسې موقعوباندې ځان اومال سره دمینې، محبت له کبله په جهاد کښې دنه شاملیدلو دپاره اجازت نه غواړی، بلکه داسې هغه څوک وی چه په الله تعالى اودآخرت په ورځ صحیح ایمان نه لری اوالله تعالى متقیان خلق ښه پیژنی،

په څلورم آیت کښې دمنافقانودغلط عذریوه نخښه ئې داهم اوښوله ﴿وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً﴾ که دوئ جهادته دتلورشتیااراده لرلې نوخامخابه ئې دې دپاره څه تیاری کړې وې] چه تیاری یې هیڅ نه ده کړې نوپته اولګیده چه دعذربهانه ئې غلطه وه،

دمنلواونه منلودعذرترمنځه بیلتون: دې آیت نه یواصول داهم رابرڅیره شوچه عذردهغه چا صحیح اوقبلولوجوګه کیدې شی چه حکم منلودپار هروخت تیاروی اودڅه مشکل پابندیز راولاړیدو په وجه دیوحکم مطابق عمل اونشی کړې، چنانچه دمعذوروخلقودتولو، عاملاتوهم دغه حکم دې، چاچه دحکم منلودپاره هیڅ تیاری نه وی کړې اودسره ئې وردپاره اراده هم نه وی کړې اوبیاورته څه عذرهم پیښ شی نوداسې عذربه د [عذرګناه بدتراز ګناه] مثال لری، دابه صحیح عذرنشی ګڼلې، ته که یوسړی دجمعې دمونځ دپاره تیاری مکمله کړې وی، هغې دپاره روان هم شی، ناڅاپه ورته داسې څه عذرراپیښ شی چه دهغې په وجه دجمعې دمونځ نه پاتې راشی نو دا دمنلوعذردې، اوالله تعالى ورته هم ددغې عبادت پوره اجر ورکوی، او چا چې د سره هیڅ تیارې نه وی کړې او بیا اتفاقا یو عذر هم مخې ته راشی نو هغه محض یوه بهانه ده.

Scanned with Ca

بل مثال ئې داسې واخلئ چه صباوختی مونځ دپاره دپاسيدوپوره انتظام څوک اوکړی دېائم پيس کړنگارئې هم لګولې وی، چاته ئې دخپلو ويښولو دپاره هم وئيلی وی، بيا په څه وجه دا ټول انتظام فيل شی اودصبا مونځ ترقضاشی نو داعذر دمنلو دې، څنګه چه رسول الله ﷺ په [ليلة التعريس، کښې په وخت باندې دراويښيدو دا انتظام کړې ووچه حضرت بلال رضي الله عنه دټولو راويښولو دپاره څوکيدار مقرر کړې وو، خو اتفاقا په هغه هم خوب غالبه شو، په نمر راختو سره ټول راپيدارشو، هرکله چه داعذر دمنلو جوګه وو، څکه رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته تسلی ورکړه چه، لَاتَفْرِيطَ فِي النَّوْمِ إِنَّمَا التَّفْرِيطُ فِي الْيَقْظَةِ، دخوب په وجه راتلونکې کوتاهی معتبره نه ده] هغه کوتاهی معتبره ده چه په ويښه چانه په قصد سره راشی] (١)

غرض داچه دصحيح اوغلط عذر معلومولو يوه هم نخښه داهم ده چه دحکم منلو دپاره تياری شوی وی هغه به صحيح عذروی اوچه هيڅ تياری ورد پاره نه وی شوی نو هغه به غلط عذروی،

په پنځم آيت کښې په ټګئ سره داجازت حاصلوونکو منافقانو داحال هم اوښولې شوچه ددوئ جهادته نه تلل څکه زيات غوره ووچه که دوئ تلې وې نو په سازشونو کولو اوغلطو افوا ګانو خورولو سره به ئې فسادونه راپورته کول لکه فرمائی [﴿وَفِيكُمْ سَمّٰعُونَ لَهُمْ﴾ يعنی په تاسوکښې ساده بوده داسې مسلمانان هم شته چه ددوئ غلطو افواګانو به پراثر کولو]

﴿لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ﴾ يعنی دې خلقو ړومبې هم داسې فتنې اوفسادونه راپورته کړيدی] څنګه چه داحد په غزا کښې ئې هم راپورته کړی وو،

﴿وَظَهَرَ أَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ﴾ يعنی غالب شو حکم دالله تعالی سره ددې چه دمنافقان پر ديرتزنيدل] دې کښې اشاره دې خبرې ته اوشوه چه غلبه اوفتح ورکول دالله تعالی په قبضه کښې دی، څنګه ئې چه په ړومبو واقعاتو کښې فتح درکړه په دې جهاد کښې به هم دغسې وی اودمنافقانو ټول چلونه به فيل شی،

په شپږم آيت کښې ديو خاص منافق جدبن قيس ديوې خاصې بهانې کولو په وجه دهغه ګمراهی بيان شويده، هغه جهادته دنه تلو داعذر پيش کړې ووچه زه يو ځوان سړې يم، که د روميانو مقابلې ته ورشم دهغوئ دښکلو ښکلو ښځو په ليدو به ځان په قابو کښې اونه ساتلې شم، قرآن ددې جواب داسې اوفرمائيلو ﴿أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا﴾ (٢) دې خلقو ديوې وهمی فتنې بهانه اونيوله خو ددې نه زياته يقينی فتنه کښې دوئ داوس نه اخته دی ولې چه درسول الله ﷺ دحکم خلاف ورزی کوی اوجهادته نه ځی کومه چه سخته ګناه ده،

﴿وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكٰفِرِيْنَ﴾ يعنی جهنم دې ټولو لره په ګيره کښې راوستونکی دی، چه د راوتو درک ئې ترِنه لګی] ددې مراد خو دادې چې په قيامت کښې چې جهنم دوئ په ګيره کښې اخلی ياداچه په دنيا کښې ددوئ کوم عملونه چې جهنم ته دتلو باعث اوموجب دی هغې دوئ لره په ګيره کښې راوستلی دی ګوياکښې ددوئ ناکاره عملونه ئې په جهنم سره تعبير اوکړو اووې فرمائيل چه اوس هم دجهنم په ګيره کښې دی،

---

(١) سنن ابي داود، كتاب الصلاة، باب في نام عن الصلاة أو نسيها: ج ١، ص ٦٣

(٢) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث: ٥٤٣

په اووم آیت کښې دوه بله کم ظرفي داسې بیان شویده چه دا خلق اګرچه په ښکاره مسلمانانو سره یو ځای پاتې کیږي، لیکن حال ئې دادې چه [﴿إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ﴾ یعنی که تاسو ته څه فتح او کامیابي حاصله شي نو دوئ به ئې بیخي نشي زغملې ﴿وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ﴾ یعنی که تاسو ته څه مصیبت دراورسي نو دا خلق وئیل شروع کړي چه مونږ خو رومبې نه پدې پوه وو چه دا خلق خپل ځانونه په مصیبت کښې اچوي څکه مونږه دخپلې ښیګړې په خاطر دوئ سره شریک نشو چه داسې اووائي نو په خوشحالئ خوشحالئ بیرته روان شي]

په اتم آیت کښې الله تعالی رسول ﷺ او مسلمانانو لره منافقانو ددغه خبرو اثر نه قبلولو او خپلې مخې ته همیشه دپاره دحقیقت اینښو هدایت په دې الفاظو سره او کړو ﴿قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ یعنی تاسو هغه خلقو ته اووائی څوک چه دمادی سامان پرستش کوي چه تاسو غولیږئ، دامادی سامان یوه پرده ده په دې کښې کارکوونکې قوت صرف الله تعالی دې، مونږ ته چه کوم حال راپیښیږي دا ټول هغه دی چه الله تعالی زمونږ دپاره لیکلی دی او هم هغه زمونږ مولی او مددګار دې مسلمانانو لره پکار دی چه اصل تکیه دی هم په دې لري، مادی اسباب دِصرف اسباب او نخښې ګڼړي په دې دِ دخیر او شر ادانړه نه ګڼړي،

دتقدیر عقیده سره دتدبیر اختیارولو پکار ده بې تدبیرئ ته توکل وئیل غلطه خبره ده: ددې آیت دتقدیر او توکل دمسئلې اصل حقیقت هم په ډاګه کړو هغه داسې چه ته تقدیر او توکل لرلو مطلب دانه دی اغستل پکار چه خلق دِ پښه په پښه کښیني اووائی دچه دقسمت لیک به رارسي، بلکه پکار دادی چه دخپل وس په جوړتوان، همت او اسباب راجمع کولو او استعمالولو نه پس معامله تقدیر او توکل ته سپارل پکاردی، نظر یواځې په الله تعالی باندې لرل پکاردی چه دهر کار نتیجې یواځې هم دهغه په قبضه قدرت کښې دی،

دتقدیر او توکل په مسئله کښې خلق ګډوډ شویدي چه بیدینه خلق خو بیخي دتقدیر او توکل نه منکردی، هغوئ مادی اسبابو لره خدائي ګڼړلې دې، او داسې ناخبره خلق هم شته چه تقدیر او توکل ئې دخپلې کم همتئ او بیکارئ بهانه جوړه کړیده، د رسول الله ﷺ پخپله دجهاد دپاره پوره پوره تیاری کول ، وریسې دا آیت نازلیدلو د کمې زیاتی لارې ئې ټولې بندې کړې اوصحیح لارئې اوښوله؟ باتوکل زانوئې اشتر ببند،(۱)

یعنی اختیاري اسباب هم دالله تعالی ورکړې شوي نعمتونه دی، دې نه فائده نه اغستل هم ناشکری او بیوقوفي ده، البته اسبابو لره ددرجې نه وړاندې مه اوړدوه خو عقیده دا لره چه نتیجې او ثمرات په دې اسبابو نه، بلکه دالله تعالی په حکم او اراده باندې اډانړه دی،

په نهم آیت کښې دمؤمن یو ځانګړې شان داسې بیان شو چه ددوئ [مؤمنانو] په مصیبت باندې خوشحالیدونکو منافقانو ته داسې جواب ورکړې شو چه کوم څیز زمونږ دپاره تاسو مصیبت ګڼړئ او په هغې خوشحالیږئ نو زمونږ په نزد دغه مصیبت، مصیبت نه دې بلکه دراحت او کامیابئ یو بل صورت دې، څنګه چه مؤمن بنده په خپل عزم او قصد کښې ناکامه کیدو سره

(۱) ترجمه: توکل سره داوښ لښې اوتړه۔

هم، داجرا وبدلې حقدار جوړېږي کوم چه دټولو کامیابو اصلی مقصود دې، څکه په هغې کښې ناکامه کیدو سره هم کامیاب پاتې کیږي او په ورانه کښې هم جوړېږي:

نه شوخی چل سکی باد صبا کی   بگڑنے میں بھی زلف اس کی بنا کی

[دباد صبا چیړ کولو هیڅ اونشو کړې؟ولې چه دمعشوقې زلفِ ئې چه څومره ورانولې هومره ښکلې اومزید اړې شوې]

چنانچه په دې آیت کښې د [﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ﴾] مطلب هم دغه دې، دې سره ئې اوښودل چه دکفارو حال ددې الټه داسې دې چه په هیڅ حال کښې هغوئ دعذاب نه خلاصیدې نشی، یاخو په دنیا کښې هم په دوئ باندې دمسلمانانو دلاسه دخدائ عذاب راشی، ورنه په آخرت کښې خو به په هیڅ شان دعذاب نه نشی خلاصیدې په دې شان به کفارو ددنیا اوآخرت په دواړو قسمو عذابونو کښې اخته پاتې کیږي.

قُلْ   اَنْفِقُوْا   طَوْعًا   اَوْ كَرْهًا   لَّنْ يُّتَقَبَّلَ
	اووایه	که خرچ کوئ	په رضاسره	یاپه ناخوښئ سره	هرګزبه قبول نه کړې شی
ته [ورته] اووایه که په خوښه خرچ کوئ او که په ناخوښۀ هیڅ کله به
مِنْكُمْ ۭ   اِنَّكُمْ   كُنْتُمْ   قَوْمًا   فٰسِقِيْنَ ۝   وَمَا مَنَعَهُمْ   اَنْ تُقْبَلَ
ستاسو نه	بیشکه چی تاسو	یئ هم تاسو	یوقوم	فاسقان	اونۀ دی منع کړی دوئ	چی قبول کړې شی
ستاسو نه قبول نشی	ځکه چه تاسو نافرمان خلق ئې	او دوی چه د دې خبرې نه منع شوی دی چه د دوی
مِنْهُمْ   نَفَقٰتُهُمْ   اِلَّآ   اَنَّهُمْ   كَفَرُوْا   بِاللّٰهِ   وَبِرَسُوْلِهٖ
ددوئ نه	خرچ شوې مال ددوئ	مګر دې خبرې	چی دوئ	کافران شوی دی	په الله	اوپه رسول دهغه
صدقې د دوی نه قبول شی مګرد دې وجې چه دوی په الله او دهغه په رسول باندې کفر کړې دې
وَلَا يَاْتُوْنَ   الصَّلٰوةَ   اِلَّا   وَهُمْ   كُسَالٰى   وَلَا يُنْفِقُوْنَ   اِلَّا
اونه راځی دوئ	مانځه ته	مګر	حال دا چی دوئ	سست وی	اونۀ خرچ کوی دوئ	مګر
او دوی مانځه ته په ناراستیا سره راځی	اودوی [چه دالله په لار کښې کوم] خرچ کوی نو په هغې
وَهُمْ   كٰرِهُوْنَ ۝   فَلَا تُعْجِبْكَ   اَمْوَالُهُمْ   وَلَآ   اَوْلَادُهُمْ ۭ
په دې حال چی دوئ	ناخوښه وی	نوپه تعجب کښی دې نۀ اچوی تا	مالونه ددوئ	اونۀ	اواولاد ددوئ
باندې هم خفه وی	.........نو د دوی مالونه او اولاد دې تا په تعجب کښې وانچوی
اِنَّمَا   يُرِيْدُ اللّٰهُ   لِيُعَذِّبَهُمْ   بِهَا   فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا   وَتَزْهَقَ
بیشکه	غواړی الله	چی اوعذابوی دوئ	په دې څیزونو سره	په ژوند ددنیا کښی	اواوځی
بیشکه الله اراده لري چه دې منافقانو ته د دې مالونو په سبب په دنیا کښې عذاب ورکړی او په حالت د کفر
اَنْفُسُهُمْ   وَهُمْ   كٰفِرُوْنَ ۝   وَيَحْلِفُوْنَ   بِاللّٰهِ   اِنَّهُمْ
روحونه ددوئ	اوحال دا چی دوئ	کافران وی	اوقسمونه خوری دوئ	په الله باندې	چی بیشکه دوئ
کښې د دوی ساه اوځي	اودوی [تاسو ته په دروغه] په الله تعالی باندې قسمونه خوری چه دوی [منافقان] هم

Scanned with Ca

لَمِنۡكُمۡ ؕ وَمَا هُمۡ مِّنۡكُمۡ وَلٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٌ يَّفۡرَقُوۡنَ ﴿۵۶﴾

خامخا ستاسو نه دی | او حال دا چې نه دی | دوئ | تاسو نه | او ليکن دوئ | داسې قوم دې | چې يريږي

ستا سو څخنې دی | [خو] دوی ستاسو [مسلمانانو] نه نهٔ دی | بلکه دوی داسې خلق دی چه ويريږي

لَوۡ يَجِدُوۡنَ مَلۡجَاً اَوۡ مَغٰرٰتٍ اَوۡ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوۡا اِلَيۡهِ

كه مونـدلې دوئ | ځائې دپناه | يا غارونه | يا بل ځائې دننوتلو | نو خامخا به گرځيدلی وو | هغې ته

كه دوی ځائې د پناه يا غارونه يا بل څه د ننوتلو ځائې موندلې نو خامخا به هغې ته په منډو ورغلي او

وَهُمۡ يَجۡمَحُوۡنَ ﴿۵۷﴾ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّلۡمِزُكَ فِى الصَّدَقٰتِ ۚ

او دوئ | به منډې وهلې | او څينې ددوئ نه | هغه څوك دی | چې عيب لگوی په تا | په صدقو كښې

ننوتی وو | او په دوی [منافقانو] كښې څه داسې [منافقان] دی چه د صدقو په باره كښې په تا باندې عيب لگوی

فَاِنۡ اُعۡطُوۡا مِنۡهَا رَضُوۡا وَاِنۡ لَّمۡ يُعۡطَوۡا مِنۡهَاۤ اِذَا

نو كه | وركړې شی دوی ته | دهغې نه | نو راضی كيږي | او كه ورنكړې شی دوئ ته | دهغې نه | نو په دغه وخت

او د دوی حال دا دې كه د هغې نه ورته څه وركړې شی نو بيا خو خوشحاله وی او كه څه ورته ورنكړې شی نو په

هُمۡ يَسۡخَطُوۡنَ ﴿۵۸﴾ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ رَضُوۡا مَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ

دوئ | غصه كيږي | او كه چرې دوئ | راضی شوې وې | په هغه | چې وركړې وو دوئ ته | الله

هغه وخت كښې بيا په غصه وی [چه ولې ئې ماته څه رانكړل] خو كه دوی په هغه څه راضی شوې وې كوم چه

وَرَسُوۡلُهٗ ۙ وَقَالُوۡا حَسۡبُنَا اللّٰهُ سَيُؤۡتِيۡنَا اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ

او رسول دهغه | او وئيلی ئې وې | كافی دې مونږ لره الله | را به كړی مونږ ته الله | د فضل خپل نه | او

الله او دهغه رسول وركړې وې او دا ئې وئيلی وو چه الله زمونږ زمونږ دپاره كافی دې الله او دهغه رسول

وَرَسُوۡلُهٗۤ ۙ اِنَّاۤ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوۡنَ ﴿۵۹﴾

رسول دهغه | بيشكه مونږ | الله ته | رغبت كونكی يو |

به مونږ ته د خپل فضل [مال] نه راكړی او مونږ الله ته رغبت كوونكی يو |

آسان ترجمه قرآن

ته ووايه چه خپل مال خواه كه په خوشحالئ سره وركوئ په چنده كښې او كه په بد زړه سره هغه به تاسو نه چرې هم قبول نه شی تاسو داسې خلق يئ چه مسلسل نافرمانئ كوئ او د دوی په چنده قبليدو كښې ركاوټ دې نه بغير بل څه نشته چه دوی دالله او د هغه د رسول سره د كفر معامله كړې ده او چه دوی مونځ ته راځی نو سست راځی. او چه ﴿څه د نيكئ كار كښې﴾ خرچ كوې نو بد گنړلو سره خرچ كوې تا دې د دوی د مال او اولاد ﴿ډير والې﴾ تعجب كښې وانه چوی. الله تعالى خو غواړې چه دوی ته په دغه څيزونو سره دنيا كښې عذاب وركړې او د دوی روح هم د كفر په حالت كښې ووځی. دوې په الله باندې قسمونه خورې چه دوی تاسو نه دی. حال دا چه دوی ستاسو نه نهٔ دی بلكه دوی يو ويريدونكې خلق دی. كه دوی ته څه پناهگاه ملاؤ شې يا څه قسم غار ملاؤ شی ياد ننه كيدو څه بل ځائې نو دوی به هم

اختیاره هغې ته منلې وه اودې ﴿منافقانو کښې﴾ هغه خلق هم دي چه هغوی د صدقاتو ﴿په تقسیم کښې﴾ تا باندې الزام لګوی پس که دې صدقاتو نه دوی ته ﴿د دوی د مرضۍ مطابق﴾ ورکړې شي نو دوی خوشحاله وي او که د دوی د مرضۍ مطابق ورنکړې شي نو دوی ډېر زر ناراضه کیږی او څه هم چه الله اودهغه رسول دوی ته ورکړي وو څه ښه به وه چه دوی په هغې راضی شوې وې او دا ئې وئیلې وې چه: الله زمونږ د پاره کافی دې، آئنده به مونږ ته الله د خپل فضل نه را کړي او د هغه رسول هم اومونږ الله طرف ته رغبت کوؤ.

خلاصه تفسیر

﴿قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ط﴾تاسو دې منافقانو ته] اوفرمایئ چې تاسو [په جهاد کښې] که په خوښه خرچ کوئ او که بې خوښې ستاسو نه په هیڅ شان [د الله ﷻ په نزد] مقبول نه دی [ځکه چې] ﴿اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ﴾ بیشکه تاسو نافرمانی کوؤنکی خلق یئ [مراد ترې کفر دې، څنګه چې راروان دی] ﴿وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ﴾ اود دوئ دخیرات دقبلیدو نه ،بغیر ددې بل څه بندیز نشته ﴿اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ﴾ چې دوئ الله ﷻ اود هغه په رسول ﷺ سره کفر اوکړو [دې ته ئې پورته نافرمانی وئیلی وو او د کافر هیڅ عمل قبلیدونکې نه دې] او [ددې باطنی کفر نخښه په ښکاره داده چې] ﴿وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى﴾ دا خلق مونځونه نه کوی مګر په مات زړهٔ سره او [په نیك کار کښې] ﴿وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ﴾ اوخرچ نه کوی مګر په ناخوښئ سره [ولې چې په زړه کښې خو ئې ایمان شته دې نه چې په هغې سره ئې دثواب امید وی او د امید په وجه ئې شوق وی ، خالص د بدنامئ نه دځان ساتلو دپاره ئې کوی او کله چې دوئ داسې مردود دی] ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ط﴾ نو د دوئ مالونه او اولاد دې تاسو ﷺ [په دې] تعجب کښې نه اچوی [چې داسې نامقبول او مردود خلقو ته دومره انعامات څنګه ورکړې شو؟ ولې چې دا په واقع کښې دوئ دپاره نعمت ده دې یوقسم عذاب دې ځکه چې] ﴿اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾الله ﷻ ته یوازې دا منظور نه دی چې ددې څیزونو په وجه په دنیاوی ژوندې کښې [هم] دوئ لره په عذاب کښې ګرفتار لری ﴿وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ﴾ او چې د دوئ ساه هم دکفر په حالت کښې اوخی [چې د هغې په وجه په آخرت کښې هم په عذاب کښې ګرفتار وی نو د کوم مال او اولاد چې دا انجام وی هغه انعام ګنړل غلطی ده] او دا [منافقان] ﴿وَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ط﴾ خلق په الله ﷻ باندې قسمونه خوری چې دوئ هم ستاسو نه دی [یعنی مسلمانان دی] حالانکه [په واقع کښې] ﴿وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ﴾ دوئ ستاسو نه نه دی ﴿وَلٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ﴾ لیکن [خبره داده چې]دوئ ویریدونکی خلق دی [د ویرې په وجه په دروغه قسمونه خوری او خپل کفر پټوی ، چې هسې نه مسلمانان راسره د نورو کافرانو پشان معامله اونه کړی او بل چرته هم ددوئ څه داسې ځائې نشته چرته چې آزادئ سره پاتې کیږی ګنی] ﴿لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَاً اَوْ مَغٰرٰتٍ اَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ﴾ دې خلقو ته که د پناه څه ځائې ملاویدو یا [چرته په غر وغیره کښې] غار[ورته ملاویدې] یا چرته ورته بل د ننوتو څه لږ شان ځائې ورته [ملاویدې] نو دوئ به ضرور په هسکه غړئ اخوا تلی وې [خو دا صورت دسره نشته ځکه په دروغه قسمونو خوړلو سره خپل ځانونه مسلمانان ښکاره کوی] ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّلْمِزُكَ فِى الصَّدَقٰتِ ج﴾

پدوئ کښې ځینې خلق هغه دی چې د خیراتونو [ویشلو] په باره کښې په تاسو الزام لګوی [چې په دې ویش کښې نعوذ باالله انصاف نه دې کړې شوې] ﴿فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا﴾ نو که دوئ ته د صدقو څخه [ددوئ د خواهشاتو مطابق] ملاؤ شی نو دوئ راضی کیږی ﴿وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ﴾ اوکه دوئ خیراتونو څخه دوئ ته [د دوئ دخواهش مطابق] ورنکړې شی نو دوئ خفه کیږی [دې نه معلومه شوه چې د دوئ د اعتراض منشا په اصل کښې څه اصولی خبره نه وی بلکه دنیوی لالچ او خود غرضی ده] ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ﴾ او ددوئ دپاره غوره خبره وه که په دې راضی پاتې کیدې کوم چې الله ﷻ دوئ ته [د ورکولو حکم کړې وو] اودهغه رسول ﷺ ورکړی وو ﴿وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ﴾ او [ددې باره کښې] داسې ئې وئیلې چې مونږ الله ﷻ [راکړې دې] کافی دې [مونږ ته هم دومره د قاعدې موافق راکول وو په دې کښې به خیر او برکت وی او که بیا مو ضرورت شو او خیر په کښې وی نو] ﴿سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ﴾ په آئنده کښې به الله ﷻ پخپل فضل سره مونږ ته نور راکړی او د هغه رسول ﷺ به راکړی ﴿إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ﴾ مونږ [د زړۀ نه] د الله ﷻ طرفته ماتې کوؤنکی یو [او هم دهغه نه امیدونه لرو].

معارف او مسائل

په تیروشوؤآیتونو کښې دمنافقانو دبداخلاقئ اوبدعملئ بیان وواوس په دې تولوآیتونو کښې هم دامضمون بیان شویدې ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم﴾ کښې چې دااوفرمائیلې شوچه منافقانودپاره ددوئ مال اولادنعمت نه، بلکه عذاب دې، ددې وجه داده چه ددنیاپه مینه کښې بوښتیدل، انسان دپاره هم په دنیاکښې یوعذاب اومصیبت جوړیږی اول ددنیوی مال دحاصلولو په آرزوګانو اوبیاپه تدبیرونوکښې، څنګه څنګه محنتونه ، مشقتونه، جسمانی اورحانی تیرول راځی، نه ده ورځې آرام ورته نصیب کیږی، نوورته دشپې خوب نصیب کیږی، نه دخپل تن بدن نه خبروی، نه خپل بال بچ سره دمشغولیدووخت ملاویږی، بیاچه مال حاصل شی نودهغې حفاظت کول او ترقی ورکول دشپې ورځې بیل عذاب دې، که پوتې نقصان ئې اوشویاڅه رنځورتیاورته راپیښه شوه نودغمونوغرونه پرې راپرویوځی، او که په اتفاقی ډول ټول څیزونه ورته دطبیعت او خواهش مطابق حاصل هم شی نوددې دکمید واندیښنه اوپه مخه ورته د ترقئ ورکولوفکرئې هیڅ وخت آرام ته نه پریږدی، بیاچه کله په آخرکښې داڅیزونه دمرګ په وخت یاورانديږ دده دلاسه اوځی نوافسوس اوناامیدی ئې مل شی، داټول سراسری عذاب دې، کوم بیوقوف انسان چه دراحت اوآرام سامان ته آرام وائی اوداصلی آرام یعنی دزړه دآرام اوتسلئ هوا هم ورته نه وی لګیدلې، بیاهم په دې کښې داسې بوښت شی چه په حقیقت کښې ئې ددنیا دآرام هم دښمن دې اودآخرت دعذاب یوپیشګی قسط هم دې،

آیاد خیرات مال کافرته ورکولې شی؟ دآخری آیت نه معلومیږی چه دخیراتو صدقاتو دمال نه به منافقانوته هم برخه ورکولې شوه چه هغه به دخواهش مطابق ورنکړې شوه نوناراضه کیدل به اوپیغورونه اوالزامونه به ئې په مخه راواغسته، دلته که دصدقاتونه مرادعامې صدقې واغستې شی چه فرض، واجب اونفل صدقې پکښې تولې راځی نوپه دې صورت کښې څه اشکال ځکه نشته چه غیرمسلموته نفلی صدقې ورکول په اتفاق دامت سره جائزاوپه سنت سره ثابت دی، اوکه دلته دصدقونه مرادفرض اوواجب صدقې وی لکه عشر، زکوة وغیره شو نو

Scanned with Ca

منافقانوته په دې کښې برخه ورکول په دې بناباندې ووچه هغوئ به خپل خانونه مسلمانان ښکاره کول اوددوئ په کفرباندې به ظاهری حجت اودليل قائيم نه وو، الله تعالی دا حکم دځه مصلحت په خاطرورکړې ووچه منافقانوسره دهم هغه معامله اوکړې شی کومه چه مسلمانانو سره کولې شی، [بيان القرآن په لنډو]

﴿وَلَا يَأْتُونَ الصَّلٰوةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى﴾ په دې آيت کښې دمنافقانو دوه نخښې ښولې شويدی ① يوداچه مونځ ته په مات زړه راځی، ② بله داچه د الله تعالی په لارکښې مال په ناخوالئ سره خرچ کوی، په دې سره مسلمانانوته خبردارې ورکول دی چه مانځه ته په مات زړه تلل اوپه زکوة خيرات ورکولو کښې دزړه ناخوالی راپورته کيدل دمنافقت علامې دی، مسلمانانولره ترې ځان ساتل ضروری دی.

إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ
ا بيشکه صدقې ا دی دپاره دفقيرانو ا
ابيشکه زکاتونه د فقيرانو
وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ
اودپاره دمسکينانو ا اودپاره دعاملانو ا چی مقرروی په هغې باندې ا او دپاره دهغه کسانوچی الفت اچول غرض وی
مسکينانو اود زکاة راغونډونکو دپاره دی اودهغه [نوې مسلمانانو] دپاره چه د هغوی زړونو کښې د اسلام
قُلُوْبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
زړونودهغوئ ته ا اوپه څټونوآزادولوکښې ورکولې شی ا اوقرضدارانوته ورکولې شی ا اوپه لاردالله کښې ورکولې شی
محبت اچول مقصود وی ا اودغلامانو آزادولو دپاره اود قرضدارو دپاره اود مجاهدينو دپاره
وَابْنِ السَّبِيْلِ ط فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ط وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝
اومسافرانوته ورکولې شی ا دافريضه ده ادطرفه دالله نه ا اوالله په هر څه پوهه دې ا دحکمت خاوند دې
اود مسافرو دپاره دې ادا زکاة د الله تعالی فرض حکم دې ا اوالله تعالی پوهه اوصاحب دحکمت دې

آسان ترجمه قرآن

صدقات خو اصل کښې حق دې د فقيرانو او مسکينانو اودهغه خلقو چه د صدقاتو په اخستو باندې مقرر شوې دی اودهغه چا چه د هغوی زړونه مائل کول مقصود دې اود غلامانو په آزادولو کښې او د قرضدارو په قرض ورکولو کښې اود الله په لاره کښې او د مسافرو په مدد کولو کښې دې خرچ کړې شي دا يو فريضه ده دالله د طرف نه او الله علم والا هم دې او حکمت والا هم.

خلاصه تفسير

[فرض] ﴿إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا﴾ صدقې خو يوازې حق دې د غريبانان او محتاجو او دکارکوونکو ددې صدقو چې[صدقو د وصولو او حاصلولو په کارونو باندې] لګيدلی وی ﴿وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ﴾ او دچا چې زړونه ساتل [منظور] دی ﴿وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ط﴾ او د غلامانو د څټونو په خلاصولو کښې [دې اولګولې شی] اود قرضدارو په

Scanned with Ca

قرض [ادا کولو] کښې اوجهاد [یعنی دجهاد کوؤنکو په سامان] کښې او [د] مسافرو [په مدد] کښې ﴿فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ﴾ دا حکم د الله ﷻ د طرفنه مقرر دې، ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ او الله ﷻ د لوئې علم خاوند ، د لوئې حکمت خاوند دې.

معارف او مسائل

دصدقو [خیراتونو] داستعمال اولګولو ځایونه: په تیروشوؤ آیتونو کښې دصدقو په باره کښې په رسول الله ﷺ باندې دبعضې منافقینو داعتراضونو او دهغې دجوابونو بیان وو، په رسول الله ﷺ باندې ددغه منافقانو الزام داووچه [معاذالله] تاسو ﷺ دخیراتونو په ویشلو کښې انصاف نه کوئ، په خپله خوښه، غوښتونکو ته هغه څه ورکوئ چه هغه ئې غواړی،

اوس په دې آیت کښې الله تعالی دخیراتونو داستعمالولو ځایونه اوتاکل اودغه غلط فهمی او اعتراضونه ئې په داشان لرې کړل چه داتاکل الله تعالی پخپله کړیدی چه صدقې د چاته ورکړې شی اورسول الله ﷺ په دغې خدائی حکم باندې عمل کوی، په خپله رائې هیڅ نه کوی،

ددې تصدیق دابی داؤداودارقطنی په حواله دهغه حدیث نه کیږی چه دحضرت زیادبن حارث صدائی په روایت راوړلې شویدې، راوی فرمائی چه زه یوځل درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم، راته معلومه شوه چه هغوئ ﷺ زمادقوم دمقابلې دپاره یولښکرد مسلمانانو ورلیږی، وائی چه ماعرض اوکړوچه یارسول الله [صل] تاسو ﷺ لښکرمه ورلیږئ زه ددې ذمه اخلم چه زماقوم به پخپله غاړه ایښودونکی ستاسو ﷺ په خدمت کښې حاضر شی، وائی چه بیام خپل قوم ته خط اولیږلو او هغوئ ټولو اسلام قبول کړو نوهغوئ ﷺ راته اوفرمائیل، یاأخاصداء المطاع في قومه، په دې ورته ګویا کښې دخپل قوم دمحبوب مقتدا [مشر] خطاب ورکړې شو، وائی ماورته عرض اوکړوچه دازماڅه کمال نه دې دالله تعالی په فضل وکرم سره هغوئ ته هدایت اوشوځکه مسلمانان شو، وائی چه زه لادغه مجلس کښې موجودوم چه یوسړې دڅه غوښتلو دپاره درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو، هغوئ ﷺ ورته په جواب کښې اوفرمائیل:

الله تعالی دصدقاتو [خیراتونو] ویش، چانبی یاغیرنبی ته نه دې سپارلې، بلکه پخپله ئې د هغې دویش اته ځایونه ټاکلی دی که ته په دغه [۸] اتو کښې داخل ئې نودربه ئې کړم، [انتهی تفسیرقرطبی، ص ۱۶۸ جلد ۱] [۱]

دآیت شان نزول معلومولونه پس دآیت مکمل تفسیراوتشریح آؤریدونه وړاندې په دې خبره پوه کړه چه الله تعالی خپلوټولو مخلوقاتوته درزق ورکولووعده داسې فرمائیلې ده ﴿وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا﴾ خوټول ئې دخپل حکمت بالغه په مطابق په دې کښې یوشان نه دی ګرځولی چه دغنی اوفقیرفرق پکښې پاتې شی، په دې کښې دانسان اخلاقی تربیت اوددنیاد انتظام په باره کښې په سوؤنوحکمتونه دی چه دتفصیل موقعه ئې دانه ده، ددې حکمت په بنائې څوک مالدارجوړکړل اوڅوک ئې فقیران اوبې ماله جوړ کړل، بیا د مالدارو په مال کښې ئې دبې ماله فقیربرخه مقررکړه لکه فرمائی،

[۱]) سنن ابي داود، كتاب الزكاة، باب من يعطى من الصدقة ـــ الخ: ج ۱، ص ۲۲۹، وسنن الدارقطني رقم الحديث: ۲۰۸۶

Scanned with Ca

﴿وَفِيٓ أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُومِ﴾ يعنى الله تعالى دبې ماله فقير د حق په ډول د مالدارو غنيانو په مال كښې برخه مقرر كړيده] دې نه معلومه شوه چه صدقه وركول د مالدارو غنيانو خلقو څه احسان كول نه دى بلكه دا ورسره دبې ماله فقيرانو يو قسم حق دي چه خامخا به ئې وركوى. دې نه بله خبره دا معلومه شوه چه دغه برخه الله تعالى ټاكلې ده، داسې نه ده چه دچا په خپله خوښه ددې اداكول او نه اداكول ياكم وزيات اداكول اړه لري، چنانچه د دغه ټاكلي حق داند ازې ښودل هم، الله تعالى، رسول الله ﷺ ته اوسپارل، چه هغوئ ﷺ صرف زبانى طور او نه ښودل، بلكه ددې معاملې په باره كښې ئې تفصيلي فرمان مبارك اوليكلو او حضرت عمر ﷺ او عمرو بن حزم ﷺ ته ئې اوسپارلو، (١) چنانچه ددې نه په ډاګه ثابته شوه چه د هر قسم مال نصاب او د هر نصاب نه د زكوة اندازه، هميشه د پاره الله تعالى د خپل پيغمبر ﷺ په ذريعه ټاكلې ده په دې كښې د زمانې، ملك په لحاظ دڅه بدلون، ياكمى زياتى هيڅ امكان نشته،

صحيح خبره داده چه صدقه او زكوة د اسلام په ابتدا كښې هم په مكه مكرمه كښې فرض شوې وه څنګه چې د تفسير امام ابن كثير رحمه الله د سورة مزمل د آيت ﴿فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ﴾ نه استدلال كړې دې (٢) څكه چه دا شورت د وحى د شروع كيدو په اوله زمانه كښې نازل شوې دې، په دې كښې مونځ سره د زكوة وركولو حكم هم راغلې دې، البته د حديثو مبارك كود روايتونو نه معلوميږى چه د اسلام په شروع كښې د زكوة د پاره څه نصاب، ياخاص اندازه ټاكلې شوې نه وه، بلكه دڅه به چه د مسلمان د ضرورت نه باقى شو هغه ټول به ئې د الله تعالى په لار كښې وركول، د نصابونو تعين او اندازه د زكوتونو د هجرت نه روستو په مدينه طيبه كښې بيان شويدى، دا شان د زكوة او صدقاتو د وصولولو انتظام، په محكمانه انداز كښې د فتح د مكې نه پس په عمل كښې راغلې دې.

په دې آيت كښې د صحابه كرامو ﷺ او تابعينو رحمهم الله په اجماع سره د واجبې صدقې د مصرفونو بيان دې چه د مونځ پشان په مسلمانانو باندې فرض دې، ولې چه كوم مصرفونه په دې آيت كښې ټاكلې شويدى هغه د فرض و صدقو مصرفونه دى، د ډاګيزو روايتونو په مطابق د نفلى صدقو په باره كښې ډيره فراخى ده چه يواځې [٨] اته مصرفونه ئې نه دى،

اګرچه په پورته آيتونو كښې د صدقاتو لفظ عام و صدقاتو د پاره استعمال شويدې چه پكښې واجب او نفلى صدقات ټول داخل دى، خو دې آيت كښې، دامت په اجماع سره د فرض صدقاتو د مصرفونو بيان دې او په تفسير قرطبى كښې راغلى دى چه چرته د صدقې لفظ مطلقا راغلې دې او هلته د نفلى صدقې هيڅ قرينه نه وى، نو فرض صدقه به ترمرادوى، (٣)

ددې آيت په اول سر كښې لفظ د [انما] راغلې دې، چه د حصر او انحار د پاره استعماليږى، مطلب ئې دا راوتوچه واجبې صدقې يواځې په هغه مصرفونو كښې خرچ كړې شى كوم چه په دې آيت كښې ټاكلې شويدى، دې نه سوا په بل هيڅ مصرف كښې دا واجب صدقات نشى خرچ كولې، مثلاً د جهاد تيارى، جماعتونه يامدرسې آبادول يانور دعامو فائدو كارونه كول اګرچه

(١) تفصيل دپاره اوګورئى: سنن ابى داود، كتاب الزكاة، باب فى زكاة السائمة: ج ١، ص ٢١٨، وسنن الدارقطنى رقم الحديث: ٢٠١٠

(٢) تفسير ابن كثير تحت سورة المزمل: ج ٨، ص ٢٥٩

(٣) تفسير القرطبى تحت هذه الآية: ج ٨، ص ٢٤٨

ډیرضروري دی اوثوابونه ئې هم زیات دی خوهغه فرض خیراتونه چه نصابونه او اندازې ئې ټاکلې شویدی په دې مصرفونو کښې نشی لګولې،

ددې آیت دویم لفظ ،صدقات، دې چه دصدقې جمع ده، په لغت کښې صدقه دیومال هغه برخې ته وئیلې شي چه دالله تعالی دپاره خرچ کړې شي [قاموس]،(١) امام راغب رحمه الله په ،مفردات القرآن، کښې لیکلی دی چه صدقې ته صدقه ځکه وئیلې شي چه ددې اداکوونکې، ګویاکښې دادعوی کوی چه زه په خپل قول اوفعل کښې دشتوني یم، په دې کښې م هیڅ دنیوی غرض نشته، بلکه دالله تعالی درضاپه خاطرئې کوم .(٢) همدغه وجه ده چه په کومه صدقه کښې نوم نمائش یابل څه دنیوی غرض شامل شي نوقرآن کریم هغې لره په نیشت حساب کړیده،

داصلي معنې په اعتبارسره دصدقې لفظ عام دې، یعنی نفلي اوفرض صدقوټولودپاره استعمالیږي، چنانچه فرض صدقې دپاره په قرآن کریم کښې ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ اوپه دې آیت کښې ﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ﴾ اوپه نوروځایونو کښې هم استعمال شویدې، بلکه دقرطبی دتحقیق مطابق کله چه په قرآن کریم کښې لفظ دصدقې راشي اوهلته دنفلي صدقې مراداغستوهیڅ قرینه نه وي نوهم فرض صدقه به ترمرادوي، اودحدیثوپه روایتونو کښې دصدقې لفظ دهرنیک کاردپاره استعمال شویدې، لکه حدیث شریف کښې راغلي دي چه، یومسلمان سره په رونړ تندی ملاویدل هم صدقه ده، دپیټی خاوند سره پیټي پورته کول هم صدقه ده، خپل ځان دپاره دکوهی نه راوښکلې اوبه بل چاته ورکول هم صدقه ده،(٣) چنانچه په دې احادیثوکښې لفظ د صدقې په عامه معنی کښې مجازا استعمال شویدې،

وریسې دریم لفظ ﴿لِلْفُقَرَاءِ﴾ نه شروع دې، ددې په اول سرکښې لګیدلې لام دتخصیص [خاص کولو] معنی ورکوی، نودټولې جملې معنی به داشي چه ټولې صدقې یواځې ددې خلقوحق دې چه وریسې بیانیږي، [ادبل چاحق نه دې] دابیان شوی خلق [٨] اته قسمه دی،

① رومبی مصرف فقراء ② دویم مصرف مساکین دې، ددې دواړوپه اصلی معنی کښې اګرچه اختلاف دې چه دیومعنی بیخي نیستمن ده اودبل معنی دومره شتمن ده چه دغه شته [مال] ئې دنصاب اندازې ته نه رسی، لیکن دزکوة اداکولوحکم دواړودپار یوشان دې، هیڅ اختلاف پکښې نشته، مطلب دادې چه داصلي ضروریاتونه زیاتي دچامال دنصاب اندازې ته نه رسي نوهغه ته زکوة ورکولې شي، اوزکوة اغستل هم وردپاره روادي، په ضروریاتو کښې د استوګنې مقام، دعام استعمالولولوښي، د اغستو جامې او فرنیچروغیره ټول داخل دی، چا سره چه اوه نیمې تولې سره زر، دوه پنځوس نیمې تولې چاندي یاددې قیمت وی، هغه دپاره زکوة اغستل جائزنه دی اونه ورته زکوة ورکول جائزدی، داشان چاسره چه څه قدرې چاندی، څه نغدئیت اولږه شان سونا [سره زر] وی نوددې تولوقیمت که د دوه پنځوس تولوچاندئ قیمت ته رسیدونوداهم دنصاب خاونددې، ده ته زکوة ورکول اوزکوة اغستل ورله جائزنه دی، څوک چه دیونصاب مالک هم نه وی، مګرروغ، جوړاودګټې وټې کولوجوګه وی اودیوې ورځې دګذارې

١) القاموس المحیط: ج ٣، ص ٢٨٣
٢) مفردات القرآن للاصفهانی: ج ١، ص ٢٤٨
٣) شعب الإیمان للبیهقی رقم الحدیث: ٩٣٨٣

Scanned with Ca

خرڅ ورسره موجود وي، ده ته اګرچه زکوة ورکول روادي خو داورله جائزنه دي چه د خلقونه د سوال کوي، په دې کښې ډېرخلق بې پروائی کوي، داسې خلقولره سوال کول حرام دي، که په سوال کولوسره داسې کس څه بيامومي نوهغې ته رسول الله ﷺ د جهنم انګاره [ګروټکه] فرمائيلې ده، [ابوداؤد] په روايت د علی ﷺ، قرطبی] (۱)

حاصل دادې چه د زکوة اغستوحقدار فقيراومسکين [دواړه] دي يعنی مسلمان وی او ورسره د نصاب په اندازه يادې نه زيات مال د اصلی ضروورياتونه زياتی نه وی البته د وصيت په باره کښې فرق شته دې يعنی که چا د مسکينانو د پاره وصيت اوکړونو مال به ئې کوم قسم غريبانوته ورکولې شی اوکه د فقيرانو د پاره ئې وصيت اوکړونو د غه مال به ئې کوم قسم غريبانانوته ورکولې شي، چه د دې تفصيلی بيان دلته څه ضرورت نشته، په فقير او مسکين دواړو مصرفو کښې دا خبره مشترك ده چې چا ته مال د زکوة ورکولې کيږی چې هغه مسلمان وی او د حاجت اصلی څخه زيات د نصاب مالك نه وی.

اګرچه عام صدقات [خيراتونه] غيرمسلموته ورکولې شی لکه رسول الله ﷺ فرمائی: تصدقواعَلی أهلِ الأدْيَانِ كلِهاَ (۲) يعنی د هرمذهب خاوندته خيرات ورکوئ] خوفرض صدقه [زکوة] صرف مسلمانانو غريبانوته ورکول دي، څکه رسول الله ﷺ کله چه حضرت معاذ ﷺ يمن ته ليږلونوهغه وخت ئې ورته داهدايت کړې ووچه زکوة ديواځې غنيانومسلمانانونه اغستې شی اوهم مسلمانانوغريبانوته دورکولې شی، (۳) مطلب دا چه زکوة نه سوا، نوره هرقسم صدقه تردې چه صدقه د فطر [سرسايه] هم غير مسلم فقير [غريب] ته ورکول روا دی [هدايه] (۴)

اودويم شرط دادې چې پخپله مالك د نصاب نه وی نو د دې څخه پخپله د فقير او مسکين معنی واضح کيږی. په فقير او مسکين دواړو کښې دومره خبره مشترکه ده چې دوئ سره په قدر د نصاب مال موجود نه وی. د دې دواړو مصرفونو څخه ورستو د نورو شپږ مصرفونو بيان شوېدی چه په هغې کښې رومبې مصرف د عاملين مصرف دی.

دريم مصرف ﴿وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا﴾ دې، عاملين هغه خلق دی چه اسلامی حکومت د زکوة عشروغيره [خيراتونو] دراغونډولو د پاره مقرر کړې وی کوم چه خلقونه خيراتونه وصولوی اوپه بيت المال کښې ئې جمع کوی، نو د دې خلقوټول وخت په دې خدمت کښې تيريږی څکه د دوئ د ضروورياتوذمه دار اسلامی حکومت دې قرآن کريم د دوئ برخه هم د زکوة په مال کښې د دوئ د [حق الخدمت] په ډول مقرر کړيده.

د دې اصلی وجه داده چه الله ﷻ د مسلمانانو څخه د صدقاتو د وصولولو فريضه نيغ په نيغه د نبی کريم ﷺ په حواله کړې ده. چې د هغې ذکر هم د دې سورت کښې راتلونکی آيت مبارك دی چې [خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً] يعنی د مسلمانانو د مال څخه صدقه وصول کړئ. د دې آيت مبارك تفصيلی بيان راروان دې. دې ځائې کښې د دې وينا مطلب دادې چې د دې آيت مبارك تر مخه د مسلمانانو په امراء [حاکمانو] باندې دا فريضه لازم کيږی چې هغوئ زکوة او صدقات وصول

(۱) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۳۳۶، وصحيح مسلم. كتاب الزكاة. باب النهى عن المسئلة: ج ۱، ص ۳۳۳
(۲) مصنف ابن ابي شيبه رقم الحديث ۱۰۳۹۸، ونصب الراية: ج ۲، ص ۳۸۶
(۳) صحيح مسلم. كتاب الإيمان، باب الدعاء الى الشهادتين الخ: ج ۱، ص ۳۶
(۴) الهداية. كتاب الزكاة. فصل في العروض: ج ۱، ص ۱۱۲

Scanned with

کړي ، او دا ښکاره خبره ده چې امراؤ د خپلو کارکنانو د مدد څخه بغیر دا کار نشي کولی. هم ددې کارکنانو او مدد کوونکو ذکر په دې مذکوره آیت مبارك کښې په ﴿وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا﴾ الفاظو سره راغلي دې
په دې وجه نبی کریم ﷺ دیر صحابه کرام ﷺ عاملان جوړ کړي وو اود دې کار دپاره ئې مختلفو علاقوته د صدقاتو وصولولو دپاره لیږلي وو ، او ددې مذکوره آیت مبارك د هدایت مطابق یې د زکوة وصول شوی رقم څخه یې هغوئ ته ،حق الخدمت] ورکړیدې. او په هغوئ کښې هغه حضرات هم شامل وو چې مالدار وو . یو حدیث پاك کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه صدقه یوغني اومالدار دپاره اخستل حلال نه دی خوپنځو قسمو غنیانو دپاره حلال دی،
① هغه مجاهد چه په جهاد کښې مصروف وی اوهلته ورسره دضرورت په اندازه مال نه وی اگرچه په کورباندې مالداروی،
② دویم دصدقاتو عامل چه دصدقو راغونډولو په کارباندې مقرروی، ③ دریم هغه کس چه هغه سره مال شته خو د موجوده مال څخه زیات قرضدارې دې ④ څلورم هغه مالدار چه د صدقي مال د یوغریب نه په قیمت سره واخلی ، ⑤ پنځم هغه مالدار چه یوغریب ورته دصدقې مال په تحفه [ډالۍ] کښې ورکړی، [1]
پاتې شوه مسئله چې د زکاة عاملینوته به ددې څخه څومره رقم ورکولې شی، دهغې حکم دادې چه ددوئ دخوارئ اوعمل مطابق دې دوی ته حق الخدمت ورکړې شی [احکام القرآن جصاص، قرطبی] [2]
البته دا ضروری ده چه دعاملینو تنخواگانې د دنیم زکوة نه زیاتې نه وی، که بیت المال ته دومره زکوة وصول شوې وی چه که دهغې نه عاملینوته پوره پوره تنخواگانې ورکړې شی نونیم نه کم پاتې کیږی، په داسې صورت کښې به دهغوئ په تنخواگانو کښې کمې راوستې شی، د نیم څخه زیات رقم به نشی خرج کولې [تفسیرمظهری، ظهیریه] [3]
ددې بیان نه معلومه شوه چه د صدقې کارکنانوته دزکوة دمدنه چه کوم رقم ورکولې شی دادهغوئ خدمت معاوضه ده دصدقې اوزکوة په ډول نشی ورکولې، په دې وجه ددوئ غنی والې اومالداری پکښې خنډنه جوړیږی، په دې شان په دې [۸] اتومدونو کښې یواځې دوئ ته زکوة د زکوة په ډول نه، بلکه دخدمت په بدل کښې ورکولې شی حالانکه زکوة یواځې د غریبانو حق دې چه بې بدله به ورکولې شی، اوکه غریبوته دڅه خدمت په بدل کښې زکوة ورکړې شونوزکوة ئې اونشو،
دلته اوس دوه سوالونه داسې پیداکیږی چه ① د زکوة مال به د معاوضې په خدمت کښې څنګه ورکړې شو ② دویم دا چې د مالدار دپاره د زکوة دا مال څنګه حلال شوددې دواړو سوالونو هم یوجواب داسې دې چه د صدقې د عاملینو اصلی حیثیت دې معلوم کړې شی. هغه

[1]) سنن ابي داود، كتاب الزكاة، باب من يجوز له اخذ الصدقة ـــ الخ: ج ١، ص ٢٣١
[2]) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ٨، ص ١٧٧، وأحكام القرآن للجصاص، تفسير سورة براءة، فصل في وجوب الزكاة: ج ٤، ص ٣٠
[3]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٢٣٢

دا چې دا حضرات د فقیرانو یو قسم وکیلان دی. او دې تولو ته معلوم دی چې د وکیل قبضه د اصل مؤکل د قبضې په حکم کښې وی. که یو کس د خپل قرض وصولولو دپاره یو کس لره وکیل او مختار جوړ کړی، او قرضدار دا قرض وکیل ته حواله کړی، نو څنګه چې د وکیل په قبضه کښې راشی نو د قرضدار ذمه داری پوره شوه. نو کله چې عاملینو د زکوٰة رقم د فقیرانو دپاره وصول کړو نو دهغوئ زکوٰة ادا شو. اوس دا ټول رقم د فقیرانو ملکیت دی کوم چې ددوئ وکیلانو وصول کړې شو، اوس چې هغوئ ته کوم رقم د حق الخدمت ورکولې کیږی هغه د مالدارو د طرفه نه دې بلکه د فقیرانو د طرفه دې، او فقیرانو ته په دې کښې د پوره پوره تصرف اختیار دې، ددوئ دا هم حق دې چې کله ددې خلقو څخه کار اخلی نو د خپل رقم څخه هغوئ ته د خدمت معاوضه ورکوی.

اوس سوال دا پیدا کیږی چې فقیرانو خو هغوی خپل واکداران وکیلان نه دی جوړ کړی نو دوی د هغوئ وکیلان څنګه جوړشو؟ ددې وجه داده چې دیو اسلامی ملك سربراه چې ورته امیر وئیلې کیږی، هغه د الله ﷻ د طرفه قدرتی طور د ټول ملك د فقرانو وکیل وی، څکه چې ددې ټول د ضرورتونو ذمه داری په دهٔ باندې وی، د ملك امیر چې څوك هم د صدقاتو په وصولئ باندې مامور کړی هغه به ددې امیر نائبان وی او ددې فقیرانو وکیلان به وی.

ددې څخه معلومه شوه چې عاملین صدقات ته چې څه ورکړې شو هغه په اصل کښې زکوٰة نه دې، بلکه زکوٰة چې د کومو فقیرانو حق دې هغه دې عاملینو ته دخدمت په بدله کښې ورکړې شو، لکه څنګه چې یو غریب فقیر څوك د خپلې مقدمې وکیل جوړ کړی، او د هغه د خدمت بدله ددې حاصل شوی زکوٰة څخه ورکړې شی، نو دلته خو نه ورکوونکئ د زکوٰة په طور ورکوی او نه اخستونکئ د زکوٰة په طور اخلی.

فائده: ددې تفصیل څخه معلوم شو چې نن صبا د اسلامی ادارو، انجمنونو او مدرسو د مهتمینانو یا ددوئ دارخه چه کوم سفیران د صدقاتو اوخیراتونووصولولو دپاره لیږلې شی نوهغه دغریبانو وکیلان نشی جوړیدې، څکه ورته دعاملینو پشان د زکوٰة دمدنه تنخواګانې ورکول نه دی پکار، بلکه ضروری دی چه انجمنونه او ادارې ورته دخپله اړخه دنورومدونونه تنخواګانې ورکوی، ولې چه دغه سفیران وغیره په حقیقت کښې د زکوٰة اداکوونکونمائندګان اووکیلان داسې دی چه زکوٰة ددې حقدارانوته د ورکولو اختیار ورکړې شوې دې هم په دې وجه د هغوئ د قبضه کولو نه پس هم زکوٰة تر هغې پورې نه ادا کیږی چې تر څو چې دا حضرات هغه په مصرف باندې خرچ نه کړی.

د فقیرانو دوکیل نه کیدل خکه ښکاره کړی چې په حقیقی معنو کښې یو فقیر دې خپل وکیل نه وو جوړ کړې، او د امیر المؤمنین د طرفه دوئ د فقیرانو وکیل جوړیدې شی، خو هغه هم نشته دې، هرکله چه سفیرته داهیڅ حیثیت حاصل نه دې نوددوئ وصول کړې زکوٰة به داسې ګڼرلې شی چه د زکوٰة اداکوونکوپه قبضه کښې لاتر اوسه پورې دې.(۱)

۱) دا د مصنف قدس الله سره اولنی رائے وه بعد کښې تر دې نه مصنف رجوع رکړی وه، چه د هغې تفصیل او تحقیق: امداد المفتین (کتاب المتفرقات، رساله اماطة التشکیک فی اناطة الزکاة بالتملیک: ص ۸۸۳ تا ۸۹۶) کښې موجود دے.

Scanned with Ca

په دې معامله کښې ډېرې بې پروائي کولې شي، ډېرې ادارې وصول کړې زکوة په کلونو ځان سره ایږدي، او زکوة اداکوونکي داګڼړي چه زمونږ زکوة اداشو حالانکه ددوئ زکوة به هله اداکیږي چه په خپل مصرف کښې اولګولې شي،

دغه شان ډېرې ادارې خپلو سفیرانولره عاملین ګڼړي او د زکوة دمدڅخه تنخواګانې ورکوي، دا ډېرزیات بدیت لري، اوناروا هم دي.

يو بل سوال . په عبادت باندې اجرت اخستل: دلته يو سوال داراپورته کيږي چه دقرآن مجيد د اشارو او د رسول الله ﷺ داحاديثونه په ډاګه داخبره ثابته شوه چه په عبادت باندې اجرت او معاوضه اغستل حرام دي، د مسند احمد په حديث کښې په روايت دعبدالرحمن بن شبل منقول دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: إقراء والقرآن ولاتأكلوابه،(۱) [قرآن لولئ خودخوراک ذريعه ئې مه جوړئ] ځنې روايتونو کښې هغې معاوضې ته دجهنم ټوټه وئيلې شوې ده چه په قرآن کريم باندې واغستې شي،(۲) په دې بنادامت فقهاء په دې متفق دي چه په عبادتونو باندې اجرت اغستل ناروادي، او دابنکاره خبره ده چه دصدقاتو وصولولو کاريو ديني خدمت او عبادت دې چه رسول الله ﷺ ورته يو قسم جهاد وئيلې دي(۳) ځکه پراجرت اغستل حراميدل پکاررو، خو داآيت ښائي چه جائزبلکه دزکوة دلګولو په اتوځايونو کښې ئې يوځائ ګرځولې دې،

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کښې ليکلي دي چه په هغه عبادتونو باندې اجرت مطلقا حرام دي کوم چه فرض قطعي ياعين واجب وي ليکن ددې آيت له مخې په فرضِ کفايه عبادت باندې معاوضه اغستل جائزدي،(۴) فرض کفايه دې ته وائي چه په ټول امت ياپه ټوله علاقه، ښارفرض کړې شوي وي ليکن په ټولو باندې ئې اداکول لازم نه دي که ځنې خلق ئې اداکړي نودټولوغاړه خلاصه شي، که هيڅوک ئې ادانکړي نوټول به ګناهګاروي،

امام قرطبي رحمه الله فرمائيلي دي چه په امامت او خطابت باندې معاوضه اغستل ځکه جائز ثابتيږي چه داقطعي واجب نه بلکه کفائي واجب دي [انتهى](۵) همدغه حال دقرآن وحديث اود نوروديني علومو د تعليم ځکه دې چه داټول امت په ذمه فرض کفايه دې بعضې مسلمانان ئې چه اوکړي نودټولوغاړه پرخلاصه شي په دې وجه پرمعاوضه اوتنخواه اغستل هم جائزدي،

دزکوة دلګښت څلورم ځائ، مؤلفة القلوب، دي، داهغه خلق دي چه ددوئ دزړه ساتنې دپاره به ورته صدقې ورکولې شوې په عامه توګه دابيانولې شي چه په دوئ کښې درې څلور قسمه خلق شامل ووچه څه پکښې مسلمانان وواوڅه پکښې غيرمسلم وو، بياپه مسلمانانو کښې ځنې هغه خلق ووچه غريب حاجتمن هم وو اونوي مسلمانان شوي وو ددوئ زړه به په دې غرض ساتلې شوچه په اسلام باندې پاخه شي اوځنې په دوئ کښې مالدارهم ووچه مسلمانان شوي ووخو ايمان ئې په زړونو کښې ورننوتې نه وو، ځنې خلق داسې هم ووچه مسلمانان شوي لانه ووخو ددوئ دشرنه به دځان ساتلو په غرض ددوئ زړونه ساتلې شو، بعضې داسې خلق په

(۱) مسند أحمد رقم الحديث: ۳۹۸۶
(۲) كنز العمال رقم الحديث: ۲۸۶۸
(۳) سنن ابي داود، كتاب الخراج والامارة والفي، باب في السعاية على الصدقة: ج ۲، ص ۴۰۷
(۴) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۱۶۸
(۵) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۱۶۸

Scanned with Ca

تجربې سره معلوم شوي ووچه تبليغ اوتعليم پرهيڅ اثرنه کولو په جنګ اوسختئ کولوسره هم سميدونکي نه وو، احسان کولو اوښه سلوک کولوسره سميدلي شو، رحمة للعالمين ﷺ په دې پوهيدلوچه دالله تعالى مخلوق دکفردتيرونه راوباسي اودايمان نورته ئې راولي، دې دپاره هغوئ ﷺ هرجائز انتظام کولو کوم به چه په دغه خلقو اثرکولو، دا ټول قسمونه به په عامه توګه په [مؤلفة القلوب] کښې داخل ګڼړلي شو، کوم چه په آيت کښې دزکوة دلګښت څلورم ځائ ګرځولي شويدي،

د[مؤلفة القلوب] ټولو قسمونوته به درسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې، ديوخاص علت مصلحت اومقصد دپاره صدقات ورکولي شوچه بيان ئې په تفصيل سره اوکړې شو، نو دهغوئ ﷺ دوفات نه پس هرکله چه اسلام ته مادي قوت هم حاصل شو، دکفارودشرنه دبچ کيدو ياد نوؤ مسلمانانو په اسلام باندې دمضبوطولو دغې تدبيرونوضرورت هم پاتې نشونو دغه علت اومصلحت ختم شو، ځکه ددوئ برخه هم ختمه شوه، چه څنې فقهاؤ ﷺ ورته منسوخ وئيل دي، لکه چه فاروقِ اعظم ﷺ حسن بصري ﷺ شعبي ﷺ ابى حنيفه ﷺ مالک بن انس ته ئې چه نسبت شويدې،

څنې حضرات د[مؤلفة القلوب] برخه اوس هم منسوخه نه بولي بلکه دصديق اکبر ﷺ او فاروق اعظم ﷺ په زمانه کښې ددې د ساقطولو مطلب دادې چه دضرورت نه پاتې کيدو په وجې سره ددوئ برخه بنده کړې شوه، که بياضرورت پيښ شي نودابرخه ورکيدې شي، ځنګه چه دادامام زهري ﷺ قاضى عبد الوهاب ﷺ ابن عربى ﷺ امام شافعي ﷺ اوامام احمد مذهب دې، ليکن تحقيقي اوصحيح خبره داده چه غيرمسلموته دصدقاتوو غيره نه کله هم په هيڅ زمانه کښې برخه نه وه ورکړې شوې اونه هغوئ په [مؤلفة القلوب] کښې داخل دي کوم چه دصدقاتو دلګښت ځائ ګرځولې شويدى،

امام قرطبي ﷺ په خپل تفسيرکښې دهغې ټولو خلقونومونه په تفصيل سره شميرکړيدى د کومودزړونوساتلو دپاره چه ورته رسول الله ﷺ دصدقاتو دمدنه برخه ورکړيده اوددې ټولو دشميرلونه پس ئې فرمائيلي دي:

[وَبِالْجُمْلَةِ فَكُلُّهُمْ مُؤْمِنٌ وَلَمْ يَكُنْ فِيهِمْ كَافِرٌ، مطلب دا چه، مؤلفة القلوب، ټول دخيرمې مسلمانان وو هيڅ قسم کافران پکښې شامل نه وو، (۱)

دغه شان تفسيرمظهري کښې راغلي دي، لَمْ يَثْبُتْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَى أَحَدًا مِنَ الْكُفَّارِ لِلْإِيلَافِ شَيْئًا مِنَ الزَّكٰوةِ، يعني داخبره دهيڅ روايت نه نه ده ثابته شوې چه رسول الله ﷺ دچا کافردزړه ساتنې دپاره هغه ته دزکوة نه څه برخه ورکړې وي[۲] ددې تائيد، دکشاف ددې خبرې نه هم کيږي چه دزکوة دلګښت دا[۸] اته ځايونه دهغه کفارواومنافقانو داعتراض په جواب کښې په ګڼه کړې شويدى چه وئيل به ئې چه مونږته ولې په زکوة کښې برخه نشي راکولې، دې نه مقصد دا ښودل ووچه کافرپه مال دصدقو کښې هيڅ حق نه لري، (۳) که په، مؤلفة القلوب، کښې کافرهم داخل وې نوددې جواب ورکولو ضرورت نه وو،

۱) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۱۷۸ ته ۱۸۱ پورے
۲) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۲۳۵
۳) الكشاف تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۴۲۸

Scanned with Ca

تفسیر مظهری هغه مغالطه هم بنه په ډاګه کړیده کومه چه د حدیثو د بعضو روایتونو نه د خلقو رامخې ته شویده، هغه داسې چه رسول الله ﷺ صفوان بن امیه ته هغه وخت څه عطیات ورکړی وو کله چه لا مسلمان شوې نه وو خنګه چه د صحیح مسلم او ترمذی په روایتونو کښې راغلی دی،(۱) په دې باره کښې ئې د امام نووی په حواله سره لیکلی دی چه دا عطیات د زکوة د مال نه نه وو، بلکه د غزوة حنین د غنیمت د هغې پنځمې برخې نه ورکړې شوی وو کومه چه بیت المال کښې داخله شوې وه، چنانچه د بیت المال د دغې مد نه مسلم او غیر مسلم دواړو باندې خرج کول، په اتفاق د فقهاؤ سره روا دی، بیائې او فرمائیل چه امام بیهقی رحمه الله ابن سید الناس رحمه الله امام ابن کثیر رحمه الله وغیره هم تولو وئیلی دی چه د غه ورکړه د زکوة د مال نه نه وه بلکه د غنیمت د پنځمې برخې نه وه،(۲)

یوه لویه فائده: دې نه دا هم معلومه شوه چه پخپله د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې د صدقو مالونه به اګرچه په بیت المال کښې جمع کولې شو خو حساب ئې بیخی بیل وو، او د بیت المال د نورو مدونو حساب به بیل وو لکه د غنیمت د مال د پنځمې برخې یاد کانونو د پنځمې برخې، د غه شان د هریو د لګښت ځائ به هم جدا وو، خنګه چه فقهاؤ حضراتو په ډاګه د دې بیان کړیدې چه د اسلامی حکومت په بیت المال کښې څلور مدونه بیل بیل لرل پکار دی د دې باره کښې اصل حکم دادې چه د یو اخې خساب بیل بیل ساتل نه دی بلکه د هر یو مد بیت المال هم ځان ځانله څکه پکار دی چه پوره پوره احتیاط اوکړې شی، البته که څه وخت په یو خاص مد کښې کمی وی نو د بل مد نه د قرض په ډول خرج کولې شی، د بیت المال دغه مدونه دادی:

① اول خمس د غنائم، دا هغه مال دې چه کفارو سره په جنګ کښې ترلاسه کړې شوی وی، د دغې مال څلور برخې په مجاهدینو کښې د ویشلو نه پس پاتې پنځمه برخه د بیت المال حق جوړیږی، د غه شان د مختلف قسم قدرتی کانونو نه حاصل شوی څیزونه هم پنځمه برخه د بیت المال حق دې، چه، ② خمس معادن، ورته وئیلې شی، او ③ دریم خمس رکاز، د پخوانو پټو کړو خزانو نه برآمد شوی مال کښې هم پنځمه برخه د بیت المال حق کیږی، د دې درې واړو مد په بیت المال کښې هم یو دې،

② د بیت المال دویم مد د صدقاتو او خیراتونو دې، چه د مسلمانانو نه حاصل کړې زکوة، صدقه فطر [سرسایه] او د زمکو د فصل عشر وغیره داخل دی،

③ دریم مد د خراج او د مال فئی دې، دا هغه مال دې چه د غیر مسلمو د زمکو نه حاصل شوې خراج، د دوئ نه حاصله شوې جزیه، د دوئ نه حاصل شوی تجارتی تیکسونه او هغه ټول مالونه داخل دی چه د غیر مسلمونه په رضا، صلاح حاصل کړې شوی وی،

[څلورم مد د ضوائع دې، چه لاوارث مال، د لاوارث بنده میراث وغیره پکښې داخل دی د دې څلورو مدونو د لګښت ځایونه [مصرفونه] اګرچه بیل بیل دی خو په دې ټولو کښې د فقیرانو او مسکینانو حق ایښودې شوې دې، د دې نه اندازه لګیدې شی چه په اسلامی حکومت کښې د دې

(۱) صحیح مسلم، کتاب الفضائل، باب فی سخاوته صلی الله علیه وسلم الخ: ج ۱، ص ۲۵۳، وجامع الترمذی، أبواب الزکاة، باب ما جاء فی اعطائه ـــــ الخ: ج ۱، ص ۸۳
(۲) التفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۲۳۵، ۲۳۶

Scanned with Ca

کمزورو خلقو دقوي کولو څومره خیال ساتلې شوې دې چه په حقیقت کښې د اسلامي حکومت یو خصوصي نشاني ده، ځکه چه د دنیا په عامو نظامونو کښې هم یوه خاص طبقه ترقي کوي، غریبو خلقو ته په خپلو خپو د اودریدو موقعه نشي ورکولې ځکه خو د دې په نتیجه کښې اشتراک او کمیونزم را پیدا شو چه د فطرت خلاف د اسې یو نظام دې چه مثال ئې د اسې جوړیږي، د باران نه تښتیدم د ناوے لاندې مې شپه شوه، او د انساني اخلاقو د پاره زهر قاتل جوړیږي،

خلاصه دا شوه چه په اسلامي حکومت کښې څلور بیت المالونه بیل بیل د څلورو مدونو د پاره تاکلې شویدي، په دې څلورو واړو کښې د فقیرانو او مسکینانو حقونه ایښوې شویدي، په دې کښې د دریو رومبو مدونو مصارف [د لګښت ځایونه] پخپله په تفصیل سره قرآن کریم تاکلي دي چه په دې شان دي، ① د رومبي مد [د خمس غنائم] مصارف په سورت انفال کښې د لسمې سپارې په اول سر کښې بیان شویدي، ② د دویم مد [یعني د صدقاتو] مصارف [د لګښت ځایونه] د سورت توبه په دې شپیتم آیت کښې بیان شویدي چه اوس پر تفصیلي بحث لګیادې کیږي، ③ دریم مد د هغه مال دې چه په اصطلاح کښې ورته مال فئی وئیلې شي، د دې بیان په سورت حشر کښې په تفصیل سره راغلې دې او د اسلامي حکومت اکثر مدونه لکه فوځي اخراجات او د حکومت د نوکرانو تنخواګانې وغیره، هم د دې مدنه پوره کولې شي، ④ څلورم مد [یعني لاوارثه مال] د رسول الله ﷺ د هدایاتو او د خلفائي راشدینو د عملي کاروایانو مطابق شلو، ګډو او لاوارثه ماشومانو د پاره مخصوص دې [شامي، کتاب الزکوة] [1]

د کلام خلاصه دا ده چه فقهاؤ د بیت المال د څلورو واړو مدونو په بیلو بیلو ځایونو کښې د لګښت چه کوم هدایتونه ورکړیدي دا ټول د قرآن کریم، د رسول الله ﷺ نه او د خلفائي راشدینو د کاروایانو نه په ډاګه ثابت دي.

د دې ضمني فائدې نه پس بیاد، مؤلفة القلوب، په اصلي مسئله باندې ځان پوه کړئ، چه په تیر شوي بیان کښې د تحقیق کوونکو محدثینو او د فقهاؤ د ډاګیز و خبرونه دا ثابت شویدي چه، مؤلفة القلوب، برخه چرې هم، کافرته نه ده ورکړې شوې، نه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې، نه د خلفائ راشدینو رحمهم الله په زمانه کښې. کوم غیر مسلموته چه څه ورکول ثابت دي هغه د صدقاتو [خیراتونو] او زکوة د مدنه نه دي ورکړې شوي بلکه د غنیمت د خمس نه ورکړې شویدي، ځکه چه د دې مدنه هر قسم حاجتمندته ورکولې شي چه مسلم او غیر مسلم د واړه پکښې برابر دي، په دې بنا به، مؤلفة القلوب، یوا ځې مسلمان ګیدې شي البته په دې باندې د ټول امت اتفاق دې چه د فقیرانو غیر مسلمو برخه په خپل ځائ هم هغه شان پاتې ده د اختلاف صورت هله را پیدا کیږي کله چه دوئ غنیان، د نصاب خاوندان وي، چنانچه امام شافعي رحمه الله امام احمد رحمه الله فرمائي چه په مؤلفة القلوب کښې غنیان او د نصاب خاوندان غیر مسلم هم داخل دي ځکه چه د دوئ په نزد، د زکوة په ټولو مصرفونو کښې [د لګښت په ځایونو] کښې فقیري او حاجتمندي شرط نه ده، لیکن د امام اعظم ابی حنیفه رحمه الله او د امام مالک رحمه الله په نزد د عاملین صدقه [د صدقاتو] خیراتونو په محکمه کښې د کار کوونکو] نه علاوه نورو ټولو مصرفونو د پاره فقیري او حاجتمندي شرط ده، په دې بناد [مؤلفة القلوب، برخه هم غیر مسلموته په دې شرط ورکولې

[1]) الشامیة، کتاب الزکاة، باب المصرف، مطلب في بیان بیوت المال ومصارفها: ج ۲، ص ۳۳۳

Scanned with Ca

شي چه هغوئ فقيران او حاجت مند دی، لکه غارمين، رقاب، ابن سبيل وغيره تولوته چه په دې شرط زکوة ورکولې شي چه دوئ په دغه موقعه حاجتمند وی اګرچه په خپل کورکلی بانډې مالدار وی،

ددې تحقيق نتيجه دا راؤوته چه د، مؤلفة القلوب، برخه دڅلورو واړو امامانو په نزد منسوخ نه ده، البته ځينې امامان پکښې دمصرف د[لګښت دځائ] دفقيرئ او حاجتمندئ شرط لګوی او ځوک ئې نه لګوی [تفسير مظهری] (۱)

ترد ې پورې دصدقاتو اتو په مصرفونو کښې د څلورو مصرفونو بيان شو دې ددې څلورو تقسيمونو حقوق تر حر لام لاندې راؤړلې شوی دی [﴿لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ﴾ په اول سربانډې لام داخل کړې شويدې او نورددې لاندې [يعنی په دې بناعطف] راؤړې شويدی، يعنی العالمين او مؤلفه القلوب وروسې څلورمصرفونه په، فی، راؤړلو سره ياد [فی] لاندې بيان کړې شويدی لکه ﴿وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ﴾ په تفسير کشاف کښې زمخشری ددې وجه دابيان کړيده چه په دې سره دااشاره کول دی چه دا آخری څلوردڅلورو ړومبنو په نسبت زيات مستحق دی، ولې چه، فی، دظرفيت دپاره استعمالولې شی او په دې بنا، ئې معنی دا راووځی چه صدقات [خيراتونه] ددې خلقو کښې دننه کيښودلې شی، ځکه چه د زياتې ضرورتمندئ له کبله دوئ زيات حقداردئ، چنانچه دعامو فقيرانو په نسبت غلام انسان په زيات تکليف کښې وی، دغه شان قرضه داربنده ته زيات تکليف ځکه وی چه قرضخواهان تر قرض غواړی دخپلو ضروریاتونه علاوه ورسره بل فکر د قرضخواهانو هم وی،

په دې روستو څلورو کښې دټولونه وړاند [فی الرقاب] راؤړې شويدې، رقاب درَقَبَةٌ جمع ده ددې معنی ګردن [څټ] ده، په عرف کښې رقبه هغه انسان ته وئيلې شی چه څټ ئې دچاغلامئ کښې ګيروی،

دلته درقاب نه په مرادا غستلو کښې دفقهاؤ اختلاف دې، جمهور فقهاء او محدثين تر هغه غلامان مرادا خلی چه مالکانو ورته څه مال مقرر کړې وی چه دهغې په برابرولو سره به ئې آزادوی کوم ته چه دقرآن او سنت په اصطلاح کښې مکاتب وئيلې شی، داسې غلام ته دهغه مالک، دااجازت ورکړی چه دتجارت يا د خوارئ مزدورئ په ذريعه دمال ګټې او مالک ته د ئې ورکوی، نو په آيت کښې به درقاب نه مراددا شی چې داسې کس دزکوة دمدنه په برخې ورکولو سره دهغه په آزادولو کښې امداد کولې شی،

په دې صورت کښې خود ټولو مفسرينو او فقهاؤ اتفاق دې چه دزکوة نه په برخې ورکولو سره دهغه دآزادولو انتظام کولې شی البته په هغه صورت کښې اختلاف دې چه غلامان دآزادولو په غرض دزکوة په مال بانډې خريد کولې شی يا ديو غلام مالک ته دزکوة دمال په ورکولو سره دهغه دآزادولو په وعده تراغستې شی؟ چنانچه جمهور امامان رحمه الله ابو حنيفه رحمه الله شافعی رحمه الله احمد بن حنبل رحمه الله وغيره داسې کول جائز نه بولی، او ديو روايت له مخه امام مالک رحمه الله هم په دې کښې دجمهورو ملګرې دې او ﴿وَفِي الرِّقَابِ﴾ نه خاص مکاتب غلامان مرادا خلی، ديو بل روايت له مخه امام مالک رحمه الله د ﴿وَفِي الرِّقَابِ﴾ نه مراد دغلامانو آزادولو ټول صورتونه اخلی چه

---

(۱) التفسير المظهری تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۳۵

Scanned with Ca

جائزئې بولي. [احكام القرآن ابن عربي مالكي] (۱)

جمهور امامان او فقهاء دا صورت ځکه روانه بولي چه دې کښې فقهي اشکال دا دې چه د زکوة په مال سره دا غستلي شوي غلام په آزادولو باندې د صدقې اطلاق ځکه نشي کيدې چې صدقه هغه مال ته وئيلې شي چې يو مستحق ته بغير د څه معاوضې ورکړې شي، مالک د زکوة مستحق نه دې کوم چه د دغه غلام قيمت وصول کړو او نه بې بدله شو، د زکوة مستحق خو غلام وو چه ورته زکوة ورنکړې شو، دا بيله خبره ده چه د دغې رقم فائده هم غلام ته اورسيده چه د آزاديد و صورت ئې جوړ شو خو آزادول ئې د صدقې [زکوة] په تعريف کښې نه راځي، د لته حقيقي معنی پريښول او بې ضرورته مجازي معنی د صدقې اغستل [يعني د غلام آزادول] څه جوازنه لري ولې چه په هر آيت کښې هم د صدقو مصرفونه بيانولې شي، نو د ﴿وَفِي الرِّقَابِ﴾ اطلاق به په داسې ځيزنشي کيدې په کوم باندې چه د صدقې تعريف نشي صادقيدې. که دا رقم پخپله غلام ته ورکړې شي بيا هم د هغه ځکه نشي کيدې چه د غلام هيڅ ملك نه وي، هغه په خپله د مالک مال جوړيږي، بيا آزادول او نه آزادول ئې هم د هغه په اختيار کښې نه پاتې کيږي. هر کله چه دا فقهي اشکال راپورته کيدو ځکه جمهورو امامانو او فقهاؤ فرمائيلي دي چه د ﴿وَفِي الرِّقَابِ﴾ نه مراد يواځې مکاتب غلام دې، دې نه دا هم معلومه شوه چه د صدقې دا دا کولو د پاره شرط دا دې چه د يو مستحق په قبضه کښې را وستو سره ئې هغه مالک جوړ کړې شي، ورنه زکوة به نه ادا کيږي.

شپږم مصرف [دلګښت ځاۍ] ﴿الْغَارِمِينَ﴾ دې، داد، غارم، جمع ده، معنی ئې قرضدارده، دا روميې وئيلې شوي وو چه پنځم او شپږم مصرف چه په حرف د فې، سره بيان شوي دي، داد وړاندينو څلورو مصرفونو نه زياته حقدارې لري، په دې بناد غلام د آزادولو د پاره ورکول ياد قرض د خلاصولو د پاره ورکول عامو فقيرانو او مسکينانو ته د ورکولو نه زيات غوره دي خو شرط دا دې چه د قرضدار سره دومره مال نه وي چه په هغې سره قرض ادا کړې شي ځکه چه، غارم، په لغت کښې هم د غسې قضدار ته وئيلې شي او ځنې فقهاؤ او امامانو دا شرط هم لګولې دې چه دغه قرض ئې څه ناجائز کار د پاره نه وي اغستې او که د څه ګناه د پاره ئې قرض اغستې وو لکه شرابو وغيره يا د غم ښادئ د ناجائزو رسمونو وغيره د پاره، نو داسې قرضدار ته به د زکوة د مدنه نشي ورکولې ځکه چه په ګناه او اسراف کښې ئې بې ځايه ملاتړ اونشي.

اوم مصرف [دلګښت ځاۍ] ﴿فِي سَبِيلِ اللهِ﴾ دې، د لته بيا په اول سر کښې، فې، راوړې شو، تفسير کشاف د دې، فې، بيارا وړلو وجه دا بيان کړې ده چه دې سره دا اشاره کول منظور دي چه دا مصرف د ټولو مصرفونو نه زيات غوره (۲) ځکه دې چه دې کښې دوه فائدې دي، يو دخوار، غريب امداد کول دي او بل يو ديني خدمت کښې لاس کول دي.

ځکه چې د ﴿فِي سَبِيلِ اللهِ﴾ نه هغه غازي او مجاهد مراد دې چه وسلې او د جنګ ضروري سامان اغستو [خريد کولو] د پاره ورسره مال نه وي، يا هغه کس مراد دې چه يو خل ئې په ذمه حج فرض شوي وي خو ورسره اوس دومره مال نه وي پاتې شوې چه د غه فرض شوې حج پر اوس ادا کړې شي، دا دواړه کارونه خالص ديني خدمت او عبادت دې، نو په دې کښې د زکوة مال لګول د

(۱) أحكام القرآن لابن العربي تفسير سورة التوبة: ج ۲، ص ۳۳۱
(۲) تفسير الكشاف تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۲۳۸

یوغریب مسکین امدادکول هم دی او په عبادت اداکولو کښې امدادکول هم دی، دغه شان فقهاؤ دینی طالب علمان هم په دې کښې شامل کړیدی چه په دوئ باندې لګول هم په عبادت باندې لګول دی [روح په حواله دمظهری] (۱)

اوصاحب دبدائع فرمائیلی دی چه هرهغه څوک چې یونیک کاریاعبادت کول غواړی او دهغې په اداکولو کښې دمال ضرورت وی هغه هم په "فی سبیل الله" کښې داخل دې، خوشرط دادې چه دومره ورسره نه وی چه په هغې سره دغه کارپوره کولې شی، (۲) لکه دینی تعلیم اوتبلیغ او ددې خورول اوعام کول که څوک دزکوة مستحق داکارکول غواړی نو دهغه امداد دزکوة دمال نه کولې شی خودغسې یومالدار او دنصاب خاوندته به نشی ورکولې،

دې تفصیل نه معلوم شوچه کوم کوم صورتونه د "فی سبیل الله" جوړیدې شی په هغې ټولو کښې به دفقیرئ اوحاجتمندئ دشرط خیال ساتلې شی، یومالدار دنصاب خاوندته به په دې مدکښې هم برخه نشی ورکولې سوا ددې څخه چه دده موجوده مال ئې دغه ضرورت نشی پوره کولې کوم چه دجهاداویادحج په سلسله کښې ورته راپیښ دې، نواګرچه دنصاب په اندازه ورسره دمال دموجودګئ په وجه ورته غنی وئیلې شی لکه په یوحدیث کښې چه ورته غنی وئیلې شویدې مګرپه دې لحاظ سره فقیراوحاجتمند حسابیږی چه موجوده مال ئې ضرورت نشی پوره کولې، په فتح القدیر کښې شیخ ابن همام رحمه الله فرمائیلی دی چه دصدقاتو په آیت کښې چه څومره مصرفونه بیان کړې شویدی په هغې کښې دهریومصرف الفاظ په دې دلالت کوی چه هغه دفقیرئ اوحاجتمندئ له کبله مستحق دی (۳) چنانچه دفقیراومسکین په لفظ کښې خوداښکاره دی، درقاب، غارمین فی سبیل الله اوداِبن سبیل الفاظ هم دې ته اشاره کوی چه داقسم خلق دحاجتمندئ په بناددې مستحق جوړیږی، البته عاملینوته دخدمت په عوضانه کښې ورکولې شی، څکه پکښې غنی اوفقیربرابردی لکه دغارمین په مصرف کښې بیان کړې شویدی چه دچاپه ذمه چه لس زره روپئ قرض دی اوپنځه زره روپئ ورسره موجود دی نوهغه ته د پنځو زرو روپوپه اندازه زکوة ورکولې شی چه دده سره موجود مال دقرضدارئ له کبله په نیشت حسابیږی،

خبرداری: د "فی سبیل الله" دلفظ معنی ډیره عامه داسې ده چه دې کښې ټول هغه کارونه داخل دی کوم چه دالله تعالی درضادپاره کولې شی، کوم خلق چه دقرآن تفسیر، ددې بیان اود تفسیر داماماتو ارشادات په لحاظ کښې نه ساتی اوخالص دقرآن کریم لفظی ترجمه په خپل خیال کښې کافی ګڼړی داسې خلق دلته په [سبیل الله] کښې سخته غلطی داسې کوی چه ټول هغه کارونه دزکوة په مصرف کښې داخلوی چه په څه حیثیت سره نیکی یاعبادت وی مثلاً جوماتونه، مدرسې، شفاخانې، مسافرخانې وغیره آبادول، کوهی، پلونه اوسړکونه جوړول اود هغه رفاهی اداروملازمینو تنخواګانې اوټول دفتری ضروریات ټول په فی سبیل الله کښې داخلولوسره دزکوة مصرف حسابوی چه بیخی غلط اوداجماع امت نه خلاف دی، صحابه کرامو رضی الله عنهم چاچه قرآن کریم نیغ په نیغه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه لوستې دې اوځان ئې پرېوه کړیدې دهغوئ رضی الله عنهم اود

(۱) روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۷، ص ۲۷۱
(۲) بدائع الصنائع، کتاب الزکاة، فصل وأما الذی ترجع الی المؤدی الیه الخ: ج ۲، ص ۴۵
(۳) تفصیل دپاره اوګورئ: فتح القدیر، کتاب الزکاة، باب من یجوز دفع الصدقة الیه ومن لا یجوز: ج ۲، ص ۲۶۱ تا ۲۷۳

تابعینو امامانو رحمهم الله خومره تفسیرونه چه ددې لفظ په باره کښې منقول دی په هغې ټولو کښې دا لفظ [دفی سبیل الله] دحاجیانو او مجاهدینو دپاره مخصوص ګرځولی شویدي،

په یو حدیث کښې راغلی دی چه یو سړي یو اوښ، فی سبیل الله، وقف کړې وو، رسول الله ﷺ هغه ته او فرمائیل چه دا اوښ دحاجیانو دسفر دپاره استعمالوه [مبسوط سرخسی ص ۱۰ ج ۳]

امام ابن جریر، ابن کثیر چه دقرآن کریم تفسیر په پابندئ سره دحدیث په روایتونو سره کوی دې ټولو د، فی سبیل الله، مصرف داسې مجاهدینو او حاجیانو دپاره مخصوص کړیدې چه ورسره دجهاد یا حج سامان نه وی،(۱) او کومو فقهاؤ چه دینی طالب علمان یا نورنیک کار کوونکی په دې کښې شامل کړیدی نو شرط ئې ورسره دا ایښې دې چه دوئ فقیران او حاجتمن وی لیکن دا ښکاره خبره ده چې ددې څه ضرورت څکه نشته چه فقیران او حاجتمن خلق هسې هم په ډاګه باندې دزکوة رومبنی مصرفونه ګرځولی شویدی که دوئ فی سبیل الله کښې نه وی شامل کړې شوی بیا هم د زکوة مستحق وو البته په څلورو وارو امامانو کښې یو هم درفاه عام ادارې، جوماتونه او مدرسې آبادول او ددې ټول ضروریات دزکوة په مصرف کښې داخل نه دی منلی بلکه په ډاګه ئې فرمائیلی دی چه دزکوة مال په دې څیزونو کښې خرچ کول جائز نه دی، دحنفی فقهاؤ څخه شمس الائمه سرخسی رحمه الله په مبسوط (۲) او په شرح سیر (۳) کښې او دشافعی رحمه الله فقهاؤ څخه ابو عبید رحمه الله په کتاب الاموال کښې، او دمالکی فقهاؤ څخه دردیر رحمه الله په شرح مختصر خلیل (۴) کښې او دحنبلی فقهاؤ څخه مؤفق رحمه الله په مغنی کښې دې لره په پوره تفصیل سره لیکلی دی،

دتفسیر امامانو او دامت فقهاؤ ددغې بیان شوؤ ډاګیزو خبرونه علاوه که په یوه خبره هم غور او کړې شی نو په دې مسئله باندې ځان پوهولو دپاره بیخی کافی ده هغه دا چه که دزکوة په مسئله کښې دومره عموم وې چه په ټولو عبادتونو او په هر قسم نیکیانو کښې خرچ کول پکښې هم داخل وې نو بیا په قرآن کریم کښې د اتو مصرفونو بیان [معاذالله] بې مطلبه دې، او د رسول کریم ﷺ هغه ارشاد دکوم له مخه ئې چه داسې اوفرمائیل: الله تعالی دصدقاتو د مصرفونو ټاکل هم پیغمبر ﷺ ته اونه سپارل بلکه پخپله ئې ددې [۸] اته مصرفونه او ټاکل.(۵)

که د، فی سبیل الله، په مفهوم کښې ټول عبادتونه او نیکئ داخلې وې چه په هر یو کښې دزکوة مال خرچ کیدې شوې نو معاذ الله دا ارشاد نبوی ﷺ به بالکل غلط وو، دې بیان نه ثابته شوه چه د، فی سبیل الله، لغوی ترجمې نه چه ناواقفو خلقوته کوم مطلب په خیال کښې راځی، هغه دالله تعالی مراد نه دې بلکه ددې مراد یواځې هغه کیدې شی چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو بیان کړیدې،

اتم مصرف، ابن سبیل، دې، د سبیل معنی لاره ده، ابن په اصل کښې دځوئ معنی ورکوی لیکن په عربی محاورو کښې ابن، اب، او اخ، وغیره دهغه څیزونو دپاره هم استعمالولې شی چه

---

۱) مزید تفصیل دپاره اوګورئ: تفسیر الطبری رقم الحدیث: ۱۶۸۶۱ تا ۱۶۸۶۸ و تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۳۶۹

۲) مبسوط: ج ۲، ص ۲۰۲

۳) شرح سیر: ج ۴، ص ۲۴۴

۴) شرح مختصر الخلیل: ج ۱، ص ۴۱۱

۵) سنن ابی داود، کتاب الزکاة، باب من یعطی من الصدقة الخ: ج ۱، ص ۲۳۹

په د څيزسره ئې ژور تعلق وی، ددې محاوري مطابق، ابن سبيل، لاروی او مسافر ته ځکه وئيلې شی چه دده زيات تعلق لارې مزل غوځولو او منزل مقصود ته رسيد وسره وی، چنانچه دزکوة په مصرفونو کښې ددې نه مراد هغه مسافردې چه ورسره په سفر کښې دخپلو ضرورتونو په جوړ مال نه وی، اګرچه په وطن، کور، کلی باندې هغه غنی او مالدار وی، داسې مسافر ته دزکوة مال ځکه ورکولې شی چه هغه ورسره دسفر خپل ضروريات پوره کړی او خپل وطن ته واپس لاړ شی،
تردې پورې دهغه اتو مصرفونو بيان پوره شو کوم چه دزکوة او دنورو صدقو [خيراتونو] دپاره ټاکلې شوی وو اوس داسې څه مسئلې بيانولې شی چه تعلق ئې دې ټولو مصرفونو سره يو شان دې،

دتمليک مسئله: جمهور فقهاء په دې خبره اتفاق لري چه دزکوة په ټاکلی مصرفونو کښې د لګولو يو شرط دا هم دې چه په دې باندې مستحق بنده ته مالکانه قبضه ورکړې شی، هر کله چه دغسې مالکانه قبضه ورنکړې شوه نو که هرڅومره دمستحقو خلقو په فائده او خير ښيګړه باندې خرچ کړې شو، زکوة ئې نه اداکيږی په دې بنا څلور واړو امامان او دامت جمهور فقهاء په دې اتفاق لري چه دزکوة مال په جوماتونو، مدرسو، شفاخانو او ديتيم خانو په آبادولو يا ددې په نورو ضرورياتو پوره کولو او لګولې شی، نو دا جائزنه دی او زکوة ئې ادانه شو، اګرچه دې سره فقيرانو او هغه خلقو ته فائده اورسی کوم چه دزکوة اغستو مستحق دی،
البته په يتيم خانو کښې چه ديتيمانو کړې خوراکه وغيره که په مالکانه حيثيت سره ورکړې شی نو يواځې ددغې خرچ ترحده پورې دزکوة مال خرچ کيدې شی دغه شان په شفاخانو کښې چه کوم دارو درمل [دواء] حاجتمند وغريبانو ته په مالکانه حيثيت سره ورکړې شی نو دهغې قيمت دزکوة په مال کښې حسابولې شی، دغه شان دامت فقهاؤ ښه په ډاګه دا وئيلی دی چه دلاوارثه مړی کفن دزکوة په مال کښې نشی حسابيدې، ولې چه مړې مالک جوړيدې نشی، البته داسې کيدې شی چه دزکوة څه مال يو مستحق غريب ته ورکړې شی او هغه په خپلې خوښئ سره دغه مال دلاوارثه مړی په کفن باندې اولګوی، دغه شان دمړی دقرض اداکولو په سلسله کښې نيغ په نيغه دزکوة مال نشی لګولې البته ددغه مړی مستحقو وارثانو ته چه دزکوة مال ورکړې شی نو وارثان ددې په مالک ګرځيدو سره ددغه مړی قرض اداکولې شی، دغه شان دعوامی فائدو ټول کارونه لکه کوهې، پل يا سړک وغيره جوړول دزکوة په مال سره جائزنه دی، اګرچه ددې فائده دزکوة حقدارانو ته هم رسی خو هر کله چه دې کښې مالکانه قبضه دمستحق رانغله نو زکوة ادانه شو،
په دې مسئلو کښې څلور واړه مجتهدين امامان ابوحنيفه رحمه الله شافعی رحمه الله مالک رحمه الله احمد بن حنبل رحمه الله او دامت جمهور فقهاء اتفاق لري، شمس الائمه سرخسی رحمه الله دامسئله دامام محمد رحمه الله دکتابونو په شرح مبسوط او شرح سير کښې پوره تحقيق او تفصيل سره ليکلی دی[۱] اود شافعی رحمه الله مالکی رحمه الله حنبلی رحمه الله په عامو کتابونو کښې دامسئله ښه په ډاګه بيان شويده،
يو شافعی فقيه، امام ابوعبيد رحمه الله په کتاب الاموال، کښې ليکلی دی چه دمړی دا رڅه دده دقرض په اداکولو يادده ددفن په اخراجاتو او دجوماتو په تعمير باندې يادنهر په جوړولو وغيره باندې دزکوة مال خرچ کول جائز ځکه نه دی چه سفيان ثوری رحمه الله او ټول امامان رحمه الله په دې

۱) مبسوط للامام سرخسی، کتاب الزکاة، ج ۳، ص ۳۲۷

Scanned with Ca

اتفاق لري چه په داسې خرچ کولو سره زکوة نشي اداکيدې ولې چه دادهغواتو مصرفونوځنې نه دی چه بيان ئې په قرآن کريم کښې راغلې دې،

دغه شان حنبلي فقيه موفق رحمه الله په مغني کښې ليکلي دي چه قرآن کريم کوم مصرفونه بيان کړيدي دهغې نه سوا په بل څه نيک کارکښې دزکوة مال خرچ کول جائزنه دی مثلاً دجوماتونو پلونواوداوبو دسبيلونوپه جوړولو يادسړکونوپه درست کولو يادمړی په کفن باندې دلګولويا دميلمنوپه خوراک، څکاک وغيره باندې لګولوسره زکوة نه اداکيږی اګرچه دثواب کارونه خودی مګردصدقو، [خيراتونوزکاتونو] په مصرفونوکښې شامل نه دی،[1]

په بدائع کښې ملک العلماء رحمه الله دزکوة داداکولودپاره دتمليک دشرط لګولودادليل بيان کړيدې چه عموماقرآن کريم دواجبوصدقواودزکوة اداکول په لفظ د، ايتاء، سره بيان کړيدی لکه فرمائی ﴿اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ﴾ ﴿وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ﴾ [﴿وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ﴾ ﴿وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ﴾ وغيره،[2] اولفظ د، ايتاء، په لغت کښې د، عطا[ورکولو] معنی ورکوی امام راغب اصفهانی رحمه الله په مفردات القران کښې فرمائی چې [والايتاء الاعطاء وخص وضع الصدقة في القرآن بالايتاء] يعنی دايتاء معنی ورکول ده ، او قرآن کريم دواجب صدقې اداکول په، ايتاء، سره مخصوص کړيدی[3] چه مفهوم حقيقی ئې هم دادې چه څوک مستحق بنده ددغې مال مالک جوړ کړيشی. دغه شان په نوروځايونوکښې هم قرآن کريم، لفظ د، ايتاء، لره دمالک جوړولودپاره راوړيدې مثلاً ﴿وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ﴾ ښځوته په ښه زړه ددوئ مهرونه ورکوئ! ښکاره خبره ده چه مهراداکول هله منلې شی چه دمهرپه مال باندې ښځې ته مالکانه قبضه ورکړې شی،

دويمه داچه قرآن کريم کښې دزکوة نه دصدقې په لفظ سره تعبيرکړې شويدې لکه فرمائی ﴿اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ﴾ اودصدقې حقيقی معنی داده چه څوک فقير، حاجتمن ددې مالک جوړ کړيشی چاباندې روټئ خورول يادعوامی فائدوپه کارونوکښې مال لګول، دحقيقی معنی په اعتبار سره صدقه نشی بللې، شيخ ابن همام رحمه الله په فتح القديرکښې ليکلي دي چه دصدقې حقيقت همدغه دې، چه يوفقيرددې مال مالک جوړکړيشی،[4] دغه شان امام جصاص په احکام القرآن کښې فرمائيلی دی چه دلفظ دصدقې دتمليک نوم دې، [جصاص ص ۱۵۲ ج ۲]

دزکوة په باره کښې څو نورې ضروري مسئلې! مسئله په صحيح حديث کښې راغلی دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ رضي الله عنه ته دصدقووصولوپه باره کښې داهدايت ورکړې وو چه، خُذْهَا مِنْ اَغْنِيَائِهِمْ وَرُدَّهَا فِي فُقَرَائِهِمْ، [صدقې دمسلمانانوغنيانونه اخله اوهم ددوئ په فقيرانوئې لګوه[5] په دې بنا فقهاؤ فرمائيلی دی چه بې ضرورته ديوې علاقې ياښارزکوة بلې علاقې يا ښارته اوړل دنشي کولې بلکه هم ددغې علاقې يا ښار فقيران، ددې زيات حقداردی، البته که دچا نزدې

---

[1]) المغني، كتاب الزكاة، مسألة وفصل تحديد مصرف الزكاة الخ: ج ۲، ص ۵۲۵
[2]) بدائع الصنائع، كتاب الكفارات، فصل وأما شرائط جواز كل نوع الخ: ج ۵، ص ۱۰۱
[3]) مفردات القرآن للأصفهاني: ج ۱۰، ص ۹
[4]) فتح القدير، كتاب الزكاة، باب من يجوز دفع الصدقة: ج ۲، ص ۲۸۵
[5]) صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب الدعاء الى الشهادتين: ج ۱، ص ۳۶

خپلوان عزیزان غریبانان وی او هغوئ په یو بل ښار کښې وی نو خپل زکوة هغوئ ته ورلیږلې شی ځکه چه رسول الله ﷺ د دې ثواب دوچنده بیان کړیدې،[1]

داشان که دیوې بلې علاقې د خلقو فقیری، لوږه او ضرورت د خپل ښار نه زیات چاته ښکاریدو نو بیا هم هلته زکوة لیږلې شی، ولې چه د صدقو ورکولو مقصد، د فقیرانو حاجتونه پوره کول دی، چنانچه حضرت معاذ ﷺ به دیمن په صدقو کښې کپړې، جامې په دې غرض زیاتې اغستې چه مهاجرینو فقیرانو د پاره ئې مدینې منورې ته اولیږی، [قرطبی په حواله د دارقطنی][2]

که یو کس یو ځائ کښې اوسیږی او مال ئې بل ځائ کښې وی نو د دې استوګنې لره اعتبار دې یعنی زکوة ورکول به هلته کوی چرته چه پخپله اوسیږی ولې چه د زکوة ورکولو حکم هم دغه بنده ته دې [قرطبی][3]

مسئله: د کوم یو مال مثلاً تجارتی کپړو، لوښو فرنیچرو غیره واجب شوې زکوة د غې مال نه هم ورکولې شی او د اسې هم کولې شی چه د دغې مال د قیمت ځلویښتمه برخه قیمت په حقدارانو اوویشلې شی ځکه چه د صحیح احادیثونه ثابت دی [قرطبی][4] ځنې امامانو فقهاؤ فرمائیلی دی چه په نن زمانه کښې نغد قیمت په زکوة کښې ورکول ځکه زیات غوره دی چه د فقیرانو ضرورتونه مختلف او ډیر دی نغدیت د خپل خروخت ضرورت پوره کولو د پاره پکارراوستې شی،

مسئله: د زکوة حقدار و خپلوانو عزیزانو ته د زکوة او صدقو ورکول د زکوة ورکولو په وخت زیاته بهتری او دونره ثواب د اسې لری چه یو ثواب د صدقې ورکولو او بل ثواب د خپلوئ پاللو شو کښې ضباطول هم ځکه ضروری نه دی چه هسې نه اغستونکې ئې خپل سپکاوی او ګڼړی بلکه د هدئې، ډالئ وغیره په نوم ورته ورکول غوره دی،

مسئله: څوک چه په خپلې وینایا عمل سره خپل ځان د زکوة حقدار او حاجتمن ښکاره کړی او د صدقو وغیره سوال اوکړی، نو آیا دا ضروری دی چه زکوة ورکوونکی دی د هغه د اصلی حالاتو تحقیق نه پس ورته زکوة ورکوی، که مستحق ثابت نه شو نو نه دورکوی، په دې باره کښې د حدیثو روایتونه او د فقهاؤ اقوال دا دی چه د تحقیق کولو ضرورت نشته بلکه د ظاهری حالت نه ئې که غالب ګمان پرِ د فقیرئ او محتاجئ راغلو نو زکوة ورکولې شی، لکه په حدیث شریف کښې راغلی دی چه ډیرې خوارئ په حالت کښې څه خلق رسول الله ﷺ ته راغلل، دوئ د پاره ئې د صدقو راجمع کولو انتظام او کړو، د غه راجمع شوې صدقې ئې دوئ ته ورکړې او هغوئ ﷺ د دوئ د اندرونی او اصلی حالاتو د تحقیق ضرورت اونه ګڼړلو [قرطبی][5]

البته قرطبی په احکام القرآن کښې فرمائیلی دی چه د زکوة په مصرفونو [د لګښت په ځایونو] کښې یو مصرف قرضداری هم دې، که څوک دا اووائی چه زما په ذمه دومره قرض دې د هغې د ادا کولو د پاره د ما ته د زکوة مال راکړیشی نو د هغې قرض ثبوت ترغوښتل پکار دی

---

[1]) السنن الکبریٰ للنسائی رقم الحدیث: ۹۳۰۲

[2]) سنن الدار قطنی رقم الحدیث: ۱۹۵۳، تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۱۷۵

[3]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۱۷۶

[4]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۱۷۵

[5]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۱۸۷

Scanned with Ca

[قرطبي] (۱) اوبسکاره داده چه دغارم، في سبيل الله او ابن سبيل په باره کښې هم داسې قسم تحقيق کول څه گرانه خبره نه ده په دې کښې د موقعې په مناسبت سره تحقيق کول پکار دي،

مسئله: خپلوانو او عزيزانو ته زکوة ورکول زيات ثواب لري خو ښځه خاوند، او والدين خپل منځ کښې يو بل له زکوة نشي ورکولې چه زکوة به گويا کښې خپل ځان سره اوساتي، ولې چه ددې خلقو خرځ اخراجات، عموماً خپل منځ کښې شريک وي، ښځه خاوند چه خپل منځ کښې يو بل له زکوة ورکړي نو په حقيقت کښې ئې هغه په خپل استعمال کښې راوستلو، دغسې معامله د والدينو او اولاد ترمنځه ده، دنمسو کړوسو او دنيکه او غرنيکه حکم هم هغه دې چه دوئ هم خپل منځ کښې يو بل ته زکوة نشي ورکولې [يعنې جائز نه دي]

مسئله: چاچه خپل گمان سره څوک مستحق اوگنړلو او زکوة ئې ورکړو روستو بيا معلومه شوه چه دهغه غلام وو يا بل څوک کافر وو نو زکوة ئې ادا نشو، دوباره ئې ورکړي، ولې چه د غلام هر يو څيز د مالک وي او داسې شوه چه دغه زکوة هډو دده د لاسه اونه وتو او هم ده سره پاتې شو او کافر د زکوة مستحق نشي کيدې،

که چاته د زکوة ورکولو نه پس ثابت شي چه زکوة اغستونکي ئې مالدار، سيد هاشمي يا خپل پلار، ځوئ، ښځه يا خاوند دې نو زکوة ئې اوشو دوباره ورکول ئې ضروري نه دی ځکه چه د زکوة مال دده د لاسه وتلې او د ثواب ځائ ته رسيدلې دې که داسې غلطي د تيرې يا د نظر د کمزورئ وغيره په وجه شوې وي نو معاف ده، [درمختار] (۲) د صدقاتو د آيت تفسير او ورسره د ترلو مسئلو تفصيل د ضرورت په اندازه پوره شو.

وَمِنْهُمُ	الَّذِينَ	يُؤْذُونَ	النَّبِيَّ	وَيَقُولُونَ	هُوَ	أُذُنٌ ۚ
اوخيني ددوئ نه	هغه کسان	چې تکليف ورکوي	نبي ته	او وائي	چې دا سړې	غوږونه دې
اوبعضې په دوی کښې هغه کسان دي چه نبي ته تکليف رسوي او دا وائي چه دې ډير اوريدونکې دې						
قُلْ	أُذُنُ	خَيْرٍ	لَّكُمْ	يُؤْمِنُ	بِاللَّهِ	وَيُؤْمِنُ
او وايه	دا په غوږونو کچه والې	ابهتر دې	استاسو دپاره	ايمان لري	په الله باندې	او اعتماد کوي
ته ورته او وايه په الله تعالى باندې ايمان راوړي او په مؤمنانو باندې اعتماد کوي						
لِلْمُؤْمِنِينَ	وَرَحْمَةٌ	لِّلَّذِينَ	آمَنُوا	مِنكُمْ ۚ	وَالَّذِينَ	
په مومنانو	او رحمت دې	دپاره دهغه کسانو	چې ايمان ئې راوړې دې	ستاسو نه	او هغه کسان	
...... او په تاسو کښې چه کومو کسانو ايمان راوړې دې دهغوی دپاره رحمت دې او کوم کسان						
يُؤْذُونَ	رَسُولَ اللَّهِ	لَهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ ﴿٦١﴾	يَحْلِفُونَ	
چې تکليف ورکوي	رسول دالله ته	دې دهغوئ دپاره	عذاب	دردناک	قسمونه خوري دا خلق	
چه دالله رسول ته تکليف رسوي نو د هغوی دپاره دردناک عذاب دې دوی [تاسو ته] په الله تعالى						

۱) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۱۸۷
۲) الدر المختار، كتاب الزكاة، باب المصرف: ج ۲، ص ۳۵۳ (طبع رشيديه کوئټه)

Scanned with Ca

بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ ۚ وَاللّٰهُ وَرَسُولُهٗٓ اَحَقُّ اَنْ

په الله باندې | تاسو ته | دپاره ددې چې راضي کړي تاسو | او الله | او رسول دهغه | زيات حقدار دی | چې

باندې قسمونه خوري چه تاسو راضي کړي | [خو] الله تعالی او د هغه پیغمبر زيات حقدار دي چه دوی ئې

يُّرْضُوهُ اِنْ كَانُوا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوٓا اَنَّهٗ مَنْ

راضي کړي هغه | که وي هغوئ | مومنان | آیا نه ده معلومه دوی ته | چې بیشکه شان دادې | چې هغه څوک

راضي کړي | که دوی مؤمنان وي | آیا دوی [منافقان] په دې نه پوهیږي چه څوک د الله تعالی او د هغه د رسول

يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ فَاَنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدًا

چې مخالفت کوي | د الله | او د رسول دهغه | نو بیشکه | مقرر دې هغه لره | اور د دوزخ | چې همیشه به وي

مخالف کوي .... نو دده دپاره د جهنم اور دی چه همیشه به په هغې کښې وي

فِيهَا ۭ ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾ يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُونَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ

په هغې کښې | دا | رسوائي ده | لويه | يريږي منافقان ددې نه | چې نازل کړې شي | په مومنانو باندې

اودا [جهنم ته داخليدل] لويه رسوائي ده | منافقان د دې نه ويريږي چه [هسې نه] په مؤمنانو ....

سُورَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ ۭ قُلِ اسْتَهْزِءُوٓا ۚ

يو سورة | چې خبر ورکړي هغوئ ته | د هغه | چې په زړونو د هغوی کښې دي | او ورته او وايه | چې کوئ توقې

باندې څه سورت نازل شي چه مسلمانانو ته دهغه رازونو خبر ورکړي کوم چه د دوی په زړونو کښې دی ته ورته او وايه

اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَئِنْ

بیشکه الله | ښکاره کوونکې دې | دهغه څيز | چې يريږئ تاسو د ښکاره کيدو دهغې نه | او که چرې

تاسو توقې کوئ | بیشکه الله تعالی د هغه څه ښکاره کونکې دې د کومې د ښکاره کيدو نه چه تاسو ويريږئ | او که

سَاَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۭ

تپوس او کړې ته ددوئ نه | نو خامخا به وائي | چې بیشکه اوو مونږ | چې مشغوليدو مونږ | او لوبې کولې مونږ

ته ددوی نه تپوس او کړې [چه تاسو داسې وئیلي دی] نو دوی به وائي چه مونږ خو هسې ګپ شپ لګولو

قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُولِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦٥﴾

ورته او وايه | آيا په الله پورې | او په آياتونو دهغه پورې | او په رسول دهغه پورې | اوئ تاسو | چې توقې مو کولې

ته ورته او وايه آيا تاسو په الله تعالی او دهغه په آياتونو او هغه په رسول پورې توقې کوئ

لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ۭ اِنْ نَّعْفُ

عذرونه مه کوئ | په تحقيق سره | کفر کړې دې تاسو | وروستو | د ايمان راوړلو ستاسو نه | که | معاف کړو مونږ

تاسو عذرونه مه کوئ [چه مونږ نه غلطي شوې ده بلکه] تاسو د خپل ظاهري ايمان نه پس کافران شوې ئې که

عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةً بِاَنَّهُمْ كَانُوا

يوه ډله | ستاسو نه | نو ضرور به عذاب ورکوو | بلې ډلې ته | په سبب دهغې چې هغوئ اوؤ

ستاسو يوې ډلې ته معافي او کړو [چه توبه او باسي] نو بلې ډلې ته به عذاب ورکړو ځکه چه دغه ډله

Scanned with Ca

مُجْرِمِيْنَ ﴿۶۶﴾
مجرمان ا
نافرمانه ده.

آسان ترجمه قرآن

او دغه ﴿منافقانو نه﴾ هغه خلق دي چه نبي ته تکليف رسوي. او ﴿د هغوی په باره کښې﴾ داوائي چه دا خو ټول غوږ دي. ته ووايه چه: دي غوږ دي د هغه څيز د پاره چه هغې کښې ستاسو خير دي. هغه په الله باندې ايمان لري او د مؤمنانو په خبره باندې يقين کوي. او تاسو کښې چه څا ﴿ظاهري طور﴾ باندې ايمان راوړې دي. هغوی د پاره هغه درحمت ﴿معامله کونکې﴾ دي. او څوك چه دالله رسول ته تکليف رسوي هغوی د پاره يو دردناك عذاب تيار کړې شوې دې ﴿اې مسلمانانو!﴾ دا خلق ستاسو مخکښې په الله قسمونه دې وجې نه خوري چه تاسو خوشحاله کړي. حال دا چه که دوی واقعي مؤمنان وي نو الله او د هغه رسول زيات مستحق دي چه دوی هغوی لره راضي کړي. آيا دوی ته دا معلومه نه ده چه څوك دالله او د رسول خلاف کوي نو دهغه د پاره د دوزخ اور دې هغې کښې به دې هميشه وي؟ دا ډيره لويه رسوائي ده! منافقان دې خبرې نه ويريږي چه مسلمانانو باندې چرته داسې سورت نازل نه شي چه دوی ته د دې ﴿منافقانو﴾ د زړه خبرې ووائي ته ووايه چه ﴿ښه ده﴾ تاسو ټوقې کوئ الله هغه خبره ښکاره کونکې دې کومې نه چه تاسو ويريدلئ. که تاسو دوی نه تپوس وکړئ نو دوی به يقينًا دا وائي چه: مونږ خو ټوقې کولې او زړه مو مشغوله کولو. ته ووايه چه: آيا تاسو په الله او د هغه په آيتونو اودهغه په رسول پورې ټوقې کوئ؟ بهانې مه جوړوئ تاسو د ايمان ښکاره کولو نه وروستو کفر کړې دې که مونږ تاسو کښې يوی ډلې ته معافي هم وکړو نو دويمې ته به ضرور سزا ورکوو ځکه چه دا مجرمان دي.

خلاصه تفسير

﴿وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ﴾ پدویٔ [ؤ منافقانو] کښې ځيني داسې دی چې نبی کريم ﷺ ته ضرر رسوی [يعنی دهغویٔ په شان کښې داسې خبرې کوی چې دهغې په آؤريدو سره ورته تکليف وی] او [کله ئې چه څوك منع کوی نو] ﴿وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ اُذُنٌ﴾ وائی چې دویٔ ﷺ هره يوه خبره په غوږ اينبو سره آؤری [دویٔ ته په دروغو وئيلو سره دهوکه ورکول آسان دی، ځکه هيڅ فکر نشته] ﴿قُلْ﴾ تاسو [په جواب کښې] اوفرمايئ چې [تاسو پخپله دهوکه شویٔ، نبی کريم ﷺ چې څه خبره آؤری نو هغه دوه ارخونه لری، يو په دې شان چې په صحيح ګڼرلو سره ئې تصديق کوی، بل د خوش اخلاقئ اود شرافت په ډول چې خبره ورته غلطه معلومه شی او سره دهغې نه دشرافت اونيك خويئ په وجه پرې خان ناغرضه کړی، ويونکی پسې ئې هيڅ قسم مخه نه اوړی اوپه ښکاره ئې دروغژن نه ضباطوی نو] ﴿اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ﴾ دغه نبی ﷺ په غوږ اينبو سره هم هغه خبره آؤری چې ستاسو په حق کښې [سراسری] خير وی [حاصل او نتيجه ئې داده] ﴿يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ چې هغویٔ د الله ﷻ [په هغه خبرو په وحی سره معلوم] باندې ايمان راؤړی [چې دهغې د تصديق خير کيدل ټولې دنيا دپاره ښکاره دی ولې چې تعليم اوعدل هم په دې تصديق باندې اړه لری] او د [مخلصو] مؤمنانو [په خبرو چې د ايمان اواخلاص په حيثيت

Scanned with Ca

سره وی] یقین کوی [ددې خبر کیدل هم داسې ښکاره دی چې په عام عدل اړه لري د حالاتو په
صحیح اطلاع باندې چې ذریعه ئې هم دغه مخلصان مؤمنان دی ، غرض دا چې په غوږونو
اینبو او په رښتیا ګڼړلو سره خو یوازې د رښتینو او مخلصانو مؤمنانو خبرې آوري] او
[ستاسو شرارتي خبرې چې آوري نو دهغې وجه داده چې] ﴿وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ﴾ هغوئ ﷺ
دهغې خلقو په حال مهرباني کوی چې په تاسو کښې ایمان ښکاره کوی [ګو چې په زړهٔ کښې ئې
ایمان نه وی ،پس ددغې مهربانئ اوخوش اخلاقئ په وجه ، ستاسو خبرې آوری اوپه دې
حقیقت باندې دپوهیدو باوجود ځان ناغرضه کوی ، او چې پاتې کیږی نو ددې خبرې آوریدل
په بیل ډول دی ، تاسو دخپلې بیوقوفئ نه دا هم داول ډول پښان اوګنړل ، خلاصه داده چې
ستاسو په خیال چې هغوئ ﷺ په حقیقت نه پوهیږی اوپه واقع کښې په حقیقت باندې تاسو
نه پوهیږئ] ﴿وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ﴾ اوکوم خلق چې نبی کریم ﷺ ته ضرر رسوی [خواه په
هغې خبرو چې دهغې د وئیلو نه پس ئې اذن ورته وئیلی وو یا پخپله هم ددې هو اذن په وئیلو
سره ، ولې چې د دوئ هغوئ ﷺ ته اذن وئیل په هغوئ ﷺ باندې عیب لګول وو چې [معاذ
الله] هغوئ ﷺ پوهه نه لري ، هر څه چې آوری هغه منی] ﴿لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ دې خلقو دپاره به
دردناکه سزا وی ،﴿يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ﴾ دا خلق ستاسو [د مسلمانانو] په مخکښې [په
دروغه] قسمونه خوری [چې مونږ فلانئ خبره نه وه کړې ، یا مونږ غزا ته د فلانی عذر په وجه
لاړ نشو] دپاره ددې چې تاسو راضی کړی [چې ورسره ددوئ ځان اومال محفوظ پاتې شي] ﴿وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ إِن كَانُوا مُؤْمِنِينَ﴾ سره ددې چې الله ﷻ اود هغه رسول ﷺ زیات حق لري
چې که دوئ رښتینی مسلمانان وی نوهغه دې راضی کړې [چې دا په اخلاص او ایمان اړه
لري] ﴿أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّهُ مَن يُحَادِدِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ آیا دوئ خبر نه دی چې څوك چه د الله ﷻ او دهغه د رسول
ﷺ مخالفت کوی [څنګه چې دا خلق ئې کوی] ﴿فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيهَا﴾ نو داخبره پخه ده چې
داسې کس ته به د دوزخ اور په داسې شان نصیب کیږی چې هغه به په کښې همیشه پاتې کیږی
[او] ﴿ذَٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ﴾ دا لویه شرمندګی [دلوئې شرمندګئ خبره] ده ، ﴿يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ﴾ منافقان خلق [یعنی طبیعت ئې]ددې اندیښنه لري چې په
مسلمانانو باندې [د وحی په ذریعه نبی کریم ﷺ ته] څه داسې سورت [الکه یا آیت] نازل نشی
چې ورته دمنافقانو د زړونو د خبرې اطلاع ورکړی [یعنی دوئ چې کومې پټې خبرې د توقو
کړی دی چې د مسلمانانو په نسبت هغه د دوئ یو قسم رازونه دی او په زړونو کښې ئې پټې
دی چې هسې نه مسلمانان پرې خبر شي] ﴿قُلِ اسْتَهْزِئُوا﴾ تاسو اوفرمایئ چې ښه ده تاسو
مسخرې کوئی [پدې کښې ئې ددوئ په مسخرو کولو باندې خبریدل ضباط کړل لکه چې
وریسې پخپله فرمائی] ﴿إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ﴾ بیشکه الله ﷻ به هغه څیز ښکاره کوی دکوم [د
ښکاره کیدو نه] چې تاسو اندیښنه لرله [نو په توقو کښې ئې ښکاره کړل چې تاسو توقې کولې
اود ښکاره کیدو نه پس] ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ﴾ که تاسو ﷺ د دوئ ﷺ نه
[ددې توقو وجه] اوپوښتئ نو اول به وائی چې مونږ خو هسې توقې اوګپ مو لګولو [ددې
خبرو اصلی معنی مو مقصود نه وې هسې مو زړهٔ مشغولولو په غرض زبانی خبرې کولې چې
په آسانئ سره سفر غوځ شي] ﴿قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ﴾ تاسو [ورته] اوفرمایئ چې آیا

Scanned with Ca

الله ﷻ پورې او دهغه د آيتونو پورې ، او دهغه رسول ﷺ پورې تاسو ټوقې کولې [يعنی که غرض مو هر څه وو خو دا هم اوګورئی چې تاسو چا پورې ټوقې کوئ . چې ورسره ټوقې کول په هيڅ شان کښې هم سمه خبره نه ده] ﴿لَا تَعْتَذِرُوا﴾ تاسو اوس [دا بې پرتوګه] بې عذر مه کوئ [مطلب دا دې چې دا عذر قبول نه دې اونه پدې عذر کولو سره ټوقې رواکيږي] ﴿قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾ تاسو د اسلام په جامه کښې کفر کول شروع کړل [ولې چې دين پورې ټوقې کول مطلقا کفر دې اګرچې په زړهٔ کښې مو د مخکښې نه هم ايمان نه وؤ البته که څوك د زړهٔ نه توبه اوکړی او مخلص مؤمن جوړشی نو يقينا چې دکفر کولو اودکفر د عذاب نه بهٔ خلاص شی ، خو ټولو ته ددې توفيق به نه نصيب کيږی ، ځينې به يقينا مسلمانان شی او هغوئ به معاف کړې شی نو حاصل ئې دا شو چې] ﴿إِن نَّعْفُ عَن طَائِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً﴾ که مونږ د تاسوځينې پرېږدو هم [په دې وجه هغوئ مسلمانان شو نو مونږ به ځينو ته [خامخا] سزا ورکوؤ په دې وجه چې دوئ [په علم ازلی کښې] ﴿بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ﴾ مجرمان وو [يعنی مسلمانان شوی نه وو] .

معارف او مسائل

دړومبو آيتونو پشان په دې آيتونو کښې هم دمنافقانوبې سرېتوبه اعتراضونه رسول الله ﷺ ته ضرر رسول او بيا په دروغو قسمونه خوړولو سره خپل ايمان ضباطول اوپه دې باندې خبرداري ورکول بيان شويدی، او په دې باندې خبرداریٔ ورکړی شوی دی.

ړومبی آيت مبارك کښې ذکر دې چې دا خلق د رسول ﷺ په حق کښې د خندا په طور وائی چې هغه خوسوده غوږدی، يعنی چه څه وآورې په هغې يقين کوی، که زمونږسازش ښکاره هم شی نوهيڅ فکرموخکه نشته چه په قسم خوړولوسره به ځان ترخلاص کړو، په جواب کښې الله تعالی ددوئ بيوقوفی څرګنده کړه چه که هغوئ ﷺ دمنافقانو اومخالفوخلقوپه آوريدو باندې چپ پاتې شی نو دادهغوئ ﷺ داخلاقوښه والې دې، هغې نه داغلطه اندازه مه لګوئ چه هغوئ په حقيقت باندې خبرنه وی اويواځې ستاسوپه ويناباندې يقين کوی، بلکه هغوئ ﷺ دټول حقيقت نه ټکې په ټکې خبردی، ستاسوپه غلطو خبر وآوريدو به ستاسو رشتينوالی هيڅرې اونکړی البته دخپل شرافت اوښه سرېتوب له کبله ستاسومخامخ ستاسو خبره نه ردکوی.

﴿إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ﴾ په دې آيت کښې داخبرورکړې شويدې چه الله تعالی به دمنافقانو پټ سازشونه اوشرارتونه ښکاره کړی چه يوواقعه ئې دتبوک دغزانه په واپسئ ده کله چه ځنی منافقينو دهغوئ ﷺ دوژلو سازش کړې وو ، الله تعالی دجبرائيل ﷺ په ذريعه ددې نه خبر کړل اودهغې لارې نه ئې واړول چرته چه دې کاردپاره دغه منافقان جمع شوی وو ، [مظهری دبغوی نه] ([1])

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی چه الله تعالی داويامنافقينونومونه، سره دهغوئ دولديت او د پوره نخښې پتې نه رسول الله ﷺ ته ښولی وومګررحمة للعالمين دغه منافقان خلقوته اونه ښودل [مظهری] ([2])

---

[1]) التفسير البغوی تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۶۸

[2]) التفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۲۵۶

Scanned with ...

اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ

ا منافقان سړي ا اومنافقاني ښځې ا خيني ددوئ ا دخينو نه دي ا حکم کوي دوئ

منافقان سړي اومنافقان ښځې حپلو کښې سره يو دي [خلقوته] د ګناهونو حکم کوي

بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ۭ نَسُوا اللّٰهَ

په بدئ باند ا اومنع کوي ا دنيکئ نه ا اومنع ساتي دوئ ا لاسونه خپل ا هيرکړودوئ ا الله

او د نيکئ د کارونو نه منع کوي او خپل لاسونه [د الله په لار کښې د خرچ کولونه] بندوي ادوي الله

فَنَسِيَهُمْ ۭ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ

نوالله هير کړل دوئ ا بيشکه منافقان ا هم دوئ ا فاسقان دي اوعده کړي ده الله ا دمنافقانو سرو سره

هير کړي دې نو الله تعالى دوى هم هير کړل ا هم منافقان نافرمان دي ا الله تعالى د منافقانو سرو او

وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ هِيَ

اودمنافقانو ښځوسره ا اودکافرانو سره ا د اور ا ددوزخ ا هميشه به وي دوئ ا په هغې کښې ا هغه

منافقانو ښځو اود کافرانو سره د جهنم د اور وعده کړي ده په جهنم کښې به هميشه دپاره وي

حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۝

کافي دې دوئ لره ا اولعنت کړې دې په دوئ الله ا اودې دوئ لره ا عذاب ا هميشه

جهنم د دوی دپاره کافي دې او الله په دوی باندې لعنت کړې دې او د دوی دپاره هميشه عذاب دې

كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً

اے منافقانو تاسو پشان دهغه کسانو يئ ا چې مخکښې ستاسونه وو اوو هغوئ ا زيات سخت ستاسونه ا په قوت کښې

[منافقانو ستاسو مثال په منافقت کښې] ستاسو نه د وړاندې خلقو پشان دي [حالانکه] هغوی ستاسو نه زيات طاقتور وو

وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۭ فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ

اوزيات ا په مال کښې ا اوپه اولاد کښې ا انو فائده واغستله هغوئ ا په حصه خپله ددنيا

او په مال او اولاد کښې ستاسو نه زيات وو انو هغوی [په دنيا کښې] په خپله حصه باندې فائده واخستله

فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

اوفائده واغسته تاسو ا په حصې خپلې سره ا الکه څنګه چې ا فائدې اغستې وې ا هغه کسانو ا چې مخکښې ستاسونه وو

اوتاسو [هم] په خپله حصه باندې فائده واخستله لکه څنګه چه هغه خلقو د خپل حصې مطابق فائده اخستې وه

بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ۭ

په حصې خپلې سره ا اواخته شوئ تاسو ا په هغسې خبرو کښې لکه چې هغوئ اخته شوی وو په هغې کښې

کوم چه ستاسو نه وړاندې وو ا اوتاسو هم په هغه خبرو کښې مشغوله شوې څنګه هغوی مشغوله شوی وو ا

اُولٰۗىِٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰۗىِٕكَ

دغه کسان چې دي ا ضائع شول ا عملونه دهغوئ ا په دنيا کښې ااوپه آخرت کښې ا اودغه کسان دي

د دغه خلقو عملونه په دنيا او په آخرت کښې ضائع شوی دي ا او هم دوی [که په دنيا کښې نه وي خو په

Scanned with Ca

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ۝٦٩ اَلَمْ يَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

چه هم هغوئ دی انقصانیان ا آیانهٔ دي راغلي دوئ ته اخبر دهغه کسانو ا چی مخکښی ددوئ نه وو

آخرت کښې ضرور] تاوانیان دی ا آیا دوی ته د هغه خلقو [دعذاب] واقعات نه دی راغلی کوم چه د

قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ۝ۙ وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ

دقوم دنوح ا اودعاد ا اودثمود ا اودقوم دابراهیم ا اودملګرو دمدین ا اودپاسته کړې شوی کلی

دوی نه وړاندې ووچه د نوح ﷺ قوم عادیان ثمودیان د ابراهیم ﷺ قوم د مدین خلق اود التهٔ شوو کلی وو

اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

راوړې ووهغوئ ته ا رسولانو دهغوئ ا ښکاره نښې ا نوئهٔ ووالله ا چی ظلم ئې کړې وې په هغوئ باندې

هغوی ته د هغوی پیغمبران په ښکاره نښو سره راغلی وو اخو په دې عذابولو کښې الله تعالی په هغوی باندې

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ۝٧٠

لیکن ووهغوئ ا په نفسونو خپلو ا چی ظلم ئې کوؤ ا

ظلم نه وو کړې بلکه هغوی په خپله په خپلو ځانونو ظلم کونکی وو ا

آسان ترجمه قرآن

منافقان سړی او منافقانې ښځې ټول یو شان دي. دوی د ګناه دعوت ورکوي او د نیکو نه خلق منع کوي او خپل لاسونه پنډوی دوی الله له هیر کړي دي نو الله هم دوی له هیر کړل. بې شکه دا منافقان ډیر نافرمانه دي. الله د منافقانو سړو او ښځو او ټولو کافرانو سره د جهنم وعده کړې ده . دې کښې به دوی همیشه وي هُمدا به دوی د پاره بس وی، الله تعالی دوی له لعنت کړی دی ، او دوی د پاره یو سخت عذاب دې. ﴿اې منافقانو﴾ تاسو د هغه خلقو پشان یئ چه تاسو نه مخکښې تیر شوي دي، هغوی په طاقت کښې ستاسو نه مضبوط وو او مال او اولاد کښې ستاسو نه ډیر زیات وو پس هغوی د خپلې حصې مزې واخستې پس تاسو هم هغه شان مزې واخستې لکه چه هغوی اخستې وې او تاسو هم د غه شان بې هوده خبرو کښې پراته یئ لکه چه هغوی بې هوده خبرو کښې پراته وو دا هغه خلق دي چه په دنیا او آخرت کښې د دوی اعمال تباه شوي دي او دا هغه خلق دي چه دوی د تاوان سودا اوکړه. آیا دې ﴿منافقانو ته﴾ د هغه خلقو خبر نه دې رارسیدلې کوم چه دوی نه مخکښې تیر شوي دي ؟ د نوح علیه السلام قوم ، او عادیان او ثمودیان. او د ابراهیم علیه السلام قوم . او د مدین والا ، او هغه کلي کوم چه اړولې شوي وو! دوی ټولو ته د دوی رسولانو واضحه دلائل راوړي وو — بیا الله داسې نه وو چه په دوی ئې ظلم کړې وې. لیکن دوی خپله په خپلو ځانونو ظلم کړې وو.

خلاصه تفسیر

﴿اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ﴾ منافقان سړی او منافقانې ښځې ټول یو شان دي ﴿يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ﴾ چې د بدې [خرابې] خبرې [یعنی د کفر او د اسلام د مخالفت] تعلیم ورکوی او د ښې خبرې نه [یعنی د ایمان او د نبی ﷺ د تابعدارئ نه] منع کوی او [د الله ﷻ په

Scanned with Ca

لار کښې د خرچ کولو نه] ﴿وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ﴾ خپل لاسونه بند لري ، ﴿نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ﴾ دوئ د الله ﷻ خيال اونه کړو [يعنى فرمانبرداري ئې اونه کړه] نو الله ﷻ ددوئ خيال اونه کړو [يعنى پدوئ ئې خاص رحمت اونه کړو] ﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ بيشکه دا منافقان ډير سرکشه دي ، ﴿وَعَدَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ﴾ الله ﷻ منافقانو سړو او منافقانو ښځواو [په ښکاره] کفر کوونکو سره د دوزخ د اور لوظ کړې دې ﴿خَالِدِينَ فِيهَا﴾ چې په کښې به همیشه پاتې کیږی ﴿هِيَ حَسْبُهُمْ﴾ دا دوئ دپاره [سزا] کافي ده ﴿وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ﴾ او الله ﷻ به دوئ دخپل رحمت نه لرې کړی ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ﴾ اودوئ لره به [ددغې لوظ په وجه] همیشه عذاب وی . [اې منافقانو!] ﴿كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوا أَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَأَكْثَرَ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا﴾ ستاسو حالت [په کفر او د کفر دبدلې په حقدارئ کښې] دهغې خلقو پشان دې چې تاسو نه پخوا [زمانه کښې] وو دقوت په سختوالی او په ډیروالی د اولاد اومالونو کښې تاسو نه هم زيات وو ، ﴿فَاسْتَمْتَعُوا بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ﴾ نو هغوئ خپلې [دنيوی] حصې نه ښه فائده پورته کړه نو تاسو هم خپلې فائده حاصله کړه ﴿كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ﴾ څنګه چې تاسو نه مخکښې خلقو خپله [دنيوی] حصې نه فائده حاصله کړې وه ﴿وَخُضْتُمْ كَالَّذِي خَاضُوا﴾ او تاسو هم [په خرابو خبرو کښې] او تاسو هم [په خرابو خبرو کښې]داسې ورداخل شوئ څنګه چې دغه خلق [په خرابو خبرو کښې] داخل شوی وو ، ﴿أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ ددې خلقو [نيك] عملونه په دنيا اوآخرت [دواړو کښې] برباد شو [چې په دنيا کښې د دوئ په عملونو باندې دثواب زيرې نشته او آخرت کښې پرې ثواب نشته] او [په دنيا او آخرت کښې ددې بربادئ په وجه] ﴿وَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾ دغه خلق په ډير نقصان کښې دی [چې په دواړو جهانونو کښې د خوشحالئ اوآرام نه محرومه دی نو دغه شان که تاسو هم دهغوئ پشان کفر کوئی نوهم دهغوئ پشان به نامرادهيځ او زيانکار يئ او څنګه چې دهغوئ مالونه او اولاد ئې پکار رانغلل نو تاسو خو ترې پدغه څيزونو کښې کم يئ، ستاسوخوب يقينا پکار رانشی، دا خو د آخرت د زيان درکه ده ، وربسې ددنيا د زيان په وريادولو سره خبرداري ورکوی چې] ﴿أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ آيا دې خلقو ته دهغوئ [دعذاب او هلاکيدو] خبر نه دې رسيدلې چې دوئ نه پخوا تير شوی دی ﴿قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَقَوْمِ إِبْرَاهِيمَ﴾ لکه دنوح عليه السلام قوم ، عاد ، ثمود ، د ابراهيم عليه السلام دقوم ، ﴿وَأَصْحَابِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكَاتِ﴾ د اهل مدين او د اپوټه شوؤ آباديانو ﴿أَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ﴾ چې هغوئ ته دهغوئ پيغمبرانو عليهم السلام صفا نخښې[دحق] راوړې [ليکن په نه منلو ئې برباد شو]نو [په دې بربادئ کښې] ﴿فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ﴾ الله ﷻ خو په دوئ باندې ظلم اونه کړو ﴿وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾ ليکن دوئ پخپله خپلو خانونو باندې ظلم کولو [دغه شان دې منافقانو لره هم ويريدل پکار دی]

معارف اومسائل

ددې آيتونو څخښې په رومبی آيت کښې دمنافقانو يوحال ئې دااوښودلوچه دوئ خپل لاسونه بند لری ﴿وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ﴾ په تفسير قرطبی کښې دلاس بندلرلو مطلب دابيان شويدې چه جهادنه کوی اوواجب حقوق نه اداکوی، ﴿نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ﴾ ددې ظاهری معنی داده چه دې خلقوالله تعالی هيرکړو اوالله تعالی دوئ هيرکړل،خوهرکله چه الله تعالی دهيرې نه پاک دې نودلته به

ئې مطلب داوي چه، دوئ دالله تعالی حکمونه داسې پرېښول لکه چه هیرکړي ئې وي نو الله تعالی هم د آخرت دثواب په باره کښې همداسې پرېښول چه په نیکئ او په ثواب کښې ئې نوم هم پاتې نشو۔

د ﴿كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ یو تفسیر دادې چه داخطاب منافقانو ته دې، څنګه چې په خلاصه تفسیر کښې بیان شو، او دویم تفسیر دادې چې خطاب هم مسلمانانو ته دې یعنی ﴿اَنتُم كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ تاسو هم دهغې پخوانو خلقو پشان ئې چه تاسونه وړاندې وو، یعنی څنګه چه دغه خلق د دنیا په خوندونو کښې داسې بوښت شو چه آخرت ئې هیرکړو او په قسماقسم ګناهونو او بداخلاقو کښې ګیرشو تاسو هم دغسې خلق ئې،

ددې آیت په تفسیر کښې دحضرت ابی هریره ﷛ په روایت رسول الله ﷺ او فرمائیل چه: تاسو به هم هغه طریقې اختیار کړئ چه تاسونه وړاندې امتونو اختیارکړې وې، لاس په لاس، لیشت په لیشت یعنی هوبهو به دهغوئ نقل کوئ، تردې پورې چه که هغوئ کښې څوک دسمسرې په غار کښې ننوتی وونو تاسو به هم ننوځئ، حضرت ابی هریره ﷛ چه داروایت نقل کړونو وې فرمائیل چه ددې حدیث تصدیق کول که غواړئ نو دقرآن کریم داآیت اولولئ: ﴿كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ (۱) حضرت عبدالله بن عباس ﷛ ددې په آوریدو او فرمائیل: مَاأَشْبَهَ اللَّيْلَةَ بِالْبَارِحَةِ، [نننۍ شپه پرونۍ شپې سره څومره یوشان او مشابه ده] دابنی اسرائیل دې چه ورسره زمونږ تشبیه ورکړې شویده [قرطبی] (۲)

دحدیث مقصد واضح دې چه په آخره زمانه کښې به مسلمانان هم دیهودو، نصاراؤ په طریقو روان شی، او دمنافقینو دعذاب بیانولو نه پس ددې بیانولو کښې دې اړخ ته هم اشاره ده چه دیهودو ونصاراؤ په طریقو باندې تلونکی مسلمانان به هغه وی دچا په زړونو کښې چه مکمل ایمان نه وی، دمنافقت جراثیم پکښې موندې شی، دامت نیکانو خلقو ته ددوئ نه دځان ساتلو اودبل دساتلو هدایت په دې آیت کښې کړې شویدې.

وَالْمُؤْمِنُوْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتُ
اومومنان سري	اومومناني ښځي
او مؤمنان سري او مؤمناني ښځي	

بَعْضُهُمْ	اَوْلِيَآءُ	بَعْضٍ	يَأْمُرُوْنَ	بِالْمَعْرُوْفِ	وَيَنْهَوْنَ	عَنِ الْمُنْكَرِ
ځيني ددوئ	دوستان دي	دځينو	حکم کوي دوئ	په نيکئ سره	اومنع کوي	دبدئ نه
دوي په خپل مينځ کښې ملګري دي [يو بل ته] د نيکئ حکم کوي او د بدئ نه منع کوي						

وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ	وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ	وَيُطِيْعُوْنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ
او قائموي مونځ	او ورکوي زکاة	اوحکم مني	دالله	اود رسول دهغه
اومونځ قائموي او زکاة ورکوي [الله دا چه په ټولو کارونو کښې] د الله اود هغه د رسول تابعداري کوي				

۱) مسند ابي يعلى الموصلي رقم الحديث: ٦٢٣

۲) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۲۰۱

Scanned with Ca

أُولَٰٓئِكَ سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝

دا کسان چې دی | زر به رحم اوکړی په دوئ باندالله | بیشکه الله | غالب دي | دحکمت خاوند دي

په دغه خلقو به الله تعالى رحم اوکړي| او الله غالب دي [څوک ئې د ارادې نه منع کولې نشي] او صاحب دحکمت دي

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا

وعده کړی ده | الله | دمومنانو سړو سره | اودمومنانو ښځو سره | دباغونو | چې بهيږی به | لاندې دهغې نه

الله تعالى د مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو سره د جنتونو وعده کړې ده چه د هغې د [بنګلود] لاندې به

ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ

نهرونه | هميشه به وی | په هغې کښی | اوکورونه | پاك | په باغونو | هميشه شنو کښی

ولې بهيږی په هغې کښې به هميشه وی او [په جنت کښې به] د هميشه اوسيدو ځايونه وی

وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ۝ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ

اورضا دطرفه دالله نه | ډيره لويه [خبره ده] | هم دا | کاميابی لويه ده | اے نبی

او د الله تعالى رضا ډير لوئې څيز دې [کومه چه به دوی ته په جنت کښې حاصله وی] او دا لويه کاميابی ده اې پيغمبر

جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ

جهادکوه | دکافرانوسره | اودمنافقانوسره | اوسختی کوه | په هغوئ | اوآخری ځائې دهغوئ | دوزخ دي

دکافرانو او منافقانو سره جهاد کوئ او په دوئ باندې سختی کوی اود دوی ځائې جهنم دې

وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ۝

اوبد ځائې دې | د ورتلو |

اود ورتلو په اعتبار سره ډيربد ځائې دې|

آسان ترجمه قرآن

مؤمنان سړي او ښځې خپلو کښې د يو بل مددګار دي، دوی نيکۍ طرف ته دعوت ورکوي اود بدو نه خلق منع کوي، او د مونځ پابندي کوي او زکوٰة ادا کوی او د الله او د هغه د رسول تابعداری کوی دا داسې خلق دي چه دوی باندې به الله خپل رحمت کوي يقينًا الله قدرت والا هم دې حکمت والا هم الله د مؤمنانو سړو او ښځو سره وعده کړې ده دهغې باغونو چه د هغې د لاندې به ولې بهيږی هغې کښې به دوی هميشه وي، اود هغه پاکو کورونو چه دهميشه والی په باغونو کښې به وي او دالله د طرف نه رضامنتيا خو د ټولو نه لوئې څيز دې ﴿چه جنتيانو ته به نصيب کيږی﴾ دغه زبردسته کاميابي ده. اې نبی د کافرانو او منافقانو سره جهاد وکړه او دوی باندې سختي وکړه. اود دوی ځائ جهنم دې. او دا ډير بد ځائ دې.

خلاصه تفسير

﴿وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ﴾ او مسلمانان سړی او ښځې په خپل مينځ کښې د يو بل [دينی] ملګری دی ﴿يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ﴾ دنيکو خبرو تعليم ورکوی او دبدو خبرو نه ايسارول کوی، ﴿وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ د مونځ پابندی کوی او زکوة ورکوی، ﴿وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ

وَرَسُولَهٗ﴾ او د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ خبره منی ، ﴿أُولَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ﴾ په دې خلقو به الله ﷻ ضرور رحمت کوی [چې تفصيل ئې په وَعَدَ اللّٰه کښې اوس دادې نزدې راروان دې] ﴿إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ بيشکه الله ﷻ قادر مطلق دې [مکمله بدله ورکولې شي] دحکمت خاوند دې [مناسبه بدله ورکوی اوس ددغې رحمت بيان داسې کيږی چې] ﴿وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ﴾ الله ﷻ مسلمانانو سړو او مسلمانانو ښځو سره دداسې باغونو وعده کړې ده ﴿تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا﴾ چې دهغې لاندې به نهرونه روان وی ، چې په کښې به دوئ هميشه اوسيږی ﴿وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ﴾ او د نفيسو [سپيځلو] مکانونو [وعده کړې ده] چې د هميشوالی په هغه باغونو کښې به وی او [دې نعمتونو سره] ﴿وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ﴾ د الله ﷻ رضامندی [چې د جنتيانو نه به تل ترتله وی ددې] تولو [نعمتونو] نه لوئې څيز دې ، ﴿ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ ، دا [بيان شوې بدله] لويه کاميابی ده . ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ اې نبی ﷺ کافرانو سره [په وسله] او منافقانو سره [په ژبه] جهاد کوئ او په دوئ سختی کوئ [په دنيا کښې خو دوئ ددې حقدار دی] ﴿وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ﴾ او [په آخرت کښې] د دوئ ځائې دوزخ دې ﴿وَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴾ اوهغه خراب ځائې دې .

معارف او مسائل

په تيروشوؤ آيتونو کښې د منافقانو د حالاتو، د دوئ د سازشونو، ضررونو رسولو او ورد پاره د عذاب بيان وو، د قرآنی طرز په جوړ مناسب دا وو چه ورسره د مخلصانو مؤمنانو حالات، ثواب او درجې ئې بيان کړې شی، څکه اوس دا بيانولې شی، دلته په دې خبره ژور نظر اچول پکار دی چه هرکله د مخلصانو مؤمنانو او د منافقانو حالات سره په مقابله کښې بيان شويدی نو د منافقانو په باره کښې د ﴿بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ﴾ او د مؤمنانو په باره کښې ﴿بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ الفاظ راوړې شو، په دې سره دا اشاره اوشوه چه د منافقانو خپل مينځ کښې يو بل سره تعلقات او تړون خو يو اخې د خاندانی شريکوالی يا د نوروُدنيوی غرضونو په بناوی، چه زيات وخت نه پائی، او نه ترهغه نتيجې را بر څيره کيږی چه کومې دزړه د دوستئ او همدردئ نه را بر څيره کيږی، په خلاف د مؤمنانو چه دوئ ديو بل مخلص دوستان او رشتينی همدردان دی [قرطبی] (۱)

چونکه چه دا دوستی او همدردی خالص د الله تعالی د پاره وی، هغه په ظاهر ، باطن ، مخامخ او پشی شايو شان وی، او تل د پاره پائيداره وی، چنانچه د مخلص مؤمن هم دا نخښه ده د ايمان او نيک عمل خاصيت هم دا دې چه خپل منځ کښې دوستی او مينه پيدا کوی، د قرآن کريم ارشاد ددې په باره کښې داسې دې ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا﴾ څوک چه ايمان راوړی او د نيک عمل پابند شی نو الله تعالی د دوئ ترمنځه دزړه د کومې ژوره دوستی پيدا کوی. نن صبا زمونږ د ايمان او نيک عمل کوتاهی ده، چه د مسلمانانو په خپل منځ کښې داسې تعلقات نشته. بلکه دا په دنيوی غرضونو دائره وی .

﴿جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ په دې آيت کښې کفارو او منافقينو دواړو د لو سره د جهاد او د دوئ په معامله کښې رسول الله ﷺ ته د سختئ کولو حکم ورکړې شويدې، دا گيزو کفارو

(۱) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۲۰۳

Scanned with Ca

سره دجهاد کولو معامله خوپه ډاګه ده، لیکن منافقانو سره دجهاد کولو مطلب دوئ سره په ژبه جهاد کول دی، څنګه چه دهغوئ ﷺ دکړووړو اودوئ سره دروزګار کولونه ئې ثابته ده، دوئ سره دجهاد کولو مطلب دادې چه دوئ ته دداسلام په حقانیت باندې دپوهیدو دپاره څکه بلنه ورکړې شي چه دوئ داسلام په خپله دعوی کښې مخلصان شي [قرطبی ومظهری] (۱)

﴿وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ د، غلظ، اصلي معنی داده چه مخاطب دکوم سلوک اوروئې چه مستحق دې په هغې کښې دورسره هیڅ نرمي او رعایت نشي کولې، دالفظ د، رأفة، په مقابله کښې استعمالولې شي دکوم معنی چه رحمت اونرم دلی ده،

امام قرطبی رحمه الله فرمائیلي دی چه دلته دغلظت [سختئ] استعمالولونه مطلب عملي سختي استعمالول مراددی چه دوئ سره په شرعي احکاموجاري کولو کښې څه سرعایت او نرمي اونکړې شي دژبې اوکلام غلظت استعمالول ترمرادنه دی څکه چه دا، دانبیاؤ ﷺ د سنت نه خلاف دی ولې چه هغوئ ﷺ سخت کلامي نه کوی کنځل اوبدې ردې نه وائي، لکه په یوحدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلي دی: [اذازنت أمة أحدكم فليجلدها الحد ولا يثرب عليها] [قرطبی] (۲) ستاسویوه وینځه چه زنا اوکړی نوپه هغې د دروشرعي حدجاري کړئ خوبدې ردې ورته مه وائي، پیغورمه ورکوئ]،

بلکه درسول الله ﷺ په باره کښې خوپخپله الله تعالی فرمائي ﴿وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾ یعني که تاسو ﷺ سخت کلامه اودسخت زړه خاوندوې نوخلق به ستاسو ﷺ دخوانه تبتیدلي وو] دغه شان درسول الله ﷺ دکړو وړونه هم چرته داثابت شوی نه دی چه کفارو او مشرکانو سره ئې سخت کلامي کړې وي،

خبرداري! دکفاروپه مقابله کښې هم، اسلام چرې سخت کلامي نه ده اختیار کړې خو افسوس دې چه نن صبا مسلمانان خپل منځ کښې دسخت کلامئ اوبد کلامئ په استعمال باندې هم صرفه نه کوی، ډیرخلق خوئې ددین خدمت بولي اوپه ډیرفخرسره ئې استعمالوی بلکه خوشحالي پرهم کوی [انالله]

يَحْلِفُونَ	بِاللَّهِ	مَا قَالُوا	وَلَقَدْ	قَالُوا	
ا قسمونه خوری داخلق ا په الله ا چې نه دی وئیلي دوئ هیڅ څه ا حالانکه اوئیلي وه دوئ					
ا په الله قسمونه خوری چه دوی [ستاسوخلاف] هیڅ خبره نه ده کړې حالانکه					
كَلِمَةَ الْكُفْرِ	وَكَفَرُوا	بَعْدَ	إِسْلَامِهِمْ	وَهَمُّوا	بِمَا
خبره دکفر ا اوکفرئې اوکړو ا پس ا د [ظاهری] اسلام راوړلو خپلونه ا اواراده ئې اوکړه ا د هغه کار					
د کفر خبره يې کړې ده ا اود خپل ظاهری اسلام نه پس کافران شوی دی ا اودهغه څه قصد ئې کړې وو چه					
لَمْ يَنَالُوا	وَمَا نَقَمُوا	إِلَّا	أَنْ	أَغْنَاهُمُ	اللَّهُ وَرَسُولُهُ
چې اونه رسیدل هغې ته ا اونه کوی دشمني دوئ ا مګر ا په دې خبره ا چې غنیان کړی دی دوئ ا الله ا او رسول دهغه					
کامیاب په کښې نشوا او دوی صرف په دې وجه دشمني کوی چه الله او د هغه رسول په خپل فضل سره					

(۱) تفسیر القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۲۰۴، والتفسیر المظهری تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۴۶

(۲) تفسیر القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۲۰۵

Scanned with Ca

مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَاِنْ يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا

په فضل خپل سره انو که چرې اتوبه اوويسته دوئ اوې به ابهتره ادپاره ددوئ ا اوکه مخ واړوؤ دوئ

مالداران کړل اکه دوی توبه ويستله نو دا به د دوی دپاره ډيره ښه وي اواو که دوی اعراض اوکړو

يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ

نو عذاب به ورکړي دوئ ته الله ا عذاب دردناک ا په دنيا ا اوپه اخرت کښې ا اونشته ادپاره ددوئ

[د توبې ويستلو نه] نو الله تعالى به دوی ته په دنيا او په آخرت کښې دردناک عذاب ورکړي ا اود دوی دپاره

فِى الْاَرْضِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝ وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ

په زمکه کښې اڅوک دوست ا اونه مددګار ا اوځينې ددوئ نه اهغه خلق دي اچې وعده ئې کړې وه د الله سره

به په زمکه کښې هيڅ څوک دوست او مددګار نه وي ا اوپه دوی [منافقانو] کښې ځينې هغه څوک دي چه د الله سره

لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝

که چرې اراکړه مونږ ته [الله] ادفضل خپل نه انو مونږ به خيرات اوکړو ا اوشو به مونږ ا دنيکانو نه

وعده کړې وه که الله تعالى مونږ ته د خپل فضل [مال] نه راکړل انو مونږ به خيراتونه کوو او د نيکانو ځنې به شو

فَلَمَّاۤ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا

خوکله چې ورکړو الله هغوئ ته اد فضل خپل نه ا نوبخل ئې شروع کړو ا په هغې سره ا اومخ ئې واړوؤ دوعدې خپلې نه

خوچه کله ورته الله تعالى دخپل فضل [مال] نه ورکړل نو د هغې په خرچ کولو ئې بخل اوکړو نو ا اود وعدې نه ئې

وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِىْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى يَوْمِ

اودې هغوئ امخ اړونکی انوپيدا کړو الله هغوئ لره امنافقت اپه زړونو دهغوئ کښې ادهغې ورځې پورې ا

مخ واړولو ا او[دزکاة ورکولو نه] انکاريان شو ادې په نتيجه کښې الله تعالى د دوی په زړونو کښې داسې نفاق واچولو

يَلْقَوْنَهٗ بِمَاۤ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا

چې يوځاي کيږي به هغوئ دهغه سره اپه سبب دهغې اچې خلاف کړې وؤ هغوئ دالله ا دهغه خبرې

کوم چه به ترقيامته پورې باقي وي اځکه چه دوی دالله تعالى سره دهغه څه وعده خلافی

وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ۝ اَلَمْ

چې وعده ئې کړې وه دهغه سره ا اوپه سبب دهغې چې وؤ هغوئ اچې دروغ به ئې وئيل ا آيا

اوکړله کومه وعده چه ئې ورسره کړې وه ا اوددې وجې دروغ به ئې وئيل اآيا دوی ته پته نه لګی

يَعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ

معلومه نه ده دې خلقو ته ا چې بيشکه الله ا پوهيږی اپه پټورازونو ددوئ ا اودغوږ په خبرو ددوئ

چه الله تعالى د دوی په پټو او په ښکاره خبرو باندې پوهيږی ا [او آيا دوی په دې نه پوهيږی چه]

وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝

اوبيشکه الله ا ښه خبردار دې اپه ټولو غيبی خبرو باندې ا

الله تعالى په پټو [خبرو او کارونو باندې] پوهيږی ا

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

دا خلق په الله باندې قسمونه خوري چه دوی فلانۍ خبره نه ده کړې ، حال دا چه دوی د کفر خبره کړې ده او دوی داسلام نه پس کفر اختیار کړې دې دوی د هغه کار کولو اراده کړې وه چه هغې کښې دوی کامیاب نه شو. او دوی صرف ددې خبرې بدله ورکړه چه الله او د هغه رسول دوی لره په خپل فضل باندې مالدار کړي دي، او اوس که توبه وباسي نو دا به ددوي په حق کښې بهتره وي . او که دوی مخ واړوي نو الله به دوی ته دنیا او آخرت کښې دردناك عذاب ورکړي . او زمکه کښې به ددوی څوك معاون او امدادي نه وي. او دوی کښې داسې خلق هم دي چه هغوی دالله سره وعده کړې وه چه که هغه په مونږ باندې خپل فضل وکړو نومونږ به ضرورصدقه کوؤ او یقینًا په نیکانو کښې به شامل شو. لیکن چه کله الله په دوی خپل فضل اوکړو نو هغې کښې ئې بخل شروع کړو. او واپس شول مخ اړونکي نتیجه دا شوه چه الله په طور د سزا نفاق د دوی په زړونو کښې تر هغه ورځې پورې مضبوط کړې دې چه په کومه ورځ به دوی د الله سره ملاؤ شي . ځکه چه دوی الله تعالی سره کومه وعده کړې وه د هغې خلاف ئې وکړو . او ځکه چه دوی دروغ وئیل. آیا دوی ته دا پته نه وه چه الله د دوی په ټولو پټو خبرو او رازونو باندې پوهیږي. او دا چه هغه ته د غیب د ټولو خبرو علم دې؟

خلاصه تفسیر

﴿يَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوْا﴾ دغه خلق قسمونه خوری چې مونږ فلانئ خبره [الکه دا چې نبی کریم ﷺ بهٔ وژنو] نه ده کړې ﴿وَلَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ﴾ یقینا دوئ د کفر خبره کړې ده [ولې چې هغوئ ﷺ دوژلو باره کښې خبرې اترو کول په ښکاره کفر دې] او [ددې خبرې په کولو سره] ﴿وَكَفَرُوْا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ﴾ دخپل [ظاهر] اسلام نه پس [په ښکاره هم] کافران شو [اګر چې دا خبره ئې په خپله ډله کښې کړې وه چې مسلمانان هم پرې خبر شو او کفر ئې ښه په جاره ښکاره شو] ﴿وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا﴾ او دوئ دداسې خبرې اراده اوکړه چې لاس ئې پرې نه رسیدو [یعنی د نبی کریم ﷺ په وژلو ئې څه وس نه رسیدو] ﴿وَمَا نَقَمُوْا اِلَّا اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ﴾ او دا خو دوئ صرف دهغې خبرې بدله ورکړې ده چې دوئ لره الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ الله ﷻ په رزق سره مالدار کړل [د دوئ په نزد بهٔ ښیګړې بدله ورکول ګنی بدی کول وو] ﴿فَاِنْ يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ﴾ نو که [ددې نه پس هم] توبه اوباسی نو دوئ دپاره به [په دواړو جهانو کښې] زیات غوره وی [نو جلاس ؓ ته د توبې کولو توفیق نصیب شو] ﴿وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا﴾ اوکه [توبې نه ئې] مخ واړولو [او په کفر او منافقت باندې کلك پاتې شو] ﴿يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ﴾ نو الله ﷻ به ورته په دنیا کښې او آخرت [دواړو] کښې دردناك عذاب ورکړی [نو ټول عمر بدنام اوسر وهلی بر وهلی او په ویره ګرځیدل او دمرګ په وخت ئې خپل مصیبت لیدل ، ددنیا عذاب شو او په آخر کښې ئې دوزخ ته تلل ښکاره خبره ده] ﴿وَمَا لَهُمْ فِى الْاَرْضِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ﴾ اود دوئ په دنیا کښې نه خو څوك یا رشته او نه مددګار [چې عذاب نه ئې خلاص کړی ، هر کله چې په دنیا کښې ئې څوك یارومددګار نشته چې اکثر په کښې هرقسم بنده ته مدد ملاویدې شی نو په آخرت کښې خو به ورته د سره هیڅ مدد ملاؤ نشی] ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ﴾ او په دوئ [منافقانو] کښې ځینې

Scanned with Ca

کسان داسې دي چې الله ﷻ سره لوظ کوي [ولې چې نبی کریم ﷺ سره لوظ کول ګویا کښې الله ﷻ سره لوظ کول دي دغه لوظ دا وو چې] ﴿لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ﴾ که الله ﷻ مونږ ته په خپل فضل سره راکړي [ډېر څه مال] ﴿لَنَصَّدَّقَنَّ﴾ نو مونږ به [دهغې خیني] ښه خیرات اوکړو ﴿وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ۝﴾ او مونږ به [دهغې په ذریعه] ښه نیک نیک کارونه کوو ﴿فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ﴾ کله چې الله ﷻ ورته خپل فضل سره [ډېر څه] مال ورکړو ﴿بَخِلُوْا بِهٖ﴾ نو په کښې ئې کنجوسي شروع کړه [چې زکوة ئې په کښې نه ورکولو] او [د فرمانبردارئ کولو نه ئې] ﴿وَتَوَلَّوْا﴾ مخ اړول شروع کړل ﴿وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ۝﴾ او دوئ خود مخ اړولو [وخت دسره] عادت دی ﴿فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ﴾ نو الله ﷻ د دوئ [ددې کولو] په سزا کښې د دوئ په زړونو کښې منافقت [کلك پاتې] کړو چې الله ﷻ ته دورتلو تر وخته پورې، ﴿بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ﴾ د الله ﷻ سره ئې پخپله وعده کښې خلاف اوکړو ﴿وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ۝﴾ او په د وجه چې دوئ به [ددې وعدې په کولو کښې وخت دسره] دروغ وئیل. [یعنی د وعدې پوره کولو نیت ئې دغه وخت هم نه وو، نو منافقت ئې دغه وخت هم په زړه کښې وو، چې دهغې یوه حصه دا دورغ وئیل او وعده خلافي کول دی، او ددې په وجه نور هم زیات دغضب مستحق شو، او ددې زیات غضب اثر د دا شو چې دغه مخکښنې منافقت ئې اوس همیشه دپاره اونه ختمیدونکې شو چې توبه به ئې هم نه نصیب کیږي، په داسې حالت باندې مړ کیدو سره به همیشه دپاره په جهنم کښې اوسیدل به ئې په برخه شي او سره ددې چې په پټه کافران دی، بیا هم اسلام او فرمانبردارئ ښکاره کول نو] ﴿اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ﴾ آیا دوئ [منافقان] په دې خبر نه دی چې الله ﷻ ته ددوئ د زړهٔ راز او د دوئ پټې مشورې ټول هر څه معلوم دی ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ۝ۚ﴾ اودا چې الله ﷻ دغیب ټولې خبرې ښه پیژني [په دې وجه د دوئ دا ښکاره اسلام به د دوئ هیڅ پکار رانشي او نه به ئې د فرمانبردارئ دغه دعوې کول څه پکار راشي، خاص کر په آخرت کښې، نو دجهنم سزا ضروري ده].

معارف او مسائل

ددې آیتونو څنې په ړومبی آیت ﴿يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ﴾ کښې بیا د منافقانو بیان دې چه هغوئ په خپلو مجلسونو کښې دکفر کلمې، لګیادې په مخه وائی، که مسلمانان پرِ خبرشي نو په دروغه قسمونه خوری او خپل ځانونه ددې نه بې ګناه ثابتوی، ددې آیت په شان نزول کښې بغوی رحمه الله دا واقعه نقل کړیده چه رسول الله ﷺ دغزوهٔ تبوک په موقعه یوه خطبه ورکړه چه پکښې دمنافقانو بدحالی او خراب انجام ئې بیان کړو، په دغه موقعه یو منافق جلاس هم موجود وو هغه چه خپل مجلس ته ورغلو نو وې وئیل چه محمد ﷺ چه څه وائی که هغه رشتیا وائی نو مونږ خود خرونو نه هم زیات بدتریو، دده دخبرې په آورید و یو صحابی عامر بن قیس رضی الله عنه او فرمائیل چه بیشکه د رسول الله ﷺ دا وینا مبارکه رشتیاده چه تاسو واقعی دخرونو نه هم زیات بدترئې،
کله چه رسول الله ﷺ دتبوک دغزانه مدینې منورې ته راؤرسید و نو عامر بن قیس رضی الله عنه دا واقعه رسول الله ﷺ ته بیان کړه خو جلاس دخپلې وینانه واؤریدو او وې وئیل چه عامر بن قیس رضی الله عنه را باندې هسې تورپورې کړیدې رسول الله ﷺ دواړو ته او وئیل چه دوئ دواړه دې دمنبرنبوی ﷺ په څوا کښې اودریږي او په خپله خپله خبره دِ قسم او خوری، جلاس ښه په ډاډه زړهٔ دروغ

Scanned with Ca

قسم اوخوړواو وې وئیل چه عامر ؓ دروغ وائی، دحضرت عامر ؓ وارچه راغلونوهغه هم قسم اوخوړواوبیائې دعادپاره لاس پورته کړوچه یاالله، خپل رسول ﷺ ددې واقعې په حقیقت باندې دوحی په ذریعه خبرکړې، ددوئ ؓ په دعاباندې رسول الله ﷺ اوټولو حاضرینوصحابه کراموؓ امین اووئیلو اوس دغه خلق لاپه خپلوځایونوناست ووچه جبرائیل آمین هم داآیت په وحی کښې راؤرسولو،

جلاس ددې آیت په آؤریدوسمدستی پاسیدواو وې وئیل چه یارسول الله ﷺ زه دخپلې دې غلطې اقرارکوم واقعی چه داغلطی رانه شویده، عامربن قیس ؓ رشتیاوئیلی دی، خوپه دې آیت کښې راتـه الله تعالی دتوبې حق هم راکړیدې زه دالله تعالی نه بخښنه غواړم اوتوبه کوم، رسول الله ﷺ دهغه توبه قبوله کړه چه ترآخره پورې په دې توبه ټینګ پاتې شواو حالات ئې سمدم شو، [مظهری] (۱)

ځنې مفسرینوداشان نوروواقعات ددې په شان نزول کښې بیان کړیدی خصوصاپه دې وجه هم چه ددې آیت یوجمله داسې ده ﴿وَهَمُّوا۟ بِمَا لَمْ يَنَالُوا۟﴾ یعنی دوئ دداسې یوکارنیت اوکړوچه وس ئې پرېنشو، دې نه معلومیږی چه داآیت دداسې څه واقعې په باره کښې دې چه پکښې منافقانو درسول الله ﷺ اودمسلمانانوپه خلاف څه سازش کړې وواودوئ پکښې ناکامه شوی وو، لکه ددې غزادتبوک په باره کښې چه یوواقعه داسې مشهوره ده چه هرکله رسول الله ﷺ دغزوۀ تبوک نه په واپسئ کښې راتلل نودولس کسان ورته دغرپه یوکنډاؤکښې دهغوئ ﷺ دوژلودپاره ناست وو، خوحضرت جبرائیل ؑ ورته ددې خبرورکړو، هغوئ ﷺ دغه لاربدله کړه نوسازش ئې خاؤروسره خاؤرې شو،

دمنافقانوداسې نوروواقعات هم راپیښ شوی دی خوداورسره بې سمونه نه دی چه ټول واقعات ددې آیت شانِ نزول وی،

په دویم آیت کښې ﴿وَمِنْهُم مَّنْ عَـٰهَدَ ٱللَّهَ﴾ هم دیوخاص واقعې په باره کښې راغلې دې ابن جریر ؒ ابی حاتم ؒ، ابن مردویه ؒ طبرانی ؒ اوبیهقی ؒ دحضرت ابی امامه ؓ باهلی په روایت سره نقل کړیدی چه یوسړې ثعلبه بن حاطب انصاری ؓ درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشواودادرخواست ئې اوکړوچه زمادمالدارکیدودعااوکړئ، هغوئ ورته اوفرمائیل چه آیا، زماطریقه درته غوره نه ده، په هغه ذات مِ دقسم وی دچاپه قبضه کښې چه زماځان دې، که ماغوښتلې نودمدینې منورې غرونه به ټول سره زرشوی ووااوماسره به ګرځیدل، خوزما دغسې مالداری نه ده خوښه داسړې لاړوخوبیاراغلوهم هغه خواست یې بیا سره ددې لوظ نه وړاندې کړوچه که ماته مال ملاؤشونوزه به هرحقدارته ترِحق وررسوم، درسول الله ﷺ په دعاسره دهغه چیلئ [بزې] په ډیروزیاتیدوشوې، تردې چه دمدینې منورې ځائ پرِتنګ شونوبهرته اووتودماسپخین اومازیګرمونځ به ئې مدینه کښې هغوئ ﷺ سره کولو، نور مونځونه به ئې بهرهلته اداکول چرته ئې چه دغه مال وو،

بیائې چیلئ [بزې] نورې هم زیاتې شوې دغه ځائ پرِهم تنګ شواو د مدینې د ښار نه بهر چرته لرې دیره شو هلته نه به یواځې دجمعې مانځه دپاره مدینې منورې ته راتلواونورپنځه

(۱) تفسیر البغوی تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۵۵، والتفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۴، ص ۲۴۶، ۲۴۷.

Scanned with Ca

واړه مونځونه به ئې هلته اداکول بیاچه په چیلوکښې ئې نورهم زیاتې راغلونودغه ځائې یې هم پرېښو اودومره لرې دیره شوچه دجمعې مونځ اودپنځه واړه وختونه مونځونه ترې هم پاتې شو،

څه موده پس رسول الله ﷺ خلقونه دده په باره کښې تپوس اوکړوخلقوورته اووئیل چه مال ئې دومره زیات شویدې چه ښارته په نزدې اوسیدوسره ګذران دهغه نه کیږي، په دې وجه چرته لرې دیره شویدې چه اوس دلته لیدلې کیدې نشي، رسول الله ﷺ ددې په آورېدودرې ځل داسې اوفرمائیل، وَیحَ ثَعْلَبَة، په ثعلبه افسوس، په ثعلبه افسوس، په ثعلبه افسوس،

اوشوداسې چه په دغه زمانه کښې دصدقوآیت نازل شو، په کوم کښې چه دمسلمانانونه دصدقاتوراغونډولوحکم رسول الله ﷺ ته شویدې ﴿خُذْمِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ هغوئ ﷺ دڅاروود زکوتونومکمل قانون اولیکلواودوه کسان ئې دصدقاتوراغونډولودپاره خلقوپسې ور اولیږل، ورته ئې داحکم هم اوکړوچه ثعلبه بن حاطب نه دِهم زکوة وصول کړی اودغه شان دبنی سلیم دیوسړی نه دهم زکوة وصول کړی،

دادواړه چه ثعلبه له ورغلل اودرسول الله ﷺ فرمان مبارک ئې ورته ښکاره کړوثعلبه اووئیل چه داخوجزیه شوه، بیائې اووئیل چه ښه ده، نوپه واپسئ کښې بیادلته راشئ، هغه دواړه لاړل.

بل سړی سلیمی له چه ورغلل درسول الله ﷺ په فرمان آورېدوهغه دهرقسمه څاروونه غوریز څاروی راغونډکړل اودغې دواړوکسانوته ئې پیش کړل هغوئ ورته اووئیل چه مونږ خو دچانړ کړوڅاروږداغستونه منع کړې شوی یوسلیمی ورته اووئیل چه داخوزه پخپله خوښه درکوم اوددې په اغستوئې ورته ټینګاراوکړو. چه دغسې ئې دنوروخلقونه زکوة راغونډکړو بیاثعلبه ته ورغلل هغه ترډزکوة وصولولوحکمنامه رابرڅیره کول اوغوښتل، دهغې کتوئې بیاهم اووئیل چه داخویوقسم جزیه شوه چه مسلمانانونه ئې وصولول نه دی پکارښه نواوس خو ځئې زه به غورکوم هله پس ته به څه فیصله کوم،

چه دوئ دواړه مدینې منورې ته راورسیدل نورسول ﷺ دثعلبه دحال پوښتلونه وړاندې بیاهغه کلمه، یَاوَیحَ ثَعْلَبَة، یَاوَیحَ ثَعْلَبَة، درې ځل اوفرمائیله چنانچه ددې واقعې په باره کښې دا آیت مبارک نازل شو ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ﴾ په دوئ کښې ځنې خلق داسې هم دی چه الله تعالی سره ئې لوظ کړې وو، که مال دراکړونوهغه به صدقه او خیرات کوؤ اودامت دنیکانو پشان به د تولو حقداراتو، خپلو خپلوانو، او غریبانو حقونه اداکوؤ، بیاچه ورته الله تعالی په خپل فضل سره مال ورکړونوبخیلی ئې کوله، اودالله تعالی اودهغه درسول ﷺ دفرمانبردارئ نه واوړیدل،

﴿فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِیْ قُلُوْبِهِمْ﴾ الله تعالی ددوئ دبدعملئ اوبدعهدئ [بدلوظئ] په وجه ددوئ په زړونوکښې منافقت نورهم پوخ کړوچه اوس به ورته دتوبې توفیق نه نصیب کیږي،

فائده: ددې نه معلومه شوه چه دځنوعملونوسپېرتوب داسې وی چه دتوبې توفیق تراغستې شي [نعوذبالله منه] ابن جریر رحمه الله دحضرت ابی امامه رضی الله عنه دتفصیلي روایت په آخرکښې لیکلی دی [کوم چه اوس بیان شو] چه هرکله رسول الله ﷺ درې ځل، یَاوَیحَ ثَعْلَبَة، فرمائیل نوپه دغه مجلس کښې د[ثعلبه] څه خپلوان عزیزان ناست وو، ددې په آورېدوتریوکس په سفرروان شو اوثعلبه ته وراورسید وهغه ئې ملامته کړواو ورته ئې اووئیل چه ستاپه باره کښې دقرآن کریم آیت نازل شوې دې، ثعلبه، اوبوګنید واومدینې منورې ته په ورتلوئې خواست اوکړوچه زمازکوة

دقبول کړې شي، هغوئ ﷺ ورته اوفرمائيل چه الله تعالى ستاد صدقې [زکوة] اغستونه منع کړې يم، ددې په آوريدو ثعلبه په خپل سرباندې خاورې اړولې،

رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه داخوستاخپل عمل دې، مادرته حکم اوکړوتااونه منلواوس ستاصدقه [زکوة] نشى قبلولې، ثعلبه نامراده واپس شو، ددې نه څوورځې پس رسول الله ﷺ وفات شو، صديق اکبر ﷺ خليفه شو، هغوئ ﷺ له ورغلواوورته ئې اووئيل چه زماصدقه قبوله کړه، صديق اکبر ﷺ ورته اوفرمائيل چه هرکله رسول الله ﷺ قبوله نکړه. زه ئې څنګه قبوله کړم،

بيادابوبکرصديق ﷺ دوفات نه پس، ثعلبه دفاروق اعظم ﷺ په خدمت کښې دخپلې صدقې قبلولوخواست اوکړو، دغه شان دحضرت عثمان ﷺ نه ئې هم دهغوئ ﷺ دخلافت په زمانه کښې همدغسې خواست اوکړو، خوهغوئ ﷺ هم قبول نکړواودحضرت عثمان ﷺ دخلافت په زمانه کښې مړشو [نعوذبالله من سيات الاعمال]، مظهري] (۱)

مسئله: دلته داسوال پيداکيږي چه هرکله ثعلبه توبه ګارشونودهغه توبه ولې قبوله نکړې شوه، ددې وجه ښکاره داسې ده چه رسول الله ﷺ ته دوحى په ذريعه معلومه شوې وه چه دثعلبه اوسنئ توبه هم داخلاص نه ده، په زړه کښې ئې منافقت شته دې، خالص وختى ښيګړه ئې په نظرکښې ده، مسلمانانوته دوکه ورکول غواړي څکه قبوله نه ده، او اوس هرکله چه رسول الله ﷺ يوځل منافق اوبللونوروپسې راتلونکوخلفائې راشدينودهغه دصدقې قبلولوحق نه لرلو، ولې چه زکوة دپاره مسلمانيدل شرط دى، البته درسول الله ﷺ نه پس هر کله چه دزړه منافقت چاته په يقينى ډول نشى معلوميدل څکه دآئنده حکم دغه دې چه څوک توبه اوکړي اودااسلام اوايمان اقراراوکړي نوهغه سره دِدمسلمانانوپشان معامله اوکړې شي خواه دهغه په زړه کښې هرڅه چه وى [بيان القرآن] (۲)

اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ
اهغه کسان اچې عيب لګوى ا په خوشئ سره مال ورکونکو باندې
اهغه منافقان اپه مؤمنانو کښې] په خپله خوښئ خرچ کونکو
مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ
دمومنانونه ا په صدقو کښى اوپه هغه کسانو باندې اچې نه مومى امګر اکوشش خپل
باندې ملامتيا واتى او[په مؤمنانو کښې] هغه کسان چه هغوى دخپل وس مطابق خرچ کوى [اګرچه لږ وى]
فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ
نو دوئ توقې کوى اپه هغوئ پورې اتوقې کوى الله اپه دغه توقو کونکو پورې ا اودې دهغوئ دپاره
نومنافقان په هغوى پورې توقې کوى الله تعالى به هغوى ته د هغې سزا ورکړى او د هغوى دپاره

---

۱) التفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۶۹، ۲۷۰- و تفسير الطبرى تحت هٰذه الآية رقم الحديث: ۲۹۸۷، ودلائل النبوة للبيهقى رقم الحديث: ۲۰۳۹

۲) بيان القرآن تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳۴

Scanned with Ca

عَذَابٌ اَلِيْمٌ۝ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْلَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ اِنْ تَسْتَغْفِرْ

عذاب | درد ناك | ببښنه اوغواړه | دپاره دهغوئ | یا | ببښنه مه غواړه | دپاره دهغوئ | که ته ببښنه اوغواړي

دردناک عذاب دي | که ته د دوی دپاره ببښنه اوغواړې اوکه اونه غواړې | که ته د دوی دپاره

لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا

دپاره دهغوئ | اویا | خله | نوهرگز به اونه ببنبي الله | هغوئ لره | دانه ببنبنه | په سبب دهغي چې هغوئ | کفر اوکړو

اویا کرته ببښنه اوغواړې نو هم الله تعالی دوته مغفرت نه کوي | اودا ئه ببښل د دي وجې انه دي چې دوی په الله تعالی او دهغه په

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ۝

په الله سره | اودرسول دهغه نه | اوالله ئه ښائي لار | قوم | فاسق ته |

رسول باندې کړې دي | اوالله تعای کافرانو ته [د جنت] خودنه نه کوي |

آسان ترجمه قرآن

﴿دا منافقان هغه خلق دي﴾ چه کوم کسان په خوشحالۍ سره صدقه کوي هغوی ته هم پیغور ورکوي، او هغه خلقو ته هم چه هغوی څخه دخپل محنت ﴿د پیسو نه﴾ علاوه نور څه نه وي دې وجې نه هغوی دوی پورې توقې کوی . الله تعالی به دوی پورې توقې وکړی او دوی دپاره دردناك عذاب تیار شوې دې او ﴿اې پیغمبره !﴾ ته دوی دپاره بخنه غواړې او که نه غواړې که چرې ته دوی لره اویا ځله هم بخنه وغواړې نو الله دوی لره نه معاف کوي دې وجې نه چه دوی دالله او دهغه رسول باندې کفر کړې دې . او الله نافرمانو ته هدایت نه نصیب کوي.

خلاصه تفسیر

﴿اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ﴾دوئ [منافقان] داسې دی چې نفلی صدقې ورکوونکو مسلمانانو ته د صدقو [خیراتونو] باره کښې [د لږ والی په وجه] پیغورونه ورکوی [او خاص کر] ﴿وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ﴾ هغه خلقو ته [نور هم زیات پیغورونه ورکوی] چاته چې سوا دمحنت مزدورئ [دګټې] بل څه په لاس نه ورځي [او دغه غریبانان مرانه اوکړي او ددغې مزدورئ نه هم څه خیرات کوی] ﴿فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ؕ﴾ یعنی دوئ ور پورې توقې کوی [یعنی هسې خو پیغورونه تولو ته ورکوی چې څومره لږ څیز ئې خیرات کړو خو دغې خواری کوونکو پورې خو توقې هم کوی چې اوګورئ داخلق هم خیراتونه کوی ؟] ﴿سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ﴾ الله ﷻ به دوئ ته ددې توقو کولو [خاص] بدله ورکړی او [دعامو پیغورونو کولو بدله به ترې واخستې شی چې] ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ۝﴾ دوئ دپاره [په آخرت کښې] درد ناك عذاب دې . ﴿اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْلَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ﴾ تاسو ﷺ دې منافقانو دپاره بخښنه غواړئ یا دوئ دپاره بخښنه نه غواړئ [دواړه خبرې برابر دی چې دوئ ته به ددې یوې هم فائده نه وی اوبخښلې به نشی] ﴿اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً﴾ که تاسو ﷺ دوئ دپاره اویا خلې [یعنی ډیره زیاته] بخښنه هم غواړئ ﴿فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ﴾ بیا به هم الله ﷻ دوئ ﷺ نه بخښی ، ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ﴾ دا ځکه چې دوئ الله ﷻ او رسول ﷺ باندې کفر کړې دې ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ۝﴾ او الله ﷻ داسې سرکشو خلقو

Scanned with Ca

ته [چې د ایمان او حق لټون بالکل نه کوی] هدایت نه کوی [ځکه ټول عمر په کفر کلك پاتې شو او مړهٔ پرې هم شو].

معارف اومسائل

په ړومبی آیت کښې نفلی خیرات کوونکو مسلمانانو ته دمنافقانو دپیغورورکولو بیان دې، په صحیح مسلم کښې راغلی دی چه حضرت ابومسعود رضي الله عنه اوفرمائیل چه الله تعالی مونږ ته د خیرات کولو حکم راکړو اوزمونږ حال دا وو چه خواری مزدوری به مو کوله بل هیڅ مال راسره نه وو، په دې خوارئ مزدورئ کښې به مو خیراتونه هم کول، چنانچه ابوعقیل نیم صاع [اوږې] [تقریبا پاؤکم دوه سیره] خیرات پیش کړو بل کس دې نه لږ شان زیات خیرات پیش کړو منافقانو ورته پیغورونه ورکول شروع کړل چه دومره لږ څیزئې ولې خیرات کولو؟ الله تعالی خو ددومره څیز ضرورتمن نه دې، اوچابه چه ډیر خیرات اوکړو په هغوئ به ئې داتورپورې کولو چه ریا [ښودنې] دپاره ئې خیرات کړیدې په دې سلسله کښې داآیت نازل شو،([1])

﴿سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ﴾ دلته دټوقو کولو بدلې ته ئې ټوقې کول فرمائیلی دی]

په دویم آیت کښې دمنافقانو په باره کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا اوفرمائیلې شو چه، دوئ دپاره ستاسو صلی الله علیه وسلم غوښتل او نه غوښتل دواړه برابر دی او که هرڅومره بخښنه وردپاره غواړې، الله تعالی هیچرې نه بخښی، ددې بیان په آیت، ﴿تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾ کښې راتلونکې دې،

فَرِحَ
ا خوشحاله شو
ا کوم کسان چه [د جهاد نه
الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا اَنْ
پاتې شوی خلق ا په کیناستلو خپلو سره ا په ملګرتیا نه کولو ا د رسول دالله ا اوبد اوګڼړل هغوئ ا چې
روستو] پاتې شوی دی په خپله ناسته باندې خوشحالیږی چه د رسول الله نه پاتې شوی دی ا او د الله په لار
يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا
جهاداوکړی اپه مالونوخپلوسره ا اوپه نفسونوخپلوسره اپه لار د الله کښی ا اواوئیل هغوئ ا
په خپلو مالونو او جانونو سره جهاد کول بد ګڼړی ا او [په خپل مینځ کښې یو بل ته] وائی [دا سخته
لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ۭ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ۭ
مه اوځئ ا په ګرمئ کښی ا ورته ا اووایه ا اوردوزخ ا زیات سخت دې اپه لحاظ دګرمئ سره ا
ګرمی ده] په ګرمئ کښې مه ځئ ا ته ورته اووایه د جهنم اور [د دنیا د ګرمئ نه] زیات سخت دې
لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ۝ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا
کاش ا چې وې دوئ ا چې پوهیدلې ا پس اودې خاندی دوئ لږ ا او اودې ژاړی
کاش که دوی پوهیدلې [نوداسې خبرې به ئې نه کولې] دوی دی [په دنیا کښې] لږ غوندې اوخاندی ا او [په آخرت

[1]) صحیح مسلم، کتاب الزکاة۔

Scanned with

كَثِيرًا ۚ جَزَآءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾ فَإِنْ رَّجَعَكَ اللَّهُ

دير ا دا سزا ده ا په سبب دهغه عمل اچي دوئ كولو ا نو كه چري اواپس راولي تا الله

كنبي به] دير اوژاړي ادا [ژړل] د دوی د كړو سزا ده ا كه الله تعالی چرته ته [د جهاد نه] د دوی يوې

إِلَىٰ طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخْرُجُوا

يوې ډلې ته ا ددوئ نه ا او اجازت او غواړي ستانه ا دپاره دوتلو انو او وايه ته ا هرگز به نه اوځئ تاسو

ډلې ته راواپس كړې ا نودوی به ستانه د جهاد د تلو دپاره اجازت غواړي اته ورته او وايه چه هيڅ كله

مَعِيَ أَبَدًا وَلَن تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا ۖ إِنَّكُمْ

زماسره اهميشه ا او هرگز به او نه كړئ اجنگ تاسو ازما په ملگرتيا كښې ا د دشمن سره ا بيشكه چې تاسو

به تاسو ما سره او نه اوځئ او هيڅ كله به تاسو زما په ملگرتيا كښې د دشمن سره جهاد اونكړئ ا ځكه چه

رَضِيتُم بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا مَعَ الْخَالِفِينَ ﴿٨٣﴾

راضي شوی يئ ا په كيناستلو باندې ا په اول ځل ا نو كيني ادروستو پاتې شوؤسره ا

تاسو په اول ځل [د جهاد نه] په ايساردو باندې راضي شوې وئ انو [اوس هم] دناسو سره كينئ ا

آسان ترجمه قرآن

كوم خلق چه ﴿د غزوه تبوك نه﴾ وروستو پاتې كړې شوي وو ، هغوی د پيغمبر د تللو نه وروستو ﴿ په كورونو كښې﴾ په ناسته باندې ډير خوشحاله شو او هغوی ته دا خبره بده لگيده چه دوی دالله او د رسول په لار كښې په مال او بدن سره جهاد وكړي او هغوی وئيل وو چه: دې گرمۍ كښې مه اوځئ "ته ووايه چه د جهنم اور په گرموالی كښې ډير سخت دې! ارمان چه دوی پوهيدې! اوس دا خلق دې ﴿دنيا كښې﴾ لږ ډيرو خاندي، او بيا ﴿آخرت كښې﴾ په ډېره وژاړي، كوم څه چه دوی كوي دهغې هم دا بدله ده. ﴿اې پيغمبره !﴾ كه دې نه وروستو الله تعالی ته دوی كښې يوې ډلې ته واپس راوستې او دوی ﴿بل جهاد كښې﴾ وتلو د پاره تا نه اجازت وغواړي نو دوی ته ووايه چه :اوس تاسو ما سره چرې هم نه شئ وتلې، او ماسره يو ځائې د يو دښمن سره چرې هم نه شئ جنگيدلې، تاسو په اول ځل كيناستل خوښ كړی وو ، نو اوس هم هغه خلقو سره كينئ چه هغوی ﴿ دځه علر د وجې نه﴾ وروستو پاتې كيدونكي دي:

خلاصه تفسير

﴿فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ﴾ دا روستو پاتې كيدونكي خوشحاله شو د رسول كريم ﷺ دتلو نه پس پخپلو ناستو پاتې كيدو باندې ﴿وَكَرِهُوا أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ او دوئ ته د الله ﷻ په لار كښې پخپل مال او ځان سره جهاد كول ناخوښه شو [د دوؤ وجو نه يو د كفر په وجه او بل د آرام لټولو په وجه] او [نورو ته ئې هم] ﴿وَقَالُوا لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ﴾ هم وئيل چې تاسو [پداسې سختې] گرمۍ كښې [د كوره] مه اوځئ ﴿قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا﴾ تاسو ﷺ [په جواب كښې]او وايئ چې د جهنم اور [ددې نه هم] زيات [تيز او] گرم دې نو عجيبه ده چې دې گرمۍ نه خو ځان ساتئ او جهنم ته پخپله دتلو انتظام كوئ چې كفر او مخالفت نه پريږدئ] ﴿لَوْ كَانُوا

Scanned with Ca

﴿يَفْقَهُوْنَ﴾ څه به ښه وو که دوئ پوهيدلې نو [ددې بيان شوؤ څيزونو نتيجه دا شوه چې په دنيا کښې] ﴿فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا﴾ لږې ورځې [الوبې] خندا اوکړی [او بيا په آخرت کښې به] ﴿وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا﴾ ډيرې ورځې [يعني هميشه] ژاړی [يعنی خندل يې د لږو ورځو دی بيا يې ژړل هميشه دپاره دی] ﴿جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾ ددې کارونو په بدله کښې چې څه [کفر ، منافقت او خلافت وغيره ئې] کول [کله چې د دوئ حال معلوم شو] ﴿فَاِنْ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ﴾ نو که الله ﷻ تاسو لره [ددغې سفر نه مدينې منورې ته صحيح سلامت] ددوئ يوې ډلې ته واپس راولی [دله ئې ځکه اوونيله چې کيدې شی ځينې په کښې تر دغه وخته پورې مړۀ شوی وی يا چرته وتلی وی او] ﴿فَاسْتَاْذَنُوْكَ لِلْخُرُوْجِ﴾ بيا داخلق [دخوشامندو په ډول يا د خپل ځان نه د رومبی الزام لرې کولو په غرض يو جهاد ته تاسو سره] د تلو نه اجازت غواړی [اوپه زړه کښې ئې دا وخت هم دا خبره وی چې خالص د تلو وخت به څه بهانه اوکړو] ﴿فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا﴾ نو تاسو ﷺ داسې اووايئ چې [اګر که دا وخت تاسو د ځان خلاصولو دپاره خبرې جوړوئ ، ليکن الله ﷻ ستاسو هغه خبرې خودلی دی کومې چې په زړونو کښې دی ځکه په ډير يقين سره وايم چې تاسو به کله هم ماسره [جهاد ته] نه ځئ] ﴿وَلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا﴾ او نه به زما په ملګرتيا کښې يو دښمن سره جنګ کوئ [چې اصل مقصود دې د تلو نه ولې چې] ﴿اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ تاسو رومبې هم ناست پاتې کيدل خوښ کړی وو [او اوس هم هغه قصد لرئی] نو [خامخا دروغ خبرې ولې جوړوئ ،بلکه د اول پشان اوس هم] ﴿فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخٰلِفِيْنَ﴾ هغې خلقو سره ناست اوسئ [چې واقعی] د روستو پاتې کيدو جوګه دی [لکه معذوره ،بوډاګان ، ماشومان او ښځې]

معارف اومسائل

پورته نه دمنافقانو دحالاتو لړئ راروانه ده، چه دتبوک په غزا کښې هم شريک نشو حالانکه په دې کښې دبرخې اغستو دپاره حکم عام وو اوس په دې آيتونو کښې هم ددوئ يو حال اوبياد دوئ دآخرت دسزا وعيد په دنيا کښې آئنده ټول عمر دپاره دمجاهدينو دلړنه ددوئ ويستل او په هيڅ جهاد کښې ورته دشريکيدو اجازت نه ورکول بيان شويدی،

﴿مُخَلَّفُوْنَ﴾ د﴿مُخَلَّفُ﴾ جمع ده، معنی ئې متروک، [پريښولې شوې] ده، هر کله چه داخلق په جهاد کښې دنه شريکيدو په وجه خوشحاليدل اوګنړل ئې چه مصيبت نو موځان خلاص کړو ليکن په دې لفظ سره دا اشاره اوکړې شوه چه حقيقت دادې چه الله تعالی ته په جهاد کښې ددوئ شريکيدل منظور نه شولې چه دهغې دفضيلت موندلو دوئ جوګه نه وو ، ځکه ددې جهاد پريښودونکی نه دی، بلکه پريښودل شوی دی چې دالله تعالی اورسول الله ﷺ له اړخه جهاد ته دوئ پرې نښودې شو،

﴿خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ﴾ د ، خلف، معنی دلته روستو اوپس هم کيدې شی اوبو عبيده رحمه الله هم دامعنی اغستې ده، مطلب ئې دا شوچه هر کله رسول الله ﷺ جهاد ته لاړونو ددې نه پس په روستو پاتې کيدو باندې دوئ خوشحاليدل چه په حقيقت کښې دخوشحالئ څيز نه دې ﴿بِمَقْعَدِهِمْ﴾ مقعد ، دلته په مصدری معنی اغستې شويدې، چه معنی ئې قعود [کښيناستل] ده،

Scanned with Ca

دلته دخلف بله معنی، مخالفت هم اغستې شي چه داخلق درسو الله ﷺ دحکم نه دمخالفت کولو په بنا، په کورناست پاتې شو او یو ازې خپله هم په کور نه کښیناسته بلکه نورئې هم دجهادوتلونه منع کول وئیل به ئې ﴿لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ﴾ دګرمئ په موسم کښې جهاد دپاره مه اوځئ،

دا خودوړاندې نه معلومه شویده چه دتبوک دغزاحکم دسختئ ګرمئ په موسم کښې شوې وو الله تعالى ددوئ دخبرې جواب داسې ورکړو ﴿قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا﴾ یعنی دابدنصیبه خلق داموسمي ګرمي خو وینی اوددې نه دځان ساتلوغم کوی، دالله اورسول الله ﷺ دنافرمانئ په نتیجه کښې دجهنم په اورکښې دپریوتونه دځان ساتلو هیڅ فکرنه کوی، آیادا موسمي ګرمي دجهنم ګرمئ نه زیاته ده څه. ورپسې فرمائی:

﴿فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا﴾ لفظی معنی ئې داده چه خاندئ لږ اوژاړئ ډیر] دا صیغه اګرچه دامر راوړې شوې دې لیکن مفسرینو په معنی دخبر کښې اغستې ده، او دامر په صیغې سره د راوړلو حکمت ئې دا بیان کړیدې چه داسې کیدل یقیني دی، یعنی داخبره کیدونکې ده چه ددې خلقو دا خندا خوشحالی یو اځې دڅوورځوده په آخرت کښې به ئې همیشه سراسری ژړاوی، چنانچه ابن ابی حاتم رحمه الله دحضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه ددې آیت په تفسیر کښې نقل کړیدی چه: اَلدُّنيا قَلِيلٌ فَلْيَضْحَكُوا فِيهَا مَا شَاءُوا فَإِذَا انْقَطَعَتِ الدُّنيا وَصَارُوا إِلَى اللَّهِ فَلْيَسْتَأْنِفُوا الْبُكَاءَ بُكَاءً لَا يَنْقَطِعُ أَبَدًا. [مظهری] (۱)

دنیادڅوورځوده په دې کښې چه څومره غواړئ هومره اوخاندئ بیاچه دنیاختمه شی او الله تعالى ته مخامخ شئ نوژړابه موشروع شی چه هیڅ کله به نه ختمیږی] .

په دویم آیت کښې د [﴿وَلَنْ تَخْرُجُوا﴾ مطلب په تیرشوي خلاصه تفسیر کښې دا اغستې شویدې چه که داخلق بیاپه څه جهاد کښې دشریکیدو اراده ښکاره کړی نو هر کله چه په زړونو کښې ئې ایمان نشته هغه اراده به ئې هم اخلاص سره نه وی کله به چه ورته دتلو موقعه په لاس ورشی دغه وخت به دړومبې پشان په بهانوجوړولوسره ځان دجهادنه پاتې کړی، ځکه هغوئ ﷺ ته حکم اوشوچه که دوئ په جهاد کښې دشریکیدودپاره پخپله هم اووائی نوتاسو ﷺ ورته حقیقت ښکاره کړئ چه ستاسو په قول، فعل باندې اعتبارنشته، تاسو به نه جهاددپاره اوځئ اونه به زماپه ملګرتیا کښې داسلام دښمن سره جنګ اوکړئ،

اکثرومفسرینو رحمهم الله فرمائیلی دی چه داحکم وردپاره ددنیاوی سزاپه ډول جاری کړې شو، که په رشتیاؤهم په یو جهاد کښې دشریکیدودپاره اووائی نوهم ئې شریکیدوته مه پریږدئ. (۲)

							وَلَا تُصَلِّ
							او مهٔ کوه مونځ دجنازې
							او ته په
عَلَىٰ أَحَدٍ	مِّنْهُم	مَّاتَ	أَبَدًا	وَلَا تَقُمْ	عَلَىٰ قَبْرِهِ	إِنَّهُمْ	كَفَرُوا
په هیڅ یو کس باند	ددوئ نه	چې مړشي	همیشه	او مهٔ ودریږه	په قبر دهغه	بیشکه دوئ	کفرکړې دي

په دوی کښې که څوک مړشي هیڅ کله د جنازې مونځ مکوه او مهٔ [د دعا غوښتلو دپاره] دهغه د قبر سره اودریږه

(۱) تفسیر ابن ابي حاتم تحت هٰذه الآية رقم الحديث: ۱۰۶۵۳، والتفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۲۶۲

(۲) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۱۴۳، وتفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۲۱۷، وروح المعاني تحت هٰذه الآية: ج ۷، ص ۲۱۸

Scanned with Ca

بِاللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	وَمَاتُوْا	وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝
په الله اوپه رسول دهغه		او مړه شودوئ	او حال داچې دوئ فاسقان وو ا

خکه چه دوی په الله او دهغه په رسول باندې کفر کړی دی ا

آسان ترجمه قرآن

او ﴿اې پیغمبره !﴾ دې ﴿منافقانو نه﴾ چه څوك مړه شي لوڅه په هغه باندې چرې هم ﴿جنازه﴾ مه کوه ، اومه د هغه په قبر باندې اودرېږه يقين وکړه چه دا هغه خلق دي چه دوی دالله او دهغه په رسول باندې کفر کړې دې او داسې حالت کښې مړه شوي دي چه دوی نافرمانه وو.

خلاصه تفسير

﴿وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا﴾ او په دوئ کښې چې څوك مړۀ شی نو په هغه [دهغه په جنازه] چرې هم مونځ مه کوئ ﴿وَلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ﴾ او مه [دښخولو وغیره دپاره] دهغه په قبر اودرېږې [ځکه چې] ﴿اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ دوئ الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ سره کفر کړې دې ﴿وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝﴾ او دوئ د کفر په حالت کښې مړۀ شوی دی.

معارف اومسائل

دصحيح احاديثونه په اتفاق دامت سره ثابت دی چه داآيت دعبدالله بن ابی منافق په مرګ اوپه هغه باندې دجنازې دمونځ کولوپه باره کښې نازل شويدې، اودصحيحينودروايت نه ثابت دی چه دهغه په جنازه باندې رسول الله ﷺ مونځ کړیدې، خوداآيت دهغې نه روستو نازل شوچه بیاهیچرې هم رسول الله ﷺ دمنافق په جنازې باندې مونځ نه دې کړې،

په صحيح مسلم کښې دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه په روايت سره ددې آيت دنازلیدوواقعه په تفصیل سره داسې بيان کړې شويده چه: کله عبدالله بن ابی بن سلول مړشواودهغه ځوئ عبدالله [چه یومخلص مسلمان وو] صحابی رضی الله عنه وودرسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو اوخواست ئې اوکړوچه تاسوراته خپل قميص راکړئ چه پلارته م ئې کفن کړم، هغوئ ﷺ ورکړو، بیا حضرت عبدالله رضی الله عنه داخواست ورته هم اوکړوچه دده دجنازې مونځ هم اوکړئ، چه دجنازې مونځ دپاره اودريدونوحضرت عمر رضی الله عنه دهغوئ ﷺ جامه اونيوه اوعرض ئې اوکړو چه تاسو ﷺ دمنافق جنازه کوئ، سره ددې چه الله تعالى تاسو ﷺ دده دجنازې کولونه منع کړی ئې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه، الله تعالى راته دبخښنې غوښتلويانه غوښتلو اجازت دوئ [منافقانو] دپاره راکړيدې نوزه داوياخلونه زيات بخښنه هم غوښتلې شم دا اجازت په هغه آيت کښې ورکړې شوې ووکوم چه لږشان وړاندې هم په دې سورت [توبه] کښې تيرشويدې يعنى ﴿اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ۭ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ﴾ بيارسول الله ﷺ دده دجنازې مونځ اوکړو، دمانځه نه پس داآيت نازل شو ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾ چنانچه دې نه پس هغوئ ﷺ چرې هم دمنافق دجنازې مونځ نه دې کړې، (۱)

---

(۱) صحيح مسلم، کتاب الفضائل، باب فضائل عمر رضی الله عنه: ج ۲، ص ۲۷۶، وصحيح البخاری، کتاب اللباس، باب لبس القميص: ج ۲، ص ۸۶۳

Scanned with Ca

په دې واقعاتوباندې څوانګالونه اودهغې جوابونه ! دلته يوسوال داهم پيداکيږي چه عبدالله بن ابي داسې يومنافق ووچه منافقت يې په څوځايونوکښې ښکاره شوې وواودټولو منافقانو سردارمنلې شو،هغه سره درسول الله ﷺ په داسې بېل ډول سلوک څنګه اوشوچه ورته ئې کفن دپاره خپل قميص مبارک ورکړو؟

جواب ئې دادې چه ددې دوه سببه کيدې شي، ① يوداچه دهغه ځوئ حضرت عبدالله صاحب رضي الله عنه يومخلص صحابي رضي الله عنه وودهغوئ رضي الله عنه سوال ئې کوځ نشوغورځولې اودهغوئ رضي الله عنه دخاطره ئې داغسې اوکړل،بل داچه دبخاري شريف په يوحديث کښې په روايت دحضرت جابر رضي الله عنه منقول دی چه کله دبدرپه غزاکښې درسول الله ﷺ تره حضرت عباس رضي الله عنه هم دقريشي سردارانو په لړکښې ګرفتارشودهغوئ رضي الله عنه په بدن قميص نه وو،رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه دوئ رضي الله عنه ته دې قميص واغوستلې شي،په هغه باندې دبل چاقميص برابرنشوسوادعبدالله بن ابي نه ولې چه دادواړه ديوقدخاوندان وو،دواړه لوړلوړوو،چنانچه دهغې په بدل کښې ورته دهغه دمرګ په وخت خپل قميص رسول الله ﷺ ورکړو،[قرطبي] (۱)

بل سوال داراپورته کيدې شي چه دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه داعرض کول درسول الله ﷺ په خدمت کښې په څه بناووچه تاسو ﷺ دمنافق دجنازې دمونځ کولونه الله تعالى منع کړې ئې،ولې چه ددې نه وړاندې په بل يوآيت کښې دمنافق دجنازې دمونځ نه هغوئ ﷺ په ډاګه نه وومنع کړې شوی؟ ښکاريږي داسې چه حضرت عمر رضي الله عنه دامطلب دسورت توبه دآيت ﴿اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ﴾ نه اغستې وی،نواوس سوال داپيداکيږي چه که دې آيت دجنازې دمونځ په منعوالى باندې دلالت کولونورسول الله ﷺ تردغه مطلب ولې وانغستلو،بلکه داسې ئې ولې اوفرمائيل چه په دې آيت کښې ماته اختياراکړې شوې دی،

جواب ئې دادې چه په حقيقت کښې دآيت ظاهري مطلب هم دغه اختيارورکول معلوميږي. اوداهم ښکاره خبره ده چه داويااخلويياانول څه حدبندئ دپاره نه بلکه دزياتوالى دپاره دی،نو ظاهري مطلب ئې داراختوچه دمنافق بخښنه به نشي کولې اګرچه تاسوهرڅومره وار هغه دپاره بخښنه اوغواړئ چه په دې کښې په ډاګه هغوئ ﷺ دبخښنې غوښتلودمنافق نه منع نکړې شو، چنانچه په قرآن کريم کښې ددې بل يومثال داسې راغلې دې،سورت يسين کښې فرمائي، ﴿سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ په دې سره هغوئ ﷺ دانذاراوتبليغ نه منع نکړې شوبلکه دنورو آيتونوله مخې دتبليغ اوبلنې سلسله دوئ دپاره جاري لړل ثابت دی لکه فرمائي ﴿بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ﴾ ﴿اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ﴾ وغيره،

حاصل داشوچه په ﴿سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ آيت سره خوهغوئ ﷺ ته اختيار ورکول ثابت شوی وو،بياپه مستقل دليل سره انذارجاري لړل هم ثابت شوی ووهغوئ ﷺ ته داهم ثابت شوی ووچه ده ته به بخښنه نه کيږي ليکن دبل حکم الهي له مخې هغوئ ﷺ دبخښنې غوښتلونه منع کړې شوی هم نه وو،چنانچه رسول الله ﷺ په دې پوهيدوچه دهغوئ ﷺ په قميص ورواغوستلو ياپردجنازې په مونځ کولوسره به ئې بخښنه نشي کولې خوهرکله چه دې سره نوروااسلامي ښيګړوترون لړلولکه داسې چه دده دخاندان خلق يانورکفارچه

(۱) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج۸، ص۲۲۰

Scanned with Ca

دهغوئ ﷺ دا رویه او گورې نو اسلام ته به رانژدې شي او مسلمانان به شي، او د جنازې د مونځ کولو نه پرېږده ډاګه منع شوی نه وو ځکه ئې پر د جنازې مونځ او کړو،

ددې جواب دپاره یو دلیل خو هغه جمله کېدې شي چه په صحیح بخاری کښې دحضرت ابن عباس رضی الله عنه په روایت سره داسې منقول ده چه ،که ماته دا معلومه وې چه د[۷۰] اویاؤ ځلو نه په زیاته کرته دعا کولو سره ده ته بخښنه کېدې شوې نو ما به دغسې هم کړې وو، [قرطبی] [1]

بل دلیل ئې هغه حدیث شریف کېدې شي په کوم کښې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي وو، چه زما قمیص ده لره د الله تعالی دعذاب نه نشي بچ کولې، خو دا کارم ځکه اوکړو چه په دې عمل سره دده دقوم دزرګونو کسانو دمسلمانیدو امیدم لرلو چنانچه په مغازی ..او ځنې کتابونو د تفسیر کښې راغلی دی چه ددې واقعې په لیدلو سره دخزرج قبیلې یو زر کسان مسلمانان شو، [2]

خلاصه دا شو چه دړومبی آیت نه پخپله رسول الله ﷺ ته دا یقین شوې وو چه زمونږ د څه عمل په له کبله به ددې منافق بخښنه نشي کولې، مګر هر کله چه دظاهری الفاظو له مخه په یو آیت کښې اختیار ورکړې شوې وو او تردغه وخته پورې په ډاګه دممانعت بل څه آیت نه وو نازل شوې، بل اړخ ته دکافر داحسان نه دځان خلاصولو فائده هم په دې طریقې سره کېدې شوه او دنورو کافرانو دمسلمانیدو امید هم په داسې کولو سره کېدې شو ځکه پر هغوئ ﷺ دجنازې مونځ کول غوره اوګنړل، او فاروق اعظم رضی الله عنه دا ګنړل چې هر کله ددې آیت مبارك نه دا ثابته شوه چې دده بخښنه کیږی نو آیت له مخه دده بخښنه نه کېدل ثابت شوی وو ځکه پرد جنازې مونځ کول او ورد پاره دبخښنې دعا غوښتل ورته عبث او بیکاره ښکاریدل چه دنبوت شان سره ئې بې سمونه ګنړلو ځکه ئې دا په ممانعت باندې حمل کړو، رسول الله ﷺ دا کار اګرچه بې فائدې ګنړلو خو بل اړخ ته دنورو کافرانو دمسلمانیدو فائده تر ورته ښکاریدله ځکه دا یو عبث کار نشو، په دې شان نه خود رسول الله ﷺ په عمل مبارک باندې څه اشکال پاتې شو او نه دفاروق اعظم رضی الله عنه په قول باندې [بیان القرآن] [3]

البته کله چه دا ډاګیز آیت ﴿وَلَا تُصَلِّ﴾ نازل شو نو معلومه شوه که یو خوا د رسول الله ﷺ په نظر کښې دې نه یو دینی ښیګړه حاصلیدې شوه، خو یو بې سمونې او خرابی ترا او لاړېدې شوه چه ورته د رسول الله ﷺ فکر نه وو رسیدلې، هغه دا وه چه مسلمانان به دې عمل سره زړه ماتی شي او خیال به ئې راشی چه ګنې دلته مسلمانان او منافقان په یو تول تللې شی، چنانچه ددې ممانعت نازلیدو نه پس هغوئ ﷺ دهیڅ یو منافق جنازه نه ده کړې،

مسئله: ددې آیت نه دا هم ثابته شوه چه دیو کافر دعزت کولو په غرض دهغه قبر ته اودریدل یاد هغې دزیارت دپاره تلل حرام دی البته دعبرت حاصلولو په غرض یا د څه مجبورئ له کبله جائز دی، لکه هدایه [4] کښې چه راغلی دی چه هر کله یو کافر مړ شی او دهغه دښخولو دپاره څوک

---

[1]) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة: ج ۸، ص ۲۱۹، وصحیح البخاری، کتاب التفسیر، باب سورة التوبة، قوله استغفر لهم اولا تستغفر لهم الآیة: ج ۲، ص ۶۷۳

[2]) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة: ج ۸، ص ۲۲۱

[3]) بیان القرآن تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۱۳۷، ۱۳۸

[4]) الهدایة، کتاب الجنائز، قبیل فصل فی حمل الجنازة: ج ۱، ص ۹۳

کافر خپلوان نه وی نو مسلمان خپلوان ئې په دې شان ښخولې شی چه یو کنده کښې ئې وراومنډی او د مسلمان مړی پشان په شرعی طریقې سره ئې په عزت ښخ نکړی [بیان القرآن] (۱)

وَلَا تُعْجِبْكَ

او په تعجب کښې دې وانه چوی تا لره

ا او دوی په داسې حالت کښې مړه شوی دی چه کافران دې او

أَمْوَالُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي

مالونه ددوئ ا او اولاد ددوئ ا بیشکه ا اراده لری الله ا چی ا عذاب ورکړی دوئ ته ا په دې سره ا په

د دوی مالونو او اولاد ته مه حیرانیږه [چه خومره ډیر دی] الله غواړی چه د دې په سبب دوی ته په دنیا

الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ ۝ وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ

دنیا کښی ا او وځی اروحونه ددوئ ا حال دا چی دوئ ا کافران وی ا او کله چی ا نازل کړې شی ا یو سورت

کښې عذاب ورکړی ا او دوی ته د کفر په حالت کښې مرګ راځی ا او کله چه یو سورت نازل شی او په هغه

أَنْ آمِنُوا بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ اسْتَأْذَنَكَ

چی ایمان راوړئ ا په الله باندې ا او جهاد وکړئ ا په ملګرتیا د رسول دهغه کښی ا نو غواړی اجازت ستا نه

کښې وی] چه په الله باندې ایمان راوړئ ا او د رسول په ملګرتیا کښې جهاد وکړئ ا نو په هغوی کښې

أُولُو الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُنْ مَعَ الْقَاعِدِينَ ۝

خاوندان د قدرت ا ددوئ نه ا او وائی ا چی پریږده مونږ ا چی شو مونږ ا د کور ناستو سره

چه کوم طاقت لری هغوی ستا نه اجازت غواړی ا او وائی مونږ پریږده چه د ناستو خلقو سره پاتې شو

رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

راضی شول دوئ ا چی شامل شی دوئ ا د روستو پاتې شوو ښځو سره ا او مهر وهلې شوې دې ا په زړونو ددوئ

دوی په دې باندې راضی دی چه د روستو پاتې شوو خلقو سره ایسار شی ا او د دوی په زړونو باندې مهر لګولې شوې دې

فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ۝ لَٰكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ

نو دوئ ا نه پوهیږی ا ا لیکن ا رسول ا او هغه کسان ا چی ایمان ئې راوړې دې ا د هغه سره

نو دوی [په خبره] نه پوهیږی ا خو رسول او کومو کسانو چه د ده سره ایمان راوړې دې هغوی په خپلو

جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمُ

جهاد کوی هغوئ ا په مالونو خپلو سره ا په نفسونو خپلو سره ا او دا کسان چی دی ا هم دوئ لره دی

مالونو او جانونو سره [د الله په لار کښې] جهاد کوی ا او د دوی دپاره [په دنیا او آخرت کښې] د نیکو

الْخَيْرَاتُ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ

تولې نیکیانې دی ا او دا کسان ا هم دوئ دی ا خلاصې موندونکی ا تیار کړی دی الله ا دپاره ددوئ

بدلې دی ا او هم دوی کامیاب [او کامران] دی ا الله د دوی دپاره باغونه تیار کړی دی چه

---

(۱) بیان القرآن تحت هٰذه الآیة: ج ۲. ص ۳۸

Scanned with Ca

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿۸۹﴾

باغونه | چې بهیږي | لاندې هغې نه | نهرونه | همیشه به اوسیږي | په هغې کښې | دا | کامیابي ده لویه

د هغې د بنګلو د لاندې به ولې بهیږي او دوی به په هغې کښې همیشه وی | [یقیناً چه] دا لویه کامیابي ده

آسان ترجمه قرآن

او تا لره دې د دوی مال او اولاد ﴿ډیر والې﴾ تعجب کښې نه اچوي . الله تعالیٰ خو غواړي چه دوی ته په دغه څیزونو باندې په دنیا کښې سزا ورکړي او د دوی روح هم د کفر په حالت کښې اوځي. او کله چه یو سورت په دې حکم نازل شي چه: په الله باندې ایمان راوړئ او د هغه د رسول په ملګرتیا کښې جهاد وکړئ، نو دې ﴿منافقانو﴾ کښې هغه خلق چه هغوی مالدار دی تا نه اجازت غواړي او وائي چه مونږ هم هغه خلقو کښې شامل کړه کوم چه ﴿کورونو کښې﴾ ناست دي. دوي په دې خوشحاله دي چه وروستو پاتې کیدونکو ښځو کښې شامل شي . او د دوی په زړونو باندې مهر لګولې شوې دې پس دوی نه پوهیږي ﴿چه دوی څه کوي﴾ لیکن رسول او کومو خلقو چه د ه سره ایمان راوړې دې. هغوی په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کړې دې هم دوی د پاره ټولې نیکئ دي. او هم دوی کامیاب دي. الله تعالیٰ دوی د پاره داسې باغونه تیار کړي دي چه د هغې د لاندې نهرونه بهیږي . هغې کښې به دوی همیشه وي . او دا لویه کامیابي ده.

خلاصه تفسیر

﴿وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ ؕ﴾ او د دوئ مالونه او اولاد دې تاسو ﷺ [په دې] تعجب کښې نه اچوی [چې په دې ناکاره او غضب شوؤ خلقو باندې دا نعمتونه څنګه اوشو . نو په واقع کښې دا د دوئ دپاره نعمتونه نه دی بلکه د عذاب ذریعې څکه دی چې] ﴿اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ اَنْ یُّعَذِّبَهُمْ بِهَا فِی الدُّنْیَا﴾ الله ﷻ ته صرف دا منظور دی چې ددې [بیان شوؤ] څیزونو په وجه په دنیا کښې [هم] دوئ لره په عذاب کښې ښکیل کړی اولری ﴿وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ﴾ اود دوئ ساه د کفر په حالت کښې اوخیژی [چې په هغې سره په آخرت کښې هم په عذاب کښې ښکیل پاتې شی] ﴿وَاِذَاۤ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ﴾ او کله چې څه حصه د قرآن عظیم الشان ددې مضمون نازلولې شی چې تاسو [د زړهٔ د اخلاصه] په الله ﷻ باندې ایمان راؤړئ اودهغه درسول ﷺ په ملګرتیا کښې جهاد اوکړئ ﴿اسْتَاْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ مِنْهُمْ﴾ نو په دوئ کښې د وس خاوندان تاسونه اجازت غواړی او [د اجازت مضمون دا وی چې] ﴿وَقَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ الْقٰعِدِیْنَ﴾ وائی مونږ ته اجازت راکړئ چې مونږ هم دلته ایساریدونکو سره پاتې شو [البته د ایمان او اخلاص په دعوی کښې څه کول نه راځی ، صرف دومره ئې اووئیل چې مونږ مخلصان یو] ﴿رَضُوْا بِاَنْ یَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ﴾ دا خلق [په ډیرې بې ننګئ سره] په کور کښې ناستو ښځو کښې پاتې کیدو باندې راضی شو ﴿وَطُبِعَ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ﴾ او الله ﷻ ددوئ په زړونو مهر اولګولو ﴿فَهُمْ لَا یَفْقَهُوْنَ﴾ چې دهغې په وجه بې عزتی نه پیژنی ﴿لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ﴾ لیکن د رسول ﷺ اودهغوئ ﷺ په ملګرتیا کښې چې کوم مسلمانان دی ﴿جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ﴾ هغوئ [البته داحکم اومنلو او] پخپلو مالونو او ځانونو سره ئې جهاد اوکړو ﴿وَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْخَیْرٰتُ﴾ او هم دوئ

Scanned with Ca

لـره تـهولې خوبيـانې دي ﴿وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ او هـم دا خلـق كاميـاب دي [او هغـه خـوبي اوكاميابي ئې داده چې] ﴿أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ جَنَّٰتٍ﴾ الله ﷻ دوئ دپاره داسې باغونـه تيـار ساتلي دي ﴿تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا﴾ چې تـرې لانـدې ولـې بهيـږي [او] دوئ پـه كښې هميشه پـاتې كيږي ﴿ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ او دا لويه كاميابي ده.

معارف اومسائل

په دې آيتونو كښې هم ددغې منافقانو حال بيان كړې شوچه آنو ،بهانوسره دتبوک په غزا كښې دشريكيدونه ئې ځانونه پاتې كړې و ،په دوئ كښې ځنې منافقان مالدار اوآسوده هم وو ددوئ ددغې حال په وجه مسلمانانو داخيال كولې شوچه داخلق هركله چه دالله تعالى په نزد نامقبول اورد كړې شويدي نو ددنيا دادومره نعمتونه ولې وركړې شو؟

جواب ئې په رومبي آيت كښې داسې اوشوچه په غوركولوسره ددوئ مالونه اواولادخو دوئ دپاره نعمت اورحمت نه بلكه په دنيا كښې وردپاره عذاب دې اودآخرت عذاب به ئې دې نه سواوي،مال،دولت اواولادوردپاره عذاب په دنيا كښې داسې دې چه ددې په مينه، حفاظت اوودې وركولو په فكر كښې داسې ډوب پاتې كيږي چه آرام ترنشي كولې،اګرچه د آرام اوراحت سامان ورسره ډيرزيات هم وي،ولې چه آرام اوراحت دزړه آرام اوراحت ته وئيلې شي مګرددوئ زړونه هروخت بې آرامه اوپه تراره وي،دې نه علاوه ددنيادې مال،متاع،دوئ لره دآخرت نه هم بې پرواكړيدي اوپه كفراونافرمانئ كښې ئې اخته كړيدي،نوپه دې وجه هم ورتـه عذاب په دنياكښې ځكه وئيلې شي چه دآخرت دعذاب سبب جوړيږي،چنانچه قرآن كريم هم دلته ﴿لِيُعَذِّبَهُم بِهَا﴾ ځكه اوفرمائيل چه هم ددې مالونوپه ذريعه ورته الله تعالى سزا وركول غواړي،

د ﴿أُولُوا الطَّوْلِ﴾ لفظ د تخصيص دپاره نه دې بلكه دې نه دغيراولى الطول [بې سوه] خلقوحال نبه زيات په ډاګه شوچه هغوئ سره خويوظاهري عذرداهم وو.

وَجَآءَ	الْمُعَذِّرُونَ	مِنَ الْأَعْرَابِ	لِيُؤْذَنَ	لَهُمْ
اوراغلل ا عذركونكي ا دباندې دخلقو نه ا دپاره ددې چې اجازت وركړې شي ا هغوئ ته ا				
اود ميرو والوخلقو نه عذر كونكي خلق راغلل [اوعذرونه د دې دپاره پيش كوي] چه دوی ته [د پاتې				

وَقَعَدَ	الَّذِينَ	كَذَبُوا	اللَّهَ	وَرَسُولَهُۥ	سَيُصِيبُ
او كيناستل ا هغه كسان ا چې دروغو ئې وئيلي وو ا الله ا اودهغه رسول ته ا زر به اورسيږي					
كيدواجازت اوشي] اوهغه كسان ناست پاتې شوي دي چه الله او د هغه رسول ته ئې دروغ وئيلي وو زرده چه					

الَّذِينَ	كَفَرُوا	مِنْهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ
هغه كسانوته ا چې دكفرپه لار تلي دي ا ددوئ نه ا عذاب ا دردناك ا ا				
كومو كسانو په دوی كښې كفر كړې دې ا هغوی ته به دردناک عذاب اورسيږي ا				

آسان ترجمه قرآن

اودباندې نه هم بهانې كونكي خلق راغلل چه دوی لره ﴿د جهاد نه﴾ چهټي ورکړې شي او ﴿دغه شان﴾

Scanned with

کومو خلقو چه په الله او رسول پاندې دروغ وئیلي وو، هغوی هم کیناستل. په دوی کښې چه چا کفر (مستقلاً) اختیار کړې دې، هغوی ته دپاره دردناك عذاب دې.

خلاصه تفسير

﴿وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ﴾ او څه بهانه کر خلق د کلي والو دڅخه راغلل ﴿لِيُؤْذَنَ لَهُمْ﴾ دپاره ددې چې دوئ ته [په کور د پاتې کیدو] اجازت ورکړې شي [دهغوئ کلي والو څینې] ﴿وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ چا چې په الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ [دایمان په دعوی کښې] بالکل دروغ وئیلي وو هغوئ بالکل ناست پاتې شو [په دروغه عذرونو کولودپاره هم حاضر نشو] ﴿سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ په دوئ کښې څوك چې [تر آخره پورې] کافر پاتې کیږی هغوئ لره به [په آخرت کښې] دردناك عذاب وی [او څوك چې توبه کړی نو عذاب نه به خلاص پاتې شي]

معارف اومسائل

ددې تفصیل نه معلوم شوچه په دغې کلي والوکښې دوه قسمه خلق وویو داسې خلق ووچه په دروغو بهانو کولوسره ئې څانونه دجهاد کولونه پاتې کړل اوبل داسې قسم سرکش خلق ووچه بهانې کولودپاره هم حاضرنشو اوپه خپل مخ سره جهادتلونه بیخی ناست پاتې شو،

حضرت جابربن عبدالله ؓ فرمائیلی دی چه کله رسول الله ﷺ جدبن قیس ته دجهادنه د پاتې کیدواجازت ورکړونونورمنافقان هم داجازت غوښتودپاره خدمت کښې حاضرشو اوپه جهاد کښې دنه شریکیدودپاره ئې څه انې بهانې وړاندې کړې، هغوئ ﷺ اګرچه اجازت خو ورکړو، مګرپه پوه شوچه په دروغه بهانې کوی(۱) څکه ئې ترمخ واړوو، په دې موقعه داآیت نازل شوپه کوم کښې چه ددوئ عذرنه قبیلدل بیان شویدی اود دردناک عذاب وعیدورته آورولي شویدې البته په ﴿الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ﴾ فرمائیلوسره اشاره اوکړې شوه چه په دوئ کښې دڅینوعذردکفراومنافقت له کبله نه وو بلکه دطبعی سستۍ له کبله وودغه کفارپه دې عذاب کښې شامل نه دی،

لَيْسَ	عَلَى الضُّعَفَآءِ						
نشته	په کمزورو باندې						
	اوپه کمزور خلقو						
وَلَا	عَلَى الْمَرْضٰى	وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ	لَا يَجِدُوْنَ	مَا	يُنْفِقُوْنَ	حَرَجٌ	
اونه	په بیمارانو باندې	اونه په هغه کسانو باند	چې نه مومي	هغه څه	چې وئې لګوی	هیڅ ګناه	
	اوپه ناجوړو	اوپه هغه کسانو چه دومره		ورسره څه نه وی چه	[په جهاد کښې ئې] خرچ کړی	څه ګناه نشته	
اِذَا	نَصَحُوْا	لِلّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ	مِنْ سَبِيْلٍ		
هله چې	اخلاص لرى هغوئ	دالله سره	اودرسول دهغه سره	نشته په نیکانوخلقو باند	څه لاره دالزام		
خوچه	په اخلاص سره	دالله	او د هغه د رسول ملګری وی	اوپه نیکانو باندې	[هم] څه ملامتیا نشته		

(۱) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۶۸

Scanned with Ca

وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۙ	وَّلَا	عَلَى الَّذِيْنَ	إِذَا	مَآ أَتَوْكَ	

اوالله ابښونكي ارحم كونكي دې او نشته اعتراض په هغه كسانو باندې اكله چې راغلي وو تاته

اوالله ښښونكې اومهربان دې ا اونه په هغه خلقو [ملامتيا شته] چه تا ته راشي [اوراتلل ئې په دې غرض وي]

لِتَحْمِلَهُمْ	قُلْتَ	لَآ أَجِدُ	مَآ	أَحْمِلُكُمْ	

دپاره ددې چې ته سواره كړې هغوئ ا نو او اوئيل تا ا چې نه مومم زه ا هغه څيز اچې سواره كړم تاسو

چه ته دوئ [په سورلئ] سواره كړې ا [خو] تا ورته اووئيل ما سره دومره څاروی نشته چه زه پرې تاسو

عَلَيْهِ ۖ	تَوَلَّوْا	وَّأَعْيُنُهُمْ	تَفِيْضُ	مِنَ الدَّمْعِ	حَزَنًا	أَلَّا

په هغې باند انو واپس شو هغوئ ا اوسترگې دهغوئ ا بهيدلې ا داوښكونه ا په وجه دغم اچې نه

سوارهٔ كړم ا نو دوی په داسې حال كښې واپس شي چه د هغوی د خفگان په وجه اوښكې بهيږی ا چه

يَجِدُوْا	مَا	يُنْفِقُوْنَ ؕ	إِنَّمَا	السَّبِيْلُ	عَلَى الَّذِيْنَ

مومي هغوئ اهغه څه اچې خرچ ئې كړي په جهاد كښې ابيشكه الار داعتراض ا په هغه كسانوده

دوی سره دومره څه نشته چه [په جهاد كښې ئې] خرچ كړی ا ملامتيا په هغه كسانو باندې ده چه

يَسْتَأْذِنُوْنَكَ	وَهُمْ	أَغْنِيَآءُ ۚ	رَضُوْا	بِأَنْ يَّكُوْنُوْا	مَعَ

چې اجازت غواړي ستا نه ا اودې هغوئ ا مالداران ا راضي شو هغوئ اچې وي هغوئ ا سره ا

هغوی مالدارن وي اوستانه [دايساريدو] اجازت غواړي ا دوی غواړي چه د ليسارو شوو كسانوسره

الْخَوَالِفِ ۙ	وَطَبَعَ	اللّٰهُ	عَلَىٰ قُلُوْبِهِمْ	فَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ ۝	

دپاتې شوو ښځو ا اومهراووهلو ا الله ا په زړونو دهغوئ ا نو دوئ ا نه پوهيږی ا

شي ا اوالله تعالى د دوی په زړونو باندې مهر لگولې دې انو دوی نه پوهيږی [چه په ايساريدو كښې زمونږ تاوان دې

آسان ترجمه قرآن

په كمزورو خلقو باندې (په جهاد كښې د نه تلو) څه گناه نشته ، نه په ناجوړو باندې او نه په هغه خلقو باندې چه هغوی څخه د خرچ كولو دپاره څه نه وي ، كله دوی د الله او د هغه د رسول دپاره مخلص وي په نيكانو باندې هيڅ الزام نشته . او الله ډير ښخونكې ، ډير مهربان دې . او نه په هغه خلقو څه گناه شته چه دهغوی حال دا دې چه هغوی تا ته دې دپاره راغلل چه ته دوی ته څه سورلې ورکړې . او تا اووئيل: چه ما څخه هيڅ سورلې نشته چه په هغې تاسو سواره كړم "نو هغوی په دې حالت كښې واپس شول چه د هغوی دسترگونه ددې غم د وجې نه اوښكې بهيدلې چه دوی څخه د خرچ كولو دپاره څه نشته الزام خو په هغه خلقو دې چه دمالدار كيدو باوجود تا نه اجازت غواړي هغوی په دې خوشحاله دي چه هغوی ورروستو پاتې كيدنكو ښځو كښې هاملل شول او الله تعالى د دوی په زړونو باندې مهر لگولې دې . دې وجې نه دوی ته د حقيقت پته نشته .

خلاصه تفسير

﴿لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى﴾ په كم طاقته خلقو باندې څه گناه نشته او نه په بيمارانو باندې

Scanned with Ca

﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ﴾ او نه په هغه خلقو باندې چې د کومو [دجهاد سامان په تیارئ کښې] د لګولو دپاره څه درك نه لګی ، ﴿إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ کله چې دا خلق الله ﷻ او رسول ﷺ سره [په نورو حکمونو کښې] اخلاص لری [او د زړهٔ نه فرمانبرداره پاتې کیږی نو] ﴿مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ﴾ پدغه نیکانو خلقو باندې څه قسم الزام نشته] نشی پرې لګیدې ، ولې چې الله ﷻ فرمائی چې ﴿لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا﴾ ، ﴿وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ او الله ﷻ لوئې بخښونکې دلوئې رحمت خاوند دې [که دا خلق د خپلې پوهې په جوړ معذوره وی او دخپل طرفنه په اخلاص او تابعدارئ کولو کښې کوشش کوی او په واقع کښې څه کمې پاتې شی نومعاف به ئې کړی] ﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ﴾ او نه په هغه خلقو [څه ګناه اوالزام شته] چې څه وخت هغوئ تاسو ﷺ ته دې دپاره راغی چې تاسو ﷺ ورته څه سورلی ورکړئ او تاسو ﷺ [ورته] ﴿قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ﴾ وایئ چې ما سره خو هیڅ څیز نشته چې تاسو پرې باندې سوارهٔ کړم [یعنی ستاسو سورلئ کولو دپاره ئې درکړم] ﴿تَوَلَّوا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا﴾ نو هغوئ پداسې حال کښې [نامراده] واپس لاړ شی چې سترګو نه ئې اوښکې بهیږی ددې غمه چې [افسوس دې] ﴿أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنفِقُونَ﴾ دوئ سره [دجهاد دسامان تیارولو دپاره] دلګولو هیڅ [مال] نشته [نه خپل ورسره شته او نه دبل ځائې نه ورته ورکړې شو ، غرض دا چې دې بیان شوؤ معذورو خلقو باندې هیڅ ګرفت نشته] ﴿إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ﴾ بس الزام [لګیدل او ګرفت کول] خو یوازې په هغه خلقو دی چې سامان او وس لری او په کور باندې د پاتې کیدو] اجازت غواړی ﴿رَضُوا بِأَن يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ﴾ دغه [د ډیرې بې عزتئ نه] کور ناستو ښځو سره په پاتې کیدو باندې راضی شو ﴿وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ﴾ او الله ﷻ ددوئ په زړونو باندې مهر اولګولو ﴿فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾ چې دهغې په وجه هغوئ [په ګناه اوثواب باندې] نه پوهیږی.

خلاصه تفسیر

په تیروشوؤآیتونو کښې دداسې خلقوحالات بیان شوی ووچه په حقیقت کښې جهادتـه دتلونه معذوره وومګردسستئ پـه وجه ئې عذراوکړو ،اوناست پاتې شو ،یا دداسې منافقانووچه دخپل کفراومنافقت په وجه ئې په دروغوانوبهانوسره درسول الله ﷺنه دناست پاتې کیدو اجازت غوښتې وواوداسې ناتراشه او سرکش پکښې هم ووچه دڅه عذرپیش کولو اواجازت حاصلولو نه بغیرپه کورباندې ناست پاتې شوی وو ،ددوئ نامعذوره کیدل اوپه دوئ کښې کافرانواو منافقانودپاره دردناک عذاب بیان په دغه تیروشوؤآیتونو کښې راغلې وو ،

اوس پـه دې آیتونو کښې دهغـه مخلصانومسلمانانوبیان دې چه پـه حقیقت کښې دمعذور والی په وجه په جهاد کښې دشریکیدونه پاتې راغلل ،په دې کښې څه خلق نابینا ،رنځوران یا هغه معذوران ووچه ښکاره عذرئې لرلو ،اوڅه هغه خلق هم ووچه په جهاد کښې شریکیدو دپاره تیاروو ،بلکه پـه جهاد کښې شریکیدودپاره ناقلاره وو ،خو سفرکښې دسورلئ دپاره ئې څه څاروې نه لرلو ،سفراوږداوموسم دسختئ ګرمئ وو ،هغوئ درسول الله ﷺپـه خدمت کښې حاضرشو ،دجهادکولوئې خپله جذبه ورته ښکاره کړه ،دسورلئ دنیشتوالی خپله مجبوری ئې

Scanned with Ca

ورته بيان کړه، رسول الله ﷺ ته ئې خواست اوکړو چه مونږ د پاره د سورلۍ برابرولو څه انتظام اوبندوبست اوکړئ،

دتفسيراوتاريخ په کتابونو کښې داسې قسم ګڼړ واقعات ليکلی شويدی، څنې خوداسې وو اول د سره ورته رسول الله ﷺ د سورلۍ د ځاروی د نيشتوالی عذراوکړوچې زمونږ سره د سورلۍ څه انتظام نشته نو دا خلق په ژړاروان شو، دالله تعالی انتظام ته ګورئ چه هم په دغه وخت شپږ اوښان رسول الله ﷺ ته د پيش کولو د پاره راوستې شو اوهغه ئې دوئ ﷺ ته ورکړل [مظهری] (۱) هم په دغې کسانو کښې دريوتنو د پاره حضرت عثمان غنی ﷺ د سورلۍ انتظام اوکړو، سره ددې چه دې نه وړاندې ئې هم ډيرغټ انتظام په خپل ذاتی خرچ کړې وو،

څنې پکښې داسې هم ووچه ترآخره پورې ورته سورلۍ ملاؤنشوې او د مجبورۍ له کبله په جهاد کښې د شامليدونه پاتې شو، هم په دې آيتونو کښې ددې ټولو حضراتو بيان راغلې دې چه عذرئې الله تعالی قبول کړو په آخر کښې الله تعالی خبرداري ورکړو چه وبال خود هغه خلقو دې څوک چه سره د وس لرلو نه يې په جهاد کښې شريکيدل لکه د ښځوخوښ نه کړل لکه فرمائی: ﴿إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ﴾

الحمد لله د [۱۰] لسمې سيپارې د پښتو ترجمه ختمه شوه، وروسې د الله تعالی په تکيه د يولسمې سيپارې ترجمه شروع کوم،

[الحمد لله پاره نمبر ۱۰ ختمه شوه]

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ۚ قُلْ لَا تَعْتَذِرُوا

عذرونه به پيش کوی | تاسوته | کله چی | واپس ورشئ تاسو | دوئ ته | ورته اووايه | چی عذرونه مه کوئ

دوئ به تاسو ته [رنګ رنګ] عذرونه پيش کوی | کله چې ورته تاسو واپس شئ | ورته اووايه چې عذرونه مکونی

لَنْ نُؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ ۚ

هرګز باورنه کوو مونږه | په خبره ستاسو | په تحقيق خبر کړی يو مونږه | الله | د حالاتو ستاسو نه

مونږ هيڅکله ستاسو خبره نه منو | ....مونږ ته الله پاک ستاسو د حالاتو خبر راکړې دې

وَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ

اواوس به ګوری الله | عمل ستاسو ته | او رسول د هغه [هم] | بيا | به واپس بوتلې شئ تاسو | هغه الله ته

اوبيا به هم الله او د هغه رسول ستاسو کارونه وينی | اوبيا به هغه ذات [الله] ته واپس کيږئ

عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٤﴾

چی عالم دې په پټه | اوپه ښکاره | نوخبربه درکړی تاسو ته | په هغه عملونو | چی وئ تاسو چی کول به مو

چې هغه ته پټ او ښکاره هرڅه معلوم دی | نوتاسو چې کوم عملونه کول د هغې خبر به درته درکړی

سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ

قسمونه به خوری داخلق | په الله باندې | تاسوته | کله چی | واپس راشئ تاسو | دوئ ته |

چې تاسو واپس شئ نو دوئ به درته په الله قسمونه خوری | دې د پاره چې تاسو ترې

(۱) التفسير المظهری تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۸۱

Scanned with Ca

لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ فَأَعْرِضُوْا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ

دپاره ددې چې مخ واړوئ تاسو | دسزا ددوئ نه | نو مخ واړوئ | دسزا ددوئ نه | بيشکه دوئ | پليت دي

نه ډډه اوکړئ [په ايسارېد ئې نه ملامته کوئ] نوتاسوترې ډډه اوکړئ | ....دوئ پليت دي

وَمَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۵﴾

اوځائي دورتلو ددوئ | دوزخ دي | په وجه دبدلې | په هغه کارونو | چې وو دوئ | چې کول به ئې

اوددوئ ځائې دوزخ دي | ....اودا د دوئ د عملونو بدله ده

يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَإِنْ تَرْضَوْا

قسمونه خوري دوئ | تاسوته | دپاره ددې چې راضي شئ تاسو | ددوئ نه | نو که تاسو | راضي شئ

دوئ تاسو ته ځکه قسمونه خوري | چې تاسوترېنه رضا شئ | نوهډوکه تاسود دوی نه راضي هم شئ

عَنْهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۹۶﴾

ددوئ نه | نو بيشکه الله | نه راضي کيږي | دخلقو | فاسقانونه |

نو الله ﷻ دداسې شرارتي خلقونه نه رضا کيږي |

آسان ترجمه قرآن

﴿مسلمانانو!﴾ چه کله تاسو ﴿تبوک نه﴾ واپس دې ﴿منافقانو﴾ ته لاړشئ، نو دوی به تاسو ته ﴿قسم قسم﴾ عذرونه پیش کوي ﴿اې پیغمبره!﴾ دوی ته اووایه چه (اوس) بهانې مه کوئ: مونږ چرې هم ستاسو په خبره یقین نه کوو . الله تعالی مونږ ستاسو د حالاتو نه خبر کړي یو، او آئنده هم الله ستاسو عمل ویني، او دهغه رسول هم. بیا به تاسو هغه ذات ته واپس شئ چه هغه ته د ښکاره او د پټو خبرو پوره پوره علم دې . بیا به هغه تاسو خبر کړي په هغه څه چه تاسو کول چه کله تاسو دوی ته واپس شئ نو دا خلق به تاسو ته په الله باندې قسمونه خوری . دې د پاره چه تاسو د دوی نه مخ واړوئ نو تاسو هم دوی نه مخ واړوئ یقین وکړئ چه دوی سراسر ګندګی ده. اوڅه چه دوی کوي د هغې د وجې نه د دوی ځائې جهنم دې دوی تاسوته دې وجې نه قسمونه خوري چه تاسو دوی نه خوشحاله شئ . حال دا دې که تاسو دوی نه خوشحاله هم شئ نو الله د داسې نافرمانو خلقونه نۀ راضی کیږی.

خلاصه تفسیر

[يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ۭ] دا خلق به [تول] ستا په وړاندې عذر پیش کوی کله چې ته دوئ ته واپس ورشې [قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ] انو اې محمد ﷺ !] تاسو [د ټولو د طرفنه صفا اووایئ چې [پرېږدئی] دا عذر مه کوئی مونږ به تاسو لره ریښتونی نه منو [قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ ۭ] [ځکه] الله ﷻ مونږ ته ستاسو [داصلی حالت] خبر راکړې دې [چې ستاسو دپاره هیڅ عذر صحیح نه وو] [وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ] او [خیر دې] بیا دپاره هم به هم الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ستاسو حالت ګوری [معلومه به شی چې د ګمان مطابق تاسو څومره تابعدار او مخلص یئ] [ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ] بیا به تاسو داسې ذات ته واپس شئ چې هغه ته پټ او ښکاره هر څه معلوم دی [او هغه ذات نه ستاسو هیڅ عقیده او هیڅ عمل پټ نه دې] [

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝] بيا به هغه ذات تاسو ته اووائي چې تاسو څه كول [او دهغې بدله به درکوي] [سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ] او اوس هغوئ تاسو ته په الله تعالى قسمونه خوري [چې مونږ ته عذر وو] [اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ] كله چې تاسو هغوئ ته واپس شئ چې تاسو هغوئ لره د هغوئ په حالت باندې پريږدئ [او ملامتيا وغيره نه كوئ] [فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ] نو تاسو [دهغوئ مطلب پوره كړئ او] هغوئ د هغوئ په حالت باندې پريږدئ [دې فاني غرض سره نه دهغوئ هيڅ اونشي ځكه چې] [اِنَّهُمْ رِجْسٌ ۡ] هغه خلق بالكل پليت دي او [اخير كښې] [وَّمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ] دهغوئ ځائې دوزخ دې ، [جَزَاۗءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝] د هغه كارونو په بدله كښې چې كوم به هغوئ د [نفاق وخلاف وغيره] كول [او ددوئ هم دا تقاضا ده چې دوئ هم ددوئ په حال پريږدئ ځكه چې د تعرض نه مقصود اصلاح كول دي او ددوئ دخبيث توب نه ددې اميد نشته دې او داشان] [يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ] دوئ به په دې وجه قسمونه خوري چې تاسو ددوئ نه راضي شئ نو [اول خو ته د الله تعالى دښمنانو نه ولې راضي كيږې خو بالفرض] [فَاِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ] كه تاسو ددوئ نه راضي شئ نو [دوئ ته به څه فائده اوشي ځكه چې] [فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ۝] الله تعالى داسې شرخوښي خلقو نه نه راضي كيږي [او د الله تعالى د رضا نه سوا د مخلوق رضا بې فائدې ده]

معارف او مسائل

په تيروشوؤ آيتونو كښې دهغه منافقانو بيان ووچه دتبوک غزاته دوتلونه وړاندې ئې په غلطو او درغو بهانو كولو سره عذر كړې وو، اوس په دې آيتونو كښې دهغو بيان دې چه دجهادنه په واپسې باندې درسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرشو اودخپل جهادنه ئې د غير حاضر كيدو د دروغو عذرونه پيش كړل. دا آيتونه مديني طيبې ته واپس راتلونه وړاندې نازل شوې ووچه پكښې دآئنده راپيښيدونكې واقعې خبروو، هغه داچه كله تاسو ﷺ واپس مديني طيبې ته راشې نومنافقان به دعذركولو دپاره ستاسو خواته راشي چنانچه هم دغسې اوشو.

په دې آيتونو كښې رسول الله ﷺ ته درې حكمونه وركړې شو، اول داچه كله د دروغو عذرونو پيش كولو دپاره درته راشي نوتاسو ﷺ ورته اووائې چه فضول دروغ عذرونه مه كوئ، مونږ به ستاسو دخبرې تصديق نه كوؤ، ولې چه الله تعالى دوحې په ذريعه مونږ ته ستاسو ټول حالات، خيالات، ستاسو ورانكارئي اودزړونوپټې ارادې خودلې دی، چه دهغې په ذريعه راته ستاسو دروغ په ډاګه شوه ځكه عذر بيانول مو فضول دی. وړپسې فرمائي ﴿وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ﴾ په دې كښې دوی ته مهلت وركړې شو چه اوس دې هم توبه اوكړي دمنافقت په پريښودودې سوچه مسلمانان جوړشي، ځكه چه په دې كښې اوئيلې شوچه په آئنده كښې به الله تعالى اودهغه رسول ﷺ ستاسو عمل ګوري چه هغه به څنګه وي، دهغې په جوړبه درسره عمل كولې شي كه په توبې كولو سره سوچه مسلمانان شوې نوګناهونه به مو معاف شي ورنه په دروغه دابهانې به درته هيڅ فائده درنه كړي.

دويم حكم په دويم آيت كښې دا بيان شوې دې چه ستاسو په واپسې به دا خلق په دروغو قسمونو خوړلو سره ستاسو تسلي كوی، مقصد به ئې دا وي چه ﴿لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ﴾ [جهادته ددوی نه تللوپسې مخه مهٔ اوړې، په دې باندې ملامتيا مهٔ كوې. ځكه ارشاد اوشوچه ددوی دا خواهش

Scanned with Ca

پوره کړي لکه فرمائي ﴿فَأَعۡرِضُوۡاعَنۡهُمۡ ﴾يعني تاسو دوی پسي مخه مۀ اوړي، مۀ پرې ملامتيا واچې اومۀ ورسره تينګ تعلقات ساتې، ولې چه دملامته کولونه خو ئې څه فائده نشته. هر کله چه ددوی په زړونو کښې ايمان نشته اوپه لټون کښې ئې هم نه دی نودتش ملامته کولونه څه جوړيږی؟ ولې خپل وخت بربادوې؟

په دريم آيت کښې دريم حکم دادې :داخلق په دروغو قسمونو خوړلو سره تاسوصلی الله عليه وسلم اومسلمانان راضی کول غواړی، ددې په باره کښې الله تعالی داهدايت اوکړوچه ددوی داخواهش دې پوره نه کړې شی، تاسوترې راضی نه شې اودائې هم اوفرمائيل چه که بالفرض تاسوترې راضی هم شوې نوهغوی ته هيڅ فائده څکه نشته چه الله ترې راضی نه دې، خو الله تعالی به څنګه ترې راضی شی، هر کله چه دوی په خپل کفراومنافقت باندې تينګ دی.

اَلۡاَعۡرَابُ
دعربو دباندې خلق
[باندېچيان [منافقان] په کفر

اَشَدُّ　كُفۡرًا　وَّنِفَاقًا　وَّاَجۡدَرُ　اَلَّا يَعۡلَمُوۡا　حُدُوۡدَ
زيات سخت دی| په کفرکښې| اوپه منافقت کښې| اوزياته مناسبه خبره ده| چې پوهه نۀ وی|په حدونو
او نفاق کښې ډير سخت دی | هغوئ دپاره هم دغه شان خبره پکاروه | چې الله ﷻ

مَآ　اَنۡزَلَ اللّٰهُ　عَلٰى رَسُوۡلِهٖ　وَاللّٰهُ　عَلِيۡمٌ　حَكِيۡمٌ
دهغه دين باندې| چې نازل کړې دې الله| په رسول خپل باندې| اوالله| ښۀ پوهه دې| ښۀ حکمت والا دې
په خپل پيغمبر کوم حکمونه نازل کړی دی |دهغې حدونه اونه پيژنی |الله په هرڅه پوه دې |دحکمت خاوند دې

وَمِنَ الۡاَعۡرَابِ　مَنۡ　يَّتَّخِذُ　مَا　يُنۡفِقُ　مَغۡرَمًا　وَّيَتَرَبَّصُ
اودباندېچيانونه | ځينی هغه څوك دی | چې نيسی | هغه څه | چې خرچ کوی | تاوان | اوانتظار کوی
او په باندېچيانو کښې بعضې کسان داسې دی |چې دالله ﷻ په لار کښې کوم خرچ کوی|نو هغه نقصان ګڼړی

بِكُمُ　الدَّوَآئِرَ　عَلَيۡهِمۡ　دَآئِرَةُ السَّوۡءِ　وَاللّٰهُ　سَمِيۡعٌ　عَلِيۡمٌ
په تاسو باندې| دګردش دزمانې | دې په دوئ باندې| ګردش دبدئ | اوالله | اوريدونکې| پوهه دې
اوپه تاسوباندې دانقلاب راتلو انتظار کوی |خو هم په دوئ خراب وخت راتلونکې دې |اوالله آوريدونکې اوپوهه دې

وَمِنَ الۡاَعۡرَابِ　مَنۡ　يُّؤۡمِنُ　بِاللّٰهِ　وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ　وَيَتَّخِذُ
اوځينی دباندېچيانونه| هغه څوك دی | چې ايمان لری | په الله باندې| اوپه ورځ دآخرت باند| اونيسی
اوپه باندېچيانو کښې ځينې خلق داسې هم دی | چې په الله ﷻ يقين ساتی |او کوم خرچ چې کوی

مَا　يُنۡفِقُ　قُرُبٰتٍ　عِنۡدَ اللّٰهِ　وَصَلَوٰتِ　الرَّسُوۡلِ　اَلَآ　اِنَّهَا
هغه څه| چې خرچ کوی| ذريعه دنزديکت| په نزدالله| اوذريعه ددعاګانو| درسول| خبردار| بيشکه دا
هغه دالله ﷻ په دربارکښې دنزديکت او دپيغمبر نه ددعا اخستلو ذريعه ګڼړی | بيشکه ددوئ دا خرڅ کول

Scanned with Ca

قُرْبَةٌ	لَّهُمْ ؕ	سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ	فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ
ذریعه دنزدیکت ده	دپاره ددوی	ضروربه داخل کړی دوی لره الله	په رحمت خپل کښی	بیشکه الله

ددوی دنزدیکت ذریعه ده | الله ﷻ به ئې دیرزر دخپل رحمت دسیوری لاندې راولی | بیشکه الله ﷻ

غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ﴿۹۹﴾
ښښونکي	مهربان دي

ښښونکي مهربان دي

آسان ترجمه قرآن

کوم چه بانډچیان ﴿منافقان﴾ دي ، هغوی په کفر او منافقت کښې ډیر سخت دي ، اود نورو نه زیات ددې لایق دي چه د هغه دین د احکامونه ناخبره وي کوم چه الله په خپل رسول باندې رالیږلي دي او الله علم والا هم دي او حکمت والا هم. دغه بانډچیانو کښې هغه خلق هم دی چه ﴿دالله په نوم باندې﴾ خرچ شوي مال لره تاوان گنړي، او په دې انتظار کښې وی چه تاسو (مسلمانانو) باندې څه مصیبت راشی ﴿حال دادې چه﴾ بد ترین مصیبتونه خو په دوی باندې دي – او الله هر څه آوري ، او په هر څه پوهیږی اوپه دې بانډچیانو کښې هغه خلق هم دي چه په الله او په ورځ دآخرت باندې ئې ایمان راوړې دي،اوڅه چه ﴿دالله په نوم﴾ خرچ کوي هغه الله ته د نزدیکت د حاصلولو دپاره اود رسول د دعاګانو اخستو دپاره یوه ذریعه گنړي، بالکل! دا د دوی دپاره یقینًا د نزدیکت ذریعه ده.الله تعالیٰ به دوی لره خپل رحمت کښې داخل کړي.بې شکه الله ډیر بخونکې ، ډیر مهربانه دي.

خلاصه تفسیر

[په دې منافقانو کښې چې کوم] [اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا] د کلی اوسیدونکی [دی هغه] خلق [د سخت مزاج په وجه] په کفر او نفاق کښې ډیر زیات سخت دی [وَّاَجْدَرُ اَلَّا یَعْلَمُوْا حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ ؕ] او [د علماء کرامو او عاقلانو نه د لرې والی په وجه] پکار ده چې دوئ داسې وی چې دوئ ته د هغه احکامو علم نشته دې چې کوم الله تعالی پخپل رسول ﷺ باندې نازل کړی دی [ځکه چې دوئ هر کله د پوهه خلقو نه لرې اوسیږی نو لازمی خبره ده چې دوئ به جاهلان وی ، او هم په دې وجه به ددوئ په مزاج کښې سختی وی او د کفر او نفاق سختوالئ به په کښې وی] [وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۹۷﴾] او الله تعالی ډیر لوئې علم لرونکې او ډیر حکمت والا ذات دې [هغه لوئې ذات ته ددې ټولو کارونو ورته پته ده او په حکمت سره به مناسب سزا ورکوی] [وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ یَّتَّخِذُ مَا یُنْفِقُ مَغْرَمًا وَّیَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ] او په دې [مذکوره منافقانو] کلی والو کښې ځینې داسې دی چې [دوئ کفر او نفاق او جاهلیت سره سره په بخل او عداوت سره هم موصوف دی تر دې چې] څه چې [د جهاد او زکوة وغیره په موقعو باندې د مسلمانانو د شرمه خرچ کوی نو هغه دوئ جرمانې [په مثال] گنړی [دا خو بخل شو] او [عداوت دادې چې] تاسو مسلمانانو د دپاره [د زمانې] د گردشونو په انتظار کښې وئ [چې هسې په دوئ باندې څه حادثه راشی او دوئ ختم شی] [عَلَیْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ؕ] په دې [منافقانو] باندې خراب وخت راتلونکې دې[ځکه چې فتوحات زیات شو ، کافران ذلیل شو ، د دوئ ټول حسرتونه هم په زړه

Scanned with Ca

کښې پاتې شو، او ټول عمر ئې په خفګان او ويره کښې تير شو] [وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ] او الله تعالى [ددوئ د کفر او نفـاق خبـرې [آوريـدونکې دې [او ددوئ د زړۀ پـه خيـالاتو د اتخـاذ مغـرم او تربص دوائر] ورته معلوم دى [نو دې تولو ته بۀ سزا ورکوى] [وَمِنَ الۡاَعۡرَابِ مَنۡ يُّؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ] او ځينې کلى والو کښې داسې هم دى چې په الله ﷻ باندې او دقيامت پـه ورځ باندې [پورا پورا] ايمان لرى [وَيَتَّخِذُ مَا يُنۡفِقُ قُرُبٰتٍ عِنۡدَ اللّٰهِ وَصَلَوٰتِ الرَّسُوۡلِ] او څه چې [دوئ پـه نيکو کارونو کښې] خرچ کوى نو دا د الله تعالى د قرب ذريعه اود رسول کريم ﷺ د دعا [اخستو] ذريعه جوړوى [ځکه چې د رسول کريم ﷺ عادت مبارك وو چې په داسې موقعو باندې به ئې هغه خلقو ته دعا کوله چې خرچ بۀ ئې کولو لکه څنګه چې احاديثو کښې دى] [اَلَاۤ اِنَّهَا قُرۡبَةٌ لَّهُمۡ] ياد ساتئ چې ددوئ دا خرچ کول بيشکه ددې خلقو دپاره موجب د قربت د[الله تعالى] دى [او د دعا کيدل او آوريدل خو ددوئ مخکښې دى او ددې خبر ورکولو ضرورت نـه وو او هغه قرب دادې چې] [سَيُدۡخِلُهُمُ اللّٰهُ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ] دوئ لره بـه الله تعالى ضرور پخپل [خاص] رحمت کښې داخل کړى[ځکه چې] [اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ] الله تعالى لوئې مغفرت والا او رحمت والا دې [نو ددوئ خطاګانې به معاف کړى او دوئ به خپل رحمت کښې داخل کړى]

معارف او مسائل

پـه تيروشوو آيتونو کښې د مدينې منورې د منافقانو بيان وو،اوس دې آيتونو کښې د هغه منافقانو بيان دې چه د مدينې منورې خواؤ شا کښې په کلو کښې به اوسيدل.

[اَلۡاَعۡرَابُ] دعرب لفظ جمع نه ده،بلکه اسم جمع ده چه کلى والو د پـاره استعمالولې شى ددې مفرد به [اعرابى]وى څنګه چه د[انصار]مفرد انصارى راځى.

په دې آيت کښې د دوى حال دا اوښودلې شو چه دوى په کفر او منافقت کښې د ښار د منافقانو نه ځکه زيات دى چه دعلم او علماؤ نه لرې پاتې کيږى او عموماً پـه ناپوهې او د زړونو پـه سختوالى کښې اخته وى،دسختو زړونوخاوندان وى لکه الله تعالى فرمائى[وَاَجۡدَرُ اَلَّا يَعۡلَمُوۡا حُدُوۡدَ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ] [يعنى دا خلق په داسې ماحول او چاپيريال کښې پاتې کيږى چه د هغې پـه وجه د الله تعالى د نازل کړې شوې حدودو نه بې خبره پاتې شى،ولې چه نـه خو قرآن کريم د دوى مخې تـه راځى او نه د هغې په معنو،مطلبونو او په احکامو باندې واقف وى.

په دويم آيت کښې هم د دغې اعرابو يو حال دا بيان شوې دې چه دا خلق پـه زکوة وغيره کښې مال لګول د يو تاوان کولو په ډول ګڼرى،ځکه چه ايمان خو ئې په زړه کښې شته دې نه،خالص د خپل کفر پټولو دپاره مونځ هم کوى او فرض زکوة هم ورکوى خو پـه زړه کښې ئې تلوسـه وى چه دا مال مې عبث لاړو،ځکه پـه دې انتظار کښې اوسيږى چه ماتې اوخورى او مونږه د دې مصيبت نه خلاص شو.

[الدَّوَآئِرَ] د[دائرة]جمع ده،د عربى لغت په اعتبار[دائرة] هغه بدل شوى حالت تـه وئيلې شى چه رومبې ښه وى او بيا خراب شى ځکه قرآن کريم د دوى په جواب کښې اوفرمائيل[عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ السَّوۡءِ] [يعنى هم په دوى خراب حالت راتلونکې دې او دوى بـه د خپلو خبرو او کـارونو پـه وجه نور زيات ذليله شى.

Scanned with Ca

د کلي والو منافقانو د حالاتو بيانولو نه پس د قرآني طرز مطابق د هغه کلي والو بيان په دريم آيت کښې مناسب اوګڼرلې شو کوم چه سوچه او پاخه مسلمانان دی، دپاره د دې چه معلومه شي چه د کلو اوسيدونکی هم ټول يو شان نه وی، په دوی کښې مخلصان مسلمانان او پوهه خلق هم وی، د دوی حال دا دې چه زکوتونه او خيراتونه ورکوی نو الله تعالی ته د نزديکت ذريعه ئې ګڼرې او د رسول الله ﷺ د دعاګانو اميد لری.

زکوة، خيرات ورکولو سره خو د الله تعالی نزديکت حاصليدل ښکاره خبره ده او په دې سره د رسول الله ﷺ د دعاګانو اميد لرل په دې بنياد دی چه چرته الله تعالی ورته د مسلمانانو نه د خيرات وصولولو حکم ورکړې دې ورسره ئې دا هدايت ورکړې دې چه زکوة ادا کونکو ته دعا هم کوې لکه په يو راتلونکي آيت کښې فرمائی: [خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ] هر کله چه په دې آيت کښې دعا دپاره د [صل عليهم] لفظ استعمال شو ځکه په دې آيت کښې هم د رسول الله ﷺ دعاګانو دپاره لفظ د [صلوٰت] راوړې شو.

وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ
او رومبنی | اولنی | دمهاجرينو نه | اودانصارونه | اوهغه کسان
اوهغه مهاجرين او انصار چې دټولونه رومبې ئې ايمان ته سبقت کړې دې او خوک چې
اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ
چې روستوراغلل په دوئ پسې | په نيکئ سره | راضي شو الله | دهغوئ نه | اوراضي شو هغوئ | دهغه نه
په اخلاص ورپسې روان شوی دی | دهغوئ ټولونه الله ﷻ راضي شوې دې | اوهغوئ د الله ﷻ نه راضي دي
وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ
اوتيار کړې دی الله | دپاره دهغوئ | باغونه | چې بهيږی | لاندې دهغې نه | نهرونه | هميشه به اوسی
اوداسې باغونه ئې ورله تيار کړی دی | چې دهغې لاندې ولې بهيږی | هميشه هميشه به په کښې اوسيږی
فِيْهَآ اَبَدًا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝
په هغې کښې | تل تر تله | دا | کاميابی ده | لويه |
دا ډيره لويه کاميابی ده |

آسان ترجمه قرآن

او مهاجرينو او انصارو کښې چه کومو د مخکښې نه ايمان راوړې دې ، او چا چه په نيکئ سره د دوی تابعداري کړې ده الله د دې ټولونه خوشحاله دې، او دوی دالله نه راضي دی، او الله تعالی دوی دپاره داسې باغونه تيار کړی دی چه دهغې د لاندې نهرونه بهيږی، هغې کښې به دوی هميشه هميشه وي — دا لويه کاميابي ده.

خلاصه تفسير

[وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ] او چې کوم مهاجرين او انصار [په ايمان قبلولو کښې د ټول امت نه] سابق او مقدم دی [وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ] او [باقی امت کښې] چې ځومره خلق

Scanned with Ca

اخلاص سره [ایمان راوړو کښې] د هغوئ تابعدار دی [رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ] الله تعالی د دوئ نه راضی شو [د دوئ ایمان ئې قبول کړو او په دې به دوئ ته جزا ملاویږی] [وَرَضُوا عَنْهُ] او هغوئ ټول د الله تعالی نه راضی شو [چې دوئ اطاعت اختیار کړو چې د دې جزاء نه به دا رضا زیاته وی] [وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا] او الله تعالی د دوئ د پاره داسې باغونه تیار کړی دی چې د هغې لاندې نهرونه بهیږی او په دې کښې به همیشه همیشه وی [او] [ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ] دا لویه کامیابی ده .

معارف او مسائل

دې نه وړاندې آیت کښې د کلی والو مخلصانو مؤمنانو بیان وو، اوس په دې آیت کښې د ټولو مخلصانو مؤمنانو بیان دې چه په کښې د دوی د فضیلت درجې هم بیان شوې دی.

﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ﴾ په دې جمله کښې اکثرو مفسرینو ﴿ مِنْ ﴾لره تبعیضیه ګرځولې دې او په دې بنا ئې د مهاجرینو رضی الله عنهم او د انصارو رضی الله عنهم دوه ډلې قائمې کړې دی چه یوه ډله د سابقینو اولینو ده او دویمه ډله د دویمې درجې د صحابه کرامو رضی الله عنهم ده.

بیا په دې کښې مختلف اقوال دی چه څنو په کښې هغه صحابه کرام رضی الله عنهم سابقین اولین ګرځولی دی چه دواړو قبلو ته ئې مونځ کړې دې، مطلب دا چه د قبلې د بدلیدو نه وړاندې مسلمانان شوی صحابه کرام رضی الله عنهم ئې په سابقینو اولینو کښې حساب کړې دی دا قول د سعیدبن مسیب رحمه الله او د قتاده رحمه الله دې، عطاءبن رباح رحمه الله هغه صحابه کرامو ته سابقین اولین وائی چه په غزوهٔ بدر کښې شریک شوې وو، او شعبی رحمه الله هغوی رضی الله عنهم ته سابقین اولین وائی چه د حدیبیې په بیعت رضوان کښې شریک شوې دی، دا شان د هر قول مطابق، د دې نه علاوه نور صحابه کرام رضی الله عنهم به د سابقینو اولینو نه په دویمه درجه کښې راځی . [مظهری، قرطبی][1]

تفسیر مظهری کښې یو قول دا هم نقل شوې دې چه ﴿ مِنْ ﴾حرف بیانیه شی، مطلب به ئې دا وی چه ټول صحابه کرام رضی الله عنهم که انصار دی او که مهاجرین، په سابقینو اولینو کښې راځی، او نور ټول امت د دې نه پس لاندې درجو کښې راځی،[2] چنانچه د بیان القرآن په [خلاصهٔ تفسیر] کښې هم دا تفسیر اختیار کړې شوې دې.

د ړومبی تفسیر مطابق په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې دوه ډلې جوړیږی، یوه د [سابقینو اولینو] او بله د هغه صحابه کرامو رضی الله عنهم چه د قبلې د بدلیدو، د بدر د غزا نه، یا د بیعت رضوان نه پس مسلمانان شوې وی، او د دې بل آخری تفسیر خلاصه دا ده چه ټول صحابه کرام رضی الله عنهم په سابقینو اولینو کښې راځی ځکه چه دوی رضی الله عنهم د نور امت په نسبت په ایمان کښې پخوانی او ړومبی دی.

﴿وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ﴾ [یعنی کومو خلقو چه په عملونو او اخلاقو کښې سابقینو اولینو تابعداری په مکمله طریقې سره اوکړه] د ړومبې جملې د تفسیر مطابق په دې خلقو کښې اوله درجه د هغه انصارو او مهاجرینو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ده چه د قبلې د بدلېدو یا د بدر د غزا، یا د

---

[1]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۲۳۶، والتفسیر المظهری: ج ۴، ص ۲۸۵

[2]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۴، ص ۲۸۷

Scanned with Ca

بیعت رضوان نه پس په مسلمانیدو سره په صحابه کرامو ﷺ کښې داخل شوې وي، دویمه درجه د دوی نه پس د ټولو مسلمانانو ده کوم چه تر قیامته پورې په ایمان، نیکو عملونو او ښو اخلاقو کښې د صحابه کرامو ﷺ په طریقه باندې روان وي او د دوی مکمله تابعداري کوي.
او د دویم تفسیر مطابق د ﴿الَّذِينَ اتَّبَعُوهُم﴾ نه د صحابه کرامو ﷺ نه پس مسلمانان مراد دي چه ورته په اصطلاح کښې تابعین ﷺ وئیلې شي، او بیا ددې اصطلاحي تابعینو ﷺ نه پس هغه ټول مسلمانان په دې کښې داخل دي چه په ایمان او نیک عمل کښې د صحابه کرامو ﷺ مکمله تابعداري کوي.

صحابه کرام ﷺ ټول دخیلمې جنتیان دي او دالله تعالی په رضا سره مشرف دي: محمد بن کعب قرظي ﷺ نه چا تپوس اوکړو چه د رسول ﷺ د صحابه کرامو ﷺ په باره کښې تاسو څه وائې؟ هغوی ﷺ اووئیل چه ټول صحابه کرام ﷺ جنتیان دي اګرچه دوی ﷺ کښې چا نه غلطیانې او ګناهونه هم شوې وي. دغه کس ترې بیا تپوس اوکړو چه: په څه دلیل دې دا اووئیل؟ وې فرمائیل چه د قرآن کریم دا آیت اولوله ﴿وَالسّٰبِقُونَ الْأَوَّلُونَ﴾ په دې کښې بغیر د څه شرط نه د ټولو صحابه کرامو ﷺ په باره کښې [﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ فرمائیلې شوې دې، البته د تابعینو ﷺ په معامله کښې ورسره د ﴿اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ﴾ شرط لګولې شوې دې مطلب دا چه د خیلمې ټولو صحابه کرامو ﷺ نه الله تعالی راضي دې او د نورو مسلمانانو نه په دې شرط راضي دې چه د صحابه کرامو ﷺ مکمله تابعداري کوي.
تفسیر مظهري کښې ددې قول نقل کولو نه پس فرمائي چه زما په نزد د ټولو صحابه کرامو ﷺ په جنتي کیدو باندې ددې نه هم واضح او ښکاره دلیل دا کیدې شي چه قرآن کریم فرمائي ﴿لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ۚ﴾
چنانچه په دې آیت کښې ښه په ډاګه دا بیان کړې شوې دي چه صحابه کرام ﷺ که اولین دي او که آخرین دي ټولو سره الله تعالی د [حسنی] یعنې جنت وعده کړې ده. (۱)
او په یو حدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلې دي: د جهنم اور هغه مسلمان ته نه شي رسیدې چا چه زه لیدلې یم یا زما لیدونکي ئې لیدلي دي. [ترمذي د جابر ﷺ] (۲)
خبرداري: څوک چه د صحابه کرامو ﷺ په خپل مینځ مناقشې، خفګانونه وغیره په داسې انداز کښې وړاندې کوي چه د هغوی ﷺ په باره کښې ترې بد ګمانیانې راپیدا کیږي نو هغوی په یو خطرناکه لار روان دي. [نعوذ بالله منه]

(۱) التفسیر المظهري تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۸۷
(۲) جامع الترمذي، أبواب المناقب، باب ما جاء في فضل من رأى النبي صلى الله عليه وسلم وصحبه: ج ۲، ص ۲۲۵

Scanned with

حَوْلَكُم　　وَمِمَّنْ

| اوځینې دهغه کسانونه | چې چاپېره ستاسونه دي

| اوستاسو نه ګیر چاپېره په باندېچیانو کښې ډېر کسان منافقان دي |

مِّنَ الْأَعْرَابِ　مُنَافِقُونَ ۖ　وَمِنْ　أَهْلِ الْمَدِينَةِ ۖ　مَرَدُوا

دباندېچیانونه | منافقان دي | اوځینې | دمدینې داوسیدونکونه دي | چې عادت ئې نیولې دې

اودمدینې په خلقو کښې هم داسې کسان دي | چې په منافقت کښې کمال ته رسیدلي دي

عَلَى النِّفَاقِ　لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ　نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ　سَنُعَذِّبُهُم

په منافقت کښې | نه پېژنې ته هغوئ | مونږه پېژنو هغوئ (۱) | زربه په عذاب کړو مونږ هغوئ |

ته ئې پېژنې [خو] مونږئې ښه پېژنو | مونږبهٔ ورته [دنیاکښې] دوه سزاګانې ورکړو |

مَّرَّتَيْنِ　ثُمَّ　يُرَدُّونَ　إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾

دوه څله (۲) | بیا | به واپس کړې شي هغوئ | عذاب　لوی ته |

اوبیا [آخرت کښې] به لوئې عذاب ته اوسپارلې شي |

---

(۱) **حضرت حذیفه ته د بعضې منافقانو نومونه خودل**:- سعید دَ قتاده ؒ نه روایت کړې دې چه حضور ﷺ دَ حضرت حذیفه ؓ په غوږ کښې اوفرمائیل چه دولس منافقان دي په دوی کښې د شپږو دَ پاره دبیله کافی دِه دا د دوزخ د اور یوه شغله ده چه د هغوی په اوږو باندې به لګی اود سینې پورې به رسی یعنی د خیټې دننه بیمارو سره به مری او باقی شپږ به په خپل مرګ مری. (ابن کثیر) (دا روایت مرسل دې خوهم دا روایت متصلاً صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین باب صفات المنافقین واحکامهم:۲۷۷۹کښې موجوددې نو دا صحیح دې.)

په منافق باندې د جنازې کولو کښې احتیاط:- سعید ؒ مونږ ته بیان کړې چه حضرت عمر بن خطاب ؓ چه به کله څوك مړکیدونکې لیدو اودَ هغوی په نظر کښې به شك من وو نودَ حذیفه ؓ طرف ته به ئې کتل. که هغه به د دې مړی د جنازې مونځ کولو نوپخپله به ئې هم کولو په دې یقین سره چه دا مړې د هغه دولسو منافقانونه نه دې اوکه حذیفه ؓ به نه کولو نو بیا به ئې پخپله هم نه کوله. معلومه شوه چه حضرت عمر ؓ د حضرت حذیفه ؓ نه دا هم معلوم کړی وو چه دَ الله تعالی قسم اوخوره اوښایه چه زه خو به دغه دولسو کښې نه یم نوحضرت حذیفه ؓ وئیلې وو چه نه ته نه ئې خو ستاسو نه علاوه زه د بل چا ذمه واری نه اخلم.

(۲) **د دوه څله عذاب وضاحت**:- حضرت ابن عباس ؓ نه دَ دې آیت باره کښې روایت دې چه حضور ﷺ یو ځل دَ جمعې خطبه ورکولو دَ پاره اودریدو او وئې فرمائیل اې فلانکو فلانکو خلقو تاسو دَ جمات نه اوځئ تاسو منافقان ئې. ډېر په رسوائی سره هغوی د جمات نه اووتل. هغوی د جمات نه وتل او حضرت عمر ؓ رانِنوتلو. نو عمر ؓ دا اوګنړل چه خلق واپس کیږی کیدې شي چه دَ جمعې مونځ اوشو اوشرمیدو او د شرم د وجې هغه د دې خلقو نه پټیدو اودې خلقو هم دَ عمر ؓ نه خپل ځان پټولو هغوی دا ګنړل چه حضرت عمر ؓ ته هم زمونږ د دې نفاق علم شوې دې. کله چه عمر ؓ جمات ته راغلونومعلومه شوه چه لامونځ نه دې شوې او یو مسلمان هغوی ته خبرورکړو چه اې عمر ؓ! خوشحاله شه نن منافقان الله تعالی رسوا کړل. ابن عباس ؓ فرمائی چه دا د جمات نه ویستل اولنې عذاب دې او دویم عذاب، عذاب ورکول دَ قبر به وی. (المعجم الاوسط:۷۹۶)

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

اوتاسو نه چاپېره چه کوم بانډچيان دی ، هغوی کښې هم منافقان دی، او مديني والو کښې هم دا خلق په منافقت کښې ﴿دومره﴾ ماهران شوي دي ﴿چه﴾ ته دوی لره نه پيژنې ، مونږ دوی لره پيژنو ، مونږ به دوی لره دوه ځله سزا ورکړو ، بيا به دوی يو لوئ عذاب طرف ته ورديکه کړې شي.

خلاصه تفسير

[وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ] او ستاسو په چاپير چل کښې څه خلق او د مديني والو کښې څه منافقان داسې دی [مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۫] چې د نفاق حد کمال ته [داسې] رسيدلی دی[چې] [لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ] تاسو [هم] هغوئ نه پيژنئی [چې دا منافقان دی بس] [نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ] مونږ دوئ پيژنو [سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ] مونږ دوئ ته [د نورو منافقانو پـه نسبت آخرت نه مخکښې هم] دوچند سزا ورکوؤ [يود نفاق او بله د کمال نفاق او] [ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ۚ] بيا [آخرت کښې هم] به ډير په سخت عذاب [يعني جهنم مع خلود دائمی] طرفته ليږلې کيږي.

معارف او مسائل

په تيرو شوؤ ډيرو آيتونو کښې د منافقانو بيان راغلي دې چه منا فقت ئې د اقوالو او افعالو نه ښکاره شوې وو او رسول الله ﷺ بـه پيژنـدل چه دا منافقـان دی.پـه دې آيت کـښې د داسې منافقانو بيان دې چه ښه پاخه منافقان وو او رسول الله ﷺ هم تر اوسه پورې نه وو پيژندلې،په دې آيت کښې د دغسې منافقانو د پاره د آخرت نه وړاندې دوه عذابونه داسې بيـان شوې دی چه يو خو په دنيا کښې هر وخت د خپل منافقت د پټولو پـه فکر او ددې د ښکاريدو پـه ويره کښې وو او دا هم په دنيا کښې د عذاب نه څه کمه خبره نه وه چه مسلمانانو او اسلام سره به ئې بغض،کينه او دشمنی لرله او سره ددې نه په ظاهره کښې به د دوی ﷺ په عزت او احترام کولو او د اسلام پـه تابعداري کولو باندې مجبوره وو ،او دويم[برزخی]عذاب دې چه د قيامت او آخرت نه وړاندې به پرې راځی.

وَاٰخَرُوْنَ　　اعْتَرَفُوْا
اوځينی نور خلق دی | چې قائله شوی دی
|اوبعضې نورکسان داسې دی|چې دخپلو ګناهونو اقرار کوی
بِذُنُوْبِهِمْ　　خَلَطُوْا　　عَمَلًا صَالِحًا　　وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ؕ　　عَسَى اللّٰهُ
په ګناهونو خپلو | چی ګډ کړې دي هغوئ | عمل نيک | اوبل بد | نزدې دې الله
او څه نيک او . عملونه ئې ګډوډ کړی دی| اميد دې چې الله ﷻ به ددوئ توبه قبوله کړی |
اَنْ يَّتُوْبَ　　عَلَيْهِمْ ؕ　　اِنَّ اللّٰهَ　　غَفُوْرٌ　　رَّحِيْمٌ ۝　　خُذْ　　مِنْ اَمْوَالِهِمْ
چی ... کړی | پـه هغوئ باند | بيشکه الله | بښونکې دې | مهربانه دې | واخله | دمالونو دهغوئ نه
.... |بيشکه الله ﷻ بخښونکې مهربان دې | [اې پيغمبره] د دوی د مالونو نه

صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ؕ

صدقه | چي پاك كړي ته هغوئ | اوبركتناك كړي هغوئ | په هغې سره | اودرحمت دعاكوه | په حق دهغوئ كښې

صدقه وصول كړه | .... چي ددې په ذريعه ئې پاک صفا كړې | د دوی دپاره دعا كوه

إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝

بيشكه | چي دعا ستا | سبب دتسكين دې | دپاره دهغوئ | اوالله | هر څه اوري | هر څه پيژني

ستا دعا د دوئ د تسلئ سبب دې | .... اوالله ﷻ هرڅه آوري په هرڅه پوهه دې

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَأْخُذُ

آيا معلوم نه ده دې خلقو ته | چي بيشكه الله | هم هغه | قبلوئ | توبه | دبندګانو خپلونه | اواخلي

آيا دوئ نه پوهيږي چي هغه يوازې الله ﷻ دې | چې دخپلو بندګانو توبه قبلوی | اوهم هغه صدقه

الصَّدَقٰتِ وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ۝ وَقُلِ اعْمَلُوا

صدقې | او بيشكه چي الله | هم هغه | ډيرتوبه قبلونكې دې | رحم كونكې دې | اووايه | چي عمل كوئ

قبلوی | اوهم هغه الله ﷻ دې چې توبه قبلونكی | اومهربان دې | اوورته اووايه چي تاسو [نيک] كارونه كوی

فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ ؕ وَسَتُرَدُّونَ

نوګوري | به الله | عمل ستاسو ته | او رسول دهغه | اومومنان | او وبيا به واپس راوستلې شئ تاسو

الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ اومومنان ستاسوطرزعمل ته ګوري | .... اوهغې ذات ته به واپس

إِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

هغه ذات ته چي پوهه دې په پټه | اوپه ښكاره | نو خبربه كړي تاسو | په هغه څه | چي وئ تاسو | چي كول به مو

كيږئ | چي پټ او ښكاره هرڅه ورته معلوم دی | نوهغه به مو خبر كړی چي تاسو څه كارونه كول

وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللّٰهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ

اوځينی نور خلق دی | چی پاتې كړې شوی دی هغوئ | حكم دالله ته | يا به عذاب وركړی هغوئ له

او ځينې نورخلق دی | چې د هغوئ معامله دالله ﷻ حكم ته پاتې ده | يا به سزا وركړی

وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝

اويابه مهربانی اوكړی | په هغوئ | اوالله | په هرڅه پوهه دې | دحكمت خاوند دې |

اويابه ئې توبه قبوله كړی | اوالله ﷻ په هرڅه پوهه دې | صاحب د حكمت دې |

آسان ترجمه قرآن

اوځه خلق داسې دی چه هغوی د خپلو ګناهونو اقرار كړی دې. هغوی ګډ وډ عمل كړی دې څه نيك او څه بد. اميد دې چه الله به د دوی توبه قبوله كړي يقينًا الله ډير بخونكې، ډير مهربان دې ﴿اې پيغمبره﴾ د دوی د مالونو نه صدقه واخله چه د هغې په ذريعه ته دوی لره پاك كړي او دوی لره سبب د بركت په جوړ شې او دوی ته دعا وكړه. يقينًا ستا دعا دوی دپاره سبب د اطمينان دې. او الله هر څه آوري او په هر

څه پوهيږي آيا دوی ته دا معلومه نه ده چه دا صرف يوالله دي چه د خپلو بندګانو توبه قبلوي . او صدقات هم قبلوي اودا چه الله ډير معاف کونکي، ډير مهربان دي؟ او﴿دوی ته﴾ اووايه چه :تاسو عمل کوئ،اوس الله هم ستاسو طريقه د عمل ګوري اودهغه رسول هم او مؤمنان هم.بيا به تاسو هغه ذات ته واپس کړي شئ چه هغه ته د پټو او د ښکارو د ټولو خبرو پوره پوره علم دي نوهغه به تاسوخبرکړي په هغه څه چه تاسوکول اونور څه خلق دي چه دهغوی فيصله د الله د حکم راتلو پورې وروستوکړې شوې ده يا به الله هغوی ته سزا ورکړی او يا به ئې معاف کړي . او الله کامل علم والا هم دې او کامل حکمت والا هم دي.

خلاصه تفسير

[وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ] او څه نور خلق دی چې دخپلو ګناهونو اعتراف ئې اوکړو [خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا] او هغوئ دوه رنګه عملونه کړی وو څه ښه [لکه اعتراف چې ددې غرض پښيمانتيا ده ، او هم دا توبه ده ، او لکه نور غزوات چې مخکښې تير شوې دی ، غرض دا کارونه ئې خو ښه اوکړل] او څه خراب [اعمال ئې اوکړل لکه تخلف ، بلاعذر نو] [عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ] الله تعالی نه اميد [يعنی دهغه وعده]ده چې دهغوئ[په حال] باندې [رحمت سره] توجه اوفرمائی[يعنی توبه قبوله کړی] [اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ] بيشکه الله تعالی ډير مغفرت والا او رحمت والا دي [هرکله چې دې آيت سره توبه قبوله شوه او هغه حضرات ئې د ستنو نه راخلاص کړل نو خپل مالونه ئې د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې پيش کړو ، او خواست ئې اوکړو چې دا دالله تعالی په لار کښې خرچ کړئ ، نو ارشاد اوشو چې] [خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً]تاسو ددوئ د مالونو نه صدقه[کومه چې دوئ راوړې ده] واخلئ [تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا] او [ددې د اخستلو په ذريعې سره به] تاسو دوئ لره [دګناهونو د آثار نه] پاك کړې [او کله چې تاسو ﷺ واخلئ نو] [وَصَلِّ عَلَيْهِمْ] دوئ دپاره دعا اوفرمائې ، [اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ]بيشکه ستاسو دعا ددوئ دپاره د [زړهٔ] د اطمينان موجب ده [وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ] او الله تعالی [ددوئ اعتراف لره] ښه آورې [او ددوئ پښيمانتيا لره] ښه پيژنی [په دې وجه ددوئ اخلاص ته د کتلو نه پس دا احکام ورته ورکړنی ، ددې مذکوره نيکو عملونو يعنی توبه او ندامت او د انفاق فی الخير ترغيب ....او خراب عملونونه لکه تخلف وغيره راتلونکی وخت دپاره ترهيب ، نو اول ترغيب دې يعنی] [اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ] آيا دوئ ته معلوم نه دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو توبه قبلوی [وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ] او صدقات ئې هم قبلوی [وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ] او [آيا دوئ ته] دا [خبر نشته] چې هم الله تعالی [ددې] توبې قبلولو [په صفت] کښې او رحمت کولو [په صفت] کښې کامل دې [په دې وجه ئې ددوئ توبه قبوله کړه ، او خپل رحمت سره ئې دمال قبلولو حکم او دوئ دپاره ئې د دعا غوښتلو حکم اوفرمائيلو ، نوبيا دپاره هم که ستاسو نه خطا او ګناهونه اوشي نو په دې توبه کوئی او که ستاسو وس وی نو خيرخيرات ورکوئ] [وَقُلِ اعْمَلُوْا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ] او [ترغيب نه پس مخکښې ترهيب دې يعنی] تاسو [دوئ ته دا هم] اووائې چې [څه] عمل کوئی نو [اول خو په دنيا کښې] اوس الله تعالی ستاسو عملونه ګوری او دهغه رسول او اهل ايمان [نو په خراب عمل بهٔ په دنيا کښې ذلت وی] [وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ] او [بيا آخرت كښې] تاسو به ضرور داسې [الله تعالى] ته ورځئ چې هغه ته ستاسو د پټو او ښكاره څيزونو علم دې [فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ] نو هغه به تاسو ته ستاسو هر څه اوښائي [نو تاسو د خراب عمل يعنى تخلف وغيره نه آئند دپاره محتاط اوسئ ، دا د اول قسم بيان وو ، وراندې د دويم قسم ذكر دې] [وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ] ياخو ا وځه نو رخلق دي چې د الله تعالى د حكم راتلو پورې دهغوئ معامله ملتوى ده چې [د توبې د عدم اخلاص په وجه سره] [إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ] هغوئ ته سزا وركوى يا [د اخلاص په وجه سره] ددوئ توبه قبوله كړى [وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ] او الله تعالى [ته دخلوص او عدم خلوص حال] ښه معلوم دې [او] ډير لوئې حكمت والا دې [نو دحكمت د تقاضا مطابق د خلوص توبه قبلوى او بغير د خلوص نه توبه نه قبلوى اوكله كله بغيردتوبې معاف كولو كښې حكمت وى نو داسې هم كوى]

معارف او مسائل

كله چه رسول الله ﷺ تبوك غزا ته د تلو عام اعلان اوكړو اوټولو مسلمانانو ته ئې د تلو حكم اوكړو نو زمانه د سختې گرمې وه،مزل ډير اوږود وو ،او د يو باقاعده لوئې حكومت تربيت موندونكى فوځ سره مقابله كول وو چه د اسلام په تاريخ كښې يو ړومبې واقعه وه،دا هغه وجوهات وو چه ددې حكم په باره كښې د خلقو حالات مختلف شو او دوى كښې څو قسمه ډلې جوړې شوې.

① يو خو هغه اخلاصى مسلمانان وو چه د اول حكم په آوريدو سره ښه په اخلاص جهاد د پاره تيار شو.

② دويم قسم هغه خلق وو چه په اول ځل خو ئې ځان روستو كولو ليكن بيا دجهاد تلو د پاره تيار شو لكه په دې آيت ﴿الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ﴾ كښې ئې چه بيان دې.

③ دريم قسم هغه خلق وو چه په واقع كښې معذوره وو ځكه لاړ نه شو ،د دوى بيان په [لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ] كښې راغلې دې.

④ څلورم قسم د هغه مخلصانو مؤمنانو دې چه څه عذر ئې نه لرلو او بيا هم په جهاد كښې د سستې له كبله شريک نه شو ،د دوى بيان په دې آيتونو كښې داسې راغلې دې ﴿وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا﴾ او ﴿وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ﴾.

⑤ پنځم قسم د هغه منافقانو وو چه د منافقت له كبله په جهاد كښې شريک نه شو ،د دوى بيان په تيرو شوؤ آيتونو كښې راغلې دې خلاصه داده چه په تيرو شوؤ آيتونو كښې زيات بيان د پنځم قسم منافقانو راغلې دې،اوس په دې آيتونو كښې د څلورم قسم د هغه منافقانو بيان راغلې دې چه د سستې له كبله په جهاد كښې نه وو شريک شوى.

په ړومبى آيت كښې فرمائى چه څنې خلق داسې هم دى چه د خپلو گناهونو اقرار ئې اوكړو ،د دوى اعمال گډوډ داسې دى چه څه په كښې ښه او څه خراب دى.اميد دې چه الله تعالى به ئې توبه قبوله كړى،حضرت عبدالله بن عباس ﷺ اوفرمائيل چه دا لس كسان وو چه صحيح عذر ئې نه وو او بيا هم د تبوک غزا له نه وو تلى،په خپل دې كار باندې بيا خپيمانه شو په دوى كښې اووه [۷] كسانو خپل ځانونه د مسجد نبوى ﷺ ستنو پورې اوتړل او دا ئې لوظ اوكړو چه تر څو زمونږ توبه قبوله شوې نه وى او پخپله رسول الله ﷺ نه يو پرانستې نو مونږ به هم دا

شان تړلي يو، په دې حضراتو کښې د ابی لبابه رضي الله عنه په نوم باندې ټول روايتونه متفق دي او نورو نومونو کښې روايتونه مختلف دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دوی رضي الله عنهم تړلي اوليدل او ورته دا معلومه شوه چه دوی داسې لوظ کړې دې [چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مو پرانه نيځی تر هغې به مونږ تړلي يو] نو هغوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه زه هم په خداې قسم خورم چه تر هغې پورې به ئې نه پرانيځم چه راته الله تعالی د پرانستو حکم نه وی راکړې ولې چه جرم لوئې دې، په دې موقع دا آيت نازل شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې د پرانستو حکم ورکړو، هغوی رضي الله عنهم پرانستې شو [قرطبی] ([1])

د سعيد بن المسيب رحمه الله د روايت مطابق کله چه د ابی لبابه رضي الله عنه د پرانستو اراده اوکړې شوه نو انکار ئې اوکړو او وې وئيل [چه تر څو مې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو لاسونو مبارکو پرانه نيځی زه نه هم دغسې تړلې يم] چنانچه څه وخت هغوی صلی الله علیه وسلم د صبا مانځه د پاره تشريف راوړونو په خپلو لاسونو مبارکو ئې پرانستو.

نيک او بد ګډوډ عملونه کوم يو دی:: په آيت کښې د بيان شوو نيک او بد عملونو نه مراد څه دی؟ د نيکو عملونو نه مراد ايمان، د مونځ او روژې پابندی کول، د تبوک د غزا نه وړاندې په نورو غزاګانو کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتيا کول، او د تبوک په غزا کښې د نه شريکيدو په خپل جرم باندې اقرار کول، په هغې خپيمانه کيدل او ترې توبه کول وغيره دی. او د بد عمل نه مراد د تبوک په غزا کښې نه شريکيدل او خپل عمل سره د منافقينو ملګرتيا کول دی.

د کومو مسلمانانو چه نيه او بد عملونه په خپل مينځ کښې سره ګډوډ وی تر قيامته پورې هغوی په دې حکم کښې داخل دی:: تفسير قرطبی کښې راغلې دی چه اګر که دا آيت د يو خاص ټولی په باره کښې نازل شوې دې خو حکم ئې تر قيامته پورې عام داسې دې چه د کومو مسلمانانو نيک او بد ګډوډ عملونه وی او د خپلو ګناهونو نه توبه ګار شی نو اميد دې چه الله تعالی به ئې اوبخښی.

ابو عثمان رضي الله عنه اوفرمائيل چه د قرآن کريم دې آيت سره د امت ډير اميدونه تړلي دی، ([2]) او د صحيح بخاری په حواله د سمره بن جندب رضي الله عنه په روايت د معراج نبوی صلی الله علیه وسلم په يو تفصيلي حديث کښې راغلې دی چه په اووم اسمان کښې هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابراهيم علیه السلام سره ملاقات اوکړو نو د هغوی علیه السلام سره ئې څه خلق سپين مخی اوليدل او څه ئې ورسره داسې اوليدل چه په مخونو ئې تور داغونه وو، دوی يو نهر [ولې] ته ورغلل په هغې کښې ئې غسل اوکړو چه راغلل نو مخونه ئې سپين شوی وو. حضرت جبرائيل علیه السلام هغوی صلی الله علیه وسلم ته اوښودل چه دا خلق ګناهګار وو چه نيک او بد ګډوډ عملونه ئې کړې وو چه توبه ئې اوکړه الله تعالی قبوله کړه او ګناهونه ئې معاف شو، بالکل سپين مخی هغه خلق دی چه د ايمان راوړلو نه پس د ګناهونو نه پاک او صفا پاتې شوی وو، لکه قرآن کريم کښې ارشاد دې ﴿اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ﴾ [قرطبی] ([3])

---

[1]) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۲۴۲

[2]) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۲۴۳

[3]) صحيح البخاری، کتاب التفسير، باب سورة التوبة، قوله يحلفون لکم الآية: ج ۱، ص ۲۲، وتفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۲۴۳

﴿خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ کوم صحابه کرام رضی الله عنهم چه بې عذره د غزوۀ تبوک نه پاتې شوي وو په دې جرم کښې ئې ځانونه د جومات ستنو پورې تړلی وو، توبه ئې قبوله شوه او بیا پرانستې شو نو ددې په شکریه کښې هغوی رضی الله عنهم خپل ټول مالونه د ځیلمې د خیرات کولو د پاره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې پیش کړل، هغوی ﷺ ترې انکار اوکړو او وې فرمائیل چه ما ته د مال اخستو حکم نه دې شوې، دا آیت ﴿خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ﴾ نازل شو، نو رسول الله ﷺ ترې دریمه برخه د مال ئې په خیرات کښې ځکه قبوله کړه چه په ﴿مِنْ﴾ سره ورته اشاره شوې وه چه بعضې مال دې ترې واخستې شی.

د مسلمانانو خیرات زکوة وصولول او په خپل خپل ځاې خرڅول ئې لګول د اسلامي حکومت په ذمه دي په دې آیت کښې اګرچه د شان نزول په اعتبار سره د یو خاص ټولی نه د صدقې [خیرات] وصولولو حکم شوې دې خو د مفهوم په اعتبار سره عام دې په تفسیر قرطبی، احکام القرآن د جصاص او په تفسیر مظهری وغیره کښې هم دا خبره غوره ګڼړلې شوې ده او قرطبی او جصاص رحمهما الله دا هم واضح کړې دی چه که ددې آیت په شان نزول کښې هم دغه خاص واقعه اوګرځولې شی چه ذکر ئې پورته راغلې دې نو بیا به هم د قرآنی اصولو له مخې دا حکم عام پاتې کیږی، او تر قیامته پورې به په مسلمانانو جاری پاتې کیږی(١) ولې چه د قرآن کریم زیات حکمونه اګرچه په خاص خاص واقعاتو کښې نازل شوې دی خو د هغې د عمل دائره هم دغه خاص واقعې پورې محدوده نه وی بلکه تر څو پورې چه د تخصیص د پاره څه دلیل نه وی دغه حکم به ټولو مسلمانانود پاره عام او شامل ګرځولې شی. بلکه د ټول امت په دې اتفاق دې چه په دې آیت کښې اګر که خطاب رسول الله ﷺ ته دې خو حکم ئې هغوی ﷺ پورې مخصوص نه دې نه د هغوی ﷺ زمانې مبارکې پورې خاص دې، بلکه هر هغه څوک چه د هغوی ﷺ قائم مقام، د مسلمانانو امیر وی هغه به ددې حکم مخاطب او مامور وی د هغه په فرائضو [ذمه داریانو] کښې به دا داخل وی چه د مسلمانانو نه به صدقې [خیراتونه] وصولوی او په خپل خپل ځاې به ئې لګوی چنانچه د صدیق اکبر رضی الله عنه د خلافت د اول سر په زمانه کښې زکوة منع کوونکو سره دجهاد کولو کومه واقعه چه راپیښه شوه، په هغې کښې هم زکوة نه ورکوونکی څه خلق خو په ډاګه د اسلام نه باغیان او مرتدان شوې وو او څه داسې خلق هم وو چه ځانونو ته به ئې مسلمانان وئیل خو یواځې د زکوة نه ورکولو د پاره به ئې دا بهانه جوړوله چه په دې آیت کښې د زکوة وصولولو حکم خاص رسول الله ﷺ ته شوې دې چه د هغوی ﷺ تر ژونده پورې خو موږ پرې عمل اوکړو اوس د ابوبکر رضی الله عنه حق نشته چه زکوة دې زمونږ نه وصولوی په اول سر کښې خو حضرت عمر رضی الله عنه هم دوی سره په جهاد کولو کښې زړه ځکه وهلو چه ورته مسلمانان ښکاریدل او د زکوة نه د ځان ساتلو د پاره دا آیت وړاندې کولو ځکه ئې دا ګڼړل چه د عامو مرتدانو پشان معامله دې دوې سره نه شی کولې، خو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ښه په عزم او یقین سره اوفرمائیل چه څوک د مونځ او زکوة تر مینځه فرق راولی مونږ به ورسره جهاد کوو.

دا ارشاره دې خبرې ته وه چه هر کله دا خلق نن دا وائی چه د زکوة حکم رسول الله ﷺ سره مخصوص وو، د هغوی ﷺ په وفات سره دا حکم جاری پاتې نه شو، صبا دا هم وئیلې شی چه

(١) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج۸، ص ۲۴۳، وأحكام القرآن للجصاص، تفسير سورة التوبة: ج۷، ص ۳۱

Scanned with Ca

مونځ هم هغوی ﷺ پورې مخصوص وو، د هغوی ﷺ د وفات نه پس مونځ هم نشته او په دليل کښې به دغسې يو آيت ﴿أَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ﴾ هم پيش کوی. مطلب دا چه هر کله د مونځ په باره کښې غلط تاويل کوونکی کافران او مرتدان دی دغسې په آيت ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ﴾ کښې تاويل کوونکی هم کافران او مرتدان دی، چنانچه په دې سره د فاروق اعظم ﷺ اطمينان اوشو او د صحابهٔ کرامو ﷺ اجماع سره د دغې خلقو په خلاف جهاد اوکړې شو.[۱]

زکوة د حکومت ټيکس نه دې بلکه عبادت دې: قرآن کريم کښې د ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ﴾ نه پس ﴿أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا﴾ فرمائيل دې ته اشاره ده چه زکوة، صدقات [خيراتونه] د حکومت څه ټيکس نه دې چه عام حکومتونه ئې د خپل انتظام چلولو د پاره وصولوی بلکه ددې مقصد دادې چه د مالونو خاوندان د ګناهونو نه پاک او صفا شي.

دلته داخبره هم د ژور نظر کولو قابله ده چه د زکوة او صدقو د وصولولو نه په حقيقت کښې دوه فائدې داسې حاصليږی چه يوه فائده په خپله د مال خاوند ته رسی چه هغه د ګناهونو، د مال د لالچ او مينې له کبله د پيدا کيدونکو اخلاقی رنځونو د جراثيمو نه پاک او صفا شی، بله فائده ئې داده چه ددې په ذريعه د قوم د هغه کمزورو غړو خصمانه او پالنه کيږی کوم چه خپل ضروريات په خپله نه شی پوره کولې، لکه يتيمانان، کونډې رنډې، شل ګډ او معذوره نارينه، زنانه، عام فقيران او مسکينان واخله. بيا هم دلته قرآن کريم صرف يوه فائده بيان کړه چه اشاره دې ته شوه چه د زکوة اصلی مقصد هم رومبې فائده ده، دويمه فائده ترې په ضمنی ډول حاصليږی، که بالفرض چرته يا څه وخت څوک يتيم، کنډه ښځه، فقير او مسکين وغيره موجود هم نه وی، بيا به هم د مالونو خاوندان خامخا زکوة ادا کوی. ددې خبرې تائيد دې سره هم کيږی چه د پخوانو امتونو د ويستلی شوی زکوة استعمال به هيچا د پاره جائز نه وو، طريقه ئې داوه چه هغه به په يو بيل ځاې کيښودې شو، آسمانی بجلی به راتله او هغه به ئې اوسوځولو خو دا هله چه دغه زکوة به د الله تعالی په نزد قبول وو چه داسې به او نه شو نو دغه مال به د ناقبول ګڼړلو په وجه سپيره ګڼړلې شو چه هيچا به لاس نه وراوړو.

دې نه پس په ډاګه شوه چه زکوة په اصل کښې د چا د حاجت پوره کولو د پاره نه وی بلکه دا يو مالی حق او عبادت دې، څنګه چه مونځ، روژه جسمانی او بدنی عبادتونه دی، دا د امت مرحومه يو خصوصيت دې چه د الله تعالی په نوم دا اوښکلې مال ددې امت د فقيرانو او مسکينانو د استعمال د پاره جائز کړې شو څنګه چه د مسلم شريف په يو حديث کښې هم د رسول الله ﷺ نه دا ښکاره خبره نقل شوې ده.

يو سوال او د هغې جواب: دلته سوال دا پيدا کيږی چه دغه بيان شوې واقعه کښې هر کله چه په توبې قبليدو سره ګناه معاف شوه او پاکيزګی حاصله شوه، بيا د مال اخستل ذريعه د پاکيزګې ولې اوګرځولې شوه؟

جواب ئې دادې چه هر کله په توبې سره ګناه معاف شوه بيا هم د هغې څه خړوالې او خيرنوالې پاتې کيدې شی چه د ګناه کولو سبب جوړيدې شی نو په صدقې کولو سره دغه خيرې هم لرې شی او پوره پاکيزګی حاصله شی.

---

[۱] تفصيل دپاره اوګورئ: تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۲۳۴، ۲۳۵

Scanned with Ca

﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ﴾ دلته د صلوة نه مطلب د رحمت دعا كول دی چنانچه د رسول الله ﷺ نه منقول هم داسې دی چه هغوی ﷺ د ځنې خلقو د پاره په لفظ د [صلوة] سره دعا فرمائيلې ده لكه[اللهم صل على آل ابی اوفی][1] بيا د صلوة استعمالولو لفظ يواځې دپيغمبرانو ﷺ د پاره خاص اوګرځولې شو، او په دې وجه فقهاء ﷺ فرمائی چه په لفظ د صلوة سره دې بغير د پيغمبرانو ﷺ نه بل چا د پاره دعا نه شی كولې چه اشتباه او ګډون په كښې را نه شی.[بيان القرآن وغيره][2]

دلته په آيت كښې صدقې ادا كونكو د پاره د دعا كولو حكم شويدې، په دې بنا ځنې فقهاء ﷺ فرمائی چه صدقې وركونكو د پاره دې امير او امام خامخا دعا كوی[يعنی دعا كول پرې واجب دی] او ځنې فقهاء ﷺ فرمائی چه دا استحبابی امر دې چه دعا كول صدقې وركونكو د پاره مستحب دی[قرطبی][3].

﴿وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ﴾ لس صحابهٔ كرام ﷺ چه بې عذره د تبوک په غزا كښې د شريكيدو نه پاتې شوې وو، اووه خو په داګه په خپلې دغه ګناه دومره سخت خپيمانه شو چه د مسجد نبوی ﷺ د ستنو سره ئې په ځان تړلو سره دا خپيمانتيا ځرګنده ګړه چه﴿وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا﴾ كښې ئې پوره بيان اوكړې شو، نورو درې حضراتو ﷺ داسې په داګه خپيمانتيا ښكاره نه كړه اګر چه په زړونو كښې ئې خپيمانتيا وه، دوی سره رسول الله ﷺ د قطع تعلق كولو حكم اوكړو چه سلام كلام ورسره بند كړې، په دې سره د هغوی ﷺ حالت سم شو، ښه په اخلاص ئې د خپلې ګناه اقرار اوكړو او توبه ګار شو نو دوی د پاره هم د معافې احكام وركړې شو [صحيح بخاری او مسلم][4] نو دې آيت مبارك كښې د هغه باقی درې حضراتو بيان دې.

وَالَّذِيْنَ					
اودځينی هغه كسان					
اوځينې هغه كسان چې					
اتَّخَذُوْا	مَسْجِدًا	ضِرَارًا	وَّكُفْرًا	وَّتَفْرِيْقًا	بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ
چې جوړې كړو	يو جماعت	دپاره دضرر رسولو	اودكفر كولو	اودجدايئ راوستلو	په منځ دمومنانو كښې
يو جمات ئې جوړ كړې دې	دضرر په غرض	اودكفر دپاره	اودمسلمانانو په مينځ كښې دجدائې راوستو		
وَاِرْصَادًا	لِّمَنْ	حَارَبَ اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	مِنْ قَبْلُ	
اوځائې دانتظار كولو	دپاره دهغه چا	چې جنګ كوی دالله سره	اود رسول دهغه سره	دمخكښې نه	
په نيت	اودهغه چا داستوګنې په خاطر چې پخوا راسې دالله ﷻ اودرسول ﷺ مخالفت كوی				

[1]) صحيح البخاری، كتاب الزكاة، باب صلاة الامام ودعائه لصاحب الصدقة: ج ٦، ص ۲۰۳
[2]) بيان القرآن تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ۱۵۵
[3]) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ٨، ص ۲۴۹
[4]) صحيح البخاری، كتاب التفسير، باب سورة التوبة، باب قوله وعلى الثلاثة الذين خلفوا الآية، وصحيح مسلم، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالک وصاحبيه: ج ٢، ص ۳۶۰

Scanned with Ca

وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَىٰ ۖ وَاللَّهُ يَشْهَدُ

او خامخا به قسمونه خوری دوئ | چی اراده نه ده کړی مونږ | مگر | دنیکئ | او الله | گواهی کوی

او دوئ به درته قسمونه خوری | چې زمونږ غرض د ښیگړې نه بغیر هیڅ نه وو | او الله ﷻ گواهی کوی

إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ۝ لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ۚ لَمَسْجِدٌ

چی بیشکه دوئ | خامخا دروغژن دی | مه ودریږه | په هغې کښې | هیڅ کله | خامخا هغه جومات

چې دوئ درغژن دی | ......ته په دغه جمات کښې هیچرې [مونځ ته] مه اودریږه | البته دکوم جمات بنیاد

أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ

چی بنیادئې ایښودې شوې دې | په تقوی باندې | داولې ورځې نه | هغه زیات لائق دې | چی ته ودریږې

چې د اولنۍ ورځې نه په تقوی ایخودې شوې دې | هغه ددې قابل دې چې ته په هغې کښې

فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ

په هغې کښې | په هغې کښې | داسې خلق دی | چی خوښوی | چی پاك اوساتی خان خپل | او الله | خوښوی

[مونځ ته] اودریږې | په هغې کښې داسې خلق دی | چې پاکه استوگنه خوښوی | او الله پاک

الْمُطَّهِّرِينَ ۝ أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ

خان پاکونکې خلق | آیانو هغه څوك | چی ایښې ئې وی | بنیاد دودانۍ خپلې | په تقوی باندې | دالله نه

پاکان خلق خوښوی | آیا چا چه د خپل عمارت بنیاد دالله ﷻ په ویره او دهغه د رضامندئې په خاطر

وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا

او په خاطر درضا دالله | بهتر دې | یا هغه څوك | چی ایښې ئې وی | بنیاد دودانۍ خپلې | په غاړه باندې

ایخې دې | هغه بهتر دې او که هغه څوک چې دخپل عمارت بنیاد ئې دیوزوړند غورزیدنکی کمر په سر

جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ ۗ وَاللَّهُ

د یو کندې | غورزیدونکې وی | پس اوغورزیږی | سره ددې جوړونکی | په وور ددوزخ کښې | او الله

ایخودې وی | او هغه عمارت دغه سرې خپل خان سره د دوزخ په اور کښې اوغورزوی | او الله ﷻ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ۝ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا

نه ښائی لار | قوم | ظالم ته | همیشه به وی | ودانئ ددوئ | هغه | چی جوړه کړی ده دوئ

ظالمانو ته هدایت نه کوی | کوم عمارت چې دوئ جوړ کړې دې | دا به همیشه دپاره د دوئ

رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝

شك | په زړونو ددوئ کښې | مگر | چی توټې شی | زړونه ددوئ | او الله | ښه پوهه دې | حکمت والا دې

په زړونو کښې د شك سبب وی | البته دا که زړونه ئې ټکړې ټکړې شی | او الله ښه پوهه د حکمت خاوند دې

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

او نور څه خلق دي چه هغوی جمات دي د پاره جوړ کړي دي چه ﴿مسلمانانو ته﴾ نقصان ورسوی، او د کفر خبرې وکړي او مسلمانانو کښې جدا والې راولي او د هغه کس د پاره پوه اډه جوړه کړي چه هغه د الله او د هغه د رسول سره د مخکښې نه په جنګ دې او دوی به ضرور قسمونه خوري چه د نیکۍ نه علاوه څمونږ نور څه نیت نشته . لیکن الله ددې خبرې ګواهي ورکوي چه دوی یقیناً دروغژن دي.﴿ای پیغمبره !﴾ ته دې ﴿د نوم جمات﴾ کښې چرې هم ﴿د مونځ د پاره﴾ مه اودرېږه خو هغه جمات چه د هغې بنیاد د اولې ورځې نه په تقوئ کیښودې شوې دې . هغه ددې نه زیات لائق دې چه ته هغې کښې اودرېږې هغې کښې داسې خلق دي چه هغوی خوښوي چه ځان پاك کړي ، او الله پاکو خلقو لره خوښوي آیا هغه کس بهتر دې چه هغه د خپلې آبادئ بنیاد د الله نه په وېرې او په رضا باندې ایښودې وی یا هغه کس بهتر دې چه هغه د خپلې آبادئ بنیاد د یو دوغل په پرېوتونکې غاړې باندې ایښودې وی بیا هغه دې سره جهنم کښې وغورځېږی؟ او الله داسې ظالمانو ته هدایت نه کوی. کومه آبادی چه دغه خلقو جوړه کړې وه، دا به د دوی په زړونو کښې هله پیدا کوي تر څو چه د دوی زړونه ټکړی ټکړي شوي نه وي او الله کامل علم والا هم دې او کامل حکمت والا هم.

خلاصه تفسیر

[وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا] او ځیني داسې دی چې هغوئ ددې اغراضو د پاره مسجد جوړ کړې دې چې [اسلام ته] ضرر اورسوی او [په دې کښې کینی] د کفر [یعنی د رسول ﷺ د دښمنئ] خبرې اوکړی [وَتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ] او [ددې په وجه چې د مؤمنانو [په ډله کښې تفرقه واچوی [ځکه چې کله بل مسجد جوړ کړې شی او ظاهر کړې شی چې دا مو بنه نیت سره جوړ کړې دې نو دې کښې دا خبره ضرور کیږی چې د اول مسجد مجمع منتشر شی] [وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ] او [دا هم یو غرض دې چې] هغه سړی د قیام سامان واخلی چې ددې [مسجد جوړولو] نه وړاندې د الله او د هغه رسول ﷺ مخالف دې [ددې نه مراد ابو عامر راهب دې] [وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ] او [که تپوس ترې اوکړئی] نو قسمونه بهٔ خوری [لکه څنګه چې ئې یو ځل مخکښې ئې هم په تپوس کولو قسم خوړلې وو] چې زمونږ خو د خیر نه سوا بله اراده نشته دې [خیر نه مراد آسانی او ګنجائش دې] [وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝] او الله تعالی ګواه دې چې هغوئ [په دې دعوی کښې] بالکل په دروغه دې [کله چې ددې مسجد دا حالت دې چې دا په اصل کښې هډو مسجد نه دې بلکه اسلام ته ضرر سوؤنکې دې نو] [لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ] تاسو دې کښې هیڅ کله [مونځ د پاره] مه اودرېږئ ، [لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ؕ] البته د کوم مسجد بنیاد چې اولې ورځې نه [یعنی د تجویز کولو د ورځې نه] په تقوی [او اخلاص] باندې ایښودې شوې دې [دې نه مراد مسجد قبا دې] هغه [واقعی] ددې لائق دې چې تاسو په هغې کښې [مونځ ته اودرېږئ [ځکه چې تاسو هلته کله کله تشریف اوړئی او مونځ کوئی] [فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ؕ] په [مسجد قبا] کښې داسې [بنهٔ] سړی دی چې هغوئ بنه پاکوالئ خوښوی [وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ۝] او الله تعالی ته پاکیزه خلق خوښ دی [هر

Scanned with Ca

کله چې د دوارو مسجدونو د مشرانو حال معلوم شو نو] [أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ] بیا [پوهه شئ] آیا داسې سړې بهتر دې چې هغه د خپل عمارت [یعنی مسجد] بنیاد د الله تعالی د ویرې او دهغه د رضا دپاره ایخودې دې [أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ] یا هغه کس [به بهتر وی] چې هغه د خپل عمارت [یعنی مسجد] بنیاد د یو کندې یعنی غار په اړخ باندې چې هغه هم پریوتلو والا دې ایخودې وی [ددې نه مراد هغه اغراض او کفر دې چې په ناپائیدارئی کښې دې سره تشبیه ورکړې شوې وی] بیا هغه [عمارت] دا [مشر] ځان سره واخلی او په دوزخ کښې ورپریوزی[یعنی هغه عمارت خو پریوتو ځکه چې دا د غار په غاړه دې ، هرکله چې هغه غاړه اوبه یوسی نو هغه عمارت به هم پریوزی ، اومشر به هم پریوزی ځکه چې هغه په دې عمارت کښې اوسیدو ، او ددې نه مراد کفریه اغراض دې چې موصل الی النار دې ، ځکه ئې اوفرمائیل چې هغه به دې جهنم ته داخلوی] [وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ] او الله تعالی داسې ظالمانو ته [د دین] پوهه نه ورکوی [چې عمارت ئې د مسجد په نوم جوړ کړو چې د دین په شعائرو کښې دې ، او ددې غرضونه فاسد دی][لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ] ددوئ دا عمارت [یعنی مسجد] چې دوئ جوړ کړې دې همیشه به ددوئ په زړونو کښې [یو ازغې] وی [ځکه چې دکوم غرض دپاره ئې جوړ کړې وو هغه پوره نشو او ددوئ راز ښکاره شو ، نو بیا دا ویران کړې شو ، غرض دا چې ددې نه ئې ارمان پوره نشو ، په دې وجه به ددوئ افسوس او ارمان باقی وی] [إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ] مګر دا چې دهغوئ په زړونو کښې [چې کوم ارمان دې] هغه ختم شی نو خیر [هغه ارمان به په هغه وخت کښې ختم شی][وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ] او الله تعالی لوئې علم والا او لوئې حکمت والا دې [ددوئ حالت ورته معلوم دې او ددې مناسب سزا به ورکوی].

معارف او مسائل

د منافقانو حالات او د اسلام په خلاف د دوی حرکتونه په ډیرو تیرو شوو آیتونو کښې راغلی دی،اوس په دې آیتونو کښې هم ددوی یو سازش داسې بیان شوې دې چه په مدینه منوره کښې ابو عامر نومې یو سړې د جاهلیت په زمانه کښې عیسائی شوې وو او تر مرګه پورې عیسائی پاتې شو،د ابی عامر راهب په نوم باندې مشهور شوې وو،د هغه حنظله ﷺ صحابی پلار وو چا ته چه د شهیدګې په مرګ کښې فرشتو غسل ورکړې وو په[غسیل ملائکه]سره یادیدو.

کله چه رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړو نو دغه ابو عامر راهب د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او په اسلام باندې ئې اعتراضونه اوکړل،د رسول الله ﷺ په جواب باندې د دغه بدنصیب تسلی او نه شوه،بلکه دا خبره ئې اوکړه چه مونږ دواړو کښې چې کوم دروکې وی هغه دې دروغژن شړلې شوې،خپلوانو ،دوستانو نه لرې په سفر کښې مړ شی.دا ئې هم اووئیل چه ستاسو ﷺ په مقابله کښې د هر راتلونکی دشمن به زه امداد کوم،چنانچه تر د حنین غزا پورې ئې د اسلام د هر دشمن په ملګرتیا کښې د مقابلې جنګ مسلمانانو سره کړې دې.چه د هوازن دې لوئې او مضبوطې قبیلې هم ماتې اوخوړو نو دې د نا امیدې له کبله شام ته اوتښتیدو،چرته چه د عیسایانو لوئې مرکز وو،او هم هلته د خپلو خپلوانو او دوستانو نه لرې مړ شو او خپله خبره ئې په خپله په خپل ځان اولګیده،دا د الله تعالی کار دې چه د خپلو

دشمنانو د خلې او اندامونو نه داسې حرکتونه صادروی چه هم هغوی پرې په خپله تباه کيږی. دا سړې چه تر کومې ژوندې وو اسلام او مسلمانانو ته په زيان ورکولو کښې اړم وو، چنانچه د روم بادشاه قيصر ئې په مدينه منوره باندې د چپاو کولو د پاره راپارولې وو چه مسلمانان ترې اوباسی، بل خوا ئې د مدينې منورې هغې خلقو [منافقانو] ته ئې خط اوليږلو چه د قيصر چپاو به هله بنه کامياب شي چه تاسو اجتماعی طاقت پيدا کړې او دغه وخت د قيصر مدد اوکړی تولـه منصوبه ئې ورته داسې په ګته کړه چه دغلته په مدينه منوره کښې د جومات په نوم باندې د مسلمانانو د شبهې لرې کولو له غرض داسې يو مکان جوړ کړې چه خپل خلق په کښې جمع کوې، اوتر خپله وسه په کښې سامانونه او وسلې جمع کوې او مسلمانانو ته د زيان ورکولو د پاره دغلته خپل مينځ کښې مشورې کوې، په دغې مشورې باندې د عمل کولو په غرض دولسو منافقانو د مدينې طيبې د قبا په محله کښې د جومات په نوم د يو عمارت بنياد کيښودو چرته چه د هجرت په اول کښې رسول الله ﷺ ايسار شوې وو او هلته ئې د يو جومات [مسجد قبا] بنياد ايښې وو، ابن اسحاق رحمه الله وغيره د دغې دولسو منافقانو نومونه هم نقل کړې دی، مسلمانانو ته ئې د يوې بلې دهوکې ورکولو په غرض دا منصوبه جوړه کړه چه دغلته رسول الله ﷺ د مونځ د افتتاح کولو د پاره راوغواړی، ددې منصوبې له مخې د دوی يو وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، اوئې وئيل چه د قبا ړومبې جوړ شوې جومات د ډيرو خلقو نه لرې دې، کمزوری او رنځور مسلمانان هلته مونځ د پاره نه شی ور رسيدې اوس خلق ګنړ شوې دی په هغه ړومبی جومات کښې ځاې کيدې هم نه شی، ځکه مو دا بل جومات جوړ کړو اوس تاسو ته خواست دې چه دغلته د مونځ افتتاح اوکړې چه برکت په کښې نور هم راشی.

دغه وخت رسول الله ﷺ د تبوک د غزا په تيارې کښې په سفر روانيدونکې وو ځکه ئې اوفرمائيل چه په واپسې کښې به دغلته مونځ اوکړم. د تبوک د غزا نه په واپسې کله چه رسول الله ﷺ مدينې منورې ته نزدې په يو ځاې کښې پړاو اوکړو نو دا آيتونه پرې نازل شو چه دغه تول سازش په کښې برڅيره کړې شو. ددې آيتونو په نازليدلو باندې رسول الله ﷺ خپلو يو څو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم ته [چه په کښې عامر بن سکن رضي الله عنه او د حمزه رضي الله عنه قاتل وحشی رضي الله عنه هم شامل وو] حکم ورکړو چه سمدستی دغه جومات وران ويجاړ کړی او اور ورته کړی، دغه تول حضرات لاړل او د فرمان نبوی ﷺ مطابق ئې لوټې لوټې کړو او اور ئې ورته کړو. دا توله واقعه مې د تفسير قرطبی او تفسير مظهری د بيان کړو روايتونو نه راخستې ده.([1])

په تفسير مظهری کښې د محمد بن يوسف صالحی په حواله دا هم ذکر شوې دی چه رسول الله ﷺ د قبا نه مدينې منورې ته راورسيدونو د مسجد ضرار دغه ځاې خالی پروت وو، عاصم بن عدی رضي الله عنه ته رسول الله ﷺ په دغه ځاې د کور جوړولو اجازت ورکړو، هغه رضي الله عنه عرض اوکړو چه د کوم ځاې په باره کښې دا آيتونه نازل شوې دی په داسې سپيره ځاې کښې زه کور جوړول نه خوښوم، وې وئيل چه ثابت بن اقوم رضي الله عنه محتاج دې، بې کوره دې هغه ته دغلته د کور جوړولو اجازت ورکړې، هغه ته ئې اجازت ورکړو، کور ئې پرې جوړ کړو، په دغې کور کښې يا خو د هغه اولاد به نه کيدو که او به شو نو ژوندې به نه پاتې کيدو.([2])

[1]) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۲۵۳، والتفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۲۹۵ نه ۲۹۷ پورے۔

[2]) التفسير المظهری: ج ۴، ص ۲۹۷

Scanned with Ca

په تاريخ کښې ليکلې دي چه انسان خو لا څه کوي چه دغلته هيڅ يو چرګې چرته اګې نه د اچولې او نه ئې په کښې بچې چرته راوړې دي، هيڅ قسم مارغه او کوترې په کښې څه وده نه ده کړې، چنانچه د هغې نه پس تر ننه پورې دغه ځاې د مسجد قبا نه لږ شان اخوا وران ويجاړ پروت دې.

د واقعې تفصيل مو واوريدو اوس د آيتونو په متن باندې نظر واچوئ په رومبی آيت کښې فرمائي ﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا﴾ [يعنى څنګه چه دې نه وړاندې د نورو منافقانو د پاره عذاب، ذلت او رسوائي بيان کړې شوې ده، دا منافقان په کښې هم داخل دي چا چه د جومات په نوم داسې يو عمارت جوړ کړو چه مقصد ئې مسلمانانو ته نقصان رسول وو.

په دې آيت کښې د دغه جومات د جوړولو درې غرضه بيان کړې شوې دي. ① [ضِرَارًا] [يعنى مسلمانانو ته زيان رسول ئې غرض وو الفظ د ضرر او ضرار دواړه په عربي کښې د زيان رسولو د پاره استعمالولې شي، څنې حضراتو ئې په منځ کښې دا فرق بيان کړې دې چه ضرر هغه زيان رسولو ته وئيلې شي چه زيان رسونکی ته په کښې څه فائده وي او ضرار هغه زيان رسول دی چه بل ته زيان رسولو نه علاوه ځان ته ئې هم څه فائده نه وي، هر کله چه د دې جومات شان هم داسې وو چه په خپله جوړونکو ته ترې هم څه فائده رسول نه وو ځکه ئې دې د پاره [ضرار] لفظ استعمال کړو.

② دويم غرض په کښې ﴿وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ ښودلې شوې دې [يعنى د دوی مقصد د جومات جوړولو دا وو چه مسلمانان سره خپل مينځ کښې بيل بيل شي، څه په مسجد قبا کښې مونځونه کوي او څه دلته مونځ کوي چه په دې سره د مسجد قبا مونځ ګذار کم شي.

③ دريم غرض په کښې ﴿وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللَّهَ﴾ ښودلې شوې دې، حاصل ئې دا دې چه دې جومات نه دا کار اخستل هم وو چه دغلته د الله تعالى دشمنان پناه بيا مومی او د مسلمانانو په خلاف سازشونو جوړولو کښې لګيا شی

په حقيقت کښې مسجد ضرار جومات نه وو کوم چه د رسول الله ﷺ په حکم لوټې لوټې کړې شو او اور ورته کړې شو دا په حقيقت کښې مونځونو کولو د پاره نه وو جوړ کړې شوې بلکه د دې هغه درې مقصد ونه وو کوم چه بيان شو. په دې بنا اوس که څوک مسلمانان د يو جومات په مقابله کښې بل جومات په دې غرض جوړ کړی چه د مسلمانانو تر مينځه بيلتون راولی، د رومبی جومات جمع خرابول غواړی. دا ناروا قسم غرضونه ئې وی نو د داسې جومات جوړونکو هيڅ ثواب نشته، بلکه د مسلمانانو تر مينځه د بيلتون راوستو په وجه به ګناهګار وی، ليکن بيا هم دغه به شرعی جومات ګڼرلی شی، د جومات شرعی آداب او احکام به پرې جاری کيږی، د دې ورانول او اور ورته کول به جائز نه وی او څوک به چه دې کښې مونځ کوی د هغوی مونځ به هم ادا کيږی اګر چه د داسې کولو ګناه به وی.

دا هم ترې معلومه شوه چه څوک مسلمان د ريا او نمائش په غرض ياد ضد او عناد په وجه يو جومات جوړونکی ته خو به هيڅ ثواب نه ملاويږی، بلکه ګناه به ئې وی. خو د قرآن د اصطلاح په جوړ به ورته مسجد ضرار نه شی وئيلې، څوک چه داسې جومات ته مسجد ضرار وائی نو دا درست نه دی البته د مسجد ضرار په شان ورته وئيلې شی او د داسې جومات جوړونکې د دې کار نه منع کولې هم شی، څنګه چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښې دا

Scanned with Ca

فرمان جاري کړې وو چه يو جومات سره نزدې دې بل جومات نه شي جوړولې چه ورسره د رومبي جومات ته جمع او رونق کښې فرق راځي[تفسير کشاف] -(۱)

د دغې مسجد ضرار په باره کښې د دويم آيت لـه مخې رسول الله ﷺ ته دا حکم ورکړې شوې دې - ﴿لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا﴾ دلته د قيام نه مراد مونځ کول دي يعني تاسو ﷺ د دغې نوم په جومات کښې هيڅرې مونځ مه کوې.

مسئله: نن هم که داسې يو جومات د بل جومات په مقابله کښې د نوم، نمائش يا د ضد ضدې په بنياد جوړ شي نو مونځ کول په کښې غوره نه دي اګرچه مونځ په کښې کيږي.

هم په دې آيت کښې رسول الله ﷺ ته دا هدايت ورکړې شوې دې چه ستاسو مونځ کول په دې جومات کښې درست دي چه بنياد ئې اول د سره په تقوى ايښودې شوې دې او په دې کښې داسې خلق مونځونه کوي چه د پاکۍ او پاکيزګۍ په باره کښې ورته پوره احتياط کول ډير خوښ دي او الله تعالى هم داسې پاکدامن خلق خوښوي.

د آيت د روانۍ نه دا خبره ښکاره ده چه مراد ترې مسجد قبا دې په کوم کښې به چه دغه وخت رسول الله ﷺ مونځ کولو څنګه چه د بعضې روايتونو د حديث نه ددې تائيد هم کيږي[لکه چه ابن مردويه د ابن عباس رضي الله عنه نه، او عمر وبن شيبه د سهل انصاري رضي الله عنه نه او ابن خزيمه په خپل صحيح کښې د عويمر ابن ساعده نه روايت کړې دي[مظهري] -(۲)

د بعضې روايتونو په جوړ دې نه مسجد نبوي مراد اخستلو کښې څه بنديز څکه نشته چه ددې بنياد د وحى الهى مطابق رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک ايښې دې، د دې بنياد په تقوى څکه ايښودې شوې دې چه د رسول الله ﷺ نه زيات پاکى پسند او پاکدامن څوک کيدې شي؟[ترمذى روايت کړو اوصحيح ئې ورته وئيلې دي چه د ابى سعيد خدرى رضي الله عنه نه مرفوع روايت شوې دې[په حواله د قرطبي] -(۳)

﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا﴾ په دې آيت کښې د رسول الله ﷺ د پاره هغه جومات زيات مناسب ګرځولې شوې دې چه بنياد ئې اول د سره په تقوى ايښودې شوې دې[مراد ترې مسجد قبا او مسجد نبوي دواړه کيدې شي]د دې جومات يو بل غوره والې دا اوښودلې شو چه د دې مونځ ګذار داسې خلق دي چه د پاکۍ ډير زيات خيال لري او پوره بندوبست ئې کوي، دلته د طهارت نه مراد د عامو پليتو او ګندګو نه پاکوالى دي او د ګناهونو او خرابو اخلاقو نه ځان پاک لرل هم دي، چنانچه د مسجد نبوي او مسجد قبا ټول مونځ ګذار د دې شان صحابهٔ کرام رضي الله عنهم وو.

فائده: دې نه دا هم معلومه شوه چه د يو جومات د غوره والى اصلي بنياد خو په دې ده چه هغه په اخلاص سره د الله تعالى د پاره جوړ شوې وى، په هغې کښې د ريا، او نوم نمائش څه خيال نه وى لرلې شوې او نه په کښې بل څه ناکاره غرض وى، دې نه دا هم معلومه شوه چه مونځ ګذار نيکان، صالحان او عابدان وى نو هغې سره هم د جومات فضيلت زياتيږي او د کوم جومات

(۱) تفسير الكشاف تحت هذه الايات: ج ۲، ص ۲۱۳
(۲) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۹۸
(۳) جامع الترمذي، أبواب الصلاة، باب ما جاء في المسجد الذي أسس على التقوى: ج ۱، ص ۴۳

Scanned with Ca

مونځ گذار چه عموماً عالمان صالحان تقوی دار وی نو په هغې کښې مونځ ادا کول زیات فضیلت لري.

په دریم او څلورم آیت کښې ددې قبول شوی جومات په مقابله کښې د منافقینو د جوړ کړې جومات[مسجد ضرار]بدی او خرابی بیان شوې ده،د دې مثال داسې ښودلې شوې دې لکه د دریاب داسې غاړه چه دننه برخه ئې د سیند اوبو ډډه کړې وی خو د پاسه هواره زمکه ښکاری، که څوک پرې آبادی اوکړی نو ښکاره خبره ده چه سمد ستی به په دریاب لاهو شی، دغه شان د مسجد ضرار بنیاد هم پائیدار نه وو، انجام ئې پریوتل وو چه اوشو او د جهنم اور ته ور اورسیدو. جهنم ته پریوتل په مجازی معنی داسې هم کیدې شی چه د دې جوړونکی د پاره ئې د جهنم لاره هواره کړه او څنې حضراتو ﷺ په حقیقی معنی باندې داسې حمل کړې دې چه جومات هم حقیقتاً جهنم ته ور اورسیدو[والله اعلم] . وریسې فرمائی چه د دوی دا تعمیر به همیشه د دوی شک او منافقت زیاتوی تر څو چه د دوی زړونه قطع نه شی یعنی تر څو چه د دوی ژوند ختم نه شی، د دوی شک، منافقت، حسد او غصه به په مخه زیاتیږی.

اِنَّ اللّٰهَ　اشْتَرٰی　مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ　اَنْفُسَهُمْ　وَاَمْوَالَهُمْ　بِاَنَّ
بیشکه چې الله | اغستلی دی | دمومنانونه | نفسونه دهغوی | اومالونه دهغوی | په دې چې بیشکه
بیشکه الله ﷻ دمومنانو سرونه اومالونه دجنت په بدل کښې په بیعه اخستی دی |
لَهُمُ　الْجَنَّةَ ؕ　یُقَاتِلُوْنَ　فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ　فَیَقْتُلُوْنَ　وَیُقْتَلُوْنَ ۟
وی به دهغوی دپاره | جنت | جنګیږی دوی | په لاره دالله کښې | نو قتلوی دوی | اووژلې کیږی
........څوک چې دالله ﷻ په لار کښې جنګیږی | نور هم وژنی او دوی هم وژلی شی
وَعْدًا　عَلَیْهِ　حَقًّا　فِی التَّوْرٰىةِ　وَالْاِنْجِیْلِ　وَالْقُرْاٰنِ ؕ　وَمَنْ
وعده ده | په ذمه دهغه | حقه | په تورات کښې | اوپه انجیل کښې | او په قرآن کښې | اوڅوك دې
دا[جنت ورکول] دالله ﷻ په ذمه کلکه وعده ده |چې په تورات انجیل اوقران پاک کښې [لیکلې]ده
اَوْفٰی　بِعَهْدِهٖ　مِنَ اللّٰهِ　فَاسْتَبْشِرُوْا　بِبَیْعِكُمُ　الَّذِیْ
زیات پوره کونکې | وعدې خپلې لره | دالله نه | نو خوشحاله شئ | په بیعه خپله سره | هغه بیعه
او څوک دې چې دالله ﷻ نه زیاته خپله وعده پوره کولې شی |نوتاسو په دې خپلې کړې سودا
بَایَعْتُمْ　بِهٖ ؕ　وَذٰلِكَ　هُوَ　الْفَوْزُ　الْعَظِیْمُ ۝　اَلتَّآئِبُوْنَ
چې معامله کړی ده تاسو | په هغې | اودا | هم دا | کامیابی ده | لویه | توبه ایستونکی دی
باندې زیرې قبول کړئ |اوهم دا ډیره لویه کامیابی ده |دغه کسان چې توبه ویستونکی ،
الْعٰبِدُوْنَ　الْحٰمِدُوْنَ　السَّآئِحُوْنَ　الرّٰكِعُوْنَ
عبادت کونکی دی | شکر ایستونکی دی | ګرځیدونکی دی | رکوع کونکی دی
عبادت کونکی |، ثناء ویونکی | روژه ساتونکی | رکوع کونکی

Scanned with Ca

السّٰجِدُوْنَ	الْاٰمِرُوْنَ	بِالْمَعْرُوْفِ	وَالنَّاهُوْنَ	عَنِ الْمُنْكَرِ
سجدې کونکي دی	حکم کونکي دی	په نیکئ باندې	اومنع کونکي دی	دبدئ نه
سجده کونکي | دنیکئ حکم کونکي | د بدې نه منع کونکي				
وَالْحٰفِظُوْنَ	لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ؕ	وَبَشِّرِ	الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾	
اوحفاظت کونکي دی	حدونو دالله لره	اوزيرې ورکړه	مومنانو لره	
اودالله ﷻ داحکامو خیال لرونکي دی | اوداسې مومنانو ته [دجنت] زیرې ورکړه |				

آسان ترجمه قرآن

واقعه دا ده چه الله د مسلمانانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه ددې په بدله کښې اخستي دي چه جنت هم د دوی دې. دوی دالله په لاره کښې جنګ کوي، دهغې په نتیجه کښې دوی نور هم وژني او خپله هم وژلې کیږي دا یوه رښتیني وعده ده چه ددې ذمه داري الله په تورات او انجیل کښې هم اخستې ده. او قرآن کښې هم، او څوک دي چه دالله نه زیات د وعدې پوره کونکې وی؟ پس په خپلې هغه سودا باندې خوشحالي وکړئ چه تاسو الله سره کړې ده او دا لویه کامیابي ده ﴿چا چه دا کامیابه سودا کړی ده هغه څوک دي؟﴾ توبه ویستونکي! دالله عبادت کونکي! د هغه حمد کونکي! روژه نیونکي رکوع کونکي! سجده کونکي! د نیکئ حکم کونکي او د ګناه نه منع کونکي! او د الله د مقرر شوؤ حدونو حفاظت کونکي! ﴿اې پیغمبره!﴾ داسې خلقو ته خبرې ورکړه.

خلاصه تفسیر

[اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ] بیشکه الله تعالی مسلمانانو نه ددوئ د ځانونو او ددوئ مالونه ددې خبرې په بدله کښې اخستی دی چې دوئ ته به جنت ملاویږی [يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ ۣ] [او د الله ﷻ په لاس د مال او ځان خرڅولو مطلب دادې چې] هغه خلق دالله تعالی په لار کښې [یعنی جهاد کښې] جنګیږی چې په هغې کښې [کله] قتل شی او [کله] دوئ قتل کړې کوی [یعنی هغه بیع جهاد کول دی که په دې کښې قاتل جوړ کشتئ یا مقتول جوړ شی] [وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ ؕ] په دې [قتال] باندې دوئ سره د جنت ریښتوني وعده شوې ده تورات کښې [هم] او انجیل کښې [هم] او قرآن عظیم الشان کښې [هم] [وَمَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ] او [دا حقیقت دی] چې الله ﷻ نه زیات خپله وعده څوك پوره کوی [او هغه په دې بیع باندې د جنت وعده کړې ده] [فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ؕ] نو [دې حالت کښې] تاسو خلق [چې جهاد کوئ] پخپله دې [مذکوره] بیع باندې چې تاسو دا معامله الله تعالی سره اوکړه خوشحاله شئ [ځکه چې په دې بیع باندې به تاسو ته ددې مذکوره وعدې مطابق جنت ملاویږی] [وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿﴾] او دا [جنت ملاویدل] لویه کامیابی ده [نو تاسوله ضرور دا سودا کول پکار دی] [اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ] هغه [مجاهدین چې دجهاد نه علاوه هغوئ کښې دا صفات موجود دی چې دګناهونو نه] توبه کوی [اود الله تعالی] عبادت کوی [او دالله تعالی] حمد وثناء وائی [او روژې نیسی اورکوع او سجده کوونکی دی [یعنی مونځ کوی او] دنیکو

Scanned with Ca

خبرو تعليم ورکوی او د خرابو خبرو نه منع کوی [وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ؕ] او د الله ﷻ د حدودو [يعنی داحکامو] خيال ساتی [وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝] او داسې مؤمنانو ته [چې هغوئ جهاد کوی او دا صفات په کښې دی] زيرې ورکړئی [چې دوئ سره جنت مذکوره وعده ده]

معارف او مسائل

دآيتونو ترون: په تيرو شوو آيتونو کښې بې د څه عذره په جهاد کښې د نه شامليدو بدی بيان شوې وه اوس په دې آيتونو کښې د جهاد کوونکو فضيلت او غوره والې بيان شوې دې.

شان نزول: څنګه چه اکثرو مفسرينو رحمهم الله په ډاګه وئيلې دی، دا آيتونه په بيعت عقبه کښې د شاملو کسانو رضی الله عنهم په باره کښې راغلې دی چه د هجرت نه وړاندې په مکه مکرمه کښې د مدينې منورې د انصارو رضی الله عنهم نه اخستې شوې وو، څکه خو دې آيتونو ته مکی وئيلې شی حالانکه دا ټول سورت مدنی دې.

عقبه د غر يو برخې ته وئيلې شی، دلته د عقبه نه مراد د غر هغه برخه ده چه جمرې عقبې سره ده، [خو نن صبا دغه برخه څکه هواره کړې شوه چه حاجيان صاحبان ډير زيات وی صرف دغه جمره پاتې شوې ده] په دې عقبه باندې د مدينې منورې د حضراتو رضی الله عنهم نه درې کرته بيعت اخستې شوې دې، ړومبی ځل هغه وخت بيعت واخستې شو چه د رسول الله ﷺ د پيغمبر کيدو يوولسم کال وو، په دغه موقع مسلمانان شوو شپږو کسانو بيعت اوکړو، چه مدينې منورې ته بيرته لاړل نو دغلته کور په کور د رسول الله ﷺ په باره کښې مشهورتيا اوشوه، د دغې نه په راتلونکی کال کښې دغلته دولس کسان بيا راجمع شو چه پينځه په کښې وړاندينی او اووه په کښې نوې وو، چه دغې ټولو [دولسوواړو] بيعت اوکړو، اوس په مدينه منوره کښې د مسلمانانو شمير زيات شو چه د څلويښتو نه زيات جوړيدل. هغوی د قرآن کريم د لو لولو د پاره د چا د راليږلو خواست اوکړو، رسول الله ﷺ مصعب بن عمير رضی الله عنه اوليږلو، هغوی رضی الله عنه دغې مسلمانانو ته قرآن کريم لوستو او د اسلام تبليغ به ئې هم ورته کولو د دې په نتيجه کښې د مدينې منورې ډيرې ډلې مسلمانې شوې.

د نبوت په ديارلسم کال اويا سړی او دوه زنانه د مدينې منورې دغلته راجمع شو، دا دريم او آخری بيعت عقبه دې چه عموماً د بيعت عقبه نه هم دا مراد اخستې شی. دا بيعت[لاس نيوې] د اسلام په اصولی عقيدو او عملونو باندې واخستې شو، دې سره په دې هم لوظ واخستې شو چه خصوصا کفارو سره به جهاد هم کوی او کله چه رسول الله ﷺ مدينې منورې ته ورشی نو د هغوی ﷺ حفاظت او مرسته به هم کوی، په دوی کښې حضرت عبد الله بن رواحه رضی الله عنه عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ اوس دا وخت لګيا دې لوظ، قول کولې شی، تاسو ښه په ډاګه د الله تعالی او د خپل ځان له اړخه مونږ ته ددې شرطونه بيان کړې هغوی ﷺ اوفرمائيل چه زه خو الله تعالی د پاره دا شرط اږدم چه تاسو ټول به د هغه عبادت کوې، د هغه نه سوا د بل چا عبادت به نه کوې، او خپل ځان د پاره مې دا شرط دې چه زما ساتنه به په دې شان کوې څنګه چه د خپلو ځانونو، د مالونو او اولاد حفاظت کوې. دغې خلقو رضی الله عنهم عرض اوکړو چه د دې دواړو شرطونو پوره کولو په بدله کښې به مونږ ته څه ملاويږي؟ ورته ئې اوفرمائيل چه جنت به درته ملاويږی، دغه ټول خوشحاله شو او وې فرمائيل چه مونږ په دې سودا راضی يو او داسې راضی يو چه ددې د ماتولو د پاره به په خپله خواست هم نه کوو او نه به ددې ماتول خوښوو.

Scanned with Ca

دي بيعت [لاس نيوې] هر کله چه په ښکاره د يو لين دين او معاملې صورت اختيار کړو ځکه دې د پاره په آيت کښې د بيع شراء [اخستل، خرڅول] الفظ راوړلې شو لکه فرمائی ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾ ددې آيت په اوريدو سره د ټولو نه اول حضرت براء بن معرور، ابو الهيثم او اسعد رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کښې خپل لاس کيښودو او وې وئيل چه مونږه دې معاملې ته تيار يو، ستاسو ﷺ حفاظت به لکه د خپلو ببييانو او بچو په شان کوو او که د دنيا ټول تورپوستی او سپين پوستی ستاسو ﷺ د مقابلې د پاره راجمع شی نو بيا هم ستاسو ﷺ په ملا تړ کښې درسره ولاړ يو.

د ټولو نه ړومبي د جهاد آيت هم دادې: په مکه معظمه کښې د جنګ او جهاد احکام نه وو، د ټولو نه ړومبې په مکه معظمه کښې د جهاد دا آيت نازل شو، خو عملدرآمد پرې د هجرت نه پس شروع شو، وروسته د جهاد دويم آيت دا نازل شو ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ﴾ کله چه دا بيعت عقبه د مکې د کفارو نه په پرده کښې سر ته اورسيدو نو رسول الله ﷺ صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ته د مکې مکرمې نه مدينې منورې ته د هجرت کولو حکم اوکړو او په وار وار د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم د هجرت سلسله شروع شوه. رسول الله ﷺ د الله تعالی دا ړخه د هجرت کولو د اجازت ملاويدو په انتظار کښې وو. کله چه صديق اکبر رضی الله عنه د هجرت قصد اوکړو نو هغوی رضی الله عنه ئې دې د پاره ايسار کړل چه ځان سره به ئې ملګرې کوی. [دا واقعه په تفسير مظهری کښې سره د حوالې بيان شوې ده] (۱)

﴿يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ﴾ ددې آيت نه معلوميږی چه په ټولو آسمانی کتابونو کښې هم دټولو امتونو د پاره د جهاد حکم نازل شوې وو او دا چه مشهور دی چه په انجيل کښې د جهاد حکم نشته ممکنه ده چه روستو راتلونکو خلقو چه په دې کښې کوم بدلون راوستې دې په هغې سلسلې کښې ئې ترې جهاد هم خارج کړې او ويستې وی [والله اعلم].

﴿فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ﴾ د ظاهری شکل په اعتبار سره بيعت عقبه ته د اخستلو خرڅولو د معاملې نوم ورکړې شو، په دې اعتبار مسلمانانو ته خطاب اوشو چه دا اخستل او خرڅول ستاسو د پاره سود من او برکتی دې ځکه چه د ځان او مال غوندې فانی څيز په بدله کښې تاسو ته هميشه باقی پاتې کيدونکې څيز ملاو شو. که غور اوکړې شی نو لګيدل يو اځې د مال کيږی چه هغه هم د خداې تعالی ورکړه ده، هيچرې خپل ځانی څه څيز نه دې چه ګنې پيدا کيدو سره ئې د ځان سره راوړې وی او ځان [يعنی روح] خو به مرګ سره هم باقی وی چه هميشه به پاتې کيږی، په دې بنا په خپل ورکړی مال دولت باندې جنت ورکول بې انتها لويه مهربانی ده، چنانچه حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه فرمائيلې دی چه دا عجيبه بيعه ده چه مال او قيمت دواړه هم الله تعالی ورکړل حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائيلې دی چه واورې دا ځنګه سود من تجارت دې چه الله تعالی هر مؤمن د پاره ددې لار پرانستې ده او وې فرمائيل چه هم الله تعالی تاسو ته مال بخښلې دې، تاسو ددې ځنې په لږ مال لګولو سره جنت واخلې [مظهری] (۲)

---

(۱) التفسير المظهری تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۰۲، ۲۰۳

(۲) التفسير المظهری: بحواله بالا۔

Scanned with Ca

﴿اَلتَّآىِٕبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ﴾ دا د هغه مومنانو صفتونه دی د چا په باره کښې چه لږ شان وړاندې داسې فرمائیلې شوې دی چه[الله تعالی د دوی ځانونه او مالونه د جنت په بدله کښې اخستې دی]اګرچه دا د بیعت عقبه د خاوندانو د پاره نازل شوې دې خو د آیت مفهوم د الله تعالی په لار کښې ټولو جهاد کوونکو لره شامل دې[اَلتَّآىِٕبُوْنَ الخ]نه چه کوم صفتونه بیان شوې دی دا د شرط په ډول ځکه نه دی چه د جنت وعده مطلقا په جهاد فی سبیل الله باندې راغلې ده،د دې صفتونو بیانولو مقصد دادې چه څوک د جنت حقدار وی د هغوی صفتونه هم دغه وی، خصوصا په بیعت عقبه کښې د شریکیدونکو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم هم دغه حال وو.

د جمهور مفسرینو رحمهم الله په نزد د﴿السّٰٓىِٕحُوْنَ﴾معنی صائمون[روژه دار]ده.په اصل کښې دا لفظ د [سیاحت] نه راخستې شوې دې.د اسلام نه وړاندې به د نصرانیت په دین کښې سیاحت یو عبادت ګڼړلې شو یعنی انسان به کور کلې پرېښودو او عبادت د پاره به بهر ته اووتو،اسلام کښې دې ته رهبانیت اووئیلې شو او منع ترې اوکړې شوه او ددې په ځاې روژه عبادت اوګرځولې شو،ولې چه د سیاحت مقصد دنیا پرېښودل وو،روژه هم داسې یو څیز دې چه په خپل کورکښې ترې یو مقرر وخته پورې د دنیا ټول خواهشات پرېښودل دی او هم په دې بنا په څنې روایتونو کښې جهاد هم سیاحت ګرځولې شوې دې،چنانچه ابن ماجه،حاکم او بیهقی په صحیح سند سره روایت کړې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلې دی،

[سیاحة امتی الجهاد فی سبیل الله]()[زما د امت سیاحت جهاد فی سبیل الله دې]

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائیلې دی چه په قرآن کریم کښې چرته چه د سائحین لفظ راغلې دې،دې نه مراد روژه دار دی.حضرت عکرمه رحمه الله د سائحین تفسیر په هغه طالب علمانو سره کړې دې چه د علم حاصلولو په غرض ئې کور کلې پرېښې وی[مظهری]()[2]

دلته د مجاهدینو مومنانو کوم اووه صفتونه﴿اَلتَّآىِٕبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السّٰٓىِٕحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾چه بیان شو دې نه پس اتم صفت [الْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ] بیې اوفرمائیل چې د سابقه اوو صفتونو د پاره یو جامع لفظ دې[یعنی دا د هغې اجمال او هغه ئې تفصیل وو]مطلب ئې دا دې چه دا خلق په هر یو کار کښې د حدود الله یعنی د شرعی احکامو پابند دی او د دې حفاظت کوی.

په آخر د آیت کښې فرمائی﴿وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾یعنی په دغې بیان شوو صفتونو سره موصوف مومنانو ته د داسې نعمتونو زیرې ورکړه چه د چا په وهم او خیال کښې هم نه راځی،او نه په الفاظو سره پرې څوک پوهولې شی او نه د چا غوږونو د دې بیان اورېدلې دې چه مراد ترې د جنت نعمتونه دی.

[1] السنن الکبری للبیهقی: ج ۹، ص ۱۶۱

[2] التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۴، ص ۳۰۴

Scanned with Ca

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ

| نه ښائي | پیغمبر لره

| پیغمبر

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا

اوهغه کسانولره|چې ایمان ئې راوړې دي|چې دبخښنې دعاغواړي|دپاره دمشرکانو|اګرکه وی هغوئ

او مومنانو سره دا نه ښائی | چې دمشرکانو دپاره بخښنه اوغواړی | ....اګر که

اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ

خاندان دخپلوئ | روستو | ددې خبرئ نه | چې ښکاره شوی وی | هغوئ ته | چې بیشکه دا مشرکان

نزدې خپلوان وی | ددې نه پس چې دا ورته ښکاره شوه | چې هغوی

اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ۝ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلَّا

دوزخ والا دی | اونهٔ وه | غوښته دبښنې | دابراهیم ؈ | دپاره دپلارخپل | مګروه

دوزخیان دی | او [حضرت] ابراهیم ؈ چې د خپل پلار دپاره استغفار کړې وو

عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ

په سبب دهغه وعدې | چې کړې وه هغهٔ هغه وعده | دهغه سره | خوکله چې | معلومه شوه | هغه ته

نودهغې وعدې په وجه ئې کړې وو | چې دپلار سره ئې کړې وه | اخو بیا چې کله دا ورته ښکاره شوه

اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ۭ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَاَوَّاهٌ

چې بیشکه هغه | دشمن دې | دالله | نو ویزاره شو | د هغه نه | بیشکه | ابراهیم ؈ | ډیر په زړه نرم وو

چې هغه دالله ﷻ دښمن دې | نو ویزاره شو ترې | ابراهیم ؈ ډیر الله ترس او رحمدل وو

حَلِيْمٌ ۝

صبرناك وو |

آسان ترجمه قرآن

دا خبره خو نه ده چې نبي سره ښائي او نه د مؤمنانو سره چه هغوی مشرکانو لره بخښنه وغواړي، خواه هغوی خپلوان ولې نه وي، هرکله چه دوی ته دا خبره ښه واضحه شوي وي چه دوی دوزخیان دي او ابراهیم علیه السلام چه دخپل پلار دمغفرت دپاره کومه دعا غوښتې وه دهغې وجه دې نه سوا بله نه وه چه هغه د ده (پلار) سره وعده کړې وه بیا چه کله هغه ته دا خبره واضحه شوه چه دې دالله دښمن دې نو دهغه نه بیزاره شو حقیقت دا دې چه ابراهیم علیه السلام ډیر آهونه کونکې ډیر صبرناك وو.

خلاصه تفسير

[مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى] پیغمبر ﷺ او نورو مسلمانان دپاره جائز نه دی چې مشرکانو دپاره دمغفرت دعا اوکړی اګر که هغه رشته دار [ولې] نه وی

Scanned with Ca

[مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ۝] ددې امر د ظاهريدو نه پس چې دا خلق دوزخيان دی [په دې وجه چې دوئ كافر شی او مړهٔ شی] [وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ] او [كه د ابراهيم ﷺ په قصه كښې شبه اوشی چې هغوئ خپل پلار دپاره د مغفرت دعا كړې وه نو ددې جواب دادې چې] د ابراهيم ﷺ دخپل پلار دپاره دمغفرت دعا غوښتل [هغه ددې نه مخكښې وو چې دهغه جهنم ته تلل ظاهرشی او] [إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ] هغه [هم] صرف د وعدې په وجه وو چې هغوئ ﷺ هغه سره وعده كړې وه [دې قول كښې سأستغفرلك ربی ،([1])غرض جواز په دې وجه وو چې د هغه دوزخې كيدل ښكاره نه وو ، او وقوع ته په دې وجه ترجيح وركړې شوې وه چې وعد ئې كړې وه ، گنې د جواز نه باوجود وقوع نه وو] [فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ] بيا كله چې دوئ ته خبره واضحه شوه چې هغه د الله ﷻ دښمن [يعنی كافر مړ شوې] دې نو هغه صرف بې تعلقه شو [چې هغه دپاره ئې استغفار هم پريخودو ، ځكه چې دې وخت كښې د مغفرت دعا كول څه معنی نه لری ، ځكه چې كافر دپاره د مغفرت هډو احتمال نشته دې . په خلاف د ژوندی په حالت كښې چې هغه دپاره د هدايت دعا كولې شی چې ورته د هدايت توفيق ملاؤ شی ، او پاتې شوه دا چې وعده ئې كړې وه نو ددې وجه داده چې] [إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ۝] واقعی ابراهيم ﷺ ډير رحيم المزاج حليم الطبع وو [چې اگر چې ددهٔ پلار وو او بيا ئې هم ډيرې سختې خبرې اوكړې ، خو حلم نه ئې كار واخستو ، او بله دا چې د شفقت دجوش نه ئې وعده اوكړه او د احتمال نفع پورې ئې دا وعده پوره كړه ، هر كله چې نااميده شو او شكست ئې پريخودو په خلاف ستاسو د استغفار چې د مشركانو دمرگ نه پس كيږی ، اوهغه حالت معلوم دې چې په شرك باندې مړ شوې دې او په شرعی احكامو كښې داسې ښكاره دی ، بيا قياس كله صحيح كيږی ، او په دې قياس باندې شبه كله مبنی كيدې شی ؟]

معارف او مسائل

ټول سورت برآءة د كفارو او مشركانو نه د ويزارې او بيلتون په حكمونو باندې مشتمل دې،د دې سورت شروع هم د ﴿بَرَآءَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ﴾ نه شوې ده ځكه خو د دې سورت يو مشهور نوم برآءت دې.دې نه وړاندې څومره احكام چه بيان شو هغه د دنيا په ژوند كښې د كفارو نه د ويزارې او بائيكاټ په باره كښې دی،په دې آيت كښې دا حكم د ويزارې او بائيكاټ د آخرت د ژوند د پاره راغلې دې چه د مرگ نه پس د كافر او مشرک د پاره د بخښنې دعا غوښتل جائز نه دی،لكه چه دې نه وړاندې په يو آيت كښې رسول الله ﷺ په منافقانو باندې د جنازې مونځ كولو نه كړې شوې دې.

د صحيح بخاری او مسلم د روايت مطابق ددې آيت د نازليدو واقعه داده چه د رسول الله ﷺ تره ابو طالب اگرچه مسلمان شوې نه وو،خو ټول عمر ئې د رسول الله ﷺ حفاظت او مرسته كړې وه،او په دې باره كښې ئې د خپلې برادرې او هيڅ يو كافر خبره نه وه منلې،رسول الله ﷺ سره هم د دې ډير غم وو چه هغه دې د اسلام كلمه اولولی او ايمان دې راوړی چه ما ته د ده د شفاعت كولو موقعه په گتو راشی او دې د جهنم د عذاب نه خلاص شی.د ده د مرض وفات په آخری وخت كښې هم رسول الله ﷺ سره د ده د اسلام راوړلو ډير زيات غم ځكه وو چه آخرت ئې

[1]) ترجمه: اوس به زه ستا دپاره دخپل رب نه دمغفرت درخواست وكړم۔

نبه شي په څنګدن کښې چه هغوی ﷺ وراورسیدل نو ابو جهل، عبد الله بن امیه ړومبی نه هلته موجود وو، هغوی ﷺ ورته اوفرمائیل چه اې ځما تره د لااله الاالله کلمه او لوله نو زه به ستا د پاره د بخښنې کوشش اوکړم، ابوجهل سمدستی دا اووئیل چه ولې د عبد المطلب دین به پریږدې څه؟ رسول الله ﷺ دا خپله خبره دوباره بیا بیا اوکړه خو هر ځل به ابوجهل دا وئیل، تر دې چه په آخری کلام کښې ابو طالب هم دا اووئیل چه زه د عبد المطلب په دین یم او هم په دغه حالت کښې مړ شو. رسول الله ﷺ قسم اوخوړو چه زه به په مخه ورله بخښنه غواړم تر څو چه څه دې نه منع نه کړې شم. (۱)

په دې باندې دا آیت د منع نازل شو چه په دې سره رسول الله ﷺ د کفارو او مشرکانو د پاره د بخښنې د دعا کولو نه منع کړې شو اګرچه دوی نزدې خپلوان هم وی. په دې باندې د بعضې مسلمانانو شک شو چه ابراهیم ؑ خو د خپل کافر پلار د پاره دعا د بخښنې کړې وه نو د هغې په جواب کښې دویم آیت دا ﴿وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرٰهِيْمَ لِأَبِيْهِ الاية﴾ نازل شو چه حاصل ئې دا دې [ابراهیم ؑ چه خپل پلار د پاره دعا کړې وه په اول سر کښې ابراهیم ؑ ته دا معلومه نه وه چه تر آخره پورې به دې په کفر باندې ټینګ وی او هم په دې به مری، په دې بنا دده دوزخی کیدل هم یقینی نه وو، دغه وخت دوی ؑ وعده کړې وه چه زه به دوی د پاره د بخښنې دعا کوم لکه فرمائی ﴿سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ﴾ بیا کله چه حضرت ابراهیم ؑ ته دا خبره په ډاګه شوه چه دې د الله تعالی دشمن دې او خاتمه ئې په کفر شوې ده نو د هغه نه ئې بې تعلقی اختیار کړه او بخښنه غوښتل ئې ورله پریښودل.

د قرآن کریم په مختلفو موقعو کښې چرته چه د ابراهیم ؑ خپل پلار د پاره د بخښنې غوښتو بیان راغلې دې نو د هغې مطلب هغه د پاره هم دا وو چه د ایمان او اسلام توفیق ورته الله تعالی ورکړی چه بخښنه ئې نصیب شي.

د احد په غزا کښې د رسول الله ﷺ مخ مبارک چه کفارو زخمی کړو نو هغوی ﷺ د خپل مخ مبارک نه وینې پاکولې او دا دعا ئې کوله [اللهم اغفر لقومي انهم لايعلمون] ( ) [اې الله ځما قوم اوبخښې دوی نه پوهیږی] چنانچه د کفارو د پاره د بخښنې د دې دعا حاصل هم دا دې چه الله تعالی دې دوی ته د ایمان او اسلام توفیق ورکړی چه د بخښنې جوګه شي.

امام قرطبی رحمه الله فرمائیلې دی چه دې نه ثابته شوه چه ژوندی کافر د پاره په دې نیت د بخښنې دعا کول روادی چه ورته د ایمان توفیق ورکړې شي او دهغې له مخه هغه د بخښنې جوګه شي. (۲)

﴿إِنَّ إِبْرٰهِيْمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيْمٌ﴾ د [اواه] لفظ ډیرو معنو د پاره استعمالیږی، چنانچه امام قرطبی رحمه الله په دې کښې پنځلس اقوال نقل کړې دی چه ټول یوې بل سره نزدې دی څه حقیقی خلاف ئې تر منځه نشته یو څو معنې په کښې دادی، ① ډیر ډیر آه کونکې ② ډیر دعا کونکې ③ د الله تعالی په بندګانو باندې رحم کونکې، د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه هم دغه معنې منقول دی. (۴)

---

(۱) صحیح البخاری، کتاب الجنائز، باب اذا قال المشرک عند الموت لا اله الا الله: ج ۱، ص ۱۸۱، وصحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب الدلیل علی صحة اسلام من حضره الموت الخ: ج ۱، ص ۴۰

(۲) المعجم الکبیر للطبرانی رقم الحدیث: ۵۵۳

(۳) تفسیر القرطبی تحت هذه الایات: ج ۸، ص ۲۷۳، ۲۷۴

(۴) تفسیر القرطبی تحت هذه الایات: ج ۸، ص ۲۷۵، ۲۷۶

Scanned with Ca

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ اِذْ

| اونه دي الله | چې بې لارې کړي | يو قوم (۱) | وروستو | دهغه وخت نه

او الله ﷻ دا کار نه کوي | چې يو قوم د هدايت موندلو نه پس

هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ

چې لاره ئې اوښودله هغوئ ته | ترهغې پورې | چې بيان کړي | هغوئ ته | هغه څه | چې ترې ځان اوساتي هغوئ

بې لارې کړي | ترڅو چې ورته صفا اونه ښائي | چې دکومو کومو څيزونو نه ورله بچ کيدل پکار دي

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

بيشکه الله | په هر څيز پاند | خبرداردي | بيشکه چې الله | هم خاص دهٔ لره ده | بادشاهي داسمانونو (۲)

بيشکه الله ﷻ په هر څه باندې پوهه دي | بيشکه داسمانونو او زمکې بادشاهي صرف د

وَالْاَرْضِ ؕ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ

اودزمکې | ژوندي کول کوي | اومړه کول کوي | اونشته | تاسو لره | بې د الله نه | څوک دوست

الله ﷻ ده | هغه ژوندي کول کوي | او مړه کول کوي | او دالله ﷻ نه سوا ستاسو بل هيڅوک دوست

وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۱۶﴾

اونهٔ مددګار |

يا مددګار نشته |

آسان ترجمه قرآن

او نه دې الله چه يو قوم د هدايت کولو نه وروستو ګمراه کړي تر څو چه ئې پرې دا خبره نه وي واضحه کړې چه دوی لره د کومو خبرو نه ځان بچ کول پکار دي. يقين وکړه چه الله په هر څه پوهيږی يقيناً الله هغه ذات دې چه دچا په قبضه کښې د ټولو آسمانونو او زمکو بادشاهي ده. هغه ژوند هم ورکوي او مرګ هم او دالله نه سوا نه ستاسو څوک ساتونکې هته او نه مددګار.

خلاصه تفسير

[وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ] او الله ﷻ داسې نه کوی چې يو قوم ته هدايت اوکړی او بيا ئې ګمراه کړی تر کومې چې ورته هغه څيزونه صفا صفا او نه ښائی چې د کومو نه هغوئ بچ کيدو [نو هر کله چې مونږ تاسو [مسلمانانو ته] هدايت اوکړو او ددې نه وړاندې مو د مشرکانو دپاره د استغفار نه منع کړې وه نو دهغې په کولو سره به تاسو ته دا سزا

(۱) **دالله تعالی دطرف نه اتمام حجت ضرور وی**: يعنی اتمام حجت او اظهار حق نه مخکښې الله تعالی هيڅوک نه ګمراه کوی. ګمراهي داده چه کله الله تعالی خپل احکام صفاصفابيان کړی، بيا امتثال اونکړې شی، يعنی اشاره ئې اوکړه چه کومو خلقو دممانعت نه مخکښې دمشرکانودپاره استغفار کړې دې په هغې نيول نشته دي. اوس دخبرداری نه پس داسې کول ګمراهی ده.

(۲) هرکله چه دهغه سلطنت دې نو دهغه حکم چليدل پکار دی. هغه ذات چه په خپل قدرت اوعلم محيط سره کوم احکام نافذ کړی نو دبندګانو کار دې چه په خوف وخطر دې دهغې تعميل اوکړی. دې دپاره درعايت دخل نشته دی. ځکه چه الله تعالی نه سوا بل څوک په کار راتلو واله نشته دې.

نه ملاویږی چې تاسو کښې دې دګمراهئ ماده پیدا کړې شی] [اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ] بیشکه الله تعالی ته هر څیز ښه معلوم دې [او هغوئ ته دا هم معلوم دی چې زمونږ د احکامو نه بغیر هغوئ په دې نشی پوهیدې ، په دې وجه ددې افعالو سره مضرت هم نه رسوی او] [اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ] بیشکه دا الله تعالی بادشاهی ده په آسمانونو او زمکه کښې [يُحْيٖ وَيُمِيْتُ] هم هغه مړهٔ کول کوی او ژوندی کول کوی [یعنی هر قسم حکومت او قدرت هغه لوئې ذات دپاره خاص دې. په دې څه حکم چې غواړی نو ورکولې شی ، او څوك چې د ضرر نه بچ کول غواړی نو بچ کوی یې] [وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ] او د الله ﷻ نه سوا ستاسو هیڅ مددګار او دوست نشته [بلکه هم هغه یارومددګار دې ، په دې تاسو دضرر نه بچ کوی ، او که تاسو اطاعت اونه کړو نو ستاسو هیڅوك بچ کوؤنکی نشته]

لَقَدْ تَّابَ　اللّٰهُ　عَلَى النَّبِيِّ　وَالْمُهٰجِرِيْنَ　وَالْاَنْصَارِ

[په تحقیق سره مهربانی اوکړه] الله [په نبی باندې | اوپه مهاجرینو باندې] اوپه انصاروباندې

| الله ﷻ د خپل پیغمبر او د هغې مهاجرو اوانصارو

الَّذِيْنَ　اتَّبَعُوْهُ　فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ　مِنْ بَعْدِ　مَا

دا هغه کسان دی | چې پیروی ئې کړی وه دهغه | په وخت دتنګئ [سختئ] کښې | روستو | دهغې نه

په حال توجه اوکړه | چې سختې تنګدستئ کښې ئې د پیغمبر سره ملګرتیا اوکړه | اګر چې د

كَادَ يَزِيْغُ　قُلُوْبُ　فَرِيْقٍ　مِّنْهُمْ　ثُمَّ　تَابَ

چې نزدې شوی ووچې کاږه شی| زړونه | دیوې ډلې | دهغوئ نه | بیا ئې | رجوع په رحمت سره اوکړه

خینو زړونه کږیدو والا وو | ....خوبیا الله ﷻ ددوئ توبه قبوله کړه

عَلَيْهِمْ　اِنَّهٗ　بِهِمْ　رَءُوْفٌ　رَّحِيْمٌ　وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ

په هغوئ|بیشکه هغه|په دوئ|مهربانه دې| رحم کونکې دې|اورجوع درحمت ئې اوکړه په دریوکسانو

هغه په دوئ باندې شفیق او مهربان دې |..................او په هغه دریو کسانو چې

الَّذِيْنَ　خُلِّفُوْا　حَتّٰى　اِذَا　ضَاقَتْ　عَلَيْهِمُ

هغو باند| چې روستو کړې شوی وؤ هغوئ | ترهغې پورې | چې کله | تنګه شوه | په هغوئ باندې

دهغوئ فیصله ملتوی شوې وه | تر دې چې زمکه پرې سره د فراخئ تنګه شوه

الْاَرْضُ　بِمَا رَحُبَتْ　وَضَاقَتْ　عَلَيْهِمْ　اَنْفُسُهُمْ　وَظَنُّوْا　اَنْ لَّا مَلْجَاَ

زمکه | سره دفراختیا دزمکې| اوتنګ شو| په هغوئ باند| خانونه دهغوئ| اوپوهه شو| چې نشته خائې دپناه

اوخپل ژوندورباندې بارشو| اوپه دې پوهه شو چې دالله ﷻ قهر نه بل هیڅ خائې کښې پناه نشته بې دهغه نه

مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ　اِلَيْهِ　ثُمَّ　تَابَ　عَلَيْهِمْ　لِيَتُوْبُوْا

دالله نه | مګر| خاص هم هغه ته دې| بیا| توجه اوکړه الله | په هغوئ | دپاره ددې چې واپس شی الله ته

نو الله ﷻ پرې مهربانه شو | چې دوئ اننده هم توبه اوباسی

Scanned with Ca

إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

بیشکه الله | هم هغه | ډیر توبه قبلونکي | رحم کونکي دي | اے هغه کسانو | چې ایمان مو راوړي دي

الله ﷻ توبه قبلونکي او مهربان دي | ....انې مومنانو د الله ﷻ نه ویره کوئ

اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ ۞

| اوېرېږئ د الله نه | او شئ | دصادقانو سره |

اود رښتیا خلقو سره ملګری شئ

آسان ترجمه قرآن

حقیقت دا دي چه الله مهرباني کړې ده په نبي باندې او په هغه انصارو او مهاجرینو چه هغوی په مشکل وخت کښې دنبي تابعداري کړې وه چه نژدې وه چه په هغوی کښې د یوې ډلې زړونه کاږه شوي وو، بیا الله د هغوی حالت ته توجه وکړه. یقیناً الله ډیر نرمي کونکې، ډیر مهربانه دې. او په هغه دریو باندې هم ﴿الله مهرباني کړې ده﴾ چه د هغوی فیصله وروستو کړې شوې وه تر دې چه په هغوی دا زمکه سره د فراختیا نه تنګه شوې وه، او د هغوی ژوند په هغوی باندې تنګ شو او هغوی په دې پوهه شوی وو چه د الله ﴿د نیولو نه﴾ هم د هغه په پناه کښې راتلو نه بغیر چرته پناه نه شي ملاویدې بیا الله په دوی رحم وکړو چه دوی آئنده الله طرف ته رجوع وکړي. یقین وکړئ چه الله ډیر معاف کونکې، ډیر مهربان دې اې د ایمان خاوندانو! د الله نه اوېرېږئ، او د رښتینو خلقو سره شئ.

خلاصه تفسير

[لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ] الله تعالى د پيغمبر ﷺ حال ته متوجه شو [چې هغوئ ﷺ ته يې نبوت او د جهاد امامت او تول صفتونه درکړو] [وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ] او د مهاجرينو او انصارو په حال باندې هم [توجه اوفرمائيله چې هغوئ يې داسې مشقت په جهاد کښې مستقيم اوساتلو] [الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ] چې هغوئ په داسې وخت کښې د پيغمبر ﷺ سره ملګرتيا کړې وه، [مِن بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ] پس ددې نه چې په دوئ کښې د يوې ډلې په زړونو کښې تزلزل وو [او په جهاد کښې حوصلې بائيللو ته نژدې وو خو] [ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ] بيا الله ﷻ دهغوئ په حال رحم اوکړو آخر بيا [چې هغوئ ئې سنبال کړل او هغوئ سره شول نو] [إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ] بيشکه الله تعالى په ټولو باندې شفيق او مهربان دې [چې ديرو په حال باندې څنګه توجه فرمائي] [وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا] او دهغه دريو سړو په حال ئې هم [توجه اوفرمائيله] دکومو معامله چې ملتوى شوې وه [حَتَّىٰ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ] تر دې چې کله [په هغوئ باندې پريشاني راغله چې] زمکه د خپل [دومره] فراخوالي باوجود په هغوئ باندې تنګه شوه [وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ] او دخپلو خانونو نه هم تنګ شول [وَظَنُّوا أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ] او هغوئ دا اوګڼړل چې د الله تعالى [د ګرفت نه] پناه نشي ملاويدې سوا ددې نه چې هغه طرفته رجوع اوکړې شي [په هغه وخت هغوئ د خاص توجه قابل شو] [ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا] بيا دهغوئ په حال باندې [هم خاص] توجه اوفرمائيله چې بيا دپاره هم [داسې د مصيبت او معصيت موقعو

Scanned with Ca

باندي] الله تعالى طرفته رجوع كوي [اِنَّ اللهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ﴿﴾] بيشكه الله تعالى ډير توجه كولو والا او ډير لوئي مهربان دي ،[يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ﴿﴾] ائي ايمان والو د الله تعالى نه ويريږئي او [عمل كښي] د رېښتونو سره شئ [يعنى كوم چې په نيت او خبره كښې رېښتونى وى دهغوئ په لار روان شئ چې تاسو كښې صدق راشى

معارف او مسائل

يو څو آيتونه وړاندې په آيت د ﴿وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا﴾ په بيان كښې ليكلې شوي وو چه غزوه تبوک د پاره هر كله چه د ټولو مسلمانانو د وتلو حكم عام وو نو دغه وخت د مدينې خلق پنځه قسمه جوړ شوي وو ،دوه قسمه د منافقانو وو چه تفصيل ئې په ړومبو آيتونو كښې تير شو اوس په دې آيتونو كښې د مومنانو مخلصانو د دريو قسمونو بيان راغلې دې،

① اول قسم هغه وو چه د جهاد د پاره حكم كيدو سره سمدستى تيار شو چه بيان ئې د دې آيت په ړومبې جمله ﴿اِتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ﴾ كښې راغلې دې،

② دويم قسم هغه وو چه په اول كښې څه خپه نيولې شان وو خو بيا ډاډه او زړور شو او جهاد د پاره ټولو سره روان شو ،د دوى بيان د آيت په دې جمله ﴿مِنْۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ﴾ كښې راغلې دې.

③ دريم قسم هغه مومنان وو چه د سستې د كبله خو جهاد له لا نړل خو بيا پښيمانه او توبه ګار شو ،او په آخر كښې د دوى ټولو توبه قبوله شوه مګر په دوى كښې بيا دوه قسمه مومنان په داسې شان شو چه ټول لس كسان وو ،اوو[۷] كسانو د رسول الله ﷺ په راواپس كيدو باندې خپله پښيمانى او توبه په دې شان ښكاره كړه چه خپل ځانونه ئې د مسجد نبوى ستنو سره په دې غرض اوتړل چه تر څو زمونږ توبه نه وى قبوله شوې مونږ به هم داسې تړلې يو ،د دوى په باره كښې د توبې آيت هغه وخت نازل شو د كوم بيان چه اوس اوس شوي دې،درې پاتې كسانو دغسې او نه كړل چه رسول الله ﷺ ورسره د بائيكاټ كولو حكم اوكړو ،وې فرمائيل چه هيڅوک دې ورسره سلام كلام هم نه كوى،دې سره دغه درې كسان ډير سخت پريشانه شو چه بيان ئې په دويم آيت كښې دا شان ﴿وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا﴾ راغلې دې،چه بالاخر د دوى توبه هم قبوله شوه او ورسره د بائيكاټ حكم هم ختم شو فرمائى ﴿لَقَدْ تَّابَ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ﴾[الله تعالى توبه قبوله كړه د نبى ﷺ او د هغه مهاجرينو او انصارو چه د تكليف په وخت كښې ئې د نبى ﷺ تابعدارى كړې وه]

دلته دا سوال پيدا كيږى چه توبه خو د ګناه او د معصيت د وجهې نه كيږى،رسول الله ﷺ خو د ګناه نه پاک او معصوم دى،د هغوى ﷺ د توبې قبلولو څه مطلب شو ؟بل دا چه اول نه كومو صحابهٔ كرامو ﷺ جهاد ته تلل سمدستى منظور كړې وو نو د هغوى ﷺ ګناه او قصور هم څه نه وو نو د هغوى د توبې قبلولو مطلب څه شو ؟

جواب ئې دادې چه دلته د توبې قبلولو نه مراد د ګناه نه ساتل دى،يا دا چه دلته د توبې قبلولو نه مطلب اشاره كول دى دې خبرې ته چه هر بنده ته تر دې چه رسول الله ﷺ ته د توبې كولو ضرورت څكه شته چه الله تعالى په خپله فرمائى ﴿وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللهِ جَمِيْعًا﴾[الله تعالى ته ټول توبه ګار شې]پوره مطلب ئې دادې چه الله تعالى ته د نزديكت ډيرې درجې دى چه نه ختميدونكې

Scanned with Ca

دي، هر بنده چه کوم مقام ته اورسي د هغې پورته مقامونه نور هم شته چه هغې سره ئې نسبت اوکړې شي نو موجوده مقام باندې ایسار پاتې کیدل یو نقص او کوتاهي ده. لکه مولانا رومي رحمه الله فرمائي؛

اے برادر بے نهایت در گهی ست　　هر چه بروے می رسی بروے مائست

[اې روره الله تعالی ته د نزدیکت ډیر زیات مقامات دي، کوم یو ته چه اورسې نو هلته مه ایساریږه] [مطلب د زیات نزدیکت حاصلولو کوشش کوه].

یعني دلته د توبې مطلب دا شو چه دغه رسیدلی مقام باندې د ایساریدو په ځای نور پورته تلل پکار دي.

﴿سَاعَةِ الْعُسْرَةِ﴾ دغې وخت ته ساعة العسرة ځکه وئیلې شوې دی چه مسلمانان په دغه وخت کښې نیستمن او په تنګیسا کښې وو، چنانچه حسن بصري رحمه الله فرمائیلې دي چه لسو کسانو د پاره یوه یوه سورلی وه چه په وار وار به ئې پرې سورلی کوله، د سفر خرچه ورسره هم ډیره لږه او معمولي وه، د سختې ګرمې موسم وو، اوبه هم په لاره کښې چرته چرته او لږې بیا موندې شوې.

﴿مِنْۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ﴾ دلته د زیغ نه مراد دین نه اوړیدل نه دي بلکه د بیان شوو تکلیفونوله کبله مړانه پریښودل او د جهاد نه ځان پاتې کول ترې مراد دي ځنګه چه په احادیثو کښې راغلي دي. او توبه ئې هم د دې قصور نه معاف شوه.

﴿وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا﴾ د [خلفوا] لفظي معنی ده روستو پریښولې شوې، یعني هغه صحابهٔ کرام رضي الله عنهم چه د توبې معامله ئې روستو کړې شوه. دا درې صحابه رضي الله عنهم کعب بن مالک شاعر، مراره بن ربیع، او هلال بن امیه رضي الله عنهم وو، درې واړه انصاري بزرګان وو، چه دې نه وړاندې په بیعت عقبه کښې او په نورو غزاګانو کښې هم د رسول الله ﷺ سره شریک شوې وو، خو د غزوهٔ تبوک په موقع باندې اتفاقي په دې غلطۍ کښې مبتلا شو، منافقانو هم ورته هم داسې مشورې ورکړې وې ځکه ترې دا کار اوشو. کله چه رسول الله ﷺ د دغې جهاد نه واپس راغلو نو ټولو منافقانو د دروغو په عذرونو او دروغو قسمونو خوړلو سره ځان خلاص کړو، رسول الله ﷺ ئې هم دغه ظاهري قسمونه قبول کړل او د دوی باطني حالت ئې الله تعالی ته اوسپارلو او دا خلق په مزو کښې اوسیدل. ځنې خلقو دې درې واړو انصارو بزرګانو ته هم د دغسې کولو مشوره ورکوله. چه په دروغو عذرونو پیش کولو سره ځانونه خلاص کړې مګر په دې باندې هغوئ لره د هغوی زړونو ملامته کول چه یو خو جهاد ته د نه تلو ګناه رانه شوې ده او بل د هغوی ﷺ په وړاندې د دروغ وئیلو ګناه پرې لا زیاتي اوکړو، نو د داسې کولو په ځای ئې ښه په ډاګه د خپل قصور اقرار اوکړو چه د بائیکاټ او سلام کلام نه کولو سزا پرې جاري کړې شوه د دې ټولې واقعې انجام دا شو چه الله تعالی په قرآن کریم کښې د دې ټولو حقیقت څرګند کړو په دروغه د قسم خوړونکو راز ئې هم ښکاره کړو چه د هغې ذکر او د هغوې د خراب انجام بیان د دې نه وړاندې په نورو آیتونو کښې بیان شوې دې لکه فرمائي ﴿يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ﴾ نه تر ﴿عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ﴾ او دې درې واړو بزرګانو چه ریښتیا اوئیل او د خپل قصور اقرار ئې اوکړو نو توبه قبلیدل ئې په دې آیت کښې نازل شو، پنځوس ورځې د رسول الله ﷺ د مخ مبارک اړولو او صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم د سلام کلام نه کولو ډیرې سختې سزا تیرولو نه پس د بیا په رونړتیا او مبارکې سره د رسول الله ﷺ او د ټولو مسلمانانو په نزد مقبول شو.

Scanned with Ca

د دې درېو واړو انصاري بزرګانو د واقعې تفصيل د احاديثو نه:: په صحيحينو [بخاري او مسلم] او د احاديثو په اکثرو کتابونو کښې ددې واقعې په باره کښې د حضرت کعب بن مالک ؓ يو اوږد حديث ليکلے شوې دې[۱] چه په ډېرو فائدو، مسئلو او حقيقتونو باندې مشتمل دې، ځکه مناسب ښکاري چه د هغې پوره ترجمه دلته نقل کړې شي، چنانچه کعب بن مالک ؓ خپله دا واقعه دا شان نقل کوي.

رسول الله ﷺ چه څومره غزوات کړې دي زه په هغې ټولو کښې د هغوی ﷺ سره شريک ووم سوا د غزوهٔ تبوک نه، البته د بدر واقعه چونکه ناڅاپه پيښه شوې وه او رسول الله ﷺ ټولو ته په هغې کښې د شريکيدو حکم هم نه وو کړې او په نه شريکيدونکو باندې ئې څه ملامتيا هم نه وه کړې نو په هغې کښې هم نه ووم شريک شوې، او زه د ليلة العقبه په بيعت کښې هم شريک ووم چه په کوم کښې مونږ د اسلام د مرستې او حفاظت لوظ او قول کړې وو او ما ته دا په بيعت عقبه کښې حاضريدل د غزوهٔ بدر د حاضرۍ نه هم ډير خوښ دي، اګرچه د بدر غزا په خلقو کښې زياته مشهوره ده، فرمائي چه د تبوک په غزا کښې د نه شامليدو وجه مې دا وه چه زه کله هم دومره آسوده حال او مالداره نه ووم څومره چه د تبوک د غزا په موقعې باندې ووم، قسم په خداې چه دغه وخت راسره دوه سورلې هم وې چه ددې نه وړاندې چرې هم راسره نه وې، فرمائي چه د رسول الله ﷺ عادت شريفه به د غزواتو په معامله کښې دا وو چه د غزا د پاره به ئې تشريف اوړو نو د غزا د مقام د اړخ نه به په بل اړخ د مدينې منورې نه وتلو دې د پاره چه منافقان جاسوسان هغې خلقو ته زمونږ جاسوسي او نه کړي، هغوی ﷺ به فرمائيل چه جنګ کښې [دا شان] خداع [دهوکه] کول روا دي.

د تبوک غزا چه راپيښه شوه نو دغه وخت سخته ګرمي وه، مسلمانان بې ماله او غريبانان وو، سفر هم ډېر اوږد وو، د دشمن شمير او طاقت هم ډېر زيات وو، ځکه رسول الله ﷺ په ډاګه د دې جهاد اعلان اوکړو چه مسلمانان دې د پاره پوره تياري اوکړې شي. د صحيح مسلم د روايت مطابق په دې جهاد کښې د شريکيدونکو شمير د لسو زرو [۱۰۰۰۰] نه زيات وو، (۲) او د حاکم په حواله د حضرت معاذ ؓ نه روايت دې چه کله مونږ د رسول الله ﷺ سره دې جهاد ته اووتلو نو زمونږ شمير د دېرش زرو [۳۰۰۰۰] نه زيات وو.

وائي چه په جهاد کښې د وتونکو څه فهرست نه وو ليکلے شوې، چا چه د جهاد نه پاتې کيدل غوښتل نو خيال ئې دا وو چه زمونږ په نه تلو به هيڅوک خبر نه شي. کله چه رسول الله ﷺ دغه جهاد له وتلو نو د ځجورو پخيدو موسم وو، د باغونو خاوندان په دې کار کښې لګيا وو، په دې دوران کښې رسول الله ﷺ د زيارت يعنی جمعرات په ورځ د مدينې منورې نه سفر کول شروع کړل ولې چه رسول الله ﷺ به د زيارت ورځ د هر قسم سفر [جهاد يا بل سفر] د پاره خوښوله. زما حال دا وو چه د هر صبا په وخت دغې جهاد ته د تلو اراده لرله خو چه به واپس کور ته راتلم نو هغې د پاره به مې هيڅ تياري نه وو کړې، په زړه کښې مې هر وخت وئيل چه د جهاد کولو وس لرم ځکه ما د پاره تلل پکار دي، خو په نن صبا کولو به پاتې راتلم چه رسول الله ﷺ د جهاد

---

[۱]) صحيح البخاري، كتاب المغازي، باب حديث كعب بن مالك: ج ۲، ص ۳۲، وصحيح مسلم، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه: ج ۲، ص ۳۶۰، ومسند أحمد، حديث كعب بن مالك رقم الحديث: ۱۵۲۲۹

[۲]) صحيح مسلم، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه: ج ۲، ص ۳۶۳

دپاره روان شو نو بیا مې هم په زړه کښې راتلل چه وریسې به روان شم او په لاره کښې به ورسره چرته ملګرې شم. کاش؛ چه داسې مې کړې وې خو[افسوس دې چه]او مې نه شو کړې.
رسول الله ﷺ چه تشریف یوړو نو مدینه منوره کښې به چرته چه لاړم ما به داسې خلق لیدل چه غټ منافقان به وو، داسې رنځوران او معذوران به وو چه د سفر کولو بیخی جوګه به نه وو نو ډیر خفګان به راباندې تیریدو[چه زه ولې لا نهړم؟]رسول الله ﷺ ته د سفر په ټوله لار زما خیال رانغلو، تبوک ته په رسیدو ئې په یو مجلس کښې زما ذکر اوکړو او اوئې فرمائیل چه په کعب بن مالک څه شو؟[هغه چرته دې؟]
د بنی سلمه یو کس اووئیل چه یارسول الله ﷺ هغه ښکلو جامو او هغې ته کتل په جهاد کښې د شاملیدو نه پاتې کړې دې. حضرت معاذبن جبل ﷺ عرض اوکړو چه تا دا بده خبره اوکړه او اوئې وئیل چه یارسول الله ﷺ قسم په خداې چه په هغه کښې مې د خیر نه سوا بل څه نه دی موندلی، د دې په اوریدو باندې رسول الله ﷺ خاموشه شو.
حضرت کعب ﷺ وائی چه کله د رسول الله ﷺ د واپس راتلو نه خبر شوم نو زیات فکر راسره مل شو، نزدې وه چه د خپلې ویرې مې د خپلې غیر حاضرې په دروغه عذرتیا کړې وې او داسې خبرې مې ورته کړې وې چه رسول الله ﷺ به رانه ناراضه شوې نه وې، دا مې خیال وو چه په دې کښې د خپلو دوستانو نه هم څه مدد واخلم. کله چه د رسول الله ﷺ په تشریف راوړلو خبر شوم نو خراب خیالات مې ټول د زړه نه اووتل او په دې مې یقین راغلو چه په دروغو سره زه د رسول الله ﷺ د ناراضګې نه ځان نه شم خلاصولې، په دې وجه مې د رښتیا وئیلو قصد اوکړو ځکه چه هم رښتیا به مې خلاصولې شي.
رسول الله ﷺ د خپل عادت مطابق هغه وخت مدینې منورې ته داخل شو چه نمر یو نیزه دوه اوچت شوې وو[یعنی د څاښت وخت وو]د خپل عادت مطابق ئې اول جمات ته تشریف یوړو دوه رکعته مونځ ئې ادا کړو[عام عادت ئې دا وو چه د څاښت دوه رکعته مونځ ادا کولو نه پس به د حضرت فاطمه ﷺ خوا ته ورغلو، بیا به د نورو بیبیانو خوا ته ورغلو]
هم ددې عادت مطابق نبی کریم ﷺ مسجد ته تشریف یوړو، دوه رکعته مونځ ئې ادا کړو، بیا مسجد کښې کیناستل، هر کله چې خلقو دا اوکتل چې کوم خلق غزوهٔ تبوك کښې نه وو شریك شوی او دهغوئ شمیر څه پاسه اتیا کسان وو او دا منافقان وواو د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او په دروغه قسمونه ئې اوخوړل او خپل د دروغو عذرونه ئې بیان کړل. رسول الله ﷺ د هغوی دا ظاهری خبره، قسمونه او عذرونه قبول کړل، بیعت ئې کړل او ورله ئې د بخښنې دعا اوکړه خو د هغوی باطنی او اندرونی حالات ئې الله تعالی ته اوسپارل. په دې دوران کښې زه هم ورغلم او مخامخ رسول الله ﷺ ته کښیناستم، سلام مې چه پرې واچولو نو رسول الله ﷺ داسې مسکا اوکړه لکه چه د خفګان مسکا وی. په خنی روایاتو کښې راځی چه رسول الله ﷺ خپل مخ مبارک واړولو، نو ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ تاسو رانه مخ مبارک ولې اړوې قسم په خداې ما خو منافقت نه دې کړې او نه مې په دین کښې څه شک شبه راغلې ده او نه مې په کښې تبدیلی کړې ده. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیا جهاد ته ولې نه وې راغلې؟ ایا تا سورلی نه وه اخستې؟

ما ورته عرض اوکړو چه بیشکه یارسول الله ﷺ که په دنیا کښې ستاسو نه سوا د بل انسان په مخکښې خه ناست وې نو یقین مې دې چه د خانه به مې څه عذر جوړ کړې وو او د هغه د ناراضګۍ نه به مې ځان ساتلې وو، ځکه چه په بحث، جنګ جګړې کولو او خبرې جوړولو کښې زه ډیر ماهر یم، لیکن قسم په خداې زما یقین دې که دروغ خبره مې درته اوکړه او هغه وخت د پاره تاسو راضی هم شې نو څه لرې خبره نه ده چه الله تعالی دې په حقیقت خبر کړی او ما نه به دې ناراض کړی، که رښتیا مې درته اوئیل نو اوس خو به پرې ناراض شې خو امید مې دې چه الله تعالی به مې معاف کړی، صحیح خبره داده چه د جهاد نه د پاتې کیدو زما هیڅ عذر نه وو، زه کله هم د دومره مال مالک نه ووم د څومره مال چه اوس یم، په بدنی ډول چرې هم دومره قوی نه ووم څومره چه اوس یم.

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دې سړی خو رښتیا وئیلې دی، او بیا ئې اوفرمائیل چه ښه ده نو لاړ شه، چه الله تعالی ستا په باره کښې څه فیصله اوکړی. وائی چه زه د دغه ځاې نه پاسیدم او روان شوم نو د بنی سلمه یو څو کسان راپسې وو او راته ئې وئیلې چه د دې نه وړاندې خو زمونږ په علم کښې تا څه ګنا نه ده کړې دا دې څه بې وقوفی اوکړه که دا وخت دې څه عذر پیش کړې وې لکه چه نورو پاتې کیدونکو پیش کړو نو ستا د ګناه د معاف کیدو د پاره به د رسول الله ﷺ بخښنه غوښتل کافی وو، قسم په خداې دغه خلقو زه بیا بیا ملامته کولم، تر دې چه زړه کښې مې دا خیال راغلو چه زه واپس شم او بیا عرض اوکړم چه ما اولنې خبره غلطه کړې وه، زما صحیح عذر موجود وو ــــــــ خو بیا مې زړه کښې اوئیل چه د یو ګناه نه دوه ګناهونه نه جوړوم، یو ګناه خو مې د جهاد نه د پاتې کیدو اوکړه او بله ګناه د دروغو وئیلو اوکړم. بیا مې د دغه خلقو نه تپوس اوکړو چه د جهاد نه په پاتې کیدونکو کښې نور هم زما څوک داسې ملګری شته چه د خپل جرم اقرار ئې کړې وی؟ــــــ هغوی راته اوئیل چه او دوه کسان داسې شته دې او هغوی ته هم دغه جواب ورکړې شو څنګه چه تا ته اوئیلې شو [چه د الله تعالی د فیصلې انتظار کوې] ما د هغې دوو کسانو تپوس اوکړو چه څوک دی، هغوی راته اوئیل چه یو مراره بن ربیع العمری دې او بل هلال بن امیه واقفی دې.

د ابن ابی حاتم د روایت مطابق چه په دې کښې د ړومبی کس مراره بن ربیع العمری د جهاد نه د پاتې کیدو سبب خو دا شو چه دغه وخت د ده د یو باغ میوه پخیدونکې وه. هغه په زړه کښې وئیل چه په ډیرو غزاګانو کښې مې برخه اخستې ده که دا ځل دې جهاد له لاړ نه شم نو څه جرم دې، بیا چه دې په خپله ګناه خبردار کړې شو نو هغه الله تعالی سره دا لوظ اوکړو چه دغه باغ مې د الله تعالی په لار کښې خیرات کړو.

د بل بزرګ هلال بن امیه ؓ واقعه داسې وه چه د ده آل اولاد د ډیرې مودې نه سره بیل وو. دغه وخت راجمع شوې وو نو دا خیال ئې اوکړو چه دا ځل جهاد ته لاړ نه شم او خپل بال بچ سره دا وخت تیر کړم. د دوی ؓ چه هم خپلې ګناه ته خیال شو نو لوظ ئې اوکړو چه اوس به زه د خپل بال بچ نه بیلتون اختیار کړم [1]

[1]) تفسیر ابن ابی حاتم رقم الحدیث: ۱۰۹۱۸

کعب بن مالک رضي الله عنه فرمائي چه دې خلقو د دوو هغه بزرګانو بیان اوکړو چه د بدر په غزا کښې ئې برخه اخستې وه نو او مې وئیل چه بس هم د دوی په پل باندې مې تلل دی دا مې اووئیل او کور ته لاړم.

بل خوا رسول الله ﷺ صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم لره مونږ درې واړو سره د سلام کلام نه منع کړې وو دغه وخت خو مونږه ټولو مسلمانانو سره مینه لرله خو هغوی رضي الله عنهم مونږ نه مخ اړولې وو.

د ابن ابی شیبه په روایت کښې دي، چه اوس زمونږه دا حال شو چه د چا خوا ته به تلو نو هغه به راسره سلام کلام نه کولو، سلام به ئې راباندې نه اچولو او نه به ئې د سلام جواب راکولو.[1]

په مسند عبدالرزاق[2] کښې راغلي دی چه دغه وخت زمونږه دنیا بیخي بدله شوه داسې راته ښکاریده چه نه خو دا خلق هغه وړاندیني دی، نه دغه مکانونه او باغونه زمونږه وړاندیني باغونه دی، ټول هر څه راته پردی ښکاریدل. ما سره د ټولو نه لوئې فکر دا وو چه که زه په دې حال کښې مړ شوم نو رسول الله ﷺ به مې د جنازې مونځ نه کوی او که خداې دې نه کړی په دې موده کښې رسول الله ﷺ وفات شو نو ټول عمر به په خلقو کښې ذلیل او خوار پاتې کیږم په دغه وجه ما ته ټوله زمکه نا آشنا او ورانه ویجاړه ښکاریده.

په دې حال کښې په مونږه پنځوس شپې تیرې شوې، په دې دوران کښې زما نور دوه ملګری [مراره او هلال] په کور کښې زړه ماتی کښیناستل او شپه ورځ ژړیدل، خو زه ځوان ووم بهر ته به وتم ګرځیدم راګرځیدم به، په مونځونو کښې به ټولو مسلمانانو سره شریکیدم او په بازارونو کښې به ګرځیدم راګرځیدم خو چا به راسره سلام کلام نه کولو نه به ئې رانباندې سلام اچولو او نه به ئې زما د سلام جواب راکولو، د رسول الله ﷺ په مجلس کښې به د مونځ نه پس حاضریدم، او کتل به مې چه د رسول الله ﷺ شونډې مبارکې زما د سلام جواب ورکولو د پاره حرکت کوی او که نه؟ بیا به مې ورسره حجت مونځ کولو په غلا غلا به مې ورته کتل چه ما ته ګوری او که نه؟ راته معلومه شوه چه مونځ کوم نو رسول الله ﷺ راته ګوری او چه زه ورته ګورم نو مخ رانه واړوی.

کله چه د خلقو دا بې وفائي اوږده شوه نو یوه ورځ د خپل تره ځوئې قتاده رضي الله عنه خوا ته ورغلم چه د ټولو نه مې زیات دوست وو، د هغه د باغ په دیوال ورواوړیدم او سلام مې ورته اوکړو، قسم په خداې هغه هم زما د سلام جواب رانه کړو، ما تپوس اوکړو چه اې قتاده رضي الله عنه ته مې نه پیژنې چه زه الله تعالی او رسول الله ﷺ سره مینه لرم، د دې جواب ئې هم را نه کړو، چه ډیر ځل مې دا خبره واړوله راواړوله نو په دریم، څلورم ځل کښې هغوی رضي الله عنه صرف دومره اووئیل چه [الله پوهیږی او د هغه رسول ﷺ] ما اوژړل او هغه شان په دیوال راواوړیدم او بهر ته راغلم ـــــ په دې دوران کښې یو ځل د مدینې بازار کښې روان ووم چه ناڅاپه د شام ملک یو نبطی کس چه د غلې خرڅولو د پاره د شام نه مدینې منورې ته راغلې وو هغه مې اولیدلو چه د خلقو نه ئې زما په باره کښې تپوس کولو، خلقو چه اولیدم نو په اشاره ئې ورته اوښولم هغه سړې مې خوا ته راغې او د غسان د بادشاه یو خط ئې راکړو چه په ریښمین رومال داسې لیکلې شوې وو.

---

[1]) مصنف ابن ابي شيبة: ج۸، ص ۵۵۹، ۵۶۰

[2]) مسند عبدالرزاق: ج۵، ص ۲۰۲، ۲۰۳

Scanned with Ca

اما بعد: زه خبر شوې يم چه ستاسو نبي ﷺ درسره بې وفائي کړې ده او ته ئې ځان نه لرې کړې ئې، الله تعالى ته د ذلت او هلاکت په ځاې کښې نه ئې لرلې، ته که زمونږ خوا ته راتلل خوښ کړې نو راشه مونږ به دې مدد اوکړو.

د دې خط په لوستو مې اووئيل چه داپه ما يو بل ازميښت او امتحان راغلو چه اهل کفر هم رانه طمع لرى[چه زه ورسره يو ځاې شم]دا خط مې يوړو او د يو دوکان په تنور کښې مې ور اوغورځولو.

حضرت کعب ؓ فرمائي چه پنځوسو کښې څلويښت شپې راباندې تيرې شوې، ناڅاپه مې اوليدل چه د رسول الله ﷺ يو ريبار خزيمه بن ثابت ؓ مې خوا ته را روان دې چه راغلو نو راته ئې اووئيل چه رسول الله ﷺ حکم درکړې دې چه د خپلې بي بي نه هم کناره شه، ما تپوس اوکړو چه آيا طلاق ورکړم او که بل څه اوکړم؟ هغوى ؓ راته اوئيل چه نه عملا ترې بيل شه او هم داسې حکم زما نورو دوو ملګرو ته هم ورکړې شو. ما خپلې بي بي ته اوئيل چه خپلې مور کره لاړه شه او هم هلته اوسه تر څو چه الله تعالى څه فيصله اوکړى.

د هلال بن اميه ؓ بي بي خوله بنت عاصم چه دا حکم واوريدلو نو رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې اوکړو چه هلال بن اميه يو بوډا کمزورې انسان دې بل څوک خادم ئې هم نشته، د ابن ابي شيبه ؓ په روايت[۱] کښې دا هم دى چه د سترګو نظر ئې هم کمزورې دې نو آيا ستاسو ﷺ دا خوښه نه ده چه هم زه ئې خدمت کوم. وې فرمائيل چه د خدمت کولو نه منع نه ده راغلې البته نه دې در نزدې کيږى، هغې عرض اوکړو چه هغه د بوډا توب په وجه هسې هم دغسې شوې دې، داسې هيڅ حرکت نه شي کولې او والله په مخه لګيا وى ژاړى، توله شپه ورځ ژاړى.

کعب بن مالک ؓ فرمائي چه ما ته هم ځنې متعلقينو مشوره راکړه چه ته هم د خپلې بيبى ځان سره د ساتلو اجازت واخله ځنګه چې هغوىٰ هلال ته اجازت ورکړو، ما اووئيل زه به داسې اونه کړم. معلومه نه ده چه رسول الله ﷺ به څه جواب راکړى، دې نه علاوه زه ځوان سړې يم[بيبى راسرې وى نو احتياط کول به راته ډير ګران وى]چنانچه په داسې حالت کښې مې نورې لس شپې تيرې کړې چه پنځوس شپې پوره شوې نو د مسند عبد الرزاق په روايت[۲] کښې دى چه دغه وخت زمونږ د توبې د قبليدو حکم په رسول الله ﷺ باندې نازل شو کله چه د دغې شپې دريمه برخه تيره شوې وه، ام المؤمنين حضرت ام سلمه ؓ چه دغه وخت حاضره وه عرض ئې اوکړو که اجازت وى نو کعب بن مالک ؓ ته دې دا وخت خبر دارې ورکړې شي، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اوس به د خلقو ډيره ګنړه شي او د شپې خوب کول به ډير ګران شي. کعب بن مالک ؓ فرمائي چه د پنځوسمې شپې نه پس مې د صبا مونځ کړې وو د کور د چت د پاسه ناست ووم او حالت مې هغه وو کوم چه الله تعالى داسې بيان کړې دې چه خپل ځان او زمکه راباندې سره د فراخې نه تنګه شوې وه، ناڅاپه مې د سلع نومې د غر نه د يو چغې وهونکى آواز شه په زوره داسې واوريدو چه[اې کعب زيرې دې وى]الزيرې مې درباندې[د محمد بن عمرو ؓ د روايت مطابق دا په زوره آواز کونکې حضرت ابوبکر ؓ وو چه په سلعه نومې غر د

۱) مصنف ابن ابي شيبه: ج ۸، ص ۵۶۱
۲) مسند عبد الرزاق: ج ۵، ص ۴۰۴

Scanned with Ca

پاسه ئې چغه کړه چه الله تعالى د کعب ؓ توبه قبوله کړه زيرې دې وی او د حضرت عقبه ؓ په روايت کښې دادی چه حضرت کعب ؓ ته د زيرې ورکولو د پاره دوه کسان سرې په منډه رازغليدل چه په هغې کښې ترې يو وړاندې شو نو هغه روستو پاتې کس په سلع غر د پاسه دا آواز اوکړو او وئيلې شی چه دا منډې وهونکی دوه کسان شيخين[حضرت ابوبکر او حضرت عمر ؓ وو]۔

کعب بن مالک ؓ فرمائی چه د دې آواز په اوريدو په سجده پريوتم او د ډيرې خوشحالۍ نه په ژړا شوم راته معلومه شوه چه اوس فراخی راغله، رسول الله ﷺ د صبا د مانځه نه پس صحابهٔ کرامو ؓ ته زمونږ د توبې د قبليدو خبر ورکړې وو، اوس د هر طرف نه خلق مونږ ته د مبارکۍ راکولو د پاره را په منډه شو، ځنې خلق په آس سواره شو او زما خوا ته راورسيدل خو د غر نه د آواز کونکی آواز د ټولو نه اول راارسيدلی وو ـــــ کعب بن مالک ؓ فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضريدو د پاره اووتم نو ډلې ډلې خلق، ما ته د مبارکۍ د پاره راروان وو، وائی چه مسجد نبوی ﷺ کښې ورننوتم نو او مې ليدل چه رسول الله ﷺ تشريف ايښې دې، گير چاپيره ترې صحابهٔ کرام ؓ ناست دی زما په ليدو د ټولو نه اول طلحه بن عبيدالله ؓ راپاسيدو ما ته راغلو راسره ئې مصافحه اوکړه او د توبې قبليدو ئې راته مبارکی راکړه، د طلحه دا احسان زه کله هم نه شم هيرولې، چه ما رسول الله ﷺ باندې سلام واچولو نو مخ مبارک ئې د خوشحالۍ نه ځليدو، رسول الله ﷺ راته اوفرمائيل اې کعبه ؓ تا ته دې د داسې مبارکې ورځې زيرې وی چه ستا په ټول عمر کښې د پيدا کيدو نه واخله تر دې وخته پورې د ټولو نه غوره ورځ ده، ما عرض اوکړو چه يارسول الله ﷺ دا حکم ستاسو ﷺ د طرفه دې يا د الله تعالى د طرفه؟

وې فرمائيل چه نه دا حکم دالله تعالى دې، رښتيا دې وئيلې وو الله تعالى دې رښتيا ښکاره کړل۔ وائی چه د رسول الله ﷺ مخې ته کښيناستم نو عرض مې اوکړو چه يارسول الله ﷺ زما توبه داده چه زه خپل ټول مال متاع نه لاس واخلم، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څه مال د خپل ضرورت د پاره اوساته دا بهتر دی ما عرض اوکړو چه ښه ده نو نيم مال به خيرات کړم، رسول الله ﷺ دا هم او نه منل بيا مې د دريمې برخې د خيرات اجازت واخستو نو رسول الله ﷺ دا خبره قبوله کړه. عرض مې اوکړو چه الله تعالى د رښتيا وينا په وجه زه خلاص کړې يم ځکه مې لوظ کړې دې چه تر څو ژوندې يم کله به هم د رښتياو نه سوا بله خبره او نه کړم بيا ئې اوفرمائيل چه د کله نه مې د رسول الله ﷺ سره د رښتيا وئيلو لوظ کړې دې د هغې نه تر اوسه پورې مې الحمدلله چرې هم دروغ نه دی وئيلې، اميد لرم چه ټول ژوند کښې به مې هم د دروغو وئيلو نه ساتی. کعب ؓ فرمائی چه قسم په خداې د اسلام نه پس راته د دې نه لوئې نعمت نه دې حاصل شوې چه د رسول الله ﷺ په مخکښې مې رښتيا وئيلې وو او دروغو نه مې ځان اوساتلو که دروغ مې وئيلې وې نو زه به هم هغسې هلاکت کښې پريوتې ووم ځکه چه په دروغه قسم خوړونکی کسان هلاک شو او د هغوی باره کښې قرآن کريم داسې فرمائی:

(سَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ اِنَّهُمْ رِجْسٌ ۡ وَّمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ جَزَاۗءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَاِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ۝)

Scanned with Ca

ځني حضراتو فرمائيلي دی چه دې درې واړو حضراتو رضي الله عنهم سره تر پنځوسو ورځو پورې قطع تعلق جاری پاتې کيدل په دې حکمت باندې بنا کيدې شی چه د رسول الله ﷺ هم په غزوه تبوک کښې پنځوس ورځې لګيدلې وې[دا پوره روايت او تفصيلی واقعه د تفسير مظهری نه اخستې شوې ده] -(۱)

د کعب بن مالک رضي الله عنه په باره کښې بيان شوې حديث سره تړلې فائدې: حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه چه په تفصيل سره خپله واقعه بيان کړې ده په هغې کښې مسلمانانو د پاره ډيرې فائدې او هدايتونه دی ځکه دلته دا حديث پوره ليکلې شوې دې،هغه فائدې دا دی.

①په دې حديث شريف کښې دا ښودلې شوې دی چه په عامو غزاګانو کښې د رسول الله ﷺ عادت مبارک دا وو چه کوم خوا به تلل وو د هغې په مخالف طرف به د مدينې منورې نه بهر وتلو،دې د پاره چه د اسلام مخالفينو ته دا پته او نه لګی چه رسول الله ﷺ کوم قوم يا قبيلې ته د جهاد په غرض ور روان شو،او په دې باره کښې ئې اوفرمائيل چه[الحرب خدعة](۲)
په جنګ کښې دهوکه ورکول جائز دی په دې سره بعضې خلق دا غلطی کوی چه په جنګ او جهاد کښې په دروغو وئيلو سره مخالف ته دهوکه ورکول جائز ګڼړی نو دا صحيح خبره نه ده،بلکه مراد ددې دهوکې نه دا دې چه داسې عمل اوکړی چه مخالفين تړې په دهوکه کښې پريوزی لکه جهاد د پاره په مخالف طرف بهر ته وتل،په دروغو وئيلو سره دهوکه ورکول مراد نه دی،ولې چه جنګ کښې هم دروغ وئيل جائز نه دی___دا شان په دې هم ځان پوهول پکار دی چه جائز شوې عملی دهوکه کول عهد،معاهدې او لوظ قول سره هيڅ تعلق نه لری،چنانچه لوظ،قول ماتول د صلحې يا د جنګ په هيڅ حالت کښې جائز نه دی.

②سفر باندې روانيدو د پاره به د زيارت يعنی جمعرات ورځ د رسول الله ﷺ خوښه وه،سفر به د جهاد وو او که د بل څه ضرورت د پاره به وو.

③د خپل يو بزرګ،مرشد،استاد يا پلار راضی کولو د پاره هم دروغ وئيل روا نه دی،او ددې انجام هم ښه نه وی،رسول الله ﷺ ته خو به د حال حقيقت د وحی په ذريعه معلوميدو،ځکه د دروغو وئيلو انجام به خراب وو،څنګه چه د کعب بن مالک رضي الله عنه او د هغه د نورو ملګرو د بيان شوې واقعې نه په ډاګه شوه،د رسول الله ﷺ نه پس نورو بزرګانو ته خو وحی نه شی کيدې،په الهام او کشف سره علم راتلل هم څه ضروری نه دی،خو تجربې نه ثابته شوې ده چه دروغ وئيل يو داسې سپيره توب لری چه په قدرتی ډول داسې اسباب جمع کيږی چه په آخر کښې دا بزرګ د هغه نه خامخا ناراض شی.

④د دې واقعې نه دا ثابته شوه چه د څه جرم په سزا کښې د مسلمانانو امير ته دا حق حاصل دې چه يو کس سره د سلام کلام کولو نه خلق بند کړی څنګه چه دغه درې واړه بزرګانو سره اوشو.

⑤دې واقعې نه د رسول الله ﷺ سره د صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم بې کچه مينه داسې معلوميږی چه د داسې ناراضګې او سلام کلام بندولو په زمانه کښې به ئې هم د رسول الله ﷺ په خدمت کښې

(۱) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۳۱۳ نه ۳۱۹ پورې-
(۲) صحيح البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب الحرب خدعة: ج ۱، ص ۴۲۵

Scanned with Ca

په مخه حاضري ورکوله او د سترګو په کوتونو به ئې د رسول الله ﷺ د توجو او تعلق د حال معلومولو کوشش کولو.

⑥ کعب بن مالک ؓ سره چه خپل مضبوط دوست قتاده ؓ هم سلام کلام نه کولو او نه ئې د سلام جواب ورکړو، دې نه څرګنده شوه چه دا د څه دشمنۍ، بعضې، مخالفت په وجه نه وو بلکه د رسول الله ﷺ د حکم د پوره کولو په غرض وو، دې نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ جوړ کړې شوې قانون يواځې د خلقو په ظاهر نه جاري کيدو بلکه په زړونو هم د هغې حکومت وو او موجود او غير موجود مسلمانانو به په هيڅ حال کښې د هغې خلاف نه کولو اګرچه دا قانون به د يو مشر، ښه دوست يا رشته دار خلاف هم راتلو.

⑦ حضرت کعب ؓ چه د غسان د بادشاه راغلي خط په تنور کښې اوغورځولو دې نه د صحابهٔ کرامو ؓ د ايمان پوخوالې او مضبوط والې داسې معلوميږي چه داسې د پريشانۍ په حالت کښې چه رسول الله ﷺ او مسلمانانو ورسره قطع تعلق کړې وو، سلام کلام کول ئې ورسره هم بند کړې وو بيا هم د يو لوئې بادشاه په لالچ کښې رانغلو او نه ئې په زړه کښې دغې اړخ ته څه ميلان پيدا شو.

⑧ د توبې قبليدو نه پس کعب ؓ ته د زيرې ورکولو په غرض د حضرت ابو بکر ؓ او د حضرت عمر ؓ د منډې راوهلو نه د دوی تر منځه د ژور تعلق او بې کچه مينې اندازه لګيدې شي او دا د صحابهٔ کرام ؓ د ايمان د پوخوالي يو زبردست دليل دې چه د رسول الله ﷺ د مقاطعې د حکم په وړاندې دوی ؓ دغه ذاتي مينه هم په لته وهلې وه او هيڅ حيثيت ئې د دې په مقابله کښې نه ورکولو.

⑨ حضرت کعب ؓ ته د زيرې ورکولو په غرض د صحابهٔ کرامو ؓ د تلو نه معلوميږي چه د خوشحالۍ په موقع چا ته مبارکي او زيرې ورکول سنت طريقه ده.

⑩ د ګناه نه د توبې کولو په موقع مال خيرات کول د ګناه د اثر لرې کولو د پاره ډير غوره دي، خو ټول مال خيرات کول هم ښه نه دي او دا هم ترې معلومه شوه چه د ټول مال د دريمې برخې نه زيات مال خيرات کول رسول الله ﷺ خوښ نه کړل.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَكُونُوا مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ﴾ څنو مخلصانو مؤمنانو نه چه دا غلطي اوشوه چه په جهاد کښې بې عذره شريک نه شول او بيا ئې د هغې نه توبه اوښکله چه قبوله شوه دا ټوله د الله تعالى نه د ويرې او د تقوى نتيجه وه ځکه دې آيت کښې عامو مسلمانانو ته د تقوى د پاره هدايت اوکړې شو او په [کونوامع الصدقين] سره دې ته اشاره اوکړې شوه چه د تقوى حاصليدو طريقه داده چه په صحبت او عمل کښې د هغوى ملګرتيا اوکړې شي، دې کښې دې خبرې ته هم اشاره کيدې شي چه د بعضې صحابهٔ کرامو ؓ نه دغه بيان شوې لغزش صادريدل منافقانو سره د صحبت او ناستې پاستې په وجه شوې وو، په دې وجه د نافرمانه خلقو د ناستې پاستې نه ځان ساتل او صادقينو سره ناسته پاسته کول پکار دي، دلته قرآن حکيم د عالمانو، صالحانو په ځائې د [صادقينو] لفظ راوړلو سره د عالم او صالح پيژند ګلنه هم اوښودله چه صالح صرف هغه څوک کيدې شي چه ظاهر باطن ئې دواړه يو شان وی، د نيت او ارادې هم رښتينې وی، د قول هم رښتينې وی او د عمل هم.

Scanned with CamScanner

مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ

| نه دی مناسب | دپاره دخلقو دمدینې

| .... د مدینې خلقو دپاره

وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا

اودګیرچاپیره بانډیچیانو لره اودپاره دهغه چا |چې چاپیره دهغوئ نه دی |دبانډې دخلقو نه | داخبره چې روستوپاتې شوې دې

او د دوی نه ګیرچاپیره بانډیچانو دپاره مناسب نه دی اچې د الله ﷺ د رسول نه روستو پاتې شي

عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ

درسول دالله نه |اونه دا چې مینه اوکړې | دخانونو خپلو سره اوچې بې پروا شي دنفس دهغه نه

................اوخپل ځان ورته د پیغمبر نه خوږ ښکاره شي |دا ځکه چې دوئ ته

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ

دا | ځکه چې بیشکه دوئ چې دی | نه رسیږی دوئ ته | تنده اونه ستړې والې | اونه لوږه

د الله ﷺ په لار کښې تنده یا ستومانی یا لوږه نه ده رسیدلې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَطَئُوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا

په لار دالله کښې | اونه ږدی دوئ قدمونه | په داسې لار چې غصه کوی | کافران | اونه

.... | او په داسې لاره نه دی تلی چې کافر پرې غصه کیږی | او د دښمن نه

يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ

حاصلوی دوئ قابو | په دشمن باند | په قابو حاصلولو سره | مګر | لیکلې کیږی | دپاره ددوئ

ئې بدله نه ده اخستې |مګر په دې هر یو کار باندې د ددوئ دپاره

بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ۙ﴿۱۲۰﴾ وَلَا يُنْفِقُوْنَ

په هغې سره| عمل نیک | بیشکه | الله |نه ضائع کوی | بدله | دنیکانو خلقو | اونه لګوی

نیکی لیکلې شی | الله ﷺ دنیکانو اجر نه ضائع کوی | اوداسې نه کیږی

نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ

څه خرچه | لږه | اونه ډیره | اونه وهی لار | دیو میدان | مګر | لیکلې کیږی | دپاره ددوئ

چې دوئ دې خرڅ اوکړی لږ یا ډیر او یا دې دوی د یو میدان نه تیر شی | او هغه دې اونه لیکلې شی

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾

چې بدله ورکړې دوئ له | الله | د ډیروښو کارونو| هغوا چې وژدوئ| چې کول به ئې|

داځکه چې الله ﷺ دوئ ته دنیکو کارونو ډیره ښائسته بدله ورکړی |

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

د مدينې والو او ددې نه ګير چاپيره بانډو والا ته دا جائز نه دي چه هغوی د الله او د هغه د رسول ﴿ملګرتيا نه﴾ وروستو پاتې شي او نه دا جائز وو چه هغوی صرف خپلو ځانونوسره مينه وکړي د هغوی ﴿يعنې د نبي﴾ نه بې فکره شي. دا ځکه چه دې مجاهدينو ته کله د الله په لاره کښې تنده ولګي، يا سترې والې ورسي، يا لوږه ورسي. يا څه داسې قدم واخلي چه کافرانو ته غصه ورولي يا د دښمن په مقابله کښې ورته څه کاميابي ملاؤ شي نو د دوی په عمل نامه کښې ﴿د هر داسې کار په وخت کښې﴾ يو نيک عمل ضرور ليکلې کيږي. يقينًا الله د نيکانو خلقو يو عمل هم نه بيکاره کوي. او دوی چه څه ﴿د الله په لاره کښې خرچ کوي﴾ خواه که هغه خرچ ډير وي او که لږ، او يا يو ه وادي پار کوي. دا ټول ﴿د دوی په عمل نامه کښې د نيکۍ په طور﴾ ليکلې شي دې د پاره چه الله تعالی دوی ته ﴿په هر داسې عمل﴾ بانديې هغه بدله ورکړي چه کومه د دوی د بهترينو اعمالو دپاره مقرر ده.

خلاصه تفسير

[مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِّنَ الْأَعْرَابِ] د مدينې منورې والا او کوم کلي والا چې د دوئ چاپير چل کښې [اوسيږي] هغوئ دپاره مناسب نه وو [أَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ] [چې د رسول کريم ﷺ ملګرتيا ئې او نه کړه ، [وَلَا يَرْغَبُوْا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهِ ط] او نه دا [مناسب وو] چې خپل ځانونو نه دهغوئ د ځانونو نه عزيزاوګڼړي [چې نبي کريم ﷺ دې دا تکاليف برداش کوی او دوئ دې ښه په آرام سره ناست وی بلکه دوئ ﷺ سره تلل ضرورې وو او] [ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ] دا [دوئ ﷺ ضرور تلل] په دې وجه وو چې د نبي کريم ﷺ سره دمحبت نه سوا به دې مجاهدينو ته قدم په قدم ثواب ملاويږی که دوئ اخلاص سره تلې وې نو دوئ به هم دا ملاويدې نو] د الله تعالی په لار [يعنی جهاد] کښې دوئ چې کوم تږی شی او پريشانه شی او اوږی شی [وَلَا يَطَـُٔوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ] او دا تلل ددوئ چې د کفارو دپاره د غصې موجب شوی وی [وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ط] او دوئ ته چې د دښمن کوم خبر اوشو په هغه ټولو باندې ددوئ په نوم يوه يوه نيکی اوليکلې شوه [ددې باوجود دا کارونه ددوئ په اختيار کښې نشته دې ، خو د مقبوليت د تقاضا مطابق او د محبوبيت د تقاضا مطابق دی چې د پريشانئ امور هم د اختياريه عملونو په شان موجب د ثواب شو ، او په دې وعده کښې دتخلف احتمال نشته دې ځکه چې] [اِنَّ اللهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ] يقيني طور سره الله تعالی د مخلصينو اجر نه ضائع کوی] [وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً] او [داشان] څه چې دوئ واړه لوئې خرچ کړل [وَلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ] او څومره ميدانونو کښې چې دوئ مزلونه اوکړل دا ټول ددوئ [په نيکو کښې] اوليکلې شو [لِيَجْزِيَهُمُ اللهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ] ځکه چې الله ﷻ به دوئ ته ددوئ د ښه نه ښه بدله ورکوی [ځکه چې کله ثواب اوليکلې شونو بدله ورته ضرور ملاويږی].

معارف او مسائل

په دې دواړو آيتونو کښې روستو پاتې کيدونکو ته په روستو پاتې کيدو باندې ملامتيا،

Scanned with Ca

پوهول، په جهاد کښې د شریکیدونکو غوره والې او د جهاد په سلسله کښې قدم په قدم، په هرې خبرې او په هر کار، په هر محنت مشقت باندې د لوئې اجر ذکر دې، چه په کښې هغه هم داخل دی چه د جهاد په وخت کښې چه کوم تکلیف ئې دشمن ته رسولې دې، یا داسې چال او تگ ئې کړې دې چه په هغې سره دشمن قهریدلې وو، دغه ټول نیک کارونه دی چه ثواب به پرې ورته خامخا ملاویږی۔

وَمَا كَانَ
اونۀ وه ضرور |
اوداسې نه شي کیدي............
الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا
چې مؤمنان | وتلې وې ټول | خو ولې اونۀ وتل | دهرې ډلې | ددوئ نه | یوه ډله | چې پوهه ئې حاصله کړې دې
چې مومنان دې ټول په یوځل روان شي | خو داسې ولې نشي کیدلې چې دهرې ډلې نه دې یو ډله
فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ
په دین کښې | او چې خبردار کړې ئې وې | [خلق دقوم] خپل | کله چې | واپس تللې وې | هغوئ ته
[په سفر] اوځي | چې ددین مسئلې زده کړي | او چې واپس راشي | نو نور خلق خبر کړي
لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾
دپاره ددې چې هغوئ | ځان بچ کړې وې |
چې هغوئ ځان [دکفر او گناه نه بچ کړي] |

آسان ترجمه قرآن

او مسلمانانو لره دا هم مناسب نه دي چه دوی ﴿همیشه﴾ ټول په ټوله ﴿د جهاد د پاره﴾ اوځی نو داسې دې وې نه وی چه د یو لوئ ډلې نه یو ډله ﴿د جهاد د پاره﴾ اوځي، دې دپاره ﴿چه کوم خلق جهاد کښې نه وي تلي﴾ هغوی دین کښې د پوهې حاصلولو د پاره محنت وکړي او کله چه د هغوی د قوم خلق ﴿کوم چه جهاد کښې تلي وي﴾ دوی ته واپس راشي نو دوی هغوی لره خبر کړی چه هغوی ﴿د گناهونو نه﴾ بچ شي.

خلاصه تفسير

[وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ] او [همیشه دپاره] مسلمانانو ته دا [هم] نه دی پکار چې [د جهاد دپاره] ټول په ټوله اوځی [فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ] [چې په دې کښې نور اسلامی ضروریات معطل کیږی] بو یو جماعت دې] جهاد ته ځی [اوڅه دې خپل وطن کښې پریږدی] نو داسې ولې اونه شوه چې دهغوئ هر غټ جماعت نه چې باقی خلق د قرآن عظیم الشان په وخت کښې ستاسونه اوستاسونه پس د ښار علمانو نه] څه ددین پوهه حاصله کړی [لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ] او داخلق خپل قوم لره [چې جهاد ته تلی دی] او هغوئ بۀ دوئ ته واپس راشي [[وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ] [ددین خبرې ورته کوی او د الله تعالی د نافرمانئی نه بچ کوی] [إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾] او چې دا خلق ویروی چې دوئ [نه د دین خبرې واؤری او خرابو کارونه] ځان اوساتی

معارف او مسائل

په سورت توبه کښې په لوړ شان سره د تبوک د غزا بیان راروان دې، د کومې د پاره چه د رسول الله ﷺ د اړخه د عامو مسلمانانو د تللو اعلان شوې وو، بې د څه شرعي عذر نه دې نه پاتې کېدل جائز نه وو. بیا هم اکثر پاتې کیدونکي خلق په کښې منافقان وو چه بیان ئې په تیرو شوو ډیرو آیتونو کښې راغلې دې. څه مخلصان مؤمنان هم وو چه د سستۍ او د بې پروائۍ له کبله پاتې شوې وو الله تعالی د هغوی توبه قبوله کړه. د دغې واقعاتو نه په ظاهره خلقو دا ګڼړله چه هر یو جهاد او غزا د پاره د ټولو مسلمانانو تلل ضروري او فرض دی او نه تلل حرام دی، حالانکه شریعت دا حکم ورکوی چه جهاد کول په عامو حالاتو کښې فرض کفایه دې، مطلب دا دې چه دومره مسلمانان دې جهاد د پاره لاړ شي کوم چه د هغې د پاره کافي کیدې شي. د نورو پاتې مسلمانانو په دې سره غاړه خلاصه شي، البته که جهاد له تلی خلق نا کافي وی هغوی کمزوری شی او د کومک ضرورت لری نو خواوشا مسلمانانو لره د هغوی د مضبوطیا د پاره وتل او په جهاد کښې شریکیدل فرض کیږي، که دغه هم ناکافي وی نو ورسره نزدې مسلمانانو د پاره په جهاد کښې شاملیدل فرض عین ګرځي. په دې شان که ټول نزدې نزدې خلق درجه په درجه ناکافي کیدل نو د ټولې دنیا په مسلمانانو باندې جهاد د پاره تلل فرض عین ګرځي او د هغې نه پاتې کیدل حرام ګرځي. دغه شان د جهاد د فرض ګرځیدو یو صورت دا هم دې چه د مسلمانانو امیر دې د پاره عام اعلان اوکړي او ټول مسلمانان جهاد ته راوبلي، نو په دغه وخت کښې هم جهاد فرض عین ګرځي او وروستو پاتې کیدل ترې حرام ګرځي لکه څنګه چه د تبوک د غزا صورت وو، اوس په دې آیت کښې دا فرق ښودلې شوې دې چه د عام اعلان په وجه د تبوک په غزا کښې شاملیدل فرض عین وو لیکن په عامو حالاتو کښې فرض عین نه دی، وجه ئې داده چه د جهاد په شان د مسلمانانو نورې اجتماعي مسئلې او ضروري کارونه وی چه د جهاد په شان هغه هم فرض کفایه دی، دې د پاره چه د کار د ویش د اصولو مطابق هر کار په خپل خپل ځاې چلیږي او دا ټول اجتماعي فرائض ادا کیږي، نارینو مسلمانانو باندې د مسلمان د جنازې مونځ، د مسلمان د کفن دفن انتظام، د جوماتونو آبادول او انتظام ئې کول، اسلامي جهاد او د اسلامي سرحدونو حفاظت کول، ټول فرض کفایه دی، یعنی د دې ذمه داري خو د ټولې دنیا په مسلمانانو باندې ده خو دا ضرورت که څه مسلمانان پوره کړي نو د نورو ټولو مسلمانانو غاړه خلاصه شي، د فرض کفایه یو ډیر اوچت کار دیني تعلیم دې، په آیت کښې د دې بیان په خصوصیت سره ځکه راغلې چه د جهاد د راپیښ شوې فرض [کفایه] په دوران کښې هم د دیني تعلیم فرض [کفایه] پرینښودل نشته صورت ئې دا دې چه د هرې لوئې ډلې نه دې یو وړوکې ټولې د جهاد د پاره اوځي او نور مسلمانان دې علم دین حاصلوی، چه حاصل ئې کړي نو جهاد ته تلونکو او نورو مسلمانانو ته دې اوښائي.

د علم دین طلب کول فرض کېدل او د دې آداب او فرائض: امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه دا آیت د علم دین د طلب کولو ، اصل او بنیاد دې(۱) او که غور اوکړې شي نو هم په دې آیت کښې د علم دین اجمالي نصاب هم بیان کړې شوې دې او دعلم حاصلولو نه پس دیو عالم فرائض هم بیان

(۱) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۲۹۵، وجامع الترمذي، أبواب العلم، باب ما جاء في فضل الفقه على العبادة: ج ۲، ص ۹۷

Scanned with

کړې شوې دی په دې وجه دا مضمون په څه قدرې تفصيل سره بيانولې شی۔

د علم دین فضیلتونه: د علم دين په فضيلتونو او لوئې شان باندې او دا شان دې سره تړلې نورو څيزونو باندې علماؤ ﷺ مستقل کتابونه ليکلې دی. دلته څو مختصر روايتونه نقل کولې شی، ترمذی د حضرت ابودرداء ﷛ نه روايت کړې دې وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه د فرمان اوريدلې دې چه[څوک په يو لاره دې د پاره روان وی چه مقصد ئې علم دين حاصلول وی نو الله تعالى د دې تلو په ثواب کښې د هغه لاره جنت طرف ته کړی او دا چه د الله تعالى فرشتې د [دينی] طالب علم د پاره وزرونه غوړوی، او دا روايت هم راغلې دې چه د عالم د پاره د آسمانونو او زمکې ټول مخلوقات او د ابو کبان دعا کوی او بخښنه ورله غواړی، او دا چه ډير زيات نفلی عبادت کونکی باندې عالم دومره فضيلت لری څومره چه د څوارلسمې شپې سپوږمې په نورو ستورو باندې لری، او دا چه علماء د انبياء ﷺ وارثان دی او دا چه انبياء ﷺ د سرو او سپينو هيڅ ميراث نه پريږدی ليکن د علم ميراث پريږدی نو چا چه د علم دا ميراث حاصل کړو هغه لوې دولت حاصل کړو[قرطبی]۔(۱)

دارمی په خپل مسند کښې دا حديث روايت کړې دې چه رسول الله ﷺ نه يو سړی تپوس اوکړو چه په بنی اسرائيلو کښې دوه کسان وو يو عالم وو چه صرف مونځ به ئې کولو نور وخت به ئې خلقو ته دينی تعليم ورکولو، بل به ټوله ورځ روژه نيوله او د شپې به عبادت ته ولاړ وو په دې دواړو کښې څوک غوره دی؟

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د دغه عالم فضيلت په عبادت کونکی باندې داسې دې څنګه چه زما فضيلت په تاسو کښې په يو ادنی سړی باندې دې،(۲)[دا روايت امام عبد البر په کتاب جامع بيان العلم(۳) کښې سند سره د حضرت ابو سعيد خدری ﷛ نه نقل کړې دې[قرطبی]۔(۴)

رسول الله ﷺ فرمائيلې دی چه يو فقيه، د شيطان په مقابله کښې د يو زر عبادت کونکو نه زيات مضبوط او وزنی دې، [دا روايت د ترمذی دې د ابن عباس ﷛ نه، از مظهری](۵)

او رسول الله ﷺ فرمائيلې دی چه انسان مړ شی نو عمل ئې منقطع شی خو درې عملونه داسې دی چه ثواب ئې انسان ته د هغه د مرګ نه پس هم په مخه رسيږی، يو صدقهٔ جاريه لکه جومات د دينی تعليم د پاره عمارت يا د عامې فائدې ادارې جوړول شو، دويم هغه علم چه د هغه نه پس هم ترې خلق فائدې پورته کوی مثلاً شاګردان ئې عالمان شو دا شان د هغوی شاګردان عالمان شو او د دين د ښودلو سلسله ئې جاری وه، يا ئې څه کتاب جوړ کړو چه خلق ترې د هغه د مرګ نه پس هم فائده پورته کوی، دريم نيک اولاد شو چه ورله دعا کوی او د ثواب وررسولو عمل کوی[قرطبی]۔(۶)

---

۱) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۲۴۳

۲) مسند دارمی رقم الحديث: ۳۳۹

۳) جامع بيان العلم وفضله، باب فضل العالم على العابد كفضلي على أدنى رقم الحديث: ۷۳ (بالاختصار)

۴) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۲۹۱

۵) جامع الترمذی، أبواب العلم، باب ما جاء في فضل الفقه على العبادة: ج ۲، ص ۹۷، والتفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۳۳۲

۶) تفسير القرطبي في آخر تفسير سورة آل عمران: ج ۲، ص ۳۲۵، وصحيح مسلم، كتاب الوصية، باب ما يلحق الانسان من الثواب بعد وفاته: ج ۲، ص ۴۱

د فرض عين او فرض كفايه علم دين تفصيل: ابن عدي رحمه الله او بيهقي رحمه الله په صحيح سند سره د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت كړې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل [طلب العلم فريضة على كل مسلم، مظهري] (¹) [علم حاصلول په هر مسلمان باندې فرض دې] ښكاره خبره ده چه په دې حديث او په نورو تيرو شوو احاديثو كښې د علم نه مراد علم دين دې، بيا علم دين يو قسم علم نه دې بلكه په ډيرو قسمو علمونو باندې مشتمل يو جامع نظام دې او دا هم ښكاره خبره ده چه هر مسلمان د دغه ټولو علمونو د حاصلولو وس نه لرى لهذا په مسلمان باندې د فرض شوې علم نه مراد به هغه علم دين وى چه د هغې نه بغير هغه فرض نه شى ادا كولې او نه د حرامو څيزونو نه ځان ساتلې شى او دا د ايمان او اسلام د پاره ضرورى دې. باقى د علمونو تفصيلات د قرآن كريم ټول علمونه او مسئلې بيا د دې نه راوښكلى شوى حكمونه او قانونونه او د دې پوره تفصيل خو نه د هر مسلمان په وس كښې شته او نه په هر يو فرض عين دې البته د ټولو مسلمانانو په ذمه فرض كفايه دې په هر ښار كښې چه د دې ټولو علمونو، شريعتونو او قوانينو څوك ماهر عالم موجود وى نو د نورو مسلمانانو هم دا فرض پوره كيږى، او په كوم يو ښار يا لوئي كلى كښې چه يو عالم هم دغسې نه وى نو په ښار والو فرض دى چه څوك عالم په خپلو كښې دغسې جوړ كړى يا د بهر نه دغسې عالم راولى او ځان سره ئې اوساتى د پاره د دې چه د ضرورت په راپيښيدو په باريكو مسئلو باندې د دغې نه په تپوس كولو سره ځان پوه كړى اوعمل پرې اوكړى، په دې بيان د فرض عين او فرض كفايه تفصيل دا دې چه؛

فرض عين: په هر مسلمان نارينه او زنانه باندې د اسلام د صحيح عقيدو علم حاصلول فرض دى، دا هم پرې فرض دى چه د پاكې پليتې حكمونه زده كړى، د مونځ، روژې او د هغې ټولو عبادتونه چه شريعت فرض كړې يا واجب كړې دى د هغې علم حاصل كړى د حرام شوې او مكروه شوې څيزونو د شريعت علم حاصل كړى، د نصاب خاوند باندې فرض عين دى چه د زكوة مسئلې او حكمونه معلوم كړى، په چا چه حج فرض شوې دې په هغه د حج حكمونه او مسئلې زده كول فرض عين دى، اخستل خرڅول چه څوك كوى، تجارت، كاريگرى يا مزدورى چه څوك كوى هغه لره د دې ټولو مسئلې او حكمونه زده كول فرض عين دى، غرض دا چه كوم كارونه د شريعت له مخه په مسلمانانو باندې فرض او واجب شوې دى د هغې د حكمونو او مسئلو علم حاصلول هم په هغه مسلمان نارينه او زنانه باندې فرض عين دى.

د تصوف علم هم په فرض عين كښې داخل دې: هر څوك پيژنى چه ظاهرى حكمونه مثلا مونځ، روژه وغيره كوم چه فرض عين دى د هغې علم حاصلول هم فرض عين دى. حضرت قاضى ثناءالله پانى پتى رحمه الله په تفسير مظهرى (²) كښې د دې آيت لاندې ليكلې دى چه د باطنى علمونو او د باطنى حرام شوى څيزونو علم حاصلول [چه په عرف كښې ورته علم تصوف وئيلې شى] فرض عين څكه دى چه باطنى عملونه كول هم په هر مسلمان باندې فرض عين دى. نن صبا علم تصوف هم ډيرو علمونو، معرفتونو، كشفونو او وارداتو وغيره مجموعه جوړه شوې ده، دلته د

---

¹) سنن ابن ماجة المقدمة، باب فضل العلماء والحث على طلب العلم: ج ۱، ص ۲۰، وشعب الإيمان للبيهقي رقم الحديث: ۲۱۳، والتفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۳۲۳

²) التفسير المظهري: ج ۴، ص ۳۲۴

Scanned with Ca

فرض عین نه مراد د دې یو اخیني هغه برخه ده چه په کښې د باطني فرضو، واجبو عملونو تفصیل دې مثلا صحیح عقیدې چه د کومې تعلق د باطن سره دې یا صبر، شکر، توکل، قناعت وغیره په یو خاص درجه کښې فرض دی، یا غرور، تکبر، حسد، بغض، بخل او دنیاوی لالچ وغیره چه قرآن او سنت حرام ګرځولې دی، د دې د حقیقت او د دې د حاصلولو یا د حرام څیزونو نه د ځان ساتلو طریقې معلومول هم په هر مسلمان نارینه او زنانه باندې فرض دی، د علم تصوف اصلی بنیاد هم دومره دې کوم چه فرض عین دې.

فرض کفایه: د ټول قرآن مجید په مسئلو باندې ځان پوهول، په ټولو احادیثو باندې ځان پوهول، او په دې کښې د معتبر او غیر معتبر پیژندل، د قرآن او سنت نه چه کوم احکام او مسئلې راوځی د هغې ټولو علم حاصلول، په دې کښې د صحابهٔ کرام وټولو د تابعینو ﷺ او د مجتهدینو امامانو ﷺ او آثارو نه ځان خبرول دومره لوئې کار دې چه ټول عمر او ټول وخت هم که په دې کښې اولګولې شی نو پوره حاصلول ئې اسان نه دی، په دې وجه دې علم لره شریعت فرض کفایه ګرځولې دې چه د ضرورت په اندازه څه خلق دا ټول علمونه حاصل کړی نو د نورو مسلمانانو غاړه خلاصه شی.

د علم دین نصاب: قرآن کریم دلته د علم دین حقیقت او نصاب دواړه هم په یو لفظ سره اوښودل فرمائی ﴿لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾ دلته په ظاهره د داسې فرمائیلو موقع وه چه ﴿يَتَعَلَّمُونَ الدِّينَ﴾ [علم دین حاصل کړي] اخو قرآن کریم دلته د تعلم په ځاې د تفقه لفظ اختیار کړو، دې سره ئې اشاره دې ته اوکړه چه د علم دین صرف لوستل کافی نه دی، هسې خو ئې ډیر کافران، یهودیان او عیسایان هم لولی او شیطانان خو بیا په دې کښې د ټولو نه زیات دی، بلکه په علم دین باندې ځان پوهول ترې مراد دی کوم چه د تفقه ترجمه ده. چنانچه دا د فقه نه مشتق دې چه معنی ئې ځان پوهول دی، دلته په دې هم ځان پوهول پکار دی چه قرآن کریم د مجرد صیغې ﴿لِيَفْقَهُوا فِي الدِّينِ﴾ یعنی چه هغوې دین باندې پوه شی] په ځاې د مزیدو صیغه د باب تفعل ﴿لِيَتَفَقَّهُوا﴾ استعمال کړه چه په معنی کښې ئې د محنت او مشقت مفهوم شامل دې، مطلب ئې دا شو چه د دین د پوهې په حاصلولو کښې د پوره خوارۍ او مشقت نه کار واخلې، او ځانونه په کښې ماهر کړې، دا هم ښکاره خبره ده چه د پاکې، پلیتې، د مونځ، روژې، زکوة او حج مسئلې معلومول او په دې حساب ځان پوهول دا مطلب لری چه په دې ځان پوهه کړی چه د هر قول، فعل، حرکت او سکون حساب به په قیامت اخستې شی، او په دې باندې هم ځان پوهول پکار دی چه په دې دنیا کښې څنګه اوسیدل پکار دی، په اصل کښې د دې فکر نوم په دهن باندې ځان پوهول دی، چنانچه امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله د فقه تعریف داسې کړې دې چه انسان په هغې ټولو کارونو باندې ځان پوه کړی چه کول ئې ده لره ضروری دی او په هغه ټولو کارونو باندې هم ځان پوه کړی چه ځان ساتل ترې ضروری دی، (۱) نن صبا علم فقه چه د جزئی مسئلو علم ته وئیلې شی دا روستونې اصطلاح ده، په قرآن او سنت کښې د فقهې حقیقت هغه دې چه امام اعظم رحمه الله بیان کړې دې، چه چا د دهن کتابونه ټول اولوستل او ځان ئې پرې پوه نه کړو د قرآن او سنت په اصطلاح کښې هغه عالم نه دې ـــــــ د دې تحقیق نه معلومه شوه چه د علم دین حاصلولو

---

(۱) البحر الرائق، مقدمة الكتاب: ج ۱، ص ۹، والشامی، مقدمة: ج ۱، ۳۳

مطلب د قرآن کریم په اصطلاح کښې د دین پوهه پیدا کول دی، دا چه په کومو ذریعو پیدا کیږی که دغه ذریعه کتابونه وی یا د استاذانو سره صحبت لرل دی، دا ټول د دې د نصاب برخې دی.

د علم دین حاصلولو نه پس د عالم فرائض څه دی: دا فرض ادا کول قرآن کریم په یو جمله کښې بیان کړې دې فرمائی [لینذروا قومهم] [چه خپل قوم د الله تعالی د نافرمانې نه اویروی] دلته هم په دې خبره باندې نظر اچول پکار دی چه دې جمله کښې د فرض د قوم انذار ښودلې شوې دې. د [انذار] لفظی معنی د قوم یرول دی خو دا د دې پوره ترجمه څکه نه ده چه یرول په څو څو شانه کولې شی، دشمن، غل، ډاکو، یو درنده، زهریله څناور وغیره نه هم یرول کولې شی، اوبل یرول داسې وی لکه چه پلار د شفقت له کبلې خپل اولاد د مضر څیزونو نه یروی لکه د اور، زهریله څناور، درنده، ضرری غذا نه ئې یروی او منشاء ئې شفقت او محبت وی، د دې لب و لهجه هم څه بل قسم وی، دلته انذار د داسې یرولو نوم دې او هم په دې لحاظ پیغمبرانو او رسولانو ﷺ ته د نذیر لقب ورکړې شوې دې او د عالم دا فریضه [انذار] په حقیقت کښې د پیغمبری میراث یوه برخه ده چه د حدیث په نص سره عالم ته حاصلیږی.

دلته په دې خبره هم غور کول پکار دی چه د پیغمبرانو ﷺ دوه لقبونه بشیر او نذیر دی، د نذیر معنی خو داده چه اوس درته اوښودلې شوه، او د بشیر معنی [زیرې ورکونکې] ده، چنانچه د انبیاء ﷺ یو کار دا هم دې چه نیک عمل کونکو ته زیرې اوروی، دلته اګرچه په ښکاره د انذار ذکر شوې دې مګر د نورو نصونو نه معلومیږی چه د عالم فرض دا هم دې چه نیکو کارو خلقو ته زیرې اوروی خو دلته یواځې د انذار ذکر کول دې ته اشاره ده چه انذار د زیری ورکولو نه ډیر زیات وړاندې او ډیر ضرری دې. څکه چه د انسان په ذمه دوه کارونه دی یو دا چه کوم عمل ورله په دنیا او اخرت کښې مفید دې هغې لره اختیار کړی او بل هغې کار نه ورله ځان ساتل دی کوم چه ورله ضروری دی، چنانچه په اتفاق د عالمانو او د عقلمندو خلقو سره په دې دواړو کارونو کښې دویم کار د ټولو نه وړاندې او ډیر زیات ضروری دې چه د فقهاؤ ﷫ په اصطلاح کښې ورته جلب منفعت او دفع د مضرت وئیلې شی او دفع د مضرت د جلب منفعت نه وړاندې ګرځولې شوې دې، دې نه علاوه دفع مضرت کښې په یو حیثیت سره د جلب منفعت مقصد هم پوره کیږی، څکه چه کوم یو کار انسان د پاره مفید اوضروری دې نو د هغې پریښودلو کښې سخت نقصان دې نو څوک چه د عملونو د ضرر نه د ځان ساتلو بندوبست کوی نو هغه به د ضرری اعمالو د پریښودلو نه هم د ځان ساتلو انتظام کوی.

دلته نه دا هم معلومه شوه چه نن صبا عموما وعظ او تبلیغ ډیر کم اثر کوی د هغې لویه وجه داده چه په کښې د انذار [یرولو] آداب نه وی، د چا طرز بیان او لب او لهجې نه چه شفقت، رحمت او خیر خواهی داسې محسوسیږی چه مخاطب ته دا یقین وی چه د دې کلام مقصد نه خو زما شرمول دی او نه د خپل زړه تاؤ اوښکل دی، بلکه دې زما د پاره فائده من او ضروری څیز ما ته د محبت او مینې د وجهې نه ښائی، که نن زمونږ د تبلیغ او شریعت نه خلاف کار کونکو د اصلاح د پاره د دعوت د دې طرز نه کار واخستې شی نو د دې یوه لازمی نتیجه خو به دا خامخا وی چه مخاطب به زمونږ په وینا سره په ضد کښې نه راځی، هغه به د جواب ورکولو په فکر کښې د پریوتو په ځای د خپلو عملونو جائزه اخستو او په انجام باندې سوچ کولو ته مخه کړی، او که دا سلسله جاری پاتې شوه نو چرته خو به ئې قبول هم کړی او بله لازمی نتیجه به ئې

دا وی چه کم نه کم د دې نه به جګړه نه پیدا کیږی او نه به ورسره کرکه او نفرت پیدا کیږی په کومه کښې چه زمونږ ټول قوم اخته دې.

په آخر کښې ﴿لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ﴾ فرمائیلو سره ئې دې اړخ ته هم اشاره اوکړه چه د عالم کار یوائې د عذاب نه په یرولو سره نه پوره کیږی بلکه په دې هم نظر لرل دی چه د تبلیغ او بلنې اثر څومره او څه اوشو؟ که په یو خل کار او نه شی نو بیا بیا دې ئې کوی د پاره د دې چه نتیجه ئې [يحذرون] را اوخیژی، یعنی قوم ن ګناه نه ځان اوساتی. والله سبحانه وتعالى اعلم

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ — اٰمَنُوْا — قَاتِلُوا

| اے هغه کسانو | چې ایمان مو راوړې دې | جنګ کوئ

| ائې مومنانو ، کوم کافران چې ستاسو نه ګیرچاپیره دی

الَّذِيْنَ — يَلُوْنَكُمْ — مِّنَ الْكُفَّارِ — وَلْيَجِدُوْا — فِيْكُمْ

دهغه کسانو سره | چې نزدې دی تاسو ته | دکافرانو نه | اوپکاردی چې بیامومی هغوئ | په تاسو کښی

هغوئ سره جنګونه کوئی | او پکار دی چې هغوئ په تاسو کښې سختې بیامومی | او پوهه شی

غِلْظَةً ؕ وَاعْلَمُوْٓا — اَنَّ اللّٰهَ — مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ — وَاِذَا — مَآ اُنْزِلَتْ — سُوْرَةٌ

سختی | اوپوهه شئ | چې بیشکه الله | دمتقیانو سره دې | اوکله چې | نازل کړې شی | یو نوې سورت

چې الله ﷻ د پرهیزګارانو ملګرې دې | او هرکله چې یو نوې سورة نازل شی

فَمِنْهُمْ — مَّنْ — يَّقُوْلُ — اَيُّكُمْ — زَادَتْهُ

نو ځینی دهغوئ نه | هغه څوک دی | چې وائی | کوم یو دې په تاسو کښی | چې زیات کړو هغه لره

نوبعضې په هغه خلقو کښې [دخندا په طور] دا وائی چې [اوښائی کنه] دې سورة د چا په ایمان کښې

هٰذِهٖٓ — اِيْمَانًا ۚ — فَاَمَّا الَّذِيْنَ — اٰمَنُوْا — فَزَادَتْهُمْ

دې سورت | په لحاظ دایمان سره | نوهرچې دی هغه کسان | چې ایمان ئې راوړې دې | نو زیات کړی دی هغوئ لره

زیاتې راوستو | نو چا چې ایمان راوړې دې | دهغوئ پرې یقینی طور ایمان زیاتیږی

اِيْمَانًا — وَّهُمْ — يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝ — وَاَمَّا الَّذِيْنَ — فِيْ قُلُوْبِهِمْ

په لحاظ دایمان سره | اوهغوئ | خوشحالیږی | اوهر چې دی هغه کسان | چې په زړونو دهغوئ کښی

او هغوئ [په هرنوی سورة] خوشحالیږی | اود چا په زړونو کښې چې دنفاق [مرض] پروت وو

مَّرَضٌ — فَزَادَتْهُمْ — رِجْسًا — اِلٰى رِجْسِهِمْ — وَمَاتُوْا

مرض دې | نوزیات کړل هغوئ لره | په لحاظ دپلیتئ سره | دپلیتئ دهغوئ سره | اومړه کیږی هغوئ

نو دهغوئ په پلیتئ باندې [دې نوی سورة] یوه بله پلیتی سوا کړه | او تر مرګه پورې

Scanned with Ca

وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ

اوحال داچي هغوئ | كافران وي | آيا داخلق گوري نه | چي بيشكه دوئ | آزمائيلي كيږي | په هر

په كفر كښي اخته پاتي شو | آيا دي ته نه گوري چي دوئ هركال يو خل يا دوه خله

عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ۝

كال كښي | يو خل | يا دوه خله | خو بيا هم | نه اوباسي توبه دوئ | اونه دوئ | نصيحت قبلوي

په يو آفت كښي غورزولي شي | خو بيا هم توبه نه اوباسي | او نه تري عبرت اخلي

وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ ؕ هَلْ يَرٰىكُمْ

او هر كله | چي نازل كړي شي | يو سورت | نو او گوري | خيني ددوئ | خينو نورو ته | او وائي چي آيا ويني تاسو

او هر كله چي يو نوې سورة نازل شي | نو دوئ په سترگو سترگو كښي يو بل سره خبري اوكړي

مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ۝

يو كس | بيا واپس لاړ شي | اړولي دي الله | زړونه ددوئ | خكه چي دوئ | هغه قوم دي | چي نه پوهيږي

چي څوك درته گوري خو نه | بيا غلي شان اوځي | الله ﷻ ددوئ زړونه گرزولي دي | خكه چي دوئ ناپوه خلق دي

آسان ترجمه قرآن

اې د ايمان خاوندانو! د هغه كافرانو سره جنگ وكړئ چه كوم تاسو سره نژدې دي او پكار ده چه هغوی تاسو كښې سختي محسوس كړي او يقين وكړئ چه الله د متقيانو سره دې. او كله چه يو سورت نازليږي نو هم دې ﴿منافقانو﴾ كښې هغه خلق دی چه وائي: دې ﴿سورت﴾ تاسو كښې د چا ايمان كښې زياتوالې وكړو؟ اوس هغه خلق چه هغوی ﴿واقعي﴾ مؤمنان دې د هغوی په ايمان كښې خو دې سورت واقعي زياتوالې كړې دې، او هغوی ﴿په دې باندې﴾ خوشحاليږی. پاتې هغه خلق چه د هغوی په زړونو كښې مرض دې، نو دې سورت د هغوی په گندگۍ كښې د نورې گندگۍ زياتوالې كړې دې او هغوی تر مرگ هم د كفر په حالت كښې راځی. آيا دا خلق نه وينې چه دوی په كال كښې يو يا دوه ځله په امتحان كښې مبتلا كيږي بيا هم دوی توبه نه اوباسي او نه څه سبق اخلي؟ او كله چه يو سورت نازليږی نو دوی يو بل ته گوري ﴿او په اشارو كښې يو بل ته وائي﴾ چه تاسو ته خو څوك گوري خو نه؟ بيا دوی د هغه ځائ نه پاځی روان شی الله تعالى د دوی زړونه اړولی دی، ځكه چه دوی د پوهې نه كار نه اخلی.

خلاصه تفسير

[يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ] اې ايماندارو ! دې كافرانو سره جنگ كوئ كوم چې تاسو سره چاپير كښې [اوسيږي] [وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ؕ] او ددوئ خلاف تاسو كښې سختي پكار ده [يعني د جهاد په وخت كښې هم مضبوط اوسيدل پكار دی او هسې هم د امن په زمانه كښې دوئ ته خان كمزورئ كول نه دی پكار] [وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۝] او دا يقين ساتئ چې د الله تعالى [مدد] متقيانو خلقو سره دی [نو تاسو دوئ نه ويريږئ مه] [وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ] او كله چې سورت [نوې] نازليږی [فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ] نو خينې منافقان [غريبانان مسلمانانو ته د خندا په طور] وائی چې [اووائی] ددې سورت په وجه ستاسو په ايمان كښې څه

Scanned with

ترقي اوشوه [الله تعالى ارشاد فرمائى چې تاسو څه جواب غواړئ] نو [واورئ] [فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا] کوم خلق چې ايماندار دی دې سورت هغوئ ته [خو] په ايمان کښې ترقی ورکړه [وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ] او هغوئ [ددې ترقئ په وجه] خوشحاليږی [خو چونکه هغه قلبی امر دې او هغه تاسو ته نصيب نه دې نو په دې تاسو ددې په ادراك باندې هم نه پوهيږئ او خندا ګانې کوئ] [وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ] او د کومو خلقو په زړونو کښې چې [دنفاق] مرض دې [فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا وَهُمْ كَافِرُونَ] دې سورت هغوئ کښې دهغوئ [اولنی] ګندګئ سره نوره [نوې] ګندګی زياته کړه [څکه چې اول د قرآن د يوې حصې نه انکار وو او اوس ددې نوې حصې انکار نور هم زيات شو] او هغوئ د کفر په حالت کښې مړهٔ شو [يعنی دوئ کښې چې کوم مړهٔ شوی دی هغوئ کافران مړهٔ شو او څوك چې په دې اصرار باندې اوسيږی نو هغوئ بهٔ کافران وی، د جواب حاصل دادې چې بيشکه قرآن پاك کښې د ايمان دترقئ خاصيت موجود دې خو که محل کښې قابليت هم وی اوکه د اول نه خباثت مستحکم وی نو نور به هم دې ته استحکام اوشی ، درباغ لاله رويدو درشوره بوم خس] ([1]) [أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ] او آيا دوئ ته نه ښکاری چې دا خلق هر کال يو يو ځل يا دوه ځل په څه نه څه مصيبت کښې اخته کيږی [خو] [ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ] بيا هم [د خپلو خرابو کارونو نه] نه منع کيږی او نه هغوئ ذا ګنړی [او ددې نه د منع کيدو بيا دپاره اميد وی يعنی دوئ ته پکار دی چې د حوادثو نه عبرت زده کړی او عبرت زده کولو نه پس اصلاح کول پکار دی ، دا خو ددوئ د خندا بيان شو چې دوئ به خپلو مجلسونو کښې کول . وړاندې د نفرت بيان دې چې دنبی کريم ﷺ په مجلس کښې دوئ نه صادره کيدو ، نو ارشاد اوشو چې] [وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ نَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ] او کله چې يو سورت [نوې] نازل شی نو يو بل ته ګوری [او اشارو سره خبرې کوی] [هَلْ يَرَاكُمْ مِنْ أَحَدٍ] چې تاسو ته يو [مسلمان] خو نه ګوری [چې په پورته کيدو ئې اوګوری او بيا د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شی] [ثُمَّ انْصَرَفُوا صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ] بيا [اشارو اشارو کښې خبرې کوی او هغه ځائې نه پورته شی] او ځی [دا خلق مسجد نبوی ﷺ نه واپس شو] الله تعالى ددوئ زړه [د ايمان نه واړولو په دې وجه چې هغه صرف ناپوهه خلق دی [چې د خپلې فائدې نه منديږ وهی]

معارف او مسائل

په تيرو شوو آيتونو کښې د جهاد شوق پيدا کول وو او اوس په دې آيت [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا] کښې دا تفصيل ښودلې شوې دې چه کفار خو په ټوله دنيا کښې خوار دی،دوی سره په جهاد او جنګ کښې ترتيب څه پکار دې؟په دې آيت کښې ارشاد دا دې چه په کفارو کښې کوم خلق چه تاسو سره نزدې دی،ړومبې دې هغوی سره جهاد اوکړې شی،دلته د نزدې والی مطلب دا هم کيدې شی چه په خپلولې تعلقاتو او نسب کښې ورسره څوک نزدې وی،هغوی سره دې اول جهاد اوکړې شی،هر کله چه اسلامی جهاد کول په حقيقت کښې هم د هغوی خير خواهی

[1]) ترجمه: باغ کښې ګلونه رنګارنګ زرغونيږی او هوخه زمکه باندې ازغی.

Scanned with Ca

کول دی او په خیر خواهۍ او همدردۍ کښې د ټولو نه وړاندې هم خپلوان او تعلقداران دی ځکه رسول الله ﷺ ته هم حکم ورکړې شو ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ [اخپل نزدې عزیزان د الله تعالی د عذاب نه اویروه]

چنانچه رسول الله ﷺ په دې باندې پوره عمل داسې اوکړو چه د ټولو نه اول ئې د خپل خاندان خلق راغونډ کړل او کلمه د حق ئې ورته اورسوله، په مقامی نزدې والی ئې داسې عمل اوکړو چه دمدینې منورې د خواوشا کفار، بنی قریظه، بنی نضیر، او د خیبر یهودیان ئې په نورو باندې وړاندې کړل، وروسته ئې نورو عربو [کفارو] سره جهاد اوکړو او د ټولو نه په آخر کښې ورته د روم کفارو سره د جنګ کولو حکم ملاو شو چه په نتیجه کښې ئې د تبوک غزا راپیښه شوه.

﴿وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً﴾ د [غلظة] معنی سختوالې او مضبوطوالې دې مراد دا دې چه کفارو سره دې ستاسو رویه او سلوک په دې شان وی چه د یو مخ نه هم ستاسو کمزوری محسوسه نه کړی ﴿فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا﴾ د دې آیت نه معلومه شوه چه د قرآنی آیتونو تلاوت، په دې کښې غور او فکر کول او د دې په مقتضی باندې عمل کول په ایمان کښې وده او زیاتوالې داسې راولی چه د ایمان نور او خوږوالې ورسره زیاتیږی، د دې اثر او نتیجه دا شی چه انسان ته د الله تعالی او د رسول الله ﷺ په تابعدارۍ کولو کښې اسانی ښکاری، عبادت ورته خوند ورکوی، د ګناهونو نه ئې طبعی کرکه پیدا شی او د دې په کولو کښې تکلیف محسوسوی، چنانچه حضرت علی رضی الله عنه فرمائیلې دی چه کله په زړه کښې ایمان راشی نو شکل ئې د یو نورانی روښانه سپین داغ په شان وی په ایمان کښې چه څومره وده کیږی دومره دغه ټکې هم وده کوی تر دې پورې چه ټول زړه نورانی شی، هم دغه مثال د کفر او منافقت هم دې چه په اول کښې ئې په زړه باندې د تور داغ شکل وی، بیا چه هر څومره ګناه کوی او کفر ئې زیاتیږی نو دغه تور داغ هم ورسره په مخه زیاتیږی تر دې چه ټول زړه تور شی [مظهری] [1]

هم دغه وجه ده چه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به خپل مینځ کښې یو بل ته وئیل چه راځې څه وخت د پاره یو ځاې کښېنو د دین او د آخرت د خبرو یادګیرنه کوؤ چه زمونږ ایمان زیات شی [2]

﴿يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ﴾ په دې سره منافقانو ته خبرداري ورکړې شوې دې چه دوی د خپل منافقت او لوظ ماتولو غونډې ګناهونو په وجه هر کال په مختلف قسم مصیبتونو کښې کله یو ځل او کله دوه ځل اخته کیږی، کله د دوی دوستان د [مکې مکرمې کفار] مغلوب شی، کله د دوی د منافقت خبرې ښکارندې شی او د هغې په وجه په پریشانۍ کښې پراته وی ـــــ دلته د یو یا دوو ځلو خاص شمیر مراد نه دې بلکه دا ښودل دی چه داسې په مخه باندې لګیا دې کیږی، ایا د دې ځیزونو په لیدلو سره هم دوی ته عبرت نه حاصلیږی.

[1] التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۳۳٦
[2] شعب الإيمان للبيهقي رقم الحديث: ۳٦، ومصنف ابن ابي شيبة: ج ۷، ص ۲۲۷ ورقم الحديث: ۵۵

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا
په تحقيق سره | راغلي دي تاسو ته | يو رسول | دجنسه ستاسو نه | گران دي | په هغه باندي | هغه كار
تاسوته يوداسي رسول ﷺ راغلي دي چي ستاسو دخپل جنس نه دي | ستاسو نقصان په هغه بد ليكى
عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ
چي په تكليف كښى اچوى تاسو | ستاسو د ښيگړي ډيرخواهش مند دي | د مومنانو دپاره ډير رحم دل
چي په تكليف كښى اچوى تاسو | حرصناك دي | په تاسو باندي | په مؤمنانو باندي | مهربان دي
رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ لَآ اِلٰهَ
رحم كونكي دي | نوكه مخ واړوى ستانه داخلق | نواووايه | كافى دي مالره الله | نشته دي لائق دعبادت
او مهربان دي | نو كه اوس هم دوئ مخ اوگرزولو | نو ورته اووايه | چي زما دپاره يوازې الله ﷻ بس دي
اِلَّا هُوَ ۭ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾
مگر هغه دي | په هغه باندي | بروسه اوكړه ما | اوهغه | مالك دي | دعرش | لوئ |
بې دهغه نه معبود نشته | په هغه مې توكل دي | اوهغه دلوئي عرش خاند دي

﴿خلقو﴾ تاسو ته يو داسې رسول راغلي دي چه ستاسو نه دې ، چه هغه باندې ستاسو هر يو تكليف بوج وي هغه ستاسو په فائدو باندې ډير حِرص ناك دې ، مؤمنانو دپاره انتهائي نرم او ډير مهربان دې ! بيا هم كه دا خلق مخ واړوي نو﴿اې رسوله ! دوى ته﴾ اوايه چه : ما دپاره الله كافي دې ، دهغه نه سوا بل معبود نشته په هغه باندې ما اعتماد كړې دې ، او هغه دلوئ عرش مالك دې.

خلاصه تفسير

[ائي خلقو] [لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ] تاسو ته يو رسول تشريف راوړې دي چې هم ستاسو د جنس[بشر] نه دې [چې تاسو ته تري نفع اخستل آسان شي] [عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ] او په ده ستاسو د نقصان خبره ډيره خرابه لگى [غواړى چې تاسو ته دې هيڅ ضرر اونه رسى] [حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ] اوستاسو دفائدې ډير زيات خواهش مند دې [دا حالت خو د ټولو دې بيا خاص كر] [بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴿۱۲۸﴾] ايمان والو سره [خو] ډير زيات شفيق [او] مهربان دي [داسې رسول نه مستفيد نه كيدل ډيره لويه محرومى ده] [فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ] بيا كه [په دې باندې دوئ تاسو رسول نه منى او ستاسو د اتباع كولونه] مخ واړوى نو تاسو اووايئ [خما په دې كښې څه نقصان دې] ما لره [خو] الله تعالى [حافظ او ناصر] كافى دې ، [لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ] د هغه نه سوا بل څوك د معبود كيدو لائق نشته [نو معبوديت هغه سره خاص دې نو لامحاله د علم او قدرت ټول كمالات په دې كښې بې مثله شو بيا ماته د چا د مخالفت څه ويره ده] [عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ] ما هم په هغه باندې بهروسه اوكړه [وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾] او هغه د ډير لوئي عرش مالك دي [نو نور څيزونه به خامخا دده ملكيت كښې وى ، نو په دهٔ باندې د بهروسې كولو نه پس ماته هيڅ انديښنه نشته ، البته تاسوخپل فكر اوكړئى چې د حق نه د انكار كولو نه پس به تاسو چرته ځئ].

Scanned with Ca

معارف او مسائل

دا د سورت توبه آخرې آيتونه دي په كښې دا بيان راغلې دې چه رسول الله ﷺ په ټولو باندې عموما او په مسلمانانو باندې خصوصا بې حده مهربان، زړه سواندې او همدرد دې په آخرى آيت كښې ئې بيا رسول الله ﷺ ته دا هدايت كړې دې چه ستاسو د ټولو كوششونو باوجود كه بيا هم څه خلق ايمان نه راوړى نو تاسو ﷺ صبر كوې او په الله تعالى باندې تكيه لرې.

د سورت توبه په آخر كښې د دې مضمون راوړل ځكه مناسب وو چه په ټول سورت كښې د كفارو نه د ويزاره كيدو، ورسره د مقاطعې كولو، ورسره د جنګ او جهاد كولو بيان وو كوم چه د الله تعالى اړخ نه د بلنې وركولو آخرى صورت دې كله چه په زبانى بلنې او تبلغ سره كار نه كيږى، خو د پيغمبرانو ﷺ اصل كار هم دا دې چه په زړه سواندئې، رحمت، همدردې او خيرخواهې سره خلق د الله تعالى اړخ ته بلى او كه دخلقو د اړخه مخ اړول يا څه تكليف راپيښ شى نو الله تعالى ته ئې سپارل پكار دى او هم په هغه تكيه كول پكار دى ځكه چه هغه د عرش عظيم رب دې. دلته ئې چه د عرش عظيم رب اوفرمائيلو نو په دې سره دا څرګندول مقصود دى چه هغه د ټولو كائناتو [مخلوق]نه را چاپيره دې.

دا آخرى دوه آيتونه د حضرت ابى بن كعب ﷺ د قول مطابق د قرآن كريم آخرى آيتونه دى چه دې نه پس څه بل آيت نه دې نازل شوې او وروسته رسول الله ﷺ وفات شوې دې، دا قول د ابن عباس ﷺ هم دې [قرطبى] -(1)

د دې دوو آيتونو لوئې فضيلتونه په حديث شريف كښې بيان شوې دى، حضرت ابودرداء ﷺ فرمائيلې دى چه صبا مابښام دا آيتونه اووه كرته څوك لولى نو الله تعالى به ئې ټول كارونه اسان كرى [قرطبى] (2) والله سبحانه وتعالى اعلم.

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم،

اللهم وفقنى لتكميله كما تحب وترضى

والطف بنا فى تيسير كل عسير

فان تيسير كل عسير عليك يسير،

---

1) تفسير القرطبى تحت هٰذه الآية: واتقوا يومًا ترجعون الآية: ج ٣، ص ٣٧٥

2) سنن ابى داود، كتاب الادب، باب ما يقول اذا اصبح، وتفسير القرطبى تحت هٰذه الآية: ج ٨، ص ٣٠٣

Scanned with Ca

آیاتونه	سورة یونس مکیة وهي مائة وتسع آيات واحد عشر رکوعا	رکوعګاني
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
(۱۰۹)	شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان زیات رحم کونکې دی	(۱)

الٓرٰ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡحَكِيۡمِ ۝١ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنۡ

ا ل ر | دا | آیتونه دکتاب دی | چې دحکمت نه ډک دی | آیا دی | خلقو ته | تعجب شوه | داخبره چې

الف لام را | داد داسې کتاب آیتونه دی | چې د حکمت نه ډک دی | آیا دا خلق دې خبرې ته تعجب کوی

اَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى رَجُلٍ مِّنۡهُمۡ اَنۡ اَنۡذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيۡنَ

وحی اوکړه مونږه | یو سړی ته | ددوئ نه | چې | اویروه | خلق | اوزیرې ورکړه | هغه کسانو ته

چې مونږ په دوئ کښې یو سړی (ﷺ) ته وحی اولیږله | [اودا مو ورته اووئیل] چې خلق [د الله ﷻ د عذاب] ویروه

اٰمَنُوۡۤا اَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ

چې ایمان ئې راوړې دی | چې بیشکه | شته دوئ لره | مرتبه لویه | ریښتنی | په نز درب ددوئ

او چې څوک ایمان راوړی هغوئ ته زیرې ورکوه | چې هغوئ د پاره خپل پروردګار سره اوچته مرتبه ده

قَالَ الۡكٰفِرُوۡنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيۡنٌ ۝٢ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىۡ

نواووئیل | کافرانو | بیشکه چې داسړې | خامخاجادوګردې | ښکاره | بیشکه رب ستاسو | هغه الله دې

[اوپه دې خبره] کافروائی چې داسړې خو ښکاره جادوګر دې | بیشکه ستاسو پروردګار صرف یو الله دې

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ فِىۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ

چې پیدا ئې کړل اسمانونه | اوزمکه | په شپږ | ورځو کښی | بیا | برابرشو هغه | په عرش باندې

چې اسمانونه او زمکې ئې په شپږو ورځو کښې پیدا کړل | بیا په عرش باندې برابر شو

يُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ ؕ مَا مِنۡ شَفِيۡعٍ اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ اِذۡنِهٖ ؕ

تدبیر کوی | دټولو کارونو | نشته | هیڅوک | شفاعت کونکې | مګر | روستو | داجازت دهغه نه

هغه د هر کار تدبیر کوی | هیڅوک [دهیچا] سفارش نشی کولې | خود هغه داجازت نه پس

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمۡ فَاعۡبُدُوۡهُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ۝٣

هم داالله دې ستاسو | چې رب ستاسو دې | نو عبادت کوئ هم دهغه | آیا نو نصیحت نه قبلوئ تاسو

هم دغه الله ستاسو پروردګار دې | نو دهغه عبادت کوئ | آیا تاسو [اوس هم] نصیحت نه قبلوئ

اِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيۡعًا ؕ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ اِنَّهٗ يَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ

هم هغه ته | واپسی ده ستاسو | دټولو | وعده ده دالله | حقه | بیشکه هغه | اول شروع کوی | دپیدا وښت

هغه ته ستاسو د ټولو واپس کیدل دی | دا دالله ﷻ ریښتونې وعده ده | هغه مخلوق اول پیدا کړې دی

ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ لِيَجۡزِىَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

بیا | به ئې دوباره پیدا کوی هم هغه | دپاره ددې چې بدله ورکړی | هغه کسانولره | چې ایمان ئې راوړو

اوبیا به ئې هم دوباره ژوندې کوی | چې هغې کسانو ته په انصاف بدله ورکړی | چې ایمان ئې راوړې

Scanned with Ca

وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	بِالْقِسْطِ ۖ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَهُمْ
او عملونه ئې اوکړل	نیك	په انصاف سره	او هغه کسان	چې دکفر په لاره لاړل	اوی به دهغوئ دپاره
دي او نیک کارونه ئې کړی دی		او چا چې کفر غوره کړې دي		[نو] د هغوئ د څکلو دپاره	

شَرَابٌ	مِّنْ حَمِيْمٍ	وَّعَذَابٌ	اَلِيْمٌۢ	بِمَا	كَانُوْا	يَكْفُرُوْنَ ۝
څکل	دگرمو اوبونه	او عذاب	درد ناك	په سبب دهغې	چې وو هغوئ	چې کفر به ئې کړوا
ویشیدلې اوبه دی		او دردناک عذاب مقرر دې		دا ځکه چې کفر به ئې کولو		

آسان ترجمه قرآن

الٓر دا د هغه کتاب آیتونه دي چه د حکمت نه ډك دي آیا خلقو دپاره دا د تعجب خبره ده چه مونږ هم دوي کښې یو کس ته وحي راليږلې ده چه : خلق (دالله د خلاف کولو نه) ویروه او هغه خلقو له زیرې ورکړه چه د هغوی دالله ځنګه په صحیح معنو کښې لویه درجه ده (خو چه دا خلقو ته دا پیغام ورکړو نو) کافرانو ووئیل چه دا خو ښکاره جادوګر دې. حقیقت دا دې چه ستاسو پروردګار الله دې چه زمکه او آسمانونه ئې په شپږو ورځو کښې پیدا کړی دی . بیا هغه په عرش باندې داسې استواء وکړه چه هغه د هر یو څیز انتظام کوی هیڅوك د هغه د اجازت نه بغیر (د هغه مخې ته) د چا سفارش کونکې نشته. هم هغه دې ستاسو پروردګار ا نو دهغه عبادت وکړئ. بیا هم تاسو توجه نه کوئ؟ هغهٔ طرف ته ستاسو ټولو واپس کیدل دي. دا دالله رښتینی وعده ده. یقیناً ټول مخلوق په شروع کښې هم هغه پیدا کړې دي او دوباره به ئې هم هغه پیدا کوي. دې دپاره چه کومو خلقو ایمان راوړې دي او نیك عمل ئې کړې دې هغوی ته په انصاف سره د هغوی بدله ورکړي. او کومو خلقو چه کفر اختیار کړې دې هغوی دپاره د ګرمو اوبو څکل دی او دردناك عذاب دې ځکه چه دوی به د حق نه انکار کولو.

خلاصه تفسیر

﴿ الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝ ﴾ ددې معنی خو الله ته معلومه ده داکوم چه وړا ندې راځې دحکمت نه ډك کتاب [قران] ایاتونه دی کوم چه دحقانیت په وجه مستحق دمنلو او دخان پوهولو دی بیا منکرینو دنبوت ته جواب فرمائی ﴿ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۗ ﴾ ایا دې [دمکې] خلکو ته ددې نه تعجب دې چه مونږ په دوی کښې یو سړی [چه ددوی په شان انسان دې] وحی ولیږله چه خلاصه ئې داده [چه عام طور] ټولو خلقو له دالله دحکمونو د مخالفت نه] ویروی او کوم چه ایمان راوړې هغوی ته دا خوشخبري ورکوی چه دوی ته به خپل رب ته [په رسیدو] پوره مرتبه حاصله شي [که داسي مضمون په یو بشر دوحی په ذریعه نازل شی نو څه عجیبه نده مګر].
﴿ قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ۝ ﴾ کافران [دومره تعجب کښې شو ستا په نسبت] وائی چه [نعوذبالله] دا سړی بیشکه ښکاره جادوګردی [نبي ندی ځکه چه نبوت دبشر لپاره نشي کیدی]
﴿ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ ۖ مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ۚ ﴾ بیشکه ستاسو رب [حقیقي] الله دی چا چه اسمانونو او ځمکو له په شپږ ورځې

Scanned with

[مقدار] کي پیداکړه [نو کامل قدرت لري] بیا په عرش [چه مشابه دئ دتخت دسلطنت سره داسي]قائم شو [چه څنګه دهغه دشان سره لائق وي چه دعرش نه اسمان اوځمکي ته حکمونه جاري کړي لکه چه مخکښې فرمائی چه] هغه دهرکار[مناسب] تدبیرکوي [پس حکیم هم دی دهغه په مخکښې] څوك سفارش کوونکی[سفارش]نشي[کولې ی] مخکي دهغه داجازت نه نو عظیم هم شو ﴿ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۭ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝﴾ پس داسي الله ستاسورب [حقیقي] دی پس تاسو دهغه عبا۔ت کوئ [اوشرك مه کوئ] ایا تاسو [ددي دلیلونو اوریدو نه پس]بیاهم نه پوهیږئ ستاسي بیرته ورتلل دئ الله ته . ﴿اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا ۭ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۭ اِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ۭ﴾ [ددي] رشتوني وعده نی کړیده بیشکه هغه اول وار هم پیداکوي بیاهغه دویم ځل هم [په قیامت کي]به پیداکوي ددي لپاره چې کوم خلك چه ایمان راوړي اونیك اعمال وکړي په انصاف سره [پوره پوره]جزاور ورکړی [اوهیڅ قسمه کمی به پکښي ونکړي بلکه ډیرزیات به هم ورکړي]. ﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۝﴾ اوکوموخلکوچه کفروکړوددوی دپاره [په اخرت کښي]به جوشیدلي اوبه دڅکلو لپاره وي اودردناك عذاب به وي ددوی دکفر په وجه.

معارف او مسائل

سورت یونس مکی سورتونونه دې، بعضې حضراتو د دې صرف درې آیتونه مدني وئیلې دی چه د مدینې منورې د هجرت نه پس نازل شوې دی.

په دې سورت کښې هم د قرآن او اسلام بنیادی مقصدونه یعنی توحید ،رسالت او آخرت وغیره په کائنات کښې د راتلونکو تغیراتو او مشاهداتو نه په استدلال کولو سره ذهن کښې کښېنولی شوی دی، دغه شان د عبرتناکو تاریخی واقعاتو او قیصو په ذریعه هغه خلق یرولې شوې دی کوم چه د الله تعالی دغې ښکاره نخښو نښانو ته نظر نه کوی او د دې په ضمن کښې د شرک د باطلوالی او د دې په باره کښې د څنو شبهو ورکړې شوې جواب بیان شوې دې، دا د دې سورت د مضمونونو خلاصه ده، د سورت په مضمونونو باندې د غور کولو نه دا خبره په اسانۍ ذهن ته راتلې شی چه د دې سورت او د تیر شوی سورت[سورت توبه]تر منځه تړون څه دې، په سورت توبه کښې هم د دې مقاصدو د پاره، منکرینو او کفاروسره جهاد کول او د کفر او شرک طاقت لره په مادی اسبابو سره د ماتولو بیان وو او دا سورت هر کله چه د جهاد دحکمونو د نازلیدو نه وړاندې په مکه مکرمه کښې نازل شو نو هم د مکی دور د قانون په جوړ دغه مقصدونه صرف د دلیلونو او برهانونو په ذریعه ثابت کړې شوې دی.

﴿الۗرٰ﴾ته حروف مقطعات وئیلې شی چه د قرآن کریم د ډیرو سورتونو په اول سر کښې راغلې دی، د الم،حم،عسق وغیره د معنو په بحثونو باندې مفسرینو ډیر اوږده بحثونه کړې دی، د صحابهٔ کرامو ﷺ، تابعینو ﷺ او د جمهورو پخوانو علماؤ ﷺ د تحقیق په جوړ ددې قسم د تولو حروف مقطعاتو په باره کښې خبره داسې ده چه دا خصوصی اشارې دی چه معنې ئې غالبا رسول الله ﷺ ته ښودلې شوې دی خو رسول الله ﷺ عام امت لره صرف د دې په علمونو او معرفتونو باندې خبر کړل کوم چه د دوی ذهنونه زغملې شی او په نه معلومیدو ئې چه کار کښې څه بندیز نه راځی. د حروف مقطعاتو په اشارو باندې د امت هیڅ کار موقوف نه دې لونه د دوی

ځه کار په دې باندې خرابیږي چه په معنی باندې ئې ځان پوه نه کړي، هم دغه وجه ده چه رسول الله ﷺ هم د دې معنې امت د پاره ضروري او نه ګڼلې او بیان ئې نه کړې، مونږ لره پکار دی چه دې پسې نه شو، ولې چه زمونږ یقین دې که د دې په معنو باندې پوهیدلو کښې زمونږ څه ښیګړه وې نو رحمة للعالمین ﷺ به د دې بیانولو باندې هیڅ کوتاهي نه وه کړې.

﴿تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ﴾ کښې د [تلك] په لفظ سره د دې سورت هغه آیتونو ته اشاره ده چه بیان به ئې اوس کولې شی، کتاب نه مراد قرآن کریم دې د دې صفت دلته [حکیم] راوړلې شو چه معنی ئې [حکمت والا کتاب] ده.

په دویم آیت کښې د مشرکانو د یوې شبهې او اعتراض جواب دې، حاصل د شبهې دا دې چه په خپل خیال کښې دوی دا خبره غټه کړې وه چه د الله تعالی د اړخه څوک بشر او انسان رسول نه شی مقرریدلې بلکه پکار دی چه فرشته دې رسول وی، قرآن کریم د دې بیهوده خبرې جواب په ډیرو ځایونو کښې په مختلفو عنوانونو سره ورکړې دې په یو آیت کښې فرمائې؛
﴿قُل لَّوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَّسُولًا﴾
[که په زمکه فرشتې اوسیدې نو مونږ به ورله رسول هم فرشته جوړه کړې وه] حاصل ئې دا شو چه رسول به داسې وی چه هغه قوم سره به جوړښت او سمون لری کوم ته چه هغه لیږلې شوې وی، فرشته، فرشتو سره او انسان، انسانانو سره سمون او جوړښت لری، ځکه انسانانو د پاره هم انسان رسول جوړول پکار دی.

اوس په دې آیت کښې د دې انداز څه داسې دې چه په دې خبره باندې د دې خلقو تعجب کول چه مونږ ته انسان پیغمبر ولې راولیږلې شو؟ او د رسول الله ﷺ ذمه داری دا ولې اوګرځولې شوه چه نافرمانه انسانان دې د الله تعالی د عذاب نه اویروی او فرمانبردارو ته دې د ثواب زیرې ورکوی؟ دا تعجب پخپله د تعجب خبره ځکه ده چه انسانانو ته هم انسان پیغمبر لیږل د عقل مطابق خبره ده.

﴿أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِندَ رَبِّهِمْ﴾ په دې آیت مبارك باندې ایمان والو ته د خوشحالئ زیرې په دې الفاظ سره اوکړې شو. د [قدم] اصلی معنی خپه ده، هر کله چه د انسان د کوشش او عمل د ودې کولو ذریعه هم دا [قدم] ځکه وی چه د دې په حرکت کولو سره داسې کیدې شی خو دلته مجازاً لوړې مرتبې ته هم قدم اووئیلې شو ﴿قَدَمَ﴾ ئې ﴿صِدْقٍ﴾ ته مضاف کړو، په دې سره دا ښودل مقصود دی چه دوی ته ملاویدونکې مرتبه حق او یقینی هم ده او نه ختمیدونکې او پائیداره هم ده، د دنیوی مرتبو په شان داسې نه ده چه اول خو د عمل په نتیجه کښې یقینی حاصلیدونکې نه وی او بیا د دې ختمیدل او فنا کیدل یقینی وی، کله خو ئې په ژوند کښې د لاسه اوځی او د مرګ په وخت کښې خو یقیناً هر انسان د هرې مرتبې، منصب او هر دولت او نعمت نه تش لاسې شی، غرض دا چه د صدق لفظ په مفهوم کښې یقینی کیدل هم شامل دی، او کامل، مکمل او نه ختمیدونکې هم، ځکه د جملې معنی دا شوه چه ایماندارو ته دا زیرې واوروه چه دوی د پاره د رب خوا ته لویه درجه ده چه یقینی به ورته ملاویږی او دا داسې یو دولت دې چه نه به ختمیږی.

بعضې مفسرینو حضراتو ﷺ فرمائیلې دی چه دلته د ﴿صِدْقٍ﴾ د لفظ په راوړو سره دې ته هم اشاره ده چه د جنت دا لوړې درجې صرف د صدق او ریښتینې په برکت ملاویدې شی یواځې د

Scanned with Ca

ژبې په کلمې د ایمان وئیلو سره نه حاصلیږي. خو پوري چه د ژبې او د زړه په صدق او اخلاص سره او نه وئیلې شي، د دې لازمي نتیجه به د نیکو عملونو پابندي کول او د بدو عملونو نه پرهیز کول وي.

په دریم آیت کښې توحید په داسې یو حقیقت سره ثابت کړې شوې دې چه انکار ترې بیخي نه شي کیدې، هغه حقیقت دا دې چه هر کله د اسمانونو او زمکې په پیدا کولو او بیا د ټولې دنیا په کارونو په انتظام کولو او په چلولو کښې د الله تعالی څوک شریک او امدادي نشته نو بیا ئې په عبادت کښې بل څوک شریک څنګه جوړیدې شي؟ بلکه بل څوک ئې شریک جوړول خو ډیره بې انصافي او لوئې ظلم دې.

په دې آیت کښې ئې دا ارشاد فرمائیلې دی [الله تعالی اسمانونه او زمکه په شپږ ورځو کښې پیدا کړې دي] خو هر کله چه زمونږ حساب د ورځو د نمر په راختو او ډوبیدو کولې شي، دغه وخت چه نمر، بلکه زمکه اسمانونه لا پیدا نه وو نو د شپږو ورځو حساب په څه طریقه سره اوشو؟ ـــــ جواب ئې دا دې چه دا اندازه د نمر د راختو او ډوبیدو د الله تعالی په علم کښې وه او د شپږو ورځو حساب هم په دغې طریقې سره اوکړې شو. په شپږو ورځو کښې دومره لوئې جهان جوړول او انتظام ئې کول چه ستورې، سپوږمې، زمکه، اسمانونه او په دې کښې شامل هر څه جوړول یواځې د الله تعالی کار کیدې شي چه قادر مطلق دې، هغه لره د دې ضرورت نشته چه دې د پاره و ړومبی نه خام مواد، د دې ټول اجزاء اودې د پاره ټوله عمله، خادمان، او کاریګران موجود وي، بلکه هغه ته دا قدرت حاصل دې چه د څه سامان او د چا د امداد نه بغیر د یو سکینډ په کم نه کم وخت کښې صرف په کلمې د [کن] سره ئې پیدا کړي، خو په شپږو ورځو کښې د دې جوړول د الله تعالی په بې شمیره حکمتونو باندې بنا دی.

بیا فرمائي ﴿ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ﴾ [بیا قائم شو په عرش باندې] د قرآن او حدیث نه دومره ثابت دی چه د رحمن عرش داسې یو لوئې مخلوق دې چه د ټولو اسمانونو او زمکې نه راوتاو دې او دا ټول جهان [د هر څه سره] د هغې دننه ځای شوې دې، دې نه زیات د دې حقیقت معلومول د انسان د وس خبره نه ده. هر کله چه انسان د خپل سائنس د زیاتې ودې په دې زمانه کښې هم صرف د اسمان نه لاندې ستوروته د رسیدو په تیارۍ کښې دې چه لا تر اوسه پورې ورته نه دې رسیدلې، انسان د دې هم اقرار کوي چه دغه پورتنی ستوری مونږ نه دومره لرې دی چه د رصدی آلاتو په ذریعه د هغې معلومول د تخمینې او اندازې په درجه کښې دی، دې نه زیات بل څه حقیقت نه لري، دې کښې بعضې ستوری داسې هم دی چه پلوشې ئې لا تر اوسه پورې زمکې ته نه دی رارسیدلې، سره د دې چه د نمر پلوشې یو منټ کښې د لکونو میلونو نه زیات رفتار کوي، دې نه بره خو ړومبې اسمان دې بیا نور شپږ آسمانونه دی د هغې نه پورته بیا کرسی ده او ددې ټولو نه زیات پورته عرش د رحمن دې، د چا انسان د علم رسیدل چرته هغې ته کیدې شي؟

په آیت کښې دومره معلوم شو چه الله تعالی په شپږو ورځو کښې زمکه، آسمانونه او ټول کائنات جوړ کړل بیا ئې په عرش باندې قیام اوکړو. دا خو یقیني او ښکاره خبره ده چه الله تعالی د جسم، جسمانیت او د دې د ټولو صفتونو او خصوصیتونو نه زیات پورته دې، د هغه وجود یو خاص طرف او اړخ سره هیڅ تعلق نه لري، او نه د هغه قیام په یو ځای کښې داسې دې څنګه چه د دنیا د نورو څیزونو قیام په خپل ځای کښې دې، په عرش باندې د هغه قیام د

متشابهاتو نه دی چه د هغې شان او طريقه د انسان په عقل او فهم کښې راتلل ناممکن دی، په دې وجه قرآن کريم د هغې په باره کښې داسې فرمائی ﴿وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيْلَهٗۤ اِلَّا اللّٰهُ ۘ وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ﴾ [مطلب دا چه د الله تعالی نه سوا بل هيچا ته دا نه شی معلوميدې، مضبوط او صحيح علم لرونکی په دې باندې د ايمان راوړو اقرار کوی خو حقيقت معلومولو پسې ئې کيږی نه] په دا شان ټولو هغه معاملاتو کښې د جمهورو عالمانو د عقيدې په جوړ صرف ايمان راوړل پکار دی حقيقت معلومولو پسې ئې کيدل نه دی پکار، لکه په قرآن کريم کښې چه د الله تعالی نسبت يو مکان طرف ته شوې دې، يا د الله تعالی د پاره څه اندام مثلا يد، وجه، ساق وغيره ياد کړې شوې دی، په دې باره کښې هم دا ګڼړل پکار دی چه دې نه کوم مراد الله تعالی اخستې دې هم هغه صحيح دې،

نه هر جاے مرکب توان تاختن　　　که جاها سپر بايد انداختن

[هر چرته چه څوک اسونه نه شی زغلولې ؛ په ډيرو ځايونو کښې ډال [وسله] غورزول پکار دی] چرته چه روستنو علماؤ د متشابهاتو څه معنی بيان کړې ده، د هغوی په نزد دغه هم د احتمال په درجه کښې دی، د يقين درجه ورته نه ورکوی، په دې بنا خالص احتمالی څيزونو سره څه حقيقت نه شی معلوميدې، په دې وجه صفا او سيدها مسلک د پخوانو بزرګانو [صحابهٔ کرامو ﷺ او تابعينو ﷺ] دې کوموچه ددې څيزونو حقيقت د الله تعالی علم ته سپارلې دې او بس.

وريسې فرمائی؛ يدبرالامر؛ [په عرش باندې ټيکاو شو د ټولو عالمونو انتظام د خپل قدرت په لاس سره چلوی]

﴿مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ؕ﴾ [يعنی يو نبی او پيغمبر هم د هغه په دربار کښې تر هغې سفارش نه شی کولې تر څو چه د الله تعالی اجازت ورته نه وی] .

په څلورم آيت کښې د آخرت د عقيدې بيان دې فرمائی ﴿اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا ؕ﴾ [هم د هغه طرف ته ستاسو د ټولو واپسی ده] ﴿وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ﴾ [دا وعده ده د الله تعالی حق او صحيح] ﴿اِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ﴾ [يعنی هغه اول د سره پيدا کوی مخلوق او بيا به ئې د قيامت په ورځ دوباره ژوندی کوی] په دې جمله کښې دا اوښودلې شو چه په دې هيڅ تعجب کول پکار نه دی چه د فنا کيدو نه پس به مخلوق دوباره څنګه راپيدا کولې شی؟ ولې چه د اوله سره بې د څه مادې او نمونې نه ئې پيدا کړل نو دوباره هم دغه مخلوق پيدا کول څه ګران خو نه دی.

هُوَ الَّذِيْ	جَعَلَ	الشَّمْسَ	ضِيَآءً	وَّالْقَمَرَ	نُوْرًا	وَّقَدَّرَهٗ
هغه هغه ذات دې	چې جوړ ئې کړو	نمر	خليدونکې	او سپوږمۍ	روښانه	او مقرر ئې کړل هغې لره
[الله تعالی] هغه ذات دې | چې نمر ئې پرقيدونکې جوړ کړې دې او سپوږمۍ ئې خلانده جوړه کړې ده او دا ئې سم						
مَنَازِلَ	لِتَعْلَمُوْا	عَدَدَ	السِّنِيْنَ	وَالْحِسَابَ ؕ	مَا خَلَقَ	اللّٰهُ
ځايونه د راختلو	د پاره د دې چې تاسو معلوم کړئ	شمار	د کلونو	او حساب	نه دی پيدا کړی	الله
په حساب منزلونه مقرر کړی دی | چې تاسو ترې نه د کلونو په شمير او د وخت په حساب پوهه شئ						

Scanned with Ca

ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝ اِنَّ

دا هر څه| مگر| په حقه سره | هغه واضحه بيانوي | آيتونه | دپاره دهغه خلقو | چې پوهيږي | بيشکه

الله ﷻ دا ټول څيزونه [دلوبو دپاره نه بلکه] په مطلب پيدا کړي دي| هغه پوهانو خلقو ته خپلې نښې په تفصيل سره بيانوي

فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ

په بدليدو کښې| دشپې | او دورځې| او په هر هغه څيزونو کښې| چې پيدا کړي دي الله|په آسمانونو کښې

بيشکه دشپې او ورځې په بدلون کښې او الله ﷻ چې په آسمانونو او زمکه کښې څه پيدا کړي دي|

وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝

او په زمکه کښې|خامخا نښې دي|دپاره دهغه قوم|چې ځان ساتي دغلطې لارې نه|

په دې ټولو کښې| دهغې خلقو دپاره نښې دي | چې د الله ﷻ نه ويريږي |

خلاصه تفسير

﴿هُوَالَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ﴾ دغه الله هغه ذات دی چه لمر ئې پرقيدونکې جوړ کړو او سپوږمۍ لره [هم] نوراني جوړه کړه او ددوئ [دتللو] دپاره ئې منزلونه مقرر کړه [چه روزانه يو يو منزل قطع کوي] ددې دپاره چه [اجرامو په ذريعه]تاسو دکلونو شمار او حساب معلوم کړئ.

﴿مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝﴾ الله تعالى دا څيزونه بې فائدې ندي پيدا کړي هغه دادلائل دهغو خلقو دپاره صفا صفا بيانوي کوم چه پوهه لري.

﴿اِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝﴾ بيشکه دشپې او ورځې په يو بل پسې په راتلو کې او څه چه الله تعالى په اسمانونو او زمکې کښې پيدا کړي دي په دې ټولو کې دهغو خلقو دپاره [دتوحيد] دليلونه دي کوم چې [د الله نه] ويريږي.

معارف او مسائل

په دې درې آيتونو کښې د دنيا د ټول مخلوق ډيرې نخښې بيان شوې دی چه د الله تعالى په کامل قدرت باندې گواه او د هغې د ليلونه دی چه الله تعالى دا قدرت لری چه د دې جهان د فنا کولو او پوتې پوتې کولو نه پس بيا دغه پوتی را جمع کړی او د نوی سره دغه ټول راژوندی کړی او د حساب کتاب نه پس د جزا او سزا قانون پرې جاری کړی، چه د عقل او حکمت تقاضا هم ده، دغه شان دا درې واړه آيتونه د هغه اجمال تفصيل دی چه په تير شوی دريم آيت کښې د زمکې او اسمانونو په شپږو ورځو کښې د پيدا کيدو او بيا په عرش باندې د قائميدو نه پس د ﴿يُدَبِّرُ الْاَمْرَ﴾ په الفاظو سره بيان شوې وو، چه هغه داسې نه دی کړې چه عالم ئې پيدا کړو او هم دغسې ئې پريښودو بلکه هر وخت او هره لمحه د هر څيز انتظام د هغه په لاس کښې دې.

د دغې انتظام يوه برخه داده ﴿هُوَالَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا﴾ د ضيا او نور دواړو معنی څلا او رڼا ده، په دې بنا د لغت ټول امامان دې دواړو ته مترادف[هم معنی] الفاظ وائی، علامه زمخشری او طيبی وغيره فرمائيلې دی چه اگرچه که د رڼا معنی په دې دواړو کښې شريکه ده خو د نور لفظ عام دې چه هرې تيزې او تتې، مضبوطې او کمزورې رڼا ته وئيلې شی او ضوء

Scanned with Ca

او ضیاء خاص دې مضبوطې او تیزې رڼا ته وئیلې شي،([1])انسان ته د دواړو رڼاګانو ضرورت راځي، عام کاروبار د پاره د ورځې تیزه رڼا پکار ده او معمولي کارونو د پاره د شپې کمزورې رڼا خوښولې شي، که د ورځې هم د سپوږمې کمزورې رڼا وې نو کار، روزګار کښې به خلل راتلو او که د شپې د نمر تیزه رڼا وې نو د خلقو خوب او مناسبو کارونو کښې به خلل راتلو، په دې بنا باندې قدرت د دواړو قسمو رڼاګانو دا شان انتظام اوکړو چه د نمر رڼا ته ئې د ضوء او ضیاء درجه ورکړه او کار روزګار په وخت کښې ئې دا ځرګنده کړه، او د سپوږمې رڼا ئې کمزورې او تته اوګرځوله او د شپې ئې ښکاره کړه.

قرآن کریم د خپل بیان په مختلفو عنوانونو سره د نمر او سپوږمې د رڼا فرق ښکاره کړې دې لکه سورت نوح کښې فرمائي ﴿وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا﴾ په سورت فرقان کښې فرمائي ﴿وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا﴾ د سراج معنی ډیوه ده، هر کله چه د ډیوې رڼا ذاتي او ځاني وي د بل څه نه ئې نه وي اخستې په دې بنا بعضې حضراتو د ضیاء مطلب ذاتي او ځاني اخستې دې او د نور مطلب ئې هغه رڼا اخستې ده چه د بل څیز نه اخستې شوې وي، خو ښکاره خبره ده چه دا فرق د یوناني فلسفې نه د اثر قبلولو په وجه کړې شوې دې ورنه په لغت کښې د دې هیڅ اصل نشته او قرآن کریم هم د دې څه قطعي فیصله نه ده کړې.

زجاج رحمه الله وئیلې دي چه ضیاء د ضوء جمع ده، په دې لحاظ دې ته اشاره کیدې شي چه د دنیا اووه واړه مشهور رنګونه چه په دنیا کښې موندې شي هغه ټول د نمر په رڼا کښې موندې شي چه د باران اوورېدو نه پس د قوس قزح [بوډۍ ټال] په شکل کښې ښکاریږي [منار]

د نمر او سپوږمې په نظام کښې د قدرت د نخښو ځنې یو تنداره دا هم ده چه ﴿وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ﴾ [قدره] د تقدیر نه جوړ دې، معنی ئې داده چه څه څیز د زماني، مکان یا د صفتونو په لحاظ سره په خاص اندازه لرلې شي لکه قرآن کریم فرمائي ﴿وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ﴾ د مکان او مزل په لحاظ، په یو خاص انداز باندې د شام او سبا د آبادو تر منځه د فاصلې لرلو د پاره قرآن کریم بل ځاې کښې فرمائي ﴿وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ﴾ او د عامو اندازو په باره کښې فرمائي ﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾

منازل: د منزل جمع ده اصلي معنی ئې د راکوځیدو ځاې دې، الله تعالی د نمر سپوږمې د رفتار د پاره خاص حدونه ټاکلې دي چه هر یو ته منزل وئیلې شي. سپوږمې خپله دوره په هره میاشت کښې پوره کوي ځکه د دې منزلونه دیرش یا یو کم دیرش دي، خو هر کله چه هره میاشت کښې سپوږمې کم نه کم یوه ورځ غائبه پاتې کیږي نو ځکه عموما د سپوږمې منزلونه اته ویشت وئیلې شي. لیکن نمر ټول کال کښې خپله دوره پوره کوي، ځکه د دې ټول منزلونه درې سوه شپیته یا درې سوه پنځه شپیته وي. د عربو په زوړ جاهلیت کښې هم او د اهل هیئت او ریاضي د پوهانو په نزد هم د دې منزلونو خاص خاص نومونه د دې ستورو په مناسبت سره ایښودې شوې دي چه د دې منزلونو په برابرې کښې موندې شي، قرآن کریم د دې اصطلاحي نومونو نه بالاتر دې ځکه ترې مراد صرف هغه فاصلې دي چه نمر او سپوږمې ئې په خاص خاص ورځو کښې لاندې کوي.

[1]) کشاف تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۲۳، وفي تفسیر سورة النوح آیت: ۵، ص ۱۲

Scanned with Ca

په آيت کښې ﴿قَدَّرَهٗ مَنَازِلَ﴾ کښې د مفرد ضمير استعمال شوې دی حالانکه منزلونه د نمر او سپوږمۍ دواړو دی، ځکه بعضې مفسرينو ﷺ فرمائيلې دي چه اګر که ذکر د مفرد دې خو د هر واحد په اعتبار سره مراد ترې دواړه دی چه مثالونه ئې د قرآن کريم او عربی په محاورو کښې په ګنړ شمير موندې شی.

بعضې حضراتو ﷺ فرمائيلې دی چه اګرچه دا منزلونه الله تعالی د نمر او سپوږمۍ دواړو د پاره قائم کړي دی خو دلته ترې مقصود يواځې د سپوږمۍ منزلونه بيانول دی، په دې بنا په [قدره] کښې ضمير نمر ته راجع دې ځکه چه د نمر منزلونه خو صرف په رصدی آلاتو او په حسابونو سره ځکه معلوموليې شی چه نمر په يو شکل کښې د کال دولس مياشتې هره ورځ راخيژی او ډوبيږی، صرف د دې په ليدلو کتلو سره د دې امروزه منزل هيڅوک نه شی معلومولې، خو د سپوږمۍ حالات هره ورځ بدل بدل وی په آخر د مياشتې کښې دسره ښکاره هم نه شی، دغې حالاتو ته په کتلو سره بې علمه خلق هم د تاريخونو او نيټو پته لګولې شی مثلا نن د مارچ اتم تاريخ دې څوک نمر ته په کتو سره نه شی معلومولې چه اتم دې او که يويشتم دې په خلاف د سپوږمۍ چه دې سره په کتو هم انسان تاريخ معلومولې شی.

په دې آيت کښې هر کله چه دا ښودل مقصود دی چه دالله تعالی د عظيم الشانه نخښو نخښانو سره دا انسانی فائده هم تړون لری چه د دې په ذريعې سره انسان د کال، مياشتې او د دې د نيټو حساب معلوموی، دا حساب اګرچه نمر، سپوږمۍ دواړو سره معلوميدې شی او په دنيا کښې دواړه قسمه [شمسی او قمری] مياشتې د پخوا راسې مشهورې هم دی قرآن کريم هم د سورت اسراء په دولسم آيت کښې فرمائی ﴿وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةً لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلًا مِّن رَّبِّكُمۡ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَ﴾ په دې آيت کښې د [اية اليل] نه مراد سپوږمۍ او د [اية النهار] نه مراد نمر دې، د دواړو ذکر کولو نه پس فرمائی چه په دې سره تاسو د کلونو شمير او د مياشتو د تاريخونو حساب معلومولې شې. او په سورت رحمن کښې فرمائی ﴿ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٖ﴾ په دې آيت کښې دا ښودلې شوې دی چه د نمر او سپوږمۍ دواړو په ذريعه د تاريخ مياشتې او کال حساب معلوميدې شی.

ليکن د سپوږمۍ په ذريعه د مياشتې او د تاريخ حساب په مشاهدې او تجربې سره معلوم دې، په خلاف د نمر چه د دې په حسابونو سوا د رياضۍ د پوهانو نه نور څوک نه پوهيږی، دې د پاره په دې آيت کښې د نمر او د سپوږمۍ د ذکر کولو نه پس هر کله چه ئې د دی د منزلونو مقرر کولو ذکر اوفرمائيلو نو وروستو ئې په [قدره] کښې د مفرد په ضمير سره منزلونه صرف د سپوږمۍ بيان کړل.

هر کله چه په اسلام کښې هر چرته دا خيال ساتلې شوې دې چه د دې د حکمونو په ادا کولو کښې دې هر مسلمان ته اسانی وی، که امی وی او که غير امی وی، که د ښار وی او که د کلی وی، په دې لحاظ سره په اسلامی احکامو کښې عموما د قمری کال، مياشتو، او ورځو حساب کول تاکلې شوې دې، لکه مونځ، روژه، حج او عدت وغيره کښې چه قمری حساب لره اعتبار ورکړې شوې دې.

د دې دا مطلب نه دې چه ګنی شمسی حساب ساتل ناروا دی بلکه د مونځ، روژې حج، زکوة او عدت وغيره په معامله کښې خو د شريعت په جوړ قمری حساب کول ضروری دی، البته په خپل

Scanned with Ca

کاروبار کښې ورته د شمسی حساب چلولو اختیار شته دې خو شرط دا دې چه په مجموعی ډول مسلمانانو کښې قمری حساب کول جاری پاتې شی چه ورسره د رمضان، حج، او عدت وغیره احکام او وختونه معلوم پاتې کیږی، داسې نه دی پکار چه د جنوری، فروری وغیره نه علاوه نورې میاشتې ورته د سره معلومې نه وی، په دې بناء فقهاء ﷺ قمری حساب لګول د مسلمانانو په ذمه فرض کفایه ګڼړی.

په دې کښې هم شک نشته چه د پیغمبرانو ﷺ په سنت، د رسول الله ﷺ او د خلفاء راشدین ﷺ په سنت کښې یواځې د قمری حساب استعمال راغلې دې چه تابعدارې کولو کښې ئې برکت او ثواب دې.

غرض دا چه په دې بیان شوی آیت کښې د الله تعالی قدرت او کامل حکمت بیان شوې دې چه هغه د رڼرا دوه عظیم الشانه خزانې د حال مناسب پیدا کړې، او بیا د هر یو د رفتار د پاره ئې داسې پیمانې او تاکلې چه ورسره د کال، میاشتې، تاریخ او وختونو د یو یو منټ حساب معلومیدې شی، نه ئې چرته په رفتار کښې فرق راځی، نه چرته وړاندې وروستو کیږی، نه د خداې جوړ کړې په دې مشینونو کښې چرې د مرمت د پاره څه بندیز راوستې شی، نه ورته د ګریس ورکولو ضرورت وی نه خو دا چرې سولیږی او ماتیږی، د ازل نه تر اوسه پورې په مخه هم داسې چلیږی او تر قیامته پورې به چلیږی ــــــ ورپسې په آخر د آیت کښې د زیاتې خبردارې د پاره فرمائی ﴿مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝﴾ [یعنی دا ټول څیزونه الله تعالی بې فائدې نه دی پیدا کړې بلکه په دې کښې لوئې لوئې حکمتونه ! او انسان د پاره بې شمیره فائدې پټې پرتې دی او دا دلیلونه هغې خلقو ته صفا صفا ښائی چه عقل او پوهه لری.

دا شان په بل آیت کښې ارشاد فرمائی؛ چه یو بل پسې د شپې او د ورځې په راتلو کښې او چه الله تعالی په اسمانونو او زمکه کښې پیدا کړې دی په دې ټولو کښې هغې خلقو د پاره [د توحید او آخرت] دلیلونه دی چه د الله تعالی یره منی.

د توحید دلیلونه خو د قدرت او کاریګرې یواځې والې او بغیر د چا د امداد نه دا ټول څیزونه پیدا کول دی او په داسې نظام ئې چلول دی چه دا نظام نه چرته ماتیږی او نه بدلیږی.

او د آخرت دلیلونه داسې دی چه کوم حکیم ذات چه دا ټول څیزونه د انسانانو د فائدې د پاره جوړ کړل او د یو محکم نظام پابند ئې کړل، نو دا خو کیدې نه شی چه هغه دې د کائناتو دا مخدوم [انسان] بې فائدې او خالص خوراک څښاک له پیدا کړې وی د هغه په ذمه دې ئې څه فرض او ذمه دارې نه وی لګولې، هر کله چه دا معلومه شوه چه د کائناتو په دې مخدوم دې هم څه پابندې وی، نو دا هم معلومه شوه چه د دې پابندیانو د پوره کونکو او نه پوره کونکو دې حساب وی، اول قسمه خلقو ته دې ښه بدله ورکړې شی او نه پوره کونکو ته دې سزا ورکولې شی او دا هم ښکاره ده چه په دې دنیا کښې خو د جزا او سزا دا دستورنه دې ولې چه دلته خو مجرم او ناکاره بنده په اکثرو وختونو کښې د متقی او پرهیزګار نه زیات ښه ژوند تیروی، د دې کبله حساب کتاب او جزا او سزا د پاره څه ورځ مقرره پکار ده چه هغه د قیامت او آخرت ورځ ده.

اِنَّ الَّذِيْنَ

ابیشکه | هغه کسان

| بیشکه خوک چې زمونږ

لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا

چې امیدنه لري| دملاقات زمونږه| اوراضي شوي دي| په ژوندد دنیا| اومطمئن شوي دي| په هغې

سره دملاقات امید نه ساتي |اوددنیا په ژوند رضا شوي دي |او په هغې پورې ئې زوړنه لګولې دي

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمُ

اوهغه کسان| چې هغوئ | دآیتونو زمونږ نه | غافله دي| دغه کسان چې دي| آخري خائې دهغوئ

او خوک چې زمونږ د نښونه بیخي غافله دي | . هم دغه خلق دي چې ټکاؤنړه ئې [د دوزخ]

النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

وور دي|په سبب دهغې بدوکارونو|چې وو هغوئ|چې کول به ئې | بیشکه هغه کسان| چې ایمان ئې راوړو

اور دي | د دوی د خرابو عملونو په سبب | ....بیشکه چاچې ایمان راوړې دي |او نیک کارونه کوي

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ ۚ تَجْرِيْ

اوکول ئې نیك کارونه| اوبه ښائي هغوئ ته نیغه لار| رب دهغوئ| په سبب دایمان دهغوئ| بهیږي به

هغوئ به خپل رب د ایمان په برکت سره [داسې ځایونه ته] اورسوي |چې لاندې به ترې ولې

مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝ دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ

لاندې دهغوئ نه| نهرونه | په جنتونوکښې| دك دنعمتونو| وینا دهغوئ به| په هغې کښې| پاکي ده تاله

بهیږي | د عیش عشرت په باغونو کښې به وي | هلته به هغوئ وائي چې ائې الله ﷻ ته پاك ئې |او هلته به

اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ

اے خدایا | او دعا دهغوئ به | په هغې کښې | سلام [سلامتیا] وي | اوخاتمه | دوینا دهغوئ به داوي

دهغوئ [یو بل] سره دعا دا وي |چې سلامت اوسیږئ |اودهغوئ روستئ وینا به همیشه دا وي |چې

اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

چې ثنا ده | الله لره | چې پالونکې دتولو مخلوقاتو دې |

تول تعریفونه الله ﷻ لره دی |چې پالونکی د ټولو مخلوقاتو دې |

آسان ترجمه قرآن

او الله هغه دې چه هغه نمر ټوله رڼرا کرځولې ده او سپوږمئ ئې ټول نُور، او دهغه (دسفر) دپاره ئې پړاؤنه مقرر کړی دی دې دپاره چه تاسو د کال شمیر او (د میاشتو) حساب معلوم کړې الله تعالی دا ټول بې د څه مقصد نه نهٔ دې پیدا کړي هغه دا نښې دهغه خلقو دپاره بیانوي چه پوهیږی حقیقت دا دې چه د ورځې او شپې په مخکښې وروستو راتلو کښې او الله چه په آسمانونو او زمکه کښې څه پیدا کړی دی هغې

Scanned with Ca

کښې د هغه خلقو دپاره لوئ تنبې دي چه د هغوی په زړونو کښې د الله ويره وي. کوم خلق چه مونږ سره (په آخرت کښې) د ملاويدو اميد نه ساتي، او د دنيا په ژوند کښې مشغوله دی او په دې مطمئين شوی دی، او څوک چه زمونږ د نښو نه غافله دی د دوی ځائ د خپلو کړو د وجې نه جهنم دې. (بل طرف ته) هغه کسانو چه ايمان ئې راوړې دې او نيک عمل ئې کړې دې، د دوی د ايمان د وجې نه الله تعالی به دوی داسې منزل ته ورسوي چه د نعمتونو نه په ډکو باغونو کښې به د دوی لاندې نهرونه بهيږي. د دوی به دې ته (دننه کيدو په وخت کښې) دا خبره وی چه: اې الله ستا ذات د هر عيب نه پاک دې او د يو بل د پيش کشئ دپاره به چه دوی کوم لفظ وائي هغه به سلام وي او د دوی آخری خبره به دا وي چه: ټول تعريفونه الله لره دي چه د ټولو جهانونو پروردګار دې.

خلاصه تفسير

﴿ إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوا بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ ﴾ د کومو خلکو چه زمونږ خواته دراتللو اميد نشته اودوئ د دنيا په ژوند خوشحاله شوی دي [داخرت طلب هرګزنه کوي] اوپه دې پوري ئې زړه ترلی دئ [دراتلونکي يې هيڅ خبرنشته]اوکوم يا خو خلق چه زمونږ د اياتونونه [کوم چه په نبوت دلالت کوي] بلکل غافله دي. ﴿ أُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴾ دداسې خلکوځاى ددوئ [دي]عملونو په وجه سره دوزخ دی. ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُمْ بِإِيمَانِهِمْ ۖ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴾ [او] يقينا کوم خلك چه ايمان راوړي او نيك کاروکړي ددوئ رب دوی ته ددوی دمومن کيدوپه وجه ددوئ مقصد [يعنی جنت]ته ورسوي ددوی [دځايونو]لاندي به نهرونه جاري وي دخوشحالئ په باغونوکي. ﴿ دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ۚ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ [څه وخت چه دوی جنت ته ورسيږي اوناڅاپه دجنت عجايبات ووينى نو دغه وخت به]ددوی دخولونه دا خبره ووځي چه سبحان الله او [کله چه په اطمينان [کښيني] هلته کيني اوخپل تير مصيبتونو اوتکليفونه او د دغي وخت دغيرفاني خوشحالی موازنه اوکړی] ددوی [ددغی وخت په خبروکي به] اخيري خبره داوي[الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ] لکه چه په نورواياتونو کي دي.[الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ][1]()

معارف او مسائل

په تيرو شوو آيتونو کښې د الله تعالی کامل قدرت، د هغه د حکمت د خاصو خاصو ننداړو، آسمانونو اوزمکې، د نمر او سپوږمۍ وغيره د پيدا کولو بيان سره د توحيد او آخرت عقيده په يو بليغ انداز سره ثابته کړې شوه، اوس د دې آيتونو نه په رومبو درې آيتونو کښې دا ښودلې شی چه د دنيا د داسې ښکاره نخښو او شهادتونو باوجود د انسانانو دوه ډلې جوړې شوې، يوه هغه ډله شوه چه د قدرت نشانيانو ته ئې هيڅ خيال او نه کړو، نه ئې خپل پيدا کونکې مالک اوپيژندو چه مونږه د دنيا د عامو ځناورو په شان يو قسم ځناور نه يو، رب العزت راته د ټولو ځناورو نه ډير زيات شعور او پوهه، عقل او فکر راکړې دې، ټول مخلوق ئې زمونږه خادمان جوړ کړې دی، نو زمونږ په ذمه خو به ئې هم څه کار لګولې وی چه د هغې حساب ورکول به هم زمونږ په ذمه وی او هغې د پاره به د حساب کتاب او د جزا سزا ورځ مقرر وی، کومې ته چه د

[1]) ترجمه: دالله لاکھ لاکھ شکر دے چه مونږنه ئې غم لرے کړو-

Scanned with Ca

قرآن کریم په اصطلاح کښې د قیامت او د حشر ،نشر ورځ وئیلې شي.بلکه هغوی خپل ژوند لکه د عامو ځناورو په شان تیر کړو په رومبو دوو آیتونو کښې د دغې خلقو خاص نخښې او ښودلې شوې او د هغوی د آخرت د سزا ذکر کړې شوې دې،او ئې فرمائیل چه چا سره زمونږ خوا ته د راتلو غم نشته او د هغوی حالت دادې چه د آخرت دائمی ژوند او د هغې راحت او تکلیف ئې هیر کړو او صرف د دنیا په ژوند راضی شو.

دویمه دا چه په دې دنیا کښې داسې بې غمه اوسیږي لکه چه دې ځای نه ئې د سره بل خوا ته تلل نشته او همیشه د پاره ئې هم دلته اوسیدل دي،د دوی په خوا خاطر کښې هم دا خبرې چرې نه راځي چه دې دنیا نه د هر چا رخصتیدل داسې یوه ښکاره خبره ده چه د هیچا په کښې شک نه شي کیدې او کله چه د دې ځای نه تلل یقیني دي نو هغه بل ځای د پاره خو څه تیاری کول پکار دي.

دریمه دا چه دا خلق زمونږ د آیتونو او نشانیانو نه په مخه بې پروا پاتې کیږي،که دوی په اسمانونو ،زمکه او د دې په منځ کښې په عامو مخلوقاتو باندې او په خپله په خپل نفس باندې پوتې قدرې هم غور کولې نو په حقیقت باندې پوهیدل څه گرانه خبره نه وه او دوی د بې وقوبې د دغې بې پروائې نه وتلې شو——د داسې خلقو سزا په آخرت کښې دا ده چه ټیکانه ئې د جهنم اور دې او دا سزا په خپله د دوی د خپل عمل نتیجه ده.

افسوس دې چه قرآن کریم د منکرانو او کفارو چه کوم علامات ښودلې دي،نن ورځ د مسلمانانو حالت بالکل هو بهو هغه شان دې،زمونږ امروزه کار روزگار او فکرونو او عملونو باندې چه نظر واچولې شي نو هیڅوک په دې نه پوهیږي چه د دې دنیا نه سوا مونږ سره بل څه فکر هم شته،بیا هم مونږه خپل ځانونه پاخه او سوچه مسلمانان گڼرو،حالانکه حقیقت دا دې چه پاخه او سوچه مسلمانان هغه څوک کیدې شي چه د هغوی په لیدو سره د الله تعالی یاد راځي او دا محسوسیږي چه دوی سره د لوئې هستې یره مل ده او د څه حساب کتاب فکر ئې په زړونو کښې چپې وهي،څنگه چه زمونږ پخوانی مشران تیر شوي دي،چنانچه د رسول الله ﷺ هم دغه حال وو سره د دې نه چه رسول الله ﷺ د گناه نه پاک وو،په شمائل ترمذی کښې راغلې دي چه رسول الله ﷺ به اکثر غمژن او فکرمن ښکاریدلو.[۱]

په دریم آیت کښې د هغه خوش قسمته خلقو بیان دې چا چه د الله تعالی د قدرت په نخښو کښې غور اوکړو هغه ئې او پیژندلو،په هغه ئې ایمان راوړو،او د ایمان په مقتضی باندې د عمل کولو په وجه د نیکو عملونو پابند شو——داسې کسانو د پاره الله تعالی د ښې بدلې بیان داسې فرمائي ﴿أُولَٰئِكَ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَانِهِمْ﴾ یعنی د دوی پروردگار به دوی ته د ایمان په وجه منزل مقصود یعنی جنت اوښائي چه په کښې به د آرام او راحت په باغونو کښې نهرونه بهیږي.

په دې کښې د هدایت لفظ راغلې دې چه مشهوره معنی ئې لار ښودل دي،او کله منزل مقصود ته د رسیدلو معنی هم ورکوي،په دې مقام باندې هم دغه معنی مراد ده،منزل مقصود نه مراد جنت دې،چه وضاحت ئې په ورستو بیان شوي الفاظو کښې شوې دې.څنگه چه د اولنې ډلې سزا د هغوی د بدو عملونو نتیجه وه هم دغسې د دویمې ډلې چه د مومنانو ده په باره کښې ئې

---

۱) شمائل ترمذی، باب کیف کان کلام رسول الله صلی الله علیه وسلم: ص ۲

اوفرمائيل چه دا بهترين اجر دوی ته د دوی د ايمان په وجه ملاو شو.هر کله چه دلته ايمان سره د عمل صالح ذکر راغلی دې نو په دې وجه به د ايمان نه هغه ايمان مراد وی چه ورسره ئې نيک عملونه هم وی،مطلب دا چه دايمان اوعمل صالح د بې مثله راحتونو اونعمتونو مقام جنت دې.

په څلورم آيت کښې د جنتيانو هغه مخصوص حالات بيان شوې دی چه جنت ته د رسيدو نه پس به ئې وی اول دا چه ﴿دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ﴾ دلته د دعوی مشهوره معنی مراد نه ده چه مدعی ئې د حريف په مقابله کښې کوی بلکه دلته ئې معنی دعاء ده چه جنتيان به جنت ته په رسيدو داسې کوی[سبحنك اللهم] يعنی د الله تعالی تسبيح وائی.

دلته سوال دا پيدا کيږی چه په عرف عام کښې خو دعاء د يو څيز خواست کولو او مقصد طلب کولو ته وئيلې شی،خو په ﴿سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ﴾ کښې خو نه خواست شته او نه طلب شته،بيا ورته څنګه دعا وئيلې شوې ده؟

جواب ئې دا دې چه دلته دا ښودل مقصود دی چه جنتيانو ته به په جنت کښې هر راحت او هر مطلب د خپلې خوښې په انداز کښې پخپله حاصل وی،د يو څيز د خواست کولو او غوښتلو به هيڅ ضرورت نه وی،ځکه به د دعا په ځاې کومه چه د خواست او طلب عامه معنی ورکوی،د جنتيانو دعا دالله تعالی تسبيح وی،او هغه هم د دنيا په شان ديو عبادت د ادا کولو په ډول به نه وی بلکه دا به د لذت او خوند محسوسولو په خاطر وی چه په خپلې خوشحالې سره به﴿سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ﴾وائی.بله خبره دا ده چه په يو حديث قدسی کښې الله تعالی فرمائی،کوم بنده چه زما ثنا صفت هر وخت په دې شان بيانوی چه دعا غوښتلو د پاره هم ترې نه نۀ اوزګاريږی نو زه به ورته د ټولو غوښتونکو نه زيات غوره څيز ورکوم[1] يعنی بغير غوښتو به د هغه ټول کارونه پوره کوم په دې بنا هم﴿سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ﴾ته دعا وئيلې شی.

په دې لحاظ سره د صحيح بخاری او د مسلم په يو حديث کښې راغلې دی چه کله به رسول الله ﷺ ته څه تکليف يا پريشانی راپيښه شوه نو دا دعا به ئې فرمائيله:لااله الا الله العظيم الحليم،لااله الا الله رب العرش العظيم،لااله الا الله رب السموات ورب الارض ورب العرش الكريم.

امام طبری رحمه الله فرمائيلې دی چه پخوانو بزرګانو به دې ته د کرب[غم اومصيبت]دعا وئيله او د مصيبت او پريشانې په وخت به ئې د دې کلماتو لوستلو سره دعا غوښتله.تفسير قرطبی][2].

د امام ابن جرير او ابن منذر رحمه الله وغيره نه د يو روايت مطابق کله به چه د جنتيانو څه خواهش يا ضرورت وی نو[سبحنك اللهم] به وائی د دې په اوريدو به ورته فرښتې د ده د مطلب څيز حاضر کړی ګويا د [سبحنك اللهم] کلمه به د جنتيانو يوه خاص اصطلاح وی چه د دې په ذريعه به خپل خواهش ښکاره کوی او ملائيکې به ئې هر ځل پوره کوی[روح المعانی و قرطبی][3]په دې لحاظ سره هم﴿سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ﴾ته دعا وئيلې شی.

---

[1]) مسند البزار، رقم الحديث: ۳۷

[2]) صحيح البخاری، كتاب الدعوات، باب الدعاء عند الكرب: ج ۲، ص ۹۳۹، وصحيح مسلم، كتاب الذكر والدعاء الخ، باب دعاء الكرب: ج ۲، ص ۳۵۱، وتفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۳۱۳

[3]) تفسير الطبری رقم الحديث: ۱۷۵۷۳ وتفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۳۱۳، وتفسير روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ۷، ص ۳۳۲

د جنتیانو بل حال بیان کړې شو ﴿وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ﴾ په عرف کښې [تحیة] هغه کلمې ته وئیلې شي چه خلق ئې هر کلی د پاره استعمالوی لکه سلام یا خوش آمدید، پخیر راغلې، هر کله راشې، وغیره شو.

په دې آیت کښې اوښودلې شو چه د الله تعالی پخپله یا د هغه د فرشتو تحیة به سلام سره وی، یعنی دا زیرې به وی چه تاسو به د هر تکلیف او ناخوښه څیز نه په امن او سلامتیا کښې ئې، دا سلام پخپله د الله تعالی د اړخه هم کیدې شی لکه په سورت یس کښې فرمائی ﴿سَلَٰمٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ﴾ او د فرښتو د اړخه هم کیدې شی لکه بل ځاې کښې فرمائی ﴿وَالْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ۝ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم﴾ [یعنی په جنتیانو باندې به د هرې دروازې نه فرښتې ﴿سَلَٰمٌ عَلَيْكُم﴾ وئیلو سره داخلیږی] او دا دواړه څکه کیدې شی چه کله به پرې الله تعالی سلام وائی او کله به پرې فرښتې وائی، ــــــ د سلام لفظ اګرچه په دنیا کښې دعا ده مګر جنت ته په رسیدو به دا زیرې څکه وی چه د جنتی هر یو مقصد به حاصل وی دعا او خواست او طلب ته به ئې هیڅ ضرورت نه وی [روح] [۱]

د جنتیانو دریم حال ئې دا اوښودلو ﴿وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ﴾ [یعنی د جنتیانو آخری دعا به ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ﴾ وی]

مطلب دا دې چه هر کله چه جنتیان جنت ته اورسیږی نو د الله تعالی په معرفت کښې به ئې ترقی کول نصیب شی، لکه چه حضرت شهاب الدین سهروردی رحمه الله په خپله یوه رساله کښې فرمائی چه عامو جنتیانو ته به په جنت کښې هغه مقام حاصل شی کوم چه په دنیا کښې عالمانو ته حاصل وی، عالمانو ته به هغه مقام حاصل شی چه په دنیا کښې د پیغمبرانو علیهم السلام وی او پیغمبرانو علیهم السلام ته به هغه مقام حاصل شی کوم چه په دنیا کښې د محمد رسول الله ﷺ وو او سردار د انبیاؤ محمد رسول الله ﷺ ته به هغه مقام حاصل شی کوم چه الله تعالی ته د انتهائی زیات نزدیکت مقام وی، کیدې شی چه دا هغه مقام وی کوم د پاره چه رسول الله ﷺ د دعا کولو ښودنه امت ته کړې ده.

خلاصه دا ده چه د جنتیانو ابتدائی دعا به ﴿سُبْحَٰنَكَ اللَّهُمَّ﴾ او اخری دعا به ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ﴾ وی، په دې کښې د الله تعالی دوه قسمه صفتونو ته اشاره ده، یو صفت د جلال دې چه د هر عیب نه د پاکیدو ذکر ئې په کښې دې او بل صفت د اکرام دې چه په کښې د هغه د بزرګۍ د ډیر لوئیوالی او د اعلی کمال بیان دې چنانچه د قرآن کریم په یو آیت ﴿تَبَٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَٰلِ وَالْإِكْرَامِ﴾ کښې دې دواړه قسمه صفتونو ته اشاره کړې شوې ده، چه غور اوکړې شی نو معلومیږی چه سبحانیت د الله تعالی د جلال صفت دې، او د ثنا، صفت جوګه کیدل ئې صفت د اکرام کیدې شی.

او د ترتیب طبعی په جوړ صفتونه د جلال د صفتونو د اکرام نه وړاندې دی څکه به جنتیان په اول کښې جلالی صفتونه د الله تعالی په لفظ د ﴿سُبْحَٰنَكَ اللَّهُمَّ﴾ بیانوی او په آخر کښې به ئې د

[۱] روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۷، ص ۳۳۲

Scanned with Ca

اكرام صفتونه د ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ﴾ لفظ سره بيانوي چه شپه ورځ به ئې هم دا كار وي.
د دې درې وارو حالاتو طبعي ترتيب به داسې وي چه هر كله جنتيان ﴿سُبْحَٰنَكَ اللَّهُمَّ﴾ وائي، نو الله تعالى به ورته په جواب كښې سلام وائي، د دې په نتيجه كښې به جنتيان [الحمد لله رب العلمين] وائي [روح المعاني] (١)

احكام او مسائل: امام قرطبي رحمه الله په احكام القرآن كښې فرمائيلي دي چه په خوراک ښښاک او تولو كارونو كښې، د جنتيانو د دې عمل په جوړ سنت طريقه داده چه شروع دې بسم الله سره كولې شي او په الحمد لله دې ختمولې شي، چنانچه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه الله تعالى دا خوښوي چه بنده كله خوراک ښښاک كوي نو په بسم الله سره دې شروع كوي او په فارغيدو دې الحمد لله وائي.

مستحب دا دي چه دعا كونكې دې په آخر كښې دا وائي ﴿وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ﴾ او قرطبي رحمه الله فرمائيلي دي چه زياته غوره خبره دا ده چه دې سره دې د سورت صافات دا آخرى آيتونه ﴿سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ﴾ هم اولولې. (٢)

وَلَوْ	يُعَجِّلُ	اللَّهُ	لِلنَّاسِ				
او كه چرې	جلتي كولې	الله	د پاره د خلقو				
او كه الله ﷻ خلقو ته بدي هم داسې زر							
الشَّرَّ	اسْتِعْجَالَهُم	بِالْخَيْرِ	لَقُضِيَ	إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ			
په رسولو د شر	پشان د زر غوښتلو د دوئ	نيكئ لره	نو فيصله شوې به وو	مهلت د عمل د دوئ			
ښكاره كولې	څومره چې دوئ د ښيګړې په باره كښې تلوار كوي	نو د دوئ نيته به [پخوا] پوره شوې					
فَنَذَرُ	الَّذِينَ	لَا يَرْجُونَ	لِقَاءَنَا	فِي طُغْيَٰنِهِمْ	يَعْمَهُونَ ۝		
نو پريږدو مونږه	هغه كسان	چې نه لري اميد	د ملاقات زمونږ	په سركشئ د هغوئ كښې	چې سرګردانه به وي		
وه] نو مونږ هغه خلق چې زمونږ د ملاقات اميد نه ساتي [پخپله سركشئ كښې سرو هلې برو هلې پريږدو							
وَإِذَا	مَسَّ	الْإِنسَٰنَ	الضُّرُّ	دَعَانَا	لِجَنۢبِهِۦٓ	أَوْ قَاعِدًا	
او كله چې	اورسيږي	انسان ته	تكليف	نو رابلي مونږه	پروت په اړخ خپل	يا په ناسته	
او كله چې په انسان باندې سخته راشي	نو هغه وخت كښې مونږ رابلي	هم په ملاسته هم په					
أَوْ قَآئِمًا	فَلَمَّا	كَشَفْنَا	عَنْهُ ضُرَّهُۥ	مَرَّ	كَأَن	لَّمْ	
يا په ولاړه	نو هر كله چې	لرې كړو مونږه	د هغه نه تكليف د هغه	نو تير شي	لكه چې	هغه هډو نه وو كړې	
ناسته او هم په ولاړه	خو بيا چې كله مونږ ترې تكليف لرې كړو	نو داسې [په مخه] روان شي	لكه				

(١) روح المعاني تحت هٰذه الآيات: ج ٧، ص ٢٣٢ نه ٢٢٢ پورې.
(٢) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ٨، ص ٢١٣
( ) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ٨، ص ٢١٣

يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ

اواز مونږ ته | دفع كولو دهغه ضرر ته چي رسيدلي ووهغه ته | دغه شان | ښائسته كړي شوي دي |

چي ده هډو په دغه سخته كښي مونږ رابللي نه وو | داسي دحد نه تيريدونكو خلقو ته

لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٢﴾ وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا

دپاره دحدنه داوړيدونكو خلقو | هغه عملونه | چي ووهغوئ | چي كول به ئې | اوپه تحقيق سره | هلاك كړل مونږه

دهغوئ كارونه ښائسته كولي شي | اويقيني طور مونږ ستاسو نه مخكښي ډير نسلونه تباه كړي دي

ٱلۡقُرُونَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم

خلق دزماني | چي ووُمخكښي ستاسونه | هر كله چي | ظلم اوكړوهغوئ | اوراغلي ووهغوئ ته | رسولان دهغوئ

هر كله چي به د حدنه تير شو | او هغوئ ته دهغوئ پيغمبران په واضحه دليلونو سره راغلي وو

بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٣﴾

دواضحه نښو سره | اونهٔ ووهغوئ | چي ايمان ئې راوړي وې | دارنګي | بدله وركوومونږه قوم | مجرمانوته

خو هغوئ د ايمان راوړلو خلق نه وو . | مونږ مجرمانو خلقو ته دغه شان سزاګاني وركوو

ثُمَّ جَعَلۡنَٰكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لِنَنظُرَ

بيا | اوګرځولي مونږ تاسو | روستو پاتي كيدونكي | په زمكه كښي | روستو دهغوئ نه | دپاره ددي چي اوګورو مونږه

بيا مونږ تاسو دهغوئ نه پس په مخ د زمكي نائبان جوړ كړني | د دي دپاره چي اوګورو

كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ﴿١٤﴾ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٖ

چي څه رنګي | عمل كوئ تاسو | اوكله چي | اولوستي شي | په هغوئ باندي | آيتونه زمونږه | واضحه

چي تاسو څنګه كارونه كوئي || وهر كله چي دوئ ته زمونږ څرګنده آيتونه اولوستي شي | نو څوک چي

قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا ٱئۡتِ بِقُرۡءَانٍ غَيۡرِ هَٰذَآ أَوۡ بَدِّلۡهُۚ

نو وايي هغه كسان | چي اميدنهٔ لري | د ملاقات زمونږ | راوړه | يو قرآن | چي بدل وي ددي نه | يابدل كړه دا قرآن

زمونږ دملاقات اميد نه لري | هغوئ وائي چي ددي نه بغير يو بل قران راوړه | ايا هم په دي كښي (الړه ډيره) تبديلي اوكړه

قُلۡ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلۡقَآيِٕ نَفۡسِيٓۖ إِنۡ أَتَّبِعُ

ورته اووايه | چي نهٔ ښائي | مالره چي بدل كړم دا قرآن | د طرفه | د نفس خپل نه | نهٔ كوم پيروی زهٔ |

ورته | ووايه چي څه داسي نشم كولي | چي د خپل خانه په دي كښي بدلون اوكړم | زهٔ خو په هغي حكم

إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ

مګر | دهغه حكم | چي وحي كيږي | ماته | بيشكه زهٔ | يريږم | كه نافرماني اوكړه زهٔ | درب زما | دعذاب

پسي روان يم | كوم چي ماته دوحی په ذريعه رارسی | كه زهٔ دالله ﷻ دحكم نا فرماني اوكړم | نو د (قيامت)

يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٥﴾ قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ

دورځي لوئ | ورته اووايه | كه چري غوښتلي الله | نهٔ به وو اوروليي ما دا قرآن | په تاسو | اونهٔ به

په ورځ دلويي عذاب نه ويريږم | ته ورته اووايه كه دالله ﷻ رضا وي | نو ما بهٔ دا كلام تاسو ته آوروليي نه وي

Scanned with Ca

أَدْرٰىكُمْ بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا

الله خبردر کړې وو تاسوته | په دې قرآن | نو يه تحقيق سره اوسيدلې وم زه | په تاسو کښې | ډير عمر

او نه به پرې الله ﷻ تاسو خبر کړې وئ او بيا زه خو په تاسو کښې ددې نه پخوا ډير عمر پاتې شوې يم

مِّنْ قَبْلِهٖ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ⑯ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

مخکښې ددې نه | آيا نه چلوئ عقل تاسو | نو څوك دې | زيات ظالم | دهغه چانه | چې اوتړی هغه

آيا تاسو دعقل نه کار نه اخلئ . | نو د هغه چا نه غټ ظالم به څوك وی | چې په الله ﷻ باندې د دروغو

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ

په الله باندې | دروغ | يا دروغ اوګڼړی | آيتونه دهغه | بيشکه شان دادې چې | خلاصې نهٔ شي موندلې

تهمت لګوی | يا دهغه ريښتونې نښې دروغ ګڼړی | بيشکه مجرمان نشی کاميابيدې

الْمُجْرِمُوْنَ ⑰

مجرمان خلق |

آسان ترجمه قرآن

اوکه الله تعالیٰ دې (کافرانو) خلقوته په بدئ (يعنې عذاب) ورکولو کښې هم دومره د تلوار نه کار اخستو څومره تلوار چه دوی په خير غوښتو کښې کوي نو ددوی مهلت به ختم کړې شوې وو (ليکن داسې تلوار څونکې دحکمت خلاف دهٔ) نو څوك چه مونږ سره (آخرت کښې) د ملاويدو اميد نه لري مونږ دوی لره د دوی په حال باندې پريږدو چه دوی په سرکشئ کښې حيران او پريشان وي.اوکله چه يو انسان ته تکليف ورسي نو هغه په ملاسته،په ناسته او ولاړه (هرحالت کښې) مونږ رابلی بيا چه مونږ کله دهٔ نه هغه تکليف لرې کړو نو دې داسې شی لکه چه دهٔ څه تکليف کښې مونږ هډو رابللې هم نه وو کوم خلق چه دحد نه تير ووځی هغوی ته خپل کارونه دغسې ښائسته معلوميږی اومونږ ستاسونه مخکښې (څو)قومونه په هغه موقع باندې هلاك کړي وو چه کله هغوی ظلم کړې وو. او دهغوی پيغمبرانو هغوی ته روښانه دلائل راوړي وو. اوهغوی داسې نه وو چه ايمان ئې راوړې وي.او داسې مجرمانو ته مونږ هم داسې بدله ورکوو بيا دهغوی نه وروستومونږ تاسولره زمکه کښې جانشين جوړ کړل دې دپاره چه دا وګورو چه تاسوڅنګه عمل کوئ؟ اوهغه خلق چه (آخرت کښې) څمونږ سره د ملاويدو اميد نه ساتي چه کله هغوی ته څمونږ آيتونه لوستې شي چه هغه بالکل واضح وي نوهغوی وائي چه: دا نه، چرته بل قرآن راوړه يا دې کښې بدلون وکړه (اې پيغمبره) ته ووايه چه : ما ته دا حق نشته چه څه په دې کښې د خپل ځان نه څه بدلون وکړم. څه د بل څه نه صرف د هغه وحې تابعداري کوم چه ما ته نازلولې شی که څه چرته د خپل رب نافرمانې وکړم نو څه ډيو زبردستې ورځې دعذاب نه ويريږم.ته ووايه چه که الله غوښتله نو ما به دا قرآن تاسو ته نه وو وئيلې . او نه به الله تاسو په دې باندې پوهه کړې وئ نو دې نه مخکښې خو ما تاسو کښې عمر تير کړې دې . آيا بيا هم تاسو دعقل نه کار نه اخلئ ؟ بيا د هغه کس نه به

لوی ظالم څوك وي چه په الله باندې دروغ جوړوي يا دالله آيتونه دروغژن گڼي؟ يقين وکړه چه مجرمان نه کاميابيږي.

خلاصه تفسير

﴿ وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ۖ فَنَذَرُ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ۝﴾ اوکه چيري الله تعالى زرپه خلکو [ددوی دزرغوښتلو موافق]په جلدئ سره نقصان واقع کولی لکه څنگه چه دوی دفائدی دپاره زرغوښتنه کوي [اوددي موافق هغه فائده زرواقع کوی دغه شان که نقصان ئی هم واقع کولی]نوددوی وعده [دعذاب]به زرپوره کيده[ليکن زمونږ حکمت چه اوس بيانيږی څنگه چه ددی مقتضی نده] پس [په دی وجه]مونږ هغو خلکو لره چه زمونږ سره دملاقات اميد نشته ددوی په حال [بی دعذاب نه يوځوورخی]پاتی کوو چه دوی پخپلی سرکشئ کښې سرگردانه گرځی [اودعذاب مستحق شی ، اوهغه حکمت هم داده

﴿ وَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْبِهِ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَائِمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَنْ لَمْ يَدْعُنَا إِلَىٰ ضُرٍّ مَسَّهُ ۚ﴾]

اوکله چی انسان ته [په دوی کښې بعضوته] څه تکليف رسي نو مونږ لره اوازکوي په ملاستي هم په ناستي هم په ولاړي [اودغه وخت ورته څه بت وغيره نه وی ياد : ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ] بياچه کله [ددې دعاء اوزارئ نه پس] مونږ دده هغه تکليف لری کړو نو بيا په خپل حالت راشی [اوزمونږ نه داسی بی تعلقه شی]چه گويا کوم تکليف چه ده ته رسيدلی وو دهغی لری کيدو لپاره ده کله هم مونږ نه وو بللی [اوبياهغه دشرك خبری شروع کړی :[نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوا إِلَيْهِ مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ أَنْدَادًا] دي.

﴿كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝﴾ دی دحدنه تيريدونکوته خپل [بد]عملونه داسی ښائسته معلوميږی [لکه چه مونږ ئی اوس بيان کړی دی]

﴿ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا ۙ وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ وَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ۝﴾ اومونږ ستاسونه وړاندی ډيرو ډلولره [په قسماقسمو عذابونو سره] هلاك کړي دی کله چه دوی ظلم [يعنی کفر اوشرك]وکړو حال دادی چه دوی ته ددوی پيغمبرانو هم دليلونه راوړي وو اودوی [په وجه دعناد سره]داسی کله وو چه ايمان ئی راوړی وی مونږمجرمانوخلکوته هم دغسی سزاورکوو [لکه چه اوس مونږ بيان کړه.

﴿ ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ۝﴾ بيا ددوی نه پس مونږ په دنيا کښې دهغوی په ځای تاسو لره اباد کړه ددی لپاره چه[په ظاهری طورسره هم] مونږ ووينو چه تاسو څنگه کار کوئ [چه ايا همدغه شان شرك اوکفر کوی که ايمان راوړئ].

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ ۙ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ ۖ﴾اوکله چه ددوی مخکی زمونږ اياتونه لوستلی شی چه بالکل صاف صاف دی نو داخلك کوموچه زمونږ طرف ته دراتلو اميد نشته[تاته] داسی وائی چه [ياخو]ددی نه سوا څه [پوره]بل قرآن راوړه [چه په هغی کښې زمونږ دمسلك خلاف مضامين تری حذف کړی اوددی بيان نه داهم معلومه شوه چه دغو خلکو قرآن لره کلام محمدی [ص] منلو الله تعالی جواب ورکوی چه] ته ورته داسی ووايه چه [علاوه ددی نه چه ددااسی مضامينو حذف کول څنگه دي پخپله] زمانه داسی نشی کيدې چه دخپل طرف نه

Scanned with Ca

پدي كښې ترميم وكړم [اوهر كله چه دبعضوحذف كول هم ممكن ندى نو دټولو حذف كول خو په طريقه اولى غير ممكن دى ځكه چه داخو بالكل زما كلام ندى بلكه دالله كلام دى كوم چه دوحى په ذريعه راغلى دى هر كله چه خبره داسى ده نو] زه خو ددى تابعدارى كوم كوم چه ماته دوحى په ذريعه راغلى دى.

﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴾ [اوفرضا خداى مكړه]كه زه [دوحى تابعدارى ونكړم بلكه]دخپل رب نافرمانى وكړم نوځه ديوي ډيرى لوئى ورځى دعذاب نه ويريږم [هغه چه دګنهګارو لپاره مخصوصه ده اوستاسوپه نصيب كښي دګناه په وجه ده پس زه خوددغى عذاب يادډى دسبب يعني ګناه جرائت نشم كولي

﴿ قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦ ﴾ اوكه دوى دي لره وحى نه منى اوستا كلام ئى منى نو] ته ورته ووايه چه [داخوظاهره ده چه داكلام خومعجزدى يوبشرپه دى نشي قادريدى خواكه زه يم اوكه تاسوپس] كه الله تـه منظوره وي [چه زه دامعجزتاسوته وانه اوروم اوالله تعالى زما په ذريعه تاسوته ددي خبردرنكړي]نو[په مابه ئى دانه ورنازل كړى پس]نه به ماتاسوته دا [كلام] اوروئى وواونه به الله تعالى تاسوته ددي اطلاع دركړى وه [پس هركله چې ئى تاسوته بيانوم اوزماپه واسطه تاسوته اطلاع كيږي نوددي نه معلومه شوه چه الله تعالى تـه ددي معجز كلام اورول اواطلاع كول منظورشواو اورول اواطلاع كول بغيردوحى نه په وجه ددي دمعجز كيدو ممكنه نده ،ددي نه معلومه شوه چه دانازله شوى وحئ اوكلام الهى دى].

﴿ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ځكه چه [اخر]ددى [كلام ظاهرولو]نه وړاندي هم يوه لويه برخه دعمرپوري زه په تاسوكي اوسيدلى يم [بياكه دازماكلام وي نوياخوبه ددومره وخته پوري يوه جمله هم ددي طرزنه وو وتلى اويا بياناڅاپه دومره لويه خبره جوړول داخوبالكل دعقل نه خلاف ده] بياآياتاسودومره عقل نلرئ [پس هركله چه ددى كلام الهى اوحقوالى ثابت شو اوبياهم زمانه ترميم غواړئ اودانه منئ نوپوهه شئ چه].

﴿ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ ﴾ ددغي سړي نه زيات ظالم څوك دى كوم چه په الله دروغ وتړي [الكه چه زمادپاره تجويزكوئ]يادهغه اياتونه دروغژن كوئ[الكه چې دځان دپاره تجويزكړي دي]. ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾يقيناداسي مجرمانولره به هيڅكله كاميابي نه وي [بلكه هميشه به په عذاب وي].

معارف او مسائل

د دې آيتونو نه رومبې آيت د آخرت د منكرو خلقو سره تړون داسې لرى چه هر كله هغوى د آخرت د عذاب نه يرولې شى نو هغې پورې په دې شان خندا كوى چه كه رښتيا دغه عذاب راتلونكې وى نو سمدستى ئې راوغواړې يا ولې دا عذاب زر تر زره نه راځى؟لكه چه نضر بن حارث وئيلې وو ؛يا الله كه دا خبره رښتيا وى نو په مونږ باندې د آسمان نه كانړى راو وروه يا څه بل سخت عذاب راباندې راوليږه۔

په دې رومبى آيت كښې د دې جواب داسې وركړې شوې دې چه الله تعالى خو په هر څه قادر دې،دغه وعده كړې شوې عذاب خو اوس اوس سمدستى هم نازلولې شى خو د خپل ژور حكمت او د خپل لطف او كرم په خاطر داسې نه كوى،دا نا پوهه خلق چه په خپل حق كښې دعا كوى او مصيبت طلب كوى، كه الله تعالى د دوى دا خبرې هم په داسې شان زر قبلولې ځكه ئې

چه ښه دعا اكثر قبلوي نو دوی ټول به هلاک شوي وو.

معلومه شوه چه الله تعالى ښه او د خير دعا د خپل عادت مطابق اكثر او زر قبلوي، او كله ئې چه د حكمت يا مصلحت په بنا زر قبوله نه كړي نو دا ورسره څه منافي نه ده، مگر كوم انسان چه د خپلې ناداني يا د غصې او خفگان له كبله خپل ځان يا بال بچ د پاره خيرې اوكړي، يا د آخرت د انكار په بنياد، عذاب د آخرت لوبه، تو قه گڼړي او خپل ځان د پاره سمدستي غواړي نو الله تعالى ئې سمدستي دغه بلنه او غوښتل نه قبلوي بلكه ډيل په دې غرض وركوي چه غور او فكر اوكړي او دغې انكار كولو نه منع شي، كه څه وخت ئې د خفگان غصې او زړه تنگيدو له خبرې كړې وي نو د دې په قبلولو كښې ئې ډيل ځكه كولې شي چه خپل ښه او بد اوپيژني او په انجام باندې ئې نظر كولو سره د دې نه منع شي.

امام ابن جرير طبري رحمه الله په روايت د قتاده رضي الله عنه او امام بخاري او مسلم په روايت د مجاهد رحمه الله نقل كړې دي چه دلته د خيرو نه مراد دا دې چه كله يو انسان د غصې په حالت كښې د خپل اولاد يا مال دولت د تباه كيدو خيرې اوكړي، يا په دغې ځيزونو باندې د لعنت الفاظ اووائي نو الله تعالى په خپل لطف او كرم سره دغه خيرې زر نه قبلوي.(۱) امام قرطبي رحمه الله دلته يو بل روايت داسې نقل كړې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ما د الله تعالى نه سوال كړې دې چه هغه، د خپل عزيز يا دوست د پاره د چا كړې خيرې قبولې نه كړي ـــــــ او شهر بن حوشب رحمه الله فرمائيلې دي چه: ما په بعضې كتابونو كښې لوستې دي چه كومې فرشتې د انسانانو په حاجتونو پوره كولو باندې مقرر دي هغوی ته الله تعالى په خپل فضل او كرم سره دا هدايت وركړې دې چه زما يو بنده په غم، خفگان او غصه كښې څه نقصاني خبره د خلې نه اوباسي هغه مه ليكئ [قرطبي](۲)

خو بيا هم د قبليدو وخت داسې وي چه د بنده د خلې نه وتې خبره سمدستي قبليږي، په دې بنا رسول الله ﷺ فرمائيلې دي چه خپل اولاد او مال د پاره هيڅرې خيرې مه كوئ، هسې نه چه دغه وخت د دعا د قبليدو وي او سمدستي دغه خيره قبوله شي [او تاسو پرې پښيمانه شئ] په صحيح مسلم كښې دا حديث د حضرت جابر رضي الله عنه په روايت د بواط د غزا د واقعې په ضمن كښې نقل كړې شوې دې.(۳)

د دې ټولو روايتونو حاصل دا دې چه د دې آيت اصل خطاب اگر چه د آخرت منكرانو ته دې چه هغوی د سمدستي عذاب راوستو غوښتنه كړې وه خو د دې په عموم كښې هغه مسلمانان هم داخل دي چه د غم، خفگان، يا د غصې له كبله خپلو ځانونو يا خپل مال اولاد د پاره خيرې كوي، چنانچه د الله تعالى عادت په خپل فضل وكرم سره دا دې چه داسې خيرې سمدستي ځكه نه قبلوي چه انسان ته د سوچ او فكر كولو موقع ملاو شي.

په دويم آيت كښې د توحيد او آخرت منكران په يو بل بليغ انداز سره د دې خبرې قائل كړې شوې دي چه په عامو حالاتو كښې كله چه دوی اسوده او په آرام وي، د الله تعالى او د آخرت په خلاف حجت بازي كوي او نور مخلوق الله تعالى سره شريكان گرځوي او هغوی نه د حاجت

(۱) صحيح البخاري، كتاب التفسير، سورة يونس وقال ابن عباس فاختلط به الآية: ج ۲، ص ۶۷۶

(۲) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۳۱۵

(۳) صحيح مسلم، كتاب الزهد، باب حديث جابر الطويل وقصة أبي اليسر: ج ۲، ص ۴۱۵

روائې امیدونه لري خو د مصیبت راتلو په وخت کښې دغې ټولو ته شا کړي او یواځې الله تعالی نه سوالونه کوي، په ناستې ملاستې او ولاړې الله تعالی لره بلي، خو چه الله تعالی ترې هغه مصیبت لرې کړي نو د هغه احسان بالکل هیر کړي او داسې ورته شا کړي چه ګویا دوی هیڅرې بللې نه وی او نه ئې ترې څه خپل حاجت غوښتې وی. دې نه معلومه شوه چه الله تعالی سره په حاجت روائې کښې څوک بل شریک ګرځونکی خلق د خپلې عقیدې باطلوالې پخپله وینی ګوری خو بیا هم په خپلې دغې باطلې عقیدې باندې ټینګ وی چه خالص ضد او عناد دې.

په دریم آیت کښې د دویم آیت زیات وضاحت او تاکید په دې شان شوې دې چه هر کله الله تعالی ډیل ورکړی نو څوک دې دا نه ګنړی چه ګنی عذاب بیخی نه شی راتلې، ولې چه په پخوانو قومونو باندې د هغوی د سرکشې او نافرمانې په سزا کښې مختلف قسم عذابونه هم په دې دنیا کښې راغلې دی. د رسول الله ﷺ په خاطر اګرچه په دې امت کښې عام عذاب راتلل بند شوې دی خو د الله تعالی د دې مهربانې له کبله خلق داسې بې باکه شوې دی چه د الله تعالی عذاب ته ډیر په بې باکې سره بلنه ورکوی، لیکن یاد لرې چه د الله تعالی د عذاب نه بې فکره کیدل په هیڅ حالت کښې څکه جائز نه دی چه الله تعالی په دې امت باندې د عام عذاب نه راوستو اګرچه وعده کړې ده مګر په خاص خاص کسانو او قومونو اوس هم عذاب راتلې شی.

په څلورم آیت کښې فرمائی: ﴿ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓئِفَ فِي الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ﴾ یعنی د تیرو شوو قومونو د هلاکولو نه پس مو د هغوی ځایونه تاسو ته درکړل او د زمکې واکمن مو تاسو جوړ کړې، خو دې نه مطلب دا مه اخلې چه د زمکې دا واکمنی مو درته ستاسو د مزو چړچو کولو د پاره درکړې ده، بلکه ستاسو امتحان اخستل د دې اصل مقصد دې چه تاسو به څنګه عمل کوې، چه د پخوانو امتونو د تاریخ نه په عبرت اخستو سره به خپل اصلاح کوې او که د حکومت او دولت په نشه کښې به مستیږې؟

د دې نه معلومه شوه چه د دنیا حکومت او اقتدار څه د فخر او ویاړ څیز نه دې بلکه دا یو داسې دروند پیټې دې چه ذمه داریانې ئې ډیرې دی.

د پنځم نه اتمه پورې څلورو آیتونو کښې د آخرت د منکرانو د یو غلط خیال او بې ځایه فرمائش تردید کول دی. دې خلقو نه خدای پیژندلو، نه د وحی او پیغمبرې د سلسلې نه خبر وو. پیغمبران ﷺ ئې هم د عامو انسانانو په شان ګنړل، په رسول الله ﷺ باندې د الله تعالی نازل کړې قرآن کریم ئې هم د رسول الله ﷺ کلام او تصنیف ګنړلو او په دې بنا ئې د رسول الله ﷺ نه دا غوښتنه اوکړه چه د دې قرآن په ځای مونږ ته بل قرآن راوړې څکه چه دا خو زمونږ د اعتقادونو او نظریو خلاف دې. زمونږ پلارانو، نیکونو به بتانو لره حاجت روا ګنړلو او د دې تعظیم به ئې کولو او قرآن کریم د دې برعکس خبرې کوی، ډیر داسې څیزونو او زمونږ رواوو معاملو ته حرام وائی، او بیا راته لا دا هم وائی چه د مرګ نه پس به بیا ژوندی کیدل وی او حساب کتاب ورکول به وی، دا ټول څیزونه زمونږ په پوهه کښې نه راځی څکه د دې منلو ته مونږ تیار نه یو اوس تاسو داسې اوکړې چه د دې په ځای بل قرآن کریم جوړ کړې په کوم کښې چه زمونږ د عقیدو او معاملو په خلاف هیڅ قسم خبرې نه وی، یا په کښې چاڼ اوکړې او دا قرآن د دې څیزونو نه پاک کړې.

قرآن کریم اول د دوی د غلط اعتقاد تردید اوکړو او رسول الله ﷺ ته ئې دا هدایت اوکړو چه

Scanned with Ca

تاسو ورته اووائي چه دا قرآن کريم زما خپل کتاب نه دې څکه په کښې د هيڅ بدلون راوستو توان نه لرم،زه خو صرف د الله تعالى د وحى تابع يم،که په خپل اختيار سره په دې قرآن کښې څه بدلون راولم نو سخت ګناهګار به شم او د نافرمانو خلقو د پاره د مقررشوى لوئې عذاب نه سخت يريږم څکه داسې نه شم کولې.

بيا ئې اوفرمائيل چه؛زه هر څه د الله تعالى د فرمان په تابعدارۍ کښې کوم که د الله تعالى دا خوښه وې چه دا کلام تاسو ته واو نه رولې شى نو نه به مې تاسو ته اورولې وو او نه به الله تعالى پرې خبر کړې وې او کله چه الله تعالى ته دا منظوره ده چه هم دا کلام تاسو ته واورولې شى نو څوک به داسې اوکړې شى چه په دې کښې به زره برابر کمې زياتې راولې؟

وريسې فرمائى چه دا کلام څکه خالص د الله تعالى کلام دې چه﴿فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرًا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ﴾ [يعنى تاسو خو لږ شان سوچ اوکړې چه د قرآن کريم د نازليدو نه وړاندې ما تاسو سره څلويښت کاله تير کړې دى،په دې موده کښې چرې تاسو زما نه شعر، کلام يا ليکلې مقاله نه ده اوريدلې، که داسې مې د خپله څانه څه کلام وئيلې شوې نو کم نا کم په دې څلويښت کاله کښې به مې څه خو وئيلې ووا د دې نه علاوه په دې څلويښت کاله کښې به تاسو زما د چال چلن معلومات اخستې وى چه ټول عمر مې دروغ نه دى وئيلې نو بيا به اوس ولې دروغ وايم؟دې نه په ډاګه ثابته شوه چه رسول الله ﷺ صادق او امين دې،قرآن ټول د الله تعالى کلام دې چه هم د هغه د اړخه راغلې دې.

ډيره ضرورى فائده: د قرآن کريم دې دليل پيش کولو يواځې دا مکمل کار او نه کړو چه قرآن کريم د الله تعالى کلام ثابت شو بلکه په عامو معاملاتو کښې د کره،کوټه د حق او د باطل د پيژندلو يو اصول ئې هم اوښودلو،هغه داسې چه کله چا ته يو مرتبه او منصب سپارل وى نو د هغه د قابليت او صلاحيت د معلومات اخستو بهترين اصول دا دى چه د هغه د تير کړى ژوند اندازه واخستې شى که تير شوې ژوند ئې په رښتياؤ او امانتدارۍ کښې تير کړې وى نو آينده کښې هم ترې ددې اميد کيدې شى او که تير شوى ژوند نه ئې د دې ثبوت نه شى موندې نو راتلونکى وخت د پاره يواځې د ده په دعوو او وعدو باندې اعتبار کول څه هوښيارى نه ده،نن صبا د عهدو او منصبونو په سپارلو کښې چه څومره غلطې کيږى اوبيا د هغې نه لوې فسادونه پيدا کيږى دهغې اصلى وجه داده چه دفطرت اصول پريږدى او رسمى څيزونوله دهغې ځاې ورکړى،

په اتم آيت کښې هم د دې مضمون زيات تاکيد داسې راغلې دې چه په دروغه باندې يو کلام لره الله تعالى ته په منسوب کولو سره د سخت عذاب ورکولو بيان دې.

وَيَعۡبُدُونَ　مِن دُونِ ٱللَّهِ　مَا لَا يَضُرُّهُمۡ　وَلَا
| اوداخلق عبادت کوى|ماسوادالله نه　|دهغې چى ضررنشى رسولې دوئ ته| اونه
اودوئ دالله ﷻ نه سوا دداسې څيزونو عبادت کوى | چې نه ورته نقصان رسولې شى |او نه فائده
يَنفَعُهُمۡ　وَيَقُولُونَ　هَٰٓؤُلَآءِ　شُفَعَٰٓؤُنَا　عِندَ ٱللَّهِۚ　قُلۡ
نفع رسولې شى دوئ ته|اووائى دوئ|چى دا | سفارشيان دى زمونږه|په دربار دالله کښى| اووايه اے نبى
او وائى چى دوئ دالله ﷻ په دربار کښې سفارشيان دى | ....ورته اووايه آيا تاسو

أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ

آیاخبرورکوئ تاسو | الله ته | په هغه څیز | چی معلوم نه دې هغه ته | په آسمانونو کښی | اونه په زمکه کښی

الله ﷻ ته دهغه خبرې نه خبروئی | کومې چې هغه ته نه خو په آسمانونو کښې معلومې دی | اونه په زمکه

سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ⑱ وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً

پاك دې هغه | اواوچت دې | دهغه څیزونه چه شریك کوی ئې دوئ | اونه وؤ | دا خلق | مګر | امت

کښې | هغه پاک دې | اوددوئ دشرک نه ډیر اوچت دې | او | په اول | کښې خلق په یو لار روان وو | بیا په

وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ

یو | روستو اختلاف اوکړو هغوئ | اوکه نه وې | خبره هغه | چی مخکښی فیصله شوی ده | دطرفه درب ستانه

کښې اختلاف پیدا شو | اوکه ستا د پروردګار د طرفنه اول یو خبره فیصله شوې نه وې | نو د دوی

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ⑲

نوخامخا به فیصله شوی وه | په منځ ددوئ کښی | په هغه څیز کښی | چی په هغې کښی | اختلاف کوی دوئ

په مینځ کښې به ددې | ختلاف په حقله [پخوا] فیصله شوې وه | اودوئ چې وائی چې ولې په ده

وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ ۖ فَقُلْ إِنَّمَا

اووائی دوئ | ولې نازله نه کړې شوه | په ده باندې | څه نښه | دطرفه درب خپل نه | نو اووایه | چی بیشکه

باندې [زمونږ دوینا مطابق] دخپل پروردګار نه یوه نښه نه راځی | نو ته ورته اووایه چې

الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانْتَظِرُوا ۖ إِنِّي مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِينَ ⑳

غیب علم | الله لره دې | نوانتظار کوئ تاسو | بیشکه زه | ستاسو سره | د انتظار کونکونه یم |

د غیبو اختیار صرف یو الله سره دې | نو تاسو انتظار اوکړئی | زه هم تاسو سره انتظار کونکې یم

آسان ترجمه قرآن

اودا خلق د الله نه علاوه د هغه (دروغو خدایانو) عبادت کوي چه دوی ته نقصان نه شي رسولې اونه فائده رسولې شي او وائي چه دا خلق څمونږ سفارش کوي الله څخه. (اې پیغمبره ! دوی ته) ووایه چه: آیا تاسو الله ته دهغه څیز خبر ورکوئ چه دهغې وجود دالله په علم کښې نه په آسمانونو او نه په زمکه کښې شته؟ (حقیقت دا دې چه) الله تعالی د داسې د هرقسم د شرکونه بالکل پاك او اوچت دې. او (شروع کښې) ټول انسانان د یو دین نه صرف د یو دین قائل وو بیا وروستو دوی څیلو کښې اختلاف وکړو اوجدا جدا شو. اوکه ستا د پروردګار د طرف نه یو خبره د اول نه فیصله شوي نه وې نو کومه معامله کښې چه دا خلق اختلاف کوي، دهغې فیصله به (دنیا کښې) شوی وه او دا خلق وائي چه: په دې نبی باندې د ده د رب د طرف نه څه نښه ولې نه ده راغلې؟ نه (اې پیغمبره ! په جواب کښې) ووایه چه: د غیبو خبرې خو صرف دالله په اختیار کښې دي — نو تاسو انتظار کوئ څه هم تاسو سره انتظار کوم.

خلاصه تفسير

﴿ وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ ﴾ اوداخلك [توحيد د] دالله پريږدي دداسي څيزونوعبادت كوي كوم چه [دعبادت نه كولو په صورت كي]نه دوى ته ضرر رسولې شي اونه دعبادت كولو په صورت كي]دوى ته نفع رسولې ی شي او[دځپل طرف نه بي دليله يوه نفع جوړوي]اوائى چه دا [معبودان] دالله سره زمونږ سفارشيان دي [پدى وجه مونږ ددوى عبادت كوو].

﴿ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ ته ووايه چه آياتاسوالله تعالى ته داسي شى ښائى كوم چه الله تعالى ته معلوم ندى نه په اسمانونو كښي نه په زمكه كښي [يعنى كوم شى چه د الله تعالى په علم كي نه وي دهغى واقع كيدل اووجود محال دى نوتاسوپه يومحال شي پسي ئى] الله تعالى پاك اولوى دى ددى خلكودشرك نه.

﴿وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ﴾او [اول]ټول بنى ادم په يوه طريقه وو [يعنى ټول موحدان وو څكه چه ادم [عليه السلام] دتوحيد دعقيدي سره راغلي ووده اولادهم تريوى زمانى پورى په دي عقيده اوطريقه وو]بيا[يځپلوكړيدوسره]دوى [يعنى بعضو]اختلاف پيداكړو[يعنى دتوحيدنه وګرزيدل مشركان شو.

﴿ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾اودامشركان خلك داسي دعذاب مستحق دي چه]كه يوه خبره نه وى كومه چه ستادرب دطرف نه اول مقررشويده [چه پوره عذاب به دوى ته اوس نه بلكه په اخرت كښي وركولى كيږي]نوپه كوم شى كښى چه داخلك اختلاف كوى ددوى قطعى فيصله به [په دنياكښى]شوى وه.

﴿ وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ ﴾ اوداخلك [په وجه دعناددسونومعجزوښكاره كيدوباوجود اوخاصكر دقرآن معجزه ليدواوددي د مثال نه دعاجزكيدوباوجود]داسى وائى چه په ده [يعنى محمد [عليه السلام] زمونږ دفرمائشى معجزونه]څه معجزه ولى نه نازليږى؟

﴿ فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانْتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِينَ ﴾ ته ووايه چه [دمعجزى اصل مقصد درسول رشتنوالى اوحقوالى ثابتول وي اودغه خوپه ډيرومعجزوسره شوى دى اوس دفرمائشى معجزو ضرورت بيخى نشته هان امكان شته چه ظاهرى شى اوياظاهرى نشى ددى تعلق دعلم غيب سره دى او]دغيبوعلم فقط څداى لره دى [ماته نشته]پدى وجه تاسو هم منتظراوسئ زه هم ستاسو سره انتظاركوم [چه ستاسو هريوفرمائش پوره كيږى اوكه نه اودفرمائشى معجزودنه ظاهرولوحكمت په قرانكريم كښى څو ځايه څودلى شوى دى چه ددي ظهورنه بعد دالله تعالى عادت دادى چه كه بياهم ايمان رانه وړى نوټول قوم هلاكولې شى الله تعالى ته ددى امت لپاره داسي عام عذاب منظورندى بلكه دوى لره ترقيامته پورى باقى ساتلو تقديرمقررشوى دى].

معارف او مسائل

كافران اومسلمانان دوه بيل بيل قومونه دى.د نسل او قوم په لحاظ بيل بيل قوم څرګول صبث او بې څاره دى:

﴿وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً﴾[يعنى د آدم [عليه السلام] اولاد په شروع كښې يو قوم او يو امت يواځې د

موحدینو وو، د کفر او شرک نوم هم په کښې نه وو، بیا چه توحید کښې ئې اختلاف اوکړو نو مختلف قومونه او مختلفې ډلې ترې جوړې شوې، د امت د یو والی او د مسلمانی زمانه تر د حضرت نوح ﷺ زمانې پورې وه، د حضرت نوح ﷺ په زمانه کښې کفر او شرک ښکاره شو چه حضرت نوح ﷺ ئې مقابله اوکړه [مظهری] .(۱)

د حضرت آدم ﷺ نه تر د حضرت نوح ﷺ پورې یوه اوږده زمانه ده په دغه زمانه کښې د بنیادمو نسلونه او آبادی په دنیا کښې ښه زیاته خوره شوې وه، چه رنګونه او د ژوند ټولې طریقې هم په کښې مختلف کیدل یوه طبعی خبره ده، مختلفو علاقو ته په ورغزیدو سره یقینا چه د دوی وطنونه هم ګڼ او بیل بیل شوې وو، خو قرآن کریم دغه نسبی، قبائیلی، د رنګ او وطن اختلاف لره چه فطری او طبعی څیزونه دی د امت د یو والی د پاره ضروری او نقصانی او نه بلل او نه ئې په دغه بنیاد باندې بیل بیل قومونه او بیل بیل امتونه او بلل، بلکه په دغه زمانه کښې دغه ټول خلق ئې یو امت اوبلل، البته کله چه دایمان په خلاف کفر او شرک خور شو نو کافران او مشرکان ئې بیل بیل امت اوبللو لکه وروستو فرمائی ﴿فَاخْتَلَفُوْا﴾ چنانچه د قرآن کریم بل یو آیت ﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ﴾(۲) دا مضمون نور هم داسې په ډاګه کړو چه د الله تعالی مخلوق اولاد آدم ﷺ لره په مختلف قومونو کښې تقسیمونکې څیز صرف د ایمان او اسلام نه اوریدل دی، ولې چه د نسبی او وطنی رشتو په اختلاف سره بیل بیل قومونه جوړیږی، په دې بنا باندې بیل بیل قومونه جوړول نوې بې وقوفی او نوې جهالت دی چه د نوې رڼړا پیدا وار دې، او نن صبا ډیر تعلیم یافته خلق دې نیشنلزم پسې شو چه زرګونه فتنې اوفسادونه ئې په بدوه دی، اعاذالله المسلمین منه۔

وَاِذَآ	اَذَقْنَا	النَّاسَ	رَحْمَةً	مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ	مَسَّتْهُمْ
او کله چې	ورواوڅکوؤ مونږه	خلقو ته	رحمت روستو	دهغه مصیبت نه	چې رسیدلې وی دوئ ته
اوهرکله چې مونږ [ناشکره] خلقو ته د رحمت خوند اوڅکوو(۳) اد مصیبت نه پس چې رسیدلی وی ورته					

(۱) التفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج ۵، ص ۱۷

(۲) ترجمه: الله هغه ذات دے چه تاسو ئې پیداء کړی نو بعضے په تاسو کښې کافر دی او بعضے په تاسو کښې مومنان دی

(۳) د اهل مکې حیله او دهوکه:- په اهل مکه باندې الله تعالی اووه کاله قحط مسلط کړو. هرکله چه هلاکت ته نزدې شو نو ویریدل او نبی کریم ﷺ ته ئې ددعا درخواست اوکړو. او وعده ئې اوکړه چه عذاب اوچت شی نومونږ به ایمان راوړو . ددوی په دعا سره الله تعالی فضا ښه کړه اوقحط لرې شو. نو دوی بیا شرارتونه شروع کړل . د الله تعالی آیتونه ئې په دروغه ګڼړل . اود هغه ذات رحمتونه او قدرتونه ئې نظرانداز کول . بلکه د الله تعالی د نعمتونو نسبت ئې ظاهری اسبابو بې اصل خیالاتو او وهمونوطرف ته کولو.

ددې په جواب کښې الله تعالی فرمائی چه ښه ده تاسوښه مکرونه اودهوکې اوکړئې . خویادساتئ چه ستاسو دهوکې اوحیلې یویولیکلې کیږی . هغه ټول دفتر به دقیامت په ورځ ستاسو په مخکښې وی . نو هرکله چه ستاسوهیڅ یودهوکه اوفریب دالله تعالی دفرښتونه پټ نه دی نو دالله تعالی دعلم نه به څنګه پټ شی. تاسوپه خپل مکر اوفریب کښې ئې د الله تعالی تدبیر ستاسودمکراوفریب نه زیات دې. هغه دمجرم واګې دومره سستوی چه مجرم دنشې په غفلت کښې وی اود سزا ...بقیه په راروانه صفحه

Scanned with Ca

إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِي آيَاتِنَا ۚ قُلِ اللَّهُ أَسْرَعُ

نو فوراً وي دوئ لره | بهانه | په آيتونو زمونږ کښې | دوئ ته اووايه | چې الله | زيات تيز دې

نو هغوئ زر زمونږ د آيتونو په حقله فريبونه شروع کړي | ورته اووايه چې الله ﷻ په فريبونو کښې

مَكْرًا ۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ الَّذِي

په لحاظ دپټ تدبير سره | بيشکه | فرښتې زمونږه | ليکي | هغه مکرونه چې کوئ تاسو | هغه | هغه ذات دې

هغوئ نه هم وړاندې دې | بيشکه چې زمونږ استاذې ستاسو فريبونه لګيا دي ليکي | [الله] هغه ذات

يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ

چې ګرځوئ تاسو | په اوچه کښې | او په درياب کښې | تردې پورې | چې کله | سوارۀ شئ تاسو | په کشتو کښې

دې چې تاسو (١) په اوچه مزکه او په سمندر کښې ګرځوي | تردې چې کله تاسو په کشتئ کښې سوارۀ شئ

وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا

اوروانې شي | ددغه خلقو سره | په باد | ښه موافق سره | او خوشحاله شي هغوئ | په هغې سره

او هغه بيړئ دا خلق د موافق بادونو په ذريعه روان کړي | او دوئ پرې خوشحاله شي

جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا

نو راشي هغه کشتئ ته | باد | تيز مخالف | او راشي هغوئ ته | چپې | د هرځائي نه | او ګمان وشي د هغوئ

نو په دې کښې پرې ناڅاپه د مخالف بادونو يوه چپه راشي | او د هرطرف نه پرې د اوبو چپې راخورې شي

أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللَّهَ

چې بيشکه هغوئ چې دی | احاطه اوکړې شوه | په هغوئ باندې | نو په دغه وخت کښې رابلي | الله

او دوئ پوهه شي | چې [بس] اوس سم راګير شو | نو هغوئ الله ﷻ ته آواز اوکړي | ډير په اخلاص

...بقيه دتيرمخ].. ورته هډو (دسره) تصور نه وي . هرکله چه د بدبختئ پيمانئ ډکه شي نو بيائې راونيسي لهذا عاقل ته پکار دی چه دالله تعالی نرمئ اوښه حالاتو په کتلو سره مغروره کيدل نه دي پکار نه ده معلوم چه دنرمئ نه پس څنګه سختئ راتلونکې ده . لکه څنګه چه مخکښې دبحرسفر په مثال کښې بيان فرمائي .

(١) بيا ارشاد فرمائي چه الله تعالی ستاسو دَ اوچې اولوندې دَ سفر دَپاره تاسو له آسانتئ راپيدا کړې او په اوبو کښې دننه هم هغه تاسو په خپله پناه او حفاظت کښې اخلي او چه کله تاسو په کشتو کښې نې هواګانې دا کشتئ چلوي نو تاسو د هغې په نرم رفتار يا تيزوالي باندې خوشحاليږئ. نوچې بالکل دَ خوشحالئ په وخت دا کشتئ دهوا تيزې چپې راګيرې کړي اوډ هرطرف نه موجونه وي نو ستاسو دا يقين پيدا شي چه اوس خو هلاک شو نو په دې وخت کښې په زارو زارو دَ الله تعالی نه دعا ګانې غواړئ، په دغه وخت کښې تاسو ته نه يو صنم ياد وي اونه يو بت، لات او هبل، بلکه هم مونږ ته چغې وهئ. نو چه کله الله تعالی تاسو د سمندر غاړې ته صحيح سالم اورسوي نو بيا زمونږ نه مخ اړوئ.انسان ډير ناشکره دې. دلته اونيلې شو چه ﴿دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ يعنی ډير مخلص جوړشی رابلل کوی،او دا وائي که ته مونږ ته د دې مصيبت څخه خلاصې راکړې نو مونږ به ډير شکر ګذار شو او چه کله هغه دوی ته نجات ورکړی نود الله تعالی په ملك کښې هغوی ناحقه شرارت کوی لکه چه په دوی چرې څه مصيبت راغلې نه وو.

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ

چي خالص کونکي وي | هغه لره | دين | که چرې | خلاصي راکړو تا مونږ لره | ددې مصيبت نه

سره | که تا مونږ [ددې طوفان] نه خلاص کړو | نو مونږ به ستا ډير ډير شکر ادا کړو

لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝ فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ اِذَا هُمْ

نو خامخا به شو مونږه | دشکر کونکونه | نو هر کله چي | خلاصي ورکړو دوئ ته الله | نو بيا دوئ

خو هر کله چي الله ﷻ ورته نجات ورکړي | نو لا ساعت تير شوې نه وي | چي دوئ د زمکي په مخ

يَبْغُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ

بغاوت کوي | په زمکه کښې | په ناحقه سره | اے | خلقو | بيشکه | بغاوت ستاسو (۱)

برناحقه سرکشي شروع کړي | ....اې خلقو! دا ستاسو سرکشي هم ستاسو په خپلو

عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ ۙ مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ

په نفسونو ستاسو باندې دي | نفعه | دژوند | ددنيا ده [وي کړئ] | بيا | مونږ ته | واپسي د ستاسو

سرونو راپريوتونکي ده | ددنيا ژوند [ديو څوورځو] فائده ده | [مزې په کښې اوکړئ] بيا هم مونږ

فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ اِنَّمَا مَثَلُ

نو مونږ به خبر درکړو تاسو ته | په هغه عمل | چي وئ تاسو | چي کوؤ به تاسو | بيشکه | مثال

ته واپسي ده | نو مونږ به درته ستاسو ټول کارونه ښه په ګوته کړو | د دنيا د ژوند حال خو بس داسې

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ

دژوند | ددنيا | پشان داوبو دي | چي نازلې کړي مونږه هغه | داسمان نه | نوګنړ اوشو | په دې سره

دي | لکه مونږ دېره نه اوبه راوروو | نو دهغې په ذريعه دزمکې نه ګنړ سبزي رازرغون شي | چي خلق او څاروي

نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ؕ حَتّٰۤى اِذَآ اَخَذَتِ الْاَرْضُ

پيداوار دزمکې | دهغې نه | چه خوراک کوي انسانان | او څاروي | ترهغې پورې | کله چي | واغستو زمکې

ټول ئې خوري | تر دې چي زمکه [په ښه شان] خپل رونق ته اورسيده | او ښائسته شوه

زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ

ښايست خپل | او ښائسته شوه | او خيال اوکړو | مالکانو دهغې | چي بيشکه هغوئ | قادر دي

او مالکانو ئې دا خيال اوکړو | چي د هغوئ په لاس کښې راتلونکي ده | په دې کښې [ناګهانه]

---

(۱) بيا ارشاد کيږي ﴿يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ﴾ اې خلقو ستاسو دَ بغاوت نقصان به په تاسو وي ښه ياد ساتئ چه په بل چا باندې به دَ دې هيڅ نقصان نه وي. لکه څنګه چه په حديث شريف کښې دي چه د الله تعالىٰ نه بغاوت او صله رحمي نه کول دوه داسې ګناهونه دي چه په آخرت کښې خو به عذاب وي ولې په دنيا کښې به هم ډير زر دَ دې سزا ملاويږي. (ابوداؤد:۴۹۰۲ ترمذي:۲۵۱۱) په دې نه پاتې کيدونکي دنيا کښې ستاسو دَ پاره دَ يوڅوورځومتاع ده بيا ستاسو واپس کيدل هم زمونږ طرف ته دي. اوچه کله زمونږ طرف ته واپس شئ نوستاسو په ټولو اعمالو به تاسو پوهه کړې شئ. او دَ دې به پوره پوره بدله درکولې شي. چاته چه ښه بدله ملاوشوې وي نو هغه خو به دَ الله تعالىٰ شکر اداکړي اوچاته چه سزا ملاوشي هغه به خپل ځان ملامت کوي.

Scanned with Ca

عَلَيْهَآ ۙ اَتٰىهَآ اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا
په فائده دهغې باندې انوراغې هغې ته | حکم زمونږه | دشپې | یا دورځې | نواوګرځوله مونږه هغه زمکه
زمونږ حکم ورته د شپې یا د ورځې اورسیدو | نو هغه مو داسې سپینه ډاګه کړه
حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ ۭ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ
ریبلی شوی | لکه چې نه اوسیدل هیڅوك هلته | پرون | دارنګې | واضحه بیانوؤ مونږه | آیتونه
لکه چې پرون په کښې هډو هیڅ نه وو | امونږ هم دغسې خپل آیاتونه په تفصیل سره بیانوو | هغه کسانو ته چې
لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝
دپاره دهغه قوم | چې فکر کوی |
دفکر نه کار اخلی |

آسان ترجمه قرآن

اود انسانانو حال دادې چه کله هغوی ته د رسیدونکی تکلیف نه پس مونږ په هغوی د رحمت مزه اوڅکوو، نوپه لږ وخت کښې هغوی زمونږ د نښو باره کښې چالبازی شروع کوی، (ورته) اووایه چه: الله ددې نه هم زر څه چال چلولې شی، یقیناً زمونږ فرشتې ستاسو ټولې چالبازۍ لیکی. هم دغه الله دې چه هغه په تاسو په اوچه کښې هم اوپه سمندر کښې هم سفر کوی تردې چه کله تاسو په کشتو کښې سواره یئ. اودغه کشتۍ خلق روان کړی د خوشګوارې هوا سره په اوبو دپاسه روانه شی اوخلق په دې خبره خوشحاله شی.نو اچانک په هغوی باندې یوه تیزه هوا راوالوځی، اود هرطرفه په هغوی باندې څپې راوچتې شی اوهغوی داګڼړی چه هغوی د هر طرفه ګیرشول. نوپه دغه وخت هغوی خلوص سره صرف په الله باندې اعتقاد کوی، صرف هغه رابلی (او وائی چه: یا الله!) که تا مونږ ته ددې (مصیبت نه) نجات راکړو نو مونږ به ضرور بالضرور په شکرګذارو خلقو کښې شامل شو لیکن کله چه الله هغوی ته نجات ورکړی نو زیات وخت نه وی تیرشوې چه هغوی په زمکه کښې په ناحقه سرکشی شروع کړی اې خلقو! ستاسو دا سرکشی په حقیقت کښې پخپله ستاسو خلاف پریوځی، اوس خو د دنیاوی ژوند مزې واخلئ آخربه مونږته ستاسو واپس راتلل وی، په هغه وخت به مونږ تاسوته وښایو چه تاسو به څه څه کول. د دنیاوی ژوند مثال خو داسې دې لکه چه مونږ د آسمان نه اوبه راووروليې، چه دهغې په وجه د زمکې نه زرغونیدونکی هغه څیزونه ښه راوټوکیدل، چه هغې لره انسانان او ځناور خوری، تردې چه کله زمکې خپل داکالی واغوستل، او ډول سنګار کولوسره ښائسته شوله اودهغې مالک پوهه شوچه بس اوس دا پوره زما په قابو کښې ده.نو د شپې یا د ورځې په وخت کښې څمونږ حکم راغې (چه دې باندې ډ آفت راغی) او مونږ هغوی د ښتې دلو شوې ونښو پشان داسې کړل لکه چه دوی پرون نه وو او دغه شان مونږ دا نښې د هغه خلقو دپاره صفا صفا بیانوو چه د سوچ او فکر نه کار اخلي.

خلاصه تفسیر :

حل لغات: عاصف تیزه سخته هوا: حصیدا کټ شوی فصل :کان لم تغن دادغنی بالمکان نه

مشتق دی یوخای کښي قیام کولوته واني.

﴿ وَإِذَآ أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِيٓ ءَايَاتِنَا ﴾ اوکله چه مونږ خلکوته پس ددېنه چه په دوی څه مصیبت راغلی وي دڅه نعمت مزه وڅکوو نوفورا خمونږ دایاتونوپه باره کښې شرارت شروع کړي [یعنی دډه تری وکړي اوتوقی مسخری وربوری کوي اوپه اعتراض اوعناد سره دنوررومعجزوفرمایشونه کوي اودتیر مصیبت نه عبرت نه اخلی پس معلومه شوه چه ددوی داعتراض اصل سبب دالله تعالی دنازلوکړومعجزواوایاتونونه دډه کول ددنیاپه نعمتونوکي د مستیدونه پیداشویده وراندي دعذاب زورنه ده چه].

﴿ قُلِ اللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴾ووایه چه الله تعالی به ددی شرارت سزا ډیر زردرکړي په یقین سره زمونږه فرشتې ستاسوټول شرارتونه لیکی [پس یواخې دانه چه په علم الهی کې محفوظ دی په لیکلوسره هم محفوظ دی].

﴿ هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ ﴾ هغه [الله]داسې دی چه تاسو په وچوبه اودریاب کښې ګرځوي [یعنی په کوموالاتواواسبابوسره چه تاسوګرځئ دغه ټول الله تعالی پیداکړي دي اودرکړيدي تردی چه[بعضې وخت]کله تاسوپه کشتئ کښي سواره ئې اودغه کشتئ خلکولره په موافق هواسره روان کړی وي اودغه خلك په [رفتارد]دي خوشحاله وي [پدي حالت کښې ناساپه]په دوی یوه چپه د [مخالفي] هواراشي.

﴿ وَجَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوٓا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ﴾اودهرطرف نه په دوی چپې راپورته شوی وی اودوی ګنې چه [په بدحال]ګیرشو [دغه وخت] .

﴿ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴾ ټول په خالصه عقیده سره الله لره په رابللوشی [چه ای الله]که ته مونږ لره ددی[مصیبت]نه بچ کړی نومونږ به خامخا حق پیژندونکی[یعنی موحدین]جوړشو[یعنی دغه وخت دتوحید په عقیده باندی قائم شی].

﴿ فَلَمَّآ أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ﴾بیاچه کله الله تعالی دوی لره[ددی هلاکت نه]بچ کړی نوفورا دوی په زمکه [یعنی دځمکې په مختلفو حصو]کښې په ناحقه سرکشي کونکي شي [یعنی په شرك اوګناه کښې اخته شی].

﴿ يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَٰعَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾
ای خلکو[واورئ]داستاسوسرکشي ستاسو وبال کیدونکی ده [بس]په دنیوی ژوند کښې [لږ ددی نه] فائده واخلئ بیاتاسولره زمونږ خواته راتلل دي بیا به مونږ تاسوته ستاسوټول کړي دروښایواوسزابه ئې درکړو].

﴿ إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ الْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ وَالْأَنْعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَآ أَنَّهُمْ قَٰدِرُونَ عَلَيْهَآ أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَٰهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ ﴾ بس ددنیادژوند حالات خوداسي دی لکه چه مونږ داسمان نه اوبه وورووبیاپه دي [اوبو]سره دځمکي شینکی کوم چه خاروي خوري ښه کن راوخیژی تردی چه دغه ځمکه کله خپل پوره رونق ونیسي اوښه خائسته شی [خائسته ښکاره شی شینکي سره] اوددی ځمکي مالکان ګمان وکړي چه اوس مونږ په [فصلونود]دی بالکل قابض شو نو[په داسي حالت کي دورخی یادشپي په دي زمونږ دطرف نه څه حادثه راپریوځی [لکه ږلئ یاسوکړه

یابل څه آفت] پس مونږ دي لره داسې صاف کړو چه ګویاپرون [دلته] دغه موجودنه وو.
﴿ کَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ۝ ﴾ [پس ددی نباتاتوپه مثل ددنیاژوند دی مونږدغه شان ایتونه صاف صاف بیانوو دداسې خلکو[دپوهولو]لپاره کوم چه سوچ کوي.

معارف او مسائل

﴿ قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا ﴾ د عربی لغت د مخې[مکر]پټ تدبیر ته وئیلې شی چه ښه او بد دواړه کیدې شی، د اردو ژبې د محاورې نه په دهوکه کښې مه پریوځې، چنانچه په اردو ژبه کښې د[مکر]الفظ دهوکې او فریب د پاره استعمالیږی چه د الله تعالی د شان سره جوړښت نه لری.
﴿ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ﴾ [یعنی ستاسو د ظلم وبال هم په تاسو راځی، دې نه معلومه شوه چه د ظلم وبال یقینی دې او د آخرت نه وړاندې په دنیا کښې د دې تیرول راتللې شی.
په حدیث شریف کښې راغلي دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل[چه الله تعالی د خپلولې پالونکو او خلقو سره د احسان او ښیګړې کوونکو بدله هم زر ورکوی[یعنی د آخرت نه وړاندې په دنیا کښې د دې برکتونه ښکاره کیږی]او د ظلم او خپلولې پریښولو بدله هم زر ورکوی[چه په دنیا کښې ئې هم سزا تیرول راځی]دا حدیث ترمذی او ابن ماجه روایت کړې دې په حسن سند سره([1])
او په یو حدیث کښې په روایت د حضرت عائشې رضی الله عنها راغلې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل؛ درې ګناهونه داسې دی چه د هغې وبال هم دهغې په کوونکو باندې راځی، د ظلم، بې لوظی او د دوهوکې تګې.[ابوالشیخ او ابن مردویه په تفسیر کښې روایت کړې دې، مظهری]([2])

لِقَوْمٍ　يَّتَفَكَّرُوْنَ۝　وَاللّٰهُ　يَدْعُوْٓا　اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ط　وَيَهْدِيْ　مَنْ
دپاره دهغه قوم | چې فکر کوی | اوالله | رابلی | کور د سلامتیاته | اولاره ښائی | هغه چاته
دفکر نه کار اخلی　| او الله [ددرې مقابله کښې] دسلامتیا کور ته رابلل کوی |او چاته چې ئې خوښه شی
يَّشَآءُ　اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ۝　لِلَّذِيْنَ　اَحْسَنُوا
چې اوغواړی هدایت دهغه | لارې نیغې ته | دپاره دهغه کسانو| چې نیکه لار ئې اختیارکړه
نو په نیغه لار ئې روان کړی | ....کوم کسان چې نیکان دی د هغوی دپاره
الْحُسْنٰى　وَزِيَادَةٌ ط　وَلَا يَرْهَقُ　وُجُوْهَهُمْ　قَتَرٌ　وَّلَا ذِلَّةٌ ط　اُولٰٓئِكَ
ښه بدله ده | اوزیات فضل | اونۀ به راخوریږی | په مخونو دهغوئ باند| رسوائی | اونۀ ذلت　| دا کسان
ښکلې بدله ده| او[د الله دیدار په کښې لا] زیاتې هم دې| دهغوئ په مخونو به نه تیاره راخوریږی او نه ذلت
اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ج　هُمْ　فِيْهَا　خٰلِدُوْنَ۝　وَالَّذِيْنَ　كَسَبُوا
صاحبان د جنت دی| هغوئ به | په هغې کښی| همیشه اوسیږی|او هغه کسان | چې کسب ئې اوکړو
دغه خلق جنتیان دی |اوهمیشه به په دې کښې اوسیږی |او چا چه ګناهونه کړی وی | نو د ګناه سزا به

[1]) جامع الترمذی، أبواب الزهد، باب منه قبیل أبواب صفة الجنة: ج ۲، ص ۷۷، وسنن ابن ماجة، کتاب الزهد، باب البغی: ج ۲، ص ۳۱۰
[2]) التفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج ۵، ص ۱۹ وکنز العمال رقم الحدیث: ۴۴۲۸۰

Scanned with Ca

السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍۢ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ

دبدو | نويدله | دبدئ | په قدر دهغې ده | اوخور به وی په هغوئ باند | ذلت | نه به وی دهغوئ دپاره

بده وی | اوذلت به پرې راخور شی | او هيڅوک به ئې دالله ﷻ د عذاب نه بچ نه کړی

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ

دالله نه | څوك بچ کونکې | الکه چی | راخوره شوی وی | په مخونودهغوئ باند | ټوټه | دشپې نه

دهغوئ په مخونو باندې داسې تيرې خورې ښکاری | الکه چې د تورې شپې ټوټې پرې راخورې

مُظْلِمًا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَيَوْمَ

توره | دا کسان | صاحبان دوور دی | هغوئ به | په هغې کښې | هميشه وی | اوپه کومه ورځ

شوې وی | هم دغه خلق دوزخيان دی | هميشه به په کښې [الوغړنا] پراته وی | ....او په کوم ورځ

نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ

چې راجمع کړومونږه | ټول | بيا به اووايو مونږه | هغه کسانوته | چې شرك ئې کړې دې | ودريږئ په خپل ځائې

چې مونږ دوئ ټول رايوځائې کړو | انو مشرکانو ته به اووايو | چې تاسو او ستاسو [جوړ کړی] خدايان

اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ

تاسو | اوشريکان ستاسو | انولرې په کړونا اشناوالي | په منځ دهغوئ کښې | اواوبه وائي | شريکان دهغوئ

په خپل ځائې اودريږئ | انو بيابه د دوئ تر مينځه جدائی راولو | اودهغوئ [جوړ کړی] شريکان به

مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ۝ فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًاۢ

چې نه وئ تاسو | چې خاص مونږ لره | به عبادت کوئ تاسو | نو کافي دې | الله | په لحاظ دګواهئ سره

ورته اووائی | چې تاسو خو زمونږ عبادت هيڅکله نه کولو | الله زمونږ او ستاسو په مينځ کښې ګواه کافي دې

بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ۝

په منځ زمونږ | اوپه منځ ستاسو کښې | بيشکه وو مونږه | دعبادت ستاسو نه | بالکل ناخبره

چې مونږ خو ستاسو دعبادت نه خبر هم نه وو | نو په دغه وخت کښې به هر سړې دخپل عمل اندازه

هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ

په دغه وخت کښی به | [جاج واخلي] مزه اوڅکی | هر انسان | دهغه څه | چې مخکښی ئې کړی وی

اولګوی | چې دخان نه مخکښې ئې څه ليږلي وو | او ټول به خپل حقيقی مولی ته واپس کړې شی |

وَرُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

اوواپس به کړې شی | الله ته | مالك ددوئ | حق ته | اوورك به شی | ددوئ نه | هغه | چې وو دوئ

کوم معبودان چې ئې دخان نه جوړ کړی وو | هغه ټول به ترې ورک شی

يَفْتَرُوْنَ ۝ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

چې دخانه به ئې جوړول | اووايه | څوك | رزق درکوی تاسو له | داسمان نه | اودزمکې نه

ورته اووايه چې څوک تاسو ته د پورته او د زمکې نه روزی درکوی

اَمْ مَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ

يا څوک دي هغه|چې اختيار لري|د طاقت د اوريدو|او د طاقت دليدو|او څوک دي|چې رااوباسي ژوندي

يا څوک دي چې ستاسو د غوږونو او د سترګو مالک دي|او څوک دي چې د مړي نه ژوندي رااوباسي

مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ

د مړي نه|او رااوباسي مړي|د ژوندي نه|او څوک دي هغه|چې انتظام کوي|د هر کار

او د ژوندي نه مړي راوباسي|او څوک دي چې د هر کار انتظام کوي|نو دوی [به جواب کښې]

فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ

نو ضرور به وائي دوی|چې الله|نو اووايه اے نبي|آيا نو نه يريږئ تاسو|نو دغه|الله|رب ستاسو دي

او وائي|چې [د اهر څه] الله ﷻ کوي|ورته او وايه چې بيا ولې د شرک نه ځان نه ساتئ|نو هم دغه ستاسو

الْحَقُّ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝

حقيقي|نو څه دي|روستو د حق نه|مګر ګمراهي ده|نو کوم طرف ته|ګرځولې کيږئ تاسو|

حقيقي پروردګار دي|نو د حق نه پس نور څه پاتې شو|بغير د ګمراهئ نه|آخر دا تاسو په کوم اړخ روان يئ

آسان ترجمه قرآن

او الله خلقو لره د سلامتيا کور ته رابلي او چاته چه وغواړي نو نيغې لارې ته ئې رسوي کومو خلقو چه بهتر کارونه کړي دي بهترين حالت هغوئ دپاره دې .او ددې نه زياتې نور هم ! او د دوی مخونو ته به نه توروالې ورسي او نه ذلت . دوی د جنت والا دي. دې کښې به دوی هميشه وی. پاتې شو هغه خلق چه هغوی ګناهونه کړی دي .نو (دهغوی) د ګناه بدله به د هغې پشان بده وي او په دوی به ذلت خوروي او د الله (د عذاب) نه به دوی لره څوک بچ کونکې نه وي. دوی به داسې وي ګويا چه د دوی په مخونو باندې د تورې شپې ټوټې لګيدلې دي او دوی دوزخ والا دي او دې کښې به دوی هميشه وي. او (ياده کړه) هغه ورځ چه کله مونږ دوی ټول جمع کړو. بيا چه کومو خلقو شرک کړې وو هغوی ته به وو ايو چه :"لږ او درېږئ تاسو هم او هغه څوک هم چه تاسو د الله سره شريک کړي وو! بيا د دوی په مينځ کښې (د عابد او د معبود) چه کومه رشته وه هغه به مونږ ختمه کړو . او د دوی هغه شريکان به وائي چه: تاسو خو څمونږ عبادت نه وو کړې څمونږ او ستاسو مينځ کښې الله د ګواهئ دپاره کافي دې (چه) مونږ ستاسو د عبادت نه ناخبره وو. بيا هر يو کس چه تيره زمانه کښې څه کړي وي په دې موقع به ورته پته ولګي او ټول به خپل خالق حقيقي طرف ته واپس شي او کوم دروغ چه دوی جوړ کړي وو هغه به د دوی نه ورك شي. (اې پيغمبره !) دې مشرکانو ته) ووايه چه څوك دې چه تاسو ته د آسمان او زمکې نه رزق درکوي ؟ يا څوك دې چه د کتلو او د آوريدلو د طاقت مالك دې ؟او څوك دې چه ژوندې د مړي نه او مړې د ژوندي نه راوباسي؟ او څوك دې چه د هر يو کار انتظام کوي؟ لودا خلق به وائي چه: الله ! لو ته ووايه چه : بيا هم تاسو د الله نه نه ويريږئ؟ بيا خو اې خلقو! هغه الله دې چه ستاسو رښتينې مالك دې بيا د حق واضح کيدو نه وروستو ګمراهئ نه سوا نور څه پاتې شو؟ ددې باوجود تاسو چا کوم طرف ته ألټه روان کړی يئ؟

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ او الله کور دبقاته تاسو بلی او چاله چه
غواړی په نیغه لار د تلو توفیق ورلره ورکوی [چه په دی سره د آخرت کور طرف ته رسیدل کیدې
شي ورانده دی دجزا او سزا بیان دی چه].
﴿ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ ؕ ﴾ کوموخلکو نیکی کړیده [یعنی ایمان ئی راوړی دی] د دوي لپاره
ښه والی [یعنی جنت] دی او په دی باندی زیاتی [د الله دیدار]هم.
﴿ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾ او د دوی په مخونو به نه خړوالی
[دغم]خورشی او نه ذلت داخلك په جنت کی اوسیدونکی دي دوي به په هغی کي همیشه اوسی.
﴿ وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ ﴾ او کوموخلکو چه
بدکاروکړو [یعنی کفر او شرك ئی وکړو]دوی ته به دبدئ سزا ددی برابر میلاوشی [دبدئ نه به
زیاته نه وی]او په دوی به ذلت خورشی دوی لره به د الله [دعذاب]نه هیڅوك بچ نه کړې شی.
﴿ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ مُظْلِمًا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾ [ددوی د مخونو
خړوالی به په داسی حالت کښی وی چه] ګویا ددوی په مخونو باندی دتوري شپې ټکړې خوری
کړې شوی دی داخلك په دوزخ کښی اوسیدونکی دي همیشه به پکښي اوسیږی.
﴿ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ ﴾ او هغه ورځ هم دذکر قابله ده په کومه
چه مونږ دوی ټولو [خلکو]لره به په میدان دقیامت کي جمع کړوبیا [بېدي ټولوکی]مشرکانو ته
ووایو چه تاسو او ستاسو [تجویز کړې شوی]شریکان [کوم چه تاسو د الله سره په عبادت کی
شریك مقرر ول]پخپل ځای ودریږئ [چه تاسو ته ستاسو دعقیدي حقیقت درمعلوم کړې شي].
﴿ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ﴾ بیا به مونږ ددوی [عابدینو او معبودانو] په
منځ کښی اختلاف واچوو او ددوی هغه شریکان به [دوی ته]ووائی چه تاسوزمونږ عبادت نه دی
کړی [ځکه چه په عبادت دمعبود راضی کول مقصودوي].
﴿ فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴾ پس زمونږ او ستاسو په منځ کي الله
کافی ګواه دی چه مونږ ستاسو دعبادت نه هیڅ خبرنه وو [او راضی کیدل خو لاپریږدئ البته
دشیطانانو خودنه وه او هغه راضي وو پس پدی اعتبار سره تاسو دهغو عبادت کولو].
﴿ هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ وَرُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴾ په دي مقام به
هرسړی په خپل عمل پوهه شی [چه آیا واقعاً داعمل نفع مند وو او که نه وو چنانچه دي مشرکانو
ته به هم داحقیقت ښکاره شی چه دکوموعبادت چه مونږ دشفاعت په امید کولو هغوی زمونږ
خلاف شهادت ورکړو دنفعی به څه امید وکړې ی شی]او داخلك به د الله [ج] [عذاب]طرف ته
کوم چه ددوی حقیقي مالك دی واپس کړې ی شي او جوړ کړې شوي معبودان به تری غائب
[او ورك]شی [هیڅوك به نی پکار رانشی].
﴿ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ
مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ ﴾ ته [دي مشرکانو ته]ووایه چه [وښائی] هغه څوك دی کوم
چه تاسو ته د آسمان او ځمکی نه رزق درکوي [یعنی د آسمان نه باران وروي او دځمکي نه
فصلونه پیداکوي چه په دي سره ستاسو رزق تیاریږی]یا [داوښائی]چه هغه څوك دی کوم چه

[ستاسو]په غوږونواوسترګو کامل اختیارلري[چه پیداهم هغه کړه حفاظت ئې هم هغه کوي اوکه وغواړي نوبیکاره کولې ئې هم شي] اوهغه څوك دی کوم چه ساه دار[شی]له بی ساه [شی] نه را وباسی او بې ساه [شی] او ساه دار [شی] نه راوؤباسی[لکه نطفه اوهګۍ چه د ساه دار شی نه راوځي اودساه شی ترې پیدا کیږي]اوڅوك دی کوم چه دټولو کارونوتدبیر کوي [ددوی نه تپوس وکړئ] نوخامخابه دوی په [جواب کی] داووائی [چه ددې ټولو کارونو کوونکی]الله [دی]. ﴿فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾ نودوی ته ووایه چه بیا [دشرك نه]پرهیزولي نه کوئ

﴿فَذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۖ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ﴾ پس [دچا چه داصفتونه ذکرشو]دادی الله کوم چه ستاسو حقیقي رب دی [اوبیاهرکله چه حق ثابت شو]بیادحق نه پس نورڅه پاتې شو بغیر دګمراهئ نه [یعني دحق نه خلاف کارګمراهي ده اودتوحید حقوالی ثابت شوپس یقینا چه شرك ګمراهی ده]بیا[حق پرېږدئ]کوم خوا [باطل طرف ته]واپس ګرځئ.

معارف او مسائل

په تیر شوی آیت کښې د دنیوی ژوند او د دې د ناپائیدارۍ مثال د هغې فصل سره ورکړې شوې دې چه د اسماني اوبو په خړوبیدو سره ښیرازه شی او هر قسم ګلونه او میوې پرې اولګی، د فصل خاوندان پرې خوشحاله شی چه اوس به په دې سره زمونږ ټول ضرورتونه پوره کیږي،مګر د دوی د نافرمانیانو په وجه د شپې یا د ورځې زمونږ د عذاب څه پیښه پرې راغله چه داسې صفائي ئې کړل لکه چه دغلته د دې نه وړاندې هیڅ نه وو،دا خو د دنیا د ژوند حال شو وروسته د دې په مقابله کښې د دار آخرت حال بیان کړې شوې دې فرمائی؛

﴿وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَىٰ دَارِ السَّلَامِ﴾ [یعنی الله تعالی انسان لره دار السلام ته رابلی]داسې کور ته ئې رابلی چه سراسر سلامتی ده په کښې هیڅ تکلیف،غم او خفګان نشته،نه په کښې د بیمارۍ خطره شته،د فنا کیدو یا د حالت د بدلیدو فکرپه کښې نشته.

دارالسلام نه مراد جنت دې،دې ته دارالسلام په دې وجه هم وائی چه په کښې به هر جنتی ته سلامتی،امن او ارام حاصل وی.دویم دا چه بعضې روایتونو کښې دی چه جنت ته دارالسلام ځکه وئیلې شی چه په دې کښې اوسیدونکوته به د الله تعالی او د فرشتو د اړخه سلام وررسی بلکه د سلام لفظ به د جنتیانو اصطلاح وی چه خپل خواهشات به هم په دې لفظ سره ښکاره کوی او فرشتې به د هغې تعمیل کوی څنګه چه د دې نه په رومبو آیتونو کښې تیر شوې دی.

حضرت یحیی بن معاذ رحمه الله د دې آیت په تفسیر کښې عوامو ته د نصیحت په ډول فرمائیلې دی چه؛اې آدم ذاته،تاسو الله تعالی دارالسلام ته اوبللې،اې د آدم ځویه ته به د دې د پاره کله قدم اوچتوې؟ښه پوهه شه که د دې بلنې قبلولو په غرض دې که د دنیا نه د دې د پاره کوشش شروع کړو نو هغه به کامیاب شی او ته به دارالسلام ته اورسې،که دنیا کښې دې عمر تباه کړو او قبر ته په رسیدو دې ورله د قدم پورته کولو اراده اوکړه نو لار به درته ځکه بنده وی چه هغه دارالعمل نه دې.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمائي چه دارالسلام د جنت د اووه نومونو نه یو نوم دې [تفسیرقرطبی](۱)

۱) تفسیر القرطبي تحت هذه الآیة: ج ۸، ص ۳۲۹

Scanned with Ca

دي نه معلومه شوه چه په دنیا کښې د یو کور نوم دارالسلام ایښودل مناسب نه دی ځکه چه جنت یا فردوس نوم ایښودل هم درست نه دی.

وریسې فرمائی ﴿وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ [یعنی الله تعالی چه چا لره او غواړی نو سمې لارې ته ئې ور رسوی] مطلب دا شو چه دارالسلام ته د الله تعالی بلنه ورکول ټولو انسانانو د پاره عام دی او هم د دې معنی په اعتبار سره ټولو ته هدایت هم عام دې لیکن د هدایت خاص قسم خاص خاص خلقو ته داسې نصیب کیږی چه نیغې لارې ته بوتللې شی او په هغې باندې د تلو توفیق ورکړې شی.

په تیرو شوو دوو آیتونو کښې د دنیا او آخرت مقابله او د دنیا او آخرت د خلقو حالات بیان شوې دی، وریسې په څلورو آیتونو کښې د دواړه قسمه خلقو د جزا او سزا بیان دې، رومبی د جنتیانو بیان داسې اوشو چه کومو خلقو [د ټولو نه لویه] نیکی ایمان اختیار کړه او بیا په نیک عمل باندې ټینګ پاتې شو هغوی ته به د هغوی د عمل ښکلې او غوره بدله ورکولې شی او وریسې به نوره زیاتی بدله هم ورکولې شی.

چنانچه د دې آیت تفسیر پخپله رسول الله ﷺ داسې بیان کړې دی چه دلته د [ښې بدلې] نه مراد جنت دې او د [زیاتی] نه مراد د الله تعالی دیدار کول دی چه جنتیانو ته به حاصلیږی [تفسیر قرطبی د حضرت انس ﷛ په روایت] (1)

د جنت دومره حقیقت نه خو هر مسلمان خبر دې چه د هغې راحتونه او نعمتونه په دې دنیا کښې خو د هیچا په تصور کښې هم نه شی راتلې لیکن د هغې نه هم پورته زیاتی نعمت به د الله تعالی دیدار وی.

په صحیح مسلم کښې د حضرت صهیب ﷛ په روایت راغلې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل؛ چه کله جنتیان جنت ته داخل شی نو الله تعالی به ورته خطاب اوفرمائی چه آیا تاسو ته د څه بل څیز بل شی] ضرورت شته؟ [راته او وائې چه پوره ئې کړم ـــ جنتیان به وائی چه زمونږ مخونه دې روښانه کړل، جنت ته دې راوستو، جهنم نه دې خلاص کړو دې نه زیات به نور څه غواړو؟ دغه وخت به د منځ نه پرده لرې کړې شی او ټول جنتیان به د الله تعالی دیدار اوکړی. (2)

معلومه به شی چه د ټولو نه ډیر زیات لوئې نعمت هم دا وو چه زمونږ هډو ورته خیال شوی نه وو، او رب العلمین راته بې د غوښتونه په خپل فضل و کرم سره دا نعمت راوبخښلو لکه مولانا رومی ﷫ فرمائی؛

ما نبودیم و تقاضه ما نبود لطف تو ناگفتهٔ ما می شنود

[زمونږ غوښتنه خو ځکه نه وه چه مونږه نه وو؛ ستا مهربانې زمونږه ناوئیلې غوښتنه اوریدله].

او بیا ئې د جنتیانو دا حال بیان کړو چه د هغوی په مخونو باندې به څه خړ والی یا د تکلیف او غم هیڅ اثر نه وی او نه به پرې د ذلیلوالی څه اثر وی کوم چه په دنیا کښې هر انسان ته کله نا کله راپیښیږی او په آخرت کښې به جهنمیانو ته راپیښ وی.

بل اړخ ته ئې د جهنمیانو حال داسې بیان کړو چه کومو خلقو خراب عملونه اوکړل هغوی ته به

(1) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة: ج ۸، ص ۳۳۰، وصحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب اثبات رؤیة المؤمنین فی الأخرة ـــ الخ: ج ۱، ص ۱۰۰

(2) صحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب اثبات رؤیة المؤمنین فی الأخرة ـــ الخ: ج ۱، ص ۱۰۰

Scanned with Ca

د بدي بدله د بدي په برابر ملاويږي، چه هغي نه به زياته نه وي، د هغوی په مخونو به ذليلوالي راخور وي، د الله تعالى د عذاب نه خلاصوونكي به ئي هيڅوک نه وي، د هغوی د مخونو د توروالی به دا حال وي چه ګويا كښي د توري شپي قط په قط توتو كښي رانغښتي شوي دي.

وروستي په دوو آيتونو كښي هغه خبري اتري بيان شوي دي چه د جهنميانو او د دوی د ګمراه كوونكو بتانو يا شيطانانو تر منځه به په محشر كښي وي. چنانچه الله تعالى فرمائي: په دغه ورځ به مونږه ټول راجمع كړو، بيا به مشركانو ته اووايو چه تاسو او ستاسو تجويز كړي خدايان دي په خپل خپل ځاي اودريږی چه درته د خپلي عقيدي حقيقت معلوم شي، بيا به د دوی او د دوی د معبودانو تر منځه هغه ديووالی تار يعني مزي اوشلولي شي چه په دنيا كښي د دوی تر منځه موندي شو، نتيجه به ئي داوی چه د دوی بتان به پخپله اووائي چه زمونږ عبادت خو تاسو نه كولو، خداي به ګواه جوړ كړي او وائي به چه مونږ خو د سره نه څه پوهه لرله او نه مو څه حركت كولي شو او نه مونږ داسي عقل شعور لرلو چه په دغه مسئلو به پوهيدلو.

په شپږم آيت كښي د جنتيانو او دوزخيانو شريک حال داسي بيان كړي شوي دي چه په محشر كښي به هر څوک د خپلو كړو عملو جاج واخلي چه آيا د دوی دا عمل سود من وو او كه زيان من؟ او ټول به خپل حق معبود ته وراورسولي شي، او هغه ټولي اسري به ئي ختمي شي كومي به چه انسانانو په دنيا كښي لټولي، او مشركانو نه به هغه ټول باطل معبودان او بتان غائب شي چه په دنيا كښي به ئي خپل امداديان او سفارشيان ګڼړل.

په اووم او اتم آيت كښي قرآن كريم د حكمت او تربيت په انداز كښي د مشركانو د سترګو غړولو د پاره يو څو سوالونه قائم كړي دی، چنانچه رسول الله ﷺ ته الله تعالى فرمائي چه دي خلقو ته اووائي چه د اسمانونو او زمكي نه تاسو ته څوک روزي دركوي؟ د غوږونو او سترګو مالک څوک دي؟ چه اوريدل او ليدل پري هله كيدي شي چه هغه اوغواړی او چه وي غواړی نو بيكاره ئي كړی، او څوک دي چه د مړ څيز نه ژوندي پيدا كوی؟ لكه د خاوري نه زرغنه اونه، يا نطفي نه انسان او ځناور يا د اګي نه مارغه او د ژوندی نه مړي پيدا كوی؟ لكه د انسان او ځناور نه بي روحه نطفه، او څوک دي چه د ټولو كائناتو د كارونو تدبير كوی؟

بيا فرمائي چه كله تاسو ﷺ دغي خلقو نه سوال اوكړي نو ټول به هم دا وائي چه د دي څيزونو پيدا كونكي يواځي يو الله تعالى دي، نو ورته اووائي چه تاسو بيا ولي د الله تعالى نه نۀ يريږي؟ كله چه د دي ټولو څيزونو پيدا كونكي، د دي ټولو باقي لرونكي او د دي ټولو نه د كار اخستو انتظام كونكي يواځي الله تعالى دي نو بيا د عبادت او فرمانبرداري حقدار د هغه نه سوا بل څوک ولي جوړوي؟

په آخر د آيت كښي فرمائي ﴿فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۚ﴾ [يعني دا هم هغه ذات دي چه د كمال صفتونه ئي اوس اوس بيان شوي دی، بيا حق نه پس ګمراهي نه سوا نور څه دی؟] يعني كله چه د الله تعالى معبود كيدل برحق ثابت شو نو بيا د دي حق په پريښودلو سره بل چاته منځه كول څومره نامعقوله خبره ده؟.

د دي آيت د مسئلو او فائدو نه دا خبره د ياد لرلو ده چه دي آيت ﴿فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۚ﴾ نه دا ثابتيږی چه د حق او ضلال تر منځه بله هيڅ واسطه [منځو ميانه] حالت نشته. مطلب دا شو چه حق نه وي نو ضرور به ګمراهي وي او داسي هم نه شي كيدي چه يو كار دي نه حق وي او نه

باطل، او داسې هم نه شي کیدې چه دوه متضاد څیزونه دې حق وی، چنانچه په ټولو اصولو د عقائدو کښې دا قاعده د جمهورو په نزد منلې شوې ده، البته په جزئی مسئلو او د فقهې په جزئیاتو کښې د علماؤ اختلاف شته دې، د بعضو حضراتو په نزد په اجتهادی مسائلو کښې به دواړو جانبو ته حق وئیلې شی او جمهور په دې اتفاق لری چه په اجتهادی مسئلو کښې مخالف جانب ته ضلال او ګمراهی نه شی وئیلې کیدې.

كَذٰلِكَ حَقَّتْ　كَلِمَةُ　رَبِّكَ　عَلَى الَّذِيْنَ　فَسَقُوْٓا　اَنَّهُمْ

دارنګې حقه ثابته شوه | خبره | درب ستا | په هغه کسانو باند | چې نافرمانی ئې کړی ده | چې بیشکه هغوی

هم دغه ستاسو دپروردګار خبره | د ټولو فاسقانو په حق کښې پوره شوې ده | چې دوی به ایمان نه

لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝　قُلْ　هَلْ　مِنْ شُرَكَآئِكُمْ　مَّنْ　يَّبْدَؤُا

ایمان نه راوړی هیڅکله | اووایه | آیا شته | دشریکانو ستاسو نه | هغه څوك | چې په اول خل

راوړی | ورته اووایه چې ستاسو په [جوړو کړو] شریکانو کښې څوک هم داسې شته | چې په ړومبی

الْخَلْقَ　ثُمَّ　يُعِيْدُهٗ ؕ　قُلِ　اللّٰهُ　يَبْدَؤُا الْخَلْقَ　ثُمَّ

پیدا کول هم کوی (۱) | بیا | دوباره هم پیدا کوی هغه | ورته اووایه | چې الله | په اول خل پیدا کول هم کوی | بیا

خل [یو څیز] پیدا کړی | او بیا ئې سر دوباره ژوندې کړی | ورته اووایه چې الله ﷻ په اول خل پیدا کوی

يُعِيْدُهٗ　فَاَنّٰى　تُؤْفَكُوْنَ ۝　قُلْ　هَلْ　مِنْ شُرَكَآئِكُمْ

دوباره هم پیدا کوی هغه | نو کوم طرفته | اړول شوی یئ تاسو | اووایه | آیا شته | دشریکانو ستاسو نه

او دوباره هم | دا تاسو کوم طرفته اړولی روان یئ | ورته اووایه چې آیا ستاسو په [جوړو کړو]

مَّنْ　يَّهْدِيْٓ　اِلَى الْحَقِّ ؕ　قُلِ　اللّٰهُ　يَهْدِيْ　لِلْحَقِّ ؕ

هغه څوك | چې ښودنه کوی | طرف دحق ته | ورته اووایه | چې الله | ښودنه کوی | دپاره دحق

شریکانو کښې څوک هم شته | چې د حق په لار خلق روان کړی (۲) | ورته اووایه چې هم الله ﷻ دحق

---

(۱) **خالق او مالك دَ الله تعالی ذات دې** :- مشرکانو دَ الله تعالی سره غیرالله یوځائې کړو او دَ بتانو عبادتونه ئې شروع کړل دَ هغوی دَ دې دعوې ابطال کولې شی. فرمائی اې نبی ﷺ! دوی ته اووایه چه ستاسو په مقررشوو خدایانو کښې څوك شته چا چه دا آسمانونه او زمکې پیدا کړې وی. او چې په دې کښې کوم مخلوقات دی هغوی ته ئې وجود ورکړی وی. یا ئې دَ آسمان ستوری د خپل ځائ څخه اخوا کړی وی یا هغه بدل کړی یا هغه فنا کړی او دَ نوی سره بل مخلوق پیدا کړی. اووایه چې دا خو هم دَ الله تعالی کارونه دی نو بیا تاسو دا نیغه لاروې پریږدئی او دَ باطل طرف ته تکرې خورئی.

(۲) آیا څوك شته چه دَ حق طرف ته لارخودنه اوکړې شی داسې لار خودنه خو صرف الله تعالی کولې شی. په دې خبره تاسو پخپله پوهیږئی چه ستاسو شریکان یوکس هم په عمه لار نه شی راوستلې. هم الله تعالی داسې حیران او ګمراه ته هدایت کولې شی او دَ ګمراهئی نه دَ هدایت طرف ته دَ انسانانو زړونه راګرځولې شی. که چرې بنده دَ حق طرف ته راګرځونکی اتباع اوکړی ...بقیه په راروانه صفحه

Scanned with Ca

أَفَمَنْ يَهْدِيٓ إِلَى الْحَقِّ أَحَقُّ أَنْ يُتَّبَعَ أَمَّنْ

آیانو هغه څوك|چې ښودنه کوی|طرف دحق ته|زیات مستحق دي|چې پیروی ئې اوکړې شي|یا هغه څوك

سمه لار ښائي|څوك چې حقه لار ښائي هغه زیات حقدار دي|چې دهغه پیروي اوشي|که نه هغه څوك

لَّا يَهِدِّيٓ إِلَّآ أَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ

چې پخپله هم لار موندلې نشي|مګر|چې ورته لاراوښودلې شي|نوڅه شوی دی|تاسولره|داڅنګه

چې پخپله هم لار نه مومي|ترڅو چې ورته اونه خودلې شي|نودا په تاسو څه شوي دي|څنګه [اړولي]

تَحْكُمُونَ ۝ وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ

فیصلې کوئ تاسو|اونهٔ کوی پیروی|اکثر خلق ددوئ|مګر|دګمان|بیشکه|ګمان|نهٔ پوره کوی ضرورت

فیصلې کوئی|او په دوئ کښې زیات خلق خو خپلو ګمانونو پسې روان دی|او بیشکه ګمان دحق

مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۝

دحق نه|هیڅ قدرله|بیشکه الله|ښه پوهه دي|په هغه څه|چې دوئ ئې کوی|

په مقابله کښې هیڅ فائده نه ورکوی|الله ﷻ ددوئ د کارونونه خبردي|

آسان ترجمه قرآن

دغه شان چه کوم خلق نافرمانه دي د هغوی په باره کښې دا خبره رښتینې شوه چه دوی به ایمان نه راوړي ته ووایه چه: کوم خلق چه تاسو د الله سره شریکان کړیدي آیا په دوی کښې داسې څوك شته چه هغوی مخلوق په اول ځل پیدا کړي بیا (د دوی د مرګ نه وروستو) دوی لره دوباره پیدا کړي؟ ته ووایه چه: الله دي چه مخلوق په اول ځل پیدا کوي، بیا د دوی (مرګ نه وروستو) دوباره به یې پیدا کړي. بیا تاسو کوم طرف ته الټه واړولې شوئ؟ ته ووایه چه: څوك چه تاسو د الله سره شریکوئ نو دوی کښې څوك داسې شته چه تاسو ته د حق لار وښائي؟ نو ته ووایه چه الله دحق لار ښائي. اوس ووایئ چه څوك د حق لار ښائي هغه ددې خبرې زیات حقدار دي چه د هغه تابعداري ووهی. یا هغه (زیات حقدار دي) چه هغه ته هغه پورې صحیح لار نه وي معلومه ترڅوچه ورته ښودلې شوي نه وي؟ تاسوپه څه شوی دی؟

...بقیه دتیرمخ]... او دَ عقل نه کارواخلی نودا معلومه شوه چه دَ هیڅ هم هدایت نه شی کولې بلکه دَ خپل ړوندتوب په وجه دَ دې خبرې محتاج دي چه هم دَ ده لاس څوك اونیسی او روان ئې کړی. حضرت ابراهیم ﷺ فرمائیلې وو چه اې بابا! ته د ړوند کوڼ معبود عبادت ولې کوې چه ستا دَ هیڅ کار نه دې. اِو خپل قوم ته ئې هم فرمائیلی وو چه تاسوخلق هم د خپل لاس جوړ شووخیزونوعبادت پخپله کوئې. سره دَ دې چه تاسو او ستاسو معبودان ټول هم الله تعالی پیداکړی دی. ستاسو رائې څومره غلطه ده. ستاسو عقلونه چرته تلي دی. تاسو الله تعالی او دَ هغه مخلوق څنګه یو شان برابر برابر کړل. دا هم منئی او هغه هم منئی. اوبیا دَ الله تعالی نه اخوا شریکانوته تیتیږئی. دَ خاص رب جلیل عبادت ولې نه کوئې چه دَهغه عبادت اوکړئی اودګمراهونه بهر راوځئی. اودعاګانې خاص دَ الله تعالی نه ولې نه غواړئی. داخلق یو دلیل په کار کښې نه راولی بلکه دَ دې بت پرستئی بنیاد ئې دَ یو یقین په ځائې په ګمان او وهم باندې راوچت کړې دې خود دې نه به هیڅ هم حاصل نشی. الله تعالی دَهغوی په هر کارباندې ښه خبردار دې. داد دې کافرانود پاره تهدید اوسخت وعید دې څکه چه الله تعالی خبرورکوی چه ډیر زر به دوی ته دَ دې خپل کم عقلتوب سزا ملاوۀ شی.

Scanned with Ca

تاسو څنګه فيصله کوئ؟او (حقيقت دادې) چه دې (مشرکانو نه) ډيرداسې دي چه دوی بل څه نه صرف وهمی اندازو پسې روان دې .او دا يقينې خبره ده چه د حق په مقابله کښې وهمی اندازه څه فائده نه ورکوي يقين وکړه چه څه دا خلق کوي الله تعالى ته د هغې پوره پوره علم دې.

خلاصه تفسير

حل لغت: لايهدي دالفظ اصل کښې لايهتدي وه داعلال نه روستو لايهدي ترې جوړ شو د لايهتدي معنى معلومه ده يعنې هغه سړی چه هدايت نه مومي [مخکې تسلی ده نبي [ﷺ] ته چه ددې خلکوپه باطل پرستې به غمژن کيدونو ورته ارشاددی چه څنګه داخلك ايمان نه راوړي] ﴿ كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝﴾ دغه شان ستادرب دا [ازلی]خبره چه دوی ايمان نه راوړي دټولوسرکشانو په حق کښې ثابته شويده [پس ته ولی غمژن ئې او].

﴿ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝﴾ [ته [دوی ته] داسې [هم]ووايه چه آياتاسوپه دې [تجويزکړو]شريکانوکښې [په عام طور که ذوی العقول وي لکه شيطانان ياغيرذوی العقول وي لکه بتان]څوك داسې شته چه په اول وار هم [مخلوق لره] پيداکړي بيا [په قيامت کی] ئې دوباره هم پيداکړي [يعنی که دغه خلك په دې وجه چه په دې کښې ددوی دبتانوسپکاوئ ده په جواب کښې څه نه وائی نو]ته ووايه چه الله په اول وار هم پيدا کوی اوپه دويم ځل به هم پيداکړي [يعنی ددی تحقيق نه پس هم]بياتاسوکوم خواته [دحق نه]واپس کيږئ.

﴿ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ؕ﴾ [او]ته [دوی ته داسې هم] ووايه آياتاسوپه [تجويزشوذوی العقولو]شريکانوکښې لکه [شيطانان]څوك داسې شته چه د حق کاردلارې خودنه کوی ؟ته ووايه چه خاص الله دحق کارلار[هم]ښائی [چنانچه ده عقل ورکړوانبياء کرام ﷺ راوليږل په خلاف دشيطانانوچه اول خودوی په دې کارونوقادرنه دي او فقط تعليم چه قدرت ئې دوی ته ورکړشوی دی هغه دوی په غولولواوګمراه کولوکې صرف کوي]

﴿ اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۝﴾ نوبيا [دوی ته ووايه چه بياخووائی چه]آياکوم سړی چه حقه لاره ښائی هغه زيات دتابعدارئ حقداره دې ياهغه سړی چه بغيردخودنی نه ورته لارنه معلوميږی [اوددی نه سوابياپه دغه خودنه باندی هم نه ځئ په هغی لکه شيطانان بياچه کله دوی دتابعدارئ لائق ندي نوبياکله دعبادت لائق کيدی شی] نو[ای مشرکانو]په تاسو څه وشوداتاسوڅه جوړوئ [چه دتوحيدپه ځای شرك اختياروئ].

﴿ وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۝﴾ او[تماشه خوداده چه داخلك په خپل شرك څه دليل هم نلري بلکه]اکثرددوی صرف په بی بنياده خيالاتوروان دي [او]يقيناًبې اصله خيالات په حق کار[ثابتولو]کښې يوه ذره فائده هم نکوي [خير] دوی چه دا څه کوي الله پرې خبردی[په وخت به سزاورکړي].

مِنَ الْحَقِّ	شَيْـًٔا ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	عَلِيْمٌ	بِمَا	يَفْعَلُوْنَ ۝	وَمَا كَانَ	هٰذَا الْقُرْاٰنُ
دحق نه	هيڅ قدرله	بيشکه الله	ښه پوهه دي	په هغه څه	چې دوئ ئې کوي	او نه دي	دا قران
په مقابله کښې هيڅ فائده نه ورکوی	الله ﷻ ددوئ د کارونونه خبردې	او دا قران څه داسې کتاب نه دي					

اَنۡ یُّفۡتَرٰی　مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ　وَلٰكِنۡ　تَصۡدِیۡقَ　الَّذِیۡ　بَیۡنَ یَدَیۡهِ

چې جوړکړي شي اغیر　د　الله　نه | لیکن | تصدیق کونکي دي | دهغه څه | چې مخکښې ددۀ نه راغلي وو

چې د الله ﷻ نه سوا بل څوک دي په دوروغه جوړ کړي | بلکه د پخوانو کتابونو تصدیق کوي

وَتَفۡصِیۡلَ الۡكِتٰبِ　لَا رَیۡبَ　فِیۡهِ　مِنۡ　رَّبِّ　الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۳۷﴾

اوتفصیل　دي　دکتاب | نشته هیڅ شك | په دې کښې | چې دي دطرفه | دپرودګار | دکائناتونه

او د کتاب تفصیل ښائی | په دې کښې هیڅ شک شبه نشته | د ټول مخلوق د پروردګار دطرفنه راغلې

اَمۡ یَقُوۡلُوۡنَ　افۡتَرٰىهُ ؕ　قُلۡ　فَاۡتُوۡا　بِسُوۡرَةٍ　مِّثۡلِهٖ

ایا وائي داخلق | چې دخان ئې جوړ کړې دې داقرآن | ورته اووایه | نوراوړئ ایو سورت | پشان ددې

دې | ادوئ وائي چې دا [کتاب] ده په دروغه جوړ کړې دې | ورته اووایه چې ښه ده نو ددې پشان یوسورة ([1])

وَادۡعُوۡا　مَنِ　اسۡتَطَعۡتُمۡ　مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ　اِنۡ كُنۡتُمۡ　صٰدِقِیۡنَ ﴿۳۸﴾　بَلۡ

اوراغواړئ | هغه څوك | چې طاقت کيږي ستاسو | غیرد　الله　نه | که چرې یئ تاسو | صادقان |　بلکه

تاسوهم [جوړ کړئ] او دالله ﷻ نه سوا هرڅوک چې [مددله] راغوښتې شئ هغه راوبلئ | که تاسو رښتونی یئ

كَذَّبُوۡا　بِمَا　لَمۡ یُحِیۡطُوۡا　بِعِلۡمِهٖ　وَلَمَّا یَاۡتِهِمۡ

دروغ اوګڼرو دوئ | هغه څیز | چې چاپیره نهٔ شو دوئ | په علم دهغې باند | اولا نه دې راغلې دوئ ته

نه بلکه دوئ هغه څیز [هیڅ بې هیڅه] دروغ اوګڼره | چې دوئ دهغه په علم باندې پوهه نه ده راوستې | او ددې

تَاۡوِیۡلُهٗ ؕ　كَذٰلِكَ　كَذَّبَ　الَّذِیۡنَ　مِنۡ قَبۡلِهِمۡ　فَانۡظُرۡ

([1]) **کفارو ته دقرآن پاک چیلنج** : یعنی که ماجوړکړې راوړې وی نو تاسو هم څماپشان بشریئ تول یو ځائې شئ او یو سورت ددې پشان جوړکړئ . تول مخلوق ته دعوت ورکړئ تول جنات او انسانان جمع کړئ. دټول جهان فصیح او بلیغ لوست لیك والا او بغیرلیك لوست والا یوځائې شئ او داسې وړوکې شان سورة دقرآن پاك په سورتونو کښې جوړکړئ نو زه به هم اومنم چه قرآن پاك هم دیوبشر کلام دې . چه ددې مثل نورخلق راوړې شی . خودانامکن دی چه ترابده پورې مخلوق داسې اوکړې شي . قرآن پاك هغه کتاب دې چه په دې کښې تهذیب ، اخلاق ،تمدن ، معاشرت ، حکومت ، سیاست ، او معرفت، روحانیت ، دنفس پاکی ، دزړونو تنویر، غرض دا چه وصول الی الله اوتنظیم اودمخلوق فائدې اوهغه ټول قوانین اوطریقې موجود دی، چه ددې نه ټول علوم ددنیاپوره کیږی اوچه ددې ترتیب اوتدوین دیوامی قوم یو امې کس نه هم ددې امیدنشی کیدلې . بیاددې ټولوعلمونواوهدایتونو پوره کولو سره ددې کتاب ښکلې فصاحت اوبلاغت ، جامع اوموثراوښکلې طرز بیان ، موج روانی ، آسان اوعام فهم ، شائسته زیب کلام او ددې لذت اوخوند اوشهنشاهانه شان ټول هغه خیزونه دی چه دې په لونې زور وشور اواوچت والی سره ټول جهان ته دمقابلې کولو چیلنج ورکړې دی . چه په کوم وخت کښې دقرآن پاك جمال دغیبو پرده اوچته کړه اودحضرت آدم ﷺ اولاد نې ددی نه خبرکړو، نوددې هم دادعوه ده چه زه دالله تعالی کلام یم اوچه څنګه دالله تعالی دزمکې پشان اودالله تعالی دآسمان پشان ،پیداکولونه دنیا عاجزه ده . همداشان دقرآن پاك پشان قرآن جوړولو نه هم دنیا عاجزه ده . اود قرآن پاك ختمولو دپاره به خلق کوششونه کوی ، خوناکامه کیږی به اوخپل مدد دپاره ددنیالویولویو طاقتونو ته دعوت ورکوی . اوټول مصیبتونه لوخریږ به ددوی دپاره ممکن وی ، خوقرآن پاك پشان یو سورت به ددوی نشی راوړې. (قُلۡ لَّئِنِ اجۡتَمَعَتِ الۡاِنۡسُ وَالۡجِنُّ عَلٰۤی اَنۡ یَّاۡتُوۡا بِمِثۡلِ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ لَا یَاۡتُوۡنَ بِمِثۡلِهٖ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ ظَهِیۡرًا ﴿۸۸﴾) (بنی اسرائیل ع ۱۰)

Scanned with Ca

حقیقت دهغې | همدارنګې | دروغ ګنړلی وو | هغه کسانو | چې مخکښې ددوئ نه وو | نو اوګوره
انجام ورته لا ښکاره شوې نه دې | دغه شان پخوانو خلقو هم [دالله ﷻ کتابونه] دروغ ګنړلی وو | نو

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ۝ وَمِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ

څرنګې وو | انجام | دظالمانو | اوځینې ددوئ نه | هغه څوک دی | چې ایمان به راوړی
اوګوره چې د ظالمانو انجام څومره خراب شو || او څوک په کښې داسې دی | چې په دې کتاب به ایمان

بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ

په دې باند | اوځینې ددوئ نه | هغه څوک دی | چې ایمان به رانوړی | په دې باند | اورب ستا | ښه پیژني
راوړی || او څوک داسې دی چې ایمان به پرې نه راوړی || او ستا پروردګار فسادیان خلق ډیر ښه پیژني

بِالْمُفْسِدِيْنَ۝

فساد کونکی |

آسان ترجمه قرآن

او دا قرآن داسې نه دې چه دا چا دځان نه جوړ کړې وي الله نه وي نازل کړې، بلکه دا (وحي) دهغه خبرو تصدیق کوي کومې چه دې نه مخکښې راغلي دي، او الله چه کومې خبرې (لوح محفوظ کښې) لیکلې دي دهغې تفصیل بیانوي دې کښې لږ هم د شک ګنجایش نشته. دا دهغه ذات د طرف نه دې چه د ټولو جهانونو تربیت کوي بیا هم دا خلق وائی چه: پیغمبردا دخپل طرفنه جوړ کړې دې؟ ته ووایه چه: بیا تاسو هم ددې پشان یو سورت (جوړ کړئ) او راوړئ او (دې کار کښې مدد دپاره) دالله نه سوا چه چا لره رابللی نو راوبلئ، که تاسو رښتیني یئ. خبره اصل کښې دا ده چه د کوم څیز احاطه دوی خپل علم سره نه ده کړې نو هغې نه دوی دروغ وائي، او تراوسه لا ددې انجام هم ددوي مخې ته نه دې راغلې دغه شان چه کوم خلق دوی نه مخکښې وو هغوی هم (خپل پیغمبران) دروغژن کړي وو. بیا وګورئ چه دهغه ظالمانو انجام څنګه هو؟ په دوی کښې څه خلق داسې دي چه دې قرآن باندې به ایمان راوړي او څه داسې دي چه دې باندې به ایمان نه راوړي او ستاسو پروردګار فساد خورونکو لره ښه پیژني.

خلاصه تفسیر

﴿ وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝ ﴾ او دا قرآن دځان نه جوړ شوی ندی چه دغیرالله نه صادر شوی وي بلکه دا خو دهغو کتابونو تصدیق کوونکې دی کوم چه دده نه وړاندی [نازل] شوي دي او د[الله] دضروري حکمونو تفصیل بیانوونکی دی [او] په دې کښې څه خبره دشک [اوشبهې] نشته [اودغه] درب العلمین دطرفه [نازل شوي] دی.

﴿ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝ ﴾ آیا [سره ددې چه دځان نه جوړ شوي ندی] داخلك داسې وائی چه [نعوذبالله] تا دادځان نه جوړ کړیدی ته [دوی ته] ووایه چه [ښه ده] نو بیا تاسو هم عرب ئی او داعلی درجې فصیحان او بلیغان هم ئی ددې په مثل یو سورت [جوړ کړئ] راوړئ او [پراخې نه] کوم کوم غیرالله لره چه راغوښتلی شئ هغې هم [دمدد لپاره] را وبلئ که تاسو رشتوني ئی [یعنی چه نعوذبالله ما جوړ کړیدی نو تاسو هم

Scanned with

جوړ کړئ مګر مشکله خو داده چه په دا قسم دلیلونو سره فائده خو هغه چاته رسیږي کوم چه پوهیدل غواړي پس دوی خو چرته پوهیدل ندي غوښتلي]۔

﴿ بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ۝﴾ بلکه داسې شی ئی دروغجن کړود کوم [چه صحیح او غلط والی] ددوی دعلم په احاطه کی رانغی [اوپری ئی دخان پوهو لواراده ونکړه نو دداسی خلکونه دپوهه کیدو څه امید کیدې ی شی] او [ددوی ددی بی فکرئ او بی پرواهئ وجه داده چه] لا ترا وسه دوی ته ددی [قرآن دروغژن کولو] آخری نتیجه نده میلاو شوې [یعنی عذاب ندی راغلی ورنه تول نشه به ئی الوتی وه او سترګی به ئی غړیدلی وی او حق باطل به ورته ښکاره شوی وو لیکن بیا هم آخر دغه نتیجه مخی ته راتلونکی ده اګر چه دغه وخت به ایمان نفع نه ورکوی چنانچه] کوم [کافران] خلك ددوی نه وړاندی تیر شویدی دغه شان [لکه چه بی تحقیقه دوی دروغژن کول کوی] هغوی هم [حق لره] دروغژن کړی وو پس وګورئ چه ددغه ظالمانو انجام څنګه [ناکاره] شو [دغه شان به ددوی هم شی]۔ ﴿ وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِ ۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِينَ ۝﴾ او [مونږ چه ددوی کوم بدانجام ښایو پس ددی نه تول مرادندی څکه چه] په دوی کی بعضی داسی دی کوم چه پدی [قرآن] باندی به ایمان راوړی او بعضی داسی دی چه پدی به ایمان رانه وړی او ستارب [دی] فساد کوونکو لره ښه پیژنی [ایمان نه راوړونکو ته به په مقرره وخت کی سزا ورکړي]۔

معارف او مسائل

﴿وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ﴾ دلته د تاویل نه مراد نتیجه او انجام دې، مطلب دا چه دې خلقو د خپلې بې پروائې او بې فکرې په وجه په قرآن کریم کښې غور او نه کړو او د دې د دروغژن بللو خراب انجام ئې او نه پیژندلو، څکه د دې په دروغژن بللو کښې په مخه لګیا دی خو د مرګ نه پس به تول حقیقت ښکاره شي. او د خپلو کړو خراب انجام به ئې د غاړې هار شي۔

وَإِن كَذَّبُوكَ　فَقُل　لِّي　عَمَلِي　وَلَكُمْ
اوکه دروغ اوګڼړی دوئ تا | نو اووایه | زما دپاره | عمل زما دې | اوستاسو دپاره
او که دوئ [اوس هم] تا دروغژن ګڼړی [نو ورته اووایه چې ماله څما عمل بس دې [او ستاسو دپاره ستاسو
عَمَلُكُمْ　أَنتُم　بَرِيئُونَ　مِمَّا　أَعْمَلُ　وَأَنَا　بَرِيءٌ　مِّمَّا
عمل ستاسو دې | تاسو| ذمه وار نه يئ| دهغه عمل| چې زه ئې کوم| اوزه | ذمه وارنه يم| دهغه عمل
عملونه بس دی| تاسو څما دعمل ذمه وارئې نه بری يئ [او زه ستاسو دعملونو د ذمه وارئې نه بری يم [او څوک
تَعْمَلُونَ ۝ وَمِنْهُم　مَّن　يَسْتَمِعُونَ　إِلَيْكَ ۚ　أَفَأَنتَ　تُسْمِعُ
چې تاسوئې کوئ| اوځینی ددوئ نه | هغه خلق دی | چې غوږ ږدی | تاته | ایا نوته به |خبره واوروې
په کښې داسې دی [چې تاته غوږ نیسی [ایا ته به کڼړو خلقو ته خبره واورولې شې [اګرکه هغوئ
الصُّمَّ　وَلَوْ كَانُوا　لَا يَعْقِلُونَ ۝　وَمِنْهُم　مَّن　يَنظُرُ　إِلَيْكَ ۚ
کڼړوته| اګر که وی هغوئ | چې په هیڅ نه پوهیږی |اوځینی ددوئ نه | هغه خلق دی |چې ګوری | تاته
دعقل نه کار نه اخلی | اوڅوک په کښې داسې دی چې تاته ګوری |

Scanned with Ca

اَفَاَنْتَ تَهْدِی الْعُمْیَ وَلَوْ كَانُوْا لَا یُبْصِرُوْنَ۝ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ

آیانو ته به| لار اوښانې| ړندوته | اګر که وی هغوی| چی هیڅ نه وینی| بیشکه الله | نه کوی ظلم

نوآیا ته ړندو ته لارخودلې شې اګرکه هغوئ نه وینی| بیشکه الله ﷻ په خلقو باندې معمولی ظلم هم نه کوی

النَّاسَ شَیْــًٔا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ۝

په خلقو باندې| هیڅ قدرله | ولیکن | خلق | په ځانونو خپلو باند| ظلم کوی |

خودا خلق پخپله په خپلو ځانونو ظلم کوی|

آسان ترجمه قرآن

او (اې پیغمبره !) که دوی تا لره دروغژنوي نو (دوی ته) ووایه چه: ځما عمل ما دپاره دې او ستاسو عمل تاسو دپاره دې. څه چه څه کوم د هغې ذمه داري په تاسو نشته او تاسو چه څه کوئ د هغې ذمه داري په ما نشته. په دوي کښې څه داسې هم دي چه ځمونږ خبرو لره (ظاهر کښې) غوږ ایږدي (مګر زړه کښې د حق طلب نه لري دې وجې نه دوی حقیقت کښې کاڼره دي) نو آیا ته ګنړو ته آورولې شې خواه که هغوئ نه پوهیږي؟ او په دوی کښې څه داسې هم دي چه ستا طرف ته ګوري (مګر زړه کښې د انصاف نه کیدو د وجې نه دوی د ړاندو پشان دي) نو آیا ته ړندو ته لار ښائې خواه که هغوئ څه نه وینې ؟ حقیقت دا دې چه الله تعالی په انسانانو باندې ذره هم ظلم نه کوي لیکن انسانان دي چه په خپلو ځانونو خپله ظلم کوي.

خلاصه تفسیر

﴿ وَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّیْ عَمَلِیْ وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۚ اَنْتُمْ بَرِیْٓــُٔوْنَ مِمَّاۤ اَعْمَلُ وَاَنَا بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ۝ ﴾ او که چیری [ددی دلیلونو نه پس هم] تالره دروغژن کوی نو [بس اخری خبره] دا ووایه چه [ښه صاحبه] ځما عمل به ماته ملاویږي او تاسو ته به ستاسو د عمل سزا ملاویږی تاسو ځما د عمل جواب ورکوونکی نه نی اوزه ستاسو د عمل جواب ورکوونکی نه یم [په کومه طریقه چه غواړئ اوسئ تاسو ته به معلومه شی].

﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّسْتَمِعُوْنَ اِلَیْكَ ؕ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوْا لَا یَعْقِلُوْنَ۝ ﴾ او [ته ددوی نه د ایمان امید مکوه ځکه چه] په دوی کی [اګرچه]بعضی داسی [هم] دي کوم چه [په ظاهره تی] تا طرف ته غوږونه ایخودي وی ناست وی [لیکن په زړه کی ئی اراده د ایمان او حق طلبولو نشته پس په دی اعتبار سره ددوی اوریدل اونه اوریدل برابردی پس ددوی حالت د کڼو په شان شونو] بیا آیا ته کڼو ته اوروولی شی[او ددوی نه د منلو انتظار کولی]شی اګر چه دوی پوهه هم نه وی [البته که پوهه ئی وی نوسره د کوڼوالی نی هم څه کار کیدې ی شی].

﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّنْظُرُ اِلَیْكَ ؕ اَفَاَنْتَ تَهْدِی الْعُمْیَ وَلَوْ كَانُوْا لَا یُبْصِرُوْنَ۝ ﴾ او [دغه شان] په دوی کی بعضی داسی دی چه [په ظاهره] تالره [سره د معجزوالی او کمالونو] وینی [لیکن د حق د طلب نه کولو په وجه ددوی حالت د ړندو په شان دی نو] بیا آیا ته ړندوته لار ښودل غواړی اګرچه ددوی لیدل نه وي [البته که لیدل یعنی بصیرت ئی وی نو په ړوندوالی کښی به ئی هم څه کار شوی وو او چه ددوی عقلونه داسی تباه شوی دی نو].

﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ النَّاسَ شَیْــًٔا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ۝ ﴾ دا یقینی خبره ده چه الله تعالی په

Scanned with Ca

خلکوظلم نه کوی [چه دوی ته دهدایت قابلیت ورنکړی اوبیانی مواخذه کوی]لیکن پخپله
خپل ځانونه تباه کوی [چه ورکړې شوی قابلیت ضائع کوی اوکار تری نه اخلی.

وَيَوْمَ

| او په کومه ورځ

|اوهغه او په کومه ورځ |چې الله ﷻ به ئې راجمع کړی

يَحْشُرُهُمْ كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ

چې راجمع کړی الله دوئ لره| لکه چې | وخت تیر نه کړو دوئ([1]) | مګر | یو ساعت | د ورځ نه |
[نو ددنیا ژوند به ورته دومره لږ ښکاری] لکه چې دوئ په دنیا کښې هیله یو ګړئی پاتې شوی وو

يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ ؕ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ

چې پیژنی به یو بل | په خپل منځ کښی | یقینا په نقصان کښی پاتې شو | هغه کسان
په خپل مینځ کښې به یوبل پیژنی| هغه کسانو غټ تاوان اوکړو |چې د الله ﷻ ملاقات ئې دروغ اوګڼړلو هغوئ

كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ۝ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ

چې دروغ ئې اوګڼړو | ملاقات دالله | اونۀ وۀ هغوئ | نیغه لارموندونکی | اوکه | اوښایو مونږ تاته
هسې هم دلارې خلق نه وو | اوکه مونږ تاته دهغه عذاب څه قدرې اوښایو | چې دکومې هغوئ سره

بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

بعضې انجام| هغه| چې مونږدوئ سره وعده کړې ده| یاوفات کړومونږ تا| نوخاص مونږته|دی راتلل د دوئ
وعده کوؤ ([2])|یا مونږ تالره دهغې نه ړومبې وفات کړو| ددوئ به [په هر حال] کښې مونږ ته واپس کیږی

---

[1]) **د دنیاوی ژوند حقیقت** :- یعنی دمحشرهیبتناك حوادث کتلوسره د تول عمر عیش او آرام دومره لږ ښکاره شي لکه چه په دنیاکښې یو ساعت نه زیات نه وو ایسارشوی . اوافسوس به کوی چه تول عمرمو څنګه فضول اوبیکاره تیرکړو . لکه څنګه چه سړې یو ساعت دوه په ګپ شپ کښې تیروی . دهغه ځائې خراب تکلیفونو کتلوسره به خیال کوی چه ګنی په دنیاکښې مو هدو څه وخت تیر نه کړو چه دا وخت راباندې راغلو . یو ساعت دوه موتیرکړی نه وو چه داوخت راغلو . کاش چه دهغه ځائې قیام څه لږ ډیروې . نودا ورځ به موزر نه کتله بعضې مفسرینو وئیلی دی چه برزخ کښې به دایساریدو وخت یو ساعت ګڼړلې شی . والله اعلم .

[2]) **حضرت محمد ﷺ سره دشوؤ ومدوپوره کول** :- یعنی الله تعالی چې د حضرت نبی کریم ﷺ سره کفارو ته د عذاب ورکولواو د اسلام د غلبې چه کومې وعدې کړې دی چه په دې کښې څه وعدې ترڅه حده پورې پوره شوې ددوی ﷺ په موجودګئ کښې لکه څنګه چه په بدروغیره کښې اوخودلې شول . یا نبی کریم ﷺ وفات شو. ددې وجې د حضرت نبی کریم ﷺ په مخکښې ددې بعضو ظهوراونشو. بهرصورت دا یقینی دی چه هغه تولې به پوره شی . که دڅه مصلحت په وجه په دنیا کښې کفاروته سزا ورنکړې شی نو په آخرت کښې به ورکړی شی مونږ نه به چرته بچ شی؟. تول به مونږ طرف ته واپس شی اوددوی تولو اعمال زمونږ په مخکښې دی . حضرت شاه صاحب ...بقیه په راروانه صفحه

...بقیه په راروانه صفحه

Scanned with Ca

ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيدٌ عَلٰى مَا يَفْعَلُونَ ۞ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا

بیا الله| گواه دی | په هغه څه باند| چې دوئ نې کوی | اودپاره دهرامت| یو رسول دی(۱) | نو کله چې

او الله ﷻ ددوئ په کارونو ښه پوهیږي | ....او هر امت ته یو استاذي راغلې دي | نو هر کله

جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ

راشی| رسول دهغوئ| نوفیصله به کیږی | په منځ دهغوئ کښې | پوره په انصاف سره | اوپه هغوئ باندې

چې استاذې ورته راشی | نو د دوئ ترمینځ به په انصاف فیصله اوکړې شی|او لږ زیاتې به پرې هم نه کیږی

لَا يُظْلَمُونَ ۞ وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنتُمْ صٰدِقِينَ ۞

به هیڅ ظلم نهٔ کیږی | اووائی دوئ| چې کله به وی | دا وعده | که یئ تاسو | صادقان |

او دوئ وائی چې دا [عذاب] وعده بهٔ آخر کله پوره کیږی (۲) اکه تاسو رښتونی یئ |

...بقیه دتیرمخ]... لیکې چه د اسلام غلبه څه د حضرت نبی کریم ﷺ په زمانه کښې اوشوه اوباقی د وفات نه پس د خلفاء راشدینو په زمانه کښې . یعنی "نتوفینك" کښې دې طرف ته اشاره اوشوه .

(۱) **هر امت ته رسول لیږلې شوې دی**:- مخکښې ددې امت اوددې د رسول ذکر وو. اوس دعاموقومونو او امتونو ذکرفرمائی چه هرې فرقې اوهرقوم ته دالله تعالی دطرف نه احکام رسوونکی لیږلی شوی وو هغوی ته رسول وائی چه د الله تعالی حجت تمام شی او داتمام حجت نه مخکښې چاته عذاب نشی ورکولې خلق عمل دمخکښې نه کوی . خودنیاکښې دوی ته سزا درسول درسیدو نه او اتمام نه پس ورکولې شی.الله تعالی دا ظلم نه کوی چه دڅه خبرداری نه مخکښې اوالزام ثابتیدوته مخکښې مجرمانوته سزا ورکړی.په قیامت کښې به هم باقاعده پیشی کوی.فردجرم به ثابتولې شی اوگواه به پیش کیږی.هرقوم سره به دهغوی پیغمبرموجودوی.ددوی بیانات وغیره نه پس به ډیرانصاف سره فیصله کولې شی. (وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۞)(الزمر ۷)

(۲) **دَ قیامت عذاب دَ الله تعالی په قبضه قدرت کښې دی**:- الله تعالی فرمائی چه دا مشرکان په عذاب کښې تندی کوی اودَ عذاب دَوخت راتلونه وړاندې عذاب غواړی. په دې کښیې دَ دوی هیڅ ښیگړه نشته. کافران خو تندی کوی او مؤمنان دَ دې نه ویریږی او یقین ساتی چه عذاب به خامخا راځی سره دَ دې که د دې مقرر شوې وخت معلوم نه وی. دَ دې دَ پاره الله تعالی خپل نبی ﷺ ته جواب ښائی چه اووایه ورته چه زه دَ خپل ځان دَ پاره نه دَنقصان مالك یم اونه دَ فائدې مالك یم، زه صرف دومره وایم چه څومره ماته خودلې شوی وی اوکه چرته زه څه حاصلول غواړم نو په هغې باندې پخپله قادر نه یم ترڅوچه الله تعالی ما خبرنکړی. زه خودَ هغه بنده اوستاسو دپاره دَ هغه قاصد یم. ماتاسوته خبر درکړو چه قیامت به خامخا راځی خودَ هغه وخت ماته نه دې خودلې شوې. دَ هریوقوم دَ پاره یوه مقرره موده وی اوچه کله هغه موده ختمه شی نو په هغې کښې به نه دَ یوساعت وړاندیوالې وی او نه روستوالې. لکه چه فرمائی (وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا) کله چه دَ چا وخت راشی نو یوه ذره په هغې کښې روستوالې نه شی کولې. په کافرانوباندې به دَ الله تعالی عذاب ناگهانه راشی. که په شپه اوورځ کښې یووخت هم راشی نواوښائې څه به کوئ؟ په دې وجه تندی (تلوار) ولې کوئې؟ چه کله راشی نو هغه وخت به ایمان راوړئې؟ هغه به کله دَ ایمان راوړو وخت پاتې شی. هغه وخت به وئیلې شی چه واخلئی دَ کوم عذاب توندی (تلوار) چه مو کوله. هغوی به وائی یاالله مونږ اولیدلو ...بقیه په راروانه صفحه

Scanned with Ca

قُلْ　لَّآ اَمْلِكُ　لِنَفْسِيْ　ضَرًّا　وَّلَا نَفْعًا　اِلَّا　مَا　شَآءَ اللّٰهُ ؕ

ورته اووایه | چې زه اختیار نه لرم | د پاره د خان خپل | د ضرر | او د نفعې | مګر کیږي | هغه څه | چې اوغواړي الله

ورته اووایه | زه خو د خپل خان د ګټې او د تاوان هم هیڅ اختیار نه لرم | مګر څه چې الله ﷻ غواړي | هر یو امت

لِكُلِّ اُمَّةٍ　اَجَلٌ ؕ　اِذَا　جَآءَ　اَجَلُهُمْ　فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ　سَاعَةً

د پاره د هر امت | یوه نیټه ده | کله چې | راشي | نیټه د هغوئ | نو نه به روستو کیږي | یو ساعت

د پاره یوه نیټه مقرر ده | هر کله چې د هغوئ وخت پوره شي انو بیا نه یو ګړئ روستو پاتې کیدې شي

وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۝　قُلْ　اَرَءَيْتُمْ　اِنْ اَتٰىكُمْ　عَذَابُهٗ　بَيَاتًا

او نه به مخکښې کیږي | او وایه دوئ ته | آیا وینئ تاسو | که چرې راشي تاسو ته | عذاب د هغه | د شپې

او نه مخکښې تللې شي | ورته اووایه چې دا خو اووائې که د الله ﷻ عذاب درباندې د شپې

اَوْ نَهَارًا　مَّاذَا　يَسْتَعْجِلُ　مِنْهُ　الْمُجْرِمُوْنَ ۝

یا د ورځې | نو آخر دا کوم داسې څیز دې | چې تلوار کوي | د پاره د هغې | مجرمان خلق

یا د ورځې ناګهانه راشي | نو په هغې کښې داسې کوم څیز دې چې د مجرمانو ورته تلوسه ده

اَثُمَّ　اِذَا　مَا وَقَعَ　اٰمَنْتُمْ　بِهٖ ؕ　آٰلْـٰٔنَ

آیا بیا په هغه وخت کښې | کله چې | واقع شي | نو ایمان به راوړئ تاسو | په هغې | آیا اوس

آیا چې عذاب راشي نو هله به تاسو ایمان راوړئ | [داولې] اوس [ترینه څان بچ کوئ] | حال دا

وَقَدْ كُنْتُمْ　بِهٖ　تَسْتَعْجِلُوْنَ ۝　ثُمَّ　قِيْلَ　لِلَّذِيْنَ

حال دا چې وئ تاسو | چې په راتللو د دې سره | تاسو تلوار جوړه کړې وه | بیا به | او وئیلې شي | هغه کسانو ته

چې تاسو خو به د دې [عذاب] په حقله تلوار جوړ کړې وه | بیا به ظالمانو ته او وئیلې شي | چې د تل

ظَلَمُوْا　ذُوْقُوْا　عَذَابَ الْخُلْدِ ۚ　هَلْ تُجْزَوْنَ　اِلَّا

چې ظلم ئې کړې وي | او څکئ | عذاب د همیشوالي | آیا بله څه بدله به درکړې کیږي تاسو له | مګر

عمر عذاب خوند او څکئ | تاسو ته به د خپل عمل نه سوا نوره څه بدله درکیدې شي | او دوئ ستاسو نه

بِمَا　كُنْتُمْ　تَكْسِبُوْنَ ۝　وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ　اَحَقٌّ　هُوَ ؕ

بدله د هغه عمل | چې وئ تاسو | چې ګټلو به تاسو | او تپوس کوي دوئ ستا نه | چې آیا حق دی | هغه

تپوس کوي | چې آیا دا عذاب [په رښتیانه] برحق دې | ورته اووایه چې او | په خپل رب مې دې

...بقیه د تیر مخ]...او مونږ واوریدلو. عذاب سره په مخامخ کیدلو به وائي چه اوس مونږ یو الله تعالی منو او د نورو تولو معبودانو نه اعراض کوو. خو د هغه وخت ایمان هیڅ ایمان نه دې. د الله تعالی عادت خو په بندیګانو کښې داسې راروان وي. دې ظالمانو ته به وئیلې شي چه اوس د همیشه عذاب او څکئ. د څه شان به هغوی ښه رټلې کیږي او د کوم عذاب نه چه هغوی انکار کولو هم په هغه عذاب کښې به په دیکو دیکو ورتونبلې (د ننه کولې) شي. تاسو به ورته جادو وئیلو نو دا اوس جادو دې، نه بلکه تاسو پخپله رانده ئې. اوس که صبر کوئې او که نه کوئې د خپل بد عمل بدله به خامخا مومئ.

Scanned with Ca

قُلْ اِیْ وَرَبِّیْٓ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؔ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِیْنَ ﴿۵۳﴾

ورته او وایه | هو | او په رب م دقسم وی | چی بیشکه دا | بلکل حق دی | او نه یئ تاسو | عاجزه کونکی

قسم وی | چې دا بالکل حق دي | او تاسو [الله ﷻ] د هغې د راوستو نه عاجزه کولې نشئ

وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِی الْاَرْضِ

اوکه چری شی | دپاره دهر نفس | چی ظلم ئې کړې وی | هغه ټول دولت | چی په زمکه کښی دي

اوکه [دقیامت په ورځ] یو ظالم سره د ټولې دنیا ټول مال موجود شی | نو هم به ئې دخان

لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا

خامخا به په فدیه کښی ورکړی | دغه مال لره | اوپټه به کړی | پښیمانتیا | هر کله چی | اووینی دوئ

په فدیه کښې ورکړی | او [اول اول] عذاب اووینی نو پټ په زړه کښې به پښیمانه شی

الْعَذَابَ ۚ وَقُضِیَ بَیْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۵۴﴾

عذاب | اوفیصله به اوکړې شی | په منځ ددوئ کښی | په انصاف سره | اوپه دوئ به | هیڅ ظلم نه کیږی

اودهغوئ ترمینځه به په انصاف فیصله اوکړې شی | اوهیڅ زیاتې به پرې نه شی کولې

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَلَآ

واورئ | بیشکه | الله لره دی | هغه څه | چی په اسمانونو کښې دی | اوپه زمکه کښی دی | یاد لرئ

یاد لرئی چې هر څه چې په اسمانونو او په زمکه کښې دی | هغه ټول دالله ﷻ دی | یادساتئ چې دالله ﷻ

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُوَ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ

چی وعده دالله | حقه ده | ولیکن | زیات ددوئ | نه پوهیږی | هغه ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی

وعده ریښتونې ده | خو زیات خلق نه پوهیږی | هم هغه ژوندی کول کوی | او هم هغه مړه کول کوی

وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۶﴾

او خالص هغه ته | به واپس بوتللې کیږئ تاسو |

هم هغه ته به تاسو ټول واپس کیږئی |

آسان ترجمه قرآن

اوپه کومه ورځ چه دوی لره الله (په میدان د محشر کښې) جمع کړي نو دوی ته به داسې معلومه هې چه گویا چه دوی (دنیا یا قبر کښې) د ورځې د یو ساعت نه زیات نه وو سیدلی (دې وجې نه) دوی به یو بل خپل مینځ کښې پیژنې حقیقت دا دې چه هغه خلقو ډیر د تاوان سودا کړې ده چه هغوی دالله سره (په آخرت کښې) ملاویدو لره دروغژن کړی دی .او کوم چه سمې لارې ته رانغلل او(اې پیغمبره !) د کومو خبرو چه مونږ دې (کافرانوته) دهمکې ورکړې ده.خواه که مونږ ددې نه څه خبره تا ته (ستا په ژوند کښې) اوښایو یا دې نه مخکښې ستا روح واخلو. نو آخر دوی به مونږ ته واپس کیدې بیا (داخو ظاهره ده چه) دوی څه کوې الله هغه ښه پوره ویني (نو دوی ته به سزا ورکوي) او هر یو امت دپاره یو رسول لیږلې شوې دې بیا چه کله د دوی رسول راشې نو د دوی فیصله په انصاف سره کولې شي . او په

Scanned with Ca

دوی ظلم نه شي کولی او دا (کافر) خلق (دي مسلمانانو سره د ټوکو کولو دپاره) وائي چه: که تاسو رښتيني يئ نو (دالله د عذاب دا وعده) به کله پوره کيږي؟ (اې پيغمبره! دوی ته) ووايه چه: ځه خو خپل ځان ته هم د فائدې رسولو اختيار نه لرم، او نه دنقصان رسولو، مګر څومره چه دالله خوښه شي. د هر يو امت يو وخت مقرر دې. نو چه کله هغه وخت راشي نو د هغې نه يو ساعت نه دوی مخکښ کيدې شي او نه وروستو کيدې شي. دوي ته ووايه چه: ما ته ووايئ چه که دالله عذاب تاسو ته د شپې په وخت کښې يا د ورځې راشي نو هغه وخت کوم داسې د (د شوق قابل) څيز دې چه د هغې د زر راتلو دا مجرمان خلق مطالبه کوي؟ آيا هغه وخت چه عذاب راشي نو هغه وخت به تاسو هغې لره منئ؟ (هغه وخت خو به تاسو ته وئيلي شي چه) اوس منئ؟ حال دا چه تاسو دې نه انکار کړې وو او دا به مو زر غوښتلو! بيا به ظالمانو ته وئيلي شي چه: اوس د هميشه عذاب مزه وڅکئ تاسو ته د بل څه نه صرف د هغه (بدئ) بدله درکولې شي کومه به چه تاسو کوله. او دا خلق ستا نه تپوس کوي چه آيا دا (د آخرت عذاب) رښتيا دې؟ ته ووايه چه: ځما دې په خپل پروردګار قسم وي چه دا بالکل رښتيا دې او تاسو (الله لره) نه شئ عاجزه کولې. او کوم کس چه ظلم کړې وي که هغه شخصه د ټولې دنيا دولت هم وي نو هغه به د ځان خلاصولو دپاره د هغې پيش کشي کوي او کله چه عذاب پخپلو سترګو باندې وويني نو دوی به د خپلې پښيمانتيا پټولو کوشش کوي او د دوی فيصله به په انصاف سره کيږي او په دوی به ظلم نه کيږي ۝ ياد وساته چه آسمان او زمکه کښې چه څه دي صرف دالله دي. ياد او ساتئ چه دالله وعده رښتيني ده. ليکن اکثر خلق نه پوهيږي هغه ژوندي کول او مړه کول کوي. او هغه ته به ټول واپس کولې شئ.

خلاصه تفسير

﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَنْ لَمْ يَلْبَثُوٓا إِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ ﴾ اودوی ته هغه ورځ را یادکړه په کومه کښې چه الله تعالی دوی لره په داسې شان راجمع کړی چه [دوی به داوګڼي چه]ګویا دوی [په دنیا یابرزخ کښې]دټولې ورځې یوه ګنټه نیمه به پاتې شوی وی [ځکه دغه ورځ به اوږده هم وی اوسخته به هم وی په دی وجه به ددنیا اوبرزخ تکلیف بیخې هیرکړی داسې به ګڼي چه دغه زمانه بیخې زرتیره شوه اوپه خپل منځ کښې به یوبل پیژني [هم لیکن دیوبل مدد به نشی کولې په دی به ئې غم اوصدمه نوره هم زیاته شی ځکه چه دآشناخلکونه دنفع امیدوی]
﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ۝﴾واقعی [دغه وخت] په تاوان کی پریوتل هغه خلك کوموچه دالله خواته تلل دروغژن کړل اودوی [په دنیاکی هم]هدایت موندونکی نه وو [پدی وجه نن په خساره کی پریوتل.
﴿ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ۝﴾ پس ددوی د عذاب اصلي وخت خوداورځ ده دوی ته ئې وریادکړه]او[په دنیاکی په دوی باندی عذاب واقع کیدل یانه واقع کیدل ددی په نسبت داخبره ده چه]دکوم [عذاب]ددوی سره وعده کولې شی ددې نه څه لګ شان [عذاب]که مونږ تاته وښایو[یعنی ستاپه ژوند کښې پدوی ددی نزول وشی]یا[ددی دنازلیدونه مخکی] مونږتالره وفات کړو[بیاخواکه وروستونازل شی یانشی] پس [ددواړواحتمال شته یوطرف ضروری ندی لیکن په هرحال اوپه هراحتمال باندی] زمونږ طرف ته خوددوی راتلل خامخادی [بیابه تولوته معلومه شی چې الله تعالی ددوی په تولو

کارونو باندی خبردی سزابه پری ورکړی غرض په دنیاکی سزاوی اوکه نه وی مګر په اصل موقع به خامخاوی] او [داسزاکومه چه دوی ته تجویزشوی ده نودحاجت پوره کیدو اوعذرلری کیدونه پس شوی ده.

﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ اوددوی څه تخصیص نشته بلکه همیشه خمونږه داعادت دی چه کومو امتونولره مونږ مکلف جوړکړیدی په دوی کښی] دهریوامت لپاره یوحکم رسوونکی [شوی] دی پس کله چه ددوی دغه رسول [دوی ته] راشی [اواحکام ورته ورسوی ددی نه پس] ددوی فیصلی په انصاف سره کولې ی شی [هغه فیصله داده چه نه منونکی به همیشه عذاب کی مبتلاکولې ی شی] اوپه دوی [یوذره] ظلم نشی کولې [څکه چه دحجت تمامیدونه پس سزاورکول دا انصاف نه خلاف نده].

﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ اوداخلك [دعذاب وعدی اوری په قصد ددروغژن کولوداسی] وائی چه [ای نبی اوائ مسلمانانو] داوعده [دعذاب] به کله [واقع] کیږی که تاسو رشتونی ئی [نوولی ئی نه واقع کوی].

﴿ قُل لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۗ ﴾ ته [دتولودطرف نه جواب ورکړه] وفرمائی چه زه [بخپله] دخپل نفس لپاره هم دڅه نفع [حاصلولو] اودڅه ضرر [دفع کولو] اختیارهم نه لرم مګرخومره [اختیار] چه الله ته منظوروی [دومره اختیار راته البته حاصل دی پس هرکله چه خاص دخپل نفع اونقصان مالك نه یم نودنوروډنفعی اونقصان به څنګه مالك شم پس عذاب واقع کول خمایه اختیار کښی نده اوداچه کله به واقع کیږی.

﴿ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ نوخبره داده چه] دهریوامت د[عذاب] لپاره دالله په نزد] یومقرروخت دی [خواپه دنیاکی یاپه آخرت کی پس [هرکله چه ددوی هغه مقرروخت راشی [نودهغه وخت] به یوساعت نه وروسته کیدې شی اونه به وړاندی کیدې شی [بلکه فوراً عذاب واقع کیږی دغه شان ستاسو دعذاب هم وخت مقرر دی پدغی وخت به واقع شی اودوی چه کوم فرمایش کوی چه څه کیدل وی نوزردی وشی لکه چه په آیات [مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ] کی او [رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا] کی ددوی‌پدی جلدبازئ ذکردی نو].

﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُهُ بَيَاتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُونَ ﴾ ته [ددی متعلق دوی ته] وفرمائی چه داخووښائی چه په عذاب کی کوم شی داسی دی چه مجرمان خلك ئی زرغواړی [یعنی عذاب خوسخت اودپناه غوښتوشی دی نه چه دزرغوښتواوچونکه داجلدبازی دوی څکه کوی چه دروغ ئی ګنی پدی وجه فرمائی چه] ﴿ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ آمَنتُم بِهِ ۚ آلْآنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ آیا [اوس خوئی دروغژن کوئ کوم چه دتصدیق اونفع وخت دی] بیاچه کله دغه [اصلی عذاب چه وعده ئی شوی ده] راشی [دغه وخت] دوی به ئی تصدیق وکړی [کوم وخت چه تصدیق بیا نفع نه ورکوی اودغه وخت به ورته ووېلی شی چه هاں اوس ئی منئ حال دادی چه [اول خو] تاسو [په قصد ددروغژن کولو سره] ددی زرغوښتنه کوله.

﴿ ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴾ بیابه ظالمانو [یعنی مشرکانو] ته ووېلی شی چه دهمیشه عذاب وڅکئ تاسوته ستاسودعمل بدله ملاوده.

﴿ وَيَسْتَنبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴾ اوددی [دډیر تعجب اوانکارنه] ستانه تپوس کوی چه آیاعذاب واقعی شی دی ته وفرمایه چه هو قسم دی زما په رب چه دغه

Scanned with Ca

واقعي شي دي اوتاسو په هيڅ شان سره خداي لره نشي عاجزه کولي [چه هغه عذاب درکوي اوتاسي تري بچ شئ].

﴿ وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْأَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهِ ۗ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ ۖ ﴾ او [دا عذاب به داسي سخت وي چه] كه د هر يو مشرك سړي سره دومره [مال] وي چه ټوله ځمكه ترې ډكه شي بيا هغه دخان دبچ كولو لپاره وركول وغواړي [اګرچه نه به خزانه وي اونه به اخيستي شي ليكن سختي به دومره وي كه مال ئې وي نو په ټول مال وركولو باندي به راضي شي] اوكله چه عذاب ويني نو [دزياتي رسوائي دويرى نه] خپيماني لره به پټه [په زړه كښي] كوئ [يعني د خپيماني ظاهري قولي اوفعلي نښي به نه ښكاره كوي چه ليدونكي ورپوري زيات ونه خاندي ليكن په آخره كي به تري داضبط اوبرداشت هم ونه شي].

﴿ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ۚ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝ ﴾ اوددوى فيصله به په انصاف سره وشي اوپه دوى به [ذره] ظلم ونشي ،.

﴿ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ أَلَا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝ ﴾ يادساتئ چه څومره څيزونه په آسمانونوكي اوپه زمكه كښې دي ټول دالله تعالى ملكيت دى [چه څنګه غواړي هغسي تصرف پكښي كوى اوپه ديكښي دامجرمان هم داخل دي ددوى فيصله به هم په ذكر شوى طريقه وشي ،] يادساتئ چه دالله تعالى وعده رشتوني ده [پس قيامت به خامخا شي] ليكن ډيرخلك يقين نه كوى.

﴿ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ۝ ﴾ هغه روح وركوى اوهغه روح اخلى [پس دوباره پيداكول هغه ته څه مشكل دى] اوتاسوټول به دهغه مخې ته راوستلى شئ [اوحساب اوكتاب اوبيابه په دى باندى ثواب اوعذاب وئ] .

معارف او مسائل

﴿ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ ۚ ﴾ يعنى كله چه په قيامت كښې به دوباره مړى ژوندى كړې شي نو داسې به يو بل پيژني لكه ډيره موده چه نه وى تيره شوې.

امام بغوى رحمه الله د دې په تفسير كښې ليكلى دى چه دا پيژندل به په اول كښې وى بيا چه كله د قيامت هيبتناک واقعات مخې ته راشي نو دغه پيژندګلنه به ختمه شى، په بعضې روايتونو كښې راځى چه پيژندګلنه به بيا هم وى مګر د زيات هيبت د كبله به خبرې نه شى كولي [مظهرى](١)

﴿ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ آمَنْتُمْ بِهِ ۚ آلْآنَ ﴾ [يعنى تاسو به ايمان هله راوړې چه عذاب درباندې د مرګ نه وړاندې يا د مرګ په وخت راشي؟ حالانكه دغه وخت به ستاسو د ايمان په جواب كښې وئيلې شى [آلن] نبه؛ اوس ايمان راوړې چه وخت درباندې تير شو؟ څنګه چه د غرقيدو په وخت فرعون اووئيل ﴿ آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ ﴾ خو په جواب كښې ورته ﴿ آلْآنَ ﴾ اووئيلې شو ،او ايمان راوړل ئې قبول نه كړې شو ولې چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دې چه الله تعالى د بنده توبه په مخه قبلوى ترڅو چه د مرګ آخرى سلګې پرې نه وى راغلې، (٢) يعنى د سا د وتو د وخت

(١) تفسير البغوى تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٣٥ والتفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ٥، ص ٣١

(٢) جامع الترمذى، أبواب الدعوات، باب فى فضل التوبة والاستغفار: ج ٢، ص ١٩٣

Scanned with Ca

ایمان او توبه د الله تعالی په نزد معتبره نه ده. دغه شان په دنیا کښې تر هغه وخته پورې توبه قبلیدې شی چه عذاب لا په سر نه وی راغلې، چه عذاب ئې په سر راشی بیا توبه نه قبلیږی. په آخر د سورت کښې د حضرت یونس ﷺ د قوم د توبې د قبلیدو مطلب دا دې چه هغوی د لرې نه د عذاب په لیدو سره توبه اوښکلې وه او ډیره زاری او عاجزی ئې هغه وخت ښکاره کړې وه چه عذاب ئې په سر نه وو راغلې او د هغې نه وړاندې ئې رښتونې توبه اوښکلې وه، ځکه ترې عذاب واپس اوګرځولې شو۔

يَاَيُّهَا النَّاسُ　قَدْ جَآءَتْكُمْ　مَّوْعِظَةٌ

| اے　خلقو | په تحقیق سره راغلې دې تاسو ته | نصیحت

| اۓ خلقو تاسو ته دخپل پروردګار د طرفنه نصیحت راغلې دې

مِّنْ رَّبِّكُمْ　وَشِفَآءٌ　لِّمَا　فِي الصُّدُوْرِ ۙ　وَهُدًى　وَّرَحْمَةٌ

دطرفه درب ستاسونه|اوشفاء ده| دپاره دهغه| چې په سینو کښې دی|اولاربښودونکې دې| اورحمت دې

او د زړونو دمرضونو علاج دې |او چې څوک ئې اومنی دهغوئ دپاره هدایت او رحمت دې

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝　قُلْ　بِفَضْلِ اللّٰهِ　وَبِرَحْمَتِهٖ　فَبِذٰلِكَ

دپاره دمومنانو |　ورته اووایه | چې په فضل دالله سره | اوپه رحمت دهغه سره | نو هم په دې باندې|

اووایه چې دالله ﷻ په فضل اودهغه په رحمت سره هم دغه خلقو ته خوشحالی پکار ده | دغه

فَلْيَفْرَحُوْا ۭ　هُوَ　خَيْرٌ　مِّمَّا　يَجْمَعُوْنَ ۝

پکار دی چې خوشحاله شی دوئ | دا | بهتر دې | دهغه ټولو څیزونو نه | چې دوئ ئې جمع کوی |

[فضل او رحمت] بهتر دې | د هغې [مالونو] نه چې دوئ ئې راجمع کوی|ورته اووایه چې

قُلْ　اَرَءَيْتُمْ　مَّآ　اَنْزَلَ اللّٰهُ　لَكُمْ　مِّنْ رِّزْقٍ　فَجَعَلْتُمْ

اووایه | ایا وینئ تاسو | هغه څه | چې نازل کړې دې الله | ستاسو دپاره | درزق نه | نو جوړ کړل تاسو

دا اووائې چې الله ﷻ تاسو ته کوم رزق رالیږلې وو | نو تاسو [دځان نه] په هغې کښې څه

مِّنْهُ　حَرَامًا　وَّحَلٰلًا ۭ　قُلْ آٰللّٰهُ　اَذِنَ　لَكُمْ　اَمْ　عَلَى اللّٰهِ

دهغې نه | څه حرام | اوڅه حلال | ورته اووایه | آیا الله | اجازت درکړې دې | تاسو ته | یا په الله باندې

حرام او څه حلال کړل |ددوئ نه تپوس اوکړه آیا الله ﷻ تاسو ته ددې اجازت درکړې دې | که نه تاسو

تَفْتَرُوْنَ ۝　وَمَا　ظَنُّ　الَّذِيْنَ　يَفْتَرُوْنَ　عَلَى اللّٰهِ　الْكَذِبَ

دروغ تړئ تاسو |اوڅه دې | ګمان | دهغه کسانو | چې تړی هغوئ | په الله باندې| دروغ |

د[ځان نه] په الله ﷻ باندې دروغ وائې| آیا د قیامت د ورځې په باره کښې دهغې خلقو څه

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ　اِنَّ　اللّٰهَ　لَذُوْ فَضْلٍ　عَلَى النَّاسِ　وَلٰكِنَّ　اَكْثَرَهُمْ

په ورځ دقیامت | بیشکه | الله | خامخا خاوند دفضل دې | په خلقو باندې| ولیکن | زیات ددوئ

ګمان دې ، | څوک چې په الله ﷻ باندې دروغ تړی | بیشکه الله ﷻ په خلقو ډیر مهربان دې | خو زیات

Scanned with Ca

لَا يَشْكُرُونَ ۞ وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلَا

نه اوباسي شکر | اونهٔ نې ته | په هيڅ حال کښې | اونهٔ لولې ته | دده نه | دقران نه | اونهٔ

خلق ناشکره دی [او ائې پيغمبره] ته په هر حال کښې چې ئې [او په دغې [حال] کښې هم چې قران پاک

تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ

کوئ تاسو اے خلقو | يو عمل | مگر [يو مونږه] | په تاسو باند [نظر لرونکی] کله چې [مصروف اوسئ تاسو

لولی [او ائې خلقو تاسو هم چې څه کار کوئی [نو په هر حال کښې مونږ تاسو وينو گورو] څه وخت چې تاسو

فِيهِ ۚ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ

په هغې کښې | اونهٔ پټيږی | درب ستانه | په مقدار | ديوې ذرې | په زمکه کښې | اونهٔ په آسمان کښې

په هغه کار کښې اخته يئ [او ستا دپروردگار نه لږ څيز هم پټ نشی پاتې کيدې نه په زمکه کښې اونه په آسمان

وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ۞

اونهٔ وړوکې | دهغې نه | اونهٔ لوئ | مگر | په کتاب | واضحه کښې |

کښې [او نه دهغې نه وړوکې اونه لوئې | مگر دا ټول په پوره واضحه کتاب [لوح محفوظ] کښې ليک دی

آسان ترجمه قرآن

اې خلقو ! تاسو ته يو داسې څيز راغلې دې چه ستاسو د پروردگار د طرف نه يو نصيحت دې ، او دزړه د مرضونو شفا دې ، او د ايمان خاوندانو دپاره هدايت او رحمت دې (اې پيغمبره !) ته ووايه چه: دا ټول د الله په فضل او رحمت سره شوی دی، دې وجې نه په دې باندې دوی لره خوشحاليدل پکار دي دا دهغه ټول دولت نه بهتر دي کوم چه دوی جمع کوي. ته ووايه چه: ووايئ الله چه تاسو ته کوم رزق نازل کړې وو نو تاسو دخپل طرف نه دې نه څه حلال وګرځول او څه مو حرام ! دوی نه تپوس وکړه چه: آيا الله تاسو ته ددې اجازت درکړې وو يا تاسو په الله باندې ددروغو بهتان تړئ ؟" ۞ او څوك چه په الله باندې بهتان تړي د قيامت د ورځې په باره کښې د هغوی څه ګمان دې ؟ دې کښې څه شك نشته چه الله تعالى انسانانو سره د فضل معامله کونکې دې ، ليکن دوی کښې اکثر خلق شکر نه وباسي. او (اې پيغمبره !) چه کوم حالت کښې هم ته ئې، او دقرآن کومه حصه هم تلاوت کوې، او (اې خلقو) څه کار هم چه تاسو کوئ، نو څه وخت چه هغې کښې مشغوليږئ، نو مونږ تاسو ته ګورو. او ستا د رب نه ذره هې هم نه دې پټ ، نه په زمکه کښې او نه آسمان کښې ، نه ددې نه وړوکې او نه ددې نه غټ ، مګر هغه يو واضح کتاب کښې دې.

خلاصه تفسير :

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ۞﴾ اى خلکو تاسو ته دالله دطرف نه يوداسې شې راغلى کوم چه [دبدو کارونونه دمنع کولو لپاره] نصيحت دی او [چه په پدی عمل وکړي دبدو کارونونه منع شئ نو] په زړونو کی چه کوم [دبدو کارونونه] مرض دی دهغې لپاره شفاء ده او [دنيکو کارونو کولو لپاره] لارخودونکی دی او کـه عمل پرې وشی نيك کارونه اختيار کړې ی شی نو] رحمت [او ذريعه دثواب] دی] او دا ټول برکتونه] دايمان دارو لپاره [خکه چه عمل هغوی کوی پس دقرآن دا برکتونه واوروه].

Scanned with Ca

﴿ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ۭ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۝﴾ته دوی ته]ووایه چه [هر کله قرآن داسی شی دی نو]خلکو لره دالله په دی انعام اورحمت باندی خوشحاله کیدل پکاردی [اودی لره لوی نعمت گنڑل پکار دی]هغه ددی [دنیا]نه په ډیرودرجوغوره دی کوم چه دوی جمع کوی خکه چه ددنیا نفع لره اوفانی ده اودقرآن نفع ډیره اوباقی ده].

﴿ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ۭ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ۝﴾ ته [دوی ته]ووایه داخووښائی چه الله تعالی ستاسو [دنفع لپاره]چه کوم رزق رالیږلی وو بیا تاسو [دخپل ځان نه]ددی څه حصه حرامه اوڅه حلاله مقررکړه [حال دادی چه ددی دحراموالی څه دلیل نشته نو]ته [ددوی نه تپوس وکړه چه آیاتاسوته خدای حکم کړی دی یا [محض]په الله [دخپل طرف نه] دروغ جوړوئ.

﴿ وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ۝﴾ اوکوم خلك چه په الله دروغ جوړوی ددوی دقیامت په نسبت څه گمان دی [کوم چه بالکل نه ویریږی آیادوی گنی چه قیامت به نه راځی اوکه راشی خمونږنه به تپوس نه کیږی] واقعی په خلکوباندی دالله لوی فضل دی [چه فی الحال سزانه ورکوی بلکه دتوبی لپاره ئی مهلت ورکړیدی] لیکن اکثر خلك بي قدره دي [ورنه توبه به ئي کوله].

﴿ وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا تَعْمَلُوْنَ مِنْ عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ۭ ﴾ اوته [خوا]په هرحال کی چه ئی او[منجمله ددی ټولوحالاتونه]که ته چیری قرآن لولی او [دغسی نورخلك هم څومره چه دي]تاسو چه کوم کار هم کوئ مونږ دټولونه خبریوکله چه تاسوددی کار کول شروع کوئ.

﴿ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاۗءِ وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝﴾ اوستا درب [دعلم]نه هیڅ شی دذری برابر هم غائب نه دی نه په ځمکه نه په آسمان کښی [بلکه ټول دهغه په علم کی حاضردي]اونه څه شی ددي[ذکرشوی مقدار]نه وړوکی اونه څه شی [ددی نه]لوی مگر داټول یعنی په وجه داحاطی دعلم دالهی په ښکاره کتاب [لوح محفوظ] کی [لیك] دی.

معارف او مسائل

په تیرو شوو آیتونو کښې د کفارو او مشرکانو بدحالی او په آخرت کښې په دوی باندې د قسما قسم عذابونو بیان وو.
اوس د دې آیتونو نه په رومبو دوو آیتونو کښې دوی ته د دغې بدحالي اوگمراهي نه د وتلو طریقه او د آخرت د عذاب نه خلاصیدو ذریعه ښودلې شوې ده چه دا د الله تعالی کتاب قرآن کریم او د هغه رسول محمد ﷺ دي چنانچه د انسان او انسانیت د پاره دا دواړه داسې لوئې نعمتونه دی چه د اسمان او زمکې د ټولو نعمتونو نه اعلی او زیات غوره دی.د قرآن او سنت د احکامو تابعداری کول د انسان نه په صحیح معنو کښې انسان جوړوی،هر کله چه انسان کامل شی نو ټول جهان سمدم شی بلکه دا دنیا ټوله جنت جوړه شي.
په رومبی آیت کښې د قرآن کریم څلور خصوصیتونه بیان شوې دی؛
① ﴿مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ﴾ ﴿مَوْعِظَةٌ﴾او [وعظ]په اصل کښې د داسې خیزونو بیانول دی چه د هغې په اوریدو سره د انسان زړه نرمیږی او الله تعالی ته سر ټیټې کیږی،د دنیا غفلت او بې پروائی ئې

Scanned with Ca

ختمه شي او د آخرت فکر ئې مخې ته راشي، قرآن کريم د اول نه تر آخره پورې د [موعظه حسنه] ډير بليغ، تبليغ کونکې دې، په دې کښې هر ځاې د وعدې سره د وعيد، ثواب سره د عذاب، په دنيا او آخرت کښې خلاصى او کاميابې سره د ناکامې او گمراهې وغيره داسې شريک بيان راغلې دې چه د هغې په اوريدو سره کانړې هم اوبه او موم کيږی، دې نه علاوه د قرآن کريم معجزانه بيان داسې دې چه د زړونو په حالاتو بدلولو کښې بې مثاله دې.

﴿مَّوْعِظَةٌ﴾ سره د ﴿مِّن رَّبِّكُمْ﴾ قيد د قرآنى وعظ شان نور هم ښکاره کړو چه دا وعظ د خپل ځان په شان د چا عاجز انسان د اړخه نه دې، د چا په لاس کښې چه د بل سود، زيان [فائده او نقصان] ثواب يا عذاب هيڅ نشته بلکه د رب کريم د اړخه دې د چا په قول کښې چه د غلطې امکان نشته، او د چا په وعد او وعيد کښې چه د څه عاجزې، کمزورې يا د عذر هيڅ خطره نشته.

۲ د قرآن کريم دويم صفت ﴿وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ﴾ ئې ارشاد اوفرمائيلو، د شفاء معنى بيمارى او رنځ لرې کيدل دى او صدور د صدر جمع ده معنى ئې سينه ده او مراد ترې قلب زړه دې.

معنى ئې دا ده چه قرآن کريم د زړونو د رنځونو کامياب علاج او د صحت او شفاء اکسيره [مجربه] نسخه ده، حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائيلې دى چه د قرآن کريم د دې صفت نه معلومه شوه چه دا خاص د زړونو د رنځورتيا د پاره شفاء ده، د بدنى رنځونو علاج نه دې [روح المعانى] (۱) خو نور حضرات رحمهم الله فرمائى چه په حقيقت کښې قرآن کريم د هر رنځ شفاء ده که هغه د زړه وى او که د روح وى يا که د جسم او بدن رنځ وى خو د روحانى رنځونو تباهې د انسان د پاره د بدنى رنځونو د نقصان نه زياته سخته ده، او ددې علاج کول هم د هر چا په وس کښې نه وى، ځکه دلته يواځې د قلبى او روحانى رنځونو بيان شوې دې خو دې نه دا نه لازميږى چه دا بدنى رنځونو د پاره شفاء نه ده.

د حديث د روايتونو او د امت د علماؤ بې شميره تجربې په دې گواه دى چه څنگه قرآن کريم د زړونو د رنځونو د پاره اکسير اعظم دې دغه شان د بدنى رنځونو د پاره هم ډير غوره علاج دې.

د حضرت ابى سعيد خدرى رضي الله عنه د روايت مطابق د رسول الله ﷺ په خدمت کښې يو سړې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه زما په سينه کښې تکليف دې، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه قرآن کريم لوله ولې چه الله تعالى فرمائى ﴿وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ﴾ [يعنې قرآن کريم د هغه ټولو رنځونو شفاء ده چه په سينو کښې وى [روح المعانى د ابن مردويه نه] (۲)

دغه شان د حضرت واثله ابن اسقع رضي الله عنه د روايت مطابق يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او وې وئيل چه حلق [مرۍ] کښې مې تکليف دې، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه قرآن کريم اولوله (۳)

چنانچه د امت عالمانو څه د روايتونو او اشارو نه او څه د خپلو تجربو نه د قرآنى آيتونو خصوصيتونه او فائدې په مستقلو کتابونو کښې راجمع کړې دى، د امام غزالى رحمه الله خواص قرآنى نومې کتاب په دې باره کښې ډير زيات مشهور دې چه حکيم الامت حضرت مولانا

---

۱) روح المعانى تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۳۹

۲) روح المعانى تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۳۹

۳) شعب الإيمان للبيهقى رقم الحديث: ۲۲۷۵

Scanned with Ca

تهانوی رحمه الله د اعمال قرآنی په نوم د دې خلاصه شائع کړې ده، مشاهدې او تجربې خو دومره کړې دی چه انکار ترې نه شی کیدې چه د قرآن کریم مختلف آیتونه د مختلفو بدنی رنځونو د پاره هم کلی شفاء ثابت شوې دی، البته دا خبره ضرور شته چه د قرآن کریم د نازلیدو اصلی مقصد د زړه او روح رنځونه لرې کول دی او د دې په ضمن کښې د بدنی رنځونو د پاره هم ډیر غوره علاج دې. دې نه د هغې خلقو بې وقوفی او کوږ تګ هم معلوم شو چه قرآن کریم لره یواځې د بدنی رنځونو د علاج یا دنیوی حاجتونو د پاره لولی او لولوی، د روحانی مرضونو اصلاح ته هم خیال نه کوی او د قرآن کریم په هدایتونو باندې عمل کولو ته هم مخه نه کوی، د داسې خلقو په باره کښې علامه اقبال رحمه الله فرمائیلې دی؛

ترا حاصل زیٰس آش جزین نیست　　که از هم خواندنش آسان بمیری

[یعنی تا خو د قرآن کریم د سورت یس نه صرف دومره فائده بیا مونده چه د دې په لوستلو سره دې مرګ آسان شی] لیکن د دې سورت په معنو، حقیقتونو او علمونو کښې که غور او کړې شی نو دې نه زیاتې فائدې او برکتونه ترې هم حاصلیدې شی.

بعضې اهل تحقیقو مفسرینو رحمهم الله فرمائیلې دی چه د قرآن کریم د ړومبی صفت ﴿مَّوْعِظَةٌ﴾ تعلق د انسان ظاهری عملونو سره دې کومو ته چه شریعت وئیلې شی، قرآن کریم د دې عملونو د اصلاح ډیره غوره ذریعه ده او د [﴿وَشِفَآءٌ لِّمَا فِی الصُّدُوْرِ﴾] تعلق د انسان باطنی عملونو سره دې چه طریقت او تصوف نومیږی.

③ او ④ په دې آیت کښې د قرآن کریم دریم [﴿وَهُدًى﴾] او څلورم صفت [﴿وَّرَحْمَةٌ﴾] بیان کړې شوې دی، د ﴿وَهُدًى﴾ معنی هدایت او لار ښودنه ده، چنانچه قرآن کریم انسان ته د حق او یقین بلنه ورکوی او انسان ته ښائی چه د ټول جهان په اطرافو او پخپله د دوی په ځانونو کښې چه کومې لوئې نخښې ایښې شوې دی په هغې کښې غور، فکر کوې، د پاره د دې چه د دې ټولو څیزونو خالق او مالک او پیژنې.

په دویم آیت کښې فرمائی: ﴿قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ۝﴾

[یعنی خلقو له پکار دی چه یواځې د الله تعالی فضل او رحمت د اصلی خوشحالې څیز او ګڼړی او یواځې په دې څیز خوشحاله شی د دنیا د څو ورځو مال، متاع، راحت او عزت په حقیقت کښې د خوشحالیدو څیز نه دې، ولې چه اوله خبره خو دا ده چه دا که هر څومره زیات هم چا ته حاصل وی بیا هم نیمګړې وی، بله دا چه هر وخت د دې د لرې کیدو خطره وی خکه په آخر د آیت کښې فرمائی ﴿هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ۝﴾ [یعنی د الله تعالی فضل او رحمت، دې ټول مال، دولت، عزت او سلطنت نه زیات غوره دې چه انسان ئې د خپل ټول ژوند پنګه ګڼړی او جمع کوی ئې.

په دې آیت کښې دوه څیزونه د آرام او راحت سامان ګرځولې شوې دې، یو فضل او بل رحمت دې دواړو نه مراد دلته څه څیز دې؟ په دې باره کښې د حضرت انس رضی الله عنه په روایت د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو فرمان منقول دې هغه فرمان مطابق د الله تعالی د فضل نه مراد قرآن کریم دې او د رحمت نه مراد دا دې چه تاسو ته ئې د قرآن کریم د لوستلو او په دې باندې د عمل کولو توفیق درا وبخښلو [روح المعانی دابن مردویه نه] [1]

---

[1]) شعب الایمان للبیهقی رقم الحدیث: ۲۲۳ و روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۴۰

Scanned with Ca

همدا مضمون د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه او ابی سعید خدری رضی الله عنه نه هم منقول دې[1] او ډیرو مفسرینو حضراتو فرمائیلي دی چه د فضل نه مراد قرآن کریم او د رحمت نه مراد اسلام دې خو مطلب ئی هم هغه راوځی کوم چه د وړاندینی حدیث نه معلوم شو چه د رحمت نه مراد دا دې چه الله تعالی مونږ ته قرآن کریم اوښودلو او په دې باندې د عمل کولو توفیق ئې راکړو ځکه چه اسلام د دې حقیقت یو عنوان دې.

او د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه په روایت[2] کښې راغلي دی چه د فضل نه مراد قرآن کریم او د رحمت نه مراد رسول الله ﷺ دې ځکه چه قرآن کریم فرمائی ﴿وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ﴾[3] خو د دې تفسیر هم د وړاندینی تفسیر نه بدل ځکه نه دې چه په قرآن کریم یا اسلام باندې عمل کول د رسول الله ﷺ د تابعدارۍ کولو مختلف عنوانونه دی.

په دې آیت کښې د مشهور قراءت مطابق ﴿فَلْيَفْرَحُوا۟﴾ د غائب په صیغې سره راوړې شو حالانکه د دې اصل مخاطبین د دغه وخت موجود او حاضر خلق وو، پکار دا وو چه د مخاطب په صیغې سره راوړلې شوې وې څنګه چه په بعضې قراتونو کښې راغلي هم دی خو د مشهور قرات په جوړ د غائب په صیغې راوړلو کښې حکمت دا دې چه رسول الله ﷺ یا د اسلام عام رحمت صرف د دغه وخت موجود او حاضرو خلقو د پاره مخصوص نه وو بلکه تر قیامته پورې پیدا کیدونکو نسلونو لره هم شامل دې[روح المعانی] .[4]

فائده: دلته دا خبره د غور کولو جوګه ده چه د یو بل آیت د ظاهری الفاظو نه معلومیږی چه په دې دنیا کښې د خوشحالې کولو هیڅ مقام نشته، لکه فرمائی ﴿لَا تَفْرَحْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْفَرِحِينَ﴾ [یعنی د خوشحالې په وجه مه مستیږه ځکه چه الله تعالی داسې خوشحالیدونکی نه خوښوی].

او په دې آیت کښې د امر په صیغې سره د خوشحالیدو حکم ورکړې شوې دې. د دې جواب دا دې چه د دنیا په ساز و سامان باندې خوشحالیدل منع کړې شوې دی او د الله تعالی په فضل او رحمت سره د خوشحالیدو حکم ورکړې شوې دې، بل فرق ئې دا دې چه مطلق خوشحالیدل نه دی منع کړې شوې بلکه هغه خوشحالیدل منع کړې شوې دی چه د خوشحالې نه مست شی، او اجازت د مطلق خوشحالې دې.

په دریم آیت کښې هغه خلقو ته خبردارې ورکړې شوې دې چه د حلال او حرام په معامله کښې خپلې ذاتی رائې له دخل ورکوی او د قرآن او سنت دلیل پیش کولو نه بغیر په خپله خوښه څه څیز حراموی او څه څیز حلال بولی، په دې باندې د قیامت سخت وعید بیان کړې شوې دې، دې نه معلومه شوه چه د څه څیز حرامیدل یا حلالیدل په انسانی رائې باندې تکیا نه لری بلکه دا خالص د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ حق دې، د دوی د حکمونو نه بغیر څه څیز ته حلال یا حرام وئیل جائز نه دی.

په څلورم آیت کښې دا بیان شوې دی چه د الله تعالی علم په هر څه باندې محیط دې او بې مثاله وسیع دې، او په دې سره ئې رسول الله ﷺ مخاطب کړې دې چه تاسو ﷺ څه کار کوې او

---

[1]) تفسیر البغوی تحت هٰذه الآیة: ج۲، ص۳۸
[2]) روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج۸، ص۲۱
[3]) ترجمه: او مونږ ته څه بلے خبرے دپاره نه يې رالیږلے مګر د دنیا خلقو باندے د مهربانۍ دپاره۔
[4]) تفسیر روح المعانی: ج۸، ص۲۱

په کوم کار کښې چه همیشه ئې، یا قرآن کریم لولې د دې تولو هیڅ برخه مونږ نه پټه نه ده دغه شان تول انسانان چه څه عملونه کوی هغه زمونږ د نظر په وړاندې دی او اسمانونو او زمکه کښې هیڅ یو ذره هم زمونږ نه پټه نه ده بلکه هر څیز په ﴿كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ۝﴾ یعنی لوح محفوظ کښې لیکلې شوې دی.

په ظاهره دلته د الله تعالی د علم فراخی او هر څیز لره محیط کیدلو بیانولو دا حکمت دې چه په دې سره رسول الله ﷺ ته داسې تسلی ورکول دی چه اګر که ستاسو مخالفین او دشمنان زیات دی خو تاسو د الله تعالی په حفاظت کښې یې دوی درته هیڅ زیان نه شی رسولې.

اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللهِ
| واورئ | بیشکه | دوستان دالله چې دی
لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ۝ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
نه به وی یره | په هغوئ باند | اونه به هغوئ | غمجن کیږی | هغه دوستان | چې ایمان ئې راوړو
واورئ چې دالله ﷻ په دوستاسو به نه ویره وی | اونه به غمژن شی | داهغه کسان دی چې ایمان ئې
وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ۝ؕ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ؕ
اووؤ هغوئ | چې خان ئې ساتو | هغوئ لره دې | زیرې | په ژوند ددنیا کښې | اوپه آخرت کښې
راوړو | او پرهیزګاری ئې اختیار کړه | ادوئ دپاره هر طرف ته زیرې دې | په دنیا کښې او په آخرت کښې
لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ۝ؕ
نشته هیڅ بدلون | خبرو دالله لره | دا زیرې | هم داکامیابی ده | لویه |
هم دالله ﷻ خبرې نه بدلیږی | هم دغه لویه کامیابی ده |

آسان ترجمه قرآن

یاد وساتئ چه کوم دالله دوستان دي ، نه به په هغوی څه ویره وي او نه به هغوی غمژن شي دا هغه خلق دی چه دوی ایمان راوړي دي، او تقویٰ ئې اختیار کړې ده.دوي لره زیرې دي، په دنیا کښې هم او آخرت کښې هم د الله په خبرو کښې څه بدلون نه هي کیدې،هم دا لویه کامیابي ده.

خلاصه تفسیر

﴿اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ۝ؕ﴾ دا خود علم الهی بیان وو مخکښې د مخلصین او مطعین د حفاظت بیان دې. یاد ساتئ دالله تعالی په دوستانو نه څه اندیښنه [ناکه واقعه پریوتونکی] ده اونه به دوی [دڅه مطلب په فوت کیدوباندی]غمژن کیږی [یعنی الله تعالی دوی لره دویریدونکو اوغمناکو حادثو نه ساتی او].

﴿الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ۝ؕ﴾ دغه [دالله دوستان]هغه دی کوم چه ایمان راوړی او [دګناهونونه] پرهیزکوی [یعنی په ایمان او تقوی سره دالله تعالی نزدیکت نصیبیږی.

Scanned with Ca

﴿ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝﴾ او دويرى اوغم نه ددوى دمحفوظ كيدووجه داده چه]ددوى دپاره ددنيا په ژوند كښى اوپه آخرت كى هم [دالله تعالى دطرف نه دويرى اوغم نه دبچ كيدو]خوشخبرى ده [او]دالله په خبروكښى [وعده كښى]څه فرق نشى راتلى [پس هركله چه په زيرى كښى ددوى سره وعده وشوه اووعده هميشه صحيح وى پدى وجه ديرى اوغم نيشتوالى صحيح اولازم دى]دا[زيرى چه كوم ذكرشو]الويه كاميابى ده.

معارف او مسائل

په دې آيتونو کښې د اولياءالله د خصوصي فضيلتونو، د هغوی پیژند ګلنه کول او بیا په دنیا او آخرت کښې هغوی د پاره د زیری بیان دې لکه فرمائی؛ د الله تعالی دوستانو ته به د یو نا خوښه څیز د راپیښیدو خطره نه وی او نه به ئې د یو مقصد د فوت کیدو غم وی او د الله تعالی دوستان هغه دی چه ایمان ئې راوړو او چا چه تقوی او پرهیزګاری اختیار کړه، دوی د پاره د دنیا کښې هم زیری دې او په آخرت کښې هم.

دلته په څو خبرو باندې ژور نظر اچول دی،

① دا چه د الله تعالی په دوستانو باندې د يرې او د غم د نيشوالی څه معنی ده؟

② دا چه د الله تعالي دوستان به څنګه پیژندې شی د دوی نخښې نښانې څه دی؟

③ دا چه په دنيا او آخرت کښې د دوی د زيری نه څه مطلب دې؟

د الله تعالی په دوستانو باندې د غم د نيشوالی مطلب دا هم کيدې شی چه په آخرت کښې د حساب کتاب نه پس کله چه دوی ته جنت ورکړې شی نو تل د پاره به د يرې او غمونو نه خلاص شی، د څه تکليف او پريشانې خطره به ئې نه وی او د څه خوښ څيز د لاس نه د وتو غم به ورسره نه وی، بلکه د جنت نعمتونه به هميشه او نه لرې کيدونکی وی، د دې معنی په لحاظ خو د آيت په مضمون باندې هيڅ اشکال نه راځی خو دا سوال ضرور راپورته کيږی چه په دې کښې د اولياءالله څه خصوصيت پاتې نه شو بلکه تمام اهل جنت چه د جهنم نه ورته نجات ملاو شو هغوی به په دې حال کښې وی يعنی د دې يو جواب دادې چه څومره خلق هم په آخرت کښې جنت ته اورسيدل هغه ټول به اولياءالله بللی شی، اګر که په دنيا کښې د هغوی عملونه هر څومره مختلف وو مګر جنت ته دداخليدو نه پس به هغه ټول دا ولياءالله په فهرست کښې شمارلې کيږی.

مګر ډيرو مفسرينو فرمائيلې دی چه په اولياءالله باندې د غم او د يرې نه راتلل په دنيا او آخرت دواړو کښې عام دی، دا د اولياءالله خصوصيت دې چه په دنيا کښې به هم په دوی غم او يره نه وی، او په آخرت کښې په دوی د غم او يرې نه راتلل تولو ته معلومه ده، او په دې کښې تول اهل جنت داخل دی.

مګر په دې باندې حالاتو او واقعاتو په اعتبار سره دا اشکال کيدې شی چې په دنيا کښې دا خبره د مشاهدې نه خلاف نه ده ځکه اولياءالله خولا څه کوې چه پيغمبران ﷺ هم د دنيوی يرې او غم نه ځکه خلاص نه دی چه الله تعالی پخپله فرمائی؛ ﴿ اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ﴾ [يعنی الله تعالی نه په پوره ډول هم علماء يريږی] او بل ځای کښې د اولياءالله حال داسې بيانوی ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ۝ اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ۝ ﴾ [يعنی دا خلق هميشه د عذاب نه يريږی ولې چه د دوی د رب عذاب داسې څيز نه دې چه څوک ترې بې فکره کيدې شی.

او واقعات هم دغسې دي لکه د شمائل ترمذي په يو حديث کښې راغلې دي چه رسول الله ﷺ به په اکثرو حالاتو کښې فکرمن او غمژن ښکاريدو ،او رسول الله ﷺ پخپله فرمائيلې دي چه زه تاسو ټولو نه زيات د الله تعالى نه يريږم.
په صحابه کرامو ﷺ کښې د ټولو نه افضل حضرت صديق اوفاروق ﷺ او د ټولو صحابهٔ کرامو ﷺ، تابعينو ﷺ او اولياء الله ﷺ د زاړي،ژړا او د آخرت د يرې واقعات بې شميره دي،
چنانچه علامه محمود آلوسي ﷺ په روح المعاني کښې فرمائيلې دي چه اولياء الله سره په دنيا کښې د يرې او غم نيشوالې دا مطلب لرې چه دوى سره د اهل دنيا په شان د نيوى څيزونو يره او غم نه وى چه مثلاً د دنيا په يو څيز ،دنيوى آرام او عزت،دنيوى مال،دولت په کموالي يا په نه موندو باندې دومره زيات خفګان نه کوى چه د هغې د غمه مرى او د هغې نه د ځان ساتلو په تدبيرونو کښې شپه ورځ په ځان يوه کړى،د اولياء الله مقام د دې ټولو نه ډير اوچت او لوړ وى،([1])د دوى په نظر کښې د دنيا فانى عزت،دولت،راحت او آرام هيڅ څيز نه دې چه د هغې تر لاسه کولو پسې سرګردانه وى او نه دغه دنيوى تکليفونو او غم خفګان پسې څه مخ اوړى چه د هغې په شا تمبولو پسې پريشانه او بې آرامه وى،بلکه د دوې دا حال وى؛

نه شادى داد سامانے نه غم آورد نقصانے　　　به پيش همت ما هر چه آمد بود مهمانے

[نه راله خوشحالې څه بار کړى اوښان راوستل او نه راته غم څه زيان راکړو زموږ د مرانې مخې ته هر يو څيز لکه ميلمه دې] .
د الله تعالى د لويې،يرې او ترهې په دوى داسې غلبه کړې وى چه د هغې په مقابله کښې د دنيا سود ،زيان،آرام او تکليف د ماشى د وزر ارزښ هم نه لرى لکه چه څنو وئيلې دي؛

یہ نگ عاشقی ہے سود و حاصل دیکھنے والے　　　[یہاں] گمراہ کہلاتے [ہیں] منزل دیکھنے والے

[په عاشقې کښې سود او زيان ته کتونکى عاشقى شرموى ؛ په دې لار کښې هغه عاشقان ګمراه بللې شى څوک چه منزل ته سترګې نيسى] .
دويمه خبره د اولياء الله د پيژندګلنې او د هغوى د نخښو نښانو په باره کښې ده،اولياء د ولى جمع ده په عربى کښې ولى د نزدې معنى هم ورکوى او د دوست او محبت کوونکى په معنى هم راځى،د الله تعالى د نزديکت او دمينې يو عامه درجه خو داسې ده چه د دې نه د دنيا څوک انسان او حيوان بلکه هيڅ څيز مستثنى نه دې،که دا نزديکت نه وى نو په ټوله دنيا کښې هيڅ يو څيز وجود ته نه شى راتلې،د تمام عالم د وجود اصلې علت هم دغه خاص تړون دې کوم چه ورته د الله تعالى نه حاصل دې اګرچه د دې تړون په حقيقت څوک پوهه نه شو او نه پوهيدې شى،مګر د يو بې کيفه تړون کيدل يقينى دى،خو په لفظ د[اولياء الله]سره د وليتوب دغه درجه مراد نه ده بلکه د وليتوب،مينې او نزديکت يوه بله درجه هم شته چه د الله تعالى خاص بندګانو سره خاص ده،دې ته د مينې نزديکت وئيلې شى،چا ته چه دا خاص نزديکت حاصل وى هغوى ته اولياء الله وئيلې شى.لکه په يو حديث قدسى کښې راغلې دى چه الله تعالى فرمائى؛ زما بنده د نفلى عبادتونو په ذريعه زما نزديکت په مخه حاصلوى تر دې چه زه هم ورسره مينه کول شروع کړم او کله چه زه ورسره مينه کوم نو زه ئې غوږونه جوړ شم،د هغه اوريدل لکه زما

---

[1]) روح المعانی تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۱۱

Scanned with Ca

اوریدل وی،هم زه ئې سترګې جوړ شم د هغه لیدل ګویا کښې زما لیدل وی،هم زه ئې لاسونه، پښې جوړ شم،د هغه څه کول داسې شی لکه زما کول چه وی،(۱)مطلب دا چه د هغه هیڅ حرکت او سکون زما د رضا نه خلاف نه وی۔

د دې خاص ولیتوب بې شمیره او بې حده درجې دی،د دې د ټولو نه اعلی درجه د انبیاؤ ﷺ په برخه ده،ځکه چه هر یو نبی لازما ولی الله وی او بیا په ټولو پیغمبرانو ﷺ کښې لوړ مقام د سیدالانبیاء ﷺ دې او د دې ولیتوب ادنی درجه هغه ده چه صوفیائې کرامو په اصطلاح کښې د فنا درجه ورته وئیلې شی،د هغې حاصل دادې چه د انسان زړه د الله تعالی په یاد کښې داسې غرق وی چه په دنیا کښې د هیچا مینه په ده نه شی غالبیدې،چا سره د هغه مینه کول د الله تعالی د رضا د پاره وی،چا نه ئې کرکه د الله تعالی د رضا د پاره وی،د هغه په مینه او بغض کښې،د هغه په محبت او عداوت کښې د هغه د خپل ذات هیڅ برخه نه وی،د هغه لازمی نتیجه دا وی چه د هغه ظاهر باطن د الله تعالی په رضا لټولو کښې مشغوله اوسی او هغه د هر داسې څیز نه پرهیز کوی چه د الله تعالی په نزد ناخوښه وی،د دې حالت نخښه دا ده چه زیات وخت د الله تعالی په ذکر کښې تیروی او همیشه د پاره فرمانبردار وی،دا دوه صفتونه چه په چا کښې وی هغه ته اولیاء لله وئیلې شی،که څوک په دې کښې د یو صفت نه هم خالی وی هغه به په دې ډله کښې شامل نه وی،د دې دواړه صفتونو په موجودګۍ کښې د اعلی او ادنی درجو څه حد نشته او هم د دې درجو په لحاظ سره د اولیاءالله درجو کښې کمې او زیاتې کیدې شي۔

د ابی هریرة ﷺ په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه په دې آیت کښې د اولیاءالله نه څوک خلق مراد دی؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغه خلق ترې مراد دی چه په خپل مینځ کښې خالص د الله تعالی د پاره مینه کوی،هیڅ دنیوی غرض ئې په کښې نه وی۔[مظهری د ابن مردویه نه](۲)

دلته یو سوال بل پیدا کیږی چه د ولایت[ولیتوب]دا درجه په څه طریقه حاصلیدې شی؟

حضرت قاضی ثناءالله پانی پتی ﷺ په تفسیر مظهری کښې فرمائیلې دی چه د امت غرو ته دا درجه د رسول الله ﷺ د صحبت[ناستې پاستې]د فیض نه حاصلیږی،چنانچه الله تعالی سره د رسول الله ﷺ د تعلق رنګ د امت اولیائې کرامو ته د خپلې خپلې حوصلې او خوارې محنت په مناسب ورکولې شی،هر کله چه صحابهٔ کرامو ﷺ ته د رسول الله ﷺ د صحبت فیض بې واسطې حاصل وو نو ځکه د هغوی درجه د ولایت د ټول امت د اولیاؤ او قطبانو ﷺ نه زیاته پورته وه،وروستو راتلونکی اولیائې کرامو ته هم دغه فیض په یو واسطه یا په ګڼړو واسطو سره حاصلیږی،په دې بنا د واسطو په لحاظ د دوی په درجو کښې هم فرق راځی،یعنی د کمو واسطو خاوند به د زیاتو واسطو د خاوند نه لوړه مرتبه لری،خو واسطه یا واسطې به په دې کښې هغه څوک حسابولې شی چه د رسول الله ﷺ په رنګ کښې رنګ وی،د رسول الله ﷺ د سنتو تابعدار وی،پوره فرمانبردار او د الله تعالی زیات ذکر کونکې وی،مطلب دا چه ولایت حاصلیدل په درې څیزونو سره کیدې شی،یو دا چه چا ولی الله سره زیات صحبت او ناسته پاسته لری،دویم دا چه د هغه اولیاء الله تابعداری اوکړې شی،دریم دا چه د الله تعالی ذکر

---

(۱) صحیح البخاری، کتاب الرقاق، باب التواضع: ج ۲، ص ۹۳۳

(۲) التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۵، ص ۳۹

Scanned with Ca

زیات کولې شي، خو شرط دا دې چه ذکر په مسنون طریقې سره وي، وجه دا ده چه په زیات ذکر کولو سره د زړه آئینه صفا او روښانه شي چه د ولایت د نور عکس ځان ته راښکلې شي، لکه په حدیث شریف کښې راغلې دي چه د هر یو څیز د صفا کولو او صیقل کولو خپله خپله طریقه وي، د زړه د صیقل کولو طریقه د الله تعالی ذکر کول دي، دې لره بیهقي رحمه الله په روایت د ابن عمر رضی الله عنهما نقل کړې دې[مظهري]([1])

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په روایت یو سړي د رسول الله ﷺ نه سوال اوکړو چه د داسې کس په باره کښې تاسو څه فرمائې چه یو بزرګ سره مینه محبت لري لیکن په عمل کولو کښې د هغه درجې ته نه شي رسیدې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: المرء مع من احب؛([2]) یعني هر څوک به هغه چا سره وي چه ورسره محبت کوي ادې نه معلومه شوه چه اولیاء الله سره محبت او ناسته پاسته لرل د ولایت حاصلولو ذریعه ده.

بیهقي په شعب الایمان کښې د حضرت رزین رضی الله عنه په روایت نقل کړې دي چه رسول الله ﷺ حضرت رزین رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه زه درته د دین داسې اصول اوښایم چه ته ورسره د دنیا او آخرت فلاح او کامیابي حاصلولې شې. هغه دادې چه د اهل ذکر صاحبانو مجلس او محبت لازما اختیار کړه په تنهائي کښې د الله تعالی په ذکر باندې زیات وخت خپله ژبه ښوروه، چا سره چه محبت کوې الله تعالی د پاره ئې کوه او چا نه چه نفرت کوې د الله تعالی د پاره ئې کوه.[مظهري]([3])

خو دا ناسته پاسته کول هغه چا سره فائده ورکوي چه پخپله ولي الله او د سنتو تابع وي، څوک چه د رسول الله ﷺ د سنتو تابع نه وي هغه پخپله ولي الله نه شي کیدې نو د ده په ذریعه به بل چا ته ولایت څه حاصل شي؟ اګرچه د هغه نه په زیات شمیر کښې کشف او کرامات صادریږي، مطلب دا چه دغه بیان کړي صفتونه په چا کښې وي او هیڅ کشف او کرامت ترې ښکاره نه شي هم هغه د الله تعالی ولي دې[مظهري].

د حدیث قدسي په حواله په تفسیر مظهري کښې د اولیاء الله پیژندګلنه او نخښه دا نقل کړې شوې ده چه الله تعالی فرمائي؛ زما په بندګانو کښې زما اولیاء هغه څوک دي چه زما یاد سره هغوي رایاد یږي او د هغوي په یاد سره زه رایادیږم.

په ابن ماجه کښې د حضرت اسماء بنت یزید رضی الله عنها په روایت کښې رسول الله ﷺ فرمائیلې دي؛ الذین اذا رءوا ذکر الله؛([4]) [اولیاء الله هغه دي چه د هغوي په لیدو سره الله تعالی رایادیږي].

خلاصه ئې دا شوه چه اولیاء الله په دې پیژندې شي چه هغوي سره په ناستې پاستې کولو سره بنده ته د الله تعالی د ذکر توفیق نصیب کیږي او دنیوي فکرونه ئې کمیږي.

په تفسیر مظهري کښې فرمائیلې دي چه د عوامو غلطي او غولیدل دا دي چه اولیاء الله صرف هغه چا ته وائي چه کشف او کرامتونه ترې صادریږي یا د غیبو خبرې ورته معلومې وي په زرګونو داسې اولیاء الله شته دې چه داسې هیڅ څیز ترې ثابت نه دې، بل خوا ډیر خلق

[1]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۳۹، ۴۰
[2]) صحيح البخاري، كتاب الادب، باب علامة حب الله عزوجل: ج ۲، ص ۹۱۱
[3]) شعب الإيمان للبيهقي رقم الحديث: ۸۵۳۲
[4]) سنن ابن ماجة، أبواب الزهد، باب من لا يؤبه له: ج ۲، ص ۳۰۳، وكنز العمال رقم الحديث: ۱۷۸۳

داسې شته چه کشف، کرامتونه او د غیبو خبرې ترې نه منقول دی خو د هغوی ایمان هم درست نه وی.([۱])

په آخر د آیت کښې فرمائی؛ اولیاؤ د پاره په دنیا او آخرت دواړو کښې به زیرې وی. د آخرت زیرې دا دې چه د روح په قبض کولو سره هر کله چه د ده روح الله تعالی ته اوړلې شی نو دغه وخت به ورته د جنت زیرې ورکولې شی، بیا به د قیامت په ورځ د قبر نه د پاسیدو په وخت ورته د جنت زیرې ورکولې شی، لکه طبرانی کښې د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په روایت د رسول الله ﷺ دا فرمان نقل شوې دې چه د [لااله الاالله] خاوندانو ته به نه د مړ کیدو په وخت نه په قبر کښې څه وحشت وی او نه د قبر نه د راپورته کیدو په وخت کښې څه یره وی، ګویا کښې زما سترګې د دوی د دغه وخت حال وینی کله به چه دوی د قبرونو نه د راپورته کیدو په وخت کښې خان نه خاورې څنډی او دا به وائی ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾ [الله تعالی لره شکر دې چه زمونږ غم ئې لرې کړو] .([۲]) او د دنیا د زیری مطلب د رسول الله ﷺ د فرمان مطابق دا دې چه پخپله به دوی ربښتینی خوبونه وینی یا به نور خلق د دوی په باره کښې وینی کومو کښې چه دوی د پاره به زیرې او ښه خبره وی [رواه البخاری عن ابی هریرة رضی الله عنه].([۳])

د دنیا بل زیرې دوی د پاره دا دې چه عام مسلمانان به ورسره بې غرضه مینه محبت کوی او ښه به ئې ګڼړی، چنانچه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی؛ تلک عاجل بشری المؤمن؛ [یعنی عام مسلمانان چه د دوی تعریف کوی او ښه ئې ګڼړی نو دا د مومن د پاره نقد زیرې دې [مسلم، بغوی] .([۴])

لَا تَبْدِیْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿۶۴﴾ وَلَا یَحْزُنْكَ
نشته هیڅ بدلون | خبرو دالله لره | دا زیرې | هم دا کامیابی ده | لویه | اونه دې کړی غمجن تا لره
هم دالله ﷻ خبرې نه بدلیږی | هم دغه لویه کامیابی ده | او ائې پیغمبره ددوئ [کافرو] خبرې دې تا نه غمژن کوی
قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِیْعًا ؕ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۶۵﴾ اَلَآ
خبرې ددوئ | بیشکه چې عزت | الله لره دې | ټول | هغه اوریدونکې | پوهه دې | خبر دار شئ
.... | بیشکه غلبه ټوله الله ﷻ دپاره ده | .... هغه هرڅه آوری ډیره ښه پوهه دې | واورئ
اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ ؕ
بیشکه الله لره دی | هغه څوك | چې په آسمانونو کښې دی | اوهغه څوك | چې په زمکه کښې دی
چې دا ټول هرڅه دالله ﷻ دی | چې په آسمانونو کښې او په زمکه کښې دی | او کوم
وَمَا یَتَّبِعُ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ
اونه کوی پیروی | هغه کسان | چې رابلی یې دوی | بې د الله نه | شریکان | نه کوی پیروی هغوئ
خلق چې دالله ﷻ نه سوا نورو [دخان نه جوړ کړو] شریکانو ته آواز کوی | [خبر یې چې] هغوئ په څه پسې

([۱]) التفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج ۵، ص ۴۱
([۲]) المعجم الکبیر للطبرانی رقم الحدیث: ۳۶۰
([۳]) تفسیر البغوی تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۳۱ وصحیح البخاری، کتاب التعبیر، باب المبشرات: ج ۲، ص ۱۰۳۵ باختصار-
([۴]) تفسیر البغوی تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۳۱، وصحیح مسلم، کتاب البر والصلة الخ، باب اذا اثنی علی الصالح الخ: ج ۲، ص ۳۳۲

Scanned with Ca

إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ۝٦٦

مگر دگمان | اونه دی هغوئ | مگر | قیاسونه چلوی |

روان دی | هغوئ صرف په گمان پسې روان دی | او تش اټکلونه چلوی |

آسان ترجمه قرآن

او (اې پیغمبره !) دا خلق چه کومې خبرې جوړوي هغه دې تا لره غمژن نه کړي. یقین وکړه چه قدرت ټول دالله دې. اوهغه د هرې خبرې آوریدونکې دې او په هر څه پوهیږی. یاد وساته چه زمکه او آسمان کښې چه څومره ژوندي سر دی، هغه ټول دالله په اختیار کښې دي او څوك چه دالله نه سوا نور څوك رابللي ،نو هغوی دالله (دحقیقي) برخه دارو تابعداری نه کوی . هغوی د بل څه نه صرف دگمان تابعداری کوي، اودهغوی کار دي نه علاوه بل څه نشته چه اټکل وائی.

خلاصه تفسیر

﴿ وَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۚ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝ ﴾ تالره دی ددوی خبری په غم کښی وانه اچوی [یعنی ددوی په کفریاتو باندی مه غمژن کیږه خکه چه دمذکوره علم اوحفاظت نه علاوه]ټوله غلبه [اوقدرت هم]الله لره [ثابت]دی [هغه به دوعدی مطابق ستاحفاظت کوی]هغه [ددوی خبری]اوری [اوددوی حالت]پیژنی [هغه به ستا بدله ددوی نه پخپله واخلی].

﴿ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ ۗ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ شُرَكَاءَ ۚ ﴾ یادساتئ چه څومره په آسمانونو کښی دی اوڅومره چه په ځمکه کښی دی [یعنی فرشتی اوپیریان اوبنی آدم] دا ټول دالله [مملوك]دی [ددی حفاظت یابدله اخیستل هیڅوك نشی منع کولې پس په هره وجه سره تسلی ساتل پکاردی]او[که دچاڅه شك وی چه شریکان به مزاحمت وکړې شی نوحقیقت ئی واوره چه]څوك چه دالله په ځای دنوروشریکانوعبادت کوی [خدای خبر]دڅه شی تابعداری کوی.

﴿ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ۝ ﴾[یعنی ددوی ددی عقیدی څه دلیل دی حقیقت خو دادی چه هیڅ دلیل نشته]محض دبی سندوخیالاتوتابعداری کوی اومحض خیالی خبری کوی [پس واقعاًپه دوی کښی دالوهیت صفات په مثل دعلم اوقدرت وغیره نشته پس پدوی کښی دمزاحمت کولو داحتمال کله گنجائش شته .

هُوَ الَّذِي جَعَلَ

| هغه| هغه ذات دې| چې جوړه ئې کړه

| الله ﷻ هغه ذات دې چې

لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ

ستاسو دپاره| شپه | دپاره ددې چې تاسو آرام حاصل کړئ | په هغې کښې| اوورځ روښانه |

ستاسو دپاره ئې شپه(1)جوړه کړې ده| چې آرام په کښې اوکړئی |اوورځ ئې روښانه جوړه کړې ده| چې په کښې لیدل

(1) په شپه او ورځ کښې دالله تعالی نښې :- شپه او ورځ اوتیرو او رڼا لره پیدا کولو والا صرف هغه الله تعالی دې . هم ددې نه دخیراو شر او دتولو متقابلو څیزونو پیدا کولوباندې پوهه شي: په دې کښې د مجوسو د شرك رد اوشو.او دې طرف ته هم یو وړه اشاره اوشوه چه څنګه دشپې دتیارې نه پس الله تعالی روښانه ورځ ... [بقیه په راروانه صفحه

Scanned with Ca

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ

بیشکه | په دې کښې | نښې دی | دپاره دهغو خلقو | چې اورې | اووئیل کافرانو | نیولې دې | الله

کولې شئ | بیشکه دې کښې د [پیغمبر دخبرو] آوریدونکو دپاره دلیلونه موجود دی | ځینې خلق وائی

وَلَدًا سُبْحَانَهُ ۖ هُوَ الْغَنِيُّ ۖ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

خوئې | پاکی ده هغه لره | هغه بې نیازه دې | هغه لره دی | هغه څه | چې په آسمانونو کښې دی | او هغه

چې الله ﷻ ځان له خوئې نیولې دې(۱) الله ﷻ پاک دې | هغه غنی دې | هر څه چې په آسمانونو کښې دی

فِي الْأَرْضِ ۚ إِنْ عِندَكُم مِّن سُلْطَانٍ بِهَٰذَا ۚ أَتَقُولُونَ عَلَى

چې په زمکه کښې دی | نشته ستاسو سره | څه دلیل | په دې خبره | آیا وایئ تاسو | په

او په زمکه کښې دی | ټول دهغه ملکیت دی | تاسو سره [دشرک] په دې خبره هیڅ دلیل نشته دې

اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ

الله باند | هغه خبری | چې نۀ لرئ تاسو علم دهغې | ورته اووایه | بیشکه هغه کسان | چې تړی هغوئ

آیا تاسو په الله ﷻ پورې داسې خبرې تړئ | چې پخپله ترې نه هم خبرنه یئ | او وایه چې خوک په الله ﷻ

عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

په الله باند | دروغ | نشی موندې خلاصې | نفع اغستل دی | په دنیا کښې(۲) | بیا | مونږ ته | واپس راتلل دی د هغوئ

دروغ تړی | هغوئ خلاصیدې نشی | په دنیا کښې لږ شان مزې دې اوکړی | بیا ئې مونږ ته واپسی ده

...بقیه دتیرمخ].. راولی او د ورځې په رڼرا کښې هغه څیزونه په نظرراځی چه دشپې په تیارې کښې په نظرنه راتلل.همداشان دمشرکانو د اوهامو اود گمانونو پرده شلولودپاره هغه ذات قرآن پاك دنمرپشان روښانه کړو . چه داخلقوته دالله تعالی لار خودلو والا دې .

۱) **د عیسایانو د شرك رد:-** په دې کښې دعیسایانود شرك رد دې.چه هغوی حضرت عیسی ﷺ ته دالله تعالی خوئې ونیلو د پوهې خبره دا ده که هغوی واقعی مسیح د الله تعالی (معاذالله) صلبی خوئې گنړلو نو ددې نه زیاته گستاخی به څه وی دالله تعالی ذات دبچواو دښځې نه پاك دې . که ددې بچی نه مراد متبنی وی نو بیاددې ضرورت الله تعالی ته څنګه پیښ شو چه یو مخلوق خپل متبنی جوړکړی آیا هغه ذات ته د اولاد د نه کیدو افسوس او دخوئې غم وو . یا ورته دا فکر وو چه دهغه نه پس به دده دمال او دولت او دده د نوم روښانه کولو واله به څوك وی . یادا چه په بوډا والی کښې به دده مددگار جوړشی . العیاذبالله هغه ذات دټولو نه بې نیاز دې . اوټول هروخت دهغه محتاج دی نو هغه ته د خوئې یا نسبی یا متبنی څه ضرورت کیدې شي ټول څیزونه دهغه مخلوق دی . بیادمالك اومملوك او دخالق او مخلوق په مینځ کښې دنسبی رشتو څه گنجائش دې. دا ډیره سخته خبره ده چه دالله تعالی په باره کښې صرف دجهالت په وجه داسې دروغ اوبې سنده خبرې اوکړې شي .

۲) یعنی په الله تعالی باندې دروغ پورې کولوولا که په دنیا کښې هرڅومره طاقتور وی اوپه خپل سامان باندې غرورکوی خودوی ته حقیقی کامیابی او نیکی کله نصیب کیدیشی لږې ورځې به ددنیا مزې اوچتې کړی. او آخربه ددوی معامله دالله تعالی په مخکښې وی . چه په هغه ځائې کښې به دخپلو جرمونو سزا ضرور اوڅکی .

Scanned with Ca

ثُمَّ نُذِيقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

بيا به | مونږ مزه اوڅكوو هغوئ ته | دعذاب | سخت | په سبب دهغې | چې وو هغوئ | چې كفر به ئې كولو

نومونږ به ورته دسخت عذاب مزه اوښايو | خكه چې دوئ به كفر كولو |

آسان ترجمه قرآن

الله هغه ذات دې چه هغه تاسو دپاره شپه پيدا كړې ده دې دپاره چه تاسو دې كښې آرام حاصل كړئ . او ورځ ئې دې دپاره پيدا كړې ده چه تاسو ته د كتلو صلاحيت دركړي – دې كښې يقيناً د هغه خلقو دپاره نښې دي چه هغوى غور سره آورى (څه) خلقو ووئيل چه الله اولاد نيولې دې. پاك دې د هغه ذات ! هغه د هر يو څيز نه بې حاجته دې آسمانونو او زمكه كښې چه څه دي، د هغه دي . تاسو څخه ددې خبرې هيڅ دليل هم نشته. آيا تاسو په الله باندې هغه څه وايئ چه د هغې تاسو ته څه علم هم نشته؟ ته ووايه چه: څوك په الله باندې د دروغو بهتان جوړوي. هغوى به كامياب نه شي (دوي دپاره په دنيا كښې) بس لږه غوندې مزه ده. بيا د دوى مونږ ته راتلل دي. بيا دوى چه د كفر كومه رويه اختيار كړې وه د هغې په بدله كښې به مونږ دوى ته د سخت عذاب مزه وڅكوو.

خلاصه تفسير

﴿ هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴾ دغه [الله]داسى دى كوم چه ستاسولپاره شپه جوړه كړه چه تاسوپكښې آرام وكړئ اوورځ ئې هم دغسې جوړه كړه چه[په وجه دروښانه كيدو] دليدلو كتلو ذريعه ده پدى [جوړولو] كښې دليلونه [دتوحيد] دى دهغوى خلكولپاره كوم چه [په تدبرسره دى مضامينولره]آورى [مشركان په دى دليلونو كښې غورنكوى اودشرك خبرى كوى چنانچه].

﴿ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَانَهُ ۖ هُوَ الْغَنِيُّ ۖ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ ﴾ دوى وائى [نعوذبالله]الله تعالى اولاد لرى پاك دى الله [څومره سخته خبره ئې وكړه] هغه خودهيچامحتاج ندى [اوټول دده محتاج دى] اودهغه ملكيت دى څه چه په آسمانونوكى دى اوڅه چه په ځمكه كى دى[پس ټول مملوك شو اوهغه مالك شونوثابته شوه چه په كمالاتوكى څوك دهغه شريك اوهمجنس نشته پس كه اولادته دالله همجنس وويلاى شى نوداخوباطل دى اوكه غير همجنس ورته وويلاى شى نوناجنسه اولادعيب دى اوالله تعالى دعيبونونه پاك دى لكه چه په [سُبْحَانَهُ] كى دى طرف ته اشاره هم ده پس داولاد ورلره كيدل مطلق باطل شومونږچه داولاددنيشتوالى دعوه كړى وه نوپه دى مونږدليل قائم كړى دى اوس پاتى شوه ستاسودعوه پس].

﴿ إِنْ عِنْدَكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ بِهَٰذَا ۚ أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ ستاسوسره [بغيردعبث دعوى نه]په دى [دعوه] څه دليل [هم]نشته [نو]آياپه الله داسى خبره تړئ كوم چه تاسو[په څه دليل سره]علم نه لرئ ته [ددوى ددروغژن ثابتولونه پس ددى درو غودسزااورولولپاره].

﴿ قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴾ ووايه چه كوم خلك په الله دروغ جوړوى [لكه مشركان]دغه كله به هم كامياب نه شى [اوكه دچاشك وى چه مونږ خو داخلك په دنياكى ښه

Scanned with

کامیاب اوپه راحت کی مومو ،نوجواب دادی چه].

﴿ مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴾ داپه دنیا کی [څو ورځی] لګ شان خوشحالی ده [کومه چه ډیر زر ختمیږی] بیا [چه مړه شی]زمونږ طرف ته ددوی راتلل دی بیا [په آخرت کی]به مونږ دوی لره ددوی دکفرپه بدله کښی [مزه د]سختی سزا وڅکو.

وَاتْلُ	عَلَيْهِمْ	نَبَأَ	نُوحٍ	إِذْ	قَالَ	لِقَوْمِهِ	يَاقَوْمِ	إِنْ
اواولوله	په هغوئ باند	قیصه	دنوح[1]	کله چی	اوونیل هغه	قوم خپل ته	اے زما قومه	که چری
او دوی ته د [حضرت] نوح ﷺ قصه واوروه | چې هغه خپل قوم ته اوونیل | اتي خما قومه که په								

كَانَ	كَبُرَ	عَلَيْكُمْ	مَقَامِي	وَتَذْكِيرِي	بِآيَاتِ اللَّهِ	فَعَلَى اللَّهِ
وی	گران	په تاسو باندې	اوسیدل زما	اونصیحت درکول زما	په آیتونو دالله سره	نوپه الله باندې
تاسو کښې زما اوسیدل او د الله په آیاتونو سره تاسو ته نصیحت کول په تاسو بښه نه لګی انو خما په الله						

تَوَكَّلْتُ	فَأَجْمِعُوا	أَمْرَكُمْ	وَشُرَكَاءَكُمْ	ثُمَّ	لَا يَكُنْ	أَمْرُكُمْ	عَلَيْكُمْ
بروسه کړی ده ما	نو راجمع کړئ	کار خپل	اوشریکان خپل[2]	بیا	دنه وی	کارستاسو	په تاسوباندې
توکل دې | نوتاسو خپله فیصله اوکړئی او خپل شریکان راجمع کړئ | بیا په خپله فیصله غور او فکر							

[1]) **حضرت نوح ﷺ دواقعې څخه عبرت** : یعنی مکې والو دحضرت نوح ﷺ اودهغه دقوم حال واوریدو. چه دوی ته معلوم شی چه مکذبین او مفترینوته حقیقی کامبابی نه حاصلیږی ددوی منډې ترړی او چمك دمك صرف څوورځې دې . چه آخر ددې انجام به ابدی بد وی مکې والو ته پکار دی چه دنوح ﷺ د قصې په آوریدو عبرت حاصل کړی . که دوی دحضرت نبی کریم ﷺ دتکذیب او ددښمنۍ او دخپل شرکیاتو نه منع نه شو نو ددوی انجام به هم هغه شان وی چه څنګه دحضرت نوح ﷺ دقوم شوې وو. ددې واقعې په بیانولو کښې حضرت نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول دی چه تاسوددې خلقود دښمنۍ او شرارت باندې غمژن کیږئ مه . هرنبی ته داقسمه حالات راپیښ شوی دی او په آخر کښې هم حق غالب شوې دې او دالله تعالی دښمنان تباه او برباد شوی دی . عام آوریدونکې ته ددې تفصیلی واقعې نه داسبق ملاویږی چه حضرت نبی کریم ﷺ دامی کیدونه باوجود اونه ئې دچاشاګردی کړې ده اوبیاهم دمخکښې قومونوحالات داسې صحیح بیانوی چه په ظاهرکښې دتعلیم نه بغیردا وئیل ممکن نه دی . خو ضرور به منلې شی چه ددوی معلم څوك انسان نه دې ، بلکه دټولو انسانانو پیداکولو والا دې.دا خو ددوی ﷺ دربښتونی کیدو یو دلیل دې .

[2]) **حضرت نوح ﷺ پیغمبرانه یقین** : یعنی ماته ستاسودخوشحالۍ اوخفګان یا دموافقت اومخالفت هیڅ پرواه نشته دې . دټولو پیغمبرانو پشان خمابهروسه صرف په یوالله تعالی باندې ده . که تاسو خماپه نصیحت باندې بداوګنړئی خو څه د خپل فرض نه نشم محرومه کیدې . تاسوکه بداوګنړئی اوماسره دښمنی اوکړئی اوماته نقصان اورسوئی خوداڅیزخما په ارادوکښې هیڅ اثر اندازکیږی نه . څه چه ستاسوپه زړه کښې دی بیشکه هغه اوکړئی یا خماخلاف مشوره اوکړئی اوڅه پخه خبره جوړه کړئی خپل ملګری تردې چه خپل فرضی معبودان هم راجمع کړئی او په یوغیرمشکوك اوغیرمشتبه رائې باندې قائم شئ . بیاپه متفقه طاقت سره دا جاری کړئی ، اوماته دیومنټ مهلت هم مه راکوئی بیااوګورئی پیغمبرانه استقامت اوتوکل چه ددنیاطاقتونواو تدبیرونو لره څنګه ذره ذره کوی .

Scanned with Ca

غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ۝ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ

پټ | بيا | فيصله اوکړئ | زما خلاف | اومهلت مه راکوئ ماته | نو که چرې | مخ واړوئ تاسو |
اوکړئ | چې څۀ په کښې درنه پټ پاتې نشي | بيا ماسره خپله خوښه اوکړئ | او هيڅ مهلت مه راکوئ

فَمَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ وَاُمِرْتُ

نوڼه دې غوښتلې ماستاسو نه | څه اجر | نه دې اجر زما | مگر | په الله باند | اوحکم شوې دې ماته
اوکه تاسو هم دغسې مخ اوگرځولو | نو [څما مو څه تاوان اوکړو] زۀ خو ستاسو نه ددې څه بدله

اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ۝ فَكَذَّبُوْهُ فَنَجَّيْنٰهُ وَمَنْ

چې شم زۀ | د مسلمانانو نه | نودروغ اوگڼړو هغوئ هغه لره | نوبچ کړومونږه هغه | اوهغه څوک
نه غواړم [څما بدله خو په الله ﷻ باندې ده | ....اوماته دا حکم دې | چې په فرمان بردارو کښې

مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ

چې دهغه سره وو | په کشتئ کښې | اوجوړ کړل مونږه هغوئ | خليفگان | اوډوب کړل مونږه | هغه کسان
دې شامل يم [خو | بيا هم] هغوئ نوح عليه السلام دروغژن اوگڼړلو | نومونږ هغه اودهغه ملگرو ته په بيړئ کښې نجات ورکړو

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ۝

چې دروغ ئې گڼړلې وې | آيتونه زمونږه | نواوگوره | څرنگ | وو | انجام | ديرولې شوو خلقو |
او هم هغوئ مو [په زمکه] آباد کړل | او هغه ټول خلق مو ډوب کړل | چې زمونږ آيتونه ئې دروغ گڼړلې وو

آسان ترجمه قرآن

او (اې پيغمبره !) دوی ته د نوح عليه السلام واقعه ولوله چه کله هغه قوم ته وئيلي وو چه : اې څما قومه اکه ستاسو مينځ کښې څما اوسيدل او دالله د آيتونو په ذريعه تاسو لره خبرول دا په تاسو گران لگي نو ما خو په الله ځان سپارلې دې. نو تاسو خپل شريکان خپل ځان سره ملاؤ کړئ بيا (څما خلاف) ته تدبيرونه پاخه کړئ. بيا چه تاسو کوم تدبير وکړئ هغه دې ستاسو زړونو کښې د څه ساډوبې باعث جوړ نه شي بلکه چه څما خلاف تاسو کومه فيصله کړي وي هغه (دزړه د خلاصه) وکړئ. او ما ته ذره مهلت هم مه راکوئ. بيا هم که تاسو مخ واړولو نو ما تاسو نه په دې (تبليغ) څه مزدوري نه ده غوښتلي څما د اجر بل چا نه الله ذمه اخستې ده . او ماته دا حکم شوې دې چه څه د تابعدارو نه هم بيا وشوه داسې چه دې خلقو نوح عليه السلام لره دروغژن کړو. اونتيجه دا شوه چه مونږ نوح او هغه کسان چه ده سره وو هغه بچ کړل او ددې کافرانو په ځاې مو زمکه کښې پاتې کړل. او کوم خلقو چه څمونږ ايتو لره دروغژنې کړي وي هغوی لره مو (طوفان کښې) غرق کړل اوس وگوره چه کوم خلق خبردار کړې شوی وو دهغوی انجام څه شو؟

خلاصه تفسير

﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَّقَامِيْ وَتَذْكِيْرِيْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ﴾ او ته دوی ته د نوح [عليه السلام] قصه واوروه [کومه چه هغه

Scanned with Ca

وخت واقع شوی وه]کله چه دوی [علیه السلام]خپل قوم ته وفرمائل چه ای خماقومه که په تاسو کښې خما اوسیدل [په حالت دوعظ کښې پاتې کیدل]اودخدای دحکمونونصیحت کول گران [اوناخوښه] معلومیږی نو[پریږدئ څه ئی هیڅ پروانکوم ځکه چه]زما په خدای بروسه ده پس تاسو[ماته دضرر رسولو متعلق]خپل تدبیرونه [کوم چه کولی شئ]سره دخپلو شریکانو [یعنی بتانو]سخت وکړئ یعنی تاسو اوستاسو معبودان ټول یوځای شئ ماته په ضرر رسولو کښې زړه یخ کړئ]بیا ستاسو دغه تدبیر ستاسو دخفگان [اوزړه تنگئ]باعث نه دی جوړیدل پکار [یعنی اکثرپه پټ تدبیر سره طبیعت تنگیږی ،.

﴿ ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَیَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ۝﴾پس دپټ تدبیر ضرورت نشته څه چه تدبیر کوئ ښه ښکاره ئی وکړئ مه خما لحاظ کوئ اومه خما دتلواو وتلو ویره کوئ ځکه چه ددومره خلکونه دیوتن وتل هم ډیره گرانه بیا دپټوالی څه ضرورت دی]بیا خما سره [چه څه کوئ]وکړئ اوماته [لږ]مهلت هم مه راکوئ مطلب دادی چه څه ستاسو ددی خبرونه نه ویریږم اونه دتبلیغ نه منع کیدې ی شم ،.

﴿فَاِنْ تَوَلَّیْتُمْ فَمَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَی اللّٰهِ ۙ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ۝﴾تردی ځا ی پوری خوئی خپل نه ویریدل وفرمائل اوس مخکې دطمع نه کولو متعلق فرما ئی یعنی]بیاهم که تاسو مخ اړوئ نو[پدی پوه شی چه]ماخو تاسونه [پدی تبلیغ باندی]څه بدله خونده غوښتی، [اوزه ځکه نه غوارم چه]خما بدله خو صرف [دمهربانی اودوعدی په بنا]دالله تعالی په ذمه ده [غرض داچه تاسونه نه ویریږم نه خواهش لرم]او[هر کله چه] ماته حکم کړی شوی دی چه زه په فرمان بردارانو کښې پاتې شم[ځکه په تبلیغ کښې په حکم باندی چلیږم که تاسو ئی نه منئ نوماته ئی څه تاوان دی]نو[سره ددی بلیغ نصیحت نه هم].

﴿ فَكَذَّبُوْهُ فَنَجَّیْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِی الْفُلْكِ وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ وَاَغْرَقْنَا الَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا ۚ فَانْظُرْ كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِیْنَ ۝﴾ دغی خلکو دوی لره دروغژن بللو[پدی سره پری دطوفان عذاب راغلواو]مونږه ددغی عذاب نه هغوی اوځوك چه ورسره په کشتئ کښې وو هغوی موخلاص کړل اواباد موکړل [په ځمکه باندی]اوپاتې نورخلك]چاچه زمونږ ایاتونه دروغ بلل هغوی مو[په دغه طوفان کښې] غرق کړلونو کتل پکاردی چه څنگه [خراب]انجام شو دهغو خلکوچه[دالله تعالی دعذاب نه] ویرولي شوی وو[یعنی بي خبره هلاك نه کړې ی شو ،اول مو ورته وویل]پوه موکړل ،چه وئی نه منلو سزائی ولیدله.

ثُمَّ بَعَثْنَا | مِنْۢ بَعْدِهٖ | رُسُلًا | اِلٰی قَوْمِهِمْ | فَجَآءُوْهُمْ | بِالْبَیِّنٰتِ

بیا اولیږل مونږه | روستو دهغه نه | نوررسولان | خپلو خپلو قومونوته | نوراغلل هغوی ته | دواضحه ښنوسره

نو لږ اوگوره چې دهغې ویرولوشوو انکاریانو انجام څه شو | بیا مو دهغه نه پس نور پیغمبران خپلو خپلو

فَمَا كَانُوْا | لِیُؤْمِنُوْا | بِمَا | كَذَّبُوْا | بِهٖ | مِنْ قَبْلُ ؕ

نونه وو هغوی | چی ایمان ئې راوړې وې | په هغې څیز | چی دروغ ئې گڼرلي وو | هغه | دمخکښې نه

قومونو ته اولیږل نو هغوی ورته ښکاره دلیلونه پیش کړل | خو هغوی په هغې څیز ایمان راونړلود کوم نه یې

Scanned with Ca

كَذٰلِكَ　نَطْبَعُ　عَلٰى قُلُوْبِ　الْمُعْتَدِيْنَ۝

هم دارنګې | مونږ مهر وهو | په زړونو باند | دحدنه داوړيدونکو خلقو |

چې وړاندې انکار کړې وو | مونږ دغسې دسرکشو په زړونو باندې مهر لګوو

آسان ترجمه قرآن

دې نه وروستو مونږ مختلف پیغمبران خپلو خپلو قومونو ته لیږلي وو ، هغوی ورته صفا صفا دلائیل راوړي وو ، لیکن هغې خلقو چه کومه خبره په اول ځل دروغژن کړي وه هغه ئې و نه منله. اوکوم خلق چه دَحد نه ووځي د هغوی په زړونو مونږ دغه شان مهر لګوو.

خلاصه تفسیر

﴿ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ؕ كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِ الْمُعْتَدِيْنَ۝ ﴾ بیا نوح [علیه السلام] نه پس مونږه نور رسولې ن ددوی قومونو ته ولیږل نو هغوی دوی ته سره دمعجزو راغلل [مګر] بیا [هم ددوی دضداوناړامئ داحال ووچه] خه خیزته دوی په اوله [پیره] کښې [یوځل]دروغ وویل داسې ونه شوچه بیائې منلې وی [اوڅنګه چه داخلك په زړونوباندې سخت وو] دغه شان مونږ دکافرانوپه زړونوباندې بندونه لګوو.

ثُمَّ　بَعَثْنَا　مِنْۢ بَعْدِهِمْ

| بیا | اولیږل مونږه | وروستو د هغوی نه

| بیا مو ددغې

مُّوْسٰى　وَهٰرُوْنَ　اِلٰى　فِرْعَوْنَ　وَمَلَا۟ئِهٖ　بِاٰيٰتِنَا　فَاسْتَكْبَرُوْا

موسی | اوهارون | فرعون ته | اوسردارانو دهغه ته | دنښو خپلو سره | نوتکبر اوکړو هغوی

[پیغمبرانو] نه پس حضرت موسی علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام دواړه فرعون او دهغه درباریانو ته په خپلو

وَكَانُوْا　قَوْمًا　مُّجْرِمِيْنَ۝　فَلَمَّا　جَآءَهُمُ　الْحَقُّ　مِنْ عِنْدِنَا　قَالُوْٓا

اوروُ هغوی | قوم | مجرمان | نو هر کله چې | راغې هغوی ته | حق | دطرفه زمونږ نه | نواووئیل هغوی

نښو سره اولیږل | خو هغوی لوئې اوکړه | او دغه خلق [ازاړه] مجرمان وو | اکله چې ورته زمونږ د طرفه حق

اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ　مُّبِيْنٌ۝　قَالَ مُوْسٰٓى　اَتَقُوْلُوْنَ　لِلْحَقِّ　لَمَّا　جَآءَكُمْ ؕ

بیشکه دا جادو دې | ښکاره | اووئیل موسی | آیا وایئ تاسو | حق ته | هر کله | چې راغې تاسو ته

ورغلو انو هغوئ اووئیل چې دا خو ښکاره جادو دې | حضرت موسی علیه السلام اووئیل چې تاسو دهغې حق

اَسِحْرٌ هٰذَا ؕ　وَلَا يُفْلِحُ　السّٰحِرُوْنَ۝　قَالُوْٓا　اَجِئْتَنَا

آیا جادو دې دا | اونه مومې برې | جادوګران | اووئیل هغوئ | آیا راغلې ئې ته مونږ ته

تعلیم په باره کښې چې تاسو ته راغلې دې داخبره کوئې | چې دا [په رښتیا] جادو دې | او جادوګر

Scanned with Ca

لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا

دپاره ددې چې واړوې مونږه | دهغه طريقې نه | چې موندلې دی مونږه | په هغې باندې | پلاران زمونږه

خو هیڅکله نه کامیابیږی | هغوئ جواب ورکړو آیا ته مونږ ته ددې دپاره راغلې يئ | چې مونږ

وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِي الْاَرْضِ ؕ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ۝

اوچې شی | ستاسو دواړو دپاره | لوئي | په زمکه کښې | اونه یو مونږه | تاسو دواړو لره | منونکی دخبرو

هغې لارې نه بل طرفته واړوې چې پلار نیکه مو پرې روان موندلی وو او چې دملک مشری ستاسو د

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِيْ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ۝ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ

او اووئیل | فرعون | چې راولئ تاسو ماته | هر جادوګر | ماهر | نوهرکله چې | راغلل | جادوګران

دواړو شی او مونږ خو تاسو دواړه هیچرې نه منو او فرعون [خپلو سړو ته] اووئیل چې ما لره ټول ماهر

قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰۤى اَلْقُوْا مَاۤ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ۝ فَلَمَّا

اووئیل | هغوئ ته | موسی | چې اوغورزوئ | هغه | چې تاسو ئې | غورزونکی | نوهرکله چې

جادوګر راولئ | کله چې جادوګر راغلل | نو حضرت موسی ورته اووئیل | چې پش کول غواړئ هغه

اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ ۙ السِّحْرُ ؕ

اوغورزوو هغوئ خپل جادو | نو اووئیل | موسی | هغه څیز | چې راوړې دې تاسو | هغه | جادو دې

رامیدان ته کړئ | هرکله چې هغوئ پرې [رسۍ] اوغورزول | ....نو حضرت موسی ﷺ

اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝

بیشکه الله چې دې | زربه باطل کړی هغه | بیشکه الله | نه سموی | کار | دفساد کونکو

اووئیل | چې دا خو جادو دې | چې تاسو راوړئ دې | [خما تعلیم جادو نه دې] دا به الله ﷻ

وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝

اوحق ثابتوی | الله | حق لره | په فرمانونو خپلو سره | اګر که نه خوښوی ئې | مجرمان

اوس باطل کړی | بیشکه الله ﷻ دفسادیانو کار له سمون نه ورکوی | او الله ﷻ دخپلې وعدې مطابق حق

آسان ترجمه قرآن

بیا دې نه وروستو مونږ موسیٰ او هارون علیهما السلام فرعون او د هغه سردارانو ته د خپلو نښو سره ولیږل نو هغوی د تکبر معامله وکړه او هغوی مجرمان وو. نو چه کله هغوی ته زمونږ د طرف نه د حق پیغام راغې نو هغوی ووئیل چه ضرور دا ښکاره جادو دې. موسیٰ علیه السلام ووئیل چه آیا تاسو د حق په باره کښې داسې خبره کوئ حال داچه دا تاسو ته راغلې دې؟ آیا دا جادو دې؟ حال داچه جادوګر نه کامیابیږی. هغوی ووئیل چه آیا ته مونږ ته دې وجې نه راغلې ئې چه په کومه طریقه مونږ خپل پلار نیکه موندلې دي، هغې نه مونږ واړوې .او زمکه کښې ستاسو د دواړو مشری قائمه شی؟ مونږ ستاسو د دواړو خبره نه منو. او فرعون (خپلو نوکرانو ته) ووئیل چه څومره ماهرین جادوګران دی، هغوی ټول ماته راولئ نو چه کله جادوګر راغلل نو موسیٰ هغوی ته ووئیل چه: وغورزوئ هغه چه تاسو غورزونکی یئ

Scanned with Ca

بيا چه كله هغوى (خپلې رسۍ او همساګانې) وغورزولې (او هغې نه ماران جوړ شو او داسې ښكاريدل چه ګرځي) نو موسىٰ ووئيل چه: څه تاسو راوړلې دي دا جادو دې. الله به دا ختموي الله د فسادیانو كار نه جوړوي. اوالله ريښتياؤ لره په خپل حكم سره ريښتيا ښكاره كوي، خواه كه مجرمان هر څومره بد ګڼړي.

خلاصه تفسير

﴿ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوسَىٰ وَهَارُونَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ بِآيَاتِنَا فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴾بيا ددى [بيان شوو]پيغمبرانونه پس مونږه موسى اوهارون[عليهما السلام]فرعون اودهغه سردارانوته خپلو معجزو [عصا اويد بيضا]وركولوسره وليږل نوهغوى [دعوى كولوسره سمدستى ددى درشتيا ګڼلونه]تكبروكړو[اودحق دلتهولولپاره غوږهم ونكړو]اودغه خلك دجرمونو[كولو]عادت وو[خكه ئى تابعدارى ونكړه].

﴿ فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا إِنَّ هَٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾بيا كله چه [پس ددعوى نه]هغوى ته خمونږ دخوانه[دموسى عليه السلام]په پيغمبرئ باندى صحيح دليل وررورسيده [معجزه] نو هغوى وويل چه يقينا دابنكاره جادودى،.

﴿ قَالَ مُوسَىٰ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَكُمْ ۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُونَ ﴾موسى[عليه السلام] اوفرمائل آياتاسوددى صحيح دليل په باره كښى كله چه هغه تاسوته راورسيدوداسى خبرى كوى [چه داجادودى] آيا ،داجادودى،حالانكه جادوګركله چه دپيغمبرى دعوه وكړى نودمعجزى په ښكاره كولوكښى]نشى كاميابيدى[اوځه كامياب شوم چه اول مى دعوه وكړه بيامى معجزى ښكاره كړى].

﴿ قَالُوا أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا الْكِبْرِيَاءُ فِي الْأَرْضِ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ ﴾دغى خلكو [ددى تقريرهيڅ جواب ورنه كړې ی شوهمدغسى دجهالت په طريقه ئى]وويل ايا، تاسو مونږته خكه راغلى ئى چه هغى طريقى نه مو واړوئ چه مونږه پرى بزرګان ليدلى دى او[دى دپاره راغلى ئى چه]تاسودواړوته په دنيا كښى رياست [اوسردارى]ميلاوشى او[تاسوښه پوه شئ چه]مونږبه تاسودواړه هيڅيرى ونه منو.

﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُونِي بِكُلِّ سَاحِرٍ عَلِيمٍ ﴾ اوفرعون[خپلوسردارانوته وويل چه ماته ټول ماهرجادوګران [چه خمونږپه حكومت كښى دى]حاضركړى[چنانچه راجمع كړې ی شو].

﴿ فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَا أَنتُم مُّلْقُونَ ﴾نو كله چه هغوى راغلل [او موسى عليه السلام سره ئى مقابله وشوه نو]موسى[عليه السلام] هغوى ته وفرمائل چه وغورځوئ څه چه تاسولره [په ميدان كښى]غورځول دى.

﴿ فَلَمَّا أَلْقَوْا قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ السِّحْرُ ۖ إِنَّ اللَّهَ سَيُبْطِلُهُ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ ﴾نو كله چه هغوى [دجادوخپل سامان]وغورځول نو موسى[عليه السلام]اوفرمائيل چه كوم تاسو [جوړكړى] راوړى دى جادو دادې [يعنى هغه جادونه دى كوم ته چه فرعونيان جادو وائى]يقينى خبره دا ده چه الله تعالى دغه[جادو]ګډوډ كول غواړى [خكه چه] الله تعالى دداسى فساديانو كارجوړيدوته نه پريږدى [چه دمعجزى مقابله كوى].

﴿ وَيُحِقُّ اللَّهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ ﴾ الله تعالى[څنګه چه دباطل دخاوندانوباطل لره د حقو معجزوپه مقابله كښى باطلوى دغه شان]صحيح دليل [يعنى معجزى]دخپلووعدوپه جوړ [چه

د پیغمبرانو علیه السلام دپیغمبرئ ثابتولولپاره دی]، ثابتوی اګرچه مجرمان اوکافران ئی بد ګڼی.

فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ

نو ایمان رانوړو | په موسی باندې | مګر | اولاد | دقوم دهغه نه | سره دیرې | دفرعون نه

غالب کوی |اګر که د مجرمانو ناخوښه وی | نو د حضرت موسی علیه السلام خبرې([1]) نور چا اونه منلې

وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ

اودسردارانودهغوئ نه| چې په عذاب کښې به مبتلاکړی هغوئ لره([2])|اوبیشکه| فرعون | خامخا دغلبې خاوندوؤ

خوصرف دهغه د خپل قوم بعضې کشرانو اومنلې|سره دفرعون اودهغه قوم دسردارانو دویرې چې په مصیبت کښې

فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ۝ وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ

په زمکه کښې | اوبیشکه هغه | خامخا دحدنه داوړیدونکو نه وؤ | اواووئیل موسی | اے قومه زما

ئې اخته کړی|اوبیشکه فرعون په ملک کښې د ډیر زورخاوند وو| اوهغه به ډیر زیاتې کولو| او

اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ۝

که یئ تاسو|چې ایمان موراوړې وی|په الله باندې|نوپه هغه باندې|بروسه کوئ([3])|که یئ تاسو|حکم منونکی

موسی علیه السلام اووئیل چې ائې څما قومه |که تاسو په |ربښتیا په] الله جل جلاله تعالی ایمان راوړې وی |نو په هغه

---

[1]) **په حضرت موسی علیه السلام باندې ایمان راوړونکی:** "بنی اسرائیل" دفرعون دلاسه سخت په عذاب او تکلیف کښې وو اومخکښو پیشن ګویانو په انتظارکښې وو چه دفرعون دظلمونو باب به کله بندیږی اودده د حکومت تخته به کله الټه کیږی. اسرائیلی پیغمبربه مبعوث شی حضرت موسی علیه السلام په دې شان سره تشریف راوړو چه دکوم دوی په انتظار کښې وو . ددوی دوجې ټولو بنی اسرائیلود حضرت موسی علیه السلام بعثت یو لوی نعمت ګڼړلو . هغوی په زړه کښې حضرت موسی علیه السلام ربښتونې ګڼړلو او ددوی به ئې عزت کولو خو اکثرخلق دفرعون او دفرعونیانونه ویریدل . ددې وجې په شروع کښې شرعی طور ایمان رانوړو او ددې وخت په انتظار کښې وو چه کله به دحق غلبه اوشی اومسلمانان به غالب شی دبنی اسرائیلوځوانانوهمت اوکړواو ددوی باجود د فرعونیانو نه دویردلوپه ځائې ئې دخپل اسلام اظهارپه ښکاره اوکړو. چه څود شمیر قبطیان هم مسلمانان شو چه دا دفرعون دقوم نه وو . آخرکښې چه کله دحضرت موسی علیه السلام داثراوحق غلبه اوشوه نو بیاټول بنی اسرائیل مسلمانان شو چه د دوی تعداد شپږلاکهه وو په دې ځائې کښې دابتداء قصه بیان شوې ده .

[2]) **د ملاء څخه مراد:-** ددوی سرداران نه مراد یاخودفرعون عُمال اوحکام دی اویادبنی اسرائیلو هغه سرداران دی چه دځه ویرې او طمعې په وجه ئې خپل قوم دفرعون دمخالفت نه ویرولو. او دزور ورکولو مطلب دادې چه کله فرعون دایمان راوړونکو خبر واوری نو دوی ته به سخته سزا ورکړی. اوممکن وو چه په دې سره څوکمزوری مسلمانانو ته زور ورکړی .

[3]) **د فرعون څخه مه ویریږئ:-** یعنی دویریدو څه ضرورت نشته دې دیوفرمانبرداره مسلمان کار دخپل مالك په طاقت باندې یقین کول دی چه دده به دالله تعالی په لامحدوده طاقت باندې یقین وی . او یقینی طوربه په هره معامله کښې په الله تعالی باندې یقین کوی او ددې اعتماداظهارهله کیدې شی چه بنده کله دالله تعالی په حواله وی اودهغه په حکم روان وی اوپه ټولوهلوځلو کښې دده نظرصرف په الله تعالی باندې وی

Scanned with Ca

فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ
نو اووئیل هغوئ | په الله باندې | بروسه اوکړه مونږه (۱) | اے ربه زمونږه | مه جوړوه مونږه | فتنه | دپاره دقوم
باندې بهروسه هم اوساتئ اکه تاسو فرمانبردار یئ انو هغوئ جواب ورکړو چې زمونږ په الله ﷻ

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾
ظالمانو | او خلاصي راکړه مونږ له | په رحمت خپل سره | دقوم کافرانه
توکل دي ، | اې زمونږ ربه ته مونږ د ظالمانو دپاره فتنه مه گرزوني | په خپل رحمت مو دکافرانو نه خلاص کړې

آسان ترجمه قرآن

بیا وشوه دا چه په موسیٰ باندې لور چا نه لیکن خپله دهغه د قوم څو ځوانانو د فرعون او دخپلو سردارانو نه په ویره ویره ایمان راوړو چه چرته فرعون دوی ته تکلیف وو نه رسوي او یقیناً فرعون په زمکه کښې ډیر زورآور وو ، او هغه د هغه خلقو نه وو چه په څه حد باندې ولاړ نه وي. او موسیٰ ووئیل چه: اې څما قومه اکه تاسو واقعي په الله باندې ایمان راوړي وي نو بیا په هغه باندې اعتماد وکړئ. که تاسو تابعدار یئ. په دې باندې هغوی ووئیل چه مونږ په الله باندې اعتماد کړې دې اې څمونږ پروردګاره! مونږ ددې ظالمانو په لاس امتحان کښې مه اچوه. او خپل رحمت سره مونږ ته دکافر قوم نه خلاصي راکړه.

خلاصه تفسیر

﴿ فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰۤى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ۭ ﴾ پس [هرکله چه دهمسا معجزه ظاهره شوه نو] موسی [علیه السلام] باندې [ابتداء کښې] دده دقوم نه صرف لږقدری خلکو ایمان راوړوهغه هم دفرعون نه اودخپلوحاکمانونه په ویره ویره چه چیرته [په ښکاره کیدو] دوی ته تکلیف [ونه] رسوی اوپه واقع کښې [ددوی ویره بی ځایه نه وه ځکه چه].
﴿ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۸۳﴾ ﴾فرعون په دی ملك کښې زور او [حکومت] لرلواوداخبره هم وه چه دی دحد [انصاف] نه بهروتلو [ظلم ئی کولو، بیاچه کوم بیا چه کوم حکومت ظالم هم وی دهغه نه خوخامخاویره کیږی].
﴿ وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْۤا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿۸۴﴾ ﴾او موسی [علیه السلام] چه هرکله ددوی ویره ولیده نودوی ته ئی] وفرمائل چه ای څماقومه که تاسو [په رشتیاسره] په الله ایمان لری نو [سوچ فکرمکوئ بلکه] په هغه توکل کوئ که چیری تاسو [دهغه اطاعت کوونکی ئی.
﴿ فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾ ﴾دوی [په جواب کښی] اوویل چه مونږ په الله توکل کړیدی [اوبیا ددی نه پس ئی دالله نه سوال وکړوچه] ای څمونږه پروردګاره مونږ د ظالمانو

(۱) د بنی اسرائیلو اقرار:- دحضرت موسی علیه السلام په نصیحت باندې هغوی داخلاص اظهاراوکړو چه بیشکه زمونږ یقین صرف په الله تعالی باندې دې . هم دهغه ذات نه دعا غوارو چه مونږ دې ددې ظالمانو دظلم لاندې نه راولی لکه څنګه چه دوی په خپل طاقت سره ظلم کښې اخته دی . اومونږ دوی ته هیڅ نشو وئیلې په داسې صورت کښې څمونږ دین ته هم خطره ده او دې ظالمانو یانورو خلقوته به د خبرو کولو موقع په لاس ورشی که مونږ په حق نه وې نو تاسو باندې به داسې ولې غالب راتلو. اوتاسویه دومره لاندې ولې وې . داخیال به ګمراهان نور هم ګمراه کړی . ګویاچه یوحیثیت سره به څمونږ وجود ددوی دپاره فتنه جوړه شی .

Scanned with Ca

خلکو د ظلم نه وساتي.

﴿وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ﴾ او مونږ د خپل رحمت په صدقه کښې ددې کافرانو نه خلاص کړې.

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ

او وحی اوکړه مونږه | موسی ته | او ورور دهغه ته | چې جوړ کړئ دواړه | دپاره دقوم خپل | په مصر کښې

او مونږ حضرت موسی علیه السلام او د هغه رور ته وحی اوکړه چې تاسو د خپل قوم دپاره

بُيُوْتًا وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۸۷

کورونه | او جوړ کړئ | دخپلو کورونو نه | قبله | او قائم کړئ مونځ | او زیرې ورکړه | مومنانو له

په مصر کښې کورونه جوړ کړئ او خپل کورونه د مانځه ځایونه جوړ کړئي او د مانځه پابندي ساتئ

وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً

او اووئیل موسی | اے ربه زمونږه | بیشکه تا | ورکړي دي | فرعون ته | او سردارانو دهغه ته | ښائست

او ته مومنانو ته زیرې ورکړه | او حضرت موسی علیه السلام اووئیل ائې زمونږ پروردګاره | تا فرعون ته

وَّاَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ۚ

او مالونه | په ژوند د دنیا کښې | اے ربه زمونږه | دپاره ددې چې بې لارې کړې خلق | د لارې ستا نه

او دهغه سردارانو ته په دې دنیاوی ژوند کښې ډیر د ښائست سامان او ډیر مالونه ورکړې دی | [نتیجه ئې دا چه]

رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا

اے ربه زمونږه | هلاك کړه | مالونه ددوئ | او مهر اولګوه | په زړونو ددوئ باندې | چې ایمان رانوړي دوئ

ائې ربه هغوئ ستا دلارې نه خلق ګمراه کوی | ائې ربه ددوئ مالونه ختم کړې | او زړونه ئې دومره سخت کړه

حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۝۸۸ قَالَ قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا

ترهغې پورې | چې اووینی دوئ | عذاب | دردناك | اووئیل الله | چې قبوله کړې شوه | دعا ستاسو دواړو

چې هیڅرې ایمان رانه وړی | ترڅو چې دردناك عذاب اووینی | الله ﷻ ورته اووئیل چې ستاسو دواړو دعا قبوله

فَاسْتَقِيْمَا وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۸۹

نو مضبوط شئ دواړه | او هرګز پیروی مه کوئ تاسو | دلارې دهغه کسانو | چې علم نه لری

شوه | نو پخپله لار قائم اوسیږئی | او دهغه چا په لار مه ځئ | چې نه پوهیږی

وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُوْدُهٗ

او پورې ایستل مونږه | بنی | اسرائیل | دسمندرنه | نوروان شو په هغوئ پسې | فرعون | او لښکر دهغه

او مونږ بنی اسرائیل د سمندر نه پورې ویستل | نو فرعون او دهغه لښکرې ورپسې د ظلم او زیاتئ په

بَغْيًا وَّعَدْوًا ؕ حَتّٰىٓ اِذَآ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ ۙ قَالَ

په غرض دزیاتی | او په غرض دظلم | تردې پورې | کله چې | راګیر کړو هغه لره | ډوب والی | نو وې وئیل

غرض روان شول | تردې چې هغه په ډوبیدو شو | نو وې وئیل چې زه ایمان راوړم

Scanned with Ca

اٰمَنْتُ　اَنَّهٗ　لَاۤ اِلٰهَ　اِلَّا　الَّذِیْۤ　اٰمَنَتْ

چې ایمان راوړو ما | چې بیشکه | نشته لائق د عبادت | مګر | هم هغه دې | چې ایمان راوړي دي |

چې بل الله نشته مګر هغه دې | چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړي دي

بِهٖ　بَنُوْۤا اِسْرَآءِیْلَ　وَاَنَا　مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ۝　آٰلْـٰٔنَ　وَقَدْ عَصَیْتَ

په هغه باندې | بنی اسرا ءیلو | اوزه هم | په منونکو کښی یم | آیا اوس | اونافرمانی کوله تا

او په مسلمانانو کښې شاملیږم | [جواب ورکړې شو] آیا اوس ایمان راوړې او ودې نه مخکښې

قَبْلُ　وَكُنْتَ　مِنَ الْمُفْسِدِیْنَ۝

مخکښی ددې نه | او وې ته | دفسادکونکو نه |

خو به تا سرکشی کوله | او په فسادیانو کښې شامل وې |

آسان ترجمه قرآن

اومونږ موسٰی او د هغه ورور ته وحی اولیږله چه: "تاسو دواړه خپل قوم لره د مصر په کورونو کښې وسوئ، او خپل کورونه د مانځه ځایونه جوړ کړئ او (دغه شان) مونځ ادام کوئ، او ایمان راوړونکو ته زیرې ورکړئ. او موسٰي ووئیل چه: اې ځمونږ پروردګاره! تا فرعون ته او د هغه سردارانو ته د دنیا په ژوند کښې ډیر ښایست او مال او دولت ورکړې دې اې ځما پروردګاره ددې نتیجه دا راوځي چه دوی خلق ستا د لارې نه بندوي. اې ځمونږ پروردګاره! د دوی مال او دولت ختم کړه او د دوی زړونه دومره سخت کړه چه دوی تر هغه وخته پورې ایمان رانه وړي چه تر څو دوی په سترګو باندې دردناک عذاب نه وي لیدلې الله ووئیل چه ستاسو دعاء قبوله شوې ده — اوس دواړه کلک شئ، او هغه خلقو پسې بالکل مه ځئ چه د حقیقت نه خبر نه دي او مونږ بنی اسرائیل په دریاب باندې پورې ویستل، نو فرعون او د هغه لښکر د ظلم او زیاتي په نیت سره دوی پسې هو تر دې چه د ډوبیدو انجام د دوی په سر راغلو نو وئې ووئیل: " چه ما ومنله چه په کوم خدائې باندې بنی اسرائیلو ایمان راوړې دې، دهغه نه سوا بل معبود نشته. اوځه هم په تابعدارو کښې شامل یم (جواب ورکړې شو چه) اوس ایمان راوړئ؟ حال دا چه دې نه مخکښې تا نافرمانۍ کړې وه او فساد دې کولو.

خلاصه تفسیر

﴿ وَاَوْحَیْنَاۤ اِلٰی مُوْسٰی وَاَخِیْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُیُوْتًا وَّاجْعَلُوْا بُیُوْتَكُمْ قِبْلَةً وَّاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ۝ ﴾ او مونږ [ددی دعا د قبلیدو سامان وکړو چه] موسی [علیه السلام] او دده ورور هارون [علیه السلام] ته مونږ وحی ولیږله چه تاسو دواړه د خپلو دی خلقو لپاره [په زړه طریقه] په مصر کښی کورونه برقراره وساتئ [یعنی دوی دی دویری نه کورونه نه پریږدی مونږ د دوی حفاظت کوونکی یو] [او د مانځه په وختونو کښی] تاسو ټول پخپلو دغو کورونو کښی د مانځه ځای مقرر کړئ [یعنی دویری له وجی جماتونو ته حاضری معاف ده] او [دا ضروری ده چه] د مانځه پابندی کوئ [چه د مانځه په برکت سره الله تعالی زر تر زره ددی مصیبت نه نجات درکړی] او ای موسی [علیه السلام] ته مسلمانانو ته خوشخبری ورکړه [چه اوس به زر دا مصیبت ختم شی].

﴿ وَقَالَ مُوْسٰی رَبَّنَاۤ اِنَّكَ اٰتَیْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِیْنَةً وَّاَمْوَالًا فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۙ رَبَّنَا لِیُضِلُّوْا عَنْ سَبِیْلِكَ ۚ ﴾ او موسی [علیه السلام] په دعا کښی عرض وکړو چه ای زمونږ ربه [مونږ ته دا خبره معلومه شویده چه] تا

Scanned with Ca

فرعون ته اودده سردارانو ته دښائست سامان اوقسم قسم مال ددنیاپه ژوند کښې ای زمونږه ربه پدې وجه ورکړې یدې چه دوی ستادلارې نه [خلکولره] گمراه کړي.

﴿رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰ أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ﴾ [پس هر کله چه هدایت ددوی په تقدیر کښې نشته اوکوم حکمت چه ووهغه حاصل شونواوس ولې ددوی نفسونه اومالونه باقي پاتې کړې ی شي پس]ای زمونږه ربه ددوی مالونه نیست نابودکړه او[ددوی دهلاکت سامان وکړې داسې چه]ددوی زړونه[زیات] سخت کړې [چه پدې سره دهلاکت مستحق شي] پس چه دوی ایمان رانه وړي[بلکه ورځ په ورځ ئې کفر سوا کیږي]تردې چه [د]دردناك عذاب [مستحق شي هغه]اووینې [نودغه وخت ایمان نفع نه ورکوی موسی [علیه السلام]]دادعاکوله اوهارون علیه السلام به آمین ویلو[درمنثور].([1])

﴿قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ الله تعالی وفرمائل چه ستاسو دواړو دعا قبوله شوه[ځکه چه آمین ویل هم په دعاکښې شریکیدل دي یعني اوس مونږددوی مالونه اونفسونه هلاکوو] پس تاسو[پخپل منصبي کار یعني تبلیغ باندې] ثابت قدم اوسئ [اگرکه هدایت ددوی په تقدیر کښې نه وي مگر تبلیغ کښې ستاسوفائده خوشته] اودهغه خلکو په لاره مه ځئ کوموته چه[زمونږدوعدي درشتوني کیدویاپدې چه صبرکښې حکمت دي یا د تبلیغ ضروري کیدو]علم نشته [یعني زمونږه وعده رشتوني وگنئ اوکه ددوی په هلاکت کښې لږوخت تیرشي نوپه دې کښې حکمت وگنئ او پخپل منصبي کار یعني تبلیغ لگیااوسئ]

﴿وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا﴾ او[کله چه مونږدفرعون هلاکول وغوښتو نو موسی[علیه السلام]ته موحکم وکړوچه بني اسرائل دمصرنه وباسه نوده ټول دځان سره روان کړل او په لاره کښې دریابې شورراغئ اود موسی[علیه السلام]په دعاسره پکښې لاره وشوه او] مونږ بني اسرائیلولره د[دي]دریاب نه پوري ویستل بیاپدوی پسې وروستو وروستوفرعون سره دخپل لښکرنه دظلم اوزیاتئ په اراده سره [په دریاب کښې]روان شو [چه ددریاب نه پوري وخي اوددوی سره مقابله وکړي لیکن دوی ددریاب نه پوري نه شو].

﴿حَتَّىٰ إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾ تردې چه هرکله په ډوبیدوشو [اودعذاب ملائك ئې په نظرراغلل]نو[بدحواسه شو]اوونئ ویل چه زه ایمان راوړم چه بغیردهغه[ذات] نه په چاچه بني اسرائیلوایمان راوړی دی،بل هیڅوك معبود نشته اوزه په مسلمانانوکښې شاملیږم[نوماته ددي غرقیدواوداآخرت دعذاب نه خلاصئ راکړې شي] د فرشتې په ذریعه] جواب ورکړې شوې چې اوس ایمان راوړې؟ [حال دا چې د آخرت لیدل شروع شوی دي. ﴿آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ﴾ او[داخرت دلیدونه اول خودې سرکشي کوله اوپه فسادکوونکوکښې داخل وې اوس نجات غواړې؟

معارف او مسائل

په دې آیتونو کښې د حضرت موسی علیه السلام او د حضرت هارون علیه السلام ،د بني اسرائیلو او فرعونیانو بعضې حالات او هغې سره تړلې احکام بیان شوې دي، په رومبي آیت کښې د یوې خاصې واقعې په باره کښې حکم داسې راغلې دې چه بني اسرائیل د حضرت موسی علیه السلام په دین باندې

[1]) الدر المنثور تحت هذه الآية: ج۵، ص ۳۶۳

روان وو، دوی به د خپل عام عادت په جوړ مونځونه یواځې په خپلو عبادت خانو [صومعو] کښې ادا کول، او د پخوانو امتونو د پاره حکم هم دغه وو چه د هغوی مونځونه به په خپلو کورونو کښې نه شو ادا کیدې، دا خصوصی اسانی امت محمدیه ﷺ ته ورکړې شوه چه هر ځای مونځ ادا کولې شی، چنانچه د صحیح مسلم په یو حدیث کښې رسول الله ﷺ د خپلو شپږو خصوصیتونو نه یو خصوصیت دا هم بیان کړې دې چه زما د پاره ټوله زمکه جومات جوړه کړې شوه، یعنی هر چرته د دې امت مونځ کیدې شی،(۱) دا بله خبره ده چه فرض مونځونه په جوماتونو کښې په جمع سره سنت مؤکده او گرځولې شو او د نفلی مونځونو په کورونو کښې ادا کول غوره دی، د رسول الله ﷺ عمل هم په دې وو چه په جومات کښې به ئې صرف فرض مونځ په جمع سره ادا کولو، سنت او نفل مونځ به ئې کور کښې ادا کولو بنی اسرائیل د خپل مذهب په جوړ د دې پابند وو چه مونځ به صرف په خپلو عبادت خانو کښې ادا کوی، فرعون به یو خوا دوی ته قسم قسم نقصانونه ورکول او قسما قسم ظلمونه به ئې پرې کول بل خوا ئې د دوی ټولې عبادت خانې ځکه ورانې ویجاړې او لوټې لوټې کړې چه دوی د خپل مذهب په جوړ مونځ ادا نه کړې شی، په دې سره الله تعالی د بنی اسرائیلو دواړو پیغمبرانو حضرت موسی ؑ او حضرت هارون ؑ ته هغه حکم ورکړو کوم چه په دې آیت کښې په دې شان بیان شوې دې چه بنی اسرائیلو د پاره دې په مصر کښې نوی کورونه جوړ کړې شی چه مخه ئې قبلې ته دې د پاره وی چه هغوی هم په خپلو کورونو کښې مخ په قبله مونځونه ادا کولې شی.

دې نه معلومه شوه چه پخوانو امتونو ته دا حکم وو چه مونځونه دې صرف په عبادت خانو کښې ادا کوی، په عارضی طور خاص د دې عذر په وجه که بنی اسرائیلو ته په خپلو کورونو کښې د مونځ کولو اجازت ورکړې شو بیا هم د دغې خاص کورونو نه سوا په بل ځای کښې د مونځ کولو اجازت ورته نه وو، په عامو کورونو کښې به ئې هم مونځونه نه شو کولې د کومو مخونه به چه قبلې ته نه وو، دا د دې امت خصوصیت دې چه په هر کور، هر مقام، هر ښار او ځنگل، صحرا او بیابان کښې د مونځ کولو آسانی ورکړې شوې ده [روح]. (۲)

دلته کومه قبله مراد ده چه ورته د مخ کولو حکم شوې دې؟ حضرت عبد الله بن عباس ؓ فرمائی چه دې نه کعبه مراد ده ځکه چه هم دا د حضرت موسی ؑ او د هغه د ملگرو قبله وه [قرطبی و روح] (۳) بلکه د ټولو پخوانو پیغمبرانو ؑ قبله هم په اصل کښې کعبه وه.

او په کوم حدیث شریف کښې چه د یهودو په مونځ کښې صخرهٔ بیت المقدس ته د مخ کولو بیان راغلې دې نو دا د هغې زمانې خبره کیدې شی چه حضرت موسی ؑ مصر پریښودو او بیت المقدس ارخ ته روان شو، خو د مصر د استوگنې په زمانه کښې موسی ؑ کعبې [بیت الله] ته مخ کول [په مانځه کښې] ابې سمونه نهٔ شی کیدې. (۴)

---

۱) صحیح مسلم، کتاب المساجد ــــ الخ: ج ۱، ص ۱۹۹
۲) روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۹۳
۳) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۳۷۱، وروح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۹۳
۴) روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۹۳

Scanned with Ca

دې ايت نه دا هم ثابته شوه چه مونځ کښې قبلې ته د مخ کولو شرط د ټولو پيغمبرانو ﷺ په زمانه کښې وو، ځکه چه د معتبرو روايتونو نه مخه طهارت او ستر د عورت هم د ټولو پيغمبرانو ﷺ د مونځ د پاره شرط کيدل ثابت دی.

مخ په قبله د کورونو د جوړولو نه مقصد هم دا وو چه هم په کورونو کښې دې مونځونه ادا کولې شي ځکه چه وروستې په ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ سره د حکم په ورکولو دا هدايت ورکړې شو که فرعونيان مو په خپلو مخصوص عبادتګاهونو کښې مونځونو ادا کولو ته نه پريږدی نو مونځ مه پريږدې بلکه په خپلو کورونو کښې ئې ادا کوې.

په آخر د آيت کښې حضرت موسى عليه السلام ته په خطاب کولو سره حکم ورکړې شو چه مومنانو ته د دوی د مقصود پوره کيدو او په دشمنانو باندې د غالب کيدو زيرې واوروه او دا هم چه په آخرت کښې به ئې جنت نصيب کيږي[روح] ۔[1]

د آيت په اول سر کښې حضرت موسى عليه السلام او هارون عليه السلام ته د تثنيې په صيغې سره خطاب ځکه اوکړې شو چه مخ په قبله د مکانونو جوړولو هدايت کول او په دې کښې د مونځ کولو اجازت ورکول هم د دوی ﷺ کار وو، وروستې د جمعې په صيغې سره ئې په کښې ټول بنی اسرائيل شامل کړل او د مونځ حکم ئې ورکړو ځکه چه په دې حکم کښې پيغمبر او امت ټول داخل دی، په آخر کښې د زيری ورکولو حکم خاص موسى عليه السلام ته ځکه ورکړې شو چه په اصل کښې د شريعت خاوند پيغمبر هم موسى عليه السلام وو، د جنت زيرې ورکول هم د دوی حق وو.

په دويم آيت کښې د فرعونيانو د اصلاح نه په نااميده کيدو سره د حضرت موسى عليه السلام د ښيرو کولو بيان دې چه په شروع کښې هغوی عليه السلام د الله تعالى په دربار کښې دا عرض کړې دې چه تا، فرعون ته د دنيا د ښائست سازوسامان او ډير مال دولت ورکړې دې، د مصر نه د حبشې تر ملک پورې دې د سرو زرو د چاندې، د زبرجدو، زمردو، او ياقوتو وغيره[جواهراتو]کانونه ورکړې دی[قرطبی] ۔[2] د دغې څيزونو په اثر سره خلقو لره ستاسو د لارې نه گمراه کوی، ولې چه عام خلق د دوی سازوسامان، عيش وعشرت، آرام او مزو چرچو ته چه گوری نو شک ئې راځی چه که دوی گمراهان وی نو د الله تعالى په دې نعمتونو به ولې برپوره وو؟ ولې چه عام خلق خو هم دغه ظاهری نعمتونو ته گوری او په دې حقيقت نه پوهيږی چه بغير د نيک عمل نه دغسې دنيوی وده د دې دليل نه شی جوړيدې چه د نعمتونو دغه خاوندان په حقه دی.

حضرت موسى عليه السلام کله چه د فرعونيانو د اصلاح او سميدو نه نا اميده شو او د دوی د لوئې مالدارې او دنيادارې په وجه ئې د نورو خلقو د گمراه کيدو خطره محسوسه کړه نو ښيرې ئې اوکړې چه ﴿رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰ أَمْوَالِهِمْ﴾[اې زمونږ پروردگاره د دوی د مالونو شکلونه بدل کړې چه وران او بيکاره شی] ۔

د حضرت قتاده رحمه الله د بيان مطابق د دې ښيرو نتيجه دا راوته چه د فرعونيانو ټول زر، جواهر، ټول نغديت او ټول د فصل پيداوار د کانړو په شکل کښې بدل شو، چنانچه د حضرت عمر بن

---

[1]) روح المعانی تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۹۳
[2]) تفسير القرطبی تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۳۷۳

عبدالعزیز په زمانه کښې د دغې زمانې څه څیزونه[بادام او اګې وغیره]په یو بوجګې کښې بیا موندې شوې وو چه د کاڼرو په شکل شوې وو.(١)دغه شان د تفسیر امامانو فرمائیلې دي چه الله تعالى د دوی ټول میوې،ترکاریانې او غلې د کاڼرو په شکل کښې بدلې کړې وې،

دا د الله تعالى د هغه نهه معجزاتو نه یوه معجزه وه کومې چه په دې شان بیان شوې دی؛﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ﴾ حضرت موسى ﷺ بله ښیره داسې کړې وه[﴿وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ﴾[یعنی اې پروردګاره د دوی زړونه داسې سخت کړې چه دا د ایمان او څه ښیګړې جوګه [قابل] پاتې نه شی او د عذاب الیم د راتلو نه وړاندې ایمان راونه ړې شی] .

په ښکاره خو داسې ښیرې کول د پیغمبر د شان سره جوړښت نه لری ولې چه د پیغمبر شان دا دې چه خلقو ته د ایمان او نیک عمل بلنه ورکړی او د دې انتظام اوکړی،خو دلته د حضرت موسى ﷺ ټولې خوارې هر کله چه په دوی هیڅ اثر او نه کړونو موسى ﷺ ترې نا امیده شو او دا ئې اوغوښتل چه د دوی د ناکړدو سزا په خپلو سترګو اووینی،د دې یو صورت دا هم کیدې شی چه د عذاب د نخښه نښانو په لیدلو سره دوئ د ایمان اقرار اوکړی او د عذاب راتلل پرې ایسار کړې شی،د دې وجهې نه د کفر نه بغض او نفرت د دې ښیروسبب اوګرزیدو.لکه چه فرعون د غرقیدو په وخت کښې د ایمان اقرار کوو نو جبریل امین ﷺ د هغه خله بنده کړه چه هسې نه د الله تعالى رحمت ورته متوجه شی او دې د عذاب نه بچ شی.

د دې ښیرو بل مطلب دا هم کیدې شی چه دا په حقیقت کښې ښیرې نه وی بلکه دا ښکاره کول وی چه الله تعالى د دوی زړونه داسې سخت کړې دی چه ایمان او اصلاح نه قبلوی،د دې بل مثال داسې دې چه هر کله د قرآن کریم د ښکاره فیصلې مطابق شیطان لره الله تعالى ملعون ګرځولې دې،بیا په ده باندې لعنت وئیل ښیره نه شوه بلکه د دغې خداوندی فیصلې ښکاره کول شو.

په دریم آیت کښې د حضرت موسى ﷺ د دعا قبلیدل بیان شوې دی،خو په دې کښې ورسره حضرت هارون ﷺ څکه شریک کړې شو[او داسې اوفرمائیلې شو ﴿قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا﴾[ستاسو د دواړو دعا قبوله شوه]چه اصل دعا د حضرت موسى ﷺ وه او حضرت هارون ﷺ پرې آمین وئیلې وو،دې نه دا هم معلومه شوه چه د چا په دعا باندې آمین وئیل په دغې دعا کښې ورسره شریکیدل دی،د دعا مسنونه طریقه هر کله چه په قرآن کریم کښې په مزه او په رو آواز سره ښودلې شوې ده نو په رو آواز سره د دې وئیل غوره معلومیږی.

په دې آیت کښې د دعا د قبلیدو خبر دې دواړو پیغمبرانو ته ورکړې شو خو څه قدرې ازمیښت په کښې د دوی دا شان هم وو چه د امام بغوی په قول د دې دعا[ښیرو]د قبلیدو اثر څلویښت کاله پس ښکاره شو(٢) څکه ورته داسې اوفرمائیلې شو [﴿فَاسْتَقِيْمَا وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ [یعنی په خپل منصبی کار کښې په مخه لګیا اوسې،د دعا د قبلیدو په اثر کښې په ډیل راتلو سره د جاهلانو پشان تادی مه کوه]

---

١) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج۸، ص ۳۷۳، والتفسير البغوي تحت هٰذه الآية: ج۲، ص ۳۷
٢) التفسير البغوي تحت هٰذه الآية: ج۲، ص ۳۸

په څلورم آیت کښې د حضرت موسی ﷺ د مشهورې معجزې [دریاب نه ئې د پورې وتو] او د فرعون د غرقیدو او د واقعې بیانولو نه پس فرمائی ﴿حَتّٰۤى اِذَاۤ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِیْۤ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْۤا اِسْرَآءِیْلَ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ۝﴾ [یعنی کله چه فرعون په غرقیدو شو نو وئیل ئې چه ایمان راوړم په دې خبره چه په کوم خدای باندې بنی اسرائیلو ایمان راوړې دې د هغه نه سوا بل هیڅوک معبود نشته او زه د فرمانبردارو نه یم].

په پنځم آیت کښې الله تعالی د دې جواب داسې ورکړې دې ﴿آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَیْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِیْنَ۝﴾ [یعنی ښه؛ته اوس مسلمانیږې هر کله چه د ایمان او اسلام وخت تیر شو؟].

دې نه ثابته شوه چه خالص د سا ختو په وخت کښې د شریعت له مخه د ایمان راوړل معتبر نه دی، د دې زیات وضاحت د هغې حدیث نه کیږی چه په کوم کښې رسول الله ﷺ داسې فرمائی؛ الله تعالی ترهغې وخته پورې دبنده توبه قبلوی ترڅوچه دمرګ آخری سلګې نه وی راغلې [ترمذی] ([1])

دې نه هغه وخت مراد دې چه د سا وتو په وخت کښې فرښتې مخې ته راشی دغه وخت نه د دار العمل [دنیا] ژوند ختم شی، د آخرت حکمونه شروع شی ځکه د دغې وخت هیڅ یو عمل د قبلیدو قابل نه دې، که هغه ایمان وی او که کفر، خاص په دغه وخت کښې به ایمان راوړونکې به مومن نه شی ګڼړلې او نه به ئې د مسلمانانو په شان کفن دفن کولې شی، ځنګه چه د فرعون د دغې واقعې نه ثابته ده چه په اجماع د امت سره د هغه مرګ په کفر باندې منلې شوې دې، او په ګڼړو ځایونو کښې قرآن کریم هم دغسې په ښکاره فرمائیلې دی، بیا هم که چا د هغه ایمان ته معتبر وئیلې دی نو د هغې تاویل به کول شی یا به ورته غلط وئیلې شی [روح] ([2])

هم دا شان خدای دې نه کړی که د سا وتو په وخت کښې د چا د خلې نه د کفر کلمه راوځی نو هغه ته به کافر نه شی وئیلې، د مسلمانانو په شان به پرې د جنازې مونځ کولې شی، د ده د کفر د کلمې تاویل به کولې شی، ځنګه چه د بعضې اولیاءالله د حالاتو نه د دې تائید کیږی، چه د هغه د خلې نه د کفر کلمې په راختو خلقو کافر ګڼړلو او ډیر پریشانه شو خو کله چه دغه اولیاء الله په خود کښې راغې او د دې خبرې مطلب ئې بیان کړو نو د ټولو تسلی اوشوه او پوهه شو چه هغه خالصه د ایمان کلمه وه.

خلاصه دا شوه چه د سا ختو په وخت د دغه کس څه نوې عمل د شریعت له مخه معتبر نه دې، هم هغه عمل به ئې معتبر وی کوم ئې چه په ژوند کښې کولو، ځکه په کښې ډیر احتیاط کول ضروری دی ولې چه د دې په صحیح اندازې کولو کښې غلطی کیدې شی چه آیا دا خالص د سا ختو وخت وو او که د دې نه وړاندې وو؟

فَالْیَوْمَ	نُنَجِّیْكَ	بِبَدَنِكَ
نو نن ورځ	بچ کوو مونږ تا لره	ستا بدن لره
نو ښه ده نن مونږ		ستا ظاهری بدن

[1]) جامع الترمذی، أبواب الدعوات، باب فی فضل التوبة الخ: ج ۲، ص ۱۹۳

[2]) روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۱۱۳

Scanned with Ca

لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ط وَاِنَّ كَثِيْرًا

دپاره ددې چې شې ته | دپاره دهغه چا | چې روستو ستانه دی | یوه نښه دعبرت | اوبیشکه | چې ډیر

ته نجات ورکوو | ددې دپاره چې د روستو راتلونکو خلقو دپاره یوه نښه شې | او ډیر خلق زمونږ

مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَلَقَدْ بَوَّاْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

د خلقو نه | دنښو زمونږ نه | خامخا بې پروا دی | اوبیشکه ځاني ورکړو مونږ | بني اسرائیلو ته

د [داسې] نښونه غافل دی | او مونږ بنی اسرائیلو لره ډیره ښه ټیکانړه ورکړې وه |

مُبَوَّاَ صِدْقٍ وَّرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْا حَتّٰى

ځاني دصدق | او ورکړل مونږ هغوئ له | ښه وسائل دژوند | نو اختلاف ونه کړو هغوئ | ترهغې پورې

او پاکیزه خوراکونه مو ورکړي وو | نو هغوئ اختلاف نه وو کړې | تردې چې [دحق] علم ورته راغلو

جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ط اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

چې راغې هغوئ ته | علم | بیشکه | رب ستا | به فیصله اوکړي | په منځ دهغوئ کښې | په ورځ دقیامت

...... | بیشکه ستا پروردګار د قیامت په ورځ د دوی په هغه

فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ

په هغه څیز کښې | چې وو هغوئ | په هغې کښې | چې اختلاف به ئې کولو | نو که ئې ته | په شك کښې

خبرو کښې فیصله اوکړي | په کومو کښې چې به دوی اختلاف کولو | نو که ستا دهغې حکمونو په حق

مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ فَسْئَلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ

دهغه هدایت په حقله | چې نازل کړې دې مونږه | تاته | نو تپوس اوکړو دهغه کسانونه | چې لولې هغوئ

کښې څه شک وی | چې مونږ درکړې دی | نو دهغه چا نه تپوس اوکړه | چې ستا نه مخکښې کتابونه ئې

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ

کتاب | مخکښې ستانه | بیشکه | راغلې دی تاته | حق | دطرفه درب ستانه | نو مه کیږه ته

لوستل | بیشکه تاته دخپل پروردګار دطرفه حق راغلې دی | نو هرګز په شکمنو خلقو کښې مه شاملیږه.

مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

دشك | کوونکو | نه | اومه کیږه ته | دهغه خلقو نه | چې دروغ ئې ګڼړلې دی | آیتونه | دالله

او په هغه خلقو کښې هم مه ورګډیږه | چې دالله ﷻ نښې دروغ ګڼړی | ...

فَتَكُوْنَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ

نو شې به ته | دنقصان موندونکو نه | بیشکه هغه کسان | چې ثابته شوې ده | په هغوئ بلند | وینا

ګڼې تاواني به شې | .... بیشکه چې په چا باندې ستا د پروردګار فیصله ثابته شوې ده

رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا

درب ستا | نه راوړی هغوئ ایمان | اګرکه راشي هغوئ ته | هره نښه | تردې پورې | چې اووینی هغوئ

هغوئ ایمان نه راوړی | .... اګر که هر قسم نښې ورته راشي | ترڅو چې

الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ ﴿۹۷﴾ فَلَوْلَا کَانَتْ قَرْیَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ

عذاب | دردناك | نو ولې نه وه | یو کلی والا چې ایمان ئې راوړې وې | پس نفع رسولې وې هغه کلی والو ته

دردناک عذاب اونه وینی | نو داسې مثال [نشته] چې یو کلی د عذاب لیدو نه پس ایمان راوړې وی

اِیْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ یُوْنُسَ ؕ لَمَّآ اٰمَنُوْا کَشَفْنَا عَنْهُمْ

ایمان دهغې | ماسوا | دقوم دیونس نه | کله چې | ایمان راوړو هغوئ | نو لرې کړو مونږ | دهغوئ نه

اوخپل ایمان ورته نفع ورکړې وی | بغیر د حضرت یونس علیه السلام دقوم نه هرکله چې هغوئ ایمان راوړو

عَذَابَ الْخِزْیِ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰی حِیْنٍ ﴿۹۸﴾

عذاب | دشرمندګئ | په ژوند ددنیا کښې | اودفائدې اغستلو موقع ورکړه مونږ هغوئ له | دیو وخت پورې

نو مونږ ترې نه شرمونکی عذاب په دې دنیا کښې لرې کړو | او تر څه وخته مو آرام ورکړو

آسان ترجمه قرآن

نو اوس به (صرف) ستا بدن بچ کوو چه ته وروستو خلقو دپاره عبرت جوړ شې (ځکه) چه ډېر خلق زمونږ نښو نه غافله دي. او مونږ بنی اسرائیلو ته داسې ځائې ورکړو چه صحیح معنو کښې د اوسیدو لایق وو، او دوی ته مو د پاکو څیزونو نه رزق ورکړو. بیا هغوی (ددین حق په باره کښې) تر هغه وخته پورې اختلاف ونکړو تر څو چه دوی ته علم نه وو راغلې یقین وکړه چه کومو خبرو کښې چه دوی اختلاف کړې وو، دهغې فیصله به ستا پروردګار د قیامت په ورځ کوی بیا (اې پیغمبره !) که چرې (فرض محال) تا ته په دې کلام کښې لږ غوندې شك هم وې کوم چه مونږ په تا نازل کړې دې نو دهغه خلقو نه تپوس وکړه چه کوم ستا نه مخکښې (آسمانې) کتاب لولې. یقین وکړه چه تا ته ستا د پروردګار د طرف نه حق راغلې دې، نو ته چرې هم د شك کونکو نه مه کیږه او دهغه خلقو نه چرې هم مه کیږه چه هغوی دالله آیتونه دروغژن کړی دی، ګنې ته به هغه خلقو کښې شامل شې چه هغوی تاوانیان دي. بې شك د کومو خلقو په باره کښې چه ستا د رب خبره فیصله شوې ده، هغوی ایمان نه راوړي، خواه که دوی ته هر قسم معجزې راشې تر دې چه دوی دردناك عذاب ووینې. ولې نه وو داسې یو کلې چه هغه وخت ئې ایمان راوړې وې کوم وخت چه ایمان راوړلو فائده ورکولې شوه؟ خو صرف د یونس د قوم خلق داسې وو، چه کله هغوی ایمان راوړو، نو مونږ دنیا کښې د رسوائۍ عذاب د هغوی نه لرې کړو، او یو وخت پورې مو ورته د ژوند فائده ورکړه.

خلاصه تفسير

﴿ فَالْیَوْمَ نُنَجِّیْكَ بِبَدَنِكَ لِتَکُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰیَةً ؕ وَاِنَّ کَثِیْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰیٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ﴿۹۲﴾ ﴾ پس [په ځای دمطلوبه نجات]نن به مونږ ستالاش لره [داوبو په ته کښې دپاتې کیدو نه]نجات ورکړوچه ته دهغوی لپاره دعبرت سبب شې کوم چه ستانه وروسته موجوددی [چه ستابدحالی اوتباهي ووینی اودحکمونو دمخالفت خخه ځان وساتی اوحقیقت دادی چه[بیاهم] ډیرخلك زمونږ [دداسی داسی]عبرتونونه غافله دی[اوداحکامو دمخالفت نه نه ویریږی].

Scanned with Ca

﴿ وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخْتَلَفُوا۟ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ ۚ ﴾ او مونږه [دفرعون دغرقیدونه پس] بني اسرایل لره ډیرښه ځای داوسیدو ورکړو [چه دغه وخت خو د مصر مالکان شو اوددوی اولنی نسل لره مونږه بیت المقدس اود شام دملك په عمالقه وویاندی فتح ورکړه] اومونږ دوی لره پاك څیزونه دخوراك لپاره ورکړل [په مصرکښی هم باغونه اوچینی وی، اودشام باره کښی: بٰرَكْنَا فِيهَا : راغلی دی]پس[پکارده چه څمونږدحکمونوپه منلوکښی زیات سرګرم شوی وی لیکن دوی برعکس په دین کښی اختلاف شروع کړو اوغضب دا چه] دوی دجهل له وجی اختلاف ونه کړوترڅی چه دوی ته[داحکامو]علم ورسیدو[اوبیائی اختلاف وکړو،.

﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۝ ﴾ مخکښی په دی اختلاف باندی دسزاویره ده چه]یقینی خبره ده چه ستارب ددوی[اختلاف کوونکو]په منځ کښی دقیامت په ورځ پدی کارونو کښی [عملی]فیصله وکړی په کوموکښی چه دوی اختلاف کولو، بیا [ددین محمدی ﷺ دحقیقت ثابتولولپاره مونږ یوه داسی کافی طریقه ښایو چه دغیرصاحب وحی لپاره به بیخی کافی نه وی هغه داسی ده چه ته صاحب وحی ئی مګرکه تاته هم که ددی خطاب په طور د یوی قضیٔ شرطیۍ سره وشی نوممکنه ده داسی چه].

﴿ فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ۝ ﴾ که چیری [بالفرض]ستاپه دی کتاب کښی څه شك [اوشبه]وی کوم چه مونږ تاته لیږلی دی نو[ددی‌شك لری کولویوه اسانه طریقه داهم ده چه]ته دهغه خلکونه تپوس وکړه چه ستا نه دمخکی کتابونولوستونکی [مرادتورات اوانجیل دی هغوی به دپیشینګویوپه طورباندی په لوستلو سره ددی قرآن تصدیق وکړی]بیشکه تاته ستادرب دطرف نه رشتونی کتاب راغلی دی ته هیڅکله په شك کوونکوکښی مه کیږه.

﴿ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ۝ ﴾ اونه [دشك کونونکونه زیات]په هغه خلکوکښی کیږه کوموچه دالله تعالی ایاتونه دروغژن کړه هسی نه چه ته[نعوذبالله]تباه نه شی.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ۝ ﴾ بیشکه دکوموخلکوپه باره کښی چه ستارب[دا ازلی] خبره [چه دوی به ایمان رانه وړی]. ثابته شوی ده دوی به [چرته] رانه وړی

﴿ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ۝ ﴾ اګرکه دوی ته ټول دلیلونه [دثبوت دحق ورسی ترڅوپوری چه دردناکه عذاب ونه وینی [مګرددغه وخت ایمان نفع نه ورکوی].

﴿ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْيِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ۝ ﴾ چنانچه[په کومو کلو چه عذاب راغلی دی په دوی کښی]یوکلی ایمان رانه وړو چه ایمان راوړل ورته نفعمندشو[ځکه چه ددوی دایمان سره مشیت متعلق شوی نه وومګردیونس ﷺ قوم[چه ددوی دایمان سره مشیت متعلق شوی ووېدی وجه چه دوی دوعده شوی عذاب اولنی نښی ولیدلی ایمان ئی راوړو او]کله چه دوی ایمان راوړونومونږ درسوائی دعذاب نه ددنیاپه ژوند کښی دوی خلاص کړل اودوی لره مودیوخاص وخت [یعنی دمرګ تروخته]پوری [په خیرخوبۍ سره]عیش ورکړوپس دنوروکلوایمان نه راوړلاودیونس ﷺ دقوم ایمان راوړل دواړه په مشیت سره وشو.

Scanned with Ca

معارف او مسائل

په رومبی آیت کښې فرعون ته داسې خطاب دې چه د غرقیدو نه پس به دې مونږ بدن د اوبو نه بهر کړو چه د راتلونکو خلقو د پاره د الله تعالی د قدرت نخښه او عبرت جوړ شی.
دا واقعه داسې وه چه حضرت موسی ﷺ د دریاب د پورې وتو نه پس بنی اسرائیلو ته د فرعون د هلاکیدو خبر ورکړو نو هغوی په دې وجه په دې باندې اعتبار او نه کړو چه د فرعون نه ډیر په یره کښې وو، الله تعالی د فرعون مړ جسد د دریابی چپې په ذریعه د سیند غاړې ته څکه راګذار کړو چه د موسی ﷺ رښتینولی اوشی او نورو خلقو ته عبرت حاصل شی، بیا معلومه نه ده چه د ده د لاش څه اوشو ؟کوم ځاې کښې چه د فرعون بدن موندې شوې وو هغه ځاې تر اوسه پورې د جبل فرعون په نوم سره مشهور دې.
څه زمانه وړاندې اخبارونو کښې دا خبرونه چاپ شوې وو چه د فرعون بدن صحیح سالم اوموندې شو او عامو خلقو په خپلو سترګو اولیدلو او تر ننه پورې د قاهرې په عجائب ګهر کښې پروت دې، خو دا یقینی څکه نه دی چه فرعون یو کس ته نه شو وئیلې بلکه دغه زمانه کښې د مصر هر بادشاه ته به فرعون وئیلې شو اوس دا معلومه نه ده چه دا د موسی ﷺ د وخت فرعون دې اوکه د بل وخت فرعون دې، دا هم څه عجیبه خبره نه ده چه د موسی ﷺ د وخت فرعون وی او الله تعالی د سخا کیدو او د روستیدو نه ساتلې وی څنګه ئې چه د راتلونکو نسلونو د عبرت د پاره د دریاب نه بهر د چپو په ذریعه راغورځولې وو.
په آخر د آیت کښې فرمائی، ډیر خلق زمونږ د آیتونو او نښانو نه بې پروا دی په دې کښې غور فکر نه کوی او عبرت نه حاصلوی، ورنه د جهان په ذره ذره کښې داسې نخښې موجود دی چه د هغې په لیدو سره الله تعالی او د هغه کامله پیژند ګلنه کیدې شی.
په دویم آیت کښې د فرعون د ناکاره انجام په مقابله کښې د هغې قوم مستقبل ښودلې شوې دې چه فرعون سپک کړې او ذلیل کړې وو، فرمائی؛ مونږ بنی اسرائیلو ته ښه ځاې د اوسیدو د پاره ورکړو چه د مصر ټول ملک په ګټو ورغلو، د اردن او فلسطین پاکه زمکه هم دوی ته په ګټو ورغله کومه چه الله تعالی د خپل خلیل حضرت ابراهیم ﷺ او د هغوی اولاد د پاره میراث ګرځولې وو، ښه ټیکانې ته ئې په قرآن کریم کښې ﴿مُبَوَّاَصِدْقٍ﴾ وئیلې شوې دی، دلته د ﴿صِدْقٍ﴾ معنی صالح [جوګه] او مناسب ده، مطلب دا دې چه مونږ ورته داسې ټکانه ورکړه چه دوی د پاره په هر اعتبار سره جوګه او مناسبه وه، بیا فرمائی چه، مونږ ورته د حلالو او پاکو څیزونو نه روزی ورکړه چه د دنیا ټول خوندونه او راحتونه مو ورکړل.
په آخر د آیت کښې بیا د دوی د کړو تلو او وران کارې بیان دې چه په دې هم ډیرو خلقو د اقتدار موندونه پس د الله تعالی د نعمتونو قدر او نه کړو او د هغه د فرمانبرداری نه واوړیدل په تورات کښې کومې نخښې د رسول الله ﷺ به چه دغې خلقو لوستلې د هغې تقاضا دا وه چه د رسول الله ﷺ د تشریف راوړو نه پس د ټولو نه وړاندې هم دغې خلقو ایمان راوړې وو، خو عجیبه اتفاق داسې اوشو چه د رسول الله ﷺ د تشریف راوړلو نه مخکښې خو دې ټولو خلقو په نبی آخرالزمان ﷺ باندې عقیده لرله، خلقو ته به ئې د هم ښودل چه د رسول الله ﷺ د تشریف راوړلو وخت نزدې دې، د دوی نخښې به ئې خلقو ته ښودلې او هم د دوی ﷺ په وسیلې سره به ئې د خپلو ځانونو د پاره دعاګانې غوښتلې، خو هر کله چه نبی آخرالزمان سره د ټولو شهادتونو

اود تورات د ښودلو نخښنو سره تشریف راوړلو نو دې خلقو خپل منځ کښې اختلاف کول شروع کړل څه چه خلقو ایمان راوړو او نورو خلقو ترې انکار اوکړو، په دې آیت کښې د رسول الله ﷺ تشریف راوړل په لفظ د ﴿جَآءَهُمُ الْعِلْمُ﴾ سره ښودلې شوې دې، دلته د علم معنی یقین هم کیدې شی، په دې صورت کښې به د ټولې جملې معنی دا شی چه هر کله لیدلو کتلو سره د یقین اسباب جمع شو نو دې خلقو اختلاف کول شروع کړل.

او بعضې مفسرینو فرمائیلې دی چه دلته ﴿الْعِلْمُ﴾ په معنی د معلوم سره دې، مطلب به ئې دا وی چه کله هغه هستی مخې ته راغله چه د تورات د پیشنګویانو په ذریعه د ړومبې نه معلومه وه نو بیا ئې په اختلاف کولو ګوتې پورې کړې.

په آخر د آیت کښې فرمائی؛ الله تعالی به د قیامت په ورځ د دوی د اختلاف کولو فیصله اوکړی، د حق او باطل په منځ کښې به جدائی اوشی، اهل حق به جنت ته او اهل باطل به دوزخ ته اولیږلې شی.

په دریم آیت کښې په ښکاره خطاب رسول الله ﷺ ته دې خو دا هم ښکاره خبره ده چه په وحی کښې د رسول الله ﷺ د شک کولو هډو احتمال نشته، په دې وجه د دې خطاب په ذریعه امت ته اورول مقصود دی، پخپله د رسول الله ﷺ ذات ترې مراد نه دې او دا هم کیدې شی چه دا خطاب عام انسان ته وی او مطلب ئې دا وی چه اې انسانه؛ که د الله تعالی په هغې وحی کښې ستا څه شک وی چه د محمد ﷺ په واسطه تا ته رالیږلې شوې ده نو ته هغې خلقو ته معلومه کړه چه ړومبی نه د الله تعالی کتاب تورات او انجیل لولی، هغوی به ئې درته اوښائی، چه پخوانو ټولو پیغمبرانو ﷺ او د هغوی ﷺ کتابونو د محمد ﷺ زیرې په مخه ورکړې دې او په هغې سره به ستاسو وسوسې لرې شی.

په تفسیر مظهری کښې راغلې دی چه چا ته په دین کښې څه شک راشی نو د دې آیت نه معلومیږی چه هغه دې خامخا د حقانی علماؤ نه تپوس اوکړی او خپلې شبهې دې ختمې کړی هم داسې دې د دې پالنه نه کوی.[1]

په څلورم، پنځم او شپږم آیت کښې د دې مضمون تائید، تاکید او غفلت کوونکو ته خبردارې ورکول دی.

په اووم آیت کښې د بې پروائې عادت منکرانو ته په دې خبردارې ورکړې شوې دې چه د ژوند فرصت لره غنیمت اوګنړې د انکار او سرکشې نه اوس هم منع شې ورنه یو وخت داسې راتلونکې دې چه په هغې کښې به مو توبه نه قبلیږی، ایمان راوړل به مو نه قبلیږی چه هغه د مرګ یعنی د ساد وتو وخت دې چه د آخرت عذاب مخې ته راشی، په دې باره کښې د حضرت یونس ﷺ او دهغوی د قوم یوه واقعه بیان شوې ده چه په کښې لوئې عبرتونه او نصیحتونه دی.

په دې آیت کښې فرمائی چه داسې ولې نه کیږی چه منکرو قومونو په داسې وخت کښې ایمان راوړې وې په کوم وخت کښې ئې چه ورته نفع ورکړې وې، یعنی د مرګ د وخت، یا د عذاب د واقع کیدو د وخت، یا د هغه وخت نه پس چه عذاب کښې اخته شی یا د قیامت د قائمیدو وخت کله چه د توبې دروازه بنده شی او د چا توبه او ایمان به نه قبلیږی، د دې نه وړاندې وړاندې د

[1]) التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۵، ص ۴۳

خپلې سرکشۍ نه اوړيدلي وې او ايمان ئې راوړې وې، سوا د حضرت يونس ﷺ د قوم نه چه هغوی د داسې وخت د راتلو نه وړاندې سمدستی توبه کړه او ايمان ئې راوړو کله ئې چه د الله تعالی دعذاب د راتلو نخښې اوليدلې نوموږه په دغې وجه رسوا کونکې عذاب ترې بيرته کړو.

د دې تفسير حاصل دا دې چه د دنيا عذاب چه مخې ته راشې بيا هم د توبې دروازه نه بندېږی ترڅو چه بيخی په سر نه وی راغلې، البته د آخرت عذاب چه مخې ته راشی نو بيا هم توبه نه شی قبليدې، د آخرت عذاب يا خو به د قيامت په ورځ وی يا به د دنيا کښې د سا وتو په وخت وی، د سا وتل په خپل مرګ وی او که د دنيوی عذاب په راتلو سره وی لکه چه فرعون سره اوشو.

په دې بنا د يونس ﷺ د قوم توبه قبليدل د عامې خدائی ضابطې نه څکه خلاف نه دی چه يو خو دغه عذاب ئې په سر نه وو راغلې او بله دا چه دا د سا وتو وخت هم نه وو په خلاف د فرعون او دنوروخلقو چه هغوی په عذاب کښې د مبتلا کيدو نه پس د ځنکدن په وخت کښې توبه اويسته او ايمان ئې قبول کړو د دې وجهې نه د هغوی دا ايمان معتبر نه شو او توبه ئې قبوله نه شوه.

د يونس ﷺ د واقعې يو مثال په قرآن مجيد کښې موجود دې چه د بنی اسرائيلو هغه واقعه ده چه په هغې کښې د طور غر د هغوی د سرونو د پاسه زوړند کړې شو او د هغې په ذريعه اويرولې شو او د توبې کولو حکم ورته ورکړې شو هغوی توبه اويسته نو هغه توبه قبوله کړې شوه چه ذکر ئې په سورت بقره کښې داسې راغلې دې ﴿رَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ۚ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ﴾ [موږه ستاسو [بنی اسرائيلو] په سرونو باندې کوه طور زوړند او لړلو او حکم مودر کړو چه زموږ درکړی حکمونه په مضبوطې سره اونيسې [عمل پرې اوکړې].

مطلب دا چه په بنی اسرائيلو باندې هم عذاب راښکته شوې نه وو او د يونس ﷺ په قوم هم عذاب په سر نه وو راغلې هر کله چه هغوی په زارۍ، منت او اخلاص سره توبه کړه څکه قبوله کړې شوه [تفصيل ئې راروان دې] په دې بنا دا توبه قبليدل د بيان شوې ضابطې خلاف نه دی [قرطبی] [۱]

دلته زموږ دزمانې بعضې مفسرينو نه يوه سخته غلطی داسې شوې ده چه د حضرت يونس ﷺ په باره کښې ئې فرمائيلې دی چه د هغوی نه د پيغمبرۍ په فريضې ادا کولو کښې کوتاهی شوې وه چه د هغې په وجه د قوم نه ئې عذاب واپس کړې شو او يونس ﷺ ته هم زوړنه ورکړې شوه څنګه چه سورت انبياء او سورت صٰفّٰت کښې ئې بيان راغلې دې، د تفسير الفاظ ئې دادی:

[د قرآن کريم د اشارو او د يونس ﷺ د صحيفې په تفصيلاتو باندې د غور کولو نه دومره صفا معلوميږی چه د حضرت يونس ﷺ نه د پيغمبرۍ په فريضې ادا کولو کښې څه کوتاهی شوې وه او غالبا يونس ﷺ د بې صبرۍ له کبله د وخت نه وړاندې خپله تيکانه پريښې وه، په دې بنا د عذاب په نخښو نښانو ليدلو سره هر کله چه آشوريانو توبه او استغفار اوکړو نو الله تعالی هغوی معاف کړل، په قرآن کريم کښې د خدائی دستور د بيان شوو اصولو او کلياتو نه يوه مستقله دفعه دا هم ده چه الله تعالی په هيڅ يو قوم باندې تر هغې عذاب نه راولی ترڅو چه پرې خپل حجت پوره نه کړی، نو کله چه نبی د پيغمبرۍ په ادا کولو کښې کوتاهی اوکړه او د

[۱] تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۸، ص ۳۸۴، ۳۸۵

Scanned with Ca

الله تعالی د مقرر کړي وخت نه وړاندې ئې پخپله خپل ځاې پرېښودو نو د الله تعالی انصاف دغې قوم ته عذاب ورکول مناسب او نه ګڼړل] تفهیم القرآن، مولانا مودودي؛ صفحه ۳۱۲ جلد ۲] (۱)

دلته د کتلو اوله خبره داده چه د پیغمبرانو ﷺ د ګناه نه د پاک پاتې کېدو عقیده منلې شوې ده او په دې باندې د امت اجماع ده، د دې په تفصیلاتو کښې څه جزوي اختلافونه شته چه آیا دا عصمت[دګناه نه پاک پاتې کېدل]د هر قسم[وړو، لويو]ګناهونو نه دې او که صرف د کبیره [لويو] ګناهونو نه دې، بل اختلاف دا دې چه آیا دا عصمت د پیغمبرۍ د زمانې نه وړاندې ته هم شاملیږي او که نه؟خو په دې خبره کښې د هیڅ یوې فرقې د هیڅ یو کس نه خلاف کول ثابت نه دي چه ټول د ځیلمې پیغمبران ﷺ د پیغمبرۍ د فرض په ادا کولو کښې چرې هم کوتاهي نه شي کولې، ولې چه د پیغمبرۍ په منصب کښې د کوتاهې کولو نه زیاته بله لویه ګناه نه شي کیدې، ځکه پیغمبر خو لا څه کوې چه یو عام شریف انسان هم نه شي کولې، که د دې قسم د کوتاهې کولو نه هم پیغمبر معصوم او نه منلې شي بیا د نورو ګناهونو نه ئې د معصوم منلو هیڅ فائده نشته.

د قرآن او سنت د منلو شوو اصولو او اجماعي عقیدې[عصمت انبیاء]په خلاف په قرآن او سنت کښې هم چرته څه خبره ښکاره شوې وې نو ضروري وه چه د دغه منلو شوو اصولو د مخې د هغې په تفسیر او معنی کښې داسې څه توجیه کړې شوې وې چه د قرآن او حدیث دغه یقیني ثابت شوو اصولو سره څه ټکر او بې سمون نه وې پاتې شوې.

خو دلته عجیبه خبره دا ده چه مصنف موصوف کومه خبره د قرآني اشارو او د یونس ﷺ د صحیفې په حواله پیش کړې ده که هغه د حضرت یونس ﷺ په صحیفه کښې وې نو وی دی په اسلام کښې هغې لره اعتبار نشته خو په داسې شان قرآني اشاره خو یو هم نشته، بلکه یو څو مقدمې ئې پیوند کړې دی او دا نتیجه ترې په زبردستې راوښکلې شوې ده، اول خو دا فرض کړې شو چه د حضرت یونس ﷺ د قوم نه عذاب ایسارېدل د خدائي دستور مطابق نه وو، حالانکه دا خبره پخپله د دې آیت د سیاق او سباق نه هم بیخي خلاف ده، دا شان د تفسیر په امامانو کښې چه کوم اهل تحقیق دی د هغوی د تصریحاتو نه هم خلاف ده، دې سره سره دا فرض کړې شو چه په دې موقع باندې خدائي قانون ځکه مات کړې شو چه پخپله د پیغمبر نه هم د پیغمبرۍ په فریضې ادا کولو کښې کوتاهي شوې وه، دې سره ئې دا هم فرض کړل چه د پیغمبر د وتو د پاره الله تعالی یو خاص وخت مقرر کړې وو او یونس ﷺ د دعوت فریضه پرېښوده او د دغې وخت نه مخکښې اووتلو، که د غور او انصاف نه لږ هم کار واخستې شي نو ثابت به شي چه دې فرضي مقدماتو ته د قرآن او حدیث هیڅ اشاره نه شي موندلې،

(۱) د تفهیم القرآن نه پس په نورو ایډیشنونو کښې ددې عبارت نه دڅه رجوع د اعلان نه بغیر دلته په عبارت کښې معمولي تبدیلي کړې شوې ده یعنی د رسالت د فرائضو په ادائیګۍ کښې کوتاهي،، الفاظ په نوي عبارت کښې موجود نه دی لیکن دا خبره اوس هم په عبارت کښې باقي ده چه: کله نبي ددې قوم د مهلت آخري لمحې پورې د نصیحت سلسله جاري اونهساتله او د الله تعالی د مقرر وخت نه وړاندې ئې دخپله ځانه هجرت اوکړو نو د الله تعالی انصاف ددوی ﷺ قوم له عذاب ورکول اونه غوښتل ځکه چه په دې باندې د اتمام حجت قانوني شرطونه وو پوره شوی،، په دې وجه د تفهیم القرآن په عبارت کښې د بدلون باوجود د معارف القرآن تبصره په خپل حال برقراره ده. (ناشر اکتوبر ۱۹۹۱ء) ۱۲

Scanned with Ca

پخپله د قرآن د آیتونو په سباق باندې که غور او کړې د آیت الفاظ څه داسې دي ﴿فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ اٰمَنَتۡ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوۡمَ يُونُسَ﴾ د دې مطلب صفا دا راوځي چه د دنیا عامو آبادیانو ته د افسوس ښکاره کولو په ډول دا ارشاد دې چه؛ دوی داسې ولې نه کیږی چه په داسې وخت کښې ایمان راوړی چه کله چه ایمان راوړل قبلیدونکې او سودمن وی، یعنی په عذاب کښې د مبتلا کیدو یا د سا د ختو نه وړاندې ئې ایمان راوړې وې نو ایمان به ئې قبول شوې وو، خو د یونس ﷺ قوم د دې نه مستثنی څکه دې چه په عذاب کښې د مبتلا کیدو نه وړاندې صرف د عذاب د نښانو په لیدلو ئې ایمان راوړو نو توبه او ایمان ئې قبول شو.

دا آیت دا ښکاره مطلب پخپله ښائی چه دلته هیڅ خدائی قانون مات نه شو بلکه خالص د خدائی قانون په جوړ د هغوی ایمان او توبه قبوله کړې شوې وه.

اکثرو مفسرینو، بحر محیط، قرطبی، زمخشری، مظهری، روح المعانی وغیره د آیت مفهوم هم دغه لیکلې دې چه په کښې د یونس ﷺ د قوم توبه قبلیدل د الله تعالی د عام قانون لاندې شوې دی چنانچه د قرطبی الفاظ دا دې:

وقال ابن جبیر غشیهم العذاب کما یغشی القبر فلما صحت توبتهم رفع الله عنهم العذاب وقال الطبري خص قوم یونس من بین سائر الامم بأن تیب علیهم بعد معاینة العذاب وذکر ذالك عن جماعة من المفسرین وقال الزجاج انهم لم یقع بهم العذاب وانما راوا العلامة التي تدل علی العذاب ولو راوا عین العذاب لم نفعهم ایمانهم، قلت قول الزجاج حسن فأن المعاینة التي لا تنفع التوبة معها هي التلبس بالعذاب کقصة فرعون ولهذا جاء بقصة قوم یونس علی اثر قصة فرعون ویعضد هذا قوله ﷺ ان الله یقبل توبة العبد مالم یغرغر والغرغرة الحشرجة وذالك هو حال التلبس بالموت وقد روي معنی ما قلناه عن ابن مسعود رضي الله عنه [الی] وهذا یدل علی ان توبتهم قبل رؤیة العذاب [الی] وعلی هذا فلا اشکال ولا تعارض ولا خصوص.

ترجمه؛ ابن جبیر فرمائیلې دی چه دوی لره عذاب داسې پټ کړې وو څنګه چه کپړه قبر لره پټوی بیا هر کله چه د دوی توبه صحیح شوه [چه د عذاب د واقعې کیدو نه وړاندې وه] نو الله تعالی ترې عذاب پورته کړو، طبری رحمه الله فرمائیلې دی چه د یونس ﷺ قوم ته په نورو ټولو قومونو کښې دا خصوصیت ورکړې شوې دې چه د عذاب معائنه کولو نه پس ئې توبه قبوله کړې شوه، زجاج رحمه الله فرمائیلې دی چه په دغې خلقو باندې لا عذاب نه وو راغلې بلکه د عذاب نخښې ئې لیدلې وې، که عذاب ئې په سر راغلې وې نو توبه به ئې نه وه قبوله شوې، قرطبی رحمه الله فرمائی چه د زجاج رحمه الله قول ښه غوره دې ولې چه د کوم عذاب د لیدو نه پس توبه نه قبلیږی دا هغه عذاب وی چه په کښې مبتلا شی څنګه چه د فرعون په واقعه کښې اوشو او هم دغه وجه ده چه په دې سورت کښې د یونس ﷺ د قوم واقعه د فرعون د واقعې نه پس سمدستې راوړې شوه ولې چه د فرعون ایمان راوړل هله وو چه عذاب ئې په سر راغلې وو او د یونس ﷺ قوم هله ایمان راوړو چه عذاب ئې په سر نه وو راغلې، د دې خبرې تائید د رسول الله ﷺ د دې ارشاد نه هم کیږی چه الله تعالی د یو بنده توبه تر هغې قبلوی چه د غرغرې حالت ته لا نه وی رسیدلې او غرغره د مرګ آخری سلګو ته وئیلې شی او هم دا خبره د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د روایت نه معلومیږی چه په کښې ښودلې شوې دی چه د یونس ﷺ قوم هغه وخت توبه کړې وه چه عذاب ئې په سر نه وو راغلې، قرطبی رحمه الله فرمائی چه په دې تقریر او تفسیر باندې نه خو څه اشکال شته، نه څه تعارض شته او نه د یونس ﷺ د قوم څه تخصیص شته.[1]

---

[1]) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۳۸۴، ۳۸۵

Scanned with Ca

او طبري رحمه الله وغیره کومو مفسرینو چه دي ته د یونس علیه السلام د قوم خصوصیت ښودلې دې، په هغوی کښې هیڅ هم داسې نه دي وئیلې چه د دې خصوصیت وجه د حضرت یونس علیه السلام کوتاهي وه، بلکه وئیلې ئې دي چه د دې وجه د دغې قوم په رښتوني توبه کول وو چه د الله تعالی په علم کښې مخلصان وو او دا قسم نور وجوهات ئې لیکلې دي.
او کله چه دا معلوم شو چه د یونس علیه السلام د قوم نه د عذاب په شا کیدل د قدرت د عام قانون نه بیخي خلاف نه وو، بلکه هم د هغې مطابق وو نو د دې کلام بنیاد بالکل ختم شو.
دغه شان د قرآن کریم هیڅ اشارې نه دا نه ثابتیږي چه د عذاب د وعید اورولو نه پس یونس علیه السلام بغیر د الله تعالی د اذن نه د خپل قوم نه بیل شوې وو، بلکه د آیتونو د روانې او تفسیري روایتونو نه هم دا معلومیږي چه څنګه د نورو تولو امتونو سره به معامله کیدل چې په هغوی باندې به د عذاب راتلو فیصله اوشوه نو الله تعالی به خپل رسول او د هغه ملګرو ته د دغه ځای نه د وتلو حکم ورکولو لکه څنګه چه د لوط علیه السلام په واقعه کښې قرآن کریم په ښکاره بیان کړې دي، دغه شان دلته هم هر کله چه الله تعالی د یونس علیه السلام په ذریعه خپل قوم ته دا حکم وراورسولو چه درې ورځې پس به پرې عذاب راځي نو ښکاره خبره ده چه یونس علیه السلام به دغه ځای نه د الله تعالی په حکم وتې وي.
البته یونس علیه السلام نه یو لغزش اوشو چه پیغمبرانه شان سره ئې سمون نه خوړو او په هغې باندې په سورت انبیاء او سورت صفت کښې د ملامتیا الفاظ راغلې دي او په نتیجه کښې د کب خیټې ته وروستې شو، دا د پیغمبرۍ په فریضه کښې کوتاهي کول نه وو بلکه واقعه دا وه چه پورته د مستندو تفسیرونو په حواله سره داسې لیکلې شوې ده چه هر کله یونس علیه السلام خپل قوم ته د الله تعالی د حکم مطابق درې ورځې پس د عذاب راتلو خبر واورولو او بیا د الله تعالی په حکم ئې خپل ځای پریښودو او بهر لاړو، بیا چه د عذاب نه راتلل ثابت شو نو یونس علیه السلام سره فکر شو چه که خپل قوم ته لاړ شم نو دروغژن به راته وائي او د دغې قوم د دستور مطابق دروغژن بنده به وژلې شو، د دې یرې واپس خپل قوم ته د تلو په ځای ئې وطن نه د هجرت کولو قصد ئې اوکړو، دا هغه لغزش وو چه د هجرت قصد ئې د الله تعالی د اجازت نه بغیر اوکړو، ولې چه د پیغمبرانو علیهم السلام طریقه دا وه چه د الله تعالی په اجازت به ئې هجرت کولو، د هجرت په غرض په کشتۍ کښې سور شو، دا اګر چه بذات خود څه ګناه نه وه، مګر د پیغمبرانو علیهم السلام د سنت نه خلاف وه، که د قرآن کریم په الفاظو کښې ژور نظر اوکړې شي نو د یونس علیه السلام لغزش د پیغمبرۍ په فریضه کښې کوتاهي کول نه وو، بلکه د قوم د زور او ظلم نه د ځان ساتلو په غرض د الله تعالی د اجازت نه بغیر هجرت کول وو، دې نه علاوه بل هیڅ لغزش نه شي ثابتیدې، چنانچه د سورت صٓفّٰت آیت دا مضمون تقریبا ښکاره کړې دې فرمائي [﴿إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ﴾][1] دلته [ابق] دې، مطلب ښکاره کولو د پاره زورنې د پاره راوړلې شو چه بې اجازته د هجرت کولو په غرض کشتۍ کښې سور شو، ولې چه [ابق لفظ د مالک د اجازت نه بغیر د یو غلام د تښتیدو د پاره استعمالیږي، د سورت انبیاء په آیت کښې راغلې دي ﴿وَذَا النُّونِ إِذْ ذَّهَبَ

[1]) ترجمه: کله چه اوتښتیدو او ډکې کشتۍ ته اورسیدو.

Scanned with Ca

مَغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ﴾[1] په دې کښې د زورنې په ډول د طبعی یرې له کبله د خپل ځان ساتلو په غرض هجرت کول ئې په داسې سخت عنوان سره بیان کړې دی خو دا ټول هر څه د هغې نه پس دی چه یونس ؑ د خپلې پیغمبرۍ فریضې ښه په پوره شان ادا کړې دی، د خپل ځان د خطرې له کبله خپل قوم ته واپس ورنغلو، چنانچه تفسیر روح المعانی دې مضمون لره په خپلو الفاظو کښې داسې بیان کړې دې؛ اي غضبان على قومه لشدة شكيمتهم وتمادي اصرارهم مع طول دعوته اياهم وكان ذهابه هذا اسمهم هجرة عنهم لكنه لم يؤمر به.[2]

ترجمه؛ یعنی یونس ؑ خپل قوم نه ناراضه شو او ځکه لاړو چه د قوم د سخت مخالفت او په کفر باندې د اصرار کولو باوجود ډیرې زمانې پورې د رسالت د دعوت د رسولو مشاهده ئې کړې وه، او د دوی ؑ دا سفر د هجرت په ډول وو خو تر دغې وخته پورې ورته د هجرت اجازت نه وو ورکړې شوې.

دلته ښکاره دا اوویلې شو چه په بلنه او پیغمبرۍ کښې څه کوتاهی ترې کیدل د زورنې ورکولو سبب نه وو بلکه د زورنې سبب د اجازت نه بغیر هجرت کول وو چه خپل په ذات کښې څه ګناه نه وه خو د سنت د انبیاؤ نه خلاف وو ځکه پرې زورنه ورکړې شوه، کله چه زمونږ د زمانې دغه مفسر موصوف بعضې علماؤ په دې غلطۍ باندې خبر کړو نو د سورت صٓفت په تفسیر کښې هغه د خپل موقف په مرسته او تائید کښې د ډیرو نورو مفسرینو قولونه هم نقل کړې دی، چه د اسرائیلی روایتونو نه بغیر په بل هیڅ روایت سره د ده موقف صحیح نه شی ثابتیدې لکه وهب بن منبه وغیره چه نقل کړې دې، چه معاذالله د حضرت یونس ؑ نه د پیغمبرۍ په فریضو ادا کولو کښې کوتاهې شوې وې.

دا خبره د اهل علم نه پټه نه ده چه په عام ډول مفسرین حضرات په خپلو تفسیرونو کښې اسرائیلی روایتونه هم نقل کوی چه د دې روایاتو په باره کښې د ټولو په دې اتفاق دې چه دا روایتونه مستند او معتبر نه دی او د یو شرعی حکم دار و مدار په دې نه شی کولې، اسرائیلی روایتونه که د اسلامی مفسرینو په کتابونو کښې دی او که د یونس ؑ په صحیفه کښې دی صرف د هغې په بنا په حضرت یونس ؑ باندې دا لوئې بهتان[تور] پورې کولې شی چه دوی نه د پیغمبرۍ په ادا کولو کښې کوتاهې شوې دی او هیڅ یو اسلامی مفسر دا نه قبلوی.

والله سبحانه وتعالى اعلم وبه استغيث ان يعصمنا من الخطايا والزلات؛

د حضرت یونس ؑ تفصیلی واقعه: د حضرت یونس ؑ واقعه په دې شان بیانوو چه څه برخه ئې په قرآن کښې بیان شوې ده او څه د حدیث او تاریخ د روایتونو نه ثابته ده، واقعه داسې ده چه د حضرت یونس ؑ قوم د عراق د یو مشهور مقام موصل په نینوا آبادۍ کښې اوسیدو، قرآن کریم د دوی شمیر د یو لاک نه زیات ښودلې دې، د دوی هدایت د پاره الله تعالی یونس ؑ اولیږلو، قوم ئې د ایمان راوړلو نه انکار اوکړو، الله تعالی یونس ؑ ته حکم اوکړو چه قوم دې په دې خبر کړې شی چه په درې ورځو کښې دننه په دوې باندې عذاب راتلونکې دې، حضرت

---

[1]) ترجمه: او د ماهی والا تیل کړه اوکړی کله چه هغه خفا هواو لاړو، نو هغه دا سوچ اوکړو چه زمونږ به په ده باندې هیڅ ګرفت نه کوو.

[2]) روح المعانی تحت سورة الانبیا آیة ۸۷، ج ۱۲، ص ۲۵۱

Scanned with Ca

یونس د دې اعلان اوکړو ،د دوی قوم په خپل منځ کښې صلاح مشوره اوکړه نو د ټولو په دې باندې اتفاق راغې چه دوی کله هم دروغ نه دی وئیلې ،ځکه ئې خبره غورځول پکار نه دی ،مشوره ئې داسې اوکړه چه که یونس په دغه شپه هم دلته پاتې شو نو پوهه شې چه هیڅ عذاب راتلونکې نه دې او که دې ځاې نه اووتلو نو پوهه شې چه صبا له به په مونږه عذاب راځی ،یونس په دغه شپه د الله تعالی په حکم د دغه آبادۍ نه اووتل ،چه صبا شو نو الله تعالی عذاب د یو تور لوګی او وریځ په شکل کښې د دوی د سرونو د پاسه رابښکاره شو او رو رو به ورته رانزدې کیدو ،د دوی یقین اوشو چه مونږه ټول هلاکیدونکی یو ،دغه وخت ئې حضرت یونس په دې غرض اولټولو چه د هغوی په لاس توبه اوباسی او ایمان راوړی چه او ئې نه موندو نو پخپله په توبه او استغفار کولو کښې لګیا شو ،د آبادۍ نه یو میدان ته راووتل ،ښځې ،ماشومان او څاروی ټول ئې میدان کښې راجمع کړل ،د ټاټ جامې ئې واغوستې ، په زارۍ او عاجزۍ سره په دغې میدان کښې په توبې اوښکلو او عذاب نه په پناه غوښتلو کښې داسې مشغوله شو چه ټول میدان د ژړا فریاد نه په کړنګار شو ،الله تعالی د هغوی توبه قبوله کړه او عذاب ئې ترې واپس کړو ځنګه چه په دې آیت کښې راغلې دی ،په روایتونو کښې راغلې دی چه دا د عاشورې یعنی د محرم د میاشتې لسمه ورځ وه.[۱]

بل خوا حضرت یونس د دغه کلی نه بهر په دې انتظار کښې وو چه اوس به په دغې قوم باندې عذاب نازلیږی ،د هغوی د توبې او استغفار کولو حال ورته معلوم نه وو چه عذاب ترې واپس شو نو یونس فکر مند شو چه ما به دروغژن ځکه بلی چه ورته مې وئیلې وو چه درې ورځو کښې به درباندې عذاب راځی ،د دغې قوم قانون دا وو چه څوک به دروغژن ثابت شو او په خپل کلام به ئې څه ګواهی پیش نه کړه نو هغه به وژلې شو په دې بنا یونس هم یریدو چه خپل قوم به مې او وژنی.

پیغمبران د هرې ګناه نه پاک وی خو فطرت او طبیعت ئې انسانی وی په دې بنا هغه په دې خفه کیدو چه د خداې په حکم مې په درې ورځو کښې د عذاب راتلو اعلان اوکړو چه هغسې او نه شو نو خلق به راته دروغژن وائی ،هغوی سره به مخ ځنګه لګوم؟زیاتی لا دا چه د قوم په قانون کښې د وژلو جوګه شم ،د دغې غم او خفګان په حالت کښې د دغې ښار نه د بهر وتو په اراده روان شو چه د بحر روم غاړې ته اورسیدو هلته په کشتۍ کښې خلق سوریدل دغې خلقو یونس اوپیژندلو او بې کرائې ئې په کشتۍ کښې سور کړو ،کشتۍ چه منځ دریاب ته اورسیده نو ناڅاپه په ټپه اودریده ،نه وړاندې تله او نه روستو ،کشتۍ والو اعلان اوکړو چه د الله تعالی د جانب نه د دې کشتۍ شان دا دې چه کله په دې کښې څوک ظالم ګناهګار یا راتښتیدلې غلام سور شی نو دا کشتۍ پخپله ایساره شی اوس دې داسې بنده پخپله خپل ځان اوښائی چه د یو د وجهې نه په ټولو څه مصیبت را نه شی.

حضرت یونس اووئیل چه داسې راتښتیدلې ګناهګار غلام زه یم ځکه چه د خپل ښار نه د طبعی یرې له کبله راوتې یم په کشتۍ کښې سور شوې یم چه د الله تعالی حکم راته نه دې

۱) المعجم الکبیر للطبرانی رقم الحدیث: ۵۳۰۵

Scanned with Ca

شوي، داسې کار کول ئې د پیغمبرۍ د شان سره مناسب او نه ګڼړلو او دې ته ئې ګناه اووئیله خکه ئې اوفرمائیل چه هم ما په دریاب کښې واچوئ نو تاسو ټول به د عذاب نه خلاص شئ، کشتۍ والا دې ته تیار نه شو بلکه هغوی په خسنړې اچولو باندې د دې فیصله کول اوغوښتل، بیا بیا ئې خسنړې اچولو خو هر ځل د الله تعالی په حکم هم د حضرت یونس ؑ په نوم به خسنړې راوتو، په قرآن کریم کښې د دې خسنړې اچولو او په دې کښې د حضرت یونس ؑ د نوم راختو بیان داسې راغلې دې ﴿فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ﴾(۱)

حضرت یونس ؑ سره داسې معامله کیدل د مخصوص پیغمبرانه شان مطابق وو، یونس ؑ پیغمبر وو، د ګناه او نافرمانۍ کولو نه پاک وو هیڅ ګناه او نافرمانی ترې نه وه شوې، ولې چه هر پیغمبر د ګناه او نافرمانۍ نه پاک وی، داسې معامله ورسره کول او زورنه ورته ورکول په دې وجه وو چه خالص د طبعی یرې له کبله د خپل ښار نه بل خوا هجرت کول ئې د الله تعالی په اجازت سره نه وو او هم په دې وجه ورته زورنه ورکړې شوه.

یو خوا خسنړې اچولې شو او بل خوا الله تعالی یو غټ کب د کشتۍ په خوا کښې وازه خله په دې انتظار کښې تیار اودرولې وو چه یونس ؑ دریاب ته په راغورځیدو سره خپله خیټه کښې واخله، یونس ؑ به ستا خوراک نه وی بلکه ستا خیټه به د هغه د پاره یو ټیکانه وی هم دغه شان اوشو، دریاب ته په غورځولو سره یونس ؑ له سمدستی په خله کښې واغستو او تیر ئې کړو.

حضرت عبدالله بن مسعود ؓ فرمائیلې دی چه حضرت یونس ؑ د دغه کب په خیټه کښې څلویښت ورځې پاتې شوې وو، د دریاب تل ته به ئې په خپله خیټه کښې ځان سره ګرځولو او تر لرې لرې پورې به ئې دغه شان خپله خیټه کښې ګرځولو. بعضې حضراتو اووه ورځې او بعضې حضراتو پنځه ورځې او بعضې حضراتو د یوې ورځې یو څو ګینټې د کب په خیټه کښې د پاتې کیدو موده ئې ښودلې ده [مظهری] (۲)

حقیقت د حال یوائې الله تعالی ته معلوم دې، په هر حال حضرت یونس ؑ د کب په خیټه کښې داسې دعا اوکړه: ﴿لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾(۳) الله تعالی ئې دا دعا قبوله کړه او هغه کب حضرت یونس ؑ له صحیح، سالم د دریاب په غاړه اوغورځولو.

د کب د خیټې د ګرمۍ له کبله د حضرت یونس ؑ په بدن باندې ویښته نه وو پاتې شوې، الله تعالی د هغوی خوا کښې د کدو یو بوټې راوټوکولو، د هغې د پاڼو سوری سره به یونس ؑ ته آرام وو، یو ځنګلی چیلۍ ته الله تعالی په زړه کښې واچولو چه صبا، بیګاه به د هغوی خوا ته راتله او هغوی به ئې پئې څکل. په دې شان حضرت یونس ؑ ته په خپل لغزش باندې خبرداری هم ورکړې شو او بیا ئې قوم ته هم پوره حال معلوم شو.

---

۱) ترجمه: نو یونس هم په قرعه کے ځان شامل کړو او هغه ملزم ثابت شو۔
۲) التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۵، ص ۵۸
۳) ترجمه: ستاسو نه سوا هیڅ څوک هم معبود نشته. تاسو پاک یې او بے شک څه قصور نه وک یم۔

Scanned with Ca

د دې قيصې ځومره برخې چه د قرآن کريم او د حديث شريف د مستند و روايتونو نه ثابت دی هغه خو يقيني دی، پاتې نورې برخې چه تاريخی روايتونو کښې بيان شوې دی په هغې باندې شرعی مسئلې نه شی اډانړه کولې۔

وَلَوْشَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ

اوکه چری غوښتلې | رب ستا | نوخامخابه ايمان راوړې وو| هغه چا| چی په زمکه کښی دی| تولو

اوکه ستا د پروردګار مرضی وې | نو دزمکې په مخ تولو خلقو به ايمان راوړئی وې|

جَمِيْعًا ۭ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ

په جمع |آيانوته به|مجبوره کړې| خلق | تردې چی |شی تول خلق | مومنان | اونشته هيڅ اختيار| يونفس لره

.........آيا ته په خلقو زور کوې |چې هغوئ دې خواه مخواه ايمان راوړی ||و هيڅوک دانشی کولې چې

اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝

چې ايمان راوړی| مګر | په اجازت دالله سره |اواچوی | پليتی | په هغه کسانو| چې دعقل نه کارنهٔ اخلی

ايمان راوړی |مګر دالله ﷻ په اذن سره ||و الله پليتی په هغه چا ورغورخوی |چې دعقل نه کار نه اخلی

آسان ترجمه قرآن

اوکه الله غوښتې لو په مخ د زمکه چه ځومره خلق دي هغوی ټولو به ايمان راوړې وو آيا ته په خلقو باندې زور کوې دې دپاره چه دوی ټول ايمان راوړي؟ او هيڅ يو کس دپاره دا ممکنه نه ده چه هغه د الله د اجازت نه بغير مؤمن جوړ هې اوکوم خلق چه دعقل نه کار نه اخلي الله تعالٰی په هغوی ګندګی مسلط کوی.

خلاصه تفسير:

﴿ وَلَوْشَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ۭ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝ ﴾ او [د دی قومونو او کلودخلکوڅه تخصيص دی]که ستارب غوښتلی نودټولی دنياخلکوبه په جمع ايمان راوړی وو [مګر دبعضی حکمتونوپه وجه سره دانه غواړی يدی وجه ټول ايمان نه راوړی.

﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝ ﴾ پس [هر کله چه خبره داسی ده نوآياته په خلکوزور کولې ی شی چه ټول ايمان راوړی حال دادی چه دچاايمان راوړل بغيردخدای دحکم [مشيت]نه ممکن نده اوالله تعالی په بی عقله خلکو دکفرګندګی واقع کوی.

قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ

ورته اووايه |چې اوګورئ| هغه څه ته| چې په آسمانونوکښی دی| اوپه زمکه کښی دی| اونه ورکوی فائده| نښې

دوئ ته اووايه چې لږ اوګورئی په اسمانونو اوپه زمکه کښې څه څه ځيزونه [1] موجود دی |او| ددنيا| ټولې

---

[1] دَ آسمان په طاروکښې دَ قدرت نښې:- الله تعالی دَ خپلو بندګانورهنمائی فرمائی چه ټول کائناتو کښې زمونږ کومې نښې دی لکه آسمان، ستوری،سيارې، نمرسپوږمئی، شپه ورځ خواره شوی دی. په دې باندې د بصيرت نظر اچولو سره چه شپه په ورځ کښې اوورځ په شپه کښې څنګه داخليږی. کله ورځ لويه او کله شپه لويه. دآسمان اوچتوالې او خوروالې، په ستورو ... [بقيه په راروانه صفحه

Scanned with Ca

وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝ فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ

او يرول | هغه قوم له | چې نه راوړي ايمان | نو انتظارنه كوي دوئ | مگر | دمثال دبدو ورځو

نبښي هغې خلقو ته هيڅ فائده نه وركوي | څوک چې ايمان راوړل نه غواړي | آيا اوس دوئ دهغه شان

الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ فَانْتَظِرُوْٓا إِنِّيْ

هغو | چې تيرې شوي دي | مخكښي ددوئ نه | ورته اووايه | نو انتظار كوئ تاسو | بيشكه زه هم

ورځو انتظار كوي | چې په پخوانو خلقو باندې راغلې وې | اورته اووايه چې ښه ده تاسو انتظار كوئ

مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۝ ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ

ستاسو سره | دانتظار كونكونه يم | بيا | بچ كوؤ مونږه | رسولان خپل | اوهغه كسان |

اوزه هم تاسو سره انتظار كوم | نو بيا به [دعذاب په وخت كښې] مونږ خپل پيغمبران او

اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

چې ايمان ئې راوړې وي | زمونږ دا طريقه ده | حق دې | په مونږ باند | چې بچ كوؤمونږ | مومنان

[نور] مومنان بچ كړو | هم دا زمونږ ذمه واري ده | چې مومنان بچ كوؤ

آسان ترجمه قرآن

(اې پيغمبره !) دوی ته ووايه چه لږ وګورئ چه په آسمانونو او زمکو کښې څه څه څيزونه دي؟ ليکن کوم خلق چه ايمان نه راوړي، هغوی دپاره (زمکه او آسمانونو کښې خوري) نښې او خبرونکي (پيغمبران) څه فائده نه ورکوي. ووايه چه دا خلق (د ايمان راوړو دپاره) دي نه سوا د کومې خبرې انتظار کوي چه هغه شان ورځې دوی هم وګوري لکه چه دوی نه مخکښې خلقو ليدلې وې؟ ته ووايه چه: تاسو انتظار کوئ څه

...بقيه دتيرمخ].. سره دَ هغې ښائست اودَ آسمان نه اوبه راورول، دَ زمکې دَ اوچيدو نه پس بيا ژوندی كيدل او آباديدل، په ونو (درختو) كښې ګلونه او ميوې او غوټئی پيدا كيدل، مختلف بوټی راتوكيدل، دَ مختلف قسمونوځناور، دَ هغوی جدا جدا شكلونه اودَ هغې بيل بيل افاديتونه، غرونه كولاژ ميدانونه،ځنګل، باغ، آبادئی، بيابانونه، دَ سمندر دَ بيخ عجائبات، موجونه، اودَې ښكته كيدل او اوچتيدل، سره دَ دې دَ سفركونكودَپاره دَ سمندرمسخر كيدل، دَ جهازونو چليدل، دا ټول دَقادرمطلق نښې دی. دَ كوم نه علاوه چه بل الله هډو شته نه. خو افسوس چه دا ټولې نښې دَ كافرانو دَ غور او فكر هيڅ سبب هم نه جوړيږی. دَ الله تعالى دليل ثابت شوې دې.كه ايمان نه راوړی نونه دې راوړی اودا خلق خو هم دغه دَ عذاب دَ ورځو انتظار كوی كوموسره چه وړاندينی قومونه مخ شوې وو. اې نبی ﷺ! اووايه چه دَ وخت انتظار كونې اوزه هم تاسو سره انتظاركوم. اوچه كله دَ انتظار په ختميدوباندې عذاب راشی نو بيا به مونږ خپل رسولان اودَ هغوی امتونه بچ كړو اودَ پيغمبرانو تكذيب كونكی به هلاك كړو. الله تعالى په خپله ذمه واخسته چه مؤمنين به بچ كړو لكه څنګه چه ئې رحمت په نيكوكارانوباندې په خپله ذمه اخستې دې. په بخاری او مسلم شريف كښې دی چه حضور ﷺ فرمانيلی دی دَ الله تعالى كتاب كوم چه په لوح محفوظ چه په عرش باندې دې په هغې كښې ليكلې دې چه زما رحمت زما په غضب باندې غالب دې.(صحيح بخاری:۷٤۰٤.صحيح مسلم:۲۷۵۱)

Scanned with Ca

هم تاسو سره انتظار کونکي یم بیا (چه کله عذاب راغلي نو) مونږ خپلو پیغمبرانو لره او هغه کسانو لره چه ایمان راوړي، هغوی ته خلاصون ورکوو دغه شان مونږ دا خبره په خپله ذمه لازمه کړې ده چه مونږ ټولو (نورو) مؤمنانو ته هم خلاصون ورکړو.

خلاصه تفسیر

﴿ قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝ ﴾ ته ووایه چه تاسوغوروکړئ [وګورئ] چه څه څیزونه دی په اسمانونو کښې او په ځمکه کښې [په اسمانونو کښې ستوري وغیره او په ځمکه کښې بې انتها مخلوق په نظر راځي یعني په دې کښې غور کولو سره د توحید عقلي دلیل حاصلیږي دا بیان شو د دوی د مکلف کیدو] او کوم خلك چه [عناد نه] ایمان نه راوړي دوی ته دلیلونه او ویرول هیڅ فائده نه رسوي [داد دوی د عناد بیان وشو].

﴿ فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ فَانْتَظِرُوْا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۝ ﴾ پس [د دې بیان نه داسې معلومیږي چه] دغه خلك [د دوی د حال دلالت دا دی چه] صرف د هغه خلکو د واقعاتو په شان انتظار کوي چه مخکې تري تیرشوي دي [یعني سره د دلیلونو او عذاب نه ویرولو کوم چه ایمان نه راوړي نو د دوی حالت د هغه سړي په شان دی کوم چه د داسې عذاب منتظر وي چه په وړاندې قومونو راغلی ؤ پس [ته وفرمایه چه ښه ده نو تاسو [د دې] په انتظار کښې اوسئ زه هم ستاسو سره [د دې] په انتظار کوونکو کښې یم.

﴿ ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ ﴾ [د کومو مخکې قومونو چه ذکر ئې وشو مونږ خو په دوی عذاب واقع کولو] بیا مونږ [د دې عذاب نه] خپلو پیغمبرانو او ایماندارو لره بچ کول [دا د وعدې مطابق] زمونږ ذمه ده [نو د غسې که پدې کفارو څه افت پریوځي نو مسلمانان به تري محفوظ وي خواه په دنیا کښې وي او که په اخرت کښې وي.

قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَاۤ اَعْبُدُ

اووایه اے نبی | اے خلقو | که یئ تاسو | په شك کښې | په باره د دین زما کښې | نو نه کوم زه بندګي

ائې پیغمبره اووایه چې ائې خلقو که ستاسو [اوس هم] ځما د دین باره کښې څه شک کښې یې انو زه

الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ ۚ

دهغو | چې تاسوئې بندګي کوئ | ماسوا د الله نه | بلکه | زهٔ بندګي کوم د الله | هغه | چې وفات کوي تاسو

دهغې معبودانو عبادت نه کوم | چې تاسو ئې د الله ﷻ نه بغیر عبادت کوئی | بلکه زه خو دهغې الله ﷻ

وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ

اوحکم شوې دې ماته | چې شم زهٔ | دمومنانو نه | او چې | ودروه | مخ خپل | د پاره د دین

عبادت کوم | چې ستاسو ژوند او مرګ دهغه په قبضه کښې دې | او ماته حکم دې چې په مومنانو کښې دې شامل

Scanned with Ca

حَنِيفًا ۚ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۝ وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ اللَّهِ مَا

یو مخیزي | اوهرګز مه کیږه ته | دمشرکانو نه | او مه رابله | ماسوا دالله نه | هغه

یم[او ماته] داحکم دې چې خپل خان دین طرفته یو مخیز کړم اوپه مشرکانو کښې نه ورګډیږم[او دالله

لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ

چې نه شي دررسولې فائده تاته | اونه ضرر تاته | نو که چرې | اوکړو تا داکار | نو بیشکه ته به ئې

نه بغیر د چا نه دعا مه غواړه | چې نفع نشي ورکولې | او نه ضرر ورکولې شي | که داسې دې اوکړل

إِذًا مِّنَ الظَّالِمِينَ ۝ وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ

په هغه وخت کښې | دظالمانو نه | اوکه اورسوی تاته | الله | یوضرر | نونشته لرې کونکې

نو په ظالمانو کښې به شمیر شې |اوکه الله درته تکلیف اورسوی |نو دهغه نه بغیربل څوک ئې نشي لرې کولې

لَهُ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ ۚ

هغه لره | مګر | هم هغه | اوکه اراده اوکړه تاته | دخیر | نو نشته څوک واپس کونکې | فضل دهغه لره

اوکه هغه درته خیر رسول اوغواړي | نو دهغه فضل هیڅوک رد کولې نشي | د هغه چې په کومو

يُصِيبُ بِهِ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۚ وَهُوَ الْغَفُورُ

رسوی هغه | داخیر | هغه چاته چې خوښه ئې شي | دبندګانو خپلو نه | اوهغه | بښونکې دې

باندې مرضی اوشي|نو فضل پرې کوی | اوهغه بخښونکې رحم کوونکې دې

الرَّحِيمُ ۝

رحم کونکې دې|

آسان ترجمه قرآن

(اې پیغمبره !) دوی ته ووایه چه: اې خلقو! که تاسوځما د دین په باره کښې څه شك کښې مبتلا یئ نو (واورئ) چه تاسو دالله نه سوا دچا عبادت کوئ نوځه دهغوی عبادت نه کوم بلکه ځه د هغه الله عبادت کوم چه ستاسو روح اخلي، او ماته حکم شوې دې چه ځه د مؤمنانو نه شم. او (ماته) دا (وئیلې شوی دی) چه: خپل مخ په یکسوئۍ سره هغه دین طرف ته اودروه، او چرې هم دهغه خلقونه مه کیږه چه د الله سره شریك منی. او دالله نه سوا داسې (د دروغو معبودان) مه رابله چه نه تاته څه فائده رسولې شي او نه څه نقصان او که تا (فرض محال) داسې وکړل نو ته به د ظالمانو نه شې. او که تاته الله څه تکلیف ورسوي نو دهغه نه سوا داسې څوك نشته چه هغه لرې کړي. او که هغه تاته څه فائده رسول وغواړي نو داسې څوك نشته چه هغه واپس کړي هغه خپل فضل خپلو بندګانو کښې چه چاته وغواړي نو رسوي او هغه بخښونکې ، ډیر مهربان دې.

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى شَكٍّ مِّن دِينِى فَلَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ ته [دوی ته]ووایه چه ای خلکوکه تاسوزمادډین دطرفه په شك [اوتردد]کښې ئی نو[زه تا سوته ددې حقیقت ښائم هغه داچه]زه دهغومعبودانوعبادت نه کوم دکوموچه تاسو دالله نه سواعبادت کوئ لیکن هو دهغه معبود عبادت کوم چه ستاسوروح قبضوی اوماته[دالله دجانب نه]داحکم شوی دی چه زه[په داسی معبودباندی]د ایمان راوړونکونه یم.

﴿وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ او[ماته]دا[حکم شوی دی]چه خپل خان ددی دین [خالص توحیدچه ذکرشو]طرف ته داسی متوجه کړه چه دنوروټولوطریقونه یوطرف ته شی اوچه چرته دمشرکانونه نه شی.

﴿وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ او[داحکم راته شویدی چه] دالله تعالی [دتوحید]نه سواد داسی شی عبادت مکوه چه تاته نه [په حالت دعبادت کولوکښی]څه نفع رسولی شی اونه [دعبادت دنه کولوپه حالت کښی]څه ضرر رسولې شي بیا که چیری [بالفرض]داسی دی وکړو[یعنی دغیرالله عبادت دی وکړو]نوپدی حالت کښی به دالله دحق دضائع کونکونه شی.

﴿وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهِۦ ﴾ او[ماته داسی ویلی شوی دی چه]که چیری تاته الله څه تکلیف رسوی نوبغیردالله نه بل څوك دهغې لرې کوونکی نشته اوکه هغه څه راحت رسول وغواړی نودهغه دفضل څوك لرې کوونکی نیشته.

﴿ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾[بلکه]دی خپل فضل دخپلوبندګانونه چه په چاوغواړی کوی اوهغه لوی مغفرت لوی رحمت والادی [اودفضل ټول افرادپه مغفرت اورحمت کښی داخل دی اوهغه په لوی مغفرت اورحمت سره موصوف دی پس خامخادفضل خاوندهم دی].

قُلْ	يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ	قَدْ جَآءَكُمُ	ٱلْحَقُّ	مِن رَّبِّكُمْ
ورته اووایه	اے خلقو	په تحقیق سره راغلي دي تاسوته	حق	دطرفه درب ستاسونه

اووایه | اي خلقو تاسوته د خپل پروردګار نه حق رارسیدلي دي

فَمَنِ	ٱهْتَدَىٰ	فَإِنَّمَا	يَهْتَدِى	لِنَفْسِهِۦ	وَمَن
نوهغه څوك چي نیغه لاره ئي اونیوه	نوبیشکه هغه نیغه لاره نیسي			دپاره دخان خپل	اوهغه څوك

نو څوك چي په سمه لار روان شو نو هغه دخپلې فائدې دپاره روان شو | او څوك چي

Scanned with Ca

ضَلَّ	فَاِنَّمَا	يَضِلُّ	عَلَيْهَا ۚ	وَمَآ اَنَا	عَلَيْكُمْ	
چې گمراهه پاتې شو	نو بیشکه	هغه گمراهه کیږي	په خان خپل	اونهٔ یم زهٔ	په تاسو باندې	
گمراه شو	نو وبال ئې په خپل ځان شو	اوزه ستاسو څه ذمه وار نه یم	او په هغې وحی			
بِوَكِيْلٍ ۝	وَاتَّبِعْ	مَا	يُوْحٰى	اِلَيْكَ	وَاصْبِرْ	حَتّٰى
ساتونکې	اوپیروی کوه ته	دهغې هدایت	چې درلیږلې کیږي	تاته	اوصبر کوه	ترهغې پورې
عمل کوه	کومه چې تاته راځی	او صبر کوه	تر دې چې الله ﷻ فیصله اوکړي	اوهغه ډیر ښه		
يَحْكُمَ	اللّٰهُ ۚ	وَهُوَ	خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ۝			
چې فیصله اوکړي	الله	اوهغه	بهتره فیصله کونکې دې			
فیصله کوونکۍ دې						

آسان ترجمه قرآن

(اې پیغمبره!) ته ووایه چه: خلقو! ستاسو د پروردګار د طرف نه تاسو ته حق راغلې دې، اوس چه څوک د هدایت لار اختیاروي نو د خپل ځان د فائدې دپاره به ئې اختیاروي، او څوک چه د ګمراهۍ لار اختیاروي، نو د هغه د ګمراهۍ نقصان به هغه ته وي، او څه ستاسو د کارونو ذمه دار نه یم او کومه وحي چه تا ته راځي د هغې تابعداري وکړه، او د صبر نه کار اخله تر دې چه الله څه فیصله وکړي او هغه بهترینه فیصله کونکې دې.

خلاصه تفسیر:

﴿قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ۝﴾ ته داهم ووایه چه ای خلکوتاسوته حق [دین]ستاسودرب دطرف نه [په لیدوسره]رارسیدلی دی پس[ددی حق دین درسیدونه پس]چه کوم سړی په سمه لاره راشی پس هغه به دخپل ځان[دنفع]لپاره په نیغه لاره راشی اوکوم سړی چه[اوس هم]بې لاری پاتی شی نودده بې لاری کیدل [یعنی ددی وبال به هم]په ده پریوځی اوزه په تاسو[څه دذمه واری په طور]مسلط شوی نه یم [چه ګوندی ستاسی دبې لاری کیدوتپوس به ځمانه کیږی نوځماڅه نقصان دی].

﴿وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ۝﴾ اوته دهغی تابعداری کوه کوم چه تاته دوحی په ذریعه رالیږلې شی [په دی کښی تبلیغ هم راغئ]او[ددوی په کفر اوازار رسولو] صبر کوه تردی چه الله ددوی فیصله وکړی [خوادنیاکښی په هلاکت سره وی یاآخرت کښی په عذاب سره مطلب دا چه ته خپل منصبی کارکښی لګیااوسه ددوی فکرمکوه]اوهغه دټولو فیصله کونکونه ښه فیصله کوونکی دی.

.....

سورة هود

آياتونه	سورة هود مكية وهي مائة وثلاث وعشرون اية وعشر ركوعاً	ركوعګانې
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
۱۲۳	شروع كوم په نوم د الله چه ډير مهربان زيات رحم كونكې دې	۱۰

الٓرٰ كِتٰبٌ اُحۡكِمَتۡ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتۡ

ا ل ر | دا كتاب دې | چې محكم كړې شوې دې | آياتونه ددې | بيا | په تفصيل سره بيان شوې دي

الف لام را | دا يو [داسې] كتاب دې | چې آيتونه ئې مضبوط دي | او بيا دا چې وضاحت سره بيان شوې دي

مِنۡ لَّدُنۡ حَكِيۡمٍ خَبِيۡرٍۙ ۝١ اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنَّنِىۡ لَـكُمۡ

د طرفه | د يو حكيم | خبردار نه | چې تاسو بندګي مه كوئ | مګر د الله | بيشكه زه | د پاره ستاسو

د يو حكيم خبردار د طرفه | چې بغير د الله ﷻ نه د بل هيڅ عبادت مه كوئ | زه د هغه

مِّنۡهُ نَذِيۡرٌ وَّبَشِيۡرٌ ۙ ۝٢ وَّاَنِ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا

د طرفه د هغه نه | يرونكې | او زيرې وركونكې يم | او دا چې معافي او غواړئ | د رب خپل نه | بيا | توبه اوباسئ

د طرفه ستاسو ويرونكې او تاسو ته زيرې دركوونكې يم | او [په دې مضمون] چې د خپل رب نه بخښنه

اِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُمۡ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤۡتِ كُلَّ

هغه ته | دربه كړې تاسو ته | سامان د ژوند | ښه | د نيتې مقررې پورې | او وربه كړې | هر

غواړئ | بيا هغه ته رجوع اوساتئ | هغه به درته د ژوند سازوسان تر يو مقرر وخت پورې دركوي

ذِىۡ فَضۡلٍ فَضۡلَهٗ ؕ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنِّىۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ

خاوند د فضل ته | فضل د هغه | او كه مخ واړوئ تاسو | نو بيشكه زه | بريږم | په تاسو باندې | د عذابه

او هر زيات كاركوونكې ته به د هغه زيات اجر وركوي | او كه مخ ونه مو واړول | نو زه په تاسو باندې

يَوۡمٍ كَبِيۡرٍ ۝٣ اِلَى اللّٰهِ مَرۡجِعُكُمۡ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۝٤

دورځې | لوئې نه | خاص الله ته ده | واپسي ستاسو | او هغه | په هر څيز باند | قادر دې

ديوې لوئې [هولناكې] ورځې د عذاب نه ويريږم | د ټولو واپسي الله ته ده | او هغه په هر څۀ پوره پوره

اَلَاۤ اِنَّهُمۡ يَثۡنُوۡنَ صُدُوۡرَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُوۡا مِنۡهُ ؕ اَلَا حِيۡنَ

واورئ | بيشكه دا خلق | تاووې | سينې خپلې | د پاره ددې چې پټ شي | د هغه نه | خبردار | څه وخت

قدرت لرې | واوره دوئ خپلې سينې تاوهې چې د الله ﷻ نه پټ شي | او اوره چې دوئ څۀ وخت په خان جامې

يَسۡتَغۡشُوۡنَ ثِيَابَهُمۡ ۙ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّوۡنَ وَمَا يُعۡلِنُوۡنَ ۚ

چې دوئ پټيږي | په كپړو خپلو | پيژنې الله | هغه | چې پټوي ئې دوئ | او هغه | چې ښكاره كوي ئې دوئ

راواچوي | نو الله ﷻ ته هغه هر څه معلوم دي | كوم چې دوئ پټوي | او كوم چې ښكاره كوي | هغه

إِنَّهُ	عَلِيمٌ	بِذَاتِ	الصُّدُورِ ۝
بیشکه هغه	ښه خبر دې	په پټو رازونو	دسینو باندې

دزړونو د رازونو نه هم ښه خبر دې

آسان ترجمه قرآن

دا هغه کتاب دې چه ددې آیتونه (په دلائیلو سره) مضبوط کړې شوی دی بیا د یو داسې ذات د طرف نه ددې تفصیل بیان کړې شوې دې چه دحکمت مالك دې او دهرې خبرې نه خبر دې.(دا کتاب پیغمبر ته حکم ورکوي چه خلقو ته دي ووائی) چه: دالله نه سوا د بل چا عبادت مه کوئ ځه تاسو ته د هغه د طرف نه خبرونکې یم او زیرې درکونکې یم .او دا (هدایت ورکول) چه: دخپل پروردګار نه د ګناهونو معافي وغواړئ ، بیا هغه طرف ته رجوع وکړئ هغه به تاسو ته یو مقرر وخت پورې (د ژوند نه) د مزې اخستو مهلت درکړې ، او بیا چه چا زیات عمل کړې وي هغه ته به ډیر اجر ورکړی.او که تاسو مخ واړولو نوځه په تاسو د یوې لوئ ورځې د عذاب نه ویریږم. الله ته ستاسو واپس کیدل دي او هغه په هر یو څیز قدرت والا دې.وګوره، دا (کافران) خلق خپلې سینې دهغه نه پټیدلو دپاره راغبرګوی. یاد وساتئ چه کله دوی جامې اچوي نو الله د دوی هغه خبرو باندې پوهیږی چه کومې دوی پټوي، او کومې چه دوی ښکاره کوی یقیناً الله ښه پوهیږی په هغه خبرو چه کومې په سینو کښې دی.

خلاصه تفسیر

﴿كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ۝﴾ دا [قرآن] یو داسی کتاب دی چه ایاتونه ئی په دلیلونوسره محکم کړی شوی دی بیا [دی سره] صاف صاف هم بیان شویدی [او دا کتاب داسی دی چه]دیوبې خبره حکیم[الله تعالی]له خوا [راغلی دی ،.چه لوی مقصدئی]دا [دی] چه دالله تعالی نه سوادبل چا عبادت مکوئ زه تاسوته دالله لخوا [په ایمان نه راوړلودعذاب نه] ویروونکی او[په ایمان راوړودثواب] خوشخبری درکوونکی یم.

﴿أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۚ إِنَّنِى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ ۝ وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ او[ددی کتاب دمقصدونونه] دا [هم ده] چه تاسو دخپل ګناه[شرك او کفروغیره]دخپل رب نه معافی وغواړئ [یعنی ایمان راوړئ او]بیا [پس دایمان نه] الله ته[په عبادت سره] متوجه شئ [یعنی نیك عمل وکړئ پس دایمان اونیك عمل په برکت سره] هغه به تاسوته دمقرره وخت یعنی[ترمرګه] پوری[په دنیا کښی] ښه عیش درکړی.

﴿وَيُؤْتِ كُلَّ ذِى فَضْلٍ فَضْلَهُۥ ۖ وَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ ۝﴾ او[په آخرت کښی به] هر زیات عمل کوونکی ته زیات ثواب ورکړی[داویل هم په شان دزیری ورکوونکی دی] او که چیری تاسوخلك [دایمان راوړلونه] اعراض کوئ نوماته[پدی صورت کښی] ستاسو لپاره دیوی لوئی ورځی دعذاب ویره ده او[داویل په مثل دویروونکی دی،.

﴿إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝﴾ اوعذاب لری مه ګڼړی ځکه چه] تاسو[ټولو]الره الله طرف ته ورتلل دی او هغه په هرشی باندی پوره قدرت لری.[بیادعذاب دلری ګڼړلو وجه نشته البته که هلته ستاسو حاضریدل نه وی [یانعوذبالله] دهغه قدرت نه وی نوعذاب به نه واقع کیدونو په داسی حالت کښی دتوحیداوایمان نه اعراض کول ندي پکار .وړاندی دالله دعلم ثابتول دي او

داسې علم اوقدرت دواړه دليلونه دتوحيد دي] ﴿ أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُ ﴾ يادساتئ دغه خلك غبرګوي سينې خپلې [اودپاسه پرې کپړې اچوي] چه خپلې خبرې دالله نه پټې کړي [يعنې داسلام اومسلمانانوخلاف چه دوی کومې خبرې کوی نوداسې ئې کوی چه څوك ترې خبر نشي اودچاچه عقيده وی چه الله خامخا خبريږي اوستاصاحب وحي كيدل په دليلونوثابت دي پس] هغوی به دپټوالي داسې تدبيرونه دکوم ځاي نه کوی ځکه چه داسې تدبير کول ګويا په دلالت حال سره دپټيدوکوشش کول دي.

﴿ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ نويادساتئ چه دغه خلك كوم وخت چه[سره دسينوغبرګولو]په خان کپړې [دپاسه]را اچوی هغه ته دغه وخت هم ټول هرڅه معلوم وی کوم چه پټې پټې خبرې کوي اوکومې چه دوی ښکاره خبرې کوی[ځکه چه] په يقين سره هغه [خو]دزړونودننه خبرې پيژني [نوپه ژبه ويلي شوی څنګه نه پيژني].

معارف او مسائل

سورت هود د هغې سورتونو نه يو سورت دې چه په کښې د هغې قهر الهی او د مختلفو عذابونو بيان په خاص انداز کښې راغلې دي کوم چه په پخوانو نافرمانه قومونو باندې په دنيا کښې راغلې وو،او بيا د قيامت هيبتناك واقعات او جزا،سزا په خاص انداز کښې بيان کړې شوې دي.

چنانچه کله چه د رسول اللهﷺ په ډيره مبارکه کښې سپين ويښته اولګيدل نو حضرت ابوبکرؓ پرې خپل خفګان داسې ښکاره کړو چه يا رسول اللهﷺ تاسو خو بوډاګان شوې،رسول اللهﷺ ورته اوفرمائيل چه،او،سورۀ هود زه بوډا کړم.په بعضې روايتونو کښې سورت هود سره د سورت واقعه،مرسلات،عم يتسآلون او سورت تکوير بيان هم راغلې دې [حاکم، ترمذی] (۱) د دې مطلب دا وو چه د دې واقعاتو د يرې او دهشت په وجه زه بوډا شوم.

د دې سورت په اول سر کښې[الر]را وړلې شوې دی،د ټولو داسې حرفونو په مطلب باندې سوا د الله تعالى او د رسول اللهﷺ نه بل څوك ځکه نه دی خبر کړې شوې چه دا يو اخې د دوی[دواړو]تر منځه راز دې،بلکه دې نه هم نور خلق منع کړې شوې دی چه د دې راز معلومولو په تکل کښې شي.

وروسته د قرآن کريم په باره کښې فرمائي چه،دا يو داسې کتاب دې چه آيتونه ئې محکم کړې شوې دی؛[محکم]د احکام نه جوړ دې،معنی ئې داده چه يو کلام په دې شان درست کړې شی چه يو لفظ او معنی کښې ئې د څه غلطې يا فساد احتمال پاتې نه شی،په دې بنا به د قرآن کريم د آيتونو د محکم والي مطلب دا وی چه الله تعالى ورته داسې شان ورکړې دې چه په الفاظو کښې ئې غلطې يا په معنی کښې ئې څه ويجاړې او زيان يا د باطلو څه امکان او احتمال نشته[قرطبی] (۲)

حضرت عبدالله بن عباسؓ فرمائيلي دی چه دلته د محکم آيتونو نه مراد هغه دی چه منسوخ نه وی،په دې بنا به ئې مطلب دا وی چه الله تعالى د دې کتاب[قرآن مجيد]آيتونو له دا شان ورکړې دې چه ټول د خيلمې به هغسې نه منسوخ کيږی څنګه چه د قرآن کريم په نازليدو سره

---

(۱) المستدرک للحاکم رقم الحديث: ۳۳۷۴، وجامع الترمذی، أبواب التفسير، باب ومن سورة الواقعة: ج ۲، ص ۲۹۵

(۲) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۲

پخوانی کتابونه تورات او انجیل منسوخ شو، ولې چه د دې نه پس د وحی او پیغمبرۍ سلسله ختمه شوه، ځکه به دا کتاب[قرآن]تر قیامته نه منسوخ کیږي[قرطبی][1]البته هم د قرآن کریم په ذریعه د بعضې قرآنی آیتونو منسوخ کیدل څه بدیت او بې سمونې نه لري ځنګه چه ځنې آیتونه په دې شان منسوخ شوې دی.

په دې آیت کښې د قرآن کریم بل شان داسې بیان شوې دې﴿ثُمَّ فُصِّلَتْ﴾[یعنی بیا د دې آیتونو تفصیل اوکړې شو]اصلی معنی د تفصیل دا ده چه د دوو څیزونو تر منځه جدائی او بیلتون راوستې شی، ځنګه چه په عامو کتابونو کښې مختلف مضمونونه د فصل په عنوان سره بیانولې شی.

د آیتونو تر منځه د تفصیل یو مطلب دا دې چه د عقیدو، عبادتونو، معاملاتو، معاشرت، اخلاقو وغیره د مضمونونو د آیتونه بیل بیل او واضح بیان کړې شوې دی، او بله معنی ئې دا هم کیدې شی چه د الله تعالی ارخه ټول قرآن مجید په یو ځل لوح محفوظ کښې لیکلې شوې وو، بیا د مختلفو قومونو او ملکونو د ضرورتونو او حالاتو په جوړ، په لړه لړه نازل کړې شو، ځکه چه یادول ئې هم آسان وی او پوړې په پوړې په دې باندې عمل کول هم آسان شی.

وریسې فرمائی؛﴿مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ﴾[یعنی دا ټول آیتونه هم د یو ذات له ارخه راغلې دی چه د حکمت خاوند او خبرداره هم دې]مطلب دا چه د الله تعالی په هر کار کښې دومره حکمتونه دی چه انسان ئې ټول د خیلمې په خپل علم کښې نه شی راوستې او هغه د ټول جهان د ذرې ذرې نه پوره خبردار دې کوم چه اوس شته دې یا په آئنده کښې به وی، یعنی د هر یو څیز د موجوده او آئنده حالاتو نه خبرداره دې، په دې ټولو باندې نظر کولو سره حکمونه ئې نازلوی، د انسانانو په شان نه دې چه سره د ډیرې عقلمندۍ هوښیارتیا او تجربه کارۍ نه ئې عقل او پوهه تر یو خاص حد او اندازې پورې کار کولې شی او د دوی تجربه صرف د خواو شا په څیزونو پورې محدوده وی او ډیر کرته په راتلونکې زمانه او راتلونکو حالاتو کښې ناکامه او غلطه ثابتیږي.

په دویم آیت کښې د بیان شوو آیتونو بیان د هغه څیز[د الله تعالی د توحید]نه شروع کیږي چه د ټولو څیزونو نه زیات ضروری او وړاندې دې، فرمائی﴿أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ﴾[یعنی په دې آیتونو کښې چه کوم مضمونونه بیان کړې شوې دی په هغې کښې د ټولو نه زیات ضروری او وړاندې څیز دا دې چه د الله تعالی نه سوا د بل چا عبادت او نه کړې شی.

وریسې فرمائی﴿إِنَّنِي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ﴾[یعنی رسول الله ﷺ ته الله تعالی دا حکم ورکړې دې چه هغوی ﷺ دې د ټول جهان خلقو ته دا اووائی چه؛زه د الله تعالی د ارخه ستاسو یرونکې او درته زیرې درکونکې یم].

مراد دا دې چه هغې خلقو لره د الله تعالی د عذاب نه یرونکې یم چه نافرمانی کوی او خپل ناروا خواهشاتو پسې روان وی، او هغې خلقو ته د دواړو جهانو د راحتونو او نعمتونو زیرې ورکونکې یم کوم چه فرمانبردار او نیک وی﴿نَذِيرٌ﴾ معنی هغه مشفق او مهربانه بنده دې چه خپل عزیزان داسې څیزونو نه یرول او ساتل غواړي چه ورله په دنیا، آخرت یا دواړو کښې زیان رسونکې وی، دالفظ یرونکی دشمن، درنده یا څه بل زیان رسوونکی دپاره نه شی استعمالولې.

[1]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۹، ص ۲

په دریم آیت کښې د قرآنی هدایتونو نه دویم هدایت دا بیان شوې دې؛ ﴿اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ﴾ [یعنی په دې محکم آیتونو کښې الله تعالی خپلو بندګانو ته دا هدایت هم کړې دې چه دوی دې د خپل رب نه بخښنه او معافی غواړی او توبه دې کوی، د بخښنې غوښتلو [مغفرت] تړون کړو ګناهونو سره دې او د توبې تړون آئنده سره دې چه په راتلونکو وختونو کښې د دې خوا ته د نه تللو لوظ او قول اوکړی، چنانچه حقیقی توبه دا ده چه په کړو ګناهونو باندې پښیمانه شی او الله تعالی نه ئې معافی اوغواړی او په آئنده کښې د دې د نه کولو پوخ قصد اوکړی، ځکه خو بعضې بزرګانو فرمائیلې دی چه آئنده کښې د ګناه نه د ځان ساتلو پوخ قصد او انتظام کولو نه بغیر یواځې په ژبان سره بخښنه غوښتل د کذابینو [دروغژنو خلقو] توبه ده [قرطبی] [1] لکه د داسې بخښنې غوښتلو په باره کښې بعضی حضراتو فرمائیلې دی،

معصیت را خنده می آید زاستغفار ما

[زمونږ په بخښنې غوښتلو باندې زمونږ ګناه له خندا ورځی]

یا څنګه چه بعضې نورو حضراتو فرمائیلې دی؛ د داسې توبې کولو نه مې توبه ده؛

وریسې فرمائی ﴿يُمَتِّعْكُم مَّتَاعًا حَسَنًا إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ [یعنی چا چه د خپلو کړو ګناهونو بخښنه اوغوښتنه او په آینده کښې دې نه د ځان ساتلو پوخ قصد او انتظام اوکړو، نو یواځې دا نه چه ګناهونه به ئې اوبخښلې شی بلکه هغوی ته به ښکلې ژوند هم ورکړې شی، ژوند نه مراد عام ژوند دې خوا هغه د دنیا ژوند وی یا د آخرت همیشه ژوندون وی، څنګه چه په بل آیت کښې هم د داسې خلقو باره کښې ارشاد شوې دې ﴿فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾ [یعنی مونږ به ورته خامخا پاکیزه ژوند ورکړو] د دې آیت په باره کښې د جمهورو مفسرینو رحمهم الله تحقیق هم دا دې چه دلته د ژوند نه مراد د دنیا او آخرت دواړه ژوندونه دی، په سورت نوح کښې د بخښنې د غوښتونکو په باره کښې په ښکاره داسې فرمائیلې شوې دی ﴿يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ۝ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ۝﴾ [که تاسو په صحیح طریقه د الله تعالی نه بخښنه او غوښته نو الله تعالی به درباندې د رحمت باران نازل کړی او د مال او اولاد نه به مو مراد ترسره کړی باغونه او نهرونه به درکړی] ښکاره خبره ده چه د رحمت د باران او د مال، اولاد تعلق د دنیا دې ژوند سره دې، هم دغه وجه ده چه په دې بیان شوې آیت کښې هم اکثرو مفسرینو رحمهم الله د [متاع حسن] تفسیر داسې کړې دې چه د استغفار او توبې په نتیجه کښې به الله تعالی تاسو ته فراخه روزی او مزې چرچې کول دراوبخښی، افتونو او عذابونو نه به مو ساتی او هر کله چه د دنیا د ژوند ختمیدل خامخا شته دې، په دې بنا د دنیا مزې او عیش چرچې کول او آرام سره وخت تیرول د قدرت د قانون له مخې دائمې نه شی کیدې، ځکه ئې اوفرمائیل (إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى) به دې سره ئې هدایت اوکړو چه په دنیا کښې د پاکیزه ژوند او مزو چرچو کولو اسانې به یو خاص نیټې [مرګه] پورې وی، بیا به مرګ دا ټول هر څه قیصه ختمه کړی، د مرګ نه سمدستی پس د بل جهان ژوند شروع کیږی او په دې کښې هم د توبې او استغفار کوونکو د پاره به همیشه راحتونه نصیب کیږی.

او حضرت سهل بن عبدالله رحمه الله فرمائیلې دی چه د [متاع حسن] نه مراد دا دې چه د انسان مخه د مخلوق نه واوړی او په خالق پورې مضبوط تړون اولری، بعضې بزرګانو د [متاع حسن] دا

[1]) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة: ج ۹، ص ۳

مطلب ښودلې دي چه انسان په شته څيزونو باندې قانع[صابر]شي او نيشت څيزونو پسې لاسونه خپې نه وهي،يعنې په شته څيزونو تسلي اولري او نيشت پسې سر نه ماتوي.

توبې او استغفار كوونكو ته بل زيرې داسې وركړې شو ﴿وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ﴾دلته د رومبي [ذكرشوي]فضل نه مراد د انسان نيک عمل دې او د بل فضل نه مراد د الله تعالى فضل يعنې جنت دې،مطلب دادې چه هرنيک عمل كوونكي ته به الله تعالى خپل فضل،يعنې جنت وركوي.

په رومبې جمله كښې د دنيا او آخرت دواړو د[متاع حسن]د ښه ژوند وعده فرمائيلې شوې ده او په دويمه جمله كښې د جنت د هغه نعمتونو بيان شوې دې چه ختميدونكي به نه وي،په آخر د آيت كښې فرمائي ﴿وَإِن تَوَلَّوْا فَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ﴾[يعنې كه د دې نصيحت او خير خواهې نه تاسو مخ واړولو،د كړې گناهونو نه د بخښنې غوښتو او په آئنده كښې مو دې نه د ځان ساتلو انتظام او نه كړو نو قوي انديښنه ده چه تاسو د يوې لوئې ورځې په عذاب كښې گرفتار شې]د لوئې ورځې نه مراد د قيامت ورځ ځكه ده چه دا به زر كاله وي،او دې كښې ټول راپيښيدونكي حالات او واقعات به هم ډير لوئې وي.

په پنځم آيت كښې دا مضمون نور هم په دې شان مضبوط كړې شوې دې چه په دنيا كښې كه تاسو هر څه اوكړې او كه په هر شان د دنيا ژوند تير كړې خو په انجام كښې د مړ كيدو نه پس به الله تعالى ته ورگرځيدل وي او هغه په هر څيز باندې قادر دې،هغه ته داسې كول څه گران نه دي چه د مړ كيدو او خاورې كيدو نه پس ستاسو ټولې ذرې راجمع كړي او تاسو نه دوباره انسانان جوړ كړي او راولاړ مو كړي.

په شپږم آيت كښې د منافقانو د يو بد گمان او ناكاره خيال داسې رد كول دي چه دا خلق د رسول الله ﷺ سره د خپلې دشمنې او د هغوى خلاف كول ښه په كوشش سره پټوي د دوي په سينو كښې د حسد او بغض كوم اور چه بليږي په هغوى باندې په هر شان پردې اچوي او دا خيال كوي چه په دې شان سره به زمونږ اصل حال چا ته معلوم نه شي خو حقيقت دا دې چه د جامو دننه د پردو د وروستو چه څه كوي الله تعالى ته دا ټول هر څه په ډاگه ځكه دي چه؛انه عليم بذات الصدور؛[هغه د زړونو پټ رازونه هم ښه پيژني]

[الحمدلله پاره نمبر ۱۱ ختمه شوه]

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ

اونشته | هيڅ يو ساه لرونکې | په زمکه کښې | مګر | په الله باندې دې | رزق د هغې | او پيژنی الله

او د زمکې په مخ چه هر ژوندې دې نو خواه مخواه دهغه روزي دالله ﷻ په ذمه ده | او هغه ته ده ريو

مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝٦ وَهُوَ

ځائې د اوسيدو د هغې| او ځائې دسپارنې دهغې| هرڅه | په کتاب |روښانه کښې موجود دی| اوهغه

کس د زياتې او د لږې استوګنې ځائې معلوم دې | دا هر څه په ښکاره کتاب کښې ليک دی

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ فِيْ سِتَّةِ أَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ

هغه ذات دې| چې پيدا ئې کړل | آسمانونه | او زمکه |په شپږو ورځو کښې|او وو | عرش د هغه

او الله ﷻ هغه ذات دې چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کښې پيدا کړل|او د هغه عرش

عَلَى الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ

په اوبو باندې|دپاره ددې چې امتحان اوکړی ستاسو|چې کوم يو په تاسو کښې|ډير ښۀ دې | په اعتبار د عمل سره

په اوبو ولاړ وو| چې ستاسو آزميښت اوکړی چې څوک در کښې د عمل په لحاظ سره ډير ښۀ دې

وَلَئِنْ قُلْتَ إِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ

اوکه چرته |اووائې تۀ| چې بيشکه تاسو به|دوباره راپاسولې شئ|روستو دمرګ نه | نو خامخا وائی به

او [ائې پيغمبره ﷺ]که تۀ ورته اووائې چې تاسو به دمرګ نه پس بيا راژوندی کيږئ| نو کافر به ضرور

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧ وَلَئِنْ أَخَّرْنَا

هغه کسان | چې کافران دی | چې نۀ دې دا| مګر | جادو |ښکاره دې |اوکه چرې| روستو کړو مونږه

اووائی چې دا خو ښکاره جادو دې | اوکه مونږ ددوئ نه تر يو نيټې پورې عذاب روستو کړو

عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلٰٓى أُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ لَّيَقُوْلُنَّ مَا يَحْبِسُهٗ ۚ

دهغوئ نه| عذاب | ديوې مودې | شمارلې شوې پورې| نو خامخا وائی به| چې څه څيز | بندوی هغه عذاب

...... نو دوئ وائی چې آخر څه څيز دا [عذاب] منع کړو

أَلَا يَوْمَ يَأْتِيْهِمْ لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ

خبردار | په کومه ورځ | چې راشی هغه دوئ ته | نونۀ به شی لرې کولې هغه | ددوئ نه

واوره ......چې په کومه ورځ [عذاب] راشی ...... نو بيا به ترې نه اړولې نشی

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٨

اوچاپيره به شی | ددوئ نه | هغه څيز | چې وو دوئ | په هغې پورې | چې توقې به ئې کولې

او دوی به په هغه عذاب کښې راګير شی په کوم پورې چې به دوئ توقې کولې

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

او په ځمکه باندې تلونکې يو ژندے سر داسې نشته چه د هغه رزق الله په خپله ذمه نه وي اخستې. او هغه ته د دهٔ مستقل د استوګنې ځائې هم معلوم دې او عارضي د استوګنې ځائې هم. هر یو خبره د الله څخه په يو واضح کتاب کښې موجود دهٔ او هم هغه ذات دې چه هغه ځمکه او آسمانونه په شپږو ورځو کښې پيدا کړل. او د هغه عرش په اوبو باندې وو دې دپاره چه په تاسو امتحان وکړي چه د عمل په اعتبار سره په تاسو کښې څوك ښه دې او که ته (خلقو ته) دا ووائې چه تاسو به د مرګ نه وروستو ژوندې کولې شئ نو کومو خلقو چه کفر اختيار کړې دې هغوی به دا وائي چه دا د ښکاره جادو نه سوا نورڅه نه دي او که مونږ څه وخت دپاره دې خلقو نه عذاب لرې کړو نو دوی به دا وائي چه: "آخر کوم څيز (عذاب) لره بند کړې دې ؟ په کومه ورځ چه دا عذاب راشي نو هغه به دوی نه نهٔ واپس کيږي ، او د کوم څيز سره چه دوی ټوکې کولې هغه به دوی لره د څلورو واړو طرفونو نه راګير کړي.

خلاصه تفسير :

﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ اِلَّا عَلَی اللهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِیْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝ ﴾ اوڅوك [رزق خوړونکی] جاندار په مخ دځمکی داسی نشته چه دده رزق دالله په ذمه نه وی[اودرزق رسولولپاره دعلم ضرورت وی پس] هغه دهريوددايمي اوسيدوځای اودخوورخوداوسيدوځای پيژنی[اوهريو هلته رسوی اوسره ددی چه ټول څيزونه په علم الهی کښی دي ....مګرددی سره] ټول څيزونه ښکاره کتاب[لوح محفوظ]کښی [هم درج شوی] دي[مطلب داچه هرقسمه واقعات محفوظ دی.

﴿ وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَی الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۗ ﴾ وړاندی دپيدايش سره دبعضوحکمتونوبيان دی چه پدې سره په قيامت کښی دبياژوندی کيدوهم تائيدکيږی ځکه چه ابتدائی پيدائش دليل دی پدې چه دوٸ به دوباره هم پيداکولی شی] اودغه[الله]داسی دی چه ټول آسمانونه اوځمکه ئی په شپږ ورځی[مقدار]کښی پيداکړه دغه وخت دده عرش په اوبوباندی وو[چه دادواړه څيزونه دمخکی نه پيداشوی وو اوداپيداکول ځکه دی] چه ستاسو امتحان وکړی چه[وګورئ] په تاسوکښی ښه عمل کوونکی څوك دی[مطلب داچه آسمانونه اوځمکه ئی پيداکړه ستاسو حاجتونه اونفعی ئی ئې‌دی کښی پيداکړی چه تاسودا ووينئ اوپه توحيد ترينه دليل ونيسئ اوددی نه نفع واخلئ دمنعم شکر اوخدمت چه عبارت دې دنيك عمل نه په ځای راوړئ پس بعضوداسی وکړل بعضو ونکړل].

﴿ وَلَئِنْ قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ ﴾ اوکه ته[خلقوته] وائی چه يقينا تاسو خلق به دمرګ نه پس [دقيامت په ورځ دوباره] ژوندې کړې شئ نو[پدوی کښی] کافران[دقرآن په نسبت] وائی چه داخوخالص صفاجادودی[جادو ورته ځکه وائی چه هغه خوباطل وي مګر اثرکوي،دغه شان قرآن به ئی نعوذ بالله باطل ګڼلو مګرددی د مضامينو اثرکول ئی هم ليدل،په دي مجموعه باندی ئی داحکم وکړونعوذبالله منه ، مقصد ددی نه د آخرت انکاروو.

Scanned with Ca

﴿ وَلَىِٕنْ اَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِلٰۤى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ لَّيَقُوْلُنَّ مَا يَحْبِسُهٗ ﴾ او راندي ددوی دمنشاء دانکار جواب ارشادفرمائی] اوکه دلږو ورخوپوري[مرادترینه ددنیاژوندديږ] مونږ ددوی نه عذاب یعنی[وعده شوی] ملتوی ساتو چه پدي کښې حکمتونه دي نو[په طورد انکار اومسخرو] وائی چه[هرکله مونږ ستاپه نزد دعذاب مستحق یونو]څه شی ئی منع کوی [یعنی که عذاب څه شی وي نوتر اوسه به شوی ووهرکله چه ونه شو نومعلومه شوه چه هیڅ هم نشته. ﴿ اَلَا يَوْمَ يَاْتِيْهِمْ لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴾ الله تعالی جواب ورکوی چه] یادساتئ په کومه ورځ چه [په مقرره وخت] دغه[عذاب] پدوی راپریوځی نودچاپه واپس کولوبه بیا واپس نشی اودوی چه په کوم [عذاب]مسخری کوی هغه عذاب به دوی راګیروي[مطلب داچه سره ددی چه دوی ئی مستحق دي خوداتاخیر دبعضی حکمتونوپه وجه دي چه دهغه وخت مقرردی بیابه پدغه ورځ ټول کسر اوقصور وویستلای شی].

معارف او مسائل

په تیر شوی آیت کښې د الله تعالی د محیط علم بیان وو چه د کائناتو هیڅ یوه ذره او زړونو رازونه هم ترې پټ نه دی، اوس د دې آیتونو نه په ړومبی آیت کښې د دې په مناسبت سره په انسان باندې د یو عظیم الشان احسان بیان شوی دی، هغه دا دې چه الله تعالی د ده د روزئ ذمه داری پخپله اخستې ده، یواځې د انسان نه بلکه په زمکه باندې د هر ګرځیدونکی سا لرونکی د روزې ذمه داری ئې اخستې ده، هغه چه چرته اوسیږی یا چرته چه ځی د هغه روزی هغه ته ور رسی، نو د کفارو دا اراده لرل چه هغوی څه کار د الله تعالی نه پټوی د ناپوهی او بې وقوفې نه سوا بل هیڅ نه دی، ددې په عموم کښې سالرونکی ځیزونه د ځنګل ځریدونکی ځناور، مارغان او په زمکه کښې دننه اوسیدونکی، د اوچې او دریاب ټول ځناور په کښې داخل دی، چنانچه د دې عموم د تاکید د پاره لفظ د[من]زیات راوړې شو او داسې اوفرمائیلې شو؛

﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ ﴾ دابة هر هغه سالرونکی ته وئیلې شی چه په زمکه باندې ګرځی، په دې کښې مارغان هم ځکه داخل دی چه جاله [ځاله] او د خوراک څکاک ټول انتظام ئې په زمکه دې، دریابی مخلوق هم زمکې سره په ښکاره تړون لري، د دې ټولو ځیزونو د روزې ذمه داری الله تعالی په خپله ذمه داسې اخستې ده لکه چه د چا فریضه، ډیوټی او وظیفه وی فرمائی:

﴿ عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا ﴾ [یعنی د الله تعالی په ذمه دي د هغې رزق]ادا ښکاره خبره ده چه په الله تعالی باندې د ذمه دارې پیټې اینښونکې څوک بل طاقت نشته، سوا د دې نه چه هغه په خپل فضل سره پخپله د دې وعده کړې ده، هر کله چه وعده د داسې کریم ذات ده چه په کښې د خلاف ورزې کولو هیڅ امکان نشته، نو ځکه د دې یقین ښکاره کولو د پاره لفظ د[علی]راوړلې شو، چه د فرائضو بیانولو د پاره استعمالولې شی، حالانکه نه خو الله تعالی د څه حکم پابند دې او نه د هغه په ذمه څه ځیز فرض یا واجب دې.

رزق، په لغت کښې هغه ځیز ته وئیلې شی چه سالرونکې ترې خپله خوراکه حاصلوی او د هغې په ذریعه روح په بدن کښې ایسار پاتې کیدې شی او په بدن کښې ورسره ترقی او څوربوالې [چاغوالی] راځی.

Scanned with CS

رزق د پاره دا ضروري نه ده چه د دې استعمالونکې دې د دې مالک هم وي لکه ټول ځناور، ځاروي او مارغان وغيره واخلې چه دې ټولو ته کوم رزق ورکولې کيږي هغوي د دې مالکان نه وي په هغوي کښې د سره د ملکيت صلاحيت نه وي، هم دا شان واړه ماشومان د خپل رزق مالکان نه وي خو هغوي ته رزق ملاويږي.

د رزق د دې عامې معنې په اعتبار سره علماؤ ﷺ فرمائيلې دي چه رزق حلال هم کيدې شي او حرام هم کيدې شي، نو په ناجائزه د چا مال خوړنکې خو اګر چه دغه مال ځان د پاره خوراکه جوړه کړې خو حرام ئې اوکړلوکه دې ناروا طريقه ئې په ړندو سترګو دغه مال نه وې خوړلې نو دې د پاره ټاکلې شوې روزي به ورته په روا طريقه ملاؤ شوې وه.

د روزې په خدائې ذمه دارې باندې يو سوال او د هغې جواب: سوال دا راپيدا کيږي چه هر کله د هر سالرونکي د روزې ذمه داري الله تعالى اخستې ده نو بيا ډير سالرونکي څيزونه او انسانان د روزې د نيشتوالي د کبله د لوږې نه ولې مري؟

علماؤ ﷺ د دې ګڼ جوابونه ليکلې دي، يو جواب ئې دا هم کيدې شي چه د رزق ورکولو ذمه داري الله تعالى تر هغې اخستې ده چه نيټه د مرګ ئې نه وي پوره شوې، مطلب دا دې چه کله يو سالرونکې څيز د څه مرض نه مړ شي، کله د سوځيدو په وجه مړ شي، کله په اوبو کښې ډوب شي، کله زخمي شي يا د ګذار نه مړ شي، دا شان د ده د نيټې پوره کيدو په وجه ئې روزي بنده کړې شي.

خلاصه دا شوه چه کله د دغه مړکيدونکي ټاکلې روزي ختمه شي څکه د هغې د نيشتوالي په وجه مړ شي، دا مطلب ئې نه شو چه الله تعالى د روزې ورکولو خپله ذمه واري پوره نه کړه.

امام قرطبي رحمه الله د دې آيت د لاندې د اشعريينو د قبيلې د خلقو[ابي موسى رضي الله عنه او ابي مالک رضي الله عنه وغيره] يو واقعه داسې بيان کړې ده چه هر کله دا خلق د هجرت په ډول مدينې منورې ته راورسيدل نو ځان سره راخستې خرڅ خوراک ورسره ختم شو، دوي رسول الله ﷺ ته يو کس د خرڅ خوراک د پاره وراوليږلو کله چه دغه کس رسول الله ﷺ ته ور اورسيدلو نو دننه نه ئې د رسول الله ﷺ دا تلاوت کول واوريدل؛ ﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا﴾ د دې په اوريدو د دغه کس خيال راغلو چه هر کله ټولو سالرونکو ته الله تعالى د روزې ورکولو ذمه داري اخستې ده نو مونږ ته خو به خامخا روزي راکوي، رسول الله ﷺ ته د خپل حال بيانولو نه بغير واپس خپلو ملګرو اشعريينو ته راغلو او ورته ئې اووئيل چه خوشحاله شئ تاسو ته د الله تعالى امداد راروان دې، د ده د ملګرو اشعريينو دا خيال راغلو چه ګني ده رسول الله ﷺ ته خپل حال بيان کړې دې، اوس به دا انتظام رسول الله ﷺ کوي، په دې دوران کښې دغلته دوه کسان راغلل چه د پخې غوښې ډکه لويه کاسه او روټې ئې ځان سره راخستې وې او د دوې مخې ته ئې کيښوې، د هغې نه ئې ښه په مړه کيده اوخوړل نو پاتې شوې خوراکه ئې رسول الله ﷺ ته اوړل څکه مناسب اوګڼړل چه هغوي ﷺ به ئې په مناسب ضرورت کښې پکار راولي، په دې غرض دوو کسانو اشعريينو دغه خوراکه رسول الله ﷺ ته وراورسوله، ورپسې دغه ټول اشعريين هم ورغلل، رسول الله ﷺ ته ئې عرض اوکړو چه يارسول الله ﷺ ستاسو راليږلې خوراکه ډيره زياته او خوندناکه وه، رسول الله ﷺ او فرمائيل چه ما خو څه خوراکه نه ده درليږلې، بيا ورته هغوي پوره واقعه عرض کړه چه مونږه ستاسو په خدمت کښې اول فلانې سړې راليږلې وو،

Scanned with Ca

ځکه مو دغه خوراکه ستاسو د اړخه راليږلي او ګڼړله، رسول الله ﷺ او فرمائيل چه ما نه وه درليږلي بلکه هغه ذات اقدس درليږلي وه چه ټولو سالرونکو ته ئي د رزق ورکولو ذمه داري اخستي ده.(۱)

په بعضې روايتونو کښې راغلي دي چه کله موسیٰ علیه السلام د اور په لټون کښې کوه طور ته ورغلو نو هلته ئې د اور په ځاې د الله تعالیٰ تجليات اوليدل هلته په ورتلو ورته پيغمبري ورکړې شوه او دا حکم ورته ورکړې شو چه د فرعون او فرعونيانو د هدايت د پاره دې مصر ته لاړ شي، په دغه موقع ورسره د خپلې بی بی فکر شو چه په دې خوشې ځنګل کښې په يواځې پاتې کيدو سره به د هغې څه حال وی؟دغه وخت حضرت موسیٰ علیه السلام ته حکم او شو چه مخامخ پروت کاڼړی له په يو لرګی ګذار ورکړه چه ګذار ئې ورکړو نو اوچودو او بل کاڼړې تر راووتو، په هغې باندې هم د ګذار کولو حکم ورته اوشو، بيا ترې دريم کاڼړې راووتو په هغې ورته د ګذار کولو حکم اوشوچه هغه اوچودو نوهغې نه يو سالرونکې څيز راووتو چه خله کښې ئې شنه پاڼړه نيولې وه.(۲)

هسې خو د حضرت موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ په کامل قدرت باندې پوره يقين وو چه دا ئې اوليدل نو يقين ئې نور هم مضبوط شو او بی بی ته د حال وئيلو نه بغير نيغ [سيدها] مصر ته روان شو.

ټول مخلوق ته د رزق رسولو د قدرت عجيب او غريب انتظام: په دې آيت کښې الله تعالیٰ يواځې دا اونه فرمائيل چه هرسالرونکی ته روزی رسان زه يم بلکه د انسان دزياتې تسلي د پاره ئې اوفرمائيل ﴿وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَا﴾ په دې آيت کښې د مستقر او مستودع مختلف تفسيرونه منقول دی خو د لغت په لحاظ سره هغه زيات نزدې دی کوم چه کشاف داسې اختيار کړې دې، ليکی چه[مستقر هغه ځاې ته وئيلې شي چرته چه څوک په مستقل ډول استوګنه کوی او خپل وطن ئې جوړ کړې، او مستودع هغه ځاې ته وائی چه چرته چه څوک د ضرورت په خاطر په عارضی ډول پاتې شي.
د دې مطلب دا شو چه د الله تعالیٰ ذمه داری د دنيا د خلقو او حکومتونو په شان مه ګڼړې چه د چا د خوراکې ذمه داری ئې اخستې وی نو د هغه ذمه داری دا لګولې شی چه چرته ځی نو د هغې اطلاع به متعلقه ادارې يا کس ته ورکوی چه هلته د هغه د خوراکې انتظام اوکړې شی، خو د الله تعالیٰ دا ذمه داری اخستل په دې شان نه ده چه د دغې اطلاع ورکولو پابندی دې په متعلقه بنده اولګولې شی بلکه همدغه ذات پخپله په دې خبر دې چه فلانی وخت کښې به دې چرته وی؟او بغير اطلاع ورکولو به ورته همدغلته د هغه روزی وررسوی ځکه د هر بنده او سالرونکی څيز د نقل و حرکت نه باخبره دې او د هر سالرونکی څيز د استوګنې مستقل او عارضی ځاې پيژنی.
هر کله چه د الله تعالیٰ علم د هر څه نه راچاپيره دې او د قدرت مطلقه خاوند دې نو صرف د هغه ارادې کولو سره ټول کارونه سر ته رسيدې شو، په څه کتاب يا رجستر وغيره کښې د هغې د ليکلو ضرورت نه وو مګر عاجزه انسان چه د کوم نظام عادت وی نو په هغې باندې قياس کولو

(۱) تفسير القرطبی تحت هذه الآية: ج ۹، ص ۷
(۲) روح المعانی تحت هذه الآية: ج ۸، ص ۱۵۶

Scanned with Ca

سره ئې اندېښنې پيدا کيدې شي ځکه د ده د پوره تسلې د پاره الله تعالى فرمائى: ﴿كُلٌّ فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ۝﴾[دا ټول هر څه په واضح کتاب کښې ليکلې شوې دی]واضح کتاب نه مراد لوح محفوظ دې چه په کښې د ټول مخلوق روزی، عمر، عمل په پوره تفصيل سره ليکلې شوې دې بيا د موقعې او ضرورت مطابق متعلقه فرشتو ته سپارلې شي.

د صحيح مسلم په حواله د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلې دی چه الله تعالى د ټولو مخلوقاتو تقديرونه د آسمانونو او زمکې د پيدا کيدو نه پنځوس زره کاله وړاندې ليکلې دی.[1]

د بخاری او مسلم په حواله د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روايت په اوږد حديث کښې رسول الله ﷺ فرمائيلې دی خلاصه ئې دا ده چه د پيدا کيدو نه رومبې په انسان باندې مختلف دورونه راځی، کله چه د ده اندمونه پوره جوړ شی نو الله تعالى يو فرښتې ته د ده په باره کښې د څلورو څيزونو د ليکلو حکم اوکړی، د ده عمل چه څه به کوی؟ د ده عمر چه څومره کلونه، مياشتې، ورځې، منټونه بلکه تر ساګانو پورې ليکلې شی، دې به چرته مری او چرته به ښخيږی؟ د ده روزی به څومره وی او په څه څه طريقې به ورته رسی؟[2] د آسمان او زمکې د پيدا کيدو نه پنځوس زره کاله رومبې د دې څيزونو ليکل دې حديث سره بې سمونه نۀ دی.

په دويم آيت کښې د الله تعالى د محيط علم او د غالب قدرت يوه بلهٔ ننداره داسې بيان کړې شوې ده چه هغه ټول اسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کښې پيدا کړل او د دې د پيدا کيدو نه وړاندې د رحمن عرش په اوبو باندې وو.

دې نه معلومه شوه چه د زمکې او اسمانونو د پيدا کيدو نه وړاندې اوبه پيدا کړې شوې دی، د سورت حم السجده په آيت ۱۰، ۱۱ کښې په شپږو ورځو کښې د اسمانونو او زمکې د پيدا کيدو تفصيل داسې راغلې دې، چه په دوو ورځو کښې زمکه جوړه کړې شوه، په دوو ورځو کښې د دې غرونه، دريابونه، اونې د سالرونکې څيزونو خوراکه او د ژوندې پاتې کيدو سامانونه جوړ کړې شو، په دوو ورځو کښې اووه اسمانونه جوړ کړې شو.

تفسير مظهری کښې ليکی چه د اسمان نه مراد ټول هغه څيزونه دی کوم چه پورته دی، او د زمکې نه مراد ټول لاندينی څيزونه دی[3] کوم چه لاندې دی، د ورځې نه مراد د وخت هغه اندازه ده چه د اسمانونو او د زمکې د پيدا کيدو نه پس د نمر د راختو نه د نمر تر ډوبيدو پورې وی ولې چه د اسمانونو او زمکې د پيدا کيدو نه رومبې نمر نه وو، نو راختل او ډوبيدل خو به ئې خود نه وو، الله تعالى د دې ټولو څيزونو د سترګو په رپ کښې د پيدا کولو کامل قدرت لری خو د انسان د مزاج مطابق ئې د دې جهان انتظام درجه په درجه او پوره په پوره اوکړو.

په آخر د آيت کښې د اسمانونو او زمکې د پيدا کولو مقصد داسې ښائى ﴿لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾[چه ستاسو ازميښت کول دی چه څوک به ښه عمل کوی؟]

---

[1]) صحيح مسلم، كتاب القدر، باب حجاج آدم وموسىٰ عليهما السلام: ج ۲، ص ۳۳۵

[2]) صحيح البخاری، كتاب الانبياء، باب خلق آدم صلوات الله عليه وذريته: ج ۱، ص ۴۶۸، وصحيح مسلم، كتاب القدر، باب كيفية خلق الادمى فى بطن امه الخ: ج ۲، ص ۳۳۲

[3]) التفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۷۹

Scanned with Ca

دې نه معلومه شوه چه اسمانونه او زمکې پیدا کول پخپله څه مقصدي څيز نه دی بلکه د دې پیدا کول د عمل کونکو انسانانو د پاره دی، چه دوئ د دې څیزونو نه د ژوند تیرولو فائده هم حاصله کړی او په دې کښې غور کولو سره خپل مالک او رب اوپیژني.

خلاصه ئې دا ده چه د دې څیزونو د پیدا کولو اصلي مقصد انسان دې بلکه اهل ایمان انسانان دې او دوی کښې هم بیا د ټولو نه زیات ښه عمل کونکې دې، په دې بنا په ټولو انسانانو کښې ښه عمل کونکې زمونږ رسول الله ﷺ دې خکه به دا غلط نه وی چه د ټولو کائناتو د پیدا کولو اصلي مقصد رسول الله ﷺ دې [تفسیر مظهری] ـ(۱)

دلته په دې باندې هم زور نظر اچول ضروری دی چه د زیات عمل کولو په ځای ئې: ﴿أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ [ښه عمل کول] اوفرمائیل، دې نه معلومه شوه چه د نیکو عملونو د مقدار او عملي ډیر والي په ځای د الله تعالی نظر په حسن عمل [ښه عمل] باندې دې، چه په یو حدیث شریف کښې ورته احسان هم وئیلې شوې دی، (۲) مطلب دا چه په نیک عمل کولو کښې دې د الله تعالی رضا حاصلول وی، څه دنیوی عرض دې په کښې نه وی، د نیک عمل صورت هم هغه اختیارول پکاردی کوم چه الله تعالی ته خوښ وی، یعنی په داسې شان وی چه د رسول الله ﷺ د عمل مطابق وی ولې چه امت د پاره د سنتو تابعداری لازمه ګرځولې شوې ده.

خلاصه دا شوه چه یو لږ عمل په اخلاص سره وی او د سنتو مطابق وی هغه د هغه زیات عمل نه غوره دې چه دا څیزونه په کښې د سره نه وی یا په کښې څه کم وی.

په اووم آیت کښې د قیامت او د منکرانو حال داسې بیان شوې دی چه کله د دوی په پوهه کښې څه خبره را نه شي نو هغه ته جادو وئیلو سره مخه ورپسې نه ووړی.

په اتم آیت کښې د هغې خلقو د شبهې جواب دې چه د پیغمبرانو ﷺ د ارخه د عذاب په وعیدونو به ئې اعتبار نه کولو او وئیل به ئې که تاسو رښتینې ئې نو هغه عذاب راباندې ولې رانغې د کوم وعید چه راکړې شوې دې؟

وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ ۚ
اوکه چرې | اوڅکوؤ مونږه | انسان ته | دطرفه زمونږ نه | رحمت | او بیا | واخلو مونږه هغه | د هغه نه
اوکه مونږ یو انسان ته دیو نعمت خوند ورکړو |......... او بیا ئې ترې نه واپس واخلو
إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ۞ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ
بیشکه هغه شي | خامخا نا امیده | ناشکره | اوکه چرې | اوڅکوؤ مونږ په هغه | نعمت | روستو
نو [په هغه وخت کښې] هغه نا امیده شي او ناشکره شي | اوکه نعمتونه ورته د تکلیف نه پس ورکړو انو
ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي ۚ إِنَّهُ
دمصیبت نه | چې رسیدلې وی هغه ته | نو خامخا وائی به | چې لاړې | اسختیانې | زما نه | بیشکه هغه
............وائی چې بس زما غمونه او دردونه لاړل | [په داسې حال کښې] ډیر

(۱) التفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج ۵، ص ۶۹، ۷۰

(۲) صحیح البخاری، کتاب الایمان، باب سوال جبرائیل الخ: ج ۱، ص ۱۲

Scanned with Ca

لَفَرِحٌ فَخُورٌ ۝۱۰ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ

ډير خوشحاله | فخركونكي وي| مگر | هغه كسان | چي صبر ئي اوكړو | اوعمل ئي اوكړو | نيك

غرور او فخر كونكي وى |........مگر هغه كسان چي صبر كوى|............... اونيك كارونه كوى

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝۱۱ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ

دا كسان چي دى | ددوئ دپاره | ببښنه | او بدله | لويه ده | نوشايد چي ته| پريښودونكي شي

دهغوئ دپاره ببښنه هم ده| او لوئي اجر هم دي |.............................كيدي شى چي ته

بَعْضَ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَضَآئِقٌ بِهٖ صَدْرُكَ اَنْ يَّقُوْلُوْا

خينى هغه څه|چي وحى ئي كولي شى| تاته |اوتنگيدونكي شى|په دي خبري سره|سينه ستا | چي وائى به دوئ

دا [الله ﷻ د] وحى نه څه حصه [د دوئ د وجي] پريږدي |او ستا زړه د دوى د دي وينا په وجه تنگيگى

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ

ولي نازله نۀ شوه|په دۀ باندي |خزانه|يا ولي رانغله| ددۀ سره | فرشته |بيشكه خبره داده | چي ته

........چي په دۀ باندي خزانه ولي راكوزه نشوه | يا داچي فرشته ورسره ولي رانغله |تۀ خوبس

نَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ؕ ۝۱۲ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ

ويرونكي يي | او الله | په هر څيز | نگهبان دي | يا وائى دوئ |چي دۀ د خانه جوړكړي دي داقرآن

ويرونكي يي |او[مخكښي] الله دهرڅه كار سازدي | آيا دوئ دا وائى چي دا [كتاب] گنى دۀ د ځانه جوړ كړي دي

قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا

ورته اووايه | نو راوړئ تاسو | لس سورتونه | په شان ددي | دځانه جوړكړي شوى | اوراوغواړئ

ورته اووايه چي ښه ده نو ددي پشان يو لس سورتونه تاسو هم په دروغه جوړ كړئ | او د الله تعالى نه

مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۱۳ فَاِنْ

هغه څوك | چي رابللي شئ تاسو | ماسوا دالله نه | كه چري يئ تاسو | رښتينى | نو كه چري

........سوا چي په چامو وس رسى هغه راوبلئ اكه تاسو رينښتونى يئ [چه دا كتاب ما جوړ كړي دي]

لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ

جواب ئي درنۀ كړو| تاسوته| نوپوهه شئ| چي بيشكه| دا نازل شوي دي |په علم دالله سره | او دا چي

نوكه دوئ داكار اونكړي شى|نو يقين اوكړئ چي دا [كتاب] دالله ﷻ په علم [او په قدرت] راغلي دي

لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝۱۴

نشته[لائق دعبادت |مگر| [هم] هغه دي| نوآيا | يئ تاسو | تابعدارى كونكي |

اودا چي دالله ﷻ نه سوا بل معبود نشته |نو آيا تاسو[اوس هم] نۀ مسلمانيږئ |

آسان ترجمه قرآن

او كه چه مونږ انسان ته د رحمت مزه وڅکوو ، او بيا ترې هغه واپس واخلو نو دې نااميده (او) ناشكره شي او كه ده ته د تكليف رسيدو نه وروستو مونږه ده ته د نعمتونو مزه وڅكوو ، نو دې وائي چه ټول تكليفونه ځما نه لرې شول (دغه وخت) دې خوشحاله وي او لوئي كوي. خو كوم خلق چه د صبر نه كار اخلي او نيك عمل كوي ، هغوی داسې نه دي هغوی ته به مغفرت او لوئ اجر ملاويږي. بيا (اې پيغمبره !) په تا چه كومه وحي نازليږي آيا دا ممكنه ده چه ته د هغې څه حصه پريږدې؟ او دې سره ستا سينه تنګه شي؟ ځكه چه دا خلق وائي چه دې (محمد صلى الله عليه وسلم) ته څه خزانه ولې رانغله يا څوك فرښته ولې ده ته رانغله ؟ "ته خو يو خبرونكې ئې، او الله په هر يو څيز مكمل اختيار لرى آيا دا خلق دا وائي چه دا وحي دې (پيغمبر) د ځان نه جوړه كړې ده ؟(اې پيغمبره ! ته دوى ته) ووايه چه : تاسو ددې په شان لس سورتونه د ځان نه جوړ كړې شوي راوړئ او (دې كار كښې د مدد دپاره) چه دالله نه سوا څوك رابللې شئ نو راوبلئ ، كه تاسو رښتينى يئ كه دې نه وروستو دوى ستاسو خبره قبوله نه كړې نو (اې خلقو !) تاسو يقين وكړئ چه دا وحي صرف دالله په علم باندې راغلې ده او دا چه دالله نه سوا بل هيڅوك د عبادت لايق نشته. آيا تاسو تابعدار جوړيږئ؟

خلاصه تفسير :

﴿ وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ۚ اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ﴾ اوكه مونږ انسان ته دخپلى مهربانئ مزه اوڅكو او بيا ئې تر واخلو واخلونودی نااميده اوناشكره شي.

﴿ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ ۭ اِنَّهٗ لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ﴾ اوكه ده ته دځه تكليف نه پس كوم چه پده واقع شوى وي دځه نعمت مزه وڅكو نوداسی خوشحاليږی چه وائی چه ځماټول درد اوتكليف رخصت شوااوس به بيخي رانشى پس دی خوشحالی كوی فخركوي.

﴿ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴾ مگر كوم خلق چه مستقل مزاج دي اونيك كارونه كوي مراد ترى مومنان دي چه په دوى كښى لږاوډير داخويونه وي پس دوى داسى نه وى بلكه دنعمت دلرى كيدوپه وخت كښى صبر كوي اودنعمت په وخت كښى شكر اوحكم په ځاى راوړي پس دداسى خلقولپاره لوى مغفرت اولوى اجردی خلاصه داچه سوادمومنانونه اكثرخلق داسى دي چه په لړشان وخت كښى زړوركيږي اوپه لړشان وخت كښى نااميده كيږى پدې وجه دغه خلق دعذاب دوروسته كيدوله وجى بى ويرى اومنكرشو ،داخلق كوم چه انكاراومسخري كوى.

﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَضَاۗىِٕقٌۢ بِهٖ صَدْرُكَ اَنْ يَّقُوْلُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ جَاۗءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ۭ ﴾ پس شايد چه ته تنګ شي ددی احكامونه كوم چه تاته دوحي په ذريعه ليږلى شى بعضولره يعنى تبليغ لره پريخودل غواړی يعنى آياداسى ممكنه ده چه ته تبليغ پريږدې پس ښكاره خبره ده چه ته داسى اراده كله هم نكوي بيا دتنګيدونه څه فائده ده اوستاړه پدى خبره تنګيږى چه دوى وائى چه كه چيرى دانبى دې نوپه ده څه خزانه ولى نازله نه شوه يادده سره كوم فرشته چه څمونږسره نى هم خبري كولى ولى رانغله يعنى داسى معجزى ولى ورته ورنه كړې شوې.

﴿ اِنَّمَآ اَنْتَ نَذِيْرٌ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴾ په داسى خبروته مه خفه كيږه ځكه چه ته خوپه اعتبار د كفارو صرف ويروونكى نى يعنى پيغمبر ني په كوم كښى چه په اصل كښى دهيڅ معجزي

ضرورت نشته اوكامل اختيارلرونكى صرف الله دى ته نه ئى هر كله چه خبره داسى ده نوددى معجزوظاهرول ستاپه اختياركښى ندى بياددى فكر كول اوپه دى فكرسره تنګيدل ولى دى ،اوچونكه دپيغمبردپاره دمطلق معجزى ضرورت دى اوستالويه معجزه قرآن ده نوددي دنه منلو څه وجه ده.

﴿ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ آيا[دده په نسبت] داسى وائى چه[نعوذبالله] تاده لره[دخپل ځان نه] جوړ كړيدى ته په جواب كښى ووايه چه [كه چيرى داخماجوړ كړى شوى وي] نو[بنه ده] تاسوهم ددى په شان لس سورتونه [كوم چه ستاسو] جوړشوى [وى] راوړئ او[دخپل مددلپاره] كوم كوم غيرالله لره چه رابللى شى راوبلئ كه تاسورشتونى يئى .

﴿فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُنزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ بيادا كفاركه ستاسوخلقو[يعنى پيغمبر ﷺ اومومنانودا]خبره[چه ددى مثل جوړكړي راوړئ] ونه كړي شى نوتاسو[دوى ته ووائى چه اوس خو]يقين وكړئ چه داقرآن دالله په علم اوقدرت سره نازل شوى دى [پدي كښى دبل چادعلم اوقدرت] دخل نشته اودا[هم يقين وكړئ] چه دالله نه غيربل معبودنشته[ځكه چه معبود دخدائى توب په صفتونوكښى كامل وي بياكه بل څوك هم وئ دهغه قدرت به هم كامل وو اوپدغه قدرت سره به هغه ستاسومددكولوچه تاسوبه دده مثل راوړى وؤ ځكه چه ددين دتحقيق موقع ددى مقتضى وه پس ددى دمثل دجوړولونه ددوى په عاجزه كيدوسره رسالت اوتوحيددواړه ثابت شو ،]نواوس هم اسلام راوړئ[اوكه نه] .

معارف او مسائل

په دې بيان شوې آيتونو كښې د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ ريښتينوالى او په دې باندې د شبهو كوونكو جواب بيان شوې دې او د دې په شروع يعنى په ړومبو درې آيتونو كښې د انسان د يو خراب عادت بيان او مسلمانانو ته د دې نه د ځان ساتلو هدايت كړې شوې دې،په ړومبو دوو آيتونو كښې دا بيان راغلې دې چه انسان په فطرى ډول باندې غير مستقل مزاج،تادى پسند او په موجوده[حال]حالت كښې داسې لګيا كيدل چه ماضى او مستقبل هير كړى،بيان كړې شوې دى،ارشاد دې چه كه موږ انسان ته څه نعمت اوڅكوو او بيا ئې ترې واپس واخلو نو هغه همت بائيلونكې،نااميده او ناشكره جوړ شى او كه ده ته د راپيښيدونكى تكليف نه پس د څه نعمت مزه اوڅكوو نو وائى چه زما ټول غم درد ختم شو نو هغه لوئى كوى او لافې وهى.

مطلب دا دې چه د انسان په فطرت كښې جلدى پرته ده،وړاندې روستو هيڅ ته نه ګورى او اوسنې حالت هر څه ګڼى،انسان وړاندې روستو حالاتو ته نه ګورى،وړاندې روستو واقعاتو باندې غور نه كوى،او د دې د يادولو عادت نه لرى،په دې وجه د نعمت نه پس چه ورته څه تكليف راپيښ شى نو د رحمت نه نااميده شى او ناشكرى كول شروع كړى،دا خيال نه كوى چه كوم ذات راته ړومبې نعمت راكړې وو هغه بيا راكولې شى،دا شان كه تكليف او مصيبت نه پس ورته څه آرام او نعمت ملاو شى نو په ړومبى حالت باندې د ژور نظر اچولو په وجه الله تعالى ته د رجوع كولو او د هغه د شكر ادا كولو په ځاې نوره زياته لوئى او فخر كول شروع كړى،ړومبى حالت هير كړى او دا ګڼل شروع كړى چه دا نعمت خو هم زما حق دې،ما ته د دې ملاويدل پكار وو او زه به هم دا شان هميشه د پاره پاتې كيږم،غافل دومره خيال نه كوى چه

څنګه روميي حالت باقي پاتې نه شو دغه شان دا موجوده حالت هم په ځاې نه شي پاتې کيدې او دا نعمت او راحت رانه رخصتيدې شي؛

چنان نماند و چنين نيز هم نخواهد ماند [چه هغسې حالت په ځاې پاتې نه شو نو داسې حالت هم په ځاې نه شي پاتې کيدې]

د انسان موجود پرستي او ماضي مستقبل هيرول دې حالت ته رسيدلې دي، چه د روميي اقتدار کونکو په خاورو او وينو د پاسه بل کس د خپل اقتدار بنياد ازدي، او چرې لاندې نه ګوري چه زما نه روميي اقتدار کوونکې به هم دغسې اوسيدو او په مخه د خپل اقتدار په نشه کښې د انجام نه بې خبره مزې اخلي.

د دې موجود پرستې او مستې د اصلاح د پاره د الله تعالى کتابونه او پيغمبران راغلې دي چه انسان ته ئې د ماضي عبرتناکې واقعې رايادې کړې او د مستقبل فکر ئې ورته راوړاندې کړې دې او دا سبق ئې ورته ښودلې دې چه بد ليدونکو حالاتو باندې ژور نظر واچوې او اوګورې چه کوم يو طاقت د دې په پرده کښې کار کوى لکه شيخ الهند رحمه الله فرمائيلې دي؛

انقلابات جہاں واعظ رب ہیں دیکھو　　ہر تغیر سے صدا آتی ہے فافہم فافہم (۱)

[په دنيا کښې تبديلي راتلل د الله تعالى د اړخه نصيحت کونکې دي، د هر بدلون نه دا آواز راځي چه پوهه شه، پوهه شه]

کامل مومن بلکه کامل انسان هم هغه دې چه د هر بدلون او انقلاب هر غم او راحت کښې د قدرت د پټ لاس ننداره اوکړي، موجوده راحت اوغم او صرف د دې په اسبابو پورې دې زړه نه تړي، د عقلمند کار دا دې چه د اسبابو نه زيات مسبب الاسباب ته اوګوري او هم هغه سره خپله رشته مضبوطه کړي.

په دريم آيت کښې کامل انسانان د عام انساني فطرت نه مستثنى او بيل ښودلې شوې دي چنانچه فرمائي؛ ﴿إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ [يعنى د دې دوو صفتونو خاوندان دوى نه بيل دي چا کښې چه صبر او عمل صالح بيا پيدا شي.

لفظ د صبر په عربې ژبه کښې د نورو ژبو په نسبت په عامه معنى کښې استعماليږي، د صبر اصلي معنى تړل او ايسارول دي، د قرآن او سنت په اصطلاح کښې صبر دې ته وئيلې شي چه نفس لره د دې د ناجائز خواهشاتو نه ايسار لري، په دې بنا دصبر مفهوم دا شو چه ګناهونو او خلاف شرع کارونو نه پرهيز کول، او په عمل صالح کښې ټول فرض، واجبات، سنت او مستحبات راغلل، معنى ئې دا شوه چه د عام انساني کمزورئ نه داسې خلق محفوظ شو چه په الله تعالى باندې ايمان لرى د قيامت د حساب کتاب د يرې په وجه هر داسې څيز نه ځان ساتى چه الله تعالى او رسول الله ﷺ ئې نه خوښوى، هر داسې عمل ته ورمنده کوى چه الله تعالى او رسول الله ﷺ پرې خوشحاليږي.

د دې آيت په آخر کښې د داسې کاملو انسانانو جزا او بدله دا ښودلې شوې ده؛ ﴿أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ﴾ [الله تعالى وعده کوى چه د داسې خلقو ګناهونه به بخښلې شي او د دوى د نيک عمل بدله به ورته ډيره لويه ملاويږي]

---

۱) ترجمه: فافهم. فافهم مطلب دا دے چه پوهه شه، پوهه شه

Scanned with CS

دلته په دې خبره باندې هم ژور نظر کول پکار دی چه د دنیوی نعمت او تکلیف د پاره د﴿اَذَقۡنٰهُ﴾لفظ قرآن کریم استعمال کړو، دې سره اشاره دې ته اوشوه چه دلته د نعمت او تکلیف صرف څکل دی، اصلی نعمت او تکلیف د آخرت دې، د دنیا راحت او نعمت مکمل نه دې او نه ئې غم او تکلیف مکمل دې بلکه د څکلو اونمونې په درجه کښې دی، د پاره د دې چه انسان ته د آخرت د نعمتونو او تکلیفونو څه اندازه اوشی، په دې وجه د دنیا راحت او آرام څه د زیات خوشحالیدو څیز نه دې او نه د دې ځاې غم او مصیبت باندې ډیر زیات غمژن کیدل پکار دی، که ژور نظر اوکړې شی نو د نن صبا په اصطلاح کښې دا ټوله دنیا د آخرت شو روم دې چه په کښې د راحت او تکلیف صرف نمونې ایښودې شوې دی.

څلورم آیت د یوې خاص واقعې په باره کښې نازل شوې دې واقعه داسې وه چه د مکې مکرمې مشرکانو د رسول الله ﷺ په وړاندې یو څو مطالبې پیش کړې، یوه مطالبه ئې دا وه چه هر کله په قرآن کریم کښې زمونږه بتانو ته خراب وئیلې شوې دی ځکه مونږ په دې قرآن ایمان نه شو راوړې، د دې بندوبست دې داسې اوکړې شی چه یا خو بل قرآن راوړئ یا په دې کښې څه بدلون یا ترمیم اوکړئ لکه قرآن کریم په بل یو ځاې کښې فرمائی، ائت بقرآن غیر هذا او بدله [ابغوی او مظهری] (۱) بله مطالبه ئې دا وه چه مونږه به دې هله رسول منو چه یا خو د دنیا د بادشاهانو په شان درباندې څه خزانه نازله شی چه مونږه ټولو ته په کښې برخه راکړې شی، دریم دا چه یا دې یو فرښته د اسمان نه راکوځه [راکښته] شوې تاسو سره دې د پاره ګرځی چه ستاسو د پیغمبرئ رښتینولی ښکاره کوی.

رسول الله ﷺ د دې بیهوده فرمائشونو نه زړه تنګې شو، ولې چه رحمة للعالمین ﷺ دوی لره د دوی په حال [کفر او شرک] باندې پرینبودل هم نه شو کولې، د دوی د ایمان راوړلو فکر ئې زړه نه نهٔ شو اوښکلې، او دا هم نه شو کیدې چه د دوی بې سره او بیهوده فرمائشونه دې پوره کړی، ځکه چه اول خو دا خالص په بې عقلې باندې ولاړ فرمائشونه وو، یعنی که بتانو او بت پرستې او نورو ناکاره څیزونو ته ناکاره او نه وئیلې شی نو هدایت به څه وی او پیغمبرئ سره د خزانې څه تړون کیدې شی؟ دغې خلقو پیغمبری په بادشاهئ باندې قیاس کړه خو د الله تعالی دا دستور نه دې چه د خلقو د ایمان راوړلو د پاره مادی اسباب برابر کړی او په دې شان ایمان راوړلو ته مجبوره کړې شی ورنه هسې خو ټول جهان د الله تعالی په قبضه قدرت کښې دې، د چا به څه مجال وو چه د الله تعالی د مرضې خلاف ئې څه عقیده اختیار کړې وې یا څه عمل ئې کړې وې، خو هغه په خپل حکمت بالغه سره دا دنیا د امتحان ځاې جوړ کړې دې، دلته د نیکئ په عمل کولو باندې یا بدې نه ځان ساتلو باندې د مادی اسبابو په ذریعه څوک نه شی مجبورولې، البته د اسمانی کتابونو او رسولانو په ذریعه د نیک او بد ښه او خراب بیلتون او د هغې د نتیجې په ښودلو سره نیکې کولو او بدو نه ځان ساتلو د پاره خلق تیارولې شی، که د معجزې په ډول د رسول الله ﷺ سره څوک فرښته د رسول الله ﷺ د تصدیق د پاره مقرر وې او بیا هم چا نه منلې نو سمدستی به پرې عذاب راتلو، دا به هم په ایمان باندې د مجبوره کولو یو صورت وو او ایمان بالغیب به په کښې نه وو کوم چه د ایمان اصلی روح دې، بلکه د انسان اختیار به په کښې نه وو کوم چه د عمل اصلی روح دې.

(۱) تفسیر البغوی تحت هٰذه الآیة: ج۲، ص۳۲۵، والتفسیر المظهری: ج۵، ص۷۱

یو اړخ ته د دوی فرمائشونه لغو او بیهوده وو او بل اړخ ته رسول الله ﷺ ته داسې فرمائشونه کول د دې خبرې دلیل وو چه دا خلق د رسول الله ﷺ او نبی په حقیقت نه پوهیږی د رسول ﷺ او خدایٔ تر منځه فرق نه شی کولې، رسول لره د الله تعالی په شان قادر مطلق ګڼړی ځکه رسول الله ﷺ ته د داسې خبرو فرمائشونه کوی کوم چه د الله تعالی نه سوا بل هیڅوک نه شی کولې.
غرض دا چه رسول الله ﷺ د دوی د داسې فرمائشونو نه سخت دلګیر او خفه شو نو د رسول الله ﷺ د تسلئ او د دوی د خیالاتو د اصلاح کولو او سمون راوستو د پاره دا آیت نازل شو، په دې کښې اول رسول الله ﷺ ته په خطاب کولو سره اوفرمائیلې شو چه آیا تاسو به د دوی په ویناسره د قرآن کریم د څه برخې په پریښودو باندې مجبوره شې کومه برخه ئې چه د دوی خوښه نه ده، مثلا د بتانو بې وسی او مجبوری بیانول به پرېږدئ او دا وئیل به نه غواړئ چه دا بتان په هیڅ څیز نه شی قادریدلې؟ او الله تعالی دا هم اوفرمائیل چه آیا تاسو د دوی په فرمائشونو کولو سره زړه تنګی کیږئ؟
په ﴿فَلَعَلَّكَ﴾ لفظ سره د دې مضمون د تعبیر کولو مطلب دا نه دې چه په حقیقت کښې په رسول الله ﷺ باندې دا ګمان کیدې شو بلکه دې نه مقصود، د دغې څیزونو نه د رسول الله ﷺ ویزاری بیانول دی، مطلب ئې دا راوځی چه د دوی په خاطر رسول الله ﷺ خو نه د قرآن کریم څه برخه پریښودې شی او نه د دوی په فرمائشونو سره تنګیدل پکار دی، د نذیر [یرونکی] تخصیص د مخاطب د خصوصیت په وجه ورکړې شو ولې چه کافران هم د یرولو حقدار دی، ورنه څنګه چه رسول الله ﷺ نذیر دې هغسې بشیر [زیرې ورکونکې] هم دې چه نیکانو خلقو ته زیرې ورکوی، دې نه علاوه نذیر په حقیقت کښې هغه یرونکی ته وئیلې شی چه د شفقت او محبت په بنا، د خرابو او ضرری څیزونو نه یرول کوی ځکه د نذیر په مفهوم کښې د بشیر مفهوم هم شامل دې.
تر دې پورې آیتونو کښې د مشرکانو د طرف نه د خاص قسم معجزو مطالبه وه ورپسې آیتونو کښې دوی په دې خبره باندې خبردار کړې شوې دی چه د رسول الله ﷺ د قرآن کریم معجزه داسې یو معجزه ده چه ستاسو مخې ته راغلې ده، چه د هغې د معجزه کیدو نه تاسو هم انکار نه شې کولې اوس که د معجزو دا مطالبه په نیک نیتئ سره دې غرض د پاره وی چه د رسول الله ﷺ ربښتینې حقانیت معلوم کړې شی نو دا خو پوره شوې ده او که خالص د ضد د وجهې نه وی نو که ستاسو دغه غوښتلې معجزې هم اوښولې شی بیا به هم دا ضدیان اسلام نه قبلوی، په هر حال قرآن کریم داسې یو ښکاره معجزه ده چه انکارترې نه شی کیدې، په دې بنا د کافرانو او مشرکانو کوم غلط شبهات چه اوکړې شو هغه په ورپسې دوو آیتونو کښې داسې رد کړې شو چه دا خلق وائی چه رسول الله ﷺ پخپله د خپله ځانه قرآن کریم جوړ کړې دې د الله تعالی کلام نه دې.
د دې په جواب کښې الله تعالی فرمائی چه ستاسو په خیال که دا قرآن کریم رسول الله ﷺ پخپله د ځانه جوړولې شی نو تاسو هم د دې په شان صرف لس سورتونه د ځانه جوړ کړې او اوښائې او دا هم ضروری نه دی چه دا لس سورتونه دې یو کس جوړ کړی بلکه د ټول جهان خلق دې په جمع دا جوړ کړی، که داسې او نه کړې شی نو تاسو ﷺ اوفرمائې چه اوس خو حقیقت واضح شو، ولې چه که دا قرآن د چا انسان کلام وې نو نورو خلقو به هم داسې کلام جوړولې

شو، چه ټول هم د دې نه پاتې راغلل نودا د دې خبرې قوي دليل دې چه دا قرآن يواځې د الله تعالى په علم سره نازل شوې دې چه په كښې د لږ كمى زياتى ګنجائش هم نشته او د انسانى طاقت نه په ډير زيات پورته حد كښې دې.

دلته قرآن كريم د لس سورتونو جوړولو ارشاد كړې دې او بل ځاې كښې ئې د يو سورت جوړولو او په مقابله كښې ئې د پيش كولو ارشاد كړې دې، د دې وجه دا ده چه اول كښې لسو سورتونو جوړولو چيلنج وركړې شوې وو چه د دې نه عاجزه شو نو د دوى د زياتې عاجزې ښكاره كولو د پاره ئې ورته د يو سورت جوړولو چيلنج وركړو لكه سورت بقره كښې فرمائى [كه تاسو دا قرآن د يو انسان كلام بولې نو ښه ده، داسې يو سورت خو تاسو هم جوړ كړئ]

سره د دې هغوى په مقابله كښې هيڅ پيش نه كړې شو په دې لحاظ سره هم ثابت شو چه قرآن كريم خالص د الله تعالى كلام دې او معجزه ده ځكه په آخر كښې فرمائى ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ [آيا تاسو به اوس هم مسلمانان او فرمانبردار بندګان جوړيږې يا د غفلت په خوب كښې به اوده پاتې كيږې؟

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ
هغه څوك چې غواړى | ژوند د دنيا |او ښائست دهغې |نو پوره وركوو مونږ | هغوئ ته | جزا دعملونو دهغوئ
څوك چې ددې دنيا ژوندون او د دې رونق غواړى نو مونږ به ورته د هغوى عملونه هم په دې دنيا كښې ورپوره كړو
فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
په دې كښې |او هغوى ته به | په دې دنيا كښې |كم نۀ شى وركولې | دا ډله | هغه خلق دى
او د هغوئ سره به په دې دنيا كښې لږ شان كمې هم نۀ كيږى | دا هغه خلق دى چې په
لَيْسَ لَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا
چې نشته | دوئ دپاره | په آخرت كښې | مګر | اور |او برباد شو | هغه څه | چې جوړ كړئ وو دوئ
آخرت كښې د دوى دپاره د اور نه سوا بل هيڅ نشته |او هر څه چې ئې په دنيا كښې كړى دى هغه
فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ اَفَمَنْ كَانَ
په دې دنيا كښې |او باطل دى | هغه ټول | چې وو دوئ | چې كول به ئې |آيا نو هغه څوك | چې وى
به دوى دپاره په آخرت كښې بې كاره او بې قيمته ثابتيږى |........ نو آيا كوم كس چې
عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ
په واضح دليل باندې | دطرفه درب خپل نه | اوروستو روستو راځى په دغه دليل پسې | يوګواه
دخپل پروردګار په ښكاره دليل قائم وى |او د هغه سره يو [آسمانى] ګواه هم د هغه د طرفه وى
مِّنْهُ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ اُولٰٓئِكَ
دطرفه دالله نه | اومخكښې ددې نه وى | كتاب دموسى |په طور د پيشوا | او د رحمت |داكسان چې دى.
او د دۀ نه وړاندې دحضرت موسى ﷺ كتاب وى | چې پيشوا او رحمت دې |نو آيا دوى به په قرآن ايمان نۀ راوړى؟ |هم دا خلق

Scanned with Ca

يُؤْمِنُونَ	بِهٖ ؕ	وَمَنْ يَّكْفُرْ	بِهٖ	مِنَ الْاَحْزَابِ	فَالنَّارُ
ايمان راوړي	په دې باندې	او هغه څوك چې انكار ئې اوكړو	ددې نه	د [نورو] ډلو نه	نو اور

خو په قران پاک ايمان راوړي او د نورو فرقو نه چې څوک د دې نه منکر وی نو د هغه د پاره

مَوْعِدُهٗ ۚ	فَلَا تَكُ	فِيْ مِرْيَةٍ	مِّنْهُ ۚ	اِنَّهُ	الْحَقُّ	مِنْ رَّبِّكَ
خائې دوعدې دهغه دې	نو مهٔ كيږه ته	په شك كښې	ددې نه	بيشكه دا	حق دې	دطرفه د رب ستا نه

مقررشوې خائې اور دې نو تهٔ په دې باره کښې په شک شبهه کښې مهٔ پريوزه بيشکه دا کلام

وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝
وليكن	زيات	د خلقو نه	ايمان نهٔ راوړي

ستا د رب د طرفه حق دې خوزيات خلق پرې ايمان نهٔ راوړی

آسان ترجمه قرآن

اوڅوك چه (صرف) د دنيا ژوند او ددې ښائست غواړي نو مونږ به د دوی د اعمالو پوره بدله دوی ته دنيا کښې ورکړو، او دلته به ددوی په حق کښې څه کمې ونکړې شي داهغه خلق دي چه دوی دپاره په آخرت کښې د دوزخ نه سوا نور هيڅ هم نشته، اوڅه چه دوی کړی دی هغه به آخرت کښې بيکاره شي، او دوی چه کوم عمل کوي (د آخرت په لحاظ سره) ليشت دي) ووايه چه هغه کس (د دوی برابر څنګه کيدې شي) چه د خپل رب د طرف نه راغلې شوی په ښکاره هدايت (يعنی قرآن) باندې وي، اودې نه وروستو ددې د حقانيت يو ثبوت خو خپله همدې کښې راغلې دې او دې نه مخکښې د موسیٰ عليه السلام کتاب هم (ددې د حقانيت ثبوت دې) چه د خلقو دپاره قابل د اتباع اوسبب د رحمت دې. داسې خلق په دې (قرآن) ايمان لري. او دې ډلو کښې چه څوك انكار كوي، نو د هغه ځائ دوزخ دې نوددې (قرآن) په باره کښې څه شك کښې مه پريوځه. يقين وكړه چه دا ستاد پروردګار دطرف نه راغلې دې، ليکن اکثر خلق ايمان نه راوړی.

خلاصه تفسير:

﴿ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ۝ ﴾ څوك چه دخپلو [نيكو اعمالونه] محض ددنيادژوند [نفع] اوددی ښائست غواړي [لکه شهرت نيك نامی جاه اوجلال اودآخرت ثواب حاصلول دده نيت نه وي] نومونږبه دی خلقوته ددوی عملونه [يعنی جزائی] دوی ته په دنياکښی په پوره طورورکوواوددی لپاره به دنياکښی هيڅ کمئ نه وي [يعنی په دنياکښی دوی ته ددوی دعملونوبدله نيك نامی صحت فراغت خوشحالي اوډيرمال اواولاد ورکولې شي هرکله چه ددوی دعمل اثرپه بی عملئ باندي غالب وي اوکه بی عملی غالبه وی نوبيادا اثرنه مرتب کيږي داخوددنيا بدله ده اودآخرت نوپس].

﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ ﴾ دا داسی خلق دي چه ددوی لپاره په آخرت کښی غيرددوزخ نه نورڅه [ثواب وغيره] نشته اوچه څه ئی کړي وو [تول] په آخرت کښی ناکاره [ثابت]شو [اوپه واقع کښی خو]چه څه کوي هغه[اوس هم] بی

Scanned with Ca

اثره دی [په وجه دفساددنیت مګر دظاهری صورت په اعتبارسره ثابت ګڼلی شی په آخرت کښی به داثبوت هم زائله شی].

﴿ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ ﴾ آیادقرآن نه منکرداسی سړي په شان کیدي شی څوك چه په قرآن قائم وي کوم چه دده درب دطرف نه راغلی دی اوددی [قرآن] سره یوګواه خوبدي کښی موجود دی[یعنی ددي معجزوالی کوم چه عقلی دلیل دی].

﴿ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰۤى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ ﴾ اوددی نه مخکی[یعني] دموسی [علیه السلام] کتاب [یعنی تورات ددی سره دشهادت دپاره موجود] دی کوم چه داحکامو خودلو په اعتبار سره امام دی او[په احکامو چه کومه ثمره اوثواب میلاویږي ددی په اعتبارسره دغه کتاب سبب د]رحمت دی [اوداد لیل نقلي دی غرض دقرآن دصدق اوصحت لپاره عقلی اونقلی دواړه دلائل موجود دي نوددی دلیلونو په سبب سره] داسی خلق چه[ذکرئي وشوچه دغه صاحب بینه دی] په دی قرآن ایمان لري [اود کفارو داحال دی چه] کوم سړی دنوروفریقونه ددی قرآن نه انکار وکړي نودوزخ دده دوعدی ځای دی نومنکر[دقرآن دقرآن دتصدیق کوونکی سره کله برابریدی شی] نو[ای مخاطبه] ته دقرآن نه په شك کښی مه پریوځه بیشکه اوبی شبهی دارشتونی کتاب دی ستاسودرب دطرف نه[راغلی دی] لیکن سره ددومره دلیلونو نه غضب دادی چه ډیرخلق ایمان نه راوړي ــ

معارف او مسائل

د اسلام مخالفینو ته به چه کله د عذاب وعیدونه اوروليږ شو نو هغوی به خپل خیر، خیرات، د مخلوق خدمت او د عامو خلقو د فائدي خپل کارونه پیش کول چه هر کله مونږه داسي ښه کارونه کوو نو عذاب به راباندي ولې راځي؟ځنګه چه اوسنی ناخبره مسلمانان هم په دې شبه کښې ګرفتار ښکاري او داسې کوي چه د کوم کافر ظاهري عملونه او خوبونه ورته ښه ښکاري، دغه کافر د خلقو خدمت کوي، خیر خیرات ورکوي، سړکونه، پلونه هسپتالونه د اوبو سبیلونه جوړوي او چلوي ئي هغه لره د مسلمانانو نه ښه بولي نو د دې جواب د اوسنی آیتونو نه په ړومبی آیت کښې ورکړې شوې دې.

د جواب خلاصه دا ده چه هر هغه نیک عمل به قبلیږي او د آخرت د خلاصی ذریعه به جوړیږي چه خالص الله تعالی د پاره کړې شوې وي، د الله تعالی د پاره کول به هغه معتبر دی چه د رسول الله ﷺ په ښودلې طریقه کړې شوې وي، نو څوك چه په الله تعالی او د هغه په رسول ﷺ باندې ایمان نه لري د هغه عملونه او اخلاق یو بې روحه لاش دې چه د ورایه یو روغ جوړ او ښکلې ښکاري خو هر کله چه بې روحه دې نو په آخرت کښې به هیڅ وزن او شان نه لري، البته په دنیا کښې چونکه د دې نه خلقو ته فائده رسی، او د ظاهری شکل په لحاظ سره دا نیک عمل دې، دې وجهې نه الله تعالی په خپل کمال عدل او انصاف سره دا هم بالکل ضائع نه کړو بلکه د دې د کونکی هغه مقصد به تر سره کړی کوم چه هغه خپلې مخې ته لرلې وو، مثلا مقصد ئې دا وو چه په دنیا کښې دې خلق زما عزت اوکړی، خلق دې راته سخی او ښه خوان اووائی، لوئې سړې مې اوګڼړی د دنیا دولت، روغتیا او آرام مې نصیب شی، څکه ورته الله تعالی هم په دنیا کښې دا ټول هر څه ورکوی، د آخرت خیال فکر او غرض ئې په دې کښې نه وو او دغه بې روحه

Scanned with Ca

عمل د آخرت د نعمتونو قيمت نه شو جوړيدې ځکه به ورته د آخرت هيڅ بدله د دې نه شي ورکولې، د کفر او نافرمانۍ په وجه به جهنم کښې پاتې کيږي، دا د ړومبي آيت د مضمون خلاصه ده، اوس ئې الفاظو ته اوګورئ فرمائي؛ څوک چه په مخه د دنيا د ژوند او د دې د رونق اراده لري نو مونږه ورته د دغې عملونو بدله هم په دنيا کښې سر په سر ورکوو، هغوی د پاره به په دنيا کښې هيڅ کمې نه وي، دا داسې خلق دي چه په آخرت کښې به ورله سوا د دوزخ نه بل هيڅ نه وي.

دلته د ﴿مَنْ كَانَ أَرَادَ﴾ په ځاې د ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ﴾ لفظ راوړې شو چه په جاري والي باندې دلالت کوي، دې نه معلومه شوه چه دا حال يواځې د هغه خلقو دې چه په خپلو عملونو او ښو کارونو باندې صرف د دنيا د فائدو طلبګار او خواهشمند وي او آخرت ته ئې د سره فکر نه ځي، البته څوک چه د آخرت فکر لري د هغه ځاې د خلاصي د پاره عمل کوي خو ورسره د دنيا څه اراده هم اوکړي نو هغه په دې کښې داخل نه دې.

د تفسير امامانو ﷺ په دې کښې اختلاف لري چه دا آيت د کفارو په باره کښې دې که د مسلمانانو په باره کښې، يا د کافرانو او مسلمانانو دواړو په باره کښې دې؟ په دې بنا د آيت آخري جملې ته چه اوګورو لکه فرمائي [په آخرت کښې به دوی د پاره سوا د دوزخ نه بل څه نه وي] دې نه دا خبره ښکاره ګنديږي چه دا خالص د کفارو په باره کښې ځکه دې چه مسلمانان که څومره هم ګناهګار وي د ګناهونو د سزا تيرولو نه پس به خامخا جنت ته ځي، دا قول د ضحاک وغيره دې.

بعضې حضراتو ترې هغه مسلمانان مراد اخستي دي چه په خپلو نيکو عملونو سره صرف د دنيا ښيګړې، آرام، عزت او دولت طلبګار وي، نيک عمل هم په دې نيت سره کوي چه په دنيا کښې ورته عزت او آرام ملاو شي، په دې بنا به د دغې جملې مطلب دا وي چه د خپلو خرابو عملونو د سزا تيرولو پورې به سوا د دوزخ نه ورته بل هيڅ نه ملاويږي.

خو زياته غوره او ښکاره خبره دا ده چه دا آيت د هغې خلقو په باره کښې دې چه د نيکو عملونو کولو نه غرض ئې صرف د دنيا فائدې، دولت، عزت او صحت وغيره وي، خوا داسې خلق کافران وي چه د سره آخرت نه مني يا مسلمانان وي چه په خله خو آخرت مني مګر په عمل کښې د دې فکر نه لري، بلکه ټوله مخه ئې د دنيا فائدو حاصلولو ته وي، دا قول د مجاهد، ميمون بن مهران او معاويه ﷺ [مفسرينو] دې.

چنانچه د رسول الله ﷺ د مشهور حديث [انما الاعمال بالنيات] [1] نه هم د دې تائيد کيږي، د حديث معنی دا ده چه [هر چا ته به په خپل عمل باندې هم هغه څيز ملاويږي چه په دې سره ئې د څه نيت کړې وي] يعنی د دنيا نيت چه څوک اوکړي دنيا به ورته ملاويږي او د آخرت نيت چه څوک اوکړي آخرت به ورته ملاويږي او څوک چه د دواړو نيت اوکړي دواړه به ورته ملاويږي، په نيت باندې د عملونو انحصار کيدل يو داسې اصول دې چه په هر ملت او هر مذهب کښې منلې شوې دې [قرطبی] [2]

---

[1]) صحيح البخاري، باب بدء الوحي: ج ۱، ص ۱
[2]) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۱۳

په یو حدیث شریف کښې راغلي دي چه د قیامت په ورځ به داسې خلق راوستې شي چه په دنیا کښې ئې عبادت په دې غرض کولو چه د خلقو په نظر کښې ئې عزت وي، هغوی ته به اووئیلې شي چه تاسو مونځ کولو، خیر خیرات مو ورکولو، جهاد مو کولو، د قرآن کریم تلاوت مو کولو خو دا ټول مو په دې نیت کړې وو چه تاسو ته مونځ گزار، سخي، غازي، او قاري اووئیلې شي نو څه مو چه غوښتل هغه درته ملاو شو، دنیا کښې درته همدغسې اووئیلې شو اوس مو دلته د دې عملونو هیڅ بدلې نشته او د ټولو نه رومبې به جهنم ته هم دوی وروا چولې شي حضرت ابوهریره رضی الله عنه چه دا حدیث شریف نقل کړو نو په ژړا شو او اوئې فرمائیل چه د قرآن کریم د آیت ﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا﴾ تصدیق په دې حدیث سره کیږي.([1])

د صحیح مسلم په حواله د حضرت انس رضی الله عنه په روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلې دي چه الله تعالی په چا باندې ظلم نه کوي، مؤمن چه څه نیک کار کوي هغه ته په دنیا کښې هم څه بدله ورکولې شي او په آخرت کښې به هم ورته ثواب ورکولې شي، خو کافر ته به صرف په دنیا کښې ځکه د دې بدله ورکولې شي چه هغه سره د آخرت فکر بیخی نه وي ځکه ورته په دنیا کښې دولت، عزت، صحت او راحت ورکولې شي تر دې پورې چه کله هغه آخرت ته اورسي نو ورسره به هیڅ نه وي چه څه بدله به پرې هلته بیا مومي.([2])

په تفسیر مظهری کښې راغلي دي چه اگر که مؤمن په دنیا کښې هم د کامیابۍ خواهشمند وي خو د آخرت اراده پرې غالبه وي ځکه ورته په دنیا کښې د ضرورت په اندازه ورکولې شي او لویه بدله به ورته په آخرت کښې ورکولې شي.([3])

حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه یو ځل د رسول الله صلی الله علیه وسلم مکان ته ورغلو نو هلته ئې د شمیر یو څو ځیزونه اولیدل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې عرض اوکړو چه د خپل امت د پاره هم د دې سوال اوکړې چه د دنیا فراخي پرې راولي ځکه چه مونږ وینو چه د فارس او روم خلق په دنیا کښې ډیر په فراخه ژوند تیروي سره د دې چه هغوی د الله تعالی عبادت نه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم په بالښت باندې ملا لگولې ډډه شوې وو، نیغ [سیدها] کښیناستو او اوئې فرمائیل اې عمره؛ تر اوسه پورې په دې خیال کښې ډوب ئې؟ دا خو هغه خلق دي چه د نیکو بدله ورته په دنیا کښې ورکړې شوې ده [مظهری] .([4])

د جامع ترمذي او مسند احمد په حواله سره د حضرت انس په روایت منقول دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل؛ په خپلو عملونو کښې د چا نیت چه آخرت طلب کول وي نو الله تعالی په دنیا کښې د هغه زړه غني کړي او د هغه ضروریات پوره کوي دنیا ورته ذلیله راځي او د چا نیت چه دنیا لټول وي نو الله تعالی ئې محتاجي مخې ته کړي چه هیڅ یو حاجت ئې کله هم نه پوره کیږي ځکه چه د دنیا هوس هغه لره په آرام سره کښیناستو ته نه پریږدي د یو حاجت د پوره کیدونه وړاندې ئې بل حاجت مخې ته راځي او بې شمیره فکرونه ورسره مل شي حالانکه

---

[1]) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج۹، ص ۱۳، وجامع الترمذي، أبواب الزهد، باب ما جاء في الرياء والسمعة: ج۲، ص ۳

[2]) صحيح مسلم، كتاب صفات المنافقين وأحكامهم، باب جزاء المؤمن بحسناته الخ: ج ۲، ص ۳۷۳

[3]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج۵، ص ۷۷

[4]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۷۷، وصحيح البخاري، كتاب المظالم والقصاص، باب الغرفة والعلية المشرفة الخ: ج۱، ص ۳۳۲

Scanned with Ca

هغه به ورته ملاویږي کوم چه الله تعالی ورله لیکلي وي۔(۱)

په دې آیت کښې دا فرمائیلې شوي دي چه خالص دنیوي غرض د پاره نیک عمل کوونکو ته به هم په دنیا کښې پوره پوره بدله ملاویږي په دې باندې دا شبه کیدې شي چه داسې ډیر خلق هم شته چه یو نیک کار به ئې په دنیوي غرض کړې وي او هغوی ته به پوره بدله په دنیا کښې نه وي ملاو شوې یا به ورته بیخي نه وي ملاو شوې.

جواب ئې دا دې چه دلته اجمال دې او پوره تفصیل ئې په سورت اسراء کښې داسې بیان شوې دې ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ﴾ یعنی څوک چه هم د دنیا اراده کوي مونږ ورته هم په دنیا کښې د هغې نقده بدله ورکوو څومره چه اوغواړو او چا ته چه اوغواړو یعنی په دنیا کښې ورله ورکول هم په دې مشروط دي چه څومره مونږ اوغواړو هومره ورکوو د هغه ټوله غوښتنه پوره کول ضروري نه دي، بلکه دا چه هغه چا ته ئې ورکوو چا ته چه زمونږ د حکمت مطابق ورکول مناسب وي هر یو غوښتونکي ته ورکول ضروري نه دي۔

په دویم آیت کښې د رسول الله ﷺ او د مومنانو مخلصانو حال د هغې خلقو په مقابله کښې پیش کړې شوې دې د چا د پوهې رسائي او د مقصود انتها چه صرف دنیا وي، د پاره د دې چه دنیا اوګوري چه دا دواړه نه شي برابریدلې. دې نه پس د دې خبرو بیان دې چه د رسول الله ﷺ پیغمبري ټولو انسانانو د پاره تر قیامته پورې عامه ده او څوک چه پرې ایمان نه راوړي د هغه عملونه که هر څنګه وي نو هغه ګمراه او جهنمي دې۔

په رومبې جمله کښې دا بیان دې چه د قرآن منکر د هغه چا په شان کیدې شي چه په قرآن باندې ټینګ وي چه د هغه د رب د اړخه راغلې دې او دې سره یو ګواه خو په دې کښې موجود دې او دې نه وړاندې د حضرت موسی ؑ کتاب ګواه دې چه د اقتداء جوګه او خلقو د پاره د رحمت په توګه لیږلې شوې وو۔

په دې آیت کښې د ﴿بَيِّنَةٍ﴾ نه مراد قرآن کریم دې او د ﴿شَاهِدٌ﴾ په معنی کښې د تفسیر د امامانو مختلف قولونه دي، په بیان القرآن کښې حضرت مولانا تهانوي ؒ دا معنی غوره کړې ده چه د ﴿شَاهِدٌ﴾ نه مراد هغه قرآني اعجاز دې کوم چه په قرآن کریم کښې پخپله موجود دې(۲) نو معنی ئې دا شوه چه کوم خلق په قرآن باندې ټینګ دي او هغوی سره د قرآن د حقانیت یو ګواه خو پخپله په قرآن کریم کښې موجود دې چه هغه د قرآن اعجاز دې او بل ګواه ئې د دې نه وړاندې د تورات په صورت کښې راغلې دې کوم چه حضرت موسی ؑ خلقو د پاره په دې شان راوړې وو چه دغه تورات د اقتداء جوګه او د الله تعالی رحمت وو، ځکه چه په تورات کښې د قرآن کریم حق کیدل ښه په ډاګه بیان کړې شوې دي۔

په دویمه جمله کښې دا بیان راغلې دې چه په رسول الله ﷺ تر قیامته پورې ایمان راوړل د خلاصې او کامیابۍ موجب ځکه دي چه د دنیا په ټولو مذهبونو او ملتونو کښې چه څوک هم د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ نه انکار کوي د هغه ټیکانه جهنم ده۔

د صحیح مسلم په حواله د حضرت ابی هریرة ؓ د روایت مطابق رسول الله ﷺ فرمائیلي دي؛ په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضه کښې چه زما سا ده چه کوم یهودي یا نصراني

---

(۱) جامع الترمذي، أبواب الزهد، باب منه، ج ۲، ص ۶۳، ومسند أحمد رقم الحديث: ۲۰۶۰۸
(۲) بيان القرآن تحت هٰذه الآية (في ضمن الترجمة) ج ۲، ص ۲۰۸

Scanned with Ca

زما دعوت اوري او سره د دې زما په راوړلی تعليماتو باندې ايمان راونه ړي نو هغه به د جهنميانو نه وي.([1])

دې سره د هغې خلقو غلط فهمي لرې کيدل پکار دی چه ډيرو يهوديانو، عيسايانو يا د بل يو مذهب خلق صرف د ظاهری عملونو په بنا باندې په حقه بولی يا داسې گنړی چه په رسول الله ﷺ او په قرآن کريم باندې د ايمان راوړلو نه بغير صرف د هغوي ظاهری عملونه د خلاصی د پاره کافی گنړی، ليکن داسې کول د قرآن کريم دې بيان شوی آيت او د حديث دې صحيح روايت سره ډغره وهل دی، والعياذ بالله.

وَمَنْ　　أَظْلَمُ　　مِمَّنِ　　افْتَرٰى
او څوک دي | لوئي ظالم | دهغه چانه | چې دخانه جوړوی
او دهغه چا نه لوئ ظالم څوک کيدیشی([2])
عَلَى اللّٰهِ　كَذِبًا ۚ　أُولٰٓئِكَ　يُعْرَضُوْنَ　عَلٰى رَبِّهِمْ　وَيَقُوْلُ　الْاَشْهَادُ
په الله باندې | دورغ | داکسان چې دی | وړاندې کړې کيږی به دوئ | رب خپل ته | اووائی به | گواهان
چې په الله ﷻ باندې دروغ اوتړی | داسې خلق به خپل رب ته پيش کولې شی | او گواهان به
هٰٓؤُلَآءِ　الَّذِيْنَ　كَذَبُوْا　عَلٰى رَبِّهِمْ ۚ　اَلَا　لَعْنَةُ اللّٰهِ
چې هم دوئ دی | هغه کسان | چې دروغ ئې تړلی وو | په رب خپل باندې | خبردار | لعنت دالله دي
پرې گواهی ورکوی | چې دا هغه خلق دی چې پخپل رب ئې دروغ تړلی وو | واورئ چې په ظالمانو

[1]) صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم: ج ۱، ص ۸۶

[2]) په الله تعالى باندې دَ بهتان تړونكو انجام رسوائي ده:- كوم خلق چه په الله تعالى باندې بهتان تړي دَ هغوى انجام به دَ قيامت په ورځ دَ ټول مخلوق په وړاندې دَ هغوى دَ رسوائې بيان كولې شي. مسند كښې دى چه صفوان بن محرز وائى چه ما دَحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما لاس نيولې وو چه يو سړې هغوى له راغلو او تپوس ئې اوكړو چه تادَ رسول الله ﷺ نه دَ قيامت باره كښې څه اوريدلى دى؟ هغوى اوفرمائيل چه ما دحضور ﷺ نه اوريدلى دى چه الله تعالى به مؤمن خپل ځان ته نيزدې كړى تردې چه خپل لاس به په هغه باندې كيږدى او هغه به دَ خلقو دَ نظرونونه پټ كړى اوپه هغه باندې به دَ خپلو گناهونو اقرار اوكړى چه تاته فلانكې گناه ياده ده؟ او فلانكې هم؟ دې به اقرار كوى او تردې چه اويه گنړى چه بس اوس هلاك شوم. هغه وخت به أرحم الرحمين فرمائى زما بنده ما په تا باندې په دنياكښې پرده اچوله واوره نن هم زه تا بخښم بيا به هغه ته دَ هغه دَ نيكو عمل نامه وركولې شى او په كافرانو او منافقانو باندې به گواه پيش كولې شى چه وائى به چه هم دغه دى چه په الله تعالى باندې به ئى دروغ وئيلې. ياد ساتئى چه په دې ظالمانوباندې دَ الله تعالى لعنت دې. دا حديث په بخارى او مسلم كښې هم دې. (صحيح بخارى:۲٤٤۱، صحيح مسلم:۲۸۶۸) دې خلقو به دَ حق د تابعدارئى، دَ هدايت دَ لارې نه اودَ جنت دَ لارې نه خلق منع كول او خپله لاربه ئى كگه وگه لټوله او دې سره دَقيامت دَ ورځې او آخرت دَ ورځې منكر هم وو اودا به ئى هډو منل نه. يادساتئى چه دوى دَالله تعالى ماتحت دى او هغه دَ دوى نه هروخت انتقام اخستلو باندې قادردې. كه غواړى نودَ آخرت نه اول به ئى په دنيا كښې راگير كړى خودَ هغه دَ طرف نه لږشان مهلت هغه ته ملاؤشوى دى.

Scanned with Ca

عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۸﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا

په ظالمانو باندې | کوم چې | منع کوی [خلق] | د لارې د الله نه | او لټوی په دې لارې کښې

باندې د الله ﷻ لعنت وريږی | دا هغه کسان دی چې د الله ﷻ د لارې نه نور خلق منع کوی | او په هغې

عِوَجًا ۚ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ اُولٰٓئِكَ لَمْ يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ

کوږوالې | او دوئ | د آخرت نه | هم دوئ | منکران دی | دا کسان | نه وو دی | عاجزه کونکی [الله لره]

کښې کوږوالې لټوی | او د آخرت نه هم منکر دی |..........دوئ [الله ﷻ] په زمکه عاجزه کولې نشی

فِى الْاَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ۘ يُضٰعَفُ لَهُمُ

په زمکه کښې | او نۀ به وی | دوئ د پاره | ما سوا د الله نه | څوک دوست | دوچند به ورکړې شي | دوئ ته

..........او د الله ﷻ په مقابله کښې ئې بل څوک مددګار هم نشته | [اثې پيغمبره ﷺ] دوئ ته به دوچنده

الْعَذَابُ ۭ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ﴿۲۰﴾

عذاب | نۀ وو دوئ | چې طاقت ئې لرلې شو | داوريدو | او نۀ وو دوئ | چې ليدلې ئې وې [حق]

عذاب ورکولې شي | ځکه چې دوی [په کفر کښې د شدت د وجې نه] ستا خبرې نۀ اوريدې شوې او نۀ ئې درته کتلې شو

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

دا کسان | هغه خلق دی | چې تاوانيان ئې کړل | ځانونه خپل | او ورك شو | د هغوئ نه | هغه څه | چې وو هغوئ

د اهغه کسان دی چې خپل ځان ئې تاوانی کړې دی | او نن ترينه ټول جوړ کړی معبودان ورک شو..........

يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ هُمُ

چې جوړ کړی ئې وو د ځانه | هيڅ شک نشته | چې بيشکه هغوئ | په آخرت کښې به | هم هغوئ

..........لازمی خبره ده چې دوئ به په آخرت کښې د ټولو نه زيات زيانکاران وی

الْاَخْسَرُوْنَ ﴿۲۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د ټولو نه زيات تاوانيان وی | بيشکه | هغه کسان | چې ايمان ئې راوړو | او وې کړل عملونه نيک

..........بيشکه چا چې ايمان راوړو | او نيک کارونه ئې اوکړل (۱) | او د خپل پروردګار

(۱) **دَ ايماندارو بدله جنت دې:-** دَ خرابو دَ ذکر نه پس اوس دَ ښو خلقو بيان کولې شی. دَ چا زړونه چه دَ ايمان والا دَ چا اندامونه چه دَ حکم منونکو وو، په قول اوفعل سره دَ الله تعالی حکم په ځائې راوړونکی اودَ رب دَ نافرمانئی نه بچ کيدونکی وو. دا خلق به دَ جنت وارثان وی. اوچتې بالاخانې، خواره او ښائسته کړې شوی تختونه راټيټې شوې غونچې اودَ ميوو ونې پرسيدلې فرشونه يعنی قالينونه، ښائسته بيبيانې قسم قسم خوند ناکې ميوې دَ خوښې خوراکونه مزيدارې اوبه اودَ ټولونه لوئ دَ الله تعالی ديدار دا نعمتونه به وی چه د هغوی دَ پاره به هميشه وی. نه به هغوی له مرګ راځی نه بوډاوالې، نه بيماری نه غفلت، نه ډکې متيازې نه تشې متيازې نه لارې او نه پوزه (ګرنګ) دَ مشکو د بوئی غوندې خوله راتلل او خوراك هضميدل. اول بيان کړې شوی بدبختان کافران خلق او دا مؤمنان پرهيزګاران خلق بالکل هم هغه نسبت لری کوم چه په کوڼ، ړوند بينا... [بقيه په راروانه صفحه...

Scanned with Ca

وَاَخْبَتُوْٓا	اِلٰى رَبِّهِمْ	اُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ	هُمْ	فِيْهَا	خٰلِدُوْنَ ﴿۲۳﴾
اوعاجزي ئې اوكړه	ارب خپل ته	داكسان	صاحبان دجنت دی	هغویٔ به	په هغې كښې	همیشه وی

تابعدار شول .... هم دغه خلق جنتیان دی | دوی به په هغې كښې همیشه وی

مَثَلُ	الْفَرِيْقَيْنِ	كَالْاَعْمٰى	وَالْاَصَمِّ	وَالْبَصِيْرِ	وَالسَّمِيْعِ ۭ	
مثال	ددې دواړو ډلو	پشان د ړوند	او كوڼ سړی دې	او [بل] دليدونكی	او اوريدونكی سړی دې	

مثال دواړو ډلو داسې دې چه [یو كس خو] ړوند كوڼ وی | او بل كس ليدونكې او آوريدونكې وی

هَلْ يَسْتَوِيٰنِ	مَثَلًا ۭ	اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾ ع	
آیا دا دواړه برابر دی	په لحاظ دمثال سره	آیا تاسو نصيحت نه قبلوئ	

دا دواړه ګنی یو برابر كيديشی [نو آیا تاسو [په داسې مثال هم] غور نه كوئ؟]

آسان ترجمه قرآن

او د هغه كس نه به لوئ ظالم څوك وي چه په الله دروغ جوړوي؟ د داسې خلقو به خپل رب ته پيشي كيږی او ګواهي وركونكي به اووائی چه: داهغه خلق دي چه دوی په الله باندې دروغ وئيلي وو ټول واورئ چه د الله لعنت دې په دې ظالمانو باندې ـ چه د الله دلارې نه به ئې خلق بندول او دې كښې به ئې كوږوالي لټولو اود آخرت نه بالكل منكرو و. داسې خلق په زمكه باندې د الله نه چرې هم نه شی بچ كيدې اود الله نه سوا به دوی ته هيڅوك مددګار ملاؤ نه شي ، او دوی ته به دوچند عذاب وركولې شي دوی (حق خبرې لره د نفرت د وجې نه) نه شو آوريدلې، اونه دوی (حق لره) ليدلو. داهغه خلق دي چه دوی خپلو ځانولو دپاره د تاوان سودا كړې ده، او كوم معبودان چه دوی جوړ كړي وو، هغه به دوی نه ورك شی. يقيناً دا هغه خلق دي چه دوی به آخرت كښې د ټولو نه زيات تاوانيان وي.(بل طرف ته چه كومو خلقو ايمان راوړې دې، اوهغوی نيك عمل كړې دې او هغوی خپل پروردګار ته سر ټيټ كړې دې او

...بقيه د تيرمخ]... او اوريدونكی كښې وی. كافران په دنياكښې دَ حق كتلونه رانده وو اودَ آخرت په ورځ هم به دَ خير طرف ته لار نِه بيامومی اونه به ئی وينی. هغوی دَ حقانيت دَ دليلونو اوريدونه كاڼه وو او نفع وركونكې خبره ئی دَ سره اوريده نه. كه په هغوی كښې څه ښيګړه وه نو الله تعالى به هغوی ته خامخا اورول. (۸/الانفال:۲۳) په خلاف دَ مؤمن پوهه،پاك، عاقل عالم كتونكې پوهيدونكې سوچ كونكې، په حق او باطل كښې فرق كونكې،نيكى اخستل او بدی پريخودل، په دليل او شبه كښې فرق كونكې اودَ باطل نه بچ كيدل او حق منل. اوښائې دا دواړه څنګه برابريدلې شی؟ حيرانتياده چه بيا هم په داسې دوو كسانوكښې فرق نه پيژنې. ارشاد دې ﴿لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۭ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَاۗئِزُوْنَ ﴾، دوزخی اوجنتی برابر نه دی او جنتی خو بالكل كامياب دې. او په آيت كښې دی چه ړوند اوكتونكې برابرنه دی. تيارې او رڼاګانې برابر نه دی. سورې او تمر برابر نه دی. ژوندی او مړه برابر نه دی.الله تعالى خو چه چاته غواړی اورولې شی او تاسو خو مړوته هم نه شې اورولې او ته خو صرف خبرورکونكې ئې. مونږ ته په حقه سره زيرې وركونكې او ويرونكې جوړ كړې ليګلې ئې.او په هر يو امت كښې ويرونكې پيدا شوې دې. (۳۵/فاطر:۱۹، ۲۴)

Scanned with Ca

مطمئن دي، نو دوی جنت کښې اوسیدونکی دی، دې کښې به دوی همیشه وی د ددې دواړو ډلو مثال داسې دې لکه چه یو ړوند وي او یو کونړ وي، او بل کتل هم کولې شي او آوریدل هم کولې شي آیا دا خلق په حالاتو کښې برابر کیدې شی؟ بیا هم تاسو عبرت نه حاصلوئ؟

خلاصه تفسیر:

﴿ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ يُعْرَضُوْنَ عَلٰي رَبِّهِمْ ﴾ دداسي سړی نه به زيات ظالم څوك وي کوم چه په الله دروغ تړي[چه دهغه دتوحيد دهغه درسول درسالت اودهغه دکلام والی نه انکارکوي] داسی خلق به [دقيامت په ورځ] خپل رب ته مخامخ[ددروغژن په حيثيت سره] پيش کولې شی ﴿وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ هٰٓؤُلَاۗءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلٰي رَبِّهِمْ ۚ ﴾[اودعملونو]ګواه فرشتي به [على الاعلان] داسی وائی چه داخلق دي چه په خپل رب ئی دروغ خبري تړلی وی.

﴿اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَي الظّٰلِمِيْنَ ۙ﴾ تبول واورئ په داسی ظالمانو دخدای تعالی[زيات] لعنت دی﴿ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۭ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝﴾ کوموچه به[دخپل کفراوظلم سره] نی نورولره هم دالله دلاري[يعنی دين] نه منع کول اوبه دغه[ددين په لاره] کښبی به ئی کوږوالی[اوشبهات]راويستلوتلاش[اوفکر] کولو[چه نورخلق ګمراه کړي] اودآخرت نه هم منکروو[دادفرشتوداعلان مضمون وومخکی دالله تعالی ارشاد دی].

﴿اُولٰۗىِٕكَ لَمْ يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَاۗءَ ۘ يُضٰعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۭ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ۝﴾ چه دي خلقوبه[تبوله]خمکه کښبی هم خدای لره نشوعاجزه کولي [چه چرته پټ شوی وی اوالله ته په لاس نه وای ورغلی]اونه دالله نه سواددوی څوك مددګارشو[چه پس دګرفتارئ نه ئی خلاص کړي وی داسی خلقوته به[دنورونه]دوچنده سزا وي[يوه پخپله دکافرکيدواوبل نورولره دکافرکولو دکوشش کولودی او دې خلقو دالهی احکامونه د نفرت کولوپه وجه] نه ئی اوريدل اونه ئی[دعنادله وجی حقی لاري ته]کتل.

﴿ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ ﴾ داهغه خلق دي چه خپل ځانونه ئی بربادکړل اوکوم معبودان چه دوی جوړکړي وو[نن] تبول تری غائب شول [هيڅ ئی پکاررانغلل].

﴿ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝ ﴾ پس لازمي خبره ده چه په آخرت کښبی به دتبولونه زيات تاواني وي داخلق [داخوبه انجام وي دکافرانو وراندی دمسلمانانودانجام ذکر دی چه].

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ ﴾ بيشکه کوم خلق چه ايمان راوړي اونيك کارونه کوي ا[وبه زړه سره] خپل رب طرف ته عاجزی کوی[يعني په زړه کښبی انقياداوخشوع پيداکړي] داسی خلق جنتيان دي [او] دوی به پدي کښبی همیشه اوسي دا[ددواړودانجام فرق بيان شو مخکی ئی دحال دفرق مثال دی چه پري دانجام فرق مرتب کيږي پس ارشاددی چه].

﴿ مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ وَالسَّمِيْعِ ۭ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ۭ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝ ﴾ددواړوفريقو[چه ذکرئی وشويعني مومنان اوکافر]حالت داسی دی لکه يوسړی چه ړوندهم وي اوکوڼ هم وي[چه نه عبارت اوري اونه اشاره ويني نوعادتا دده دپوهولوهيڅ صورت نشته] اويوسړی وي چه ويني هم اواوري هم [دده پوهول ډيرآسانه وي] آياددي دواړوسړوحال برابروي[هرګزنه داحالت دمسلمان اوکافردی چه هغه دهدايت نه ډيرلری دی اودی په هدايت سره موصوف دی]آيا تاسو

Scanned with Ca

[په دی فرق]نه پوهیږئ ؟[پدې دواړوکښې دافرق بديهی دی دشبهی گنجائش پکښې نشته]

وَلَقَدْ

اوبيشكه |

[او [هم دغه شان حالت وو

اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ اِنِّيْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٥﴾

ليږلي وو مونږه| نوح ﷺ| قوم دهغه ته| چې بيشكه زۀ| ستاسو دپاره| ويرونكې يم | ښكاره

چې] مونږ حضرت نوح ﷺ خپل قوم ته اوليږلو[هغه اووئيل چې] زۀ تاسو لره [د الله د نافرمانئ نه] ښكاره ويرونكې يم

اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٦﴾

چې مۀ كوئ عبادت | مگر | د الله |بيشكه زۀ | ويرېږم |په تاسو باندې | د عذابه | دورځې | دردناكې نه

[او دا ئې وئيل]تاسو دالله نه سوا دبل چا عبادت مۀكوئ|ماسره ويره ده چې تاسو باندې به يو ورځ

فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا نَرٰىكَ اِلَّا

نو اووئيل| هغه سردارانو |چې كافران وو | دقوم دهغه نه |نۀ وينو مونږه تالره| مگر

دردناك عذاب راشي|نو دهغه دقوم سردارانو جواب وركړو| چې مونږ ته خو تۀ د څان په شان يو

بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ

يو انسان| پشان زمونږ|اونۀ وينو مونږ تالره| چې تابعداری كړی ده ستا| مگر |هغه كسانو| چې هغوئ

انسان ښكارې او مونږ خو بس دا گورو چې ستاسو په تعليم هغه څوك عمل كوی |چې په مونږ كښې

اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍۭ بَلْ

رذيلان زمونږ دی|په ظاهری رائې سره | او نۀ وينو مونږ| تاسو لره| په مونږ باندې| څه بهتری | بلكه

غورزيدلی خلق دی| چې دسر سری عقل خاوندان دی| اومونږ په تاسو كښې هيڅ خبره هم[دڅان نه]زياتې نۀ وينو

نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ

گمان كوؤ مونږ په تاسو|د دروغژنو| اووئيل نوح | اې قومه زما | تاسو خو اوگورئ | كه يم زۀ

بلكه گمان كوؤ چې تاسو دروغژن يئ |هغه ورته اووئيل چې ائې زما قومه دا خو اوښائې چې

عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ

په ښكاره دليل باندې|دطرفه درب خپل نه|او راكړې وی هغه ماته| رحمت| دطرفه خپل نه |بيا [دهغې حقيقت]پټ كړې شو

زه دخپل پروردگار د طرفنه په يو ښكاره دليل ولاړ يم| او هغه په ما باندې خپل رحمت كړې وی

عَلَيْكُمْ ؕ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ﴿٢٨﴾

په تاسو باندې| ايا مونږ تاسو پورې پيوسته كړو هغه رحمت| حال دا چې تاسو | هغه | نۀ خوښونكی يئ

خو هغه [رحمت] تاسو ته نۀ ښكاری |نو گنی مونږ ئې په زور درپورې انخلوؤ| حال دا چې تاسو تري

وَيٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ

ائې زما قومه|نۀ غواړم زۀ ستاسو نه|په دې دعوت باندې| څه مال |نۀ دې اجر زما | مگر |په الله باندې

نفرت كوئ| او ائې زما قومه زۀ په دې [تبليغ باندې] ستاسو نه هيڅ مال نۀ غواړم| زما بدله خو الله

Scanned with Ca

وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا

اونهٔ يم زهٔ | شړونكې | د هغه كسانو | چې ايمان ئې راوړې دې | بيشكه هغوئ | ملاقات كونكي دی

سره ده | او زهٔ [ستاسو د وجې] مسلمانان شړلې نشم | هغوئ به پخپله خپل پروردګار سره ملاقات كوی

رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ٢٩ وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ

درب خپل سره | ليكن زهٔ | وينم تاسو | داسې قوم | چې جهالت كوئ | او ائې زما قومه | څوك به مدد اوكړی زما

بلكه زهٔ خو داګورم چې تاسو په جهالت كښې پراتهٔ يئ | ائې زما قومه څوک به د الله په مقابله كښې

مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ٣٠ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ

په مقابله دالله كښې | كه اوشړم زهٔ هغوئ | آيا نو تاسو | نصيحت نهٔ قبلوئ | اونهٔ وايم زهٔ | تاسو ته

زما مدد اوكړی | كه زه دوئ اوشړم نو ګنی تاسو په دومره قدرې خبره هم نهٔ پوهيږئ | او زهٔ تاسو ته

عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ

چې زماسره | خزانې د الله دی | اونهٔ وايم دا | چې زهٔ پوهيږم | په غيبو باندې | اونهٔ وايم زهٔ | چې بيشكه زهٔ

دانهٔ وايم چې ما سره دالله ﷻ خزانې دی | او نهٔ [دا وايم چې] دغيبو علم لرم | او نهٔ دا دعوی لرم

مَلَكٌ وَّلَآ اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ

فرشته يم | اونهٔ دا وايم زهٔ | په باره دهغه كسانو كښې | چې سپک ګوری ورته | سترګې ستاسو

چې زهٔ فرښته يم | اونهٔ د هغې كسانو باره كښې چې ستاسو په نظر كښې حقير رازی دا وايم

لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۚ

چې هرګز به ورنكړی هغوئ ته | الله | څه خير | الله ښهٔ پوهيږی | په هغه حال | چې په نفسونو دهغوئ كښې دې

چې الله ﷻ به ورله هيڅ خير نهٔ وركوی | الله ﷻ دهغوئ د زړونو په حال ښهٔ خبر دې | كه زهٔ داسې

اِنِّيْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ٣١ قَالُوْا يٰنُوْحُ

بيشكه زهٔ | په دغه وخت كښې به شم | د ظالمانو نه | اووئيل هغوئ | ائې نوح

اووايم نو په ظالمانو كښې به شمير شم | آخر كښې] هغوئ ورته اووئيل چې ائې نوح عليه السلام

قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا

بيشكه جګړه اوكړه تا زمونږ سره | نوډيره دې كړه | جګړه مونږ سره | نو راوړه مونږ ته | هغه عذاب

تامونږ سره بحث اوكړو | او ډير زيات بحث دې اوكړو | اوس بس هغه څيز راوله دكوم نه چې مونږ

تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ٣٢ قَالَ اِنَّمَا

چې وعده ئې كوې ته زمونږ سره | كه ئې ته | د رښتونو نه | اووئيل نوح | بيشكه

ويروې | ....كه ته رينبتونې يئ | [حضرت نوح عليه السلام ورته] اووئيل بيشكه

يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ٣٣ وَلَا يَنْفَعُكُمْ

رابه ولی تاسو ته | هغه | الله | كه اوغواړی | اونهٔ يئ تاسو | عاجزه كونكی الله لره | اونهٔ دركوی فائده تاسو ته

چې هغه خو به الله ﷻ پخپله راولی كه هغه اوغواړی | او تاسو هغه عاجزه كولې نشئ | او زما خير خواهی

Scanned with CamScanner

نُصۡحِيۡٓ　اِنۡ اَرَدۡتُّ　اَنۡ اَنۡصَحَ　لَكُمۡ　اِنۡ كَانَ اللّٰهُ يُرِيۡدُ

نصيحت زما | كه اراده اوكړم زه | چې نصيحت اوكړم زه | تاسوته | كه چرې اوغواړي الله

به تاسو ته هيڅ فائده درنكړي | اگر كه زه ستاسو ډير خير اوغواړم | هركله چې الله ﷻ ته

اَنۡ يُّغۡوِيَكُمۡ ؕ　هُوَ　رَبُّكُمۡ ۟　وَاِلَيۡهِ　تُرۡجَعُوۡنَ ؕ۝۳۴

چې بې لارې كړى تاسو | هغه | رب ستاسو دې | اوخاص هغه ته | به واپس كولې شئ

ستاسو گمراهي منظوره وى | هغه ستاسو پروردگار دې | او هم هغه ته به تاسو ټول واپس كيږئ

اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ　افۡتَرٰٮهُ ؕ　قُلۡ　اِنِ افۡتَرَيۡتُهٗ

آيا وائى دوئ | چې دخان نه ئې جوړ كړې دې دا قرآن | ورته اووايه | كه دخانه جوړ كړې وى مادا قرآن

آيا دوئ وائى چې دۀ دا [قران پاک] په دروغه جوړ كړې دې | ورته اووايه كه ما دخانه جوړ كړې وى

فَعَلَيَّ　اِجۡرَامِيۡ　وَاَنَا　بَرِيۡٓءٌ　مِّمَّا　تُجۡرِمُوۡنَ ۝۳۵

نوپه ما دې | جرم زما | او زه | خلاص يم | دهغې نه | چې كوم جرمونه تاسو كوئ

نو ددې گناه په ما ده | ....اوكوم گناهونه چې تاسو كوئ | نو زه دهغې نه بيزاره يم

آسان ترجمه قرآن

او مونږ نوح عليه السلام خپل قوم ته دې پيغام سره ليږلې وو چه: زه تاسو لره صفا صفا خبرونكې پيغمبر يم. چه دالله نه سوا د بل چا عبادت مه كوئ يقين وكړئ چه څه په تاسو د يو دردناك عذاب نه ويريږم. په دې باندې هغه خلقو چه هغوى كفر اختيار كړې وو ووئيل چه: مونږ ته خو ددې نه زيات (په تا كښې) څه خبره نه ښكاري چه ته څمونږغوندې يو انسان ئې، او مونږ دا هم وينو چه ستا تابعدارهغه خلق دې چه دهغوى هيڅ حيثيت نشته. اوهغه هم د سر سرى رائې والا او مونږ ته په تا كښې داسې څه خبره نه ښكاري چه دهغې په وجه تاته په مونږ څه فضيلت حاصل وي، بلكه څمونږ خيال خو دا دې چه تاسو ټول دروغژن يئ .نوح عليه السلام ووئيل چه: اې څما قومه! لږ ماته دا ووايئ كه څه د خپل پروردگار د طرفنه په يو ښكاره هدايت باندې يم. او هغه ماته يو خاص رحمت (يعنى نبوت) را كړې وي بيا هم تاسو په هغې څان نه پوهه كوئ. نو آيا دا مونږ په تاسو په زور مسلط كړو حال داچه تاسو دې لره بد گنړئ؟ او اې څما قومه څه په دې (تبليغ) باندې تاسو نه څه مال نه غواړم. څما اجر د الله نه علاوه بل چا په ذمه نه دې اخستې، او كومو كسانو چه ايمان راوړې دې څه هغوى لره شړونكې نه يم. دوى ټول د خپل رب سره ملاويدونكې دې او څه خو وينم چه تاسو د جهالت خبرې كوئ او اې څما قومه! كه څه دې خلقو لره وشړم نو څوك به ما لره دالله (د نيولو نه) بچ كړي؟ آيا تاسو بيا هم توجه نه كوئ؟ او څه تاسو ته دا نه وايم چه ما څخه دالله خزانې دې . نه څه د غيبو په ټولو خبرو باندې پوهيږم. او نه څه تاسو ته دا وايم چه څه فرښته يم او كوم خلق چه ستاسو په سترګو كښې سپك دې د هغوى په باره كښې څه دا نه شم وئيلې چه دوى ته به الله څه خير ورنكړي. ددې خلقو په زړونو كښې چه څه دې هغې باندې الله د ټولو نه ښه پوهيږي. كه د هغوى په باره كښې څه داسې خبرې وكړم نو څه به دظالمانو

Scanned with Ca

نه شم. هغوی ووئیل چه: اې نوحه! تا موږ سره بحث وکړو او ډیر بحث دې وکړو که ته رښتینې ئې نو راوړه هغه (عذاب) چه دهغې نه ته موږ ویروې. نوح ووئیل چه: دا به الله راولي که د هغه خوښه شي، او تاسو هغه لره نه شئ عاجزه کولې. نه څه ستاسو خیرخواهي کول غواړم نو زما خیرخواهي په هغه صورت کښ تاسو ته فائده نه شي درکولې چه الله (ستاسو د ضد دوجې نه) ستاسود ګمراه کولو اراده کړې وی. هغه ستاسو پروردګار دې، او هغه ته به تاسو ټول واپس کولې شئ آیا (د عربو کافران) دا وائی چه محمد (صلی الله علیه وسلم) دا قرآن دخپل ځان نه جوړ کړې دې؟ (اې پیغمبره!) ته ووایه چه: که ما دا دځان نه جوړ کړې وی نو زما د جرم وبال به په ما بانذې وي، او کوم جرم چه تاسو کوئ د هغې څه ذمه دار نه یم.

خلاصه تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ ۡ اِنِّىْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۙ﴾ اوموږه نوح [علیه السلام] لره دده قوم ته رسول جوړ کړو[داپیغام مووکړو]ولیږلو .

﴿اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ۝﴾چه تاسودالله تعالی نه سوا دبل چا عبادت مکوئ [اوکوم بتان چه تاسومقررکړیدي ود، اوسواع، اویغوث. اویعوق، اونسر لره پریږدئ څرنګه چه نوح [علیه السلام]لاړواودوی ته ئی وفرمائل چه]زه تاسولره [دغیرالله دعبادت په صورت کښی]صفاصفا ویروم [اوددی ویرولوتفصیل دادی چه]زه ستاسو په باره کښی دیوی تکلیف ورکوونکی ورځ دعذاب نه یره کوم.

﴿ فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ﴾ پس دده په قوم کښی چه کوم کافران سرداران وو هغو [په جواب کښی] وویل چه ته چه کومه دعوه دنبوت کوې لکه دنذیر مبین نه چه معلومیږي نوزموږ په زړه خبره نه لګي څکه چه موږ خوتادخپل ځان په شان بني آدم وینو[اودبني آدم نبي کیدل ډیره لرې خبره ده] اوکه [ته پدې باندې دلیل نیسی چه بعضو خلقوستاتابعداري کړیده نوداخبره ددلیل لپاره قابله نده څکه چه] موږه وینوچه ستاتابعداري هغوخلقوکړیده کوم چه په موږ کښی بالکل رذیلان دي [دکوموعقل چه اکثربیکاره وي بیا]دغه [تابعداري]هم محض په سرسري رائی سره [شویده یعنی اول خوددوی عقل برابرندی دفکرنه پس هم غلطی کوي ،دویم بیاغورئی هم ونکړو،پدی وجه دداسی خلقوتالره نبي ګڼل داڅه دلیل ندی.

﴿ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍۢ بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ۝﴾ بلکه ددی په عکس سره دا کار خو زموږ د تابعدارئ کولونه منع کوونکی دی څکه چه شریفان درزیلانوپه ملګرتیابانذی شرمیږي، دا رنګ اکثرداسی بي حوصلې خلقوغرضونه هم مال حاصلول یا اوچتیدل وي پس داخلق هم په زړه سره ایمان نه راوړي]او[که چیري دا اووئیلې شی چه سره درزیل والی نه ددی خلقو دڅه خاص خبری په اعتبارسره په موږ باندی فضیلت دی،چه پدې وجه سره ددوی رایه پدی باره کښی برابرده پس]موږ په تاسوخلقوکښی [یعنی په تا اوپه مسلمانانوکښی] څه خبره دخپل ځان نه بهترنه مومو[نوځکه ستاسو د مسلمانانو رائی لره صحیح نه ګڼو] بلکه موږ خوتاسولره [بالکل]دروغژن ګڼو. ﴿ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ۭ﴾ نوح [علیه السلام]وفرمائل چه اې څماقومه [تاسوچه کومه خبره کوئ چه ستا نبوت زموږ په زړه نه لګي

نو] ښه ده وښائي که زه دخپل رب لخواپه دليل[قائم] يم [چه پدي سره ځمانبوت ثابتيږي] اوهغه ماته دخپل طرف رحمت [يعني نبوت] راکړی وي بيا په دغه [نبوت ياحجت] تاسونه پوهيږئ نو[څه څه وکړم مجبوريم].
﴿اَنُلۡزِمُكُمُوۡهَا وَاَنۡتُمۡ لَهَا كٰرِهُوۡنَ﴾ ايامونږ دی[دعوی يادليل] لره ستاسوپه سردرتپلئ شواوچه تاسوتري نفرت ګوئ[مطلب داچه ستاسوداخبره چه ځمونږپه زړه نه لګي دافقط پدی وجه ده چه تاسوداسی ګڼئ چه بشر رسول کيدي نشی چه پدي خبره تاسوسره هيڅ دليل نشته ،اوځماسره ددی دواقع کيدو او صحيح کيدودليل موجود دی يعنی معجزه وغيره نه چه دچاتابعداري .پدی سره ددی جواب هم وشو چه ددوی تابعداری حجت ندی ،ليکن ديودليل فائده موقوفه ده په غوراوفکرکولواوهغه تاسونکوئ او ځمادوس نه بهرده].
﴿وَيٰقَوۡمِ لَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًا ؕ اِنۡ اَجۡرِىَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ﴾ او[دومره خبره ئې نوره زياته وفرمائله چه] ای ځماقومه [دافکرخووکړئ که څه دنبوت غلطه دعوه کوم نوآخرپدي کښې خوبه ځما څه مطلب وي مثلا داسي چه زه ددی په ذريعه ښه ډير مال وګټم نوداخودرته معلومه ده چه] څه تاسونه د[تبليغ] په عوض مال نه غواړم ځمامعاوضه خوصرف په الله ده[دهغه نه ئې په آخرت کښې غواړم دغه شان که په نورو غرضونو کښې ئې فکر وکړئ نوبيابه نه مومئ بياچه هرکله کوم غرض نشته نوددروغوويلونه ځما څه فائده ده لنډه داچه ددعوي ددروغژن کولولپاره مقتضی نشته اوددعوي په رشتينوالی باندی دليل قائم دی بيا په نبوت کښې څه شك شبه کيدي شی]
﴿وَمَاۤ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا ؕ اِنَّهُمۡ مُّلٰقُوۡا رَبِّهِمۡ وَلٰـكِنِّىۡۤ اَرٰٮكُمۡ قَوۡمًا تَجۡهَلُوۡنَ﴾او[تاسوچه درزيلانوتابعداری دخپلی تابعداری لپاره منع کوونکی وائی اوپه ښکاره ياپه اشاروسره وائی چه زه دوی دخپلی خواڅخه لری کړم پس] زه خومومنانولره لری کوونکی نه يم [ځکه چه] داخلق خپل رب ته [په عزت اومقبوليت سره] تلونکی دي[نوڅوك دشاهی دربارمقربا نو لره ويستلای شی اودی سره ددی خبری جواب هم وشوچه داخلق دزړه نه ايمان نه راوړي]ليکن په واقع کښې زه تاسولره وينم چه [خامخا]جهالت کوئ[اوغلطی خبری کوئ].
﴿وَيٰقَوۡمِ مَنۡ يَّنۡصُرُنِىۡ مِنَ اللّٰهِ اِنۡ طَرَدْتُّهُمۡ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ﴾ اوکه [فرضا اوتقديرا] زه دوی لره وباسم نو [داخووائی چه]ما به دالله دګرفت نه څوك خلاص کړي [آياپه تاسوکښې دومره همت شته چه داسی غلطی مشوری راکوئ] آيا تاسوپه دومره خبره هم نه پوهيږئ [نوپدي تقرير سره ددی ټولو شبهو جواب وشو ليکن مخکی بياددی ټولوجوابونوتتمه ده يعنی هرکله چه ځمانبوت په دليل سره ثابت دی‌نواول خوددليل په وړاندی لري والی څه شی ندی بيا داچه دغه لری خبره هم نده البته که ديوعجيبه اوناآشنا کار دعوه می کولي نوانکار اولری والی به دومره بد اولری نه وو اګرکه ددليل نه پس داهم داوريدوندی ،البته که دليل هم دلري والی وي نوبياواجب دی، ليکن څه خودڅه داسی عجيبه کاردعوه نکوم چنانچه].
﴿وَلَاۤ اَقُوۡلُ لَـكُمۡ عِنۡدِىۡ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَاۤ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ وَلَاۤ اَقُوۡلُ اِنِّىۡ مَلَكٌ وَّلَاۤ اَقُوۡلُ لِلَّذِيۡنَ تَزۡدَرِىۡۤ اَعۡيُنُكُمۡ لَنۡ يُّؤۡتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيۡرًا ؕ﴾ زه تاسوته داسی نه وايم چه ځماسره دالله خزانی دي اونه زه داوايم چه څه ټولی دغيب خبري پيژنم اونه [داوايم چه څه] فرشته يم او[داخوئی دخپل نبوت متعلق ارشاد وفرمائل وړاندی دخپلومتبعينوپه باره کښې ارشادفرمائی يعنی]کوم خلق چه ستاسوپه نظرونوکښې سپك دي څه ددوی په نسبت[ستاسوپه شان] دانشم وئيلي چه[دوی دزړه نه ايمان ندی راوړی

پدې وجه به] الله تعالی به هرگزدوی ته ثواب ورنکړي.
﴿اللهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ﴾ ددوی په زړه کښې چه څه وي الله تعالی هغې لره ښه پیژني[نوممکنه ده چه ددوی په زړونوکښې اخلاص وي نوبیا خه داسې خبره څنګه وکړم] زه خو[که داسې خبره وکړم نو]پدې صورت کښې به ظلم وکړم [څکه چه بې دلیله دعوه ګناه ده هرکله چه نوح [علیه السلام] دټولوخبروپوره پوره جواب ورکړو،چه جواب ئې بیاددوی نه جوړنه شو نو عاجزه شو].
﴿قَالُوا يَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴾ دغوخلقووویل چه ای نوح [علیه السلام]تاخمونږسره بحث وکړوبیا دي دابحث اوږد هم کړوبس[اوس بحث پریده او] دکوم شی نه چه ته مونږویروی[چه عذاب به راشي] هغه په مونږراوله.
﴿قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُم بِهِ اللهُ إِن شَاءَ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ﴾دوی وفرمائیل چه[ددی راوستونکی خه کله یم ماته خودرسولواواورولوحکم وه پس ماهغه په ځای کړو]دغه خویه الله پدې شرط چه هغه ته منظوروي راولي ستاسو مخی ته او[دغه وخت به بیا]تاسوهغه لره عاجزه نه کړي شئ [چه هغه عذاب واقع کول وغواړي اوتاسوئې واقع کولوته پرې نږدئ].
﴿وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِي إِنْ أَرَدتُّ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ اللهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ﴾ او[کوم چه خماکاروو اورول او رسول پدې کښې ماستاسوپوره پوره خیرخواهی وکړه لیکن] خماخیرخواهی تاسوته پکارنشی راتلي اګرکه خه هرڅومره ستاسوخیرخواهی وکړم هرکله چه الله تعالی ته ستاسوګمراه کول منظوروي[چه دهغې وجه ستاسوعناداوتکبردی،مطلب دادی چه هرکله ستاسودخپلی بدقسمتئ نه ځان ته نفع حاصلول اونقصان لرې کول نه غواړئ نوځماپه غوښتلوسره څه کیدې شي].
﴿هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ هغه ستاسومالک دی[اوتاسودهغه مملوک ئې نوپه تاسودهغه ټول حقونه واجب دي اوتاسوئې دعنادپه وجه ضائع کولو سره مجرمان جوړیږئ] اوهغه ته ستاسو ورتلل دي [هغه به ستاسو دټول عناداوکفرکسر وباسي].
﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ﴾ آیاداخلق وائی چه محمد [ﷺ] دا قرآن دځان نه جوړکړي دوی ته[په جواب کښې] ووایه که[بالفرض] ماجوړکړی وي نوځما دا جرم به په ما[واقع]وي[اوتاسوځمادجرم نه بري الذمه ئې] او[که تاسودادعوه جوړه کړی وي یعنی په ما بهتان لګولی وي نوستاسوداجرم به په تاسو وي او]زه ستاسوددي جرم نه بري الذمه یم .

معارف او مسائل

کله چه حضرت نوح(علیه السلام) خپل قوم ته د ایمان بلنه ورکړه نو قوم د هغه په نبوت او پیغمبرئ باندې څو شبهې او اعتراضات وړاندې کړل،حضرت نوح(علیه السلام) د الله تعالی په اجازت د دې جوابونه ورکړل چه د هغې په ضمن کښې د دیانت او معاشرت ډیرې اصولی او فروعی مسئلې راغلې دی،په دې آیتونو کښې دغه خبرې اترې بیان کړې شوې دی.
په دویم آیت کښې د مشرکانو یو څو شبهې او اعتراضونه بیان کړې شوې دی،په دې آیت کښې د څو ګرانو ټکو تشریح داسې ده،﴿مَلَأُ﴾لفظ عموما ډلې د پاره استعمالیږی،د لغت بعضې اماما نو وئیلي دی چه دا لفظ د قوم د سردارانو او ذمه دارانو د ډلې د پاره استعمالیږی، د ﴿بَشَرًا﴾ ترجمه انسان ده﴿أَرَاذِلُ﴾د ارذل جمع ده سپک او ذلیل ته وئیلې شی،چه په قوم کښې د

څه شان او عزت خاوند نه وي ﴿بَادِيَ الرَّأْيِ﴾ ابتدائي او سرسري رائې ته وئیلې شي.
د حضرت نوح ﷺ په پیغمبرئ باندې د دغې خلقو ړومبې اعتراض دا وو ﴿مَا نَرٰىكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا﴾ یعنې تاسو خو زمونږ په شان انسان او بنیادم ئې زمونږ په شان خوراک څښاک ګرځیدل راګرځیدل، او اوده کیدل ویښیدل کوې، بیا د عادت نه خلاف مونږه دا خبره څنګه اومنو چه تاسو د الله تعالی پیغمبر ئې؟

د دغې خلقو په خیال کښې دا وو چه د الله تعالی د اړخه رالیږلې رسول او پیغمبر دې بنیادم نه وي بلکه یو فرشته دې وي چه د هغه خصوصیت او اختیاري شان خامخا اومنلې شي.

د دې جواب په څلورم آیت کښې دا ورکړې شو ﴿يٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتٰنِي رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَارِهُونَ﴾

په دې کښې دا اوښودلې شو چه د انسان پیغمبر کیدل څه بې سمونه خبره نه ده بلکه ضروري خبره ځکه ده چه بنیادم ترې په اسانه دین زده کړې شي، ولې چه د انسان او فرشتو په مزاج کښې د اسمان او زمکې هومره فرق دې، که فرشته د رسول په حیثیت رالیږلې شوې وې نو بنیادمو به ترې په مشکله سره دین زده کولې شو ولې چه فرشته خو نه اوږې کیږي، تنده ئې نه وي، او ستومانه کیږي نه، دې ته انساني ضرورتونه او حاجتونه نۀ راپیښیږي، نو د انسانانو دا کمزورې به څنګه محسوسولې شي، او په دې کښې انسانان د فرشتو په پل باندې څنګه تلې شو؟ دا مضمون د قرآن په نورو آیتونو کښې په ښکاره یا په اشاره سره څو ځایه راغلې دې، دلته د هغې د رایادولو په ځای صرف دومره اوفرمائیلې شو چه که د عقل نه کار واخستې شي نو رسول او پیغمبر کیدو د پاره دا ضروري نه دی چه هغه دې بنیادم نه وي البته دا ضروري دی چه د الله تعالی د اړخه په دې باندې ورسره څه ګواهان او حجت وي چه د هغې په لیدو سره خلق په آسانه پوهیدې شي چه دا د الله تعالی له اړخه رالیږلې شوې پیغمبر دې عامو خلقو د پاره دا بینه او حجت د پیغمبرانو ﷺ معجزې دي، ځکه نوح ﷺ اوفرمائیل چه ما خپل ځان سره د الله تعالی د اړخه، بینه، حجت او رحمت راوړې دې، که تاسو دې ته کتلې، غور مو پرې کولې نو انکار به مو نه وو کړې، مګر ستاسو انکار او عناد تاسو ړانده کړي ئې ځکه مو انکار اوکړو او په خپل ضد باندې ټینګ پاتې شوې.

مګر د پیغمبر په ذریعه د خداې راغلې رحمت په زور په چا ورتپلې نه شي تر څو چه انسان پخپله د دې شوق نه لري، چنانچه د حضرت نوح ﷺ د دې فرمائیلو [چه د ایمان هغه دولت چه ما راوړلې دې که څما وس وې نو ستاسو د انکار او ضد باوجود به مې تاسو ته درکړې وو، خو دا د قدرت د قانون نه خلاف دی چه دا نعمت خامخا په چا وراوتپلې شي] ادې نه دا هم ثابته شوه چه په زور سره چا لره مومن یا مسلمان جوړول په هیڅ دور د نبوت کښې جائز نه دی لرلې شوې، چنانچه هغه خلق هم پخپله دې حقیقت نه بې خبره نه دي کوم چه د سوچه دروغو په زور دا ثابتول غواړي چه اسلام د تورې په زور خور شوې دې، خو په دې سره یو دا مطلب تر سره کیدې شي چه د ناخبره خلقو په زړونو کښې پرې شکونه او شبهې راپیدا کولې شي.

د دې په ضمن کښې دا وجه هم په پوهه کښې راغله چه فرشتې ځکه پیغمبرانې جوړې نه کړې شوې چه دوي بې دریغه قوت او طاقت لري او د خپل وجود په هر شان کښې د انسان نه ښکاره بیلتون لري، د هغې په لیدو سره ایمان راوړل به یو جبري عمل وو، هیڅ به دا نه شو کولې چه د

Scanned with Ca

فرشتې په وړاندې دې ئې اخوا ديخوا کړې وې، څنګه چه د انسانانو پيغمبرانو ﷺ په وړاندې به کولې شوه چنانچه د شريعت له مخې هغه ايمان منظور نه دې چه د يو مضبوط قوت په زور پرې څوک مجبوره کړې شي، بلکه مطلوب ايمان دا دې چه د الله تعالى د غالب قوت د مشاهدې کولو نه بغير راوړې شي کوم ته چه ايمان بالغيب وائي.

د دغې خلقو دويم اعتراض دا وو ﴿مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ﴾ [يعني مونږه ګورو چه په تاسو ﷺ باندې ايمان راوړونکي تول په سرسري نظر کښې سپک، ذليل او کمينه خلق دي، څوک شريف لوئې بنده په کښې نشته]د دې اعتراض دوه اړخونه دي يو اړخ ئې دا دې چه که ستاسو ﷺ خبره حقه او صحيح وې نو د قوم غټو خلقو به قبوله کړې وې، دې ورکوټو او رذيلو چه قبوله کړه نو دا نخښه د دې ده چه ستاسو بلنه د سره د قبلولو جوګه نه ده.

دويم اړخ دا دې چه مونږه لره ستاسو د ايمان راوړلو بلنه قبلول ځکه يو خند دې چه بيا به هم دغه سپکو ټيټو خلقو سره يو ځاې کښينو پاسو چه دا زمونږ د لوئې شان سره نه ښائي، لکه د مونږ په صفونو کښې به ورسره يو شان اودرېږو نو داسې مونږ نه شو کولې.

کومو غريبانانو، فقيرانو سره چه مال ډير نه وو او دنيوي مرتبه او مال ئې نه لرلو نو د حقيقت نه لرې دغه بې خبره خلقو به هغوي اراذل بلل، حالانکه دا پخپله يو جاهلانه خيال دې، عزت، ذلت، عقل او پوهه د مال دولت تابع نه دي بلکه تجربې نه ثابته ده چه مرتبه او مال يو قسم نشه وي چه انسان لره د ډيرو معقولو او صحيح خبرو باندې د پوهيدو او قبلولو نه ايساروي، د کمزورو او غريبانانو خلقو په نظر کښې دا بنديزونه نۀ جوړيږي، دوي د حق او صحيح خبرو په قبلولو کښې يو بل نه وړاندې کيږي هم دغه وجه ده چه پخوا زمانې راسې د الله تعالى دا عادت جاري دې چه په پيغمبرانو ﷺ باندې به اول ايمان راوړونکي غريبانان او فقيران وو چه په پخوانو اسماني کتابونو کښې دا خبره ښه په ښکاره کړې شوې ده، هم دغه وجه ده چه د روم بادشاه هرقل ته د رسول الله ﷺ هغه خط مبارک ورا ورسيدو چه د ايمان بلنه ئې په کښې ورکړې وه نو هغه د تحقيق په غرض د شام ملک ته راغلې قافله دې د پاره راوبلله چه د رسول الله ﷺ په باره کښې د هغه نخښو نښانو تپوس ترې اوکړي چه په تورات او انجيل کښې ئې د پيغمبرانو ﷺ په باره کښې لوستلې وې.

په دغه تپوسونو کښې ئې ترې يو تپوس دا هم اوکړو چه د رسول الله ﷺ تابعداران کوم قسم خلق دي، غريبانان خلق ئې تابعداري کوي او که مالداره خلق ئې تابعدار دي؟ د قافلې خلقو ورته اووئيل چه غريبانان خلق ئې تابعدار دي، هرقل اقراري شو چه دا په رښتيا د پيغمبرئ نښاني ده، چنانچه په شروع کښې غريبانان خلق د پيغمبرانو تابعدار جوړيږي.[1]

خلاصه دا شوه چه غريبانان او فقيران خلق رذيل ګڼړل د دوي جهالت وو، ولې چه په حقيقت کښې رذيل هغه وي چه خپل پيدا کونکې او پالونکې مالک نه پيژني د هغه د حکمونو نه مخ اړوي، په دې بنا سفيان ثوري رحمه الله د داسې تپوس په جواب کښې رذيل او کمينه بنده داسې کس ته اووئيل چه د بادشاهانو او اميرانو خوشامدې کوي، او ابن اعرابي رحمه الله کمينه هغه چا ته وائي چه په خپل دين خرڅولو سره دنيا ګټي چنانچه د يو تپوس په جواب کښې دوي

[1]) صحيح البخاري، باب بدء الوحي: ج ۱، ص ۵،۴

Scanned with Ca

اوفرمائیل چه د ټولو نه زیات کمینه هغه څوک دي چه خپل دین برباد کړي او د بل چا دنیا جوړوي، امام مالک رحمه الله اوفرمائیل چه هغه څوک کمینه دي چه د صحابهٔ کرام رضي الله عنهم بد بیانوي، (۱) ولې چه صحابهٔ کرام ټول امت سره احسان کوونکي داسې دي چه هم د دوی په برکت د ایمان او شریعت دولت دوی ته رسیدلی دی.

بهر حال د دوی دا جاهلانه خیال په دریم آیت کښې داسې رد کړې شوې دې چه د پیغمبر نظر د چا مال ته نه وی، هغوی د خپل خدمت او همدردۍ عوض نه اخلی، د هغه عوض یواځې د الله تعالی په ذمه وی خکه ئې په نظر کښې امیر او غریب برابر وی، تاسو په دې مه پرېږې چه ستاسو په مسلمانیدو سره به هغوی تاسو نه مال غواړي.

بله خبره ئې خپل قوم ته دا اوفرمائیله چه ما سره د ایمان قبلولو دا شرط اړدې چه غریبانان دې د خپلې ډلې نه اوباسی نو دا کار ځکه نه شم کولې چه د الله تعالی په دربار کښې دا رسیدلی او عزتمن خلق دی، داسې خلق د خپلې ډلې نه اوبشکل څه د عقل کار نه دې.

د ﴿مُلٰقُوْا رَبِّهِمْ﴾ بله معنی دا هم کیدې شی چه که څه دا غریبانان خلق بالفرض د خپل ځان سره نه پرېږدم نو د قیامت په ورځ د الله تعالی په دربار کښې د دوی د دغه شکایت به څه جواب ورکړې شم؟ په څلورم آیت کښې دا مفهوم دې چه که زه دوی د خپل مجلس نه اوباسم نو د الله تعالی د عذاب نه به مې څوک خلاص کړي؟ په آخر کښې فرمائی چه دا ستاسو جهالت دې چه انسان پیغمبر نه منې او زما مجلس نه د غریبانانو خلقو د اوبشکلو فرمائش کوې.

په پنځم آیت کښې د حضرت نوح علیه السلام هغه تقریربیان شوې دې چه د خپل قوم د ټولو اعتراضونو اوریدو نه پس ئې ورته په کښې څه اصولی هدایات داسې ورکړي وو چه د پیغمبرئ د پاره هغه څیزونه ضروری نه دی کوم چه تاسو ئې ضروری ګرځوې.

مثلاً رومبې ئې داسې اوفرمائیل ﴿وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ﴾ زه درته دا نه وایم چه د الله تعالی خزانې ما سره دی، دا جواب وو د دوی د هغه خبرې چه پیغمبر سره خزانې په کار دی چه خلقو ته ترې ورکړه کوی، ولې چه د پیغمبر کار دا نه وی چه خلق د دنیا په ساز و سامان کښې اوښخلوی.

دې سره د بعضې خلقو د دې خیال رد هم کیدې شی چه ګنی پیغمبران علیهم السلام څه چه اولیاء رحمهم الله ته هم الله تعالی دا مکمل اختیارات ورکړي دی چه د الله تعالی د قدرت خزانې د دوی په لاس کښې وی، په خپله خوښه ئې چا ته ورکوی او چا ته ئې نه ورکوی، په دې شان د نوح علیه السلام د ارشاد نه دا واضحه شوه چه الله تعالی د خپلو خزانو مکمل اختیار هیڅ یو نبی ته نه دې سپارلې اولیاء رحمهم الله ته به ئې څنګه سپارلې وی، البته الله تعالی د دوی دعاګانې او خواهشونه په خپل قدرت سره پوره کوی.

بل ئې داسې اوفرمائیل ﴿وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ د دغې جاهلانو دا خیال هم وو چه پیغمبر دې عالم الغیب هم وی، نو دې جملې دا واضحه کړه چه علم غیب د رسول او پیغمبر صفت ځکه نه شی کیدې چه دا د الله تعالی یو خاص صفت دې البته الله تعالی چه کوم پیغمبر ته اوغواړي نو د غیبو په رازونو ئې خبرداره کوی، خو په دغه وجه ورته عالم الغیب نه شی وئیلې ځکه چه د دوی هر یو د غیب راز په خپله خوښه نه شی معلومولې.

---

(۱) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة: ج ۹، ص ۲۳، ۲۲

دریمه خبره ئې دا اوفرمائیله ﴿وَلَآ اَقُوۡلُ اِنِّیۡ مَلَكٌ﴾ [زه درته دا نه وایم چه زه فرشته یم] په دې کښې د دوی د دې خیال رد اوشو چه رسول دې فرشته وی.
څلورمه خبره ئې دا اوفرمائیله چه ستاسو په نظر کښې کوم غریبانان چه سپک او ذلیله راخی نو ستاسو په شان خو زه نه شم وئیلې چه الله تعالی به دوی ته څه خیر نښیکړه ورنه کړی ځکه چه خبردار شې چه د خیر ښیګړې تعلق د مال او دولت سره نه دې بلکه د انسان زړه سره دا تعلق لری او د زړونو په حال الله تعالی خبر دې چه د چا زړه د خیر او د اصلاح قابل دې او د چا زړه د دې قابل نه دې. بیا ئې اوفرمائیل چه ستاسو په شان که دوی ته زه هم سپک اوذلیل وایم نو په ظالمانو کښې به شمار شم.

وَاُوۡحِیَ ‏ اِلٰی نُوۡحٍ ‏ اَنَّهٗ ‏ لَنۡ یُّؤۡمِنَ ‏ مِنۡ قَوۡمِكَ
او وحی اوکړې شوه | نوح ته | چې بیشکه | هرګز به ایمان رانوړی نور څوك | د قوم ستانه
او حضرت نوح ﷺ ته وحی کړې شوې وه | چې ستا په قوم کښې چې چا ایمان راوړې دې
اِلَّا مَنۡ ‏ قَدۡ اٰمَنَ ‏ فَلَا تَبۡتَئِسۡ ‏ بِمَا كَانُوۡا یَفۡعَلُوۡنَ ۝
مګر | هغه څوك | چې ایمان ئې راوړې دې | نو ته مه غمژن کیږه | په وجه د هغه کارونو چې دوی ئې کوی
هغه راوړو | اوس په کښې بل هیڅوک ایمان نهٔ راوړی | نو تهٔ د دوئ په کارونو هیڅ غم مهٔ کوه
وَاصۡنَعِ ‏ الۡفُلۡكَ ‏ بِاَعۡیُنِنَا ‏ وَوَحۡیِنَا ‏ وَلَا تُخَاطِبۡنِیۡ
اوجوړه کړه | بیړئ | په نګرانئ زمونږ کښې | اومطابق د وحی زمونږ | اومهٔ کوه خبرې زما سره
اوزمونږ په نګرانئ کښې کشتئ جوړه کړه | اوزمونږ په حکم ئې جوړه کړه | اوماسره د ظالمانو په
فِی الَّذِیۡنَ ‏ ظَلَمُوۡا ‏ اِنَّهُمۡ ‏ مُّغۡرَقُوۡنَ ۝ ‏ وَیَصۡنَعُ
په حق د هغه کسانو کښې | چې ظلم ئې کړې دې | بیشکه دوئ | ډوبیدونکی دی | او جوړوله هغه
باره کښې خبره مهٔ کوه |.........دوئ به خواه مخواه ډوبیږی | اوهغه به بیړئ جوړوله | اوهرکله چې دقوم
الۡفُلۡكَ ‏ وَكُلَّمَا ‏ مَرَّ ‏ عَلَیۡهِ ‏ مَلَاٌ ‏ مِّنۡ قَوۡمِهٖ ‏ سَخِرُوۡا
بیړئ | او هر کله چې به | تیریدل | په هغه باندې | سرداران | دقوم دهغه نه | نو توقې به ئې کولې
سرداران به ئې په خوا کښې تیریدل | نو توقې به ئې ورپورې کولې | هغه به ورته اووئیل
مِنۡهُ ‏ قَالَ ‏ اِنۡ تَسۡخَرُوۡا ‏ مِنَّا ‏ فَاِنَّا ‏ نَسۡخَرُ ‏ مِنۡكُمۡ
په هغه پورې | اووئیل نوح | که تاسوتوقې کوئ | په مونږپورې | نو مونږه به توقې اوکړو | په تاسو پورې
که تاسو مونږ پورې توقې کوئ | نو مونږ به تاسو پورې توقې اوکړو | لکه چې تاسو
كَمَا ‏ تَسۡخَرُوۡنَ ۝ ‏ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ‏ مَنۡ ‏ یَّاۡتِیۡهِ ‏ عَذَابٌ
لکه څنګه چې | تاسوتوقې کوئ | نو زر به معلوم شی تاسوته | هغه څوك | چې رابشی هغه ته | عذاب
په مونږ پورې توقې کوئ | ډیر زر به درته معلومه شی چې په چا باندې شرمونکې عذاب رازی

Scanned with Ca

يُخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٣٩﴾ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ

چې رسوا به کړي هغه |او نازلیږي | په هغه باندې| عذاب |همیشه | تردې پورې | کله چې راغې

او په چاباندې دهمیش عذاب نازلیږي |.................. [داخبرې کیدې] تر دې چې زمونږ حکم

اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ

حکم زمونږ| او راوخوټکیدو | تنور | نو اووئیل مونږه | سوارۀ کړه |په دې کښې | دهر قسم ځناور نه

راغلو | او د زمکې نه اوبه راووتلې | نومونږ ورته اووئیل چې په دې کښې دهر قسم ځناورو نه

زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ

جوړې[نر او ماده]| دوه |او د کور خلق خپل |مګر[مۀ سورووه]|هغه څوك | چې وړاندې تیره شوې ده

یوه یوه جوړه یعنې دوه دوه اوخیژوه| اودخپل کور خلق هم مګر [هغه نه] دچا په حقله چې فیصله شوې

عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ؕ وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗٓ

په هغه باندې| خبره |وسواره کړه هغه څوك|چې ایمان ئې راوړې دې|اونۀ وۀ راوړې ایمان|دهغه سره

ده| اونور مسلمانان[هم په کښې کښینوه]| اوهغه سره ډیرو لږ وکسانو ایمان راوړې وو..............

اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿٤٠﴾

مګر | لږو خلقو |

آسان ترجمه قرآن

او نوح ته وحې وکړې شوه چې ستا د قوم نه چې اوس پورې چا ایمان راوړې دې، دهغې نه سوا نور څوك به ایمان نه راوړي نو کوم حرکتونه چې دا خلق کوي په هغې مه خفه کیږه. او څمونږ په نګرانۍ کښې او څمونږ د وحې په مدد سره کشتۍ جوړه کړه او څوك چې ظالمان دي د هغوی په باره کښې ماسره څه خبره مه کوه، اوس دوی غرقیدونکي دي. نو هغه کشتۍ جوړوله او کله چې به هم د هغه د قوم سرداران په هغه باندې تیریدل نو د هغه سره به ئې ټوقې کولې نوح علیه السلام ووئیل چې: که تاسو مونږ پورې خاندئ نو مونږ به هم داسې وخاندو تاسو پورې لکه چې تاسو خاندئ او ډیر زر به تاسو ته پته ولګي چې په چا به داسې عذاب راځي چې هغه لره به رسوا کړي، او په چا داسې قهر نازلیدونکي دې چې هغه به چرې هم لرې نه شي. تر دې چې څمونږ حکم راغې او تنور جوش ووهلو نو مونږ (نوح علیه السلام ته) ووئیل چې: دې کشتۍ کښې د هر قسم ځناورو نه دوه دوه جوړې سورې کړه او ستا د کور والو نه چې دچا په باره کښې دمخکښې نه وئیلي شوي دي (چې د کفر د وجې نه به دوی غرقیږي) د هغوی نه علاوه باقي کور والا هم او څومره کسانو چې ایمان راوړې دې هغوی لره هم (خپل ځان سره واخله) او ډیر لږ کسان وو چې هغوی ایمان دده سره راوړې وو.

خلاصه تفسیر:

﴿وَاُوْحِيَ اِلٰى نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۚ﴾ او [کله چې به نصیحت کولو کښې ډیره زمانه تیره شوه او هیڅ اثرېږي ونشو نو] نوح [علیه السلام] ته وحې ولیږلې شوه

Scanned with Ca

چه غیر دهغونه چه[تراوسه]ایمان ئی راوړی دی بل یو[نوی]کس به ستاسودقوم نه ایمان نه راوړي نوڅه چه داخلق [کفر،زیان رسول اوخنداګانی درپوری]کوي په دې هیڅ غم مکوئ [ځکه چه خفګان خوخلق په هغه ښکاره کوي چه دتوقع خلاف څه راپیښ شی هرکله چه ددوی نه دبل څه طمع غیرددی نه نشوه کیدې نوبیا غم ولی وشی ؟[او[هرکله چه زمونږاراده اوس ددوی دغرقولوده اودی لپاره طوفان راروان دی،پس].

﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ﴾ تاسو[دی طوفان نه دبچ کیدولپاره]زمونږپه نګرانئ کښی اوزمونږپه حکم سره کشتئ تیاره کړئ [چه دهغې په زریعه به تاسواومومنان دطوفان نه محفوظ پاتې شئ]او[داواورئ چه]ماسره دکافرانو[دخلاصئ]په باره کښی هیڅ خبره مکوئ [ځکه چه]دوی به ټول غرقولی شي دوی لپاره په یقیني ډول داتاکلی شوی دي نودوی لپاره سفارش کول به بیکاره وي .

﴿وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ﴾ غرض داچه نوح [علیه السلام]دکشتئ جوړولوسامان راجمع کړو]اوکشتئ تیارول ئی شروع کړل [بخپله یاپه نوروترکاناًنو]او[پدغی دوران کښی]کله به چه ددوی دقوم څنی څوك سردارټولی په دوی تیریدونو[چه په کشتئ جوړولوبه ئی ولیدواوداخبره ئی تری واوریده چه طوفان راتلونکی دی]اوربوری به ئی خنداکوله [چه ګورئ د ابوخوچرته نوم نشان نشته هسې ځان په عذابوي]ده وویل چه که تاسومونږپوري خنداکوئ نومونږ به په تاسوپوري خاندوځکه چه تاسوپه مونږ پورې خاندئ [چه عذاب داسی نژدی راغلی دی اوتاسوخنداګانی کوئ،مونږبدی پوري خاندو .

﴿فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ﴾ پس اوس به تاسو ته معلومه شی چه هغه څوك سړی دی چه په هغه [په دنیاکښی]داسی عذاب راځی کوم چه ده لره رسواکوي او [دمرګ نه پس]په ده دائمي عذاب نازلیږي [غرض داسی خبری اومعاملي کیدی].

﴿حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ﴾ تردی چه کله خمونږحکم [دعذاب نژدی] راورسیدواودځمکي نه اوبه خوټکیدل شروع شواودانښه وه دطوفان دشروع کیدو اودپاس ته اوبه وریدل شروع شوی .

﴿قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ ۚ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ دغه وخت]مونږ[نوح علیه السلام ته]وفرمائل چه دهرقسم [څناورو]نه[کوم چه دانسان لپاره پکارراځي اوپه اوبوکښی ژوندي نشی پاتي کیدې شی]یویونراویویوماده یعنی دوه دوه پدي [کشتئ]کښی سواره کړه اوخپل کوروالاهم[سواره کړه]غیردهغونه په کوموچه [دغرقیدو] حکم نافذشویدی [یعنی پدوی کښی چه کوم کافران وي دکوموپه باره کښی چه ﴿إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ﴾ویلی شوی دی دوی مه سوروه اودکوروالونه علاوه]نوروایماندارولره هم [سواره کړه] اوبغیردلږوخلقونه دده سره نورهیچا ایمان نه وو راوړی [پس هم ددغودسورولوحکم وشو].

معارف او مسائل

حضرت نوح علیه السلام ته الله تعالی زر کاله اوږد عمر ورکړو،دې سره سره ورته الله تعالی د بلنې ورکولو د قوم د اصلاح کولو او د پیغمبرۍ کوشش کولو دا درجه ورکړه چه د عمر په دې اوږده موده کښې به ئې همیشه د پاره خپل قوم ته د دین او د توحید د کلمې بلنه ورکوله،قوم نه ورته سخت زیانونه راپیښ شو ،قوم به په کاڼو ویشتو سره بې هوشه کړو چه په خود به شو

Scanned with Ca

نو دا دعا به ئې کوله چه یا الله؛ زما قوم معاف کړې دوی بیوقوفان دي، جاهلان دي، نه پوهیږي، د قوم ړومبې نسل پسې دویم او دویم پسې دریم نسل ته ئې په مخه په دې امید بلنه ورکوله چه شاید حق قبول کړي، چه په دې حالت په سوونو کالونه تیر شو نو هغسې شکایت ئې اوکړو کوم چه په سورت نوح کښې داسې راغلې دې؛
﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ۝ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاءِي إِلَّا فِرَارًا ۝﴾ او د دومره اوږدو مصیبتونو نه پس هم د دې خدائي بنده په خله باندې دا دعا راغله؛ ﴿رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ۝﴾ [اې زما پروردګاره د دوی د دروغژن بللو په مقابله کښې زما امداد اوکړې]
د حضرت نوح ﷺ د قوم ظلم چه د حد نه تیر شو نو الله تعالی نوح ﷺ په هغې آیتونو سره مخاطب کړو چه کوم پورته ذکر شوي دي [بغوي، مظهري] ([1])
په دې کښې اول حضرت نوح ﷺ ته اوښولې شو چه د چا ایمان راوړل وو هغوی ایمان راوړو اوس به بل څوک ایمان قبول نه کړي، د هغوی په زړونو باندې د نارامې او د سرکشۍ په وجه مهرلګیدلې دې، څکه تاسو اوس غم مه کوئ او د دوی په ایمان نه قبلولو باندې مه پریشانه کیږئ.
دویمه خبره ورته دا اوښودلې شوه چه اوس مونږ په دې قوم باندې د اوبو د طوفان عذاب راوستونکی یو څکه تاسو یوه کشتئ تیاره کړئ چه په کښې ستاسو د کور ټول خلق او ټول مسلمانان سره د خپلو ضروریاتو نه ځاې شي، د پاره د دې چه د طوفان په وخت په دې کښې سوریدو سره خلاص شي، حضرت نوح ﷺ د حکم مطابق کشتۍ جوړه کړه، بیا کله چه د طوفان ابتدائي نخښې ښنانې مخې ته راغلې، یعنې زمکې نه اوبه راخوټکیدل شروع شوې نوح ﷺ ته حکم ورکړې شو چه پخپله سره د خپل بال بچ او د هغې خلقو نه چه په تاسو ئې ایمان راوړې دې په دې کشتئ کښې سواره شئ او کومو ځاروو ته چه د انسان ضرورت پیښیږي د هغې یوه یوه جوړه هم ځان سره کشتۍ کښې سواره کړئ لکه غوا، چیلۍ، اس، خر وغیره د دې هم یوه یوه جوړه په کشتئ کښې سواره کړې، حضرت نوح ﷺ هم هغسې اوکړل څنګه چه ورته حکم شوې وو.
په آخر کښې فرمائي چه په نوح ﷺ باندې ایمان راوړونکي او مسلمانان په شمیر کښې ډیر کم وو چه ورسره په کشتۍ کښې سواره شوې وو.
دا خلاصه د هغې مضمون شوه کوم چه په دې آیتونو کښې بیان شوې دې، اوس د هر آیت د مفهوم تشریح او هغې سره تړلې مضمونونه او مسئلې اوګورئ.
په ړومبي آیت کښې فرمائي چه د چا ایمان راوړل وو هغوی ایمان راوړو دې نه پس به نور څوک ایمان نه راوړي څکه تاسو د دوی په نامناسبه رویه باندې غم مه کوئ ولې چه غم خو په هغه څه کولې شي چه د سمیدو او کامیابئ امید ئې کولې شي او بیا دغسې او نه شي، لهذا تاسو د دوی نه نا امیده شئ ولې چه نا امیدي هم یو قسم آرام وي، د دوی د زیاتونو نه چه کوم حضرت نوح ﷺ ته اورسیدو د هغې انتظام ته په دویم آیت کښې داسې اشاره اوکړې شوه چه دوی به د اوبو په طوفان کښې غرق کړې شي په داسې حالاتو کښې د حضرت نوح ﷺ په خله یو ښیره راغلله چه په سورت نوح کښې داسې راغلې ده؛
﴿وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ۝ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ۝﴾

[1]) تفسیر البغوي تحت هٰذه الآیة: ج۲، ص ۱۸۳، والتفسیر المظهري تحت هٰذه الآیة: ج۵، ص ۸۲

Scanned with Ca

[يعنى اې زما پروردګاره اوس د دې کافرانو نه څوک هم په زمکه باندې آباد پرې نه ږدې ځکه که پرې ئې ږدې نو د دوى آئنده نسل به هم دغسې سرکشان او فاجران کافران وى]د دې ښيرې په قبليدو سره د نوح ﷺ ټول قوم په طوفان کښې غرق شو.

حضرت نوح ﷺ ته د کشتئ جوړولو تعليم: کله چه حضرت نوح ﷺ ته د کشتئ جوړولو حکم ورکړې شو نو هغوى دغه وخت نه کشتې پيژندله او نه ئې په جوړولو پوهيدلو ځکه په دويم آيت کښې ئې د نوح ﷺ د کشتې جوړولو حقيقت داسې بيان کړو ﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا﴾ [يعنى تاسو زمونږ په نګرانۍ او زمونږ د وحى مطابق کشتئ جوړه کړې]

په حديث شريف کښې راغلې دى چه جبرائيل ﷺ حضرت نوح ﷺ ته د وحى په ذريعه د کشتئ جوړولو ټول ضروريات او طريقه اوښودله، نوح ﷺ د سال[ساج]لرګى نه دغه کشتئ تياره کړه، په بعضې تاريخى روايتونو کښې د دې پيمائش داسې ښودلې شوې دې، اوږد والې ئې درې سوه ګزه وو، پنځوس ګزه پلن والې، ديرش ګزه لوړ والې او درې چتې جهاز وو، د رواج مطابق په کښې ښې او ګس اړخ (۱) ته روشن دانونه خلاصيدل د جهاز جوړولو دا کاريګرى د خدائى وحى په ذريعه د ټولو نه ړومبې د حضرت نوح ﷺ په لاس شروع شوه چه وخت په کښې ترقى جارى ده.

د ټولو ضرورى کاريګريانو شروع د وحى په ذريعه شوې ده: د حافظ شمس الدين ذهبى رحمه الله په [الطب النبوى] کښې د بعضې پخوانو بزرګانو نه نقل شوې دى چه انسان د پاره د څومره کاريګريانو چه ضرورت دې د هغې ټولو شروع د وحى په ذريعه د يو پيغمبر ﷺ په واسطه سره په عمل کښې راغلې ده، بيا د ضرورت مطابق په کښې اضافې او اسانې په مختلفو زمانو کښې هم داسې کيدې، د ټولو نه ړومبې پيغمبر آدم ﷺ ته چې کومه وحى راغلى وه هغې زياته حصه د کروندې په باره کښې وه، او مختلفو کاريګريانو سره تړون لرى، د ښيتى پورته کولو د پاره د پايو په ذريعه د چليدونکى ګاډى ايجاد هم د دې سلسلې يوه کړې ده.

د على ګړه بانى سرسيد صاحب څه ښه وئيلې دى چه زمانې قسماقسم ګاډى ايجاد کړل خو د هر قسم ګاډى مدار هم په درو او پايو باندې دې، که هغه د غوايانو ګاډى دى، که خرګاډى دى، د اور ګاډى دى او که اعلى قسم موټر ګاډى دى، په دې بنياد د ټولو نه اول او ايجاد کونکې د ګاډو هغه څوک دې چا چه پايه ايجاد کړه ولې چه د ټولې دنيا د مشينرئ روح هم پايه ده، معلومه شوه چه دا ايجاد د ټولو نه اول حضرت آدم ﷺ د وحى په ذريعه کړې دې.

دې نه معلومه شوه چه د ضرورى څيزونو کاريګرى دومره ضرورى ده چه د وحى په ذريعه پيغمبرانو ﷺ ته ښودلې شوې ده.

حضرت نوح ﷺ ته چه د کشتئ جوړولو هدايت ورکړې شو نو ورته ئې دا هم اوفرمائيل چه ستاسو قوم کله چه په طوفان غرقيږى نو زړه وربانديې مه سيزې او سفارش ئې مه کوې.

په دريم آيت کښې دا بيان راغلې دې چه د کشتئ جوړولو په زمانه کښې د حضرت نوح ﷺ قوم بيا هم غافله وو او د خپل خراب انجام هيڅ فکر ئې نه لرلو، چنانچه نوح ﷺ کله چه په کشتئ جوړولو کښې مصروف وو نو د قوم سرداران به چه ورغلل ورته به ئې وئيل چه څه کوې؟

(۱) تفسير ابن كثير تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۴۴۸

نوح ﷺ به ورته فرمائيل چه طوفان راروان دې څکه کشتي جوړوم، په دې آوريدو به هغوی ورپورې خندا کاني او ټوقې شروع کړې وئيل به ئې چه دلته خو د څکلو د اوبو قاطی ده، د کشتي چلولو به څه صورت کيدې شی؟ حضرت نوح ﷺ به ورته اوفرمائيل چه [که نن راپورې تاسو ټوقې کوې نوياد لرې چه يوورځ داسې هم را روانه ده چه مونږ به درپورې ټوقې کوو، مراد دادې چه داسې حالات به پيداشی چې بيا به تاسو لائق د استهزاء شې، ولې چه په حقيقت کښې چا پورې خندا کول او ټوقې کول د پيغمبرانو ﷺ شان سره نه ښائی، هيچا لره دا نه روا کيږی بلکه حرام دی، لکه قرآن کريم کښې الله تعالی فرمائی ﴿لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ﴾ [يعنی هيڅوک دې بل چا پورې ټوقې نه کوی کيدې شی چه هغه د دغې ټوقې کوونکی نه غوره وی] په دې وجه دلته د ټوقو کولو نه مراد د هغوی د ټوقو کولو عملی جواب داسې دې چه کله تاسو په عذاب کښې راګير شې نو مونږ به درته اوښايو چه دا دې ستاسو د ټوقو انجام لکه چه وريسې په څلورم آيت کښې فرمائی [زر به تاسو ته معلومه شی چه په چا باندې داسې عذاب راتلونکې دې چه هغه رسوا کوی او په چا به دائمی عذاب وی؟] رومبی عذاب نه مراد د دنيا عذاب دې او د عذاب مقيم نه مراد د آخرت دائمی عذاب دې.

پنځم آيت کښې د طوفان شروع کيدل بيان شوی دی، او په دې باره کښې د هداياتو او واقعاتو سلسله شروع شوې ده لکه فرمائی ﴿حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ﴾ [يعنی کله چه زمونږ حکم راورسيدو او تنور نه اوبه راختکيدل شروع شو].

د تنور لفظ د ګڼرو معنو د پاره استعماليږی، د زمکې مخ ته هم تنور وئيلې شی، د روټې پخولو تنور ته هم تنور وئيلې شی، د زمکې لوړې برخې ته هم تنور وئيلې شی، په دې وجه د تفسير بعضې امامانو فرمائيلې دی چه دلته د تنور نه مراد مخ د زمکې دې چه اوبه ترې راوختکيدې، بعضو ترې د حضرت آدم ﷺ تنور مراد اخستې دې چه د شام ملک کښې په [عين ورده] مقام کښې وو، چه په هغې کښې اوبه راختکيدل شروع شو، بعضو ترې د حضرت نوح ﷺ خپل تنور مراد اخستې دې چه په کوفه کښې وو، چنانچه اکثرو مفسرينو ﷺ، حضرت حسن، مجاهد، شعبی ﷺ او حضرت عبدالله بن عباس ﷺ هم دا غوره کړې ده.

حضرت شعبی ﷺ خو به په قسم سره وئيل چه دا تنور د کوفې ښار په يو ګټ کښې وو او دا چه حضرت نوح ﷺ خپله کشتئ د کوفې په جومات کښې دننه جوړه کړې وه او تنور د دغې جومات په دروازه کښې وو.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائيلې دی چه الله تعالی حضرت نوح ﷺ ته فرمائيلې وو چه کله ستاسو د کور د تنور نه اوبه راختکيدل شروع شی نو پوهه شه چه طوفان راغلو [قرطبی و مظهری] (١).

مفسر قرطبی ﷺ فرمائيلې دی چه اګر که د تنور په معنی کښې د مفسرينو ﷺ اقوال مختلف دی مګر په حقيقت کښې هيڅ اختلاف نشته، مطلب دا چه د طوفان اوبه د روټې پخولو د تنور نه هم راختکيدل شروع شو، د مخ د زمکې نه هم راختکيدل شروع شو، د شام ملک د عين

(١) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۳۲، ۳۳، والتفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۸۲، وتفسير البغوی تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۱۸۲

الوردة د تنور نه هم اوبه راختېكېدل شروع شو لكه چه قرآن كريم هم فرمائي ﴿فَفَتَحْنَآ أَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا﴾ [يعنى مونږ د آسمان دروازې د شيبو د باران د پاره پرانيستې شوې او د زمكې د هر ځاې نه چينې راختېكېدل شروع شو.

امام شعبي رحمه الله په خپل بيان كښې فرمائيلې دي چه د مسجد حرام، مسجد نبوي او مسجد اقصى نه پس د كوفې هغه ځلورم جومات دې چه امتيازي [خصوصي] شان لري.

وړپسې فرمائي؛ ﴿قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ﴾ [چه كله طوفان شروع شو نو حضرت نوح عليه السلام ته حكم اوكړې شو چه په دغې كشتۍ كښې هر قسم ځناور جوړه جوړه سواره كړه].

دې نه معلومه شوه چه په كشتۍ كښې د ټولې دنيا ځناور نه وو سواره كړې شوي بلكه يواځې هغه ځاروى په كښې سواره كړې شوې وو چه د نر ښځې د جوړه كېدو نه پيدا كيږي، او په اوبو كښې ژوندې نه شي پاتې كېدې په دې بنا دريابي ځناور دې نه اووتل او د اوچې هغه ځناور ترې هم اووتل چه بې د نر او ښځې د جوړه كېدو نه پيدا كيږي لكه د زمكې چينجي وغيره شو، په دې كښې صرف هغه ځناور ورداخل شو چه خلق ئې پالى لكه غوا، مېښه، چېلې گډه وغيره شو.

دې سره هغه شبه لرې شوه چه په سرسري نظر سره داسې پيدا كيدې شوه چه په كشتۍ كښې د ټولې دنيا ځناور څنگه راجمع كيدې شو؟ دومره زيات ځاې په كښې چرته وو؟

بيا حضرت نوح عليه السلام ته فرمائي؛ [چه تاسو د خپل كور خلق سوا د هغو نه په كشتۍ كښې سواره كړئ چه په كفر باندې دي، او ټول هغه خلق هم سواره كړئ چه په تاسو ئې ايمان راوړې دې، خو د ايمان راوړونكو شمير ډير كم دې.

د كشتۍ والو صحيح شمير په قرآن او حديث كښې نه دې ټاكلې شوې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه منقول دي چه دغه ټول اتيا كسان وو، په دې كښې د حضرت نوح عليه السلام درې ځامن سام، حام، يافث، او د هغوى درې بيبيانې وې، څلورم ځوې ئې د كافرانو سره پاتې شو او طوفان كښې غرق شو.(1)

وَقَالَ	ارْكَبُوا	فِيهَا	بِسْمِ اللَّهِ	مَجْرٰهَا	
او اووئيل نوح	سواره شئ	په دې كښې	په نوم د الله دى	روانيدل ددې	
او هغه اووئيل	په دې كښې سواره شئ	د الله ﷻ په نوم	ددې روانيدل او		
وَمُرْسٰهَا	إِنَّ	رَبِّي	لَغَفُورٌ	رَّحِيمٌ ۝	وَهِيَ تَجْرِي
اوودريدل ددې	بيشكه	رب زما	خامخا بښونكې دې	رحم كونكې دې	او هغه روانه وه او رلېږي هغو لره
اودريدل دى	بيشكه زما پروردگار بښونكې مهربان دې				او بيړۍ هغوئ دغرونو په شان دنگو چپو
بِهِمْ	فِي مَوْجٍ	كَالْجِبَالِ	وَنَادٰى	نُوحٌ	ابْنَهُ وَكَانَ
چې هغوى په كښې وو	په داسې چپو كښې	اچې وې پشان دغرونو	او آواز اوكړو	نوح	اخوى خپل ته او وو هغه
كښې روان كړل	او حضرت نوح عليه السلام خپل ځوئ ته آواز اوكړو				او هغه يو طرفته ولاړ ووا چې

1) تفسير البغوي تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۱۷۷

Scanned with Ca

فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

په غاړه | اې زما خویه | سور شه | زمونږ سره | اومه کیږه ته | دکافرانو سره

اني زما [خوږه] بچیه مونږ سره راسور شه .... | او کافرو سره مه پاتې کیږه

قَالَ سَاٰوِيْٓ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ ؕ قَالَ

اووئیل هغه | زه به پناه اونیسم | یو غرته | چې بچ به کړی ما | د اوبو نه | اووئیل نوح

هغه [په جواب کښې] اووئیل چې زه به اوس یو غرته اوخیژم [چې دسیلاب داوبو نه به مې بچ کړی] هغه [نوح ﷺ]

لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ

نشته بچ کیدونکې | نن ورځ | دحکم دالله نه | مگر په چا چې | رحم اوکړی هغه | او حائله شوه

ورته اووئیل | چې نن هیڅوک دالله ﷻ د حکم [عذاب] نه بچ کیدونکې نشته | مگر الله چې پخپله په

بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ۝ وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ

په منځ د دواړو کښې | چپه | نو شو هغه | د ډوبیدونکو څخه | او اووئیلې شو | اې زمکې

چا رحم اوکړی | په دې کښې د دواړو ترمینځه یوه چپه راوچته شوه | نو هغه ډوبیدونکو کښې شامل شو

ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ

راکاږه | اوبه خپلې | او اې آسمانه | بندشه | او کمې شوې | اوبه | او اوشوه

اوحکم اوشوچې اې زمکې خپلې اوبه راکاږه | او اې اسمانه بس شه | نو اوبه کمې شوې | او کار پوره

الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝

فیصله | او ودریده بیړئ | په جودی باندې | او اووئیلې شو | لرې والې دې وی | دپاره دقوم | ظالم

شو | او بیړئ په جودی [نومې غر] باندې اودریده | او اووئیلې شو چې ظالمان خلق [د رحمت نه] لرې

آسان ترجمه قرآن

او نوح (دې ټولو ته) ووئیل چه: دې کشتۍ کښې سواره شئ. ددې روانیدل هم دالله د نوم په امداد سره دي او ودریدل هم. یقین وکړئ چه زما پروردګار ډیر بخونکې، ډیر مهربان دې. او هغه کشتۍ د غرونو پشان د چپو په مینځ کښې روانه وه او نوح خپل ځوئ ته چه د ټولو نه جدا وو، آواز ورکړو چه: اې ځویه! مونږ سره سور شه او د کافرانو نه مه کیږه هغه ووئیل چه ځه به اوس په یو غر کښې پناه واخلم چه ما به د اوبو نه بچ کړي. نوح (علیه السلام) ووئیل چه نن ورځې دالله د عذاب نه څوک بچ کونکې نشته، سوا د هغه چا نه چه هغه باندې الله رحم وکړي. دې نه وروستو د هغوی په مینځ کښې چپه راغله او هغه هم ډوبیدونکو کښې شامل شو. او حکم وشو چه اې زمکې! خپلې اوبه اوچې کړه او اې آسمانه! اودریږه! او اوبه کوځې شوې، او ټول کار پوره شو او کشتۍ په جودی غر باندې اودریده او ووئیلې شو چه تباهي ده هغه قوم لره چه هغه ظالم وي!

خلاصه تفسير:

﴿ وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرٰهَا وَمُرْسٰهَا ۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ او [نوح علیه السلام تولوخناوررولره سواره کړه خپلوتابعدارانوته ئې] وفرمائل چه [راشئ] پدې کشتئ کښې سواره شئ [اودغرقيدونه مه ويريږئ ځکه چه] ددې تلل اوودريدل[تول] دالله په نوم سره دي [اوهغه ددې حفاظت کوونکی دی نوبيا ويره ولې وکړې شي اواګرچه دبندګانوګناهونه تقاضی دغرقيدوکوي مګر]په يقين سره ځمارب غفوردی رحيم دی [هغه پخپل رحمت سره ګناه بخښي اوحفاظت هم کوي ،.

﴿ وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ ﴾ غرض داچه تول په کشتئ کښې سواره شو. دې مينځ کښې اوبه زياتي شوې] اودغې کشتئ دوی واخيستل دغره پشان چپوکښې روانه شوه او[نوح علیه السلام]خپل [يوسکه ياميرنی] زوی ته [چه کنعان نوميده اوباوجود د پوهولو ئې ايمان نه وو راوړی اوپه ده دايمان نه راوړوپه وجه په کشتئ کښې نه ووس ورکړې شوی دغه وخت کشتئ غاړی ته نژدې وه اودی دغلته موجود وو په طوردآخري دعوت ئې ورته آوازوکړو]اوهغه[دکشتئ نه] په جدامقام ووچه ای ځماخوږه ځويه[په کشتئ کښې دسوريدوشرط چه ايمان دی زرپوره کړه] زمونږسره سورشه او[په عقيده کښې] دکافرانوسره مه کيږه[يعنی کفرپريږده چه دغرقيدونه بچ شې].

﴿ قَالَ سَآوِي إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ ۚ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَ ﴾ هغه ووېل چه زه به اوس غرته وخيژم چه مابه [دغرقيدو]نه بچ کړي [ځکه چه دغه وخت د طوفان ابتداء او شروع وه دغرنوسرونوته اوبه نه وې رسيدلی]نوح[علیه السلام]وفرمائل چه نن دالله دقهرنه څوك بچ کونکی نشته [نه غراونه بل څه] ليکن په چاچه هغه رحم وکړی [نوهغه به پخپله بچ کړي ، خو کنعان داوخت هم ايمان رانه وړواواوبه په شورزورسره دی طرف ته زياتی شوی] .

﴿وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ ﴾ اوددواړو [پلارځوی] ترمنځ چپه حائله شوه نوهغه [هم دنوروکافرانوپه مثل] غرق شو.

﴿ وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ ﴾او[هرکله چه کافران تول غرق شول نو]حکم وشوچه ای ځمکی خپلی اوبه[کومی چه ستاپه سطح موجودی دي] تيري کړه اوای آسمانه[دوريدونه] بندشه [ځنو دواړه کارونه وشو] اواوبه ختمې شوی او قصه ختمه شوه کشتئ په جودی [غره] باندې باندې راغله ودريده.

﴿وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴾ او اووئيلې شوچه کافران خلق درحمت نه لري دي.

معارف او مسائل

په کشتئ کښې او په نورو سورلو باندې د سوريدو طريقه: د دې آيتونو نه په ړومبی آيت کښې د کشتئ يا په نورو سورلو باندې د سوريدو طريقې په دې شان ښودلې شوې دی چه﴿بِسْمِ اللَّهِ مَجْرٰهَا وَمُرْسٰهَا﴾ اووئيلو سره د سوريږی د[مجری]معنی جاری کيدل او روانيدل دی او د[مرسی]معنی ايساريدل دی،د دې تولې جملې معنی دا شوه چه د دې کشتئ او د سورلو تلل هم د الله تعالی په قدرت او د هغه په نوم سره دی او اودريدل او ايساريدل ئې هم د هغه د قدرت تابع دی.

د هرې سورلې روانيدل او اودريدل صرف د الله تعالی په قدرت سره دی: که انسان د معمولی غور او فکر نه کار واخلی نو ورته به معلومه شی چه د کشتئ يا د وچې د نورو سورلو پيدا کول او جوړول

Scanned with Ca

د ده په قدرت کښې نشته او نه ئې د دې روانول او اودرول د ده په لاس کښې دی، انسان په سرسری نظر سره دا ګنړی چه د دې جوړول او ورانول زما په لاس کښې دی؛ خو په حقیقت کښې انسان نه خو اوسپنه، لرګې، پیتل او المونیم پیدا کړې دی کومو نه چه دغه سورلۍ جوړیږی، او نه ئې د دې وس رسیږی چه یوه توله اوسپنه یا یو فټ لرګې پیدا کړې شی، بله خبره دا ده چه د دې څیزونو جوړولو د پاره عقل هم الله تعالی ورکړې دې انسان پخپله نه دې پیدا کړې، ولې چه د انسان که دا وس رسیدې نو په دنیا کښې به هیڅوک هم بې عقله او بې وقوفه نه وې پاتې شوې، هرڅوک به ارسطو او افلاطون جوړیدو، د کوم ځاې لرګې، د کوم ځاې اوسپنه او دکوم ځاې سامان او اوزار استعمالولو سره د شورلۍ ډهانچه هم جوړه شوه، اوس د دې د جوړیدو نه پس سره د دومره منونو او ټنونو بوج اوړلو او په زمکه د چلیدلو د پاره یا په هوا کښې د الوتلو د پاره چه د کوم طاقت ضرورت دې که هغه د پټرولو نه حاصلیږی او که د هوا او د اوبو په خپلو کښې د جنګیدو نه په برقی صورت کښې حاصل کړې شی، بهر حال د سوچ او فکر خبره دا ده چه په دې کښې کوم څیز انسان پیدا کړې دې؟ پټرول ئې پیدا کړې دې، هوا ئې پیدا کړې ده او که اوبه ئې پیدا کړې دی؟ او که په دې څیزونو کښې د آکسیجن یا د هائیډروجن طاقتونه ئې پیدا کړې دی ؟

په دې بنا که انسان یو پوټې قدرې هم د عقل نه کار واخلی نو د سائنسی ترقۍ په دې زمانه کښې به هم ورته خپله بې وسی او عاجزی په ډاګه مخې ته راشی او دې اقرار کولو ته به مجبوره شی چه د هرې سورلۍ روانیدل او اودریدل خالص د الله تعالی په قبضه کښې دی۔

غافله انسان هر کله چه د الله تعالی دا پیدا کړی څیزونه یو تر بله یو ځاې کړی په هغې کښې خپل تصرفات په کښې اوچلوی او هغه عقل په کښې استعمال کړی چه الله تعالی پیدا کړې دې، بیا هم دغه خپله سائنسی کارنامه ګنړی او اصلی حقیقت ئې د مخې نه په ځنګ شی، خو الله تعالی د خپلو پیغمبرانو په ذریعه د غفلت دغه پرده داسې څیرې کوی؛ ﴿بِسْمِ اللَّهِ مَجْرٖهَا وَمُرْسٰهَا﴾ او اصلی حقیقت ئې مخې ته کوی، په لیدلو کښې خو دا یو دوه لفظی فقره او جمله ده خو چه غور اوکړې شی نو دا په حقیقت کښې د هغې دروازې یوه کنجی ده چرته چه انسان په دې مادی دنیا کښې سره د اوسیدو نه د روحانی جهان استوګن شی او د کائناتو په ذره ذره کښې الله تعالی د جمال ننداره کوی، چنانچه هم په دې سره د مومن او د کافر د دنیا فرق ښه په ډاګه شی په سورلۍ خو دواړه سوریږی لیکن مومن په دې سره یواځې د دنیا مزل نه غوځوی بلکه عالم بالا نه هم آشنا کیږی۔

په دویم او دریم آیت کښې دا ښودلې شوې دی چه هر کله د حضرت نوح عليه السلام ټول اهل وعیال په کشتۍ کښې سواره شو نو په هغوی کښې کنعان نومې یو هلک د سوریدو نه ځکه پاتې شو چه پخپله هم کافر وو او کافرانو سره ئې تعلق هم وو، حضرت نوح عليه السلام ورته اواز اوکړو چه زمونږ کشتۍ ته راځه کافرانو سره مه کیږه ځکه چه غرق به شی، دا د پلار شفقت او زړه سواندی وه چه ورته ئې بلنه ورکړه او نصیحت ئې ورته اوکړو، وجه ئې دا وه چه حضرت نوح عليه السلام ته د ده د کافر کیدو یقینی علم نه وو، یا علم ورته وو خو هغه دا غوښتل چه توبه دې اوکړی او ایمان دې راوړی، کافرانو سره دې ملګرتیا پریږدی چه مونږ سره په کشتۍ کښې د سوریدو جوګه شی خو دغه وخت هم دغه بدبخت طوفان لره سرسری اوګنړلو او اوئې وئیل چه غم مه کوه په غر به

اوخیژم او طوفان نه به خلاص شم، حضرت نوح ﷺ ئې بیا هم مخه دې ته راوګرځوله چه نن هیڅ یو څیز چا کافر لره د الله تعالی د عذاب[طوفان]نه نشي خلاصولې، یواځې دا کیدې شي چه الله تعالی چا لره پخپله خلاص کړي، د دې دواړو[پلار، خوی]تر منځه دا خبره کیدله چه یو چپه د طوفان د دوی تر منځه شوه او ځوې ئې غرق کړو، د تاریخ په روایتونو کښې راغلې دي چه د دغې طوفان اوبه د غرونو د څوکو نه پنځلس یا څلویښتو ګزو پورې ختلې وې.

په څلورم آیت کښې د طوفان د ختمیدو او د حالاتو د سمیدو بیان داسې شوې دې؛ ﴿وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ﴾[الله تعالی اوفرمائیل؛اې زمکې ته خپلې اوبه تیرې کړه]مراد دا دې چه څومره اوبه چه زمکې نه بهر راوتلې وې هغه دې بیا خپل ځان کښې شکته کړي او د آسمان نه د نورو اوبو راوریدل بند شو، آسمان نه راوریدلې اوبه الله تعالی د دریابونو، نهرونو، او ولو په شکل یوخوا بل خوا او بهیولې چه انسان ترې فائده واخلي.[تفسیر قرطبي، مظهري][1]

په دې آیت کښې الله تعالی زمکې او اسمان ته حکم ورکړې دې حالانکه په ښکاره نظر کښې په دې څیزونو کښې څه شعور نشته، په دې بنا بعضې علماؤ ﷺ دې ته مجاز او استعاره وئیلې ده، خو حقیقت دا دې چه مونږ ته د دنیا څومره څیزونه بې شعوره ښکاري هغه د روح او شعور خاوندان دي، البته د هغوی شعور او پوهه د هغې درجې نه ده څنګه چه د انسان ده. هم دغه وجه ده چه دا د شعور خاوندان نه دی ګڼرلې شوې او په احکامو شرعیئو سره نه دی مکلف کړې شوې، په دې باندې د قرآن کریم ډیر آیتونه ګواه دی لکه یو ځاې کښې فرمائي؛ ﴿وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡ﴾[داسې هیڅ یو څیز نشته دې چه د الله تعالی تسبیح نه وائي خو تاسو پرې نه پوهیږې]ښکاره خبره ده چه د الله تعالی ثنا، صفت کول د هغه په معرفت باندې موقوف دی او معرفت دا موقوف دې په عقل او شعور باندې، د دې نه معلومه شوه چه په هر څیز کښې د خپل خپل شان مناسب عقل او شعور شته دې په کوم سره چه هغه خپل خالق لره پیژني، او خالق چه په کوم کار لګولې دې هر یو څیز هغه خپل کار پیژني چه په خپل شان سره هغه ادا کوي، چنانچه د قرآني آیت؛ ﴿أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ﴾همدغه مطلب دې په دې وجه که زمکې او اسمان ته د الله تعالی حکم ورکول په حقیقت باندې بنا کړې شي نو دې کښې څه بدیت او خنډ نشته لکه مولانا رومي فرمائیلې دي؛

خاک و باد و آب وآتش زنده اند بامن و تو مرده باحق زنده اند

[خاورې، هوا، اوبه او اور ژوندي دي؛ما او تا ته خو مړي ښکاري خو د الله تعالی په نزد ژوندي دي]

د څلورم آیت په آخر کښې فرمائي چه زمکې او اسمان حکم اومنلو نو د طوفان قیصه ختمه شوه اود نوح ﷺ کشتئ په جودي غر باندې اودریده او د ظالمانو په باره کښې اووئیلې شو چه [دوی د رحمت نه لرې دي].

جودي غر نن هم په دغه نوم سره قائم او موجود دې، دا د حضرت نوح ﷺ د اصلي وطن عراق د موصل ښار په شمال کښې جزیره ابن عمر سره نزدې د آرمینیا په سرحد باندې واقع دې، دا یوه غریزه سلسله ده چه د یوې برخې نوم ئې جودي دې، هم د دې بوې برخې ته اراراط وئیلې شي چه موجوده تورات کښې د کشتئ د ایساریدو مقام په کوه اراراط باندې بللې شوې دې، په دې

[1] تفسیر القرطبي تحت هٰذه الآیة: ج ۹، ص ۴۱، والتفسیر المظهري تحت هٰذه الآیة: ج ۵، ص ۸۹

دوا ړو روايتونو کښې څه داسې تضاد نشته، مګر په مشهورو زړو تاريخونو کښې هم داسې راغلي دی چه کشتي د نوحؑ په جودی غر باندې ايساره شوې وه.

په زړو تاريخونو کښې دا هم راغلي دی چه د عراق په ډيرو ځايونو کښې د دغې کشتۍ ټکړې اوس هم موجودې دی کومې چه د تبرک په ډول ايښولې او استعمالولې شی.

په تفسير طبری او بغوی کښې راغلي دی چه حضرت نوحؑ د رجب د مياشتې په لسمه نيټه په کشتۍ کښې سور شوې وو، شپږو مياشتو پورې دغې کشتۍ د طوفانی اوبو د پاسه چکرې لګولې کله چه د بيت الله شريف مقام ته اورسيده نو اووه ځله طواف ئې اوکړو، الله تعالى خپل بيت پورته کړې او د غرقيدو نه بچ کړې وو، بيا د محرم د مياشتې په لسمه نيټه د عاشورې په ورځ دغه طوفان په قلاره شو او کشتۍ د جودی په غر باندې اودريده، حضرت نوحؑ په دغه ورځ د شکرانې روژه اونيوله او ټولو سورو بنيادمو ته ئې هم د روژې نيولو حکم ورکړو، په بعضو روايتونو کښې راغلي دی چه دغه ورځ د کشتۍ ټولو ځناورو هم روژه اونيوله [مظهری او قرطبی] [1]

په خوا راسې د محرم د مياشتې لسمه نيټه د ټولو پيغمبرانو ؑ په شريعتونو کښې ډيره برکتی ورځ حساب شوې ده، د اسلام په اوله زمانه کښې د رمضان شريف د روژو فرض کيدو نه ړومبې د عاشورې د ورځې روژه فرض وه، د رمضان شريف د روژو په فرض کيدو سره دا فرض پاتې نه شوه مګر سنت او لوئې ثواب هميشه د پاره دی.

وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ

او آواز اوکړو| نوح رب خپل ته| نووې وئيل| ائې ربه زما| بيشکه| خوې زما| زما دکور دخلقونه دې

پاتې شول| او حضرت نوحؑ خپل پروردګار ته آواز اوکړو| چې ائې زما پروردګاره زما دا ځوئې

وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِیْنَ ۝ قَالَ یٰنُوْحُ

او بيشکه| وعده ستا| حقه ده| او ته| لوئ او بهتره فيصله کونکې يئ| دحاکمانو| اووئيل الله| ائې نوح

خو هم زما دکورد خلقوځنې دې| او ستا وعده بيخى ريښتونې ده| او ته په ټولو فيصله کونکو کښې

اِنَّهٗ لَیْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ ۫ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ

بيشکه هغه| نه دې| د اهل ستا نه| بيشکه د دهٔ| عمل| نيک نهٔ دې| نو مهٔ کوه سوال زما نه

بهترينه فيصله کونکې يئ| الله اوفرمائيل چې ائې نوحؑ دې ستا دکور دخلقونه نهٔ دې| نو زما نه

مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ

دهغه خبرې| چې نهٔ وی| تالره| په هغې باندې| علم| بيشکه زهٔ| نصيحت کوم تاته| چې [نهٔ] شې ته

داسې څيز مهٔ غواړه| چې ته پرې نهٔ پوهيږې| .... زهٔ درته نصيحت کوم چې

مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ۝ قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ

د جاهلانو نه| اووئيل نوح| ائې ربه زما| بيشکه زهٔ| پناه غواړم ستا| [د دې نه] چې سوال اوکړم ستا نه

چرته دنادانو نه نهٔ شې| حضرت نوحؑ اووئيل چې ائې زما پروردګاره زهٔ په تا سره پناه غواړم د دې

[1] تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج۹، ص۳۱، ۳۲، والتفسير المظهری: ج۵، ص۹۰

Scanned with Ca

مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۭ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِيْ وَتَرْحَمْنِيْٓ

د هغه خيز | چې نشته | ما ته په هغې | علم | او که اونکړه ببنسنه تا | ماته | او رحم دې اونه کړو په ما باندې

نه چې ستا نه داسې خيز اوغوارم | چې زما پرې پوهه نه وي | او که تا ماته ببنسنه اونکړه | او په ما دې رحم اونکړو

اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا

نوشم به زه | د تاوان موندونکو نه | اووئيلې شو | انې نوح اکوز شه | په سلامتيا سره | د طرفه زمونږ

نو زه به په تاوانيانو کښې شمار شم | او وئيلې شو ورته انې نوح ؑ زمونږ د طرفه په سلامتيا او برکتونو

وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلٰٓي اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ۭ وَاُمَمٌ

او برکتونو سره | په تا باندې | او په ډلو باندې | دهغه چانه | چې ستا سره دی | او څه نورې ډلې دی

سره کوز شه | دا به په تا او په هغې ډلو باندې وی کوم چې ستا دملګرو نه تا سره دی | او داسې امتونه

سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ تِلْكَ

چې نفع به ورکړومونږ هغوئ ته | بيا به | اورسی هغوئ ته | د طرفه زمونږ نه | عذاب دردناک | دا قيصې

به هم راځي | چې مونږ به ورله لږې ورځې عيشونه ورکړو | بيا به پرې زمونږ د طرفه دردناک عذاب راشي

مِنْ اَنْۢبَاۗءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ۚ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ اَنْتَ

دخبرو دغيبو نه دی | چې وحی کوؤ مونږ دهغې تاته | نه وې ته | چې معلوم وؤ تاته هغه

دا د غيبو خبرې دی چې مونږ ئې تاته دوحی په ذريعه راليږو | تاته ددې نه وړاندې د دې څه پته نه وه

وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ۭ فَاصْبِرْ ۭ اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝

اونه قوم ستاته | مخکښې د دې نه | نو صبر کوه | بيشکه | چې ښه انجام | د پاره د پرهيزګارانو دې

اونه ستا قوم ته | او س د وحې په ذريعه درته معلوم شوانو صبر کوه [نيک] انجام د پرهيزګارو دې

آسان ترجمه قرآن

او نوح ووئيل چه : اې څما پروردګاره ! څما ځوئ څما د کور يو فرد دې او بې شکه ستا وعده رښتينې ده. او ته د ټولو حاکمانو نه لوئ حاکم ئې الله تعالى وفرمائيل : يقين وکړه چه هغه ستا د کور والو نه نه دې. هغه خو د ناپاک عمل والا [پيدړوکې] دې. دې وجې نه ما نه داسې څيز مه غواړه چه دهغې تا ته علم نشته. څه تا ته نصيحت کوم چه ته په ناپوهو کښې شامل نه شې. نوح ووئيل چه: اې څما پروردګاره ! څه په تا سره پناه غواړم ددې نه چه ستا نه داسې څيز وغواړم چه د هغې ما ته علم نه وي او که تا ماته بخښنه ونکړه او په ما دې رحم ونکړو . نو څه به هم په هغه خلقو کښې شامل شم چه هغوی تباه شوی دی ووئيلې شو چه اې نوحه ! اوس (کشتۍ نه) کوز شه. څمونږ د طرف نه هغه سلامتيا او برکتونه واخله کوم چه تا د پاره هم دی او ستا سره چه څومره قومونه دې. هغوی د پاره هم ! او څه قومونه داسې دې چه هغوی ته به (دنيا کښې) د مزې اخستو موقع ورکړو بيا به هغوی ته څمونږ د طرف نه يو دردناک عذاب ورسی (اې پيغمبره !) دا د غيب څه خبرې دې چه تا ته د وحې په ذريعه کولې شې په دې خبرو دې نه مخکښې نه ته پوهيدې او نه ستا قوم . نو د صبر نه کار اخله. او آخرې انجام به د متقيانو په حق کښې وي.

Scanned with Ca

خلاصه تفسير

﴿وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِىْ مِنْ اَهْلِىْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ﴾ او [هر كله] چه نوح [عليه السلام] كنعان ته دايمان راوړولپاره وفرمائل اوده ونه منلو دده دغرقيدونه مخكې په دې اميد چه شايد الله تعالى پخپل قدرت سره دده په زړه كښې ايمان واچوي او ايمان راوړي] الله ته ئې عرض وكړوچه اې زماربه زما زوى زما دكورو الاوونه دى اوستا [دا] وعده بالكل رشتياده [چه ستا په كوروالاو كښې كومو ايمان راوړيدى هغه به بچ كړم] او [اګركه دى في الحال ايمان والا او مستحق دنجات ندى ليكن] ته احكم الحاكمين [اولوى قدرت والا] ئې [كه ته وغواړې نودى مومن جوړولى شې چه دى هم ددى حق وعده محل جوړشي دعرض كولونچوړ دعاووده دمومن كيدولپاره].

﴿قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۖ اِنِّىْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ﴾ الله تعالى ارشادفرمائى چه اې نوح داسړى [خماپه علم ازلي كښې] ستا د [دى] كور والاوو كښې ندى [كومو چه ايمان راوړي او نجات به حاصلوي يعني دده په قسمت كښې ايمان نشته بلكه] دى [دخاتمې پوري] تباه كار [يعني كافرپاتې كيدونكى دى] نوماته دداسې شى درخواست مكوه دكوم چه تاته خبرنشته [يعني دداسې احتمالى كاردعامكوه] زه تاته نصيحت كوم چه ته په ناپوهانوكښې داخل نشې.

﴿قَالَ رَبِّ اِنِّىْۤ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِىْ بِهٖ عِلْمٌ ۖ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِىْ وَتَرْحَمْنِىْۤ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾ نوح [عليه السلام] عرض وكړوچه زه ستاپناه غواړم ددى نه چه [اينده] تانه دداسې كاردرخواست وكړم دكوم چه ماته خبرنه وي او [ته ئې راته معاف كړه ځكه چه] كه ته خمامغفرت ونه فرمائى اوپه مارحم ونه فرمائى نوزه خوبه بالكل تباه شم.

﴿قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلٰۤى اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ۚ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ [هر كله چه په جودى غركشتئ ودريده اوپه ښوورخوكښې اوبه بيخي لاندې لاړې دغه وخت نوح عليه السلام ته اوويلې شو [يعني الله تعالى پخپله يا دفرشتې په ذريعه سره ارشادوفرمائلو] چه اې نوح [عليه السلام] [اوس دجودى نه ښكته ته] كوزشئ زمونږله طرفه په سلامونواوبركتونو سره كوم چه په تاسوبه نازل شي او پدغوجماعتونوكوم چه ستاسره دي [ځكه چه ده سره ملګري ټول مسلمانان وو، اوددي علت مشتركه په وجه سره ترقيامته په ټولومسلمانانوهم دسلامونو اوبركتونو نازليدل معلوم شو] او [چونكه داكلام په وروستو راتلونكومسلمانانوباندې هم دبركتونوپه نازليدلو دلالت كوي اوپه وروستوكښې به بعضې كافران هم وي پدى وجه ددوى حال هم بيانوي چه] ډيرداسې ټولګى به هم وي چه مونږبه دوى ته [په دنياكښې] ښوورخى عيش وركړو بيابه [په آخرت كښې] پدوى باندې زمونږلخواسخته سزاواقع شي.

﴿تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَاۤ اِلَيْكَ ۚ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَاۤ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ۚ فَاصْبِرْ ۚ اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ﴾ داقصه [ستاپه اعتبارسره] منجمله دغيبودخبرونه ده كوم چه مونږتاته دوحى په ذريعه در رسوودى [قصى] لره [ددى زمونږدخودلو] نه مخكې نه تاپيژندله اونه ستاقوم [پيژندله تاته دوحى په ذريعه معلومه شويده اودانبوت دى ليكن داخلق سره دثبوت دنبوت نه بيا هم ستا مخالفت كوي] پس صبركوه [لكه چه دي قصه كښې دنوح [عليه السلام] صبرتاته معلوم شوى

دی] یقینا دانجام نیکوالئ خاص دمتقیانولپاره دی[لکه چه دنوح علیه السلام په قصه کښې معلومه شوه چه دکفاروانجام بداودمسلمانانوانجام ښه شو،نودغسې ږدی کفارو یو څو ورځي زورشور دئ په آخره کښې به غلبه دحق وي].

معارف او مسائل

د سورت هود په دې پنځو آیتونو کښې د نوح علیه السلام د طوفان پاتې قیصه او د دې په باره کښې هدایات بیان شوې دی، د حضرت نوح علیه السلام ځوې کنعان کله چه د خپل والد بزرګوار د نصیحت او بلنې باوجود په کشتې کښې سور نه شو نو د طوفان په چپو کښې د هغه په لیدو سره ئې د پلاروالې شفقت په جوش کښې راغلو او یوه بله لار ئې و رله اختیار کړه چه د الله تعالی په دربار کښې ئې عرض اوکړو چه اې الله تاسو ما سره وعده کړې ده چه زما د کور خلق به د طوفان نه خلاصوې،او بې شکه ستاسو وعده حقه او صحیح ده خو صورت حال دا دې چه زما ځوې چه زما په کور والو کښې داخل دې هغه غرقیدونکې دې،او تاسو خو احکم الحاکمین ئې،هر یو څیز ستاسو په قدرت کښې دې،اوس ئې هم د طوفان نه محفوظ کولې شې.

په دویم آیت کښې د الله تعالی د طرفه د دې په جواب کښې حضرت نوح علیه السلام ته خبرداري ورکړې شو چه دا هلک ستاسو په بال بچ کښې داخل پاتې نه شو ولې چه د هغه عمل ښه نه دې،بلکه ناکاره کار کوی،ځکه تاسو لره د حال د حقیقت نه په دې شان بې خبره پاتې کیدل نه دی پکار چه هم دا شان سوال رانه اوکړې،مونږه درته نصیحت کوو چه په نادانانو کښې داخل نه شې.

د الله تعالی د دې ارشاد نه دوه خبرې معلومې شوې،اول دا چه حضرت نوح علیه السلام ته د خپل دغه ځوی د کفر حال معلوم نه وو،هغه منافق وو په دې وجه ئې هغه مسلمان ګنړلو چه د خپلې کورنې یو فرد ئې اوګرځولو او د طوفان نه د خلاصولو دعا ئې اوغوښتله،که نوح علیه السلام ته د هغه اصلی حال معلوم شوې وې نو داسې دعا به ئې نه کوله،ولې چه نوح علیه السلام ته ښه په ښکاره د رومبی نه هدایات ورکړې شوې ووچه کله طوفان راشی نوبیاپه دې سرکشانو کښې دهیڅ سفارش اونه کړې لکه چه په تیروشوؤ آیتونو کښې راغلې دی﴿وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ﴾ د دې صفا او ښکاره حکم نه پس داسې نه شو کیدې چه د الله تعالی پیغمبر د دې د خلاف کار کړې وې سوا د هغې احتمال نه چه د تفسیر په خلاصه کښې اخستې شوې دې چه د دغې دعا مطلب دا وو چه دغه هلک مومن شی او د هغې په وجه د عذاب نه خلاص شې داسې نه چه اوس په دې حالت د کفر کښې دې د عذاب نه خلاص شی،لیکن د حضرت نوح علیه السلام د هغه د کفر دغه بې خبرې او په دغې بنا باندې ورله د خلاصی دعا کول هم الله تعالی صحیح عذر او نه ګرځولو،ځکه ئې خبرداري ورکړو چه په ناخبرې کښې دې داسې دعا اوکړه؟او هر کله چه دغه لغزش د پیغمبرې شان سره سمون نه خوری ځکه به د قیامت په ورځ حضرت نوح علیه السلام دې لره د عذر صورت کښې وړاندې کړی کله به چه د خداې ټول مخلوق د هغوی نه د شفاعت کولو خواست اوکړی او به فرمائی چه هر کله ما نه داسې لغزش شوې دې نو زه په شفاعت کولو زړه نه شم کولې.

کافرانو او ظالمانو د پاره دعا کول ناروا دی: دې نه یوه مسئله دا هم معلومه شوه چه دعا کونکې دې اول په دې خان پوهوی چه دکوم کا دپاره دعا غواړی آیا هغه کار حلال او روا دې اوکه نه؟ په هغه حالت کښې د چا د پاره دعا کولو نه منع کړې شوې ده چه حالت ئې پوره معلوم نه

Scanned with Ca

وی، چنانچه تفسیر روح المعانی کښې د قاضی بیضاوی نه نقل شوې دی چه په دې بنا باندې د نامعلوم حالت خاوند د پاره هر کله چه دعا کول منع شو نو د هغه حالت خاوند د پاره دعا کول په طریقه اولی سره منع کیدل ثابت شو چه د معاملې ناجائز والې اوحرامو والې ئې معلومه وی(۱) د عام رواج په جوړ هر کله چه څوک هم بزرګانو او پیرانو ته راشی نو هغوی ورله خامخا دعا کوی سره د دې چه اکثرو ته دا هم معلومه وی چه کومې مقدمې د پاره هغه د دعا کولو خواست کوی نو په دې کښې هغه په ناحقه یا ظالم وی یا داسې یو مقصد د پاره د دعا خواست کوی چه هغه د پاره حلال نه وی، یعنی یا داسې ملازمت،نوکرې او منصب د پاره دعا کوی چه د هغې نه به په حرامو کښې اخته کیږی یا د چا حق تلفی به ترې کیږی نو داسې دعا ګانې کول په هغې صورت خو حرام او ناروا دی چه د دعا غوښتونکی حالت ورته معلومه وی او که حالت ئې ورته معلوم نه وی نو د حقیقت او د معاملې د روا والی علم حاصلولو نه بغیر دعا کول هم مناسب نه دی.

د مومن او کافر تر منځه د رورولۍ تړون نه شی کیدې د وطن یا نسب په بنیاد باندې قومیت ولاړول د اسلام د اصولو نه بغاوت کول دی: بله مسئله ترې دا معلومه شوه چه د مومن او کافر تر منځه اګر چه نسبی نزدې خپلوی موجوده وی خو په دینی او اجتماعی معاملو کښې به د دغې خپلوۍ هیڅ اثر به نه وی، که هر څوک هر څومره د لوړ او اوچت نسب خاوند وی،د هر څومره بزرګ بنده اولاد وی تر دې پورې چه د سید الانبیاء ﷺ په اولاد او خاندان کښې وی او مومن نه وی نو په دینی معاملو کښې به د دغه لوړ نسب او پیغمبر ﷺ سره د دغه نسبی تړون هیڅ لحاظ نه شی کولې،ولې چه په ټولو دینی معاملاتو کښې د ټولو دینی معاملو مدار خو په ایمان،صلاح او تقوی باندې دی،یعنی نیکوکار او متقی به د مسلمان خپلوان وی چه داسې نه وی او ایمان نه لری نو بیا د مسلمان خپلوان نه شی جوړې دې لکه فرمائی؛

هزار خویش که بیگانه از خدا باشد　　فدائے یک تن بیگانه کاشنا باشد

[په زرګونو نسبی خپلوان چه د الله تعالی نه ناآشناوی ؛ هغه دې داسې یو نااشنا کس باندې قربان وی چه د الله تعالی دوست وی]

که په دینی معاملو کښې هم د نسبی خپلوۍ لحاظ وې نو د بدر اواحد په میدانونو کښې به د رور توره په رور او د ځوی توره په پلار نه اوچتیده،چنانچه د بدر او احد او احزاب غزاګانې خو هم د نسبی خپلوانو تر منځه شوې وې،په دې بنا ایماندارانو خلق د ټولو ایماندارانو رونړه دی اګر چه هغه د هر ملک او وطن استوګن وی،هره ژبه وائی او هر رنګ لری،هم دا مطلب د ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾

او کوم خلق چې ایمان او نیک عمل نه محرومه دی هغه د اسلامی برداریٔ افراد نه دی. حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ دا خبره نوره هم واضحه کړې ده لکه قرآن کریم چه نقل کړې دی فرمائی؛

﴿إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾[یعنی مونږ تاسو نه هم ویزاره یو او ستاسو د معبودانو نه هم ویزاره یو] .

---

(۱) روح المعانی تحت هذه الآیة: ج ۸، ص ۲۵۱

Scanned with Ca

په دې مسئله کښې احقر[مفتی محمد شفیع رحمه الله]د دینی معاملو قید ځکه لګولی دی چه په دنیوی معاملو کښې هر چا سره ښه سلوک کول که هغه کافر وی او نسبی خپلوان هم نه وی نو دا ډیر ښه او د ثواب کار دی، دی ته ښه روزګار ،ښه اخلاق، احسان او ښیګړه کول وئیلې شی، پخپله رسول الله ﷺ هم او ټولو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم دغسې کړې دی . او د غیر مسلمو سره د ښه سلوك بې شمیره قصې په دې ګواه دی.
نن صبا چه په وطنیت، ژبه یا رنګ باندې د قومیت بنیاد ایښودې شی، لکه عرب بیل قوم ګڼړلې شی، هندی او سندی بیل بیل قومونه ګڼړلې شی نو دا د قرآن او سنت نه خلاف او د رسول الله ﷺ د سیاست د اصولو نه بغاوت کول حسابیږی.
په دریم آیت کښې د حضرت نوح علیه السلام د معذرت بیان دې چې خلاصه ئې دا ده چه نوح علیه السلام الله تعالی اړخ ته د رجوع کولو د هغه د پناه اخستلو د غلطو کارونو نه د بچ کیدلو د پاره هم د الله تعالی په پناه کښې د راتلو خواست او دعا ئې کړې ده، بیا د تیر شوی لغزش د معافې خواست دې او د خدای د رحمت غوښتل دی.
دې نه دا خبره هم معلومه شوه چه د انسان نه چه څه ګناه اوشی نو په آئنده کښې هغې نه د بچ کیدو په خپل قصد او اراده دې تکیه نه کوی بلکه د الله تعالی په پناه کښې د راتلو او د ګناهونو نه د بچ کیدو خواست دې د الله تعالی نه کوی.
په څلورم آیت کښې د طوفان د ختمیدو بیان داسې دې چه د طوفان په ختمیدو د حضرت نوح علیه السلام کشتې په جودی غر اودریده او د زمکې اوبه زمکې خپل ځان ته رابنکلې او آسمانی پاتې اوبه د نهرونو او سیندونو په شکل کښې محفوظ پاتې شوې چه په نتیجه کښې ئې زمکه د انسانی استوګنې جوګه شوه، په دې موقع حضرت نوح علیه السلام ته اووئیلې شو چه اوس د غر نه زمکې ته راکوز شئ او هیڅ فکر او غم ځکه مه کوئ چه تاسو سره به زمونږ د اړخه برکتونه او سلامتی وی، یعنی د آفتونو او مصیبتونو نه به سلامت ئې، په مال اولاد کښې به مو فراخی او برکت وی.
د دې ارشاد مطابق د طوفان نه پس ټول انسانان د حضرت نوح علیه السلام اولاد دې لکه بل ځاې کښې چه الله تعالی هم داسې فرمائی ﴿وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ﴾ په دې بنا باندې د تاریخ خاوندانو حضرت نوح علیه السلام ته آدم ثانی فرمائیلې دی.
د سلامتئ او د برکت دا وعده یواځې حضرت نوح علیه السلام سره نه ده شوې بلکه د دوی ملګرو ډلو سره هم شوې ده کوم چې ورسره په کشتئ کښې سوارهٔ وو لکه قرآن کریم فرمائی؛ ﴿وَعَلَىٰ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ﴾ کوم خلق په کشتئ کښې چه ورسره سواره وو هغوی ئې د جمع په لفظ ﴿أُمَمٍ﴾ سره یاد کړل حالانکه وړاندې وئیلې شوې دی چه کشتې کښې سواره زیات خلق د حضرت نوح علیه السلام د خاندان خلق وو ، یعنی دغه وخت اګر چه دا د یو خاندان او یو امت خلق وو مګر په راتلونکو وختونو کښې هر کله چه د دوی نه ډیرې ډلې او امتونه جوړیدونکی وو ځکه ئې ورله د جمع لفظ امم استعمال کړو ، په دې لحاظ سره په؛ ﴿أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ﴾ کښې د دنیا ټول هغه انسانی نسلونه داخل دی چه تر قیامته پورې به پیدا کیږی.
دې د پاره ضروری شوه چه د سلامتې او برکت په مضمون کښې تفصیل اوشی ځکه چه د قیامته پورې راتلونکی نسلونو کښې خو به مومنان هم وی او کافران هم، مومن د پاره خو

سلامتی او برکت د خپل عام مفهوم په اعتبار سره درست دي چه په دنیا کښې به هم ورته سلامتی او برکت نصیب کیږی او په آخرت کښې هم، لیکن هم په دې نسل کښې به کافران هم وی هغوی خو به د جهنم په دائمی عذاب کښې مبتلا وی هغوی ته د سلامتۍ او برکت محل وئیل څنګه صحیح کیدې شی؟ د دې وجهې نه په آخر د آیت کښې ئې اوفرمائیل؛ ﴿وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ یعنی د دنیا سلامتی او برکت د الله تعالی داسې یو فراخه خوانچه ده چه کافر او مسلمان، نافرمان او فرمانبردار ټول ترې فائده اخلی خو د آخرت کامیابی اوفراخی به یواځې د مومنانو برخه وی، د کافر د نیکو بدله به هم ورته په دنیا کښې ورکړې شی خو په آخرت کښې به ئې همیشه عذاب په برخه وی چه د خلاصیدو هیڅ درک به ئې ترې نه لګی.

د طوفان نوح داً تفصیلی خبرونه رسول الله ﷺ ته د وحی په ذریعه معلومه شو او خپل قوم ته ئې واورول نو دا واقعه پخپله د دې ګواه شوه چه رسول الله ﷺ په حقه پیغمبر دې او هم په دې غرض په پنځم آیت کښې فرمائی؛ [د حضرت نوح عليه السلام او د هغوی د طوفان واقعات د غیبو خبرونه دی چه دې نه وړاندې پرې نه تاسو ﷺ خبر وې او نه پرې ستاسو ﷺ قوم عرب خبر وو خو هر کله چه دا هم تاسو ﷺ ورته اوښودل نو معلومه شوه چه د الله تعالی د اړخه درته د وحی په ذریعه ښودلې شوې وو، ولې چه د رسول الله ﷺ قوم هم لیک او لوست نه وو کړې او د دنیا د تاریخ نه هم خبر نه وو نو د هغوی نه د خبریدو سوال ئې څکه نه شو پیدا کیدې، رسول الله ﷺ بهر ملک ته هم چرته نه وو تلې چه هلته ئې د دې معلومات حاصل کړې وې، نو ثابته شوه چه دا ورته یواځې د وحی په ذریعه معلوم شوې دی چه په حقه د پیغمبر کیدو دلیل ئې دې.

په آخر د آیت نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکولو د پاره اوفرمائیلې شو چه ستاسو په پیغمبرئ باندې د نمر نه زیات روښانه دلیلونو باوجود که څوک بدبخته نه منی او تاسو سره جګړه کوی نو تاسو د خپل رومبی پیغمبر نوح عليه السلام نمونې ته اوګورئ چه هغوی عليه السلام خپل ټول عمر[زر کاله] هم په دغې مصیبتونو او تکلیفونو کښې تیر کړو، څنګه چه نوح عليه السلام صبر اوکړو تاسو ﷺ هم دغسې د صبر نه کار واخلې څکه چه دا خبره تاکلې شوې ده چه د انجام کامیابی او خلاصې به د متقیانو وی.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ
اوعاد یانو ته[مونږ اولیږلو] ورور د هغوی[هود] اووئیل هغه[ائې قومه زما[بندګی کوئ] د الله [نشته تاسو دپاره یو معبود
اوقوم عاد ته مو د هغوئ [قومی] رور هود عليه السلام اولیږلو هغه ورته اووئیل ائې زما قومه تاسو
غَيْرُهُ ۖ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ۝ يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ
سوا د هغه نه[نه یئ تاسو[مګر] دروغ جوړونکی[ائې زما قومه[نه غواړم زه ستاسو نه[په دې کار باندې
د الله ﷻ عبادت کوئ[د هغه نه بغیر ستاسو بل معبود نشته[تاسو خو بس په الله دروغ تړلی دی[ائې زما قومه
أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝
څه بدله [نه ده بدله زما[مګر] په هغه الله باندې[چې پیدا کړې ئې یم زه[آیا نو د عقل نه کار نهٔ اخلئ تاسو
زه ستاسو نه په دې[تبلیغ]هیڅ بدله نهٔ غواړم[زما بدله خو د هغه په ذمه ده[چې زه ئې پیدا کړې یم[نو تاسو

Scanned with Ca

وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَآءَ

او اې زما قومه | معافي اوغواړئ | در ب خپل نه | بيا | توبه اوباسئ | هغه ته | راوبه وروی اسمان[نه]

ولې دعقل نه كار نه اخلئ | او اې زما قومه دخپل پروردګار نه ښښنه اوغواړئ | بيا هغه ته توبه اوباسئ

عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا

په تاسو باندې | په شيبو شيبو باران | او زيات به دركړي تاسو له | طاقت | سره دقوت ستاسو | او مه اړوئ مخ

هغه به درباندې په شيبو شيبو بارانونه اووروی | او تاسو ته به ددې طاقت سره نور زيات طاقت دركړي

مُجْرِمِيْنَ (٥٢) قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ

په داسې حال كښې چې مجرمان يئ | هغوئ اووئيل | اې هودا | نه دې راوړې تامونږ ته | دليل ښكاره

او د مجرم په حيثيت [دحق نه] مخ ونه مه اړوئ | هغوئ جواب كښې اووئيل چې اې

وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ (٥٣)

او نۀ يو مونږ پريښودونكي | خدايان خپل | په وينا ستا | او نۀ يو مونږه | په تا باندې | ايمان راوړونكي

هودا تا خو خان سره مونږ ته څه سند نۀ دې راوړې | او مونږ خپل معبودان ستا په وينا نشو پريخودې او په تا ايمان نشو راوړې

اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ؕ قَالَ اِنِّيْٓ

نۀ وايو مونږه | مګر دا چې | در رسولې دې تا ته | څينو | خدايانو زمونږه | څه ضرر | اووئيل هود | بيشكه زۀ

مونږ دا ګڼړو چې ګني زمونږ يو معبود تۀ په دې مشقت كښې اچولې يې هغه اووئيل چې زه الله ﷻ ګواه كوم

اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ (٥٤) مِنْ دُوْنِهٖ

ګواه كوم | الله | او ګواهان شئ تاسو | چې زۀ | بيزاره يم | د هغې نه | چې شريكوی ئې تاسو | غير د الله نه

او تاسو هم ګواهان اوسيږئ | چې زۀ ستاسو دشرك نه ويزار يم د الله ﷻ نه

فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ (٥٥) اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ

نو تدبيرونه اوكړئ زما خلاف | ټول | بيا | مۀ راكوئ مهلت ماته | بيشكه ما بهروسه كړې ده | په الله باندې

سوا تاسو ټول ماته سازشونه جوړ كړئ | او بيا ماته لږ هم مهلت مۀ راكوئ | زما په الله ﷻ بهروسه ده

رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ؕ مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا ؕ

چې رب زما دې | او رب ستاسو دې | نشته هيڅ يو زنده سرې | مګر الله | نيونكې دې | تندې د هغه

چې زما او ستاسو پرودرګار دې | داسې هيڅ يو ساه لرونكې نشته | چې د هغه تندې

اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (٥٦) فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ

بيشكه | رب زما | په لاره نيغه دې | نو كه چرې | مخ واړوئ تاسو | نو په تحقيق سره

د الله ﷻ په قبضه كښې نۀ وی | بيشكه زما پروردګار په نيغه لار موندې شي | نو كه تاسو

اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ؕ

دراورسوو ما تاسو ته | هغه پيغام | چې راليږلې شوې ووم زۀ | په هغې سره | تاسو ته

مخ ونه واړول نو واړوئ | يقيناً ما درته هغه پيغام دراورسولو | د كوم د پاره چه زۀ تاسو ته راليږلې شوي

Scanned with Ca

وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّىْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ

اورابه ولی ستاسوپه خایٔ | رب زما | یو قوم | غیرله تاسو نه |او تاسو به ضرر اونهٔ رسولې شئ هغه ته

یم| او زما پروردگار به ستاسو په خایٔ یو بل قوم آباد کړی | اوتاسو هغه ته هیڅ نقصان نشئ رسولې

شَيْـًٔا ۗ اِنَّ رَبِّىْ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ حَفِيْظٌ ۝ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا

هیڅ شئ | بیشکه | رب زما | د هر څیز | ساتونکې دې | اوهرکله چې | راغې | حکم زمونږه

زما پروردګار د هرڅیز نګهبان دې |اوڅه وخت چې زمونږ حکم راغلو|انو مونږ

نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ

نونجات ورکړومونږه| هود ته| او هغه کسانو ته| چې ایمان ئې راوړې ووْ| د هغه سره| په رحمت سره

حضرت هود ﷺ او د هغه ایماندار ملګری پخپل فضل سره بچ کړل | ....

مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝ وَتِلْكَ عَادٌ ۙ

دطرفه خپل نه |او نجات ورکړو مونږ هغوئ ته| د عذاب | سخت نه | او دغه | عادیان دی

اومونږ هغوی د ډیر سخت عذاب نه بچ کړل | او دغه عادیان ووا چې

جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا

چې انکار اوکړو هغوئ |د آیتونو| د رب خپل نه | اونافرمانې ئې اوکړه|درسولانو دهغه نه |اوتابعداری ئې اوکړه

د خپل پروردګار د نښو نه ئې انکار اوکړو | اود هغه د پیغمبرانو نافرمانی ئې اوکړه| او د هر ظالم

اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ۝ وَاُتْبِعُوْا فِىْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً

دحکم| د هر سرکشه | جګړمار | او اولږولې شو په هغوئ پسې| په دنیا کښې[هم] | لعنت

اودهر سرکشه دحکم تابعداری ئې اوکړه | آخر دا چې په دې دنیا کښې هم لعنتی شو.........

وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۗ اَلَا بُعْدًا

اوپه ورځ دقیامت هم | خبردار | بیشکه عادیانو | کفر اوکړو | د رب خپل | خبردار | لرې والې دې

او دقیامت په ورځ به هم لعنتی وی | واورئ چې قوم عاد دخپل پروردګار نه منکر شو| خبر شئ چې

لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ۝ وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ

دپاره دعادیانو|چه قوم دهود ووا| او ثمودیانو ته | رور د هغوئ| صالح | اوونیل هغه| ائې زما قومه

عادیان چه قوم د هود ﷺ ووا د رحمت نه الرې پریوتل| اوثمود[نومې قوم] ته مو دهغوئ رور صالح ﷺ

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۗ هُوَ اَنْشَاَكُمْ

بندګی اوکړئ| د الله | نشته تاسو د پاره| هیڅ یو معبود | بغیر د هغه نه | هغه | پیدا کړی یئ تاسو

اولیږلو |هغه ورته اوونیل چې ائې زما قومه د الله عبادت کوئ اچې د هغه نه سوا بل څوک د عبادت

مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ

د زمکې نه | او هغه اباد کړی یئ تاسو| په هغې کښې| نوتاسومعافی اوغواړئ دهغه نه| بیا

لائق نشته | هم هغه تاسو د زمکې نه پیدا کړی یئ |او په زمکه ئې آباد کړی یئ انو دهغه نه معافی

Scanned with Ca

تُوبُوٓا إِلَيۡهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٞ مُّجِيبٞ ﴿٦١﴾ قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ

توبه اوباسئ | هغه ته | بیشکه | رب زما | نزدې دې | قبلونکې د دعا دې | هغوئ اووئیل | ائې صالحه

اوغواړئ ابیا ورته توبه اوباسئ | بیشکه زما رب [هرچاته] نزدې او دعا قبلونکې دې | هغوئ اووئیل

قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآ أَتَنۡهَىٰنَآ

بیشکه وې ته | په مونږ کښې | د طمعې اسرا | مخکښې | د دې نه | آیا ته منع کوې مونږه

چې ائې صالح ﷺ ! د دې نه مخکښې ستا نه زمونږ ډیرې طمعې وې آیا ته مونږ د هغه بتانو د عبادت

أَن نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا

چې عبادت اوکړو مونږه | دهغې | چې عبادت به ئې کولو | پلارانو زمونږه | او بیشکه مونږه

نه منع کوئ اچې زمونږ پلار نیکه ئې عبادت کولو | او مونږ خو ستا......

لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ﴿٦٢﴾

خامخا په شک کښې یو | د هغې [طریقې] نه | چې ته رابلې مونږه | هغې ته | په عظیم شک کښې

د بلنې په حقله په ډیر شک کښې په غټ تردد کښې پراته یو......

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ

اووئیل هغه | ائې قومه زما | آیا ګورئ تاسو | که چرې یم زۀ | په ښکاره شهادت سره

هغه اووئیل چې ائې زما قومه داخو اووائې اکه زۀ دخپل پروردګار د طرفنه په یو ښکاره دلیل ولاړ یم

مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنۡهُ رَحۡمَةٗ فَمَن يَنصُرُنِي

د طرفه د رب خپل نه | او راکړې ئې دې ماته | د طرفه خپل نه | رحمت | نو څوک به | مدد اوکړي زما

او هغه په ما خپل رحم هم کړې وي | نو څوک به د الله ﷻ په مقابله کښې زما مدد اوکړي | که زۀ

مِنَ ٱللَّهِ إِنۡ عَصَيۡتُهُۥ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيۡرَ تَخۡسِيرٖ ﴿٦٣﴾

په مقابله د الله | که نافرمانی اوکړم زۀ د هغه | نو نه زیاتوئ تاسو ما لره | بې د نقصانه

د هغه نافرمانی اوکړم | نو تاسو ماته د نقصان رارسولو نه سوا بل څه نشئ کولې......

وَيَٰقَوۡمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ

او ائې قومه زما | دا اوښه د الله | ده | ستاسو د پاره | نښه | نو پریږدئ هغه | چې خوري

ائې زما قومه دا اوښه د الله ﷻ ده | او ستاسو د پاره نښه ده | نو پریږدئ چې د الله ﷻ په زمکه کښې

فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٞ

په زمکه د الله کښې | او مۀ رسوئ دې ته | [څه] تکلیف | ګنې نو اوبه نیسي تاسو | عذاب

آزاده څرېږي | او د بدئ لاس ورته مۀ اوړئ | ګنې یو نزدې عذاب به مو راونیسي

قَرِيبٞ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمۡ ثَلَٰثَةَ

نزدې | نو زخمي ئې کړه هغه | نو اووئیل صالح | نفع واخلئ | په کورونو خپلو کښې | درې

خو هغوئ اوښه زخمي کړه | [نو صالح ﷺ] ورته اووئیل چې په خپلو کورونو کښې بس درې ورځې

اَيَّامٍ ۭ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا

ورځې | دا وعده ده | چې نه ده دروغ | نو هركله چې | راغلو | زمونږه حكم | نجات وركړو مونږ

نورې تيرې كړئ|دا يوه داسې نيته ده|چې په دې كښې معمولي دروغ نشته|نو هركله چې زمونږ حكم

صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

صالح ته |او هغه كسانو ته | چې ايمان ئې راوړې وو | دهغه سره | په رحمت سره | د طرفه خپل نه

راورسيدو انو مونږ صالح ﷺ او د هغه مسلمانان ملگرى پخپل رحمت سره بچ كړل |اودهغې ورځې

وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ۭ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ

اود رسوايئ | د دغې ورځې نه | بيشكه | رب ستا چې دې | هم هغه| قوى دى | غالب دې | او اونيولو

د شرم نه مو [محفوظ كړل] | بيشكه ستا پروردگار ډير قوى او غالب دې | باقي پاتې ظالمان شو نو

الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾

هغه كسانولره| چې ظلم ئې كړې وو| چغې | بيااوگرزيدل هغوئ| په كورونوخپلوكښې| پرمخې پراته

هغوى باندې يوه ناترسه چغه راغله | نو پخپلو كورونو كښې داسې پرمخې پريوتل

كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۭ اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَا۟ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۭ

لكه چې نۀ وو اوسيدلى| په دغه ځائ كښې| خبردار | بيشكه چې | ثموديانو | انكار اوكړو | د رب خپل

لكه چې هډو هلته اوسيدلى نۀ وو |اواورئ! چې ثموديانو خپل پروردگار نه انكار كړې وو

اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿٦٨﴾

خبردار | لرې والى دې | ثموديانو لره |

واورئ چې ثموديان[د رحمت نه]ډير لرې اوغورزيدل|

آسان ترجمه قرآن

او قوم عاد ته مونږ د هغوى ورور هود پيغمبر اوليږلو هغه ووئيل چه : اې ځما قومه ! دالله عبادت وكړئ د هغه نه سوا تاسو دپاره بل معبود نشته. ستاسو حقيقت دې نه سوا بل څه نشته چه تاسو د دروغو خبرې جوړې كړى دى اې ځما قومه ! څه تاسونه په دې (تبليغ) باندې څه اجرت نه غواړم. ځما اجر خو هغه ذات په ذمه اغستې دې چه هغه زۀ پيدا كړې يم بيا هم تاسو دعقل نه كار نه اخلئ؟ اې ځما قومه! دخپل پروردگار نه د گناهونو معافى وغواړئ. بيا هغه طرف ته رجوع وكړئ هغه به په تاسو باندې شيبه دار باران راوليږى او ستاسو موجوده طاقت كښې به نور زياتوالې وكړي . او مه آورئ مجرمان. هغوى ووئيل: اې هوده! ته مونږ ته په څه واضح دليل سره نه ئې راغلې او مونږ خپلو خدايانو لره ستا د وينا د وجې نه پريښودونكي نه يو . او نه مونږ په تا باندې ايمان راوړونكي يو. مونږ خو دې نه سوا نور څه نه شو وئيلې مگر دا چه ځمونږ د خدايانو نه څنو تا لره ډير په بده اغستې دې هود ووئيل چه څه الله گواه كوم او تاسو هم گواه شئ چه څه دالله نه سوا تاسو چالره د هغه په خدايئ كښې شريك كوئ . زۀ دهغې نه بيزاره يم. اوس تاسو ټول په ټوله يوځائې شئ زما په خلاف چالونه اوكړئ. او ماته لږ مهلت هم مه

را کوئ ما خو په الله اعتماد کړی دی چه څما هم پروردګار دی او ستاسو هم- په زمکي ګرځيدونکي يو زنده سر داسي نشته چه د هغې ستوکې د هغهٔ په قبضه کښې نه وی. يقيناً څما پروردګار په نيغه لاره دی بيا هم که تاسو مخ اړوئ نو کوم پيغام بالدې چه څه ليږلې شوې يم هغه ماتاسو ته رسولې دی.او (ستاسو د کفر دوجې نه) څما پروردګار به بل يو قوم دلته راولي، او تاسو به هغه ته څه نقصان ونه رسوئ -بې شکه څما پروردګار د هر يو څيز حفاظت کوي او (آخر) چه کله څمونږ حکم راغې نو په خپل رحمت سره مو هود او کومو خلقو چه دهغه سره ايمان راوړې وو هغوی هم بچ کړل او دوی ته مو د يو سخت عذاب نه خلاصون ورکړو. دا وو عاديان چه دوی د خپل پروردګار د نښو نه انکار کړې وو او دهغه د پيغمبرانو نافرماني ئې کړې وه ، او د هر يو داسي کس حکم ئې ومنلو چه هغه سخت ظالم او د حق پوخ دښمن وو او (ددې نتيجه دا شوه) چه دې دنيا کښې هم لعنت په دوی پسې شو او د قيامت په ورځ هم . ياد وساتئ چه قوم عاد دَخپل رب نه انکار کړې وو ! ياد وساتئ چه برباد عاديان شو چه د هود قوم وو ! او قوم ثمود ته مونږ د هغوی يو وړور صالح پيغمبر وليږلو هغه ووئيل چه اې څما قومه ! دالله عبادت وکړئ . دهغه نه سوا تاسو دپاره څوك معبودنشته هغه تاسو د زمکې نه پيدا کړئ او دې کښې ئې تاسو آباد کړئ نو هغه نه د خپلو ګناهونو معافي وغواړئ او بيا هغه طرفته رجوع وکړئ يقين وکړئ چه څما رب (تاسو ته) نژدې هم دې،او ستاسو دعاګانې هم قبلوی. هغوی ووئيل چه اې صالحه: دې نه مخکښې خو ته په مونږ کښې داسې وې چه ستا نه څمونږ ډير اميدونه وو د کومو (بتانو) عبادت چه به څمونږ پلار نيکه کولو آيا د هغې د عبادت نه مونږ منع کوې؟ د کومې خبرې دعوت چه ته ورکوې دهغې په باره کښې څمونږ داسې شك دې چه مونږ ئې حيران [ګډ وَډ] کړی يو. صالح (عليه السلام) ووئيل چه:اې څماقومه! لږ ماته ووايئ چه که څه دالله د طرف نه په څه دليل بالدې يم، اوهغه ماته يوخاص رحمت (يعنی نبوت) را کړې وي بيا هم که چرې څه دهغه نافرماني وکړم نو څوك دې چه ما د الله (د نيولو نه) بچ کړي؟دې وجې نه تاسو (مالره د فرايضو نه بندولو سره) د برباديئ نه سوا نور څه را کوئ؟ او اې څما قومه! دا د الله اوښه تاسو دپاره يوه نښه ده.نو دا پرېږدئ چه دا دالله په زمکه کښې څرن وکړی . او دې ته په بده اراده مه رسيږئ ، هسې نه چه تاسو يو نژدې عذاب راونيسی بيا وشوه دا چه: چه هغوی دې لره ووژله.نو صالح ووئيل چه: تاسو خپلو کورونو کښې درې ورځې نور مزې اوکړئ ، (دې نه وروستو به عذاب راځی) او دا داسې وعده ده چه دې لره څوك نه شي دروغژن کولې بيا چه کله څمونږ حکم راغې نو مونږ صالح (عليه السلام) ته او چا چه د هغه سره ايمان راوړې وو خلاصې ورکړو او د هغه ورځې د رسوايئ نه مو بچ کړل- يقيناً ستا پروردګار ډير طاقت والا دې او ډير قدرت والا دې.اوکومو کسانو چه د ظلم لار اختيار کړې وه هغوی لره يوې چغې ونيول ،د هغې په نتيجه کښې هغوی په خپلو کورونو کښې پرمخې پريوتل لکه چه دوی هغلته اوسيدلې هم نه وو -ياد وساتئ چه ثمودیانو دخپل رب سره د کفر معامله کړې وه ! ياد کړئ چه تباهي هم د ثمود وشوه.

خلاصه تفسير

﴿ وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ۝ ﴾ اومونږه[قوم د]عاديانو ته ددوی [دبرادرئ ياوطن] وروړ[حضرت]هود[عليه السلام] لره [پيغمبرجوړولو سره]وليږه

دوى[خپل قوم ته] وفرمائل اى خماقومه تاسو[صرف]دالله تعالى عبادت كوئ دهغه نه غير څوك ستاسو [د]معبو د [كيدوقابل] نشته تاسو[ددى بت پرستئ په عقيده كښى]محض دروغ جوړوونكى ئى [څكه چه ددي باطلوالئ په دليل سره ثابت دى].

﴿ يٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِى فَطَرَنِىٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ اى خماقومه [خمانبوت چه كوم په دلائلوثابت دى ددي زيات تائيد ددى نه هم كيږي چه]زه ستاسونه [په تبليغ]څه معاوضه نه غواړم خما اجر خوصرف دهغه[الله]په ذمه دى چاچه مالره [دمحض عدم والى نه]پيداكړوبيا آيا تاسو[پدى]نه پوهيږئ [چه دليل دنبوت موجود دى اوددي نه خلاف څه وجه دشبهى نشته بياپه نبوت كښى دشك څه وجه ده].

﴿ وَيٰقَوْمِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا۟ مُجْرِمِينَ ﴾ اواى خماقومه تاسودخپل گناه [كفراوشرك]دخپل رب نه معافى غواړئ [يعنى ايمان راوړئ او]بيا [دايمان سره]دهغه طرف ته [په عبادت سره]متوجه اوسئ [يعنى نيك عمل كوئ پس دايمان اونيك عمل په بركت سره] هغه به په تاسوښه باران ووروي [په درمنثوركښى دى چه په قوم عاد دري كاله پرله پسي قحط پريوتلى وواوهسي خوهم باران پكاردى]او[دايمان اوعمل په بركت سره] چه په دې سره به تاسو ته موجوده قوت كښې ترقى دركړى [پس ايمان راوړئ]اوپه مجرمانوكيدوسره [دايمان نه ډډه مكوئ.

﴿ قَالُوا۟ يٰهُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِىٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ دوى جواب وركړوچه اى هوده تازمونږپه مخ [دالله تعالى دطرف نه دخپل رسول كيدو] څه دليل خوپيش نكړو [دا خبره ددوى دعنادنه وه]اومونږستا[صرف]په خبرو دخپلومعبودانو[عبادت]لره پريښودونكى بيخي نه يواومونږپه هيڅ شان سره په تايقين كوونكى نه يو.

﴿ إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعْتَرَىٰكَ بَعْضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٍ ۗ ﴾[او]خمونږوينا خوداده چه خمونږپه معبودانوكښى چاتالره په څه خرابئ [لكه ليونتوب وغيره]اكښى مبتلا كړيدى [چونكه تاددوى په شان كښى گستاخي كړيده نودوى ليونى كړي څكه خوداسى دليونوخبري كوي چه خداى يودې اوزه نبى يم.

﴿ قَالَ إِنِّىٓ أُشْهِدُ ٱللَّهَ وَٱشْهَدُوٓا۟ أَنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴾هود [عليه السلام] وفرمائل چه [كوم تاسوچه داخبره كوئ چه چابت ته ليونئ كړي ئى نو]څه [ښكاره]الله تعالى لره گواه كوم اوتاسوهم [واورئ] گواه شئ چه زه ددي څيزونونه [بلكل]بيزاره يم كومولره چه تاسو[په عبادت كښى].

﴿ مِن دُونِهِۦ ۖ فَكِيدُونِى جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴾دالله نه سواشريك مقرركوئ پس [خمادشمنى خوداول نه ښكاره ده اواوس پدي اعلان دبيزارئ سره نوره هم مضبوطه شوه نوكه پدى بتانوكښى څه قوت وي نو] تاسو [اودغه]ټول يوځاى شى خماسره [دهرقسم]چه هرڅه تدبيرونه كوئ وكړى [او] بيا ماته يوه ذره مهلت مه راكوئ [اوهيڅ كسر پاتى نكړئ نوبياهم تاسو خماسره هيڅ نشئ كولي اوهركله چه تاسواودغه ستاسو معبودان په جمع هم څه نشي كولي نويوازى به دوى څه خاوري وكړي شى اوخه دا دعوه څكه په ډډاډه زره كوم چه بتان خومحض عاجزه دي نوڅكه ترى نه ويريږم پاتي شوى تاسونوتاسوته خوڅه لږطاقت او قدرت حاصل دى خوتاسى نه هم نه ويريږم څكه چه] .

﴿ إِنِّى تَوَكَّلْتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّى وَرَبِّكُم ۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَآ ۚ ﴾ما په الله باندي توكل كړيدى كوم چه خماهم مالك دى اوستاسوهم مالك دى،خومره چه دځمكى په مخ گرځيدونكي دي دټولوتندي

Scanned with Ca

هغه نیولی دی [یعنی ټول دهغه په اختیار کښی دي بغیردهغه دحکم نه څوك حرکت نشی کولې نوځکه زه ستاسونه نه ویریږم] او[ددی تقریرنه یوه لویه معجزه هم ظاهره شوه چه څوك یوازی تن تنها دداسی لویوخلقوسره داسي خلاف خبري وکړي اوهغوی ئی هیڅ ونه کړې شي نودغوچه کوم ویل : مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ :ددي نه هم یوجواب وشو چه که دتیري معجزي نه قطع نظروشي نودادویمه معجزه ده پس په نبوت باندی دلیل قایم شواوپه دي کښی چه کوم منشا دشك وه : اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ :ددي هم جواب وشوپس نبوت ثابت شواوتري دتوحید واجبوالی هم ثابت شودکوم طرف ته چه زه دعوٰی کوم اوستاسووینا : وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا :باطله شوه اونیغه لاره داده اویقینا].

﴿اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾خمارب په نیغه لار[چلیدوسره میلاویدونکی] دی[پس تاسوهم دانیغه لاري اختیارکړی چه مقبول اومقرب جوړشئ].

﴿فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْئًا ۚ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ﴾ بیاکه [ددی بلیغ بیان نه پس هم] تاسو[دحقی لاري نه] اوړئ نوزه خوبه [معذوروګڼلی شم ځکه چه] دکوم پیغام ورکولوسره رالیګلی شوی یم هغه ماتاسوته ورساوه[لیکن ستاسوکمبختي به راشي چه الله تاسولره به هلاك کړي] اوستاسوپه ځای به الله نورخلق پدی ځمکه آبا دکړي [نوتاسوبدي کفراومخ اړولوکښی خپل نقصان کوئ]اودهغه تاسوهیڅ نقصان نه کوی [اوکه پدي هلاکت کښی تاسوته څه شك وي چه الله ته څه معلوم دی‌چه څوك څه عمل کوي نوبنه پوهه شئ چه] یقینا خمارب دهرشي ساتنه کوي [هغه دهرڅه نه خبردی ،غرض ددي ټولو حجتونونه پس هم دي خلقوونه منله] .

﴿وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ﴾ او[سامان دعذاب شروع شو پس] هرکله چه خمونږحکم [دعذاب لپاره] راورسیدو[اودهوادطوفان عذاب نازل شو نو] مونږه هود [علیه السلام] ته اوکوم چه دده ملګري ایمانداروودوی لره پخپلی مهربانئ سره [ددي عذاب نه بچ کړل] اودوی مونږه یودیرسخت عذاب نه بچ کړل [وړاندی اوس نورو ته دعبرت لپاره فرمائی].

﴿وَتِلْكَ عَادٌ ۟ۙ جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ﴾اودا[چه ذکرئی وشو] د عادیانوقوم ووکوموچه دخپل رب دآیاتونونه[یعنی دلیلونواوحکمونونه]انکار وکړواودهغه درسولا نوخبره ئی ونه منله اوټول دداسي خلقودخبروپسي روان شوکوم چه ظالمان اوضدیان وو.

﴿وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۭ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ﴾او[ددی کارونونتیجه داشوه چه] پدی دنیاکښی هم لعنت ددوی سره شواودقیامت په ورځ به هم [ددوی سره سره به وی ځرنګه چه په دنیاکښي ددی اثردطوفان په عذاب سره هلاکیدل وواوپه آخرت کښی به دائمی عذاب وي] خبرشئ قوم دعادیانودخپل رب سره کفروکړوخبردار[ددي کفرسزاشوه چه] درحمت نه لری شویه [دواړوجهانوکښی] عادیانولره کوم دهود [علیه السلام] قوم وو.

﴿وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ۭ اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ﴾ اومونږ [قوم د]ثمودیانوته ددوی وروررصالح [علیه السلام] لره ورکولو سره اولیږلو دوی [خپل قوم ته] وویل ای خماقومه[صرف] دالله عبادت کوئ دهغه سوا څوك ستاسو[د]معبود [کیدوقابل] نشته [دهغه په تاسودالنعام دی چه] هغه تاسولره د

Scanned with Ca

خمکې [دمادې نه] پیداکړئ اوتاسوئې په دې [خمکه] کښې اباد کړئ [یعنې د پیداکولواوباقي پاتې کولودواړه نعمتونه ئې درکړل چه پدې کښې ټول نعمتونه راغلل نوکله چه هغه داسې منعم دی] نوتاسودخپل ګناه [کفر اوشرك وغیره] دهغه نه معافي وغواړئ [یعنې ایمان راوړی او]بیا [دایمان نه پس] هغه ته [په عبادت سره] متوجه اوسیږئ [یعنې نیك عمل کوئ] بیشکه خمارب [هغه سړی ته] نژدې دی[ځوك چه هغه طرف ته متوجه وی اوددغه سړی عرض] قبلوونکی دی [ځوك چه ترې دګناهونومعافي غواړي].

﴿قَالُوا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَآ اَتَنْهٰىنَآ اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ﴾ دغوخلقواووئیل ای صالحه ته خوددې نه مخکې په مونږ کښې هوښیار [معلومیدې] وې [یعنې خمونږ درنه امیدووچه دخپل لیاقت په وجه سره به دقوم فخراوزمونږ لپاره سرپرست جوړشي، افسوس داوخت چه ته کومې خبرې کوې پدې سره خوزمونږ ټول امیدونه په خاوروکښې میلاو شوی په نظرراځي] آیاته مونږ دهغه شي دعبادت نه منع کوې دکوموعبادت چه زمونږه مشرانو تراوسه پورې کړیدی[یعنې ته ددې نه منع کول مه کوه] اوکوم دین ته چه مونږه رابلې [یعنې توحیدته] واقعي مونږ ددې په باره کښې په ډیر[لوی] شك کښې یوچه دی خومونګه په تردد کښې اچولي یو[چه دتوحیدمسئله خوبیخي زمونږ په خیال کښې نه راځي].

﴿قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ﴾ دوی ورته [په جواب کښې] وفرمائیل ای خماقومه [تاسوچه وائې چه دتوحید دعوت او دبت پرستئ نه منع مه] کوه .آیاداخو اووائې که زه دخپل رب دطرف نه په دلیل [قائم] یم [چه دده نه توحید ثابت دی] اوهغه ماته دخپل طرف نه رحمت [یعنې نبوت] راکړې وی [په کوم سره چه خه دتوحیدپه دعوت ماموریم] نو[پدې حالت کښې]که خه دالله خبره ونه منم او[دعوت دتوحیدپریدم لکه چه تاسو وائې] نووواٸې چه بیا به مادالله دعذاب نه څوك بچ کړي تاسو خو[داسې بده مشوره راکولو سره] سراسر خمانقصان کوئ [یعنې که فرض محال قبوله ئې کړم نوبغیردنقصان نه به څه په لاس راشي ،اوچونکه دوی دمعجزې هم درسالت لپاره مطالبه کړې وه پدې وجه دوی وفرمائیل]. ﴿وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْۤ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيْبٌ﴾اوای خماقومه [تاسوچه کومه معجزه غواړئ پس] دااوښه ده دالله تعالی کومه چه تاسولپاره دلیل [جوړه شوی اوښکاره شوی] ده [اودې ته پدې وجه ئې ورته دالله تعالی اوښه اووئیلې کیدل چه دا دالله تعالی دلیل دې] پس [علاوه ددې نه چه داپه وجه دمعجزه کیدوزما درسالت دلیل دې پخپله ددې هم څه حقوق دې منجمله داچه داپریدئ چه] دالله تعالی په خمکه کښې [ګیاه] خورې ګرځي [دغسې دخپل وارپه ورځ اوبه څکې لکه چه بل آیت کښې راځي] اودې لره بدې [اوتکلیف ورکولو]سره لاس مه وروړئ هسې نه چه تاسولره فورا عذاب ونیسي [یعنې وخت پکښې ونه لګي].

﴿فَعَقَرُوْهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ﴾ پس دوی [سره ددې تمامیدودحجت نه] دې [اوښې] لره مړه کړه نو صالح [علیه السلام] وفرمائیل [خیر] تاسو پخپلو کورونو کښې درې ورځې نورې تیرې کړئ [درې ورځې پس عذاب راځي او]داداسې وعده ده چه دې کښې یوذره دروغ نشته [ځکه چه دالله دطرف نه ده].

﴿فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ﴾ نو[درې ورځوتیریدونه پس] هرکله چه خمونږ حکم [دعذاب] راغئ نومونږ صالح [علیه السلام] اوکوم

Scanned with Ca

چه دده ملګري مومنان وودوی لره پخپلې مهربانۍ سره [ددي عذاب نه]بچ کړل اوددي ورځي دلونی رسوائی نه بچ کړل [ځکه چه د الله تعالی په قهرکښې داخته کیدونه به بله کومه لویه رسوائی وي] بیشکه ستارب قوت والاغلبي والادی[چالره چه غواړي عذاب ورکوي چالره چه غواړي بچ کوي].

﴿وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ﴾ اودي ظالمانولره یوي چغې ونیولو [چه دغه دجبرائیل علیه السلام چغه وه]چه پدی سره دوی پخپلو کورونو کښې نسکورپراته پاتې شول.

﴿كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۗ اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَا۟ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۗ اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ﴾[اوددوی داحالت شو]لکه چه پدی کورونوکښې دوی چیرته اوسیدلي نه ووخبردار[قوم] دثمودیانودخپل رب سره کفر وکړوخبردار [ددوی دکفرسزاداشوه چه] درحمت نه ثمودیان لرې شو.

معارف او مسائل

د سورت هود د دې آیتونو نه په ړومبو یوولسو آیتونو کښې د الله تعالی د برګزیده پیغمبر حضرت هود علیه السلام بیان دې د چا په نوم چه دا سورت هم دې، په دې سورت کښې د حضرت نوح علیه السلام نه واخله تر د حضرت موسی علیه السلام پورې د قرآن کریم په خاص انداز کښې د اووه پیغمبرانو علیهم السلام او د هغوی د امتونو واقعات بیان شوې دی په کوم کښې چه د عبرت او نصیحت داسې نندارې موجود دی چه کوم زړه کښې یو ذره ژوند او شعور هم پاتې وی نو هغه به ترې خامخا اثر قبلوی، د عبرت نه علاوه د ایمان او نیک عمل، ډیر اصول او فروع او د انسان د پاره زیات غوره هدایات موجود دی.

په دې سورت کښې خو هسې د اووه پیغمبرانو علیهم السلام قیصې او واقعات بیان شوې دی مګر د سورت نوم حضرت هود علیه السلام ته منسوب شوې دې، دې نه معلومیږی چه په دې کښې د حضرت هود علیه السلام قیصه ډیره اهمه ده او لوئې شان لری.

حضرت هود علیه السلام الله تعالی عادیانو ته د پیغمبر په حیثیت اولیږلو، دا قوم په جثه، بدنونو کښې ډیر مضبوط او زړه ور وو چه په ټول جهان کښې ئې یو امتیازی او جدا شان لرلو، حضرت هود علیه السلام هم د دې قوم فرد وو ځکه چه په ﴿اَخَاهُمْ هُوْدًا﴾ کښې ورته اشاره شوې ده، مګر افسوس دې چه دغې بهادر او مضبوط قوم خپل عقل او فکر روک کړو او د خپله لاسه جوړ کړی بتان ئې خپل خدایان ګرځولی وو چه زیات د کاڼړو نه جوړ وو.

حضرت هود علیه السلام چه د دین د بلنې کومې درې اصولي خبرې خپل قوم ته پیش کړې هغه په ړومبو آیتونو کښې راغلې دی، اول دا چه د توحید بلنه ئې ورکړه او دا ئې ورته اوفرمائیل چه الله تعالی نه سوا بل چا لره د عبادت جوګه ګنړل، دروغ او د ځانه خبرې کول دی، دویمه دا چه ما د توحید کومه بلنه راوړې ده او هغې د پاره مې خپل ټول ژوند وقف کړې دې نو په دې سوچ اوکړې چه دومره خوارې او محنت څه د پاره کوم؟ د دې په بدله کښې تاسو نه څه معاوضه نه غواړم؟ او نه ما ته ستاسو د اړخه څه مادی فائده رارسی، که دا مې د الله تعالی فرمان او حق نه ګنړلو نو آخر څه ضرورت وو چه تاسو ته به مې په دې بلنې ورکولو او ستاسو په اصلاح کولو کښې دومره محنت او خوارې برداشت کوله؟

په وعظ، نصیحت او د دین په بلنه باندې اجرت اخستل: قرآن کریم تقریبا د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام دا خبره نقل کړې ده چه هغوی به فرمائیل؛ چه په خپلې د دین په بلنې او په دې باندې د خوارې کولو

عوض تاسو نه نهٔ غواړم؛ دې نه معلومیږی چه د بلنې او تبلیغ عوض واخستې شی نو د هغې تاثیر نه وی چنانچه تجربې نه ثابته شوې ده چه د کوم وعظ او نصیحت اجرت واخستې شی د هغې اثر په اوریدونکو باندې نه وی.

دریمه خبره ئې دا اوفرمائیله چه د خپل کړی کفر او ګناهونو بخشش د الله تعالی نه اوغواړې او په راتلونکی ژوند کښې د دغې ټولو ګناهونو نه توبه داسې اوکړې چه دهغې خوا ته به هم نه ورځې، که تاسو د توبې کولو او بخښنې غوښتلو عمل اوکړو نو د دې په نتیجه کښې د آخرت همیشه کامیابی خو خامخا موندې شئ، په دنیا کښې به ئې هم لوئې فائدې بیا مومې، یو دا چه په توبې کولو او بخښنې غوښتلو سره به ستاسو قحط لرې شی په خپل وخت به درباندې ښه بارانونه اوشی چه د هغې په وجه به مو روزی فراخه شی، دویمه دا چه ستاسو طاقت او قوت به زیات شی.

دلته د طاقت او قوت لفظ عام دې چه بدنی طاقت او قوت لره هم شاملیږی او د مال او اولاد ډیر والې ترې هم مراد اخستې شی.

دې نه معلومیږی چه د توبې او استغفار یو خصوصیت دا هم دې چه د دنیا په مال، اولاد او رزق او روزې کښې هم فراخی او برکت ورسره راځی.

د حضرت هود ﷺ قوم د هغوی د بلنې جواب په خپلې جاهلانه طریقې دا ورکړو چه تاسو خو راته څه معجزه ښودلې نه ده صرف زبانی خبره ده څکه به ستاسو په وینا سره خپل معبودان پرې نه ږدو او په تاسو به ایمان راو نه ړو، بلکه زمونږ خیال خو دا دې چه زمونږ معبودو بتانو ته د بدو وئیلو په وجه ستاسو دماغ خراب شوې دی څکه داسې خبرې کوی.

د دې په جواب کښې حضرت هود ﷺ په پیغمبرې زړه ورتیا سره اوفرمائیل چه که تاسو زما خبره نه منې نو واورې چه زه الله تعالی لره ګواه جوړوم او تاسو هم ګواهان اوسئ چه زه د الله تعالی نه سوا ستاسو ټولو معبودانو نه ویزاریم، او تاسو او ستاسو بتان ټول رایوځاې شې او زما په خلاف که څه کولې شئ او زما کار خرابولې شئ نو تکړه شئ او ما ته لګ مهلت هم مه کړې ده چه زما هم رب او ستاسو هم رب دې، په مخ د زمکې چه څومره ګرځیدونکی دی واګی ئې هغه نیولی دی، د چا څه مجال دې چه د هغه د اجازت او ارادې نه بغیر چا ته لګ زیان هم اورسوی؟یقینا زما رب په صراط مستقیم دې یعنی څوک چه په صراط مستقیم باندې روان وی رب هم هغه ته ملاویږی او د هغه مدد کوی.

د ټول قوم په مقابله کښې داسې لوړه دعوی کول او هغوی ته غیرت ورکول او بیا د دغې پوره بهادر قوم د هود ﷺ په مقابله کښې د حرکت کولو توان نه لرل دا ټول هر څه یوه مستقله معجزه د هود ﷺ وه، په دې سره د دوی د هغې خبرې جواب هم اوشو چه تاسو مونږ ته څه معجزه ښکاره نه کړه او د دې هم جواب اوشو چه زمونږ بتانو تاسو په دماغی خرابئ کښې اخته کړې ئې ولې چه که بتانو څه طاقت لرلې نو دغه وخت به ئې ژوندې نه وو پریښې.

بیا ئې ورته اوفرمائیل چه که هم دغه شان په مخه تاسو د حق نه اوړیدلی اوسیږې نو پوهه شې چه ما درته هغه پیغام در رسولې دې کوم چه د الله تعالی د اړخه راته راکړې شوې دې. لهذا د دې نتیجه سوا د دې نه بله نه راځیژی چه په تاسو به د الله تعالی قهر او غضب راښکته شی او

ټول به نیست او نابود شئ، او زما رب به ستاسو په ځاې بل یو قوم په دې زمکه آباد کړي. او په دې معامله کښې چه تاسو څه کوئ هغه ستاسو خپل نقصان دې، یقینا زما پروردګار د هر څیز څارنه کوی، هغه ستاسو په هر کار او خیال باندې خبردار دې.

دغې خلقو په دغې خبرو کښې په یوه خبره هم غور او نه کړولو، په خپلې سرکشۍ باندې ټینګ ولاړ وو، الله تعالی پرې د هوا د طوفان په صورت کښې عذاب نازل کړو په هغې سره ئې مکانونه او اونې د مونده راوښکلې، انسانان او څاروی به ئې په هوا کښې الوتل او د هغه ځاې نه به پرمخې راګذاریدلې شو، پورته په هوا کښې به دآسمان د طرف نه د دغې خلقو چغې سورې اوریدې شوې تر دې پورې چه د دې بې مثاله قوت او د ډیل ډول خاوندان ټول قوم برباد شو.

الله تعالی د خپلې جارې طریقې مطابق د عذاب راتلو نه رومبې خپل پیغمبر حضرت هود ﷺ او د هغوی ملګری د دغه ځاې نه اوویستل یعنی د عذاب راتلو نه رومبې ئې ورته د دغه ځاې نه د وتو حکم اوکړو.

دعاد د واقعې او عذاب بیانولو نه پس نورو خلقو ته د عبرت حاصلولو په غرض ئې اوفرمائیل چه دا هغه عاد قوم دې کومو چه د خپل رب نښانې په دروغه اوبللې او د خپلو رسولانو ﷺ نافرمانی ئې اوکړه او د داسې خلقو په وینا باندې ئې عمل کولو چه ظالمان او ضدیان وو.

نتیجه ئې دا شوه چه په دنیا کښې هم ورپورې لعنت [یعنی رحمت نه لرې کیدل] انښتې [منښتی] وو او په قیامت کښې به هم ورپورې انښتې وې.

د دې واقعې نه معلومه شوه چه د عاد قوم باندې د هوا طوفان عذاب راغلې وو او په سورت مؤمنون کښې فرمائې چه د یو سختې چغې عذاب پرې راغلې وو، په دې بنا کیدې شی چه دواړه عذابونه پرې راغلې وی.

د قوم عاد او د هود ﷺ واقعه ختمه شوه.

وروستې په اتو آیتونو کښې د حضرت صالح ﷺ قیصه بیان شوې ده چه د عاد قوم دویم شاخ ثمود ته د پیغمبرئ په حیثیت لیږلې شوی وو، صالح ﷺ هم خپل قوم ته د ټولو نه اول د توحید بلنه ورکړه، قوم د خپل عادت مطابق هغه دروغژن او بللو او دا ضد ئې او نیولو چه مونږ به دې هله په حقه نبی اومنو چه زمونږ د ټولو په وړاندې د دې غر د یو ګټ نه یوه داسې اوښه راوباسې.

حضرت صالح ﷺ اول اویرول چه که الله تعالی ستاسو غوښتلې معجزه درښکاره کړي او بیا هم تاسو په ایمان راوړو کښې کوتاهی اوکړه نو الله تعالی به د خپل عادت مطابق په تاسو عذاب راولی او ټول به هلاک او برباد شئ، دغه ضدیان د خپل ضد نه وانه ړیدل، الله تعالی د هغوی غوښتلې معجزه په خپل کامل قدرت سره ښکاره کړه د غر ګټ څیرې شو. او هغسې اوښه ترې رابرخیره شوه څنګه چه دوی غوښتې وه، الله تعالی حکم اوکړو چه که دې اوښې ته مو څه زیان اورسولو نو عذاب به درباندې راشی، خو هغوی په دې باندې هم پوره قائم پاتې نه شو او اوښه ئې هلاکه کړه، آخر الله تعالی هغوی راټینګ کړل، حضرت صالح ﷺ او د هغوی مومنان ملګری ئې د عذاب نه خلاص کړل او نور ټول قوم په یو سخت هیبت ناک آواز سره هلاک کړې شو.

په دغه واقعه کښې د حضرت صالح ﷺ قوم دوی ته اووئیل: ﴿قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَآ﴾ [یعنی کله چه تاسو د پیغمبرې دعوې نه وه کړې او د بت پرستې نه مو څوک نه منع کول نو دغه وخت

تاسو نه زمونږه ډير زيات اميدونه وو چه تاسو به زمونږ د قوم د پاره ډير سمون راوستونکي او لار ښودونکي ثابت شي ولې چه الله تعالى د خپلو پيغمبرانو پالنه د وړوکوالى نه په ډير پاکيزه اخلاقو او عادتونو باندې کوی چه د هغې په ليدو ورسره ټول مينه کوی او لويه هستي ئې گڼړى، څنگه چه حضرت خاتم الانبياءﷺ ته به هم ټولو عربو امين وئيلې کله چه رسول اللهﷺ د پيغمبرئ دعوى نه وه کړې، او په هغوى به د ربښتينې او صالح عقيده لرله، کله ئې چه د پيغمبرئ دعوى اوکړه او د بت پرستې نه ئې خلق منع کول شروع کړل نو ټول ئې مخالف شو.

﴿تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ﴾ يعنى کله چه دغې خلقو د الله تعالى د حکم خلاف ورزى اوکړه او دغه د معجزې والا اوښه ئې اووژله نو د وړاندينې خبردارې په جوړ پرې عذاب په دې شان راغلو چه اول ورته د درې ورځو مهلت ورکړې شو او ورته اووئيلې شو چه په څلورمه ورځ به ټول هلاک کړې شي.

په تفسير قرطبى کښې راغلې دى چه دغه درې ورځې د زيارت، جمعه او خالى وې او د اتوار په ورځ پرې عذاب راغلو[1] ﴿وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ﴾ [يعنى دغه ظالمان يو سخت آواز رالاندې کړل، دا سخت اواز د حضرت جبرئيلؑ په دا شان وو چه د ټولې دنيا د بجليانو گرزار نه زيات سخت او هيبتناک وو چه انسانى زړونو او دماغو نۀ شو زغملئ څکه د هغوى زړونه اوچودل او ټول په ټوله هلاک شو.

د دې آيت نه معلومه شوه چه د صالحؑ قوم د سخت اواز په ذريعه هلاک کړې شو ليکن د سورت اعراف د يو آيت نه معلوميږى چه د زلزلې په عذاب هلاک کړې شو لکه فرمائى ﴿فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ﴾ په دې بنا امام قرطبى فرمائى چه په دې کښې څه تضاد نشته دې کيدې شى چه دا دواړه عذابونه پرې په دې شان راغلې وى چه اول پرې زلزله راغلې وى او بيا په سخت اواز سره ټول هلاک کړې شوې وى،[2] والله أعلم.

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ
او په تحقيق سره | راغلې | فرښتې زمونږه | ابراهيم ته
او زمونږ فرښتې حضرت ابراهيمؑ ته زيرى ورکولو دپاره
بِالْبُشْرٰى قَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ
د زيرى سره | اووئيل فرښتو | په تادې سلام وى | اووئيل ابراهيم | په تاسو دې سلام وى
ورغلې وې | او ورته ئې اووئيل چې سلامت اوسې | هغه اووئيل چې تاسو هم سلامت اوسئ | نو ساعت تيرنۀ
فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ ۝ فَلَمَّا رَآ
نو څه وخت ئې تير نه کړو | چې راغې | د سخى | وريت کړى سره | نو هر کله چې | اوليدل ابراهيم
وو اچې يو وريت سخې ئې ورته راوړلو......... | کله چې ئې اوکتل چې د هغوئ لاسونه

[1]) تفسير القرطبى تحت هذه الآية: ج۹، ص ۶۰

[2]) تفسير القرطبى، سورة الاعراف: ج۷، ص ۲۴۲، وتفسير البحر المحيط، سورة الاعراف: ج۵، ص ۲۸۵

Scanned with Ca

أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ

لاسونه دهغوئ | چي نه رسيږي | دغه خوراك ته | نا آشنائي اوګڼل هغوئ | او محسوسه ئي كړه | په زړه كښې | د هغوئ نه

ورته نه ورانده كيږي | شكمن شو | اود هغوی نه ئې ويره محسوس كړه

خِيفَةً ۚ قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ۝ وَامْرَأَتُهُ

ويره | اووئيل فرښتو | مه ويريږه | بيشكه مونږ | راليږلي شوي يو | قوم د لوط ته | او ښځه د هغه

هغوئ ورته اووئيل | چي مه ويريږه | مونږ د حضرت لوط په قوم پسې راليږلي شوي يو

قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ

ولاړه وه | نو اوخندل هغې | نو زيري وركړو مونږ هغې ته | په اسحاق سره | او روستو

اود هغه بي بي ولاړه وه | نو وې خندل نو مونږ ورته د اسحاق [نومې څوئي] زيرې وركړو | او په حضرت

إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ ۝ قَالَتْ يَا وَيْلَتَىٰ أَأَلِدُ

د اسحاق نه په يعقوب سره | اووئيل هغې | چي هائي زما كم نصيبه | آيا زه به اولاد راوړم

اسحاق ﷺ پسې [دهغه څوئې] يعقوب ﷺ | هغې اووئيل چي هائي زما كم نصيبه | زه به اوس څوئي

وَأَنَا عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِي شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ

اوحال دا چي زه | يوه بوډۍ يم | او دا زما خاوند [هم] | بوډا دي | بيشكه | دا | خامخا يو څيز دي

راوړم | چي بوډئ شوې يم | او دامې خاوند دې بوډا [سپين ږيرې] دې | دا خو ډيره عجيبه خبره

عَجِيبٌ ۝ قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ رَحْمَتُ اللَّهِ

عجيبه | اووئيل فرښتو | آيا ته تعجب كوې | د حكم دالله نه | رحمت د الله دي

ده | هغوئ ورته اووئيل | آيا ته دالله ﷻ په كارونو كښې تعجب كوې | ائي د دې كور خاوندانو

وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ ۚ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ۝

اوبركتونه د هغه دي | په تاسو | آئې خاوندانو د كورا | بيشكه هغه | ستائيلي شوي دي | لوئي شان والا دي

په تاسو دالله ﷻ رحمت او بركتونه وريږي | بيشكه هغه ستائيلي شوې او د لوئي شان خاوند دي

آسان ترجمه قرآن

او څونږ فرښتې (په انساني شكل كښې) ابراهيم ته (د څوئ د پيدا كيدو) زيري سره راغلې هغوی سلام وكړو ابراهيم هم سلام وكړو بيا څه وخت نه وو تير شوې چه هغه (د دوی د ميلمستيا دپاره) يو وريت شوې سخې راوړو خو چه كله هغه وكتل چه د دوی لاس (سخې) طرف ته نه رسي . نو هغه دوی نه په خطره كښې شو . او د هغوی نه ئې زړه كښې ويره محسوس كړه فرښتو ووئيل چه : مه ويريږه مونږ (تا ته د څوئ په زيری دركولو او) قوم لوط ته ليږلې شوی يو او د ابراهيم عليه السلام بي بي ولاړه وه . هغې وُخاندل نو مونږ هغې ته (دوباره) د اسحاق ، او د اسحاق نه وروستو د يعقوب د پيدايش زيرې وركړو. هغې ووئيل چه: هائې آيا څه به په دې حالت كښې بچې څيږوم چه څه بوډئ يم او دا خاوند څما دې چه د بوډاوالې په

حالت کښې دي؟ واقعي دا خو ډیره عجیبه خبره ده! فرښتو وویل آیا تاته د الله په حکم باندې تعجب کوې؟ ستاسو پشان پاکې کورنۍ باندې خو دالله رحمتونه او برکتونه دي. بې شکه هغه د هر تعریف مستحق ، لوئ شان والا دې.

خلاصه تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ قَالُوا سَلَامًا ۖ قَالَ سَلَامٌ ۖ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴾ او زمونږ لیږلي شوی فرشتی [دبنی آدم په شکل] ابراهیم [عليه السلام] ته [دده دبچي] د اسحاق [عليه السلام] خوشخبرئ راوړلو سره راغلې [اګرکه ددوی دراتلولوی مقصدپه قوم دلوط عليه السلام دعذاب واقع کول وو: لقوله تعالی: فماخطبکم: الخ] او [دراتلوپه وخت کښی] دوی سلام وکړو ، ابراهیم [عليه السلام] هم سلام وکړو [او ونی نه پیژندلې چه دافرشتې دي معمولی میلمانه ئې وګڼل] یوتلیدلی [کباب کړی] [خورب [چاغ] ، لقوله تعالی [سمین]سخئ ئې راوړو [اودوی ته ئې وړاندې کیخودو، دا خو فرشتې وې نوخوراك به ئې څنګه کولو].

﴿ فَلَمَّا رَأَىٰ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴾ پس هر کله چه ابراهیم [عليه السلام] ولیدل چه ددوی لاسونه دې خوراك ته نه وړاندې کیدل نوددوی نه ګبراو شواوپه زړه کښې ئې ددوی نه ویره پیداشوه [چه دامیلمانه خو نه دې څوك دشمنان نه وې چه په خرابه اراده راغلې وې اوزه په کورکښې یواخې یم نورڅوك خپلوان دوستان نشته تردې چه په بې تکلفئ سره ئې دوی ته په ژبه هم ظاهره کړه :لقوله تعالی قال انامنکم وجلون: هغه فرښتو ورته اووئیل چې مه ویریږه [مونږ انسانان نه یو فرښتې یو تالره مونږ زیری راوړیدی.

چه ستابه یوځوی پیداشې اسحاق اودده نه وروسته به یوبچئ پیداشي یعقوب اوزیری ئې ورته خکه وویل چه اول خواولاد دخوشحالی شی دی بیا ابراهیم [عليه السلام] بوډاشوی ووبې بې ئې هم ډیره بوډئ وه داولاد امید ئې نه ووپاتې شوی دوی [عليه السلام] په نوردنبوت سره توجه اوکړه اوونې پیژندل چه واقعې فرشتې دي لیکن دنبوت په پوهه سره ورته داهم معلومه شوه چه ددې نه غیر دبل لوې کارلپاره راغلې دي پدې وجه ددې دمعلومولولپاره ئې تپوس وکړو :فماخطبکم : یعنی دکوم کارلپاره راغلې ئیې ؟ دغه وخت دوی وویل چه]مونږ دلوط [عليه السلام] دقوم طرف ته رالیږلی شوی یو [چه دوی دکفرپه سزاکښې هلاك کړوددوی په مینځ کښې داخبری کیدی]

﴿ وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ ﴾ او د ابراهیم [عليه السلام] بې بې [حضرت ساره چرته] ولاړه وه [اوریدی ئې]پس [داولادخبرچه ئې واوریده دخوشحالئ نه ئې] اوخاندل اوچه هرکله دحضرت هاجرې نه د ابراهیم [عليه السلام] یوځوی حضرت اسماعیل [عليه السلام] پیداشونوددی هم داولادارمان ووپه زوره آوازسره ئې وویل اودتعجب نه ئې خپل تندې ته ئې په لاس ټپ ورکړولکه الله تعالی وفرمائل:فصکت وجهها :نومونږ [یعنی څمونږه فرشتو] هغوی ته دوباره]زیری ورکړود [حضرت]اسحاق [عليه السلام] د [پیداکیدو] اوداسحاق [عليه السلام] نه پس دیعقوب [عليه السلام] [چه د اسحاق [عليه السلام] زوی به وې دې نه معلومه شوه چه ستابه زوی پیدا کیږی اوترهغې به ژوندئ وی چه دهغه به هم اولادپیداکیږې.

﴿ قَالَتْ يَا وَيْلَتَىٰ أَأَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِي شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ ﴾ دغه وخت] هغې وویل های خوارو زه به اوس اولادراوړم چه بوډئ شوم اوزمادا خاوند [ناست] دی بیخي بوډا داهم عجیبه خبره ده.

﴿ قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ ۖ رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ ۚ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ﴾ فرشتو وویل چه آیا

Scanned with Ca

[دپیغمبریٔ په خاندان کښې پاتې کیږي اوهمیشه معجزات اوعجیبه عجیبه معاملې وینې بیاهم] نه دالله تعالی په کارونوکښې تعجب کوی [اوخصوصا]ددې خاندان په خلقوباندې خودالله تعالی [خاص]رحمت اودهغه [قسماقسم]برکتونه په مخه نازل شوی]دي،بیشکه هغه [الله تعالی]دتعریف لائق [او]دلوی شان خاوند دی [هغه ،لوی نه لوی کارونه کولې شي نودتعجب کولوپه ځای دهغه په تعریف اوشکر کښې مشغول اوسه] .

معارف او مسائل

په دې پنځو آیتونو کښې د حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ یو واقعه بیان شوې ده چه الله تعالی یو څو فرښتې هغوی ته د اولاد د زیری ورکولو د پاره ځکه اولیږلې چه د حضرت ساره ﷺ نه د هغوی څه اولاد نه وو او هغې د اولاد آرزو لرله خو دا دواړه بوډاګان وو په ښکاره ئې هیڅ امید نه وو ،الله تعالی ورته د فرشتو په ذریعه زیرې راولیږلو چه نارینه اولاد به دې کیږی،د هغوی نوم ئې اسحاق تجویز کړو او دا ئې ورته هم اوښودل چه د هغوی ژوند به دومره وی چه پخپله به هم د اولاد خاوند شی د څوی نوم به ئې یعقوب وی،دواړه به دالله تعالی پیغمبران وی،هر کله چه دا فرښتې په انسانی شکل کښې راغلې وې ځکه ابراهیم ﷺ دوی لره میلمانه اوګڼړل او د میلمستیا په خاطر ئې ورته وریته غوښه مخې ته کیښوه،فرښتې خوراک څښاک نه پاکې دی ځکه ئې د هغې د خوراک د پاره لاس ور اوراندې نه کړو،حضرت ابراهیم ﷺ چه د دوی خوراک نه کول اولیدل نو اندیښنه ئې پیداشوه چه دا خو میلمانه نه معلومیږی،ممکنه ده چه دڅه فساد په نیت راغلې وی،فرشتوچه د هغه اندیښنه محسوسه کړه نو خبره ئې ښکاره کړه او ورته ئې اووئیل چه مونږه دالله تعالی فرشتې یوتاسومه یریږې مونږه تاسو ته د اولاد د زیری درکولو نه علاوه د یو بل کار د پاره هم رالیږلې شوې یوچه د لوط ﷺ په قوم باندې عذاب نازل کړو،د حضرت ابراهیم ﷺ بی بی ساره د پردې د روستو دا خبرې اترې اوریدلې کله چه معلومه شی چې دا انسانان نه دې فرشتې دی نو د پردې ضرورت پاتې نه شو په دې بوډۍ والی کښې ئې چه د اولاد زیرې واوریدو نو په خندا شوه او اوئې وئیل چه آیا په دې بوډۍ والی کښې به هم زه اولاد راوړم؟او دا زما خاوند هم بوډا دې،فرشتو جواب ورکړو چه ایا تاسو د الله تعالی په حکم باندې تعجب کوې،د چا په قدرت کښې چه هر څه شته؟خصوصا د پیغمبریٔ په خاندان کښې د اوسیدو په وجه ته دا هر څه همیشه وینې ګورې،چه په دې خاندان باندې د الله تعالی لوئې رحمت او برکت نازلیږی چه اکثر د ظاهرې اسبابو نه زیات پورته وی بیا د تعجب څه خبره ده؟دا د دغې واقعې خلاصه وه،وروسته د دې آیتونو پوره تفصیل اوګورې۔

په رومبی آیت کښې ښودلې شوې دی چه فرشتې ابراهیم ﷺ ته د زیری ورکولو د پاره راغلې وې،دغه زیرې په دریم آیت کښې داسې بیانیږی ﴿فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ﴾

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائیلې دی چه دغه درې فرشتې جبرائیل،میکائیل او اسرافیل علیهم السلام وې[قرطبی]دوی په انسانی شکل کښې ابراهیم ﷺ ته چه راغلې ورته ئې سلام اوکړو،حضرت ابراهیم ﷺ ورته د سلام جواب ورکړو،انسانان ئې اوګنړل ځکه ئې د دوی میلمستیا کول شروع کړل.[1]

[1]) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج۹، ص۳

Scanned with Ca

حضرت ابراهیم ﷺ هغه رومبی انسان دې چه په دنیا کښې ئې د میلمستیا کولو رسم جاري کړو [قرطبی] (۱) د هغوی ﷺ طریقه دا وه چه یواځې به ئې هیڅرې ډوډۍ نه خوړه بلکه د هر خوراک په وخت به ئې میلمه لټولو چه هغه سره خوراک اوکړی.

قرطبی رحمه الله د بعضې اسرائیلي روایاتو نه نقل کړې دی، چه یو ورځ د خوراک په وخت د میلمه لټولو پسې بهر ته لاړو یو نا آشنا سړې ئې راوستو چه په دسترخوان کښیناستلو نو ابراهیم ﷺ اوفرمائیل چه بسم الله اووایه هغه اووئیل چه زه الله نه پیژنم، ابراهیم ﷺ د دسترخوان نه پورته کړو او ډوډۍ خوراک ته ئې پرې نښو، چه هغه اووتو نو جبرائیل ﷺ راغلو او اوئې وئیل چه الله تعالی فرمائی چه [ما سره د کفر ورته ټول عمر روزی ورکړه او تاسو ورته په یوې نمړۍ ورکولو کښې هم شومتوب اوکړو]

په دې اوریدو وریسې ابراهیم ﷺ په تادۍ وراووتو او هغه سړې ئې بیرته را اوبللو، هغه ورته اووئیل چه وجه څه ده چه اول دې بهر ته اوویستلم او بیا مې بوځې؟ ورته ئې دا هم اووئیل چه ترڅو دې راته نه وی وئیلې هیڅرې به درسره لاړ نه شم، حضرت ابراهیم ﷺ ورته واقعه بیان کړه چه د هغه د مسلمانیدو باعث جوړه شوه، هغه اووئیل چه کوم رب دا حکم رالیږلې دې هغه لوئې کریم دې زه پرې ایمان راوړم، بیا حضرت ابراهیم ﷺ سره لاړو او مؤمن شو، بسم الله ئې باقاعده او وئیله او ډوډۍ ئې اوخوړه، (۲) د دې خپل عادت مطابق حضرت ابراهیم ﷺ دغې فرشتو ته هم یو وریت کړې څښې د خوراک د پاره وړاندې کړو ځکه چه هغوی د بنیادمو په شکل کښې راغلې وې چه په لیدلو ئې بنیادم میلمانه ګڼړلې وو.

په دویم آیت کښې دا اوښودلې شو چه په انساني شکل کښې راتلونکو فرشتو ته الله تعالی بشری خاصیتونه د خوراک هم ورکولې شو خو په دغه موقع د دوی خوراک نه کولو کښې د الله تعالی حکمت دا وو چه د دوی فرشتې کیدل ښکاره شی، ځکه د دوی د فرشته والی خاصیت ئې باقی اولرلو او د هغې په وجه د خوراک څیز ته ئې لاس ور وړاندې نه کړو.

په بعضې روایتونو کښې راغلې دی چه د فرشتو په لاسونو څه غشی وو د هغې څوکې ئې دغه ورتې کړې غوښې ته وروړلې، د دوی د دغې عمل او خوراک کښې نه کولو نه حضرت ابراهیم ﷺ ته د دغه ځاې د عرف مطابق دا خطره شوه چه هسې نه دا دشمنان وی ځکه د هغوی په عرف کښې د یو میلمه د خوراک نه انکار به هم د داسې شر او فساد علامت وو [قرطبی] (۳) خو فرشتو خبره ښکاره کړه چه مونږه فرشتې یو ځکه خوراک نه کوو تاسو څه یره مه کوې.

احکام او مسائل: په دې آیتونو کښې د ژوند تیرولو د پاره ډیر احکام او ډیر ضروری هدایات راغلې دی چه امام قرطبی په خپل تفسیر کښې په تفصیل سره لیکلې دی.

مسلام سنت: ﴿قَالُوا سَلٰمًا ۖ قَالَ سَلٰمٌ﴾ دې نه معلومه شوه چه مسلمانانو د پاره سنت طریقه دا ده چه خپل منځ کښې د ملاقات کولو په موقعه دې سلام کوی، خو راتلونکی میلمه لره په دې کښې وړاندې والې پکار دې او مقامی خلقو له ئې جواب ورکول پکار دی.

---

(۱) تفسیر القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۶۳
(۲) تفسیر القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۶۸
(۳) تفسیر القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۶۵

دا رسم په هر قوم او ملت کښې موندې شي چه دملاقات په وخت کښې د يو بل د خوشحالولو په غرض څه کلمات وائي، خو اسلامي تعليم په دې باره کښې بې مثله او زيات غوره څکه دې چه د مسنون سلام لفظ [السلام عليکم] د الله تعالى په نوم باندې مشتمل کيدلو د وجې نه دالله تعالى ذکر دې او مخاطب د پاره د هر قسم سلامتې دعا کول دي او د خپله اړخه ورله د هغه د ځان او مال او د ننگ وناموس د حفاظت ضمانت [يعنې ذمه داري اخستل] دی.

قرآن کريم په دې موقع د فرشتو د اړخه ﴿سَلٰمًا﴾ او د حضرت ابراهيم عليه السلام د اړخه [سلام] ذکر کړې دې، په ظاهره دې ځائې کښې د سلام پوره الفاظ ذکر کولو ضرورت نشته دې لکه څنگه چې په عرف او محاوره کښې وئيلې کيږي چې فلانی فلانی ته سلام اوکړو مراد ترې دا وی چې پوره کلمه السلام عليکم ئې اووئيل. څکه دې ځائې کښې د سلام نه پوره کلمه د سلام مراد ده کومه چې نبي کريم ﷺ د خپل قوم اوفعل او عمل نه خلقو ته خودلې ده. يعنې د اسلام په شروع کښې السلام عليکم او ددې سلام جواب وعليکم السلام ورحمة الله.

د ميلمستيا او ميلمه پاللو څو اصول: ﴿فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ﴾ يعنې ابراهيم عليه السلام په وريت شوی [کباب شوی] څخی [گيلگی] راوړلو کښې څه ايسار نه شو].

دې نه څو خبرې معلومې شوې د ميلمستيا کولو په آدابو کښې رومبې خبره دا ده چه د ميلمه په راتلو سره چه کوم د خوراک څښاک څيز تيار وی يا زر تياريدې شي نو هغه دې ميلمه ته پيش کولې شي بيا که د وس خاوند وی نو دنورې ميلمستيا انتظام دې پس ته اوکړي [قرطبي] (۱)

دويمه خبره دا ده چه ميلمه د پاره دې په زياتو تکلفاتو کښې نه پريوځې په اسانې سره چه کوم ښه څيز د کوريه په لاس کښې راتلې شي هغه دې ميلمه ته پيش کوی، ولې چه ابراهيم عليه السلام سره به غوټين [دغوايانو] مال وو څکه ئې يو څخې [گيلگی] ذبح کړو او وريت [کباب] ئې کړو او د ميلمنو په وړاندې ئې پيش کړو [قرطبي] (۲)

دريم دا چه د راتلونکو ميلمستيا کول د اسلام د آدابو او د ښو اخلاقو نه دی، د پيغمبرانو عليهم السلام او د نيکانو خلقو عادت دې.

په دې کښې د علماؤ اختلاف دې چه ميلمستيا کول واجب دی او که نه؟ جمهور علماء رحمهم الله فرمائي چه واجب خو نه دی البته سنت او غوره خبره ده، بعضې علماؤ رحمهم الله فرمائيلې دی چه د کلی [صحراء] په خلقو ميلمه پالل څکه واجب دی چه هلته د خوراک څښاک بازاری انتظام نه شي کيدې خو په ښار والو څکه واجب نه دی چه هلته په بازار کښې دغه انتظام کيدې شي، دا مختلف اقوال امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کښې نقل کړې دی (۳)

﴿فَلَمَّا رَاٰۤ اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ﴾ [يعنې کله چه حضرت ابراهيم عليه السلام اوليدل چه د خوراک څيز ته ئې لاس نه ورځی نو د هغوی نه اوبو گنيدو].

دې نه معلومه شوه چه د ميلمه د آدابو نه يو ادب دا هم دې چه ميلمه دې هغه څيز قبول کړي چه ورته وړاندې کړې شوې وی [که د هغې خوړل ئې زړه نه غواړی يا ورته مضر او ضرري ښکاره

(۱) تفسير القرطبي: ج۹، ص۷
(۲) تفسير القرطبي: ج۹، ص۷
(۳) تفسير القرطبي: ج۹، ص۷

Scanned with Ca

شی نو د کوربه د زړه ساتلو په غرض دې څه لږ شان ترې نه اوخوری اوڅښی].

دې جملې نه بله یوه خبره دا معلومه شوه چه کوربه دې په دې باندې نظر ساتی چه میلمه د هغه پیش کړې څیز خوری او که نه؟ څنګه چه ابراهیم ﷺ د فرښتو په نۀ خوراک نظر لرلې وو.

خو د نظر لرلو نه مطلب دا هم نه دې چه د میلمه هرې نمړې [ګولې] او ګوټ [غړپ] ته دې په زیر زیر ګوری بلکه په سرسری نظر دې ورته اوګوری، ولې چه میلمه به په دې سره شرمیږی او په داده زړه به خوراک نه شی کولې، څنګه چه هشام بن عبد الملک ته دغسې یو واقعه راپیښه شوې وه چه هر کله د هغه د یو میلمه په نمړې کښې ویښته ښکاره شو، امیرالمؤمنین چه ورته هغه په ګته کړو نو دغه میلمه یو باندې وو سمدستی پورته شو او اوئې وئیل چه مونږ د هغه چا ډوډئ نه خورو چه زمونږ نمړو ته ګوری.[1]

امام طبری ﷫ دلته نقل کړې دی چه هر کله فرښتو د ډوډئ خوړلو نه انکار اوکړو او اوئې وئیل چه هله به خوراک کوو چه د دې قیمت او بیعه مونږ نه واخستې شی نو ابراهیم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ښه ده نو د دې قیمت دا دې چه په شروع د خوراک کښې د الله تعالی نوم واخلې او په آخر کښې ئې حمد [ثنا صفت] بیان کړې، جبرائیل ﷺ د دې په اوریدو اووئیل چه هسې خو الله تعالی دوی لره خلیل نه دې جوړ کړې، دوی هم د دې مستحق دی.[2]

د دې واقعې نه معلومه شوه چه د ډوډئ په شروع کښې بسم الله او په آخر کښې ئې الحمد لله وئیل سنت دی.

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا

نوهر کله چې | الرې شوه | د ابراهیم نه | ویره | او راغئ هغه ته | زیرې | نوجګړه ئې کوله زمونږ سره

نوهر کله چې دحضرت ابراهیم ﷺ نه ویره لاړه او زیرې ئې بیاموندهٔ نومونږ سره ئې د لوط ﷺ د قوم باره

فِيْ قَوْمِ لُوْطٍ ۝ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ۝

په باره دلوط دقوم کښې | بیشکه | ابراهیم | خامخا صبرناك وو | په زړه نرم وو | رجوع کونکې وو [الله ته]

کښې بحث شروع کړو بیشکه حضرت ابراهیم ﷺ ډیر برداشت کولو والا، دړمن او الله ته رجوع کولو والا وو

يٰٓاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۚ وَاِنَّهُمْ

اې ابراهیم | مخ واړوه | د دې خبری نه | شان دادې چې | تحقیق راغلې دې | حکم درب ستا | او بیشکه هغوئ چې دی

او د نرم زړه مالک وو | اې ابراهیم ﷺ داخبره پریږده | استاد پروردګار اتله فیصله شوې ده | او په

اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ۝ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا

راتلونکې دې هغوئ ته | هغه عذاب | چې نه دې واپس کیدونکې | او هر کله چې | راغلې | فرښتې زمونږه

هغوئ به داسې عذاب راځی | چې هغه په هیڅ صورت کښې د واپس کیدو نۀ دې | او هر کله چې زمونږ فرښتې

---

[1]) تفسیر القرطبی: ج۹، ص۶۵، ۶۶

[2]) تفسیر الطبری تحت هٰذه الآیة رقم الحدیث: ۱۸۳۱۲

Scanned with Ca

لُوطًا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعًا

لوط ته | نوغمژن شو هغه | په وجه د هغوئ | او تنګ شو | د دوی ه راتلو | په زړه کښې

حضرت لوط ﷺ ته ورغللي | نو دهغوئ په ورتللو خفه شو | او په زړه ئې بارشو | او وې وئيل چې

وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ ۝ وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ

او وې وئيل | دا | ورځ ده | ډېره سخته | او راغلي هغه ته | قوم د هغه | په منډه منډه

دانن ورځ ډېره سخته ده | او [دميلمنو په راتلو سره] دهغه قوم په منډه راغلو دهغوی طرف ته | او هغوئ به د

إِلَيۡهِ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ

د ده اړخ ته | او د مخکښې نه | وو هغوئ | چې کول به ئې | بدکارونه | اووئيل لوط ﷺ | ائې قومه زما

وړاندې نه بدکارئ کولې | هغه [لوط عليه السلام] ورته اووئيل | چې ائې زما قومه

هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ

دا ښځې | لونړه زما دی | دا | ډېرې پاکې دی | ستاسو دپاره | نو او ويرېږئ د الله نه | او مهٔ رسوا کوئ ما

دا زما لونړه [حاضرې] دی | هغوئ ستاسو دپاره ډېرې پاکې دی | نو د الله ﷻ نه اوويرېږئ | او ما دخپلو

فِي ضَيۡفِيٓۖ أَلَيۡسَ مِنكُمۡ رَجُلٞ رَّشِيدٞ ۝ قَالُواْ لَقَدۡ عَلِمۡتَ

په حق د ميلمنو زما کښې | آيا نشته | په تاسو کښې | يو سړې نيک | اووئيل هغوئ | بيشکه معلومه ده تاته

ميلمنو په حقله مهٔ شرموئ | آيا په تاسو کښې هيڅوک شريف سړې نشته | هغوئ ورته اووئيل چې تهٔ

مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ حَقّٖ وَإِنَّكَ لَتَعۡلَمُ مَا نُرِيدُ ۝

چې نشته زمونږ | په لونړو ستا کښې | څه حق | او بيشکه تهٔ | خامخا پوهيږې | په هغې | چې غواړو مونږه

ښهٔ پوهيږې | چې زمونږ ستا لونړو ته هيڅ حاجت نشته | او تاته دا هم ښهٔ معلومه ده | چې مونږ په کوم

قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ۝

اووئيل لوط | کاش | چې وې زما دپاره | په تاسو باندې | طاقت | يا پناه اخستې وې ما | يو ځيز محکم ته

نيت [راغلي] يو | هغه ا ووئيل هائې افسوس که زما په تاسو [خپل] وس رسيدلې | يا مې ديوې مضبوط

قَالُواْ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓاْ

اووئيل هغه فرښتو | ائې لوط | بيشکه مونږه | راليږلې شوې يو | د رب ستا | هرګزنشی رسيدې داخلق

جماعت سره پناه اخستې شوې | [نو تاسو به ليدلې وو] | هغې [فرښتو] اووئيل ائې لوط ﷺ مونږ ستا د

إِلَيۡكَۖ فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ

تاته | نو بوځه | بال بچ خپل | په يوه حصه کښې | د شپې نه | او نهٔ دې ګوری واپس | ستاسو نه | هيڅوک

پروردګار فرښتې يو او دوئ تاته نزدې کيدې هم نشی | نو د شپې شپې د خپل کور خلق اوباسه | او په

إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمۡۚ

مګر مهٔ بوځه | ښځه ستا | بيشکه شان دادې | چې رسيدونکې دې هغې ته | هغه عذاب | چې رسيږی هغوئ ته

تاسو کښې به هيڅوک هم مخ په شا نهٔ ګوری | خو [يو ازې] ستا بی بی | هغه به هم په دغې عذاب کښې

Scanned with Ca

اِنَّ مَوۡعِدَهُمُ الصُّبۡحُ ؕ اَلَيۡسَ الصُّبۡحُ بِقَرِيۡبٍ ۞ فَلَمَّا جَآءَ

بیشکه | وخت دوعدې دهغوئ | صبا دې | آيا نه دې | صبا | نزدې | نوهركله چې | راغې

گرفتاریږی | چې د انور [تول] په کښې اخته کیږی [ددوئ دپاره تاکلې وخت سحر دې [آیا صبا نزدې نۀ دې؟

اَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهَا

حکم زمونږه [نو اوگرځوو مونږه [پورته طرف دهغه کلی [لاندې طرف دهغه کلی [او اوورول مونږه [په هغه کلی باندې

نو کله چې زمونږ حکم اوشو [نو مونږ زمکه لاندې باندې کړه [او په هغوئ مو پرله پسې

حِجَارَةً مِّنۡ سِجِّيۡلٍ ۙ مَّنۡضُوۡدٍ ۞ مُّسَوَّمَةً عِنۡدَ رَبِّكَ ؕ

کانړی | چې جوړ شوی وو دپخې ختې نه | پرله پسې | چې هر کانړې نښه کړې شوې وو [په نیز د رب ستا

د کانړو باران اوکړو [...... چې ستا د پروردگار نښې پرې لگیدلې وې

وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ بِبَعِيۡدٍ ۞

اونۀ دې | دا عذاب | د ظالمانو نه | لرې |

او دغه سزا د ظالمانو نه څه لرې نۀ ده |

آسان ترجمه قرآن

بیا چه کله د ابراهیم علیه السلام نه ویره لرې شوه، او زیرې ورته ملاؤ شو، نو هغه څمونږ سره د قوم لوط په باره کښې (د ناز په طور) جهگړه شروع کړه حقیقت دادې چه ابراهیم ډیر صبرناك (دالله په یاد کښې) ډیر آهونه کونکې، (او) هر وخت مونږ ته راګرځیدونکې وو (مونږ دوی ته ووئیل) چه ابراهیمه! دا خبره پرېږده. یقین وکړه چه ستا د رب حکم راغلې دې، او په دې خلقو باندې به داسې عذاب راځي چه هغې لره څوك واپس کولې نه شي. او کله چه څمونږ فرښتې لوط ته ورسیدې نو هغه د دوی دوجې نه په ویره شو او زړه ئې پریشانه شو، او هغه ووئیل چه: نن دا ورځ ډیره سخته ده او دهغه د قوم خلق هغه ته په منډه راغلل او دې نه مخکښې دوی بد کارونه کول. لوط ووئیل: اې څما قومه! دا څما لونړه موجود دي. دا ستاسو دپاره ډیرې پاکې دي دې وجې نه دالله نه ووېرېږئ او څما د میلمنو په باره کښې ما مه رسوا کوئ. آیا په تاسو کښې یو هم هوښیار سړې نشته؟ هغوی ووئیل چه: تا ته معلومه ده چه ستا د لونړو سره څمونږ څه مطلب نشته، او ته ښه پوهیږې چه مونږ څه غواړو؟ لوط ووئیل: کاش چه ما څخه د دوی د مقابلې څه طاقت وې، یا ما یو مضبوط قوم ته پناه نیولې شوې اوس) فرښتو (لوط ته) ووئیل اې لوطه! مونږ ستا د پروردگار لیږلې شوې فرښتې یو. دا (کافر) چرې هم تا ته نه شي رسیدې. نو ته د شپې په څه حصه کښې خپل کور والا واخله او دې کلې نه روان شه، او ستاسو نه دې وروستو څوك نه گوری. مګر ستا بي بي (په تا سره نه ځي) په هغې باندې هم هغه مصیبت راتلونکې دې کوم چه په دې قوم را روان دې. یقین وکړه چه په دوی (د عذاب د راتلو) دپاره د سحر وخت مقرر دې آیا صبا بالکل نزدې نه دې راغلې؟ یا چه کله څمونږ حکم راغې نو ددې زمکې بره حصه مو ښکته حصه کښې بدله کړه، او په دې مو د پخې

Scanned with Ca

خاوري کانړي پرله پسې راوروول چه په هغې باندې ستا د رب د طرف نه نښې لږېدلې وې. او دا کلې (د مکې) ددې ظالمانو نه څه لرې نه دي.

خلاصه تفسير:

﴿ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴾ بیاچه هرکله د ابراهیم [عليه السلام] دغه ویره لرې شوه [هرکله چه فرشتو: لَا تَخَفْ: وویل اوددوی فرشتی کیدل معلوم شو] اوددوی ته دخوشحالئ خبرمیلاو شو[چه اولادبه پیداشی]نو[دیخوانه بی فکره شوبل طرف ته متوجه شوچه قوم لوط[عليه السلام]به هلاکیږي،اوخمونږسره ئی [دسفارش په طور دمبالغی اواصرارپه صورت کښی]جګړه دقوم د لوط[عليه السلام] په باره کښی شروع کړه [چه ددی تفصیل په بل آیات کښی دی،چه هلته خو لوط[عليه السلام] هم موجود دی پدی وجه عذاب دی ونه لیږلي شي چه دوی ته به تکلیف ورسیږي ،مطلب داوچه پدی بهانه سره قوم بچ شي لکه چه د:فی قوم لوط :نه په ظاهره معلومیږی اوشاید دابراهیم[عليه السلام] امیدووچه دوی به ایمان راوړي].

﴿ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴾ واقعي ابراهیم ډیرنرم طبع رحم کوونکی اورجوع کونکی وو[پدی وجه ئی سفارش کښی مبالغه وکړه].

﴿ يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ ۖ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴾ ارشادورته وشوچه]ای ابراهیمه [اګرچه بهانه لوط[عليه السلام]ده مګراصلی مطلب معلوم شوچه دقوم سفارش دی پس] دا خبره پریده [یعنی دوی ایمان راوړونکی ندي پدي وجه]ستادرب حکم [ددوی باره کښی]راغلی دی او[پدی سبب سره]پدوی خامخا داسی عذاب راتلونکی دی‌چه په هیڅ شان سره واپس کیدونکی[پدی وجه دی باره کښی څه ویل اواوریدل بیکاره دی، پاتی شوداچه هلته لوط[عليه السلام]دی نوپس هغه لره اوتولوایماندارولره به ددغه ځای نه لرې کړې شی،بیابه عذاب راځی چه دوی ته تکلیف ونه رسی،چنانچه خبره پدی‌ختمه شوه].

﴿ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴾ او[دابراهیم[عليه السلام] نه چه فارغی شوی]دغه څمونږفرشتی چه هرکله د لوط[عليه السلام]طرف ته راغلی نو لوط[عليه السلام] ددوی [دراتلو] په وجه سره خکه غمژن شو[چه دوی دډیروښائسته خوانانوپه شکل کښی راغلی وي او لوط[عليه السلام] دوی بنی آدم وګڼل اودخپل قوم نامعقوله حرکت ئی خیال ته شو]او[پدی وجه سره]ددوی[دراتلو]په وجه ډیرزړه تنګئ شو[اوپدغه وجه ئی]وویل چه نننئ ورځ ډیره سخته ده[چه دوی داسی ښائسته اودقوم داخراب حرکت اوزه یواځی ګوروچه څه کیږي؟].

﴿ وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِى ضَيْفِىٓ ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴾ اوده قوم [چه ددی نه خبرشو]ده ته [یعنی لوط عليه السلام ته] په منډوراغلل اودوړاندي نه ئی نامعقوله حرکتونه کول[پدغه خیال سره اوس هم راغلل] لوط [عليه السلام] ډیرګبراو شوخوشامنده سره ئی]وویل ای څماقومه داځما [انګوریانی[مرندی] لوڼه [ګومی چه ستاسوپه کورونوکښی دي]موجودی دي دغه ستاسو[دنفس خوشحالولو]لپاره [ښي] پوره دی پس [په هلکانودنظرکولوباره کښی]دالله نه وویریږئ اوما څمادمیلمنوپه باره کښی مه رسواکوئ[یعنی دي میلمنوته څه ویل مالره شرمنده کول دي ،اوکه ددوی څه لحاظ نه کوئ چه مسافردي نوځمالحاظ وکړئ چه په تاسوکښی اوسیږم افسوس اوتعجب دی]آیاپه تاسو کښی څوک هم[دعقل خاوندا و]ښه سړی نشته [چه په دي خبروباندي پوه شي اونورهم پوهه کړي].

Scanned with Ca

﴿ قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ۚ وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيْدُ ﴾دوی وویل چه تاته معلومه ده چې ستا لونړو ته مونږ څه ضرورت نشته [ځکه چې زمونږ ښځو طرفته څه رغبت نشته او تاته خو معلومه ده [دلته دراتلونه]چه خمونږ کوم مطلب دی،

﴿ قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ﴾ لوط [علیه السلام] ډیرعاجزاو دردمند شو]اووئی فرمائیل چه څه ښه به وه که ځماپه تاسوڅه زورچلیدئ[چه پخپله می ستاسوشردفع کولې شوی]یادځه مضبوطی پائی پناه می وای[چه ځماڅه خاندان یاقبیله وای چه ځما امدادئی کولی.

﴿ قَالُوْا يٰلُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ ۭ اِنَّهٗ مُصِيْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ ۭ اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ۭ اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ ﴾چه دلوط [علیه السلام]دومره پریشانی ئی اولیده نو] فرشتوویل چه ای لوطه [مونږبنی آدم نه یوچه ته دومره ویریږی] مونږخوستادرب رالیږلې شوی [فرشتی] یو[نودوی مونږته څه وئیلې شی اوته دځان لپاره هم مه ویریږه]تاته [هم] هرګز دوی نشی رارسیدی[چه تاته څه تکلیف ورسولی شی ،اومونږ پدوی دعذاب نازلولو لپاره راغلی یو]پس ته دشپې په څه حصه کښی خپل کوروالاروان کړه[ددی ځای نه بهر]ځئ اوپه تاسوکښی دی څوك په شانه ګوري [ټول زرزر ځئ]مګرستاښځه [دنه مسلمانیدوپه وجه به لاړه نشي] په دي هم هغه آفت راتلونکی دی کوم چه په نوروخلقوراځی [اومونږدرته دشپې دتلو خکه وایو]چه ددوی د[عذاب] دوعدی وخت دسحروخت دی[لوط[علیه السلام] ډیرتنګ شوی وو وئی فرمائیل چې څه کیږی چه اوس دی وشی :لکه په درمنثورکښی دی:فرشتو وویل]آیا د سحر وخت نژدی ندی [غرض داچه لوط[علیه السلام]دشپې شپې ووتلواولری لاړو او سحر شودعذاب سامان شروع شو].

﴿ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ڏ مَّنْضُوْدٍ ﴾پس هرکله چه زمونږ حکم [دعذاب لپاره]راورسیدنومونږدغه ځمکه [اولټه کړه ددی]دپاسه تختنه لاندی کړه [اود لاندی تختنه دپاسه کړه]اوپدی ځمکه مونږدقرت کانړوګتو[یعنی دخاوروپخی شوی دکانړوپه شان]

﴿ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ ۭ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ ﴾ ورول شروع کړل چه پرله پسی راوریدی پدوی باندی ستادرب له طرفه[یعنی په عالم غیب کښی]خاص نښنی هم وي [چه پدی سره دغوګټو د نوروګټونه فرق لرلو]او [دزمکی خلقوته پکاردي چه ددی قصی نه عبرت واخلی ځکه چه]داکلی[دقوم دلوط]ددی ظالمانونه څه لری نه دی[همیشه شام ته په تلوراتلوکښی ددوی دبربادئ نښنی وینی نودوی ته دالله اودهغه درسول مخالفت نه ویره پکاردده].

معارف او مسائل

په سورت هود کښې اکثر د پخوانو پیغمبرانو او د هغوی د امتونو حالات بیان شوې دی،په دغه قومونو باندې د خپلو پیغمبرانو د مخالفت په وجه مختلف قسم اسمانی عذابونه بیان شوې دی،اوس په دې آیتونو کښې د حضرت لوط علیه السلام او د دوی د قوم حالات بیان شوې دی او په دغې قوم باندې د سخت عذاب بیان راغلې دې.

د حضرت لوط علیه السلام قوم کافران وو او ورسره په داسې پلیتې بدکارئ او بې حیائې کښې اخته وو چه دې نه وړاندې په دنیا کښې بل هیچا نه وه کړې بلکه ځنګلی ځناور هم ترې ځان ساتی او نر په نر بدکاری کول په دنیا کښې چرې هم نه شی موندې،چنانچه د دې وبال او عذاب د عامې بدکارې نه په څو څو چنده زیات دی،ځکه په دغې قوم باندې داسې سخت عذاب راغلو چه په

عامو بدکارئ او بې حیائۍ کوونکو باندې چرې هم نه دي راغلي.
واقعه داسې وه چه الله تعالى يو څو فرشتې سره د جبرائيل عليه السلام نه په دغې قوم باندې د عذاب نازلولو د پاره راوليږلې چه اول په فلسطين کښې د حضرت ابراهيم عليه السلام خوا ته ورغلي، بيان ئې په تيرو شوو آيتونو کښې راغلې دې، دغه ځاې نه لس دولس ميله لرې حضرت لوط عليه السلام ته بيا راغللې، دوى د ښکلو هلکانو په شکل کښې دغلته څکه ورغلي چه الله تعالى د خپل عادت مطابق د خپل عمل په جوړ په هغوى عذاب مسلط کول غوښتل، هرکله چه هغوى د حضرت لوط عليه السلام کور ته ورغلل، هغوى چه دوى لره په شکل انسانی کښې اوليدل نو هغوى هم ميلمانه اوګڼړل، دغه وخت کښې حضرت لوط عليه السلام سخت پريشانه شو چه که دوى لره ميلمانه جوړ نه کړم نو د پيغمبرئ د شان خلاف دى او که ميلمانه ئې جوړ کړم نو د خپل قوم خباثت راته معلوم دې، د دې يره ده چه هغوى مې په کور راوخيژى او دې ميلمنو ته تکليف وراورسوى او زه [لوط عليه السلام] به د دوى نه هغوى دفع نه کړې شم، او زړه کښې ئې اووئيل چه نن ډيره سخته د مصيبت ورځ ده.
الله تعالى دا جهان د عبرت د پاره يو عجيبه ځاې جوړ کړې دې، په دې کښې د الله تعالى د کامل قدرت او د حکمت بالغه بې شميره ننداړې دى، د آزر بت تراش په کور کښې ئې خپل خليل ابراهيم عليه السلام پيدا کړو، د حضرت لوط عليه السلام غونډې مقبول او برګزيده پيغمبر په کور مبارک کښې ئې د هغه داسې ببيبى ميشته کړه چه کافرانو سره به ئې راز باز ساتلو او د حضرت لوط عليه السلام مخالفت به ئې کولو، کله چه دغه فرشتې د ښکلو هلکانو په شکل کښې د حضرت لوط عليه السلام کور مبارک ته راغلې نو هغې د دغې قوم بدمعاش خلق په دې خبر کړل [مظهرى، قرطبى] (۱)
حضرت لوط عليه السلام ته د خپل قوم په باره کښې د هغوى د خراب او ګنده عادت انديښنه راولاړه شوه چه بيان ئې په دويم آيت کښې داسې راغلې دې ﴿وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ اِلَيْهِ﴾ [حضرت لوط عليه السلام ته ئې قوم په منډه منډه راغلو چه د ړومبې نه ئې هم ناکاره حرکتونه کول] په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چه د دغې ګنده عمل له کبله هغوى تر دې حده پورې بې حيا شوې وو چه ښه په ډاګه د خپل پيغمبر حضرت لوط عليه السلام په کور وراوختل، حضرت لوط عليه السلام چه د دوى ايسارول د خپل وس نه بهر اوليدل نو د شر دفع کولو په غرض ئې ورته اوفرمائيل چه که زما د ميلمنو بې عزتى او سپکاوې نه کوې نو ستاسو سردارانو ته به خپلې لونړه ببيبانې په نکاح ورکړم، په دغه زمانه کښې مسلمانانې ښځې کافرانو نارينو ته په نکاح ورکول جائز وو، او د رسول الله ﷺ د پيغمبرئ تر ابتدائى دور پورې دا جائز وو چنانچه رسول الله ﷺ خپلې دوه لونړه د عتبه بن ابى لهب او د ابى العاص بن ربيع په نکاح کښې ورکړې وې، دې نه پس بيا د مسلمانانو ببيبانو نکاح د کافرانو نارينو سره حرام اوګرځولې شو [قرطبى] (۲)
بعضې مفسرينو رحمهم الله فرمائيلې دى چه دلته د لونړو نه مراد د ټول قوم لونړه څکه دي چه هر پيغمبر خپل امت د پاره د پلار په شان وى او ټول امت د هغه روحانى اولاد وى لکه قرآن کريم چه فرمائى؛ ﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗٓ اُمَّهٰتُهُمْ﴾ (۳)

۱) التفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۱۰۳، وتفسير القرطبى تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۷۵
۲) تفسير القرطبى: ج ۹، ص ۷۶
۳) ترجمه: نبى د خپل نفس هم زيات د مؤمنانو سره تعلق ساتى او د هغه نبى ببيباڼې د دوى مؤمنانو ميندې دى.

او د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ په روایت کښې ورپسې دا الفاظ [وهواب لهم]هم راغلي دی، چه د هغې تر مخې رسول الله ﷺ ته د ټول امت پلار ونیلې شوې دی، د دې تفسیر مطابق د حضرت لوط ؈ د دغې قول مطلب به دا وی چه[تاسو د خپل ناکاره عمل نه منع شئ په شرافت سره د قوم جینکو سره نکاح کوې او بیبیانې ئې جوړوې، بیا د الله تعالی نه د یرولو په غرض ورته لوط ؈ داسې اوفرمائیل چه﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾

بیا په عاجزۍ سره ورته خواست اوکړو چه﴿وَلَا تُخْزُوْنِ فِيْ ضَيْفِيْ﴾[میلمنو ته مې مه شرمنده کوې]او اوئې فرمائیل﴿اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ﴾[په تاسو کښې داسې ښه او شریف سړې نشته چه زما فریاد واورې]خو هر کله چه په دوی کښې د سړیتوب او شرافت څه بوئی هم نه وو نو ټولو داسې جواب ورکړو﴿لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ۚ وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيْدُ﴾ [تاسو پوهیګې چه ستاسو جینکې زمونږ هیڅ پکار نه دی مونږ چه څه غواړو هغه تاسو ته ښه معلومه ده]

چه په هر شان حضرت لوط ؈ بې وسه شو نو دا خبره ئې په ژبه باندې راغله﴿لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ﴾[کاش دومره وس مې وې چه ټول قوم سره مې مقابله کولې شوې یا داسې ټولې او ډله وې چه د دې ظالمانو نه ئې زه خلاص کړې وې].

فرشتو چه د حضرت لوط ؈ دا پریشانی اولیدله نو خبره ئې ښکاره کړه او اوئې وئیل چه مه یریږې، ستاسو ډله ډیره مضبوطه ده، مونږ د الله تعالی فرشتې یو د دوی په قابو کښې راتلونکی نه یو، په دوی باندې د عذاب راوستو د پاره راغلي یو.

د صحیح بخاری په یو روایت کښې راغلي دی چه رسول الله ﷺ په دې باره کښې اوفرمائیل چه الله تعالی دې په حضرت لوط ؈ باندې رحم اوکړی، هغوی د یوې مضبوطې ډلې په پناه اخستلو باندې مجبوره شو، او ترمذی کښې ورسره دا جمله هم شته دې چه حضرت لوط ؈ نه پس الله تعالی هیڅ یو پیغمبر داسې نه دې لیږلې چه د هغه کورنۍ او خاندان ئې مرستیال نه وی[قرطبی][(۱)]پخپله د رسول الله ﷺ په باره کښې قریشو ډیر قسمه چلونه اوکړل لیکن د رسول الله ﷺ ټول خاندان د رسول الله ﷺ مرسته اوکړه، اګر چه ټول د رسول الله ﷺ په مذهب نه وو، چنانچه ټول بنو هاشم په هغه بائیکاټ کښې د رسول الله ﷺ سره ملګری وو د کوم له مخه چه په رسول الله ﷺ باندې د قریشو کفارو د خوراک څښاک ټول څیزونه بند کړې وو.

د حضرت عبدالله بن عباس ﷛ نه منقول دی چه په دې واقعه کښې هر کله چه د حضرت لوط ؈ په کور مبارک باندې ئې قوم راوختو نو لوط ؈ د خپل کور دروازه بنده کړې وه او دغې خبیث قوم سره ئې د پردې نه روستو خبرې اترې کولې او فرشتې هم دغلته ورسره وې، دغې خلقو چه په دیوال د راوړیدو او کور ته د راننوتو د پاره د دروازې ماتولو اراده اوکړه نو دغه وخت هم د حضرت لوط ؈ په ژبه مبارکه دغه کلمې راغلې، کله چه فرشتو د حضرت لوط ؈ دغه پریشانی اولیدله نو حقیقت ئې ورته څرګند کړو او اوئې وئیل چه دروازه پرانیځه [خلاصه کړه] اوس ئې مونږ د عذاب په مزه پوهوو، د دروازې په پرانستو[خلاصولو] حضرت جبرائیل ؈ په خپل وزرسره ددغې خلقوسترګو ته اشاره اوکړه چه ټول ړانده شو او اوتښتیدل،

---

(۱) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۹، ص ۷۸، وصحیح البخاری، کتاب الانبیا، باب قول الله تعالٰی لقد کان فی یوسف الآیة: ج ۱، ص ۴۷۹، وجامع الترمذی، أبواب التفسیر، باب ومن سورة یوسف: ج ۲، ص ۱۴۲

Scanned with Ca

دغه وخت د الله تعالی په حکم فرشتو حضرت لوط ﷺ ته اووئیل ﴿فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ﴾ [تاسو د شپې په آخره برخه کښې خپل بال بچ خان سره کړئ او د دې ځاې نه اوځئ او دا هدایت ورته اوکړئ چه په دوی کښې دې هیڅوک مخ په شا نه ګوري، ستاسو د بیبی نه سوا، ولې چه په هغې به هم هغه عذاب راځی کوم چه په دغې قوم به راځي] د دې دا معنی هم کیدې شی چه بیبی به دې اګر چه په خاندان کښې درسره وی، درسره به بهر ته هم اوځی مګر ستاسو په دې هدایت به عمل نه کوی چه [مخ په شا به نه ګورئ] چنانچه د بعضې روایتونو په جوړ داسې اوشو چه دا هم د حضرت لوط ﷺ په ډله کښې روانه وه چه په قوم باندې د عذاب راتلو ګرز ئې واوریدو نو مخ په شا ئې اوکتل او د قوم په تباه کیدو باندې ئې افسوس اوکړو، دغه وخت د عذاب په یو کاڼړی باندې دا هم اولګیده چه د هغې خاتمه ئې اوکړه [قرطبی، مظهری] -[۱]

فرشتو دا هم اوښودل چه ﴿إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ﴾ [یعنی په دوی به د صبا په وخت کښې عذاب راځي] حضرت لوط ﷺ اوفرمائیل؛ غواړم چه د دې نه وړاندې عذاب راشی، فرشتو اووئیل ﴿أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ﴾ [یعنی صبا خو څه دومره لرې نه دې] -

بیا دا عذاب قرآن کریم داسې بیانوی [کله چه زمونږ عذاب راغلو نو مونږه د دغه آبادو بره برخه لاندې کړه او په هغوی مو داسې کاڼړي راووړول چه پرې د هر یو د نوم نخښه لګیدلې وه -

په روایتونو کښې راغلي دی چه دا څلور لوئې لوئې ښارونه وو، په کومو کښې چه دا خلق میشته وو، دغه علاقه قرآن کریم په بل ځاې کښې په [مؤتفکات] سره یاده کړې ده، کله چه د الله تعالی حکم راغلو نو جبرائیل ﷺ دغې ټولې علاقې لاندې خپل وزر کړو او دغه ټول ئې پرې په دې شان سره پورته کړل چه هر یو څیز په خپل ځاې سمدم پروت وو، د اوبو د ډک لوښی نه اوبه هم توئې نه شوې، د اسمان د اړخه د سپو او څناورو، څاروو او انسانانو آوازونه راتلل، دا شان دغه ټوله علاقه آسمان ته د نیغ پورته کولو نه پس د هغه ځاې نه اړولې راګذار کړې شوه چه د دوی د پلیت عمل سره مناسب وو.

د لوطیانو د عذاب بیانولو نه پس د دنیا د موجوده قومونو د خبرداره کولو د پاره الله تعالی فرمائی؛ ﴿وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ﴾ [یعنی د کاڼړو ورولو عذاب نن هم د کافرانو نه څه لرې نه دې] یعنی کوم خلق چه د دغې قوم په شان په ظلم او بې حیائې باندې ټینګ وی هغوی دې خپل ځانونه د داسې عذاب نه لرې نه ګڼړی نن هم دغسې عذاب راتلې شی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زما په امت کښې به څه خلق هغه عمل کوی چه د لوط ﷺ قوم به کولو کله چه داسې کیدل شروع شی نو انتظار کوئ چه په دوی به هغه عذاب راځی چه د لوط ﷺ په قوم راغلې وو-

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ	أَخَاهُمْ
[او مدین ته[مو اولیږلو]	رورد هغوئ
[..........اومدین ته مو دهغوئ رور حضرت	

شُعَيْبًا	قَالَ	يٰقَوْمِ	اعْبُدُوا اللّٰهَ	مَا لَكُمْ	مِّنْ اِلٰهٍ	غَيْرُهٗ	
شعیب	اووئیل هغه	اې زما قومه	عبادت کوئ د الله	نشته تاسو د پاره	هیڅ یو معبود	سوا د هغه نه	
شعیب ﷺ لیږلي وو	هغه ورته اووئیل چې اې زما قومه	تاسو د الله ﷻ عبادت کوئ	د هغه نه بغیر				

[۱]) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۹، ص ۸۰، والتفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۱۰۵

Scanned with Ca

وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّيٓ أَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ

اومهٔ کموئ تاسو | په ناپ کښې | او تول کښې | بیشکه زهٔ | وینم تاسو | په ښهٔ حالت کښې

ستاسو بل معبود نشته. ‖او په پیمانه او تول کښې کمې مهٔ کوئ ازهٔ وینم چې تاسو ښهٔ اسوده حال یئ

وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿۸۴﴾

او بیشکه زهٔ | ویریږم | په تاسو باندې | د عذابه | د ورځې | راګیرونکې نه

او زهٔ ستاسو په حق کښې د راګیرونکې ورځې د عذاب نه ویریږم

وَيٰقَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا

او ائې قومه زما | پوره ورکوئ | پیمانه | او تله | په انصاف سره | او مهٔ کموئ

او ائې زما قومه پیمانه او تول پوره پوره ورکوئ ‖او خلقو ته دهغوئ په څیزونو کښې تاوان مهٔ ورکوئ

النَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۸۵﴾ بَقِيَّتُ

خلقو ته | څیزونه دهغوئ | او مهٔ ګرځئ | په زمکه کښې | فسادکونکی | پاتې بچت شوې

او په زمکه کښې فساد مهٔ کوئ | ....د الله ﷻ [په درکړې مال کښې]

اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ ۚ وَمَآ أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ ﴿۸۶﴾

دالله | بهتر دې | ستاسو دپاره | که چرې | یئ تاسو | مومنان | اونهٔ یم زهٔ | په تاسو باندې | نګهبان

بچ شوې ګټه ستاسو دپاره ډیره بهتره ده ‖که تاسو مومنان یئ ‖او زهٔ څه ستاسو نګران خونهٔ یم مقرر شوې

قَالُوا يٰشُعَيْبُ أَصَلٰوتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَّتْرُكَ مَا

هغوئ اووئیل | ائې شعیب | آیا مونځ ستا | حکم کوی تاته | چې پرېږدو مونږه | هغه معبودان

هغوئ ورته جواب ورکړو ‖چې ائې شعیب ﷺ آیا ستا مونځونه تاته هیله دا ښائی ‖چې مونږ دې

يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ أَوْ أَنْ نَّفْعَلَ فِيٓ أَمْوَالِنَا مَا

چې عبادت به ئې کولو | پلارانو زمونږه | یا دا چې ‖اونهٔ کړو مونږه | په مالونو خپلو کښې | هغه کار

هغه خدایان پرېږدو ‖چې زمونږ پلرونو دهغوی عبادت کولو ‖یا څه چې مونږ په خپلو مالونو کښې کول غواړو

نَشٰٓؤُا ۗ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ ﴿۸۷﴾ قَالَ يٰقَوْمِ

چې غواړو مونږه | بیشکه ته | بس هم ته | بردبار ئې | ښهٔ سړې ئې | اووئیل شعیب | ائې زما قومه

هغه پرېږدو | واقعی تهٔ خو ډیرهوښیار او پوخ دیندار یئ | ....شعیب ﷺ اووئیل چې ائې زما

أَرَءَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ

آیاوینئ تاسو | که یم زهٔ | په ښکاره دلیل باندې | د طرفه درب خپل نه ‖او راکړې ئې دي ماته | د طرفه خپل نه

قومه دا راته اووائې | که زهٔ د خپل رب د طرفه په ښکاره دلیل قائم یم | او [بیا هم] هغه ما ته د خپل طرفه

رِزْقًا حَسَنًا ۗ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلٰى مَآ أَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ۗ

رزق | ښهٔ | اونهٔ لرم زهٔ اراده | چې مخالفت اوکړم ستاسو | هغه کارته | چې زهٔ منع کوم تاسو | د هغې نه

ښهٔ مال روزی کړې وی | اوزما دا نیت نهٔ دې | چې هغه کار اوکړم دکوم نه چې تاسو منع کوم

Scanned with Ca

إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ؕ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ ؕ

نه لرم زه اراده | مګر | د اصلاح | ترڅو چې طاقت کیږي زما | اونه دي توفیق زما | مګر د الله [په مدد]

زه د خپل طاقت مطابق ستاسو اصلاح کول غواړم ..... اوزما چې څه توفيق دي هغه دالله د طرفه دي

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾ وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ

په هغه باندي | بهروسه کړې ده ما | اوخاص هغه ته | رجوع کوم زه | اوائي زما قومه | باعث دې نه کړي تاسو

په هغه باندي بهروسه کوم | اوپه هر کار کښي هم هغه ته رجوع کوم | اوائي زما قومه :

شِقَاقِي أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ

مخالفت زما | چې اورسيږي تاسوته | په مثال | د هغې | چې رسيدلي وو | قوم دنوح ته | يا قوم دهود ته

[هسي نه چې] زما سره مخالفت تاسو دي حد ته اورسوي | چې کوم عذابونه د نوح ﷺ اوهود ﷺ اود صالح

أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِنْكُمْ بِبَعِيدٍ ﴿٨٩﴾ وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ

يا قوم دصالح ته | اونه دي | قوم دلوط | ستاسونه | لرې | اوبخښش اوغواړئ | د رب خپل نه

قوم ته رسيدلي وو | هغه تاسو ته هم اورسي | اود لوط ﷺ قوم تاسو نه څه لرې نه دي | دخپل رب نه بخښنه

ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ؕ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ ﴿٩٠﴾ قَالُوا

بيا | توبه اوباسئ | هغه ته | بيشکه | رب زما | رحم کونکي دي | اومينه لرونکي دي | هغوئ اووئيل

اوغواړئ | او بيا هغه ته توبه اوباسئ | زما پروردګار مهربانه او مينه ناک دي | هغوی اووئيل

يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ

ائي شعيب | نه پوهيږو مونږه | په ډيرو خبرو | د هغو نه | ...چې ته ئي کوې | او بيشکه مونږه | خامخا وينو تا لره

ائي شعيب ﷺ ! ستا په زياتو خبرو نه پوهيږو | اومونږ خو تا په خپله ډله کښي ډير کمزوري وينو

فِينَا ضَعِيفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ ۚ وَمَا

په مونږ کښي | کمزوري | اوکه چرې نه وې | ډله ستا | نوخامخا به سنګسار کړې وې مونږ ته | او نه ئي

.... | اوکه ستا د کورنۍ خاطر نه وې انو مونږ به ته په کاڼړو ويشتې وې | او ته په

أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ﴿٩١﴾ قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُمْ

ته | په مونږ باندي | غالب | اووئيل شعيب | ائي قومه زما | آيا ډله زما | زياته عزتمنده ده | په تاسو

مونږ غالب نه يې | هغه [شعيب ﷺ] اووئيل ائي زما قومه آيا زما خاندان ستاسو په نظر کښي

مِنَ اللَّهِ ؕ وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ إِنَّ رَبِّي بِمَا

دالله نه | او اونيوۀ تاسو دغه الله | روستو د شاګانو خپلو نه غورزولي شوي | بيشکه | رب زما | په هغه کارونو

دالله ﷻ نه زيات عزتمند دي | حال دا چې تاسو هغه [الله ﷻ] شاته پريخودي دي | بيشکه زما پروردګار

تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٩٢﴾ وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي

چې کوئ ئي تاسو | احاطه کونکي دي | او ائي قومه زما | عمل کوئ | په ځائې خپل | بيشکه زه هم

ستاسو په ټولو کارونو احاطه کړې ده | زما قومه تاسو پخپله طريقه عمل کوئ | اوزه به خپله طريقه عمل

Scanned with Ca

عَامِلٌ ؕ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّأْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ

عمل كونكې يم | زر به معلوم شي تاسوته | هغه څوك | چې راشي هغه ته | عذاب | چې رسوا به كړي هغه

كونكې يم | زر به درته دا معلومه شي | چې رسوا كونكې عذاب به په چا راځي..................

وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿۹۳﴾

اوهغه څوك | چې هغه دروغ ويونكې دي | اوانتظار كوئ | بيشكه زه | تاسوسره | انتظار كونكې يم

اوڅوك دروغژن دي | او تاسو انتظار كوئ .... زه هم تاسو سره انتظار كونكې يم

وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اوهر كله چې | راغئ | حكم زمونږه | بچ كړومونږه | شعيب | اوهغه كسان | چې ايمان ئې راوړې وو

اوهر كله چې زمونږ حكم راغلو | نوشعيب ﷺ او د هغه مسلمانان ملګري مو په خپل رحمت سره بچ كړل

مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ

دهغه سره | په خپل رحمت سره | او اونيول | هغه كسان | چې ظلم ئې كړې وو | سختې چغې

او په ظالمانو باندې يوه [ناترسه] چغه راغله | او پخپلو كورونو كښې [داسې] اړولي پريوتل

فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۹۴﴾ۙ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَا

نو شول هغوئ | په كلو خپلو كښې | پرمخې پراته | لكه چې | نه وو اوسيدلي | په هغې كښې | ......خبردار

لكه چې هډو په كښې اوسيدلي نه وو | ......واوره

بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ﴿۹۵﴾ ع

لرې والې دې [د رحمت نه] | دپاره دمدين د خلقو | لكه چې الرې شوي وو ثموديان |

چې مدين [هم] د رحمت نه [داسې] الرې شو لكه ثموديان [چې لرې شوي وو] |

آسان ترجمه قرآن

او مدين طرف ته مونږ د دوی ورور شعيب پيغمبر ليږلې وو هغه وئيلې وو اې څما قومه! دالله عبادت وكړئ د هغه نه سوا تاسو دپاره څوك معبود نشته. او په ناپ او تول كښې كمې مه كوئ. څه وينم چه تاسو خوشحال يئ او ما ته په تاسو باندې د يو داسې ورځې د عذاب ويره ده چه تاسو به د ځلورو وارو طرفونو نه ګير كړی. او اې څما قومه! ناپ او تول پوره پوره كوئ. او خلقو ته د هغوی څيزونه مه كموئ او زمكه كښې فساد مه خوروئ او كه څما خبره منئ نو (خلقو ته د هغوی حق وركولو نه وروستو) چه څه دالله وركړه بچ شي هغه ستاسو په حق كښې بهتره ده. او (كه نه منئ نو) څه په تاسو ذمه دار نه يم مقرر شوې هغوی ووئيل چه: اې شعيبه! آيا ستا مونځ تا ته دا حكم كوي چه څمونږ پلار نيكه چه د چا عبادت كولو هغه مونږ پريږدو او د خپل مال او دولت په باره كښې چه څه مونږ وغواړو، هغه هم وو نه كړو؟ واقعي ته ډير عقلمند او ډير نيك سړې ئې شعيب ووئيل: اې څما قومه ما ته ووايئ كه چرې څه د خپل پروردګار د طرف نه په يو ښكاره دليل باندې يم. اوهغه خاص د خپل طرف نه ما ته ښه رزق را كړې وي (نو بيا څه ستاسو په غلطه طريقه ولې روان شم) او څما داسې اراده نشته چه كوم كار نه څه منع كوم تاسو نه پښى

Scanned with Ca

ها هغه کار خپله وکړم. زما مقصد د خپل وسه پورې د اصلاح نه سوا نور څه نه دي. او ما ته چه کوم توفیق ملاویږی هغه دالله په مدد سره ملاویږی. هغه باندې ما اعتماد کړې دې، او دهغه طرف ته (هره معامله کښې) رجوع کوم او اې زما قومه! تاسوچه ماسره د ضد کومه معامله کوئ هغه تاسو دې حد ته وو نه رسوی چه په تاسو هم داسې مصیبت نازل شی لکه چه د نوح په قوم باندې یا دصالح په قوم باندې نازل شوې دې اود لوط علیه السلام قوم ستاسو نه څه لرې نه دې تاسو دخپل رب نه معافي وغواړئ، بیا هغه طرف ته رجوع وکړئ. یقین وکړئ چه زما رب ډیر مهربان، ډیر محبت کونکې دې هغوی ووئیل اې شعیبه! ستا په ډیرو خبرو باندې مونږ نه پوهیږو او مونږ وینو چه ته مونږ کښې یو کمزورې سړې ئې اوکه ستا خاندان نه وې نو مونږ به ته په کاڼړو سنګسار کړې وې او په مونږ باندې ستا څه زور نه چلیږي. شعیب ووئیل اې زما قومه! آیا تاسو باندې زما د خاندان دباؤ دالله نه زیات دې؟ اوتاسو هغه لره وروستو د شاه کالو نه غورزولې دې یقین وکړئ چه تاسو څه کوئ زما پروردګار دهغې ټولو پوره پوره احاطه کړې ده. او اې زما قومه! تاسوپه خپل حال وسئ (چه څه موخوښ وي) عمل کوئ زه هم (دخپلې طریقې مطابق) عمل کوم ډیر زر به تاسوته پته اولګي چه په چا به هغه عذاب راځي چه هغه لره به رسوا کړي، او څوك دي دروغژن؟ او تاسو هم انتظار کوئ. زه هم تاسو سره انتظار کونکې یم او (آخر) چه کله زمونږ حکم راغې نو مونږ شعیب او چا چه ده سره ایمان راوړې وو، دوی مو په خپل رحمت سره خلاص کړل او کومو کسانو چه ظلم کړې وو، هغوی لره یوې چغې ونیول، او هغوی په خپلو کورونو کښې دغسې پرمخې پاتې شو لکه چه دوی هلته اوسیدلې هم نه وو. یاد وساتئ چه د مدین هم دغسې تباهي وشوه لکه چه د ثمود تباهي شوې وه.

خلاصه تفسیر

﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ وَلَا تَنقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ ۚ إِنِّي أَرَاكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ۝﴾ اومونږ مدین والاوطرف ته ددوی ورور شعیب [علیه السلام] پیغمبر جوړولو سره اولیږه دوی [مدین والاوته] وفرمائل چه ای خماقومه تاسو [فقط] دالله تعالی عبادت کوئ دهغه نه غیرستاسو [د] معبود [جوړیدوبل لائق] نشته [داحکم خوددین او عقیدو موافق ددوی دحال مناسب وو] او [دوهم حکم دمعاملوموافق ئی ددوی مناسب داوفرمائل چه] تاسوپه ناپ تول کښې کمی مکوئ [ځکه چه] زه تاسودفراختیا په حالت کښې وینم [بیاتاسوته په ناپ تول کښې دکمۍ کولوڅه ضرورت دی او په حقیقت کښې خوددی هیچاته هم ضرورت نه وي] او [غیرددي چه په ناپ تول کښې کمی نه کول دالله تعالی دنعمتونوتقاضاده پخپله ویره هم ددی مقتضي ده ځکه په دي کښې] خماپه تاسو ویره ده دداسې ورځی دعذاب نه چه په قسماقسم عذابونویه مشتمله وي.

﴿ وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ ۖ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ۝﴾ او [هرخومره چه دکمۍ نه کولوسره پوره کول لازمي دي مګردتاکید په طور ددی منع نه بعدددی خبری وضاحت ئې په ښکاره ډول اوفرمائیلو] ای خماقومه تاسو ناپ تول پوره پوره کوئ اود خلقو په څیزونوکښې نقصان مه کوئ [لکه چه ستاسوعادت دی]. او [په شرك اودخلقوپه حقوقو کښې دکمۍ کولوسره]په ځمکه کښې فسادکونکی دحد [توحیداوعدل نه] مه اوځئ ﴿ بَقِيَّتُ اللَّهِ

خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَآ أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴾ [دخلقو دحقونو دادا كولونه پس]دالله تعالى د طرف نه دركړى شوى چه څه [حلال مال]بچ پاتى شي هغه ستاسولپاره [ددى حرامى ګټى نه]په ډيرودرجوبهتردى[څکه چه په حراموكښى اګركه ډيروى بركت نه وي اوانجام ئى جهنم دى،اوپه حلالوكښى اګركه لږوي انجام ئى دحق رضاده] كه تاسويقين كوئ [نوومنئ]او[كه يقين نه كوئ نوپوهه شئ]زه ستاسوپهره دار خونه يم [چه ستاسونه په زوره داعاتونه اوباسم چه څه كوئ هغه به مومئ].

﴿ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ أَصَلٰوتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ أَوْ أَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ أَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ۖ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ ﴾ دغوخلقو[داټول وعظ اونصيحت واوريده]اووئى ويل اى شعيبه آياستا دا[دبناوټ اوخيالى پاكوالئ تاته[دداسى خبرو]خودنه كوي چه[ته راته وائى چه]مونږ[عبادت د]دى شيانو پريدود كوموچه زمونږه مشرانوكړيدى اودا پريدوچه په خپل مال كښى چه څه غواړو تصرف وكړويقيني ته لوى عقلمندپه دين چليدونكى ئى [يعنى دكوموخبرونه چه ته مونږه منع كوى هيڅ بدوالى نه لري څكه چه ديوى خبرى دليل خونقلى دي چه زمونږه مشرانويت پرستي كړيده،اودبلى عقلى دى چه زمونږخپل مال دى د هر قسمه تصرف اختيارپكښى لرونوزمونږه منع كول ندي پكار، حليم اورشيدئى ورته په مسخره سره وويل لكه چه عادت وي دبى دينومسخره كول په ديندارووري ددوى دنقلى اوعقلى دليلونو فساد خو ښكاره دى].

﴿ قَالَ يٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَمَآ أُرِيْدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلٰى مَآ أَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيْدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ إِلَّا بِاللّٰهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ ﴾ شعيب[عليه السلام] وفرمائل اى خماقومه [تاسوچه خما نه داغواړئ چه څه دتوحيداوعدل خبري نه كوم نو]ښه ده داووائى كه دخپل رب دطرف نه په ښكاره دليل[قائم]يم [چه توحيداوعدل تري ثابتيږي]اوده ماته دخپل جانب نه يوعمده دولت [نبوت]راكړى وي [چه پدى سره په ماددي احكاموتبليغ فرض وى، يعنى دتوحيداوعدل حقوالى ثابت اوتبليغ ئى واجب وي] نوبياڅنګه تبليغ نه كوم اوزه[چه لكه څنګه ددى خبرونه تاسوته تعليم كوم پخپله هم پري عمل كوم]دانه غواړم چه ستاسوبرخلاف دى كارونه كوم دكومونه چه تاسى منع كوم دبرخلاف نه مراددادى چه تاسوته يوه لاره ښايم اوزه په بله لاره ځم،غرض داچه خمانصيحت فقط دخيرخواهئ اودزړه سواندى نه دى پدى دليل چه څه تاسوته هغه خبرى ښا يم كوم چه دخان لپاره خوښوم نو]څه خواصلاح غواړم څومره چه رانه كيدى شي اوماته چه څه [دعمل داصلاح توفيق كيږي]صرف دالله په مددسره دى [ورنه څه څه اوڅه خماارادده]په هغه خمابهروسه ده اودهغه طرف ته به [په ټولو كارونو كښى] رجوع كوم [الندى داچه په وجوب دعدل اوتوحيددليلونه هم قائم دي،اوتبليغ ئى دالله په حكم، او نصيحت كونكى داسى زړه سواندى اومصلح دى،بياهم نه منئ بلكه برعكس ما منع كوئ د تبليغ نه،چونكه په دي تبليغ كښى ئى خان ته دزړه سواندى نسبت وكړواودمصلح نوځكه ئى اوفرمائل :تردى ځايه خوددوى دويناجواب وشومخكى ترغيب اوترهيب بيانوي].

﴿ وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيْٓ أَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ أَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ أَوْ قَوْمَ هُوْدٍ أَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ﴾ اواى خماقومه خماسره ضد [اودشمنى]دي تاسولپاره ددى باعث نشى چه په تاسوهم داسى مصيبتونه پريوځى لكه چه په قوم دنوح ياقوم دهوديا قوم دصالح [عليه السلام]پريوتى ووا و[كه چيرى ددى قومونوقصه زړه شوى وي څكه ترى نه متاثره كيږئ نو]قوم دلوط[عليه السلام] خو [اوس]

Scanned with Ca

ستاسونه [ډیر]لرې نه دی تیرشوی[زمانه کښې][ددغوقومونوپه نسبت خوددوی زمانه نژدې ده،داخودترهیب مضمون شومخکې ترغیب دی].

﴿ وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ ﴾ اوتاسودخپل رب نه دخپل ګناه[شرك اوظلم]معافی غواړئ[ایمان راوړئ ځکه چه په ایمان سره ټول ګناهونه معاف کیږي اګرچه حقونه خواداکول وي]بیا[په طاعت اوعبادت سره]دهغه طرف ته متوجه شئ بیشکه ځمارب ډیرمهربانه محبت کونکی دی[ګناه معاف کوی اوتوبه قبلوي].

﴿ قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ ۖ وَمَا أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ﴾ دوی[چه دالاجوابه زړه راښکونکی تقریرواوریده اوکوم معقول جواب ئې نه لرلونوپه جهالت سره ئې]وویل چه ای شعیبه[علیه السلام]ډیری خبری چه ته کوي زمونږپه فکرکښې نه راځي [داخبره ئې په نه توجه یادسپکوالی په بناوکړه نعوذبالله چه داهسې بکواس دی دپوهیدوقابلې ندي لکه چه دبې دینونه دغه شان ټولی خبري واقع کیږي]اوموږتاپه خپل[مینځ]کښې کمزوری وینوکه چیری ستادخاندان[چه زمونږسره په مذهب کښې شریك دي زمونږسره]الحاظ نه وی نوموږبه ته [پخوا]په ګټیوویشتی وی اوزموږپه نظر کښې ستاهیڅ قدرنشته [لیکن ستادرشته دارو لحاظ ساتلی شي،]مطلب ئې داوو چه تاته ددی مضامینو په اورولوکښې دخان خطره ده ،اول ئې په مسخروسره منع کړی وو:[أَصَلَوٰتُكَ تَأْمُرُكَ الخ]اوس د ورکوي ویروي ئې او منع کوي ئې].

﴿ قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۖ إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴾ شعیب [علیه السلام] [په جواب کښې]وویل ای ځماقومه[افسوس اوتعجب دی چه ځماکوم نسبت چه دالله تعالی سره دی چه زه دهغه نبی یم نوهغه نسبت ځمادهلاکولونه مانع نشواوکوم نسبت چه ځمادخاندان سره دی چه زه دهغوی رشته داریم هغه ددی نه مانع شو،نومعلومه شوه چه تاسودالله نه هم دخاندان لحاظ زیات کوئ نو]آیازماخاندان تاسوته[نعوذبالله]دالله نه هم زیات معتبردی [چه دخاندان لحاظ خوکوئ]اوهغه[یعنی الله لره]تاسوشاته غورزولی دی[دده لحاظ نه کوي نوسزابه ئې ضرور اوڅکئ ځکه چه]یقینا ځمارب ستاسوټولوعملونولره [په خپل علم کښې] راګیرکړیدی.

﴿ وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ۖ وَارْتَقِبُوا إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ ﴾ اوای ځماقومه[که تاسوپه عذاب یقین نکوئ نوآخري خبره داده چه تاسوپوهه شئ غوره ده]تاسوپخپل حالت عملونه کوئ زه هم [پخپل طور]عمل کوم[پس]اوس به زردرته معلوم شی چه هغه څوك دی چه په چاداسی عذاب راتلونکی دی چه رسواکوی به ئې اوهغه څوك دی کوم چه دروغژن وو[تاسومالره دنبوت په دعوه کښې دروغژن اوسپك ګڼئ نواوس به معلوم شی چه ددروغومجرم اود ذلت د سزا مستحق څوك ووتاسواوکه ځه]تاسوهم انتظارکوئ زه هم درسره انتظارکونکی یم[چه وګوروچه ځما دوینا مطابق عذاب واقع کیږی اوکه ستاسودګمان مطابق نه واقع کیږي.

﴿ وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴾ غرض یوه زمانه پس دعذاب سامان شروع شواوهرکله چه خمونږحکم[دعذاب لپاره] راغئ [نو]مونږ[ددی عذاب نه] شعیب [علیه السلام] لره اوکوم چه دده ملګري مومنان وودوی هم پخپله خاصه]مهرباني سره بچ کړه اودغوظالمانولره یوسخت آواز[چه دجبرائیل نعره وه ونیولو

Scanned with Ca

پس دوی پخپلو کورونو کښې دننه نسکورپراته پاتې شو [او مړه شو].

﴿كَأَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ﴾ لکه چه بیخي هم پدی کورونو کښی اوسیدلي نه ووخبرداراواورئ [اوعبرت واخلئ] مدین والا درحمت نه لری کړی شو لکه چه ثمودیان درحمت نه لري کړی شوي وو.

معارف او مسائل

په دې آیتونو کښې د شعیب ﷺ او د دوی د قوم قیصه بیان شوې ده، دا قوم کافر هم وو او په ناپ تول کښې به ئې کمې هم کولو، حضرت شعیب ﷺ ورته د ایمان راوړلو بلنه ورکړه او په میچ [ناپ] تول کښې د کمی راوستو نه ئې منع کړل او اوئې فرمائیل چه که د دې خلاف مو اوکړل نو د الله تعالی عذاب به درباندې راشی، خو دغه خلق په خپل انکار او سرکشئ باندې ټینګ پاتې شو ځکه دا ټول قوم په یو سخت عذاب سره هلاک کړې شو، تفصیل ئې داسې دې؛

﴿وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ﴾ [مونږه مدین ته د هغوی ورور شعیب ﷺ اولیږلو] مدین په اصل کښې د هغه ښار نوم دې چه مدین ابن ابراهیم آباد کړې وو، د دې مقام هغه ښودلې شی چه د شام ملک موجوده مقام [معان] دې. د دې اوسیدونکو ته هم د اهل مدین په ځاې مدین وئیلې شی، شعیب ﷺ هم د دې قوم جلیل القدر پیغمبر وو ځکه ورته د [مدین ورور] اوئیلې شو، دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه د دې قوم نه د الله تعالی د نعمت په ډول دوی پیغمبر ځکه جوړ کړې شو چه قوم ورسره عادت او اشنا وی او په دې شان د دوی هدایات په اسانئ سره قبول کړې شی فرمائی؛ ﴿قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ وَلَا تَنقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ﴾

په دې کښې حضرت شعیب ﷺ خپل قوم ته اول د توحید بلنه ورکړه ځکه چه دا خلق مشرکان وو، د اونو عبادت به ئې کولو چه په قرآن کریم کښې ترې په لفظ د [أيكة] سره تعبیر کړې شوې دې او د دې په نسبت سره اهل مدین ته د [اصحب الايكة] لقب هم ورکړې شوې دې، دوی به د کفر او شرک نه علاوه دا ګناه او عیب هم لرلو چه په بیوپار، لین، دین او معامله کښې د میچ [ناپ] تول په وخت کښې په کمی کولو سره د خلقو حق وهلو چه حضرت شعیب ﷺ به ترې منع کول.

فائده: دلته په خاص ډول دا خبره قابل غور ده چه کفر او شرک د ټولو ګناهونو جرړه ده، کوم قوم چه په دې کښې اخته وی هغه قوم ته اول د ایمان بلنه ورکولې شی دې نه وړاندې بل هیڅ یو عمل یا معاملې ته د هغوی مخه نه شی راګرځولې، په دنیا کښې د دوی د خلاصی او عذاب دار و مدار هم په ایمان او کفر وی، چنانچه د ټولو پیغمبرانو ﷺ او د هغوی د قومونو کوم واقعات چه په قرآن کریم کښې راغلې دی هغه ټول د دې ګواه دی، صرف دوه قومونه داسې تیر شوې دی چه په هغوی باندې د عذاب نازلیدو باعث د هغوی پلیت او ناکاره عملونه هم پاتې شوې دی، یو د هغوی نه د لوط ﷺ قوم دې چه اوس اوس ئې بیان تیر شو او بل د شعیب ﷺ قوم دې چه د دوی د عذاب باعث د شرک او کفر نه علاوه په میچ تول کښې کمی کول هم ګرځولې شوې دی.

دې نه معلومه شوه چه دغه دواړه کارونه د الله تعالی په نزد د ټولو ګناهونو نه زیات ناخوښه او سخت ناکاره دی، ښکاره وجه ئې یوه دا ده چه په دې دواړو کارونو سره ټول انسانی نسل ته سخت نقصان رسیږی او په ټول جهان کښې د دې نه لوئې فساد خوریږی.

حضرت شعیب عليه السلام چه خپل قوم لره په میچ تول کښې د کمی کولو نه منع کول نو د پیغمبرئ په شفقت سره ئې ورته داسې اوفرمائیل ﴿إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ﴾ [یعنی دا وخت زه تاسو په خوشحالۍ کښې وینم، هیڅ غریبی، لوږه، تنده او د مال کمی دربانديې نشته چه د هغې د کبله تاسو په دې بلا کښې گرفتار ئې، دې نه علاوه د الله تعالی د شکر تقاضا دا ده چه تاسو د هغه په مخلوق باندې ظلم مه کوې، او بیا ئې دا هم اوښودل چه که تاسو زما خبره وا نه ريدله او د دې ناکاره عمل نه واو نه ړيدې نو يره مې ده چه د الله تعالی عذاب به مو راگیر کړی، دې عذاب نه د دنیا او آخرت دواړه عذابونه مراد کیدې شی، د دنیا عذابونه هم مختلف قسمونه کیدې شی، کم نه کم عذاب دا دې چه دا خوشحالی به مو ختمه شی او تاسو به په قحطی او په گرانئ [د څیزونو] کښې اخته شئ، لکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی؛

[کوم قوم چه په میچ تول کښې کمی کول شروع کړی نو الله تعالی ئې په قحطی او د څیزونو گرانې په عذاب کښې مبتلا کړی] ([1])

په میچ تول کښې کمی نه کول دا مطلب لری چه میچ تول پوره کړی خو بیا هم د زیات تاکید د پاره حضرت شعیب عليه السلام اوفرمائیل؛

﴿وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ﴾

[یعنی اې زما قومه، تاسو میچ تول په انصاف سره کوې او د خلقو څیزونه مه کموې او په زمکه کښې فساد خورونکی مه گرځې].

بیائې په شفقت سره دا شان پوهه کړل ﴿بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ﴾

[یعنی چه میچ تول پوره ادا کولو نه پس څه پاتې شی هم هغه تاسو لره زیات غوره دی، که زما خبره منې، او که مې نه منې نو یاد ساتې چه زه ددې خبرې ذمه دارنه یم چه په تاسو څه عذاب راشی]

رسول الله ﷺ فرمائیلې دی چه حضرت شعیب عليه السلام خطیب الانبیاء وو، ([2]) هغوی په خپل ښکلې بیان سره خپل قوم پوهه کړو او هدایت ته د دوی د راوستلو پوره کوشش کولو کښې ئې ډیره خواری اوکړه، خو د دې هر څه اوریدو نه پس ورته قوم هم هغسې جواب ورکړو کوم چه جاهل قومونه خپل اصلاح کونکو ته ورکوی، شعیب عليه السلام پورې ئې خندا گانې اوکړې، توقې ئې ورپورې اوکړې او داسې ئې اووئیل؛

﴿أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ﴾

[آیا ستاسو دا مونځ تاسو ته دا ښائی چه مونږه هغه معبودان پریږدو د چا عبادت چه به زمونږه پلارانو نیکونو کولو او دا چه مونږه په خپلو [مملوکو] مالونو کښې هم اختیارمن پاتې نه شو چه په خپله خوښه ئې استعمالولې شو، بلکه په دې کښې به تاسو نه تپوس کوو چه مونږه له په دې کښې څه حلال او څه حرام دی؟].

په تول قوم کښې د حضرت شعیب عليه السلام ډیر ډیر مونځونه، نفلونه او عبادتونه کول مشهور وو، ځکه ترې هغوی دا توقه جوړه کړه چه آیا ستاسو مونځونه درته [معاذ الله] دا غلطې خبرې ښائې؟ د دوی د دې خبرې نه معلومه شوه چه د دې خلقو په خیال کښې هم دینی او شرعی کارونه یواځې عبادتونه دی، معاملو سره ئې هیڅ تعلق نشته، هر څوک خپل مال په خپله خوښه

[1]) سنن ابي داود، أبواب الفتن، باب العقوبات: ج ۲، ص ۲۹۰
[2]) المستدرک للحاکم رقم الحديث: ۴۰۳۳

استعمالولې شي، په دې باندې څه پابندي لګول د دين کار نه دې څنګه چه د اوسنۍ زمانې ناپوهه خلق هم دا خيال لري.

قوم د دغې خالصې همدردۍ، زړه سواندې او نصيحت جواب چه داسې تريخ او سخت ورکړو نو بيا هم حضرت شعيب عليه السلام د پيغمبرۍ د شان مطابق د دې هر څه اوريدو نه پس په همدردۍ سره د دوی نور زيات پوهول داسې شروع کړل؛

﴿قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا﴾

[يعنی ای زما قومه؛ ما ته اوښائې که زه د خپل رب د اړخه د خپلې خبرې په حق والی باندې دليل او کافی شهادت لرم او الله راته بهترين رزق هم راکړې وی؛ چه ظاهری رزق چه ژوند تيرول پرې اړه لری هغه ئې راته هم راکړې دې او باطنی رزق پوهه او عقل او د دې سره ئې راته د وحی او پيغمبرۍ بيش قيمته انعام هم راکړې دې نو بيا آيا ستاسو رائې دا ده چه د دې ټولو څيزونو د شته والی سره زه هم ستاسو په شان ګمراهی او ظلم اختيار کړم او حق خبره درته او نه رسوم، بيا ئې ورپسې اوفرمائيل ﴿وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ﴾ [يعنی په دې هم ځان پوهه کړئ چه زه د کوم څيز نه تاسو منع کوم پخپله خو هم د هغې خوا ته نه ځم، که تاسو مې منع کولې او پخپله مې دغه کار کولې نو تاسو د پاره د وينا ګنجائش وو].

دې نه معلومه شوه چه د بلونکی، واعظ او مبلغ عمل د هغه په وعظ او نصيحت کښې ډير دخل لری، په کوم څيز باندې چه وعظ او نصيحت کونکې په خپله عمل نه کوی د هغه د خبرې په بل چا باندې څه اثر نه وی بيا ئې اوفرمائيل ﴿اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ﴾ [يعنی د دې ټولې خوارۍ او کوشش کولو او ستاسو د بيا بيا پوهولو نه زما مطلب، سوا د دې نه بل هيڅ نه دې چه د خپل وس مطابق د سمون راوستو کوشش اوکړم، او بيا ئې اوفرمائيل چه په حقيقت کښې دا کوشش هم زما په خپل اختيار کښې نه دې بلکه ﴿وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ۭ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ﴾ [يعنی زما دا هر څه کول د الله تعالی په ورکړی توفيق باندې اړه لرې ورنه زما هيڅ وس نه وو، هم په هغه مې تکيه ده او هم هغه ته په هر کار کښې زه رجوع کوم.

د دې وعظ او نصيحت نه پس ئې هغوی د الله تعالی د عذاب نه په دې شان سره اويرول؛

﴿وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ۭ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ﴾

[يعنی تاسو په دې ځان پوهه کړې، داسې دې نه وی چه زما مخالفت او دشمنی په تاسو باندې داسې څه عذاب رانه ولی څنګه چه تاسو نه وړاندې د نوح عليه السلام په قوم يا د هود عليه السلام په قوم يا د صالح عليه السلام په قوم باندې راغلی وو، او د لوط عليه السلام د قوم او په هغوی باندې راغلې عبرتناک عذاب خو تاسو نه څه لرې هم نه دې يعنی په مقامی اعتبار سره هم د لوط عليه السلام د قوم الوړې شوې آبادې، مدين ته نزدې دی او د زمانې په لحاظ سره هم په دوی باندې اوس اوس لږه زمانه وړاندې عذاب راغلې دې، د هغې نه عبرت حاصل کړې او د خپل ضد نه واوړئ].

قوم ئې چه دا واوريدل نو نور هم پرې اور بل شو او وئيل ئې چه ستاسو عليه السلام د خاندان مرسته که درته حاصله نه وې نو مونږ به سنګسار کړې وې، په دې خبره ورته شعيب عليه السلام داسې نصيحت اوکړو [چه تاسو خو زما د خاندان نه يره کوې ليکن د الله تعالی نه يره نه کوې د چا په قبضه کښې چه ټول هر څه دی].

کله چه قوم هیڅ خبره نه منله نو په آخر کښې ورته حضرت شعیب علیه السلام اوفرمائیل چه ښه ده اوس تاسو د عذاب انتظار کوئ، بیا دې نه پس حضرت شعیب علیه السلام او د دوی ایمان راوړونکی ملګری الله تعالی د دغې آبادۍ نه د خپل دستور مطابق اوویستل او پاتې ټول خلق ئې د حضرت جبرائیل علیه السلام په یو سخت آواز سره سمدستی هلاک کړل.

احکام او مسائل

د میچ تول د کمی مسئله: په دې آیتونو کښې دا بیان دې چه د حضرت شعیب علیه السلام په قوم باندې څکه عذاب راغلو چه هغوی به په میچ تول کښې کمی کوله چه [تطفیف] ورته وئیلې شی، او قرآن کریم په ﴿وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ﴾ کښې د دې سخت عذاب بیان کړې دې او د امت په اجماع سره داسې کول سخت حرام دی، د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه د یو ارشاد مطابق حضرت امام مالک رحمه الله په مؤطا کښې فرمائیلې دی چه په میچ تول کښې د کمی نه اصل مراد دا دې چه څوک په خپله ذمه د بل چا حق پوره پوره ادا نه کړی بلکه په هغې کښې کمې راولی، خوا هغه د میچ تول څیز وی یا د بل څه څیز وی، (۱) که یو ملازم د خپل فرض منصبی په ادا کولو کښې کوتاهی کوی، د یو دفتر ملازم یا یو مزدور د کار د پاره په ټاکلی وخت کښې کمې کوی یا په ټاکلی کار کښې کوتاهی کوی نو هغه هم په دې لړ کښې شامل دې، څوک چه د مونځ آداب او سنت پوره په ځاې نه راوړی هغه هم د دې تطفیف مجرم دې [نعوذ بالله منه].

مسئله: په تفسیر قرطبی کښې لیکلې دی چه د شعیب علیه السلام د قوم یو عادت دا هم وو چه په ملک کښې د جاری روپې او اشرفۍ نه غاړې پرې کړې څان ته به ئې کړې او نیمګړې درهم او دینار به ئې په پوره قیمت چلولو حضرت شعیب علیه السلام هغوی لره د دې نه منع کړل.

په حدیث شریف کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د اسلامی حکومت روپئ او اشرفئ وغیره پرې کول او ماتول حرام ګرځولې دی او د آیت [تسعة رهط يفسدون في الارض ولا يصلحون] په تفسیر کښې د تفسیر امام حضرت زید بن اسلم هم دا فرمائیلې دی چه دې خلقو به درهم او دینار مات کړو او خپله فائده به ئې ترې تر لاسه کوله کوم ته چه قرآن کریم فساد عظیم [الوئي فساد] وئیلې دې.

د حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله د خلافت په زمانه کښې یو کس په دې جرم کښې ګرفتار کړې شو چه هغه درهم پریکولو عمر بن عبد العزیز رحمه الله ورته د درو سزا ورکړه او سر ئې ورله اوخرائیلو او په ښار کښې ئې چکر ورکړو [تفسیر قرطبی] (۲)

وَلَقَدْ	أَرْسَلْنَا
او په تحقیق سره	اولیږلو مونږه

او مونږ حضرت موسی علیه السلام په خپلو

مُوسَىٰ	بِآيَاتِنَا	وَسُلْطَانٍ	مُّبِينٍ	إِلَىٰ فِرْعَوْنَ	وَمَلَئِهِ	فَاتَّبَعُوا
موسی	په نښو خپلو سره	او دلیل	ښکاره سره	فرعون ته	او سردارانو دهغه ته	نو تابعداری اوکړه هغوئ

ښکاره نښو سره فرعون او د هغه سردارانو ته لیږلې وو | خو هغوئ د فرعون حکم او منلو

(۱) موطا مالک، کتاب وقوت الصلاة رقم الحدیث: ۲۲
(۲) تفسیر القرطبی تحت هذه الآية: ج ۹، ص ۸۸

Scanned with CamScanner

أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۚ وَمَآ أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ۝ يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ

دحکم د فرعون[1] | اونهٔ وو | حکم د فرعون | په نيغه لار | مخکښي به ځي | د قوم خپل نه

......خود فرعون حکم څه ښه نهٔ وو | دقيامت په ورځ به دخپل قوم نه وړاندې روان وي

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ ۝

په ورځ دقيامت | نو ور داخل به کړي دوی | اور ته | او ډير بد ځائي دي | د کوزيدو

نوهغوی به دوزخ ته ورکوز کړي | اوهغه د کوزيدو په اعتبار ډير خراب ځائي دي ....

وَأُتْبِعُوا فِي هٰذِهِ لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ بِئْسَ الرِّفْدُ

او دوی پسې شوا په دې دنيا کښې | لعنت | اوپه ورځ دقيامت [هم] | بد انعام دې هغه

او په دې دنيا کښې هم ورپسې لعنتونه دي | او دقيامت په ورځ به هم وي | دغه بدله [د لعنتونو] ډيره خرابه ده

الْمَرْفُودُ ۝ ذٰلِكَ مِنْ أَنْبَآءِ الْقُرٰى نَقُصُّهُۥ عَلَيْكَ

چې دوی ته ورکړې شو | دا | يوڅوخبرونه دي | دکلو([2]) | چې بيانوو ئې مونږه | تا ته

..........ددغه يو څو کلو خبرونه مونږ تاته بيان کړل |

مِنْهَا قَآئِمٌ وَّحَصِيدٌ ۝ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ

دهغه کلي ځينې | ولاړ دي | او ځينې ريبلي شوي دي | او اونه کړو ظلم مونږه په هغوئ باندې | خوليکن

بعضې کلي لاتر اوسه آباد دي | او بعضې ختم شوي دي | اومونږ په هغوئ زياتې نهٔ وو کړې | بلکه

---

[1]) دَ فرعون اطاعت نه پرېښودل:- فرعون دَ قبطي قوم سردار اودَ هغه دَ ډلې طرف ته الله تعالى خپل رسول موسى ﷺ سره دَ خپلو آياتونو او دَ ښکاره دليلونو سره راوليګلو خوهغوی دَ فرعون اطاعت پرېنښودو او دَ هغه په ګمراه کونکې طريقه باندې هغه پسې روان وو. لکه څنګه چه هغوی دَ ده حکم منل نه پرېښودل او هغه ئې خپل سردار ګڼړلو دغه شان به دَ قيامت په ورځ هم هغه پسې وي او هغه به په خپله مشرئي کښې دوی خپل ځان سره دوزخ ته بوځي او پخپله به دوچنده عذاب برداشت کوي. هم دغه حال دَ خرابو خلقو دَ تابعدارئي کونکو دې هغوی به دا هم وائي چه هم دې خلقو مونږ ګمراه کړي يو ته هغوی له دوچند عذاب ورکړه الخ. مسند کښې دي حضور ﷺ فرمائي چه دَ قيامت په ورځ دَ جاهليت دَ شاعرانو جنډا به دَ امروٴالقيس په لاس کښې وي اوهغه به سره د دې دوزخ ته ځي. (احمد:۲/۲۲۸، مسندالبزار:۲۰۹۱) دَ اُور په دې عذاب باندې به دا نور زياتې وي چه دلته او هلته په دواړو ځايونوکښې به دَ هميشه دَ پاره داخلق لعنتي وي. دَ قيامت دَ ورځې لعنت سره په دوی دوه لعنتونه پرېوتل. دوی نورو خلقو ته دَ دوزخ دعوت ورکونکي امامان وو په دې وجه په دوی باندې دوچنده لعنت پرېوتلو.

[2]) دَ وړانبېنوخلقو دَ حالاتو بيان:- دَ انبياء او دَ هغوی دَ امتونو واقعات بيانولو سره دَ الله تعالى ارشاد دې چه دا د هغه کلو واله واقعات دي کوم چه مونږ ستا په وړاندې بيانوو. په دوی کښې دَ څه خلقو کلي خو اوسِ هم آباد دي او بعضې ختم شوي دي. مونږ هغوی په ظلم سره نه دي هلاک کړي بلکه هغوی پخپله دَ خپل کفر اوتکذيب په وجه په خپلو لاسونو په خپل ځان باندې هلاکت واخستلو اودَ کومو باطلو معبودانو اسرې چه دَ هغوی وې په وخت باندې دَ هغوی هيڅ پکار رانغلې بلکه دَ هغوی عبادت هغوی نور هم غرق کړل اودَ دواړو جهانو وبال په هغوی باندې راپرېوتلو.

Scanned with Ca

ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَمَآ أَغْنَتْ عَنْهُمْ ءَالِهَتُهُمُ

ظلم کړي وو هغوئ | په ځانونو خپلو باندي | نو دفع نه کړو | د هغوئ نه | خدايانو د هغوئ

هغوئ پخپله په خپلو ځانونو ظلم کړي وو | نو هغه معبودان ئې هيڅ پکار رانغلل | چې

ٱلَّتِى يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ لَّمَّا

هغه خدايان | چې رابلل به هغوئ | ماسوا د الله نه | هيڅ څيز | هر کله چې

دالله ﷻ نه بغير به ئې رابلل | هر کله چې ستا د پروردګار حکم [عذاب] راغلو......

جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿١٠١﴾

راغئ حکم | د رب ستا || او زيات نه کړل دې خدايانو هغوئ له | غير د بربادئ نه |

......او [بلکه] هغوی ته ئې د هلاکت نه بغير هيڅ فائده ورنکړه |

آسان ترجمه قرآن

او مونږ موسیٰ لره په خپلو نښو او په واضح دليل سره پيغمبر جوړ کړو. فرعون او د هغه سردارانو ته مو وليږلو نو هغوی د فرعون خبره ومنله. حال دا وو چه د فرعون خبره بالکل صحيح نه وه. هغه به د قيامت په ورځ دخپل قوم نه مخکښې وي. او هغوی به جهنم ته راولي. او هغه بدترين ګودر دې چه هغې ته څوک راځي. او لعنت دې دنيا کښې هم دوی پسې هو، او آخرت کښې هم. دا يو بدترينه بدله ده چه چا ته ورکړې شي. دا ددې کلو څه حالات دي چه مونږ ئې تا ته آورو. په دې کښې څه (کلي) داسې دی چه په خپل ځائې آباد دي او څه دلو شوي فصل (پشان بې نوم او نشان) شوی دی. او مونږ په دوی باندې څه ظلم نه وو کړې بلکه دوی په خپله په خپلو ځانونو باندې ظلم کړې وو، ددې نتيجه دا شوه چه کله ستا د پروردګار حکم راغې نو کوم معبودان چه دوی دالله په ځائې رابلل. هغوئ د دوی ذره هم پکار نه هو. او هغوی دوی لره د تباهئ نه سوا نور څه ورنکړل.

خلاصه تفسير

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ او مونږ موسی [عليه السلام] لره [هم] خپلی معجزی او روښانه دليل ورکړه.

﴿ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ فَٱتَّبَعُوٓا۟ أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ وَمَآ أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴾ فرعون او دده سردارانو ته موو ليږه پس [نه فرعون ومنلو او نه دده سردارانو ومنلو بلکه فرعون هم پخپل کفرباتی شوا و] دغه خلق [هم] دفرعون په رايه روان شوا و دفرعون رايه صحيح نه وه.

﴿ يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ ﴾ دغه [فرعون] به د قيامت په ورځ دخپل قوم نه مخکی مخکی وی بيا به دوی [ټولو] لره دوزخ ته ورښکته کړی او دغه [دوزخ] ډير بدځای دی دورکوزيدو کوم ته چه به داخلق ورکوز کړی شی.

﴿ وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَٰذِهِۦ لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ بِئْسَ ٱلرِّفْدُ ٱلْمَرْفُودُ ﴾ او پدی دنيا کښی هم لعنت دوی سره ملګری شوا و د قيامت په ورځ به هم [د دوی سره وي چنانچه دلته په قهر سره غرق شوا و هلته به ئی دوزخ نصيب شي] بد انعام دی کوم چه دوی ته ورکړی شو.

﴿ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيْكَ ۖ مِنْهَا قَآئِمٌ وَحَصِيدٌ ﴾ دا [څه چه پورته په قصو کښی ذکر شو] د هغوی [تباه شوو] کلو بعضی حالات دی کوم چه مونږ تا ته بيانوو [پس] بعضی کلی خو په دغو کښی

Scanned with Ca

[تراوسه]قائم دي [مثلا مصرچه دفرعونيانودهلاكيدونه پس هم آبادپاتي شواوبعضي بيخي ختم دي.

﴿وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۭ وَمَا زَادُوْهُمْ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ﴾ [مونږچه دي مذكوره كلووالاوته سزاوركړوپس]مونږپه دوی ظلم ندی كړی [چه بی جرمه موورته سزاوركړه چه صورتاظلم دی]ليكن دوی پخپله پخپلوځانونوظلم وكړو [چه داسي حركات ئی وكړل چه لائق دسزاشول]نوددوی هغومعبودانوكوم چه دوی دالله نه غير رابللی دوی ته هيڅ فائده ورنكړی شوه هركله چه ستا درب حكم [دعذاب لپاره]راغی[چه دوی ئی دعذاب نه خلاص كړی وی]او[فائده خولری]برعكس ئی دوی ته نقصان ورسولو[سبب دنقصان شوچه ددوی دعبادت په وجه ئی سزاوخوړه]

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ
او همدا رنګي | رانيول دي
او ستا د پروردګار هم داسې نيول وي
رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۭ اِنَّ اَخْذَهٗٓ
د رب ستا | كله چې | اونيسي | كلی | حال دا چې وی هغه كلی | ظالمان | بيشكه | نيول دهغه
چې كله دكلو خلق راونيسي | چې هغوئ [د ګناهونو په وجه] ظالمان وی | دهغه نيول دردناك
اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ۝ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ
دردناك دی | سخت دی | بيشكه | په دې واقعاتوكښې | خامخا نښه دعبرت ده[1] | دپاره دهغه چا
او سخت دی | ......بيشكه په دې واقعاتوكښې د هغه چا د پاره نښه ده | چې د آخرت دعذاب نه
خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ
چې ويريږی | دعذاب دآخرت نه | دا [داسې] ورځ ده | چې راجمع كړې شوې به وی په كښې
ويريږی | ....هغه به داسې ورځ وی | چې ټول خلق به ورته راجمع كولې شي
النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ۝ وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ
خلق | او هغه به | داسې ورځ وی | چې ټول به په كښې حاضر كړې شوې وی | اونه روستوكوؤ مونږ دغه ورځ
اوهغه داسې ورځ ده | چې به پكښې [د الله په دربار] كښې پيش كولې شي | او مونږ هغه تر يو مقررې مودې پورې

[1]) دقيامت متعلق دَ الله تعالى وعده:- دَ كافرانو په دې هلاكتونو او مؤمنانو په خلاصي كښې صفا دليل دې زمونږ په دې صداقتونو كوم چه مونږ د قيامت باره كښې كړی دی په كومه ورځ چه به ټول دَاول اوآخر خلق راجمع كولې شی يو به هم باقی نه پاتې كيږی (۱۸/الكهف:٤٧) هغه ډيره درنه ورځ ده. ټولې فرښتې ټول رسولان او ټول مخلوق به حاضريږی. حقيقی حاكم به كافی انصاف كوی. دَ قيامت په واقع كيدو كښې د وخت لريدو وجه دا ده چه رب دا خبره اول مقرركړې ده چه دَ دومره مودې پورې به دنيا په بنی آدمو باندې آباده وی، دومره موده به په خاموشئ تيريږی بيا به په فلانكي وخت قيامت قائميږی په كومه ورځ چه قيامت راشی هيڅ څوك به هم نه وی چه د رب دَ اجازت نه بغير شونډې كولاؤ كړې شي مګرچه رحمن چاته اجازت وركړی او هغه به خبره هم صحيح كوی. (۷۹/النباء:۳۸)

إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعۡدُودٍ ۝١٠٤ يَوۡمَ يَأۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ

مگر ایوې نیټې |شمارلې شوې پورې| په کومه ورځ |چې راشي هغه [قیامت] | نه به کوي خبرې (۱) |هیڅ نفس

روستو کړې ده| کله چې هغه ورځ راشي |نو هيڅوک به د الله ﷻ د اجازت نه بغیر

إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ فَمِنۡهُمۡ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ۝١٠٥ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ

مگر| په اجازت دهغه سره | نو دهغوئ نه به | څه بدبخته وي | او څه نیك بخته | نو هر چې هغه کسان دي

خبره نشي کولې|نو بعضې به بدنصیبه وي | او بعضې به خوش نصیبه وي|...........نو څوك چې

شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ۝١٠٦

چې بدبخته شو|نو په اور کښې به وي|وي به هغوئ دپاره|په هغې اور کښې|چغې په نرې آواز| او چغې په غټ آواز

بدنصیبه وي |هغوئ به په اور کښې پراته وي | په هغې کښې به چغې سورې وهي

خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ

همیشه به وي|په دې حالت کښې|ترڅو چې ولاړ وي| آسمانونه | او زمکه | مگر | چې اوغواړي

همیشه به په کښې پراته وي|ترڅو چې آسمانونه او زمکه قائم وي (۲)|مگر دا چې ستا دپروردگار خوښه شي

---

(۱) **ټول آوازونه به دَ الله رحمن ذات په وړاندې ټيټ وي:** دَ بخاري او مسلم په حدیث شفاعت کښې دي چه په هغه ورځ به صرف رسول اللهﷺ خبرې کوي او دَ هغه کلام به هم صرف دغه وي یا الله سلامت اوساته (۲۰/طه:۱۰۸) یا الله سلامتي ورکړه. (صحیح بخاري:۸۰٦ صحیح مسلم:۱۸۲) دَ محشر په مجمع کښې خو به ډير خلق بد وي او ډير به نيك وي. دَ دې آيت په نازليدو باندې حضرت عمرؓ تپوس کوي چه بيا یارسول اللهﷺ! زمونږ اعمال په دې بنا باندې دي دَ کوم نه چه اول فراغت کړې شوې دې که یا چرته په نوې بنا باندې؟ حضورﷺ اوفرمائيل چه نه بلکه په هغه حساب باندې کوم چه اول ختم شوې دې چه په کوم قلم چليدلې دې. خود هريودَ پاره به هغه آسان وي دَ کوم دَ پاره چه دَ هغه پيدائش کړې شوې دې. (ترمذي:۳۱۱۱ومسند ابويعلى)

(۲) **يوټك او دهغې جواب** : د دې آيتونو دوه معنې کيديشي. يو دا چه څومره زمکه آسمان په دنيا کښې باقي دي تر هغه پورې به بدبخته په دوزخ کښې او نيك بدبخته به جنت کښې وي. خو څوك چه نورزيات غواړي نو داستارب ته معلوم دي. ځکه چه کله هم مونږ د زياتې نه دزياتې مودې تصور کوو نو دخپل ماحول اعتبار سره زياته موده هم دا اخلو. په دې وجه د ﴿مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ﴾ وغيره الفاظ د عربو په محاوراتو کښې د دوام او اوږدې زمانې دپاره ادا کولې شي. باقي ددوام او ابديت اصلي دليل لکه لامحدوده زمانه ورته وئيل پکار دی . هغه دالله ﷻ غير متناهي علم کښې مختص دی. چه دې ﴿إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ﴾ سره وئيلې شي.

بله معنی دا کیدیشي چه لفظ﴿ مادامت السماوات والارض ﴾ کښې ددوام په معنی کښې واخستې شي.یا د زمکې او آسمان نه دې د آخرت زمکه آسمان مراد واخستې شي.لکه ﴿يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ﴾ (ابراهيم ع ۷) مطلب داشو چه بدبخته به دوزخ کښې او نيك بخته به جنت کښې تر هغه وخته پورې وي تر کومې پورې چه دآخرت زمکه آسمان باقي وي. يعني هميشه . خو چا لره ستارب اوغواړي نو دهغه (عذاب) به ختم کړي او هميشه به ئې پکښې پاتې نکړي. ځکه چه دجنتيانو او دوزخيانو هميشه اوسيدل به هم دکفارو او مشرکينو عذاب او دجنت والو ثواب به هم موقوف نه وي. نو وې فرمائيل چه ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ لَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةً﴾... [بقيه په راروانه صفحه...

Scanned with Ca

رَبُّكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ۝ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

رب ستا | بيشكه | رب ستا | كونكي دي | دهغه كار | چي اوغواړي | او هر چي هغه كسان دي

...... بيشكه ستاپروردګارچي د څه اراده اوكړي | هغه كوي | ....او څوك چه خوش نصيبه

سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ

چي نيك بخته وي | نو هغوئ به په جنت كښي وي | هميشه به اوسي | په هغي كښي | ترڅو چي ولاړ وي

وي | نو په جنت كښي به دننه وي | هميشه به په كښي ړاوسيږي | ترڅو چي آسمانونه او زمكه

السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ۝

آسمانونه | او زمكه | بغيردهغي نه | چي اوغواړي | رب ستا | دا وركړه ده | چي نهٔ به وي ختميدونكي

قائم وي | مګر كه ستا دپروردګار خوښه شي [نوبدلولي شي] | دا داسي وركړه ده | چي ختميدونكي نهٔ ده

فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ؕ

نو اې نبي مهٔ كيږه تهٔ | په شك كښي | په باره د هغه څه كښي | چي عبادت ئي كوي | دا خلق

نو [زما محبوبه ﷺ] ته دهغي بتانو دعبادت په بطلان كښي هيڅ شك مهٔ كوه | دكومو چي دا خلق عبادت كوي

مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ وَاِنَّا

نهٔ كوي عبادت دوئ | مګر | لكه چي | عبادت به كولو | پلارانو ددوئ | مخكښي ددوي نه | او بيشكه مونږه

دوئ ددغي معبودانو هغه شان عبادت كوي | لكه څنګه چي به د دوئ پلرونو كولو | ....او مونږ به

......دتيرمخ بقيه] .. فَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴾ بقره ع ۲۰ ﴾ او ﴿ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا ؗ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ۝ مائده ع ۶ ﴾ او ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا۝ (نساء ع/۱۸) ﴾ . هم په دي باندي دټولو مسلمانانو اجماع ده. او زمونږ دزماني بعضي نام نهاد مفسرينو چه ددي نه خلاف ليكلي دی هغه ضعيف روايات دی. يا اقوال دی. يا بعضي آيتونه اواحاديث دی چه دهغي مطلب غلط ګنړلي شوي دي.كه دالله تعالى په فضل سره دمستقل تفسير نوبت راغلو نو په ديكښي به ښه تفصيل ليكم. داختصار په وجه په دي خاني كښي دا ګنجائش نشته دي. پاتي شوه دهغه مسلمانانو مسئله چه دګناهونو په وجه به دوزخ كښي اچولي شي (العياذالله) احاديث صحيحه مونږ ددي نه خبر كړي يو. چه دوی به يو ورځ ضرور د دوزخ نه راويستلي شی او جنت ته به داخلولئ شی. چه دجنت نه به هيڅ يو جنتی نه ويستلي كيږی. شايد چه په دي لحاظ سره چه دجنتيانو په ذكر كښي "عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ۝" او د دوزخيانو په ذكر كښي "اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ۝" ارشاد اوشو. چه معلوم شی چه بعضي بدبخته به د دوزخ نه ويستلي شی. خو سعيد به دجنت نه شی ويستلي. په "اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ" كښي خبرداري اوشو چه دالله تعالى په هميشه پاتي كيدو اود مخلوق په هميشه پاتي كيدوكښي فرق دي. ديو مخلوق هميشه پاتي كيدل صرف دالله ﷻ په حكم باندي دی. كله ئې چه هم هغه لوئي ذات غواړی نو فنا كولئ شی. داشان اوفرمائيلي شو چه جزاء اوسزادهغه په اختيار كښي دی.دآريه اوسماج د عقيدي موافق هغه په دي مجبور نه دي.

Scanned with Ca

لَمُوَفُّوهُمْ | نَصِيبَهُمْ | غَيْرَ مَنْقُوصٍ ﴿١٠٩﴾

پوره پوره ورکونکي يو دوئ لره | حصه د دوئ | چې نه به وي کمه کړې شوې ....

دوئ ته خپله [دعذاب] حصه پوره پوره ورکوو | چې هيڅ کمي به په کښې نه وي ....

وَلَقَدْ آتَيْنَا | مُوسَى الْكِتَابَ | فَاخْتُلِفَ | فِيهِ | وَلَوْلَا

او په تحقيق سره ورکړې وو مونږه | موسى ته کتاب | نو اختلاف اوکړې شو | په هغې کښې | او که چرې نه وه

او مونږ حضرت موسى ته کتاب ورکړو | نو په هغې کښې هم اختلاف اوکړې شو | .... او که

كَلِمَةٌ | سَبَقَتْ | مِنْ رَبِّكَ | لَقُضِيَ | بَيْنَهُمْ

خبره | مخکښې شوې | د طرفه د رب ستا نه | نو خامخا به فيصله شوې وه | په منځ د دوئ کښې

يوه خبره ستا د پروردگار د طرفه د وړاندې نه خلاصه شوې نه وه | نو د دوی په مينځ کښې به پخوا فيصله شوې وه

وَإِنَّهُمْ | لَفِي شَكٍّ | مِنْهُ | مُرِيبٍ ﴿١١٠﴾ | وَإِنَّ

او بيشکه دا خلق | خامخا په شك کښې دی | د دې نه | په ژور شک کښې | او بيشکه

حقيقت دا دې چې دوئ د دې کتاب باره کښې په شک کښې پريشان حاله دی | .... او بيشکه

كُلًّا لَمَّا | لَيُوَفِّيَنَّهُمْ | رَبُّكَ | أَعْمَالَهُمْ | إِنَّهُ | بِمَا

هر يو ته کله چې وخت راشي | خامخا به پوره بدله ورکړي دوی ته | رب ستا | د عملونو د دوئ | بيشکه هغه | په هغه کارونو

ستا پروردگار به دې ټولو ته د خپلو عملونو بدله پوره پوره ورکوی | .... بيشکه هغه [الله]

يَعْمَلُونَ | خَبِيرٌ ﴿١١١﴾

چې دوئ يې کوی | خبردار دی

د دوئ په ټولو کارونو ښه خبر دی |

آسان ترجمه قرآن

او کوم کلي چه ظالمان وي چه کله ستا رب هغه ونيسي نو د هغه نيول هم دغسې وي واقعي د هغه نيول ډير دردناک ، ډير سخت دي . په دې ټولو خبرو کښې د هغه چا دپاره لوئ عبرت دي چه د آخرت د عذاب نه ويريږي هغه داسې ورځ ده چه هغې ته به ټول خلق جمع کولې شي . او هغه داسې ورځ ده چه هغې ته به ټول په غريږدلو سترګو ګوري او که مونږ دا وروستو کريږدو . نو ديوي شمارلې شوې مودې دپاره مو روستو کړي ده . او چه کله هغه ورځ راشي نو دالله د اجازت نه بغير به څوک خبره نه شي کولې . بيا به دوی کښې څوک بدحاله وي او څوک به ښه حال والا . نو چه کوم بدحاله وي هغوی به دوزخ کښې وي هغلته به د دوی د چغو سورو آوازونه راځي . دوی به دې کښې هميشه وي تر څو چه آسمان او زمکه موجود وي البته که ستا رب ته نور څه منظور وي يقيناً ستا رب چه د څه اراده وکړي . نو هغې باندې ښه عمل کوی او کوم خلق چه نيک بخته وي هغوی به جنت کښې وي هغې کښې به دوی هميشه هميشه وي ، تر څو چه آسمانونه او زمکې وي . مګر دا چه ستا رب ته نور څه منظور وي – دا به داسې ورکړه وي چه چرې به نه

ختمیږی. نو (ای پیغمبره!) دا (مشرکان) چه د کومو (بتانو) عبادت کوي، د هغوی په باره کښې ذره هم په شك کښې مه کیږه. دوی خو داسې عبادت کوي لکه چه د دوی پلار لیکه د دوی نه مخکښې عبادت کولو، او یقین وکړه چه مونږ به دوی ټولو ته د دوی پوره پوره حصه ورکړو، چه هغې کښې به هیڅ کمې نه کیږی اومونږ موسیٰ ته کتاب ورکړې وو. نو هغې کښې هم اختلاف شوې وو. اوکه ستا د پروردګار د طرف نه دمخکښې نه فیصله نه وه شوې (چه دوی ته به پوره پوره عذاب آخرت کښې ملاویږی) نو د دوی فیصله به (دلته دنیا کښې) شوې وه اودا خلق دې باره کښې (اوسه پورې) سخت شك کښې پراته دي. اویاد وساته چه ددې ټولو خلقو معامله دا ده چه د دوی پروردګار به ددوی د اعمالو بدله پوره پوره ورکوي. یقیناً هغه ددې ټولو د اعمالو نه ښه خبر دې.

خلاصه تفسیر:

﴿ وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۭ اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴾ اوستا درب نیول داسې [سخت] دي کله چه هغه دیوکلي خلق ونیسي کله چه هغوی ظلم [اوکفر] کوي بیشکه دهغه نیول زیات دردناك [او] سخت دي [چه په دې سره سخت تکلیف رسي اوهیڅوك ترې بچ کیدې ی نشي].

﴿ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴾ بیشکه پدې واقعاتوکښې دهغه سړي لپاره لوی عبرت دی چه دآخرت دعذاب نه ویریږی [دعبرت وجه ښکاره ده چه کله ددنیا عذاب دومره سخت دی سره ددې چه دادارالجزاء نه ده نودآخرت چه دارالجزاء ده څومره سخت به وي] هغه [دآخرت ورځ] به داسې ورځ وي چه پدې کښې به ټول خلق جمع کړی شي، اودغه دټولودحاضرئ ورځ ده.

﴿ وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ﴾ او [دغه ورځ اګرکه لانده راغلی لیکن ددی نه دی څوك ددې په راتلوکښې شك نکوي راځي به خامخا] مونږ دوی صرف دلږوخت لپاره [په بنا د بعضو مصلحتونو] ملتوی کړی دی.

﴿ يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ ﴾ [بیا] کله چه دغه ورځ راشي [دهیبت نه دخلقوداحال وي چه] هیڅوك به دالله داجازت نه سخکی خبره قدری [هم] نشي کولي [البته کله چه دحساب کتاب لپاره حاضري وي اودعملونوتري جواب وغوښتلای شي دغه وخت به ئې لازمی دخولی نه خبره اوځی که دغه خبره مقبوله وي یانه وی نوپدې حالت کښې به ټول اهل موقف شریك وي] بیا [مخکی] به په دوی کښې [دافرق وي چه] ځنې به بدبخت [کافران] وي اوځنې به نیك بخت [مومنان] وي.

﴿ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ﴾ پس کوم چه بدبختان دي دغه به په دوزخ کښې په داسې حال کښې وي چه په دې کښې به ددوی چغې اوکوکارې وي.

﴿ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَاۗءَ رَبُّكَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴾ [او] همیشه همیشه به پدې کښې وي ترڅوچه آسمان اوځمکه قائم دي [دامحاوره ده دهمیشوالی] اوهیڅ لاربه ئې دوتلونه وي البته که الله ته ئې [وتل] منظوروی هغه جداخبره ده [ځکه چه] ستارب چه څه غواړي هغه په پوره طورسره کولې شي [مګرسره دقدرت نه دایقیني ده چه الله تعالی به داخبره ونه غواړي نوځکه وتل به ئې نصیب نشي].

﴿ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَاۗءَ رَبُّكَ ۭ عَطَاۗءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴾

Scanned with Ca

اوپاتی شونیك بخته خلق نوهغوی به په جنت کښی وي[او]دوی به پدی کښی[دداخلیدونه پس] همیشه همیشه اوسي ترڅوچه آسمان اوځمکه قائم دي [اګرکه دتللونه مخکی ئی څه سزا تیره کړي وی]دغه به نه قطع کیدونکی بخشش وی.

﴿ فَلَا تَكُ فِىْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ۭ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ۭ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ﴾ [هرکله چه دکفروبال دبره ایاتونو نه معلوم شو]پس[ای مخاطبه]دکوم شی چه دوی عبادت کوی دی باره کښی یوه ذره شبه مکوه[بلکه یقین وساته چه ددوی عمل واجبونکی دسزادی خکه چه باطل دی پدی دلیل چه]داخلق همدغه شان[بی دلیله بلکه خلاف ددلیل نه دغیرالله] عبادت کوی څنګه چه ددوی نه مخکی ددوی پلارنیکه عبادت کولو[ددلیل نه خلاف کارباطل اود سزا موجب دی]اومونږیقینابه [په قیامت کښی]ددوی حصه[دعذاب]دوی ته پوره پوره بی کم وکاست ورکړو..

﴿ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ۭ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۭ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴾اومونږه موسی[علیه السلام] ته کتاب[تورات]ورکړی ووپس پدی کښی[هم دقرآن په مثل]اختلاف وکړی شو [چه چاومنلواوچاونه منلوداستاپاره نوی خبره نده نوته مه غمژن کیږه]او[دامنکران داسی مستحق دعذاب دي چه]که یوه خبره نه وي کومه چه ستادرب لخوااول مقررشوی ده[چه دوی ته به پوره عذاب په آخرت کښی ورکوم]نو[په کوم شي کښی چه دوی اختلاف کوي] دهغی [قطعی] فیصله به[په دنیاکښی]شوی وه [یعنی دغه وعده شوی عذاب به واقع شوی وو] او دا خلق [سره دقائمیدوددلیلونوتراوسه پوری] ددی [فیصلی یعنی وعده شوی عذاب]دطرف نه داسی په شك کښی[پریوتی]دي چه دې شك دوی په تردد کښی اچولی دی[چه بیخي ئی په عذاب یقین نه راخي،دشك مطلب دادی]او[دچاپه شك یاانکارسره عذاب واپس کیدی نشي بلکه].

﴿ وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ۭ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴾یقینی داتول داسی دي چه ستارب به دوی ته ددوی دعملونو[سزا]پوره پوره حصه ورکړي،یقینی هغه ددوی دټولوعملونونه پوره خبرلري [نوکله چه ددوی دعذاب دمعاملی سره ستاڅه کارنشته نوته اومسلمانان په خپل کارکښی لګیاشئ؛هغه کاردادی چه اوس داراتلونکی آیاتونوکښی راځي]

اُمِرْتَ	كَمَآ	فَاسْتَقِمْ
حکم شوې دې تاته	لکه څنګه چې	نو[ائي نبي]مضبوط اوسه
	لکه څنګه چې درته	نو ته په سمه لار قائم اوسه ....

بِمَا	اِنَّهٗ	وَلَا تَطْغَوْا	مَعَكَ	تَابَ	وَمَنْ
هغه کارونو لره	بیشکه هغه	اومهٔ تیریږئ د حد نه	ستاسره	چې واپس شوی دی ایمان ته	او هغه څوك
او سرکشی مهٔ	او تاسره ملګری دی	چې توبه ئې ویستې ده		او هغه خلق دې هم قائم اوسیږی	حکم شوې دې

ظَلَمُوْا	اِلَى الَّذِيْنَ	وَلَا تَرْكَنُوْٓا	بَصِيْرٌ	تَعْمَلُوْنَ
چې ظلم ئې کړې دې	هغه کسانوته	اومهٔ مائیله کیږئ	لیدونکې دې	چې تاسو ئې کوئ
ګنې تاسو ته به هم	او ددې ظالمانو طرفته میلان مهٔ کوئ			بیشکه هغه ستاسو کارونه وینې ګوری

Scanned with Ca

فَتَمَسَّكُمُ	النَّارُ	وَمَا	لَكُمْ	مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ	مِنْ اَوْلِيَآءَ
گنئ نواوبه رسيږي تاسوته	اور	حال دا چي نۀ به وي	ستاسو دپاره	په مقابله دالله كښي	څوك دوست
[د دوزخ] اور	اورسيږي	....	او دالله ﷻ نه بغير هيڅوک	ستاسو مددګار نشته دي	

ثُمَّ	لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾	
بيا به	اونۀ كړې شي امدادتاسو سره	
بيا به ستاسو هيڅ مدد نشي كولې		

آسان ترجمه قرآن

نو (اې پيغمبره!) لكه څنګه چه تا ته حكم شوې دې د هغې مطابق ته هم په نيغه لاره مضبوط اوسيږه .او هغه خلق هم چه تا سره توبه وباسي او دحد نه مه آوړئ.يقين وكړئ چه كوم عمل هم تاسو كوئ، مونږهغې لره وينو.او(اې مسلمانانو!) دې ظالمانو طرف ته لږ غوندې هم مه مائله كيږئ ، چرته د دوزخ اور به تاسو هم راونيسى او تاسو ته به د الله نه علاوه بل څوك دوست ملاؤ نه شي، بيا به ستاسو څوك هم امداد ونكړي.

خلاصه تفسير

[فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ] تاسو ته چې څنګه حكم شوې دې [چې ددين په لار باندې] مستقيم اوسيږئ [وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا] او هغه خلق دې هم [مستقيم اوسيږى] چې د كفر نه ئې توبه كړى او تاسو سره دى او [ددين] دائره كښې لږ مه اووځئ [اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ﴿﴾] يقينا ستاسو د ټولو عملونه هغه ته ښه معلوم دى [وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا] او [ائې مسلمانانو، ددې] ظالمانو طرفته [يا چې كوم ددوئ مثل وى هغې طرفته د زړۀ به دوستئ سره يا اعمال واحوال كښې مشاركت او مشابهت سره] مه ټيټيږئ ، [فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ﴿﴾] داسې نه چې تاسو ته د جهنم اور اولګى او [په هغه وخت] كښې بۀ دالله تعالى نه سوا ستاسو څوك رفيق نه وى بيا ستاسو حمايت به هيڅ يو طرفنه نه وى [ځكه چې رفاقت خو حمايت نه آسان دې كله چې رفاقت كولو والا هيڅوك نه وى نو حمايت كولو والا به څوك وى].

معارف او مسائل

په سورت هود كښې د ټولو پخوانو پيغمبرانو ﷺ او د هغوى د قومونو واقعات د حضرت نوح عليه السلام نه تر موسى عليه السلام پورې په خاص ترتيب او تفصيل سره بيان شوې دى چه په كښې په سوونو وعظونه، حكمتونه، حكمونه او هدايات دى، د دې واقعاتو په ختميدو سره رسول الله ﷺ ته خطاب وركولو سره امت محمديه ﷺ ته د دې نه عبرت او نصيحت حاصلولو بلنه وركړې شوه فرمائى؛ ﴿ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا قَآئِمٌ وَّحَصِيْدٌ﴿﴾﴾ [يعنى دا د پخوانو ښارونو او ودانو واقعات دى چه مونږ درته اورولې دى، په كومو ودانو باندې چه د الله تعالى عذابونه راغلې دى، په هغې كښې د بعضو ودانې او د بعضو كنډرونه موجود دى، او بعضې داسې كړې شوى دى لكه د فصل ريبلو نه پس د زمكې په هوارولو سره چه د ړومبنى فصل نشان هم نه پاتې كيږى-

Scanned with Ca

وروسته فرمائي؛ مونږ په دوی ظلم او نه کړو بلکه دوی په خپلو ځانونو په خپله ظلم اوکړو چه خپل پیدا کوونکې او پالونکې ئې پریښو او بتان او نور څیزونه ئې خپل خدایان جوړ کړل، انجام ئې دا شو چه کله د الله تعالی عذاب راغلو نو دغې د ځانه جوړ کړې شوې خدایانو د دوی هیڅ امداد او نه کړو، او کله چه الله تعالی څه ودانۍ په عذاب کښې راګیرې کړې نو د هغه راګیرول هم دغسې سخت او دردناک وی.

وروسته د آخرت په فکر کښې د مشغولولو د پاره دوی ته اوفرمائیل[په دې واقعاتو کښې هغې خلقو د پاره لوئې عبرت او نښانی ده چه د آخرت د عذاب نه یریږی په کومه ورځ چه ټول بنیادم به په یو ځاې کښې جمع او موجود وی، د دغې ورځې شان به دا وی چه هیڅوک به د الله تعالی د اجازت نه بغیر هیڅ قسم ګفت [وئیل] نه شی کولې.

وروسته رسول الله ﷺ ته په دوباره خطاب کولو سره فرمائی ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ [یعنی د دین په لار باندې هغسې نیغ اوسئ څنګه چه حکم درکړې شوې دې او هغه خلق دې هم نیغ اوسی چه د کفر نه ئې توبه کړې تاسو ﷺ سره شوې دی، او د الله تعالی د مقرر کړې حدونو نه مه اوځئ ولې چه هغه ستاسو ټول عملونه وینی.

د استقامت مفهوم او ډیرې ضروری فائدې: د استقامت معنی نیغ اودریدل دی چه هیڅ یو اړخ ته هم په کښې څه تیټوالې نه وی، په ظاهره خو دا کار اسان ځکه نه دې چه د اوسپنې یا کاڼړی ستن خو یو ماهر انجنیئر داسې اودرولې شی چه د هر اړخ زاویه ئې ولاړه وی هیڅ اړخ ته لږ څه کوږوالې هم په کښې نه وی، لیکن د یو حرکت کوونکی څیز هر وخت په هر حال کښې دغه شان قائم پاتې کیدل ډیر ګران دی چه د بصیرت د خاوندانو نه پټه خبره نه ده.

په دې آیت کښې رسول الله ﷺ او ټولو مسلمانانو ته په خپل کار کښې په هر شان د نیغ پاتې کیدو حکم ورکړې شوې دې، دا استقامت خو یو ورکوټې لفظ دې خو معنی او مطلب ئې ډیر زیات فراخه دې، ځکه چه معنی ئې دا ده چه انسان په خپلو عقیدو، عبادتونو، معاملاتو، اخلاقو، معاشرت، روزۍ ګټلو، په مال ګټلو او خرچ کولو، ټول هر څه کښې د الله تعالی مقررکړې حدونو کښې دننه پاتې کیدو سره د هغه په نیغه لار روان وی، په دغې هیڅ یو عمل او هیڅ یو حال کښې یو اړخ ته ښکته پورته کیدلو یا کمی زیاتی راتلو سره استقامت باقی نه پاتې کیږی.

په دنیا کښې ټولې ګمراهۍ او عملی خرابۍ د استقامت نه د ډډه کیدو په نتیجه کښې پیدا کیږی، کله چه په عقیدو کښې استقامت نه وی نو د بدعاتو نه واخله د دې په نتیجه کښې کفر او شرک ته خبره رسی، او د الله تعالی د توحید او د هغه د ذات او صفتونو په باره کښې کوم درمیانه او صحیح اصول چه رسول الله ﷺ بیان کړې دی که په دې کښې کمې او زیاتې او افراط اوتفریط دنیک نیتی نه هم اوکړې شی نو دغې ته به ګمراهی وئیلې شی، د پیغمبرانو ﷺ د لوئې او محبت د پاره چه کوم حدونه ټاکلې شوې دی په هغې کښې کمې راوستونکو ته خو ګمراه او ګستاخ وئیلو باندې ټول پوهیږی، خو چه دې کښې څوک زیاتوالې راولی مثلا هغه لره د خدائې صفتونو او خدائی اختیاراتو مالک جوړوی نو دا هم ګمراهی ده، چنانچه یهود او نصاری په دې ګمراهې کښې اخته شو، په عبادتونو او الله تعالی ته د نزدیکت په کارونو کښې چه کومې طریقې قرآن کریم او رسول الله ﷺ ټاکلې دی په هغې کښې معمولی کوتاهی او کمی

Scanned with Ca

کولو سره څنګه چه انسان د استقامت نه په بل مخ اوړي، دغه شان په کښې د خپله ځانه زياتي کولو سره هم استقامت بربادېږي او انسان په بدعتونو کښې ورسره اخته کيږي، هغه خو په ډيرې نيک نيتۍ سره دا ګڼړي چه زه الله تعالى راضي کوم، خو هغه بيخي د الله تعالى د ناراضه کولو طريقه ده، هم دغه وجه ده چه رسول الله ﷺ خپل امت لره د بدعتونو او محدثاتو نه په ډير تاکيد سره منع کړي دي او هغې ته ئې سخته ګمراهي وئيلې ده، څکه د انسان دپاره لازم دي چه يو کار، عبادت د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ د رضا لټولو په غرض کول غواړي نو د هغې د کولو نه وړاندې دې دا تحقيق اوکړي چه دا کار رسول الله ﷺ او صحابهٔ کرامو ﷺ په دې شان او طريقې سره کړې دي او که نه؟ که ثابت نه شي نو د هغې په کولو دې خپل وخت او طاقت نه ضائع کوي.

دغه شان په معاملاتو، اخلاقو او د معاشرت [ژوند تيرولو] په ټولو بابونو کښې د قرآن کريم په ښودلې شوي اصولو باندې رسول الله ﷺ د خپل عملي تعليم په ذريعه يوه درميانه او صحيح لار قائمه کړې ده، چه په کښې دوستي، دشمني، نرمي، غصې، زغم، شومتوب، سخاوت، روزګار، دنيا پريښودلو ﷺ په الله تعالى باندې توکل، امکاني تدبير، د ضروري اسبابو برابروالي او په مسبب الاسباب باندې د نظر کولو، دې ټولو څيزونو کښې داسې يو منځ و ميانه صراط مستقيم مسلمانانو ته ورکړې ده چه د هغې نظير په دنيا کښې نه شي موندې، هله انسان کامل کيږي چه هم دغه لار اختيار کړي، د استقامت نه په لږ اخوا ديخوا کيدو سره په انساني معاشره کښې خرابيانې پيدا کيږي.

خلاصه دا ده چه استقامت داسې يو جامع [ډيرو معنو لره راجمع کوونکې] لفظ دې چه د دين ټولې برخې، ارکان او په دې باندې صحيح عمل کول د دې تفسير دې.

سفيان بن عبد الله ثقفي رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو، چه ما ته د اسلام په معامله کښې داسې يو جامع خبره اوښائې چه تاسو نه پس راته د بل چا نه د تپوس کولو ضرورت پاتې نه شي، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل، قل امنت بالله ثم استقم؛ [يعنى په الله تعالى ايمان راوړه او بيا په هغې نيغ اوسه، رواه مسلم [قرطبي] ـ (۱)

عثمان بن حاضر بن ازدي ﷺ فرمائيلي دي چه زه يو ځل د ترجمان القرآن حضرت عبد الله بن عباس ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او د څه وصيت کولو د پاره مې ورته عرض اوکړو هغوى ﷺ راته اوفرمائيل، عليك بتقوى الله والاستقامة اتبع ولا تبتدع؛ رواه الدارمي [تفسير قرطبي] (۲) [يعنى تقوى په پوره شان اختيار کړه د الله تعالى نه په پوره شان اويريږه او استقامت اختيار کړه د هغې طريقه دا ده چه د دين په معامله کښې د شريعت تابعداري کوه او د خپل اړخ نه څه بدعت مه راپيدا کوه].

په دې دنيا کښې د ټولو نه زيات سخت کار استقامت دې څکه خو محققينو صوفيانو فرمائيلي دي چه د استقامت مقام د کرامت نه زيات پورته دې، مطلب ئې دا دې چه څوک د دين په کارونو کښې استقامت اختيار کړي اګر چه په دغه ټول عمر کښې ترې کرامت صادر نه شي بيا هم د لوړې پائې ولي دې.

---

(۱) صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب جامع اوصاف الاسلام: ج ۱، ص ۴۸، وتفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۹، ص ۱۰۷

(۲) سنن الدارمي، كتاب المقدمة، باب من هاب الفتيا الخ رقم الحديث: ۱۴۱، وتفسير القرطبي: ج ۹، ص ۱۰۷

Scanned with Ca

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائیلي دی چه په ټول قرآن کریم کښې په رسول الله ﷺ باندې د دې آیت نه زیات سخت بل هیڅ یو آیت نازل شوې نه دې او اوئې فرمائیل چه کله صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم یو ځل د رسول الله ﷺ په ږیره مبارکه کښې څه سپین ویښته اولیدل نو د ارمان او افسوس په ډول ئې عرض اوکړو چه اوس په تاسو بوډا والې زر زر را روان دې، نو اوئې فرمائیل چه سورت هود زه بوډا کړم. د دې مطلب دا هم کیدې شی چه په پخوانو امتونو باندې د راغلو عذابونو دخفگان له کبله زه بوډا شوم خو ابن عباس رضی الله عنهما فرمائیلي دی چه هم دا آیت ئې سبب دې.

په تفسیر قرطبی کښې د ابی علی سری نه نقل کړې شوې دی چه هغوی په خوب کښې رسول الله ﷺ اولیدلو نو عرض ئې اوکړو چه تاسو فرمائیلي دی چه زه سورت هود بوډا کړم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه او، بیا دوی رحمه الله تپوس لوکړو چه په سورت هود کښې د پخوانو پیغمبرانو علیهم السلام بیان شوو واقعاتو او د هغوی د قومونو د عذاب بیان تاسو بوډا کړئ؟ نو اوئې فرمائیل چه نه، بلکه د الله تعالی دې ارشاد؛ فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ زه بوډا کړم.(۱)

هر کله چه الله تعالی رسول الله ﷺ لره په دنیا کښې د ټولو نه زیات کامل انسان پیدا کړې وو، د هغوی ﷺ په خمبیر او طبیعت کښې استقامت اغزلې شوې وو، بیا هم د دې حکم زیات پیټې پرې ځکه راغلو چه آیت کښې مطلق استقامت نه دې غوښتې شوې بلکه د الله تعالی د حکم مطابق استقامت غوښتې شوې دې په دې بنا هر وخت به رسول الله ﷺ سره فکر وو چه زما استقامت د الله تعالی دغې حکم سره پوره خیژی او که نه؟

بله وجه ئې دا هم کیدې شی چه رسول الله ﷺ سره خپل فکر نه وو ځکه چه هغوی ته الحمد لله دا استقامت حاصل وو، خو په دې آیت کښې ټول امت ته دا حکم ورکړې شوې دې نو د امت په استقامت باندې قائم پاتې کیدل ئې چه گران اولیدل نو غمژن شو.

د استقامت د حکم نه پس فرمائی، وَلَا تَطْغَوْا د دې لفظ مصدر طغیان دې، معنی ئې د حد نه بهر تهوتل دی چه د استقامت ضد دې، مطلب دا چه یو اړخ د استقامت د حکم په مثبت انداز کښې صادرولو باندې ئې اکتفا او نه کړه بلکه د دې د منفی اړخ ممانعت ئې هم په ډاگه بیان کړو چه په عقیدو، عبادتونو، معاملاتو، اخلاقو وغیره کښې د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ د ټاکلی حدونو نه بهر مه اوځئ ولې چه دا د هر فساد او دینی دنیوی خرابئ لار ده.

په دویم آیت کښې انسان لره د خرابئ او بربادئ نه د ساتلو د پاره یو بله اهمه هدایت نامه داسې ورکړې شوې ده ﴿وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ﴾ یعنی ظالمانو ته څه معمولی میلان هم مه کوئ هسې نه چه [هغوی سره] تاسو ته هم د جهنم اور در اورسی] لاتركنوا د ركون مصدر نه جوړ شوې دې معنی ئې یو اړخ ته معمولی او کمزورې میلان کول او په هغې باندې تکیه کول او پرې راضی کیدل دی، ځکه د آیت مطلب دا شو چه زور ظلم کښې اخته کیدل هر څوک د دین دنیا تباهی گڼړی خو د ظالمانو اړخ ته معمولی کږیدل، ورته میلان کول، په هغې راضی کیدل او اعتماد کول هم انسان لره تباهئ او بربادئ ته ور رسوی.

د داسې کوږ والی او ماتې کولو مطلب اغستلو کښې د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله څو اقوال منقول دی چه په کښې هیڅ اختلاف نشته، ټول په خپل خپل ځاې صحیح دی.

---

(۱) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۹، ص ۱۰۷

Scanned with Ca

حضرت قتاده رضي الله عنه فرمائيلي دی د دې مطلب دا دې چه ظالمانو سره دوستی مه کوئ، د هغوی خبره مه منئ، ابن جريج رحمه الله فرمائيلي دی چه ظالمانو ته هيڅ قسم ميلان مه لرئ، ابو العاليه رحمه الله فرمائيلي دی چه د دوی کارونه او عملونه مه خوښوئ [قرطبی] (۱) سدی رحمه الله فرمائيلي دی چه د ظالمانو چاپلوسی مه کوئ يعنی د دوی په بدو کارونو باندې خاموشی مه اختياروئ او په دې باندې رضا مندی مه ښکاره کوئ، عکرمه رضي الله عنه فرمائيلي دی چه د ظالمانو په مجلس کښې مه کښينئ، قاضی بيضاوی رحمه الله فرمائيلي دی چه شکل، صورت، فيشن د استوګنې وغيره په طريقو کښې د دوی تابعداری کول دا ټول په دې ممانعت کښې داخل دی.

قاضی بيضاوی رحمه الله فرمائيلي دی چه د زور ظلم د بنديز او حرامو الی د پاره په دې آيت کښې داسې بې دريغه سختوالي دې کوم چه په تصور کښې زيات نه زيات راتلې شی، ولې چه ظالمانو سره د دوستې او ژور تعلق لرل يو اخې نه بلکه هغوی ته معمولی شان ماتې او کړيدل کول او هغوی سره کښيناستل هم منع کړې شوې دی. (۲)

امام اوزاعی رحمه الله فرمائيلي دی چه د الله تعالی بل هيڅ څوک زيات بدی نه شی سوا د هغه عالم نه چه د خپلې دنيوی فائدې په خاطر يو ظالم سره د ملاقات کولو د پاره ځی [مظهری]. (۳)

تفسير قرطبی کښې راغلې دی چه د دې آيت له مخې د کافرانو، نافرمانو او بدعتيانو د مجلس نه ځان ساتل او پرهيز کول واجب دی، خو هله که څه مجبوری نه وی، ولې چه په حقيقت کې د انسان ښه او خراب جوړيدل اکثر په مجلس او ماحول باندې اړه لری، (۴) په دې بنا حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائيلي دی چه الله تعالی پوره دين د دې دوو آيتونو په دوو حرفونو [لا]، [لا] کښې داسې جمع کړې دې چه د اول آيت ﴿وَلَا تَطْغَوْا﴾ دې او د دويم آيت [لاترکنوا] دې، په اول لا سره د شرعی حدونو نه د وتلو بنديز ثابتيږی او د دويم لا نه د ناکاره خلقو په مجلس کښې د شامليدو او هغوی ته د ميلان او ماتې کولو بنديز ثابتيږی چه د ټول دين خلاصه ده.

وَأَقِمِ	الصَّلٰوةَ	طَرَفَيِ	النَّهَارِ
او قائم کړه	مونځ	په دواړو طرفونو	دورځې کښې

او د ورځې په دواړو طرفونو کښې د مونځ پابندی کوه او د شپې په

وَزُلَفًا	مِّنَ الَّيْلِ	إِنَّ الْحَسَنٰتِ	يُذْهِبْنَ	السَّيِّاٰتِ	ذٰلِكَ	ذِكْرٰى
او په څه وختونو کښې	د شپې نه	بيشکه نيکئ	لرې کوی	بدو لره	دا	نصيحت دې

څه حصه کښې هم. بيشکه چې نيکئ بدئ ختموی. دا [قرآن] د نصيحت قبلونکو د پاره لوئې نصيحت دې

لِلذّٰكِرِينَ	وَاصْبِرْ	فَإِنَّ اللّٰهَ	لَا يُضِيعُ	أَجْرَ	الْمُحْسِنِينَ
د پاره د يادونکو [الله لره]	او صبر کوه	بيشکه الله	نه ضائع کوی	اجر د	نيکانو خلقو

او صبر کوه الله جل جلاله هيڅکله د نيکانو اجر نه ضائع کوی

(۱) تفسير القرطبی تحت هذه الآية: ج ۹، ص ۱۰۸
(۲) تفسير البيضاوی تحت هذه الآية: ج ۳، ص ۱۴۲
(۳) التفسير المظهری تحت هذه الآية: ج ۵، ص ۱۴۳
(۴) تفسير القرطبی تحت هذه الآية: ج ۹، ص ۱۰۸

Scanned with Ca

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ

نوولې نه وو| دهغه قومونونه| چې مخکښې ستاسونه وو| خاوندان | د عقل | چې منع کولې ئې خلق

نودا ولې داسې اونشوه |چې ستاسو نه په ړومبو امتونو کښې داسې هوښيار خلق موجود وې|چې

عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ وَاتَّبَعَ

د فسادکولونه | په زمکه کښې | مګر لږ | کومو ته چې انجات ورکړو موږه| دهغوئ نه|اوتابعداري اوکړه

خلق ئې په زمکه کښې دفساد کولو نه منع کولې |اخو کم کوز کسان به په کښې وو | کوم چې موږ

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ أُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا

هغه کسانو |چې ظلم ئې کړې وو|دهغې څه|چې آسودګي ورکړې شوې وه هغوئ ته |په هغې کښې |اوشو هغوئ

دعذاب نه بچ کړې وو| او کوم خلق چې ظالمان وو هغوی هم په دې خبرو پسې شول په کومو کښې چې

مُجْرِمِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ

نافرمان | اونۀ دې | رب ستا [داسې] | چې هلاک کړې | کلې | په ظلم سره

عيش او ارام وو او هغوی ګناهګار وو|..........اوستاپروردګار داسې نۀ دې |چې کلې [برناحقه]

وَأَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ۝ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ

اوحال دا چې اوسيدونکې دهغې| اصلاح کونکې وي| اوکه چرې| غوښتلې| رب ستا| نوګرځولې به ئې وي

تباه کړي| په داسې حال کښې چې دهغې خلق داصلاح کوشش کوي|اوکه ستا د پروردګار خوښه شوې وي

النَّاسَ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ۝ إِلَّا مَنْ

ټول خلق | جماعت | يو | او هميشه به وي دوئ | اختلاف کونکې | مګر | هغه څوک

نوټول خلق به ئې يو امت کړې وې |نو دوئ به اوس هميشه په اختلاف کښې پراتۀ وی | البته په چا

رَّحِمَ رَبُّكَ ۗ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ

چې رحم اوکړې په هغه| رب ستا | او هم د دې د پاره | الله دوی پيدا کړل | او پوره شوه

چې ستاپروردګار رحم اوکړې | او هم ددې [اختيار اوانتخاب] دپاره ئې دوئ پيداکړې دی

كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ ۝

فيصله | د رب ستا | چې خامخا به ډکوم زۀ | دوزخ | د پيريانونه | او د انسانانو نه | د ټولو نه

اوستاد پروردګار دا خبره فيصله شوې ده |چې زۀ به دوزخ د پيريانو اوبنی آدمو ټولو نه ډکوم

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ

اوداټول [خبرونه] |چې موږبيانوو| تاته |دخبرونود رسولانونه |دا هغه څيزدې| چې موږه محکم کوو

اودپيغمبرانو په قصو کښې موږ دا ټولې قصې تاته څکه بيانوو| چې ستازړه پرې مضبوط کړو

بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَّذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۝

په دې سره|زړه ستا|اوراغی تاته| په دې کښې| حق | اونصيحت دې| اوبيداری ده| دپاره دمؤمنانو

اوپه دې قصو کښې تاته حق دراورسيدو ....او دا د مومنانو د پاره نصيحت او عبرت دې | اوڅوک

Scanned with Ca

وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ؕ اِنَّا

او ووايه | هغه كسانوته | چې نۀ راوړي ايمان | چې عمل كوئ تاسو | په خپل ځائ | بيشكه مونږ [هم]

چې ايمان نۀ راوړي | هغوئ ته او وايه چې تاسو پخپله طريقه عمل كوئ | مونږ به پخپله طريقه

عٰمِلُوْنَ ۝ وَانْتَظِرُوْا ۚ اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ۝

عمل كونكي يو | او انتظار كوئ تاسو | بيشكه مونږ [هم] | انتظار كونكي يو

عمل كوو | ....او د انجام انتظار كوئ | مونږ هم انتظار كوو. اود

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ

اوخاص الله لره دي | علم دغيبو | دآسمانونو | اودزمكې | اوخاص هغه ته | اوپس كړې كيږي | معاملې

آسمانونو او زمكې ټول پټ څيزونه الله ﷻ ته معلوم دي | اوټولې معاملې به هم هغه ته واپس كيږي | نو

كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ

ټولې | پس عبادت كوه د هغه | اوبهروسه كوه | په هغه باندې | اونۀ دې | رب ستا | ناخبره

تۀ صرف د هغه عبادت كوه | او هم په هغه باندې بهروسه كوه | اوستا پروردګار ستاسو د كارونو

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

د هغه كارونو نه | چې تاسو ئې كوئ |

نه غافل نۀ دې

آسان ترجمه قرآن

او (اې پيغمبره!) د ورځې په دواړو طرفونو كښې اود شپې په څه حصه كښې مونځ كوه يقيناً نيكۍ ګناهونو لره ختموي. دا يو نصيحت دې د هغه خلقو دپاره چه نصيحت مني او د صبرنه كار اخله ځكه چه الله د نيكي كونكو اجر نه ضايع كوي. تاسو نه چه مخكښې كوم امتونه تير هوی دی د هغوی نه ولې داسې خلق نه وو چه هغوی لره دومره عقل وې چه هغوی زمكه كښې خلق د فساد كولو نه منع كړي وو؟ خولږ خلق وو چه هغوی مونږ (دعذاب نه) خلاص كړي وو اوكوم خلق چه ظالمان وو هغوی چه كوم عيش وعشرت كښې مبتلاوو هغې پسې شول، او جرمونه ئې كول. او ستا پروردګار داسې نه دې چه په كلو باندې ظلم وكړي او هغه تباه كړي حال دا دې چه دهغې وسيدونكي په صحيح حادت باندې چليږي. اوكه ستا پروردګار غوښتلو ټول انسانان به ئې په يوه طريقه كړځولې وو (خو چا لره په زور باندې په دين مجبوره كول دا دحكمت تقاضا نه ده، دې وجې نه خپل اختيار سره د مختلفو طريقو اختيارولو موقع ور كړې هوې ده) او اوس به دوی هميشه په مختلفو لاروباندې وي. البته چه په چا ستا رب رحم وكړي دهغې خبره جدا ده (چه الله به هغوی په حق باندې قايم ساتي) او دې (امتحان) دپاره هغه دوی پيدا كړی دی اوستا د رب هغه خبره به پوره كيږي كومه چه هغه كړي وه چه: ځه به جهنم د پيريانو او انسانانو دواړو نه ډك كړم. او (اې پيغمبره!) د تير شوو پيغمبرانو د واقعاتو نه هغه ټول واقعات مونږ تا ته آورو چه هغې سره

Scanned with Ca

ستا زړه مضبوط کړو او ددې واقعاتو په ضمن کې تا ته چه کومه خبره راغلې ده، هغه حق دې. هغه د ټولو مؤمنانو دپاره نصيحت او ياددهانې ده او کوم خلق چه ايمان نه راوړي، هغوی ته ووايه چه: تاسو په خپل موجوده حالت باندې عمل کوئ مونږ هم (په خپله طريقه) عمل کوو. او تاسو هم (دالله د فيصلې) انتظار کوئ، مونږ هم انتظار کوو په آسمانونو او زمکه کښې چه څومره رازونه پټ دي. هغه ټول دالله په علم کښې دي. او هغه ته به ټول معاملات واپس کيږي نو (اې پيغمبره!) د هغه عبادت کوه او په هغه باندې اعتماد کوه. او دا خلق چه څه کوي، ستا رب د هغې نه ناخبره نه دې.

خلاصه تفسير

﴿ وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ۚ إِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ ﴾ او [اې محمد ﷺ] ته دمانځه پابندي کوه دورځې په دواړو حصو کښې [په اول او اخر کښې] او دشپې په څه حصو کښې بيشکه نيک کار [دعملنامې نه] ورانوي بدکارونه دا خبره [چه نيکو سره ګناه معاف کيږي] يو [جامع] نصيحت دې د نصيحت منونکو دپاره [ځکه چه هره نيکي په دې قاعده کليه کښې داخله ده نو دې سره نيکئ ته رغبت پکار دے]

﴿ وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ او [ددې منکرينو له خواچه کومې معاملې مخې ته راځي په هغه] صبر کوه چه الله تعالى دنيکانو اجر نه ضائع کوي [صبر هم داعلى درجې نيکي ده ددې به پوره اجر ميلاويږي].

﴿ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا أُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴾ او پورته چه کوم دمخکينی قومونو دهلاکت واقعات ذکر شو] نو [ددې وجه داشوه چه] کوم امتونه چه تاسونه مخکې تيرشويدي پدوی کښې داسې پوهه خلق نه وو چه [نورئی] په ملك کښې دفساد [کفراوشرك] خورولو نه منع کولی غير دڅو کسانو نه کوم چه مونږ په دوی کښې [دعذاب نه] بچ کړی وو [چه دوی ځنګه چه پخپله دکفراوشرك نه توبه ګارشوی وو نورئی هم منع کولو نو ددې دوو عملونو په برکت سره دعذاب نه دوی بچ شوی وو، باقي هغه خلق چه پخپله هم په کفر کښې اخته وو او نورئی هم نه منع کول،] او کوم خلق چه نافرمان وو دوی په کوم نازاونعمت کښې وو پدی پسی وريسی شو او دجرمونو عادت شو [چه بيرته تری ونه ګرځيدل خلاصه دا چه نافرماني خو عامه وه په دوی کښې او منع کونکی پکښې هيڅوك ونشو نو ځکه ټول په يوشان عذاب کښې ګرفتاره شول، ورنه دکفر عذاب به عام وو او فساد خاص، او س دنه منع کولو له وجې غيرمفسدان هم مفسدانو کښې شريك او ګرځيدلې شو نو هغه عذاب چه په مجموعه کفراوفساد نازليده هغه هم عام شو].

﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّأَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴾ او [ددی نه ثابته شوه چه] ستا رب داسې ندی چه کلو لره دکفر په سبب هلاك کړی او ددوی اوسيدونکی [پخپله او دنورو] په اصلاح کښې مشغول وي [بلکه هر کله چه دا صلاح په ځای فساد کوی او فساد کونکی نه منع کوی دغه وخت دخاص عذاب مستحق شي] . ﴿ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴾ او که چيرې الله ته منظوره وی نو ټول خلق به ئی په يوه طريقه جوړ کړی وو [ټول به ئی مومنان کړی وو ليکن په بعضی حکمتونو سره داسی منظوره نه شوه نو ځکه د دين خلاف په مختلفو طريقو باندی وشو] او [آينده هم] هميشه اختلاف به کوی.

﴿ إِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ۝ ﴾ مگر په کوموچه ستا د رب رحمت وي [هغوی به ددین خلاف طریقه اختیارنکړي]او[په دی اختلاف غم یاتعجب یا افسوس مکوه ځکه چه]الله تعالی دغه خلق پدی واسطه پیداکړيدي[چه په دوی کښی اختلاف وی] او [داختلاف لپاره دپیداکولووجه داده چه]ستادرب داخبره پوره شی چه څه به جهنم د پیریانو او انسانانو نه ډک کړم]اوپخپله ددې حکمت دادی چه رحم شوو کښی د رحمت دصفت ظهوروي په غضب شوو کښی دغضب دصفت ظهوروي بیاددی ظهورحکمت یا د حکمت حکمت الله تعالی ته معلوم دی، غرض ددی ظهورپه حکمت سره جهنم ته تلل د بعضو ضرور، او جهنم ته دتلولپاره دکفاروو جو د تکوینا ضروری دی ، او د وجود د کفارو لپاره اختلاف لازم دی، او دا وجه ده دنهٔلودنهٔ مسلمانیدو].

﴿ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ ۚ وَجَاءَكَ فِي هٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝ ﴾ او د پیغمبرانودقصونه مونږ داتولي[مذکوره قصی تاته بیانووچه ددی په ذریعه مونږستازړه قوی کوو [دقصو بیانولویوه فائده خوداشوه چه حاصل ئی تاته تسلی درکول دي]اوپدی قصوکښی تاته یوداسی مضمون راغلی دی چه پخپله هم حق [اوقطعی]دی اودمسلمانانولپاره [د بدو کارونو نه دمنع کولولپاره]نصیحت دی.

﴿ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَامِلُونَ ۝ ﴾ او[کوم خلق چه [ددی قاطعه دلیلونوسره هم]ایمان نه راوړی دوی ته ووایه چه[زه درسره نخلم نه]تاسوپخپل حالت عمل کویٔ مونږ هم[پخپل طورسره]عمل کوو.

﴿ وَانتَظِرُوا إِنَّا مُنتَظِرُونَ ۝ ﴾او[ددی عملونودنتیجی] تاسو[هم]انتظارکویٔ مونږهم انتظارکوو[پس دیرزربه باطل ښکاره شی].

﴿وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الْأَمْرُ كُلُّهُ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ۝﴾ اوپه اسمانونواوځمکه کښی چه څومره دغیبوخبری دي ددی علم الله تعالی ته دی [نو د بندګانو عملونه خو غیب هم ندیٔنوددی علم خوپه درجه اولی سره الله تعالی ته شته]اوټول کارونه به الله تعالی طرف ته ورګرځي[علم اواختیاردواړه د الله تعالی دي بیاهغه ته څه مشکله ده چه د عملونو سزا او جزا ورکړي، نو کله چه هغه داسی علم اواختیارلري]نو[ای محمد ﷺ]ته دهغه عبادت کوه[په دي کښی تبلیغ هم داخل دی]اوپه هغه اعتمادکوه[که چیري په تبلیغ کښی دڅه تکلیف احتمال وي ،دادوی ته په منځ کښی په طوردجمله معترضی خطاب وشومخکی بیاهغه مضمون دی یعنی]اوستارب ددی خبرونه بی خبره ندی کوم چه تاسوخلق کویٔ[کله چه پورته په علم غیب سره دعملونوعلم په درجه اولی ثابت شو].

معارف او مسائل

د قرآن کریم په طرز کښې د رسول الله ﷺ د شان لوئي والي ته اشاره کول: په سورت هود کښې د پخوانو پیغمبرانو ﷺ او د هغوی د قومونو عبرتناک حالات او واقعات ذکر کولو نه پس رسول الله ﷺ او امت محمدیه ته څو هدایات ورکړې شوې دی چه لړئ ئې د ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ﴾ نه شروع شوه،د قرآن کریم د دغه هدایاتو بیانولو انداز څومره زړه راخوکونکې او ادب کونکې دې چه په مثبت انداز کښې د حکم ورکولو اصلی مخاطب رسول الله ﷺ ګرځولې شوې دې او

Scanned with Ca

امت محمدیه ورسره تبعا شامل کړې شوې دي، لکه فرمائي ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ﴾ او بیا په دې اوسنی رومبی آیت کښې فرمائي [واقم الصلوة] او په دویم آیت کښې فرمائي [واصبر] او د منع کولو او بندولو خطاب نیغ په نیغه امت ته کړې شوې دي لکه په تیر شوو آیتونو کښې فرمائي ﴿وَلَا تَطْغَوْا﴾ او ﴿وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾

په غور کولو سره معلومیږي چه د قرآن کریم عام طرز هم دغسې دې یعنی د امر مخاطب رسول الله ﷺ او د نهي مخاطب امت ګرځولې شوې دې چه د رسول الله ﷺ د شان لوئی ترې ښرګندیږي ولې چه د نه کولو او د پریښودلو څیزونو نه پخپله رسول الله ﷺ ځان ساتي ځکه چه الله تعالی د رسول الله ﷺ فطرت سلیمه او طبیعت داسې جوړ کړې وو چه د بد خواهش راتلو او ناکاره څیز ته د میلان کولو څه ګنجائش په کښې نه وو بلکه کوم څیزونه چه اول روا او حلال وو خو د الله تعالی په علم کښې بیا څه وخت حرامیدونکي وو نو د هغې د حلالوالي په زمانه کښې هم رسول الله ﷺ نه وو ورنږدې شوې لکه شراب، سود او جواری [ځمار] وغیره شو.
په دې آیت کښې رسول الله ﷺ ته په خطاب کولو سره رسول الله ﷺ او ټول امت ته ئې د مونځ د قائمولو حکم ورکړې شوې دې، د تفسیر عالمان صحابهٔ کرام ﷺ او تابعینو په دې اتفاق کړې دې چه دلته د مونځ نه مراد فرض مونځونه دي [بحر محیط؛ قرطبي] .[1]
اقامت د مونځ نه مطلب د دې پوره پابندي کول دي او همیشه ئې کول دي او بعضې حضراتو فرمائیلي دي چه دې نه مراد ټولو آدابو سره د مونځ ادا کول دي، بعضې حضراتو فرمائیلي دي چه په افضل [دیر غوره] وخت کښې د مونځ ادا کول دي چنانچه هم دا درې قولونه د ﴿وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ﴾ په تفسیر کښې منقول دي حقیقت دا دې چه دا څه اختلاف نه دې بلکه دا ټول څیزونه په اقامت صلوة [مونځ قائمولو] کښې داخل دي.
د مونځ د قائمولو د حکم نه پس د مونځونو د وختونو اجمالي بیان دې، فرمائي چه د ورځې په اول او آخر او د شپې په څه برخه کښې مونځ قائموئ چنانچه ﴿زُلَفًا﴾ د زلفة جمع ده چه معنی ئې یوه برخه او یوه ټوټه ده د ورځې د اول او آخر په مونځ باندې د ټولو اتفاق دې چه د اول سره د ورځې د مونځ نه مراد د صبا [سهار] مونځ او د آخر سر د مونځ نه مراد د بعضې حضراتو په نزد د ماښام مونځ ځکه دې چه د ورځې ختمیدو سره بیخي لګیدلې مونځ دې، او بعضې حضراتو د مازیګر مونځ ځکه بللې دې چه واقعي د ورځې په آخرسر کښې دې او په ﴿زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ﴾ سره مراد د جمهور مفسرینو حسن بصري، مجاهد، محمد بن کعب، قتاده او ضحاک ﷺ وغیرهم په نزد د ماښام او ماسخوتن مونځ دې چه د یو حدیث شریف نه ئې تائید کیږي په دغه حدیث شریف کښې فرمائیلې شوې دي چه د ﴿زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ﴾ نه مراد ماښام او ماسخوتن دي [تفسیر ابن کثیر] .[2]
په دې شان د [طرفی النهار] نه مراد د صبا او مازیګر مونځ شو او د ﴿زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ﴾ نه مراد ماښام او ماسخوتن شو نو دا څلور مونځونه ثابت شو د پنځم مونځ د [ماسپخین] په بل آیت ﴿أَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ﴾ کښې بیان راغلې دې.

[1]) تفسیر القرطبي تحت هٰذه الآية: ج۹، ص۱۰۹، وتفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآية: ج۶، ص۳۶۸
[2]) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآية: ج۲، ص۲۵۳، ۲۵۵

په دې وختونو کښې د مونځونو د قائمولو د حکم نه پس د دې يوه لويه فائده هم ښودلې شوې ده چه ﴿إِنَّ الْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّـَٔاتِ﴾ [نيک کارونه خراب کارونو لره لرې کوي] مفسرينو ﷭ فرمائيلي دي چه د نيک کار نه ټول نيک کارونه مراد دي چه په کښې مونځ، روژه، زکوة، خيرات، نيک خويونه، ښه معامله کول وغيره ټول په کښې داخل دي، خو په دې ټولو کښې اول مونځ دې، دغه شان د ﴿السَّيِّـَٔاتِ﴾ نه مراد ټول ناکاره کارونه دي چه ګناه کبيره او صغيره [لوئې او واړه ګناهونه] ټول په کښې داخل دي خو د قرآن کريم يو بل آيت او د رسول الله ﷺ ګڼړو ارشاداتو دې لره صغيره [وړو] ګناهونو سره مخصوصه کړې دې، معنی ئې دا شوه چه مونځ د ټولو نه زيات غوره عبادت دې چه واړه ګناهونه رژوي، چنانچه قرآن کريم فرمائي ﴿إِن تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ﴾ [يعنی که تاسو د لويو ګناهونو نه ځان ساتئ نو مونږ به ستاسو واړه ګناهونه پخپله رژوو].

د صحيح مسلم د يو حديث له مخه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه پنځه مونځونه او يو جمعه تر بلې جمعې پورې او رمضان تر بل رمضان پورې د هغې ټولو ګناهونو کفاره کيږي چه د دې تر منځه تير شوې وی خو هله چه دغه کس د لويو ګناهونو نه ځان ساتلې وی، (۱) خلاصه د خبرې دا شوه چه لوئې ګناهونه بغير د توبې نه نهٔ معاف کيږي مګر واړه ګناهونه نورو نيکو کارونو مونځ، روژې، صدقې وغيره سره پخپله هم معاف کيږي، مګر په تفسير بحر محيط کښې د اصولو د محققينو عالمانو دا قول نقل کړې شوې دې چه واړه ګناهونه هم هله په نيک کار کولو سره معاف کيږي چه د دې کوونکې په هغې باندې پښيمانه هم وی او بيا د نه کولو اراده ئې کړې وی او په هغې ټينګ هم نه وی، (۲) په احاديثو کښې د ګناهونو د کفارې جوړيدو څومره واقعات چه راغلې دی په هغې ټولو کښې دا خبره په ډاګه کړې شوې ده چه کوونکې ئې پښيمانه وی او د بيا کولو نه ئې توبه کړې نو هله په هغې باندې رسول الله ﷺ د ګناه د معاف کيدو زيرې ورکړې دې، والله اعلم.

په مشهور او معروف روايتونو د حديث کښې کبيره ګناهونه دې ته وئيلې شی، د الله تعالی په ذات او صفاتو کښې څوک شريک يا برابر ګرځول، په قصد باندې يو فرض مونځ پريښودل، څوک په ناحقه وژل، حرامکاری کول، غلا کول، شراب څښل، د مور پلار نافرمانی کول، په دروغه قسم کول، په دروغه ګواهی کول، جادو کول، سود خوړل، د يتيم مال په ناروا اخستل، د جهاد د ميدان نه تښتيدل، په پاکو زنانو باندې د دروغو تور پورې کول، د چا مال په ناروا باندې لاندې کول، وعده لوظ ماتول، په امانت کښې خيانت کول، چا ته کنځل کول، څوک په ناحقه مجرم ګرځول وغيره. د صغيره او کبيره ګناهونو تفصيل په مستقلو رسالو کښې علماؤ ليکلې دی، زما په رساله [ګناه بې لذت] کښې هم بيان شوې دی، هلته ئې اوګورئ.

بهرحال ددغه آيت نه دا خبره ثابته شوه چه په نيک کار کولو سره هم ګناهونه معاف کيږی څکه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی چه د يو بدکار کولو نه پس چه نيک کار اوکړې نو دغه ناکاروالې به ختم کړی اووې فرمائيل چه خلقو سره ښه خوئي کوې [ابن کثير په حواله د مسند احمد] (۳)

(۱) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه: ج ۱، ص ۱۲۲
(۲) تفسير البحر المحيط تحت هٰذه الآية: ج ۶، ص ۲۶۹
(۳) مسند أحمد، حديث معاذ بن جبل رضي الله عنه رقم الحديث: ۲۲۳۵۴، وتفسير ابن كثير تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳۴۰

Scanned with Ca

حضرت ابو ذر غفاري ﷛ اوفرمائيل چه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه ما ته څه وصيت اوکړئ نو ،رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه که تاسو نه څه ګناه اوشي نو د هغې نه پس څه نيک کار ځکه کوئ چه هغه ئې ختمه کړي.(١)

په حقيقت کښې د ګناه نه د توبې کولو مسنون او غوره طريقه په احاديثو کښې ښودلې شوې ده، لکه په مسند احمد کښې د صديق اکبر ﷛ په روايت منقول دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل؛ که يو مسلمان نه څه ګناه اوشي نو ورله پکار دی چه اودس اوکړي دوه رکعته نفل مونځ ادا کړي نو ګناه به ئې معاف شي[دا ټول روايتونه د ابن کثير نه دي](٢)دې مونځ ته د توبې مونځ وئيلې شي.

﴿ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ۝﴾[دا يو نصيحت دې،نصيحت منونکو د پاره په دې کښې د[ذلك]اشاره قرآن کريم ته هم کيدې شي او د امر او نهي حکمونو ته هم چه بيان ئې د دې نه ړومبې راغلې دې،مراد دا دې چه دا قرآن يا د دې بيان شوی احکام هغې خلقو د پاره هدايت او نصيحت دی چه د نصيحت اوريدو او منلو عادت لري،په دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه ضدی بنده چه په څه باندې د سره غور نه کوي هغه د هر هدايت نه نامراده پاتې کيږي.

﴿وَاصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ۝﴾[يعني تاسو ﷺ صبرناک او ټينګ قدمه ځکه پاتې کيږئ چه الله تعالى د نيک عمل کوونکو اجر نه بربادوي].

د[صبر]لفظي معنى تړل دی ځکه چه ځان باندې قابو موندلو ته هم صبر وئيلې شي،چنانچه د دې په مفهوم کښې دا هم داخل دی چه د نيک کار په کولو باندې ځان په قابو کښې لري او دې ته هم وئيلې شي چه په بدو کارونو کښې د اخته کيدو نه ځان اوساتي،دلته رسول الله ﷺ ته د صبر د حکم ورکولو نه دا هم مراد کيدې شي چه په دغه آيتونو کښې چه څه حکمونه تاسو ته درکړې شوې دی مثلا د استقامت،د مونځ قائمولو وغيره نو په هغې باندې ښه ټينګ اوسه،او دا ترې هم مراد کيدې شي چه د مخالفينو په مخالفت او زيانونو باندې د صبر ښودنه کول مقصود دی او د هغې نه پس ئې دا اوفرمائيل چه،الله تعالى د﴿الْمُحْسِنِيْنَ﴾[نيکوکارو خلقو]اجر نه ضائع کوي،دلته په ظاهره د محسنين نه مراد هغه خلق دی چه د ذکر شوو آيتونو د حکمونو امر او نهې پابند وي،يعني په دين کښې د استقامت مقام ورته حاصل وي،د شرعي حدونو پوره لحاظ کوي،ظالمانو سره دوستي او بې ضرورته تعلق نه لري،مونځ سره د آدابو په زيات غوره وخت کښې د ادا کولو پابند وي،د دين په ټول حکمونو باندې ټينګ وي.

خلاصه ددې ټولو هم هغه ده چه د[احسان]په تعريف کښې پخپله رسول الله ﷺ داسې فرمائيلې دی چه د الله تعالى تابعداری او عبادت په داسې شان کوه چه ګويا کښې ته الله تعالى لره وينې،يا کم نا کم داسې يقين لره چه الله تعالى تا لره ويني،(٣)کله چه انسان ته د الله تعالى د ذات او صفات او صفتونو په باره کښې د يقين دا درجه حاصله شي نو د هغه ټول اقوال او

---

(١) مسند أحمد، حديث أبي ذر رضي الله عنه رقم الحديث: ٢٢١٠٣
(٢) مسند أحمد، مسند أبي بكر الصديق رضي الله عنه رقم الحديث: ٢، وتفسير ابن كثير سورة آل عمران: ١٣٥، ج٢، ص ١٣٢
(٣) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب سؤال جبريل النبي صلى الله عليه وسلم: ج ١، ص ١٢

Scanned with Ca

کارونه پخپله سمدم شي، د پخوانو علماؤ تر منځه دري خبري دومره مشهوري وي چه يو تر بله به ئې ليکلې دا د ياد ساتلو جوګه دي،
اوله خبره دا وه چه څوک د آخرت د پاره په کار کښې مشغوله شي الله تعالى د هغه د دنيا ټول کارونه په خپله درست کړي او د هغه ذمه داري په خپله اخلي،
دويمه خبره دا ده چه څوک خپل باطني حالت داسې درست کړي چه د زړه مخه د ټولو نه واړوي او الله تعالى ته ئې اوګرځوي نو الله تعالى د هغه ظاهري حالت په خپله درست کړي،
دريمه خبره دا ده چه څوک الله تعالى سره خپله معامله صحيح او درسته کړي نو الله تعالى د هغه او د خلقو تر منځه معاملات په خپله درست کړي،
د دې درې خبرو اصلي عبارت داسې دې؛ وكان اهل الخير يكتب بعضهم الى بعض بثلث كلمات من عمل لاخرته كفاه الله امر دنياه، ومن اصلح سريرته اصلح الله علانيته، ومن اصلح فيما بينه وبين الله اصلح الله ما بينه وبين الناس، [تفسير روح البيان جلد ۲ ص ۱۳۱]۔
په دريم او څلورم آيت کښې په پخوانو قومونو باندې د الله تعالى د عذاب نازليدو په وجه نورو خلقو ته د دې نه د ځان ساتلو داسې هدايت کړې شوې دې؛
[افسوس دې چه په دغه پخوانو قومونو کښې داسې او نه شو چه په دوى کښې څوک پوهه نيک خلق وې چه خپل قوم ئې د فساد کولو نه بندولې، سوا د لږو خلقو نه چه د پيغمبرانو ﷺ تابعداري ئې اوکړه او هم هغوى د عذاب نه خلاص پاتې شو او نور ټول قوم د دنيا په مزو کښې په انښتو سره د جرمونو کسب ګر جوړ شو]۔
په دې آيت کښې د رائې او د پوهې د خاوندانو نه په لفظ د ﴿أُولُوا بَقِيَّةٍ﴾ سره ئې تعبير اوکړو، ﴿بَقِيَّةٍ﴾ پاتې شيزته وئيلې شي اود انسان عادت دادې چه ډير خوښ او غوره شيز په هر شان ځان دپاره دساتلو پوره کوشش کوى، د ضرورت په وخت نور ټول شيزونه قربانوى خو هغه نه ورکوى په دې بنا عقل او بصيرت ته هم بقية ځکه وئيلې شي چه هغه د ټولو نه زيات زړه پورې وى.
په څلورم آيت کښې فرمائي [استاسو رب ښارونه او ودانې په ظلم سره نه هلاکوى کله چه د دې استوګن نيکوکار يعني مسلمان وى، مطلب دا دې چه د الله تعالى خوا ته د زور ظلم هيڅ امکان نشته، څوک چه هلاکولې شي هغه د دې جوګه وى او بعضې حضراتو فرمائيلې دى چه دلته په آيت کښې د ظلم نه مراد شرک دې او د [مصلحون] نه مراد هغه خلق دى چه کافران او مشرکان وى او سره د دې هم معاملات او اخلاق ښه چلوى چا ته زيان تاوان نه رسوى، دروغ نه وائي، دهوکه نه ورکوى، او د آيت مطلب دا دې چه دنيوى عذاب يواځې د کافر کيدو او مشرک کيدو په وجه په چا نه راځي تر څو چه د دوى د عملونو او خويونو نه په زمکه کښې فساد نه خوريږي، په پخوانو قومونو باندې عذابونه، د هغوى د خاصو خاصو ناکاره عملونو په وجه راغلي وو، د حضرت نوح ﷺ قوم حضرت نوح ﷺ ته قسما قسم زيانونه اورسول،
د حضرت شعيب ﷺ قوم په ميچ تول کښې د کمې کولو په وجه فساد خور کړو، د حضرت لوط ﷺ قوم ډيره زياته ناكاره بدكاري اختيار كړه، د حضرت موسى ﷺ او حضرت عيسى ﷺ

Scanned with

قومونو په خپلو پیغمبرانو باندې ظلمونه او کړل، چنانچه قرآن کریم د دوی دغه ناکاره عملونه په دوی باندې د عذاب راتللو سبب ښودلې دې، خالص د کفر او شرک په وجه په دنیا کښې عذاب نه راځي، د هغې سزا خو د جهنم همیشه اور دې، څکه بعضو علماؤ ﷭ فرمائیلې دی چه بادشاهي او حکومت خو کفر او شرک سره چلیدې شي، زور ظلم سره نه شي چلیدې.

ناخوښه او ستائیلې اختلاف: پنځم آیت کښې او فرمائیلې شو [که الله تعالی غوښتلې نو ټول انسانان به ئې هم یو امت او ملت جوړ کړې وو، د دې مطلب دا دې چه که الله تعالی غوښتلې نو ټول انسانان به ئې زور، زبردستې سره د اسلام په قبلولو مجبوره کړې وو، ټول به ټوله به مسلمانان شوې وو، د دوی تر منځه به هیڅ اختلاف نه وو پاتې شوې، مګر د هغه د حکمت تقاضه دا ده چه په دنیا کښې څوک په څه عمل کولو باندې نه مجبوره کوی، بلکه هغه انسان ته یو قسم اختیار سپارلې دې، هم د هغه لاندې انسان عمل کوی که هغه ښه وی او که بد وی او د انسانانو طبیعتونه مختلف دی، څکه ئې لارې هم سره بیلې بیلې وی، او عملونه ئې هم بدل بدل وی، په نتیجه کښې ئې بعضې خلق د همشه د پاره د حق دین نه په مخه اختلاف کوی، سوا د هغې خلقو نه چه الله تعالی پرې رحمت کړې وی یعنی د پیغمبرانو ﷺ تابعدار پاتې شوې وی.

دې نه معلومه شوه چه دلته د [اختلاف] نه مراد د حق دین او د پیغمبرانو ﷺ د تعلیم مخالفت دې، کوم اجتهادی اختلاف چه د دین د امامانو او د اسلامی فقهاؤ تر منځه ضروری دې او د صحابهٔ کرامو ﷡ د زمانې راسې را رواں دې هغه په دې اختلاف کښې داخل نه دې، دا د الله تعالی د رحمت نه خلاف نه دې، بلکه د حکمت او رحمت مقتضا دې، کومو خلقو چه د مجتهدینو ﷭ تر منځه اختلافاتو لره د دې آیت له مخه غلط او د رحمت خلاف ګرځولې دی دا په خپله د آیت د سیاق نه هم خلاف دی او د صحابهٔ کرامو ﷡ او د تابعینو ﷭ د عمل درآمد نه هم خلاف دی، والله سبحانه وتعالی اعلم].

آیاتونه		سورة یوسف مکیة وهی مـائة واحدی عشرة ایة واثنـا عشر رکوعـا		رکوع کانې
		بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۱۱۱		شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان زیات رحم کونکې دې		۱۲

دا الله په نوم شروع کوم چه ډیر مهربان اوزیات رحم کونکې دې

الٓرٰ　تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿١﴾　اِنَّآ　اَنْزَلْنٰهُ

ا ل ر | دا | آیتونه | د کتاب | روښانه دی | بیشکه مونږه | نازل کړې دې دا

الف لام را | دا د روښانه کتاب آیتونه دی| .... | ....مونږ دا قرآن

قُرْءٰنًا　عَرَبِيًّا　لَّعَلَّكُمْ　تَعْقِلُوْنَ ﴿٢﴾　نَحْنُ　نَقُصُّ

قرآن | په عربۍ ژبې | د پاره ددې چې تاسو | پوهه شئ | مونږه | بیانوو

په عربۍ ژبه کښې نازل کړې دې | چې تاسو پرې ښه پوهه شئ | ....مونږ چې

عَلَيْكَ　اَحْسَنَ الْقَصَصِ　بِمَآ　اَوْحَيْنَآ　اِلَيْكَ　هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ　وَاِنْ

په تا | ډیره ښهٔ قیصه دقصونه|په وجه د دې|چې وحی وکړه مونږ|استاطرف ته| ددې قرآن | اواګرچه

دا قران تاته د وحی په صورت کښې رالیږلې دې .نوهم ددې په ذریعه درته یوهٔ ښکلې قصه اوروؤ| یقیناً

كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ　لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿٣﴾　اِذْ قَالَ　يُوْسُفُ　لِاَبِيْهِ　يٰٓاَبَتِ

وې تهٔ| وړاندې ددې نه| خامخا د ناخبرو نه | کله چې اووئیل | یوسف | پلار خپل ته | ائې پلاره زما

ددې نه وړاندې ته بیخی ناخبره وې| .... کله چې حضرت یوسف ﷺ خپل پلار ته اووئیل

اِنِّىْ　رَاَيْتُ　اَحَدَ عَشَرَ　كَوْكَبًا　وَّالشَّمْسَ　وَالْقَمَرَ　رَاَيْتُهُمْ

بیشکه زهٔ چې یم|اولیدل ما| یوولس | ستوری | او نمر | اوسپوږمۍ | اولیدل ما هغوئ

ائې زما بابا جانه! ما یوولس ستوری، نمراوسپوږمۍ [په خوب کښې] اولیدل |څه ګورم چې دا ټول زما

لِىْ　سٰجِدِيْنَ ﴿٤﴾　قَالَ　يٰبُنَىَّ　لَا تَقْصُصْ　رُءْيَاكَ　عَلٰٓى اِخْوَتِكَ

چې ماته |سجده کونکی دی | دهٔ اووئیل | ائې خوږیه | مهٔ بیانوه | خوب خپل | رونړو خپلوته

په مخکښې تیټ شوی دی | هغه ورته اووئیل چې ائې زما بچیه | دا خوب خپلو رونړو ته مهٔ بیانوه

فَيَكِيْدُوْا　لَكَ　كَيْدًا ۭ　اِنَّ الشَّيْطٰنَ　لِلْاِنْسَانِ　عَدُوٌّ　مُّبِيْنٌ ﴿٥﴾

پس تدبیریه جوړکړی| تا ته| په تدبیرجوړولوسره| بیشکه شیطان| دپاره دانسان| دشمن | ښکاره دې

ګنی د ضرر دپاره به درته څه چل جوړ کړی | ځکه چې شیطان د انسان ښکاره دښمن دې

وَكَذٰلِكَ　يَجْتَبِيْكَ　رَبُّكَ　وَيُعَلِّمُكَ　مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ　وَيُتِمُّ

اوهمدارنګې|غوره به کړی تالره|رب ستا|او اوبه ښائی تا ته|تعبیر بیانول د [خوب د]خبرو نه|او پوره به کړی

[الکه چې دې خوب اولیدو] هم دغه شان به ستاپروردګار تا غوره کړی | اوتا ته به د خوبونو تعبیر

Scanned with Ca

نِعْمَتَهٗ	عَلَيْكَ	وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ	كَمَآ	اَتَمَّهَا
نعمت خپل	په تا باندي	او په اولاد دیعقوب باندي	لکه څنګه چي	هغه پوره کړې دي دا نعمت
اوښائي [اوخپل انعام به په تا او د یعقوب ﷺ په نور اولاد باندې پوره کړي [الکه چي څنګه ئې ددې نه				
عَلٰٓى اَبَوَيْكَ	مِنْ قَبْلُ	اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ؕ	اِنَّ	رَبَّكَ
په دواړو بزرګانو ستا باندې	مخکښي ددې نه	چي ابراهيم او اسحاق دی	بیشکه	رب ستا
مخکښي ستا په نیکه او په قرنیکه [ورنیکه] حضرت ابراهیم ﷺ او حضرت اسحاق ﷺ باندې پوره کړې				
عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ ۝			
ښه پوهه دي	د حکمت خاوند دي			
دې بیشکه ستا پروردګار په هر څه پوهه دي دحکمت خاوند دي				

آسان ترجمه قرآن

دا دهغه کتاب آیتونه دي چه حق لره واضح کونکې دي. مونږ دي لره داسې قرآن ګرځولي دې چه په عربۍ ژبه کښې دې دي دپاره چه تاسو پوهه شئ. (اې پیغمبره!) مونږ چه په تا باندې دا قرآن د وحی په ذریعه رالیږلي دې ، ددې په ذریعه مونږ تا ته یو بهترینه واقعه آورو حال دا دي چه ته ددې نه مخکښې (دِ واقعې نه) بالکل ناخبره وې. (دا دهغه وخت خبره ده) چه کله یوسف خپل پلار (یعقوب) ته ووئیل چه: داجی اما (خوب کښې) یوولس ستوری او نمر او سپوږمۍ لیدلي دي ما لیدلي دي چه دا ټول ماته سجده کوي هغوی ووئیل چه بچیه ! دا خوب دِ ورونړو ته مه بیانوه هسې نه چه هغوی تا ته څه سازش جوړ کړي. ځکه چه شیطان دا انسان دپاره ښکاره دښمن دې اودغه شان ستا پروردګار به تا لره (نبوت دپاره) منتخب کوي او تا ته به د ټولو خبرو صحیح مطلب راوپستل اوښائي (چه هغې کښې د خوبونو د تعبیر علم هم داخل دې) او په تا باندې او د یعقوب په اولاد باندې خپل نعمت به داسې پوره کوي لکه چه دې نه مخکښې ستا په نیکونو یعنی ابراهیم او اسحاق باندې ئې پوره کړی وو. یقیناً ستا پروردګار علم والا هم دې او حکمت والا هم.

خلاصه تفسیر

﴿ الٓرٰ ۫ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝ ﴾. [ددی معنی الله تعالی ته معلومه ده] داآیاتونه دی دیوواضح کتاب [چه الفاظ اومعنی دلالت کونکی ئی ډیری صافی دي].

﴿اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝﴾ مونږ دانازل کړیدی قرآن په عربی ژبه چه تاسو [پدی وجه چه اهل زبان ئی دنوررونه مخکی] پری پوه شئ [بیا ستاسوپه واسطه پری نورخلق پوه شی].

﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ اَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ وَاِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝﴾ مونږچه داقرآن تاته رالیږلی دی ددی په ذریعه مونږتاته یوه ډیره اوعمده قصه بیانو او ددې نه مخکی ته [ددی قصی نه] بیخی ناخبره وی خکه چه نه تاکوم کتاب لوستی وونه دی دکوم استاذنه څه زده کړی وواوقصه هم داسی مشهوره نه وه چه عواموته معلومه وه دقصی شروع].

Scanned with Ca

﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ ۝﴾هغه وخت د يادولو قابل دى هركله چه يوسف[عليه السلام]خپل پلاريعقوب [عليه السلام]ته وويل چه پلاره ما[په خوب كښى] يوولس ستورى اولمراوسپوږمئ ليدلى دى دوى مى خپل خان ته سجده كونكي ليدلى دي.

﴿قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَىٰ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝﴾دوى[په جواب كښى] اوفرمائل چه ځويه خپل دغه خوب دخپلوورونړوپه مخكى مه بيانوه[ځكه چه دوى په دى وجه چه دنبوت په خاندان كښى دي ددى خوب په تعبير پوه دي چه يولس ستورى يولس ورونړه اونمر پلار اوسپوږمئ مورده اودسجده كولونه مراددى تولوستادحكم لاندى فرمان برداره كيدل دي]نودوى به ستا[دآزاررسولو]لپاره څه خاص تدبيروكړي[يعنى په ورونړو كښى اكثرځكه چه لس ورونړه ئى ميرنى ووددوى نه ويره وه فقط يوحقيقى وررورئى بنيامين وو دچا نه چه دڅه خلاف ويره خونه وه مګراحتمال ووچه دخولى نه به ئى خبره ووځى]بيشكه شيطان دبني آدم ښكاره دشمن دى[نوځكه دورونړوپه زړه كښي به ئى وسوسه واچوي].

﴿وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلَىٰ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝﴾او[الكه څنګه چه به الله تعالى تاته داعزت دركړى چه تول ورونړه به ستا تابعداراوفرمانبرداروي]دغه شان به ستارب تاته [دنورعزت دنبوت لپاره هم]منتخب كړى اوتاته به دخوبونودتعبيرعلم دركړي او[نورنعمتونه به دركړى،هم]په تااوپه اولاددیعقوب به خپل انعام كامل كړى لكه چه ددى نه مخكى ستاپه نيكه ابراهيم اواسحاق [عليهما السلام]ئى خپل انعام كامل كړى دى يقينى ستارب لوى علم والا او لوئي حكمت والادى.

معارف او مسائل

سورت يوسف د څلورو آيتونو نه علاوه تول مكى سورت دې په دې كښې د حضرت يوسف عليه السلام قيصه كړئ په كړئ په ترتيب سره بيان شوې ده،دا قيصه يواځې په دې سورت كښې راغلې ده،په تول قرآن كريم كښې بل چرته د دې بيان نشته،دا خصوصيت يواځې د حضرت يوسف عليه السلام د قيصې دې ځكه چه د نورو تولو پيغمبرانو عليهم السلام د قيصو او واقعاتو برخې برخې د يو خاص حكمت لاندې بيا بيا هم راوړې شوې دى.

حقيقت دا دې چه د جهان په تاريخ او د تيرې زمانې په تجربو كښې د انسان د راتلونكى ژوند د پاره،لوئې سبقونه وى،ولې چه د هغې د قدرتى تاثير رنګ د انسان په زړه او دماغو باندې د عامو تعليماتو نه ډير زيات زور او بې مشقته وى،په دې وجه په قرآن كريم كښې كوم چه د تولې دنيا د قومونو د پاره د آخرى هدايت نامې په حيثيت راليږلې شوې دې،د دنيا د تولو قومونو د تاريخ هغه منتخب شوې برخه راخستې شوې ده چه د انسان دپاره په موجوده او آئنده وخت كښې د كيميا نسخه ده،مګر قرآن كريم د دنيا د تاريخ دا برخه هم په خپل مخصوص او بې مثاله انداز كښې دا شان راخستې ده چه د دې لوستونكې دا نه شى محسوسولې چه دا ګنى د تاريخ كتاب دې بلكه په هر مقام باندې د كومې قيصې كومه توته چه عبرت او وعظ و نصيحت د پاره ضرورى او ګڼرلې شوه صرف هغومره برخه هلته بيان كړې شوه او بيا چه په بل ځاې كښې د دغې برخې ضرورت اوګڼرلې شو نو هغه دوباره راوړلې شوه،هم دغه وجه ده چه د دې قيصو په بيانولو كښې د واقعاتى ترتيب لحاظ نه دې كړې شوې بلكه بعضې ځاې كښې د قيصې ړومبې برخه روستو او روستنې برخه وړاندې راخستې شوې ده،د قرآن كريم په دې

خاص انداز کښې دا مستقل هدایت دې چه د دنیا د تاریخ او د هغې تیر شوې واقعات لوستل، یاد لرل په خپله څه مقصد نه دې بلکه د هر انسان مقصد دا پکار دې چه د هرې قیصې او خبر نه څه نصیحت او عبرت حاصل کړی.

خکه خو بعضې اهل تحقیقو فرمائیلې دی چه د انسانی کلام چه کوم دوه قسمه مشهور دي یعنی خبر او انشاء، په دې دواړو قسمونو کښې اصلی مقصود هم انشاء ده، خبر د خبر په حیثیت سره مقصود نه وی بلکه د هوښیار انسان مقصد دا پکار دې چه څه خبر او واقعه واوری یا اوګوری نو خپل حال او عمل درست کړی.

د حضرت یوسف علیه السلام قیصه چه په ترتیب سره بیان شوې ده، د دې یو حکمت دا هم کیدې شی چه تاریخ نګاری هم یو مستقل فن دې چه په کښې د دغې فن د خلقو د پاره خاص هدایتونه دی، هغه دا چه په بیان کښې نه خو دومره لنډ والې پکار دې چه خبره باندې انسان پوره پوهه نه شی او نه دومره اوږود والې پکار دې چه د هغې لوستل او یاد لرل ګران شی څنګه چه د دې قیصې د قرآنی بیان نه څرګندیږی.

بله رجه ئې دا هم کیدې شی چه د بعضې روایتونو مطابق یهودو د ازمیښت په ډول رسول الله ﷺ ته وئیلې وو چه که تاسو ﷺ رښتینې پیغمبر ئې نو دا راته اوښائې چه د حضرت یعقوب علیه السلام خاندان د شام ملک نه مصر ته په څه وجه منتقل شوې وو او د یوسف علیه السلام واقعه څه وه؟ د دې په جواب کښې د وحی په ذریعه دا پوره قیصه نازله کړې شوه چه د رسول الله ﷺ یوه معجزه او د هغوی ﷺ د پیغمبرئ لویه ګواهی ده، ولې چه رسول الله ﷺ خالص امی وو او ټول عمر ئې په مکه مکرمه کښې تیر کړې وو، نه ئې د چا نه تعلیم حاصل کړې وو او نه ئې څه کتاب لوستلې وو، بیا هغه ټول واقعات چه په تورات کښې بیان شوې وو هغه ئې صحیح صحیح اوښودل، بلکه بعضې هغه څیزونه ئې هم اوښودل چه بیان ئې په تورات کښې نه وو، او د دې په ضمن کښې ډیر حکمونه او هدایتونه هم دی چه بیان به ئې کولې شی.

د سورت په اول سر کښې د ﴿الٓرٰ﴾ حروف قرآنی مقطعات نه دی، د دې په باره کښې د جمهورو بزرګانو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله فیصله دا ده چه دا د متکلم [الله تعالی] او مخاطب [رسول الله ﷺ] تر منځه یو راز دې چه بل هیڅوک پرې نه شی پوهیدې، او نه خو هیڅا لره دې تحقیق پسې کیدل پکار نه دی.

﴿تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ﴾ دا د هغې کتاب آیتونه دی چه د حلال، حرام حکمونه او د هر کار حدونه او قیدونه ښائی او انسان ته د ژوند په هر ډګر کښې یو منځ و میانه د ژوند نیغ نظام وربخښی او د نازلیدو دعده ئې په تورات کښې هم موندې شی چه یهود ترې هم خبر دی.

﴿اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ﴾ [مونږ دا قرآن په عربی شکل کښې په دې غرض رالیږلو چه تاسو د عقل او فکر نه کار واخلئ].

په دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه د حضرت یوسف علیه السلام د قیصې تپوس کونکی یهود د عربو وو، الله تعالی هم د دوی په ژبه دا قیصه نازله کړه چه دوی په کښې غور اوکړی او د رسول الله ﷺ په رښتینۍ او حقانیت باندې ایمان راوړی او د دې قیصې حکمونه او هدایتونه خپله ځان د پاره د لارې مشال جوړ کړی.

هم دې د پاره دلته لفظ [لعل] په معنی د شائد [کیدې شي] راوړلې شو، ځکه چه په دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه د مخاطبینو شان داسې دې چه که داسې څرګند آیتونه ورته هم مخې ته راشي بیا هم د حق قبلولو امید ترې په شک کښې دې.

﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْآنَ ۖ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ ۝﴾

[مونږه تاسو د پاره ډېره غوره قیصه بیانوو چه دا قرآن مو درته د وحی په ذریعه نازل کړو، بې شکه تاسو د دې نه مخکښې د دې ټولو واقعاتو نه ناخبره وئ].

په دې کښې یهودو ته داسې خبر داری ورکول دی چه تاسو د رسول الله ﷺ ازمیښت کول اوغوښتل په هغې کښې هم د رسول الله ﷺ کمال ځکه څرګنده شو چه رسول الله ﷺ د وړاندې نه هم خالص امي او د دنیا د تاریخ نه ناخبره وو اوس ئې دا خبریدل سوا د تعلیم الهی او د پیغمبرۍ د وحی نه نۀ شي کیدې.

﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ ۝﴾

[یوسف ؑ خپل والد صاحب ته اووئیل چه بابا جانه؛ ما په خوب کښې یوولس ستوری او نمر او سپوږمۍ لیدلې دی، او دا مې لیدلې دی چه هغوی ما ته سجده کوی].

دا د حضرت یوسف ؑ هغه خوب وو چه د هغې د تعبیر په باره کښې حضرت عبدالله بن عباس ؓ فرمائیلي دي چه د یوولسو ستورو نه مراد د حضرت یوسف ؑ یوولس رونړه دی او نمر او سپوږمۍ نه مراد ئې پلار مور دی.

په قرطبی کښې راغلې دی چه د حضرت یوسف ؑ مور بیبی د دې نه وړاندې وفات شوې وه او ترور بی بی ئې دغه وخت میره مور وه او د یعقوب ؑ بی بی جوړه شوې وه ترور [خاله] هسې هم د مور په ځاې وی او دا خو ئې د بابا جان په نکاح کښې هم راغلې وه نو د عرف په لحاظ به ورته هم مور وئیلې شي.(۱)

﴿قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَىٰ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝﴾

[یعنی اې بچوریه؛ خپل دا خوب خپلو رونړو ته مه وایه هسې نه چه ستا د لوئې شان خاوند کیدل ورته معلوم شي او ستا د هلاک کولو څه تدبیر اوکړي ولې چه شیطان د انسان څرګند دشمن دې، هغه د دنیا د مال، دولت، مرتبې او حکومت په خاطر انسان لره په داسې کارونو کښې اخته کوی.

په دې آیتونو کښې څو مسئلې د ذکر کولو قابلې دی؛

د خوب حقیقت او درجه او د دې قسمونه: ټولو نه اول د خوب حقیقت او د دې نه د معلومیدونکو واقعاتو او خبرونو درجه او مقام دې، په تفسیر مظهری کښې قاضی ثناءالله پانی پتی ؒ فرمائیلي دی چه د خوب حقیقت دا دې چه هر کله د انسان نفس د خوب یا د بې هوشی له کبله د بدن د ظاهری تدبیر [انتظام] نه فارغ شي، نو د خیالی قوت په ذریعه ورته څه صورتونه او شکلونه ښکاره کیږی، دغه خوب نومیږی، بیا د دې درې قسمونه دی چه په کښې دوه خو بالکل باطل دی، هیڅ حقیقت او اصلیت نه لری او دریم قسم د خپل ذات په لحاظ سره ډیر صحیح او

(۱) تفسیر القرطبي تحت هذه الآیة ج: ۹ ص: ۱۲۱، ۱۲۲

Scanned with Ca

رښتينې وي خو په دې قسم كښې هم كله څه عوارض شامل شي چه په هغې سره ګډ وډ او بې اعتباره شي.

تفصيل ئې دا دې چه په خوب كښې انسان مختلف صورتونه او واقعات وينى كله خو دا هم هغه صورتونه وي چه په ويښه ئې وينى او كله ئې په ذهن كښې شيطان څه خوشحالوونكې يا څه بيروونكې واقعات او صورتونه اچوي، دا دواړه قسمه باطل، بې اصله او بې حقيقته دي، د دې څه واقعي تعبير نه شي كيدې، د ړومبى قسم نوم حديث النفس دې او د بل قسم نوم تسويل شيطاني دى صحيح او حق خوب دريم قسم دې چه هغه د الله تعالى د اړخه يو قسم الهام دې چه د بنده د خبرداره كولو يا د زيرى وركولو د پاره ورته كولې شي، الله تعالى د خپلې خزانې د غيبو نه بعضې څيزونه د هغه په زړه او دماغو كښې اچوي.

په يو حديث كښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د مؤمن خوب يو قسم كلام كول دى چې په هغې كښې د خپل رب سره د خبرو كولو شرف حاصلوى. [دا حديث طبراني په صحيح سند سره روايت كړې دې [مظهري]].

صوفيائې كرامو ﷺ د دې بيان داسې كړې دې چه په دنيا كښې د ټولو موجودو څيزونو يو خاص شكل په عالم مثال كښې وى، او په دې عالم مثال كښې څنګه چه د جواهرو او د ثابت شوې حقيقتونو صورتونه او شكلونه وى دغه شان په كښې د معانيو او د اعراضو هم خاص شكلونه وى، په خوب كښې چه كله انسان د ظاهري بدن د تدبير نه فارغه شي نو بعضې وخت د هغه تعلق عالم مثال سره قائم شي، هلته چه كوم د كائناتو شكلونه دى هغه ده ته ښكاره شي، بيا دا صورتونه د عالم غيب نه ورته ښودلې شي، بعضې وخت په دې كښې هم څه عوارض داسې پيدا شي چه د اصل حقيقت سره د څه باطل خيالات هم شامل شي، د دې وجهې نه د تعبير خاوندانو ته هم د دې تعبير كول ګران شي، او كله دا د عوارضو نه بالكل پاك او صفا پاتې شي نو دا اصل حقيقت وى، مګر په دې كښې بعضې خوبونه د تعبير محتاجه وى څكه چه په دې كښې ښكاره حقيقت نه وى، په داسې صورت كښې هم كه تعبير غلط اوكړې شي نو واقعه غلطه شي، په دې بنا صرف هغه خوب به په صحيح ډول د الله تعالى د جانبه الهام او اصلى حقيقت وى كوم چه د الله تعالى د طرفه وى او په دې كښې څه نور څيزونه شامل شوې نه وى او تعبير ئې هم صحيح او ښكلې شوې وى.

چنانچه د پيغمبرانو ﷺ ټول خوبونه هم دغسې څكه وى چه هغه وحي وى، د عامو مسلمانانو په خوبونو كښې په هر شان احتمالونه كيدې شي، څكه چا د پاره حجت او دليل نه شي ګرځيدې د دوى په خوبونو كښې كله د طبعي او نفساني صورتونو ګډون شي او كله پرې د ګناهونو تيرې او خړوالې راخوريدو سره بې اعتباره كيږى چه كله خو په صحيح تعبير باندې ئې پوهيدل هم ګران شي.

د خوب د دغې دريو قسمونو تفصيل د رسول الله ﷺ نه داسې منقول دې چه يو قسم خوب شيطاني وى چه شيطان ئې څه صورتونه په ذهن كښې راولي، دويم قسم هغه دې چه انسان ته په كښې هم هغه صورتونه ښكارى كوم چه په ويښه وينى، دريم قسم هغه دى چه صحيح او حق وى چه د نبوت د برخو نه شپږ څلويښتمه [۴۶] برخه ده، يعني دا د الله تعالى د اړخه الهام وي (۱)

(۱) صحيح مسلم كتاب الرؤيا ج: ۲ ص: ۲۴۱

خوب د پیغمبرئ برخه څنګه جوړیدې شي:: کوم خوب ته چه د نبوت شپږ څلویښتمه برخه وئیلې شوې ده په دې باره کښې د احادیثو روایتونه مختلف دی بعضو احادیثو کښې ورته څلویښتمه او بعضو کښې ورته شپږ څلویښتمه برخه وئیلې شوې ده په بعضې روایتونو کښې یو کم پنځوس او اویایمه برخه کیدل هم منقول دی دا ټول روایتونه د ابن عبدالبر د تحقیق مطابق قرطبی راجمع کړې دی چه د دې ټولو روایتونو تر منځه څه اختلاف نشته بلکه هر یو روایت په خپل خپل ځاې صحیح او درست دې ولې چه د خوب لیدونکو حالات او شانونه مختلف کیدې شی، څوک چه رښتینې مسلمان، امانتدار، دیانتدار او کامل مومن وی د هغه خوب به د پیغمبرئ څلویښتمه برخه وی او کوم چه په دې صفتونو کښې څه کم وی نو د هغې په مناسب درجه په درجه به شپږ څلویښتمه، یو کم پنځوسمه پنځوسمه او اویایمه برخه وی.(۱)

دلته په دې خبره غور کول پکار دی چه رښتینې خوب څنګه د پیغمبرئ برخه کیدې شی؟ په تفسیر مظهری کښې ئې د دې توجیه داسې کړې ده چه په رسول الله ﷺ باندې د نبوت وحی دیرویشت کاله [شپږ څلویښت شپږ میاشتیزې [ششماهی] جاری وه په دې کښې رومبې شپږ میاشتیزه وحی د خوب په صورت کښې جاری وه او نورې پنځه څلویښت شپږ میاشتیزې د جبرائیل امین ﷺ په ذریعه وحی پرې جاری وه، په دې لحاظ رښتینی خوبونه د نبوت د وحی شپږ څلویښتمه برخه شوه، په کومو روایتونو کښې چه کم و زیات شمیر راغلې دې په دې کښې یا خو تقریبی کلام کړې شوې دې یا هغه د سند په اعتبار سره ساقط دی.

امام قرطبی رحمه الله فرمائیلې دی چه خوبونه د نبوت څه برخه په دې حیثیت سره هم کیدې شی چه په خوب کښې بعضې وخت انسان داسې څیزونه وینی چه په ویښه ئې طاقت نه بهر وی مثلا په هوا کښې الوځی، یا د غیب داسې څیزونه وینی چه د هغې علم حاصلول ئې په طاقت کښې نه وو نو د دې ذریعه سوا د الهام او د الله تعالی د امداد نه بل څه نۀ شی کیدې چه په اصل کښې خاصه د نبوت ده ځکه دا د نبوت یوه برخه اوګرځولې شوه.

د قادیانی دجال په باره کښې د یوې مغالطې رد:: دغه خلق په یو عجیبه غلطې کښې پریوتې دی د هغوی خیال دا دې چه هر کله د نبوت یو جز [برخه] په دنیا کښې پاتې ده نو نبوت جاری پاتې کیدل ترې معلومیږی خو دا ځکه غلط دی چه د قرآن کریم د قطعی نصوصو او بې شمیره صحیح احادیثو او د ټول امت د اتفاقی عقیدې د ختم نبوت نه خلاف دی، او دا ګڼړل هم غلط دی چه د یو څیز جز موجودیدو سره ګنی مکمل څیز دې موجود شی، مثلا که د یو کس ویښته یا نوک موجود شی نو په دې سره دا څوک نه شی وئیلې چه دغه کس دلته موجود دې، یا د یو مشین دیرې پرزې وی که د دې پرزو نه یو کس سره یوه پرزه موجوده وی او هغه کس اووائی چه ما سره فلانکې مشین موجود دې نو دټولې دنیا خلق به ده ته یا دروغژن وائی او یا بې وقوف.

خلاصه دا شوه چه رښتونی خوبونه واقعی د نبوت برخه دی خو نبوت ځکه نه دې چه په خاتم الانبیاء ﷺ باندې نبوت ختم دې.

په صحیح بخاری کښې راغلې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: لم یبق من النبوة الا المبشرات [یعنی په آئنده کښې به سوا د مبشراتو نه د نبوت بل څه جز باقی پاتې نه شی] صحابۀ کرامو

(۱) تفسیر القرطبي تحت هذه الآیة: ج:۹ ص:۱۲۲، ۱۲۳

Scanned with Ca

ﷺ تپوس اوکړو چه د مبشراتو نه څه مراد دی؟نو اوئې فرمائيل چه ربښتوني خوبونه،[1] دې نه ثابته شوه چه هيڅ قسم نبوت يا څه صورت ئې باقي نه دې صرف د دې يو ورکوټې شان جز باقي دې چه مبشرات يا ربښتينې خوبونه ورته وئيلې شي.

کله د فاسق کافر خوب هم ربښتينې کيدې شي؟: او دا خبره هم د قرآن او حديث نه ثابته او تجربو نه معلومه ده چه کله کله د فاسق،فاجر او د کافر خوب هم ربښتيا کيدې شي،چنانچه په سورت يوسف کښې د حضرت يوسفؑ د بنديخانې د دوو ملګرو خوبونه او د مصر د بادشاه خوب هم ربښتيا ختل بيان شوې دی سره د دې چه دغه درې واړه مسلمانان نه و،په حديث شريف کښې د کسری د خوب ليدلو بيان هم راغلې دې چه د رسول اللهﷺ د پيغمبر کيدو په باره کښې ئې ليدلې وو او هغه صحيح او ربښتيا اوختو سره د دې چه کسری مسلمان نه وو،د رسول اللهﷺ ترور بيبی عاتکهؓ په حالت د کفر کښې د رسول اللهﷺ په باره کښې خوب ليدلې وو،دغه شان د بخت نصر کافر بادشاه خوب هم ربښتيا ختلې وو د کوم تعبير چه حضرت دانيالؑ اوښکلې وو.

دې نه معلومه شوه چه د چا په ربښتيني خوب ليدلو او د هغې مطابق د تعبير په ختلو سره څوک صالح او نيک خو لا څه کوې چه د هغه د مسلمانيدو دليل هم نه شی کيدې،البته دا خبره صحيح ده چه د الله تعالی عام عادت دا دې چه د ربښتونو او نيکو خلقو خوبونه عموما ربښتيا وی،د فاسقانو فاجرانو خوبونه عموما حديث النفس يا تسويل شيطانی باطله قسم وی خو کله د دې خلاف هم کيدې شي.

بهر حال ربښتينې خوبونه عام امت د پاره د ځرګند حديث شريف مطابق د يو زيری يا خبردارې نه زيات مقام نه لری،نه خو پخپله د هغه د پاره او نه د بل د پاره په څه معامله کښې حجت جوړيږی،بلکه بعضې ناواقفه خلق خو د داسې خوبونو په ليدو سره په قسماقسم وسوسو کښې اخته شی،څوک ئې د خپل ولې توب نشانی بولی،څوک ئې د شرعی دليل په توګه استعمالوی،خو دا ټول هيڅ بنياد نه لری،خصوصا کله چه دا هم معلومه شوې ده چه په ربښتينی خوبونو کښې هم ډير د نفسانی يا شيطانی يا د دواړو قسمونو تصوراتو د ګډون احتمال وی.

هر چا ته خوب بيانول درست نه دی:

مسئله: ايت ﴿قَالَ يٰبُنَيَّ﴾ له مخه دا معلومه شوه چه خير خواه،همدرد،يا د تعبير ماهر نه بغير د بل چا په مخکښې خوب بيانول پکار نه دی ولې چه حضرت يعقوبؑ حضرت يوسفؑ لره د خپلو رونړو په وړاندې د خپل خوب بيانولو نه منع کړې وو.

د جامع ترمذی په حواله رسول اللهﷺ فرمائيلې دی چه ربښتينې خوب د نبوت د څلويښتو برخو نه يوه برخه ده،او خوب تر هغې وخت پورې زوړند وی تر څو چه چا ته بيان نه کړې شی،خو د بيانولو نه پس چه کله ئې تعبير اوښکلې شی نو هم د هغې مطابق به کيږی،ځکه پکار دی چه خوب چا ته بيان نه کړی سوا د هغه چا نه چه عالم او هوښيار وی يا کم از کم د هغه دوست يا خير خواه وی.[2]

---

[1] صحيح البخاری کتاب التعبير،باب المبشرات ج:۱ص: ۱۰۳۵
[2] جامع الترمذی،ابواب الرؤيا باب ماجاء فی تعبير الرؤيا ج: ۲ص: ۵۳

Scanned with Ca

دا شان د ترمذی او ابن ماجه په حواله رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه خوب په درې قسمه وي، يو د الله تعالى د اړخه زيرې وي، دويم نفساني خيالونه، دريم شيطاني تصورات، په دې وجه چه ښه خوب اووينی او هغه ته ښه معلوم شي نو كه اوغواړي خلقو ته دې ئې بيان كړي او كه څه خرابه خبره ورته په كښې ښكاره شوه نو چا ته دې ئې نه وائی بلكه پورته دې شي او مونځ دې اوكړي، (۱)

د صحيح مسلم په حواله يو بل حديث كښې راغلي دي چه كله خراب خوب اووينی نو ګس [چپه] طرف ته دې درې خله تهو كړي او د هغې د خرابې نه دې د الله تعالى پناه اوغواړي، چا ته دې هغه نه بيانوی نو دغه خوب به ورته هيڅ څه زيان نه شي وررسولی (۲) وجه ئې دا ده چه بعضې خوبونه شيطاني تصورات وي هغه به په دې عمل سره دفع شي او كه رښتينې خوب وي نو د دې عمل په ذريعه د هغې د خرابې لرې كيدو هم اميد شته.

مسئله: د خوب تعبير په خوب باندې د موقوف كيدو مطلب په تفسير مظهری كښې داسې بيان كړی دی چه يو قسم تقدير مبرم [قطعي] وی او بل معلق وی په دې دويم صورت كښې معامله په ښه او خراب تعبير باندې موقوف وی او هم په دغې بنا د ترمذی په بيان شوی حديث كښې داسې كس ته د خوب بيانولو نه منع راغلې ده چه عقلمند نه وی يا د خوب ليدونكی خير خواه او دوست نه وی، (۳) بله وجه ئې دا هم كيدې شي چه د خوب په خراب تعبير اوريدو سره د انسان په زړه كښې دا خيال كښينی چه اوس په ما باندې مصيبت راتلونكې دې او په حديث شريف كښې راغلې دی چه الله تعالى فرمائی: اناعند ظنی عبدی بی [زه خپل بنده ته د هغه د ګمان مطابق ور رسم] (۴) كله چه هغه په الله تعالى باندې دا يقين اوكړو چه هغه به را باندې مصيبت راولی نو د الله تعالى عادت دا دې چه په هغه باندې مصيبت ضرور راولی.

مسئله: كوم خوب چه د مصيبت يا ضرر او زيان چا ته ښكاره شي نو د حديث له مخه چا ته د هغې د نه بيانولو وجه صرف شفقت او همدردی ده، په شريعت كښې ئې بيانول حرام نه دی يعنی چا ته ئې بيانول حرام او د ګناه كار نه دې، چنانچه په صحيح احاديثو كښې راغلې دی چه كله په غزوهٔ احد كښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ما خوب كښې اوليدل چه ذوالفقار توره مې ماته شوې ده او اومې ليدل چه څه غواګانې ذبح كيږی، د دې تعبير د حضرت حمزه رضی الله عنه او د نورو ډيرو مسلمانانو شهادت وو، سره د دې چه دا ډيره لويه راپيښه وه خو بيا هم رسول الله ﷺ صحابهٔ كرامو رضی الله عنهم ته دغه خوب بيان كړې وو [قرطبی] ـ (۵)

مسئله: د دې آيت نه دا هم معلومه شوه چه د چا د شر نه د ساتلو په غرض د هغه خراب خوئې يا خراب نيت ښكاره كول روا دی، دا په غيبت كښې داخل نه دی، مثلاً څوك خبر شي چه فلانې بنده د بل فلانی په كور د ډاكې غورځولو يا د هغه د وژلو منصوبه جوړوی نو دغه بل فلانی لره

(۱) جامع الترمذی، ابواب الرؤيا باب رؤيا المؤمن الخ، ج: ۲ص: ۵۲، وابن ماجة، ابواب تعبير الرؤيا ،باب الرؤيا ثلاث۔ ج: ۲ص: ۲۷۸

(۲) صحيح مسلم كتاب الرؤيا ج: ۲ص: ۲۴۰

(۳) تفسير المظهری تحت هذه الآية ج: ۵ص: ۱۴۱

(۴) صحيح البخاری كتاب التوحيد، باب قول الله [ويحذركم الله نفسه] ج: ۲ص: ۱۱۰۱

(۵) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج: ۹ص: ۱۲۶

Scanned with Ca

په دې باندې خبرول پكار دي، دا په غيبت[حرام] كښې داخل نه دي ولې چه حضرت يعقوب عليه السلام حضرت يوسف عليه السلام ته دا خبره ښكاره كړې وه چه د رونړو نه ده ته د مرگ خطره وه.

مسئله: دې آيت نه دا خبره هم معلومه شوه چه د چا د خير، خوشحالۍ او په نعمت باندې په څوک حسد كوي او زيان به ورته رسوي نو د هغه په وړاندې د خپل خير، ښيگړې، نعمت، دولت او عزت وغيره يادول دې نه كوي ځنگه چه رسول الله ﷺ هم فرمائيلي دي چه:

[په خپلو مقصدونو كښې د كاميابيدو په غرض هغې لره په راز كښې ساتلو سره مدد حاصلوئ ولې چه په دنيا كښې د هر نعمت خاوند سره حسد كولې شي] ـ(۱)

د دې آيت او وروسته د نورو آيتونو نه ثابته شوه چه د يوسف عليه السلام رونړو هغوى لره د وژلو او په كوهي كښې د اچولو مشوره اوكړه او په هغې ئې عمل هم اوكړو نو دې نه معلومه شوه چه دغه رونړه د يوسف عليه السلام پيغمبران ځكه نه وو چه دغسې گناهونه او د والد نافرمانى په قصد سره كول پيغمبرانو نه نه شى صادريدې، ولې چه د پيغمبرانو عليهم السلام د هر قسم گناهونو نه صفا او پاكيزه پاتې كيدل ضروري دي، په كتاب طبري كښې چه هغوى ته پيغمبران وئيلې شوې دي دا صحيح نه دي[قرطبي] ـ(۲)

په شپږم آيت كښې الله تعالى حضرت يوسف عليه السلام سره د څو انعاماتو د وركولو وعده كړې ده اوله دا چه:

﴿وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ﴾[يعنى الله تعالى به خپلو انعاماتو او احساناتو د پاره تاسو لره منتخب كړي]چه په مصر كښې ورته د حكومت، عزت او دولت په حاصليدو سره ښكاره شوه.

دويمه دا چه﴿وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ﴾دلته د احاديث نه مراد د خلقو خوبونه دي، د ټولې جملې معنى دا شوه چه: الله تعالى به درته د خوبونو د تعبير علم اوښائى، دې نه دا هم معلومه شوه چه د خوبونو تعبير ښودل يو مستقل فن دې چه الله تعالى د دې علم خال خال كسانو ته وركوى هر څوک د دې جوگه نه وى.

مسئله: تفسير قرطبى كښې ليكلي دي چه شداد بن الهاد رحمه الله فرمائيلي دي چه د يوسف عليه السلام د دې خوب تعبير څلويښت كاله پس څرگند شو، معلومه شوه چه د خوب تعبير سمدستى څرگنديدل ضروري نه دي.(۳)

دريمه دا ﴿وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ﴾[يعنى الله تعالى به درباندې خپل نعمت پوره كړي]په دې كښې د پيغمبرئ وركولو ته اشاره ځكه ده چه وروسته داسې فرمائى﴿كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ﴾ [يعنى ځنگه چه مونړه خپل نعمت د پيغمبرې ستاسو په پلار نيكه حضرت ابراهيم عليه السلام او اسحق عليه السلام ستاسو نه وړاندې پوره كړې دې، په دې كښې دې خبرې ته هم اشاره اوشوه چه د خوب د تعبير فن د يوسف عليه السلام په شان حضرت ابراهيم عليه السلام او اسحق عليه السلام ته هم وركړې شوې وو.

۱) تفسير القرطبي تحت هذه الآية ج:۹ص:۱۲۷، ومجمع الزوائد رقم الحديث: ۱۳۷۳۷
۲) تفسير القرطبي تحت هذه الآية ج:۹ص:۱۲۷
۳) تفسير القرطبي تحت هذه الآية ج:۹ص:۱۲۹

Scanned with Ca

په آخر د آیت کښې فرمائی [﴿إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾] یعنې ستاسو پروردګار د لوئې علم خاوند، دلوئې حکمت خاوند دې انه خو هغه لره چا ته فن ورایزده کول ګران دی او نه د حکمت له مخې هغه دې فن لره هر چا ته ورازده کوی بلکه د خپل حکمت ما تحت په انتخاب سره دا هنر ورکوی.

لَقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ
بیشکه | دی | په قیصه دیوسف | او رونړو د هغه کښې
حقیقت دادې چې د حضرت یوسف (ع)
آيَاتٌ لِلسَّائِلِينَ ۞ إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ
نښې د پاره دتپوس کونکو | کله چې | اووئیل هغوی | چې خامخا یوسف | او رور د هغه
اودهغه د رونړو په قصه کښې تپوس کونکو دپاره [ډیرې] غتې غتې نښې دی | هرکله چې هغوئ
أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ
زیات خوښ دی | پلار زمونږ ته | زمونږنه | اوحال دادې چې مونږه | پوره ډله یو | بیشکه
[پخپل مینځ کښې] اووئیل اچې یوسف (ع) او دهغه سکه رور زمونږ د پلار زمونږ نه زیات خوښ دی
أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ۞ اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ
پلار زمونږه | خامخاپه دهوکه | ښکاره کښې دې | قتل کړئ | یوسف | یا اوغورزوئ هغه
حال دا چې مونږ خوسمه پوره ډله یو | رښتیا خبره داده چې زمونږ پلار ښکاره خطا شوې دې | [اراشئ] یوسف (ع)
أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا
یه یوه بله زمکه کښې | چې خالی شی | تاسو ته | توجه | د پلار ستاسو | او شئ به تاسو
اووژنئ | یا ئې چرته یو بل ملک ته اوغورزوئ | نو د پلار مخه به درته یوازې شی | اودهغې نه پس به
مِنْ بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ ۞ قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ
روستو ددې نه | خلق | نیکان | اووئیل | یو ویونکی | دهغوئ نه | مهٔ قتلوئ | یوسف
[په توبې ویستلو سره] نیکان شئ | په هغوئ کښې یو کس اووئیل | چې یوسف (ع) مهٔ وژنئ
وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِنْ كُنْتُمْ
او اوغورزوئ دې | په تیارو کښې | د کوهی | را اوچت به کړی دې | یو لاروې | مسافر | که چرې | یئ تاسو
خو په تیارو د کوهی کښې ئې واچوئ | چې څوک مسافر ئې راوباسی [او ځان سره ئې بوځی] | که تاسو [خواه
فَاعِلِينَ ۞ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا
کونکی | اووئیل هغوئ | ائې پلاره زمونږه | څه باعث دې په تا | چې ته باور نهٔ کوې په مونږه
مخواه] څه کول غواړئ | هغوئ [حضرت یعقوب (ع) ته] اووئیل چې ائې بابا | دا په تا څه چل دې چې د

Scanned with Ca

عَلٰى يُوْسُفَ وَاِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ﴿۱۱﴾ اَرْسِلْهُ مَعَنَا

پہ باره دیوسف کښې | او بیشکه مونږه | د هغه | خامخا خیر خواهان یو | او لیږه دې | زمونږ سره

یوسف ﷺ په حقله ته په مونږ اعتبار نه کوې | سره ددې چې مونږ خو د هغه خیرخواه یو | صبا له ئې مونږ

غَدًا يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۱۲﴾ قَالَ

صباله | چې دې وخوري | او اولوبیږي | اوبیشکه مونږه | د هغه | خامخاحفاظت کونکي یو | یعقوب اووئیل

سره اولیږه | چې خوراک ښناک اوکړي | اولوبې اوکړي | اومونږخو هسې هم د هغه محافظ یو | هغه ورته

اِنِّيْ لَيَحْزُنُنِيْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ اَنْ يَّاْكُلَهُ

بیشکه زه چې یم | خامخا غمژنوی ما | چې بوځئ تاسو | هغه | او ویریږم زه | چې اوبه خوري هغه

اووئیل | چې زه خو په دې خفه یم | چې تاسو دې زما نه بوځئ | اوماسره ویره ده | چې شرمخ به ئې د رنه

الذِّئْبُ وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ

شرمخ | او تاسو به | دهغه نه | بې فکره یئ | اووئیل هغوئ | که چرې | اوخوړو دې | شرمخ

اوخوري | اوتاسو به تري خپله مشغوله یئ | هغوئ اووئیل چې که دې رانه شرمخ اوخوري | اومونږ

وَنَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَلَمَّا

اوحال دا چې مونږه | یوه ډله یو | بیشکه مونږ به | په دغه وخت کښې | خامخاتاوانیان یو | نوهرکله چې

دومره [د لسوکسانو] لویه ډله موجود یو | نو بیا خو مونږ ډیر غورزیدلی سړي یو | نوهرکله چې ئې

ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ وَاَوْحَيْنَآ

بوتلوهغوئ | هغه لره | اواتفاق ئې اوکړو | چې اوغورزوی هغه | په تیارود کوهي کښې | او وحی اوکړه مونږه

هغه بوتلو | او پوخ نیت ئې او کړو | چې هغه په تیارود کوهي کښې واچوی | اومونږ یوسف ﷺ ته وحی

اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵﴾

هغه ته | چې خامخا ته به خبر ورکړې دوئ ته | د دوی د دې کار | او دوئ به | نه پوهیږي

اوکړه | چې | یوه ورځ به راشي | چې ته به دوئ ته داخبره په ګوته کوې | اودوئ به [هغه وخت هم] پرې نه

وَجَآءُوْٓ اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ﴿۱۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّا

اوراغلل هغوئ | پلارخپل ته | ماسخوتن | چې ژړل ئې | اووئیل هغوئ | ائې پلاره زمونږه | بیشکه مونږه

پوهیږي | اوهغوئ خپل پلارته ماسخوتن په ژړا راغلل وې وئیل چې باباموږ په خپل مینځ کښې د منډې

ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَاَكَلَهُ

لاړو | چې مقابله کوله مونږه په منډه کښې | او پریښودو مونږ | یوسف | دسامان خپل سره | نواوخوړو هغه لره

مقابله شروع کړې وه | او یوسف ﷺ مو دخپل سامان سره پریخودې وو | نو شرمخ راغلو | و هغه ئې اوخوړلو

الذِّئْبُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَجَآءُوْ

شرمخ | اونه ئې ته | باورکونکي | په مونږ | اګر که یومونږه | رښتوني | او راوړه هغوئ

اوستا زمونږ په خبره باور نه راځي | اګر که مونږ رښتوني یو | اودهغه په قمیص باندې ئې د دروغو

Scanned with Ca

عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ۭ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ

د پاسه قميص دهغه | وينه | د دروغو | وې فرمائيل | بلكه | آسان كړى دى | تاسوته | نفسونو ستاسو | يولوئ كار

وينه لګولې راوړه | [حضرت يعقوب عليه السلام] ورته اووئيل چې نه بلكه داتاسو له خانه يوه خبره جوړه كړې ده

فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ۝۱۸ وَجَاۗءَتْ

نوصبر | ډير ښهٔ دې | او د الله نه | مدد غوښتلې شوې دې | په هغه خبرو باندې | چې تاسوئې بيانوئ | او راغله

نوصبر ډير ښهٔ دې | او تاسو چې څه وائې نو الله دې په هغې كښې زما مدد اوكړى | او يوه قافله راغله

سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ فَاَدْلٰى دَلْوَهٗ ۭ قَالَ يٰبُشْرٰى

قافله | نو اوليږو هغوئ | اوبه راوړونكې خپل | نو ورزوړنده ئې كړه | بوقه خپله | اووئيل هغه | ائې زيرى دې

نو هغوئ خپل يو اوبهٔ راوړونكې اوبو پسې اوليږلو | نو هغه خپله بوقه ورښكته كړه | نو نعرې ئې كړې چې ائې [ملګرو] زيرى

هٰذَا غُلٰمٌ ۭ وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ۝۱۹

دا [خو] يو هلك دې | اوپټ كړو هغوئ دهٔ لره | د تجارت د مال په طور | او الله | خبردار دې | په هغه څه | چې كول هغوئ

مې درباندې | دا خو په كښې هلك راووتو | او هغوئ د تجارت په خيال پټ كړو | او الله دهغوئ په ټولو كارونو ښهٔ

وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ ۚ وَكَانُوْا فِيْهِ

اوخرڅ كړو هغوئ هغه لره | په قيمت | لږ | په دراهمو | شميرلې شو | او وو هغوئ | په قيمت دهغه كښې

واقف وو | او هغوئ په ډير لږ قيمت د شمير په يوڅو روپو خرڅ كړو | او هغوئ د دهٔ په حق كښې هسې

مِنَ الزّٰهِدِيْنَ ۝۲۰ۧ

بې رغبته |

هم بې رغبته وو |

آسان ترجمه قرآن

حقيقت دا دې چه كوم خلق (تا نه ددې واقعې) تپوس كوي، دوى دپاره د يوسف او دهغه په ورونړو (په حالاتو كښې) ډيرې لوئې لوئې نښې دى (دا دهغه وخت واقعه ده) چه كله د يوسف (ناځكه) ورونړو (خپلو كښې) وئيلي وو چه: يقيني طور څونړه د پلار څونړه مقابله كښې د يوسف او د هغه (حقيقي) ورور (بنيامين) سره ډيره مينه ده. حال دا دې چه مونږه هغوى دپاره يوه مضبوطه ډله يو مونږ ته يقين دې چه څونړه پلار څه ښكاره خطايې كښې مبتلا دې (اوس ددې حل دا دې چه) يوسف ووژنئ. يا يوې بلې زمكې كښې ئې وغورزوئ چه ستاسو دپلار ټوله توجه تاسو ته شي، او دې هر څه كولو نه وروستو (بيا توبه وباسئ) نيكان شئ دوي نه يو ويونكي ووئيل چه يوسف خو ووژنئ مه. البته كه تاسو څه كول غواړئ نو دې يو تيارهٔ كوهي ته وغورزوئ دې دپاره چه دې څوك قافله اوچت كړي. (نو) دهغه ورونړو (خپل پلار ته) ووئيل چه: اې باباجانه! په تا څه هوى دى چه ته د يوسف په معامله كښې په مونږ اطمينان نه كوي؟ حال دا دې چه دې كښې څه شك نه دې ښكار چه مونږ د هغه پاخه خيرخواهان يو صبا ته دې مونږسره (د سيل دپاره) وليږه. دې دپاره چه څه خوراك څښاك وكړي. او لوبې وكړي او يقين وكړه چه

Scanned with Ca

مونږ به ددهٔ پوره حفاظت کوو. یعقوب (علیه السلام) ووئیل چه: تاسو دې بوځئ نو ما سره به (د ده دجدایئ) غم وی او ماته دا خطره ده چه څه وخت چه کله تاسو غافله یئ، زمرې به ئې وخوری هغوی ووئیل چه مونږ یو مضبوطه ډله یو، او که بیا هم ده لره شرمخ وخوري نو مونږ به هیڅ د څه نه یُو ! بیا وشوه داسې چه کله هغوی ده لره خپل ځان سره بوتلو، او دوی دا فیصله کړې وه چه ده لره به یو شاړ کوهي کښې غورزوی (او وئې هم غورزولو) نو مونږ یوسف ته وحي وکړه چه (یو وخت به داسې راشي چه) ته به دوی ته دا هر څه وائې کوم چه دوی کړي وو او هغه وخت به دوی ته دا پته هم نه وي (چه ته څوک ئې ؟) اود شپې ټول خپل پلار ته په ژړا راغلل، ووئیل دوی: باباجانه! یقین وکړه مونږ منډه کښې مقابلې دپاره تلي وو او مونږ یوسف لره خپل سامان څخه پرېښودې وو دې کښې یو شرمخ هغه لره وخوړو او ته ځمونږ په خبره یقین نه کوې، خواه که مونږ هر څومره رښتینی یو. اود یوسف په قمیص باندې ئې د دروغو وینه هم لګولې وه دوی پلار ووئیل: (حقیقت دا نه دې) بلکه ستاسو زړونو د خپل طرف نه یوه خبره جوړه کړې ده اوس ما لره صبر بهتر دې – او کومې خبرې چه تاسو جوړوئ په هغې باندې دالله د مدد ضرورت دې او (بل طرف ته دوی چه کوم ځائ یوسف په کوهي کښې غورزولې وو، هلته) یو قافله راغله. قافلې والو یو کس د اوبو دپاره اولیږلو اوهغهٔ بوقه (کوهي کښې) وغورزوله نو (هغلته یوسف علیه السلام ئې چه ولیدلو) چغه ئې کړه: زیرې واخلئ دا خو هلك دې اود قافلې والو ده لره د سوداګرئ سامان وګڼړلو او پټ ئې کړو، او هغوی چه څه کول الله ته د هغې پوره پوره علم وو او (بیا) هغوی یوسف لره ډیر په کم قیمت خرڅ کړو چه د شمیر دیو څو روپو په شکل کښې وې او دوی لره د یوسف سره څه دلچسپي نه وه.

خلاصه تفسیر

﴿لَقَدْ كَانَ فِىْ يُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖۤ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝ اِذْ قَالُوْا لَيُوْسُفُ وَاَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰۤى اَبِيْنَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝﴾ اودیوسف [علیه السلام] اودده د[میرنو]ورونو په قصه کښې [دخدای دقدرت اوستا د نبوت] دلیلونه موجوددي دهغوخلقولپاره کوم چی[ستانه ددی قصی]تپوس کوی[څکه چه یوسف[علیه السلام]لره دداسی بی کسی اوبی بسی نه سلطنت اوحکومت ته رسول دادخدای کاروو چه په دې سره مسلمانانوته عبرت اوقوت حاصلیږي اویهودوته چه دنبی [علیه السلام]نه دازمایش لپاره داقصه پوښتلای وودوی ته په دې قصه کښی دنبوت دلیل میلاویږی]هغه وخت دیادولولائق ده هرکله چه دغو[میرنو]ورونو[دیوبل سره دمشوری په طور]داخبری وکړی چه[داخه وجه ده چه]یوسف اودده [حقیقی]ورور[بنیامین]ځمونږپلارته زیات خوږه دې حال دادی چه [د ورکوټوالی په وجه دده دخدمت قابل هم ندی او]مونږیومضبوط جماعت یو[چه په دډیروالي او قوت خپل دده هرقسم خدمت هم کوو]واقعي ځمونږپلارپه ښکاره غلطۍ کښې دی[پدی وجه داسی تدبیرکول پکاردي چه په دې دواړوکښی هم زیاته مینه ئی دیوسف[علیه السلام] سره ده دی په څه حکمت سره دده نه لری کول پکاردي ددی صورت داسی دی چه].
﴿اقْتُلُوْا يُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ۝﴾ یاخویوسف[علیه السلام]قتل کړئ یائی چرته [لری]ځمکی ته وغورځوئ نو[بیابه]ستاسودپلارمخ خالص تاسوطرف ته شی اوستاسوټول کاربه جوړشی].

﴿قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ﴾ په دوی کښې یوویونکی وویل چه یوسف [علیه السلام] مه قتلوئ [چه دا ډیرلوی جرم دی] اودی چرته په یوتیاره کوهی کښې وغورځوئ [چه په هغې کښې دومره اوبه نه وي چه ډوبیدوخطره پکښې وي ځکه چه داهم دقتل یوصورت دی البته چه دکلی اولاری نه ډیرلرې هم نه وي] چه څوك په لاره تلونکی مسافرئې وباسی که تاسو [داکار] کول غواړئ] نوداسی وکړئ.

﴿قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ لَنَاصِحُونَ ۝ أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ په دی دټولوموافقه وشوه اوټولو [یوځای پلارته] وویل چه پلاره ددی څه وجه ده چه دیوسف [علیه السلام] په باره کښې ته په مونږ اعتبارنه کوی [چه چرته ئې زمونږسره نه لیږې] سره ددی چه مونږدده [په زړه سره] خیرخواه یو [داسی ندی پکاربلکه] ته سبادی څمونږسره [ځنګل ته] ولیږه چه لږخوراك وکړی لوبی وکړی اومونږبه دده پوره حفاظت کوو.

﴿قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَن تَذْهَبُوا بِهِ وَأَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ وَأَنتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ ۝ قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَّخَاسِرُونَ﴾ یعقوب [علیه السلام] وفرمائل چه [ستاسوسره په لیږلوکښې ماته دوه شیان مانع دي یوغم اوبل ویره غم خوداچه] مالره داخبره په غم کښې اچوي چه دی به تاسوزمانه [څما دخوانه] بوځئ او [ویره داچه] څماسره داخطره ده چه دی به چرته شرمخ وخوري اوتاسوبه [په خپلو کارونو کښې] دده نه بی.خبرئ [ځکه چه په دغی ځنګل کښې شرمخان ډیروو] هغوی وویل که دی شرمخ وخوړو اومونږ یو طاقتور جماعت [موجود] یونومونږبه بلکل تاوان کونکي یو.

﴿فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَن يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ ۚ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾ [غرض داخبره وشوه اوديعقوب [علیه السلام] نه ئې دی روان کړو] نوهرکله چه ئې دی [دخان سره ځنګل ته] بوتلو او [دتیرقرارداد مطابق ټولوپخه اراده وکړه چه دی په یوتیاره کوهی کښې واچوي [بیائې په دی خپلوتجویزونوعمل هم وکړو] او [دغه وخت یوسف [علیه السلام] ته دتسلی لپاره] مونږده ته وحئ ولیږله چه ته مه خفه کیږه مونږبه تاته ددی ځای نه خلاصئ درکړولوئی مرتبې ته به دی ورسوو اویوورځ به داسی راشي چه] ته به دی خلقوته داخبری وریادکړی اودوی به تاپه دی وجه چه په غیرمتوقع طورسره په شاهانه صورت کښې ووینی] پیژنی هم نه [نوچنانچه واقعه داسي وشوه چه وررنږه ئې مصرته ورسیدل اوآخرکاریوسف [علیه السلام] دوی ته وریادکړل :هل علمتم مافعلتم بیوسف( ) :دیوسف [علیه السلام] قصه خوداسی شوه].

﴿وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ ۝ قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ﴾ او [اخوا] دغه خلق خپل پلارته دماسخوتن په وخت کښې په ژړاراغلل [اوهرکله چه پلارتری دژړاتپوس وکړونو] وئی ویل چه پلاره مونږدیوبل نه دوراندی کیدولپاره منډی وهلی چه څوك به مخکی شي] اویوسف [علیه السلام] مونږه [په داسی ځای کښې چه هلته دشرمخ دراتلوګمان نه وو] دخپل سامان سره پاتی کړوپس [اتفاقا] یوشرمخ راغی [او] هغه ئې وخوړواوته به په مونږیقین نه کوی اګرکه مونږهرڅومره رشتوني یواو [هرکله چه یعقوب [علیه السلام] له راتلل نو]

﴿وَجَاءُوا عَلَىٰ قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ﴾ دیوسف [علیه السلام] په قمیص ئې ددروغووینی پوری کړی راوړو [چه دکوم څاروی وینه ئې په قمیص اچولی وه دخپلی خبری دسندلپاره ئې پیش کړو]. یعقوب [علیه السلام] [چه ولیدونوقمیص

( ) ترجمه: - هغه هم تاسو ته یاد دی څه چه تاسو یوسف علیه السلام او دهغه رونړو سره کړی وو.

Scanned with Ca

بیخي خیږي نه وو، لکه چه طبراني دابن عباس(ؓ) نه روایت کړیدی نو] اووئي فرمائیل] یوسف [ﷺ] لره شرمنځ هرګزندی خوړلی] بلکه تاسو پخپل زړه کښې یوه خبره جوړه کړیده پس زه به صبر کوم چه دګلی به پکښې بیخي نوم نه وي [دصبر جمیل دا تفسیر چه ورسره څه دګلی حرف نه وي طبري دمرفوع حدیث په حوالې سره بیان کړیدی] (۲) اوکومې خبرې چه تاسوئې جوړوئ په دې کښې دې الله تعالی مددوکړي [چه داوخت ماته په دې صبر راشي او آئنده ستاسو دروغ ښکاره شي.

﴿وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَى دَلْوَهُ ۖ قَالَ يَٰبُشْرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٌ ۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةً ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ۝ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ دَرَٰهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا۟ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ۝﴾ په هرحال یعقوب [ﷺ] صبر اوکړو او کیناستو] او [د یوسف [ﷺ] قصه داسې وشوه چه اتفاقا اخوا] یوه قافله راغله کومه چه مصر ته تلله] اوهغوی خپل کس داوبو راوړولپاره هلته کوهي ته] ولیږلو اوهغه خپله بوقه ورواچوله [یوسف [ﷺ] بوقه [سولاغه] ونیوه هرکله چه بوقه بهرشوه اویوسف [ﷺ] ئې ولیدلو نو خوشحاله شو] اووئې ویل لویه دخوشحالئ خبره ده داخو ډیرښکلئ هلك راووتلو [قافلې والاچه خبرشونوهغوی هم خوشحاله شول اوده لره ئې مال [دتجارت] وګرځولو [پدې خیال سره] پټ ئې کړو [چه څوك پرې دعوه ونکړي اودې مونږ مصرته ورسوو هلته ئې په زیات قیمت سره خرځ کړو] اوالله تعالی ته ددوی ټول کارګزارئ معلومه وه [دیخوا به وروڼه ګیرچاپیره ګرځیده او په کوهي کښې به ئې دیوسف [ﷺ] تماشه کوله څه خوراك به ئې ورته هم رسولو چه ددوی مقصد دا وو چه هلاك هم نشي اوڅوك راشي کوم بل کلي ته ئې بوځي اویعقوب [ﷺ] پرې خبرنشي په دغه ورځ چه دوی یوسف [ﷺ] کوهي کښې ونه لیدو خواته ئې قافله دیره شوی ولیده نوهلته لاړل دیوسف [ﷺ] پته ئې ولګوله نودقافلې خلقوته ئې وویل چه خمونږ غلام دی خمونږنه راتښتیدلی دی اوس ئې مونږدخان سره ساتل نه غواړو] او [داخبره ئې جوړه کړه دی ئې په ډیر کم قیمت [دقافلې والاوپه لاس] خرځ کړویعنی دشمار دڅو درهمو په بدله کښې او [وجه دا وو چه] داخلق خو ددی څه قدردان دسره نه وه] چه عمده مال ئې ګڼلی وی په ډیر قیمت ئې خرځ کړی وی بلکه مقصد خو ددوی دده ددې ځای نه لرې کول وو].

معارف او مسائل

د سورت یوسف د تیرو شوو آیتونو نه په رومبی آیت کښې دا خبرداري ورکړې شوې دې چه په دې سورت کښې راتلونکې قیصه د حضرت یوسف ﷺ خالص یوه قیصه مه ګڼړې بلکه په دې کښې سوال کوونکو او تحقیق کوونکو د پاره د الله تعالی د کامل قدرت لوئې نښې او هدایتونه دی.

د دې مطلب دا هم کیدې شي چه هغه یهودو د پاره په دې کښې لوئې نښې دی، کومو چه په رسول الله باندې د ازمیښت کولو د پاره دا قیصه تري پوښتلې وه، روایت داسې دې چه کله رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کښې وو او خبر ئې مدینې منورې ته اورسیدو نو د دې ځای یهودیانو خپل څو سړي په دې خاطر مکې مکرمې ته وراولیږل چه هغوی دې په رسول الله ﷺ ازمیښت اوکړي، څکه ئې دا سوال په مبهم انداز کښې داسې اوکړو چه که تاسو د الله تعالی

(۱) تفسیر الطبری رقم الحدیث: ۱۸۸۵۲
(۲) تفسیر الطبری رقم الحدیث: ۱۸۸۷۲

Scanned with CamScanner

رښتونې پيغمبر ئې نو دا راته اوښائې چه هغه کوم يو پيغمبر وو چه يو ځوې ئې د شام ملک نه مصر ته بوتلې شو او بابا جان ئې د هغه په غم کښې په ژړا ژړا نابينا شو.
دا واقعه يهوديانو ځکه منتخب کړې وه چه د دې عامه مشهورتيا نه وه په مکه مکرمه کښې د دې نه څوک خبر نه وو او دغه وخت په مکه مکرمه کښې څوک اهل کتاب هم نه وو چه د تورات او انجيل په حواله د دې قيصې نه څه برخه معلومه کړې شوې وې، هر کله چه دوی دا تپوس اوکړو نو په جواب کښې ئې ټول سورت يوسف نازل شو چه د حضرت يعقوب ؏ او حضرت يوسف ؏ پوره قيصه په کښې بيان شوې ده، دا قيصه دومره په تفصيل سره نازله شوه چه په تورات او انجيل کښې ئې هم دومره تفصيل نشته ځکه د دې بيانول د رسول الله ﷺ ښکاره معجزه وه.
د دې آيت دا معنی هم کيدې شي چه که د يهودو دغې سوال پسې مخه يو نه رې شي بيا هم په دې واقعه کښې داسې څيزونه شته دې چه د الله تعالی د کامل قدرت لوئې نخښې او تحقيق کوونکو د پاره حکمونه او مسئلې جوړيدې شي، مثلا کوم ماشوم چه ورونړو د هلاکت په کنده [کوهی] کښې ورګذار کړې وو، الله تعالی هغه کومو لوړو درجو ته اورسولو؟ څنګه ئې د هغه حفاظت اوکړو او خپلو خاصو بندګانو ته ئې د خپلو حکمونو د پابندې څومره ژور رنګ وراوبخښلو؟ هغه داسې چه هر کله په ځوانې کښې د عيش عشرت ډيره غوره موقعه ملاويږی، مګر هغه [يوسف ؏] د الله تعالی د يرې نه د خپل نفس په خواهشاتو باندې څنګه قابو بيا مومی؟ هغوی ترې صفا او پاکيزه بهرته اوځی، او دا چه څوک نيکی او تقوی اختيار کړی، الله تعالی ورته د خپلو مخالفينو په مقابله کښې څنګه عزت ورکوی او مخالفين د هغه پښو ته څنګه راولی؟ دا ټول عبرتونه نصيحتونه او د الله تعالیٰ د قدرت لوئې نښې دی چه هر تحقيق کوونکی او غور کوونکی ته معلوميدې شی [قرطبی و مظهری] ـ (۱)
دې آيت کښې د حضرت يوسف ؏ د رونړو بيان داسې دې چه د حضرت يعقوب ؏ ټول دولس ځامن وو، په دې کښې هر يو ځوې ئې د اولاد خاوند وو هر کله چه د يعقوب ؏ لقب اسرائيل وو ځکه د دوی ؏ د دولسو ځامنو کښې دولس واړه خاندانونه بنی اسرائيل بللې شی.
په دې دولسو ځامنو کښې لس مشران ځامن د حضرت يعقوب ؏ د رومبې بيبی حضرت ليا بنت ليان نه وو او هغه چه وفات شوه نو د هغې د خور بيبی راحيل سره ئې نکاح اوکړه، د هغې نه ئې دوه نور ځامن بنيامين او يوسف ؏ پيدا شو دا شان د حضرت يوسف ؏ څکه رور يو اځې بنيامين وو او نور مشران لس رونړه ئې پلار ګنی وو، خو هر کله چه بنيامين څکه رور ئې پيدا کيدو نو مور بيبی راحيل ئې هم وفات شوه دغه وخت حضرت يوسف ؏ هم ماشوم وو [قرطبی] (۲)
په دويم آيت کښې د حضرت يوسف ؏ قيصه داسې شروع کيږی چه هر کله د حضرت يوسف ؏ رونړو د خپل والد صاحب حضرت يعقوب ؏ مينه حضرت يوسف ؏ سره ډيره

۱) تفسير المظهری تحت هذه الآية ج: ۵ص: ۱۵۳، تفسير القرطبی سورة يوسف آيت: ۳ ج: ۹ص: ۱۲۰
۲) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج: ۹ص: ۱۳۰

Scanned with Ca

زیاته اولیدله نو په دې ئې ورسره حسد شروع کړو او دا هم کیدې شي چه د حضرت یوسفؑ د خوب لیدلو نه هم خبر شوې وی او اندازه ئې لګولې وی چه یوسفؑ به د لوئې شان خاوند جوړیږی ځکه ئې ورسره حسد کولو، خپل منځ کښې ئې داسې خبرې کول شروع کړل چه مونږ وینو چه والد صاحب زمونږ نه زیاته مینه حضرت یوسفؑ او د هغوی ځکه رور بنیامین سره لرې، سره د دې چه مونږ لس کسان یو او د هغوی دواړو نه مشران هم یو، خاندانی ټول کارونه په ښه شان سره تر سره کولې شو دوی واړه دی او دغه کارونه نه شي کولې، په دې بنا د والد صاحب مینه مونږ سره زیاته پکار وه، خو بیا هم هغوی علیه السلام ښکاره بې انصافي کوی، ځکه یا خو یوسفؑ اووژنې او یا څه لرې علاقې ته ئې اورسوې چه هلته نه بیرته نه شي راتلې او د پلار مخه مونږ ته خالی شي.

په دې آیت کښې ئې رونړو خپل ځان د پاره ﴿عُصۡبَةٌ﴾ لفظ استعمال کړې دې، دا لفظ په عربې ژبه کښې د پنځو کسانو نه د لسو کسانو پورې، دلې د پاره استعمالولې شي او د خپل والد صاحب په باره کښې دا وئیل چه ﴿إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ﴾ دې نه مطلب دینی ګمراهي ځکه نه ده چه دوی به کافران شوې وو، ولې چه پیغمبر علیه السلام ګناه نه معصوم او پاک وی، اګر چه د ضلال لغوی معنی ګمراهي کولې شي، دلته به ئې مراد دا شي چه والد صاحب مو د خپلو ځامنو تر منځه برابری نه کوی.

د حضرت یوسفؑ د رونړو په باره کښې پخپله قرآن کریم فرمائیلې دی چه په آخر کښې هغوی د خپلې ګناه اقرار کړې وو او د والد صاحب نه یې د بخښنې ددعا خواست کړې وو، والد صاحب دغه خواست منظور کړې وو، دې نه ښکاره شوه چې ددغې ټولو ګناه معاف شوه، خوداپه هغه صورت کښې کیدې شي چې دوئ مسلمانان ثابت شي. ګنی د کافر په حق کښې د بخښنې دعا کول جائز نه دی. پدې وجه د علماء په دې کښې هیڅ اختلاف نشته دې چې هغوئ مسلمانان وو مګر په دې کښې اختلاف ضرور شته دې چې هغوئ پیغمبران هم وو که نه؟

په دریم آیت مبارك کښې د دوئ ترمینځه د مشورې کولو داسې بیان دې چې ځینو په کښې د یوسف علیه السلام دوژلو مشوره ورکړه، چا په کښې دا مشوره ورکړه چې په یو ژور کوهی کښې یې وراوغورزوئ چې هلو کار یې ختم شي، او د والدصاحب ټوله مخه مونږ ته شي او ددې ګناه نه دځان خلاصولو دپاره یې د توبې اوښکلو او نیك کیدلو تجویز وړاندې کړو، لکه قرآن پاك کښې فرمائی چې: [وَتَكُونُوا مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمًا صَٰلِحِينَ] ددې بله معنی دا هم کیدې شي چې د یوسف علیه السلام د ژولو نه پس به ستاسو حالات درست شي، ولې چې د والد صاحب د توجه دا مرکز به ختم شي یا دا چې د وژلو نه پس به والد صاحب ته عذر معذرت اوکړئی او بیا به بالکل صحیح شي.

دا دلیل دې د دې خبرې چې د یوسف علیه السلام دا رونړا پیغمبران نه وو ځکه چې هغوی په دې واقعه کښې ډیر لوئې لوئې ګناهونه اوکړل، د ګناه نه د پاك بنده دوژلو اراده یې اوکړه، د باباجی نافرمانی یې اوکړه، زیات خفګان یې ورااورسولو، لوظ یې مات کړو، اوبیا د دروغو منصوبه وغیره یې جوړې کړې، د جمهورو علماء کرامو د عقیدې مطابق د پیغمبرانو علیهم السلام څخه د نبوت څخه وړاندې هم داسې ګناهونه نشی کیدې.

Scanned with Ca

څلورم آیت مبارك کښې راغلي دي چې هم په دغې روڼړو کښې یو کس چې دغه خبرې یې واؤریدې نو وې وئیل چې یوسف ؑ مه وژنئ او که خامخا ورسره څه کول غواړئ نو ده داسې ځائې په یو کوهی کښې ئې اوغورزوئې چرته چې هغه ژوندې پاتې کیدې نشي ، لاروی خلق به یې دغې کوهی څخه راؤباسي ، دغه شان به ستاسو مقصد هم پوره شي او ددوئ ؑ د بوتلو دپاره به چرې لرې ځائې ته ستاسو تلل هم رانشي ، همدغه په لاره تلونکې قافله به یې چرته لرې ځائې ته بوځي.

دا رائې د ټولو څخه مشر رور یهودا ورکړې وه ، په څینې روایتونو کښې راغلي دي چې د ټولو مشر رور یې روبیل وو او دا رائې هم هغه ورکړې وه . دا یې هغه رور وو چې کله په مصر کښې بنیامین ایسار کړې شو نو ده وئیلي وو چې خپل باباجې سره مخ نشم لګولې ، زه کنعان ته واپس نه ځم.

په آیت مبارك کښې د [غَيٰبَتِ الْجُبِّ] لفظ راغلي دې . [غَيٰبَةِ] هر هغه څیز ته وئیلې شي چې په پټولو سره غائب کړیشي، په دې وجه قبر ته هم [غَيٰبَةِ] وئیلې کیږي، او [الْجُبِّ] داسې کوهی ته وئیلې شي چې غاړې یې جوړې نه وي او سر پوښ نه وي.

[يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ]: د التقاط لفظ دلقطه څخه جوړ دې ، معنی داده چې هغه پریوتې یا غوزار شوې څیز چې بغیر د لټون څخه چا ته په لاس ورشي. داسې څیز که سادار نه وي نو لقطه ورته وئیلې شي ، او که سادار وي نو د فقهاء کرامو په اصطلاح کښې ورته لقیط وئیلې کیږي ، خو انسان ته په هغه صورت کښې لقیط وئیلې شي چې هغه ماشوم وي او عاقل او بالغ نه وي.

قرطبی هم ددې لفظ څخه دلیل نیولې دې چې یوسف ؑ په کوهی کښې د ګذارولو په وخت نابالغه ماشوم وو څنګه چې د یعقوب ؑ ددې فرمائیلو نه هم دهغوئ ؑ ماشوم کیدل معلومیږي چې زه ویریږم چې هسې نه شرمخ یې اوخوري ، ولې چې شرمخان اکثر ماشومان خوري(۱) ، دابن حجر ، ابن المنذر او ابن ابی شیبه په روایت کښې راغلي دي چې دغه وخت د یوسف ؑ عمر اووهٔ کاله وو [مظهری](۲)

امام قرطبی دلته د لقطه لفظونو د شرعی احکامو تفصیل ورکړې دې چې دلته یې بیانول نشي کیدې ، البته په دې باره کښې دا اصولي خبره یاده لرل پکار دي چې په اسلامی نظام کښې د عامو خلقو د ځان اومال د حفاظت د لارو او سړکونو دصفایئ وغیره انتظام کول یواځې د حکومت د محکمو ذمه واري نه ده بلکه دا ذمه واري د هر چا ده ، په لارو او سړکونو باندې په اودریدو یا پرې د څه سامان ایښودو په وجه د لارو دپاره تنګی پیدا کولو باندې په حدیث پاك کښې سخت وعید راغلي دي.فرمائي چې څوك د مسلمانانو لار تنګه کړي نو دهغه جهاد مقبول نه دې ، دغه شان که په لاره کښې داسې یو څیز پروت وي چې نورو خلقو ته ترې د تکلیف رسیدلو خطره وي لکه ازغې یا ماتې شیشې ، کاڼړي وغیره شول نود لارې څخه یې د لرې کول یواځې د میونسپل بورډ ذمه واري نه ده بلکه هر مسلمان دپاره ددې ذمه دار جوړیدو شوق کول پکار دي،او داسې خلقو دپاره د لوئې اجر او ثواب وعده کړې شوې ده.

---

۱) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة ج:۹ص:۱۳۴
۲) تفسیر المظهری تحت هذه الآیة ج:۵ص:۱۴۷

Scanned with CS

ددې اصولو په وجه ورك شوې څيز چې څوك بيا مومي نو د موندونكي شرعي ذمه واري يوازې دا نه ده چې غلا كوي به يې نه ، بلكه ذمه واري يې دا هم ده چې دا به تر هغې پورې سنبال ساتي چې دا ګمان كولې شي چې مالك به ئې لټون كوي ، كه چا ورته ددغه څيز نخښې صحيح بيان كړې او ددۀ تسلي پرې اوشوه او مطمئن شو نو هغه ته دې دغه مال وركړي ، كه سره د اعلان او لټون د مالك معلومات اونشو او دمال د حيثيت مطابق ورته دا اندازه اوشي چې مالك بۀ يې لټون نه كوي ، نو غريب او مسكين موندونكې دغه څيز پخپله استعمالولې شي .ګني په غريبانانو مسكينانو دې خيرات كړي . په دې دواړو صورتونو كښې به دا د اصل مالك د طرفه صدقه او خيرات ګڼړلې شي . او ثواب به يې هم هغه ته ملاويږي ګويا كه دا په آسماني بيت المال كښې دهغه په نوم جمع كړې شو .

دا د عام خدمت او د يو بل د اصولو څخه هغه اصول دي چې ذمه واري يې د قوم په هر يو كس باندې ايښودې شوې او راوستې شوې ده افسوس چې مسلمان د خپل دين څخه خبر شي او په دې عمل اوكړي نو د دنيا سترګې به اوغړيږي چې ددنيا لوې لوې محكمې د كروړونو روپو په خرچ كولو سره كوم كار سر ته نشي رسولې هغه په آسانه په څه شان سره پوره كولې شي .

په پنځم او شپږم آيت مبارك كښې دا راغلي دي چې دغې رونړو يې خپل باباجي ﷺ ته اووئيل چې تاسو ولې د يوسف ﷺ په باره كښې په مونږ باندې اعتماد نه كوئی ، حالانكه مونږ دهغوئ ﷺ پوره پوره خيرخواهان او ورسره همدردي كوونكې يو .مونږ سره يې سيل او تفريح دپاره اوليږئی چې آزادي سره خوراك څكاك او لوبې اوكړې شي او مونږ ټول به يې ډير زيات خيال ساتو .

دهغوئ ددې خواست څخه معلوميږي چې داسې خواست يې باباجي ته اول هم كړې وو چې باباجي يې نه وو منلو ، په دې وجه يې دا ځل زيات زور دې دپاره اولګولو چې د باباجي راباندې اعتماد پيدا شي او مونږ سره يې پريږدي .

په دې آيت مبارك كښې په آزادي سره د خوراك څكاك او تفريح كولو اجازت غوښتلې شوې دې چې يوسف ﷺ پرې څه بده نه وه ګڼړلې بلكه د يوسف ﷺ په ليږلو كښې يې زړه وهلو چې بيان يې په راتلونكي آيت كښې راروان دې ، دې څخه معلومه شوه چې تفريح او سيل او لوبې كول په جائزو طريقو او حدودو كښې روا او مباح دي ، په صحيح احاديثو كښې هم د دې جواز معلوميږي خو شرط دادې چې په دې لوبو او سيل كښې دشرعي حدودو خيال اوساتلې شي ، اوڅه ناجائزه كار په كښې اونكړې شي (قرطبي وغيره)[1]

ديوسف ﷺ د رونړو ددې خواست په جواب كښې يعقوب ﷺ اوفرمائيل چې زه يې درسره د ليږلو اجازت ځكه نشم دركولې چې دا مې د سترګو تور دې ، دوئ ﷺ نه بغير راته آرام نه راځي .بلكه دا چې هسې نه چې ستاسو د بې پرواهي په وجه يې شرمخ اوخوري .

د شرمخانو خوړلو خطره يعقوب ﷺ د دۇ وجو څخه بيان اوفرمائيله ، يو ددې وجې چې په كنعان كښې شرمخان ډير وو او بل ددې وجې چې يعقوب ﷺ په خوب كښې دا ليدلي وو چې هغوئ ﷺ د غرۀ په سر باندې دی او يوسف ﷺ د غرۀ په لمنه كښې وو چې ناګهانه پرې لسو

[1] تفسير القرطبي تحت هذه الآية ج:۹ ص:۱۳۹

شرمخانو حمله اوکړه ، يو شرمخ ورته رانزدې شو او هغوئ ﷺ يې ترې خلاص کړل ، او بيا يوسف ﷺ په زمکه دننه پټ شو.
ددې تعبير په آخره کښې دا ښکاره شو چې دا لس شرمخان د هغوئ ﷺ لس رونړه وو ، په خوا کښې خلاصوونکې يې مشر ورور ووچې نوم يې يهودا وو ، او په زمکه کښې پټيدل يې په کوهي کښې ورګذارول وو.
دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه په يو روايت کښې منقول دي چې ددې خوب په ليدو سره يعقوب ﷺ دغه رونړه شرمخان بللي اوګڼلي وو ، خو د حکمت په بنياد يې پوره خبره نه وه ښکاره کړې [قرطبی].(۱)
يعقوب ﷺ ددې خبرې آؤريدو سره د يوسف ﷺ دغه رونړو اووئيل چې ستاسو ﷺ دا ويره او فکر عجيبه ځکه دې چې مونږ د لسو کسانو يو مضبوطه ډله ددوئ ﷺ د حفاظت دپاره موجود يو ، بيا که دوئ ﷺ زمونږ څخه شرمخ اوخوړو نو مونږ به ډير بې کاره يوچې دبل هيڅ کار اميد به راڅخه نشي کولې.
يعقوب ﷺ دخپل پيغمبرانه شان په وجه خپلو ځامنو ته دا خبره ځکه ښکاره نه کړه چې دهغوئ زړه ماتول يې نه غوښتل ، بله دا چې دې سره به دهغوئ دښمنی نوره هم زياته شوې وه ، که دغه وخت يې پريښې نو بل وخت به يې خامخا په څخه بهانه اووژنی ، ځکه يې ورته اجازت ورکړو خو د رونړو څخه يې ښه پوره لوظ ، قول واغستو چې دوئ ﷺ ته به هيڅ تکليف نه ورکوی او مشر ورور روبيل يا يهودا ته يې په خصوصيت سره داسې اووئيل چې ته به يې لوږې تندې او د نورو ضرورتونو خيال ساتې او زر به يې ماته واپس راولې د. رونړوې يې د يعقوب ﷺ په مخکښې په خپلو اوګو باندې سور کړو او نمبر په نمبر يې پخپلو اوګو اوړلو. څه ځايه پورې يعقوب ﷺ دهغوئ د رخصتولو دپاره ورسره لاړل.
قرطبی د تاريخی رواياتو په حواله بيان کړې دې چې کله دا خلق د يعقوب ﷺ دسترګو څخه پناه شول نو هغه رور يوسف ﷺ د اوګو څخه په زمکه راګذار کړو. يوسف ﷺ پياده رورسره روان شو خو ماشوم وو دهغوئ پشان مزل يې نشو کولې ، د يو رور پناه يې واخسته هغه ورسره هيڅ همدردی اونه کړه ، په نمبر نمبر يې د هر يو رور پناه اخستله خو هيچا ورسره همدردی نه کوله او ورته يې اووئيل چې په خوب کښې دې کوم يوولس ستوری ، سپوږمې او نمر ځان ته په سجده کولو ليدلی دی هغوئ ته دې اووايه چې مدد دې اوکړی. قرطبی رحمه الله فرمائی چې رونړو ته يې دخوب حال څه شان سره معلوم شوې وو ځکه يې په دوئ ﷺ باندې غصې کولې.(۲)
په آخر کښې يوسف ﷺ يهودا نومې مشر رور ته اووئيل چې ته مشر يې په ماباندې د کمزورې ماشومتوب او د باباجی ﷺ په بوډا توب او حال باندې رحم اوکړه ، خپل باباجی سره کړې وعده رایاده کړه ، ولې چې دې هغه وعده دومره زر هيره کړه ؟

۱) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج:۹ص:۱۴۰
۲) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج:۹ص:۱۴۱، ۱۴۲

ددې په آوُر يـدو سره پرې د يهـودا زړه اوسوزيدو ، ورتـه ئې اووئيـل چې تـر څـور پـورې زه ژوندې يم دا رونړه به درته هيڅ تكليف نشي دركولې .

پدې شان هغه خپلو رونړو ته مخ واړوړلو او ورته يې اووئيل چې د يو بې ګناه بنده وژل سخت جرم دې ، دالله تعالى څخه ويريږه او دا ماشوم خپـل باباجي ﷺ ته واپس اورسوی ، البتـه دوئ ﷺ څخه دا لوظ واخلئ چې باباجی ﷺ ته به ستاسو باره كښې هيڅ نه وائي .

رونړو ورته اووئيل چې مونږ ستا په مطلب پوهه يو ، خپل باباجى ﷺ ته خان ښه كول غـواړې ، خو واؤره كه مونږ سره دې په دې باره كښې كار اولرلو نو ستا هم خير نشته دې . تا بـه هم قتل كړو ، يهودا په يواځې ځان د خپلو نهو رونړو مقابله نشوه كولې ، څكه يې ورتـه اووئيـل چې ښه ده دا ماشوم كه هلاكول غواړې نو داسې چل اوكړه چې دلتـه يـو زوړ او شـاړ كـوهې دې ، څه ډير ونې بوټي په كښې راختلي دی ، ماران ، لړمانان او قسماقسم ضررى څيزونه په كښې شته دې . تاسو دا ماشوم پـه هغې كـوهي كښې اوغـوزوی . دې د مـار ، لړم او نـورو زهرېلا څيزونو په چيچلو به پخپله مړ شي . نو د غمه به خلاص شي او ستاسو په غاړه به يې خون هم نه وی . كه بيا هم په كوهي كښې ژونـدې پـاتې شی نـو كيدې يـوه قافلـه راشـى او دې كوهي ته د اوبو راويستلو دپاره بوقه ورښكته كړی نو دې به په كښې راؤباسى . نو بل ملك تـه به يې بوځي . او تاسو به ترې خلاص كړی .

په دې باندې ټول رونړه متفق شو څنګه چې په دريم آيت مبارك كښې داسې فرمائى چې : [فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَنْ يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ ۚ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ] [كله چې دغې رونړو هغوئ ﷺ لره څنګل تـه بوتلو او په دې باندې د ټولو اتفاق راغلو چې هغوئ ﷺ لره پـه ژور كوهي كښې وراوغورزوی نو الله تعالى يوسف ﷺ لره د وحی په ذريعه خبر وركړو چې داسې يوه ورځ به راشى چې دخپلو رونړو مخه به دې كار ته راګرځوې ، او هغوئ بـه هيڅ نه پوهيږی]

دلته لفظ د [وَأَوْحَيْنَا] د [فَلَمَّا ذَهَبُوا] جزاء او جـواب دې ، دلتـه واؤ زيـات دې .[قرطبى].(١) مطلب دادې چې ټولو رونړو په جمع باندې هغوئ ﷺ لره په كوهي كښې د غورځولو قصد اوكړو نو الله تعالى د يوسف ﷺ د تسلئ دپاره وحی اوليږله چې په راتلونكې زمانه كښې ورتـه رونړو سره د ملاقات او ددې خبرې زيرې وركړې شو چې دغـه وخت بـه دوئ خپلو رونړو تـه محتـاج نه وی او په هغوئ به سر بالا وی ، ددې زوړ زياتئ يادګيرنه به ورتـه كوی خـو هغـوئ بـه ددې ټول هيڅ څخه خبر نه وی .

امام قرطبى رحمه الله فرمائيلی دی چې ددې دوه صورتونه كيدې شی ، يو دا چې پـه كـوهي كښې د غورزولو څخه وروستو ددې زيرى دپـاره راليږلـې شـوى وى چې دې كـوهي څخـه بـه تاسـو صحيح سلامت خلاصې بيـا مومئ . بلـه دا چې پـه كـوهي كښې د غورزولـو څخـه مخكښې يوسف ﷺ لره د راتلونكو واقعاتو څخه د وحی په ذريعه خبر كړې شوی وی ، او هغې پـه بيـان كښې ورتـه دا زيرې وركړې شوې وی چې تاسو بـه دغلتـه د هلاكيد و څخـه سلامت پاتې كيږئـی .

١) تفسير القرطبى تحت هذه الآية ج:٩ص:١٤٢

تاسو ﷺ ته به داسې موقع په ګوتو درشي چې رونړو ته به زورنه ورکوئ ، او هغوئ به تاسو لره بالکل نه پيژنی چې دا زمونږ رور يوسف ﷺ دې.(۱)
دا د پيغمبرئي وحی نه وه ځکه چې يوسف ﷺ دغه وخت کښې لا ماشوم وو ، څنګه چې د موسی ﷺ مور بی بی ته شوې وه ، يوسف ﷺ ته دپيغمبرئ وحی راتلل هغه وخت شروع شو چې هغوئ ﷺ مصر ته رسيدلی وو ، او ځوان شوی وو لکه قرآن پاك فرمائی چې : [وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا] البته ابن جرير ﷫ ، ابن ابی حاتم ﷫ وغيره په استثنائی ډول دې لره د پيغمبرئې وحی ګرځولې او منلې ده . څنګه چې عيسی ﷺ ته په ماشوموالی کښې پيغمبری ورکړې شوې وه [مظهری](۲)
عبدالله بن عباس ﷠ فرمائيلی دی چې مصر ته په رسيدو سره الله تعالی يوسف ﷺ لره دې څخه منع کړې وو چې د خپل کور خلق د خپلو حالاتو څخه خبرکړی ، [قرطبی]
هم دغه وجه وه چې يوسف ﷺ د جيل څخه د خپلو خلاصدو او د مصر د حکومت ملاويدو څخه وروستو څه داسې صورتونه نه وو اوښکلی چې د خپل بوډا او کمزوری باباجی ﷺ تسلی يې په دې کړې وې چې هغوئ ﷺ صحيح سلامت دی.
د الله تعالی په حکمتونو څوك پوهيدې شی کوم چې په دې خبره کښې پټ وو ، کيدې شی چې په دې کښې يو حکمت دا هم وی چې يعقوب ﷺ لره د غير الله يعنی يوسف ﷺ په زيات محبت کولو سره خبرداري ورکړې شی اودا حکمت يې هم کيدې شی چې د يوسف ﷺ په مخکښې د هغوئ رونړه د محتاجو په صورت کښې پيش کړې شی ، اوداشان هغوئ ته هم يو قسم سزا ورکول مقصود وی.
امام قرطبی ﷫ وغيره مفسرينو په کوهی کښې د يوسف ﷺ د غورزولو قيصه داسې بيان کړې ده چې کله يې هغوئ ﷺ په کوهی کښې اوغورزول نو دکوهی غاړې ته يې لاس واچولو ، رونړو يې د هغوئ ﷺ قميص اوويستلو په هغې يې ورله لاسونه اوتړل ، دغه وخت بيا يوسف ﷺ خپلو رونړو ته د رحم درخواست اوکړو ، خو هم هغه جواب يې ورکړو چې هغه يوولس ستوری راؤبله کومو چې درته سجده کوله چې هغه دې مدد اوکړی ، بيا يې په يوه بوقه کښې کينولو چې نيمې پورې اورسيده نو رسی يې پريکړه ، الله تعالی د يوسف ﷺ حفاظت اوکړو په کوهی کښې د روغورزيدو په وجه هيڅ زخم پرې رانغلو ، دغه ځاې کښې لوې ګټ په راووتو سره ښکاره شو ، په هغې باندې صحيح سلامت کيښناستل ، په ځينو روايتونو کښې راغلی دی چې جبرائيل ﷺ ته حکم اوشو چې په دغې ګټ يې کينوه.
يوسف ﷺ درې ورځې په دغې کوهی کښې وو ، يهودا رور به يې ورته د نورو رونړو څخه پټ د خوراك څکاك څيزونه دبوقې په ذريعه ورکول.(۳)
[وَجَآءُوٓ أَبَاهُمْ عِشَآءً يَبْكُونَ] دماسختن په وخت دغه رونړه ژړيدلی خپل باباجی ﷺ ته راغلل ، يعقوب ﷺ د دوئ د ژړا په آواز پسې بهر راووتل وې فرمائيل چې ستاسو د ګډو ، چيلو په رمه څه خيرونکی حمله کړې ده ، او يوسف ﷺ چرته دې ؟ هغوئ اووئيل چې :

۱) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج:۹ ص: ۱۴۳
۲) تفسير المظهری تحت هذه الآية ج: ۵ ص: ۱۴۷
۳) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج:۹ ص: ۱۴۳

Scanned with Ca

[قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ ۝] مونږ په خپل مينځ کښې دمنډو مقابله کوله او يوسف علیه السلام مو خپل سامان سره پريښودو ، په دې کښې يوسف علیه السلام لره يو شرمخ اوخوړو ، او که مونږ هر څومره ريښتونې يو په مونږ به دې يقين اونشي .

ابن عربي رحمه الله په احکام القرآن کښې فرمائيلي دي چې د منډې مقابله کول په شريعت کښې روا او ښه خوئي دې چې په جنګ او جهاد کښې په کار راځي ، نو داسې دمنډو مقابله کول پخپله درسول کريم صلی الله علیه وسلم څخه په صحيح احاديثو کښې ثابته ده ، اود اسونو د زغلولو مقابله تري هم ثابته ده، (۱) دغه شان سلمه بن اکوع رضی الله عنه يو سړي سره د منډې مقابله کړې وه نو سلمه رضی الله عنه غالب شوې وو. (۲)

ددې آيت مبارك اود بيان شوؤ روايتونو څخه د اسونو منډه رواکيدل ثابت دي او د اسونو منډه وهلو څخه علاوه پخپله منډه د غشي ويشتو په نخښې وغيره کښې هم خپل مينځ کښې مقابله کول روا دی ، او په دې کښې په غالب راتلو باندې انعام ورکول هم جائز دی خو په ګټلو بائيلو باندې دشرط په ډول څه قسم تړل جواری ده چې قرآن پاك ورته حرم وئيلي دي ، نن صبا د اسونو منډه تول صورتونه په جوارئي کښې راځي څکه ټول حرام دي .

په تيرؤ شوؤ آيتونو کښې دابيان اوشو چې د يوسف علیه السلام ټول رونړه په دې صلاح شو چې په يو شاړ کوهي کښې ئې ورا وغورزوؤ ، په هغې يې عمل اوکړو او کور ته چې راؤرسيدل نو باباجی علیه السلام ته يې اووئيل چې هغوئ علیه السلام لره شرمخ خوړلي دي ، اوس په دې آيتونو مبارکو کښې نوره قيصه داسې بيانوی چې :

[وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ؕ] [اودهغه په قميص باندې ئې د دروغو وينه لګولي راوړه] چې د باباجی علیه السلام يې په دې يقين راشي چې يوسف علیه السلام واقعی شرمخ خوړلی دی ، خو هرکله چې الله تعالى د هغوئ دروغ ښکاره کول غوښتل نو دهغوئ د ذهن څخه يې دا خبره بالکل اوښکله چې په قميص باندې يې د وينو پوري کولو سره ئې هغه څيرې کړې هم وې ، د هغې په ليدو سره يعقوب علیه السلام اوفرمائيل چې اې زما ځامنو ادغه شرمخ څومره اوښيار او عقل مند وو چې يوسف علیه السلام يې اوخوړو او قميص يې لږ هم څيرې نه کړو. دغه وجه وه چې يعقوب علیه السلام ته د هغوئ دروغ ښکاره شو او وې فرمائيل چې :

[قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ۝] [حضرت يعقوب علیه السلام ورته اووئيل چې نه بلکه داتاسو د ځانه يوه خبره جوړه کړې ده نوصبر ډير ښهٔ دې [اوتاسو چې څه وائې نو الله دې په هغې کښې زما مدداوکړي]

مسئله: يعقوب علیه السلام چې د يوسف علیه السلام قميص صحيح سالم اوليدو نو دليل يې پرې اونيولو چې دروغ وائی ، دې څخه معلومه شوه چې قاضی اوحاکم دې د فريقينو ددعوې او دليلونو سره په حالاتو او قرينوهم نظرلری [قرطبی] (۳)

ماوردی رحمه الله وئيلي دي چې ديوسف علیه السلام قميص هم د زمانې په عجائباتو کښې څکه حسابيږی چې دې سره درې عظيم الشان انعامات تړلي شوی دی .

۱) احکام القرآن للابن العربي سورة يوسف ..... الخ ج:۵ ص: ۲۵
۲) صحيح مسلم کتاب الجهاد باب غزوة ذی قرد وغيرها ج: ۲ ص: ۱۱۵
۳) تفسير القرطبي تحت هذه الأية ج: ۹ ص: ۱۵۰

Scanned with Ca

اوله واقعه داده چې په وينو رنگ بنگ قميص سره يې خپل باباجي ﷺ دهوکه کړو چې هم دغه د هغوئ د ردوغو کيدو گواهي ثابته شوه .
بله واقعه داده چې زليخې بي بي سره چې کومه واقعه پيښه شوې وه هغه کښې هم د يوسف ﷺ قميص په گواهي کښې پيش کړې شوې دې .
دريمه واقعه د يعقوب ﷺ د بينايئ د واپس راتلو ده چې په هغې کښې هم د يوسف ﷺ قميص سره معجزه ثابته شوه .
مسئله :: ځينو علماء کرامو فرمائيلي دي چې :[قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا] ، يعقوب ﷺ دوه ځل خپلو ځامنو ته فرمائيلي دي . يو ځل يې په هغه موقعه چې د يوسف ﷺ قميص يې ورته په وينو رنگ بنگ راوړلو ، او بل ځل په هغه موقعه چې په مصر کښې د يوسف ﷺ خپل ځکه رور بنيامين په غلا دې خبر کړو ، هرکله چې يعقوب ﷺ دواړه ځل دا خبره په خپلې رايې سره کړې وه په رومبي ځل صحيح او په دويم ځل غلطه ثابته شوه ، دې ځخه معلومه شوه چې په ابتداء کښې غلطي د پيغمبر ﷺ ځخه هم کيديشي خود وحي الهي په ذريعه يې دغه غلطي لرې کولې شي .
داشان په قرطبي([1]) کښې راغلي دي چې دې ځخه ثابته شوه چې غلطي ډيرو لويو خلقو ځخه هم کيدې شي ځکه د رائې خاوندانو له پکار دي چې خپله رائې دې آخري نه گڼړي په هغې کښې دې داسې نه کلکيږي چې د نورو خبرو آوريدو ته نه تياريږي .
[وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ] د [سَيَّارَةٌ] معنی قافله ده ، [وَارِدَ] هغه چاته وئيلې شي چې د قافلې ځخه وړاندې منزل مقصود ته ځان رسوي . قافلې دپاره دضرورياتو ، اوبو وغيره انتظام برابر وي، ادلاپه کوهي کښې بوقې ښکته کولوته وئيلې شي .
مطلب دا شو چې ناگهانه يوه قافله دغه زمکې ته راورسيده ، تفسير قرطبي ليکلي دي چې دا قافله د شام نه مصر ته روانه وه ، لاره ترې خطا شوې وه ، او غير آباد ځنگل ته اورسيده ، او اوبه راوړنکي يې دغه کوهي ته اوليږل.([2])
دخلقو په نظر کښې خو دا يوه ناگهانۍ واقعه ښکاري چې قافلې لار غلطه کړې وه او دغه ځاې ته راورسيدل ، او په دغه شاړ کوهي يې ورپيښه اوشوه ، ليکن د کائناتو په راز پوهيدونکي په دې خبره پوهيږي چې دا ټول واقعات د يو ترلي اومضبوط نظام زنځير کړي دي ، د يوسف ﷺ پيدا کيدونکي او حفاظت کونکي دغه قافله د سمې لارې ځخه راواړوله او دهغې خلق يې دغه کوهي ته وراوليږل. هم دا حال د هغه واقعاتو او راپيښو دې چې عام انسانان يې ناگهانه راپيښې گڼړي او فلسفيان ورته بخت او اتفاق وايي ، چې په حقيقت کښې د کائناتو د نظام ځخه د ناواقف کيدو نتيجه وي گنې د تکوين په سلسله کښې ناڅاپي حالت نشته دې .
د [فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ]([3]) شان خاوند الله تعالی د پټو حکمتونو لاندې داسې حالات پيدا کوي چې د ظاهري واقعاتو ځخه ددې ترون سره ځوك نه پوهيږي ، ځکه ورته انسان ناگهانی واقعات وائي .

---

[1]) تفسير القرطبي ، ج:۹ص:۱۵۲
[2]) تفسير القرطبي ، ج:۹ص:۱۵۲
[3]) ترجمه: ستا رب چې څه غواړي نو هغه په پوره طريقې سره کوي.

بهر حال د دغې قافلې يو سړې دغې کوهی ته راغلو چې نوم يې مالك بن دعبر وو ، په هغې کښې يې بوقه ورښکته کړه يوسف عليه السلام د قدرت د امداد ننداره اوکړه د دغې بوقې رسۍ يې اونيوه او د اوبو په ځايې په بوقه کښې داسې ښکلې څهره ښکاره شوه چې ښائست او ښکلا کښې يې ثانی نه وه ،

که په راروان ژوند کښې چې کومه مرتبه او عظمت هغوی ته ملاويدونکې وو که هغې څخه نظر هم اړولې شوې وو په هغه وخت کښې چې هم د هغوی د حسن او جمال او د معنوی کمالاتو ځلنده نښې د هغوی د عظمت دپاره څه کمې نه وې. چې دا ښکلې ماشوم يې اوليدو نو دخوشحالئ څخه يې بې اختياره چغه کړه: [قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلٰمٌ] [نو نعرې ئې کړې چې ائې [ملګرو] زيرې مې درباندې [داځو په کښې هلک راووتو] د صحيح مسلم په حواله د معراج په يو حديث پاك کښې راغلی دی چې رسول کريم ﷺ اوفرمائيل چې: په معراج کښې مې يوسف عليه السلام سره ملاقات اوشو او ما اوليدو چې الله تعالى د ټولې دنيا نيم حسن او نيمه ښکلا يوازې يوسف عليه السلام ته ورکړې ده ،(۱) او پاتې نيمه ښکلا يې د ټولې دنيا په خلقو کښې ويشلې ده .

[وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً] [او هغوئ د تجارت په خيال پټ کړو] مطلب دادې چې اول مالك بن دعبر د يوسف عليه السلام په ليدلو چغه اووهله ، بيا په معاملې باندې د غور کولو څخه وروستو يې ځان سره دا فيصله اوکړه چې ددې خبرې خوروول څکه پکار نه دی چې ددوئ عليه السلام په خرڅولو به ډير رقم حاصل شی ، که د قافلې نور خلق راباندې خبر شی نو په هغې کښې به راسره ټول ځان شريك حسابوی .

بل مطلب يې دا هم کيدې شی چې د يوسف عليه السلام رونړو د واقعې حقيقت پټ کړو او هغوئ عليه السلام يې د تجارت مال جوړ کړو لکه چې په ځينې روايتونو کښې راغلی دی چې يهودا به هره ورځ يوسف عليه السلام ته په کوهی کښې خوراك څکاك ورکولو ، په دريمه ورځ يې چې هغوئ په کوهی کښې بيا او نه ليدل نو رونړو ته راغلل او حال يې ورته بيان کړو ، دا ټول رونړه ټول هلته لاړل ، لټون يې اوکړو ، دقافلې خلقو سره يې اوليدو ، هغوئ ته يې اووئيل چې دا هلك زمونږ غلام دې، مونږ څخه راتښتيدلې دې اودلته يې ځان پټ کړې دې ، تاسو چې دې پخپله قبضه کښې اخستې دې نو دا مو ډير بد کړی دی . مالك بن دعبر او ددوئ ملګری اووريدل چې مونږ په غلو کښې شمير نه شو ، څکه يې په بيعه باندې ترې د اخستو خبرې اترې ورسره شروع کړې .

په دې باندې د آيت معنى دا شوه چې يوسف عليه السلام رونړو پخپله يوسف عليه السلام لره د تجارت مال جوړ کړو او خرڅ يې کړو . [وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ] [او الله دهغوئ په ټولو کارونو ښهٔ واقف وو] مطلب دادې چې الله تعالى ته داټول هر څه معلوم وو چې د يوسف عليه السلام رونړه به څه کوی ، په بيعه اخستونکې قافله به څه کوی ، الله تعالى ددې ټولو منصوبو د نه چليدو د انتظام کولې شو خو د تکوينی حکمتونو په بنا يې چليدو ته پريښودل .

ابن کثير رحمه الله فرمائيلی دی چې په دې جمله کښې رسول کريم ﷺ ته هم دا ښودل دی چې ستاسو ﷺ قوم چې تاسو ﷺ سره څه کوی يا کول يې غواړی هغه ټول زمونږ د علم او قدرت څخه بهر نه دی . که مونږ اوغواړو نو ټول هر څه د سترګو په رپ کښې بدلولې شو ، ليکن د

(۱) صحيح مسلم کتاب الايمان باب الاسراء الخ، ج:۱ ص:۹۱

Scanned with Ca

حکمت تقاضا هم داده چې دې خلقو ته دا وخت د خپل طاقت د آزمیښت موقعه ورکړې شی ، په آخر کښې به پرې تاسو لره غالب کړو چې په دې سره به حق غالب شی څنګه چې یوسف ﷺ سره اوکړې شو.(۱)

[وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۢ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ] [او هغوئ په ډېر لږ قیمت د شمیر په یوڅو روپو خرڅ کړو] دشراء معنی خرڅول او اخستل دواړه کیدې شی ، دلته هم د دواړو معنو احتمال داسې دې چې که ضمیر د یوسف ﷺ رونړو ته اوګرځولې شی نو معنی بهٔ یې خرڅول وی او که د قافلې خلقو ته اوګرځولې شی نو معنی به یې د اخستلو وی. مطلب یې دا شو چې د یوسف ﷺ رونړو خرڅ کړو یا دقافلې خلقو په ډېر لږ قیمت یعنی دشمیر په یو څو روپو په بدل کښې واخستو.

امام قرطبی رحمه الله فرمائیلی دی چې د عربو سوداګرانو عادت به دا وو چې د غټو رقمونو معاملې بهٔ یې په تول کولې او د وړو رقمونو معاملې به یې په شمیر سره کولې ، ځکه دراهم سره یې د لفظ معدودة راوړلو سره دې ته اشاره اوکړه چې دغه رقم د څلویښتو درهمو څخه کم وو(۲) ، ابن کثیر رحمه الله د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په روایت لیکلی دی چې دا سودا په شلو درهمو شوې وه چې لسو رونړو ته دوه دوه درهمه سړی سر رسیدلې وو ، په ځینې روایتونو کښې دوه ویشت او په ځینو کښې څلویښت درهمه راغلی دی [ابن کثیر رحمه الله](۳)

[وَكَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزّٰهِدِيْنَ] [او هغوئ د دهٔ په حق کښې هسې هم بې رغبته وو] زاهدین د زهد جمع ده، چې د زهد څخه مشتق دې ، د زهد معنی بې رغبتی او بې توجهی ده ، په محاوره کښې ددنیا مال او دولت څخه بې رغبتی او اعراض کولو دپاره استعمالیږی . د آیت معنی به داشی چې په دې معامله کښې د یوسف ﷺ رونړه په حقیقت کښې د مال خواهشمند نه وو بلکه ددوئ اصل مقصد خو دیوسف ﷺ دباباجی ﷺ څخه جدا کول وو ځکه یې په لږو درهمو باندې معامله اوکړه.

وَقَالَ | الَّذِي | اشْتَرَاهُ | مِنْ مِّصْرَ

او اوویل | هغه سړی | چې اخستې ئې وو هغه | د مصر

او وېا چې هغه په مصر کښې واخستو انو خپلې ښځې ته ئې اوویل اچې ددهٔ ډېر خیال

لِامْرَاَتِهٖٓ | اَكْرِمِيْ | مَثْوٰىهُ | عَسٰٓى | اَنْ يَّنْفَعَنَآ | اَوْ

ښځې خپلې ته | عزت کوه | د میلمستیا د دهٔ | کیدې شی | چې فائده اورسوی مونږ ته | یا به

ساته اکیدیشی چې زمونږ دپاره سود مند ثابت شی ایائې په ځوئی توب اونیسو

نَتَّخِذَهٗ | وَلَدًا | وَكَذٰلِكَ | مَكَّنَّا | لِيُوْسُفَ

اونیسو مونږه هغه لره | ځوئې | او په دې طریقه | مونږځائې ورکړوا | یوسف ته

...... اوداغه شان مونږ حضرت یوسف ﷺ ته په دغې ملک کښې ځائې ورکړو.

---

۱) تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآیة ج: ۴ ص: ۳۷۶
۲) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة ج: ۹ ص: ۱۵۶
۳) تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآیة ج: ۴ ص: ۳۷۷

Scanned with Ca

فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ

په زمکه کښې | او دپاره ددې چې اوښایو مونږ هغه ته | تعبیر بیانول د [خوب] د خبرو | او الله | غالب دې

..........چې مونږ ده ته د خوب د خبرو تعبیر اوښایو | او الله ﷻ په خپل هر کار کښې غالب دې | خو

عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ

په کار خپل باندې | لیکن | زیات د خلقو نه | نه پوهیږي | او هر کله چې | او رسیدو هغه

زیات خلق په دې نه پوهیږي | ....او هر کله چې هغه پوخ ځوان شو نو

أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ

قوت خپل ته | نو ورکړو مونږ هغه ته | د فیصلې کولو طاقت | او علم | او دغه شان

مونږ ورله د فیصلې قوت ورکړو | او [نور] علم مو ورته ورکړو | او مونږ هم دغسې بدلې ورکوو

نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٢﴾ وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي

مونږ بدله ورکوو | نیکانو خلقو له | او غولول او غوښتل ده لره | هغې ښځې

نیکانو خلقو ته | ....او د کومې ښځې په کور کښې چې [یوسف] اوسیدلو | هغې د خپل مطلب دپاره

هُوَ فِي بَيْتِهَا عَنْ نَفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ

چې هغه | په کور د هغې کښې وو | د ده د نفس [د حفاظت] نه | او هغې بندې کړې | دروازې

دغه غولول شروع کړل | ....او [یوه ورځ] ورونه ئې پورې کړل

وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ رَبِّي

او وې وئیل | راځه زر کوه | او وئیل هغه | پناه غواړم په الله | بیشکه هغه | رب زما دې

او ورته ئې او وئیل چې راځه | هغه ورته او وئیل | چې زه په الله ﷻ سره پناه غواړم | هغه زما مربی دې

أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٣﴾

هغه په ښهٔ شان | او ساتلم زهٔ | بیشکه | نهٔ کامیابیږي | ظالمان خلق |

هغه زهٔ څنګه ښهٔ ساتلې یم | [زهٔ به څنګه دا کار کوم؟] او ظالمان به یقینا نهٔ کامیابیږي

آسان ترجمه قرآن

او د مصر کوم کس چې اخستی وو هغه خپلې بي بي ته ووئیل چې: ده لره په عزت سره ساته. ما ته داسې ښکاري چې دې به مونږ ته فائده راکړي. یا به ده لره په ځوئي والي ونیسو دغه شان مونږ ده ته په دغه زمکه کښې ځای ورکړو. دې دپاره چې ده ته د خبرو صحیح مطلب راویستل وښایو او د الله په خپل کار باندې پوره قابو دې. لیکن اکثر خلق نه پوهیږي. او چې کله یوسف ځوانۍ ته ورسیدو مونږ ده ته حکمت او علم ورکړو. او څوک چې نیک کار کوي مونږ هغوی ته دغه شان بدله ورکوو، او د کومې ښځې په کور کښې چې دې اوسیدو. هغې ده لره د دهوکه کولو کوشش وکړو او ټولې دروازې ئې بندې کړې او وې وئیل: راشه! یوسف ووئیل: د الله پناه! هغه ځما مالک دې. هغه ما لره ښه ځای راکړي دې رښتیا خبره دا ده چې کوم خلق ظلم کوي هغوی ته کامیابي نه ملاویږي.

خلاصه تفسير:

﴿وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [قافلې والا یوسف [عليه السلام] د ورونونه واخیستواو مصرته ئې بوتلواوهلته ئې دعزیزمصرپه لاس خرڅ کړو] اوکوم سړي چه په مصرکښې دی اخیستئ وو[عزیز]هغه [دی کورته راوستواوخپلې ښځې ته ئې وسپارلو او]ور ته ئې وویل چه دی په خاطرسره ساته څه عجیبه ده چه [لوی شي] خمونږ پکار راشي یائې په خوی والی سره ونیسو[مشهوره ده چه دائې ځکه وویل چه اولادئې نه لرلو] او مونږ [لکه څنګه چه یوسف[عليه السلام]ته پخپل خاص عنایت سره ددی تیاری دکوهي نه نجات ورکړو] دغه شان یوسف ته په ځمکه [دمصر]کښې ښه قوت ورکړو[مراد ددی نه حکومت دی] او[نجات ورکول په دی غرض سره هم وو]چه مونږده ته دخوبونوتعبیروښایو مطلب داوه چه دنجات ورکولونه مقصددی په ظاهری اوباطنی نعمتونوباندی مالامال کول وو]اوالله تعالی په خپل [درضاپه]کارغالب[اوقادر] دی [چه څه غواړی هغه کوي]لیکن اکثرخلق نه پوهیږي[ځکه چه یقین اوایمان والاخلق کم دي،دامضمون دقصی په منځ کښې دجمله معترضه په طورځکه راوړی شوی دی چه د یوسف[عليه السلام]موجوده حالات یعنی غلام پاتی کیدل ښه حالت نه وه مګرالله تعالی فرمائی چه داحالت یوڅوورځی په طورذریعی دی اصل مقصدده ته اوچت مقام ورکول دي اوددی په ذریعه ئې عزیزدمصر اوده په کورکښې پرورش موندل ګرځولی دی،ځکه چه دآمیرانوپه کورکښې پرورش موندلوسره تجربه اوسلیقه زیاتیږي ،دسلطنت دکارونوعلم پرې راځي،ددی باقی وړاندی دادی چه.

﴿وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾[اوکله چه هغه خپلې ځوانئ[دبلوغ حد]ته ورسیدومونږده ته حکمت اوعلم ورکړو[ددی نه مراد علم د نبوت دی،اودکوهي غورځولوپه وخت کښې چه دوی ته دکومې وحی ذکرراغلی دی‌هغه دنبوت وحی نه بلکه دموسی (عليه السلام) دمور دوحی په شان وحی‌وه]اومونږنیکانوخلقوته دغه شان بدله ورکوو[کومه قصه چه د یوسف[عليه السلام]دتهمت لګولومخکی بیانیږي ددی نه وړاندی په دی جملوکښې خودلی شویده چه دغه به سراسرتهمت اودروغ وي ـ ځکه چه چاته دالله تعالی دطرف نه علم اوحکمت ورکړی شوی وي دهغه نه داسی کارکله هم نشی صادریدی،.

﴿وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ﴾ ددغه تهمت دقصی بیان دی چه یوسف[عليه السلام]دعزیزمصرپه کورکښې په آرام اوراحت سره اوسیدو]او[په دی منځ کښې دا امتحان راغی چه]دکومې ښځې په کورکښې چه یوسف [عليه السلام]اوسیدو هغه[په ده عاشقه شوه او]دده نه دخپل مطلب حاصلولولپاره غولونکی شوه او[دکور]ټولې دروازی ئې بندی کړې او[ده ته]ئې وویل راشه تاته وایم یوسف [عليه السلام] وویل [چه اول خوداډیره لویه ګناه ده]دالله نه پناه غواړم [دویم] هغه [ستا خاوند] خما پالونکی [اومحسن] دی چه څه ئې څنګه په ښه شان وساتلم[نوآیازه به دده په ناموس کښې خلل اندازی کوم]داسی احسان فراموش کله هم فلاح نه مومی[بلکه اکثرخوپه دنیاکښې ذلیل اوپریشانه وي ورنه په آخرت کښې خوئې عذاب یقینی دی]ـ

Scanned with Ca

معارف او مسائل

تیرو شوؤ آیتونو کښې په یوسف ﷺ باندې هغه تیر شوی حالات بیان شویدی چې په اول اول کښې پرې تیر شوی وو ، هغه داسې چې کله د قافلې خلقو هغوئ ﷺ لره د کوهی نه راویستو نو د یوسف ﷺ رونړو هغوئ لره خپل تښتیدلې غلام اوبللو. په لږو درهمو ئې هغوئ لره خرڅ کړو ، اوله خبره دا وه چې ورته ددغې بزرګې هستئ قدر معلوم نه وو بله دا چې د دوئ اصل مقصود پیسې ګټل نه وو بلکه د باباجی د مخې نه ئې لرې کول غوښتل وو. دوئ سره دا فکر وو چې هسې نه هم دلته ئې خان سره اوساتی او په دې شان د باباجی خواته ور اورسی او زمونږ راز ښکاره کړی ځکه تر ډیره حده پورې قافلې سره لاړل او دائې ورته اوئیل چې دلته به یې نه پریږدئی ، مصر ته به ئې خان سره بوځئ ، بله دا چې پټ مخ اوتړلې به بوځئ هسې نه چې تاسو ته هم اوتښتی ځنګه چې ئې عادت دې ، دتفسیر امام مجاهد ﷫ فرمائیلی دی چې هم په دې شان ئې مصر ته اورسولو [تفسیر ابن کثیر]. (۱)

اوس دې آیتونو مبارکو کښې باقی قیصه بیانیږی. قرآن عظیم الشان ضروری خبرې بیانوی کومې چې پخپله په پوهه کښې راتلې شی د هغې دبیانولو ضرورت اونه ګڼړلې شو ، لکه په مختلفو ځایونو باندې تیریدلو سره مصر ته رسیدل او هلته د یوسف ﷺ خرڅول نه دی بیان شوی او بیا دې ځائې نه شروع کیږی چې :

[وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ] [هغه سړی خپلې بی بی ته اووئیل چې چا یوسف ﷺ په مصر کښې اخستې وو چې د یوسف ﷺ په ښه شان خصمانه [پالنه] کوه] مطلب دادې چې کله دغه قافله مصر ته اورسیده او دهغوئ د خرڅولو اعلان ئې اوکړو ، نو په تفسیر قرطبی کښې راغلی دی چې خلقو ئې د یوبل نه زیات قیمت لګول شروع کړل تر دې چې دهغوئ د بدنې تول برابر سره زر دهغې برابر مشك او د هغوئ دتول برابر د ریښمو کپړې قیمت اولګولې شو. (۲)

دا دولت الله تعالی د عزیز مصر په قسمت کښې لیکلې وو. هغه دغه تول څیزونه ادا کړل اودهغې په قیمت ئې واخستو. د قرآنی ارشاد نه رومبې معلوم شوی دی چې دا هسې اتکلی راپیښه نه وه بلکه د الله تعالی د مضبوط انتظام غړی او برخې وی ، د یوسف ﷺ اخستل ئې د ملك د یو لوئې هستئ په قسمت کښې لیکلی وو ، ابن کثیر لیکلی دی چې دغه اخستوونکې د مصری حکومت وزیر خزانه وو ، نوم ئې قطفیر یا اطفیر و او په دغه زمانه کښې د مصر بادشاه د عمالقه قوم ریان بن اسید وو ، په آخر کښې د یوسف ﷺ په لاس مسلمان شو او د یوسف ﷺ په ژوند کښې وفات شو [مظهری]. (۳)

د عزیز مصر د بی بی نوم راعیل یا زلیخا وو ، نو عزیز مصر یعنی قطفیر د یوسف ﷺ په باره کښې خپلې بی بی ته وئیلی وو چې دوئ ﷺ لره به ډیر ښه شان ورکوې ، دعامو غلامانو پشان به ئې نه ساتې ، د دوئ د ضرورتونو انتظام به په ډیر ښه شان کوې. عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی چې په دنیا کښې درې کسان د زیات عقل خاوندان او قیاضه شناس ثابت شوی

۱) تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآیة ج: ۴ ص: ۳۷۷
۲) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة ج: ۹ ص: ۱۵۵
۳) تفسیر المظهری تحت هذه الآیة ج: ۵ ص: ۱۵۰

Scanned with Ca

دی ، يو عزيز مصر دې چې خپلې بی بی ته ئې دغه هدايت ورکړو. بل د شعيب ﷺ هغه لور بی بی چې خپل باباجی ته ئې د موسی ﷺ په باره کښې عرض اوکړو [يٰۤاَبَتِ اسۡتَاۡجِرۡهُ ۫ اِنَّ خَيۡرَ مَنِ اسۡتَاۡجَرۡتَ الۡقَوِىُّ الۡاَمِيۡنُ۝] [ائې باباجی ! دوئ ﷺ خان سره نوکر کړئی ځکه چې بهترين نوکر هغه وی چې قوی هم وی او امانتدار هم]. دريم صديق اکبر ؓ دې چې ځان نه پس ئې فاروق اعظم ؓ د خلافت دپاره منتخب کړې وو [ابن کثير]. (۱)

[وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوۡسُفَ فِى الۡاَرۡضِ ۚ] [يعنی داشان مونږ حکومت ورکړو يوسف ﷺ ته دزمکې] په دې کښې د راتلونکې واقعې زيرې دادې چې يوسف ﷺ اوس اگر چې د عزيز مصر په کور کښې د غلام په حيثيت سره پاتې کيږی خو زر دې چې په مصر کښې يو لوئې سرې جوړيږی چې حکومت به هم دوئ ﷺ چلوی.

[وَلِنُعَلِّمَهٗ مِنۡ تَاۡوِيۡلِ الۡاَحَادِيۡثِ ؕ] دلته د شروع دا واؤ که د عطف دپاره اومنلې شی نو ددې معنی يوه جمله بهٔ داسې محذوفه اومنلې شی چې مونږ يوسف ﷺ ته دزمکې حکومت دې دپاره ورکړو چې هغه په دنيا کښې د عدل او انصاف په ذريعه امن قائم کړی او د ملك د اوسيدونکو د آرام انتظام اوکړی ، او دې دپاره چې مونږ ورته د خبرو پخپل خپل ځائې کول اوښايو. ددې جملې يو عام مفهوم دا هم دې چې په کښې د الله تعالی په وحی باندې پوهيدل او په هغې باندې عمل اوکړی ، دغه شان د ټولو ضروری عملونو حاصليدل او د خوبونو صحيح تعبير بيانول هم په کښې داخل دي .

[وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰۤى اَمۡرِهٖ] [يعنی الله تعالی پخپل کار باندې داسې غالب او قادر دې چې دهغې په اراده کولو سره ټول ظاهری اسباب هم برابر شی]. ځنگه چې رسول کريم ﷺ فرمائيلی دی چې کله الله ﷻ د څه کار اراده اوکړی نو ددنيا ټول اسباب دده دپاره تيار کړی.

[وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ۝] [ليکن اکثر خلق په دې حقيقت نه پوهيږی] او هر څه دپاره ظاهری اسباب پکار راوستو پسې لگيدلې وی، مسبب الاسباب او قادر مطلق پسې هډو مخه نه اوړی.

[وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗۤ اٰتَيۡنٰهُ حُكۡمًا وَّعِلۡمًا ؕ] [هر کله چې يوسف ﷺ خپل پوره طاقت او ځوانئ ته اورسيدونو مونږ ورته حکمت او علم ورکړو]. د قوت او ځوانئ په حاصليدو کښې د مفسرينو اختلاف دې، ابن عباس ؓ ، مجاهد ؓ ، او قتاده ؒ فرمائيلی دی چې د درې ديرشو کالو په عمر کښې ورته حاصل شوې وو. ضحاك ؒ فرمائيلی دی چې د شلو کالو په عمر کښې او حسن بصری ؒ فرمائی چې د څلويښتو کالو په عمر کښې ورته حاصل شوې وو ، خو په دې باندې د ټولو اتفاق دې چې دلته دحکمت او علم ورکولو نه مطلب پيغمبری ورکول دی ، دې نه دا هم معلومه شوه چې يوسف ﷺ ته پيغمبری مصر ته د رسيدو نه ډيره زمانه پس ورکړې شوې وه ، کله چې رونړو په کوهی کښې اوغورزولو نو دغه وخت کښې ورکړې وو. دغه وخت ورته وحی راتلل داسې وو لکه چې د موسی ﷺ او عيسی ﷺ ميندو او بيبيانو ته چې راغلې وه او دغه د پيغمبرئ وحی نه وه .

(۱) تفسير ابن کثير تحت هذه الآية ج:۴ ص:۳۷۸

[وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ] [او مونږ هم دغه شان بدله ورکوؤ نيکانو ته] مطلب دادې چې يوسف ﷺ لره د هلاکت نه خلاصې ورکول حکومت او عزت ته ئې رسول د هغوئ ﷺ د نيک چلنځ، خدا ترسئ او دنيکو عملونو نتيجه وه، داهغوئ ﷺ لره مخصوص نه وو، څوك هم چې داسې نيك عمل کوي زمونږ انعامات به پرې کيږي.

[وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ] [د کومې بي بي کور کښې چې هغوئ ﷺ اوسيدل هغه پرې عاشقه شوه، او د خپل مطلب حاصلولو په غرض ئې دهغوئ ﷺ غولول شروع کړل اود کور ټولې دروازې ئې بندې کړې اوورته اووئيل چې زر شه، هم تاته وايم] د رومبي آيت مبارك نه معلومه شوه چې دا د عزيز مصري بي بي وه خو دلته د هغې په ځائې داسې اوفرمائيلې شو چې [الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا] په دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چې د ګناه نه د ځان ساتلو په لار کښې يوسف ﷺ ته يو غټ مشکل راپيښ شو چې هغې بي بي ترې ددې غوښتنه کړې وه د کومې په کور کښې چې هم د هغې په پناه کښې اوسيدو او دهغې د خبرې نه مخ اړول څه آسانه خبره نه وه.

ګناه نه د بچ کيدو ذريعه داده چې پخپله د الله نه پناه اوغوښتلې شي. او ددې ظاهري سبب دا شو چې هر کله يوسف ﷺ خپل ځان لره د هر طرف ګير اوليدو نو د پيغمبرئ په انداز کښې ئې د ټولو نه اول د الله تعالى پناه اوغوښتله لکه قرآن عظيم الشان فرمائي چې. [قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ] يعنې خالص پخپل قصد او اراده ئې تکيه او نه کړه او دا ښکاره خبره ده چې څوك دالله تعالى په پناه کښې راشي هغه لره هيڅوك د صحيح لارې نه نشي اړولې، وريسې ئې د پيغمبرئ په انداز کښې حکمت او نصيحت داسې کول شروع کړل چې پخپله زليخه بي بي ته ئې اوفرمائيل چې ته هم د الله تعالى نه اوويريږه او خپلې ارادې نه واوړه.

[اِنَّهٗ رَبِّيْٓ اَحْسَنَ مَثْوَايَ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ] [هغه زما پالونکې دې، هغه راته د آرام ځائې راکړو، بـه پوهه ظلم کوؤنکي خلاصې بيا مومئ]

په ظاهره ددې مراد زليخې بي بي ته سبق ورکول دي، چې هر کله زۀ ستا د خاوند ددې څو ورځو د ښيګړې پوره خيال ساتم نو ته خو ئې خيال ساته چې ستا د خاوند د ژوند ملګرې ددې او د مود راسې ئې درباندې ډير احسانات دي او د هغه حق، مانه زيات اوپيژنه.

دلته يوسف ﷺ عزيز مصر ته خپل رب خکه اوفرمائيلو چې په مخکښې شريعتونو کښې ددې اجازت داسې وو چې شرك کول او د شرك عقيده لړل بالکل حرام وو مګر داسې قسمه الفاظو استعمالولو او د شرك په ذريعو باندې پابندې نه وه لکه تصويرونو باندې چې په پخوانو شريعتونو کښې پابندي نه وه([1]) زمونږ شريعت محمدي ﷺ هر کله چې آخري شريعت او د ټولې دنيا دپاره تر قيامته پورې دې ځکه په کښې داسې الفاظ هم حرام اوګرځولې شو چې د شرك شبه او ذريعه ئې جوړيدل په کښې وي دغه تصويرونه جوړول هم منع کړې شو لکه د صحيح مسلم په حواله چې رسول کريم ﷺ فرمائيلي دي، څوك غلام دې خپل مالك ته رب او څوك مالك دې خپل غلام ته بنده نه وائي.

[1] صحيح مسلم ۲: ص: ۲۳۸، کتاب الالفاظ من الادب وغيرها باب حکم اطلاق لفظة العبد والامة والمولى والسيد.

په هر حال يوسف علیه السلام لره دا فرمائيل چې [اِنَّهٗ رَبِّيْٓ] صحيح وو. د دې بل مطلب دا هم کيدې شي چې د [اِنَّهٗ] ضمير الله تعالى ته راجع وى او هغه ته ئې خپل رب فرمائيلې وى چې په حقيقت کښې ښه مقام ورته هم الله تعالى ورکړې وه او دهغه نافرمانى کول هم د ټولو نه لوئې ظلم دې او ظلم کوؤنکو لره خلاصې نشته.

خيني مفسرينو سدى رحمه الله، او ابن اسحاق رحمه الله وغيره نقل کړى دى چې په دغې تنهائئ کښې زليخه بى بى يوسف علیه السلام لره ځان ته د مخې را اړولو سره دهغوئ د ښکلا او ښائست تعريف شروع کړو، لکه وې وئيل چې ستاسو ويښته څومره ښکلى دى. يوسف علیه السلام اووئيل چې دا ويښته به دمرګ نه پس د ټولو نه رومبې زما دبدن نه جدا شى.

بيا هغې اووئيل چې سترګې دې څومره ښکلې دى؟ يوسف علیه السلام اوفرمائيل چې د مرګ نه پس به دا اوبه شى او زما په مخ بهٔ راؤبهيږى.

بيا هغې اووئيل چې مخ دې څومره ښائسته دې؟ يوسف علیه السلام اوفرمائيل دا ټول د خاؤرو خوراك دې. الله تعالى د آخرت فکر په هغوئ علیه السلام باندې داسې غالب کړو چې د نوجوانئ په عمر کښې ددنيا ټول خوندونه ورته خاؤرې ايرې ښکاره شو. صحيح خبره ده چې د آخرت فکر هم هغه څيز دې چې انسان لره په هر ځائې کښې د هر شر نه محفوظ ساتلې شى. اللهٔ ارزقنا اياه ائې الله تعالى ! دا حالت زمونږ نصيب کړې.

وَلَقَدْ هَمَّتْ

| او په تحقيق هغې اراده اوکړه

او ظالمان به يقينا نهٔ کاميابيږى

بِهٖ ۚ　وَهَمَّ　بِهَا　لَوْلَآ　اَنْ رَّاٰ　بُرْهَانَ　رَبِّهٖ ۭ　كَذٰلِكَ

په هغه باندې | او اراده به کړې وه دهٔ | په هغې باندې | که نه وې ليدلې هغه | دليل | د رب خپل | هم دغه شان

او هغه [ښځه] ده ته وراوړاندې شوه | او يوسف به هم وراوړاندې شوې وو | که د خپل رب دليل ئې ليدلې نهٔ وې

لِنَصْرِفَ　عَنْهُ　السُّوْۗءَ　وَالْفَحْشَاۗءَ ۭ　اِنَّهٗ　مِنْ عِبَادِنَا

چې لرې اوساتو مونږه | دهغه نه | بدى | او بې حيائى | بيشکه هغه | د بندګانو زمونږ نهٔ وؤ

دغه شان مو خکه اوکړل | چې هرقسم بدئ او بې حيائى ترې لرې اوساتو | يقينا دې زمونږ د

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۲۴﴾

چې خالص کړې شوى دى |

مخلصانو بندګانو نه دې |

آسان ترجمه قرآن

هغه ښځې په رښتيا ديوسف سره (د بې حيائئ) اراده کړې وه. او ديوسف په زړه کښې هم دهغه ښځې خيال په راغلې وو که هغه د رب دليل نه وو ليدلې مونږ دا څکه وکړل دې دپاره چه هغه نه د بدې او بې حيائې وارووؤ. بې شکه هغه څمونږ د منتخب شوؤ بندګانو نه وو.

Scanned with Ca

خلاصه تفسير

﴿وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ۚ كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ۚ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ﴾

او ددې ښځې په زړه کښې دده خيال [دعزم په درجه کښې] مضبوط شوی وواودده هم ددې ښځې څه څه خيال [دامرطبعي په درجه کښې] راغلې وو [کوم چه داختيارنه بهردی، لکه دګرمۍ په روژه کښې چه داوبوطرف ته طبعي ميلان وي اګرچه دروژې ماتولووسوسه قدرې هم نه وي البته] که دخپل رب دليل لره [يعني ددې کاردګناه والی دليل کوم چه شرعي حکم دی] ده نه وای ليدلی [يعني ده ته دشريعت علم سره دعملي قوت نه حاصل نه وی] انوزيات خيال کيدل ئې عجيبه نه وه [ځکه چه ددې بلونکی اواسباب ټول قوی جمع وه مګر] مونږه دغه شان ده ته علم ورکړوددې لپاره چه مونږدده نه صغيره اوکبيره ګناهونه لرې کړو [يعني دارادې نه موهم بچ کړواودفعل نه هم ځکه چه] دی خمونږ دغوره بندګانونه وؤ.

معارف او مسائل

تير شوی آيت کښې د يوسف ﷺ د لوئې امتحان او آزميښت داسې بيان وو چې د عزيز مصر بی بی د کور دروازې بندې کړې او د ګناه بلنه ئې ورکړه ، دې دپاره ئې ټول انتظام برابر کړو خو الله ﷻ په داسې سخت امتحان کښې هم هغوئ لره ثابت قدمه اولرلو . اوس ئې نور تفصيل په دې آيت مبارك کښې داسې دې چې زليخا بی بی خو د ګناه په خيال کښې اخته وه . د يوسف ﷺ په زړه کښې هم د انسانی فطرت په جوړ څه داسې غير اختياری ميلان پيدا شو خو الله ﷻ خالص هم په دغه وخت خپل حجت او برهان يوسف ﷺ ته را اوړاندې کړو چې ورسره دغه غير اختياری ميلان بالکل ختم شو او د ځان خلاصولو دپاره په منډه شو .

په آيت مبارك کښې د [هَمَّ] لفظ دواړو يعني يوسف ﷺ او زليخې بی بی ته منسوب دې .

ددې دوه معنې دی يوه معنی ئې د ګناه خيال او اراده کول دی او بله معنی ئې غير اختياری ميلان دې چې وسوسه ورته هم وئيلې شی ، په دې بنا زليخې بی بی ته په اول حيثيت ددې نسبت شوې دې او يوسف ﷺ ته ئې په دويم حيثيت ځکه نسبت شوې دې چې د امت جمهورو علماء کرام ﷺ په دې متفق دی چې پيغمبران ﷺ د هر قسم ورې او لوئې ګناه نه پاك وی ، لويه ګناه خو ترې نه په قصد او ارادې سره کيدې شی او نه په هيرې او خطا سره ترې کيدې شی ، البته وړه ګناه ترې په هيره او غلطئ سره کيدېشی . خو الله ﷻ ئې په هغې کلك نه پريږدی بلکه خبردارې ورکړې شی او هغوئ ترې واړولې شی [مسامره]

د پيغمبرانو ﷺ د عصمت دا مسئله يوازې د قرآن عظيم الشان او سنت نه نه د ه بلکه د عقل د مخې هم ځکه ضروری ده چې که پيغمبرانو ﷺ نه د ګناه صادريدو امکان اومنلې شی نو دهغوئ په راوړلی دين اووحی بۀ هيڅ اعتبار نه شی کولې او نه به ئې د پيغمبرئ څه فائده وی او نه به ترې د کتاب د نازليدو څه فائده ښکاريږی .

په دې بنا په اجمالی شان سره خودا اوټاکلې شو چې د يوسف ﷺ خيال راتلل او دګناه درجې ته نه وو رسيدلې په کوم باندې چې ګرفت کولې شی يعنی دا خيال ئې د عزم په حيثيت نه وو بلکه د وسوسې په حيثيت غير اختياری وو چې ګرفت پرې نشی کولې ، دلته يوه خبره د هم شته چې هر کله څوك د الله ﷻ د ويرې نه د ګناه دغه اراده پخپل اختيار پريږدی نو د حديث پاك په مطابق الله ﷻ د هغه ګناه په ځائې په عمل نامه کښې ئې يوه نيکی درج کوی او بل قسم

غیراختیاري خیال راتلل نه خو دانسان په اختیار کښې وي چې ګنی په هغې به ئې ګرفت اوکړې شي بلکه دا داسې یو قسم وسوسه او غیر اختیاري څیز دې لکه د ګرمئ په روژه کښې چې د انسان طبعي میلان اوبو ته کیږي ، حالانکه د روژې په وجه ئې د اوبو څکلو قصد او اراده بالکل نه وي ، نو د قرآن عظیم الشان اوسنت تر مخه نه خو دا څه ګناه ده او نه پرې څه ګرفت او مواخذه شته دې ، د صحیح بخاري په حواله رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چې الله تعالی زما امت دپاره د ګناه وسوسې او خیال لره معاف کړې دې تر څو چې پرې عزم اونه کړي [قرطبي] (۱)

صحیحینو کښې د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دې چې رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چې الله ﷻ فرښتو ته فرمائي چې زما بنده کله چې د څه نیکئ اراده اوکړي نو صرف ددغې ارادې کولو په وجه ئې په عمل نامه کښې یوه نیکي اولیکئ او کله چې دغه نیک عمل ترسره کړي نو لس نیکئ ددهٔ دپاره اولیکئ او که یو بنده دګناه اراده اوکړي او د الله ﷻ د ویرې نه ئې پریږدي نو ددغې ګناه په ځائې په عمل نامه کښې یوه نیکي اولیکئ اوکه هغه ګناه تر سره کړي نو صرف یوه ګناهورپسې اولیکئ [ابن کثیر] (۲)

تفسیر قرطبي کښې د عربو د محاورو او شعرونو نه دا ثابت کړې شوي دي چې د [هَمَّ] لفظ د دغې دواړو معنو دپاره استعمالولې شي (۳) معلومه شوه چې لفظ د [هَمَّ] اګر چې زلیخې بي بي او یوسف ﷺ دواړو ته منسوب شوې دې خو بیا هم په دې دواړو خیالونو کښې غټ فرق داسې دې چې رومبې خیال په ګناه کښې داخل دې اودویم غیر اختیاري دې چې د وسوسې په حیثیت په ګناه کښې داخل نه دې نود قرآن عظیم الشان د بیان انداز پخپله هم په دې ګواه دې چې [هَمَّا] ئې اونه فرمائیل بلکه وې فرمائیل چې [وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا] یعنی اول ئې په لفظ د [وَلَقَدْ] سره مؤکد کړو ، او دویم سره نه لام د تاکید شته او نه پرې [قَدْ] د تحقیق زیات کړې شوې دې

د صحیح مسلم په حواله په یو حدیث پاك کښې راغلي دي چې کله یوسف ﷺ ته داسې آزمینښت راپیښ شو نو فرښتو الله ﷻ ته عرض اوکړو چې ستا دا مخلص بنده د ګناه په خیال کښې دې حالانکه هغوئ ددې وبال ښه پیژني . الله ﷻ ورته اوفرمائیل چې انتظار کوئی که هغوئ ﷺ دا ګناه اوکړه نو د هغوئ ﷺ د کړو مطابق ئې په عمل نامه کښې اولیکئ اوکه پریږئي دې نود ګناه په ځائې په عمل نامه کښې نیکي درج کړئی ، ځکه چې هغوئ به صرف زما د ویرې خپل خواهش پرېښودې وي . [قرطبي] (۴)

غرض دا چې د یوسف ﷺ د زړهٔ مبارك دغه خیال یا میلان غیر اختیاري ، دسوسې په درجه کښې وو چې په ګناه کښې داخل نه دې ، بیا ددغې وسوسې په خلاف عمل کول ئې د الله ﷻ په نزد لویه نیکي وه چې ورسره ئې د هغوئ ﷺ درجه نوره هم اوچته کړه .

---

(۱) صحیح البخاري کتاب العتق باب الخطاء والنسیان الخ ج:۱ ص: ۳۴۲

(۲) تفسیر ابن کثیر، سورة البقرة ج:۱ ص: ۴۳۱ وصحیح مسلم کتاب الایمان ، باب بیان تجاوز الله تعالى عن حدیث النفس الخ ج: ص: ۷۸

(۳) تفسیر القرطبي تحت هذه الآية ج:۹ ص: ۱۶۶

(۴) تفسیر القرطبي تحت هذه الآية ج:۹ ص: ۱۶۸، وصحیح مسلم کتاب الایمان ، باب بیان تجاوز الله تعالى عن حدیث النفس الخ ج: ص: ۷۸

ځينې مفسرينو دلته دا هم فرمائيلي دي چې په کلام کښې وړاندې والې روستو والې داسې راغلې دې چې [لَوۡلَآ اَنۡ رَّاٰ بُرۡهَانَ رَبِّهٖ] په اصل کښې وړاندې دې ، مطلب ئې دا شو چې د يوسف ﷺ به هم دا خيال پيدا شوې وو ليکن د برهان رب ليدلو په وجه هغه د دغې هم او خيال نه هم محفوظ پاتې شو ، اګر چې دا مضمون هم درست دې خو ځينې حضراتو دې تقديم او تاخيرلره د عربۍ ژبې د قواعدو نه خلاف ګڼړلې دې ، په دې بنا هم رومبې تفسير بهتدې ولې چې په دې سره د يوسف ﷺ د تقوی او پاکوالی شان نور هم زيات ښکه او چتيږي چې طبعي او بشري تقاضا باوجود د ګناه نه محفوظ کيږي .

دې پسې فرمائي چې [لَوۡلَآ اَنۡ رَّاٰ بُرۡهَانَ رَبِّهٖ] ددې جزا محذوفه ده ، معنی ئې داده چې که هغوئ د خپل رب برهان او حجت نه وې ليدلې نو په دې خيال کښې به اخته شوې وو ، خو د خپل رب په برهان ليدلو سره دغه غير اختياري خيال او وسوسه هم دزړه نه اووته.

هر کله چې قرآن عظيم الشان د برهان ربی وضاحت نه دې کړې کوم چې د يوسف ﷺ مخې ته راغلې وو ځکه په کښې د مفسرينو اقوال مختلف دي ، عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ، مجاهد رحمه الله ، سعيد بن جبير رضي الله عنه ، محمد بن سيرين رحمه الله ، حسن بصري رحمه الله وغيره فرمائيلي دي چې الله ﷻ د معجزې په طور په دغه خلوت خانه کښې د يعقوب ﷺ شکل په داسې شان مخې ته راوستو چې خپله ګوته ئې په غاښونو کښې نيولې ده او چيچي ئې ، دې نه مطلب ددغې کار او خيال نه ئې منع کول وو ، ځينې مفسرينو د اهم فرمائيلي دي چې د عزيز مصر شکل ورته راوړاندې کړې شو ، ځينو فرمائيلې دي چې د يوسف ﷺ نظر چت ته او کړ ځولې شو چرته چې آيت [وَلَا تَقۡرَبُوا الزِّنٰٓی اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِيۡلًا۝] ليکلې شوې وو .[يعنی د زنا خواته مه ځئ ځکه چې دا لويه ګناه لويه بې حيائي[او د الله تعالی د قهرسبب] او [د معاشرې دپاره] دې ره خرابه لاره ده .

ځينې مفسرينو فرمائيلي دي چې د زليخه بی بی د مکان په دغې حصه کښې يو بت وو چې د هغې دپاسه هغې پرده اچولې وه ، يوسف ﷺ ترې ددې وجه اوپوښتله نو هغې ورته اووئيل چې دا زما معبود دې ، دده په وړاندې په ګناه کولو سره ماته حيا رازي ځکه مې پټ کړې دې . يوسف ﷺ اوفرمائيل چې زما معبود خو ددې نه زيات د حيا حقدار دې ، د هغه نظر په هيڅ شان سره بل خوا ځوك نشي اړولې او نه ترې ځوك څه پټولې شي

ځينې مفسرينو فرمائيلي دي چې د يوسف ﷺ پيغمبری او د الله تعالی پيژندګلو پخپله د رب برهان وو. د امام تفسير ابن جرير رحمه الله ، ددې ټولو اقوالو نقل کولو نه پس چې کومه خبره فرمائيلې ده هغه د ټولو محققينو په نزد غوره او بهتره ده ، هغه فرمائيلي دي چې قرآن عظيم الشان مونږ ته څومره خبره خودلې ده صرف په هغې دې بس والې او کړې شي ، يعنی يوسف ﷺ څه داسې يو څيز اوليدو چې دغه وسوسه ئې هم د زړه نه اووته ، يعنی ددغه څيز په ټاکلو کښې هغه ټول احتمالونه کيدې شي کوم چې مفسرينو ذکر کړي دي . البته يو په کښې يقيني طور سره نشي ټاکلې کيدې. [ابن کثير] (۱)

[كَذٰلِكَ لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ السُّوۡٓءَ وَالۡفَحۡشَآءَ ؕ اِنَّهٗ مِنۡ عِبَادِنَا الۡمُخۡلَصِيۡنَ۝] [مونږ يوسف ﷺ ته دا برهان ځکه اوخودلو چې د هغوئ ﷺ نه دغه خرابی او بې حيايئ لرې کړو] د خرابئ نه مراد وړه ګناه ده اود

(۱) تفسير ابن کثير تحت هذه الآية ج: ۲ص: ۳۸۲

Scanned with Ca

بې حيايۍ نه مراد لويه ګناه ده . [مظهري] (۱)
دلته دا خبره د نظر کولو جوګه ده چې داتې اوفرمائيل : مونږ خرابي اوبې حيائي د يوسف ﷺ نه واړوله. داسې ئې او نه فرمائيل چې مونږ يوسف ﷺ لره د خرابۍ او بې حيايۍ نه واړولو. په دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چې يوسف ﷺ د خپلې پيغمبرۍ د شان په وجه ددغې ګناه نه پخپله آوړيدلې و خو خرابۍ او بې حيايۍ هغوئ ﷺ لره ګير کړې وو ، مونږ دغه جال اوشلولو.
د قرآن عظيم الشان دا الفاظ ددې ګواه دی چې يوسف ﷺ په يو معمولي ګناه کښې هم نه وو اخته شوې . او کوم خيال چې د هغوئ ﷺ په زړه کښې راپيدا شوې وو هغه په ګناه کښې داخل نه وو ، ګنې دلته به ئې داسې فرمائيلي وو چې مونږ يوسف ﷺ لره د ګناه نه واړولو.
ولې چې يوسف ﷺ زمونږ په غورزير بندګانو کښې دې [مُخۡلَصِيۡنَ] د مخلص جمع ده چې معنی ئې غوره کړې شوې ده .
مراد دا شو چې يوسف ﷺ د الله تعالی په هغه بندګانو کښې شمير دې کوم چې پخپله الله ﷻ د پيغمبرئ د کار او د خلقو د اصلاح دپاره غوره کړی دی . په داسې خلقو باندې د الله ﷻ د طرفه حفاظتي پهره وی چې هغوئ په څه بدئي يا خرابۍ کښې نشي اخته کيدې . نو پخپله شيطان هم پخپل بيان کښې ددې اقرار اوکړو چې د الله تعالی په منتخب کړی بندګانو باندې د هغه وس نه رسي ، هغه پخپله داسې اوفرمائيل چې [قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغۡوِيَنَّهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ۝ اِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ۝] [ستا په عزت او قوت مې دې قسم وی چې زۀ بۀ ټول بنيادم ګمراه کوم سوا دهغې بندګانو نه چې تا منتخب کړی دی]
څينې قراتونو کښې دا لفظ [مُخۡلِصِيۡنَ] په زير سره راغلې دې ، معنی ئې هغه د الله تعالی بندګان دی چې د الله ﷻ عبادت او تابعداری په اخلاص سره کوی ، په هغې کښې د څه دنيوی او نفساني غرض ، مشهورتيا او مرتبې وغيره دخل نه وی . په دې صورت کښې بۀ ددې آيت مبارك مراد دا وی چې څوك هم پخپل عمل او عبادت کښې مخلص وی ، الله ﷻ د ګناه نه په خان ساتلو کښې د هغوئ مدد کوی.
دې آيت مبارك کښې الله ﷻ دوه لفظونه سوء او فحشاء استعمال کړی دی ، او د سوء لفظی معنی بدی او خرابی ده چې مراد ترې نه صغيره ګناه ده او دفحشاء معنی بې حيائي ته چې مراد ترې کبيره ګناه ده ، دې نه معلومه شوه چې الله ﷻ يوسف ﷺ لره د صغيره او کبيره ګناه دواړو نه محفوظ ساتلې وو.
دې نه دا هم معلومه شوه چې قرآن عظيم الشان کښې يوسف ﷺ ته منسوب کړې هم خالص غير اختياري وسوسه وه چې په لويه او وړه ګناه کښې داخل نه بلکه معاف ده.

وَاسۡتَبَقَا	الۡبَابَ	وَقَدَّتۡ	قَمِيۡصَهٗ
او دواړو منډې کړې	دروازې ته	او اوشلوهغې	قميص دهغه
او دواړو [يوسف او ښځې] وړاندې روستو دروازې طرف ته منډه			

(۱) تفسير المظهري تحت هذه الآية ج: ۵ ص: ۱۵۵

Scanned with Ca

مِنْ دُبُرٍ وَّاَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ

دشادطرفنه| اوبیاموندودواړو| خاونددهغې| نزدې د دروازې سره| اوونیل هغې | څه ده سزا | د هغه چا

کړه | اوهغې ترې قمیص |د شادطرف نه اوشلولو|اودواړو دهغې خاوند دروازې

اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ

چې اراده ئې اوکړه |په کور والا ستا | د بدئ |ماسوا ددې نه | چې قید کړې شی هغه | یا | عذاب

سره[ولاړ] اولیدو |په دې باندې|هغې [ښځې] اوونیل|دهغه سړی څه سزاده |چې ستا دکورمیرمنې ته بد نیته شی

اَلِيْمٌ ۝٢٥ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِيْ عَنْ نَّفْسِيْ وَشَهِدَ شَاهِدٌ

دردناك|اوونیل یوسف| دې ښځې وغولولم زهٔ | د خپل ځان[د حفاظت] نه|اوګواهی پیش کړه| یوګواه

خو بس چې جیل کښې واچولې شی| یا بل څه دردناک عذاب ورته ورکړې شی|یوسف ﷺ اوونیل دې زهٔ د خپل غرض دپاره غلولم

مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ

دخپلوانو دهغې نه| که وی |قمیص دهغه|شلیدلې|د مخې طرفنه| نو دا به صادقه وی | او هغه به

اودهغې دکورنئ [دخلقو] نه یو کس ګواهی ورکړه | که د حضرت یوسف ﷺ قمیص د مخې طرفنه شلیدلې وی

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٢٦ وَاِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ

ددروغژنو څنی وی| اوکه وی |قمیص دهغه| شلیدلې| دشادطرفنه| نو دا به دروغژنه وی | او هغه به

نو ښځه رښتینې اوسړې دروغژن دې |اوکه د هغه قمیص د شا طرفنه شلیدلې وی |نو ښځه دروغژنه ده

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٢٧ فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ

د رښتینو څنی وی | هرکله چې ئې|اولیدو| قمیص دهغه| چې شلیدلې دې|د شا دطرفنه|نوهغه او وئیل

اوسړې رښتونې دې |کله چې هغه[د یوسف] قمیص دشا دطرفنه شلیدلې اولیدونووې وئیل دا ټول

اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ ؕ اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ۝٢٨ يُوْسُفُ اَعْرِضْ

بیشکه داکار | د مکر ستاسو نه دې | بیشکه | مکر ستاسو | دیر لوئ دې |ائې یوسفه | مخ واړوه

ستاسو د ښځو مکرونه دی| بیشکه ستاسو فریبونه ډیر لوئې دی| ائې یوسف ﷺ ! داخبره شاته اوغورزوه

عَنْ هٰذَا ٚ وَاسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۖۚ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِئِيْنَ ۝٢٩

ددې خبرې نه| اوائې ښځې ښښنه اوغواړه ته| دپاره دګناه خپلې| بیشکه چې ئې ته | د خطا کارونه

اوائې ښځې تهٔ دخپلې ګناه په باره کښې معافی اوغواړه |بیشکه [په دې معامله کښې]ته خطاواره یې

آسان ترجمه قرآن

او دواړو یوبل پسې دروازې ته منډه کړه. او دِ (کشمکش کښې) هغه ښځې دده قمیص وروستو نه وشلولو دې کښې دواړو د هغه ښځې خاوند په دروازه باندې ولیدو. دې ښځې فوراً (د خبرې جوړولودپاره خپل

Scanned with Ca

خاوند ته) ووئیل چه: څوك ستا د بي بي سره د بد عملي اراده وکړی د هغه سزا دې نه سوا نوره څه ده چه هغه جیل کښې واچولې شي. یا یو بله څه دردناکه سزا ورکړې شي؟ یوسف ووئیل چه: دې پخپله ما نه مطالبه کوله. او دَ ښځې د خاندان نه یو گواهی ورکوونکي گواهی ورکړه چه: که د یوسف قمیص د مخې طرف نه شلیدلې وي نو ښځه رښتیا وائي او دې دروغژن دې. او که دده قمیص د شاه طرف نه شلیدلې وي نو بیا ښځه دروغ وائي. او دې رښتینې دې بیا چه کله خاوند وکتل چه دده قمیص د شا طرف نه شلیدلې دې نو هغه ووئیل چه: دا ستاسو د ښځو چل دې. واقعي ستاسو د ښځو چل ډیر سخت دې. یوسفه اته ددې خبرې څه خیال مه کوه او اې ښځې ته دخپلو گناهونو معافي غواړه. یقیني طور ته خطاکاره وې.

خلاصه تفسیر

﴿وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُ مِنْ دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ۚ قَالَتْ مَا جَزَاءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوءًا إِلَّا أَنْ يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ [اوهر کله چه دی ښځی بیادغه اصرار وکړونو یوسف [عليه السلام] ددی خای نه خان خلاص کړواووتختیدواوهغه دده دنیولولپاره په ده پسی ورپسی شوه] اودواړه ورانډی وروسته دروازی ته په منډه شواو [په منډه کښی چه دی هغه لره نیولونو] دی ښځی دده قمیص دشانه څیری کړو [دی نی دقمیص نه ونیولوخان ته نی راښکلواویوسف [عليه السلام] په مخه تختیدونوقمیص نی څیری شومگر یوسف [عليه السلام] ددروازی نه باهرووتلو] او [ښځه هم ورسره وه نو] دواړو لره [اتفاقا] ددی ښځی خاوندپه دروازه کښی [ولاړ] وموندل ښځی [چه میړه ولیدنوحقه حیرانه شوه او فورا ئی خبره جوړه کړه] اووئی ویل چه کوم سړی ستادبی بی سره دبدکارئ اراده وکړي دهغه سزا غیرله دی نه بله څه کیدی شي چه دی جیل خانی ته ولیږلی شي یابله دردناکه سزاوي [لکه جسمانی سزا].

﴿قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي ۚ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ۝ وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ ۝ فَلَمَّا رَأَىٰ قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ ۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ۝ يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ۚ وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْبِكِ ۖ إِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ ۝﴾
یوسف [عليه السلام] وویل [چه داچه دکوم الزام اشاره ماته کوي بلکل دروغژنه ده بلکه معامله ددی برعکس ده] دی ماله دخپل مطلب لپاره غولولواو [دغه وخت] ددی ښځی دخاندان نه یوگواه [چه شیرخواربچئ وو اود یوسف [عليه السلام] په معجزې سره ئی خبری وکړی اوده په برائت سره ئی] شهادت وکړو [یعنی ددی بچی خبری کول د یوسف [عليه السلام] معجزه وه اددی دپاسه دویمه معجزه داشوه چه دی شیرخواری بچی یوه معقوله نښه وخوده عاقلانه فیصله ئی وکړه اووئی ویل] چه دده قمیص [وگورئ چه دکوم خای نه څیری دی] که دمخی نه څیری وي نوښځه رشتونی ده اودی دروغژن دی اوکه دغه قمیص دشانه څیری وي نوښځه دروغژنه ده اودی رشتونی دی پس کله چه [عزیز] دده قمیص دشانه څیری ولیدو [ښځی ته] ئی وویل چه داستاسودښځوچالاکی ده بیشکه ستاسودښځوچالاکی ډیری دغضب وي [بیا یوسف [عليه السلام] ته متوجه شواووئی ویل] ای یوسفه داخبره پریدئ [یعنی ددی شهرت یاخیال مکوه] او [ښځی ته ئی وویل چه] اي ښځی ته [د یوسف نه] دخپل قصورمعافی غواړه بیشکه سراسرقصوروارہ ته ئی.

Scanned with Ca

معارف او مسائل

تیرو شوؤ آیتونو کښې دابیان راغلې وو چې کله دعزیز مصر بی بی یوسف عليه السلام لره په ګناه کښې دا خته کولو کوشش کولو او یوسف عليه السلام دې نه د ځان ساتلو په تکل کښې وو خو فطری او غیر اختیاری خیال په کشمکش کښې هم وو. الله ﷻ د خپل ښکلی پیغمبر عليه السلام د مدد دپاره د معجزې په طور څه داسې څیز رامخې ته کړو چې هغه غیر اختیاری خیال ئې هم د هغوئ عليه السلام د زړه نه اوښکلو. دغه څیز یا خو د یعقوب عليه السلام شکل مبارک ښکاره کیدل کیدې شی یا د وحی الهی څه آیت نازلیدل کیدې شو.

تیر شوې آیت مبارك کښې دا خودلې شوی دی چې په دغه خلوت خانه کښې د برهان ربی په لیدو سره هلته نه په منډه شو او بهر وتلو دپاره دروازې ته ورروان شو ، د عزیز مصر بی بی وریسې ورمنډې کړې ، د روستنو نه ئې د هغوئ عليه السلام قمیص مبارك اونیولو او د بهر وتلو نه ئې دهغوئ عليه السلام ایسارول اوغوښتل خو هغوئ عليه السلام ایسار نشو ځکه ئې قمیص مبارك په دغه کشمکش کښې اوشلیدو ، یوسف عليه السلام دروازې نه بهر شو ، زلیخا بی بی هم وریسې شوه ، په تاریخی روایتونو کښې راغلی دی چې زلیخه بی بی دغه دروازه تالا کړې وه خو کله چې یوسف عليه السلام دروازې ته اورسیدو نو دغه تالا پخپله پرانستې شوه او راغورزیده.

دواړه چې په دې شان بهر راؤوتل نو هلته عزیز مصری مخامخ ولاړ وو ، د هغه بی بی اوویریدله او دځانه ئې خبره جوړه کړه چې یوسف عليه السلام ئې بدنام کړو. وې وئیل چې څوك ستا بی بی سره د بدکارئی اراده اوکړی نو دهغه سزا ددې نه سوا څه کیدې شی چې هغه بندیوان کړې شی یا بله سخته سزا ورکړې شی ؟

یوسف عليه السلام د پیغمبرئ د شرافت په بنا اول نه د هغې راز نه ښکاره کولو خو هر کله چې بی بی بدنامولو کښې وړاندې شوه نو د مجبورئ نه ئې حقیقت ښکاره کړو چې [هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَّفْسِي] هم دې زما نه ددې تقاضا کوله! په دې بنا معامله ډیره نازکه شوه چې د ثبوت او ګواهئ هیڅ صورت نشو پاتې کیدې. خو الله ﷻ چې څنګه خپل غوره بندګان د ګناه نه ساتی او هغوئ لره پاك ساتی ، دغه شان په دنیا کښې هم هغوئ په معجزانه طور سره د شرمیدونه لرې ساتی. په داسې موقعو باندې دداسې ماشومانو نه کار اخستې شوې دې چې هغوئ لا د خبرو کولو هم نه وو. دغه شان ماشومان الله تعالی راګویا کړی او د بندګانو صفائی او پاکدامنی ئې پرې پیش کړې ده. لکه کله چې په مریم باندې خلقو تور پورې کړې نو الله تعالی عیسی عليه السلام په دغه موقعه راګویا کړو. حالانکه هغوئ لا دیوې ورځې وو. په دې شان سره دهغوئ عليه السلام د مور بی بی پاکدامنی هم بیان شوه چې د الله ﷻ د قدرت یوه خاص نخښه وه. دغه شان د بنی اسرائیلو په یو بزرګ جریج باندې کله چې د یو لوئې سازش تر مخه تور پورې کړې شو نو یو داسې ماشوم د هغه صفائی پیش کړه چې لا اوس اوس پیدا شوې وو. کله چې موسی عليه السلام باندې د فرعون شك پیدا شو نو الله ﷻ موسی عليه السلام لره د فرعون د لاس نه په دې شان محفوظ کړو چې د هغې ښځې تازه پیدا شوې ماشوم ئې ګویا کړو کومې چې به دفرعون د بی بی ویښته سمول.

Scanned with Ca

د عبدالله بن عباس رضي الله عنه او د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې يوسف عليه السلام په دې واقعه کښې يو وړوکې ماشوم الله ﷻ ګويا کړو چې ډيرې هوښيارۍ او دحکمت ډکې خبرې ئې شروع کړې. د اماشوم ددغې کور په څانګو کښې پروت وو د چا ګمان کيدې شو چې دغه ماشوم به ددوئ حرکتونه وينې او په دوئ پاندې به پوهيږي او په کوم انداز سره به ئې بيانوي ؟

مګر قادر مطلق پخپلې فرمانبردارئ کښې د محنت کوؤنو شان ښکاره کولو دپاره دنيا ته ښائې چې ددنيا ذره ذره دهغه پټ پوليس دي چې مجرمان ښه پيژني او دهغوئ د جرمونو ريکارډ ساتي چې د ضرورت په وخت ئې ښکاره کوي ، د حشر په ميدان کښې کله به چې دحساب ،کتاب په وخت انسان دخپلې د زور عادت په بناکله به چې د خپلو جرمونو نه انکار کوي نو دهغوئ لاسونه ، پښې ، څرمن درودديوال به ددوئ پخلاف ګواهئ ورکولو دپاره راپورته کړې چې يو يو حرکت به ئې د محشر د عظيم الشان جمع په وړاندې پرانستې کيږدي ، دغه وخت به انسان ته معلومه شي چې د انسان ، لاسونه ، پښې او د کور درودديوال او حفاظتي انتظامات يو هم ددهٔ خپل نه وو ، بلکه دا ټول د رب العزت پټ کارکنان وو.

خلاصه داده چې دا وړوکې ماشوم په څانګو کښې ددنيا د هر څيز نه په ښکاره بې خبره پروت وو ، د يوسف عليه السلام د معجزې په طور ، خالص په هغه وخت کښې ګويا شو کله چې عزيز مصر هم په دې واقعه کښې وارخطا شوې وو.

ددغه ماشوم د خلې نه په دغه وخت داخبره کول هم کافي ګواهي او معجزه ګنړلې شوه چې يوسف عليه السلام بې ګناه دې او قصور دزليخې بي بي دې. بيا هم الله ﷻ ددغې ماشوم دخلې نه يو حکيمانه خبر راؤخيژوله چې د يوسف عليه السلام قميص که د وړاندې طرفنه شليدلې وي نو زليخه بي بي رښتونې ده او يوسف عليه السلام دروغژن کيدې شي ، او که د ورستو نه شليدلې وي نو په دې سوا ددې نه بل هيڅ احتمال نشي کيدې چې يوسف عليه السلام تښتيدو او زليخې بي بي د دوئ ايسارول غوښتل.

دا يو داسې خبره وه چې د ماشوم د وينا د عاجزه کولو نه علاوه پخپله د هر يو په پوهه کښې راتلې شوه اوکله چې د خودلې شوې نخښې مطابق قميص د روستو نه شليدلې اوليدلې شو نو ديوسف عليه السلام بې ګناهي د ظاهري نخښو نه ښکاره شوه.

د يوسف عليه السلام د شاهد تفسير مونږ په دې شان بيان کړې دې چې دغه يو وړوکې ماشوم وو او الله ﷻ ورته د معجزې په طور ګويائي ورکړې وه دادرسول کريم ﷺ د يوحديث پاك نه ثابته ده کوم چې امام احمد په خپل مسند ابن حبان رحمه الله پخپل کتاب صحيح او حاکم په مستدرك کښې نقل کړ و او صحيح حديث ئې ورته وئيلې دې . ددغې حديث پاك الفاظ داسې دی چې الله ﷻ څلورو ماشومانو ته په څانګو کښې ګويائی ورکړې ده ، دا څلور هغه دی ت کومو بيان چې لږ شان وړاندې اوکړې شو ، [مظهری].(١)

او په څينې روايتونو کښې د شاهد نور تفسيرونه هم نقل کړې شوی دی ، خو ابن جرير رحمه الله ابن کثير رحمه الله وغيره د تفسير امامانو روميې تفسير غوره ګرځولې دې .

(١) تفسير المظهری تحت هذه الآية ج:۵ص: ۱۵٦ ، والمستدرک للحاکم رقم الحديث: ۳۷۹۴، کتاب التفسير ، تفسيرسورة التحريم ابن حبان ، رقم الحديث:۲۹٦٦ ، کتاب الجنائز باب ماجاء في الصبر الخ.

Scanned with Ca

احکام او مسئلې:: دې آيتونو نه څو ضروري مسئلې او احکام راوځي.

يو دا چې [وَاسْتَبَقَا الْبَابَ] نه معلومه شوه چې چرته په يو ګناه کښې داخته کيدو خطره وي دغه ځائې پرېښودل پکار دي څنګه چې يوسف ﷺ دغه ځائې نه په منډه بهر اووتو او ددې ثبوت ئې ورکړو.

دويمه مسئله داده چې د الله ﷻ د حکمونو په ځائې راوړلو کښې په انسان لازم دي چې ترخپله وسه پورې په کوشش کښې کمی نه کوی، خواه ددې ظاهري نتيجه هر څنګه راوځي. نتيجې د الله ﷻ په لاس کښې دي، د انسان کار دادې چې خپل محنت او طاقت د الله ﷻ په لار کښې اولګوي او د خپلې بندګئ ثبوت ورکړي، لکه چې يوسف ﷺ د دروازو نه بهر ته وتلو دپاره منډه کړه سره ددې چې تاريخي روايتونو مطابق ټولو دروازو ته تالې لګيدلې وې، په داسې صورت کښې د الله ﷻ د طرفه په اکثرو خپل وختونو مشاهده کيږي چې کله بنده پوره کوشش اوکړي نو الله تعالى ورته دکاميابئ اسباب هم برابر کړي، څنګه چې مولانا رومي ؒ په دې مضمون باندې ارشاد فرمائيلې دې:

گرچه رخنه نيست عالم راپديد خيره يوسف وارمی بايددويد

[په داسې صورت کښې که چاته ظاهري کاميابي هم نه ښکاري نو بنده دپاره داناکامی هم دکاميابئ نه کمه نه ده]

گرمرادت رامذاق شکر هست نامرادی نے مرادِ دلبراست

يو بزرګ عالم به قيدخانه کښې وو، دجمعې په ورځ به ئې د خپل وس مطابق غسل کولو، او خپلې جامې به ئې وينځلې، جمعې دپاره به ئې ځان تيارولو او د قيد خانې دروازې پورې به ورتلو، هلته په رسيدو به ئې عرض اوکړو چې يا الله ﷻ ازما وس هم دومره وو، وړاندې ستا اختيار دې د الله ﷻ د عام رحمت نه څه لرې نه وه چې دهغه په کرامت سره د جيل دروازه بيرته شوې وې او هغه به دجمعې مونځ اداکړې وې ليکن الله ﷻ پخپل حکمت سره دغې بزرګ ته هغه لوړ مقام ورکړو چې په هغې باندې زرګونه کرامتونه دې قربان وی اګر چې دهغه په دغې عمل سره د قيدخانې دروازه به نه بيرته کيدله خو بيا هم هغه پخپل کار کښې مرانه او نه بائيله او هره جمعه ئې په مخه هم دغه عمل جاري اولرلو، دا هغه استقامت دې چې بزرګانو صوفيانو ددې مرتبه د کرامت نه زياته لوړه بللې ده.

دريمه مسئله:: دريمه مسئله ترې دا ثابته شويده چې د يو غلط پورې کړې تور نه د ځان صفائي پيش کول د پيغمبرانو ﷺ سنت طريقه ده، دا څه توکل يا بزرګي نه ده چې دغه وخت په چپ پاتې کيدو سره خپل ځان مجرمان ثابت کړي.

په دې آيتونو کښې څلورمه مسئله د شاهد ده، په فقهي عامو معاملاتو او مقدماتو کښې ددې مراد هغه څوک کيدې شي چې جګړې په يو معامله کښې د خپلو سترګو څه ليدلې واقعه بيان کړي. خو په دې واقعه کښې کوم ماشوم ته چې شاهد وئيلې شوی دی هغه خو نه څه واقعه بيان کړې ده او نه ئې دهغه په باره کښې د خپلو سترګو څه ليدل کتل بيان کړي دي بلکه دفيصلې کولو يو صورت ته ئې اشاره کړې ده چې په اصطلاح کښې ورته شاهد نشي وئيلې مګر ښکاره خبره داده چې دا ټولې اصطلاح ګانې روستنو علماء کرامو او فقهاء کرامو د پوهولو دپاره اختيار کړې دي، د قرآن عظيم الشان اصطلاح ګانې نه دي او نه هغه ددې پابند

دي ، قرآن عظیم الشان دلته دغه ماشوم ته شاهد په دې لحاظ سره وئیلی دی چې ځنګه د شاهد په بیان سره د معاملې صفا کول آسانیږي او د یو فریق په حقه باندې کیدل ورسره ثابتیږي . ددغې ماشوم د بیان نه هم دغه فائده حاصله شوه چې په اصل کښې خو ددهٔ معجزانه ګویائي د یوسف عليه السلام د بې ګناهۍ دپاره شاهد و ه ، او بیا دهغه خودلې نخښې هم په اصل کښې د یوسف عليه السلام د بې ګناهۍ ثبوت وو ، ځکه دا وئیل صحیح شو هغه د یوسف عليه السلام په حق کښې ګواهي ورکړه ، حالانکه هغه یوسف عليه السلام نه ریښتونې اونه وئیلو بلکه دواړه احتمالونه ئې بیان کړي وو ، او د زلیخې بی بی ریښتونی کیدل ئې په یو داسې صورت کښې هم په فرضي طور سره منلی وو چې په کښې دهغې ریښتونی کیدل یقیني نه وو بلکه بل احتمال هم په کښې موجود وو ، ولې چې د وړاندې نه د قمیص شلیدل په دواړو صورتونو کښې کیدې شي او د یوسف عليه السلام ریښتونې کیدل ئې صرف په داسې صورت کښې منلی وو چې په کښې بلکل بل احتمال کیدې نشو ، لیکن په آخر کښې ددې حکمت عملي نتیجه دا هم وه چې دیوسف عليه السلام بري کیدل ثابت شي .

پنځمه مسئله: پنځمه مسئله په دې آیت مبارك کښې داده چې مقدمو اود جګړو په فیصلو کښې د قرینو او نخښو نه کار اخستې شي ځنګه چې دغې شاهد د روستو نه د قمیص شلیدل ددې نخښه ګرځولې وه چې یوسف عليه السلام تښتیدلو او زلیخې نیولو ، په دې معامله کښې په دومره خبره خو ټول فقهاء کرام متفق دي چې د معاملاتو د حقیقت په پیژندګلو کښې د نخښو او قرینو نه دې ضرور کار واخستې شي ځنګه چې دلته اوشو البته صرف نخښنې او قرینې د کافي ثبوت په درجه کښې نشي راتلې . د یوسف عليه السلام په دې معامله کښې حقیقت دادې چې د هغوئ عليه السلام د بې ګناهۍ ثبوت خو دادې چې یو ماشوم په معجزانه انداز کښې په هر حال تر دې پورې چې دا ثابته شوه چې کله زلیخې بی بی په یوسف عليه السلام باندې الزام اولګولو نو الله ﷻ یو ماشوم ګویان کړو او د هغه په خله ئې دا حکیمانه فیصله صادره کړه چې د یوسف عليه السلام قمیص دې اوکتلې شي که د روستو نه شلیدلې وي نو دا ددې خبرې ښکاره نخښه ده چې هغوئ تښتیدل او زلیخې بی بی نیولو ، او یوسف عليه السلام بې قصوره دې.

ددې آیتونو مبارکو ځینې په دوؤ آیتونو کښې دابیان شوی دی چې یو ماشوم په دغسې شان خبرو کولو نه عزیز مصر په دې پوهه شوې وو چې د یوسف عليه السلام د بې ګناهۍ ښکاره کولو دپاره د عادت په خلاف داصورت راپیښ شوې دې . بیا د هغه ماشوم د وینا په جوړ چې دیوسف عليه السلام قمیص هم د روستو نه شلیدلې شوې اولیدلې شو نو یقین ئې اوشو چې قصور هم د زلیخې بی بی دې او یوسف عليه السلام بې ګناه دې ، ځکه ئې رومبې زلیخې بی بی ته داسې اووئیل چې : [إِنَّهُ مِن كَيْدِكُنَّ] [دا ټول ستاسو دښځو مکرو فریب دې] چې خپله غلطي اوګناه د بل په سر اچوئې ، بیا ئې اووئیل چې د ښځو مکر او فریب ډیره لویه ده چې ترې وتل او په دې باندې پوهیدل څه آسان کار نه دې ، ولې چې ددې ښکاره اړخ چې ترې نرم او نازك او کمزورې وي چې لیدونکې پرې یقین ساتي . خو هرکله چې عقل او دیندارئ ئې کمه وینو په اکثرو وختونو کښې دا یو قسم مکر او فریب وي [مظهري].(۱)

(۱) تفسیر المظهري تحت هذه الآية ج:۵ص:۱۵۷

Scanned with Ca

تفسیر قرطبی کښې د ابی هریره رضي الله عنه روایت دې چې رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چې د ښځو فریب او مکر د شیطان د فریب او مکر نه زیات دې ولې چې الله ﷻ د شیطان د فریب په باره کښې دا فرمائیلی دی چې هغه ضعیف دې . [اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا]

او د ښځو د فریب په باره کښې الله ﷻ فرمائی چې [اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ](۱) دا ښکاره خبره ده چې دې نه مراد ټولې ښځې نه دی بلکه هم هغه ښځې ترې مراد دی کومې چې په مکر او فریب کښې اخته وی . عزیز مصر چې زلیخې ته د هغې غلطی په ګوته کړه بیا ئې یوسف علیه السلام ته اووئیل چې [يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا] [ائې یوسف علیه السلام ! ته دې واقعې پسې مخه مه اوړه او چاسره ددې ذکر مه کوه ځکه چې دا دشرم خبره ده] بیا ئې زلیخې بی بی ته اووئیل : [وَاسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۚ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ] [یعنی ټوله غلطی هم ستاده ، ته دخپلې غلطئ معافی غواړه] دې نه په ظاهره دا مراد دی چې هغه دې د خپل خاوند نه معافی اوغواړی ا دا معنی ئې هم کیدې شی چې د یوسف علیه السلام نه دې معافی اوغواړی چې دخپلې غلطئ تور ئې په هغوئ علیه السلام پورې کړو .

فائده: دلته په دې خبره هم ژور نظر کول دی چې هر کله خاوند د خپلې بی بی په خیانت او بې حیایئ باندې خبر شو او بیا هم په جوش کښې رانغلو ، او ښه په آرام او تسلئ سره ئې خبرې کولې نو دا د انسانی فطرت نه خلاف د تعجب خبره ده .

امام قرطبی رحمه الله فرمائی چې ددې یوه وجه دا هم کیدې شی چې عزیز مصر څوك بې غیرته انسان وی ، او دا هم کیدې شی چې څنګه الله ﷻ دا انتظام کړې وو چې یوسف علیه السلام لره ئې د ګناه او شرمیدو نه په غیر عادتی طور اوساتلو دغه شان داانتظام ئې هم اوکړو چې په دغه موقعه باندې ئې عزیز مصر ته غصه ور نه وسته ګنی کیدې شوه(۲) چې د هغه د لاس یا ژبې نه څه خطرناك حرکتونه شوې وو یوسف علیه السلام ته ئې څه بدنی یا روحانی تکلیف رسولې وې کنځلې ئې ورته کړې وې یا بدردئې ورته وئیلې وې یا ئې وژلې وې، په اصل کښې دادالله تعالی د قدرت کرشمې دی چې قدم په قدم دحق دتابعدارو حفاظت اوساتنه کوی .[فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ]

دې پسې یوه بله واقعه د ابیان شوې ده چې سره ددې دومره احتیاط او بندوبست نه بیا هم دا خبره په درباری ښځو کښې خوره شوه ، د عزیز مصر د بی بی په باره کښې ملامتی او بدرد وئیل شروع کړل ، څینې مفسرینو فرمائیلی دی چې دا پنځه ښځې وې کومې چې د عزیز مصر د نزدې افسرانو بیبیانې وې ، [قرطبی] (۳)

دې ښځو داسې وئیل شروع کړل چې ګورئې ، څومره د حیرانتیا او تعجب خبره ده چې د عزیز مصر بی بی پخپل غلام باندې عاشقه شوې ده ، حالانکه د ډیر اوچت سرې بی بی ده ، دا خو ددې دپاره ډیره ناروا او دګمراهئ خبره ده ، آیت مبارك کښې [فَتٰىهَا] فرمائیلې شوی دی ، د [فَتٰى] معنی نوې ځوان ده ، کله چې د غلام وړوکې هلك وی نو غلام ورته وئیلې شی چې ځوان

(۱) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة ج:۹ص:۱۷۵

(۲) تفسیر القرطبی ج:۹ص:۱۷۵

(۳) تفسیر المظهری ج:۵ص:۱۵۷، و تفسیر القرطبی ،ج:۹ص:۱۷۶

شي نو لتی نر ته او فتاة ښځې ته وئیلې شی ، دلته یوسف ﷺ ته د زلیخې بی بی غلام ځکه اووئیلې شو چې عموما د خاوند ځیزته هم دښځې وئیلې شی، یا په دې وجه چې زلیخې بی بی هغوئ ﷺ لره دخپل خاوندنه دبخښیش یا ډالۍ په طور خپل ځان دپاره حاصل کړې وو [قرطبی] (۱)

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتٰهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ

اواووئیل ښځو|په ښار کښې|چې ښځه دعزیز [دمصر]|غولول غواړی|غلام خپل|ددهٔ دنفس [دحفاظت نه]

په ښار کښې ښځو وینا شروع کړه|چې دعزیز مصر ښځه خپل مریې دخپل مطلب دپاره غلوی

قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا

چې عاشق شوې دې زړه د هغې| د هغه په محبت کښې| بیشکه مونږه| خامخاوینو هغې لره

دهغه په مینه کښې ډیره لیونۍ شوې ده|مونږ وینو ګوروچې هغه په ښکاره ګمراهۍ کښې ده| چې هغې

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ

په ګمراهۍ| ښکاره کښې |نوهرکله چې| واوریدو هغې| مکردهغوئ |نو اولیږو هغې| هغوئ ته

دنورو ښځو د مکرنه ډکې خبرې واوریدې| نو هغوئ ئې [دوډۍ له] راوغوښتې| اوهغوئ ته ئې

وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا

او تیارئې کړو|دپاره دهغوئ|[تکیه دار]مجلس |او ورئې کړه| هرې یوې ښځې ته |دهغوئ نه| چاړه

تکیه ګانې کیخودې |او هرې یوې ته ئې چاړه[په لاس کښې] ورکړه |اوکله چې هغوئ میوې پرېکولې

وَّقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَيْنَهٗ اَكْبَرْنَهٗ

اووې وئیل| راوخه په هغوئ | نوهرکله چې | اولیدوهغوئ هغه لره | نو حیرانې شوې

[نو] وې وئیل چې [ائې یوسف ﷺ] لږ ورته رامخامخ شه| نوکله چې هغوئ حضرت یوسف ﷺ

وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

اوپرې ئې کړل |لاسونه خپل |اووې وئیل |پاکی ده الله لره |نهٔ دې دا | انسان | نهٔ دې دا مګر ده

اولیدو |نو هک بک پاتې شوې| اوخپل لاسونه ئې [دحیرت په وجه] غوڅ کړل |اودائې اووئیل چې سبحان الله

مَلَكٌ كَرِيْمٌ ۝ قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ

یوه فرښته | عزتمنده | اووئیل هغې| پس دادې[ائې ښځو]| هغه[ځلمې]| چې ملامته کوئ تاسو ما لره

داخو بنی آدم نهٔ ښکاری |داخو بس یو نورانی فرښته ده |دعزیز ښځې اووئیل چې [اومو کتل] داستاسو

فِيْهِ ؕ وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَلَئِنْ

په باره ددهٔ کښې | اوپه تحقیق | وغولولو ما دې |ددهٔ د نفس[د حفاظت]نه|خو دهٔ ځان اوساتو|اوکه چرې

هغه زلمې دې|چې ددهٔ په باره کښې مو په ماپسې خبرې کولې|اوبیشکه مادې خپل ځان ته راوغوښتو|خو دهٔ رانه

(۱) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة ج: ۹ ص: ۱۷۷

Scanned with Ca

لَّمْ يَفْعَلْ مَآ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُوْنًا

اونه کړوده | هغه کار | چې زه ئې حکم کوم ده ته | نو خامخا به قید کړې شی دې | او خامخا به شی دې

خان بچ کړو | او که اوس هم ده زما حکم اونه منلو | نو خواه مخواه به جیل ته او غورزولې شی | او ډیر بې

مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ۝ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِمَّا يَدْعُوْنَنِيْٓ

د ذلیلانو نه | اووئیل یوسف | ائې ربه | قید خانه | ډیره غوره ده | ماته | د هغې کار نه | چې دوئ رابلې ما

عزته به شی | هغه اووئیل چې ائې زما پروردګاره | جیل مې د هغې کار نه زیات خوښ دې | کوم ته چې

اِلَيْهِ ۚ وَاِلَّا تَصْرِفْ عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ ۝

هغې ته | او که اونه ګرځول تا | زمانه | مکرونه د دوئ | نو زه به مائله شم | دوئ ته | اوشم به زه | د جاهلانو نه

دوی ما راغواړی | او که تا زما نه د دوئ فریبونه لرې نه کړل | نو زه به دوئ ته مائله شم | او په نا پوهه خلقو

فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۭ اِنَّهٗ

نو قبوله کړه دعا | د هغه | رب د هغه | نو وې ګرځول | د هغه نه | مکرونه د هغوئ | بیشکه هغه

کښې به شمیر شم | نو د هغه پروردګار د هغه دعا قبوله کړه | او د هغوئ د مکر او فریب نه ئې بچ کړو هغه

هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا

خاص هم هغه | اوریدونکې دې | په هر څه پوهه دې | بیا | ښکاره شوه | هغوئ ته | اروستو د هغې نه

ذات دهر چا آوریدونکې | او په هر څه پوهه دې | بیا هغوئ ته د ښکاره ثبوت لیدلو نه پس هم دا

رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ ۝

چې اولیدلې هغوئ علامې | چې خامخا په قید کښې واچوی هغه | د څه وخته پورې

مصلحت ښکاره شو | چې تر یوې مودې پورې دې [یوسف ﷺ] په قید کښې واچوی..................

آسان ترجمه قرآن

او ښار کښې څه ښځو ووئیل چه : د عزیز ښځې د خپل ځوان نوکر نه مطالبه کړې ده ددې ځوان محبت دې لره عاشقه کړې ده — او مونږ په خیال کښې خو دا په ښکاره ګمراهۍ کښې مبتلا ده. نو کله چه دې (د عزیز مصر ښځې) د هغه ښځو مکر واوریدو نو هغې ورته پیغام اولیږلو او هغوی ئې (خپل کور ته) راوبللې او هغوی ته ئې تکیاګانې تیارې کړې ، او هرې یوې ته ئې چاقو ورکړو او (یوسف ته ئې) ووئیل چه : بهر راوځه دوی ته نو کله چه دې ښځو یوسف اولیدو نو دې ئې انتهائی (ښکلی) ومونډلو ، او (د هغه د حسن نه دومره حیرانې شوې) چه لاسونه ئې کټ کړل اووې وئیل چه حاشالله ! دا کس انسان نه دې ، دا دیو عزتمندې فرښتې نه سوا نور څوک نه شي کیدې د عزیز ښځې ووئیل چه : اوس وګورئ ! دا هغه کس دې چه د هغه په باره کښې تاسو څه ملامته کړې ووم ، او دا خبره رښتینې ده چه ما خپل مطلب حاصلولو دپاره ده نه مطالبه کړې وه ، خو دې بچ شو — او که ده ځما په خبره عمل ونکړو نو دې به ضرور قید کولې شي ، او دې به خوار او ذلیل وي. یوسف دعا اوکړه چه : اې ځما ربه ! دا ښځې چه ما ته د کومې خبرې دعوت راکوي د هغې په مقابله کښې جیل ما ته غوره دې او که تا څه د دوی د چلونو نه ونه ساتلم نو ځما

زړه په هم دوی طرف ته مائله شي، اوکوم خلق چه جاهلان دي هغوی کښې به څه هم شامل شم نو د یوسف (علیه السلام) رب د هغه دعا قبوله کړه او هغه یې د دوی د فریبونو نه وساتلو. بې شکه هغه د هرې خبرې آوریدونکې او په هر څه پوهیږي. بیا دې خلقو (د یوسف علیه السلام د پاکوالي) ډېرو نښو کتلو نه وروستو دا مناسب وګنړل چه ده لره یوې مودې پورې جیل ته واچوي.

خلاصه تفسیر:

﴿وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتَاهَا عَن نَّفْسِهِ ۖ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ۖ إِنَّا لَنَرَاهَا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾ اوښځوکومې چه په ښارکښې اوسیدې داخبره وکړه چه دعزیزښځه یې خپل غلام دخپل [ناجائز] خواهش حاصلولولپاره غولوي[څومره کمینه حرکت دی چه په غلام مینه کیږي]ددې غلام عشق ددې په زړه کښې ځای نیولې دی مونږخودابشکاره غلطۍ کښې وینو.

﴿فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۖ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ﴾ پس هرکله چه دی ښځې ددې ښځوبدګوئي[خبرې]واوریدې نودچاپه لاس ئې دوی راوبللې[چه ستاسودعوت دی] او ددوی لپاره ئې مسندتکئې ولګولې او[هرکله چه دوی راغلې اومختلف قسم خوراکونه ئې ورته کیښودل اومیوې ئې حاضرې کړې چه بعضې څیزونه پکښې په چاقوسره دپرې کولو او خوړلو وو په دې وجه]هرې یوې ته ئې په دوی کښې یویوچاقو[هم] ورکړو[کوم چه په ظاهرکښې دمیووپرې کولوبهانه وه اواصل مقصدهغه وه کوم چه مخکښې راغې چه دوی بدحواسه شي خپل لاسونه پرې کړي]او[داټول سامان ئې برابرکړو یوسف[علیه السلام]ته کوم چه یوبل ځای کښې وو]وویل چه لږدوی ته مخامخ خوراشه[یوسف[علیه السلام]داونګڼله چه څه صحیح غرض به وي بهرراغئ]پس ښځوچه ولیده نو[دده ښائست ته]حیرانې شوې، او[پدغه دوران کښې ئې] خپل لاسونه پرې کړل[په چاقوانوئې میوې پرې کولې چه یوسف[علیه السلام]ئې ولیدونوداسې بدحواسه شوې چه لاسونه ئې ورسره غوڅ کړل]اوونې ویل چه په الله پناه داخوسړی هرګزندې دا خوځوك بزرګه فرشته ده.

﴿قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ ۖ وَلَقَدْ رَاوَدتُّهُ عَن نَّفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ الصَّاغِرِينَ﴾ دغې ښځې وویل نو[وګورئ]هغه سړی دادی دچاپه باره کښې چه تاسو ما ملامته کوئ [چه دخپل غلام سره مینه کوې]اوواقعی چه ما دده نه دخپل مطلب د حاصلولو کوشش کړی وومګر دی پاك صاف پاتې شواو[بیائې یوسف[علیه السلام]ته واورولو اودهمکې ئې ورکړه چه]که آئنده څماخبره ونه منې[لکه چه تراوسه پورې ئې نده منلې]نوبیشکه جیلخانې ته به ولیږلی شي اوبې عزته به شي [دغوښځوهم یوسف[علیه السلام]ته وویل چه تاته دخپل محسن نه دومره لاپرواهې ندهپکار دې چه درته څه وائې خبره ئې منه].

﴿قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ۝ فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ یوسف[علیه السلام]داخبرې واوریدې چه داټولې خوددې په ډله دی نودالله نه ئې] سوال وکړوچه ای څماربه کوم[ناجائز]کارطرف ته چه داښځې مابلې ددی نه خوجیلخانه ماته بهتره ده اوکه ته ددوی دامکر اوفریب څمانه منع نکړې نوزه به دوی طرف ته مائل شم او د ناپوهانو کار به وکړم پس دده دعاء دده رب قبوله کړه اودی ئې د

Scanned with Ca

دغو ښځو د مکر او فريب نه لرې کړو بيشکه هغه [د دعاګانو] اوريدونکی [او د دی د حالاتو] ښه پيژندونکی دی.

﴿ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ﴾ [بيا د يوسف [عليه السلام] د پاکدامنئ] د مختلفو نښو دليدونه پس [په دی سره پخپله خوددوی پوره يقين راغلی وو مگر په عوامو کښی چرچا شوی وه ددی دختمولو په غرض سره] دغو خلقو ته [عزيز او دده متعلقينو ته] دا مصلحت معلوم شو چه دی تريو وخته پوری په قيد کښی وساتی.

معارف او مسائل

[فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ] [چې هغې دنورو ښځو د مکرنه ډکې خبرې واوريدې] نو هغوئ ئې [دودئ له] راوغوښتې] دلته زليخې بی بی ددغې ښځو خبرو کولو ته مکر او دهوکه اووئيله ځکه چې هغوئ به زليخې بی بی پسې دا خبرې په پټه کولې حالانکه په ښکاره خو دا څه مکر نه وو.

[وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً] [| اوهغوئ ته ئې تکيه ګانې کيخودې] [وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا] [او هرې يوې ته ئې چاړه [په لاس کښې] ورکړه اوکله چې هغوئ ميوې پريکولې] مګر اصلي مقصد ئې هغه وو دکوم بيان چې اوس داسې راروان دې چې د يوسف ﷺ په ليدو به دوئ وارخطاشی او ميوو په ځائې به خپلې ګوتې پريکړی.

[وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ] [نو] وې وئيل چې [ائې يوسف ﷺ! لږ ورته را مخامخ شه] هر کله چې يوسف ﷺ ته ئې دغه اصلي مقصد د ورانئ معلومه نه وو ځکه ئې بهر ته تشريف راوړو.

[فَلَمَّا رَاَيْنَهٗۤ اَكْبَرْنَهٗ وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ] [نو کله چې هغوئ حضرت يوسف ﷺ اوليدو [نو هک بک پاتې شوې] اوخپل لاسونه ئې [د حيرت په وجه] غوڅ کړل] او دائې اووئيل چې سبحان الله دا خو بنی آدم نهٔ ښکاری [دا خو بس يو نورانی فرښته ده] مطلب ئې دا وو چې داسې نورانی فرښته کيدې شی بنيادم نشی کيدې.

[قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ؕ وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَلَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ مَاۤ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ] [دعزيز ښځې اووئيل چې [اومو کتل] دا ستاسو هغه زلمې دې [چې دده په باره کښې مو په ما پسې خبرې کولې] او بيشکه ما دې خپل ځان ته راوغوښتو [خو دهٔ ځان بچ کړو] او که اوس هم دهٔ زما حکم اونهٔ منلو [نو خواه مخواه به جيل ته اوغورزولې شی] او ډير بې عزته به شی]

دغې ښځې چې اوليدل چې زما راز خو ښکاره شوې دې ښځو ته ځکه هم د دوئ په مخکښې ئې په يوسف ﷺ غصه اوکړه. ځينې مفسرينو ليکلی دی چې په دغې موقعه دغې ټولو ښځو هم يوسف ﷺ ته اووئيل چې دې ښځې تاسره نيکی کړې ده ځکه ئې خبرې منلو کښې څه چيرا ونه کړو.

د قرآن عظيم الشان د ځينې راتلونکو [يَدْعُوْنَنِيْۤ] او [كَيْدَهُنَّ] الفاظو نه هم ددې تائيد کيږی ځکه چې دا الفاظ د جمع دی.

کله چې يوسف ﷺ اوکتل چې دغه ښځو هم د زليخې بی بی ملګرتيا او تائيد اوکړو او ددغې نه ورسره د خلاصيدو څه ظاهری انتظام نهٔ ؤ، ځکه ئې الله ﷻ ته په دې شان توجه اوکړه چې:

[رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِمَّا يَدْعُوْنَنِيْۤ اِلَيْهِ ۚ وَاِلَّا تَصْرِفْ عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ] [هغه اووئيل چې ائې زما پروردګاره [جيل مې د هغې کار نه زيات خوښ دې [کوم ته چې دوی ما راغواړی] او که

Scanned with Ca

تا زما نه د دوئ فريبونه لرې نهٔ کړل[نو زهٔ به دوئ ته مائله شم][او په تا پوهه خلقو کښې به شمير شم] يوسف ﷺ چې قيدخانه خوښه کړه ، ددې مطلب د قيد او بند خواهش کول نه وو بلکه دگناه په مقابله کښې دغې دنيوى مصيبت لره آسان گنړل دی ، ځينې روايتونو کښې راغلى دى چې کله يوسف ﷺ په قيدخانه کښې واچولې شو نو داالله تعالى د طرفه ورته وحى اوشوه چې تاپخپله خپل ځان قيدى کړو ځکه چې سوال دې کړې وو.

[رَبِّ السِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ] که تا دپوره آزايدو دعا کړې وې نو هم دغه شان به شوى وو دې نه معلومه شوه چې يو لوئې مصيبت نه د آزاديدو په دعا کښې داسې مناسب نه دى چې فلانى ورکوتى مصيبت کښې مې اخته کړې بلکه د هر مصيبت او آزميښت نه د بالکل خلاصيد دعا کول پکار دى. ځنگه چې رسول کريم ﷺ يو کس لره د صبر د دعا کولو نه ځکه منع کړو چې په دې شان سره د صبر دعا کول په مصيبت او آزميښت باندې راضى کيدل دى ، په دې موقعه رسول کريم ﷺ دا هم اوفرمائيل چې د صبر د دعا غوښتلو په ځائې د هر مصيبت نه د خلاصيدو دعا کوه [ترمذى] (١)

د رسول کريم ﷺ ترهٔ عباس رضى الله عنه يو ځل رسول کريم ﷺ نه د دعا د خودلو خواست اوکړو ، رسول کريم ﷺ اوفرمائيل چې د خپل رب نه د عافيت دعا کوئى . عباس رضى الله عنه څه موده پس ترې بيا دغه خواست اوکړو ، رسول کريم ﷺ ورته اوفرمائيل چې الله ﷻ نه ددنيا اوآخرت د عافيت سوال کوه ، [مظهرى از طبرانى] (٢)

يوسف ﷺ دا اوفرمائيل چې که ته رانه د دوئ مکر وفريب دفع نه کړې نو کيدې شى چې زه د دوئ طرفت ورمات شم. داسې سوال کول د پيغمبرئ د پاکوالى سره بې سمونه نه دى ځکه چې ددې مطلب هم دادې چې الله ﷻ دې په تکوينى شان سره ددغې گناه نه زما دخلاصولو انتظام اوکړى ، بله خبره داده چې د پيغمبرئ د تقاضا مطابق يوسف ﷺ ته دا مقصد د ړومبې نه هم حاصل وو مگر بيا هم د زيات ادب او ويرې په وجه داسې دعا کولو باندې مجبوره شو.

دې نه يوه خبره معلومه شوه چې هيڅوك د الله ﷻ د مدد نه بغير ، د گناه نه نشى بچ کيدې . دا هم ترې معلومه شوه چې د هرې گناه کار د جهالت نه کيږى ، د علم تقاضا داده چې د گناه نه ځان اوساتلې شى [قرطبى] (٣)

[فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنۡهُ كَيۡدَهُنَّۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝] [نو دهغه پرودرگار دهغه دعا قبوله کړه [اودهغوئ د مکراو فريب نه ئې بچ کړو هغه ذات دهر چا آوريدونکې [او په هرڅه پوهه دې] الله تعالى ددغې ښځې،دچال نه د يوسف ﷺ د ساتلو انتظام اوکړو چې د عزيز مصر او دهغه دوستانو اکر چې د يوسف ﷺ د بزرگئ تقوئ او پاکوالى د ښکاره نخښو په ليدو سره د يوسف ﷺ په پاکوالى يقين کړې وو مگر په ښار کښې دغه واقعه خوره شوې وه چې دهغې د اثر ختمولو دپاره ورته دا ښهٔ ښکاره شوه چې څه زمانې دپاره يوسف ﷺ په قيد خانه کښې واچولې شى ، او پخپل کور کښې ددغې شبهو څه موقعه هم پاتې نشى او د خلقو ژبې هم ددې خبرو کولو نه بندې شى لکه فرمائى چې :

(١) جامع الترمذى ابواب الدعوات باب منه : ج:٢ص : ١٩٢، ١٩٣.
(٢) تفسير المظهرى ج:٥ص : ١٦٠
(٣) تفسير القرطبى تحت هذه الآية ج:٩ص : ١٨٥.

[ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ ۝] [بيا هغوئ ته د ښکاره ثبوت ليدلو نه پس هم دا مصلحت ښکاره شو | چې تر يوې مودې پورې دې [يوسف ﷺ] په قيد کښې واچوی]

وَدَخَلَ	مَعَهُ	السِّجْنَ	فَتَيٰنِ ۭ	قَالَ	اَحَدُهُمَآ	اِنِّيْٓ	اَرٰىنِيْٓ

اوننوتل | دهغه سره | قيدخانې ته | دوه غلامان | اووئيل | يو دهغوئ دواړونه | بيشکه زه | وينم خان خپل

اوجيل ته ورسره نور دوه خلمي [مريان] داخل شو [يوه ورځ] يو اووئيل چې [په خوب کښې] زه ګورم چې

اَعْصِرُ	خَمْرًا ۚ	وَقَالَ الْاٰخَرُ	اِنِّيْٓ	اَرٰىنِيْٓ	اَحْمِلُ	فَوْقَ رَاْسِيْ

چې نچوړوم | شراب | او اووئيل | هغه بل | بيشکه زه | وينم خان خپل | چې بار کړې مې ده | د پاسه | دسر خپل

دانګورو نه شراب نچوړوم | او بل اووئيل چې زه [په خوب کښې] څه ګورم چې ډوډۍ مې [په

خُبْزًا	تَاْكُلُ	الطَّيْرُ	مِنْهُ ۭ	نَبِّئْنَا	بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ	اِنَّا	نَرٰىكَ

ډوډۍ | چې خوری | مارغان | دهغې نه | خبر کړه موږ | په تعبير ددې | بيشکه موږه | وينو تا لره

طباخ کښې] په سر ايخودې ده | چې مرغۍ ترې [په ټونګو ټونګو] خو راکونه کوی | موږ ته ددې

مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝	قَالَ	لَا يَاْتِيْكُمَا	طَعَامٌ	تُرْزَقٰنِهٖٓ

دنيکانو خلقونه | اووئيل يوسف | چې نه راځی تاسو ته | خوراك | چې درکولې شی تاسو ته

[خوبونو] تعبيرونه اوښايه [ته موږ ته ښه سړې ښکارې] هغه ورته اووئيل چې تاسو ته کوم رزق درکولې شی

اِلَّا	نَبَّاْتُكُمَا	بِتَاْوِيْلِهٖ	قَبْلَ	اَنْ يَّاْتِيَكُمَا ۭ

مګر خبر به درکړم زه تاسو ته | په تعبير دهغې سره | مخکښې | دراتلو دهغې خوراك نه تاسو ته

هغه به لا تاسو ته نه وی راغلې | چې څه به درته د هغې تعبير اوښايم ....

ذٰلِكُمَا	مِمَّا	عَلَّمَنِيْ	رَبِّيْ ۭ	اِنِّيْ	تَرَكْتُ	مِلَّةَ

دا تعبيرستاسو | دهغه علم نه دې | چې ښودلې دې ماته | رب زما | بيشکه ما | پرېښودی ده | طريقه

دا په هغې علمونو کښې يو علم دې | چې خپل پروردګار راته خودلی دی | [ماخو لا پخوا] دهغې کسانو

قَوْمٍ	لَّا يُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ	وَهُمْ	بِالْاٰخِرَةِ	هُمْ	كٰفِرُوْنَ ۝

دهغه خلقو | چې هغوئ ايمان نه راوړی | په الله | او هغوئ | د آخرت نه | هم هغوئ | انکار کونکی دی

مذهب پرېخودې دې | چې په الله ﷻ باندې باور نه ساتی | .... او د آخرت نه منکر دی

وَاتَّبَعْتُ	مِلَّةَ	اٰبَآءِيْٓ	اِبْرٰهِيْمَ	وَاِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ ۭ	مَا كَانَ لَنَآ

او تابعداری کړې ده ما | د طريقې | د پلار نيکه خپل | چې ابراهيم | او اسحاق | او يعقوب دی | نه ښائی موږ لره

او زه د خپل پلار نيکه ابراهيم ﷺ، او اسحاق ﷺ او يعقوب ﷺ د مذهب تابعداری کوم

اَنْ نُّشْرِكَ	بِاللّٰهِ	مِنْ شَيْءٍ ۭ	ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ	عَلَيْنَا	وَعَلَى النَّاسِ

چې شريك کړو | د الله سره | څه څيز | دا د فضل د الله نه دی | په موږ باندې | او په ټولو انسانانو باندې

موږ سره نه ښائی چې د الله ﷻ سره څه څيز شريک کړو | دا په موږ باندې او په [ټولو] خلقو

Scanned with Ca

وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ۝ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ

خو ليكن | زيات خلق | شكر نه اوباسى | ائي دوارو ملګرو زما دقيد | آيا ډير خدايان

باندې دالله ﷻ فضل دې | خو اكثر خلق احسان نه مني | ائي زما د قيد خانې ملګرو | تاسو په خپله اووائى چې

مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ

جدا جدا | بهتر دى | يا الله | يو | چې غالب دې په ټولو | نه كوئ تاسو عبادت | ماسوا دالله نه

جدا جدا معبودان ښهٔ دى | كه يو اخې يو غالب الله ﷻ | تاسو چې د الله ﷻ نه سوا د نورو كومو بتانو

اِلَّآ اَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا

مګر | ديو څونومونو | چې ايښى دى هغه | تاسو | او پلارانوستاسو | نه دې نازل كړې | الله | په [عبادت] دهغوئ

عبادت كوئ | نو هغه صرف نومونه دى | چې تاسو او ستاسو پلرونو دځان نه ايخودى دى | الله ﷻ دهغې هيڅ

مِنْ سُلْطٰنٍ ۭ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ۭ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا

څه دليل | نشته اختيار دحكم كولو | مګر | الله لره دې | هغه حكم كړې دې | چې مهٔ كوئ عبادت تاسو دهيچا

دليل سند نهٔ دې رالیږلې | حكومت خو بس صرف دالله حق دې | هغه دا حكم كړې دې | چې بې دهغه نه

اِلَّآ اِيَّاهُ ۭ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

مګر | خاص هم دهغه | دادې | دين | نيغ [برحق] | خو ليكن | زيات خلق | نهٔ پوهيږى

د بل هيڅ چا عبادت مهٔ كوئ | هم دغه سم پوخ دين دې | خو زيات خلق نهٔ پوهيږى

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ

ائي ملګرو زما | دجيل | هر چې دې | يو په تاسو دواړو كښې | نو څښوى به | په رب خپل | شراب

ائي زما د قيدخانې ملګرو | ستاسو دخوبونو تعبير دادې چې | په تاسو كښې به يو كس [په كار اولګى او] خپل مالك

وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ۭ قُضِيَ الْاَمْرُ

او هر چې دې | دا بل | نو په سولئ به كړې شى | نو خورى به | مارغان | دسرد هغه نه | شوې ده | فيصله

باندې به شرابونه څښوى | او بل چې دې نو هغه به پانسى شى | او مرغئ به ئې دسر نه غوښې [په ټونكو ټونګو]

الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ۝ وَقَالَ لِلَّذِيْ ظَنَّ

هغه | چې په هغې كښې | تپوس كولو تاسو زمانه | او وې وئيل | هغه كس ته | چې خيال وو دهغه

خورى | دكوم خوب په باره كښې چې تاسو زما نه پوښتنه كوله د هغې جواب اوشو | او په دواړو كښې چې ئې د

اَنَّهٗ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِيْ عِنْدَ رَبِّكَ ۡ فَاَنْسٰىهُ

چې بيشكه هغه | خلاصيدونكې دې | ددې دواړونه | چې ياد كړه ما | په نيز د مالك خپل | نو هير كړل دهغه نه

چا د خلاصى ګمان كولو | هغه ته ئې او وئيل | چې خپل مالك ته زما ذكر اوكړه | خو شيطان د هغه نه

الشَّيْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ ۝

شيطان | يادول خپل مالک ته | نو وخت تير كړو [يوسف] | په جيلخانه كښې | يو څو كلو نه

دخپل مالک په مخكښې يادول هير كړل | نو [يوسف ﷺ] څو كاله په جيل كښې پاتې شو

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

او ديوسف سره دوه نور ځوانان جيل ته داخل شو دي کښې يو (يوسف ته يو ورځ ووئيل) چه: څه خوب کښې خپل ځان لره وينم چه شراب نچوړوم. او دويم ووئيل چه څه (خوب کښې) داګورم چه ما خپل سر باندې ډوډئ اوچتې کړې دی (او) مارغان د هغې نه خوري — لږ مونږ ته ددې تعبير بيان کړه. مونږ ته ته نيك سړې ښکاري يوسف ووئيل: کوم خوراك چه تاسو ته (جيل کښې) درکولې شي، هغه به هم لا نه وي راغلې چه زه به تاسو ته ددې حقيقت بيان کړم دا د هغه علم حصه ده چه ما ته ځما پروردګار را کړې ده (خو دې نه مخکښې ځما يو خبره واورئ) خبره دا ده چه ما د هغه خلقو دين پريښودې دې چه په الله باندې ايمان نه لري او چه د آخرت نه منکر دي او ما د خپل پلارانو ابراهيم، اسحاق او يعقوب د دين تابعداري کړې ده — مونږ ته دا حق نشته چه مونږ دالله سره څه څيز هم شريك کړو دا (د توحيد عقيده) په مونږ او په ټولو خلقو دالله د فضل حصه ده، ليکن اکثر خلق (ددې نعمت) شکر په نه ادا کوي اې ځما د جيل ملګرو! آيا ډير جدا جدا خدايان بهتر دي، يا هغه الله چه د هغه قدرت په ټولو باندې دي؟ دهغه نه سوا چه دچا تاسو عبادت کوئ دهغوی حقيقت د څو نومونو نه سوا نشته چه تاسو او ستاسو پلارنيکه وربانديې اېښودې دی الله د دوی په حق کښې هيڅ دليل نه دې رالیږلې حاکميت دالله نه علاوه چا ته نه دې حاصل — هغه دا حکم کړې دې چه د هغه نه سوا د بل چا عبادت مه کوئ — دا مضبوط دين دې، ليکن اکثر خلق نه پوهيږی اې ځما د جيل ملګرو! (اوس د خوبونو تعبير واورئ) تاسو کښې د يو معامله خو دا ده چه هغه به دجيل نه آزاد شي او خپل مالك باندې به شراب څکوی، پاتې شو دويم نو هغه به پهانسي کړې شي، ددې په نتيجه کښې به مارغان د ده د سر (راشو کوی او) خوری به ئې د کومې معاملې په باره کښې چه تاسو تپوس کړې وو د هغې فيصله (دغه شان) شوې ده. د دوی دواړو نه د کوم په باره کښې چه دهغه داګمان وو چه دې به آزاد شي، هغه ته يوسف (عليه السلام) ووئيل چه: خپل مالك ته ځما يادګيرنه هم وکړه بيا وشول دا چه شيطان د هغه نه دا خبره هيره کړه چه د يوسف يادګيرنه خپل مالك ته وکړي. نو هغه څوکاله جيل کښې پاتې شو.

خلاصه تفسير

﴿وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ۚ قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ۭ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ۝﴾ اود يوسف [عليه السلام] سره [په دغه زمانه کښې] نور هم دوه غلامان دبادشاه جيل ته داخل شو [يو پکښې ساقي اودويم باورچي روټئ پخونکی وو، او ددوی دقيدوجه شبهه وه بادشاه ته دزهروورکولو په طعام اوشراب کښې مقدمه ئې زيرتحقيق وه خکه قيدشول کله چه دوی په يوسف [عليه السلام] کښې دبزرګئ نښې وليدلې نو] يو په دوی کښې يوسف [عليه السلام] ته ووئيل چه څه خپل ځان په خوب کښې [داسې] وينم چه شراب نچوړوم يعنې د انګورو شيره نچوړوم اوپه بادشاه ئې څکوم] اوبل ووئيل چه څه خپل ځان داسې وينم چه [لکه] په سر روټئ وړم [او] مارغان ترې [په ټونګوټونګو] خوري مونږته ددې خوب [کوم چه مونږ ليدلې دی] تعبير وښايه ته مونږ ته نيك سړې ښکاری.

Scanned with Ca

﴿قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا ۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي ۚ إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ۝﴾ یوسف [علیه السلام] چه هر کله داولیدل چه داخلق په عقیده سره ماته مائل شویدي نووئی غوښته چه دوی ته دټولونه مخکی دایمان دعوت ورکړی شی په دی وجه ئی اول خپل نبوت په یوی معجزی سره دثابتولودپاره] وفرمائل چه[وګوری]کوم خوراك چه تاسوته راځی[جیل کښی]زه ددی دراتلونه مخکی ددی حقیقت تاسوته ښایم[چه فلانی شی به راځی اوداسی داسی به وي او]داخودل ددی علم په وجه دی کوم چه ماته خمارب ښودلی دی[ماته په وحی سره معلومیږی نودایوه معجزه ده چه دلیل دنبوت دی اوداوخت دغه معجزه ځکه مناسب وه چه په کومه واقعه کښی بندیانوده طرف ته رجوع وکړه دتعبیر لپاره دغه واقعه هم دخوراك سره متعلق وه.دنبوت ثابتولونه بعداوس مخکی دتوحید ثابتولومضمون بیانوي چه]ماخودهغه خلقومذهب[دمخکی نه]پریخودی دی کوم چه په الله ایمان نه راوړي اودغه خلق دآخرت نه هم منکردي.

﴿وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۚ مَا كَانَ لَنَا أَنْ نُشْرِكَ بِاللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ۝﴾ اومادخپلو[مشرانو]پلارنیکونومذهب اختیارکړی دی دابراهیم اوداسحاق اودیعقوب[علیهم السلام]اوددی مذهب غټ رکن دادی چه]مونږته په هیڅ شان مناسب ندی چه دالله سره څه شی [په عبادت کښی]شریك کړودا[دتوحیدعقیده]په مونږه او[نورو]خلقوباندی[هم]دالله تعالی یوفضل دی[چه پدی سره ددنیا اوآخرت فلاح اونجاح ده]لیکن اکثرخلق[دی نعمت] شکرنه [اداکوئ] یعنی [توحیدنه مني].

﴿يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝﴾ ای دقیدخانی ملګرو:[لږسوچ اوکړئ بیا اوائی چه دعبادت لپاره]جداجداخدایان غوره دی یا یو معبود برحق کوم چه دټولونه زبردست دی هغه ښه دی،تاسوخلق خوالله پریدئ فقط دیوڅوبی حقیقته نو مونو عبادت کوئ کوم چه تاسواوستاسو پلارانو او نیکونو[دخان نه] مقررکړیدي الله تعالی خو ددوی [د معبود کیدو]څه دلیل ندی رالیږلی[نه عقلی اونه نقلی او] حکم خاص دالله دی هغه داحکم کړی دی چه غیر دهغه نه دهیچاعبادت مکوئ داد [توحید او عبادت فقط الله ته مخصوص کولو]برابره طریقه ده لیکن اکثرخلق نه پوهیږي.

﴿يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا ۖ وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَأْسِهِ ۚ قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ ۝﴾[دایماندعوت اوتبلیغ نه پس اوس ددوی دخوب تعبیربیانوی چه]ای دجیل ملګروا په تاسوکښی به یوخو[دجرم نه بری شی]خپل مالك ته به [په زړه طریقه]شراب سکوی اودویم به[مجرم شي]په سولی به کړی شی اودده سربه مارغان په [ټونګوټونګو]وخوري او په کومه باره کښی چه تاسوتپوس کولوهغه دغه شان په تقدیرکښی مقررشوه [چنانچه دمقدمی دصفائی نه بعددغسی وشوچه یوبری ثابت شواودویم مجرم دواړه دجیلخانی نه راوغوښتلی شویودآزادئ لپاره اوبل دسزالپاره].

﴿وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ مِنْهُمَا اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ۝﴾ [هرکله چه دغه سړي دجیلخانی نه تلل نو]دکوم سړی دآزادیدوچه ګمان وو ده ته یوسف [علیه السلام]وویل چه خپل مالك ته خماذکروکړه[چه یوسړی بی قصوره په جیل کښی دی هغه وعده

وکړه] بیا دده دخپل مالك په مخکې [د يوسف [ﷺ] یادول شیطان هیرکړل نو[په دی وجه] په قیدخانه کښې نورهم څوکاله دی پاتې شو.

معارف او مسائل

دلته د یوسف ﷺ د قیصې په بحث کښې یوه بله قصه راغلې ده ، هسې خو تاسو ته بیا بیا معلومه شوه چې قرآن عظیم الشان څه تاریخی یا دقیصو کتاب نه دې ، په دې کښې چې چرته څه تاریخی قیصه بیان شوې ده ، دهغې نه به مقصد يواځې دا وی چې انسان ترې عبرت حاصل کړی . په ټول قرآن عظیم الشان کښې د بې شمیره پیغمبرانو ﷺ قیصې راغلی دی خو صرف د یوسف ﷺ قیصه په کښې لکه د زنځیر د کړو پشان په ترتیب سره بیان شوې ده . نورو ټولو مقاماتو کښې د هغې مناسب د تاریخی واقعې څه ضروری حصه بیان شوې ده .

د یوسف ﷺ په دې قصه کښې د انسانی ژوند د مختلفو دورونو دپاره ډیر ضروری هدایات شته دې ، ددې په بحث کښې راغلې دې واقعه کښې هم ډیر زیات هدایات موجود دی .

هرکله چې د یوسف ﷺ پاکوالی او بې ګناهی بالکل ښکاره شوه ، بیا هم عزیز مصر او دهغه بی بی د خبرې سرولو دپاره څه مودې دپاره یوسف ﷺ د دعا ا وخواهش مکمل کول وو ولې چې د عزیز مصر په کور کښې د اوسیدو په صورت کښې ورته خپل پاکوالئ قائم لرل سخته ګرانه شوې وه .

یوسف ﷺ سره دغه قیدخانې ته دوه نور مجرمان قیدیان هم ورغلی وو ، یو په کښې د بادشاه ساقی او بل ئې باورچی وو ، ابن کثیر رحمه الله د تفسیر د امامانو ﷺ په حواله سره لیکلی دی چې دا دواړه په دې وجه ګرفتار شوی وو چې په دوئ باندې بادشاه ته په خوراك کښې د زهر ورکولو الزام وو . ددغې مقدمې د تحقیق کیدو په دوران کښې دوئ قیدخانې ته د حوالاتیانو په صورت کښې لیږلې شوی وو.(۱)

یوسف ﷺ به د پیغمبرئ د شان مطابق د قیدخانې ټولو قیدیانو سره ، ا خلاقو ، ، رحمت او شفقت سره پیش راتلو ، د ټولو زړه به ئې ساتلو او دهغوئ خبر به ئې اخستو ، د بیمارانو عیادت او خدمت به ئې کولو غمژن او پریشانه خلقو ته به ئې تسلی ورکوله . د صبر کولو خودنه به ئې ورته کوله او د خلاصی امیدونو ورکولو سره به ئې د هغوئ زړونه غټول ، پخپله به ئې تکلیف تیرولو او نورو ته به ئې د آرام ورکولو فکر کولو ، او ټوله شپه به ئې د الله تعالی په عبادت کښې رونړوله . د هغوئ ﷺ دداسې حرکاتو په لیدلو سره د قیدخانې ټول قیدیان د هغوئ ﷺ د بزرګئ عقیدت مند شوی وو ، د قیدخانې افسر هم ترې پوره اثر اخستې وو ، ورته ئې وئیلی وو چې که ستاسو پریښودل زما په اختیار کښې وې نو ما به ته پریښودی وې ، اوس دومره کولې شم چې تاسو ته دلته څه تکلیف اونه رسی .

یو عجیبه فائده: کله چې د جیل افسر یا نورو قیدیانو یوسف ﷺ سره خپل عقیدت او مینه ښکاره کړه او وې وئیل چې مونږ درسره زیاته مینه لرونو یوسف ﷺ اووئیل چې الله تعالی دپاره ماسره مینه مه کوئی ولې چې کله هم ماسره مینه کړې شوې ده نو د هغې په وجه په ماباندې څه آفت راغلې دې . بابا جی راسره مینه کوله نو د رونړو دلاسه په کوهی کښې

(۱) تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآیة ج:۳ ص:۳۸۷.

Scanned with Ca

اوغورزولې شوم ، بيا غلام جوړ کړې شوم او بې وطنه کړې شوم ، د عزيز مصر بې بې راسره مينه اوکړه نو دادې قيدخانې ته راؤرسيدم [ابن کثير ، مظهرى] (۱)
يوسف ﷺ سره جيل ته ورغلى دوه قيدبانو يوه ورځ ورته عرض اوکړو چې تاسو راته نيک او صالح ښکارئى ، ځکه تاسو نه دخپلو خوبونو تعبير باره کښې تپوس کوو. ابن عباس ؓ او ځينې نورو امامانو د تفسير اوفرمائيل چې دا خوبونه هغوئ يقينا ليدلى وو. خو عبدالله بن مسعود ؓ فرمائى چې خوبونه ئې نه وو ليدلى بلکه ديوسف ﷺ بزرگى او ريښتينولى ئې معلومول غوښتل چې ددې آزميښت دپاره ئې خوبونه هسې د ځانه جوړ کړى وو.
بهر حال شاهى ساقى اووئيل چې ما خوب کښې اوليدل چې په انګورو نچوړولو سره شراب جوړوم ، هغه بل باورچى اووئيل چې په خوب کښې مې اوليدل چې خوب مې ليدلې چې په سر مې د روټو[ډوډئ] ټوکرئى ده چې مارغان ترې په راشوکولو سره خوراک کوى ، دغې دواړو خواست اوکړو چې مونږ ته ددې دواړو خوبونو تعبير اوښايئ.
يوسف ﷺ ددې په جواب کښې پيغمبرانه انداز اختيار کړو ، ړومبې ئې ورته تبليغ شروع کړو ، د ايمان د بلنې کارئې شروع کړو ، او د بلنې اصولو په مطابق دحکمت او عقل منډئى نه ئې کار وا خستو ، ټولو نه اول ئې دخلقو په زړونو کښې خپل اعتماد پيدا کولو دپاره د خپلې هغه معجزې يادګيرنه اوکړه چې تاسو ته ستاسو دکورونو يا دبل ځائې نه خوراکه راځى نو د هغې د رارسيدو نه وړاندې درته ښايم چې کوم قسم خوراکه ، څنګه څومره او څه وخت به درته راځى چې هم زما خبره صحيح خيژى .[ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي] دا څۀ د رمل جفر يا جادوګرئ کار نه دې بلکه زما رب راته د وحى په ذريعه ښائى چې زه يې تاسو ته بيانوم ، دا داسې يو ښکاره معجزه ده چې د پيغمبرئ دليل او د اعتماد يوه لويه ذريعه ده ، وروسې يې اول د کفر خرابى او د کفر د ملت څخه يې خپله بيزارى بيان کړه ، بيا يې دا ضباط کړه چې زه د نبوت دخاندان څخه يو کس او هم دهغوئ د حق ملت پابند يم او زما پلرونه ، نيکونه ، ابراهيم ﷺ ، اسحاق ﷺ او يعقوب ﷺ دى ، دا خاندانى شرافت هم عادةً د انسان د اعتماد پيداکيدو يوه ذريعه وى ، وروسې يې ورته دا اوښودل چې مونږ لره هيڅ شان سره جائز نه دى چې الله تعالى سره بل چالره دهغه په خدائى صفتونو کښې شريک اوګنړو او بيا يې اوفرمائيل چې د حق دين دا توفيق راکول په مونږ او په ټولو خلقو باندې خالص دالله تعالى فضل دې چې هغه راته د پوهې سلامتى راکړه او دحق قبلول يې ما دپاره آسان کړل خو ډير خلق ددې نعمت قدر نه کوى او شکر نه ادا کوى.
بيا يې هم ددغه قيديانو څخه تپوس اوکړو چې تاسو راته اوښايې که انسان د ډيرو خدايانو عبادت کوى هغه به ښۀ وى او که د يو الله تعالى عبادت کوى نو هغه به ښه وى ځکه هغه ډير غالب او قوت والا ذات دې. بيا د بت پرستئ خرابى يې په دې طريقې سره بيان کړه چې تاسو او ستاسو پلرونو او نيکونو څه بتان خپل خدايان جوړ کړى دى ، نه خو په هغوئ کښې دا صفات شته دې چې هغوئ ديو کمترين طاقت او مالکان اوګنړلې شى. ځکه چې په هغوئ کښې هيڅ حرکت نشته دې. دا د سترګو د ليدو حال دې ، ددوئ په حقله بله لار دا کيدشى

(۱) تفسيرابن کثيرتحت هذه الآية ج:۳ص:۳۸۸ و تفسير المظهرى تحت هذه الآية ج:۵ص:۱۶۲

Scanned with Ca

چې الله تعالى ددوئ د عبادت كولو دپاره څه احكام نازل كړي نو په داسې صورت كښې كه په ليدلو او په عقل سره ددوئ د خدايئ منلو څه خبره نشوه جوړيدې نو د الله تعالى د حكم په وجه بهٔ د عقل او ليدو خبرو ته كتلې شى او صرف د الله تعالى په حكم به عمل كولې شى. خو دې ځايې كښې دا هم نشته دې ځكه چې الله تعالى ددوئ په عبادت باندې هيڅ دليل او حجت نه دې نازل كړې ، بلكه هغه هم دا خودل چې حكم او حكومت د الله تعالى ځخه سوا د بل چا حق نه دې او حكم يې كړې دې چې دهغه ځخه سواد بل چا عبادت مه كوئ ، دا هغه مضبوط دين دې چې زما پلرونو ، نيكونوته د الله تعالى د طرفه وركړې شوې دې خو اكثر خلق په دې حقيقت باندې نه پوهيږي .

يوسف عليه السلام د خپل تبليغ او بلنې وركولو نه پس ددغې خلقو خوبونو ته مخه كړه ، او وې فرمائيل چې تاسو ځخه خو به يو خلاص شى ، په خپلې نوكرى به بيا قائم پاتې شى او بادشاه ته به شراب وركوى او په دغه بل به جرم ثابت شى ، او په سولئ به كړې شى ، او مارغان به هغه د غوښه په راشوكولو سره خورى .

د پيغمبرئ د شفقت يو عجيبه مثال: ابن كثير رحمه الله فرمائيلى دى چې اگر چې ددې دواړو خوبونو جدا جدا وو او د هر تعبير ځان ځان له ښكاره هم وو چې ساقى به برى كيږى او اشپز به په سولئ كيږى ، خو بيا هم د پيغمبرى شفقت او مهربانئ په وجه يې په نامه او نه وئيل چې فلانى نوم يا خوب سړې به په سولئ كيږى او د فلانى نوم يا خوب سړې به خلاصيږى .ددې وجه دا وه چې د اوسه ځايه په غم كښې اخته نشى . بلكه په اجمالې طريقې سره يې اوفرمائيل چې په تاسو كښې به يو خلاص شى او بل بهٔ په سولئ كړې شى .(١)

په آخر كښې يې اوفرمائيل چې ما ستاسو د خوبونو تعبير خالص په زبانى جمع خرچ او اندازې سره نه دې دركړې بلكه دا يو خدايئ فيصله ده چې ايساريدونكې نه ده كومو مفسرينو حضراتو چې ددوئ خوبونو ته په دروغه ا د ځانه جوړ كړى وئيلى دى ، هغوئ دا هم فرمائيلى دى چې هر كله يوسف عليه السلام د خوبونو دا تعبير بيان كړو نو دغې دواړو اووئيل چې مونږ خو څه خوب نه دې ليدلې صرف د ځانه مو جوړ كړى وو ، په دې باندې يوسف عليه السلام اوفرمائيل چې:
[قُضِيَ الْاَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ] [كه تاسو دا خوب په رښتيا بيان كړې وى او كه په دروغه خو كيږى به هم هغه شان چې ما درته په تعبير كښې اووئيل] يعنى په دروغه دخوب بيانولو كومه گناه چې تاسو اوكړه دهغې سزا په دنيا كښې هم هغه مقرر ده كومه چې درته ما بيان كړه . [ددې تصحيح پاتې ده

دخوب د تعبير تر مخه كوم سړې چې يوسف عليه السلام خلاصيدونكې گڼرلو ، هغه ته ئې اوفرمائيل چې كله ته آزاد شې او شاهى درباره ته لاړ شې نو خپل بادشاه ته زما يادگيرنه اوكړه چې زهٔ بې گناه قيد كړې شوې يم. خو دغه كس د آزاديدو نه پس د يوسف عليه السلام دا خبره ياده پاتې نشوه . دهغې په نتيجه كښې يوسف عليه السلام زياته موده په قيدخانه كښې پاتې شو. چې دلته د قرآن پاك په الفاظو كښې په [بِضْعَ سِنِيْنَ] سره ياد كړې شو. دا لفظ د دريو نه تر نهو كالو مودې دپاره استعماليږى . ځكه څينې مفسرينو فرمائيلى دى چې ددغې واقعې نه پس تر اووۀ كالو

(١) تفسير ابن كثير تحت هذه الآية ج:٣ ص:٣٩٠

Scanned with Ca

پورې په قيدخانه کښې پاتې شو.(۱)

احکام او مسئلې: دې آيتونو نه ډير احکام او مسائل، فائدې او هدايات حاصليږي، په هغې کښې غور اوکړئ.

رومبۍ مسئله: رومبۍ مسئله داده چې يوسف ﷺ د مجرمانو داستوګنې په ځائې کښې هم مجرمانو او بدمعاشانو سره داسې ښه اخلاق او چلول او ښه وخت ئې ورسره تير کړو چې د ټولو يې ځان ته په نيکو سره پام کړو، معلومه شوه چې مصلحانو لره ضروري دي چې مجرمانو او خطاکارو سره دې هم دهمدردۍ او شفقت معامله کوي چې دهغوئ ورسره تړون راشي او په نيکو ئې ورته مخه شي او په هيڅ وجه دهغوئ نفرت ترې پيدا نشي.

دويمه مسئله: [اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ] ددې نه معلومه شوه چې د خوب تعبير داسې خلقو نه پوښتل پکار دي چې د هغوئ په نيکوالي، صالح کيدو او همدردۍ باندې اعتماد کيدې شي.

دريمه مسئله: ددې نه معلومه شوه چې حق ته بلونکي او د خلقو اصلاح کوونکو دې خپل عمل داسې وي چې اول د خپلو ښو اخلاقو او علمي او عملي کمالاتو په ذريعه، په مخلوق خدا باندې خپل اعتماد قائم کړي، خواه په هغې کښې خپل کمالات ښکاره کول هم راپيښ شي، لکه يوسف ﷺ چې په دې موقعه باندې خپله معجزه هم بيان کړه او دائې هم ښکاره کړل چې زه د پيغمبرۍ د خاندان يو فرد يم. په دې شان خپل کمال ښکاره کول که د خلقو د اصلاح په نيت سره وي، خپله ذاتي لوئې ښکاره کول ترې غرض نه وي نو دا د خپل ځان هغه قسم پاکوالې بيانول نه ی چې په قرآن عظيم الشان کښې ئې داسې منع راغلې ده .[فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ] [د خپلې پاك نفسۍ او پاکوالي نندارې مه ورکوئ] [مظهري](۲)

څلورمه مسئله: د تبليغ او ارشاد اهم اصول دا خودلې شوي دي چې دبلونکي او اصلاح کوونکي فرض دادي چې هر وخت په هر حال کښې د بلنې او تبليغ خپله وظيفه او فرض دې د هر کار نه اول ګڼړي. ځوك چې د هر کار په غرض ورته راشي خو دې دې خپل اصلي کار نه هيروي لکه يوسف ﷺ ته چې دا قيديان د خوب د تعبير معلومولو دپاره راغلل نو يوسف ﷺ د خوب د تعبير جواب ورکولو نه اول د بلنې او تبليغ په ذريعه د لار خودنې او نيکۍ تحفه ورکړه، داسې مه ګڼړئ چې بلنه او تبليغ په يوه جلسه کښې يا په څه منبر يا ستيج دپاسه کيدې شي بلکه ځاني ملاقاتونو او ځاني خبرو اترو کښې دا کار زيات اثرناك ثابتيږي.

پنځمه مسئله: هم ددغې لار خودنې او اصلاح د کار سره تړون داسې لري چې خبره دې په داسې حکمت سره اوکړې شي چې د مخاطب په زړۀ کښې کيني لکه يوسف ﷺ چې هغوئ ته اوخودل چې ماته کوم کمال حاصل شو هغه ددې نتيجه ده چې ما د کفر ملت پريښو او د اسلام ملت مې اختيار کړو بيا ئې د شرك او کفر خرابۍ په زړه پورې انداز کښې بيان کړې.

شپږمه مسئله: شپږمه مسئله دادا چې کومه معامله مخاطب ته تکليف رسوي او په زړۀ ئې ښه نه لګي او ښکاره کول ئې ضروري وي نو څومره چې کيدې شي د مخاطب په مخکښې دې هغه داسې انداز کښې بيان کړې شي چې هغه ته کم نه کم تکليف اورسي لکه د خوب په تعبير کښې

---

(۱) تفسير ابن کثير تحت هذه الآية ج: ۲ ص: ۳۹۳
(۲) تفسير المظهري تحت هذه الآية ج: ۵ ص: ۱۶۳.

Scanned with Ca

چې د چا هلاکیدل په حصه وو بیا هم یوسف ﷺ هغه په ګوته نه کړو چې هم ته به په سولئ کولې شي. [ابن کثیر مظهری] ([1])

اوومه مسئله :: اوومه مسئله داده چې یوسف ﷺ د قید خانې نه د خلاصیدو په غرض هغه قیدی ته اووئیل چې کله بادشاه ته ورشې نو زما یادګیرنه هم ورته اوکړه چې زه بې ګناه په قید خانه کښې یم. دې نه معلومه شوه چې یو مصیبت نه د خلاصیدو دپاره چالره د کوشش واسطه جوړول د توکل نه خلاف نه دی.

اتمه مسئله :: اتمه مسئله داده چې الله ﷻ خپلو برګزیده پیغمبرانو ﷺ دپاره دخپل خلاصی دپاره هر جائز کوشش هم خوښ نه کړو چې هغه دې څوك انسان ددې ذریعه جوړه کړی ، د انبیاء کرامو ﷺ اصلی مقام دادې چې د الله ﷻ او خپل مینځ کښې بله څه واسطه جوړه نه کړی کیدې شی چې هم په دغه وجه د هغه خلاصدونکی بندی نه د یوسف ﷺ خبره هیره شوه او هغه په قیدخانه کښې څوکاله نور هم پاتې شو نو په یو حدیث پاك کښې رسول کریم ﷺ دې ته اشاره فرمائیلې ده. ([2])

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ

او اووئیل بادشاه | بیشکه ما | اولیدلې | اووه | غواګانې | څربې | چې خوری دې اووه غواګانو لره | اووه

او [یوه ورځ] بادشاه اووئیل چې زه [په خوب کښې] اوینم چې اووه څریدونکې غواګانې دی [چې نورې اووه تېږې

عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ ۖ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي

تېږې | او اووه | وږی | شنه | او نور | وچ | ائې درباریانو | تعبیر راکړئ ماله

غواګانې ئې خوری [او [دغلې] اووه شنه وږی دی | اونور [اووه] اوچ [وږی دی] | ائې

فِي رُؤْيَايَ إِن كُنتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ ۝ قَالُوا أَضْغَاثُ

په دې خوب زما کښې | که یئ تاسو | دخوبونو دپاره | تعبیر کونکی | اووئیل هغوئ | [دا] پریشانه

درباریانو ماته ددې خوب تعبیر اوښایئ [که تاسو دخوبونو تعبیرونه ایستې شئ [هغوئ ورته اووئیل چې دا

أَحْلَامٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ ۝ وَقَالَ الَّذِي نَجَا

خوبونه دی | اونهٔ یوموږ | په تعبیرونو | دپریشانه خوبونو | پوهیدونکی | او اووئیل | هغه کس | چې بچ شوې وؤ

پریشانه خوبونه دی [اوموږ دداسې خوبونو په تعبیرونو نهٔ پوهیږو [اوپه [دوارو قیدیانو] کښې څوک چې راخلاص

مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِ

دهغې دوارونه [او یاد راغئ هغه ته [روستو دډیرې مودې نه | زهٔ | [خبردرکوم تاسوته [په تعبیر ددې خوب

شوې وو [هغه اووئیل او ډیره موده پس ورته وریاد شوا چې څه درته په یو ساعت کښې تعبیر راوړم

فَأَرْسِلُونِ ۝ يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ

پس اولیږئ ما | ائې یوسف | ائې رښتینیه | خبرراکړه موږته | په اووه غواګانو کښې | چې څربې دی

ماته لږ شان اجازت راکړئ [ائې یوسف ؛ ائې رښتونیه موږ ته د یو خوب تعبیر اوښایه | چې اووهٔ

---

[1]) تفسیر المظهری ج: ۵ ص: ۱۴۳

[2]) مزید تفصیل دپاره اوګورئی تفسیر ابن کثیر ج: ۲۲ ص: ۳۹۱

يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّيْٓ

چې خوري هغوئ لره | اووه تپې غواګانې | او اووه | وږي | شنه | او نور | وچ | شايد چې زۀ

څربې غواګانې دی [او نورې اووۀ تپې غواګانې ئې [الګيادي] خوري | او اووۀ شنه وږی دی | او [ورسره]

اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ قَالَ تَزْرَعُوْنَ

واپس لاړ شم | خلقو ته | شايد چې هغوئ | پوهه شي | اوونيل يوسف | کرونده به کوئ تاسو

نور [اووۀ] اوچ وږی دی | چې زۀ خلقو ته واپس ورشم | شايد چې هغوئ هم پوهه شي | حضرت يوسف ﷺ ورته

سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِيْ سُنْۢبُلِهٖٓ اِلَّا

اووه | کاله | پرله پسې | نو هغه فصل | چې اوربئ تاسو | نو پرېږدئ هغه | په وږو خپلو کښې | ماسوا

اوونيل | چې تاسو به اووۀ کاله پرله پسې زمکه کرئ | نو چې کوم فصلونه اوربئ | نو هغه په وږو کښې پرېږدئ | خو

قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ۝ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ

دلږو | هغونه | چې تاسو ئې خورئ | بيا به راشي | روستو | د دې نه | اووه کاله | سخت

لږ مقدار چې کوم تاسو خورئ هغه پرېږدئ بيا به ورپسې اووۀ [د سوکړې] سخت کالونه راشي | چې

يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ اِلَّا قَلِيْلًا

چې اوبه خوري دا اووۀ کالونه | هغه غله | چې وړاندې نه [جمع کړې] ايښې وی تاسو | دپاره د دغه کلونو | ما سوا | د لږو

هغه څه به اوخوري | کوم چې تاسو دپخوا نه جمع کړې وی | مګر لږ

مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ۝ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِيْهِ

هغونه | چې تاسو ئې محفوظ ساتئ | بيا به راشي | روستو دهغې نه | يو کال | چې په هغې کښې به

مقدار چې تاسو [تخمونو دپاره] ساتلې وی | بيا به ورپسې داسې کال راشي چې په خلقو به ډېر

يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيْهِ يَعْصِرُوْنَ ۝ وَقَالَ الْمَلِكُ

فرياد اوريدې شي دخلقو | او په هغې کښې به | نچوړوی خلق | او اوونيل | بادشاه

بارانونه اووريږي او هغوی به [د انګورونه] شيرې نچوړوی | بادشاه حکم ورکړو چې يوسف ﷺ ما ته

ائْتُوْنِيْ بِهٖ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ

راولئ ماته هغه | نو هر کله چې | راغې هغه ته | استاذې | اوونيل يوسف | واپس لاړ شه

راولئ | هر کله چې استاذې هغوی له ورغئ نو يوسف ﷺ ورته اوونيل چې خپل آقا ته و اپس ورشه

اِلٰى رَبِّكَ فَسْــَٔلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ قَطَّعْنَ

رب خپل ته | او تپوس اوکړه دهغه نه | څه دې حال | دښځو | هغو | چې غوڅ کړی ئې وۀ

او تپوس ترې اوکړه | چې د هغې ښځو څه حال دې | چې خپل لاسونه ئې غوڅ کړی وو

اَيْدِيَهُنَّ ۭ اِنَّ رَبِّيْ بِكَيْدِهِنَّ عَلِيْمٌ ۝

لاسونه خپل | بيشکه | رب زما | په مکر دهغوئ | ښۀ خبر دی |

بيشکه زما پروردګار د هغوئ په فريبونو ښۀ پوهه دی |

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن

او (څو کاله وروستو د مصر) پادشاه (خپلو درباریانو ته) ووئیل چه: څه (خوب کښې) څه گورم چه اوه تازه غټې غواګانې دي چه هغې لره اوه ټيټې غواګانې خوري، او اوه وږي شنه دي، او اوه نور دي چه اوچ دي اې درباریانو! که تاسو ددې خوب تعبیر راویستې شئ نو ځما ددې خوب مطلب بیان کړئ — هغوی ووئیل چه: دا پریشانه غونډې خیالات (معلومیږي) دي، او مونږ د خوبونو د تعبیر دعلم نه خبر (هم) نه یو او دې دوه جیلیانو نه چه کوم آزاد شوی وو، هغه ته د ډیرې مودې نه وروستو (د یوسف) خبره یاده شوه هغه ووئیل چه څه تاسوله ددې خوب تعبیر راوباسم. نو ما (یوسف له) جیل ته ولیږئ (نو هغه جیل ته لاړو او یوسف ته ئې ووئیل): یوسفه! اې هغه سړیه چه د هغه هره خبره رښتینې وي اته مونږته ددې (خوب) تعبیر وباسه چه اوه غټې تازه غواګانې دي چه هغې لره اوه ټيټې غواګانې خوري، او اوه وږي شنه. او اوه وچ دي — کیدې شي چه څه خلقو ته واپس شم (او هغوی ته د خوب تعبیر بیان کړم) دِ دپاره چه هغوی دحقیقت نه خبر شي وسف ووئیل چه: تاسو به اوو کالو پورې مسلسل غله په زمکه کښې کرئ. دې دوران کښې چه کوم فصل کټ کوئ نو هغه په خپلو ښمبلو (وګو) کښې پریږدئ. البته لږه غونډې غله چه هغه ستاسو خوراك ته پکار راشي، (هغه وباسئ) بیا دې نه وروستو به په تاسو اوه کاله داسې راشي چه ډیر سخت به وي، اوکومه ذخیره چه تاسو دې کالونو دپاره کړې وي هغه به دوی وخوري، البته لږ غونډې حصه چه تاسو به هغه جمع کوئ (صرف هغه به بچ شي) بیا دِ نه وروستو به داسې یو کال راشي چه خلقو باندې به ښه باران ووشي، او دوی به دې کښې انګور نچوړوي، او پادشاه ووئیل چه: دهٔ لره (یعنې یوسف) ما ته راولئ نو چه کله دهٔ ته قاصِد راغلو نو یوسف ووئیل چه: خپل مالك ته واپس لاړ شه او د هغه نه تپوس وکړه چه د هغه ښځو څه حال دې چه هغوی خپل لاسونه کټ کړي وو؟ ځما پروردګار د هغوی د مکر نه ښه خبر دې.

خلاصه تفسیر:

﴿وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ ۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ أَفْتُونِى فِى رُءْيَٰىَ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ۝﴾ اودمصر پادشاه [هم یوخوب ولیدواودحکومت ارکان ئې جمع کړه ورته ئې] وویل چه زه[په خوب کښې]وینم چه اوه غواګانې څربې دي کومولره چه اوه خواري غواګانې خوري،اواوه ورې شنه دي اوددې نه علاوه اوه نوردي چه وچ دي اودغه اوه وږي دغه شان دهغه اووهٔ وږو شنو نه تاوشو هغه ئې وچ کړل]اې ددربارخلقوکه تاسو [دخوب] تعبیر ورکولې شئ نوماته ځماددې خوب تعبیر راکړئ.

﴿قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ۝﴾ هغوی وویل چه[اول خوداڅه خوب ندې چه ته ئې فکرکوې]هسې پریشانه خیالات دي او[دویم]مونږخلق [چه دحکومت په کارونوکښې ماهران یو]دخوبونودتعبیرعلم هم نه لرو[دوه جوابونه ئې ځکه ورکړل چه په اول جواب سره د بادشاه دزړه نه پریشاني اووسوسې لرې کول دي،اوپه دویم جواب سره خپل عذرظاهرول دي، لنډه داده چه اول خوداسې خوب دتعبیرقابل نه دې دویم مونږپه دې فن کښې ماهران نه یو].

﴿وَقَالَ ٱلَّذِى نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ۝﴾ اوپه دغو[مذکوره] دوه و قیدیانو کښې چه کوم آزادشوی وه[هغه په مجلس کښې حاضروو]هغه وویل اوډیرې مودې نه پس ده

Scanned with Ca

نه[د یوسف دوصیت]خیال راغی خه ددی دتعبیرخبرراوړم تاسوماته لږدتلواجازت راکړئ.
﴿یُوۡسُفُ اَیُّهَا الصِّدِّیۡقُ اَفۡتِنَا فِیۡ سَبۡعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ یَّاۡکُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٌ وَّسَبۡعِ سُنۡۢبُلٰتٍ خُضۡرٍ وَّاُخَرَ یٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّیۡۤ اَرۡجِعُ اِلَی النَّاسِ لَعَلَّهُمۡ یَعۡلَمُوۡنَ ۝ قَالَ تَزۡرَعُوۡنَ سَبۡعَ سِنِیۡنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدۡتُّمۡ فَذَرُوۡهُ فِیۡ سُنۡۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِیۡلًا مِّمَّا تَاۡکُلُوۡنَ ۝ ثُمَّ یَاۡتِیۡ مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِکَ سَبۡعٌ شِدَادٌ یَّاۡکُلۡنَ مَا قَدَّمۡتُمۡ لَهُنَّ اِلَّا قَلِیۡلًا مِّمَّا تُحۡصِنُوۡنَ ۝ ثُمَّ یَاۡتِیۡ مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِکَ عَامٌ فِیۡهِ یُغَاثُ النَّاسُ وَفِیۡهِ یَعۡصِرُوۡنَ ۝﴾ [نوددربارنه ورته اجازت وشواودی قیدخانی ته لاړویوسف ته ئی وویل] ای یوسفه ای رشتونیه ته مونږته ددی [خوب]جواب[یعنی تعبیر]راکړه چه اوه غواګانی څربی دي دوی لره اوه خوارو غوا ګانو وخوړي اواوه وږي شنه دي اوددی نه غیر[اوه]وچ دي[چه اوچ دهغوشنونه تاؤشوهغه ئی هم وچ کړل ته ددی تعبیروروایه]چه زه [چاچه رالیږلی یم]هغوی ته بیرته لاړشم[اوبیان ئی کړم] ددی لپاره چه په دي تعبیر اوپه دی سره ستاحال]دوی ته هم معلومه شي [دتعبیرموافق کاروکړی اوستادخلاصئ څه صورت راووخی]دوی وفرمائیل چه [ددی اوه څربوغواګانواوه شنو وږونه مرادپیداوراودباران کلونه دی پس] تاسو اوه کاله متواتو[ښه]غله وکرئ بیاچه کوم فصل وریبئ هغه په وږوکی پریدئ[چه چینجي پکښی نه لګی]مګرلږشان کوم چی ستاسودخوراك په کارراځی[دغه به دوړونه وباسل وی] بیا به ددی [اووکلونه] نه پس اوه کلونه داسی سخت[اودقحط]راشي په کوم کښی چه به دا[ټوله] ذخیره وخورئ کومی لره چه تاسوددی کلونولپاره جمع کړی وي مګرلږشان کوم چه[دتخم لپاره] پریدئ [هغه به البته بچ کړئ [اوددی اوه وږووچواوخواروغواګانونه اشاره دی اوه کلونوطرف ته ده] بیاددی [اوه کلونه]نه پس یوکال به داسی راشی چه خلقوته به پکښی ښه باران وشي اوپه دی کښی [ددی په وجه چه انګوربه پکښی زیات وي] شیره[دانګورو]به هم نچوړوئ [اوشراب به څکئ].
﴿وَقَالَ الۡمَلِکُ ائۡتُوۡنِیۡ بِهٖ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوۡلُ قَالَ ارۡجِعۡ اِلٰی رَبِّکَ فَسۡئَلۡهُ مَا بَالُ النِّسۡوَةِ الّٰتِیۡ قَطَّعۡنَ اَیۡدِیَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّیۡ بِکَیۡدِهِنَّ عَلِیۡمٌ ۝﴾ غرض دغه سړئ داتعبیردربارته ورساوه]او[لاړوبیان ئی کړو]بادشاه[چه واوریدونودده دعلم اوفضل معتقدشواو]حکم یئ اوکړوچه دی ماته راولئ[نوقاصدورپسي روان شو]بیاچه هرکله ده ته قاصدورسیدو[اوپیغام ئی ورکړونو]ده وفرمائل چه[ترڅوپوري څماددی تهمت نه بری کیدل اوبی قصوره کیدل ثابت نشي څه نه ځم]نوخپل بادشاه ته واپس شه بیادهغه نه تپوس وکړه چه [تاسوته څه خبرشته چه]دهغوښځوڅه حال دی کوموچه خپل لاسونه پری کړی وو[مطلب داووچه دوی راوبلی اوددی واقعی په کومه کښی چه څه قیدشوی یم تفتیش اوتحقیق وکړئ اودښځودحال نه مراددوی دیوسف[علیه السلام]دحال نه خبریدل یانه خبریدل دي،اوددی ښځوتخصیص نی شایدچه په دي وجه کړی وي چه ددوی په مخ کښی زلیخی اقرارکړی وو: [وَلَقَدۡ رَاوَدۡتُّهٗ عَنۡ نَّفۡسِهٖ فَاسۡتَعۡصَمَ ؕ](۱)]څمارب ددی ښځود ډلي فریب ډیرښه پیژنی [یعنی الله تعالی ته خومعلومه ده چه دزلیخی په ماتهمت لګول فریب وه مګردخلقوپه مخکی هم ددی صفائی مناسب ده،نوچنانچه بادشاه دغه ښځی حاضري کړې]

معارف او مسائل

په دې آیتونوکښې د ابیان شوی دی چې بیا الله تعالی د یوسف علیه السلام د بند نه خلاصولو دپاره د غیبونه دایو صورت پیدا کړو چې د مصر بادشاه یو خوب اولیدو چې په هغې سره بادشاه

(۱) او واګې ما دهغه نه خپل مطلب حاصلولو خواهش کړې وو خو دا پاك صفا پاتې شو.

Scanned with Ca

پریشان شو د خپل حکومت تعبیر اوښکوني او جوګیان یې راجمع کړل اود خوب تعبیر یې ترې تپوس اوکړو ، په دغې خوب څوك نه پوهیدل بلکه ټولو داسې جواب ورکړ چې : [أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ] اضغاث د ضغث جمع ده ، معنی یې داسې یو ګیډۍ ده چې د مختلف قسمه وښو او خشاك څخه جوړ شوې وی ، معنی یې دا شوه چې دا ګډه وډ خوب دې ، خیالات په کښې شامل دی چې مونږ ددغې خوبونو په تعبیر باندې نه پوهیږو ، که خوب صحیح وې نو مونږ به یې تعبیر بیان کړې وو.

په دغه موقعه دغه خلاص شوی قیدیانو کښې یو کس ورمخکښې شو او د خوب د تعبیر بیانولو ذمه داری یې واخسته . داسې یې اووئیل چې په قید کښې یو داسې قیدی دې چې هغه د خوبونو دتعبیر ښه ماهر دې او بې ګناه په قیدخانه کښې بندی دې . تاسو ما ته اجازت راکړئ چې هغه څخه د خوب د تعبیر تپوس اوکړم بادشاه ورته ددې انتظام اوکړو هغه یوسف ﷺ ته ورغلو او قرآن کریم دا ټوله واقعه صرف په یولفظ د [فَأَرْسِلُونِ] یعنی ما اولیږئ سره بیان کړې ده ، د یوسف ﷺ یادګیرنه کول ، بیا سرکاری منظوری ، بیا قید خانې څخه راوتل ټول هر څه ددې په ضمن کښې راغلل ، ځکه چې په ښکاره ددې دبیانولو ضرورت او نه شو ګنړلې بلکه دې پسې بیان شروع شو چې :

[يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ] چې دغه سړې قیدخانې ته اورسیدو نوشروع د خبرو اترو یې داسې اوکړه چې اول د یوسف ﷺ د صدیق کیدو اقرار اوکړو ، وې وئیل چې تاسو ﷺ به قول او عمل دواړو کښې رښتونی یئ، بیا یې د خوب دتعبیر بیانولو خواست ترې اوکړو . او خوب بیانول یې ورته داسې شروع کړل چې بادشاه په خوب کښې اووۀ غټ غټ غوایان لیدلی دی چې اووۀ خوار غوایان هغې لره خوری ، اووۀ شنه او اووۀ اوچ وږی د غنمو یې لیدلی دی . چې خوب یې بیان کړونو وې وئیل چې: [لَّعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ] یعنی کله چې ستاسو ﷺ ښودلې شوې تعبیر دغې خلقو ته بیان کړم نو کیدې شی چې هغوئ ستاسو ﷺ د فضل اوکمالاتو څخه واقف شی.

په تفسیر مظهری[۱] کښې راغلی دی چې د عالم [دنیا] مثال صورتونه انسان ته په خوب کښې هم ښکاری ، ددغې دنیا د صورتونو خاص معنې وی ، خو د خوب صحیح تعبیر هغه خلق ویستلې شی چې په دې فن کښې ماهر وی ، هغوئ دا بیانولې شی چې د فلانی صورت مثالی نه دې په دې عالم کښې څه مراد کیدې شی ؟

الله تعالی دا فن یوسف ﷺ ته ډیر په لویه طریقه ورنصیب کړې وو هغوئ ﷺ ددې خوب په آوریدو سره په دې خوب پوهه شو چې د اووۀ څربو او چاکو غوایانو او شنو وږو د غنمو څخه مراد اووۀ ښه کالونه دی چې د زمکې څخه به پیداوار ډیربنه کیږی، ځکه چې د غلې او فصل په راټولو کښې غوایان هم ډیر اهمیت لری .

دغه شان د اوۀ خوارو او اووۀ وچو وږو د غنمو مراد یې دا بیان کړو چې د اوۀ آبادو کالونو څخه وروستو به اووۀ اوچ او د قحطۍ کالونه راځی ، د خوارو اوږۀ غوایانو او اووۀ څربو او چاکو غوایانو لره د خوړلو مراد یې دا بیان کړې دې چې دقحطۍ په اووۀ کالونو کښې به د

---

۱) تفسیر المظهری تحت هذه الآیة ج: ٥ص: ١٦٧.

آبادۍ د اووۀ کالونو ټول پیداوار اوخوړلې شی سوا د هغې پیداوار څخه چې د تخم کار به ترې اخستې شی.
د بادشاه دخوب څخه وروستو په ظاهره دا معلومیده چې اووۀ کاله به ښه پیداوار کیږی او وروستې اووۀ کاله بۀ د قحطۍ وی خو یوسف ﷺ په دې باندې یو اضافی خبره دا اوکړه چې د قحطۍ د اوۀ کالونو څخه وروستو به یو اتم کال کښې ښه بارانونه کیږی او پیداوار به ښه کیږی.
ددې علم یوسف ته څکه اوشو چې د قحطۍ کلونه په اوۀ ختمیدل چې دالله تعالی د عادت مطابق اتم کال به د ښې څوکالۍ آبادۍ او بارانونو کال وی ، قتاده رحمه الله فرمائیلی دی چې د وحی په ذریعه یوسف ﷺ په دې خبر کړې شو وو چې د خوب د خبر څخه اضافی خبر ورته هم اورسی.
په دغه وجه به د یوسف ﷺ فضل او کمال ښکاره شی ا وددوۍ د خلاصی سبب به جوړ شی ، زیاتی لا دا چې یوسف ﷺ د خوب په تعبیر ښودلو بانې بس والې اونه کړو بلکه دې سره یې یوه حکیمانه او همدردانه مشوره هم داسې ورکړه چې رومبو اووۀ کاالونو کښې اضافه شوې پیداوار په وږو کښې خوندی ساتۍ چې د زړیدو په وجه په کښې چینجی او نه لګی ، نو دا تجربه ده چې تر څو پورې غله پخپل وږی کښې وی نو په غله کښې چینجې نه لګی.
[ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ] [یعنی د رومبو اوو آبادو کالونو څخه وروستو اوۀ اوچ او د قحطۍ کالونه راځی چې رومبی خوندی کړې غله به خلق په کښې اوخوری] د کالونو د خوړلو څخه مراد د انسانانو او حیواناتو خوړل مراد دی څکه چې کالونه خو خپل مینځ کښې یو بل لره د خوړلو جوګه ه وی.
د چلن د روانۍ څخه معلومیږی چې دغه کس د یوسف ﷺ د تعبیر بیانولو څخه مطمئن شو ، بادشاه ته واپس راغلو او ټول حالات څخه یې خبر کړو. بادشاه هم دهغوۍ ﷺ د فضل او کمالاتو اقرار اوکړو خو قرآن پاک دا ټول څیزونه بیان نه کړل چې پخپله ترې معلومیږی چې صرف وریسې دا واقعه یې داسې بیان کړه : [وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ] [یعنی بادشاه حکم ورکړو چې یوسف ﷺ دې د قیدخانې څخه راوویستلې شی اودربار ته دې راوستلې شی] د بادشاه یو قاصد یوسف ﷺ ته د اپیغام اورسولو ، ښکاریده خو داسې چې یوسف ﷺ به قیدخانه کښې ډیر تنګ شوی وی او ددې پیغام په رسیدو سره به زر تر زره دقیدخانې څخه راوتلو دپاره تیار شوې وی ، خو د الله تعالی د طرفه د ورکړې شوی او لوئې مقام د نبوت ته دعامو خلقو فکر او سوچ نشی رسیدلې ، په دې وجه یوسف ﷺ دغه قاصد ته اووئیل چې داسې اوفرمائیل چې :
[قَالَ ارْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ] [بادشاه حکم ورکړو چې یوسف ﷺ ما ته راولئ|هرکله چې استاذې هغوی له ورغۍ نو یوسف ﷺ ورته اووئیل چې خپل آقا ته واپس ورشه او تپوس ترې اوکړه| چې د هغې ښځو څه حال دې | چې خپل لاسونه ئې غوځ کړی وو بیشکه زما پروردګار د هغوۍ په فریبونو ښۀ پوهه دې]
دلته په دې خبره غور پکار دې چې یوسف ﷺ صرف د نورو ښځو یادګیرنه کوی چې خپل لاسونه یې پریکړی وو خو بیبا هم د زلیخې بی بی یادګیرنه یې اونه کړه کومه چې ددې واقعې اصل سبب وو ، وجه یې دا وه چې دهغوۍ ﷺ پرورش د عزیز مصر په کور کښې شوې وو ، او د زلیخې بی بی بدنامۍ کولو څخه وروستو یې ډده کوله ، نو په دې شان سره هغوۍ ﷺ د خپل

Scanned with Ca

شرافت ډير لوړ ثبوت ورکړو [قرطبی] (۱)

او يوه خبره دا هم ده چې اصل مقصد يې خپله بې ګناهی ثابتول وو چې ددغې ښځو نه هم کيدې شوه ، اوپه هغې کښې زياته رسوائی هم نه وه ، که هغوئ د رښتيا خبرې اقرار هم کړې وې نو صرف دمشورې ورکولو مجرمانې ګرځيدلې ، په خلاف د عزيز مصر د بی بی نه چې د تحقيقاتو اصلی مرکز به هم دا جوړيدله چې په کښې د هغې رسوائی زياته وه او دې سره يوسف ؑ اوفرمائيل چې : ﴿إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ﴾ [بيشکه زما پروردګار د هغوئ په فريبونو ښهٔ پوهه دې] او زهٔ غواړم چې بادشاه هم د واقعې د حقيقت څخه واقف شی نو په يو لطيف او باريك انداز کښې د خپلې بې ګناهی ښکاره کول هم دی.

په دې موقعه د صحيح بخاری او جامع ترمذی په حواله د ابوهريره ؓ په يو روايت کښې د رسول کريم ﷺ د ا ارشاد نقل شوې دې چې که زه دومره موده په قيد کښې پاتې شوې وې څومره چې يوسف ؑ پاتې شوې وو او بيا راته د قيد خانې څخه د خلاصيدو پيشکش شوې وې نو زر به مې قبول کړې وې.(۲)

دامام طبری ؒ په روايت کښې دا الفاظ راغلی دی چې د يوسف ؑ صبر او غم او بهترين اخلاق دتعجب قابل دی کله چې په جيل کښې د باشاده د خوب تعبير او پوښتلې شوې وه که زه د هغوئ ؑ په ځائې وې نو دا شرط به مې لګولو چې اول مې د ې د جيل څخه اوباسی هله به تعبير ښايم ، بيا کله چې قاصد هغوئ ؑ خلاصدو پيغام راوړو که زه دهغوئ په ځائې وې نو زر به د جيل دروازې ته ورغلې وې [قرطبی] (۳)

په دې حديث پاك کښې دا خبره د غور قابله ده چې دحديث پاك غرض او مقصد د يوسف ؑ د صبر او برداشت او د بهترينو اخلاقو تعريف او صفت کول دی ، خو ددې بل طرفته دکوم صورت حال چې رسول کريم ﷺ خپل ځان مبارك ته داسې منسوب کړی دی چې که زه وې نو ما به هيڅ ډيل نه وې کړې ، مطلب دا چې هر کله په دغه شان رسول کريم ﷺ خپل ځان مبارك د يوسف ؑ څخه کم ښکاره کړې دې نو دا د هغوئ ؑ دشان په کموالی باندې دليل نه جوړيږی ځکه چې هغوئ بيشکه په مکمل طور سره افضل الانبياء دی. په يو جزوی عمل کښې د يو پيغمبر څخه ددوئ کموالی دې سره صحيح دې.

دې څخه علاوه څنګه چې په تفسير قرطبی (۴) کښې راغلی دی چې داهم کيدې شی چې ديوسف ؑ دکار په طريقه کښې دهغوئ ؑ د صبر او برداشت او بهترينو اخلاقو عظيم الشان ثبوت موجود دې او هغه په خپل ځائې د صفت کولو جوګه هم دې ليکن رسول کريم ﷺ چې کومه طريقې سره ځان ته منسوب کړيدې د امت د تعليم او د عوامو د خيرخواهی دپاره هم هغه مناسب او ډير زيات غوره دې ولې چې د بادشاهانو مزاج لره څه اعتبار نشته دې ، په

---

۱) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج:۹ ص:۲۰۷

۲) جامع الترمذی ابواب التفسير باب سورة يوسف : ج:۲ ص:۱۴۳ ، وصحيح البخاري كتاب الأنبياء، قول الله تعالى [لقد كان فی يوسف] الآية. ج:۱ ص:۴۷۹.

۳) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج:۹ ص:۲۰۶.

۴) تفسير القرطبی تحت هذه الآية ج:۹ ص:۲۰۷.

Scanned with C

داسې موقعه باندې شرطونه لګول يا مهلت ورکول عامو خلقو لره مناسب نه وی کيدې شی چې د بادشاه رائې بدله شی او بيا د قيد خانې په مصيبت کښې قيديان پخپل حال شی ، يوسف ﷺ ته خو د الله تعالى د طرفه څکه علم کيدې شی چې هغوئ ﷺ د الله تعالى رسول ﷺ وو ، او دهغې په وجه ورته دا علم حاصل شوې وی چې دغسې مهلت به ورته څه نقصان نه ورکوی ليکن هر څوك خو د اسې نشی کيدې چې د وحی په ذريعه ورته علم حاصل شی ، د رحمة للعالمين په مزاج او طبيعت کښې د عامو خلقو د ښيګړې اهميت اوضرورت زيات وو ، څکه يې اوفرمائيل که ماته دا موقعه په ګوتو راغلې وه نو مهلت به مې نه وو اخستې [والله اعلم]

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ
اووئيل بادشاه | څه وو حال ستاسو ائې ښځو
[په دې باندې] بادشاه [ښځو ته] اووئيل چې
اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ ۭ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ
کله چې | تاسو غولول اوغوښتل | يوسف | د هغه دنفس [د حفاظت] نه | ټولو ښځو اووئيل | پاکی ده | الله لره
داستاسو څه واقعه ده | څه وخت چې تاسو يوسف د خپل مطلب دپاره راوبللو | هغوئ ورته په جمع
مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوْۗءٍ ۭ قَالَتِ امْرَاَةُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ
مونږ نۀ ده موندلې | په هغه کښې | څه بدی | اووئيل | ښځې | دعزيز [د مصر] | چې اوس | ظاهر شو
اووئيل | چې سبحان الله! مونږ ته خو په هغه کښې هيڅ خرابې نۀ ده معلومه | دعزيز ښځې اووئيل چې اوس خو
الْحَقُّ ۡ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ ذٰلِكَ
حق | ماهغه غولول اوغوښتل | د هغه د نفس [د حفاظت] نه | او بيشکه هغه | د رښتونو نه دې | دا
رښتيا هرچاته معلوم شو | زۀ ووم چې ما دهغه د غولولو کوشش کړې وو | اوهغه بيشکه رښتونې دې | يوسف
لِيَعْلَمَ اَنِّىْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَاَنَّ اللّٰهَ
دپاره ددې چې پوهه شی هغه | چې بيشکه ما | نه دې کړې خيانت د هغه سره | پټې شا | او بيشکه چې الله
اووئيل] | چې دامې څکه اوکړل چې عزيز ته په ښۀ شان معلومه شی چې ما د هغه په غيرموجودګئ
لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَاۗىِٕنِيْنَ ۝
نه کاميابوی | مکر | دخيانت کونکو |
کښې خيانت نۀ دې کړې | او الله دخيانت ګرو فريبونه هيچرې سر ته نه رسوی [فريب اخر ښکاره شی]

آسان ترجمه قرآن

بادشاه (هغه ښځې راوغوښتې هغوی ته) ئې اووئيل چه : ستاسو څه حال وو چه کله تاسو يوسف لره د غُلَوْلو کوشش کړې وو؟ ټولو ښځو اوئيل چه: حاشا لِلّٰه! مونږ ته خو ده کښې لږه غوندې بدی هم نه ده معلومه شوې. دعزيز ښځې اوئيل چه: اوس خو حق خبره ټولو ته ښکاره شوې ده—ما د ده دَ غُلَوْلو کوشش کړې وو، اوحقيقت دا دې چه دې بالکل رښتينې دې (چه کله يوسف په جيل کښې د دوی د خبرو نه خبر شو نو هغه اوئيل چه) دا ټول هر څه ما دې وجې نه وکړل چه عزيز ته ددې خبرې پته اولګي چه ما د ده په

غیر موجودګۍ کښې دده سره څه خیانت نه دې کړې، او دا هم چه کوم خلق خیانت کوي. الله د هغوی چل نه کامیابوي.

خلاصه تفسير

﴿قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوسُفَ عَنْ نَّفْسِهِ ۚ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوٓءٍ ۚ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ۖ اَنَا رَاوَدْتُّهُ عَنْ نَّفْسِهِ وَاِنَّهُ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ۝﴾ هوې وئیل چه ستاسوڅه واقعه ده کله چه تاسود یوسف [علیه السلام] نه دخپل مطلب خواهش وکړو[یوی خواهش وکړواونوروئی مددوکړو، نود یو کار مدد هم دهغه کارپه شان دی.دغه وخت ستاسوڅه حقیقت شو. شاید بادشاه په دی طورداتپوس څکه کړی وي چه مجرم واوري چه بادشاه ته دومره خبره معلومه ده چه یوي ښځي ده ته دخپل مطلب پو ره کولو خبره کړی وه ،شایدچه ددی نوم ورته معلوم وي، پس په دی حالت کی انکارونکړي شي اوشایدچی پدی شان سره پخپله اقراروکړي]ښځوجواب ورکړو پناه په الله مونږته په ده کی یوه زره هم دبدئ خبره نده معلومه شوی[دی بلکل پاك صاف دی،شاید ښځودزلیخی هغه اقرارځکه نه وی ظاهرکړی،چی مقصود دیوسف علیه السلام دپاکدامنی ثبوت وه اوهغه حاصل شو، یا زلیخامخامخ وه نو حیا مانعه شوه چه ددی نوم واخلي]دعزیز ښځی[کومه چه حاضره وه] وویل چی اوس حقه خبره [په ټولو]ښکاره شوه [اوس ئی پټول بی کاره دي رشتیا خبره داده چه]ماددهٔ نه د خپل مطلب خواهش کړی وه[نهٔ چه دهٔ،لکه چه ماالزام لګولی وو:ماجزاء من الخ]او بی شکه هغه رشتونی دی [او غالبا چه دداسی کار اقرارکول زلیخی ته دمجبوری نه مخی ته راغلل،غرض دا چی دمقدمی صورت اواظهارونه او دیوسف علیه السلام د بري کیدلوثبوت ده ته او لیګلی شو او بیان شو.

﴿ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّيْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ۝﴾ دغه وخت]یوسف علیه السلام اوفرمایل چی دا ټول اهتمام [کوم چی ما اوکړو]صرف پدی وجه سره وه چه عزیزته په [زیات]یقین سره معلومه شي چی ماددئ په غیر موجودګئ کی ددهٔ په عزت لاس ندی اوړد کړی او دا [هم معلومه شي] چه الله تعالی دخیانت کونکو فریب چلولو ته نهٔ پرېږدي [لکه څنګه چه زلیخی دعزیز په خدمت کی خیانت کړی وه، چه په نورو یی نظروکړوخدای ددی راز فاش کړو،پس زما غرض دا وو] .

معارف او مسائل

کله چې یوسف علیه السلام ته بادشاهي رېبار د خلاصی پیغام ورکولو اوبللو دپاره ورغلو او هغوئ رېبار یعنی قاصد ته دا جواب ورکړو چې اول د هغې ښځو نه زما د معاملې تحقیق اوکړئی کومو چې خپل لاسونه پریکړی وو په دې کښې ډېر حکمتونه پټ وو الله جل جلاله خپلو پیغمبرانو علیهم السلام ته څنګه چې دین کامل عطا کوی همداشان عقل کامل او د معاملاتو او حالاتو پوره بصیرت هم ورته ورکوی ، یوسف علیه السلام دشاهي پیغام نه دااندازه اوکړه چې قیدخانې نه د آزادیدو په صورت کښې بهٔ بادشاه راته څه مرتبه راکوی ، په دغه وجه خو به د خلقو خلې بندې شی خو په زړونو کښې به ئې دا شك بیا بیا راپیدا کیږی چې دا خو هم هغه سړی دې کوم چې د عزیز مصر په ننګ ناموس باندې حمله کړې وه او کیدې شوه چې دداسې شکونو او شبهو ښکاره کولو نه بادشاه هم اثر قبول کړی او زما د زیاتې بدنامئ باعث جوړ شی ، ځکه ئې خپله صفائی او د واقعې پوره حقیقت په بادشاه باندې په ښه شان ښکاره کول او غوښتل چې په کښې هیڅ شك پاتې نشی ، اوس ددې دوؤ آیتونو ځینې په دویم آیت مبارك یوسف علیه السلام

پخپله د خپل دغې عمل او د بند نه په آزادیدو کښې مهلت کولو دوه حکمتونه بیان کړې دي اول دا چې : [ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّيْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ] [یعنی دامهلت مې ځکه ورکړو چې د عزیز مصر یقین راشي چې ما د هغه په غیرموجودګئ کښې د هغه په حق هیڅ خیانت نه دې کړې]
د عزیز مصر د یقین راوستو زیات فکر ورسره پدې وجه هم وو چې که ماته شاهي مرتبه راکړې شي او د عزیز مصر په زړه کښې بیا هم زما په باره کښې شك وي او زما د مرتبې د وجې به هغه ښکاره کولې نشي ، زما دا مرتبه موندل به هم هغه نشي برداشت کولې ، په داسې صورت کښې به دهغه چپ پاتې کیدل او په زړه باندې غم تیرول ښه خبره ځکه نه وي چې هغه زما مالك پاتې شوې دې او زما په وجه هغه ته تکلیف رسیدل زما شرافت سره سمون نه خوري . او داهم ښکاره خبره ده چې هر کله عزیز مصر ته زما په بیګناهئ باندې یقین راشي نو دنورو خلقو خلې به پخپله بندې شي .
ددې بل حکمت ئې دا ارشاد اوفرمائیلو چې [وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ] [یعنی ددې تحقیق غوښتنه مې ځکه اوکړه چې خلقو ته دا معلومه شي چې الله ﷻ د خیانت کوونکو فریب چلیدو ته نه پریږدي] ددې دوه مطلبونه کیدې شي ، یو دا چې د تحقیقاتو په ذریعه د خیانت کوونکو په خیانت ښکاره کیدو سره ټول خلق په دې خبرداره شي چې د خیانت کوونکو انجام شرمیدل وي. دپاره ددې چې په راتلونکوخلقو کښې ټول خلق داسې کارونو نه د بچ کیدو انتظام اوکړي.
بله معنی ئې دا کیدې شي چې که هم ددې شك شبهې په زمانه کښې یوسف ﷺ ته شاهي مرتبه ورکړې شي نو د لیدونکو به خیال راتلې شو چې داسې خیانت کوونکو ته لوئې لوئې مرتبې ورکولې شي نو په داسې شان به ددوئ په عقیدوه کښې فرق راتلو او دخیانت خرابي به ئې د ذهن نه نه وه وتلې ، په هر حال ددې بیان شوؤ حکمتونو تر مخه یوسف ﷺ د خلاصي د پیغام په موندو سره زر تر زره د قید خانې نه وتل خوښ نه کړل بلکه په شاهي انداز کښې د تحقیقاتو کولو غوښتنه ئې اوکړه ، په دې اوسنی ړومبی آیت مبارك کښې ددغې تحقیقاتو خلاصه بیان شوې ده فرمائی چې : [قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ] [یعنی بادشاه هغه ښځې راحاضرې کړې کومو چې خپل لاسونه پرې کړي وو او تپوس ئې ترې اوکړو چې څه واقعه ده کله چې تاسو د یوسف ﷺ نه دخپل مطلب غوښتنه اوکړه؟]
دبادشاه ددې تپوس نه معلومه شوه چې پخپل ځائې د هغه په دې باندې یقین راغلې وو چې قصور د یوسف ﷺ نه دې هم ددې ښځو دې ، ځکه ئې دا اووئیل چې تاسو ترې د مطلب غوښتنه اوکړه.
دې پسې د ښځو دا جواب بیان شوې دې چې [قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ۫ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ] [یعنی ټولو ښځو اووئیل چې حاش لله ، مونږ ته په دوئ کښې لږ شان د ناکاروالي خبره معلومه نه شوه ، دعزیز مصر بي بي اووئیل چې اوس خو حق خبره ښکاره شوه ماددوئ نه دخپل مطلب غوښته کړې وه او بیشکه هم دوئ ﷺ ریښتوني دي]
یوسف ﷺ په تحقیقاتو کښې دعزیز مصر د بي بي نوم نه وو اخستې مګر الله ﷻ کله چې چا ته عزت ورکوي نو پخپله د خلقو ژبې د هغه په ریښتوني او صفایئ باندې جاري شي ، په دې موقعه د عزیز مصر ښځې د مرانې نه کار واخستو اود حق ښکاره کولو اعلان ئې پخپله اوکړو.

تر دې پورې کوم حالات او واقعات ديوسف ﷺ چې تاسو ته واؤريدل په دې کښې ډيرې فائدې او مسئلې او د انسانی ژوند دپاره ډير ضروری هدايات بيا موندې شی.
اته مسئلې ترې ړومبې بيان شوی دی، ددې او سنی آيتونو باره کښې نورې مسئلې اوهدايتونه دادی.

نهمه مسئله: نهمه مسئله دا وه چې الله ﷻ د خپلو خاصانو او مقبولو بندګانو د مقصدونو پوره کولو دپاره پخپله په غيبی تدبيرونو سره انتظام کوی ، د چا مخلوق د احسان لاندې د هغوئ راوستل نه خوښوی ، همدغه وجه وه چې الله ﷻ د خلاصی موندونکی قيدی نه د يوسف ﷺ هغه خبره ځکه هيره کړه چې زما يادګيرنه خپل آقا ته اوکړه.چې داحسان لاندې راتلل ئې نه خوښول ، او دائې غوښتل ې په پوره عزت او شان سره د قيد نه د آزاديدو مقصد ئې هم پوره شی . ددې انتظام ئې داسې اوکړو چې بادشاه ته ئې يو پريشانوونکې خوب اوخودلو چې د هغې د تعبير خودونه ئې دهغه ټول درباريان عالمان او ماهران عاجزه او بې وسوه کړل او په دې شان ئې دغې کار دپاره يو سف ﷺ ته ددوئ مخه کړه [ابن کثير].(۱)

مسئله نمبر ۱۰: په دې کښې د نيکو خويونو تعليم دې چې خلاصيدونکی قيدی د يوسف ﷺ دومره قدرې کار هم اونه کړو چې بادشاه ته ئې د هغوئ ﷺ يادګيرنه کړې وه د هغې په نتيجه کښې يوسف ﷺ نور اووۀ کاله د قيد په مصيبت کښې تير کړل ، دغې اووۀ کاله پس چې د بادشاه دخوب تعبير پوښتلو دپاره هغه آزاد شوې قيدی چې د يوسف ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو د عام انسانی عادت په طور دهغه خفه کول او ملامته کول پکار وو خو يوسف ﷺ هغه سره داشان اونه کړل . نه ئې ترې خفګان ښکاره کړو او نه ئې ورته د خوب دتعبير خودلو کښې څه شرط کيخودو چې د پيغمبری اخلاقو ننداره ورکول وو [ابن کثير ، قرطبی].(۲)

مسئله نمبر ۱۱: يولسمه مسئله په دې کښې دا ده چې پيغمبرانو ﷺ اود امت د علماء کرامو فرض دا دی چې د خلقو د آخرت درست کولو فکر اوکړی هغوئ دداسې کارونو نه بچ کړی چې په آخرت کښې د عذاب موجب جوړيږی . دغه شان ددوئ دپاره دا پکار دی چې د مسلمانانو په معاشی نظام باندې هم نظرساتی ځکه چې هغوئ پريشان نه شی.لکه چې يوسفﷺ په دغې موقعه صرف د خوب په تعبير خودلو باندې بس والې اونه کړو ، بلکه د حکمت او خير خواهئ مشوره ئې هم ورکړه چې دغنمو کامل شوې فصل په وږو کښې خوندی کوئ ، صرف د خوراك دپاره ترې غله صفا کوئ او ډ وږو نه ئې راؤباسی دپاره ددې چې په خوندی کيدو سره دغه غله خرابه نشی.

مسئله نمبر ۱۲: دولسمه مسئله داده چې عالم مقتدا لره دا فکر هم کول پکار دی چې په ده باندې د بدګمانی رانشی اګر چې دغه بدګمانی سراسر غلطه وی ، دې نه د ځان ساتلو انتظام ځکه کول پکار دی چې په چا باندې بدګمانی پيدا کيدل د دعوت او ارشاد په کار کښې خلل راولی

(۱) تفسير ابن کثير تحت هذه الآية ج۲ص:۳۴۳.
(۲) تفسير ابن کثير ج۲ص:۳۴۳.

Scanned with Ca

خواه دغه بدګمانی د څه جهالت یا دکم فهمئ په وجه وی خو بیا هم په خلقو کښې ددهٔ د خبرې څه قدر وی [قرطبی] (۱)

د رسول کریم ﷺ ارشاد دې چې د تهمت د ځایونو نه ځان ساتئ یعنی داسې حالاتو او موقعو نه هم ځان ساتئ په کومه کښې چې په تاسو باندې د تور پورې کیدو امکان کیدې شی. دا حکم خو عامو مسلمانانو دپاره دې ، خاصانو او علماء کرامو دپاره په دې کښې نور هم زیات احتیاط کول پکار دی. رسول کریم ﷺ به پخپله هم ددې ډیر خیال ساتلو حالانکه هغوئ ﷺ د ټولو عیبونو او ګناهونو نه پاك وو ، یو ځل رسول کریم ﷺ خپلې بی بی سره د مدینې منورې په یوه کوڅه کښې تیریدل ، څوك صحابه کرام ﷺ چې مخې ته ورغلل نو د لرې نه ئې هغوئ ﷺ ته اوفرمائیل چې ما سره دا فلانئ خپله بی بی ده ،(۲) مطلب ئې دا وو چې هسې نه هغوئ ﷺ پرې د پردئ ښځې شك او کړی. په دې بنا یوسف ﷺ کله چې د خلاصئ موندو او دشاهی بلنې بیاموندو دخلاصی موندنه وړاندې ئې دا کوشش اوکړو چې د خلقو شك لرې شی.

مسئله نمبر ۱۳:: په دې کښې دیارلسمه مسئله داده چې د چا حقوق د بل چا په ذمه وی او په دې شان سره د هغه عزت کول واجب وی ، که د مجبورئ په حالاتو کښې د هغه په خلاف څه کاروائی کول راشی نو په هغې کښې هم د خپل وس په جوړ د حقونو او عزت لحاظ ساتل د شرافت تقاضا ده لکه یوسف ﷺ د خپلې بیګناهئ ثابتولو په موقعه باندې تحقیقاتو دپاره د عزیز مصر یادهغه دبی بی د نوم اخستو په ځائې دهغې ښځې ذکر اوکړوچاچې خپل لاسونه پرې کړی وو [قرطبی](۳) ځکه چې د غه مقصد په دغسې شان سره حاصلیدې شو.

مسئله نمبر ۱۴:: د بهترینو اخلاقو خودنه داده چې دکوموخلقو دلاسه اوه یادولس کاله چې د جیل خانې تکلیف تیرول راغلی وو ، د خلاصی موندو په وخت هغوئ نه دبدلې اخستلو څه اقدام کول خو لا څه کوې ، دائې هم برداشت نه کړل چې هغوئ ته د دوئ ﷺ نه څه معمولی تکلیف هم اورسی ځنګه چې په دې آیت مبارك کښې ئې بیان راغلې دې فرمائی چې :[ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّىْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ].

[الحمد لله پاره نمبر ۱۲ ختمه شوه]

(۱) تفصیل دپاره اوګورئ : تفسیر القرطبی ج:۹ص:۲۰۷.

(۲) صحیح البخاری کتاب الصوم باب زیارة المراة زوجها فی اعتکافه ج:۱ص:۲۷۳

(۳) تفسیر القرطبی تحت هذه الآیة ج:۹ص:۲۰۷.